يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقيقي انداز کښې،
علمي او الهامي نکاتو باندې مشتمل، لاجوابه علمي تحفه

رُشْدُ الْقُرْآن

فِي تَفْسِيرِ آيَاتِ الْقُرْآن

دريم جلد

له ابتداء د سورة انفال نه تر آخر د سورة نحل پورې

تاليف

شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا اُسَيْدُ الله صاحب رحمه الله

جلاليه مكتبه رشيديه
محله جنگی قصه خوانی پشاور
091-2580074

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقيقى
انداز کښې، علمى او الهامى نکاتو باندې مشتمل ، لاجوابه علمى تحفه



رشد القران

فى تفسير آيات القرآن

دريم جلد

له ابتداء د سورة انفال نه تر آخر د سورة نحل پورې

تاليف
شيخ القرآن والحديث
حضرت مولانا أسيد الله صاحب رحمه الله

جديد مكتبہ رشيديہ
محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور 091-2580074

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

د کتاب نوم : **رشد القران فی تفسیر آیات القرآن**

تالیف : شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا **أسید الله** صاحب رحمه الله

تصحیح ونظر ثانی : مولانا تقی الله صاحب

جلد : دریم

صفحات : ٦٨٠

تاریخ : ٢٠١٦ء

جدید مکتبہ رشیدیہ

محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور 091-2580074

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

پشاور	کندوز	بغلان
اکوړه خټک	غزني	لوګر
کوټه	جلال آباد	خوست
پروان	قندهار	

رکوع (۱۰)	سورة الانفال مدنية	اَیتونه (۷۵)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
شروع کوم په نامه د الله چه بیحده مهربانه او ډیر رحم کونکې دې		

رقمها حسب التسلسل (۸) وحسب النزول (۸۸)

نزلت بعدالبقرة

ربط: سورتِ بقره په اعتباردمضامینوسره اصل دې مضمون دتوحید، نفی دشرک اعتقادی اوفعلی وغیرهما اومضمون درسالت اوامورانتظامیه امورمصلحه او مضمون دجهاد داټول په کښې بیان شویدی، دسورةِ بقرې نه روستو سورتونوکښې ، دبعض مذکورو مضامینو تفصیل ذکرشوې دې مثلاً په سورت ال عمران کښې دشرک اعتقادی نفی اواثبات رسالت په تفصیل سره مذکوردی اوپه سورت نساء کښې دامورانتظامیو ذکردې په تفصیل سره اوپه سورتِ مائده کښې دشرک فعلی نفی ده په تفصیل سره لیکن مسئله دجهادپه ماقبل سورتونو کښې په زیات تفصیل سره نه وه مذکوره نوپه دې سورت کښې دمسئلې دجهادتفصیل دې

خلاصه د مضامینو : دسورت دوه حصې دی په اوله حصه کښې دوه دعوی دی اوله دعوی خصوصی چه ((الانفال لله والرسول)) دویمه دعوی عمومی، چه ((وقاتلو هم حتی لاتکون فتنة)) ، آیت نمبر ۳۹ په اوله حصه کښې، دالانفال لله والرسول اوه ۷ علتونه ذکرکیږی اوپنځه قوانین دجهاد ذکرکیږی، اوپه دویمه حصه کښې چه د﴿ وَاعۡلَمُوۡا اَنَّمَا غَنِمۡتُمۡ ﴾ نه شروع کیږی تفصیل داولې دعوې دې اوپه طریقه دلف نشر مرتب سره اوه ۷ قوانین دجهاداوپنځه علل ذکرکیږی

يَسۡـَٔلُوۡنَكَ	عَنِ	الۡاَنۡفَالِ	قُلِ	الۡاَنۡفَالُ	لِلّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ
تپوس کوی دوئ ستا نه په باره د غنیمتونو کښې، ته ووایه [۱] اختیار د غنیمتونو الله تعالی او رسول لره دې					

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصۡلِحُوۡا ذَاتَ بَيۡنِكُمۡ وَاَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ①
پس یره کوئ د الله تعالی نه او جوړ ساتئ تعلق په مینځ خپل کښې اوتابعداری کوئ د الله او د رسول دهغه کچرې یئ تاسې مؤمنان

۱ ۔ د سورة انفال اوله دعوی بالاجمال یعنی د مالِ غنیمت تقسیم د الله تعالی او د رسول د حکم مطابق وکړئ. په خپله رائ سره ئې مه کوئ او (واعلموا ــ الآیه) د دې دعوې تفصیل دې

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ
بیشکه مؤمنان هغه کسان دی چه کله یاد کړې شی الله نو وه یریږی زړونه د دوئ اوکله چه لوستلې کیږی په دوئ باندې
اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٢ الَّذِيْنَ
آیاتونه د کلام الله نو زیاتوی دوئ لره ایمان او خاص په خپل رب باندې دوئ توکل کوی . دا هغه کسان دی
يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝٣ اُولٰٓئِكَ
چه پابندی کوی د مانځه او دهغه مال نه چه مونږ ورکړې دې دوئ ته خرچ کوی په لاره د الله کښې. دغه کسان
هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ۗ لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝٤
هم دوئ مؤمنان دی په حقه سره د دوئ لپاره ډیرې درجې دی په نیزد د رب د دوئ اوبښنه ده او رزق د عزت دې.

﴿يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ﴾ په جنګ بدر کښې الله تعالى مؤمنانوته فتح ورکړه اوډیرغنیمتونه ئ په لاس کښې راغلل، هرکله چه ددینه مخکښې دغنیمتونوپه باره کښې حکم نه وونازل شوې نوددې وجې نه دصحابؤ په مینځ کښې اختلاف راغلو ځکه چه بعض حضرات ځوانان داسې وو چه هغوئ جنګ کړې وو اوبعض حضرات مشران داسې وو چه دجنګ کونکونه روستو، شاته ولاړوو، دامدادکولوپه نیت اوجنډې ئ په لاسونو کښې وې اوبعض حضرات دنبی ﷺ دحفاظت کولودپاره ولاړوو، نوچاچه جنګ کړې وو نوهغوئ اوونیل چه دامالِ غنیمت صرف زمونږ حق دې اونوروحضراتو اوونیل چه په دې مال غنیمت کښې زمونږ هم حصه ده ځکه چه ((کنالکم ردًا))، مونږ ستاسومددګار وو، نودوئ په دې باره کښې دنبی ﷺ نه سوال اوکړو نودا آیت نازل شو، او حکم راغلو چه تقسیم دغنیمتونو ستاسو په اختیارکښې نه دې بلکه صرف دالله تعالى اورسول دحکم موافق به تقسیمولې شی.

انفال جمع دنفل ده، نفل یوپه معنی دهغه انعام راځی چه امیراووائ چه که چادافلانئ مورچه فتح کړه یائ فلانې کافرقتل کړو نوهغه ته به داانعام ورکولې شی، بل په معنی دمالِ غنیمت راځی دلته دادویمه معنی مرادده، اومال غنیمت په عرف دشرع کښې هغه مال ته وائ چه دکفارونه په ذریعه دجهادسره قهراً حاصل شی اودیته نفل ځکه وائ چه نفل زیاتی ته وائ اومال غنیمت داصل مقصدجهاد نه زائد شئ دې اصل مقصدجهاد اعلاء دکلمة الله ده، غنیمت نه دې، یاداچه دمالِ غنیمت حلال والې ددی امت دپاره زائدخصوصیت دې. کمافی

الحدیث ((احلت لناالغنائم ولم تحل لاحدٍ قبلنا))، اوهرچه مالِ فئ دي نوداهغه مال دي چه دکفارو نه صلحًا واغستې شی یاپه کفارورعب راشی اومال پرېږدی دهغې ذکر په سورتِ حشرکښې دي.

﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ ﴾ یعنې ستاسو دشان سره نزاع اوجهګړه مناسب نه ده بلکه داصفات مناسب دی، تقوی ،اصلاح ذات البین(خپل مینځ کښې تعلق جوړساتل) اطاعت دالله تعالی اودرسول ، اوپه وخت دذکرالله کښې زړه یریدل په وجه دعظمت دالله تعالی سره، اود تلاوت دایاتونو په وجه زیادت دایمان، اوتوکل ، اقامت صلوة ، انفاق.

﴿زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا ﴾ امام ابوحنیفه رحمه الله اوماتریدیه وائ چه ایمان تصدیق قلبی ته وائ، اجزاء ورته نشته دي نوددی وجې نه په ایمان کښې زیات والي کموالي نه شی راتلې، نوپه کوموآیاتونویااحادیثو کښې چه دایمان دزیادت ذکردې نودهغې نه مرادزیادت په اعتباردکیفیت سره مراددې، نه دکمیت په اعتبارسره یعنې دزیادت نه مراد شدت،اوقوت دي نوپه ایمان کښې قوت اوضعف راځی اوزیات والي کموالي په کښې نه راځی زیات والي کم والي په هغه شئ کښې راځی چه هغه لره اجزاء وی،باقی مسئله شراحُودبخاری په ډېرتفصیل سره ذکرکړې ده.

كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ۠ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ۙ﴿۵﴾
لکه(څکه)[1] چه ویستلې ئ ته رب ستا دکور ستانه،په حقه سره اوبیشکه یوه ډله د مؤمنانو نه راضی نه وو(طبعًا په تلو کښې جنګ له)
يُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَمَا تَبَيَّنَ
بحث مباحثه ئ کوله ستا سره په باره د حق (جنګ) کښې روستو د هغې نه چه ظاهر شوې وو (فرضیت د هغې)
كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿۶﴾
ګویا کښې بوتللې کیدل دوئ مرګ ته او دوئ ورته ګوری.

﴿ كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ ﴾ کاف دپاره دتعلیل دي اوداعلت اولی دي ﴿بِالْحَقِّ﴾ دحق نه مراد حکمت اومصلحت دي ای بالحکمة، ﴿لَكٰرِهُوْنَ ﴾ دکراهیة نه مرادطبعی کراهیت دي څکه

---
۱ - اول علت لپاره د دعوې.

صحابۀ دجنګ تیارۍ نه وو کړې، دجنګ سامان ورسره نه وواودشمارپه لحاظ سره هم کم وونومیدان جنګ ته په داسې حالت کښې تلل ئ نه وو خوخ لیکن الله تعالی راوویستل اوفتح اوغنیمت ئ ورته ورکړو، نوالله تعالی فرمائ چه لکه څه رنګه چه ستاسودخروج نه کراهیت طبعی وو لیکن الله تعالی راؤباسلئ اوپه دې کښې حکمت وو نودغه شان، (الانفال لله والرسول وان کرهتم) .

﴿يُجَٰدِلُونَكَ﴾ دوئ ستاسره ددې حکمت اومصلحت په باره کښې، یادجهاد یعنی دلښکر سره په مقابله کولوکښې بحث ګفتګو کوله نود ﴿فِى الْحَقِّ﴾ نه مرادیاحکمت اومصلحت دې یاترینه مراددلښکرسره مقابله کول دی یاترینه مراد واضحه خبره اوواضح امردې،

﴿بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ﴾ روستوددې نه چه دوئ ته داخبره واضحه شوې وه چه نبی ﷺ چه څه وائ نوهغه په ذریعه دوحی سره وائ، جنګ بدرپه سنه ۲ هـ کښې شویدې دمشرکانوقافله دابوسفیان په امارت کښې دشام نه راتله اوډیرمال اوسرمایه ورسره وه، نونبی ﷺ په دغه قافله باندې دحملې کولوپه نیت روان شو، دلګو کسانو اولګې اسلحې سره، نوابوسفیان چه خبرشو نولار.ئ بدله کړه، اوابوجهل ته ئ اطلاع ورکړه نوهغه دډیرلښکر اوډیراسلحی سره، دمسلمانانو مقابلی ته راروان شو، نونبی صلی الله علیه وسلم چه ددی خبرې نه خبرشو، نودصحابۀ نه ئ مشوره واغسته، چه آیاپه قافلی باندې دحملی دپاره لاړشو اوکه دلښکر مقابله اوکړونودبعض صحابۀ رائ داوه چه چونکه مونږ دجنګ دپاره تیارۍ نه دې کړې نودلښکر مقابله کول ګران دی، نبی علیه الصلوة والسلام ته داخبره نه وه خوخه، نودوئ اوفرمائیل چه الله تعالی ځما سره وعده کړیده، چه په دی دواړو طائفو کښې چه دکومې ډلی سره ستاسومقابله راشی نوهغوئ به الله تعالی زمونږ په مقابله کښې مغلوب کوی نوددې وجې نه دلښکرسره مقابله کول پکاردی چه دمشرکینو قوت ختم شی، حضرت ابوبکرصدیق اوعمر رضي الله عنه اوحضرت مقداد رضي الله عنه اوسعد رضي الله عنه دنبی ﷺ درائ په حق کښې ډیر زوردار، پُرجوش تقریرونه اوکړل .

﴿كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ﴾ داتمثیل دکراهیت دپاره دې، دظاهراسبابو اوحالاتو په اعتبارسره په دغه وخت کښې دجنګ نقشه داسې وه چه ګویا، دوئ یعنی مؤمنان، «په دې وجه سره چه قلیل اوبی سروسامان دی » بوتللې شی دقتلولودپاره په داسې حال کښې چه دوئ خبروی اوګوری، څوک چه خبروی اوګوری چه مادقتل دپاره بوزی، نوددې تحمل اوبرداشت ډیرګران وی اوډداسی

تللونه طبعاً ډیرنفرت وی لیکن صحابؤ ﷺ په هرحالت کښې د الله تعالی اورسول اطاعت کولو اګرکه د دوئ طبیعت به دیو کارنه ډیرنفرت کولو ، رضی الله عنهم اجمعین

وَ اِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآىِٕفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّوْنَ

اوکله چه وعده وکړه ستاسو سره الله تعالی [1] د یو د دوؤ ډلو، چه دا به ستاسو لپاره وی او تاسو غوښتله چه

اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ وَيُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

دابې وسلې ډله ستاسو لپاره شی، اود الله تعالی اراده وه چه ښکاره کړی حق په وعدو خپلو سره او پرې کړی جرړې د کافرانو

لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝ اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ

د دې لپاره چه غالب کړی حق لره او ختم کړی باطل لره اګرکه بد ګڼړی مجرمان کوم وخت چه فریاد کوو تاسو خپل رب ته

فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓىِٕكَةِ مُرْدِفِيْنَ ۝

نو قبول ئ کړو فریاد ستاسو چه بیشکه خه امداد کوم ستاسو په داسې زر فرشتو سره چه په خان پسې به نورې ډلې راولی

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَىِٕنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ

او ندی ګرځولی الله تعالی دا ملائك رالیګل مګر زیرې او د دې لپاره چه کلك شی په دې سره زړونه ستاسو.

وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝

اوندې مدد مګر د طرف د الله تعالی نه دې ، بیشکه الله تعالی زور آور اوحکمت والا دې

﴿ وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ ﴾ دادویم علت دې داثبات ددعوې اولی دپاره اوددینه تړول علتونه په (اذ) سره مصدر (شروع) کیږی، الله تعالی په ذریعه دوحی سره اودارنګه په ذریعه دخوب سره دوئ ته اوښودله چه دکافرانو په یوه ډله باندې به تاسو ته غلبه درکوی، نوصحابؤ ته داخبره خوخه وه چه په قافله دابوسفیان باندې مونږ ته غلبه حاصله شی څکه چه په دې کښې اسانی ده، اوډیرمال غنیمت دحصول توقع ده ، لیکن دالله تعالی اراده وه چه دلښکر سره مقابله اوشی اودحق اودباطل په مینځ کښې فیصله کُن جنګ اوشی اودکفرجرړی کټ شی، نوحاصل داشو چه ستاسو خودانه وه خوخه چه دَ لښکر سره مقابله راشی لیکن الله تعالی ستاسومقابله دابوجهل

---

۱ - دویم علت

دلښکر سره راوسته اوفتح اوغنيمت ئ درکړو نوتاسوبۀ مال غنيمت هم دالله تعالى اورسول الله دحکم مطابق تقسيموئ، ﴿إِحْدَى ٱلطَّآئِفَتَيْنِ﴾ دامفعول ثانی د ﴿يَعِدُكُمُ﴾ دپاره دي ﴿أَنَّهَا لَكُمْ﴾ ترينه بدل اشتمال دي ﴿أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ ٱلشَّوْكَةِ﴾ شوکة په لغت کښې ازغی ته وائ اومرادترينه اسلحه اوقوت دې، «ذات شوکت» قافله دابوجهل وه او «غير ذات شوکت» قافله دابوسفيان وه نومؤمنانوته داخوخه وه چه دابوسفيان دطائفی سره مقابله اوشی، دهغوئ عددکم وواومال غنيمت پکښې ډيروو ليکن دالله تعالى اراده وه چه ددوئ مقابله دلښکرسره اوشی ددی دپاره چه اعلاء ددين اواظهار دحق اوشی اودکفرجرړی کټ شی، ﴿يُحِقَّ ٱلْحَقَّ﴾ غالب کړی دين حق ﴿بِكَلِمَٰتِهِۦ﴾ په آياتونودقتال ياپه نزول دملائکو سره ياوعده دنصرت دالله تعالى دمؤمنانو سره

﴿لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ وَيُبْطِلَ ٱلْبَٰطِلَ﴾ داپه ظاهر کښې تکراردي ليکن په حقيقت کښې تکرارنه دې، ځکه اول بيان دمراددې، اوبيان دتفاوت دې په مابين دمراددالله تعالى اومرادددوئ کښې اودويم بيان دعلت دې دپاره داختياردذات الشوكة، ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ﴾ دادريم علت دې ددعوی دپاره دابن عباس ﷺ نه روايت دې چه نبی ﷺ چه جنګ بدرکښې دُعا اوکړه : اللهم ان شئت (ای غلبة الكفار) لم تعبد، اوپه بل روايت کښې دی : اللهم انجزلی ماوعدتنی، او په بل روايت کښې دی: اللهم اِن تَهلك هٰذه العصابة من اهل الاسلام لا تُعبد فی الارض، «لاتعبد» ئ ځکه وئيل چه ددوئ داعزم وو چه ياپه حق غالب کيږی يابه مونږ خپل ځان قربان کوؤ اونبی ﷺ خوخاتم النبيين دې نوکه دې شهيدشی نوبل نبی خونه راځی نودالله تعالى عبادت به په زمکه کښې نه وی، نوپه دې دعاکښې يواشاره دختم نبوت ته بل کلک اومضبوط عزم ته، نوالله تعالى دعاقبوله کړه فتح اوغنيمت ئ ورته ورکړو نوفرمائ چه دمال غنيمت په تقسيم کښې اختلاف مه کوئ ځکه ستاسو دعاخوماقبوله کړه اوغنيمتونه درته مادرکړل، ﴿أَنِّى﴾ دا د «فاستجاب» سره متعلق دې اوباء مقدره ده «ای بانی» ياد «اُخبِرُكُمْ» مقدرسره متعلق دې، ﴿بِأَلْفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ﴾ دکفارو د فوج تعداد يوزر ۱۰۰۰ وونوددی وجې نه د «الف» ذکرحتمی اوغير مشروط طورسره او د (خمسة الاف) ذکرپه شرط سره شويدې باقی تفصيل په سورة ال عمران کښې تيرشويدې ﴿مُرْدِفِينَ﴾ په يوبل پسی راتلونکی، شاه ولی الله رحمه الله ددی ترجمه داسی کوی (جماعت فرشتگان که ازپسِ خودجماعت ديگر آورند) په داسې طريقه راتلو سره په دشمن

باندې رعب زیات راځی، ﴿ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰی ﴾ په دې کښې دفع دتوهم ده، هغه داچه
چابه داګمان کوؤ چه امداد به دملائکو په اختیارکښې وی نوجواب راغې چه امدادصرف دالله
تعالی په قدرت کښې دې ، دلته په دې آیت کښې چه دنصرت حصر په الله تعالی پورې راغلې
دې نومراد ترینه هغه نصرت دې، چه ، ،مافوق الاسباب ، ، وی ځکه چه دالله تعالی هیڅ یوصفت
هم داسبابو ماتحت نه دې الله تعالی په خپل ذات صفاتوکښې دهیڅ سبب محتاج نه دې، اوکوم
نصرت چه مخلوق ته ئ نسبت کیدې شی نوهغه نصرت دې چه ماتحت الاسباب، ، وی یعنی
دظاهری اسبابوماتحت وی، نومطلب دآیت دادې چه حقیقی نصرت چه دالله تعالی صفت دې
نوهغه موقوف نه دې په نزول دملائکو اونه بل څه سبب ته محتاج دې البته اسباب ظاهر یه بی
فائدی اولغوه هم نه دی، بلکه په دوئ کښې ډیرمصالح اوحِکَم وی، دلته ددوؤ مصلحتونو
ذکردې اول، ﴿بُشْرٰی﴾ یعنی چه آثاردخوشحالئ په مخ باندې ظاهرشی، اودویم اطمینان دقلب
یعنی چه ستاسو زړونه مضطرب اوپریشان نه شی،داسبابِ ظاهریؤ سره تسلی رازی ځکه چه
انسان دأنس نه ماخوذدې.

اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ
کله چه پټ کړئ تاسو الله تعالی په پرکالئ سره د امن لپاره د طرف د هغه نه او را وه ورولې ئ په تاسو د طرف د آسمان نه
مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ
اوبه، د دې لپاره چه پاک کړی تاسو لره په هغې سره او لرې کړی ستاسو نه پلیتی د شیطان، اوچه کلک والې راولی
عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ⑪ اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ
ستاسو په زړونو ، او کلک کړی په سبب د دې سره قدمونه ستاسو. کوم وخت چه وحی وکړه رب ستا ملائکو ته
اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ
چه زه ستاسو سره یم پس مضبوط کړئ هغه کسان چه ایمان ئ راوړې دې، خامخا به واچوم زه په زړونو د کافرانو کښې یره
فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ⑫ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا
پس وهئ دوئ دپاسه د څټونو او وهئ د دوئ نه هر بند د ګوتو. دا په سبب د دې چه دوئ خلاف کړې دې

اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَمَنْ	يُّشَاقِقِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	فَاِنَّ	اللّٰهَ
د الله تعالى او د رسول د هغه نه، او چا چه خلاف وكړو د الله تعالى او دهغه د رسول نو پس بيشكه الله تعالى							

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابَ النَّارِ ۝
سخت عذاب وركونكي دي دا عذاب ستاسو پس وڅكئ دا په دنيا كښې او پوهه شئ چه بيشكه د كافرانو لپاره عذاب د اُور دې

﴿ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ ﴾ داځلورم علت دې په ميدان بدركښې صحابؤ ته دخپل قلت په وجه خوف هم راغې اوبعض صحابؤ ته احتلام هم شوې وو نوشيطان ورته وسوسې واچولې نوالله تعالى په دوئ باندې عين په ميدان جنګ كښې (نعاس) پرنا، ،راوست نودزړه نه ئ خوف زائله شو اوباران ئ اوكړو نودوئ په اوبودباران اودسونه اوغُسلونه اوكړه نوطهارت ورته حاصل شو. وسوسې زائله شوې، اوډميدان جنګ په كومه حصه كښې چه مؤمنان وؤ هغه حصه خالص ريګ وؤ چه ګرځيدل پكښې مشكل وؤ خپې پكښې خخيدلې، نو دَ باران په وجه ډيره نرمه او برابره شوه، او په كومه حصه چه كفاروو نوهغه خاؤره وه نوپه باران سره پكښې ختې جوړشوې. نوحاصل دعلت داشو چه ستاسونه په ميدان كښې خوف اووسوسې الله تعالى زائله كړيدى نولهذامال غنيمت به هم دهغه دحكم موافق تقسيمولې شى ﴿اَمَنَةً﴾ داحال يامفعول له دې.

﴿لِيُطَهِّرَكُمْ﴾ پاک والې په اودس كولواوغسل كولوسره مراددې ﴿رِجْزَ الشَّيْطٰنِ﴾ بى اودسى ياجنابت ياهغه وسوسې چه شيطان دمؤمنانو په زړونوكښې اچولې وې، نُعاس. په جنګ بدركښې هم راغلې وواوپه جنګ احدكښې هم راغلې وو، دحضرت على ﷺ نه روايت دې چه نعاس په صحابؤ باندې راغلې وو اوپه نبى ﷺ باندې نه وو راغلې بلكه نبى ﷺ د سحر پورې په مونځ او دعاء كښې مشغول وؤ ځكه چه نعاس د پريشانئ علاج وؤ اونبى ﷺ ته پريشانى نه وه، ﴿وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ﴾ مرادداې چه په ريګ كښې قدمونه ، اونه خوئيګى، يادامراددې چه زړه مظبوط شى نوقدمونه هم مضبوط شى، ﴿اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ﴾ داپنځم علت دې يعنى الله تعالى تاسولره ملائک په جنګ كښې شريک كړل اودهغې په وجه ئ فتح دركړه لهذاتاسودمال غنيمت تقسيم دهغه دحكم موافق اوكړئ.

﴿فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ﴾ تثبيت د مؤمنانو په درې طريقو سره وؤ : اول : قولى يعنى زيرې مؤمنانو ته

، دویم عملی وؤ چه ملائك حاضر شوی وؤ جنگ ته په شکل د انسانانو کښې ، دریم په طریقه د الهام سره په زړونو د مؤمنانو کښې، ﴿فَوْقَ ٱلْأَعْنَاقِ﴾ بعض مفسرین وائ چه لفظ دفوق زائددې ای فاضربوا الاعناق، څټ، مذبح دې نوڅکه ئ تخصیص اوشو اوبعض وائ چه دا لفظ دفوق زائد نه دې نودڅټ دپاسه دَ سرکپرئ ده د کپرئ په وهلوسره هلاکت یقینًا راځی نوڅکه ئ تخصیص اوشو، او ﴿بَنَانٍ﴾ جمع ده اومفرد ورته بنانة راځی، ابن عطیه وائ ، یعنی کل مفصلٍ ، ابن عباس ﷺ وائ یعنی الاطراف ، اطراف الاصابع من الیدین والرجلین، دَ فوق الاعناق ،یعنی دراس تخصیص څکه اوشوچه دا اشرف الاعضاء دې اودبنان ذکرڅکه اوشوچه دااضعف الاعضاء دې نوداخل شوپه کښې ټول اعضاء دجسد، یاداچه دکپرئ په وهلوسره هلاک راځی. اوپه ضرب دبنان (بندونه) سره حرکت کول ختمیږی نوتوره یابله اسلحه نشی نیولې، اوتختیدلې هم نه شی، ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ﴾ یعنی داقتل اوضرب په دې سبب سره دې چه دوئ دالله تعالی اودرسول الله ﷺ مخالفت کړیدې، شاق، شقاق، په اصل کښې مجانبة ته وائ یعنی دیوشئ نه دوه ټکړی جوړې شی یو دَبل په مقابله کښې وی، دغه شان هرکافر، مشرک دالله تعالی ددین په مقابله کښې ځان ته لاره جوړه کړیده، ﴿ذَٰلِكُمْ﴾ دااسم اشاره، مبتداءده اودا اشاره مذکوربماقبل ته ده چه ضرب قتل دې، او (كُمْ) خطاب دې کافرانو ته، اوخبرمحذف دې ای العذاب فی الدنیا، یعنی دامذکور عذاب ددینادې، او(فا) په ﴿فَذُوقُوهُ﴾ کښې استینافیه ده نوداجمله مستانفه ده، یا (ذلکم)، منصوب دې په اضمار علی شریطة التفسیر سره، ای ذوقواذلکم فذوقوه، ملائکو به کافرانو ته چه سزاورکوله نووئیل به ئ چه داعذاب اوڅکئ په دنیاکښې اوبه دې بس نه دې بلکه په آخرت کښې دکافرانو دپاره دجهنم دائمی عذاب دناردې، ذوق ئ په طریقه داستهزاءسره ذکرکړیدې څکه چه ذوق دخوړ شئ دپاره استعمالیږی ، ﴿وَأَنَّ لِلْكَٰفِرِينَ﴾ ددینه مخکښې واعلموا مقدردې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلْأَدْبَارَ ۝
اې ایمان والو (۱) کله چه مخامخ شئ تا سو د کافرانو سره په حال د جنگ کولو کښې پس مه گرزوئ دوئ ته شاه گانې

۱ - اول قانون دجهاد

وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا
اوچا چه وګرزوله دوئ ته په دغه ورځ کښې شا خپله مګر که هُنر کونکې وی لپاره د جنګ يا يوزائ کيدونکې وی
اِلٰى فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ
د ډلې خپلې سره نو پس په تحقيق سره اخته شو دې په غضب د الله سره او ځائ د اُوسيدلو د ده جهنم دې
وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ⑯ فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ ۪
او ډير بد ځائ د ګرځيدلو دې دا جهنم . پس ندی قتل کړی تاسو هغوئ لره ليکن الله تعالی قتل کړيدی دوئ لره
وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ
اوندی رسولې تاشکې سترګو دکفارو ته هرکله چه تا ګذارې کړې د لاس نه ليکن ورسولی هغه الله تعالی سترګو د کفارو ته.
وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ⑰
اود دې لپاره چه انعام اواحسان وکړی په مؤمنانو دخپل طرف نه انعام ښائسته، بيشکه الله هرڅه اوريدونکې او پوهه دې
ذٰلِكُمْ وَ اَنَّ اللّٰهَ مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ⑱
دا کار خو داسې وشو او بيشکه الله تعالی کمزورې کونکې دې تدبير د کافرانو لره.

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ﴾ دا **اول قانون دجهاددې** چه په ميدان جنګ کښې کافرانو ته ، شاء مه ګرځوئ، اوتيښته مه کوئ داګناه کبيره ده، ﴿ زَحْفًا ﴾ منصوب دې حال دې يعنی په حالت دجنګ کښې، زحف په اصل کښې مصدردې خړپوسی کولودبچی ته وئيلې شی، زحف الصبی اذا دب علی استه قليلاً قليلاً ، په ميدان جنګ کښ هم مجموعه لښکر آهسته آهسته په نظر راځی د کثرت په وجه لکه ماشوم بچې چه آهسته آهسته په خړپوسو روان وی نوددی وجه نه لښکرته اوجنګ ته زحف وئيلې شی، يوم الزحف دجنګ ورځې ته وائ، ﴿ وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ ﴾ داوعيددې په تولی اوپه تيښته باندې په جنګ کښې، ﴿ وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ ﴾ شرط دې او ﴿ فَقَدْ بَآءَ ﴾ ئ جزاء ده،او ﴿ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا ﴾ په درميان کښې ددوؤحالتونو استثناء ده. اول حالت دادې چه هُنر اوچل ول جوړوی دپاره دقتال په دې شان چه دشمن ته شااوګرځوی اوپه

ظاهر کښې تيښته اوکړي اوناڅاپه بيا واپس شي اوپه دشمن حمله اوکړي (يقال له الكرار في صف القتال) دويم حالت دادې چه مجاهد دخپل ډلې نه يواځې شوې وي نوخپل ځان يوډلې ته رسوي دپاره ددې چه تقويت حاصل کړي په هغوئ سره نوپه دې صورت کښې تيښته جائزده په ارادې دتقويت حاصلولو سره نه په نيت دتيښتې سره ﴿ فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ ﴾ دامتفرع دې په مذکور علتونوباندې حضرت مجاهد رحمه الله وائي چه دبدردفتح نه پس بعض مجاهدينو اووئيل چه مافلانې کافرقتل کړو اودغه شان نورو مجاهدينو اووئيل چه مافلانې قتل کړو نوالله تعالى اوفرمائيل چه خبره دغه شان نه ده بلکه په بدرکښې الله تعالى مشرکين قتل کړيدى اوذليل کړي ئ دى، په ظاهرکښې اګرکه دمؤمنانو دلاس نه دوئ قتل شويدى ليکن دوئ ته الله تعالى توفيق ورکړې دې نوپه حقيقت کښې الله تعالى قتل کړي دى ﴿ وَمَا رَمَيْتَ ﴾ داترقي ده دماقبل نه چه په ماقبل کښې نفي وه دمؤمنانو نه اودلته نفي کيږي درسول پاک ﷺ نه روايت دې (کمافي مسلم وغيره) چه په ورځ دبدرکښې نبي ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته اووئيل چه ماته يوموټې شګې راکړه، نوبيانبي ﷺ هغه غوځارې کړې اواوئ وئيل شاهت الوجوه،، نوپه ميدان هيڅ يوکافر داسې پاتې نه شو مګردهغه سترګواوخولې ته دغه شګې اورسيدلې اودوئ واپس شو اومؤمنان وريسې شونو ځنې ئ قتل کړل اوځنې ئ قيد کړل ،نوالله تعالى اوفرمائيل ﴿ وَمَا رَمَيْتَ ﴾ دلته ديوفعل اثبات هم شويدې رسول الله ﷺ لره اونفي ئ هم شويده نومراد د اثبات نه اثبات دې پحسب دظاهراومراددنفي نه نفي ده په حسب دحقيقت سره يادا چه کوم فعل دبنده په کسب اواختيارکښې وي نوبنده ته ئ نسبت کسبًا کيږي نه خلقًا اوکوم فعل چه دبنده په اختيار کښې نه وي نوبنده ته ئ نسبت مطلقًا نه کيږي نو دلته چه اثبات درمى شويدې نومرادترينه شګې اوکانړي ويشتل دى دلاس نه نوداپه اختياراوکسب دپيغمبر ﷺ سره دې نواثبات ئ شويدې کسبًا اونفي چه شويده نودهغې نه مرادرَسَوَل دى سترګودکافرانوته اوهغه په اختيار دپيغمبرکښې نه وو نو ځکه نفي ئ شويده دپيغمبر نه اواثبات ئ شويدې الله تعالى لره په ﴿ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ﴾ سره نومعنى داشوه چه تاندى رَسولى شګې سترګو دکافرانو ته کله چه تاؤ ويشتلې ، بلکه الله تعالى رسولى دى ، اوپه قتل کښې ئ ظاهري نسبت اونه کړو بندګانو ته په شان درمى ځکه چه دقتل نه مراد قبض دروح دې اوپه هغې کښې دخل نشته دې اختيار دبنده لره،﴿ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ واؤ زائده دې اوداعلت دې دماقبل دپاره ياواؤ عاطفه دې اومعطوف

عليه مقدردي اى ليمحق الكافرين وليبلى المؤمنين، يبلى په معنى د يعطى سره دي بلاءً په معنى دعطاءً سره اى ليعطى المؤمنين عطاءً حسنًا اى جميلاً بلامشقة، ﴿ ذَٰلِكُمْ ﴾ ددينه مخكښې قلنا مقدردې اوروستوترينه ، فذوقوه مقدردي اى قلنا ذلكم فذوقوه او د ((أنّ)) نه مخكښې واعلموا مقدردې اى واعلمو ان الله موهن – الخ يعنى مونږ اووئيل چه داعذاب اوڅکئ اويقين اوساتئ چه الله تعالى دكافرانو مكرفريب بيكاره كونكې دې، يا د ذلكم نه مخكښې مبتداء مقدره ده اوپه ذالكم كښې اشاره ده ابتلاء المؤمنين ته ، وان الله – الخ، عطف دې په ذلكم باندې معنى داده چه المقصود ذلكم وان الله – الخ يعنى مقصود يوابتلاء دمؤمينو ده اوبل دكافرانو مكراوفريب بيكاره كول دى.

إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ
كه تاسو فيصله غواړئ نو پس په تحقيق سره راغله تاسو ته فيصله، اوكه تاسو منع شئ د كُفر نه پس دا غوره ده تاسو لره.
وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ
اوكه تاسو واپس كيږئ نافرمانئ ته نو مونږ به واپس شو امداد د مؤمنانو ته، او هيڅ چرې به دفع نه كړى ستاسو نه
فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَّلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٩﴾
ډله ستاسو هيڅ تكليف اگر كه ډيره وى، او پوهه شئ چه بيشكه الله ملگرې د مؤمنانو دې

﴿ إِن تَسْتَفْتِحُوا ﴾ داخطاب دې مشركينو ته اواستفتاح په معنى دطلب دفيصلې دې، مشركينو به هجرت نه مخكښې نبى ﷺ ته ويل ((متى هذا الفتح ان كنتم صادقين)) يعنى زمونږ اوستاسوپه مينځ كښې دصادق اودكاذب اودحق مبطل فيصله به كله كيږى نوپه دې آيت كښې دهغې جواب راغې اودارنگه روايت دې چه ابوجهل اودهغه ملگرو، بدرته دراتلو نه مخكښې دكعبې غلاف اونيولو، اودعائ اوكړه چه ياالله په دې دواړوډلوكښې چه كومه غوره وى اوپه سمه لاره وى نودهغوئ اومداداوكړې، نوچونكه مؤمنان په حق وو نودعادوئ په حق. كښې قبوله شوه أووئيلې شو چه كه چرې تاسو فيصله غواړئ نو فيصله راغله اوتاسودلگ شاز مؤمنانو دلاسه مغلوب اوذليل شوئ، نوكه ددينه روستو تاسو دكفر اوسركشئ نه منع شوى نودابه ستاسو دپاره خيروى اوكه تاسو بياهم دسركشئ اوكفر نه منع نه شوئ نومونږ به بيات

ته عذاب درکړو اودمؤمنانو امداد به اوکړو اوستاسوډله هرڅومره چه زياته وی ليکن تاسوته به هيڅ فائده درنه کړی ﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ﴾ ای واعلموا ان الله مع المؤمنين.

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ﴿٢٠﴾
اي مؤمنانو![1] تابعداری کوئ دالله تعالى اودرسول دهغه. اومخ مه اړوئ دهغه نه اوحال داچه اورئ تاسو(قرآن . حديث)
وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٢١﴾
او مه کيږئ په شان دهغه خلقو چه وائ، اوريدلی دی مونږ اوحال دا چه دوئ ندی اوريدلی په زړه سره
اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٢٢﴾
بيشکه بد ترين په جاندارو کښ، په نيز د الله تعالى باندې کاڼړه د حق نه. ګونګيان دی. هغه کسان چه نه پوهيږی په حق
وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ
اوکه معلوم وې الله تعالى ته په دوئ کښ خير، يعنى طلب د حق، نو خامخا به ئ اورولې دوئ ته (دقبول دحق توفيق به ئ ورکړې وې)
وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٣﴾
اوکه واؤروی الله تعالى دوئ ته (په داسې حال کښ) نو خامخا به دوئ مخ اړوی او دوئ هميشه مخ اړونکی دی
يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ ۚ
ای ايمان والو![2] حکم قبولوئ د الله تعالى او د رسول کله چه راؤبلی تاسو هغه څيز ته چه ژوندی کوی تاسو (يعنى جهاد)
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ وَاَنَّهٗٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾
او پوهه شئ چه بيشکه الله حائل کيږی په مينځ د سړی او زړه د ده کښ او دا چه بيشکه خاص هغه ته به جمع کولې شئ تاسو.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ دا **دويم قانون جهاددې** چه درسول الله ﷺ اطاعت کوئ اودهغه داطاعت نه مخ مه اړوئ اوذکرداطاعت دالله تعالى دپاره دتنبيه دې په دې خبره چه اطاعت دالله تعالى بعينه اطاعت رسول دې ﴿وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ﴾ ضميرراجع دې رسول ته اوضميرد مفرد ذکر شو

---

١ - دويم قانون د جهاد

٢ - دريم قانون د جهاد

په دې کښې اشاره ده چه تولی یعنی اعراض درسول نه بعینه اعراض دې دالله تعالی نه لکه چه اطاعت درسول بعینه اطاعت دالله تعالی دې ﴿وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ﴾ حال داچه تاسو قرآن، حدیث آورئ نوپه داسې حال کښې اعراض زیات قبیح دې ﴿وَلَا تَكُونُوا﴾ په دې آیت کښې تاکیددعمل کولودې، یعنی څوک چه داسې وائ چه مونږ واؤریده لیکن عمل نه کوی نوداسې آؤریدل دنه آؤریدلو سره برابر دی ځکه چه غرض دآؤریدلو نه عمل کول دی، اودادمنافق خصلت وی چه حق خوواؤری لیکن اعتقاد ئ نه وی نوعمل نه کوی ، نوتاسود منافقینو په شان مه کیږئ، ﴿وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ﴾ نه مراد نفی د سماع په طریقې د قبولیت او اعتقاد سره ده، ﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ﴾ یعنی د منافقینو په شان مه کیږئ ځکه چه دوئ دالله تعالی په مخلوق کښې بد ترین مخلوق دی ، دوئ کانړه دی دحق اوریدلو نه او ګونګیان دی دحق بیانولو نه نو پس دوئ په څه نه پوهیږی. ﴿وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا﴾ یعنی که چرې په دوئ کښې خیرموجودوې، ځکه چه کوم شئ موجودوی نودالله تعالی علم وی په هغه باندې نودلته ذکر دلازم دې چه علم دالله تعالی دې اومرادترینه ملزوم دې یعنی وجود، اودخیر نه مرادطلب دحق اوانابت الی الله دې، او (لو) دلته دپاره دانتفاء دثانی دې په وجه دانتفاء داول سره معنی داده چه که چرې ددوئ په زړونو کښې دحق طلب وې اودقبول دحق اراده او جذبه وې نوالله تعالی به دوئ ته په سماع قبول سره اورولې وې اودقبول دحق توفیق به ئ ورته ورکړې وې، لیکن دوئ ته چه الله تعالی اسماع نه ده کړی اودقبول دحق توفیق ئ ورته نه دې ورکړې نودادی وجه نه چه په دوئ کښې خیرنشته یعنی انابت الی الله اودقبول دحق اراده اوجذبه نشته دې، ﴿وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا﴾ یعنی په دې حالت کښې چه په دوئ کښې انابت نشته دې بلکه ضددې نوکه په دې حالت کښې ورته الله تعالی واؤروی لکه کله کله دوئ په ظاهری غوګونو آوری نودوئ بهٔ مخ اړوی اواعراض بهٔ کوی ځکه چه په دوئ کښې دضدپه وجه دقبول دحق صلاحیت نشته دې .

فائده : ددینه معلومه شوه چه دادواړه جملې جداجدامستقلې جملې دی صغری کبری نه دی، حتی چه سوال واردشی اوتکلف دجواب ته ضرورت راشی.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ دا **دریم قانون دې** اوحاصل ئ دادې چه دجهاد دفرضیت په وخت کښې چه کله تاسو ته دعوت دجهاددرکړې شی نودعوت قبول کړئ اوپه جهاد کښې شریک شئ اونورنفلی کارونه پریږدئ ، دنفلی کار په وجه په فرائضو کښې خلل مهٔ راولئ، په حدیث

دبخاري كښې دی، سعيد بن معلی وائي چه ما په مسجد كښې نفل مونځ كوو نوزه رسول الله ﷺ راؤبللم، نوما اجابت اونه كړو نوچه دمانځه نه فارغ شوم نوراغلم نونبی ﷺ راته اوفرمائيل مامنعک عن اجابتی . تا لره څه مانع وو څماد اجابت نه، نوما عذراوكړو چه انی کنت فی الصلوة.
زه په مانځه كښې مشغول اوم نونبی ﷺ اوفرمائيل چه آيا تا دا آيت نه دې اوريدلي؟ استجيبوا الله –
الخ نودد ينه معلومه شوه چه دفرض كاردپاره نفل پريښودل پكاردی. ﴿لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾ لام په معنی دالی سره دې اودا د (دعاكم) سره متعلق دې اود ((ما يحييكم)) نه مراد جهاد دې، څكه چه جهاد دنيا اوآخرت دپاكيزه اوپُرسكون زندګئ دپاره سبب دې اودمسلمانانو دشان شوكت اوعزت زندګئ ذريعه وه، اوترک دجهاد سبب دذلت دې، (كمافی الحديث) يالام په لِما يحييكم كښې په خپل اصلِ معنی سره دې اودامتعلق دې د استجيبوا سره، اود ما يحييكم نه مراد ټول اوامرنواهی دی چه په دې عمل كول موجب دحيات ابدی دې ﴿يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ﴾ الله تعالی حائل كيږی، يا ،پرده اچوی په مابين دسړی اودزړه كښې، ددی جملې ډيرمطلبونه بيان شويدی، **يو دا** چه الله تعالی بنده ته ډيرقريب دې، دبنده اودزړه په مينځ كښې حائل اوپرده ده لكه ﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾ ، **دويم مطلب** دا چه په قبلولو داحكامو كښې جلدی كوئ، كله دبنده دسستئ اوتاخير كولو په وجه الله تعالی توفيق نه وركوی، اوكله دبنده دارادی په درميان كښې تقديرالهی حائل شی اوبنده په خپله اراده كښې كامياب نه شی اراده ئ بدله شی ياعذر اوپريشانی يابيماری راشی چه دهغې په وجه دنيک كاردكولو فرصت نه ملاويږی، **دريم مطلب** دا چه الله تعالی داجابت په بركت سره مؤمن بنده ته كفر، معصيت نه پريږدی، اوتوفيق الهی حائل شی دمؤمن اودكفر اومعصيت په مينځ كښې نودكفر اومعصيت نه محفوظ شی او كافربنده دمعصيت په وجه ايمان او اطاعت دَ ده زړه ته نه پريږدی، نومعلومه شوه چه اجابت ډيراهم اوضروری دې اومخالفت اومعصيت ډيرمضردې، نولهذا اجابت كوئ اومخالفت اومعصيت مه كوئ.

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا
اوځان بچ كړئ (په جهاد كولو سره)[1] دداسې عذاب نه چه نه رسی ظالمانو ته ستاسو نه يواځې، او پوهه شئ

۱ - تخويف .

اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ
چه بیشکه الله تعالی سخت عذاب ورکونکي دي. اویادکړئ هغه وخت کله چه تاسو لږوئ کمزوري کړې شوي وئ
فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ
په ځمکه کښې یریدئ تاسو چه وبه تختوي تاسولره خلق پس ځای ئې درکړو تاسو لره او قوي ئې کړئ تاسو په مدد خپل سره
وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا
اوروزي ئې درکړه تاسو لره د پاکو څیزونو نه، لپاره د دې چه تاسوشکر وکړئ. اې ایمان والو (۱) خیانت مه کوئ
اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ وَتَخُوْنُوْٓا اَمٰنٰتِكُمْ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝
د الله تعالی او درسول سره او خیانت مه کوئ په امانتونو خپلو کښې او حال دا چه تاسو پوهیږئ
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝
اوپوهه شئ چه بیشکه مالونه ستاسو اواولادونه ستاسوامتحان دي،اوبیشکه د الله تعالی سره دې ثواب لوئ.

﴿ وَاتَّقُوْا فِتْنَةً ﴾ دفتنه نه مراد ذنب اوګناه دي یاترینه مرادعذاب دې، یعنی دداسې ګناه نه ځان بچ کړئ چه وبال ئې صرف ګناه کونکی ته نه رسی بلکه عام وی، چه په یوځای کښې ګناه کیږی اونورخلق ئې منع نه کړی نوعذاب په دنیاکښې عام راځی، (ع):

بی ادب تنهانه خودراداشت بد بلکه آتش در همه آفاق زد

اوچه خلق دګناه نه منع کول شروع کړی نوعذاب الهی دفع شی، امربالمعروف اونهی عن المنکر ، ،سبب درفع دعذاب دې نوپه دې آیت کښې ترغیب دجهاد دې، ﴿وَاذْكُرُوْٓا﴾ داتذکیر نعمت دې اوترغیب دجهاددې، ﴿اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ﴾ دشماریه لحاظ سره کم وئ ﴿مُّسْتَضْعَفُوْنَ﴾ اودقوت په اعتبارسره کمزوری وئ، اوددی دواړو قسموکمزورئ په وجه، ﴿تَخَافُوْنَ﴾ تاسوته به هم هروخت خوف اوخطروو چه دُشمنان تاسولره ختم کړی، تَخَطُّفْ دیته وئیلې شی چه تپوس ،یاباز، چرګ وغیره ښکارپه خپلو پنجوکښې اوچت کړی اوتختوی، ﴿فَاٰوٰىكُمْ﴾ نو یولوئ انعام ئې په تاسوباندې دااوکړو چه تاسوته ئې ځای، ټکانه درکړه په مدینه منوره کښې اوخوک

---

۱ - خلور قانون د جهاد.

چه دخپل استقلالی مملکت خاوندوی نوجهادپه هغه فرض وی. ﴿وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ﴾ اوبل لوئ نعمت ئ داواکړ چه تاسوئ قوی کړئ یعنی مسلمانان دعددپه اعتبارسره هم زیات شو اودمادی سامان په لحاظ سره هم ، انصاروچه ایمان راوړو نودخان اومال قربانئ ئ ورکړې،اوځوک چه دعدداوسازسامان په اعتبارسره قوی وی نوجهادپرې فرض وی.

﴿وَرَزَقَكُم﴾ اوبل لوئ انعام ئ داواکړو چه تاسوته ئ په دشمن فتح درکړه اومال غنیمت ئ تاسودپاره حلال کړو، دمخکنو امتونو دپاره نه ووحلال. ﴿لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ ددی مذکوره انعاماتو شکریه داده چه دجهادفریضه په احسنه طریقه سره اداکړئ. ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ **داخلورم قانو ن دجهاد دې** چه مجاهدین دخصوصًا هیڅ قسم خیانت نه کوی. خیانت دالله تعالی سره دا دې چه دهغه په توحید کښې خیانت اوکړې شی، یاپه نوروحکمونو کښې کمې زیاتې اوکړې شی،اوخیانت دسول سره دادې چه دسنت مخالفت اوکړې شی ﴿وَتَخُونُوٓا۟ أَمَٰنَٰتِكُمْ﴾ داپه ((تخونوا)) عطف دې نودلا، ماتحت دې ای لاتخونوا امٰنٰتکم. داماناتو نه مراد ټول هغه حقوق دی چه انسان په هغې مکلف دې،حقوق الله وی اوکه حقوق العبادوی﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ﴾ یعنی دکوم مال دوجه نه چه تاسونزاع اوجګړه کوئ نوهغه امتحان دې اوخیانت چه کیږی نویادمال دوجه نه کیږی یاداولاددجه نه کیږی، نوځوک چه دمال اولاد دمحبت نه مغلوب نه شی، اوخیانت اونه کړی نودغه شان سړې په امتحان کښې کامیاب دې اومستحق داجرعظیم دې ، ددی آیت حکم خوعام دې لیکن شان نزول ئ په نیز د ډیرومفسرینو واقعه ده حضرت ابولبابه ﷺ ده، چه په غزوه بنی قریضه کښې نبی ﷺ ددوئ محاصره کړې وه نودوئ درخواست اوکړو چه مونږ ته داجازت راکړې شی چه مونږ جلاوطن شو اوشام ته لاړشو، نبی ﷺ ددوئ دادرخواست قبول نه کړو بلکه اوئ فرمائیل چه دصلح صرف یوصورت کیدې شی هغه داچه حضرت سعد بن معاذ ﷺ ستاسو په حق کښې څه فیصله اوکړی نوتاسو په هغې باندې راضی شئ، نودوئ (بنی قریظه) داعرض اوکړو چه دسعدبن معاذ ﷺ په ځائ دې داکارابولبابه ﷺ ته حواله کړې شی ، دحضرت ابولبابه جائداد . اهل وعیال په بنی قریظه کښې وو، نودیهودیانو داخیال وو چه ابولبابه ﷺ به زمونږ په حق کښې رعایت اوکړی، نونبی ﷺ حضرت ابولبابه ﷺ اولیګلو، نودبنی قریظو ټولوښځې بچی جمع شو اوجړاګانې ئ شروع کړی اودابولبابه ﷺ نه ئ داتپوس اوکړو چه که مونږ دنبی ﷺ په

حکم نزول اوکړو اودخپلو قلاګانو نه باهرشو نوآیانبی ﷺ به زمونږ په معامله کښې څه نرمی اوکړی. نوابولبابه ﷺ ته خودنبی ﷺ رائ معلومه وه، اودبنوقریظه دفریادنه اودخپل اهل وعیال اوجانداد دمحبت نه متاثره شو، نوهغوئ ته ئ اشاره اوکړه اوپه خپله مرئ باندې ئ دتوری په شان لاس راخکلو، چه نبی ﷺ تاسوذبح کوی، نوګویا، چه دنبی ﷺ رازئ ښکاره کړو ،نوفوراً پښیمانه شو،اولاړدمسجدنبوی په یوستنه (متهه) پورې ئ ځان اوتړلو، اوقسم ئ اوکړو چه ترڅوپورې خماتوبه نه وی قبوله شوی نوترهغې پورې به په دې حالت باندې یم. اګرکه په دې حالت مړشم ،هم، نبی ﷺ چه خبرشو نواوئ فرمائیل که چرې دې اول خما خواته راغلې وې نومابه دده دپاره استغفارکړې وې، لیکن اوس چه ترڅو پورې دالله تعالی دطرفه دده، دتوبې قبولیت نوی راغلې نوزه به دې نه پرانیزم، چنانچه اوه ورځې ئ په داسې حال باندې تیرې کړی، اهل وعیال به ئ دانسانی ضرورت اومونځ دپاره پرانستلو ، اوخوراک سکاک ئ نه کولو، حتی چه غشی اوبیهوشی پرې راغله، داووورځونه پس دده توبه قبوله شوه اورسول ﷺ دې په خپلولاسونو پرانستلو، ﷺ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ

اې ایمان والو! [1] که یره کوئ تاسو د الله تعالی نه نو دربه کړی تاسو لره فتح او لرې به کړی ستاسو نه ګناهونه ستاسو

وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ۝٢٩ وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ

او ښنه به وکړی تاسوته او الله تعالی خاوند د فضل لوئ دې . اوکله چه فریب کوؤ ستا په حق کښې کافرانو

لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ وَيَمۡكُرُونَ وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ

چه قید کړی تا لره یاقتل کړی تا لره یاوباسی تا ، اوچل ول کوؤ دوئ اوخفیه تدبیروکړوالله تعالی ستا دبچ کولو

وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ۝٣٠ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا قَالُواْ قَدۡ

اوالله تعالی ډیر ښه تدبیرکونکې دې . اوکله چه ولوستې شی [2] په دوئ باندې آیاتونه زمونږ وائی دوئ چه په تحقیق سره

1 - پنځم قانون د جهاد.

2 - شکوه

سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۱﴾

واوریدو مونږ، که مونږ وغواړو خامخا، وبه وایو مثل د دې،ندې دا قرآن مگر قصې، افسانې، دمخکنو خلقو دی

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ ﴾ **داپنځم قانون دجهاددې** مطلب ئې دادې چه مجاهدینو لره تقوی ضروری ده یعنی تابعداری د اوامرواو اجتناب دمنهیاتونه او دارنګه ترک دمشتبهاتو.

﴿ فُرْقَانًا ﴾ په اصل کښې مصدردې، فرق اوفرقان دواړه صیغې دمصدردی، خوپه فرقان کښې مبالغه ده، او ددې مختلف تفسیرونه کړې شویدی، نُوردزړه چه په هغې سره دحق اوباطل تمیز راځی، اوفتح، غلبه، نجات نصرت اوامداد، وغیرذلک.

دلته دتقوی درې فائدې بیان شویدی اول فرقان، دویم تکفیر دسیئاتو یعنی صغیر ګناهونه معاف کیدل یامصیبتونه دفع کیدل، دریم مغفرت دذنُوب ،یعنی کبائر ګناهونه معاف کیدل

﴿ ذُو الْفَضْلِ ﴾ یعنی دامذکورې فائدې دالله تعالی په فضل سره دی

﴿ وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ ﴾ دا **شپږم علت دې** ددعوی سورت دپاره حاصل ئې دادې چه هجرت درسول الله ﷺ سبب دفتح اودحصول دغنائمودې نوثابته شوه چه الانفال لله والرسول اودارنګه په دې کښې بیان ددې خبرې دې چه دتقوی په وجه مصیبتونه اوددشمنانو مکرونه فریبونه دفع کیږی، په دې آیت کښې واقعې دهجرت ذکردې، داآیت مدنی دې اودکومې واقعې ذکر چه په دې کښې دې هغه په مکه کښې راغلې وه، دواقعې تفصیل اهل سیرو اومحدثینو داسې کړیدې

هرکله چه بعض صحابؤ هجرت اوکړو مدینې ته اوانصار په اسلام کښې داخل شو، نوکفارمکه په خطره کښې شو چه اسلام روزانه په ترقۍ کښې دې نوددې دبندلوځه تدبیرپکاردې ، نودکفارو سرداران لکه ابوجهل ،عتبه، شیبه، وغیره نوړډیر سرداران په دارالندوه کښې جمع شو، مشوری دپاره، نوابلیس لعین هم په صورت دشیخ نجدی کښې راغې. اوئې وئیل چه زه ستاسو ددې مشورې نه خبرشوم نوځکه حاضرشوم، شیخ نجدی په عربوکښې یوتجربه کارمشرو ،نودوئ مشوره شروع کړه، نویوسرداردوئ ابوالبختری اووئیل چه ځما رائې داده چه نبی ﷺ قیدکړئ ، نوشیخ نجدی اووئیل چه دارائ غلطه ده ځکه چه تاسودې قیدکړئ نودده، دخلاصولو دپاره به دده قوم راشی اوستاسوسره به قتال اوکړی اودې به آزادکړی، اوبل سردار، هشام بن عمرو اووئیل چه ځمارائ داده چه دې دځپل ښار. علاقې نه باهرکړئ، نوشیخ اووئیل چه دارئ هم غلطه ده. دی که دځپل کلی علاقی نه باهرلاړشی نوهلته

نور خلق به خپل تابع کړي اوستاسو سره به قتل وقتال اوکړي نوابوجهل خپل رائ پیش کړه چه دهري قبیلې نه یویومشر، پهلوان راشي، اوهریو دې په ده باندې دتوري حمله اوکړي اوقتل دې ئ کړي ، نودده خاندان بنوهاشم خو دټولوقبائلو نه قصاص نه شي اخستلې، اوکه دیت غواړي نوددیرو کسانودیت ورکول هم مونږ ته آسان دې، نوابلیس معلون په شکل دشیخ نجدی کښې راغلې وو، اوئ وئیل چه دارائ صحیح ده، نوټول په دې باندې متفق شو، الله تعالی حضرت جبرئیل رااولیګواوددی ټولو خبرونه ئ نبی ﷺ خبرکړو، اوکفاردنبی ﷺ دقتل په اراده راغلی وو، اودمکان محاصره ئ کړی وه، نبی ﷺ حضرت علی ؓ په خپله بستره باندې مقررکړواودخلقو امانتونه چه نبی ﷺ سره وو هغه ئ ورته حواله کړل اوورته ئ اووئیل چه څماپه بستره اوده شه اوڅماڅادر په ځان واچوه اوتاته به هیڅوک ضررنه شي رسولې، اونبی ﷺ باهرراووتلو اویوموټې خاوري ئ راواغستې اوددغه کفارو په سرونوئ واچولې، اودا آیتونه ئ تلاوت کول، ﴿إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ۝ وَجَعَلْنَا مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ۝﴾ [1]، اوددوئ نظرنه لګیدو په نبی ﷺ باندې، نبی ﷺ ابوبکرصدیق ؓ دځان سره کړو، غارثورته لاړوکفارودمکان احاطه کړی وه، په انتظارکښې وو، نوچه صباشو نودوئ داخل شو نوحضرت علی ؓ ئ اولیدو، تپوس ئ ترینه اوکړو چه (این صاحبک) نبی علیه الصلوة والسلام چرته دې نوهغه اوفرمائیل چه هغه باهر درغلې وو، نوپکارده چه تاسوته ئ علم وی، ماته ئ څه علم دې نودوئ دنبی ﷺ نقش قدم معلوم کړو اوغارثورته وریسی لاړل ، (الی آخرالقصه) ﴿وَيَمْكُرُ اللَّهُ﴾ مکرخفیه تدبیرته وئیلې شی، دخیروی اوکه دشر، اودالله تعالی په صفت کښې چه استعمال شی نودخیرتدبیر ترینه مرادوی، ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ﴾ دا زجراوشکوی ده مشرکانوددیرضد اوعناد په وجه داسې اووئیل ﴿لَوْ نَشَاءُ﴾ ـ الایه ـ ګنې نواعجازدقرآن دوئ ته واضح شوې وو ﴿أَسَاطِيرُ﴾ جمع داسطورة ده په معنی دلیکلی شوی سره، بعض وائ چه داجمع د اسطورده اوهغه جمع دسطرده.

---

[1] - سورة یس ، آیة : ۸ - ۹ .

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً

اوكوم وخت چه وه ويل دوئ اې الله ! [1] كه وى دا قرآن هم دا حق دطرف ستا نه پس راوه وروه په مونږ باندې كانړى

مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ

د آسمان نه يا راكړه مونږ ته عذاب دردناك . اونه دې الله چه عذاب وركړى دوئ ته په داسې حال كښې چه ته په دوئ كښې موجود ئې

وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ۝ وَمَا لَهُمْ

او ندې الله تعالى عذاب وركونكې دوئ ته اوحال دا چه دوئ ښښنه غواړى اوڅه عذر دې دوئ لره

أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ ۚ

چه عذاب به نه وركوى دوئ ته الله اوحال داچه دوئ منع كوى (مسلمانان) د مسجد حرام نه، او ندى دوئ متوليان د هغې.

إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ

ندى متوليان دهغې مگر متقيان خلق ليكن ډېر ددوئ نه نه پوهيږى . او ندې مونځ د دوئ د بيت الله په خوا كښې

إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ۝

مگر شپيلئ او لاسونه ټپول، پس وڅكئ عذاب په سبب د دې چه تاسو كفر كوئ

﴿ وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ ﴾ دا **اووم علت دې** دسورت ددعوى دپاره، مشركانو عذاب اوغوښتلو نو الله تعالى ورته عذاب په بدر كښې وركړو اومال غنيمت حاصل شو نوتقسيم ئې مفوض دې الله تعالى اورسول ته، دَ مشركانو داقول هم بناء وو په ډيرضد اوتعصب باندې چه چه نورخلق په شك كښې واچوى گنى پكارداوه چه داسې ئې وئيلى وې ياالله كه داحق وى نومونږ ته ددى دقبول توفيق راكړى ليكن دوئ ډيرو ضددوجې نه اووئيل چه كه داحق وى نوبه مونږ عذاب نازل كړې، حضرت معاويه ﷺ يو يمنى كس ته اووئيل چه ستاسو قوم خوډير جاهلان وو چه ښځه ئې ملكه گرځولې وه نوهغه اووئيل (اجهل من قومى قومك) څمادقوم نه ستاقوم زيات جاهلان وو چه داسې ئې اووئيل ، (ان كان هذاهوالحق من عندك فامطر علیناحجارة) اوداسې ئې نه وئيل ان كان هذا هوالحق فاهدنا اليه (شربينى).

---

1 - اووم ۷ علت.

﴿ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ ﴾ داجواب دسوال دي چه هركله دوئ عذاب اوغوښتلونوولي عذاب مؤخرشو، اوفوراً واقع نه شو ، جواب راغلو چه دوه امره مانع وو دنزول دعذاب نه يووجود دپيغمبر په مكه كښې ځكه چه په يوقوم كښې چه نبی موجود وی.نوعذاب نه راځی اوچه نبی ﷺ ترينه هجرت اوكړو نوبيااستغفار مانع وؤ، دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روايت دې چه په دې امت كښې دوه امانّ وو يونبی ﷺ نو هغه خوددنيا نه رخصت شو اودويم استغفار اوداباقی دې دقيامت پورې، او د ﴿ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ په تفسير كښې دوه قوله دی يوداچه ددينه مرادمشركين دی چه په حالت دطواف كښې به ئې وئيل ((غفرانک))، نودا مانع وو دعذاب نه نو **سوال** راځی چه دمشركينو اعمال خونه قبليږی نواستغفار دهغوئ څه رنګه دفع دعذاب دې نو**جواب** دادې چه دابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې چه استغفار اګركه دكفارو اوفجارو دطرف نه وی خودفع كيږی په هغې سره بعض شرونه اوضررونه ، (قرطبی) اودويم قول اصح دادې چه مراد ددينه استغفار دهغو مؤمنانو دې چه هجرت ئې نه وو كړې دضعف اوكمزورئ په وجه، نوپه عبارت كښې حذف دې : ای وفيهم من يستغفرون (كبير وغيره).

﴿ وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ ﴾ په دې كښې بيان دسبب داستحقاق عذاب دې يعنی دوئ مستحق دعذاب دی يوپه دې وجه چه دوئ مؤمنان منع كوی دمسجدحرام نه، لكه په حديبيه كښې دوئ مسلمانان اوحضور ﷺ دعمرې كولونه منع كړو، اودارنګه چه كوم مؤمنان په مكه كښې وو نوهغوئ به ئې دمونځ نه منع كول په مسجدحرام كښې ، ﴿ وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ ﴾ يعنی مشركان ددی لائق نه دی چه متوليان دمسجدشی ﴿ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ ﴾ يعنی صرف متقيان داحق لری چه دمسجدمتوليان شی، ﴿ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ ﴾ دادويمه وجه ده استحقاق دعذاب ده، يعنی دوئ خومؤمنان دمونځ نه منع كوی اوخپل حال ئې دادې چه ددوئ مونځ صرف مكاء اوتصديه دی مشركانو به چه طواف كوؤ دبيت الله نه نوشپيلی به ئې وهلې اولاسونه به ئې ټپول اوداددوئ په خيال كښې عبادت وو،ياداكلام په طريقه دتشبيه سره دې يعنی ددوئ مونځونه داسې برباد اوعبث دی لكه شپيلی وهل اولاسونه ټپول ، نوكاف تشبيهی محذوف دې ای كمكاء وتصدية ﴿ فَذُوقُوا الْعَذَابَ ﴾ يعنی هركله چه ددوئ عملونه مستحق دنزول دعذاب وو نو ﴿ فَذُوقُوا الْعَذَابَ ﴾ الخ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ
بیشکه هغه کسان چه کفر ئې کړې دې خرچ کوی مالونه خپل لپاره د دې چه منع کړی خلق د لارې د الله نه
فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟
پس زر ده چه خرچ به کړی دوئ مالونه بیا به شی په دوئ باندې ارمان، بیا به کمزوری کړې شی، اوهغه کسان چه کافران دی
إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ۝ لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ ٱلْخَبِيثَ
دوئ به جهنم ته راجمع کړې شی. د دې لپاره چه جدا کړی الله تعالی پلیت لره د پاك نه، او کیږدی پلیتان
بَعْضَهُۥ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُۥ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُۥ فِى جَهَنَّمَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ۝
بعضولره دپاسه د بعضو نه پس دندلئ (جمع) به کړی ټولو لره نو پس واچوی به جهنم کښې. دغه کسان هم دوئ تاوان والا دی

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ دا تخويف دنيوى دې چه كفار خپل مالونه ددى دپاره خرچ كوى چه خلق دالله تعالى ددين نه منع كړى لكه دادكفارو عادت دې عمومًا اوپه جنګ بدر كښې كفارو خپل ډير دولت خرچ كړې وو ددى دپاره چه اسلام اومسلمانان مغلوب شى نو الله تعالى فرمائى چه عنقريب به دوئ خپل مالونه د اسلام په مخالفت كښې خرچ كړى ليكن دوئ ته به دوه قسمه حسرتونه حاصل شى يوداچه دوئ به په خپل تدبير، اومشن كښې ناكام اونامراداومغلوب شى نويوبه داحسرت وى اوبل داچه ددوئ مالونه به ضائع اوبربادشى نوداسلام په خلاف كولو سره دادوه حسرتونه به راخى يومال ضائع كيدل اوبل ددوئ مغلوب كيدل، او دا دواړه ضررونه د دنيا دى، اواخروى سزائ داده چه ﴿ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴾.

﴿ لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ﴾ دامتعلق د ((يُحْشَرُونَ)) سره دې اوخبيث نه مرادكافردې اوطيب نه مراد مؤمن دې يعنى په قيامت كښې به كفارددوزخ ته واچولې شى نودمؤمنانو نه به جداشى، نودپاك پليت امتيازبه راشى چه پاك به جنت ته لاړشى اوپليت به جهنم ته لاړشى، يادا د ﴿ يُغْلَبُونَ ﴾ سره متعلق دې اوخبيث نه مرادمنافق دې او دطيب نه مرادمؤمن مخلص دې يعنى په جهاد كښې به كفارمغلوب شى اودمؤمن اوكافرامتياز به هم راشى.

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِن يَنتَهُوا۟ يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ
ووایه هغه کسانو ته چه کافران دی چه که دوئ منع شی د کفر اوجنګ نه اوبه بښلې شی دوئ ته تیر شوی ګناهونه.

وَإِنْ يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ۞ وَقَاتِلُوهُمْ
اوكه دوئ واپس شو كفر اوجنگ ته نو پس په تحقيق سره تيره شوي ده طريقه دمخكنو خلقو. اوجنگ كوئ د دوئ سره[1]
حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ
تر دې پورې چه پاتې نشي فتنه (شرك، فساد) او شي دين ټول دالله تعالى، پس كه منع شول دوئ نو پس بيشكه الله تعالى
بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۞ وَ إِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَوْلَاكُمْ ۚ
د دوئ عملونو لره ليدونكې دې. اوكه دوئ مخ واړوؤ پس پوهه شئ چه بيشكه الله تعالى ستاسو مولى دې،
نِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ ۞
ډير ښه مولى دې او ډير ښه مددګار دې.

﴿ قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ دادعوت دې كفاروته اودهغوئ رؤساؤ ته لكه چه دآيت دنزول په وخت كښې ابوسفيان هم دَ ائمة الكفر نه وو، په فتح مكه كښې ئ ايمان راوړو﴿ يُغْفَرْ لَهُمْ ﴾ كافرحربى ته حقوق الله اوحقوق العباد ټول معاف كيږى اوكافرذمى ته حقوق الله معاف كيږى، ﴿ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴾ اضافت دسنت،الاولين ته اضافت مفعول ته دې او فاعل مقدردې ، ((اى سنة الله فى الاولين))، او د دې نه مراد دكفارو مغلوب كول او د پيغمبرانو سره نصرت كول مراددى، ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ ﴾ دادسورت دويمه دعوى ده يعنى عمومى دعوئ جهاد ﴿ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ ﴾ حَتّى په معنى دالِى سره دې اودفِتْنَةٌ نه مرادشرك اوكفردې يعنى دشرك اوكفرختميدلوپورې جهادكوئ، دمشركين عرب نه جزيه قبلول نشته، يا د فِتْنَةٌ نه مرادفساددې اوفتنه فسادختميږى ياپه اسلام كښې داخليدلوسره ياپه قبلولودجزيه سره نوداحكم دغيردعربو دپاره دې، او ﴿ كُلُّهُ ﴾ ذكرشونويه دې كښې اشاره ده چه دكفروجود په دنياكښې سبب دفساد او دفتنې دې نو په حقيقت كښې دهشت ګرد ، هم كافران دى ﴿ وَإِنْ تَوَلَّوْا ﴾ يعنى كه دوئ اعراض اوكړى دايمان نه، يادوئ منع نه شى دقتال نه نوتاسوورسره قتال كوئ، الله تعالى به ستاسو مدداونصرت كوى.

نهمه پاره ختمه ولله الحمد اولاً واخراً

---

[1] - د سورة دويمه دعوه اجمالاً.

وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّمَا	غَنِمْتُمْ	مِّنْ	شَيْءٍ	فَاَنَّ	لِلّٰهِ
او پوهه شئ[1] چه بیشکه هر هغه څه چه تاسو ئ په جنگ سره واخلئ د کفارونه د هر قسم شی نه نو بیشکه الله لره						
خُمُسَهٗ	وَلِلرَّسُوْلِ	وَلِذِي	الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى	وَالْمَسٰكِيْنِ	وَابْنِ السَّبِيْلِ
د هغې پنځمه حصه ده او د رسول لپاره او د خپلوانو د رسول لپاره او یتیمانو او مسکینانو او مسافرو لپاره.						
اِنْ	كُنْتُمْ	اٰمَنْتُمْ	بِاللّٰهِ	وَمَآ اَنْزَلْنَا	عَلٰى عَبْدِنَا	يَوْمَ الْفُرْقَانِ
که یئ تاسو ایمان مو راوړې وی په الله تعالی او په هغه څه (نصرت) چه رالیږلې وو مونږ په بنده خپل په ورځ د فیصلې						
يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝						
په هغه ورځ چه مخامخ شوې دوه ډلې، او الله په هر شی قدرت والا دې						

﴿ وَاعْلَمُوْٓا ﴾ دادسورت دویمه حصه ده په دې کښې دسورت دعوه ذکرکیږی په تفصیل اوتشریح سره اوه (۷) قوانین جهاد ذکرکیږی اوپنځه علتونه ددعوی دپاره ذکرکیږی، مال غنیمت هغه مال دې چه دکفارونه واغستې شی په وجه دغلبی سره په قتال کښې، نوددی حکم دادې چه دامال په پنځه حصی کړې شی، څلورحصی به په مجاهدینو تقسیم شی په داسې طریقه سره چه دراکب دپاره دوه حصې ورکړې شی یوه حصه دمالک یوه حصه دفرس. داپه نیزداحنافو، اوپه نیزدنوروائموبه،فارس، ته درې حصې ورکولې شی یوحصه د مالك دوه حصې دفرس، اوخمس یعنی دپنځمی حصی دمصارفو بیان دلته په دې ایت کښې ذکردې، اوهرچه دې مال فئ نوداهغه مال دې چه دکفارو نه په صلح کښې واغستې شی،یاپه کفاروباندې رعب راشی اومال پریږدی ، اوددی حکم په سورت حشرآیت نمبر۷کښې ذکرشوې دې، اومشروعیت داخذدمال غنیمت خاصه ددی امت ده، کمافی الحدیث ، په مخکینو امتونوکښې به په مال غنیمت باندې دقبولیت دپاره داسمان نه اورنازلیدو،﴿اَنَّمَا غَنِمْتُمْ﴾په دې کښې اشاره ده تعمیم ته چه مال غنیمت قلیل وی یاکثیروی نوحکم ئ یوشان دې اود ﴿مِنْ شَيْءٍ﴾ معنی داده چه دهرجنس نه چه وی لکه درهم دنانیروغیره ﴿فَاَنَّ لِلّٰهِ﴾دلته په عبارت کښې تقدیر دې ای فحکمه

۱ - د دعوې ذکر په تفصیل سره.

ان لله خمسه، اوذکردالله دتبرک دپاره دي اواشاره ده چه اختیار مطلقه الله تعالی لره دي. ﴿وَلِلرَّسُولِ﴾ اوحصه د رسول ساقطه شویده په موت سره اوپه نیزدبعض اهل علمو باقی ده اودابه جمع کیږی په بیت المال کښ دپاره دمصالحودمسلمانانو، اودعلماؤ مدرسینو دفقه اوحدیث اوتفسیر دپاره،(شیربینی) ﴿وَلِذِي الْقُرْبَىٰ﴾مراددخپلوانونه بنوهاشم اوبنوالمطلب دی، نودوئ اګرکه اغنیاء وی مستحق دی، دوئ مستحق وو په وجه دنصرت سره کمافی الحدیث انمابنوهاشم وبنوالمطلب شئ واحدوشبک بین اصابعه وقدسقط سهم النبی صلی الله علیه وسلم بموته وهکذ اقربائه (کذافی الهدایه) ﴿وَالْيَتَامَىٰ﴾یتیم هغه نابالغ انسان دي چه پلار ئ نه وی. اوپه بهائم کښ یتیم هغه ته وائ چه موریٔ نه وی اوپه طیوروکښ هغه دي چه مورپلارئ دواړه نه وی. ﴿وَالْمَسَاكِينِ﴾دلته مسکین عام دي شامل دي فقیر ته هم ﴿وَابْنِ السَّبِيلِ﴾ مسافر. ﴿إِن كُنتُمْ آمَنتُم﴾ ای کنتم آمنتم فاعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه ، نوداتعلیل دماقبل دپاره دي اوجزاء دشرط دپاره مخذوفه ده چه ماقبل پرې دلالت کړي دي. ﴿وَمَا أَنزَلْنَا﴾ددي نه مراد نصرت غلبه ده یاملائک دنصرت دی﴿يَوْمَ الْفُرْقَانِ﴾یوم بدر،ورځ دفیصلې ده. ﴿يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ﴾ دابدل دي دیوم الفرقان نه.

إِذْ	أَنتُم	بِالْعُدْوَةِ	الدُّنْيَا	وَهُم	بِالْعُدْوَةِ	الْقُصْوَىٰ	وَالرَّكْبُ
په کوم وخت چه وئ تاسې [1] په غاړه نژدې، مدینې ته او دوئ وؤ په غاړه لرې د مدینې نه، او قافله د سوداګرو							
أَسْفَلَ	مِنكُمْ	وَلَوْ	تَوَاعَدتُّمْ	لَاخْتَلَفْتُمْ			
ښکته روانه وه ستاسو نه، اوکه چرې وعده کړې وې تاسو د یوبل سره دجنګ نو خامخا به اختلاف کړې وې تاسو							
فِي	الْمِيعَادِ	وَلَٰكِن	لِّيَقْضِيَ	اللَّهُ	أَمْرًا		
په وخت مقرر کښ، لیکن الله تعالی جمع کړیٔ بغیر د وعدې نه د دې لپاره چه پوره کړی الله تعالی هغه کار							
كَانَ	مَفْعُولًا	لِّيَهْلِكَ	مَنْ	هَلَكَ	عَن	بَيِّنَةٍ	وَيَحْيَىٰ
چه مقرر شوې وؤ. د دې لپاره چه هلاك شی هغه څوك چه هلاك شو پس د دلیل نه او ژوندی پاتې شی							

۱ - اول علت.

مَنْ حَيَّ عَنْۢ بَيِّنَةٍ ۗ وَ اِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝
هغه څوک چه ژوندی دی پس دَ واضح دلیل نه، اوبیشکه الله تعالی اوریدونکې ، علیم دې

﴿ اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا ﴾دااول علت دې حاصل ئ دادې چه ستاسو جنګ الله تعالی دابوجهل دډلی سره په غیردخه وعدی نه الله تعالی اوکړو، اوتاسوته ئ فتح درکړه نوپه تقسیم دمال غنیمت کښ اختلاف مه کوئ ، بلکه دالله تعالی اودرسول دحکم مطابق ئ تقسیم کړئ.

((عُدوة)) غاړه اوکناری ته وائ ، او ﴿اَلدُّنْيَا﴾ نزدې مدینی ته او﴿اَلْقُصْوٰى﴾بعیدد مدینی نه.

﴿وَالرَّكْبُ﴾ قافله دتجارت، دلته ددری ډلو ذکردې یوه ډله دمؤمنانووه، دوئ نزدې وو مدینی ته اودمکې نه لرې وو دویمه ډله دابوجهل وه چه دوئ مکې ته نزدې وو اودمدینی نه لری وو، او دریمه ډله دابوسفیان وه چه تجارت ته تللې وو، اوډیرمال ورسره وو.﴿اَسْفَلَ مِنْكُمْ﴾يعنی دوئ دسمندرپه غاړه دبدرنه دری میله لری وو.﴿وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ﴾ يعنی که تاسو ديوبل سره وعده کړې وې په تقرر دوخت اومکان سر، ﴿لَاخْتَلَفْتُمْ﴾نو اختلاف به واقع شوې وې، مؤمنانو بۀ په کفارو باندې دکثرت ګمان کړې وې نومقرروخت اومکان ته بۀ نه وې حاضر شوې اوکفار بۀ مرعوب شوې وې په وجه دتعرض دنبی ﷺ اودمؤمنانو اومقرروخت اومکان ته به نه وې حاضرشوی،﴿وَلٰكِنْ﴾ ای لکن جمعکم بغیرمیعاد﴿لِيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا﴾دامرأ نه مراد نصرت اوغلبه ده دمؤمنانو اومغلوبیت دکافرانودې﴿كَانَ مَفْعُوْلًا﴾چه مقررشوې وو.

د ﴿لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ﴾ دری ترجمی دی (۱) هلاک شی يعنی مړشی هغه څوک چه مړشو روستو دبیّنه نه يعنی څوک چه مړشونوپه هغه هم اقامت حجت اواتمام حجت شوې دې اوڅوک چه ژوندی پاتی شوی دی نوپه دوئ باندې هم اتمام حجت شوې دې، (۲) دهلاک نه مراد کفردې اودحیات نه مرادایمان دې يعنی څوک چه کافر پاتی شو نو په هغوئ اتمام حجت شوې دې اوچاچه ایمان راوړې دې نوهغه دحجت اوبیّنه نه بعدپه بصیرت سره ایمان راوړې دې(۳) چه هلاک اوذلیل شی هغه څوک چه کافرشی بعدد بیّنه نه ، اومعزز شی هغه څوک چه ایمان ئ راوړو بعد د بیّنه نه.

اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا ؕ وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا

کوم وخت چه وښودل تا ته [1] دوئ الله په خوب ستا کښ لږ، اوکه ښودلی نی وې تاته دوئ ډیر

لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

نوخامخا کمزوری شوی به وئ تاسو اوخامخا اختلاف به کړې وؤتاسو په باره د امردجنگ کښ لیکن الله تعالی

سَلَّمَ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝

بچ کړئ تاسو (دبزدلئ او اختلاف نه) بیشکه الله تعالی پوهه دې په هغه خبرو چه په سینو کښ پټې دی

وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْۤ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا وَّيُقَلِّلُكُمْ

اوکوم وخت چه وښودل الله تعالی تاسو ته دوئ کله چه مخاخ شوئ، په سترګو ستاسو کښ لږ. او لږ نی ښکاره کړئ تاسو

فِيْۤ اَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝

په سترګو د هغوئ کښې د دې لپاره چه پوره کړی الله تعالی هغه کار چه وؤ مقرر شوې او خاص الله تعالی ته ورګرځیدلې شی ټول کارونه

﴿ اِذْ يُرِيْكَهُمُ ﴾دادویم علت دې ددعوی دپاره حاصل دادې چه الله تعالی خپل نبی صلی الله علیه وسلم ته په خوب کښ اوخودله چه کافران لګ دی،که ډیرئ ورته خودلې وې نوبیادجنګ دنه کیدلو احتما ل وو، دیری په وجه ،لیکن الله تعالی په دې طریقه دسره دجنګ سبب جوړکړو اوفتح اومال غنیمت ئ تاسوته درکړو نولهذاتاسواختلاف مه کوئ په تقسیم مال غنیمت کښ ،که څوک **سوال** اوکړی چه کافران خو په حقیقت کښ ډیروو نودهغوئ کم خودل خلاف شودواقع نه، نوخلاف واقع څنګه اوشوه حال داچه خوب دنبی خوروحی وی **جواب** دادې چه دخوب دارمداړپه باطنی امورووی نودباطن په اعتبارسره کفارقلیل و یاپه وجه دذلت دهغوئ یاپه دې وجه چه په مستقبل کښ ډیرکافران مسلمانان شو، نوپه حقیقت کښ کافران قلیل وو، نوخلاف واقع نه ده خکاره شوی،﴿وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ﴾ ای لکن الله سلمکم عن الفشل والنزاع، ﴿ وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ ﴾ دادریم علت دې، په تیرشوی آیت کښ چه دکوم رویت ذکر وو نوهغه په خوب کښ وو اوپه دې آیت کښ چه دکوم رؤیت ذکردې نوهغه دبیدرائ په

١ - دویم علت

حالت کښې دې، اول الله تعالی رسول الله ﷺ ته په خوب کښې د کفارو عدد کم اوخودلو نبی ﷺ چه داخوب اصحابوته بیان کړو نو دوئ خوشحاله شو، اوجرات اوحوصله ئ زیاته شو،اوبیا چه کله جنګ شروع شو نو الله تعالی رسول الله ﷺ اومؤمنانو ته کفار په نظر کښې لګ خکاره کړل. په دې سره دخوب تائید اوشو اودمؤمنانو جرات نورهم زیات شو، حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ وائ چه په جنګ بدر کښې کفار زمونږ په نظر کښې کم خکاره شو، حتی چه څما په څنګ کښې دیوکس نه ماتپوس اوکړو چه آیا داکفار به اویا کسان وی ،هغه اووئیل چه ګمان کوم چه سل کسان به وی اومونږ یوکس دکفارو نه قید کړو نوتپوس موترینه اوکړو چه تاسو څومره یئ نوهغه اووئیل چه مونږ خوزر کسان یو، ﴿وَيُقَلِّلُكُمْ فِىٓ أَعْيُنِهِمْ﴾ الله تعالی اول مؤمنان د کفارو په نظر کښې قلیل خکاره کړل ددی دپاره چه دوئ اونه تختی نو کله چه جنګ شروع شو، نوبیائ ورته ډیرخکاره کړل لکه په سورت ال عمران کښې ((یرونهم مثلیهم)) چه کفارو مؤمنانولره خپل دوچند اولیدل، یاپه دې وجه چه په دوئ باندې رعب راغلې وونوقلیل ورته کثیر خکاریدل یاپه وجه د نزول دَ ملائکوسره، اوقلیل لره کثیرخکاره کول یابرعکس یعنی کثیر لره قلیل خکاره کول په قدرت دالله تعالی سره دی نو داهیڅ بعیده نه ده چه بغیر دڅه سبب نه الله تعالی داسې اوکړی، یائ په سبب سره اوکړی لکه په کفارو رعب راتلل اونزول دملائکو سبب وو دپاره ددې چه قلیل ورته کثیرخکاره شو،اودجنګ شروع کیدلو نه قبل ئ ورته قلیل خکاره کړل په سبب ددې چه بعض ئ پټ کړی وو په څه پردې سره اوپه بعض روایاتوکښې دی چه ابوجهل اووئیل چه، انما محمد(صلی الله علیه وسلم واصحابه اکلة جزور، یعنی دوئ دومره کم دی چه یو اوښ ددوئ دخوراک دپاره کافی دې، داسې قول به عربو دتقلیل دپاره ذکرکولو ﴿لِيَقْضِيَ ٱللَّهُ أَمْرًا﴾ دامرا نه مراد جنګ او نصرت د مؤمنانو سره دې، داسې آیت مخکښې هم ذکر شوې وؤ ، دلته ئ ذکر په ظاهر کښې تکرار معلومیږی لیکن په حقیقت کښې تکرار نشته دې ځکه چه په اول کښې مقصود بیان د استیلاء او د غلبې دې نو هلته د ‹امراً› نه مراد غلبه د دین ده او دلته مقصود بیان د واقع کیدلو د جنګ دې، نو د ‹امراً› نه مراد جنګ دې چه داسبب دتذلیل دکفارو دې.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوْا وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا

اې ايمان والو ⁽¹⁾ كله چه مخامخ شئ تاسو د يوډلې د كافرانو سره پس كلك كړئ خپل ځانونه او يادوئ الله ډير ډير.

لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا

ددې لپاره چه كامياب شئ. اوتابعداری كوئ دالله اودرسول دهغه اوپه خپل مينځ كښې اختلاف اوجګړه مكوئ

فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝

كنې كمزوری به شئ تاسو او لاړه به شی دبدبه ستاسو او صبر كوئ، بيشكه الله تعالی ملګرې د صبرناكو دې

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ

اومه كيږئ تاسو په شان دهغه كسانو چه راوتل د كورو خپلو نه ، په وجه د سركشئ سره او لپاره د خودنې خلقو نه

وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ۝

اومنع كول ئ خلق د لارې د الله تعالی نه، او الله تعالی احاطه كونكې دې د دوئ په عملونو.

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ﴾ دادويم مضمون شروع شو په دې كښې قوانين دجهاد ذكركيږي.
دا اول قانون دې په دې كښې ديوځوخبرو ذكردې : **اول ثبات** يعني په ميدان جنګ كښې ثابت قدم شئ **دويم داچه** دالله تعالی ذكرډيرډيركوئ دعاهم په ذكركښې داخله ده، په ذكرسره دالله تعالی معيت راځی ﴿ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾په دې كښې اشاره ده چه دامذكوردوه خبرې دكاميابئ دپاره كافی دی، **دريم داچه** اطاعت دالله تعالیٰ اودرسول كوئ، دالله تعالی حكم اودنبی صلی الله عليه وسلم سنت، سبب دفتح دې، **څلورم داچه** نزاع اواختلاف مه كوئ، نزاع اوجګړې منحوس عمل دې اوسبب دحرمان دې اوسبب دفشل يعني بزدلئ دې،﴿ وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ ﴾دريح دوه معنی دی(۱) دبدبه،اورعب، په طوردتشبيه سره چه لكه څه رنګه چه ريح په هرځائ كښې داخليږی نودارنګه رعب اودبدبه تاثيركوی، يعنی هغه رعب دمسلمانانو چه په كفارو باندې راځی نودخپل مابين اختلاف په وجه ختم شی(۲) دويمه معنی داده چه ددې نه مراد هوادنصرت ده لكه په حديث كښې ((نُصرت بالصبا واهلكت عادبالدبور)) يعنی په خپل مابين كښې

---

۱ - اول قانون د جهاد .

داختلاف په وجه هواګاني دنصرت الهی بندي شی، پنځم داچه و﴿وَاصْبِرُوْا﴾په صبرسره دالله تعالی معیت رازی، شپږم داچه ﴿وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ﴾ یعنی دکافرانوسره مشابهت مه کوئ په دي صفاتو کښ، چه ﴿بَطَرًا﴾تکبردحق نه،﴿وَرِئَآءَ النَّاسِ﴾ریاکول په عمل کښ ﴿وَيَصُدُّوْنَ﴾ خلق دالله تعالی ددین نه منع کول، روایت دي چه هرکله چه لښکردمشرکانو دمکی نه راووت اوجحفي مقام ته را اورسیدو نوقاصددابوسفیان ورته راغلو ورته ئ اووئیل چه واپس شئ ستاسو قافله سالمه رااورسیده نوابوجهل اووئیل مونږ نه واپس کیږو بلکه مونږ به بدرمقام ته ضرورځو(دلته به تجارتی منډئ لګیدله) حتی ننحرالجزورَ ونشرب الخمور وتعزفِ علینا القینات، مونږ به اوښان ذبح کړو اوشرابونه اوسکو، اودعزل ویوونکوزنانو سره لوبي اوکړو، نوچه لاړل نو په خپله ذبح کړي شو اودمرګ شراب ئ اوسکل اوجړاګاني پرې اوشوي نوالله تعالی مؤمنان دداسي خبروکولو نه منع کړل.

وَاِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ
اوکله چه ښائسته کړل دوئ ته شیطان د دوئ عملونه، او وې وئیل چه نشته دي زورآور په تاسي نن ورځ هیڅ څوک د خلقو
وَاِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَقَالَ
او بیشکه زه مددګار ستاسي یم، نو پس کله چه یو بل ولیدل دواړو ډلو واپس شو دي په پوندو خپلو، او وه وئیل ده
اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكُمْ اِنِّيْٓ اَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ ؕ
بیشکه زه بیزاره یم ستاسي نه بیشکه زه وینم هغه شي چه تاسو ئی نه وینئ؛ بیشکه زه یریږم د الله تعالی د عذاب نه
وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۴۸﴾
او بیشکه الله تعالی سخت عذاب ورکونکي دي.

﴿وَاِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ﴾داخلورم علت دي ، خلاصه ئ داده چه په جنګ بدرکښ الله تعالی کفارخوف زده کړل اوتختیدل اوالله تعالی مال غنیمت تاسوته درکړو نولهذا مال غنیمت به دالله تعالی په حکم تقسیمولي شی، دجنګ بدر اهمیت ابلیس هم محسوس کړو اویقین ئ وو چه که چرې مسلمانانو ته فتح اوغلبه حاصله شی نوددعربونه به دکفراوشرک خاتمه اوشی نوددي وجې نه ابلیس دسراقه بن مالک په شکل کښ سره دفوج نه څکاره شو، ابوجهل

اودکفارولښکر چه کله دمکی نه ، دمؤمنانو دمقابلې دپاره روان شو نودوئ ته خطره وه د بنی کنانۍ قبيلې نه، ځکه چه دوئ دقریشو دمکی مخالف وو، نوشیطان ورته په صورت دسراقه بن مالک، کنانی ، کښې ظاهرشو اودوئ ئ دجنګ دپاره تیزکړل اواوئ وئیل چه په تاسو هيڅ څوک نشی غالب کیدې اوزه سره دخپل فوج نه ستاسو د مدد لپاره راغلې يم، نو مشرکان ډیر خوشحاله شو او تسلی ئ راغله چه د بنی کنانه بن بکر قبیلې نه خطره ختمه شوه اودتعاون کولوطمع هم پیداشوه ځکه چه سراقه دبنی کنانه بن بکرقبیلی رئیس وو، نوهرکله چه په میدان بدرکښې زوردار جنګ شروع شو اودشیطان په نظرکښې حضرت جبرئیل ﷺ اونوری فرشتې راغلې اوپه دغه وخت کښې ئ دحارث بن هشام په لاس کښې لاس وو نوپه جلدئ سره ئ دهغه دلاس نه خپل لاس وه اوخکل ، اوپه تادئ سره دخپوپه پوندو پښی شا، روان شو، ابوجهل ورته اوازاوکړو چه اې سراقه دجنګ په دې شدت کښې په چل ول فریب سره چرته ځې ، بیرته رااوګرزه، زمونږ لښکرمه بې زړه کوه، شیطان جواب ورکړو چه ﴿إِنِّي بَرِيٓءٌ﴾زه ستاسی نه بیزاریم ، زه هغه څه وینم چه تاسوئ نه وینئ ، یعنی فرشتې، ﴿إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ﴾یعنی ددی حزب الله نه يريګم، یاداچه دالله تعالی دذات نه یریږم.

سوال : واردیګی چه دالله تعالی دذات نه خوف خوعلامه دایمان ده اودامستعبد دې دحال دابلیس نه، **جواب** (۱) حضرت قتاده ﷫ وائ چه ابلیس چه وئیلی دی ﴿أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ﴾دائ رښتیا وئیلی دی اودائ چه وئیلی دی ﴿إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ﴾ نودائ دروغ وئیلی دی، (۲) حضرت عطاء خراسانی وائ چه دخوف نه دلته مراد خوف دهلاکت دې ځکه چه شیطان چه کله فرشتې اولیدلې چه نازلیدلې داسمان نه نوده ته خوف راغلو چه دابه هغه وخت وی چه ددغه وخت پورې ده ته مهلت ورکړې شوې وو یعنی داخوف طبعی غیراختیاری دې اوداعلامه دایمان نه ده ، امام مالک ﷫ وغیره محدثینو یوروایت ذکرکړیدې چه : ((مارُؤِی ابلیسُ یوماً فیهِ اَصغَرَ ولااَدْحرَولااحقرَولا اغیظَ منه یومَ عرفة، وماذاک اِلاَّلِمَا یَریٰ مِن نُزُولِ الرَّحۡمَةِ وتجاوزَ الله عنِ الذُّنُوبِ العظامِ اِلاَّماکانَ من یوم بدرٍ))، یعنی ابلیس په دې دوؤ موقعوکښې ډیرذلیل مطرود، حقیر ډیرغصه ،لیدلې شویدې یوورځ دعرفی، بله ورځ دبدر.

ابن کثیر وغیره داهم نقل کړی دی چه مشرکین چه هرکله مکی ته واپس راغلل، نودسراقه بن مالک سره ئ ملاقات اوشو نوهغه ئ ډیرملامت کړو اواوئ وئیلې چه زمونږ دټول شکست

اونقصان ذمه داری په تاده خکه چه ته په عین میدان جنګ کښې تختیدلې یٔ اوزمونږخوانان
دې بې زړه کړې دی هغه اوویل چه ته زه میدان جنګ ته تللې یم اونه خبروم، زه خو هله
خبرشوم چه تاسو، ،شکست خورده، دمیدان جنګ نه واپس شوئ.
اوددی آیت نه دامعلومه شوه چه شیطان په مختلفو شکلونو سره متشکل کیدې شی ،
اوخلق تیزوی په ګناهونو ، اوداچه شیطان فرشتې هم لیدې شی.

اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ
کله چه وه وئیل منافقانو [۱] اوهغه کسانو چه په زړونو ددوئ کښې بیماری «شک» وو، دهوکه ورکړیده دې کسانو لره
دِيْنُهُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝
دین د دوئ، او څوک چه خان وسپاری په الله تعالی نو بیشکه الله تعالی زروآورد دې حکمتونو والا دې.
وَلَوْ تَرٰۤى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ۚ
اوکه وه وینې ته هغه وخت چه روح قبض کوی د کافرانو نه ملائك، وهی مخونه د دوئ او شاګانې د دوئ
وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ
«ورته وائی» وڅکئ عذاب د سوزیدلو. دا سزا په سبب د هغه عملونو ده چه مخکښې کړیدی لاسونو ستاسو
وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝
او بیشکه الله تعالی نه دې هیڅ ظلم کونکې په بندګانو.

﴿ اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ ﴾ داپنځم علت دپاره ددعوی چه منافقینو په تاسو پورې خندل لیکن الله
تعالی دهغوئ خنداپه خفګان بدله کړه، اوتاسوته یٔ فتح اوغلبه درکړه نوددی وجې نه مال
غنیمت دالله تعالی دحکم موافق تقسیموئ.﴿ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ﴾ مرض نه مرادشک دې
اوداعطف تفسیرد ﴿ الْمُنٰفِقُوْنَ ﴾ دې، اوددی آیت مطلب دانه دې چه په بدرکښې منافقین وو
هغوئ دغه کلام کړې وو بدریین ټول اعلی مخلصین وو بلکه مراددادې چه هغه منافقین چه په
مدینه کښې په خپلو کورونوکښې وو اوبدرته نه وو تللی، دوئ چه کله خبرشو چه دالګ بې

---

۱ ـ پنځم علت.

سروسامانه مؤمنان ددیرو کفارومقابلی ته لاړل نودوئ اوونیل ﴿غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ﴾ ، ﴿دِيْنُهُمْ﴾ فاعل دي د ﴿غَرَّ﴾ او ﴿هٰٓؤُلَآءِ﴾ ورته مفعول دي يعنى دهوكه ورکړيده دوئ ته ددوئ دين چه لږ کسان دى اواسلحه ورسره هم نشته دوئ به څه رنګه جنګ اوکړی، ﴿وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ﴾ داصفت دمؤمنان دي. ﴿اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ﴾ دا تخويف دي په عذاب دنزع يعنى څنکدن ، اوبرزخ سره، ﴿يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ﴾ ضرب دوجوهو او ادبارو په حالت دنزع کښ دي، اووهل د مخ اوددُبرلکه چه تعذيب دي نودغه شان دانهايت تذليل اوبى عزتى هم ده، نوځکه داخاص شو ياترينه مراد ټول بدن دي، ﴿وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ﴾ دلته يقال هم مقدردي، اوجواب دلومحذوف دي چه لرايت امراً فظيعاً عظيماً، اوپه حذف کولو دجواب کښ اشاره ده ديته چه داعذاب دومره عظيم دي چه بيان ئ نه شى کيدي، اوپه دي کښ دعذاب برزخى ذکردي نودادليل دي په ثبوت دعذاب برزخى باندي د ((حريق)) معنى داده چه سوزونکي ظاهر باطن دواړولره، اودا آيت اګرچه نازل دي په باره دمقتولينوکافرانو دبدرکښ ليکن حکم ئ عام دي ټولو کافرانو ته﴿ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ﴾ يعنى داعذاب په سبب دبدواعمالو سره دي نوبداعمال سبب دعذاب دي اوعذاب نتيجه دبدواعمالوده، ﴿لَيْسَ بِظَلَّامٍ﴾ اى واعلموان الله ليس بظلام، اى بذى ظلم ، نفى دمطلق ظلم مقصود ده، اوپه ذکرکولوصيغى دمبالغي کښ اشاره ده ديته که چرې بالفرض الله تعالى ظلم کولي نوهغه به ډيرزيات وي(ځکه دغټو هرڅه غټ وى) اوبعض حضرات وائ چه دانفى دمبالغي نه ده بلکه مبالغه فى النفى ده.

كَدَاْبِ	اٰلِ	فِرْعَوْنَ ۙ	وَالَّذِيْنَ	مِنْ	قَبْلِهِمْ ؕ	كَفَرُوْا

حال د دوئ په شان د حال د فرعونيانو دي او دهغه کسانو چه مخکښ وو د هغوئ نه ، کفر کړي وو هغوئ

بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	فَاَخَذَهُمُ	اللّٰهُ	بِذُنُوْبِهِمْ ؕ	اِنَّ	اللّٰهَ	قَوِيٌّ

په آياتونو د الله پس وه نيول دوئ لره الله تعالى په سبب دګناهونو د دوئ بيشکه الله تعالى قوت والا دي

شَدِيْدُ	الْعِقَابِ ۝	ذٰلِكَ	بِاَنَّ	اللّٰهَ	لَمْ	يَكُ	مُغَيِّرًا	نِّعْمَةً

سخت عذاب ورکونکي دي . دا عذاب په دي وجه دي چه الله تعالى هرګز ندي بدلونکي د هغه نعمت

أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ ۙ وَأَنَّ اللَّهَ

چه کړې ئ وی په يو قوم باندې، تر څوچه دوئ بدل نه کړی هغه څه چه د دوئ په نفسونو کښ دی او بيشکه الله تعالی

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝ كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ

اوريدونکې پوهه دې . حال د دوئ په شان د حال د فرعونيانو دې او دهغه کسانو چه مخکښ وو د دوئ نه

كَذَّبُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ فَأَهْلَكْنَاهُم بِذُنُوبِهِمْ

نسبت د دروغو کړې وو دوئ آياتونو د رب خپل ته، پس هلاک کړل مونږ دوئ په سبب د گناهونو د دوئ

وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوا ظَالِمِينَ ۝ إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الَّذِينَ

او غرق کړل مونږ فرعونيان، او دا ټول ظالمان وو . بيشکه بدترين په زنده سرو کښ په نيز د الله هغه کسان دی

كَفَرُوا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝ الَّذِينَ عَاهَدتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنقُضُونَ

چه کفر ئ کړې دې پس دوئ ايمان نه راوړی ، دا هغه کسان دی چه تا لوظ کړې دې د دوئ سره، بيا ماتوی دوئ

عَهْدَهُمْ فِي كُلِّ مَرَّةٍ وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ ۝ فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ

لوظ خپل په هر خل کښ او دوئ خان نه ساتی (د وعدی خلافۍ نه) . پس کچرې ته را لاندې کړې دوئ په جنگ کښ

فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ۝

پس اوېره وه په سبب د قتل د دوئ سره هغه خلق چه روستو د دوئ نه دی، لپاره د دې چه دوئ نصيحت قبول کړی.

﴿كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ﴾ داخبردمبتداء محذوف دې اى داهم كداب ال فرعون، داتشبيه دموجوده کافرانوده، دمخکينو کافرانوسره په عادت کښ او دارنگه په عذاب ددنيااودبرزخ کښ ﴿بِذُنُوبِهِمْ﴾ دمخکينو کفارو هلاکت په سبب دکفر سره وو ليکن هرکله چه کفرمستلزم وو ډيروگناهونولره نوددی وجې نه دذنوبو ذکراوشو، ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا﴾يعنی داعذاب دوئ ته په دې وجه ورکولې شی چه الله تعالی نعمت، صحت امن ،عافيت ، نه بدلوی ترڅو چه دخلقو اعمال عقائد نوی خراب شوی نوچه اعمال او عقايد خراب شی نو الله تعالی د نعمت په ځای عذاب ورکړی، **سوال** واردېږی چه ال فرعون اومشرکين مکه والاؤ خپل حال نه وو بدل کړې دوئ خوداول نه ترآخری پورې کافروو، **جواب**، (١) بعض مفسرين وائ چه تغير يودادې چه

دایمان اوطاعت په ځای کفر اومعصیت اختیارکړی، نوداتغیر دې دحال حسنه نه حال قبیحه ته اودویم داچه دقبیح نه اقبح (زیات قبیح) ته تغیر راولی لکه په اهل مکه کښې اول صرف کفروو لیکن درسول الله ﷺ دبعثت نه بعد، تکذیب، ایذاء، انکارددعوت، مقابله اوعناد دحق سره، ئې شروع کړه نوداتغیر دې دقبیح نه اقبح ته،

(۲) بعض حضرات وائی چه دنعمت نه مرادفطری نیک قوی، اواستعداد دې اوتغیرئې دادې چه په بې اعتدالو اوغلط کارونوکښې خپل دانیک قوی، استعداد، صلاحیتونه صرف کړی،

﴿ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ﴾ دا تکرار دتاکید دپاره دې یاداتکرار نه دې ځکه چه مخکینی کښې تشبیه وه په کفرکښې اوپه دې آیت کښې تشبیه ده په بدلولو د نعمت کښې او دارنګه په ماقبل کښې ذکر د کفر وؤ او پدې آیت کښې ذکردتکذیب دې ﴿اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ ﴾ دازجردې کفاروته،

﴿اَلَّذِیْنَ عٰهَدْتَّ ﴾ ددې نه مراد یهود د بنو قریظه دی، داپه مدینه کښې لویه طاقتوره قبیله وه، رسول الله ﷺ چه مدینی ته هجرت اوکړو نوددوئ سره ئې معاهده اوکړه چه تاسویئ زمونږ په مقابله کښې زمونږ د دشمن سره تعاون نه کوئ اومونږ به ستا ددشمن سره تعاون نه کوؤ، لیکن دوئ خوځله وعده ماته کړه اوبیاپه جنګ احزاب کښې ئې دمشرکینو مکمل حمایت اوتعاون اوکړو، نودجنګ خندق نه بعدمتصلاً نبی ﷺ ددوئ محاصره اوکړه اومشران ئې ورته ټول قتل کړل اوزنانه اونابالغ بچی ئې وینځی اوغلامان جوړکړل.

﴿ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ ﴾ دادویم قانون دَ جنګ دې اوخطاب رسول پاک ﷺ ته دې یا هرامیرته دې ﴿فَشَرِّدْ بِهِمْ ﴾تشرید منتشر کولواو، تسنس کولوته وائی یعنی داسې سزاورکړه چه نورخلق ترینه عبرت واخلی، اویریږی اوتریږی،بنوقریضه ددی نمونه ده.

وَاِمَّا	تَخَافَنَّ	مِنْ	قَوْمٍ	خِيَانَةً	فَانْۢبِذْ	اِلَيْهِمْ	عَلٰى
اوکه وه یریګې ته (معلوم کړې) د یو قوم نه د لوظ ماتولو، پس وه غورزوه دوئ ته وعده (لوظ) په داسې حال کښې							
سَوَآءٍ ؕ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا	يُحِبُّ	الْخَآئِنِيْنَ ۟	وَلَا	يَحْسَبَنَّ
چه تاسودواړه برابر یئ په علم کښې په لوظ ختمیدلو، بیشکه الله تعالی نه خوښوی خیانت کونکی اوهرګزدې ګمان نکوی							

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَبَقُوْا ۗ اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ ۝ وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ
کافران چه دوئ به بچ شی بیشکه دوئ نشی عاجز کولې الله لره. او تیار کړئ د دوئ د مقابلې لپاره څومره چه وس لرئ
مِّنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ
سامان د جنګ نه او د ساتلې شوی اسونونه چه یره وئ تاسو په هغې سره دښمن د الله تعالی اودشمن ستاسې،
وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا
اونور کسان سِوئ د هغوئ نه (منافقین) چه نه پیژنئ تاسو هغوئ لره، الله تعالی پیژنی هغوئ لره، اوهغه چه خرچ کوئ تاسې
مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ۝
څه شې په لاره د الله تعالی کښې نو پوره به درکړې شی تاسو ته ثواب د هغې او په تاسو به هیڅ ظلم نشې کیدې

﴿ وَاِمَّا تَخَافَنَّ ﴾ دخوف نه مرادعلم یاغلبه دظن ده اومطلب دادې چه کوموخلقو وعده ماته کړه نوهغوئ ته خوعبرتناکه سزاورکړه اوکوموخلقو چه وعده ماته کړی نه وی لیکن ستا علم یاظن راشی چه دوئ وعده اولوظ ماتوی نوداسې خلقوته وعده وغورزوه، یعنی دعهددختمیدلو اعلان ورته اوکړه ﴿ عَلٰى سَوَآءٍ ﴾ جارمجرور په محل دحال کښې دې یعنی په داسې حال کښې چه تاسو اودوئ برابریئ په علم کښې په ختمولو دعهد، داددی وجې نه چه څوک تهمت اونه لګوی دخیانت . دامانت اود عهد، حفاظت دایمان حفاظت دایمان حصه ده، لاایمان لمن لاامانة له ولا دین لمن لاعهدله.

﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ ﴾ دازجردې کفاروته ﴿ سَبَقُوْآ ﴾ دامفعول د لَايَحْسَبَنَّ دې په معنی د اَنْ يَّسْبِقُوْنَا سره یعنی دوئ دې داګمان نه کوی چه دوئ به زمونږ دعذاب اوګرفت نه بچ شی ځکه چه دوئ نه شی عاجزکولې مونږ لره.

﴿ وَاَعِدُّوْا لَهُمْ ﴾ **دادریم قانون** دې یعنی دکفارو دمقابلې دپاره مادی اسباب تیارکړئ ﴿ مَّا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ یعنی دا ضروری نده چه دهغوئ سره دې برابر وی بلکه د خپل وسع مطابق اسباب تیار کړئ، لږ وی یا ډیر، ﴿ مِّنْ قُوَّةٍ ﴾ دا بیان د ﴿ مَّا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ دې، په حدیث کښې دقوة تفسیر په رمی سره راغلیدې (الاان القوة هی الرمی) دویم معنی ئ ،حُصون ، قلعه ګانې، مورچې دی، دریم تفسیر ئ دادې چه ددینه مرادتمام اسلحې دی، ﴿ رِّبَاطِ الْخَيْلِ ﴾ اضافت دصفت دې

موصوف ته ای الخیول المربوطة، اسونه ترلي شوی دجهاددپاره ، اوپه حدیث کښې دی (الخیل مربوط فی نواصیها الخیر الی یوم القیامة) دقیامت پورې داسونو په تندو پورې خیرترلي شویدي، په دې کښې اشاره ده چه جهاد به دقیامت پورې وی منسوخ نه دي اواسونو ته په جهادکښې په هردور اوزمانه کښې ضرورت دي، ﴿تُرۡهِبُوۡنَ بِهٖ﴾ په دې کښې اشاره ده چه فتح په مادی اسبابوسره نه ده، بلکه په صفاتو سره ده، تقوی ، صبر، اطاعت ، دالله تعالی اودرسول الله صلی الله علیه وسلم، دالله تعالی ذکر، اخلاص لللهیت ، وغیرذالک ، او مادی اسباب صرف ددُشمن دتخویف ترهیب دپاره دی، ﴿وَءَاخَرِيۡنَ﴾ددې نه مراد منافقین دی یاترینه مراد اهل فارس وغیره دی، ﴿لَا تَعۡلَمُوۡنَهُمۡ﴾ په سورت توبه کښې (۱۰۱) (لاتعلمهم) دي، داواضح دلیل دې په دې چه نبی ﷺ اوصحابه عالم الغیب نه وو، ﴿وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ شَيۡءٍ﴾داترغیب دې انفاق فی سبیل الله ته.

وَاِنۡ جَنَحُوۡا لِلسَّلۡمِ فَاجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ
اوکه دوئ مائل شی صلح ته [1] نو ته هم مائل شه هغې ته او توکل کوه په الله تعالی باندې، بیشکه الله هرڅه اوری
الۡعَلِيۡمُ ۝ وَ اِنۡ يُّرِيۡدُوۡۤا اَنۡ يَّخۡدَعُوۡكَ فَاِنَّ حَسۡبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِىۡۤ
په هرڅه پوهه دې . اوکه دوئ اراده لری چه دهوکه درکړی تا ته پس بیشکه کافی دې تا لره الله تعالی، الله تعالی هم هغه ذات دې
اَيَّدَكَ بِنَصۡرِهٖ وَبِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝ وَاَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوۡبِهِمۡ ؕ
چه قوی کړې نی ته په خپل مدد سره او په ملګرتیا دمؤمنانو سره. اوهم هغه اُلفت او مینه پیدا کړه په مینځ د زړونو د دوئ کښې،
لَوۡ اَنۡفَقۡتَ مَا فِى الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا مَّاۤ اَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوۡبِهِمۡ
که خرج کړې وې تا هغه څیزونه چه په ځمکه کښې دی ټول، نو تا به اُلفت اومینه نوې راوستې په مینځ د زړونو د دوئ کښې
وَلٰـكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيۡنَهُمۡ ؕ اِنَّهٗ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ۝
لیکن الله تعالی اُلفت اومینه پیدا کوی په مینځ د دوئ کښې، بیشکه الله تعالی زوراور اوحکمتونو والا دې.

﴿وَاِنۡ جَنَحُوۡا لِلسَّلۡمِ﴾ **داخلورم قانون دې** اومطلب ئ دادې چه مؤمنان دې کافرانو ته دعوت

۱ - څلورم قانون.

دصلح نه ورکوی لیکن که کافران صلح طلب کړی نو صلح کول جائزدی، که مصلحت په کښې
وی، ﴿فَاجْنَحْ﴾ داامردوجوب دپاره نه دې بلکه داباحت اواستحباب دپاره دې ﴿وَإِن يُرِيدُوٓا﴾
دادماقبل سره متعلق دې یعنی که کفار په اظهار دصلح سره دهوکه اراده کوی اودصلح نه ئې
غرض ستاسو دمقابلې دپاره تیارې کول وی، نوجزاء مقدره چه فلاتخف ولاتحزن. مه یریږه،
اوددې جزاء علت مذکور دې ﴿فَإِنَّ حَسْبَكَ ٱللَّهُ﴾ الله تعالی تالره کافی دې ﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَيَّدَكَ
بِنَصْرِهِۦ﴾ دا د حسبک الله بیان دې نوددی وجې نه عطف ترک شو، ﴿وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ انصار
اونور صحابه کرام ورنه مراد دی، یعنی په ملګرتیا دَ مؤمنانو سره ئې قوی کړې ، **سوال**
واردیږی چه تائید په نصرت الهی سره دې نوبیاڅه حاجت دې بالمؤمنین ته. **جواب** تائید
خوصرف دالله تعالی دې خوداپه دوه قسمه دې اول هغه دې چه په غیر دواسطې داسبابو
معتادؤ نه وی، دویم هغه دې چه په واسطه داسبابو معتادؤ سره وی نوداول قسم ذکرپه په ﴿
أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِۦ﴾ کښې دې اوددویم قسم په ﴿وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ سره دې ﴿ وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ﴾ دابیان
ددی خبرې دې چه الله تعالی په مؤمنانو سره څه رنګه تائید کړې دې یعنی الله تعالی ددوئ په
مابین کښې اتفاق، اتحاد پیداکړو، اوپه غیرداتفاق نه تائیدنه شی کیدې، داسلام نه قبل په
عربوکښې دقتل قتال جدال بازارونه ګرم وو، په معمولی خبره به جنګونه دشمنئ شروع کیدلې
اوقومیت عصبیت داسې غالب وؤ چه که دیوقوم یوکس به صرف په سپیږه او وهلې شو نوبوره
قوم به دهغې دبدل اخستلو پوره پوره کوشش کولو، دحق ناحق عدل انصاف، هیڅ تصور نه
وو، الله جل جلاله په داسې حالاتوکښې حضور ﷺ مبعوث کړو اودالفتونو محبتونو مرکزاومنبع
ئې اوګرځوؤ، دتوحید اودرسالت په دعوت سره ظلم عصبیت ختم شو، صرف اسلامی اخوت
راغلو،حتی چه صحابه دخپل کافرپلار،رور، خوئ ،دقتل دپاره تیارو،﴿لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِى
ٱلْأَرْضِ﴾ ددشمنئ دختمولو، اوصلح راوستلو دپاره دوه ذریعې دی اول داچه صلح
راوستونکې، حَکَم(مینځ غاړې) ډیر هوښیاردې وی عاقل دې وی، دویم داچه ډیرمال خرچ
کوی اوپه هغې سره یوخصم راضی کړی، نوالله تعالی فرمائې چه ددې عربو، عداوت دومره
زیات وو چه نه چه په تمام مخلوق کښې زیات عقل اوپوهی والاکه چرې تاددنیاتمام دولتونه
خرچ کړې وې ددوئ په مینځ کښې دالفت محبت، راوستلو دپاره نوبیا به هم تاددوئ په مینځ
کښې محبت نه وې راوستې لیکن الله تعالی ددوئ په مینځ کښې ددین اوایمان په وجه محبت

الفت پيدا كړو نوستاتائيد ئ په دوئ سره اوكړو.

ددې آيت نه معلومه شوه چه نبي ﷺ مختاركل نه دې، اوبل دامعلومه شوه چه دصحابه كرامو په مينځ كښ مينه محبت وو، دشمنى نه وه، ددوئ په مينځ كښ عداوتونو خبرې بې سنده دى، البته ددوئ په مينځ كښ اختلافات اوجدالونه واقع شويدى ليكن هغه دعداوت په بنياد نه ووبلكه دحق داتباع په جذبه ، اوداجتهادى اختلاف په وجه شويدى.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسْبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٤﴾
اې نبى ! [1] كافى دې تا لره الله تعالى اوهغه چا لره چه تابعدار دى ستا، يعنى مؤمنان

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ﴾ داپنځم قانون دې چه داميردپاره اودارنګه مامورينو دپاره په هرحالت كښ په الله تعالى باندې توكل اواعتمادپكاردې.ځكه چه الله تعالى كافى دې په هرحال كښ، ﴿ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ په دې كښ څواحتماله دى، (۱) داعطف دې په (ک) باندې،اى حسبک ومن اتبعک الله، يعنى تالره اوستا متبعينولره الله تعالى كافى دې نوپه هغه اعتمادتوكل اوكړئ، (۲) واؤدعطف دپاره نه دې بلكه په معنى دمفعول معه سره دې اى حسبک الله مع من اتبعک ، نو من اتبعک منصوب دې مفعول معه دې (۳) من اتبعک، مرفوع دې مبتداء ده خبرئ محذوف دې اى ومن اتبعک حسبهم الله ايضاً داتوجيهات داكثروسلفو نه منقول دى(۴)اوبعض وائ چه داعطف دې په لفظ دَ الله باندې معنى ئ داده چه اې نبى ﷺ تا لره په حقيقت كښ يواځې الله كافى دې، اوظاهرى اسبابو په اعتبارسره دمخلصينو مسلمانانو جماعت اګركه لګ هم وى كافى دې، لكه مخكښ ذكرشو ((ايدک بنصره وبالمؤمنين)) ليكن علامه ابن قيم داتوجيه ردكړيده هغه وائ چه حسبيت صفت خاصه دالله تعالى دې لكه حسبناالله ، حسبى الله ،نواسنادئ صرف الله تعالى ته كيږى غيرته نه كيږى په خلاف د ((ايد))، نه ، روايت دې دابن عباس رضي الله عنه اوسعيدبن جبير رضي الله عنه نه چه هركله درې ديرش نارينو اوشپږو زنانو ايمان راوړو نودايوكم څلويښت عددوؤ نو بياحضرت عمر رضي الله عنه ايمان راوړو نوڅلويښت پوره شو نودا آيت نازل شو، والله اعلم، دارورايت دآخرى توجيه مؤيددې، اودغه توجيه اكثرو مترجمينو اختياركړې ده لكه شاه عبدالقادر دهلوى رحمه الله مولانا اشرف

۱ - پنځم قانون

علی رحمه الله وغیره، اومروی ده دحضرت حسن رحمه الله نه، ابوحیان وئیلی دی چه داپه معنی دمع سره گرخول مخالف دي دکلام دسیبویه نه هغه وائ چه د کفاک وزیداً درهم، معنی داده چه کفاک درهم وکفی زیداً درهم، دقبیلی دعطف الجمله علی الجمله نه، صاحب دروح المعانی په حواله دابن تیمیه رحمه الله سره وائ چه سیبویه خوشه نبی نه دي چه اتباع ئ ضروری شی اومخالفت ئ ناجائز شی.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ ؕ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا
اې نبی : تیزی ورکړه مؤمنانو ته په جنگ کولو باندې، که وی ستاسو نه شل کسان صبر کونکی نو غالب کیږی به
مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ
په دوو سوو، اوکه وی په تاسو کښ سل ، غالب کیږی به په زرو کسانو د کافرانو نه په سبب د دې چه دوئ
قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ۝ اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ
داسې قوم دې چه نه پوهیږی . اوس آسانتیا راوسته الله تعالی په تاسو، اومعلومه ئ کړه چه بیشکه په تاسو کښ
ضَعْفًا ؕ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ
کمزورتیا ده، پس که وی ستاسو نه سل کسان صبرناك غالب کیږی به دوؤ سوؤ، اوکه وی ستاسو نه زر کسان
يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝
غالب کیږی به په دوؤ زرو، د الله په حکم سره، او الله تعالی خاص ملګری دې دصبر کونکو.

﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ داحکم دې نبی ﷺ ته چه مؤمنانوته دجهاد ترغیب ورکړه خکه چه په دې سره مزید اخلاص راځی ، اواخلاص ددین دهرکاربنیاددې بل داچه کله یوعمل خصوصًاجهاد طبعًا ناګوار اومشکل وی نوپه ترغیب ورکولوسره اسان شی حَرِّض، دتحریض نه مشتق دې اوتحریض دحرض نه مشتق دې په معنی دهلاکت سره زجاج وئیلی دی چه تحریض هغه تیزی ورکولوته وائ چه ترینه معلومه شی چه داکس قریب دې هلاکت ته مقصودترینه مبالغه ده په ترغیب کښ، ﴿اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ﴾ په ابتداء کښ په مؤمنانو باندې فرض وه چه یوکس مسلمان به دلسوکافرانو مقابله کوی اوتختیدل ترینه حرام دی اوپه تختیدلو

وعیدراغلې وو، (فقد باء بغضب من الله)، په دې آیت کښې ددی ذکردې، بیاځه وخت بعدتخفیف راغلوچه یوکس مسلمان به دوؤ کافرانوپه مقابله کښې نه تختی اوکه دوؤ نه زیات وونوپه تختیدلو کښې خرچ نشته دې، ددی ذکر په مابعد کښې راځی.

﴿ ٱلْـَٔـٰنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمْ ﴾بیادعلماؤ په دې کښې اختلاف دې چه آیا داتخفیف نسخ دې یانه دې، بعض علماؤ لکه مدارک وغیره شو چه دانسخ نه دې ځکه چه نسخ په انشاء اتو کښې راځی نوکلام انشائ خوحرض المؤمنین علی القتال دې اودامنسوخ نه دې ﴿إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ ﴾ کلام خبری دې نوپه دې کښې نسخ نه شی راتلې اوجمهور علماء وائ چه دانسخ دې او ﴿إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَـٰبِرُونَ ﴾الخ اگرکه لفظًا کلام خبری دې لیکن معنًا انشاء ده، دانشاء نه تعبیر کله په کلام خبری سره کیږی، ددی نه مقصود مبالغه اوتاکید فی الحکم وی، لکه ((فلافسوق ولاجدال فی الحج)) اوهمدارنگه په کلام خبری سره تعبیر کښې خوشخبری دفتح ده بل په دې کښې تسهیل دې ځکه امرفطرةً په طبیعت باندې بوج وی ،پس ثمره دخلاف په دې کښې ظاهریږی چه که یوکس مؤمن دلسوکسانو کافرانومقابله کوله اوقتل کړې شو نو آیاگنهگار دې یانه؟ نوبناپه قول اول باندې گنهگار نه دې بلکه ده عمل کړیدې په عزیمت باندې ، اوبناپه قول ثانی باندې چه دجمهوروقول دې گنهگاردې(روح).

دآیت مقصود خو دادې چه اول داحکم وو چه یوکس به دلسو کسانو په مقابله کښې ثابت قدم وی، لیکن ذکردواحدنه دې شوې بلکه، ((عشرون)) او ((مائتین)) ذکرشوې دې ، په دې کښې اشاره ده چه امردجهاد موقوف دې په جماعت ،اولښکر ،باندې، داسې نه چه یوکس به یواځې ځی اوقتال به کوی، داطریقه دجهادنه ده، اودارنگه په مابعدکښې د ((مائة)) او ((مائتین)) ذکراود((الف)) او د ((الفین)) ذکرددې نکتی دپاره دې، شیربینی وائ چه ددې حکم تقید په ((صابرة، صابرون)) سره راغلیدې دادلالت کوی چه صبرشرط دې دوجوب ددی حکم دپاره، او صابر هغه څوک دې چه شدیدالاعضاء ، قوی الاعضاء قوی القلب شجاع وی ﴿بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴾یعنی سبب دغلبې دادې چه کافران نه پوهیږی اومؤمن پوهیږی، دپوهی نه مراد دادې چه الله تعالی پیژنی اوعقیده لری چه ځمادتولومجاهداتوثمره په آخرت کښې ملاویږی، غالب شم یا مغلوب شم، اوداعلاء دکلمة الله دپاره چه زه هرقسم تکلیف برداشت کړم هغه فی الحقیقت ځماددائمی خوشحالئ ذریعه ده، اوموت ځما اصل ژوند دې ، نوددی عقیدې په وجه مؤمن په

ډيرې بهادرۍ سره جنګیږي او د الله تعالی نصرت ورسره وي ﴿وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا﴾ دا ضعف دایمان نه دې بلکه ضعف دبدن یاد همت دې، ځکه دانسان مزاج او طبیعت دادې چه سخت کار چه په لګوخلقو واچولې شي نو هرسړې دخپل قوت او قدرت نه زیات زحمت اوکوشش کوي، اوکله چه دغه کار د ډیرو خلقو په ذمه شي نو هریو دبل په انتظار کښې وي او ټول داسې فکر کوي چه آخر زه خو یواځې ددې کار مسئول او ذمه وار نه یم نو په دې وجه سره په عمل کښې سستی او په همت کښې قلت محسوس شي.

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ۚ
ندې مناسب نبي لره [1] چه وي دې هغه لره قیدیان، تر څو پورې چه وینې ئې نوې توئ کړې په ځمکه کښې،
تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾
غواړئ تاسو سامان د دنیا او الله تعالی غواړي آخرت، ستاسو لپاره، او الله تعالی زرآور دې حکمتونو والا دې.
لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا
که نوې حکم د الله تعالی چه مخکښې ئې فیصله شوې ده نو خامخا رسیدلې به وې تاسو ته په وجه دهغه مال
أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾ فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا
چه واخست تاسو د قیدیانو نه په فدیه کښې عذاب لوئ، پس خورئ دهغه مال نه چه په غنیمت کښې واخست تاسو حلال
طَيِّبًا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٦٩﴾
پاك، او یره کوئ د الله تعالی نه بیشکه الله تعالی بښونکې مهربان دې.

﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ﴾ داشپږم قانون دې حاصل ئې دادې چه په ابتداء کښې کفار قتلول پکار دي ددې دپاره چه رعب قائم شي په دشمنانو، په جهاد کښې مال غنیمت هم په لاس راځي او قیدیان هم رازي، نو د سورت په ابتداء کښې د مال غنیمت حکم ذکر شوې دې، او دلته د قیدیانو په باره کښې حکم ذکرکیږي ، دآیت شان نزول دا دې چه دبدر په غزا کښې اویا کسه دکافرانو نه دمسلمانانو په لاس کښې قیدیان شو چه په هغوئ کښې عباس ﷺ او عقیل

۱- شپږم حکم.

بن ابی طالب دحضرت علی ﷺ رورهم وودالله تعالی دطرفه ددوئ په باره کښې دوه صورتونه پیش شو(۱) قتل (۲) فدیه اخستل اوددوئ آزادول خوپه دې شرط سره چه په راتلونکی کال کښې به ستاسو نه اویاکسان قتلیږی ، داپه ظاهر کښې مؤمنانوته اختیار ورکول وو اوپه حقیقت کښې اختیاریعنی امتحان وو، اوددې وجې نه دفدیه په اخستلو باندې وعیدذکرشو خولکه روستو آیت کښې راځی، نورسول الله ﷺ په دې باره کښې دصحابه کرامو نه مشوره واخسته، نوابوبکرصدیق ﷺ اووئیل چه یارسول الله ﷺ داټول قیدیان زمونږ خپلوان اوروڼړه دی، بهتره داده چه ددوئ نه فدیه واخلو او آزادئ کړو اوددی نرم سلوک اواحسان په وجه کیدې شی چه بعض ددوئ نه مسلمانان شی اوهغه مال چه مونږ ددوئ نه په فدیه کښې واخلو هغه به په جهاد اونورودینی کارونوکښې خرچ کړو اوکه په آئنده کال کښې زمونږ نه اویا کسان شهیدان شی نوشهادت خوزمونږ دپاره سعادت دې اودرسول الله ﷺ میلان دفطری شفقت اوصله رحمئ په بناء، هم په دې لورې وو اودزیاتو صحابؤ رائ دحضرت ابوبکر درائ سره موافق وه اوحضرت عمر ﷺ اوسعدبن معاذ ﷺ اودبعض صحابؤ رائ ددینه خلاف وه، حضرت عمر ﷺ اووئیل چه یارسول الله ﷺ داقیدیان دکفرامامان دی دوئ ستاتکذیب کړیدې اوته ئ دمکی نه اوباسلې ئ، ددوئ سرونه دې قلم شی، چه دکفر زورختم شی اوپه کافرانو رُعب اوهیبت راشی چه مسلمانانو ته دتکلیف رسولو، اوخلقولره دالله تعالی ددین نه منع کولو جرات اونه کړی، علی ﷺ دې خپل رورعقیل لره قتل کړی اوحمزه ﷺ دې عباس ﷺ لره قتل کړی، اوزه دې فلانې قتل کړم، دغسې هرکس دې خپل خپل قریبی رشته دار کافرقتل کړی، چه دالله تعالی په بارګاه کښې دمشرکانو نه زمونږ کمال نفرت اوبیزاری خکاره شی، اودحق په معامله کښې مونږ دخپلوخپلوانو اودمالی فوائدو اودهیڅ څیز پرواواونه کړو، اوپه یوروایت کښې دی چه عبدالله بن رواحه ﷺ اووئیل چه یوداسې وادی(ځنګل) چه په کښې خشاک ډیروی په داسې ځائ کښې دوئ داخل کړې شی اوګرم اور دې پرې بل کړې شی چه اوسوزی ، نوحضرت عباس ﷺ ده ته اووئیل چه قطعت رحمک، نبی ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی دبعض خلقو زړونه نرم کړی، حتی دلبنو، (شودو) نه هم زیات نرم وی اودبعض خلقو زړونه سخت کړی حتی چه کاڼړی نه زیات سخت وی اومثال ستایاابوبکر ﷺ په مثال دابراهیم ﷺ دې چه اوئ وئیل (فمن تبعنی فانه منی، ومن عصانی فانک غفوررحیم) اوپه شان د عیسی ﷺ دې چه ئ اووئیل، (وان تغفرلهم فانک انت العزیز الحکیم) اومثال ستا اې عمره ﷺ په شان دنوح ﷺ

دې دي چه اوئ وئیل (رب لاتذرعلی الارض من الکفرین دیاراً)، اوپه شان دموسی ﷺ دي چه اوئ وئیل (ربنا اطمس علی اموالهم)، بالاخر نبی ﷺ دحضرت ابوبکرصدیق ؓ رائ ته ترجیح ورکړه، اوفدیه ئ ترینه واخسته اوآزادئ کړل، سوی دیوڅوکسانو نه چه هغه ئ قتل کړل، لکه عقبه اونضر، اوطعمه، اوابوالعاص ؓ چه دنبی ﷺ دامادوؤ په غیردفداء نه آزادکړې شو اودیته په اصطلاح دشرع کښ (مَنْ) وئیلې شی، نوهرکله چه نبی ﷺ دقیدیانودآزادولو اودفدیه اخستلوفیصله اوکړو نو دا آیت نازل شو اصحابوته عتاب، زورنه راغله، نبی ﷺ دکورنه واپس شو ډیرخفه وو، سترګی ئ دَ اوښکونه ډکی وې اوئ فرمائیل: (والله لونزل العذاب من السماء مانجی غیرعمر وسعد بن معاذ ومقداد) یعنی که عذاب د آسمان نه راغلې وې نوپه غیر دعمر ؓ اودهغه دملګرونه به بل څوک نه ووبچ شوی.

سوال: صحابؤ ته خواختیار ورکړې شوې وو چه که تاسوقیدیان آزادوئ اوکه قتلوئ ئ نوبیاولې عتاب اوزورنه راغله.

جواب: داپه ظاهرکښ اختیار وو لیکن په حقیقت کښ اختبار اوامتحان وو لکه ازواج مطهراتو ته چه په ظاهر کښ اختیار ورکړې شوې وو ﴿إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ﴾ (سورة احزاب، ع ۱۴) دا په حقیقت کښ امتحان وؤ ، یالکه په لیلة المعراج کښ نبی ﷺ ته خمر اولبن پیش کړې شو.

سوال: آیادا فیصله یعنی دقیدیانو آزادول که داصولو داسلام نه بالکل مخالف وی نوبیاڅه رنګه نبی ﷺ اواکابر صحابؤ ؓ اختیار کړه اوکه مخالف نه وی داصول دشریعت نه نوبیاولې په دې باندې دومره عتاب اووعیدراغې.

جواب: ددې نه مخکښ دقیدیانو په باره کښ څه حکم نه وونازل شوې، اودقیدیانو آزادول او د فدیه اخستلونه منع هم نه وه راغلې، بلکه دقیدیانوآزادول اخلاقی حیثیت سره اودشریعت داصول کلیو سره عین مطابق وه لیکن دوقتی حالاتو اودوقتی مصلحتونو تقاضا داوه چه دوئ قتل کړې شی ددې دپاره چه په ظالمانو رُعب راشی، اوددیارلس کلونو دسخت ظلم نتیجه دوئ ته مخکښ راشی ، نوددې وقتی مصلحت په وجه باندې دافیصله الله تعالی ته پسنده نه وه اودایواجتهادی غلطی شمارشوه اودارنګه دکومو صحابؤ چه نظر په مالی فائدوباندې لګیدلې وو، اګرکه ددوئ مال ددینی مصالحو دپاره وو لیکن چونکه خپل ذاتی ضروریاتو باندې نظرورسره هم شامل وو نوپه دې وجه داددوئ دپاره اجتهادی غلطی

شمارکړې شوه ځکه چه په خپل ذاتی ضروریاتو باندې نظرکولو سره «بعض فی الله» کښې کمی اودجهاددمقدس اوعالی محنت نه دغفلت احتمال وو، نوپه دې کښې دصحابو ﷺ تربیت هم دې اوددوئ لوئ عالی شان ته اشاره هم ده نوددی وجه نه ئ دوئ ته اووئیل ﴿تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا﴾ یعنی ستاسو دپاره دذاتی ضروریاتو فکرسوچ بالکل نه دې مناسب ﴿لِنَبِيٍّ﴾ دا ئ نکره راوړه اشاره ده چه داحکم ټولوانبیاؤ ته دې یاترینه مرادفقط زمونږ نبی ﷺ لکه چه په بعض قراءتونو کښې لِلنَّبِيِّ معرفه راغلې ده نوپه نکره ذکرکولو کښې دنبی ﷺ دادب رعایت کول مقصود دی «تلطف بالخطاب» اوبعض وائ چه دلته مضاف مقدردې ای لاصحاب نبی په قرینه ددې چه روستو ئ تُرِيْدُوْنَ، وئیلی دی اوتریدُ ئ نه دی وئیلی ﴿أَسْرَىٰ﴾ دا جمع داسیرده لکه مرضی جمع دمریض ده اومراددې نه داسې قیدیان دی چه په فدیه ورکولوسره خلاصیږی نوپه دې کښې اشاره ده چه دمشرکانو دبدرقتلول غوره وو، دفدیه نه، دمشرک قیدی قتل اواستعباد یعنی غلام ګرزول جائزدی، اوبلا معاوضه پریخودل، یعنی «مَنْ» جائزنه دې، اوفدیه اخستل اوآزادول هم دامام ابوحنیفه رحمه الله په مشهور روایت کښې جائزنه دی البته دسیرکبیر په یوروایت کښې دی چه که مسلمانانو ته دمال ډیرضرورت وی نوفدیه اخستل جائزدی، اودمسلم قیدیانو په تبادله کښې آزادول جائز دی، د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه غزوهٔ بدر اول غزا وه او تر اوسه پورې د کافرانو طاقت او قوت نه وؤ کمزورې شوې نو پدې وجه د قیدیانو نه په فدیه اخستلو اوددوئ پریخودلوعتاب راغی بیاچه کله اسلام اومسلمانانو ته غلبه حاصله شوه اودکفر قوت مغلوب شو نوبیاالله تعالی مسلمانانو ته اختیارورکړو د «من» اود «فداء» چه ددی بیان په سورت محمد کښې شویدې ((فامامنابعد واما فداء)) نوګویاچه آیت دسورت محمد ناسخ اوآیت دسورت انفال منسوخ دې لیکن بعض حضرات وائ چه سورت محمد اول نازل شویدې حتی چه بعضو ورته مکی وئیلي دي نوآیت دسورت انفال ناسخ دي اوآیت دسورت محمد منسوخ دې، اوتحقیق دادې چه په دې دواړوکښې ناسخ اومنسوخ نشته دې ځکه چه په سورت محمدکښې چه د «من» او«فداء» اجازت چه ذکر شویدې نوهغه بعدداثخان، «خونریزئ» نه دې کماقال تعالی حتی اذااثخنتموهم فشدوالوثاق - الایه اوپه سورت انفال کښې هم حتی یثخن فی الارض، دې یعنی داثخان نه قبل من فداء،، نه وو مناسب، نوددواړو آیتونومفهوم یوشان ته دې لهذاناسخ منسوخ په کښې نشته دې.

﴿ لَوۡلَا كِتَٰبٞ ﴾ داجواب دسوال دې چه هرکله فدیه اخستل اوقیدیان آزادول عندالله ناپسند وو نوپه دې عذاب ولې نازل نشو، جواب اوشو چه دعذاب دنزول دپاره مانع موجود وو نوځکه نازل نه شو ، هغه مانع ﴿كِتَٰبٞ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ ای حکم مکتوب فی اللوح المحفوظ. یعنی حکم او فیصله چه مخکښې لیکلې شویده، اوددې مصداق څوامورکیدې شی(۱) دلته نبی صلی الله علیه وسلم اوصحابؤ اجتهاد کړې وو اومجتهد اګرکه غلط شی نوهم ورته عذاب نه شی ورکیدې(۲) ترڅو چه یوحکم منصوصی نه وی نودهغې په خلاف کولوعذاب نه راځی لکه په سورت توبه آیت نمبر ۱۱۵ کښې دی اوپه سورت بنی اسرائیل کښې دی : ((وماکنا معذبین حق نَبۡعَثَ رَسُولٗا))، (۳) الله تعالی داهل بدروغلطی مخکښې معاف کړیده، کمافی الحدیث لعل الله اطلع علی اهل بدرفقال اعملواماشئتم فقدعفرت لکم، (۴) الله تعالی ددې امت دپاره مال غنیمت حلال کړیدې (۵) په دې قیدیانو کښې دډیرو کښې دډیروکسانو دپاره ایمان راوړل مقدروو.

په دې امورو کښې څه منافات نشته ټول اراده کیدې شی غرض داچه که داموانع نه وې نوداغلطی داسې سخته غلطی وه چه په دې به عذاب واقع شوې وې، په یوروایت دحدیث کښې دی چه هغه عذاب نبی ﷺ ته ښکاره کړې شو، نونبی ﷺ اوحضرت ابوبکر ﷺ دواړو ژړل حضرت عمر ﷺ چه تپوس اوکړو نونبی ﷺ اوفرمائیل چه څما په مخکښې هغه عذاب ښکاره شوې وو، چه په اخذ دَ فداء، راتلووالاوو، دعالم غیب دبعض اموریه عالم مشاهدکښې متمثل کولې شی اومقصود ترینه صرف دعالم غیب دبعض امورونظاره کول وی﴿ فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمۡتُمۡ ﴾ هرکله چه په اخذدفدیه عتاب راغې نوصحابؤ دخوف دوجه نه فدیه اخستل پریښودل، اوفاء په فَكُلُوا کښې دسببیت دپاره ده یعنی هرکله چه مواخذه اونزول دعذاب نشته دې نو فکلوا

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ

اې نبی ! (۱) وه وایه هغه چا ته چه ستاسو په لاسونو کښې دی د قیدیانو نه. که معلوم کړو الله تعالی په زړونو ستاسو کښې

۱ - اووم ۷ قانون.

خَيْرًا	يُّؤْتِكُمْ	خَيْرًا	مِّمَّآ	اُخِذَ	مِنْكُمْ	وَيَغْفِرْ	لَكُمْ	ط
خير (ايمان) نو در به كړي تاسو ته ډير غوره دهغه مال نه چه اخستي شوي دي ستاسو نه اوبښنه به وكړي تاسو ته.								
وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۝	وَ	اِنْ	يُّرِيْدُوْا	خِيَانَتَكَ	فَقَدْ	
او الله تعالى ښونكي دي رحم كونكي دي . اوكه اراده لرى دوئ د خيانت دهوكه ستاسو سره، پس په تحقيق سره								
خَانُوا	اللّٰهَ	مِنْ	قَبْلُ	فَاَمْكَنَ	مِنْهُمْ	ط		
خيانت او دهوكه كړي وه دوئ د الله تعالى سره مخكښ د دينه پس قدرت دركړو تاسو لره الله تعالى په دوئ باندي								
وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝								
او الله تعالى عليم حكيم دي.								

﴿يٰۤاَيُّهَا النَّبِىُّ قُلْ﴾ دا اوم قانون دي حاصل ئ دادي چه په قيديانوكښ څوک دعوه دايمان كوى ددى دپاره چه دفديه وركولونه بچ شى نوهغه ته دي ترغيب وركړي شى اوورته دي اووئيلي شى چه فديه وركول خوبه تالازم دى اوكه دعوه دايمان ستاصحيح وى نوالله تعالى به ډيرعوض دركړى، اووجه داده چه كه يوكس ته صرف په دعوى دايمان سره فديه معاف شى نوبيابه هركس دايمان دعوى كوى، ددى آيت حكم عام دي اونزول ئ خاص دي په باره دحضرت عمر ﷺ كښ دي، په يوروايت كښ دى چه په قيديانو كښ حضرت عباس رضى الله عنه راوستي شو نوحضرت عمر ﷺ ده لره ډير سخت كلک ترلي وو، اودتكليف دوجه نه ئ فريادكولو، نبى ﷺ چه ددوئ فرياد واورېدلو نوآرام ئ نه شو كولي، نوصحابه ﷺ چه پوهه شو نوددوئ ترل ئ نرم كړل اوبياانصارو صحابو ﷺ اووئيل چه عباس ﷺ زمونږ خوريئ دي دوئ ته دي فديه معاف شى، خونبى ﷺ اوفرمائيل چه يو درهم به ورته هم نه شى معاف كولي اوحكم ئ اوكړو چه خپله فديه هم وركړه اودخپل وراره عقيل بن ابى طالب فديه هم وركړه حضرت عباس رضى الله عنه اووئيل، كنت مسلماً لكن استكرهونى، يعنى زه خومسلمان وم كفارو خه جبراً رااوباسلي يم نونبى ﷺ ورته اوفرمائيل كه ستاداخبره حقه، ريشتيا وى نوالله تعالى به تاته جزائ خيردركړى ليكن ستاظاهرامردادي چه ته زمونږ په مقابله كښ راغلي ئ، نوخپله فديه هم وركړه اودنوفل بن حارث اودعقيل بن ابى طالب فديه هم وركړه نودوئ اووئيل چه ماسره خوهيڅ نشته ، اوته مايه داسي حال باندي پريګدي چه دقريشو نه به سوال

کوم، نونبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه هغه مال څه شوچه تاآووستابی بی، ام الفضل بدرته دراتلوپه وخت کښ دفن کړې وو، اوتاهغې ته اووئیل چه پته نه لګی چه څه به پیخیږی که چرې زه په دې کښ هلاک شم نوداما ل، ستااوعبدالله (بن عباس) اوعبیدالله ، اودقثم دې، نوعباس رضی الله عنه اووئیل چه (ومایدریک) تاته څه پته ده، دغه مال خو ماخپلې بی بی ام الفضل ته په توره شپه کښ ورکړې وؤ اوپه غیر دالله تعالی نه پرې بل هیڅ څوک خبرنه وو، نونبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ماته خمارب خبرراکړو، نوعباس ﷺ وه وئیل : (اشهد انك صادق وان لا اله الا الله وانك رسول الله)، غرض دا چه حضرت عباس ﷺ خپله فدیه هم ورکړه اودعقیل بن ابی طالب فدیه ئې هم ورکړه ، حضرت عباس رضی الله عنه فرمائی چه ماسره خمارب دوه وعدې کړی دی یوه داچه ﴿يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّا أُخِذَ مِنكُمْ﴾ دویمه داچه ﴿وَيَغْفِرْ لَكُمْ﴾اول وعده ئې پوره کړیده چه اوس خما په ملکیت کښ شل غلامان دی اودهریوسره کم ازکم دشلو شلوزرو دراهمو مال تجارت دې،اودویمی وعدی په انتظارکښ یم ﴿إِن يَعْلَمِ اللَّهُ﴾ داکنایه د وجودنه ده څکه چه یوشئ چه موجودوی نولازم ورسره داده چه دالله تعالی علم به پرې وی نوملزوم ذکرشو لازم ترینه مرادشو، نومعنی داده که وی ستا سو په زړونوکښ خیر، اومراد دخیرنه ایمان اورغبت دایمان دې، ﴿يُؤْتِكُمْ خَيْرًا﴾ ددی خیرنه مراد زیات مال دې لکه حضرت عباس ﷺ ته چه الله ورکړو، اوددې نه معلومه شوه چه ایمان اواطاعت دالله تعالی اودرسول سبب دبرکاتو دنیویو اخرویو دې، ﴿وَإِن يُرِيدُوا خِيَانَتَكَ﴾ جزاء دشرط مقدره ده (ای فلاتحزن) یا (یلذهم الله) او ﴿فَقَدْ خَانُوا اللَّهَ﴾ قائمقام دجزاء دې ﴿فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ﴾ ای فامکنک واقدرک علیهم ، یعنی ته ئې قادر کړی ددوئ په ګرفتار کولواوقتل کولو.

إِنَّ	الَّذِينَ	آمَنُوا	وَهَاجَرُوا	وَجَاهَدُوا	بِأَمْوَالِهِمْ
بیشکه هغه کسان چه ایمان ئې راوړې دې اوهجرت ئې کړې دې اوجهاد ئې کړې دې په مالونو خپلو سره					
وَأَنفُسِهِمْ	فِي	سَبِيلِ	اللَّهِ	وَالَّذِينَ	آوَوا	وَّنَصَرُوا
او په نفسونو خپلو سره په لاره د الله کښ اوهغه کسان چه ځائ ئې ورکړې دې مهاجرینوته اوامداد ئې کړې دې					

أُولَٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا
دغه کسان بعضی د دوئ دوستان د بعضو دی، اوهغه کسان چه ایمان ئ راوړي دي اوهجرت ئ ندي کړي
مَا لَكُمْ مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا ۚ وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ
نشته دي تاسو لره د دوستانې د دوئ نه هيڅ حق تر څو چه دوئ هجرت نوی کړي. اوکه دوئ مدد وغواړی ستاسو نه
فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ
په باره د دين کښ پس لازم دي په تاسو باندې مدد، مگر په مقابله د هغه قوم کښ چه په مينځ ستاسې
وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾
او په مينځ دهغوئ کښ وعده وی، او الله تعالى ستاسو په هغه عملونو چه تاسو ئ کوئ ليدونکي دي
وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن
اوهغه کسان[1] چه کفر ئ کړي دي بعض د دوئ نه ملگری د بعضو دی ، که ونه کړئ تاسو امداد نو پيدا به شی
فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿٧٣﴾
فتنه په خمکه کښ او فساد لوئ.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ دقوانينودجهادنه بعدترغيب دي هجرت اوجهادته دلته دمؤمنانو درې فرقې ذکرکيږی اويوه فرقه دکفاروذکرکيږی فريق اول مهاجرين يعنى هغه صحابه چه ددين دپاره ئ خپل وطن مکه پريښودلی وه اوجهاد ئ کړي وؤ ، دويم فريق انصار يعنى د مدينې اصل باشندگان چه د مهاجرينو هجرت نه مخکښ ئ ايمان راوړي وو.ددی دواړو فرقوپه باره کښ ئ دااوفرمائيل ﴿ أُولَٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ﴾ددی دوه مطلبه کيدي شی يوداچه دولايت نه مرادنصرت اوتعاون دي يعنى مسلمانان مهاجراوانصارديوبل ممداومعاونين دی په دوئ کښ ديوسره صلح دټولوسره صلح ده او دَ يو سره جنگ دټولو سره جنگ دي نوپه دي تقديرداآيت منسوخ نه دي، اودويم مطلب دادي چه دولايت نه مرادعام دي وراثت اوتعاون دواړوته شامل

۱ - د مؤمنانو په مقابله کښ د کفارو ذکر .

دي لكه په ابتداء داسلام كښې به مهاجر دانصاري وارث وو نوپه دې تقديردا آيت منسوخ دې په مابعد آيت سره چه (واولوالاحام بعضهم اولىٰ ببعضٍ) يعني دميراث مدارپه نسب باندې دې نه په هجرت ، دريم فريق چه بيان ئې په دې آيت كښې دى.

﴿وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا ﴾يعني هغه مؤمنان چه هجرت ئې دمجبورئ دوجه نه نه وى كړې دامستضعفين دى نوددوئ حكم دادې چه ﴿مَا لَكُم مِّن وَلَيَتِهِم مِّن شَيْءٍ ﴾دهغوئ سره داسې ولايت نشته دې چه دهغوئ سره صلح معاهده ستاسوسره صلح معاهده وى اودهغوئ سره دُشمنى ستاسوسره دُشمنى وى.

اودويم حكم دادې چه ﴿وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ ﴾كه هغوئ ستاسو نه مددطلب كړى دكفاروپه مقابله كښې نوپه تاسو باندې دهغوئ سره مددكول لازم دى ﴿إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ ﴾ مگرددداسې كفارو په مقابله كښې دهغوئ مددكول نشته دې چه ستاسو سره ئې معاهده اوصلح وى ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ دمؤمنانو په مقابله كښې دكفاروذكردې چه دهغوئ سره ولايت او مدد جائز نه دې بلكه دكفاروسره نصرت مددكول دكفاروخاصيت دې﴿إِلَّا تَفْعَلُوهُ ﴾ ضميرمنصوب راجع دې كل ماقبل مذكورفى الايتين ته، يعني ديوبل سره نصرت تعاون كول اودمستضعفينو سره مددنصرت مددكول اودمؤمنين غيرمهاجرين سره دكفارو په مقابله كښې نصرت كول، يعني كه تاسو دغه اونكړئ نو په زمكه كښې به فساد پيدا شي .

وَالَّذِينَ	اٰمَنُوْا	وَهَاجَرُوْا	وَجٰهَدُوْا	فِيْ	سَبِيْلِ	اللهِ	وَالَّذِيْنَ

اوهغه كسان [1] چه ايمان ئې راوړې دې اوهجرت ئې كړې دې اوجهاد ئې كړې دې په لاره د الله تعالى كښې. اوهغه كسان

اٰوَوْا	وَّنَصَرُوْا	أُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْمُؤْمِنُوْنَ	حَقًّا ؕ	لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّرِزْقٌ

چه ځاي ئې وركړې دې مهاجرينو ته او مدد ئې كړې دې دغه كسان دوئ مؤمنان دى په ريشتيا سره ، دوئ لره ښنه ده او رزق

كَرِيْمٌ	۝	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مِنْۢ	بَعْدُ	وَهَاجَرُوْا	وَجٰهَدُوْا

عزتمند دې. اوهغه كسان چه ايمان ئې راوړې دې دهغې نه روستو، اوهجرت ئې كړې دې او جهاد ئې كړې دې

---

۱ - بشارت.

مَعَكُمۡ فَاُولٰٓئِكَ مِنۡكُمۡ ؕ وَاُولُوا الۡاَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلٰى
په ملګرتيا ستاسو کښې پس دغه کسان ستاسې د ډلې نه دی، او يو نسب والا خپلوان بعض د دوئ حقدار دی
بِبَعۡضٍ فِىۡ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيۡمٌ
د ميراث د بعضی، په حکم د الله تعالی کښې، بيشکه الله تعالی په هر څيز باندې عليم دې.

﴿ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَهَاجَرُوۡا ﴾په دې آيت کښې صحابو ته بشارت دې اودصحابو ډيرلوئ لوئ مناقبو (تمغه امتياز) ذکردې **اول** داچه صحابه رضی الله عنهم مهاجرين اوانصارمؤمنان دی او**دويم** داچه ددوئ ايمان په حق اوريښتيا دې دشک اودنفاق نه بری دې، **دريم** داچه دوئ لره مغفرت دې که څه لغزش اوګناه ترينه شوې وی نودهغې دمعافئ اعلان الله ﷻ په خپله په خپل کلام ازلی کښې کريدې اوددې وجې نه علماء دعلم کلام وائ چه دصحابو کرامو دلغزشونو تذکره کول ناجائز دی يعنی په طوردتوهين يا د اعتراض سره (لانذکراحداً من الصحابة بالسوء) اوقرآن پاک قطعی دې نوددې په مقابله کښې تاريخی روايات هيڅ حيثيت نه لری، **څلورم** داچه دوئ لره رزق کريم دې چه په دنياکښې مال غنيمت دې اوپه آخرت کښې رزق دجنت دې ﴿ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡۢ بَعۡدُ ﴾په دې آيت کښې دبل قسم مؤمنانو صحابو ذکردې چه﴿اٰمَنُوۡا مِنۡۢ بَعۡدُ ﴾ د بَعۡدُ نه مراددفتح مکه نه بعدمراددې يادصلح د حديبيه نه بعدمراد دې نوپه دې کښې اشاره ده دې ته چه په دوئ کښې په درجه کښې تفاضل شته دې ليکن په صفت د صحابيت اودايمان حقه اومغفرت اورزق کريم کښې تو ل شريک دی﴿ وَاُولُوا الۡاَرۡحَامِ ﴾مطلب دادې چه ميراث په سبب دنسب سره دې اوپه سبب دموالات مواخات سره ندې نودا آيت ناسخ دې دهغه حکم دپاره چه په ابتداء داسلام کښې ميراث په سبب دهجرت اومواخات سره وو

تمت تفسير سورة الانفال بفضل الله عز وجل وبکرمه

رقمها حسب التسلسل (۹) وحسب النزول (۱۱۳)

ربط : (۱)ماقبل سورت کښې قواعدجهاد بیان شو دلته اعلان دَجهاددې(۲) په سورت انفال کښې دجهادذکرووخودانه وه ذکرچه دچاسره جهادکول پکاردی دلته دهغه ډلو ذکرکیږی چه دهغوئ سره قتال کولې شی(۳) په سورت انفال کښې دقواعدو دقتال ذکراوشودلته رفع دموانعو دقتال کیږی.

خلاصه دمضامینو دسورت : ددی سورت دوه حصې دی اوله حصه دابتداءدسورت نه ترآیت نمبر۳۷ رکوع (۵) پورې ده، په دې حصه کښې دځلورو فرقوحکم بیانیږی اودځلورو موانعو دقتال رفع او جواب ذکرکیږی، دابتداء نه دآیت نمبر ۲۸ پورې بیا دعوه دَسورت یعنی حکم دقتال اودهغې دپاره اوه علتونه ذکرکیږی اودهغه ډلوذکر کیږی چه قتال ورسره کیدې شی، دآیت نمبر۳۷ پورې اودسورت دویمه حصه دآیت نمبر۳۸ دآخره پورې ده په دې کښې دآیت نمبر ۱۲۲ ع (۱۵) حالات د منافقینو په تفصیل سره او په دوئ زجرونه، وعیدونه بیانیږی او زجرونه په متخلفینو د جهاد عمداً یا خطاءً ذکر کیږی، او اوصاف د مجاهدینو او صحابؤ او د دوئ لپاره بشارتونه دنیوی ، اُخروی بیانیږی او د آیت نمبر ۱۲۲ نه بعددسورت دمضامینو اعاده بالاختصار کیږی، دسورت په ابتداء کښې چه دکوموځلورو فرقوحکم بیانیږی ، دهغې تفصیل دادې چه په سنه ۶ه کښې نبی ﷺ دصحابؤ سره عمری دپاره دمدینې منورې نه مکی معظمی ته روان شو، نوکفارو دقریشو دوئ لره منع کړل دداخلیدو نه حرم ته اوجنګ ته تیارشو اودالله تعالی دطرفه دجنګ کولوحکم نه وو بلکه په دې موقعه جنګ کول خلاف مصلحت وو نوددی وجې نه نبی ﷺ ددوئ سره په حدیبیه مقام کښې صلح اوکړه چه دیته صلح حدیبیه وئیلې شی چه تفصیل ئ په کُتبُ دحدیث اودسیرت کښې مذکوردې په دې صلح کښې دمختلفو قبائلو دعربوسره معاهدې شوی وی، قریش دمکې چونکه اصل فریق مخالف وو نوددوئ سره دلسوکالو دپاره معاهده شوې وه دجنګ بندئ اوداچه دیوبل ددُشمن سره به دیوبل په مقابله کښې تعاون نه کوؤ، اودیوبل دحلیف دقتل اوجلاء وطن کول به نه کوؤ اوپه دې معاهده کښې خزاعه قبیله دنبی ﷺ حلیفان ملګری وو، اوبنی بکر قبیله دقریشو حلیفان اوملګری وو، دبنی خزاعه اوبنی بکر په مابین کښې

قديمی عداوت وو، دمعاهدی نه بعد ديوكال پورې دمعاهدې څه خلاف ورزی نه وه شوې، اونبی ﷺ په سنه ۷هـ كښ دخپلوصحابۇ سره عمرة القضاء اوكړه، ددې نه بعدپنځه ياشپږ مياشتې تيرې شوی يعنی دمعاهدې نه يونيم كال روستو بنی بكر قبيلی په خزاعه باندې دشپې حمله (شبخون) اوكړه اوډيرظلم ئې ورسره اوكړواوقريش مكه دهغوئ سره تعاون اوكړو، ، نوصلح اومعاهده ددوئ دطرفه ماته شوه، بنی خزاعه قبيلی نبی ﷺ ته خپل فريادپه ډيردل سوزالفاظوكښ پيش كړه نونبی صلی الله عليه وسلم ورسره دتعاون وعده اوكړه اواوئ فرمائيل لَانۡصِرَنَّ اِنۡ لَم انصركم، نولښكرئ تياركړو اومكه ئې فتح كړه، چه تفصيل ئې د حديث اوسيرت په كتابونو كښ مذكوردې، دلته چه دكومو فرقوذكردې په هغې كښ يوفرقه هغه قريش دی چه نقض العهد (وعده خلافی) ئې كړې وه اوايمان ئې نه وو راوړې اوبله فرقه بنی ضمره اوبنی مدلج چه دنبی كنانه دوه قبيلی دی، ددوئ سره هم په حديبيه كښ صلح او معاهده شوی وه اوميعادئ مقررشوې وو اوسورت براءت دنزو ل په وخت كښ نه(۹) مياشتې په ميعادكښ باقی وې اوبله فرقه هغه وه چه صلح اومعاهده ورسره شوی وه خوميعادنه وو مقررشوې ، بله فرقه عامه قبائل دعربو ووچه دهغوئ سره هيڅ معاهده نه وه شوې، خلاصه داده چه مشركين څلورقسمه وو، يوهغه خلق چه هيڅ صلح معاهده ورسره نه وه شوی دويم هغه خلق وو چه معاهده ورسره شوی وه خوميعاد نه ومقررددی دواړوحكم براءت اورفع دامان ده، البته څلور مياشتې مهلت ورته وركړې شوچه دوئ سوچ فكراوكړی اودڅلور مياشتونه بعد به دوئ ته امن نه وی اوداڅلورمياشتې به دلسم دذی الحجه نه شماريږی اگركه نزول دآيت دبراءت په شوال كښ شويدې لكه دااصح قول دې څكه چه اعلان دبراءت دوئ ته په ايامود حج كښ شوې دې دسورت په ابتداء كښ په دوؤ اياتونو كښ ددوئ ذكردې، اودريمه فرقه هغه خلق وو چه معاهده ورسره شوی وه اوميعادهم مقررشوې وو، اوڅلورم فرقه هغه مشركين د قريشو وو چه وعده ئې ماته كړې وه نوددی دواړوفرقو مشترک حكم دادې چه الله تعالی اورسول دهغه، مشركينو ته دامان وركولونه بری دی، البته قريشوچونكه وعده خلافی كړی وه نودوئ مستحق دامن وركولو نه وؤ خو د اشهر حرم د وجه نه دوئ ته د اشهر حُرم د ختميدلو پورې امن وركړې شو، او دريمې فرقې وعده خلافی نه وه كړې نوددوئ حكم راغلو چه ﴿ فَاَتِمُّوۡۤا اِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ ﴾ اوڅلورمې فرقی حكم دابيان شو چه ﴿ فَاِذَا انۡسَلَخَ الۡاَشۡهُرُ الۡحُرُمُ فَاقۡتُلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴾ يعنی دوئ

په وجه دنقض العهد (وعده خلافی) سره مستحق ددی وو چه فی الحال قتل کړې شی لیکن د
مصلحت دوجې نه دوئ ته اشهرحرم دختمیدو پورې مهلت ورکړې شو ددی سورت په ابتداء
کښې ددی فرقو سره دبرائت اودرفع امن، حکم دې اوهرفرقی ته دمهلت ورکیدلو حکم دې،
دا آیتونه په سنه ۹ هـ شوال کښې نازل شویدی، په دې کال نبی ﷺ په خپله حج ته تشریف نه
وووړې ځکه چه حرم کښې هم مشرکان وو، اونورقبائل دمشرکانو حج ته راتلل چه په
غیرشرعی طریقی سره ئې حج کولو نو ترڅوری چه حرم دمشرکانونه ندې پاک شوې نوپه
شرعی طریقې حج کول اوخلقوته دهغې تعلیم ورکول مشکل وو نوددی وجې نه الله تعالیٰ
آیتونه دبراءت نازل کړل،اودحرم دصفاکولو اودمشرکانو دحرم نه دمنع کولو انتظام ئې
اوکړو نونبی ﷺ حضرت ابوبکر صدیق ﷺ امیرمقررکړو اویو جماعت ئې ورسره کړو چه
هغوئ کښې ابوهریره ﷺ هم وو حرم روان کړو او د احتیاط دپاره ئې ورپسې روستو حضرت
علی ﷺ هم اولیګلو نو دوئ په منی او عرفات اوپه نورومجامعو کښې ددې سورت آیاتونه
خلقوته اورول اودا اعلان به ئې کولو ((الالایحجن بعدالعام مشرک ولایطوفن بالبیت عریان))
چنانچه اوله فرقه یعنی هغه قبائل دعربو چه صلح اومعاهده ورسره نه وه شوې دوئ ته ئې
څلورمیاشتې مهلت ورکړو چه دوئ سوچ فکر اوکړی نویابه صحیح مسلمانان شی یادې بل
چرته لاړشی ، ګنې دڅلورومیاشتونه بعد به دوئ ته امن نه وی بلکه قتل کولې به شی،
نودداسې قسم مشرکانو نه حرم په څلورو میاشتو کښې پاک شو، اوداڅلور میاشتې به
شروع کیږی دلسم دذی الحجی نه، نوبناپه دې ددوئ میعاد په لسم ربیع الثانی ختم شو
اوحرم ددوئ نه پاک صاف شو، اودڅلورمې فرقې یعنی هغه قریش چه وعده خلافی ئې کړې
وه. ددوئ سره میعاد داشهر حرم په ختمیدو ، یعنی دمحرم په ختمیدلو سره پوره شو
اوددوئ نه حرم پاک شو او د دریمې فرقی یعنی هغه خلق چه معاهده میعادی ورسره شوې
وه نودهغوئ میعاد په لسم درمضان پوره شو اوحرم ددوئ نه پاک صاف شو، اومخکښې کال
ته هیڅ مشرک حرم ته حج ته رانغلو لکه ددې آیت نه معلومیږی ((فلایقربوا المسجدالحرام))
نوپه لسم دهجرت نبی ﷺ په خپل نفس نفیس سره حج ته راغلو اودمخالفینو سره قتل وقتال
اونه شو، ځکه چه بعض مسلمانان شو اوڅوک چه نه مسلمانیدل نوهغوئ لاړل، اورسول
پاک ﷺ ددی نه بعد دهیڅ مشرک سره معاهده نه ده کړې بلکه دجزیره عرب نه ئې
کفارودااخراج عزم وو، لیکن هرکله چه په قریب زمانه کښې یعنی ۱۱هـ ئې ددنیانه رحلت

اوفرمايه نوداعزم ئ پوره نه شو ، اوصحابۇ ته ئ وصيت وکړو چه(اخرجوا اليهود والنصارى من جزيرة العرب) اوصحابه کرامو داوصيت پوره کړو

فائده : ددى سورت په ابتداء کښ دبسم الله نه ليکلو وجه په خپله دجامع قرآن عثمان بن عفان ﷺ نه مروى ده چه دهغې خلاصه داده چه ابن عباس ﷺ دعثمان بن عفان ﷺ نه دبسم الله دنه ليکلو دوجه سوال اوکړو نوهغوئ اوونيل چه رسول الله ﷺ وفات شو اوهغوئ تصريح اونه فرمائيله چه «دامستقل سورت دې که دبل سورت جزء دې» اوسورت انفال په مدينه کښ اول نازل شوې وو ، «دبدرپه موقعه» اوسورت توبه آخر نازل شوې وو اوددواړو مضمون يوشان ، اومناسب وو ، نوماځکه دانفال سره يوځائ کړواوبسم الله مى اونه ليکله، حاصل داچه ددې سورت حال مشتبه پاتې شو چه آيادامستقل سورت دې يادبل سورت جزء دې اوچه دبل سورت جزء شى نودکوم سورت جزء دې ، نوکه بسم الله ليکلې شوې وې نوبياخوبه داجزمًا مستقل سورت وى ځکه چه بسم الله ليکل دليل دَ دې دې چه دا مستقل سورة دې، حالانکه داسې نه ده ،اوکه فصل په درميان کښ بالکل نه وې نوبيا به داجزماً دبل سورت جزء وې اوحالانکه داسې هم نه ده نوددى وجې نه فصل پريخودلو اوبسم الله ئ اونه ليکلو،او مضمون ئ دانفال سره مشابه وو نوځکه ئ دهغه سره يوځائ کړو، اودحضرت على ﷺ نه مروى ده چه بسم الله امان دې اوداسورت رفع دامان ده.

فائده : څوک چه تلاوت ددى سورت دابتداء نه شروع کوى نواعوذبالله اوبسم الله دواړه به وائ لکه دټولوسورتونو داجزاؤ داحکم دې چه دهرجزء نه چه تلاوت شروع کوى نواعوذبالله اوبسم الله دواړه به وائ اوڅوک چه دماقبل نه تلاوت کوى دلته راؤرسى نوهغه به اعوذبالله ، بسم الله دواړه نه وائ، اوخود ساخته عبارت، چه اعوذبالله من النار ومن شرالکفارالخ وئيل خلاف سنت دى .

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖۤ اِلَى الَّذِيۡنَ عٰهَدۡتُّمۡ مِّنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ۞

دا اعلان دبيزارئ [1] اودقطع تعلق دې د طرف دالله اودرسول نه هغه کسانو ته چه تاسوورسره وعده کړې وه د مشرکانو نه

---

۱ - د دويمې فرقې ذکر يعنى هغه کسان چه معاهده ميعادى ورسره شوې وه او د اولې فرقې حکم هم معلوم شو.

فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ وَأَنَّ اللَّهَ

پس وګرځئ په زمکه کښې څلور میاشتې، او پوهه شئ چه بیشکه تاسو نشئ کمزوري کولې الله لره، او بیشکه الله تعالی

مُخْزِي الْكَافِرِينَ ② وَأَذَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ

رسوا کونکې دې کافرانو لره . او اعلان دې د طرف د الله او د رسول دهغه نه خلقو ته به ورځ د حج لوئ

أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُ ۚ فَإِن تُبْتُمْ

چه بیشکه الله تعالی بیزاره دې د مشرکینو نه او رسول دهغه هم بیزاره دې، پس که تاسو توبه وه ویستله

فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ۗ

نو دا به غوره وی تاسو لره او که تاسو مخ واړولو نو پوهه شئ چه بیشکه تاسو نشئ کمزوري کولې الله لره،

وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ③ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ

او زیرې ورکړه کافرانو ته په عذاب دردناک سره . مګر هغه کسان[1] چه لوظ کړې وؤ تاسو د هغوئ سره د مشرکانو نه

ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا

او بیا ئی کمې ندې کړې ستاسو سره په څه شی کښې،او امداد ئې هم ندې کړې ستاسو په مقابله کښې د هیچا سره

فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ④

پس پوره کړئ د هغوئ سره لوظ د هغوئ د مُدې دهغوئ پورې، بیشکه الله تعالی محبت کوی د متقیانو سره .

﴿بَرَاءَةٌ﴾ داخبر د مبتدا محذوف دې (ای هذه برآءة) ، او براءت رفع الامن یعنی امن ختمولو ته وائی ﴿عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ دلته عهدمطلق ذکرشو نومعلومه شوه چه ددې نه مراددویمه فرقه ده یعنی هغه خلق چه معاهده ورسره شوی وه اومیعاد ئې نه وه مقررشوې اوددې نه دفریق اول حکم هم معلوم شویعنی هغه خلق چه هیڅ معاهده ورسره نه وه شوې، نودوئ دواړوته څلورمیاشتې مهلت ورکړې شو چه یاپه اسلام کښې داخل شئ یابل چرته

1 - د دریمې فرقې بیان، یعنی هغه خلق چه معاهده میعادی ورسره شوې وه او دوئ وعده خلافی نه وه کړې.

لاړشئ، دڅلورمیاشتونه بعدبه تاسو ته امن نه وی،﴿ فَسِيحُوا ﴾دسیاحت نه مرادآزادانه طورسره ګرزیدل راګرزیدل مراددی یعنی څلور میاشتې تاسوته مکمل امن دی،﴿ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ ﴾ حج اکبرحج ته وائ اوحج اصغرعمري ته وائ مراددیوم الحج الاکبر نه تاریخونه دحج دی لکه عرفه، یوم النحر، ایام منی، مزدلفه، اوبعض وائ چه حج اکبرهغه دې چه حج کړې وو نبی ﷺ اوددې نه بعد بیادا اصطلاح خوره شوه چه حج اکبرهغه دې چه عرفه دجمعی په ورځ راشی، ځکه چه داموافق دې دحج دنبی ﷺ سره چه هغه په حقیقت کښ حج اکبروو، ﴿أَنَّ اللَّهَ بَرِيٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ ﴾ وَرَسُولُهُ په رفع سره دې اودامبتداء ده خبرئ محذوف دې ای ورسوله بریئ نوداعطف دجملې شو په جملې باندې، یاداعطف دې په محل داسم د (أنّ باندې نوداعطف دمفردشو، په مفردباندې، روایت کړیدې شیربینی رحمه الله تعالی وغیره چه یواعرابی راغې په زمانه دحضرت عمر ﷺ کښ اوئ وئیل من یقرئنی مماانزل الله علی محمدصلی الله علیه وسلم نویوکس ورته سورت براءت تلاوت کړو نو (ورسوله) ئ په جرسره اولوستلو. نواعرابی اووئیل چه آیا الله تعالی دخپل رسول نه بری شو؟ نوکه داسې وی نوزه هم ترینه بری یم نوحضرت عمر ﷺ ته داعرابی دامقاله وراورسیده اوتپوس ئ ترینه اوکړه. نو بیاحضرت عمر ﷺ اووئیل چه قراءت دغه شان نه دې اې اعرابی بلکه په رفع سره دې نوعمر ﷺ حکم اوکړو چه نه دې لولې قرآن مګرعالم باللغة، اوامرئ اوکړو ابوالاسود دؤلی ته نوهغه وضع کړه علم النحو، ﴿ إِلَّا الَّذِينَ عَٰهَدتُّم ﴾ داددریمې فرقی بیان دې یعنی هغه خلق چه معاهده ورسره شویوه اومیعادهم مقررشوې وو اودوئ دمعاهدی خلاف ورزی نه وه کړې.

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ
پس هرکله چه تیرې شی[1] میاشتې محرمې، نو قتلوئ مشرکان کوم ځائ کښ چه مومئ هغوئ لره او نیسئ دوئ لره

[1] - د څلورمې فرقې بیان. یعنی هغه خلق چه وعده خلافی ئ کړې وه دوئ ته د اشهر الحرام د ختمیدو پورې مهلت ورکړی شو

وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِنْ تَابُوْا وَ اَقَامُوا
او قید کوئ دوئ لره او کینئ دوئ ته په هره مورچه، پس که دوئ توبه وکړه د شرک نه او پابندی ئ وکړه
الصَّلٰوةَ وَ اٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ۝
د مانځه او ورکوؤ ئ زکوة پس خالي کړئ لاره د دوئ، بیشکه الله تعالی بښونکي، مهربان دي.

﴿ فَإِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ ﴾ دا دخلورمي فرقي بيان دي يعني هغه قريش چه معاهده ورسره شوى وه اووعده ئ ماته كړى وه، دوئ مستحق دقتل وو فى الحال ليكن داشهر حرم دختميدو پورې دوي ته مهلت ورکړې شو، اودلته مراد داشهرحرم نه ذى القعده ذى الحجه محرم دى، رجب نه دي مراد، ﴿ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ ﴾ دديې نه مرادهغه مشركين دى چه وعده ئ ماته كړى وه ﴿ وَخُذُوْهُمْ ﴾ اى بالاسر، يعنى مراددې نه قيدكول دى اودقيدكولونه روستو بيادامير اواهل شورى خوخه ده چه قتلوى ئ ياترينه فديه اخلى اوكه په غير دمعاوضه ئ آزادوى، يعنى، مَنْ، ﴿ وَاحْصُرُوْهُمْ ﴾ يعنى ددوئ دقلعه ګانو محاصره اوكړئ اوراګيرئ كړئ يادامعنى چه دارالاسلام اومسجدحرام ته دداخليدو نه منع كړئ.

﴿ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ﴾ مرصد ځائ دانتظارته وائ مراد دادې چه داراسلام ته د داخليدلو لارې دوئ ته بندې كړئ ﴿ فَإِنْ تَابُوْا ﴾ مرادتوبه ده ﴿ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ﴾ دادتوبى علامه ده ﴿ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ﴾ يعنى مه ئ قتلوئ اومه ئ قيدكوئ ، ځكه چه دوئ معصوم الدم شو، ځكه چه په ايمان سره انسان معصوم الدم كيږى، امام شافعى رحمه الله وائ چه تارك الصلاة به قتلولې شى حداً، اواستدلال ئ كړې دې په دې آيت سره ځكه چه د ﴿ فَخَلُّوْا ﴾ لپاره شرط دې چه توبه او اقامت د صلوة او ايتاء د زكوة دي نوچه شرط نوى يعنى اقامة د صلوة نو ﴿ فَخَلُّوْا ﴾ حكم به هم مرتب نه وى، نوبيا به هغه حكم سابق چه فاقتلوادې مرتب وى، او احناف وائ چه (فخلوا) حكم په (تابوا) مرتب دې نوكه توبه نه وى نو (فخلو) به نه وى بلكه ﴿ فَاقْتُلُوْا ﴾ به وى او (فاقتلو) په اقاموالصلاة نه دې مرتب بلكه دا علامه د صحيح توبې ده.

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ

اوكه يو تن د مشركانونه امن وغواړي ستا نه، پس امن وركړه هغه ته، تر دې چه واوري كلام د الله تعالى،

ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهٗ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ ۝٦ كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ

بيا ورسوه هغه ځائ د امن دهغه ته، دا پدې وجه چه دوئ داسې قوم دې چه نه پوهيږي. څنګه به وي مشركانو لره [1]

عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ إِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ

لوظ په نيز د الله تعالى او په نيز د رسول د هغه مګر هغه كسان چه لوظ ورسره كړيدې تاسو د مسجد حرام په خوا كښ

فَمَا اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا لَهُمْ

پس تر څو پورې چه دوئ په خپله وعده كلك وى نو تاسو هم ورسره په وعده كلك ووسئ.

إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝٧

بيشكه الله خوښوى متقيان بچ كيدونكى د وعده خلافى نه.

﴿وَإِنْ أَحَدٌ﴾ په دې كښ حكم دمستامن بيانيږي، يعنى كه يومشرك امن طلب كړى نو امن ورته وركړه ددې دپاره چه دالله تعالى كلام واوري ، اودكلام الله نه مراد هغه آياتونه دى چه مشتمل په توحيد اوپه نفى دشبه شبيه دى ياترينه مرادسورت براءت دې ياترينه مرادټول قرآن دې، اود ﴿ حَتّٰى يَسْمَعَ ﴾ نه دا معلوميږى چه مستامن دضرورت نه زيات پريخودل په داراسلام كښ نه دى پكار﴿كَيْفَ يَكُوْنُ ﴾دلته دخلورموانعودقتال رفع اوجواب كيږى ، داداول مانع جواب دې حاصل داچه مونږ څۀ رنګه ددوئ سره قتال اوكړو او حال داچه مونږ ددوئ سره عهدكړيدې، جواب داچه ددوئ عهد قابل داعتمادنه نه دې په نيزدالله تعالى اودرسول څكه دوئ په خپله وعده ماته كړيده،﴿إِلَّا الَّذِيْنَ ﴾ددې نه مراد هغه خلق دى چه دهغوئ سره وعده ميعادى شوې وه اوهغوئ په خپله وعده قائم ووچه هغه بنى ضمره اوبنى مدلج دى.

١ - د خلور موانعو د قتال نه د اول مانع جواب .

كَيْفَ وَإِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ

څنګه به وي اعتبار د لوظ د دوئ او حال دا که دوئ غلبه ومومي په تاسو نو لحاظ نکوي دوئ په تاسو کښ

إِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ۭ يُرْضُوْنَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبٰى قُلُوْبُهُمْ ۚ وَأَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝٨

دخپلولئ او نه د وعدې، رضا کوي تاسو په خُلو خپلو او انکار کوي زړونه د دوئ او ډير د دوئ نه فاسقان دی .

اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ

اغستې دې دوئ په بدله د آیاتونو د الله تعالى کښ عوض لږ پس منع کوی دوئ خلق د لارې د الله تعالى نه،

إِنَّهُمْ سَاۗءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٩ لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ إِلًّا

بیشکه دوئ چه دی ډیر بد دې هغه عمل چه دوئ ئ کوی . لحاظ نکوی دوئ د هیڅ مؤمن په باره کښ د خپلولئ

وَّلَا ذِمَّةً ۭ وَأُولٰۗئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝١٠ فَإِنْ تَابُوْا وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ

اونه د لوظ او دغه کسان هم دوئ دی د حد نه تجاوز کونکی. پس که دوئ توبه وه ویستله او پابندی ئ کوله د مانځه

وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ۭ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝١١

او ورکوۀ ئ زکوۃ نو پس دوئ رونړه ستاسو دی په دین کښ، او په تفصیل سره بیانوو مونږ آیاتونه لپاره د هغه قوم چه پوهیږی.

وَإِنْ نَّكَثُوْٓا أَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْٓا

اوکه مات کړل دوئ قسمونه خپل روستو د کلك والی د هغوئ نه او طعن ئ وکړو په دین ستاسو کښ، پس جنګ کوئ

أَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ إِنَّهُمْ لَآ أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ۝١٢

د مشرانو د کفر سره بیشکه دوئ چه دی نشته دې هیڅ قسمونه د دوئ، لپاره د دې چه دوئ منع شی.

﴿ كَيْفَ وَإِنْ يَّظْهَرُوْا ﴾ دااعاده دپاره دتاکید دحکم ده اوفعل محذوف دې (ای کیف یکون لهم وان یظهروا) ظهورپه معنی دغلبی سره دې ﴿ إِلًّا ﴾ په معنی دقرابت، خپلولئې سره دې لکه دا روایت دابن عباس ﷺ نه دې اودحضرت قتاده نه مروی ده چه داپه معنی دحلف سره

دې او ﴿ذِمَّةً﴾ په معنی دعهد سره دې دلته دمشرکینو قبائح ذکرکیږی یو دا چه ﴿لَا يَرۡقُبُوا﴾ دويم داچه ﴿يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ﴾.

﴿وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ﴾ که څوک **سوال** اوکړی چه کفر اعلی درجه دفسق ده نو ټول کافران فاسقان دی نو اکثرئ ولی اووئیل.

جواب (۱): مراد دفسق نه وعده خلافی کول دی اوبعض کافران وعده خلافی نه کوی (۲) او ابن عباس ﷺ فرمائ چه بعیده نه ده چه بعض کافرانو اسلام راوړې وی اوتوبه ئ کړې وی نوپه دې وجه ئ ((اکثرهم)) اووئیل چه دوئ ددی حکم نه خارج شی﴿ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ﴾دا درېم قباحت بیان دې ﴿فَصَدُّواْ﴾ دالازمی هم راځی یعنی په خپله منع شوی دی دالله تعالی دلارې نه اومتعدی هم راځی یعنی دوئ نورخلق منع کوی دالله تعالی دلارې نه﴿ لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ ﴾ مخکښې آیت کښې (لایرقبو فیکم) وو نوهغه خاص وو، اوپه دې آیت کښې (فى مؤمنٍ) دې، نو داعام دې نو تکرار نشته دې ﴿وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ﴾ دا دڅلورم قباحت بیان دې.

﴿فَإِن تَابُواْ﴾ دا ترغیب دې توبې ته﴿ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم ﴾ دا ضمیرکه راجع وی هغه کفارو ته چه وعده خلافی ئ نه وه کړې نو ،،ان،، په خپله معنی سره دې، یعنی دشک دپاره دې یعنی که چرې بالفرض دوئ خپله وعده ماته کړی نوبیاورسره قتال کوئ، اوکه ضمیرراجع وی هغه کفاروته چه وعده خلافی ئ کړی وه نو (ان) په معنی د (اذا) سره دې څکه چه ان دشک دپاره دې اواذادیقین دپاره دې، اودا آیت دلیل دې په دې خبره چه چاطعن اوکړو په دین اسلام باندې نوهغه کافردې اوکه ذمی یامعاهد طعن اوکړی په دین باندې نودهغه سره امن اوعهد ختم دې، اوطعن دادې چه ددین توهین اوکړی یادقرآن توهین اوکړی یا دَ نبی توهین اوکړی نوقتلولې به شی، اوپه دین باندې طعن کونکو ته ئ ائمه الکفر وئیلی دی څکه چه دا سې خلق دکفربنیاد جوړوی اونورخلق ئ تابعداری کوی،﴿لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ﴾ په وخت دعهدکولو کښې قسم ذکرکیږی نوددی وجې نه أیمان ذکرشو، اول أیمان ثابت شو، اوبیانفی شو څکه چه دوئ اول عهد او قسمونه اوکړل اوبیائ مات کړل نوپه منزله دمعدوم شو. یعنی ددوئ قسمونو لره هیڅ اعتبارنشته.

اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ
ولې جنګ نکوئ تاسو د هغې قوم سره چه مات کړی ئ دی قسمونه خپل او کوشش ئ کړې وؤ د ویستلو د رسول،
وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ اَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ
او دوئ شروع کړې ده په وعده خلافئ ستاسو سره اول ځل، آیا تاسو یریږئ د دوئ نه، پس الله تعالی زیات حقدار دې
اَنْ تَخْشَوْهُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ⑬ قَاتِلُوْهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ
چه دهغه نه یره وکړئ. کچرې تاسو مؤمنان یئ. جنګ کوئ د دوئ سره عذاب به ورکړی دوئ لره الله تعالی
بِاَيْدِيْكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ⑭
په لاسونو ستاسو سره او رسوا به کړی دوئ لره او فتح به درکړی تاسو لره په دوئ باندې، او یخې به کړی سینې دقوم مؤمنانو
وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ
او لرې به کړی غصه د زړونو ددوئ، او مهربانی اورحمت به وکړی الله تعالی (په توفیق د ایمان سره) په هغه چا چه وغواړی
وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ⑮ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تُتْرَكُوْا
او الله تعالی علیم، حکیم دې. آیا ګمان کوئ تاسو چه تاسو به پرېښودې شئ (بغیر د امتحان نه)
وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوْا
او لا تر اوسه پورې ندی ښکاره کړی الله تعالی هغه کسان چه جهاد ئ کړې وی ستاسو نه، اونه ئ وی نیولی
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ⑯
سوی د الله او د رسول دهغه نه او د مؤمنانو نه راز دار دوست، او الله تعالی خبردار دې په هغه عملونو چه تاسو ئ کوئ.

﴿ اَلَا تُقَاتِلُوْنَ ﴾ په دې آیت کښ ترغیب اوتشجیع علی القتال دې په خووجوهاتو سره (١) ﴿ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ ﴾ (٢) ﴿ وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ ﴾ (٣) ﴿ وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ ﴾ (٤) ﴿ اَتَخْشَوْنَهُمْ ﴾.

﴿ قَٰتِلُوهُمْ ﴾ په دې آيت کښې اعلان دقتال دې ، سره دبيان دمنافعو دقتال نه (١)

﴿يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ ﴾مخکينو انبياؤ به دعوت الى الله ورکړو اودالله تعالىٰ پيغام به ئ قوم ته اورسو نوچه هغوئ به سرکشى اختيارکړه نوالله تعالى به په هغوئ اسمانى عذاب راؤليګلو، لکه طوفان ، صيحه ، رجفه، دتورات دنزول نه بعدحکم دقتال راغې نوپه جهاد کښ چه کافران قتلولې شى نوداقتل ددوئ هغه عذاب الهى دې چه په دوئ باندې واقع کيږى په سبب داعراض سره داحکامو دالله تعالى نه نوځکه ئ اووئيل ﴿يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ ﴾

(٢) ﴿وَيُخْزِهِمْ ﴾ ذليل به کړى دوئ لره په قيدکولو سره(٣)﴿ وَيَنصُرْكُمْ ﴾ دکفارو دټولو اسبابو په مقابله کښ به دالله تعالى مؤمنان غالب کړى اوقادربه ئ کړى دهغوئ په قتل اوقيدکولوباندې

(۴) ﴿ وَيَشْفِ ﴾ مراددشفاء نه خوشحالى اوېخ والې دزړونودې چه درمندشوى وو په سبب دظلم دکفارو سره .

(۵) ﴿ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ﴾يعنى لرې به کړى الله تعالى هغه غصه چه دمؤمنانو په زړونوکښ وه په وجه ددې چه کافرانو به دوئ ته تکليفونه رسوّل اودوئ قادرنه وو دهغې په دفع کولو (٦)﴿وَيَتُوبُ اللَّهُ ﴾يعنى الله تعالى به بعض کافرانوته توفيق دايمان ورکړى لکه په فتح مکه کښ ډيرلوئ لوئ کافران مسلمانان شو. ﴿ أَمْ حَسِبْتُمْ ﴾ په دې کښ زجردې مؤمنانوته ، مطلب دادې چه الله تعالى په مؤمنانو دوه قسمه امتحان راولى، يوجهاد اوبل برائت دمشرکينو نه ﴿وَلَمَّا يَعْلَمِ اللهُ ﴾ مراددعلم نه تميز دې﴿وَلَمْ يَتَّخِذُوا ﴾ اى لمايعلم الله الذين لم يتخذوا ﴿وَلِيجَةً ﴾راز دار دوست ته وائى .

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا مَسَٰجِدَ اللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم
ندى مناسب[١] لپاره د مشرکانو چه دوئ آبادوى جماتونه د الله تعالى حال دا چه دوئ اقرار کونکى دى په خپل ځان باندې

١ . د دويم مانع جواب

بِالْكُفْرِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ښ وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ۝ اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ
د کفر. دغه کسان برباد دی عملونه د دوئ. او په اُور کښ به دوئ همیشه وی. بیشکه آبادوی جماتونه د الله تعالی
مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ
هغه څوک چه ایمان لری په الله تعالی اوپه ورځ د آخرت او قائم کوی مونځ او ورکوی زکوة اونه یریږی د هیچا نه
اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰٓى اُولٰۗىِٕكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ۝
سوی د الله تعالی نه پس اُمید دې چه دغه کسان به وی د هدایت والؤ نه.

﴿ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا ﴾ داجواب دې ددویم مانع دقتال نه حاصل داچه چابه داسوال کوؤ چه مشرکان خوخدمت دمساجدوکوی، خصوصاً دمسجدحرام اوحاجیانو ته اوبه ورکوی نوددوئ سره قتال ولې جائزشو، جواب دادې چه ددوئ عملونه ضائع دی دنیک عمل دقبولیت دپاره ایمان شرط دې، ﴿ مَا كَانَ ﴾ په معنی د (مَايَصِحُّ) سره دې اودصحت نه مرادقبولیت دې یعنی مشرکانو ته په تعمیردمسجدثواب نه شی ورکولې. اوپه لفظ دَ ماکان کښ اشاره ده دې ته چه مؤمنان به قدرت نه ورکوی کفاروته دتعمیر دمسجد. ﴿ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ﴾ ددې نه دلفظ دکفر. یادکافر شهادت اواقرار نه دې مرادبلکه هغه اعمال اقوال ښکاره کول مراددی چه هغه کفردې لکه بُتانوته سجدی کول اودهغوئ نه حاجتونه غوختل، اودارنګه دوئ به په خپله تلبیه کښ وئیل : (لبیک اللهم لبیک لاشریک لک الاشریکاً تملکه ومالک). ﴿ اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ ﴾ یعنی دمؤمنانو نه تعمیردمساجدوقبول دې، اومساجد آبادول په دوه قسمه دی یوظاهری آبادول دی داهم عبادت دې اوددېراجر او ثواب وعدی دی پرې، اودویم مساجدآبادول په عباداتو اواعمالو سره دې چه دااصل تعمیر دې اوپه منزله دروح دې اول قسم په منزله دجسددې ﴿ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ ﴾ که څوک سوال اوکړی چه مؤمن خو هم کله دغیرالله نه یریږی لکه دمار. لړم. لیوګانو نه بلکه انبیاؤ ته هم دغیر الله نه خوف راغلې دې. لکه ابراهیم ﷺ فرشتوته اووئیل چه ﴿ اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ ﴾ ، موسی ﷺ اووئیل ﴿ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴾ ، ﴿ فَاَوْجَسَ فِيْ

نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ ﴾ . نو جواب دادې چه داخوف طبعی غیراختیاری دې اوپه دې کښې دمخوف منه تعظیم نه وی، نوداقسم خوف اوخشیة نه دې مراد بلکه خوف . عقلی ،اختیاري، تعظیمی مراددې،﴿ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ ﴾ عسی په کلام الهی کښې دوعدې دپاره استعمالیږی، په دې آیت کښې دمساجدو آبادونکو دپاره ډېره عظیمه خوشخبری ذکرشویده په دې باره کښې ډېر احادیث واردشوی دی منجمله دهغې نه دادې، (١) عن ابی سعیدالخدری ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اذارایتم الرجل یعتادالمسجد. وفی روایةٍ يَتَعَاهَدُ المسجد فاشهدُوا لَهُ بالایمان قال الله تعالی : (انما یعمرمسجدالله من امن — الایه) (٢) وعن انس رضی الله عنه مرفوعًا انماعمار المساجد هم اهل الله (٣) وعن انس مرفوعاً یقول الله اذااراداللہ بقومٍ عاهةٍ نظرالی اهل المساجد فصرف عنهم (٤) وفی روایة عن انس مرفوعًا یقول الله وعزتی وجلالی انی لَاَهِمُّ باهل الارض عذابًا فاِذَا نَظَرتُ الی عمار بُيُوتی و الی المتحابین فِیَّ والی الْمُستغفرین بالاسحار صرفت ذالک عنهم (ابن کثیر) وفی الکشاف (٥) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان بیوتی فی ارضی المساجد وَاِنَّ زَوَّارِیْ فیها عمارها فطوبی لعبدٍ تُطَهِّر فی بیته ثُمّ زَارَنِی فی بیتی فحقّ عَلَى الْمُزَوَّرِ، اَن یکرم زائره، وروی عنه صلی الله علیه وسلم من اَلَّفَ المسجد اَلَّفه الله تعالی وعن انس رضی الله عنه من اسرج فی مسجدٍ سراجاً لم تزل الملئکة وحملة العرش تستغفرله مادام فی ذالک المسجد ضوئه، وروی انه علیه السلام قال من غدا الی المسجد وراح اعدالله تعالی له نزلاً من الجنة کلما غدا و راح، روی انه صلی الله علیه وسلم قال، یاتی فی آخرالزمان ناس من امتی یاتون المساجد فیقعدون حلقا ذکرهم الدنیا وحب الدنیا لاتجالسوهم فلیس لله بهم حاجة، وفی الحدیث، الحدیثُ فی المساجد یاکل الحسنات کماتاکل البهیمةُ الْحَشِيْشَ (السراج المنیر). یعنی په جُمات کښې خبرې کول نیکیانې داسې خوری (ختموی) لکه څناور چه واخه خوری .

أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ
آیا ګرځئ تاسې اوبه څکول په حاجیانو او آبادول د مسجد حرام، په شان د (عمل) دهغه چا چه ایمان لری په الله

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

او په ورځ د آخرت او جهاد کوی په لاره داللہ تعالی کښ، ندی برابر دوئ په نيزد الله تعالی. او الله تعالی هدايت نه کوی

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۞ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ

قوم ظالمانو ته　هغه کسان چه ايمان ئ راوړې دې اوهجرت ئ کړې دې په لاره د الله تعالی کښ په مالونو خپلو

وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۞ يُبَشِّرُهُمْ

او ځانونو خپلو سره لوئ درجې والا دی په نيزد دالله تعالی، اودغه کسان خاص دوئ کامياب دی. زيرې ورکوی دوئ ته

رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۞

رب د دوئ په مهربانی خپلې سره او په رضامندئ خپلې سره، او په جنتونو سره چه دوئ لره به په هغې کښ نعمتونه همېشه وی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۞

همېشه به وی دوئ په هغې کښ همېشه، بېشکه الله تعالی سره دې اجر لوئ.

﴿اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ﴾ دا د ماقبل جواب سره متعلق دې ، په بعضو روایاتو کښ دابن عباس ﷺ نه روایت دې چه هرکله حضرت عباس ﷺ قيد شو په بدر کښ نو (فخراً) ئ اووئيل که چرې تاسو زمونږ نه سبقيت کړې دې په اسلام اوهجرت اوجهاد کښ نو مونږ ستاسو نه سبقيت کړې دې په سقايه الحاج اوتعمير دمسجد حرام کښ نو داآيت نازل شو حاصل ئ دادې چه سقاية الحاج اوتعمير دمسجد خو اګرکه ډېربهترين اعمال دی ليکن ايمان چه نه وی نو دا ضائع دی.

﴿كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ﴾ دلته مضاف مقدر دې ای كعمل من امن ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي﴾ مراد د هدايت نه ثواب ورکول دی، یاترینه مراد پوهه ده دپاره دفرق کولو په مابين دنفع اودضرر د اعمالو کښ

﴿اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا﴾ دا بشارت دې په خووجوهاتو سره (۱) ﴿اَعْظَمُ دَرَجَةً﴾ (۲) ﴿هُمُ الْفَآئِزُوْنَ﴾ (۳) ﴿يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ﴾ (۳) ﴿بِرَحْمَةٍ﴾ (۴) ﴿وَرِضْوَانٍ﴾ (۵) ﴿وَجَنّٰتٍ﴾.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْۤا اٰبَآءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْاِيْمَانِ

اې ایمان والو [1] مه نیسئ پلاران خپل او رونړه خپل دوستان که دوئ غوره کوی کفر په ایمان

وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ

او چا چه دوستانه وکړه د دوئ سره ستاسونه پس دغه کسان خاص دوئ ظالمان دی ته ووایه که وی پلاران ستاسو

وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ اقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ

او خامن ستاسو او رونړه ستاسو او ښځې ستاسو او قبیلې ستاسو او هغه مالونه چه ګټلې ئ تاسو او تجارت

تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

چه تاسو یریږئ د کوته کیدلو د هغې نه او کورونه چه خوښوئ ئ تاسو هغې لره زیات خواږه تاسو ته د الله تعالی نه

وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ

او درسول د هغه نه او د جهاد نه په لار د الله تعالی کښې نو پس انتظار وکړئ تر دې چه را به ولی الله تعالی

بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٤﴾

فیصله خپله ، او الله تعالی توفیق د نیکئ نه ورکوی قوم فاسقانو ته.

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ داجواب دمانع ثالث دې دقتال نه هغه داچه چا به دا **سوال** کوئ چه ددی مشرکانو سره زمونږ خپلولی ده اوصله رحمی ساتل خو واجب دی نوددوئ سره قتال کول څه رنګه واجب شو ، نو **جواب** اوشو چه مشرکان اګرکه خپلوان وی خودوئ په دوستئ سره مه نیسئ، دمشرک سره داسې دوستی چه دهغه تابعداری اوکړې شي یادکفر په کارونو کښې ورسره مدداوکړې شي نوداسې دوستی حرامه ده، داولیاء معنی هم داده.

﴿ قُلْ اِنْ كَانَ ﴾ دادماقبل سره متعلق دې اوزجردې،په بعض روایاتو کښې راغلی دی چه بعض خلقو ایمان راوړې وو اوهجرت ئ نه وو کړې نودوئ اووئیل که مونږ هجرت اوکړو نو زمونږ مال اوتجارت به ضائع شي اوزمونږ کورونه مکانات به خراب شي اوخپلوان به رانه

١ - د دریم مانع جواب

پاتې شي نو دا آیت نازل شو . صاحب. دکشاف وئیلیدی چه دا ډیر سخت آیت دې. هرمسلمان دې خپل ځان سره انصاف اوکړی چه آیا خپل ځان په دین د الله تعالی باندې داسې کلک مومی کوم چه ددی آیت مقتضی ده، علامه شیربینی لیکی چه دا آیت دلیل دې پدې چه هرکله تعارض راشی په مابین دمصلحت ددین اوپه مصلحت ددنیا کښې نوپه مسلمان باندې واجب دی ترجیح ورکول مصلحت ددین ته په مصالحو ددنیا باندې،﴿حَتّٰى يَأْتِيَ اللّٰهُ بِأَمْرِهٖ﴾مراددې نه عذاب دې په دنیا کښې عاجلاً یا اجلاً﴿لَا يَهْدِي﴾ ای لایخلق الهدایة فی قلوب الفاسقین.

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ
خامخا په تحقیق سره امداد کړې دې تاسو سره الله تعالی په ځایونو ډیرو کښې او په ورځ د حنین
اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ
کله چه ښه ولګیدو تاسوته ډیروالې ستاسو پس فائده ئې ورنکړه تاسو ته هیڅ فائده، اوتنګه شوه په تاسو باندې ځمکه.
بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ۝ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ
سره د فراخوالې د دې نه، بیا اوګرزیدئ تاسو د میدان جنګ نه شا کونکی دشمن ته . بیا راوه لیږله الله تعالی
سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ
تسلی دخپل طرف نه په رسول خپل او په مؤمنانو باندې او را وې لیږلې داسې لښکری چه نه لیدلې تاسو
وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ وَذٰلِكَ جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ ۝ ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ
اوعذاب ئې ورکړو کافرانو لره او دا سزا دکافرانو ده . بیا به مهربانی وکړی الله (په توفیق درکولو د توبې سره)
مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَلٰى مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝
روستو د دینه په هغه چاچه وغواړی ، او الله تعالی بښونکې ، رحم کونکې دې

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ﴾ دا ترغیب دې جهاد ته په بشارت ورکولو سره او اشاره ده دې ته چه په جهاد کښې اعتماد په خپل کثرت باندې مه کوئ بلکه صرف په الله تعالی توکل کوئ.

اولام په (ولقد) کښې موطئه للقسم دی(ای والله لقد – الخ) او ﴿مَوَاطِنَ﴾ جمع د موطن دی. موطن هغه موضع ته وائی چه سړی قیام کوی په هغې کښې. دلته ترینه مراد مواطن الحرب یعنی مقامات اومواقف دحرب دی ﴿وَيَوْمَ حُنَيْنٍ﴾ داعطف الخاص علی العام دې اوددې ذکرئ ددې وجې نه اوکړو چه په جنګ حنین کښې داسې تعجب خیزمددونه اوفتح روستو دشکست نه راغله چه دشمنان هم ددې په اقرارکولو مجبور شو ، علامه زمخشری وئیلی دی (وتبعه صاحب الجلالین) چه د (وَيَوْمَ حُنَيْنٍ) دپاره عامل مقدرکول ضروری دی چه(اذکروا یوم حنین)، یا (ونصرکم یوم حنین)، ددې دپاره چه دامستقل جمله شی، ځکه که چرې مستقله جمله نه شی نوددی سره خوداقید (بدل) لګیدلې دې ﴿إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ﴾ نوچه دامستقله جمله نه شی نوواجبه ده چه دا قید به دماقبل سره هم ولګی چه ﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ﴾ دې ، اوحالانکه چه په مواطن کثیرة کښې اعجاب نه وو ، اونورعلماء دا. قانون نه تسلیموی چه کوم قید دکلام په آخرکښې راشی نوهغه به داول دکلام سره لګی نوددی وجې نه هغوئ ددی دپاره عامل نه مقدرکوی.

حُنین، دمکی اوطائف په مینځ کښې وادی ده، په دې کښې دهوازن اوثقیف قبیلوسره مقابله شوی وه، چه دهغې تفصیل اهل سیروکړیدې ، مختصره خلاصه دهغې داده چه سنه ۸ هـ کښې چه هرکله مکه معظمه فتح شوه، نوهوازن ثقیف ، چه ډیر بهادر، په غشو ویشتلو کښې ډیرماهروو، دوئ داخیال اوکړو چه مکه معظمه فتح شوه نواوس به رسول پاک صلی الله علیه وسلم اوصحابه زمونږ طرف ته توجه کوی اوپه مونږ به حمله کوی نوبهتره داده چه مونږ ابتداء اوکړو اوپه مسلمانانو حمله اوکړو، ځکه چه ددوئ تروسه پورې دداسې خلقوسره مقابله راغلې ده چه دجنګ په طریقه اوپه غشو ویشتلو نه پوهیدل نوځکه ئ فتح کړې ده اوکه ددوئ زمونږ سره مقابله راشی نوشکست به اوخوری، اوپوهه به شی، چه صرف مونږ رجال یو، چنانچه دوئ په ډیرجوش خروش اواتفاق اتحادسره راجمع شو، اوخپل بچی ښځې مالونه، اوښان، بیزی، هرڅه ئ دکورونونه میدان ته راؤباسل ، ددی دپاره چه دمیدان جنګ نه دچاکورته دتللوخیال پیدانه شی، نبی ﷺ ته چه دااطلاع ملاؤشوه . نو بعض صحابه ئ دحالاتو معلومولودپاره اولیګل هغوئ چه واپس راغلل نودائ اووئیل چه هوازن ثقیف سره دمالونه اولادونه دمقابلی دپاره راوتلې دی، نونبی ﷺ اوفرمائیل،

(تلک غنیمة المسلمین غداً انشاء الله) نبی ﷺ دولس زره لښکر تيار کړو په دې کښې لس زره هغه انصارمجاهدين صحابه وو چه دفتح مکې دپاره راغلی وو، اودوه زره دمکې نوی مسلمانان وو چه هغوئ ته طلقاء وئيلې شی، په دوئ کښې ضعيف الايمان دادابونه بې خبره کسان وو، بلکه بعض په دوئ کښې داسې کسان وو چه سرسری طورباندې په اسلام کښې داخل شوی وو ليکن په زړه کښې ئ ايمان نه ووراسخ، اودوئ سبب دهزيمت گرزيدلې وو. نوپه دې موقعه باندې چه هرکله مسلمانانو خپل کثرت اوقوت اوليدو نواوئ وئيل لَنْ نُغْلَبَ الْيَوْمَ مِنْ قِلَةٍ، مسلمانان په دې موقعه دولس زره وو چه ددې نه مخکښې دومره ډيرتعداد په جنگ کښې نه وو برابرشوی اودکفاروتعدادخلورزره وو، ددی کلام نه يونوع فخرپه خپل کثرت اوقوت معلوميږی، اوالله تعالی ته دبنده دعاجزی اظهار خوخ دې، اودغه کلام اگرکه صحابؤ په طريقه دفخر اوکبرسره نه وو وئيلې ليکن فخر ترينه معلوميږی اوپه قانون د حسنات الابرار سيئات المقربين، سره دخواصوخلقو په معمولی اوادنی لغزش سره گرفت کيږی ، نوددې وجې نه الله تعالی مسلمانانوته وقتی شکست ورکړو، چه داددوئ دپاره تربيت دې دحضرت براء بن عاذب رضی الله عنه نه روايت دې چه هرکله اول جنگ شروع شو نوکفاروته شکست ملاؤ شو اومسلمانان دَ مال غنيمت په جمع کولوباندې مشغول شو، نوکفارو چه دوئ ته پټ په مورچوکښې ناست وو نوپه دوئ باندې ئ دغشو باران شروع کړو نودوئ پريشان اومنتشر شو، اول نومسلم، طلقاء دميدان نه اوتختيدل ، بيانور صحابه رضی الله عنه هم ورنه وروسته شو، حتی چه په ميدان کښې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره صرف اتيا (۸۰) يا سل (۱۰۰) کسان پاتې شو او نبی کريم ﷺ په ميدان کښې نهايت په حوصله او جرئت سره ولاړوو، او دسورلئ نه راکوزشو، اوفرمائيل ئ : اناالنبی لاکذب اناابن عبدالمطلب، صحابؤ ته ئ آوازاوکړو: اِلَیَّ عِبَادَاللہ ! اوحضرت عباس رضی الله عنه چه ډير جهيرالصوت وو هم صحابؤ ته ئی آواز ورکړو نوټول دپتنگانوپه شان شمع رسالت ته راجمع شو. اونبی ﷺ ديوموټی خاورې په لاس مبارک کښې راواخستلې او دکفاروطرف ته ئ اوويشتلې (شاهتِ الوجوه)، ئ اووئيل نودټولوکفارو په سترگو کښې هغه اولگيدلې اوالله تعالی دمؤمنانو دامداداوتقويت دپاره فرشتې راؤليګلې کفاروشکست اوخوړ، ۷۰ کسان ترينه قتل کړې شو، اومشران، ليډران اوتختيدل طائف ته لاړل، اوشپږ زره ترينه قيدکړې

شو. چه په هغې کښې زنانه اوماشومان هم وو، اوڅلويريشت زره اوښان اوڅلويښت زره بيزې اوڅلورزره اوقيه ترينه په مال غنيمت کښې واغستې شوې.

﴿ ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ ﴾په رسول ﷺ باندې په دې جنګ کښې څه اضطراب اوپريشاني نه وه راغلې، صرف دملګرو دتللو دوجې نه ورته خفګان پريشاني وه نودلته دنزول دسکينه نه دامراددې چه ملګرې واپس شو ميدان جنګ ته ، اومؤمنانوته پريشاني دخپل شکست ليدلوپه وجه وه، او دميدان جنګ نه تختيدلې وو، ﴿وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ مراددې نه قتل کول اوقيد کول دی،﴿ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ ﴾داحکايت دحال ماضيه دې دپاره ددې چه راتلونکې زمانې ته هم شامل شي، نو (يَتُوبُ) په معنی دماضی سره دې، هوازن ثقيف چه شکست اوخوړنو لاړل طائف ته اوهلته دهغوئ په محکم قلعه کښې ننوتل، نبی صلی الله عليه وسلم دطائف محاصره اوکړه، پنځلس ياشل ورځې دغه محاصره جاري وه، طائف والاؤ ته به ئ دمقابلې ته راوتلو دعوت ورکوؤ ليکن هغوئ باهرته نه راتلل،غشی به ددواړوطرفونه ويشتلې کيدل ليکن دباقاعده جنګ نوبت رانه غلو، صحابهٔ کرامو عرض اوکړو چه يارسول الله دوئ ته ته بددُعا اوکړه ليکن نبی ﷺ دوئ ته دهدايت دُعااوکړه اومکې ته واپس روان شو دجعرانه مقام نه ئ عمره اداکړه اوتقسيم دغنائمو اوشو، نو د هوازنو دخوارلسو مشرانو وفد حاضرشو اوعرض ئ اوکړو چه يارسول الله ﷺ مونږ په اسلام کښې داخل شوي يو اودرخواست ئ اوکړو چه زمونږ سره احسان اوکړئ اومالونه اوقيديان مونږ ته واپس کړئ ، نونبی ﷺ دوئ ته اوفرمائيل چه څما اوڅمادخاندان حصه به زه تاسو ته واپس کړم ليکن ماسره دانورصحابهٔ کرام رضی الله عنهم دی چه تاسو ئ وينئ نودهغوئ نه څه ددواړوڅيزونو (مال، قيديان) دواپس کولو مطالبه مناسب نه ګنړم نو تاسواختيارکړئ يوڅيز، يامال ، ياقيديان نوزه به دهغوئ نه طلب اوکړم نودوئ قيديان خوښ کړل نونبی ﷺ صحابه رضی الله عنهم راجمع کړل، اوترغيب ئ ورکړوچه داستاسوورونړه تاسوته راغلی دی اوپه اسلام کښې داخل شوی دی دکفرنه ئ توبهٔ کړې ده، نوڅماراي داده چه دوئ ته ددوئ قيديان واپس شي نو که څوک دزړه په خوشئ سره تياروی نوډيره څه اوکه نوی تيارنو هغه دې هم خپله حصه،(قيدی) راکړی اوددې نه بعد چه اول مال فئ مونږ ته په لاس راشی نوهغه ته به معاوضه ورکړې شي، نوصحابه کرامو په جمع سره اجازت ورکړو، ليکن مجمع چونکه ډيره زياته وه نونبی ﷺ د احتياط دپاره اوفرمائيل چه په تاسوکښې کوم عرفاء (ملک، چودهری) دی هغوئ دې دخپل

قوم دهرهرکس نه تحقیق اوکړی اواجازت دې واخلی بیادې ماته حال بیان کړی نوهغوئ دتحقیق نه بعدنبی صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه ټول دزړه په خوشئ سره اجازت ورکوی نودوئ ته قیدیان واپس کړې شو اودوئ په اسلام کښې داخل شو اودنبی ﷺ ددعاءقبولیت ظهورراوشونو په دې آیت کښې ((ثم يتوب الله)) دیته اشاره ده

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ
اې ایمان والو ! بیشکه مشرکان پلیتان دی پس نه دې نزدې کیږی مسجد حرام ته روستو د دې کال نه
وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ۭ
اوکه تاسو یریږئ [1] د فقر نه نو پس زر ده چه مالدار به کړی تاسو لره الله تعالی د خپل فضل نه که وغواړی.
اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۞ قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ
بیشکه الله تعالی علیم، حکیم دې . جنګ کوئ دهغه کسانو سره [2] چه ایمان نه لری په الله تعالی باندې [3]
وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ
اونه په ورځ د آخرت باندې او حرام نه ګنړی [4] هغه شې چه حرام کړې دې الله اورسول دهغه اونه قبلوی دین حق
مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ۞
دهغه کسانو نه چه ورکړې شوې دې دوئ ته کتاب، تر دې چه دوئ ورکړی جزیه په خپل لاس او دوئ به ذلیلان وی.

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ﴾ دادبراءت دبل صورت ذکردې په دې کښې ترقی ده دماقبل نه یعنی دمشرکینو سره معاهده ختم کړئ اوحرم ته ئ مه پریګدئ ، ځکه چه دوئ نجس دی، احناف اودارنګه نورډیرعلماء داوائ چه دمشرکینو نجاست، معنوی دې نولهذاکه چرې

---

۱ - د څلورم مانع جواب .

۲ - د رفع د موانعو نه بعد د دعوې ذکر په تفصیل سره او د قتال شپږ وجوهات .

۳ - اوله وجه : یعنی شرك اعتقادی کوی.

۴ - دویمه وجه یعنی شرك فعلی کوی .

ددوئ په جسم باندې حسي نجاست نه وي نوددوئ داخليدل مسجدحرام ته يامسجدنبوي ته يابل مسجدته په اجازت سره جائزدي، اوامام مالک رحمه الله وائ چه دمشرک داخليدل هيڅ يومسجدته جائزنه دی. ځکه چه دوئ نجس دی، امام شافعي رحمه الله وائ چه دمشرک داخليدل صرف مسجدحرام ته منع دی نورومساجدو ته جائزدی، احناف ددی آيت نه داجواب کوی چه ددی مطلب يادادې چه داپيشين ګوئ ده چه دمشرکانو تسلط دحرم نه ختم شو. يادامطلب دې چه مشرکان به ددې نه بعدپه مشرکانو طرزوطريقه سره حج عمره نه اداکوی، دليل ئ دادې چه نبی ﷺ په سنه ۹ هـ کښ دحضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه په امارت کښ، حضرت علی رضی الله عنه اونورصحابه حرم ته اوليګل چه هغوئ دسورت براءت اول آياتونه خلقوته واؤروی اوداعلانات اوکړی، الالايحجن بعدالعام مشرک ولايطوفن بالبيت عريان، ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً﴾ په دې کښ جواب دې دځلورم مانع دقتال نه، **سوال** داوؤ چه زمونږ تول تجارت دمشرکانو سره دې اوپه مواسمو الحج کښ دوئ مالونه دتجارت راؤړی نوکه مونږ ددوئ سره قتال کړو اودحرم نه ئ منع کړو نوتجارت به بندشی اومونږ به دغربت اوافلاس شکارشو، اوحاصل دجواب دادې چه دمشرکانوسره قتال کوئ اودحرم نه، ئ منع کړئ اوپرواه مه کوئ الله تعالی به دبل طرف نه څه سبب جوړکړی ځکه چه غريبي مالداری دبندګانو په اختيارکښ نه ده بلکه صرف دالله تعالی په اختيارکښ ده چنانچه ددې نه بعد الله تعالی ډيرعلاقوملکونو ته په اسلام کښ دداخليدو توفيق ورکړو لکه نجد، قباله . جرش، اوتجارت دمخکينۍ نه په چندانو زيات شو اوبارانونه به کثرت سره اوشول اومالی وسعت الله تعالی راوستلو، ﴿قَٰتِلُوا۟ ٱلَّذِينَ﴾ درفع دموانعونه بعددسورت دعوی په تفصيل سره ذکرکيږی، اودفرقومقاتلينو دچاسره چه قتال کيږی، ذکردې اودقتال دپاره داووه وجوه ذکرکيږی (۱) ﴿لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ﴾ يعنی دوئ په الله تعالی اوپه ورځ دآخرت ايمان نه لری، يعنی څوک چه دالله تعالی په توحيدايمان نه لری، بلکه مشرک وی دهغه سره قتال کوی (۲) ﴿وَلَا يُحَرِّمُونَ﴾ يعنی ځکه ورسره قتال کوئ چه دوئ شرک فعلی کوی (۳) ﴿وَلَا يَدِينُونَ﴾ يعنی ځکه ورسره قتال کوئ چه دوئ دين حق نه قبلوی ﴿حَتَّىٰ يُعْطُوا۟ ٱلْجِزْيَةَ عَن يَدٍ﴾ يعنی دوئ به جزيه په خپل لاس ورکوی دنوکر يادبل چا په واسطه به ئ نه ورکوی، او د اعلامه دزلت ده.

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ۨابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ

او وائ يهوديان[1] عزير خوي د الله تعالى دي او وائ نصارى چه مسيح (عيسى) خوي د الله تعالى دي دا وينا د دوئ ده

بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ يُضَاهِـُٔوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۭ

په خلو د دوئ (يعني بې دليله) مشابهت کوی د قول دهغه کسانو سره چه کفر ئ کړي دي د دوئ نه مخکښ.

قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۡ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٠﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ

لعنت دې وکړی په دوئ الله تعالى، څنګه اړولي شي دوئ د حق نه جوړ کړی دی دوئ خپل ملايان[2] او پيران

اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ

خپل خدايان (اختيارمندان د احکامو د حلالو او حرامو) سوی د الله تعالى نه او مسيح خوئ د مريم

وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ

دوئ ته حکم نه وو کړي شوي مگر د دې چه دوئ دې عبادت کوی صرف د يو اله. نشته دې لائق د بندګی

اِلَّا هُوَ ۭ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٣١﴾ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِــُٔـوْا

سوی د هغه نه پاک دې الله تعالى دهغه نه چه دوئ ورسره څه شريک جوړوی . کوشش کوی دوئ چه مړه کړی

نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٣٢﴾

رڼا د الله تعالى په خلو خپلو سره اونه قبلوی الله تعالى مگر دا خبره چه پوره کړی رڼا خپله اګر که بد ئ ګڼړی کافران

هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ

الله تعالى هغه ذات دې چه را ليګلې ئ دې رسول خپل په هدايت سره او په دين حق سره د دې لپاره چه غالب ئ کړی

1- خلورمه وجه : يعني حضرت عزير عليه السلام او حضرت عيسى عليه السلام د الله تعالى نائب او مصرف في الامور او په خدائ صفاتو سره ئ متصف ګڼړی.

2- د قتال پنځمه وجه .

عَلَى الدِّيۡنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوۡ كَرِهَ الۡمُشۡرِكُوۡنَ ۝

په ټولو دينونو باندې، اګر كه بد ئ ګڼړي مشركان

(۴) ﴿ وَقَالَتِ الۡيَهُوۡدُ ﴾ دا څلورمه وجه د قتال ده يعنى څكه ورسره قتال كوى چه يهوديان عزير ﷺ ته ابن الله وائ اوعيسائيان حضرت عيسى ﷺ ته ابن الله وائ ، د (ابن) نه جسمانى (ابن) نه دې مراد بلكه مراددادې چه دوئ وائ چه حضرت عزير ﷺ اوحضرت عيسى ﷺ دالله تعالى داسې محبوب دى چه دوئ دالله تعالى نائبين اومتصرف فى الامور دى، په يهودو او نصارىٰ كښې دعواموعقيده دا وه چه حضرت عيسى ﷺ اوحضرت عزير ﷺ حقيقةً څامن د الله تعالى دى او د خواصو عقيده دا وه چه دوئ په شانته د د نازولو څامنو دى چه پلار د هغوئ خبره منى او هغوئ ته ئ اختيارات حواله كړى وى.

﴿يُضَاهِـُٔوۡنَ ﴾ يعنى دوئ مشابهت كوى دقول دهغه كسانو سره چه كفرئ كړيدې ددوئ نه مخكښې، ددې نه مراد يامشركان دى چه ملائكو ته ئ بنات الله ويل ياترينه د دوئ آبا.

واجدادمراددى يعنى دوئ دخپلو آباؤ اجدادوتقليد كوى، ﴿قَـٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ﴾ يعنى الله تعالى دې په دوئ باندې لعنت اوكړى.

(۵) ﴿ اتَّخَذُوۡٓا ﴾يعنى څكه ورسره قتال كوئ چه دوئ خپلو احبارورُهبانو ته ارباب، رب، وئيلى دى، مرادترينه دادې چه دوئ داحبارو رُهبانو اطاعت كوى په تحريم اوپه تحليل كښې لكه په روايت دترمذى وغيره كښې دى چه عدى بن خاتم اووئيل يارسول الله مونږ خواخباراورهبانو ته رب نه دى وئيلى، نونبى ﷺ ورته اوفرمائيل چه آيا ،داسې نه وه چه هغوئ به تاسو ته يوشئ حرام كړو، نواګركه الله تعالى به حلال كړې وو نوآياتاسو ته به ورته حرام نه وئيل ؟يابه يوشئ الله تعالى حرام كړې وو ليكن چه اخبارورهبانو بهٔ ورته حلال اووئيل نوآياتاسو به حلال نه ګڼړلو، نودوئ اووئيل چه هو؟ نونبى صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل چه هم دامطلب دې د ﴿ اتَّخَذُوۡٓا ﴾ يعنى دالله تعالى دحكم په مقابله كښې دخپل څان دطرف نه تحريم تحليل كول يابل څوک مالک دتحليل اودتحريم ګڼړل، شرک دې.

احبارجمع دحِبر (بالكسر) يادحَبر(بالفتح) ده ماخوذدې د (تحبير المعانى بحسن البيان) نه يعنى داسې عالم چه دمعانيو نه تعبير په خائسته طريقى سره كوى، اطلاق ئ په لغت كښې

هرجيدعالم كيدې شي لكه ابن عباس ﷺ ته حبر الامت لقب وركړې شوې دې. او **رُهبان جمع** راهب ده په لغت كښې هغه چاته وئيلې شي چه داسې يره كوى دالله تعالى نه چه ظاهروى اثرد خوف په چهره اولباس دده باندې. اوپه عُرف كښې اطلاق د احبارو په هغه عالم ديهوديانو باندې كيږى چه داولاد دهارون ﷺ نه وى. په دې آيت كښې اضافت داحبارو اورهبانو ضمير ددوئ ته شوې دې (يعنى احبارهم ورهبانهم) نومعلومه شوه چه مرادترينه احبارسوء اورهبان سوء دى،،ناكاره علماء ناكاره پيران،.

فايده ددې نه معلومه شوه چه دالله تعالى اودرسول الله ﷺ دصريح حكم په مقابله كښې بل څوك مالك اواختيارمند دتحليل اودتحريم يادبل حكم، گنړل شرك دې دې ته شرك فى الحكم اوشرك فى التشريع وئيلې شى، لكه دلالت كوى په دې باندې داقول دالله تعالى ﴿سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾ نوبعض متعصب اوجاهلان غيرمقلدين دائمو تقليد ته شرك فى التشريع وائ، ځكه چه مجتهدينو امامانو دحديث خلاف حكم بيان كړې وى اومقلدين ئ تقليدكوى. داقسم خيال اوعقيده ساتل مبنى دى په محض جهالت اوبې وقوفئ باندې، ځكه چه په كومه مسئله كښې چه دامامانو مجتهدينو اختلاف راغلې وى نودهغې بنياد داوى چه يومسئله كښې به مختلف احاديث واردوى ،لكه رفع اليدين اوترك ئ، نوهرمجتهد دترجيح دپاره څه اصول مقرركړې وى نوبعض احاديثولره ترجيح وركوى. اونورمتروك العمل گرزوى نودلته نه دالله تعالى اودرسول دحكم خلاف وى اونه تشريع وى بلكه مجتهد تشريح كړې وى چه دغه تشريح دخيرالقرون وى، دغيرمقلدينو دراى خلاف چه دوئ ته صحيح حديث ياآيت يادخيرالقرون تشريح پيش كړې شي نودوئ دحديث نه انكاركوى او دخيرالقرون تشريح ته دحديث خلاف وائ، حالانكه دوئ په خپله هم په متعارض احاديثوكښې ديوحديث خلاف ضروربالضرور كوى ، اودخپل رائ دخلاف حديث ته بلكل التفات نه كوى، فالى الله المشتكى ﴿وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ﴾ داىٔ دماقبل نه جدا ذكر كړو ځكه چه داشرك فى الالوهية دې اوپه ماقبل كښې دشرك فى التشريع بيان وو. ﴿يُرِيدُونَ﴾ يعنى دوئ كوشش كوى ﴿أَن يُطۡفِـُٔواْ﴾ داطفاء،نه مراددراوتكذيب دې او د ،نور، نه مراد حجج اودين دالله تعالى دې يعنى ددين تكذيب اوانكاردوئ خپل مقصدگرځولې دې، ﴿بِأَفۡوَٰهِهِمۡ﴾ نه مراددادې چه په شبهاتو واهيؤ سره اوپه دروغو پروپيگنډو سره د دين رد او تكذيب كول غواړى، دا تمثيل دې چه دوئ په خپلو شبهاتو

واهيۍ سره او په دروغو پرپيګنډو سره داسلام ختمول غواړي نومثال ئ داسې دې لكه يوبې وقوف چه دنمر يا سپوږمۍ رڼا په پوكلو سره مړه كوي، ﴿وَيَأْبَى اللَّهُ﴾ ليكن دالله تعالى وعده ده چه دانورهدايت به هركچه پوخ كورته رسوي اګركه كافران پرې ډيرغصه كيږي﴿ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ ﴾په آيت كښ الله تعالى په خپله دنبي ﷺ صداقت اولوئ شان بيانوي ﴿بِالْهُدَى ﴾ددې نه مراد قرآن دې ياصول عقائدمراددى ﴿وَدِينِ الْحَقِّ ﴾ددې نه مراددين.اسلام دې يافروع، احكام دى ﴿لِيُظْهِرَهُ﴾ دظهور نه مراد غلبه ده يعني چه دين حق غالب كړي په ټولو اديانو،او داغلبه په اعتبار ددليل سره په هره زمانه كښ ده اوپه اعتبار دتسلط سره په زمانه دنبي ﷺ اوصحابۇ كښ هم وه چه دين اسلام باوجود دبې سروسامانۍ نه غالب شو په يهوديت ، اونصرانيت ، اودجزيرة العرب نه يهود نصارى اوشړلي شو اودارنګه په مشركينو ، بت پرستانو غلبه راغله اوپه مجوسو غلبه اوشوه، غرض داچه د نبي ﷺ اوصحابۇ زمانه كښ هردين اوهرطاقت ددين اسلام په مقابله كښ مغلوب شو،اوهم دارنګه به په زمانه دنزول دعيسى ﷺ كښ دين اسلام غالب كيږي په اعتباردتسلط سره په هرطاقت باندې اوهر طاقت اوهردين به داسلام په مقابله كښ نيست نابود كيږي.

اوباقي په هردوركښ دغلبې دپاره شرط دادې چه مسلمانان په اصولو داسلام پوره پوره پابندوي اودايمان اودتقوى په لاره باندې مضبوط وي اوپه جهاد باندې ثابت قدم وي نوداشرط.چه په هره زمانه كښ موجودشي نوغلبه به ملاويږي اودابن عباس رضى الله عنه نه روايت دې چه ضمير په ﴿لِيُظْهِرَهُ ﴾كښ راجع دې نبي ﷺ ته اودظهور نه مراد علم دې اى لِيُعَلِّمَهُ شرائع الدين كلها، يعني چه علم وركړي نبي ﷺ ته په ټولوشرائعوداسلام.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ
اې ايمان والو [1] بيشكه ډير د ملايانونه او د پيرانونه، خامخا خوري مالونه د خلقو په ناروا طريقې سره
وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا
او خلق منع كوي د لارې د الله تعالى نه اوهغه كسان چه جمع كوي سره زر او سپين زر اونه خرچ كوي دا

1 - د قتال شپږمه وجه .

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ يَّوْمَ يُحْمٰى
په لارې د الله تعالى كښې. پس زيرې وركړه دوئ ته په عذاب دردناك سره په هغه ورځ چه گرم بل كړې شى
عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ؕ
پدې باندې اُور په جهنم كښې پس داغلې به شى پدې سره تندى د دوئ او اړخونه د دوئ او شاگانى د دوئ.
هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ۝
او ويلې كيږى به دوئ ته چه دا هغه شې دې چه تاسو جمع كړې وؤ د خپل ځان لپاره پس وڅكئ مزده هغه څه چه تاسو جمع كول

(۲) ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ﴾ داشپږمه وجه دمشروعيت دقتال ده يعنى قتال ورسره څكه كوئ چه په دوئ كښې دوه ډيرعظيم نقصانونه دى اول داچه داخلقونه مالونه په حرامه طريقه سره اخلى، احبارو يعنى ددوئ ملايانو به په رشوت اوپه تغيركولو دحكم دكتاب سره دخلقو نه مالونه اخستل اورهبانو به په نذرلغيرالله او په ناجائزو دمونودخلقو نه مالونه اخستل.

دويم داچه دوئ خلق دالله تعالى ددين او دتوحيد نه اودايمان باالله نه منع كول. نوگوياوئ دمال ډكوان هم دى اودايمان ډاكوان هم دى، داقسم مضر خلق نن صباپه دې امت كښې په كثرت سره موجوددى (فالى الله المشتكى) حضرت عبدالله بن مبارك رحمه الله وائ . وهل افسدَالدينَ الاالملوكُ واحبارُ سوء ورُهبانها. يعنى ددين دفاسدولو اوخرابولو دپاره درې فرقى لوئ سبب اولويه ذريعه ده (۱) گمراه بادشاهان اومالدارطبقه، (۲) علماء سوء (۳) رهبان سوء يعنى گمراه پيران، ، ددى اخيرى دوو طبقو ذكر په ماقبل كښې اوشو اوداول طبقې ذكرپه راتلونكى حصه دآيت كښې دې، ﴿وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾ په دې كښې دهغه خلقو دانجام بيان دې چه مال ئ اگركه په حلاله طريقه سره جمع كړې وى ليكن زكوة ئ نوئ ادا كړې، نو چه څوك د خلقُ نه مال په دهوكې اوغلطه طريقه سره اخلى ، اوخلق دحق نه منع كوى نودداسې نذرانو ، شكرانو جمع كونكو به څه حال وى ﴿وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا﴾ ضمير دها يا راجع دې (فضه) ته اوهغه مفرد مؤنث دې او (ذهب) پرې قياس دې، ياضميرراجع دې (كنوز) ته يا اموالو ته چه دماقبل نه معلوشويدى يا دا چه مراد د ذهب او فضّه نه دنانير ، دراهم دى ، جنسين

ندی مراد. ﴿ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا ﴾ ضمیرد (علیها) اود(بها) راجع دی (کنوز) ته اواموالوته. او(علیها) نائب فاعل دیحمی دې په اصل کښې دا (یوم تُحمی النارُعلیها) وو. نوبیاچه اسناد د (تحمی). (علیها) ته اوشو یعنی جارمجرور ته نو (النار) حذف شو اوصیغه دمؤنث په مذکرسره بدله شوه. اومراد د ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ ﴾او د ﴿وَلَا يُنفِقُونَهَا﴾ نه زکوة اونورمالی واجبات نه ورکول دی اوداقول دجمهورو صحابؤ دې سوی دابوذر رضی الله عنه نه. دلیل دجمهوروحدیث دابوداؤد وغیره دې چه هرکله داآیت نازل شو نو داحکم ګران شو په مسلمانانو. نوحضرت عمر ﷺ اوفرمائیل : (أنا أفرّجُ عنکُم) نوتپوس ئې اوکړو دنبی ﷺ نه نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه الله تعالی زکواة نه دې فرض کړې مګرددې دپاره چه پاک کړی مابقی دمال ستاسونه. اودابن عمررضی الله عنه نه روایت دې چه دکوم مال نه زکواة اداکړې شی نوهغه کنز نه دې. ﴿فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ ﴾ یعنی داغلې به شی په دې سره تندی ددوئ اوږه دئ ددوئ اوشاګانې ددوئ تخصیص ددی څلوروځکه شویدې چه دډیرمال جمع کونکی مقصد دډیرمال نه یوخپل جاه اوجلال څکاره کول وی خلقوته ،نوددی سزا داشوه چه تندی به ئې په دغه مالونو خزانوسره اوداغلې شی نوذلت اورسوائ به ئې څکاره شی اوبل مقصدئ څه څه عمده او دفخر خوراکونه وی اوبل مقصدئ دفخرلباس اغوستل دی، نوددی دواړو سزاداشوه چه جنبین (اړخونه) به ئې داغلې شی چه دفخر په خوراکونوسره ئې خیټه ډکه کړی وه، اودفخر په لباس سره ئې خپله شا خائسته کړې وه، یاوجه دتخصیص داده چه حریص دمال چه کاله فقیر سائل وینی نوتندې تریو کړی اوچه فقیرورسره کینی نودې دده (اړخ) تاؤکړی اوبیاشا اوګرځوی، اوبعض وائ چه داجهات اربعه (څلورطرفونه) کنایه ده، دټول بدن نه، ﴿هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ ﴾ ای یقال لهم هذاما – الخ.

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ
بیشکه شمیره د میاشتو [1] په نیزد الله تعالی دولس میاشتې دی په حکم د الله تعالی کښ د هغه ورځې نه

1 - د قتال اورمه وجه.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَاۤ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ۙ۬ فَلَا تَظْلِمُوْا
چه پیدا کړی ئې دی آسمانونه او ځمکه، د هغې نه څلور میاشتې د عزت دی. دا دین کلك دې پس ظلم مکوئ
فِیْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِیْنَ كَآفَّةً كَمَا یُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ؕ
بدې میاشتو کښې په نفسونو خپلو. او جنګ کوئ د مشرکانو ټولو سره لکه چه جنګ کوی دوئ ستاسو ټولو سره.
وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِیْنَ ۞ اِنَّمَا النَّسِیْٓءُ زِیَادَةٌ فِی الْكُفْرِ
او پوهه شئ چه بیشکه الله تعالی خاص ملګرې دمتقیانو دې. بیشکه روستو کول د حرمت د یو میاشتې زیاتوالې دې په کفر کښې.
یُضَلُّ بِهِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا یُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّیُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا
زیات ګمراه کولې شی په دې سره کافران حلال ګڼری دوئ هغه یو کال او حرامه ئې ګڼری بل کال
لِّیُوَاطِـُٔوْا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فَیُحِلُّوْا مَا
د دې لپاره چه پوره کړی دوئ شماره د هغه میاشتو چه حرامې کړی دی الله، پس حلالوی دوئ په دې طریقه سره هغه میاشتې
حَرَّمَ اللّٰهُ ؕ زُیِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الْكٰفِرِیْنَ ۞
چه الله تعالی حرامې کړی دی. ښائسته کړې شوی دی دوئ لره بد عملونه د دوئ او الله تعالی هدایت نه ورکوی قوم کافرانو ته.

﴿اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ﴾ داومه (۷) وجه دمشروعیت دقتال ده، یعنی قتال ورسره څکه کوئ چه دوئ دالله تعالی په ازلی قانون کښې ردوبدل راوستې دې، الله تعالی دابتداء افرینش دمخلوق نه داسمانونوحرکت اودنمرسپوګمئ دورې په داسې اندازه مقررکړې دی چه کال دولس میاشتې دې، په دې کښې څلور میاشتې اشهرحرم دی، اهل عرب دحضرت ابراهیم علیه السلام اودحضرت اسماعیل علیه السلام دزمانې نه په دې قانون قائم وو، بیا چه کله په دوئ کښې درندګی اوظلم زیات شو، نودوئ په دې قانون کښې ردوبدل شروع کړو، کله به ئې جنګ شروع کړو نولس میاشتې به تیرې شوې نودوئ به اعلان اوکړو چه کال به دې وارې څوارلس میاشتې وی اوکله به په محرم کښې دقتال کولوخواهش وو نواعلان به ئې اوکړو چه دې کال به محرم روستورازی اوصفربه مخکښې رازی، دیته (نسیئ) وائې یعنی مؤخرکول دحرمت دیو میاشتې

نه بلې مياشتې ته. غرض دا چه څلورمياشتې به ئ پوره کولې ليکن دترتيب الهی خيال به ئ نه ساتلو. نوپه دې کښې به داصل مياشتې پته نه لګيده چه آيادامياشت مثلاً په حقيقت کښې درمضان ده يادشوال ده. يادذي الحجه ده يادذي القعده ده. ليکن په کوم کال چه نبی ﷺ حج ته تشريف يوړو. نوپه دغه کال چه دمشرکينو په حساب سره ذی الحجه ده نوهغه په حقيقت کښې هم اصلی ذی الحجه وه اوددی وجه نه نبی ﷺ اوفرمائيل (الا انّ الزمانَ قداستدارکهيئة يوم خلق السّموات والارضَ) يعنی زمانه راواپس شوه خپل زوړحال ته لکه چه څه رنګه وه په هغه ورځ چه الله تعالی پيداکړی دی اسمانونه اوزمکی. نوچه ﴿عِندَ ٱللَّهِ ٱثۡنَا عَشَرَ شَهۡرٗا﴾ ئ اووئيل نوددوئ ددغه رسم رداوشوچه کله کله به ئ کال څوارلس مياشتې ګرزولو. او د ﴿عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ﴾ نه مراد شمار د مياشتو د کال دې. ﴿مِنۡهَآ أَرۡبَعَةٌ حُرُمٞ﴾ يعنی څلور مياشتې معينی اشهرحرم دی. چه نبی صلی الله عليه وسلم ددی تشريح په خپله دحجة الوداع په موقعه کړې ده چه ثلث متواليات، درې پې درپې دی،ذوالقعده ذوالحجه، محرم، اوڅلورمه رجب ده. ليکن چونکه بعض اهل عربو، رمضان ته رجب وئيلو، اودقبيله دمضرپه نيزرجب هغه ده چه دجمادی الاخير اوشعبان په درميان کښې ده نوددی وجې نه نبی ﷺ په حديث کښې درجب اضافت مضرته اوکړو، رجب مضرئ اووئيل اووضاحت ئ ورته داسې اوکړو الذی بين جمادی وشوال ﴿ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ﴾يعنی دمياشتو تعين اوترتيب په دې طريقه باندې اوخصوصاً داشهرحرم ترتيب دامستقيم دين دې اوددې نه خلاف چه مشرکينو ترتيبونه رسومات جاری کړی دی داکاګه اوغلط دی﴿فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡ﴾داحکام الهيو خلاف ورزی کول ظلم دې په خپل ځان نودامه کوئ.

امام جصاص رحمه الله وائ چه په دې کښې اشاره ده چه څوک په اشهرحرم کښې ځان دګنا، نه اوساتی نوپه نورو مياشتوکښې ورته دګناهونو نه بچ کيدل اسان دی ﴿وَقَٰتِلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ﴾ د دې معنی يا دا ده چه د هرقسم مشرکانو سره جنګ کوئ يا دا معنی ده چه په ټولو مياشتو کښې ورسره جنګ کوئ او پدې دويم احتمال باندې دا آيت ناسخ دې لپاره د حرمت د قتال په اشهر حرم کښې لکه دلالت کوی پدې باندې دا خبره چه غزوه د تبوک په رجب کښې شوې وه.

﴿إِنَّمَا النَّسِيٓءُ﴾ نسئ مؤخركولوته وائي يعني روستو كول دحرمت ديومياشتې نه بلې مياشتې ته لكه محرم دصفرخاى ته اوړل اوصفردمحرم خاى ته راوړل ﴿زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ﴾ يوكفردتوحيد اودرسالت انكاردې، دويم كفردالله تعالى تحريمات باطلول دي﴿يُحِلُّونَهُ عَامًا﴾ دخپل خواهش دوجه نه يوكال محرم داشهرحل نه گرځوي اوبل كال ئې داشهرحرم نه گرزوي.

﴿لِّيُوَاطِـُٔوا﴾ يعني دوئ صرف شمارپوره كوي، اوصرف شمار پوره كول تعميل حكم نه دي

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا مَا لَكُمْ اِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ

اې ايمان والو[1]! څه شوي دي تاسو لره چه كله ويلې شي تاسو ته اووځئ تاسو په لاره د الله تعالى كښې نو درانه شئ تاسو

إِلَى الْأَرْضِ ۚ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

زمكې ته؛ آيا خوښ كړيدې تاسو ژوند دنيوي په بدله د آخرت كښې پس ندې سامان (نفع) د ژوند دنيوي

فِي الْاٰخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۙ

په مقابله د آخرت كښې مگر كم دې. كه اونه وځئ تاسو جهاد له نو عذاب به دركړي تاسوته الله تعالى عذاب دردناك.

وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْـًٔا ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

اوستاسو په بدله كښې به راولي قوم سوا ستاسونه او تاسو به ضرر ونه رسوئ الله (دين) ته هيڅ، او الله تعالى په هرڅيز قادر دي

﴿يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا مَا لَكُمْ﴾ دادسورت دويمه حصه شروع كيږي په دې كښې ترغيب الى الجهاد، اوصاف دمجاهدينو، اوبشارات دوئ ته، اودصحابؤ رضى الله عنهم شان بيانيږي اوزجرذكركيږي په هغه چاچه دجهادنه عمداًپاتې شوي وويا خطاً پاتې شوي وو. غزوهٔ تبوک دنبي ﷺ په غزاگانوكښې آخري غزاده نبي ﷺ چه هركله چه دفتح مكه اوغزوهٔ حنين طائف اوطاس نه فارغ شو، په اواخرو د سنه ۸ هـ كښې، نوڅه وخت دقيام نه بعد په رجب ۹هـ كښې ئې عزوه تبوک دپاره تشريف يوړو، چه باعث ئې داوو، چه دشام بعض تاجرانوزيتون

1 - د سورت دويمه حصه، د دعوى د سورت (جهاد) نه مخالفت كونكو يعنى منافقينو باندې زجرونه او مؤمنانو ته بشارتونه او ترغيب الى القتال.

راوړی وو . دتجارت دپاره مؤمنان ئ اوليدل چه بې غمه دی نودوئ اووئيل چه دملک روم بادشاه هرقل خپل يولاکهه فوجونه. دشام په سرحدتبوک مقام کښې جمع کړيدی اوديوکال تنخواه ئ مخکښې ورکړې ده اودعربو دبعض قبائلو ورسره لاز،باز،هم شته دې اوپه مدينه منوره باندې په يوخل دحملې اراده ئ ده . شام په دغه وخت کښې ددوئ حکومت زيراثريوه صوبه وه چه غسانی بادشاه په تصرف کښې وه نونبی ﷺ صحابؤ ته اوفرمائيل چه بهتره داسې ده چه مونږ په هغوئ اقدام اوکړو. نوصحابؤ ﷺ په دې باندې لبيک اووئيل ليکن هرکله چه دا د ډيرسخت امتحان موقعه وه ځکه چه يوخوسخته ګرمی وه. بل دقحط سالئ زمانه وه. اوفصلونه پاخه شوی وو. دکټ کولو وقت ئ راغلې وو. په صحابؤ ﷺ باندې دتيری شوی کال قرضې وې اودآئينده تول کال دخرچ دارومدار هم په کهجورو وو. اومسافت ډيرلرې وو. اوديوسخت دُشمن سره مقابله کول وو. دغسانی بادشاه اود ملک روم د. تجربه کار (تربننګ شده) مسلح کثير فوجونو سره مقابله کول وو نوپه دې وجه نبی ﷺ دجهادترغيب هم ورکړو اومسلمانانو ته ئ په ځکاره طورسره اووئيل چه ددشمن دمقابلې دپاره تيارې اوکړئ، اوکوم طرف ته چه تلل وو يعنی تبوک نوددغه طرف اودددُشمن نوم ئ په واضحه طورباندې ذکرکړو چه مسلمانان خپل تيارې اوکړی، اوددې نه قبل به چه نبی ﷺ جهادته تللو نودطرف اوددشمن ځکاره نوم به ئ نه اخستلو ، بلکه توريه عملی اوقولی به ئ کوله، نوهرکله چه داموقعه ډيرسخته وه نوپه دې وجه مسلمانان يعنی ظاهراً مسلمانان (منافقين) اوحقيقةً مسلمانان، مختلف قسمونه شو، اول هغه مسلمانان چه په غيردځه ترددنه جهادته دتللودپاره تيارشو، ،ودويم قسمه هغه وو چه اول په تردد کښې وو ليکن بياتيارشو، ددی دواړو فرقوذکر په دې آيت کښې دې،((الذين اتبعوه فى ساعة العسرة من بعدما كاديزيغ قلوب فريق منهم)) دريم قسم هغه وو چه معذرين وو مالی ياجانی، قوت وسره نه وو، څلورم قسم هغه مخلصين مؤمنين وو چه په غير دځه عذرنه پاتې شوی وو اوعتاب پرې نازل شوې وو اوډيرندامت اوحسرت نه بعد ددوئ دتوبې دقبوليت بشارت نازل شوې وو چه دهغوئ په دې آياتونوکښې ذکردې (((وآخرون اعترفوابذنوبهم ـــ الاية : ۱۰۲)) ((وعلى الثلثة الذين خلفوا ـــ الآية : ۱۱۸)) پنځم قسم هغه منافقين وو چه دنفاق په وجه په غيردځه عذر نه پاتې شوی وو اوشپږم قسم هغه منافقين وو چه دجاسوسئ اوشرارت دپاره په لښکر کښې تلی وو ددی ټولوقسمونوذکر راځی دټولوتکليفونوباوجود اکثرمخلصين جهادته دتللو دپاره تيار شو، سوئ دډيرلګ کسانونه

چه هغوئ ته په خپل نه تلوباندې ډیرحسرت افسوس وو. دنبی صلی الله علیه وسلم سره دیرش زره لښکردمسلمانانو په سخته ګرمی اودفاقی په حالت کښې روان شو. دروم بادشاه هرقل ته چه هرکله دمسلمانانو ددی جذبی علم اوشو، نورعب پرې راغلو او مقابلې ته رانه غلو. اوشام والاؤ. ئ هم څه امداداونه کړو. څه زمانه نبی ﷺ یعنی شل ورځې په تبوک مقام کښې قیام اوکړو. بیاواپس شو.

فائده (۱): په دې جهاد کښې نبی ﷺ دانفاق فی سبیل الله ترغیب ورکړو نوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ټول مال په درګاه نبوی کښې پیش کړو نبی ﷺ ترې تپوس اوکړو چه اهل عیال دپاره دې څه پریخودل، دوئ عرض اوکړو چه صرف الله اورسول، حضرت عمرفاروق رضی الله عنه خپل نیم مال پیش کړو. دغه شان حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه هم ډیرمال پیش کړو مګرپه دغه وخت کښې حضرت عثمان رضی الله عنه ډیرزیاته صدقه پیش کړه چه دټولونه زیاته وه چه درې سوه اوښان ئ دپوره سامانِ سفر نه ډک پیش کړل اوزراشرفئ نقدئ ئ پیش کړې اودغه شان ټولوصحابو رضی الله عنهم دخپل وس طاقت نه زیاته نفقه پیش کړه.

فائده (۲): په تبوک کښې نبی ﷺ شل ورځې قیام کړې وو، دشمن مرعوب شو مقام ته رانه غلو. لیکن نبی ﷺ ته خواؤشاقبائل حاضرخدمت شو، اوتسلیم شو اوصلح ئ اوکړه. جزیه ورکول ئ قبول کړه، اونبی ﷺ دوئ ته صلح اولیکله اوورئ کړه، په تبوک کښې دَ دومة الجندل حاکم اوکیدر بن عبدالملک چه نصرانی سرداروو خالدبن ولید دڅلورسوه شل کسانو سره دمقابلې دپاره اولیږل حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه د تللو په وخت کښې نبی ﷺ ته عرض اوکړو چه زه خواوکیدرنه پیژنم نوځنګه به دهغه مقابله اوکړم نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه هغه به ښکارکوی اوته به ئ ګرفتارکړې، لیکن قتله وئې مه. زماخواته ئ راوله، خالدرضی الله عنه چه اورسیدو دهغه مکان ته نو د سپوږمئ رڼراوه، دګرمئ موسم وو، اوکیدر دخپلې بی بی سره په چهت وو چه په دې کښې وحشی غواراغله اوددروازې ګیټ ته ئ دهیکه ورکړه، اوکیدرفوراً دخپل رور حسان اونورونوکرانو سره دښکاردپاره راکوزو شو. اوپه اس باندې سورشو، ښکارپسې ئې منډه کړه، نوحضرت خالداودده ملګری راګیرکړو، داوکیدر رورحسان مقابله شروع کړه نومسلمانانودې قتل کړو اواوکیدر ته ئ اووئیل چه تاته دقتل نه پناه درکولئ شی، په شرط ددې که ته زمونږ سره دنبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرېږې، نوده داخبره منظوره کړه، اودنبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرشو. اوجزیه ئ قبوله کړه، دوزره اوښان اواته سوه آسونه اوڅلورسوه زغرې

اوځلور سوره نیزې دانې ورکړې اوصلح ئې اوکړه.

فائده (۳) واقعه دمسجد ضرارهم په دې غزوه کښې راغلې ده روستوآیت کښې ددې تفصیل راځی.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ظاهره داده چه ددې نه مراد دوئیم قسم مؤمنان دی یعنی هغه خلق چه اول ورته ترددراغلې وو اوبیا ترددختم شو اودجهاد دپاره ئې شرح صدر اوشوه. بعضې وائی چه ددې نه مراد منافقان دی لیکن داتوجیه بعیده معلومیږی. ﴿ٱثَّاقَلۡتُمۡ ﴾ددې نه مراد سستی کول دی په جهاد کښې. اوداپه اصل کښې (تَثَاقلتم) وو. (تاء) بدله شوه په (ثاء) سره نو ادغام اوشوپه کښې اودابتداء بالساکن دوجهې نه همزه راوړې شوه په اول کښې نو (اثاقلتم) ترینه جوړشواو دا ماضی په معنی د مضارع سره ده (ای مالکم تتثاقلون)، ﴿مِنَ ٱلۡـَٔاخِرَةِ ﴾ من په معنی دبدل دې، یعنی په بدل دآخرة کښې. ﴿إِلَّا قَلِيلٌ ﴾ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماالدّنیا فی الاخرة اِلاّکما یَجۡعَلُ احدُکُم اِصۡبَعَهُ هذه فی الیَمّ فلینظرء بِمَا یَرۡجِعُ (مسلم) ﴿إِلَّا تَنفِرُوا۟ ﴾دازجراووعیددې په ترک دجهادباندې.

إِلَّا	تَنصُرُوهُ	فَقَدۡ	نَصَرَهُ	ٱللَّهُ	إِذۡ	أَخۡرَجَهُ	

که امداد نکوئ تاسو ددې رسول نو پس په تحقیق سره امداد کړې دې ده سره الله تعالی کله چه ویستلې وو ده لره

ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ

کافرانو دویم د دوؤ نه کله چه دواړه په غار کښې وؤ، کله چه وه ویل پیغمبر خپل ملګری ته مه غمژن کیږه

إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ

بیشکه الله تعالی زمونږ سره دې، پس راولیږله الله تعالی تسلی په هغه باندې، او قوی ئې کړو ده لره

بِجُنُودٍ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلسُّفۡلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَا ۗ

په داسې لښکر چه تاسو نه لیدلې او اوګرزوله الله تعالی کلمه د کافرانو لاندې او کلمه د الله هم هغه اوچته ده،

وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝

او الله تعالی زورآورد دې حکمتونو والا دې

﴿إِلَّا تَنصُرُوهُ﴾ دا هم زجراوتخویف دې اوجزاء ددې مخذوفه ده، چه فسینصره الله . او ﴿فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ﴾ دال با الجزاء دې، اوخودې جزاء نه ده ځکه چه داماضی ده. ﴿إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ﴾ صیغه داسم فاعل د اسم عدد نه، چه راشی لکه ثانی ثالث ، نوداکله دبیان دمرتبی دپاره وی نود ثانی، معنی داوی چه واقع په مرتبه دویمه کښ اوکله دتصییر دپاره وی نود ثانی معنی داوی چه ګرځونکی یولره دوه دوه اودثالث معنی داوی چه ګرزونکی دوؤ لره درې، وهکذا ، نوپه لفظ دثانی اوثالث کښ دمرتبی لحاظ نه وی بلکه معنی ئ داوی چه یوپه دوؤ کښ، یوپه دریؤ کښ، اودالفظ دلیل دې په دې باندې چه ددوؤ نه زیات نه وؤ، اودلیل دې په اولیتٌ دنبی ﷺ باندې یعنی نبی ﷺ اول وو اوابوبکر ؓ دویم وو، په دې آیت کښ واقعې دهجرت ذکردې چه دهغې مختصر تفصیل دادې چه مسلمانان دمشرکینو دظلم نه ډیرتنګ شو نوهجرت ئ اوکړو، حضرت ابوبکرصدیق ؓ هم دهجرت اراده اوکړه نودنبی ﷺ نه ئ اجازت طلب کړو چه هجرت اوکړم، نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه ته صبراوکړه کیدې شی چه ماته هم دهجرت حکم اوشی، نوځاملګرې به شې، نوحضرت ابوبکرصدیق ؓ دوه اوښانې واغستې اوډیر ډیر اوعمده عمده خوراکونه به ئ ورته ورکول چه قوی مضبوطی شی. اخرنبی ﷺ ته هم دهجرت حکم راغې ، مشرکانو دافیصله اوکړه چه دهرې قبیلی نه دې یویوکس نوجوان منتخب شی اوټول دې په یوځل په نبی ﷺ دتوروحمله اوکړی، نوبنی هاشم به دټولو قبیلو نه قصاص نه شی اغستلې اونه دټولو قبیلو سره دُشمنی کولې شی، اودیت، (خون بها) دیوکس بلکه دډیروکسانو هم ، ټولوقبائلو ته څه ګرانه نه ده، مشرکینو سل کسان منتخب کړل اودنبی ﷺ نه ئ ګیره واچوله، جبرئیل ؑ راغلو اونبی ﷺ ئ خبرکړونبی ﷺ حضرت علی ؓ په خپله بستره څملوؤ، ددی دپاره چه دخلقو امانتونه مالکانو ته په پوره احتیاط سره حواله کړی، اوتسلی ئ ورته ورکړه چه مشرکان ستایووینبته ته هم هیڅ نقصان نه شی رسولې اوپه خپله دمسلح دشمنانو په مینځ کې راروان شو ، دسورت یٰس اولنی آیتونه دَ (فهم لایبصرون) پورې ئ تلاوت کړل او، (شاهت الوجوه) ئ اووئیل اوددوئ په سرونوئ

خاورې چاپ کړې، باهرئ تشريف راوړو، اوحضرت ابوبکرصديق ﷺ ئې دځان سره کړو په غارثورکښې داخل شو، غارثورته دننوتلو لاردېره تنګه وه، په ولاړې اوناستې سره دداخليدلو څه صورت نه وو، صرف په څملاستو سره داخليدل ممکن وو، نوحضرت ابوبکرصديق ﷺ اوله په غارکښې داخل شو اوځائ ئې صفا کړو، اوپه غارکښې چه څومره سوري وو هغه ئې ټول بند کړه، ددې دپاره چه مار،لړم، نبي ﷺ ته تکليف اونه رسوي، صرف يوسورې پاتې شو نوپه هغې کښې ئې خپله پونده کيخودله، دپوره انتظام کولونه بعد ئې نبي صلى الله عليه وسلم ته دداخليدو درخواست اوکړو، حضور ﷺ غارته داخل شو اودابوبکر صديق ﷺ په زنګنونوئ سرمبارک کيخود آرام ئې کولو، نوپه کوم سوري کښې چه صديق اکبرپونده ايخودلې وه ،دهغې نه مار راووتلو اوابوبکر صديق ﷺ ته ئې ټک ورکړو اوئې چيچلو، ابوبکر صديق ﷺ دماردزهرو تکليف برداشت کړو اوهيڅ قسم حرکت ئې نه کوژ، ددې دپاره چه دسيدالکونين صلى الله عليه وسلم په آرام کښې فرق رانه شي، اوهرکله چه دنبي ﷺ سترګې رنړاشوی اودابوبکر صديق ﷺ دتکليف نه خبرشو دخولې مبارکې لعاب ئې دابوبکرصديق ﷺ په پونده اولګول چه هغې سره فوراً شفاحاصله شوه، دلته کفاروچه کله نبي کريم ﷺ په بستره اونه موندلو نودحضرت علي ﷺ نه ئې تپوس اوکړو نوهغوئ ورته اووئيل چه باهرخوتاسو ولاړوئ ، تاسوته به ئې علم وي، ماته ئې علم نشته دې، نومشرکينو يوماهر قائف چه دقدمونو په نشان معلومولو کښې ډيرماهر وو، دځان سره کړو دنبي ﷺ په تلاش کښې راااووتل، دغارثور پورې ئې دقدمونو نشانات معلوم کړل اودائ اووئيل چه ددې غار دخولې پورې راغلي دی اوبيادې نه باهر نه دې وتلې، داسې معلوميږي چه په غارکښې دې، اوکله چه دوئ دغارپه خوله اودريدل نوحضرت ابوبکرصديق ﷺ پريشان شو، اوئې وئيل چه يارسول الله که دوئ خپلو قدموته اوګوري نومونږ به اووينی نبي ﷺ ورته تسلي ورکړه اوئې فرمائيل (ماظنک بالنين ثالثهماالله) ستاڅه ګمان دې په هغه دوؤ کسانو چه دريم ملګرې ئې الله تعالى دې، اودائ ورته اوفرمائيل ﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾ ، نودالله تعالى دعجيب قدرت ظهوراوشو، چه ددوئ دداخليدلو نه بعد ، دغار په خوله باندې جولاګې ، خپله جاله جوړه کړه ، اوصحرائ کونترې هلته اګئ واچولې، نومشرکانو چه دااوليدل نودقائف تکذيب ئې اوکړو اوئې وئيل چه داجال خودمحمد ﷺ دپيدائش نه هم مخکينې معلوميږی که چرې غارته دننه څوک داخل شوې وې نودا ، ،جال، او ، ،اګئ ، ،خنګه

صحیح سالم پاتې شوې دی، کفار واپس شو اونبی ﷺ اوابوبکرصدیق رضی الله عنه په غارکښې درې ورځې تیرې کړې اوعبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه به دشپې په تیاره کښې ددوئ څنګ ته راتلو. شپه به ئې ددوئ سره تیروله، مکې والاؤ به دورځې چه ددوئ خلاف څه منصوبې جوړولې نوهغه به ئې دوئ ته بیانولې، بیابه سحر په تیاره کښې مکې ته تلو، څوک به پرې نه خبریدل اوعامربن فهیره رضی الله عنه چه دابوبکر صدیق معتق غلام وو، ده به یوه دپیږوالابیزه دماسخوتن په تیاره کښې دوئ ته راوستله، دوئ به دهغې پئ استعمالول، اوبیابه سحر وختې مکې ته اورسیدواوداهل مکه ؤسره به ئې خپل څاروی څرول نوپه ده به هم څوک نه خبریدل. ددرې ورځونه بعدنبی ﷺ اوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دواړو دمدینې دروانیدوعزم اوکړو، ابوبکر صدیق رضی الله عنه خوداول نه دوه اوښانې اغستې وې اوعمده خوراکونه ئې پرې خوړولې وو، اوپه هغې کښې ئې یوه ناقه دنبی ﷺ په خدمت کښې پیش کړه، عرض ئې اوکړو (خذ اِحدٰی رَاحِلَتَيْ هاتين، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بالثمن)، یوه ناقة رسول الله ﷺ په قیمت خکه واخسته چه په خپل مال سره دالله تعالی په لاره کښې هجرت اوشی، نوددغه دواړو اوښانو دپاره نبی ﷺ اوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یوکس دبنی الدیل نه اجیر ګرځولې وو چه هغه ته دلارې معلومات حاصل وو، اګرکه په دغه وخت کښې دغه کس په دین دکفارو باندې وو، لیکن نبی ﷺ په ده اعتمادکړې وو، اوددغه کس سره ئې داوعده کړې وه چه درې ورځې بعدبه دادواړه اوښانې مونږ ته غارثورته رارسوی، نوهغه چه اوښانې راؤرسولې نونبی ﷺ اوابوبکر صدیق رضی الله عنه اوعامربن فهیره اودغه بل کس دبنی الدیل والا مدینې ته روان شو، په طریق دساحل البحرباندې، نوسراقه بن مالک مدلجی پرې خبرشو اوکفارودمکې چونکه ددوئ په قیدکولو یاقتل کولو باندې ډیرانعام مقرر کړې وو «یعنی سل اوښان» سراقه وائې چه زه ډیر په تیزئ سره روان شوم، نوچه نزدې شوم نوځما فرس «اس» یوټوپ اووهلو اوزه ترینه ارتاؤ شو، اوبیا راپاڅیدم نو د تیرکش نه مې غشی راؤباسل اوفال مې واچو، نوصحیح نه وو، لیکن دمال دلالچ په وجه په فال مې عمل اونه کړو اوبیاروان شوم. اوقریب شوم حتی ماواؤریده قرات درسول الله ﷺ چه دوئ هیڅ طرف ته التفات نه کوؤ اوحضرت ابوبکر رضی الله عنه به هرطرف ته کتل راکتل، نوپه دې حالت کښې ځما داس مخکینئ دواړه خپې په وجه کلکه زمکه کښې خښې شوې حتی چه دزنګنونو پورې په زمکه کښې ډوبې شوې، اودراوتلوئ څه صورت په نظرنه راتلو، خوچه کله دډیرکوشیش نه بعدئ خپې

رااووتلې نودلوګی په شان ګرداوعبارپه طرف داسمان ترینه ظاهرشو، نومادوباره فال واچوؤ. نوهغه بیا هم صحیح نه وو، نوپه دې وجه مې دوئ ته اوازاوکړو اوامان مې طلب کړو. نودوئ اودریدل اوزه په خپل اس باندې سورشوم دوئ ته اورسیدوم اوپه زړه کښې مې یقین راغلو چه ماته څه تکلیف راؤرسیدو، نوداددوئ په وجه رااورسیدو، اودامې یقین راغلو چه عنقریب به نبی ﷺ غلبه اوکړی اودوئ ته مې دَ سفرسامان، خوراک وغیره پیش کش اوکړ ونودوئ قبول نه کړو، اوماته ئ اوونیل، (اِخْفِ عَنَّا) یعنی دومره اوکړه چه زمونږ حال چاته مه وایه. بیاماعرض اوکړو چه یارسول الله ماته دامان خط اولیکه، نونبی ﷺ عامربن فهیره ته امراوکړو هغه ماله رقعه اولیکله اوروان شو مدینی ته ، مزیدتفصیل داحادیثو اودسیرت په کتابونو کښې دې.

﴿إِذْ هُمَا﴾ دابدل دې دماقبل (اذ) نه ﴿إِذْ يَقُولُ﴾ دهم بدل دې دماقبل نه، ﴿لِصَٰحِبِهِۦ﴾ مراددصاحب نه ابوبکر صدیق رضی الله عنه دې اوعلماء اهل سنت وائ چه څوک منکروی دابوبکر صدیق رضی الله عنه دشرف دصحابیت نه نوهغه کافردې څکه چه دابوبکر صدیق رضی الله عنه صحابیت په نص قطعی سره ثابت دې.

﴿لَا تَحْزَنْ﴾ هرکله چه مشرکان دغارثور په خوله اودریدل نوحضرت ابوبکر رضی الله عنه پریشان شو اوئ وئیل چه یارسول الله که چرې دوئ خپلو قدمونوته اوګوری نومونږ به اووینی نونبی ﷺ ورته اووئیل ﴿لَا تَحْزَنْ﴾ اودابوبکر صدیق رضی الله عنه پریشانئ به وجه د رسول الله ﷺ وه لکه په روایت دبخاری اومسلم کښې دی، (و اَشْفَقَ ابوبکر علی رسول الله صلی الله علیه وسلم وقال: اِنْ تُصِبِ الیوم ذهب دین الله فقال علیه السّلام مَاظَنُّکَ بِاِثْنَیْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا)، ﴿سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ﴾ په ضمیر د (علیه) کښې دوه احتماله دی : یودا چه راجع شی نبی ﷺ ته اودسکینه نه مرادخاص قسم سکینه ده چه مناسبهٔ وی دشان دنبی ﷺ سره، اودویم احتمال دادې چه ضمیر راجع دې حضرت ابوبکر صدیق ؓ ته لکه داتوجیه مروی ده دابن عباس ؓ نه اودا قول راجح دې ، یوددی وجې نه چه اقرب المذکورات دې څکه چه د ((صَاحِبِهِ)) نه مراد ابوبکر ؓ دې اوبل ددې وجې نه چه خوف اوخزن حاصل وو ابوبکر ؓ ته . نه چه نبی ﷺ ته، څکه چه نبی ﷺ په سکون اوامن سره وو، اوبل ددې وجې نه چه که ضمیر راجع وې نبی ﷺ نو بیا داسې عبارت مناسب وو : (فانزل الله سکینته علیه فقال لصاحبه

لاتحزن) ځکه چه په دې تقدير به نبي ﷺ خائف وی اوپه خائف چه سکينه نه وی نازله شوی نوبل چاته به څه تسلی ورکړی،﴿ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ ﴾ داعطف دې په (نصره الله) باندې. اومراددجنود نه ملائکه دی، اوداتائيد په جنود سره عام دې په غارثور. بدر. احزاب. حنين، اوپه ټولو مواطنو دقتال کښ دې، ﴿ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ ددې نه مراددعوت الى الكفردې ياهغه منصوبه ده چه دوئ دنبی صلی الله عليه وسلم دقتل يادقيدکولو دپاره جوړه کړی وه په دارالندوی کښ ﴿ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ ﴾ددې نه مراد کلمه دتوحيد ده يادعوت الى الايمان دې ياترينه مرادهغه وعده ده چه الله تعالى دخپلوانبياؤ سره کړيده لکه په دې قول دالله تعالى کښ ((ولقدسبقت كلمتنا لعبادناالمرسلين انهم لهم المنصورون وان جندنا لهم الغلبون)) .

فايده : اهل سنت په دې آيت سره استدلال کوی په افضليت دحضرت ابوبکرصديق ﷺ په څووجوه سره، (۱) په دې آيت کښ عتاب دې مؤمنانو ته سوی دابوبکر صديق ﷺ نه . روايت کړې دې ابن عساکر د سفيان بن عيينه نه چه عتاب ورکړيدې الله تعالى ټولو مسلمانانو ته په باره د نبی کريم ﷺ کښ سوئ د ابوبکر ﷺ نه، اودحسن ﷺ نه روايت دې چه عتاب ورکړې دې الله تعالى ټول اهل الارض ته په غيرد ابوبکر ﷺ نه، اوابن عساکر دحضرت علي ﷺ نه روايت کړيدې چه الله تعالى ذم کړيدې دټولو انسانانو اومدح ئ کړې ده دابوبکر ﷺ (۲) هجرت په امردالله تعالى سره وو اوالله تعالى دصحبت فى الهجرت دپاره حضرت ابوبکر صديق ﷺ منتخب کړو حالانکه نبي ﷺ ته په نسب کښ دحضرت ابوبکرصديق ﷺ نه زيات اقرب نورحضرات هم موجود وو نومعلومه شوه چه ابوبکر صديق ﷺ الله جل جلاله ته ډيرمحبوب وو ، حاصل داچه دابوبکر ﷺ انتخاب دصحبت دپاره په هجرت کښ داانتخاب الهي دې نودادليل دافضليت دې، (۳) لفظ دثاني اثنين دلالت کوی په افضليت باندې، ځکه چه د ،،اثنين، نه مراد يوذات درسول الله ﷺ اودويم دهغه مقرب ترين اومخلص ترين ملګرې مراددې ، بلکه بعض علماء وائ چه په دې کښ اشاره ده دې ته چه بعددنبي ﷺ نه خليفه اول ابوبکر ﷺ دې، لان الخليفة لايكون ابداً الاثانياً، (قرطبى) (۴)﴿ إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ ﴾ دا واضح دلالت کوی چه په داسې سخته موقعه کښ دوستی اوصحبت نه

ختمول دلیل دکمال تعلق اومحبت دي، (۵) ﴿لِصَاحِبِهِ﴾ څکه چه ددې نه دینی مخکینۍ ملګرتیا مراده، څکه دغارصحبت خوپه ماقبل کښې ذکرشوې دي (۶) ﴿لَا تَحْزَنْ﴾ دادلالت کوی په کمال محبت باندې څکه داتسلی ده ابوبکر صدیق ﷺ ته ، لکه په روایت دبخاری وغیره کښې دی اشفق ابوبکر صدیق ﷺ علی رسو ل الله ﷺ وقال اِنْ اُصِيبَ الیومَ ذهب دینُ الله، اوتسلی محبوب ته ورکولې شی لکه الله تعالی خپل حبیب ته تسلی ورکړې ده ولاتحزن علیهم. نومعلومه شوه چه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ حبیبُ حبیب الله دې.

(۷) ﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾ څکه مراد دمعیت نه معیت دنصرت اودمعونة دې اونبی ﷺ حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دخپل څان سره په دې معیت کښې شریک کړو اودادیرلوئ فضیلت اومنقبت دې

ملعون شیعه ګان، دلته څه خرافات وائی اواعتراضونه کوی (۱) نبی ﷺ (معاذالله) حضرت ابوبکر ﷺ دخپل څان سره په سفرهجرت کښې په دې وجه ملګرې کړې وو چه که پاتی شی نو څماخلاف به منصوبې جوړې کړی اوشربه جوړکړی نوددفع دشردپاره ئې دڅان سره روان کړه

جواب که څوک زندیق په باره دصدیق اکبررضی الله عنه کښې دغه ګمان کوی نوصدیق رضی الله عنه ته خودیرخه موقعه اوفرصت ملاؤشوې وو په غارکښې نوکفارو دمکی ته به ئې وئیلی وو چه زه خوددی مقصددپاره دمکی نه دمحمد ﷺ ملګرې شوې یم راشئ قتل ئې کړئ یابه ئې دخپل څوئ عبدالرحمن په واسطی سره یادعامربن فهیره په واسطی سره یادخپل لور اسماء رضی الله عنهاپه واسطی سره اهل مکه خبرکړی ووو اودیر اعزاز اوانعام بهٔ ورته دکفارو دطرف نه ملاؤ شوې وو، اوکه دغه شان بدګمانئ په باره دصدیق ﷺ کښې جوړیدلې شی نو(معاذالله) په باره دحضرت علی ﷺ کښې هم جوړیدلې شی، چه نبی ﷺ په خپله بستره څکه څملؤ چه کفارراشی قتل ئې کړی، اوماته شرجوړنه کړی.

(۲) ﴿ثَانِيَ اثْنَيْنِ﴾ په فضیلت دلالت نه کوی څکه ددې نه صرف دامعلومیږی چه ابوبکررضی الله عنه متمم دعدددې اوپه فضیلت هیڅ دلالت نه کوی.

جواب دلالت دثانی اثنین په فضیلت باندې په قرینه دمقام سره دې څکه عادت په دې جاری دې چه څوک چه ددُشمن نه تختې ، نودڅان سره،داسې دویم کس ملګرې کوی چه

پوره پوره اعتمادئ پرې وی، نوثانی اثنین، په قرینه دمقام سره په دې دلالت کوی چه دنبی صلی الله علیه وسلم پوره پوره اعتماد ووپه ابوبکر صدیق ﷺ اودې ئ خاص ملگرې وو

(۳) د ﴿إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ﴾ نه فضیلت نه معلومیږی صرف اجتماع په یومکان کښ ترینه معلومیږی اوپه یومکان کښ اجتماع دصالح اوغیرصالح راتلې شی.

جواب په معونة دمقام سره ترینه فضیلت معلومیږی لکه مخکښ ذکرشو.

(۴) ﴿إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ﴾ داپه فضیلت دلالت نه کوی څکه صحبت په مابین دمؤمن اوکافرکښ هم راتلې شی لکه په دې قول دالله تعالی کښ، ﴿قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ﴾.

یالکه په دې قول دالله تعالی کښ ﴿يَٰصَٰحِبَىِ ٱلسِّجْنِ﴾ بلکه په مابین دعاقل اوغیرعاقل کښ هم راتلې شی قال الشاعر شعر:

ان الحمار مع الحمیر مطیة واذاخلوت به فبئس الصاحب

جواب: صاحب په معنی لغوی سره په شرافت دلالت نه کوی لیکن دلته مرادپه قرینه دمقام سره اوپه قرینه داضافت سره ضمیرته چه دااضافت دعهددپاره دې، دلالت په فضیلت کوی یعنی هغه خاص ملگرې چه په ډېره سخته موقعه کښ ئ ملگرتیا نه ده پریخودلې اوهغه ملگرې چه دخپل اهل اوقبیلې نه اواقاربونه ئ جدائ اختیارکړې ده اودخپل پیدایش اودسکونت وطن ئ دنبی ﷺ دملگرتیا دپاره پریخودلې دې. (وهوالصدیق الاکبررضی الله عنه وارضاه)

(۵) ﴿لَا تَحْزَنْ﴾، په فضیلت دلالت نه کوی، څکه چه په دې کښ صرف نهی ده، دحزن نه، نوحزن به یاطاعت وی یابه معصیت وی نوطاعت خونه دې څکه که طاعت وې نوالله تعالی به ترینه نهی نه وه کړی اوکه معصیت وی نوداخوفضیلت نه دې بل داچه ددې نه جبن، بزدلی معلومیږی نوداخوفضیلت نه دې.

جواب: حزن دغیر اختیاری امورونه دې نوداپه خپله معصیت یاطاعت نه دې، اونهی دامورواختیاریو نه کیدې شی، نود «لَاتَحْزَنْ»، نه حقیقتًا نهی نه ده مراد بلکه مقصودترینه تسلی ده، اوتسلی محبوب ته ورکولې شی، اونهی دحزن نه دلیل دجبن اودبزدلئ هم نه دې څکه چه الله تعالی خپل حبیب ته فرمائ: ((ولایحزنک قولهم ان العزة لله جمیعاً)) دغه شان خوف طبعی دلیل، دجبن نه دې څکه داانبیاؤ ته لاحق شویدې، الله تعالی موسی ؑ

اوهارون علیه السلام ته فرمائی ((لاتخافا انني معكما)) نوپه سيدالكونين ﷺ باندې اودارنګه په نورو انبياؤ څوک داسې الزام نه شي لګولې چه دوئ ارتکاب دمعصيت کړې وؤ يابزدل وو. نودغه شان چه صديق اکبر رضي الله عنه باندې هم دغه الزام لګول دعداوت اوشقاوة نه علاوه بل هيڅ نه دی نولکه چه الله تعالى خپل حبيب ته تسلي ورکړې ده په دې قول سره ﴿ وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ﴾ نو دغه شان نبي كريم ﷺ هم خپل حبيب حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته تسلي ورکړيده په ﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ﴾ سره . نوحضرت ابوبكر رضي الله عنه حبيبُ حبيب الله شو.((وذالك فضل الله يؤتيه من يشاء)).

اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
اوځئ جهاد له که سپك يئ او که درانه او جهاد کوئ په مالونو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره په لاره د الله تعالى کښ
ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۞ لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا
دا ډيره فائده ده ستاسو لپاره که تاسو پوهيږئ . که وې (غزوه د تبوك) سامان آسان حاصليدونکې او سفر درميانه
لَّاتَّبَعُوْكَ وَلٰكِنْۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ؕ وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ
خامخا به دوئ تلي وې ستا سره ليکن لرې شوې دې په دوئ باندې سفر ، او زر ده چه قسمونه به کوی دوئ په الله تعالى
لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ
که طاقت لرلې مونږ خامخا به وتلي وې مونږ تاسو سره ، هلاکوی دوئ ځانونه خپل (په دروغ قسم)
وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۞
او الله تعالى عالم دې چه بيشکه دوئ خامخا دروغژن دی .

﴿انفروا خفافا وثقالا ﴾ دا حکم دجهاددې سره دترغيب الى الجهاد نه. د ((خفافاً)) معنى داده چه په داسې حال کښ چه اسان دی په تاسو باندې تلل جهادته، او ((ثقالاً)) معنى داده چه ګران وی اومشکل وی په تاسو باندې تلل جهاد ته، او د دې په تفسير کښ ډيراقوال دی، راجح معنى داده چه لګ اسلحې والااوډيری اسلحې والا يعنى داسلحې دکم والى زيات والى

لحاظ مه کوئ بلکه په هرحالت کښ جهاد ته ځئ اویوتفسیر ئ داکړې شویدې چه فقیران، اواغنیاء اوتندرست، مریضان ټول جهاد ته ځی، په دې تقدیر دا آیت منسوخ دې اودابن عباس ﷛ نه روایت دې چه نشاطًا وغیره نشاط، یعنی که زړه غواړی اوکه نه غواړی، خوشدلئې ،بیدلې دواړوحالتونو کښ جهادته ځی، اویوتفسیر ئ داکړې شویدې ځوانان، بوډاګان، ﴿بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ یعنی جهادپه خپلومالونو نفسونوسره کوئ دااعلی درجه ده، لیکن داعلاء دکلمة الله دپاره ئ کوئ.﴿لَوْ كَانَ عَرَضًا﴾ په دې کښ دهغه منافقینو ذکردې چه دجهاد نه پاتی شوی وو، ضمیر په «لوکان» کښ راجع دې ((ماتدعوهم)) ته په قرینه دمقام سره اوعرض سامان ددنیاته وئیلې شی ځکه چه داعارضی څیزونه دی دوام بقاء نه لری په شان دعرض په مصطلح دمنطقیانواوپه حدیث کښ دی:(الدنیا عرض حاضریاکل منه البرّ والفاجر)، اود ﴿قَرِيبًا﴾ نه مراد قریب الحصول سهل الماخذ دې ، ﴿وَسَفَرًا قَاصِدًا﴾ یعنی سفر درمیانه وې ډیر طویل سفر نه وې نوکه چرې داسې وې نودوئ به ضرورستا اتباع کړې وې ﴿وَلَٰكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ﴾ شُقّة، هغه مسافت ته وئیلې شی چه په مشقت سره قطع کولې شی، ﴿وَسَيَحْلِفُونَ﴾ سین داستقبال قریبه دپاره دې اوداچونکه سفری آیاتونه دی نوځکه سین ذکرشو، ﴿يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ﴾ددې نه معلومه شوه چه دروغ اوددروغو قسمونه سبب دهلاک اودایقاع فی النار دې.

عَفَا	اللَّهُ	عَنكَ ۚ	لِمَ	أَذِنتَ	لَهُمْ	حَتَّىٰ	يَتَبَيَّنَ	لَكَ الَّذِينَ

معافی کړیده تاته الله تعالی ولې اجازت ورکړو تا دوئ ته، تر هغې چه ښکاره شوی وې تاته هغه کسان

صَدَقُوا	وَتَعْلَمَ	الْكَاذِبِينَ ۝	لَا يَسْتَأْذِنُكَ	الَّذِينَ	يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ

چه ریښتیا وائی او پیژندلې وې تا دروغجن. اجازت نه غواړی ستا نه هغه کسان چه ایمان لری په الله تعالی

وَالْيَوْمِ	الْآخِرِ	أَن	يُجَاهِدُوا	بِأَمْوَالِهِمْ	وَأَنفُسِهِمْ ۗ

او په ورځ د آخرت «په پرینبودلو دجهاد کښ» چه جهاد وکړی دوئ په مالونو خپلو او نفسونو خپلو سره

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالْمُتَّقِيْنَ ۞ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

او الله تعالى عالم دي په متقيانو باندې. بيشكه اجازت غواړي ستا نه (په ترك د جهاد كښې) هغه كسان چه ايمان نه لري

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ۞

په الله تعالى او په ورځ د آخرت او په شك كښې پراته دي زړونه دهغوئ پس دوئ په خپل شك كښې گرځېدونكي سرگردان دي

﴿عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ﴾ عمروبن ميمون وائ چه داعتاب لطيف دې يعنى عتاب په نرمى لهجې سره دې نبى ﷺ ته لكه په بدركښې چه دأسارى (قيديانو) نه په فديه كښې اخستلو باندې عتاب نازل شوې وو نودلته منافقينو ته په اجازت وركولو سره عتاب لطيف نازل شو او لطيف ځكه دې چه الله تعالى د عفو ذكر اول كړې دې او بيا ئ عتاب ذكركړې دې، منافقينو به نبى ﷺ ته ددروغو عذرونه پيش كړل اودجهادنه دپاتى كيدلواجازت به ئ طلب كړو نونبى ﷺ به دعالى اخلاقو په وجه ددوئ دورغو اونفاق نه اعراض اوكړو او اجازت به ئ وركړو نوپه دې باندې داآيت نازل شو اوقاضى عياض وئيلى دى چه داعتاب نه دې ځكه چه الله تعالى تراوسه پورى نهى نه وه نازله كړې نو (عفا) په معنى دمغفرت سره نه دې بلكه په معنى د (لم يلزم) سره دې لكه په حديث كښې دى، (عفاالله لكم عن صدقة الخيل والرقيق) يعنى الله تعالى په تاسو باندې صدقة الخيل اودغلامانو نه ده لازمه كړې، نودلته معنى داشوه چه په تاځه لزوم نشته ، اووئيلى دى مكى چه دااستفتاح دكلام ده ، اومحض ددعااوتعظيم دپاره ده، لكه په عربى محاوره كښې وئيلې كيږى (اصلح الله الامير، والملك) اوپه حديث كښې دى ((رحم الله لوطًا لقدكان ياوى الى ركنٍ شديد)، ﴿وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ﴾ يعنى كه تادوئ ته اجازت دپاتى كيدلونه وې وركړې نودوئ بياهم جهادنه تلل، خوصرف تاته به معلوم شوې وې كردار دمنافقينو، ﴿لَا يَسْتَـْٔذِنُكَ الَّذِيْنَ﴾ په دې آيت كښې دصفاتو دمؤمنو ذكر دې چه دوئ په غير داجازت نه نه پاتى كيږى دجهادنه، اومنافقين په غير داجازت نه پاتى كيږى، دلته **سوال** واردېږى چه داآيت په ظاهر كښې معارض دې دسورت نورد آيت ۶۲ سره ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ ، يعنى اجازت غوښتل دايمان علامه ده اودلته دى چه ﴿اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ ، **جواب** دادې چه دلته دخاصې واقعې ذكردې

یعني په دې خاصه واقعه کښې چه غزوه تبوک ده اجازت غوښتل دلیل دعدم ایمان دې او په سورت نور کښې دعام قانون ذکر دې، **دویم جواب** دا دې چه دلته مراد اجازت غوښتل دی دپاره دپریخودلو دجهاد او په سورت نور کښې اجازت غوښتل مراد دی دپاره درخصت کیدلو دمجلس دوعظ او بیان دنبی صلی الله علیه وسلم نه ﴿وَارْتَابَتْ﴾ صیغه دماضی دلالت کوي په شدت دشک ددوئ ﴿يَتَرَدَّدُونَ﴾ یعني حیران دی چه دمؤمنانو سره شي او که دکفارو سره شي.

وَلَوْ	أَرَادُوا	الْخُرُوجَ	لَأَعَدُّوا	لَهُ	عُدَّةً	وَلَٰكِنْ	كَرِهَ اللَّهُ
او که دوئ نیت لرلې د وتلو جهاد ته خامخا به دوئ تیارې کړې وې هغې لره د سامان. لیکن ناپسند وو الله تعالی ته							
انْبِعَاثَهُمْ	فَثَبَّطَهُمْ	وَقِيلَ	اقْعُدُوا	مَعَ	الْقَاعِدِينَ ۞		
پورته کیدل د دوئ «دجهاد لپاره» پس منع ئ کړل دوئ لره «د تللو نه جهاد ته» او ویلې شوی دوئ ته کینئ د کیناستونکو سره							
لَوْ	خَرَجُوا	فِيكُمْ	مَا	زَادُوكُمْ	إِلَّا	خَبَالًا	وَلَأَوْضَعُوا
که دوئ وتلی وې په لښکر ستاسو کښې نه به وو زیات کړې دوئ تاسو لره مگر نقصان او خامخا منډې به وهلې وې دوئ							
خِلَالَكُمْ	يَبْغُونَكُمُ	الْفِتْنَةَ	وَفِيكُمْ				
په مینځ ستاسو کښې په چغل خورئ سره غوارې دوئ په تاسو کښې فتنه «اختلاف»، او په لښکر ستاسو کښې							
سَمَّاعُونَ لَهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ۞							
جاسوسان د دوئ شته دې، او الله تعالی عالم دې په ظالمانو باندې							

﴿وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ﴾ یعني دمنافقینو جهاد ته دتللو اراده نه وه ځکه چه که چرې اراده ئ وې نو چه حکم دجهاد راغلو نو دوئ به جهادت ته دتللو تیارې کړې وې لیکن دوئ دجهاد حکم چه واوریدو نو ددروغو دعذرونو دپاره ئ منډې وهل شروع کړل، ﴿وَلَٰكِن كَرِهَ اللَّهُ﴾ یعني ددوئ جهاد ته تلل الله تعالی ته خوښ نه وو، نو توفیق ئ ورته ورنه کړو نو معلومه شوه چه د بنده په گناه بورې هم اراده د الله تعالی متعلقه ده، او نیکی په توفیق د الله تعالی

سره کيږي دَ (انبعاث) نه مراد خروج للجهاددې او﴿ فَثَبَّطَهُمۡ ﴾ په معنی دَ حَبسَ سره دې ﴿ وَقِيلَ اقۡعُدُواْ ﴾ددې نه مراد ياقول اوحکم تکويني دالله تعالی دې ياترينه مراد قول درسول الله ﷺ اودصحابؤ دې منافقانو ته په طور دپيغورسره څکه مراد دقاعدينو نه ،زنانه ، ماشومان، ګوډان، رانده، دی ،يعنی دجهادنه پاتی کيدونکی په شان دزنانؤماشومانو دی.

﴿ لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم ﴾يعنی که داغې غې منافقان وتلي وې په لښکرکښې نو دوئ به زيان فساد کړې وو.مراد ترينه سستی بزدلی ده يعنی ددوئ دبزدلئ اوسستئ په وجه به نور مجاهدين سست شوې وې، ﴿ خَبَالاً ﴾ شراوفساد ته وائ اواستثناء په (الاخبالاً) کښې يامتصله ده که موصوف ورته ((شيئًا من الاشياء)) مقدرشی، يامنقطع ده که موصوف ئ ((خيراً)) مقدرشی. ﴿ وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ ﴾ لام دتاکيددې (اَوضَعُوا) د ايضاع نه مشتق دې (اسراع سير الابل) يعنی په تيزئ سره اوښان (او آسونه) چَلولوته وائ، خِلل ظرف دې په معنی د (بَيۡن) سره او مفعول د (اوضعوا) مقدر دې چه (النمائم) دې يعنی جلت جلت به ګرځيدلی وو په چغلئې سره، اوخامخا به ئ منډې وهلی وې په چغلخورئ سره په مينځ ستاسوکښې، نوپه دې کښې استعاره مکنيه ده، څکه چه تشبيه ورکړې شوه دچغلئې داوښانو سره په منډو وهلوکښې اوايضاع ئ ورته ثابته کړه په طريقه داستعارې تخيليه سره او﴿يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ ﴾ جمله حاليه ده په داسې حال کښې چه طلب کوؤ ئ ستاسوپه مينځ کښې فساد ﴿ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ ﴾ يعنی اوس هم څه منافقان جهادته دجاسوسئ اوشرارت په غرض تلی دی، اګرکه دوئ څه شر فسادنه شی کولې، بلکه په يوحيثيت سره ددوئ تلل مفيددی هغه داچه دوئ به مشاهده اوکړی، دمسلمانانو دبهادرئ، اوددیرمضبوط عزم، نوددوئ په زړونوکښې به دمسلمانانو هيبت اورعب قائم شی، که څوک **سوال** اوکړی چه هرکله ددوئ تلل جهادته مضروو نوولی ورته حکم دتللو اوشو اوپه نه تلو باندې وعيدراغلو. **جواب** جهاد ته دتللو حکم امرتشريعی دې اوجهادته دتللو توفيق نه ملاويدل تکوينی امردې اودتکوينی امر اودتشريعی امرمخالفت راتلې شی، يادوئ ته حکم دجهاد لالزم الحجة، يالاظهار النفاق دې.

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ الْأُمُوْرَ

خامخا په تحقیق سره غوښتلې وه دوئ فتنه مخکښې د دینه اوجوړ کړی ئ وو ستا په خلاف ډیر تدبیرونه

حَتّٰى جَآءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ۝ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ

تر دې چه راغې حق او ښکاره شو دین د الله تعالی او دوئ بد ګنړی او بعضې د دوئ نه هغه څوك دی چه وائی

ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ ؕ أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ؕ

اجازت راکړه ما ته د پاتې کیدلو اومه اچوه ما په فتنه کښې، خبردارشئ په فتنه کښې دوئ غورزیدلی دی.

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ۝ إِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۚ وَإِنْ تُصِبْكَ

اوبیشکه جهنم خامخا راګیرونکې دې کافرانو لره که ورسی تاته خوشحالی نو خفه کوی دوئ لره اوکه ورسی تاته

مُصِيْبَةٌ يَّقُوْلُوْا قَدْ أَخَذْنَآ أَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا

مصیبت وائی دوئ په تحقیق سره نیولې وه مونږ لار د مصلحت او د احتیاط خپل مخکښې او اوګرزی دوئ ستاسو نه

وَّهُمْ فَرِحُوْنَ ۝ قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ

اوحال دا چه دوئ خوشحالی کوی. ته ووایه چه هیڅ کله نه رسی مونږته مګرهغه څه چه مقرر کړیدی الله تعالی مونږلره.

هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ

هغه مولی زمونږ دې او خاص په الله دې خپل ځان وسپاری مؤمنان. ته او وایه چه انتظار نه کوئ تاسې

بِنَآ إِلَّآ إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ؕ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ

په باره زمونږ کښې مګر د یو د دوه خوشحالو نه، او مونږ انتظار کوو ستاسو په باره کښې چه وبه رسوی الله تعالی تاسو ته

بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖۤ أَوْ بِأَيْدِيْنَا ۖ فَتَرَبَّصُوْٓا إِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ۝

عذاب د خپل طرف نه یا په لاسونو زمونږ، پس تاسو انتظار کوئ مونږ ستاسو سره انتظار کوونکی یو

﴿لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ﴾منافقانو دغزوه تبوک نه قبل هم په احد، حنین وغیرهما مواطنو کښې دشرارت اوفساد کوشش کړي وو، ﴿وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ﴾اوستاخلاف ئې ډیری منصوبې سوچ کړی وی اوستادقتل دپاره ئې وخت په وخت تدبیرونه جوړ کړی وو. ﴿حَتَّىٰ جَآءَ ٱلۡحَقُّ﴾ یعنی تائید اونصرت الهی راغلو، ﴿وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ﴾ اوغالب شو دین دالله تعالی اودوئ پرې په زړه کښې ناخوخه، وو، دامذکور صفات دمنافقینودی، یعنی شرارت اوفسادجوړول اودحق اوداهل حق خلاف منصوبې جوړول اودحق په ظهور اوغلبه باندې خفه کیدل ،﴿وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ﴾ داهم زجردې منافقینو ته یومنافق چه دهغه نوم جدبن قیس وو نبی ﷺ ده ته دعوت ورکړو جهادته دتللودپاره ورته ئې اوفرمائیل (هل لک فی قتال بنی الاصفر)، یعنی درومیانو سره دقتال شوق دې شته؟ نوده په خپل نفاق اوجبن باندې دتقوی پرده واچوله اوئې وئیل چه زه عاشق مزاج یم اودرومیانو زنانه ډیرې حسینی جمیلې دی نوکه زه ئې اووینم نوصبربه نه شم ترینه اوپه فتنه کښې به واقع شم نویارسول الله ماپه فتنه کښې مه اچوه، الله تعالی فرمائی چه په فتنه کښې خو دوئ واقع شوی دی په سبب دمخالفت کولودرسول الله ﷺ نه اودکفر اودنفاق په وجه دجهنم په کندوکښې غورزیدلی دی اوجهنم په دوئ احاطه کړې ده، ﴿إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٌ﴾دا دمنافقینو بل خصلت اوصفت دې، چه اهل حق ته چه خوشحالی اورسی نودوئ پرې خفه کیږی اوکه تکلیف اورسی نو دوئ خوشحاله شی اوپه فخر سره وائ﴿قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا﴾ دوئ په خپله رائ فخر کوی چه مونږ (دوراندیش) هوښیاران یونومونږ مخکښې تدبیر کړې وو اود احتیاط لارمو خپله کړی وه.

﴿قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا﴾یعنی تکلیفونه اوخوشحالئ خومقدر دی نوکوم تکلیف چه په تقدیر کښې لیکلې شوې وی نوهغه به په هرچاباندې راځی، نافرمان وی اوکه فرمان برداروی لیکن فرق دادې چه څوک فرمان برداروی نودهغه تکلیف ذریعه ګرځی دآخرت د ابدی خوشحالئ دپاره اوکله ددنیا دخوشحالئ ذریعه هم اوګرزی اونافرمان په خساره اونقصان د دارینو کښې وی نوتاسو زمونږ په باره کښې د ﴿إِحۡدَى ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِ﴾ امید اوانتظاراوکړئ، یابه مونږ ته دالله تعالی په لارکښې شهادت حاصل شی اودادآخرت ابدی خوشحالی ده، یابه فتح حاصله شی نودواړه خوشحالئ به ملاؤشی په حدیث کښې راغلی دی، (تکفل الله لمن جاهدفی

سبيله لايخرجه من بيته الاالجهاد فى سبيله وتصديق كلمته ان يدخله الجنة اويرجعه الى مسكنه الذى خرج منه مع مانال من اجر اوغنيمة) ﴿وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ﴾ددې نه روستو احدى السوئتين مقدرده دهغې تفصيل دادې ﴿أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ﴾ددې نه مرادهغه عذاب دې چه مونږ په كښې سبب نه يو، لكه داسمان نه قارعه نازله شى، ﴿أَوْ بِأَيْدِينَا﴾ ددې نه مرادهغه عذاب دې چه مونږ په كښې سبب يو ، لكه قتل، قيد، وغيره.

قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ۭ اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝

ته ووايه خرچ كوئ په خوښه يا په ناخوښه هيڅ كله به قبول نه كړې شى ستاسونه، بيشكه تاسو يئ قوم نافرمان

وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا

او ندى منع كړى دوئ لره د دينه چه قبول كړې شى د دوئ نه خيراتونه د دوئ مگر دې خبرې چه دوئ كفر كړيدې

بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى

په الله تعالى او په رسول دهغه اونه راځى دوئ مانځه ته مگر په داسې حالت كښې چه دوئ ناراست دى

وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ۝ فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ

اونه خرچ كوى دوئ مگر په داسې حالت كښې چه بد ئې گڼرى . پس په تعجب كښې دې وانهچوى تا لره مالونه د دوئ

وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا

اونه اولادونه د دوئ، بيشكه غواړى الله تعالى چه په دې ذير والى د مالونو اولادونو سره عذاب وركړى دوئ لره

فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ۝

په ژوند د دنيا كښې او وځى روحونه د دوئ په داسې حال كښې چه دوئ كافر وى.

﴿ قُلْ أَنفِقُوا ﴾ جدبن قيس منافق داهم وئيلى وو چه زه خوبذات خوددروميانو سره دجهادكولودپاره نشم تلې، البته مالى اعانت كولې شم نودا آيت نازل شو چه دمنافقينو انفاق نه قبليږى، ((انفقوا)) صيغه دامرده ليكن دلته انشاء په معنى داخبارسره دې يعنى كه تاسو انفاق طوعًا كوئ اوكه كراهًا كوئ نو په هرصورت كښې نه قبليږى ، دطوعًا انفاق توفيق دوئ

نه نه ملاويږي لکه په مابعد آيت کښ دي ﴿وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَـٰرِهُونَ﴾ ليکن که بالفرض دوئ انفاق طوعًا، په خپلې رضامندئ سره اوکړي نوبياهم دکفر اونفاق دعقيدې په وجه . ددوئ نفقه نه قبليږي لکه په دې مابعدآيت کښ دي.﴿ وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ ﴾ يعني ددوئ دانفاق دقبوليت نه مانع بل څه نشته دې سوی دکفرددوئ نه په الله تعالى اورسول الله ﷺ باندې .

﴿إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ ﴾ دا په تاويل دمفرد سره فاعل د (منع) دپاره دې، او (هم) ئ مفعول دې او﴿ أَن تُقْبَلَ ﴾يابدل دې د (هم) نه نومعنى داشوه چه مانع نه دې دوئ لره يعني قبول دنفقاتوددوئ لره مګرکفر ددوئ. يا ((ان تقبل)) مفعول ثاني دې دمَنَعَ دپاره. په تقدير د (من سره، څکه (منع) متعدي کيږي مفعول اول ته بالذات اومفعول ثاني ته کله بالذات اوکله په واسطه دحرفِ جرسره نووئيلې شي. (منعه حقه) او (منعه من حقه) نومعنى ئ داشوه چه نه دې منع کړې دوئ لره ددې خبرې نه چه قبول کړې شي نفقات ددوئ، هيڅ شئ داشياؤ نه مګردې خبرې چه دوي کفرکړي دې په الله تعالى اوپه رسول الله ﷺ دهغه، ﴿وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾يعني لکه څه رنګه چه ددوئ مالي عبادت په صحيح طريقه سره نه دې نودغه شان بدني عبادت ئ په صحيح طريقه سره نه دې.

﴿فَلَا تُعْجِبْكَ ﴾ داجواب دسوال هم دې اوتفريع هم ده په ماقبل باندې. **سوال** داچه هرکله دوئ داسې مردوداوملعون دی نوالله تعالى ورته ولې نعمت دمال اولادورکړې دې، **جواب** دادې چه دانعمت ددوئ په حق کښ عذاب دې، اوتفريع داسې ده چه هرکله ددوئ نفقات نه قبليږي. نوددوئ مالونه هم بې فائدې دی اواولادونه ئ هم بی فائدی دې، مؤمن چه دخپل مال نه صدقه، خيرات اوکړي، ياورپسې څوک دمرګ نه بعدصدقه اوکړي نوثواب ورته ملاويږي، ليکن کافر اومنافق ته هيڅ ثواب نه ملاويږي بلکه سبب دعذاب اُخروی هم کيدې شي اوپه دنياکښ هم دمال په جمع کولو اوحفاظت کولوسترې، مشقتونه، غمونه برداشت کوی نوداهم يوعذاب دې ، اودغه شان دمؤمن اولادچه صالح وی نووالدينو ته ترينه فائده رسي، په دعا، صدقى کولوسره اومنافق اوکافرددې نه محروم دی، اوهمدارنګه کافراومنافق دالله تعالى نه بی تعلق وی اودمال په محبت کښ غرق وی نواول ددی په جمع کولوکښ غمونه مشقتونه برداشت کوی اوبياچه لګ مالي نقصان ئ اوشي نودمحبت په مقدار ورته غم صدمه اورسی اوپه موت سره چه کومه صدمه اوغم ملاويږي

نوهغه خودومره ډیروی چه بیان ئ نه شی کیدې

وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ ۖ وَمَا هُم مِّنكُمْ

او قسمونه کوی دوئ په الله تعالی چه بیشکه دوئ ستاسو د ډلې نه دی، او ندی دوئ ستاسو د ډلې نه

وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا

لیکن دوئ داسې قوم دې چه یریږی که چرې دوئ مونډلې ځائ د پناه یا غارونه، یا سورې د ننوتلو

لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ ﴿٥٧﴾ وَمِنْهُم مَّن

نو خامخا به دوئ متوجه شوې وې هغې ته په داسې حال کښې چه منډې به ئې وهلې او بعضی د دوئ نه هغه څوك دی

يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا

چه عیب لګوی په تا باندې په تقسیم د زکاتونو کښې، نو که ورکړې شی دوئ ته د هغې نه نو دوئ خوشحاله وی

وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾

او که ورنه کړې شی دوئ ته د هغې نه نو دغه وخت دوئ خفګان کوی.

﴿ وَيَحْلِفُونَ ﴾ دا هم دمنافقانو دقبائحوذکردې چه دوئ مؤمنانو ته ددهوکې دپاره دروغو قسمونه کوی چه مونږ دکافرانوسره نه یوبلکه ستاسو ملګری یو، ﴿ يَفْرَقُونَ ﴾ یعنی دوئ بزدل دی (یفرقون) دفرق نه ماخوذدې فرق هغه یرې ته وائ چه هیبت اوجزع ورسره ورسره وی نو (فَرَق) دخوف نه زیات وی، مقصوددادې چه په دوئ کښې دروغ اوېره دواړه قبائح موجوددی اودیرې دوجې نه ایمان ظاهروی، ﴿ لَوْ يَجِدُونَ ﴾ ددوئ ددروغو اویرې حالت دادې که چرې دوئ ته ﴿ مَلْجَـًٔا ﴾ یعنی ځائ دپناهئ ملاؤشی، ﴿ أَوْ مَغَـٰرَٰتٍ ﴾ یعنی غارونه ﴿ أَوْ مُدَّخَلًا ﴾ یعنی سوری دننوتلو، یعنی معمولی، لګ ځائ ورته ملاؤ شی، چه سرې هلته ننوتلې شی نو دوئ به په منډه ورځی، غرض داچه دمسلمانانو، اواسلامی حکومت یره نه وی نودوئ بیااسلام په څرګنده طریقه سره پریږدی، لیکن چونکه نه ئ داسلامی حکومت دمقابلې طاقت شته دې اونه ورته دپناهئ څه ځائ ملاویږی نوددې وجه

نه ده دروغو په قسمونو کولوسره خپل اسلام ظاهروی ﴿یَجْمَحُوْنَ﴾ دجمح نه مشتق دي جمع هغه منډه داس ده چه په واګې سره هم نه حصاریږی، یقال جمح الفرس ، فرس جموح، هوالذی اذاحمل لایرده اللجام، ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّلْمِزُكَ﴾ داهم دمنافقینو دقبائحو ذکردي اوزجردي، یعنی بعض خلق دصدقاتو اودمال غنیمت دتقسیم په وخت کښ، ددنیوی حرص اوخودغرضئ په وجه په تاطعن کوی چه داتقسیم بی انصافه دي، لیکن دااعتراض اوطعن په هغه وخت کښ کوی چه تقسیم دصدقاتو ددوئ خواهش مطابق نه وی، اوکه ددوئ دخواهش اوحرص مطابق دوي ته څه ورکړې شي نوبیادوئ خوشحاله وی نودوئ دنیاخپل مقصد ګرځولي دي، اوددې نه معلومه شوه چه ددین کارددنیوی مفاداتو، اودخپلو خواهشاتو پوره کولو دپاره، کول دمنافقانو خصلت دي، ﴿مَّنْ یَّلْمِزُكَ﴾ (لمز) په اصل کښ دفع ته وائ ، اومستعملیږی دپاره دعیب لګولو په مخاطب باندې مخامخ، او (همز) عیب لګول دی پشی شاه،اوداراجع قول دي، په (لمز) او (همز) کښ اوبعضو ددې برعکس ذکرکړې دي، باقی ددې آیت سبب نزول په روایت دابوسعید خدری ﷛ کښ ذوالخویصره دې چه رئیس الخوارج دې په باره دتقسیم دغنائمو دحُنین کښ، اوکلبی وائ چه داآیت نازل دې په باره د،،جواظ،، کښ چه یرلوئ منافق وو، اوابن زید وائ چه په باره دعامو منافقینو کښ نازل شوې دی.

وَلَوْ اَنَّهُمْ رَضُوْا مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۙ وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ
او که خوشحال شوی وې دوئ په هغې چه ورکړی دی دوئ ته الله تعالی او رسول دهغه، او دوئ ویلی وې چه پوره دې مونږ لره الله
سَيُؤْتِيْنَا اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَرَسُوْلُهٗٓ ۙ اِنَّآ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوْنَ ۞
زر ده چه را به کړی مونږ ته الله تعالی د فضل خپل نه او رسول د هغه بیشکه مونږ خاص الله تعالی ته رغبت کونکی یو

﴿وَلَوْ اَنَّهُمْ﴾ یعنی دمؤمن دپاره دنبی په تقسیم راضی کیدل پکاردی، اوجواب د (لو) محذوف دي چه (لکان خیراً لهم) دي ﴿وَرَسُوْلُهٗ﴾ درسول دورکولونه مرادذکوة اودغنیمت حصی ورکول دی په امرالله تعالی سره،لکه په حدیث کښ دی : (انّما انا قاسمٌ والله یُعطی) نواعطاء یعنی ورکول داالله تعالی مافوق الاسباب ده اودپیغمبر ماتحت الاسباب ده، یعنی په طریقه دتقسیم سره ورکول مراددی، نوپه دې آیت سره دااستدلال کول چه نبی صلی الله علیه

وسلم مختارکل دي، غلط استدلال دي ﴿إِلَّا اللَّهُ﴾ حضرت شيخ الهند رحمه الله ترجمه داسي کوی، (ہم کو تو اللہ ہی چاہئے)، یعنی مؤمن لره داسې پکاردی چه په هره معامله کښې دالله تعالی په حکم روان شی اودالله تعالی رضاخپل مقصدگرځوی. لکه روایت دې چه دعیسی ؑ تیریدل اوشو په یوقوم باندې چه هغوئ دالله تعالی ذکرکولو نوتپوس ئ ترینه اوکړو. چه تاسو دالله تعالی ذکر ولی کوئ نوهغوئ اووئیل چه دوجه دخوف دعقاب نه مونږ ذکرکوو.

نواوئ فرمائیل (اصبتم) یعنی دا ټهیک خبره ده بیائ په بل قوم تیریدل اوشو نودهغوئ نه ئ هم دغه شان تپوس اوکړو، نوهغوئ اووئیل چه مونږ دالله تعالی ذکر نه دخوف دعقاب دوجې نه کوؤ اونه ئ دثواب درغبت دوجی نه کوؤ، بلکه ذکردبندگئ داظهار عجز دپاره اودربوبیت دعزت داظهار دپاره، اودزړه دتشریف دپاره په معرفت دالله تعالی سره. اودتشریف دژبی دپاره په ذکردالله تعالی سره چه دادلالت کوی په صفاتو قدسیو باندې. کوؤ. نوورته ئ اوفرمائیل : انتم المحققون.

إِنَّمَا الصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسَٰكِينِ وَالْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا

بیشکه صدقې ورکیدې شی فقیرانو ته او مسکینانو ته او کارکونکی چه مقرر وی په هغې باندې

وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَٰرِمِينَ

اوهغه چه آشنائی (الفت) راوستلې شی د زړونو د هغوئ د اسلام سره، او په آزادولو د ستونو کښې او قرضدارو ته

وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۞

اوپه لار د الله تعالی کښې او مسافروته، فرض کړې شوې دې د طرف د الله تعالی نه. او الله تعالی علیم حکیم دې

﴿إِنَّمَا الصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ﴾ په دې کښې بیان د مصارفو د صدقاتو دې،د پاره د منافقیونو د طمعې د قطع کولو،اود پاره د دفعې د اعتراض د معترضینو،او د ددې وجې نه په ابتدا دکلام کښې «انما» ذکر شوۍچې په حصر دلالت کوی،یعنی صدقات منحصر دی په دې مذکوره مصارفو پورې،بل مصرف ئې نشته دې،او مراد د صدقاتو نه صدقات واجبه دی،نفلی صدقات منحصر نهٔ دی په دې مذکوره مصارفو پورې،

امام شافعی رحمه الله وائی چې (لام) په ﴿لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسَـٰكِينِ الخ﴾ کښې د پاره د د استحقاق او تمليك دې، نو دا دلالت کوی په دې خبره چې صدقات د دوی حق او ملکیت دې، نو که چرې فقراء او مساکین وغیرهما اصناف موجود وو نو هر صنف ته ورکول ضروری دی، ځکه چې دا د دوی حق دې، او حق ذی حق ته ورکول ضروری دی، دویمه خبره دا ده چې په هر هر صنف کښې دریو (۳) کسانو ته ورکول ضروری دی، ځکه چې فقراء وغیره اصناف د جمع په صیغه سره ذکر دی، او اقل افراد د جمعې درې دی،

احناف وائی چې لام دپاره د تمليك او استحقاق نۀ دې بلکه د پاره د بیان د مصارفو دې، یعنی مصارف د صدقاتو مفروضو صرف دا مذکور دی، او هر صنف کښې دریو کسانو ته ورکول هم ضروری نۀ دی، ځکه چې په جمع باندې چې الف لام داخل شی نو جمعیت ئې باطل شی، او جنس ترې نه مراد وی، او جنس شامل وی واحد او کثیر ټولو ته، لکه چې څوك حلف اوکړی او اووائی (والله لا اتزوج النسآء) نو حانث کیږی په نکاح کولو د یوې ښځې سره ځکه چې په نسآء کښې جمعیت ختم شوې دې، جنس ترې نه مراد دې، نو دلته هم جنس مراد دې،

او په دې آیت کښې اتۀ مصارف ذکر شوی دی، اول فقراء دویم مساکین، د فقیر او د مسکین حکم په باب د زکوة کښې یو شان دې، چې دواړه مصرف د زکوة دی، او د معنٰی په اعتبار سره د دواړو په مینځ کښې فرق شته دې، نو په باب د وصیت کښې د دواړو په مینځ کښې فرق شته دې، نو که چا وصیت د فقراؤ د پاره اوکړو نو مساکین په کښې نۀ داخلیږی، او که مساکینو د پاره ئې اوکړو وو فقراء په کښې نۀ داخلیږی، او که چا داسې وصیت اوکړو چې زما د مال ثلث د فلانی د پاره او د فقراؤ د پاره او د مساکینو د پاره دې نو دغه مال به درې حصې کولې شی، یو حصه به د فلانی وی بله حصه به د فقراؤ وی او بله حصه به دَ مساکینو وی، نو که چرې فقراء او مساکین جدا جدا صنفونه نۀ وې نو نصف مال به د فلانی وو، او نصف مال به د فقراؤ او مساکینو وو، بیا د احنافو او شوافعو رحمهم الله اختلاف دې په تفسر د فقیر او مسکین کښې:

احناف وائی چې مسکین (اسواء حالا من الفقیر) وی ګویا کښې دا ماخوذ دې د سکون نه چې د غریبئ په وجه ساکن وی، هیڅ قدرت نۀ لری، او فقیر هغه دې چې لږ څه مال ورسره وی خو مالك د نصاب نۀ وی، نود مسکین د پاره سوال کول جائز دی او د فقیر سره چې (قوتُ یومه) وی نو سوال کول ورله جائز نۀ دی او زکوة اخستل ورله جائز دی، شوافعو د فقیر او د مسکین معنی په عکس د دې بیانوی نو فقیر د دوی په نیز (اسواء حالا من المسکین) وی.

داحنافو استدلال: - استدلال کړي دي احنافو په دې قول د الله تعالی سره (اومسکینًا ذا متربة) دَ (ذا متربة) معنی ده (ملصق بالتراب)، خاك نشين، اوچونکه دا وصف کاشفه دي او صفت کاشفه په حقيقت کښ تعريف دې نو ګويا کښ تعريف د مسکين دا شو چه هيڅ څه وسره نهٔ وی په خاورو ناست وی، او امام لغت اصمعي رحمه الله او ابو عمروبن العلاء رحمه الله او نورو اهل لغتو تفسير کړيدې ده مسکين -من لاشئ له- يعنی مسکين هغه دې چه څهٔ ورسره نه وی او ده فقير تفسير کړيدې په (من له بُلغةٌ من العيش) - سره يعنی هغه څوك چه څه ګذاره ده عيش وسره وی،

شوافعو استدلال کړيدې په دې قول دَ الله تعالی سره -﴿ أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَٰكِينَ ﴾- نو مسکين لره ې سفينه ثابته کړه، نو معلومه شوه چه مسکين هغه دې چه څه ګذاره وسره وی. او په حديث کښ نبی ﷺ دَ فقر نه پناه غوښتلې ده او دَ مسکنة سوال ې کړې دې لکه په روايت دَ ترمذی وغيره کښ دی (اللهم أحيني مِسكيناً وأمِتني مسكيناً واحشرني في زمرة المساكين) او په روايت دَ ابو داؤد وغيره کښ دی (اللهم انی اعوذ بك من الكفر والفقر) نو معلومه شوه چه فقير (اسواء حالاً) ته وائی لکه دلالت کوی په دې باند تقديم دَ فقرآء په مساکينو باند.

جواب کړې دې احنافو چه سفينه دَ هغوئ ملکيت نهٔ وو بلکه عاريت وو، يا دا چه اطلاق دَ مساکينو په هغوئ باند ترحمًا شوې دې، لکه په قوله دَ شاعر کښ.

مساكين اهل الحب حتي قبورهم عليها تراب الذل بين المقابر

او دَ حديث نه جواب دا دې چه نبی ﷺ چه کوم فقر نه پناه غوښتلې ده هغه فقر دَ نفس دې په دليل دَ دې سره چه نبی ﷺ دَ عفاف او دَ غنی سوال کړيدې (اسئلك العفاف والغنى) او دَ غنی نهٔ مراد غنی دَ نفس ده نهٔ ډير والې دَ مال نو دَ فقر نهٔ هم فقر دَ نفس مراد دې. او دَ تقديم دَ پاره ډيرې نکتې کيدې شی صرف دا نکته نهٔ ده چه تقديم په کثرت دَ احتياج دلالت کوی.

دريم قسم په مصرف دَ زکوٰة کښی ﴿وَٱلْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا﴾ دی، عامل هغه دې چه ده بادشاه دَ طرف نه مقرر وی لپاره دَ جمع کولو دَ زکوٰة دَ مالدارو خلقو نه نو عامل اګر که غنی وی نو دَ ته به ورکيدېشی په قدر ده عمل دَ دهٔ، ځکه عامل په حقيقت کښ وکيل وی دَ فقراؤ، او دَ وکيل خپل حالت معتبر نهٔ وی نو عامل اګر که غنی وی خو دَ دهٔ خپله غنٰی معتبره نهٔ ده، او دَ دې وجه دا ده چه امير او بادشاه، قدرتی طورسره دَ فقرآؤ غرباؤ وکيل دې ځکه چه دَ غرباؤ دَ ټولو ضروورياتو ذمه داری په امير باندِ وی اوبيا چه امير څوك مقرر کړی دَ جمع کولو دَ زکوٰة لپاره

نو هغه هم په حقيقت کښې دَ فقراؤ نائب او وکيل وی، او په عامل کښې ليکونکې او تقسيم کونکې، او ساعی ،او عاشر، او چوکيدار وغيره داخل دی، او بعض علماء دَ مدارسو مهتممين په عاملينو کښې داخل کړی دی، ليکن محققين مفتيان وائی چه په عاملينو کښې داخل نهٔ دی ځکه چه دوئ دَ فقراؤ نائبين او وکيلان نهٔ دی ځکه چه فقراؤ پخپله هم دوئ خپل وکيلان او نائبين نهٔ دی ګرځولی او دَ بادشاهٔ دَ طرفه هم مقرر ندی، بلکه صرف دَ مالدارو نائبين دی، چه دَ هغوئ مالِ زکٰوة په مصرف باند لګوی.

او څلورم قسم په مصرف دَ زکٰوة کښې ﴿وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ﴾ دی، يعنی هغه خلق چه دَ هغوئ زړونو الفت، اشنائی راوستلې شی دَ اسلام سره، او دا ډير قسمونه دی ، اول هغه چه اسلام بې راوړې وو ، ليکن ايمان بې ضعيف وو ، نو دوئ له به زکٰوة ورکيدې شو اګر چه غنی به وو لپاره دَ الفت دَ زړونو دَ دوئ چه محکم شی په ايمان باند ، دويم هغه چه کافر وو ليکن اميد دَ ايمان تر نهٔ کيدې شو نو دا قسم خلق اګر که اغنياء وو خو زکٰوة به ورته ورکولې شو. ليکن په قرطبی او مظهری کښې دی چه نبی ﷺ کفارو ته دَ تاليف القلوب لپاره مالِ زکٰوة نهٔ دې ورکړې او په کومو روايتونو کښې چه ذکر دې (مسلم ترمذی) چه نبی ﷺ صفوان بن اميه ته په زمانه دَ کفر دَ دهٔ کښې عطيات ورکړی وو نو هغه عطيه دَ مال زکٰوة نهٔ وه ورکړې شوې بلکه دَ خمس نه ورکړې شوه، نو صحيح خبره داده چه دې قسم (مؤلفة القلوب) ته به اُوس بالاتفاق نشی ورکيدې ، دريم قسم هغه څوک دی چه دَ هغه دَ وجه نه نور خلق په اسلام کښې داخليږی ، او څلورم قسم هغه خلق دی چه دَ هغه په وجه ضرر دَ مسلمانانو نه دفع کيږی، دَ دې قسمونو (سوی دَ دويم قسم نه) دَ حصو په منسوخ کيدو کښې ورستو دَ وفات دَ نبی ﷺ نه اختلاف دې بعض وائی چه په وخت دَ ضعف دَ اسلام کښې دا حصه ورکول پکار دی او دَ احنافو مشهور قول دا دې چه مؤلفة القلوب چه اغنياء وی نو دوئ ته نهٔ شی ورکيدې، دَ دوئ حصه ساقطه شوی ده او په دې اجماع راغليده په زمانه دَ حضرت ابوبکر ؓ کښې، نو بيا سوال رازی چه ناسخ ورله کوم نص دې، نو که څوک جواب ورکړی چه ناسخ اجماع ده ځکه چه اجماع هم قطعی ده په شان دَ نصِ قرآنی، نو دا جواب صحيح نهٔ دې ځکه اجماع اتفاق دَ آراؤ دې او په رائ سره نسخ نشی راتلې، او بعضُ ويلې دی چه دا سقوط دَ حصې دَ دوئ نسخ نه ده بلکه (انتها ءالحکم بانتهاء علته) دې، لکه روايت دې، چه عيينه ،او اقرع ، ابوبکر ؓ ته راغلل طلب بې دَ حصې دَ مؤلفة القلوب کوؤ نو ابوبکر ؓ حضرت عمر ؓ ته دَ

دوئ دَ پاره خط اولیکو نو دوئ چه خط حضرت عمرؓ ته ورکړو نو هغوی دغه رقعه څیرې کړه او وې فرمائیل چه دا حصه به تاسو ته نبیﷺ دَ تالیف القلوب لپاره درکوله اُوس الله تعالی عزت ورکړې دې اسلام ته نو که تاسو په اسلام باندِ ثابت پاتې کیږې نو ډیره خه ده، ګنی نو زمونږ او ستاسو په منځ کښې توره فیصله ده، او حضرت ابوبکرؓ دَ حضرت عمرؓ سره په دې کښې موافقت اوکړو، او په صحابوؓ کښې چا هم دَ دِ فیصلې خلاف اونکړو، نو دا اجماع شوه، او دَ حضرت عمرؓ دَ کلام نهٔ معلومه شوه چه دا (انتهاء الحکم لانتهاء علته) دې او نسخ ورته مسامحةً وئیلې شوی دی، او تحقیقی جواب دا دې چه اجماع په څه حکم باندې چه منعقده کیږی نو لابدی وی دَ هغې لپاره دَ دلیل ظنی نه لکه خبرِ واحد وغیره شو چه دې ته داعی دَ اجماع ویلې شی نو هغه داعی اګر که ظنی وی لیکن په اجماع سره قطعی ګرځې، نو چونکه هغه داعی نصِ ظنی وی او په اجماع سره قطعی اوګرځی نو دَ دې وجه نه ناسخ کیدې شی، .والله اعلم .

او پنځم قسم په مصرف دَ زکٰوة کښې ﴿وَفِى ٱلرِّقَابِ﴾ دلته مضاف مقدر دې (ای فی فك الرقاب) دَ دې نهٔ مراد ورکول دَ زکٰوة دی په بدلِ کتابت کښې، او دا قول دَ جمهورو علماؤ دې او دا قسم یې په «فی» سره ذکر کړو نو اشاره شوه دې ته چه دا مصرف دَ نورو مصارفو په نسبت سره زیات مستحق دې، څکه چه «فی» دَ ظرفیت لپاره ده،ګویا کښې دا مصرف ظرف او اصلِ محل دَ زکٰوة دې، او په نیز دَ بعضِ علماؤ باندې دا شامل دې هغې ته چه غلام واخلی او آزاد یې کړی، یا مالك ته دَ زکٰوة رقم ورکړی او معاهده وسره اوکړی چه دا به آزادوی، لیکن جمهورعلماء او احناف په دی قائل نهٔ دی.

او شپږم قسم په مصرف دَ زکٰوة کښې ﴿وَٱلْغَـٰرِمِينَ﴾ دَ دې نه مراد هغه خلق دی چه په یو نیك کار کښې یا دَ عامو خلقو دَ فائدې لپاره یا دَ دوؤ ډلو دَ صلحِ کولو لپاره په خپل ځان تاوان راولی او دې پخپله اګر که مالدار، غنی وی خو مال ئ دَ تاوان نه کم وی نو زکٰوة به ورته ورکولې شی، او دا رنګه هغه کس چه په هغه باندِ څه حادثه راشی او مقروض شی یا دَ چا په ضمانت کښې ګیر شی دا ټول په غارمین کښې داخل دی ،

اووم قسم مصرف ﴿وَفِى سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ دې دلته هم «فی» معاده شوه چه اشاره شی دې ته چه دا مصرف دَ ټولو مصارفو نه افضل دې څکه چه په دې کښې دوه فائدې دی، یو دَ غریب امداد کول دی

بل په دینی خدمت کښې اعانت کول دی، مراد دَ (فی سبیل الله) نه منقطع الغزاة دی یا منقطع الحجاج دی، یعنی هغه خلق چه اغنیاء او مالك دَ نصاب وی خو دومره مال ورسره نهٔ وی چه اسلحه پرې واخلی او ضروریات دَ جهاد پرې پوره شی، نو گویا کښې دا هم یو نوع فقیر دې، او منقطع الحجاج هغه دې چه دَ هغه په ذمه حج واجب شوې وی لیکن بیا ورسره دومره مال نوی پاتې شوې چه حج پرې ادا کړی،نو دغه شان کس اگر که مالك دَ نصاب وی نو ده ته زکوٰة ورکولې شی.

او فقهاؤ په دې کښې طالب علم او دَ دین تعلیم تبلیغ کونکی هم داخل کړیدي په دې معنی سره چه دوئ په (فی سبیل الله) کښې داخل دي نو دوئ چه فقراء وی نو مال زکوٰة به ورته ورکولې شی او په دې کښې دوه فائدې دی یو دَ غریب امداد کول بل په دینی خدمت کښې اعانت کول، او که مالدار صاحب دَ نصاب دا خدمت کوی نو هغه ته به مالِ زکوٰة نشی ورکولې.

اتم قسم مصرف ﴿وَابْنِ السَّبِيلِ﴾ دې دَ دې نه مراد هغه مسافر دې چه دَ دهٔ سره په سفر کښې په قدر دَ ضرورت مال نوی اگر که په وطن کښې غنی وی نو دهٔ لره زکوٰة اخستل جائز دی.

﴿فَرِيضَةً﴾ دا مفعول مطلق دَ فعل مقدر دې (ای فُرض فریضةً) یعنی زکوٰة فرض کړې شویدي په فرض کیدلو سره دَ طرف دَ الله تعالی نه، یا دا حال دې دَ ضمیر مستتر نه په «للفقراء» . کښې (ای الصدقات کائنةلهم حال کون الصدقات مفروضةً من الله) .

وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ اُذُنٌ ؕ قُلْ

اوبعضی د دوئ نه هغه کسان دی چه تکلیف رسوی نبی ته او ائی دوئ چه دې هره خبره منونکې دې، وه وایه چه

اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَ رَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ

دې منونکې د خیر د خبرې دې ستاسو، ایمان لری په الله تعالی او خبره منی د مؤمنانو او رحمت دې دهغه کسانو لپاره

اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

چه ایمان لری ستاسو نه، اوهغه کسان چه تکلیف رسوی رسول د الله تعالی ته دوئ لره عذاب دردناك دې.

يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ ۚ وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَحَقُّ

دوئ قسمونه کوی په الله تعالی تاسوته د دې لپاره چه تاسو راضی کړی، او الله تعالی اورسول د هغه حقدار دې

أَنْ يُرْضُوهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ ۝

چه راضي کړي دوئ هغوی لره که وي دوئ مؤمنان

﴿ وَمِنْهُمُ الَّذِينَ ﴾ دا هم زجر دې منافقينو ته او د هغوئ د قبائحو بيان دې چه دوئ تکليف رسوی نبی ﷺ ته يعني د نبی په شان کښې داسې خبرې کوی چه هغه ئ کله واؤری نو زړه ته يې تکليف خفگان رسی. بعض منافقينو (لکه حلاس، رفاعه وغيرهما) د نبی ﷺ په شان کښې او د اسلام په حق کښې نامناسب خبرې کولې نو بعضو اووئيل چه دا خبرې مکوئ. داسې نه چه نبی ﷺ ته اورسی نو حلاس اووئيل بلکه مونږ به وايو هغه چه زمونږ زړه غواړی بيا چه د نبی ﷺ څنگ ته لاړ شو. نو دروغ به ورته اُووايو او دهوکه به ورله ورکړو. ځکه چه هغه خو هره خبره مني او تصديق يې کوی. نو دهوکه ورکول ورله آسان دی

﴿ هُوَ أُذُنٌ ﴾ أُذن خو په اصل کښې عضو مخصوص (غوږ) ته وائی او اطلاق يې په سړی باند په طريقه د مجاز مرسل سره دې. لکه اطلاق د عين. په جاسوس باند يا په طريقه د تشبيه سره دې لکه غوږ چه هر قسم خبره آوری، رشتيا، دروغ، حق، ناحق، نو دا رنګه معاذالله نبی ﷺ تميز د صحيح او د غلط کولې نشی کولې نو الله تعالی فرمائی چه ﴿أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ ﴾ يعني نبی ﷺ هره خبره آوری خو تصديق فقط د صحيح او د حق کوی، او ستاسو په دروغو يقين نهٔ کوی، ليکن اعتراض او تنقيد چه پرې نهٔ کوی نو دا د ډير شرافت او حسن اخلاق په وجه نکوی، دا وجه نهٔ ده چه د صحيح او غلط، او دروغ او رښتيا تميز نهٔ شی کولې، اضافت د (أُذن خير) ته اضافت د موصوف دې صفت ته يعني نبی ﷺ هر څه اوريدونکې دې، خو دا ستاسو په حق کښې ډير ښه او خير دې. ځکه چه که ستاسو په درغو ستاسو تنقيد اوکړی نو تاسو به رسوا شئ، او سزا به درته ملاؤ شی. يا اضافت د (أُذن خير) ته اضافت بمعنی (في) دې، يعني (اذن في الخير والحق) دې.

﴿ يُؤْمِنُ ﴾ تفسير د ما قبل دې. ﴿وَرَحْمَةٌ ﴾ دا عطف دې په أُذن باند. يعني نبی ﷺ رحمت دې د هغه خلقو د پاره چه اظهار د ايمان کوی، نو د دې وجه نه د چا په درغو اعتراض نهٔ کوی.

﴿ يَحْلِفُونَ ﴾ دا هم زجر دې منافقينو ته، په بعض رواياتو کښې وارد دی چه منافقين د غزوهٔ تبوك نه پاتې شو نو هر کله چه نبی ﷺ واپس شو نو دوئ د عذر کولو لپاره راغلل او د درغو قسمونه يې کول نو دا آيت نازل شو. او په بعض رواياتو کښې داسې وارد دی چه څو منافقين په يو مجلس

کښې وو. او دَ نبیﷺ په شان کښې یې نامناسب خبرې کولې او په دغه مجلس کښې یو انصاري غلام هم ناست وو نو منافقینو اووئیل که چرې حق وی هغه چه محمد(ﷺ) یې وائی نو مونږ به دَ خرو نه هم زیات بد یو، انصاري غلام په غصه شو اووئ وئیل چه په الله قسم چه محمدﷺ چه څه وائی نو هغه حق دی او تاسو دَ خر نه هم زیات بد او قبیح ئی، او بیا راغې نبیﷺ ته ئی دا قصه بیان کړه نو نبیﷺ دغه منافقین راؤبلل او تپوس یې ترې نه اوکړو نو دوئ قسمونه اوکړل چه مونږ دا خبرې نهٔ دی کړې او عامر قسم اوکړو چه دوئ کړی دی او دعا ئ کوله چه یا الله ته دَ رښتونی تصدیق اوکړې او دَ کاذب تکذیب اوکړې، نو دا آیت نازل شو،

﴿ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ ﴾ (ای بالارضاء) او دَ الله تعالى او رسول راضی کول په طاعت او اخلاص سره کیږی، او دلته ضمیر دَ مفرد ذکر شو ځکه چه نشته دې تفاوت په مابین دَ رضاء دَ الله تعالى او دَ رسولﷺ کښې بلکه تلازم دې په مابین دَ دواړو کښې او دا ضمیر راجع دې الله تعالى ته په نیز دَ بعض مفسرینو ﷭ او رسول ته په نیز دَ امام سیبویه﷫ دَ وجه دَ قرب نه.

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ
آیا نه پوهیږی دوئ چه بیشکه چاچه خلاف وکړو د الله او درسول دهغه نه پس بیشکه ده لره اُور د جهنم دې
خَٰلِدٗا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡخِزۡيُ ٱلۡعَظِيمُ ۝ يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ
همیشه به وی په هغې کښې، او دا شرمندګی لویه ده. یریږی منافقان چه نازل به شی په مسلمانانو یو سورة
تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ
چه خبر به کړی دوئ لره په هغه څه سره چه په زړونو د منافقانو کښې دې، وه وایه توقی کوئ تاسو. بیشکه الله تعالى
مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ۝
ښکاره کوی هغه څیز چه تاسو ترینه یره کوئ.

﴿ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ ﴾ دا تخویف اخروی دې په مخالفت دَ الله تعالى او دَ رسول اللهﷺ باندې، مفسرینو ﷭ وئیلی دی چه داسې تعبیر هغه ځائ کښې کیږی چه چا ته یو شې معلوم وی او بیا ئې هیر کړی پریږدی یې، نو وئیلی شی (الم تعلم انه کان کذا وکذا) او هر کله چه نبیﷺ دوئ ته

احکامات او حدود بیان کړل نو دَ دې وجه نه ېې ورسره مخاطبه په (الم یعلموا) سره اوکړه. چه تاسو ته خو معلومه ده چه په نفاق او مخالفت دَ الله تعالی او رسول اللهﷺ اُور دَ جهنم ملاویږی چه همیشه به پکښ وی. نو دا آیت په حق دَ کفارو او منافقینو کښ دې. نه په حق دَ عصاتو کښ. چه حد دَ کفرِ قطعی ته نۀ وی رسیدلې

﴿ يُحَادِدِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ﴾ یعنی مخالفت وکړی دَ امر دَ الله تعالی او دَ امر دَ رسول اللهﷺ نه (محادة) دَ باب مفاعله نۀ دې ماخوذ دې دَ حد نه په معنی دَ جهت او جانب سره یعنی په هغه جهت او جانب کښ راشی چه غیر وی دَ جهت او جانب دَ الله تعالی او رسول الله نه، او دَ دی نه مراد نفاق او کفر قطعی دې، او کلمه دَ (من) په ﴿مَن يُحَادِدِ اللَّهَ﴾ کښ شرطیه ده او جواب ېې دا دې چه ﴿فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ﴾ او دلته (فحق) مقدر دې (ای فحُق انه له نار جهنم) ځکه (انّ) مدخول خپل په تاویل دَ مفرد سره ګرځوی او جواب دَ شرط جمله وی یا (الامر) مقدر دې (ای الامر ان له نار جهنم) .

﴿ذَٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ﴾ منافقینو دَ نفاق لار دَ دې دَ پاره اختیار کړې وه چه دَ رسوائی نه بچ شی لیکن بچ نۀ شو بلکه دَ نفاق په وجه په لویه رسوائی کښ راغلل.

﴿ يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ ﴾ دا هم زجر دې منافقینو ته او بیان دَ قبائحو دَ دوئ دې

﴿أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ﴾ دلته (من) مقدر دې ، (ای من اَن تُنزلَ) او (علی) په معنی دَ (فی) سره دې او ضمیر راجع دې منافقینو ته، او مضاف مقدر دې (ای فی شانهم) یا ضمیر دَ (علیهم) او دَ (تنبئهم) راجع دی مؤمنانو ته او دَ (قلوبهم) ضمیر منافقانو ته راجع دې یعنی منافقان دَ دې خبرې نه خطره کوی چه نازل شی په مؤمنانو باندِ یو داسې سورت چه خبر کړی دوئ لره دَ هغه نفاق او حسد، او عداوت، نه چه دې منافقانو په زړنو کښ دې، حضرت قتادهؒ وائی چه دَ دې سورت یو نوم فاضحه دې یعنی دَ منافقانو عیوب ېې ظاهر کړیدی نو هغوئ ېې شرمولی دی او ابن عباسؓ وائی چه الله تعالی نازل کړې وو ذکر دَ آویا (۷۰) کسانو دَ منافقینو نه سره دَ اسماؤ دَ دوئ او دَ اسماؤ دَ آباؤ دَ دوئ نه، بیا ېې منسوخ کړو ذکر دَ اسماؤ لپاره دَ دحمت په مؤمنانو ځکه چه دَ دوئ په اولاد کښ مخلصین مؤمنان پیدا شوی وو. منافقانو به په خپلو مجلسونو کښ په نبیﷺ پورې او په اسلام پورې مسخرې او توقې کولې، لیکن دا به ېې هم

خیال راتلو چه دا خبرې نبیﷺ ته اُوونهٔ رسی، نو دَ هغوئ په باره کښې دا آیت نازل شویدې. او ابن کیسانؒ وئیلی دی چه دا آیت نازل شوې دې په باره دَ هغه دولس (۱۲) کسانو منافقانو کښې چه دَ تبوك نه هر کله چه نبیﷺ واپس راتللو نو دوئ ورته په شپه کښې په یوه غونډې ناست وو. چه دَ نبیﷺ ناقه دَ کمر نهٔ ښکته اوغورزوی، دَ نبیﷺ سره حضرت عمارؓ او حضرت حذیفهؓ وو. حضرت عمارؓ دوئ راګیر کړل لیکن حذیفهؓ چه راغې نو دَ هغوئ دَ اوښانو مخونه یې بل خواه ته واړول. دوئ اوتښتدل. نبیﷺ چه کله منزل ته راؤرسیدو نو دوئ ته یې دَ دغه منافقانو نومونه اوخودل. لیکن بیا نبی کریمﷺ دوئ منع کړل دَ نومونو ښکاره کولو نه. دا قول دَ ابن کیسانؒ علامه شربینیؒ نقل کړې دې، لیکن مشهور قول دا دې چه دا شان نزول دَ آیت نمبر ۷۴ دې. او دَ دې آیت سره زیات موافق اول قول دې یعنی دا چه منافقانو به په خپلو مجلسونو کښې په اسلام او نبیﷺ پورې مسخرې کولې.

﴿قُلِ اسْتَهْزِءُوٓا﴾ دا امر دَ تهدید لپاره دې. ﴿إِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ﴾ (ای مظهر)

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ؕ
او که ته تپوس وکړې د دوئ نه (چه تاسو څه وئیل) خامخا به وائ دوئ بیشکه مونږ خان مشغولو او لوبې (ګپ شپ) مو کولې.
قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ۞ لَا تَعْتَذِرُوْا
ته ورته وایه آیا په الله تعالی پورې اوپه آیتونو دهغه پورې او په رسول دهغه پورې تاسو توقې کولې. بهانې مه کوئ
قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ
په تحقیق سره تاسو کفر ښکاره کړې دې روستو د ایمان ښکاره کولو نه، که معافی وکړو مونږ د یو ډلې ستاسو نه،
نُعَذِّبْ طَآئِفَةًۢ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ۞
عذاب به ورکړو بلې ډلې ته په وجه د دې چه دوئ مجرمان دی.

﴿ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ ﴾ حضرت قتادهؓ وائی چه نبیﷺ په غزوهٔ تبوك کښې روان وو، او مخکې ترې نه درې کسان منافقان وو چه استهزاء یې کوله په نبی کریمﷺ پورې او په قرآن پورې، او بعضو به دوئ کښې اووئیل چه محمدﷺ دَ شام دَ محلاتو او دَ روم دَ شهرونو دَ فتح کولو خوب وینی، لیکن دا ډیره بعیده ده، دَ رومیانو دَ مسلح تجربه شوی فوجونو مقابله آسانه نه ده، نو نبی کریمﷺ دا کسان

راوبلل او سپوس یی ترې نه اوکړو نو دوئ دا عذر پیش کړو چه مونږ ګپ شپ لګوو. لار مو لنډوله

﴿نَخُوضُ وَنَلْعَبُ﴾ یعنی ګپ شپ ټوقي مو کولې

﴿قُلْ أَبِاللَّهِ﴾ یعنی په الله تعالی او رسول اللهﷺ او اسلام پورې مسخره کول اګر که محض په ژبه وی او د زړه نه نۀ وی نو بیا هم کفر عظیم دې. او منافقین خو د شرارت او خبثِ باطن په وجه کوی

﴿قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾ دا آیت دلیل دې په دې چه څوك په الله تعالی. او رسول اللهﷺ او قرآن پورې ټوقې اوکړی هو هغه کافر. او مرتد دې. او د (کفرتم) نه مراد اظهار د کفر دې او د (بعد ایمانکم) نه مراد اظهار د ایمان دې ﴿إِن نَّعْفُ عَن﴾ منافقانو کافرانو ته د مرګ نه بعد معافی نشی کیدې نو دلته توفیق د توبې او اخلاص په ایمان کښې مراد دې ﴿مُجْرِمِينَ﴾ یعنی هغه کسان چه په نفاق او کفر باند کلك دی توبه نۀ کوی د نفاق نه.

اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ يَأْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ
منافقان سړی او منافقانې ښځې بعضې د دوئ د بعضو نه دی. حکم کوی د ناروا کارونو او منع کوی د نیکئ نه
وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ؕ
اوبندساتی لاسونه خپل، هیر کړې دې دوئ الله تعالی لره، نو الله تعالی هیر کړی دی دوئ لره (په محروم کولو سره د خیرنه)
اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ
بیشکه منافقان خاص دوئ لوئ نافرمان دی. وعده کړیده الله تعالی د منافقانو سړو سره او د منافقانو ښځو سره
وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ
او د کافرانو سره د اُور دجهنم همیشه به وی دوئ په هغې کښې. هغه پوره سزا د دوئ ده. او لعنت کړې دې په دوئ باندې
اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾ كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ
الله تعالی، او د دوئ لپاره عذاب همیشه دې. تاسې په شان دهغه کسانو یئ چه مخکښې وو ستاسو نه.
كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ؕ فَاسْتَمْتَعُوْا
وو هغوئ زیات ستاسې نه په طاقت کښې او ډیر وو په مالونو کښې او په اولاد کښې، پس فائده واخسته هغوئ

بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ

په برخه خپله پس تاسو هم فائده واخسته په برخه خپله لکه چه فائده اخستې وه هغه کسانو چه مخکښې ستاسو نه وو

بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِي خَاضُوا ط

په برخه خپله . او مشغوله شوئ په مسخرو کښې په شان دهغه کسانو چه مشغوله شوی وو هغوی

أُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ۝

دغه کسان برباد شویدی عملونه د دوئ په دُنیا او آخرت کښې، او دغه کسان هم دوئ تاوانیان دی

﴿ الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ ﴾ په دې آیت کښې هم زجر دې منافقینو ته او دَ هغوئ دَ قبیح صفاتو بیان دې او اشاره ده دې ته چه په دې قبیحه صفاتو کښې نارینه او زنانه برابر دی ﴿ بَعْضُهُم مِّنْ بَعْضٍ ﴾ یعنی دوی متشابه دی په نفاق او په صفاتو قبیحو کښې پشان دَ تشابه دَ اجزاؤ دَ شئ واحد. او صفات قبیحه یې دا دی ·

(۱) ﴿ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ ﴾ یعنی په منکر یعنی دَ شرك او دَ تکذیب دَ نبی کریم ﷺ ،

(۲) ﴿ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ ﴾ یعنی توحید او تصدیق دَ نبی کریم ﷺ نه منع کول،

(۳) ﴿ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ﴾ انفاق په خیر کښې نهٔ کوی لکه زکوٰة، صدقات، او انفاق په جهاد کښې

(۴) ﴿ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ﴾ دَ الله تعالی هیرول نه مراد دا دې چه دوئ ترك کړې دې ذکر دَ الله تعالی او اطاعت دَ الله تعالی قصداً، او حقیقی معنی مراد نهٔ ده ځکه چه په نسیان باندې مؤاخذه نهٔ وی.

﴿ وَعَدَ اللَّهُ ﴾ دا تخویف دې، دَ وعد استعمال په خیر کښې کیږی او دلته په قرینې دَ ﴿ نَارَ جَهَنَّمَ ﴾ سره استعمال یې په شر کښې شوې دې . ﴿ كَالَّذِينَ ﴾ دا خبر دَ مبتداء مقدر دې چه .انتم. دې او په دې کښې تشبیه دَ منافقانو ده، دَ مخکنو کافرانو سره .

﴿ فَاسْتَمْتَعُوا بِخَلَاقِهِمْ ﴾ یعنی هغوئ نفع حاصله کړی وه دَ دنیا دَ فانی متاع او دَ انجام نهٔ غافل وو .خلاق حصې ته وائی او اصل معنی یې دا ده (ما خُلق للانسان و قُدر له من خیر او شر) (فاستمتعوا) باب استفعال ذکرشو او باب تفعل یعنی (تمتعوا) ذکر نهٔ شو لپاره دَ دلالت په زیادة

استفادة او دوام باند ﴿وَخُضۡتُمۡ﴾ يعني تاسو ننوتي يي په تكذيب او خواهشاتو او په شبهاتو كښې ﴿كَالَّذِي خَاضُوٓاْ﴾ (الذی) مصدريه هم رازی او موصوله اكثر رازی نو كه دلته مصدريه شی نو معنى دا ده (كخوضهم) پشان دَ ننوتلو دَ هغوئ په شبهاتو او خواهشاتو كښې. او كه موصوله شي نو يا په دې كښې تخفيف شوې دې په حذف دَ نون سره نو په اصل كښې داسې وو (كالذين) نو دَ (الذی) په اصل كښې صيغه دَ جمعې ده. يا صيغه دَ مفرد ده او موصوف ورله داسې لفظ مقدر دې چه صورةً مفرد او معنًى جمع ده (ای كالفريق الذی خاضو ا) ﴿فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ﴾ په دنيا كښې حبط دا دې چه دَ دوئ اعمال دَ دوئ لپاره استدراج دې او خير ندې او دا رنګه دَ دوئ مدح په دغه اعمالو سره نۀ كيږی. متقی. مصلی. مجاهد ورته نشی وئيلې. او په آخرت كښې حبط دا دې چه اجر به ورته نشی وركولې

أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ
آيا ندې راغلې دوئ ته خبر دهغه كسانو چه مخكښې د دوئ نه وؤ قوم د نوح او عاديان او ثموديان او قوم د ابراهيم
وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ أَتَتۡهُمۡ رُسُلُهُم
او اوسيدونكی د مدين او اوسيدونكی د الټه شوی كلو (قوم د لوط) راغلی وؤ دوئ ته رسولان د دوئ
بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ۝
په واضحه معجزاتو سره، پس نه وؤ الله تعالى چه ظلم ئې كولو په دوئ ليكن وؤ دوئ په خپلو نفسونو ئې ظلم كولو
وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ
اومؤمنان سړی او مؤمنانې ښځې بعضې د دوئ نه دوستان د بعضو دی، حكم كوی په نيكئ سره اومنع كوی
عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ
د بدئ نه او قائم كوی مونځ او وركوی زكوة او تابعداری كوی د الله تعالى او د رسول دهغه، دغه كسان
سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ۝ وَعَدَ ٱللَّهُ
خامخا رحم كوی په دوئ باندې الله تعالى، بيشكه الله تعالى زروآور دې حكمتونو والا دې. وعده كړيده الله تعالى

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا

د مؤمنانو سړو اومؤمنانو ښځو سره د جنتونو چه بهيږي به د هغې د لاندې ولې هميشه به وي دوئ په هغې کښې

وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيۡ جَنّٰتِ عَدۡنٍ ؕ وَرِضۡوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكۡبَرُ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ

او به خايونو مزېدارو کښې به جنتونو د هميشه والې کښې او رضا مندي د الله تعالى ډېر لوئ نعمت دي او دا کاميابي لويه ده

﴿ اَلَمۡ يَاۡتِهِمۡ ﴾ دا دَ تخويف دنيوی نمونه ده. ﴿ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتُ ﴾ دَ منافقينو په مقابله کښې دَ مؤمنانو ذکر او بشارت دي ﴿ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ ﴾ اولياء جمع دَ ولی ده په معنی دَ محبت کونکی سره نو معنی دا شوه چه دوئ دَ يو بل سره محبت کونکی. الفت لرونکی دی. يعنی محبت يی دَ يو بل سره ظاهراً باطنًا دي. او دَ منافقانو په حق کښې يی ﴿ بَعۡضُهُمۡ مِّنۡ بَعۡضٍ ﴾ ونيلي وو. نو اشاره وه ظاهری مشابهت ته. ﴿ يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ ﴾ دا په مقابله دَ ﴿ يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمُنۡكَرِ ﴾ کښې دي. او ﴿ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ ﴾ په مقابله دَ ﴿ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمَعۡرُوۡفِ ﴾ کښې دي، او ﴿ وَيُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ ﴾ په مقابله دَ ﴿ وَيَقۡبِضُوۡنَ اَيۡدِيَهُمۡ ﴾ کښې دي، او ﴿ وَيُطِيۡعُوۡنَ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ ﴾ په مقابله دَ ﴿ نَسُوا اللّٰهَ ﴾ کښې دي. او ﴿ سَيَرۡحَمُهُمُ اللّٰهُ ﴾ په مقابله دَ ﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الۡمُنٰفِقِيۡنَ ﴾ کښې دي. او ﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴾ دا هم په مقابله دَ ﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الۡمُنٰفِقِيۡنَ ﴾ کښې دي.

﴿ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً ﴾ يعنی پاکيزه او عمده مکانات. حضرت عمران بن حصين ﷺ او حضرت ابوهريرة ﷺ دَ دې تفسير دَ نبی کريم ﷺ نه ذکر کوی، چه په جنت کښې دَ يوې بې جوړه، ملغلرې نه به يو داسې بنګله وی چه پکښې اويا (۷۰) داره (کورونه) وی دَ سرو ياقوتو نه. او په هر دار (کور) کښې اويا (۷۰) کمرې وی دَ شنو زمرودو نه، او په هر کمره کښې به اويا (۷۰) تختونه وی او په هر تخت باندې به اويا (۷۰) فراشه (بسترې) وی، دَ جدا جدا رنګونو نه او په هر فراش باندې به حورالعين وی او په هره کمره کښې به اويا (۷۰) دسترخوانونه وی او په هر دسترخوان به اويا (۷۰) نوعې دَ طعام وی او په هره کمره کښې به اويا (۷۰) خادمان او اويا (۷۰) خادمانې وی او مؤمن ته به دومره قوة ورکړې شی چه هر يوې ته به راتله کولې شی

﴿ فِيۡ جَنّٰتِ عَدۡنٍ ﴾ جنت عدن يا اسم دې لپاره د مخصوص طبقې دَ جنت. يا عدن په معنی دَ

اقامت سره دي يعنى هغه جنتونه چه دَ (اقامت على وجه الخلود) لپاره دى

﴿وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ﴾ (اى اكبرمن كل شئ وكل نعمة) (رضوان) مصدر دى لكه (رضا) چه مصدر دې فرق دومره دې چه په (رضوان)كښې مبالغه ده په نسبت سره (رضا) ته په حديث دَ شيخينو ﷺ كښې روايت دې دَ ابو سعيد خدرى ﷺ نه چه نبى كريم ﷺ فرمائيلي دى چه الله تعالى به په ورځ دَ قيامت جنياتو ته آواز اوكړى اُووبهٔ فرمائى (يا اهل الجنة) نو دوئ به اووائى (لبيك وسعديك والخير فى يديك) نو الله تعالى ﷻ به اوفرمائى چه آيا تاسو راضى يى ؟ نو دوئ به عرض اوكړى چه ولې به راضى نه يو حال دا چه تا مونږ ته هغه څه راكړي دى چه په مخلوق كښې هيچا ته نهٔ دى وركړي. نو الله كريم به اوفرمائى چه آيا دَ دې نهٔ زيات غوره در نه كړم ؟ نو دوئ به اووائى چه دَ دې نهٔ زيات غوره څه شئ دې ؟ يا ربه ، نو الله تعالى ﷻ به اووفرمائى هغه زما رضا ده. زهٔ ستاسې نه هميشه لپاره راضي يم. هيڅ كله به ناراض نه شم. نو مؤمنان چه دا واورى نو ټولې خوشحالې به ترې نهٔ دې په مقابله كښې هيرې شى (اللهم انا نسئلك رضاك والجنة ونعوذ بك من سخطك والنار)

يَٰأَيُّهَا النَّبِيُّ جَٰهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَٰفِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ
اې نبي جهادكوه دكافرانو سره او دمنافقانو سره او سخت شه په مقابله د هغوئ كښې او ځائ د استوګنې د دوئ
جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ۝ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا ۖ
جهنم دې اوډيربد ځائ د ورتلو دې دا جهنم قسمونه كوى دوئ په الله تعالى سره چه څه ندى ويلى دوئ ستا په باره كښې
وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَٰمِهِمْ
او په تحقيق سره ويلى ده دوئ خبره د كفر او كفر ئ ښكاره كړيدې روستو د اسلام ښكاره كولو د دوئ نه
وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا ۚ وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ أَغْنَىٰهُمُ اللَّهُ
او قصد ئ كړيدې دهغه كار چه حاصل نه كړو دوئ او بد نه ګڼرى دوئ مګر دا خبره چه مالدار كړل دوئ لره الله
وَرَسُولُهُۥ مِن فَضْلِهِۦ ۚ فَإِن يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ
اورسول د هغه (په تقسيم كولوسره) د فضل د الله تعالى نه. پس كه دوئ توبه ويستله نو وى به غوره د دوئ لپاره

وَ إِنْ يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا أَلِيمًا ۙ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

او كه دوئ مخ وگرخولو نو عذاب به وركړي دوئ لره الله تعالى عذاب دردناك په دنيا او آخرت كښ

وَ مَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ۝

او نه به وي ددوئ لپاره په ټوله ځمكه كښ څوك دوست او نه مددګار

﴿يَٰأَيُّهَا النَّبِيُّ جَٰهِدِ الْكُفَّارَ﴾ په دې آيت كښ حكم دَ جهاد دې دَ ټولو كافرانو سره. دَ كفارو سره جهاد په توره هم دې او په لسان هم دې او دَ منافقينو سره په لسان سره دې او دا رنګه هغه منافقان چه بهر دَ مدينې نۀ وو، او هر منافق چه دَ دار الاسلام نه بهر وى نو دَ هغوئ سره جهاد به توره سره كيدې شى. ﴿وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ غلظت مقابل دَ شفقت دې نو دلته مراد دا دې چه دې دواړو ډلو سره هيڅ نرمى او شفقت مه كوه دَ جهاد په مقابله كښ او دا رنګه په اظهار دَ هغه عيوبو دَ دوئ كښ چه نازل شويدى په دې سورت كښ، او دَ غلظت نه دَ خلې غلظت كنځل وغيره مراد نۀ دى.

﴿يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ﴾ منافقينو به پټى شا دَ پيغمبر ﷺ او دَ اسلام توهين كوؤ او مسخرې ټوقې به يې وريسې كولې. لكه منافقينو په غزوهٔ تبوك كښ هم داسې كړې وو، او عبد الله بن ابى ابن سلول . رئيس المنافقين هم دغسې كار كړې وو، لكه په سورت منافقون كښ يې ذكر دې ﴿يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ﴾ نو مؤ منانو به دا خبرې نبى كريم ﷺ ته ورسولې نو نبى كريم ﷺ به چه دَ منافقانو نه تپوس اوكړو نو دوئ به قسمونه اوكړل چه مونږ دغه شان خبرې نۀ دى كړې، نو الله تعالى به دَ مؤمنانو تصديق اوكړو او دَ منافقانو تكذيب به يې اوكړو، په دې آيت كښ هم دَ دې بيان دې ﴿وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ﴾ دَ كلمة الكفر نۀ مسخرې په اسلام پورې او توهين دَ رسول الله ﷺ مراد دې او دَ كفروا. نۀ مراد اظهار دَ كفر دې او دَ اسلام نۀ مراد اظهار دَ اسلام دې.

﴿وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا﴾ په دې كښ اشاره ده هغه واقعې دَ دولس (۱۲) كسانو منافقينو ته چه ارادهٔ ې كړې وه دَ نبى كريم ﷺ دَ قتل ليكن كامياب نۀ شو. ﴿وَمَا نَقَمُوا﴾ دا دَ منافقانو په كمينه حركت او خُلق باندې طنز دې چه دوئ دَ محسن سره بد كوى (نقموا) په معنىٰ دَ (كرهوا، عابوا) سره دې.

﴿إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللَّهُ﴾ دا استثناء مفرّغه ده دَ عموم الا فعال نه، نو (شيئًا) مقدر دې يعنى دوئ هيڅ

عيب او بد ، نۀ دی ليدلی سوی دَ دې نۀ چه الله تعالی او رسول اللهﷺ دوی لره غنيان کړيدی او دا خو احسان دې او دَ احسان بدله شکريه پکار وی ليکن دوئ په ځائ دَ شکر بې مخالفت شروع کړو . منافقين په مدينه کښ عموماً غريبانان وو ، او دَ نبی کريمﷺ په راتلو سره دوئ ته مالداری خوشحالی مِلاؤ شوه ، دَ بارانونو په کثرت سره کيدلو په وجه دَ زمکې پيداوار زيات شو او په مال غنيمت کښ به دوئ ته حصه ورکولې شوه ، او دَ منافقانو يو مشر چه جلاس نوم يې وو چه بيا ورستو مخلص مسلمان شوې وو ، په دۀ باند دَ نبی کريمﷺ خصوصی احسان دا وو . چه دَ دۀ معتق غلام چا قتل کړې وو ، نو نبی کريمﷺ دَ دۀ لپاره دَ دولس زرو (۱۲۰۰۰) روپو ديت حکم کړې وو . چه په هغې سره دَ دۀ قرضه اداء شوه او غنی شو ، په دې آيت کښ چه نسبت دَ اغناء (غنی کولو) الله تعالی ته شوې دې نو دا (ما فوق الاسباب) او په طريقه دَ ورکولو سره دې او رسول اللهﷺ ته چه نسبت شويدې نو دا په طريقې دَ تقسيم کولو سره او (ما تحت الاسباب) دې لکه په حديث کښ دې (انما انا قاسم والله يعطی) .

﴿ فَإِن يَتُوبُوا ﴾ په روايت کښ دی چه دَ دې آيت دَ نزول نۀ بعد جُلاس په اخلاص سره توبه اُوکړه او خپله تمامه زندګی يې دَ اسلام دَ خدمت لپاره وقف کړه ، او علماؤ په دې آيت سره استدلال کړيدې چه که زنديق په اخلاص سره توبه اُوکړی نو قبليږی .

وَمِنْهُمْ	مَّنْ	عٰهَدَ	اللّٰهَ	لَئِنْ	اٰتٰىنَا	مِنْ	فَضْلِهٖ
اوبعضې د دوئ نه هغه څوك دی چه لوظ ئ کړيدې د الله تعالی سره که رائ کړه مونږ ته د فضل خپل نه							
لَنَصَّدَّقَنَّ	وَلَنَكُوْنَنَّ	مِنَ	الصّٰلِحِيْنَ	۷۵	فَلَمَّآ	اٰتٰىهُمْ	
نو خامخا به مونږ صدقې ورکوو . اوخامخا شو به مونږ د نيك عمل کونکونه پس هرکله چه ورکړو الله تعالی دوئ ته							
مِّنْ	فَضْلِهٖ	بَخِلُوْا	بِهٖ	وَتَوَلَّوْا	وَّهُمْ	مُّعْرِضُوْنَ	۷۶
دفضل خپل نه څه مال نو بُخل وکړو دوئ په هغې سره او وګرځيدل دوئ د خپل عهد نه او دوئ مخ اړونکی دی							
فَاَعْقَبَهُمْ	نِفَاقًا	فِيْ	قُلُوْبِهِمْ	اِلٰى	يَوْمِ	يَلْقَوْنَهٗ	
پس وګرځو الله تعالی انجام د دې عمل د دوئ نفاق په زړونو ددوئ کښې تر هغې ورځې چه ملاقات به وشی د دوئ د هغه سره							

بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ۝

په سبب د دې چه دوئ خلاف کړیدې د الله تعالی دهغه وعدې نه چه کړې ئې ده د هغه سره او پدې وجه چه دوئ دروغ ویل

اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ

آیا نه پوهیږی دوئ په دې چه بیشکه الله تعالی عالم دې په پټو خبرو د دوئ او په جرګو د دوئ

وَ اَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝

او بیشکه الله تعالی ډیر ښه پوهیدونکې دې په پټو خبرو

﴿وَمِنْهُم مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ﴾ په دې کښ دَ بعضِ منافقینو دَ نورو صفاتو قبیحو ذکر دې چه نذر یې کړې وو او هغه یې پوره نه کړو. او وعده یې کړې وه، دَ الله تعالی سره او دَ هغې خلاف یې اُوکړو

فایده: بهتره خبره دا ده چه دا آیت په خپل عموم او ابهام باندې پریخودې شي، لیکن تقریبًا ټولو جدید او قدیم مفسرینو ﷫ دَ دې شان نزول ثعلبه بن حاطب انصاری﵁ لیکلې دې چه ده نبی کریمﷺ ته عرض اُوکړو چه زما په حق کښ دَ مالدارئ دعا اُوکړه نو نبی کریم ﷺ اووفرمائیل چه اې ثعلبه، لګ مال چه دَ هغې شکر اداء کولې شی ډیر غوره دې دَ هغې ډیر مال نه چه دَ هغې حقوق نشی ادا کولې. نو ده بیا درخواست اوکړو، نو نبی کریمﷺ اووفرمایيل چه اې ثعلبه، تا ته دا خبره خوښه نۀ ده چه زما په نقش قدم روان شې ؟ لیکن دَ ډیر اصرار کولو. بالاخر نبی کریمﷺ ورته دعا اوکړه. او په بیزو کښې یې دومره ډیر برکت پیدا شو چه په مدینه کښې اوسید ل ورته مشکل شو. نو دَ مدینې نه بهر لاړو او دَ جماعت مونځ ترې پاتې شو، صرف دَ جمعې مونځ ته به حاضریدو لیکن بالاخر ترې نه دَ جمعې مونځ هم پاتې شو، څه وخت ورستو چه زکٰوة وصول کونکې ورته لاړو نو دَ زکٰوة نۀ یې انکار اوکړو او وې وئیل چه دا خو جزیه معلومیږی نبی کریم ﷺ چه خبر شو نو اوئ فرمائیل چه (ویح ثعلبه) او دا آیتونه نازل شو، دَ ثعلبه بعضِ خپلوانو دې خبر کړو نو دَ بد نامې نۀ دَ بچ کیدلو لپاره ئې خپل زکٰوة دَ نبی کریمﷺ په حضور کښې حاضر کړو. نبی کریمﷺ ورته اووفرمائیل چه الله تعالی زۀ منع کړې یم ستا دَ زکٰوة اخستلو نه، چه دا یې واوریدل نو واویلا ئې شروع کړه، محض دَ عار، شرم، نه دَ بچ کیدلو لپاره، او په زړه کښې یې نفاق پټ وو. دَ نبی کریمﷺ دَ وفات نه بعد دَ ابوبکر صدیق﵁ په خدمت کښې یې خپل مال زکٰوة حاضر کړو، هغه هم قبول نۀ کړو. بیا یې دَ حضرت عمر﵁ په خلافت کښې خپل مالِ زکٰوة پیش کړو نو هغوئ هم قبول نۀ کړو.او حضرت

عثمان﷜ په خپل زمانه خلافت کښې قبول نهٔ کړو. بالاخر په نفاق باند په زمانه دَ خلافت دَ عثمان﷜ کښې مړ شو. ډېرو علماؤ﷭ دَ دې قصې رد کړې دې، او وئيلي يې دي چه دا حديث يو په دې وجه صحيح نهٔ دې ثعلبه بن حاطب بدري صحابي دې او بدريان په اتفاق اهل علمو سره منافق نسی کېدې، او دَ دوئ په حق کښې (فقد غفرتُ لکم) او (وجبت لکم الجنةُ) وغيره بشارت وارد دې. او دويم دا چه دا حديث دَ روايت په اعتبار سره ډېر ضعيف دې، ډېرو حضراتو دَ دې روايت په رجالو بحث کړې دې، او دا يې ثابته کړېده چه په سند کښې يې ډېر راويان ضعيف دی، او ويلي دی کمالين په حواله دَ ابن حجر﷫ چه په دې روايت کښې دَ کوم ثعلبه ذکر دې دا غير دې دَ ثعلبه بن حاطب اوسی، بدري﷜ نه، ځکه چه ثعلبه بدري شهيد شويدې په اُحد کښې، نو دا قصه دَ ثعلبه بن حاطب بدري﷜ نه ده، بلکه دا بل ثعلبه دې چه منافق وو، او په حواله دَ ابن مردويه سره ليکی. چه په دې آيت کښې چه دکوم ثعلبه قصې ته اشاره ده نو دَ هغه نوم ثعلبه بن ابی حاطب دې. نه ثعلبه بن حاطب بلکه هغه بدري دې، او دغه شان خبره په (ميزان الاعتدا ل في مراتب الرجال) کښې هم ده. او صاحب دَ روح المعاني وائی چه دا آيت نازل دې په باره دَ ثعلبه بن حاطب کښې او ده ته ثعلبه بن ابی حاطب وئيلی شی، او دا دَ بنی اُميه بن زيد نهٔ دې، او دا بدري نه دې ځکه هغه اوسی دې او په اُحد کښې شهيد شوې دې، او دا دَ بنی اميه بن زيد نهٔ دې، او په زمانه دَ خلافت دَ حضرت عثمان﷜ کښې مړ دې، نو معلومه شوه چه دواړه جدا جدا دی، باقي دَ روايت دَ ضعف جبيره کيدې شی. په تعدد دَ رواياتو سره، او دا توجيه غوره ده، دَ نسبت دَ غلطئ نه اکابرو مفسرينو ته لکه بعض حضرات دَ دې خبرې ډېر شوق لری او ډېر جراءت لری دَ توهين او دَ تغليط دَ اکابرو ، ، (فالی الله المشتکی) البته که ﴿وَمِنْهُم مَّنْ عَٰهَدَ ٱللَّهَ﴾ په خپل ابهام پريښودې شی نو دا زياته دَ احتياط خبره ده

﴿فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا﴾ ضمير دَ اعقب راجع دې الله تعالى ته او اعقب په معنی دَ (جعل عاقبة فعلهم) سره دې، دَ دې معنی دا شوه چه الله تعالى اوګرځو عاقبت او انجام دَ دې فعل دَ دوئ نفاق، دَ قيامت پورې يعنی نفاق دائمی، يا ضمير راجع دې بخل ته معنی دا شوه چه اوګرځو بخل انجام دَ دوئ نفاق دائمی، يعنی دَ بخل په سبب سره نفاق دائمی حاصل شو، او لکه چه څه رنګه يو طاعت دَ بل طاعت سبب ګرځی نو دا رنګ يو ګناه دَ بل ګناه سبب ګرځی، او په دې تقدير چه ضمير دَ اعقب راجع شی بخل ته نو ضمير دَ ﴿يَلْقَوْنَهُۥ﴾ هم راجع دې بخل ته او مضاف مقدر دې (ای يلقون جزاء البخل) ﴿بِمَآ أَخْلَفُوا۟ ٱللَّهَ﴾ خلاف وعده کول او کذب، سبب دَ دوام دَ نفاق شو ﴿أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ﴾ منافقين په ظاهر کښې هرڅه چه وائی خو الله تعالى ته دَ باطنی او خفيه هر علم دې

اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ

(دامنافقان) هغه كسان دي چه عيب لگوي په رغبت كونكو د مؤمنانو په صدقو وركولو كښې او په هغه كسانو

لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ؕ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ۡ

چه نه مومي هغوئ مگر مزدوري خپله پس دوئ مسخري كوي په هغوئ پورې، الله تعالى به سزا د مسخرو وركړي دوئ لره

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ اِنْ تَسْتَغْفِرْ

او دوئ لره عذاب دردناك دې كه بښنه غواړې ته دوئ لره او كه نه غواړې بښنه دوئ لره (يو شان ده) كه ته بښنه وغواړې

لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ

دوئ لره اويا خله نوهيچرې بښنه نكوى الله تعالى دوئ ته ، دا په دې وجه چه دوئ كفر كړيدې په الله تعالى

وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝

او په رسول دهغه او الله تعالى توفيق د هدايت نه وركوى قوم نافرمانو ته.

﴿ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ ﴾ دا هم زجر دې منافقينو ته (الذين) مبتداء ده او خبر ورله ﴿ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ﴾ دې. يو ځل نبى كريم ﷺ مؤ منانو ته دَ صدقې كولو ترغيب وركړو نو حضرت عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه څلور زره (۴۰۰۰) اشرفئ صدقه كړې، او يو بل صحابى عاصم بن عدى رضي الله عنه سل وسق (وؤ .ستى) كجهورې چه دَ هغې قيمت څلور زره (۴۰۰۰) روپې وؤ، صدقه كړې، او يو بل صحابى ابو عقيل چه غريب وؤ نو مزدورى يې اوكړه نو يو صاع كجهورې يې صدقه كړې نو منافقانو طعن شروع كړو چا چه ډيره صدقه كړې وه نو په هغوئ باند دَ رياكارې طعن اولگوو، او چا چه لگه صدقه وركړې وه نو په هغوئ پورې يې مسخرې شروع كړې، چه دې په دومره لگو پيسو جنت اخلى يا دَ شهد اؤ په زمره كښې ځان داخلوى وغيره، دَ دې آيت نه معلومه شوه چه طعن كول په صحابؤ باند دَ منافقينو كار دې، شيعه، روافض په دې كښې داخل دى.

﴿ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ﴾ په دې آيت كښې منافقينو ته تخويف وركول دى چه دَ دوئ مغفرت نشى كيدې اگر كه سيد الكونين ﷺ ورله استغفار اوكړى، او دا آيت نازل شوېدې په حق دَ عبد الله بن ابى بن سلول كښې لكه ورستو دَ دې تفصيل راځى. استغفر. امر دې لفظًا او خبر دې

معنی. دَ مفسرينو حضراتو دَ دې آيت په باره کښې دوه قوله دي. يو قول دا چه مقصود دَ آيت نه نا اُميده کول دي دَ مغفرت دَ منافقانو نه. نو دَ هغوی لپاره استغفار بې فائدې دي ، او مقصود ترې نه تخير ورکول نۀ دی، او بعض مفسرين وائی چه مقصود دَ دې نه اختيار ورکول دی. چه استغفار کوئ او که نکوئ، لکه چه په حديث دَ بخاری کښې دی (انی خُيِّرتُ فاخترتُه، ای الاستغفار) او بيا دا تخير منسوخ شويدې په روستنی آيت سره چه ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ ﴾الخ

﴿إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً﴾ بعض وائی چه دَ دې نه مراد تکثير دې او عدد مخصوص نۀ دې مراد په دليل دَ حديث دَ بخاری سره (لو اعلم انی لو زدتُ علي السبعين غُفِرَ لزدتُ عليها) دَ دې حديث نه معلوميږی چه نبی کريمﷺ تکثير فهم کړې وو، نه تحديد ، او بعض وائی چه دَ دې نه مراد عدد مخصوص دي په دليل دَ بخاری سره همدا رنګه (وَسَاءَ زِيدُ علي السبعين) نو دَ بخاری په دواړو حديثونو کښې بظاهر معارضه ده، نو بعضِ محدثينو دا توجيه کړيده چه اولاً تکثير اراده کړې شويدې ځکه چه استعمال دَ دې عدد په تکثير کښې شائع او کثير دې او بيا نبی کريمﷺ عزم اوکړو په زيات دَ سبعينو، لوجه دَ شفقت او رحمت نۀ په اُمت باندې نو سبعين يې محمول کړو په تحديد باندې ځکه چه دا هم محتمل دَ لفظ دې، او بله توجيه دا ده چه مراد دَ دې نه تکثير دې او په بل حديث کښې چه (وساءزيد علی السبعين) راغلې دې نو دَ دې نه حرف شرط محذوف شويدې (ای لو غفر له ساء زيد علي السبعين) په دليل دَ ذکر دَ شرط سره په بل حديث کښې.

فَرِحَ	الْمُخَلَّفُوْنَ	بِمَقْعَدِهِمْ	خِلٰفَ	رَسُوْلِ	اللّٰهِ	وَكَرِهُوْٓا

خوشحاله شويدی دا پاتې شوی د جهاد نه په کيناستلو خپلو باندې په خلاف او جُدا کيدلو د رسول الله نه اوبد ګنړی دوئ

اَنْ	يُّجَاهِدُوْا	بِاَمْوَالِهِمْ	وَاَنْفُسِهِمْ	فِيْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	وَقَالُوْا

چه جهاد وکړی دوئ په مالونو خپلو سره او نفسونو خپلو سره په لارې د الله تعالی کښې، او وائی دوئ نورو خلقو ته

لَا تَنْفِرُوْا	فِي الْحَرِّ	قُلْ	نَارُ	جَهَنَّمَ	اَشَدُّ	حَرًّا	لَوْ	كَانُوْا	يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۱﴾

مه اُوځئ په ګرمئ کښې جهاد له ، ته ووايه چه اُور دجهنم ډير سخت ګرم دې که دوئ پوهيدې (نو داسې به ئې نه کول

فَلْيَضْحَكُوْا	قَلِيْلًا	وَّلْيَبْكُوْا	كَثِيْرًا	جَزَآءًۢ	بِمَا	كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾

پس اُودې خاندی دوئ لږ زمانه وُدې ژاړی ډيره زمانه، بدله ورکيدلې شی په سبب دهغه عملونو چه دوئ ئې کوی

فَإِنْ	رَّجَعَكَ اللّٰهُ	إِلٰى	طَآئِفَةٍ	مِّنْهُمْ	فَاسْتَأْذَنُوْكَ	لِلْخُرُوْجِ

پس كه واپس راوستې ته الله يوې ډلې ته د دوئ نه پس اجازت وغواړي ستا نه لپاره د وتلو د جهاد دپاره

فَقُلْ	لَّنْ	تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا	وَّلَنْ	تُقَاتِلُوْا	مَعِيَ	عَدُوًّا

پس ورته ووايه هرگز مه اوځئ خما سره هيڅ چرې. اوهيڅ كله جهاد مه كوئ خما په ملگرتيا كښې د دشمن سره.

اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخٰلِفِيْنَ ۞

بيشكه تاسو رضا شوي يئ په كيناستلو اول ځل پس كينئ د روستو پاتې كيدونكو سره

﴿ فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ ﴾ دا هم زجر دې منافقانو ته، او بيان دَ قبائحوْ دَ دوئ دې چه اول پاتې كيدل دَ جهاد نه. دويم مخالفت دَ رسول اللهﷺ، دريم خوشحاله كيدل په دې پاتې كيدلو. دَ (مخلّف)معنى دا ده چه روستو پاتې كړې شوې وى، او دوئ خو په خپل اختيار سره پاتې شوى وو. بل چا نهٔ وو پاتې كړې ، نو دوئ (متخلّفون) وو، نو دوئ ته (مخلّفون)خكه اووئيلې شو چه دَ دوئ پاتې كيدل اثر دَ قهر او غضب دَ الله تعالى دې، نو دوئ پاتې كړې شوى وو، په قهر او غضب دَ الله تعالىٰ سره . ﴿ بِمَقْعَدِهِمْ ﴾،، مقعد ،، مصدر ميمى دې په معنٰى دَ قعود سره، او ﴿ خِلٰفَ ﴾ په معنٰى دَ مخالفت سره دې په قول دَ امام زجاجؒ كښې او منصوب دې بنا په دې چه دا مفعول له دې (يعنى قعدوا لاجل مخالفة رسول الله ﷺ) او امام احفشؒ وائى چه ،، خلاف ،، په معنٰى دَ (خَلْفَ او بَعد) سره دې، او منصوب بنا بر ظرفيت دې يعنى په كيناستلو خپلو ورستو دَ رسول اللهﷺ نه.

﴿وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا ﴾ الخ معنى دا ده چه بعضِ منافقينو نورو منافقينو ته داسې وئيل، يا دا چه منافقينو مؤمنانو ته وئيل چه په گرمئ كښې جهاد له مهٔ ځئ.

﴿قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ﴾ په حديث كښې دى چه دَ جهنم اُور دَ دنيا دَ اُور نهٔ اويا(٧٠) درجې زيات گرم دې، نو دَ كومې گرمئ نه چه تاسو ځان بچ كوئ نو دَ هغې نهٔ هغه گرمئ ډيره زياته ده كومې ته چه تاسو روان يئ ﴿ فَلْيَضْحَكُوْا ﴾ امر په معنٰى دَ اخبار سره دې، ﴿قَلِيْلًا ﴾ دَ قليل نه مراد دنيا ده او دَ كثير نه مراد زمانه دَ جهنم ده، معنى دا ده چه دوئ به لگه خندا او خوشحالى اوكړى په دنيا كښې

لیکن بیا به ډیره جړا اوکړی. او ډیر تکلیفونه غمونه به په جهنم کښې تیروی.

﴿ فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ ﴾ دا هم زجر دې منافقینو ته او دا آیاتونه سفری آیاتونه دی، یعنی که ته واپس شی مدینې منورې ته او دوئ بیا ستا نه اجازت اُوغواړی جهاد له دَ وتلو نو ته ورته اُووایه ﴿ لَّن تَخْرُجُوا ﴾ ﴿ وَلَن تُقَٰتِلُوا مَعِىَ ﴾ یعنی زما په ملګرتیا کښې، او ﴿ إِلَىٰ طَآئِفَةٍ ﴾ بی خکه اووفرمائیل چه کیدې شی چه بعضِ منافقین دَ نبی کریمﷺ دَ واپس کیدو نه مخکښې مړه شی او جهنم ته اورسی. او دَ ﴿ ٱلْخَٰلِفِينَ ﴾ نه مراد (متخلفین) دی لکه زنانه، بچی.

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ۖ
اومونځ د جنازې مکوه په هیڅ یو کس باندې د دوئ نه چه مړشی هیچرې اومه اودریږه (لپاره د استغفار) د دهٔ د قبر په خوا کښې
إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا وَهُمْ فَٰسِقُونَ ۝
بیشکه دوئ کفر کړیدې په الله تعالی او په رسول دهغه او مړه شویدی په داسې حال کښې چه دوئ نافرمان وو

﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ ﴾ په دې کښې زجر او تخویف دې منافقانو ته، دا آیت نازل شویدې په حق دَ عبدالله بن اُبی ابن سلول کښې. چه دَ هغې تفصیل په روایت دَ شیخینو وغیرهما کښې دا دې، چه هر کله عبدالله بن اُبی ابن سلول، رئیس المنافقین مړ شو، نو دَ دهٔ خوئي چه نوم یې عبدالله بن عبدالله بن اُبی ابن سلول وو او ډیر مخلص صحابی وو. هغه نبی کریمﷺ ته عرض اوکړو چه خپل قمیص راکړه چه زهٔ یې دَ خپل پلار کفن جوړ کړم نو نبی کریمﷺ ورله خپل قمیص ورکړو. هغه بیا درخواست اوکړو چه زما په پلار جنازه اوکړه نو نبی کریمﷺ دا درخواست هم قبول کړو او دَ هغه دَ جنازې دَ پاره اودریدو. نو حضرت عمرؓ دَ نبی کریمﷺ کپړه اونیوله، عرض یې اوکړو چه یارسول الله ته په دهٔ دَ جنازې مونځ کوې؟ حالانکه الله تعالی تاسو منع کړې یې په منافقینو باندِ دَ مونځ کولو نهٔ (یعنی په دې آیت کښې (استغفر لهم او لا تستغفر لهم الخ) نو نبی کریمﷺ ورته اُووفرمائیل (انی خیِّرتُ) ما ته اختیار راکړې شوې دې، او فرمائیلی یې دی (استغفر لهم او لا تستغفر لهم ان تستغفر لهم سبعین مرةً الخ) او زهٔ به دَ سبعینو نه زیات ځله استغفار اوکړم، غرض دا چه نبی کریمﷺ په هغه جنازه اوکړه، نو دا آیت نازل شو. (ولا تصلّ علی احدٍ منهم مات – الخ) دَ دې نه بعد نبی کریمﷺ په هیڅ یو منافق جنازه نهٔ ده کړې.

حضرت عمر رضی الله عنه به په خپل دورِ خلافت کښې په جنازه کولو ډیر احتیاط کولو . دَ چا جنازې له چه تللو نو اول به یې تپوس اوکړو چه حضرت حذیفه رضی الله عنه په دې جنازه کښې شرکت کوی او که نه. ځکه چه دې رازدار دَ رسول الله ﷺ وو ، او نبی ﷺ دهٔ ته دَ منافقینو نومونه خودلی وو . دَ دې آیت شانِ نزول په باره کښې چه کوم حدیث ذکر شو په دې کښې په ظاهر اشکال دې هغه دا چه (اسْتَغْفِرْ لَهُمْ – الخ) مفید دَ (نهي عن الاستغفار) دې او که نه ؟ که مفید وی لپاره دَ نهی دَ استغفار نه، نو بیا ولې نبی کریم ﷺ جنازه کوله چه مقصود ترې نه استغفار وی او تخییر یې ترې نه ولې فهم کړو. او که مفید نهٔ وی لپاره دَ نهی دَ استغفار نه ، نو حضرت عمر رضی الله عنه صاحبِ لسان وو هغه ولې نهی فهم کړه. او تائید یې په دې آیت سره اوشو، نو جواب دَ دې اشکال نهٔ دا دې چه (اسْتَغْفِرْ او لَا تَسْتَغْفِرْ) دَ تسویه لپاره دې پخپله مفید دَ نهی هم نهٔ دې او دَ امر هم نهٔ دې، بلکه امر یا نهی به دَ دلیل خارجي نهٔ معلومیږی، لکه (وَسَوَاءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ) دَ تسویه لپاره دې. لیکن دَ دلیلِ خارجی نه معلومیږی امر دَ انذار چه هغه دلیلِ خارجی دا قول ده الله تعالی دې (بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ) نو دلته کښې هم (اسْتَغْفِرْ لَهُمْ او لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ – الخ) لپاره دَ استواء دې نو دا مفید دَ نهی پخله نهٔ دې بلکه دَ دلیلِ خارجی نهٔ به معلومیږی، دَ دلیلِ خارجی په باره کښې دَ حضرت عمر رضی الله عنه او دَ حضور ﷺ دَ رائې اختلاف وو. دَ حضرت عمر رضی الله عنه دَ (لَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَهُمْ) نه دا فهم کړه چه دَ منافق جنازه عبث فعل دې او دَ منافقانو حوصله افزائی پکښې راځی او دَ (بغض فی الله) تقاضا هم دا ده چه دَ ده جنازه اُوونکړې شی. نو دَ دې وجه نهٔ یې اووئیل (نَهَاكَ رَبُّكَ) او دَ نبی کریم ﷺ په نظر کښې په جنازه کولو کښې څه حکمتونه وو ، نو دَ هغې وجه نه یې جنازه اوکړه ، یو حکمت پکښې هغه دې چه روایت دې ده قتاده رضی الله عنه نه چه نبی کریم ﷺ اُووفرمائیل (مَا يُغْنِي عَنْهُ قَمِيصِي وَاللهِ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يُسْلِمَ بِهِ أَكْثَرُ مِنْ أَلْفٍ مِنْ بَنِي خَزْرَجٍ) یعنی ځما په قمیص سره دَ ده نجات نه ملاویږی لیکن ما ته اُمید دې چه په دې سره به زرو (۱۰۰۰) نهٔ زیات منافقان ایمان راؤړی لکه دغه شان اوشو ، چه منافقانو دَ نبی کریم ﷺ داسې عالی اخلاق او دَ بدخواهانو سره داسې لطف او شفقت او رحمت اولیدو نو دَ زرو نهٔ زیات منافقان مخلصین مؤمنان شو ، او بل حکمت پکښې دا وو ، چه دَ دې نهٔ یو لوئ قانون شرعی معلوم شو هغه دا چه څوك دَ زړه نهٔ ایمان او عقیده دَ توحید ، او رسالت نهٔ لری نو هغه ته هیڅ تبرك ، توسل فائده نشی ورکولې ، دې منافق ته په خوله کښې نبی کریم ﷺ خپل لعاب (لاړې) مبارك اچولې وو او دَ نبی کریم ﷺ په قمیص کښې کفن شوې وو او داسې جنازه یې اوشوه چه سیّد الکونین ﷺ امام وو او دَ انبیاؤ نه بعد په تمام مخلوقاتو کښې افضل ترین مخلوق او پاکیزه انسانان، صحابهٔ کرام رضی الله عنهم مقتدیان

وو ، خو دَ دې باجود دَ هغه مغفرت نه کیږی او په (فی الدرك الاسفل من النار) کښې به وی. نو بل چا ته به تبرك او توسل څه فائده ورکړی

﴿وَلَا تَقُمۡ عَلٰى قَبۡرِهٖ﴾ (علی) په معنٰی دَ (عند) سره دې څکه دَ قبر دَ پاسه اودریدل هسې منع دي. دَ نبی کریم ﷺ عادت دا وو چه کله به مړې دفن شو نو دَ قبر په خوا کښې به اودریدلو او دعا او استغفار به یې دَ مړی لپاره کوله، او همدارنګه چه کله به یې زیارت دَ یو قبر کولو نو په ولاړې به یې دعا او استغفار کول نو دلته دَ (لاتقم) نه مراد نهی دَ هغه قیام ده چه لپاره دَ دعا او استغفار وی دَ منافقینو لپاره دا منع دی .

وَلَا تُعۡجِبۡكَ اَمۡوَالُهُمۡ وَاَوۡلَادُهُمۡ ؕ اِنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ يُّعَذِّبَهُمۡ

اوپه تعجب کښې دې نه واچوي تا لره مالونه د دوئ او اولادونه د دوئ بیشکه غواړي الله تعالی چه عذاب ورکړي دوئ لره

بِهَا فِي الدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ اَنۡفُسُهُمۡ وَهُمۡ كٰفِرُوۡنَ ۝ وَ اِذَاۤ اُنۡزِلَتۡ سُوۡرَةٌ

په هغې سره په دنیا کښې او وخی روحونه د دوئ په داسې حال کښې چه دوئ کافر دی . اوکله چه نازل شی یو سورت

اَنۡ اٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَجَاهِدُوۡا مَعَ رَسُوۡلِهِ اسۡتَاۡذَنَكَ

(پدې مضمون) چه ایمان راوړئ په الله تعالی او جهاد کوئ په ملګرتیا د رسول دهغه کښې نو اجازت غواړی ستا نه

اُولُوا الطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُوۡا ذَرۡنَا نَكُنۡ مَّعَ الۡقٰعِدِيۡنَ ۝ رَضُوۡا

طاقت والا خلق د دوئ نه اووائی دوئ چه پرېږده مونږ چه شومونږ دکیناستونکوسره . رضا، خوشحاله دی دوئ

بِاَنۡ يَّكُوۡنُوۡا مَعَ الۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُوۡنَ ۝

په دې خبره چه شی د پاتې کیدونکو ښځو سره اومهر لګولې شویدې په زړونو د دوئ پس دوئ نه پوهیږی

لٰكِنِ الرَّسُوۡلُ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ جٰهَدُوۡا بِاَمۡوَالِهِمۡ وَاَنۡفُسِهِمۡ ؕ

لیکن رسول اوهغه خوك چه ایمان ئ راوړې دې د ده سره . جهاد کوی په مالونو خپلو سره او نفسونو خپلو سره

وَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الۡخَيۡرٰتُ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ۝ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمۡ

او دغه کسان د دوئ لپاره ډیرې خوشحالئ دی او دغه کسان هم دوئ کامیاب دی تیار کړیدی الله تعالی دوئ دپاره

جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ‌ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ۝

جنتونه چه بهيږي لاندې دهغې نه ولې هميشه به وي دوئ په هغې كښې . دا كاميابي لويه ده

﴿ وَلَا تُعۡجِبۡكَ اَمۡوَالُهُمۡ ﴾ دا سي آيت مخكښې آيت نمبر ۵۵ تير شويدې، دلته كښې يې ذكر دَ تاكيد لپاره دې او بعض حضرات وائي چه دَ مخكښې تير شوي آيت تعلق دَ حيات دَ يو حالت سره وو. هغه دا چه دَ دوئ نفقات نهٔ قبليږي په قرينه دَ ماقبل سره چه په هغې كښې دَ عدم قبول دَ نفقاتو ذكر دې او دلته يې تعلق دَ موت دَ يو حالت سره دې هغه دا چه دَ دوئ مغفرت نشي كيدې .

﴿ وَاِذَاۤ اُنۡزِلَتۡ سُوۡرَةٌ ﴾ دا هم زجر دې منافقانو ته او دَ هغوئ دَ قبائحو بيان دې چه دَ دوئ عادت دا دې چه كله حكم دَ جهاد أوشي نو دوئ ترې نهٔ دَ پاتې كيدلو كوشش كوي، دَ سورة نهٔ مراد يا خو حصه دَ سورة ده يا ترې نهٔ مراد ټول سورة توبه دې . ﴿ اَنۡ اٰمِنُوۡا ﴾ (آن مفسره دې دَ .انزلت. تفسير كوي يا مصدريه دې او باء مقدر ده (اى سورةٍ امرة بالايمان) او دَ (آمنوا) حكم كه مؤمنانو ته وي نو مراد ترې نه دوام دې په ايمان او كه منافقانو ته وي نو مراد ترې نهٔ اخلاص دې په ايمان كښې او دَ ﴿ اُولُوا الطَّوۡلِ ﴾ تخصيص ځكه وشوچه دوئ جهاد له دَ تللو وسعت او طاقت لري . ﴿ نَكُنۡ مَّعَ الۡقٰعِدِيۡنَ ﴾ دَ قاعدين نهٔ مراد هغه دي چه جهاد له نشي تلې دَ عذر دَ وجه نه . ﴿ رَضُوۡا بِاَنۡ يَّكُوۡنُوۡا مَعَ الۡخَوَالِفِ ﴾ دا زجر دې منافقانو ته چه دوئ په دې خبره خوشحالي كوي چه دَ ښځو سره وي، دَ جهاد نهٔ پاتې كيدونكي يې ښځو سره مشابه كړل .

﴿ لٰكِنِ الرَّسُوۡلُ ﴾ دَ منافقينو په مقابله كښې دَ رسول الله ﷺ او دَ صحابو ﷺ ذكر او هغوئ ته دَ بشارت ذكر دې په څلورو وجوهٔ سره اول ذكر دَ ﴿ لَهُمُ الۡخَيۡرٰتُ ﴾ دَ دې نه مراد دَ دنيا او آخرت خير او منافع دى يا ترې نه مراد دَ جنت حورې دى لكه په سورت رحمٰن كښې (خيرا ت حسان) مذكور دې، دويم .﴿ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴾ يعنى مطلوب او مقصود موندونكى. او دَ عقاب او عتاب نهٔ نجات موندونكى. دريم ﴿ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمۡ ﴾ څلورم ﴿ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ﴾

وَجَآءَ الۡمُعَذِّرُوۡنَ مِنَ الۡاَعۡرَابِ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَقَعَدَ

او راغلل په دروغه عذر كونكي د باندچيانونه د دې لپاره چه اجازت وكړې شي دوئ ته، او بغير دعذر نه، كيناستل

الَّذِيۡنَ كَذَبُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ‌ ؕ سَيُصِيۡبُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ۝

هغه كسان چه دروغ ئ وېلي وو الله تعالى ته او رسول دهغه ته، زر ده چه وبه رسى هغه كسانو ته چه كفر ئ كړې دې عذاب دردناك

﴿ وَجَآءَ الۡمُعَذِّرُوۡنَ ﴾ دا هم زجر دې او بيان دَ حال دَ اعرابو منافقينو دې. په مدينه منوره كښې لكه

چه مخلصین او منافقین دواړه قسمه خلق وو، نو دغسې په بانډو کښې (اعراب) هم دوه قسمه وو.
دواړه قسمونو ذکر دلته راغلي دي، دلته دَ اعرابو دَ دوؤ قسمونو ذکر دي، (۱) یو معذّرون، او (۲)
قاعدون بلا عذر ﴿وَقَعَدَ الَّذِينَ كَذَبُوا﴾ نو دَ اول قسم معذّرون په مصداق کښې دَ مفسرینو سلفُو دوه
قوله دی **القول الاول** دا چه دَ دې نهٔ مراد په دروغه بهانې جوړونکی منافقین دی. نو دلته دَ
منافقینو دَ دوؤ قسمونو بیان اوشو، (۱) یو قسم هغه چه هغوئ دَ جهاد نه دَ پاتې کېدلو لپاره بهانې
او عذرونه کړی وو، اګر که په دروغه وو. (۲) او دویم قسم هغه دې چه دَ جهاد نهٔ پاتې شوې وو او
هېڅ عذر یې نهٔ وو پیش کړې نو ﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دواړو قسمونو ته شامل دې. **القول الثانی** دویم قول دا دې چه دَ دې نهٔ مراد معذّرین دې یعنی هغه مؤمنین مخلصین چه دَ عذر دَ وجه
نهٔ پاتې شوی وو، او دَ قاعدون نهٔ مراد منافقین دی، نو په دې کښې دَ دوؤ قسمونو اعرابوذکر
اُوشو. مخلصین اومنافقین، نودَ ﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ نهٔ مراد صرف قاعدین دې.

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ

نشته په کمزورو باندې اونه په مریضانو باندې اونه په هغه کسانو چه نه مومی هغه شې چه خرچ کړی

حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ط

څه ګناه (په کیناستلو کښې د جهاد نه) کله چه زړه ئې صفا وی لپاره د الله تعالی او د رسول دهغه

مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ ط وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝ وَلَا عَلَى الَّذِينَ

نشته دې په احسان کونکو باندې هېڅ لاردملامتیا، اوالله تعالی بښونکې،مهربان دې. اونشته ګناه په هغه کسانو باندې

إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا

چه کله راشی تاته. د دې لپاره چه ته سورلئ ورکړې دوئ لره نو ته ورته وه وایې چه نه مومم زه هغه څیز

أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ص تَوَلَّوْا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا

چه تاسوسواره کړم په هغې، نودوئ واپس شی په داسې حال کښې چه سترګې ددوئ بهوی اُوښکې دوجه دغم نه

أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ ۝ إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ ج

بدې خبره چه نه مومی هغه څیز چه خرچ کړی. بیشکه ملامتیا په هغه کسانو ده چه اجازت د پاتې کېدو غواړی او دوئ مالدار وی

رَضُوْا بِأَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

خوشحاله دی په دې خبره چه شی دوئ د پاتې کیدونکو ښځو سره اومهر لګولي دي الله تعالی په زړونو د دوئ پس دوئ نه پوهیږي

﴿ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ ﴾ په دې آیت کښې دَ معذرینو بیان دې او دَ هغه عذرونو ذکر دې چه دَ هغې په وجه دَ جهاد نهٔ پاتې کیدل جائز وی چه دوه قسمه معذورین دي یو فاقدین دَ قوّت جسمانی. لکه بوډاګان، ګډان، وغیره او دا قسم عذر لازمی او همیشه لپاره دې، یا وقتی طور سره مریض وی نو دا عذر وقتی دې، او دویم قسم فاقدین دَ قوّتِ مالی دی، چه دَ سفر خرچه او اسباب دَ سفر ورسره نهٔ وی. نو په دې قسم معذور خلقوباندې څه الزام او ګناه نشته دی لیکن دَ دِ سره درې شرطونه دی.

اول شرط (نُصح لِله) دویم شرط (نصح للرسول) دریم شرط (احسان) ﴿ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴾

دَ ﴿ نَصَحُوْا لِلّٰهِ ﴾ نه مراد (فی توحیده) دې یعنی اخلاص دَ عقیدې دَ توحید او عمل په اوامرو دَ الله تعالی او ترک دَ منهیاتو، ﴿ وَرَسُوْلِهٖ ﴾ نه مراد (في سنيته) یعنی دَ سنت اتباع او دَ رسول الله ﷺ توقیر و تعظیم او محبت، ﴿ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ احسان دا دې چه که پخپله جهاد له نشی تلې نو دَ مجاهدینو سره دِ تعاون کوی، په لسان سره یا دَ حالاتو اطلاع ورکولو سره یا دَ هغوئ دَ کورونو او بالونو په حفاظت سره.

﴿ وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ ﴾ دا هم دَ فاقدینو دَ قوّتِ مالی بیان دې، دَ رسول الله ﷺ صحبت په صحابو کښې دَ عشقِ الهی داسې نشه پیدا کړې وه چه دَ هغې مثال په هیڅ قوم او ملت کښې نه ملاویږی. قدرت او طاقت والا خو دَ الله تعالی په لاره کښې جان، مال، هر څه قربانول لوئ سعادت ګنړی. او بې طاقته او بې وسه دَ جهادنهٔ په پاتې کیدلو سره دومره خفه دې چه دَ سترګو نهٔ یې اوښکې بهیږی. او په جړیدلو سره پاتې کیږی.

﴿ إِنَّمَا السَّبِيْلُ ﴾ یعنی ګناه او الزام او په هغه خلقو دې چه دَ طاقت لرلو باوجود جهاد ته نهٔ ځی ﴿ مَعَ الْخَوَالِفِ ﴾ (ای مع النسآء الخوالف) دَ جهاد نهٔ پاتې کیدونکی یې دَ زنانو سره مشابه کړل ﴿ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ منافقین نهٔ پوهیږی چه په جهاد کښې دَ دنیا اوآخرت څومره ډیرې نفعې اوخیر دې

لسمه پاره ختمه شوه ولله الحمد اولاً واخراً

يَعْتَذِرُوْنَ　اِلَيْكُمْ　اِذَا　رَجَعْتُمْ　اِلَيْهِمْ ۭ　قُلْ　لَّا تَعْتَذِرُوْا

دوئ به د دروغو عذرونه پیش کوي تاسو ته کله چه واپس شئ تاسې دوئ ته، نه ورته وه وایه عذرونه مه کوئ

لَنْ　نُّؤْمِنَ　لَكُمْ　قَدْ　نَبَّاَنَا　اللّٰهُ　مِنْ　اَخْبَارِكُمْ ۭ

هرګز یقین نه کوؤ مونږ په تاسو، په تحقیق سره خبر راکړیدې الله تعالی مونږ ته ستاسې د حالاتو نه

وَسَيَرَى　اللّٰهُ　عَمَلَكُمْ　وَ رَسُوْلُهٗ　ثُمَّ　تُرَدُّوْنَ　اِلٰى　عٰلِمِ

اوعنقریب چه وبه وینی الله تعالی ستاسو عمل اورسول دهغه بیا به تاسو واپس ګرزولې شئ هغه ذات ته چه عالم دي

الْغَيْبِ　وَالشَّهَادَةِ　فَيُنَبِّئُكُمْ　بِمَا　كُنْتُمْ　تَعْمَلُوْنَ ۝　سَيَحْلِفُوْنَ

په هر پټ ښکاره باندې پس خبر به کړی تاسو په هغه عملونو چه تاسو به کول زرده چه قسمونه به کوی دوئ

بِاللّٰهِ　لَكُمْ　اِذَا　انْقَلَبْتُمْ　اِلَيْهِمْ　لِتُعْرِضُوْا　عَنْهُمْ ۭ　فَاَعْرِضُوْا

په الله تعالی باندې تاسو ته کله چه واپس شئ تاسې دوئ ته د دې لپاره چه تاسې مخ واړوئ ددوئ نه، پس تاسې مخ واړوئ

عَنْهُمْ ۭ　اِنَّهُمْ　رِجْسٌ ۡ　وَّمَاْوٰىهُمْ　جَهَنَّمُ ۚ　جَزَاۗءًۢ　بِمَا　كَانُوْا　يَكْسِبُوْنَ ۝

د دوئ نه، بیشکه دوئ پلیت دی او ځائ د دوئ جهنم دې ، بدله به ورکیدې شی دهغه عملونو چه دوئ ئ کوی

يَحْلِفُوْنَ　لَكُمْ　لِتَرْضَوْا　عَنْهُمْ ۚ　فَاِنْ　تَرْضَوْا　عَنْهُمْ

دوئ قسمونه کوی تاسوته د دې لپاره چه تاسې راضی شئ د دوئ نه، پس که تاسو راضی شئ د دوئ نه

فَاِنَّ　اللّٰهَ　لَا　يَرْضٰى　عَنِ　الْقَوْمِ　الْفٰسِقِيْنَ ۝　اَلْاَعْرَابُ　اَشَدُّ　كُفْرًا

پس بیشکه الله تعالی نه راضی کیږی د قوم نافرمان نه　باندهٔ چیان منافقان [1] ډیر سخت دی په کفر کښ

وَّنِفَاقًا　وَّاَجْدَرُ　اَلَّا　يَعْلَمُوْا　حُدُوْدَ　مَآ　اَنْزَلَ　اللّٰهُ

او په منافقت کښ او لائق دی د دې خبرې چه نه پوهیږی په احکامو د شریعت، چه نازل کړیدی الله تعالی

١- د اعرابو منافقینو ذکر.

عَلٰى رَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

په خپل رسول، او الله تعالى عليم ، حكيم دي

﴿يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ﴾ دا زجر دي منافقينو ته او بيان د نورو قبائحو ددوی دي.او دا آيتونه په سفر د تبوك كښ نازل شوی دی او په دې آيت كښ پيشين گوئی ده چې تاسو واپس شئ نو دوئ به د دروغو عذرونه كوی،دلته درې تعبيرونه شول اول ﴿يَعْتَذِرُوْنَ﴾ دويم ﴿سَيَحْلِفُوْنَ﴾ اودا بدل دې د يعتذرون نه، دريم ﴿يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ﴾ دا بدل ثانی دې. د ﴿يَعْتَذِرُوْنَ﴾ علت نه دې ذكر شوې چې د څه دپاره دوی عذر كوی. ليكن د جواب نه علت معلوميږی څكه جواب دادې : (لا تعتذروا لن نؤمن لكم) ددې نه معلوميږی چې د عذر كولو مقصد دا ووچې رسول اللهﷺ او مؤمنان زمونږ په خبره يقين اوكړی،نو الله تعالى اوفرمائيل چې يقين پرې مۀ كوئ،او د (سيحلفون) مقصد دا دې چې ﴿لِتُعْرِضُوْا﴾ تاسو د دوئ نه اعراض اوكړئ،او طعن او پيغورورنه مه وركوئ، نو ددې جواب دا راغې چې ﴿فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ﴾ يعنى دوئ ته طعن او پيغور څه فائده نه كوی، پېغور هغه چا ته فائده كوی چه لگ شان غيرت پكښ وی ،نو په پيغور سره د غلط كار نه منع شي،او په چا كښ چې ايمان نه وی نو هغه ته پيغور فائده نه وركوی ،او په دريم ځل چه ذكر شويدی يعنې (يحلفون) نو د دې مقصد دادې چه ﴿لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ﴾ چه تاسو د دوئ نه راضی شئ نو د دې جواب دا راغې چه ﴿فَاِنْ تَرْضَوْا﴾. يعنې الله ترينه راضى نه دې ،نو تاسو ترېنه مه راضی كېږئ،چه الله د چا نه ناراض وی نو د بل چا راضی كيدل اوخوشحالېدل څه فائده نه وركوی، نو دا مقصدونه چه ذكر شول نو دا احتمال لری چه د ټولو منافقينو دغه مقصدونه وی. يا د بعضو يو مقصد وې او د نورو بل مقصد وی.

﴿قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ﴾ د پټو خبرو نه خبرولو ته انباء وائی،نو دا علم غيب نه دې بلكه دا يت دليل دې په دې چه عالم الغيب صرف الله دې،هغه د بعضې غيبونو خبر وركوی خپل رسول او صحابو ته. ﴿وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ﴾ ،سين د استقبال د پاره دې، نو معلومه شوه چه د ﴿عَمَلَكُمْ﴾ نه مراد راتلونكی اعمال دی ،يعنى توبه كول د نفاق نه او يا نه كول ،لكه مفسرينو تقريبا ټولو داسې ليكلي دی، (التوبون من نفاقكم ام تقيمون عليه) بعض جاهلان چه د دې آيت نه چه

استدلال کوی چه نبی حاضر ناظر دي ، دا غلط دي مخالف دي د سابق نه هم چه ﴿نَبَّأَنَا اللَّهُ﴾ دي اود ما بعد نه هم چه ﴿ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ﴾ دي بل دا چه آيت نمبر ۱۰۵ کښې ورسره د (المومنون) هم ذکر دي نو لازمه شوه چه ټول مومنان دي هم عالم الغيب او حاضر ناظر شي.او صاحب د روح المعاني وائي چه (ورسوله) چه معطوف دي په فاعل نو دا ئ د مفعول نه چه (عملکم) دي مؤخر کړو. په دې کښې ايذان دي چه په ما بين د رؤيت د الله او رؤيت د رسول الله کښې فرق دي او اختلاف دي.

﴿الاعراب اشد﴾ دا د اعرابو منافقينو ذکر دي، چه دوئ د سخت مزاجئ د وجې نه په کفر او نفاق کښې ډير سخت دی ،او د اهل علم او د اهل عقل نه د بُعد د وجې نه جاهل او بې خبره دی د احکامو او آدابو د شريعت نه ،اوجهل، سخت مزاجي او بې خبری د شريعت نه دا دليل دي د شدت د نفاق ،

وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَائِرَ ۚ

اوبعضې د باندچيانو نه هغه څوك دی چه تاوان ګڼړی خرچه کول په جهاد کښې او انتظار کوی په تاسو باندې د آفتونو ،

عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٩٨﴾ وَمِنَ الْأَعْرَابِ

په دوئ باندې دې وی مصيبتونه بد، او الله تعالى هرڅه اوريدونکې اوپوهه دې. اوبعضې د باندې چيانونه[1]

مَن يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَاتٍ عِندَ اللَّهِ

هغه څوك دی چه ايمان لری په الله تعالى او په ورځ د آخرت او ګڼړی خرچ کول په لاره د الله تعالى کښې سبب د نزديکت د الله تعالى ته

وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ ۚ أَلَا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ۚ سَيُدْخِلُهُمُ

او ذريعه د دعاګانو د رسول، خبردار ! بيشکه دا خرچ کول سبب د نزديکت د دوئ دي، عنقريب چه داخل به کړی دوئ لره

اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩٩﴾ وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ

الله تعالى په خاص رحمت خپل کښې، بيشکه الله تعالى بښونکې ، رحم کونکې دی او سبقت کونکی مخکنی

1 د منافقينو په مقابله کښې د اعرابو مؤمنانو ذکر .

مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ

دمهاجرينو او انصارو نه. اوهغه كسان چه تابعداري كوي د دوئ، په ښه طريقه اوخلوص نيت سره. راضي دي الله تعالى

عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ

د دوئ نه. او دوئ راضي دي د الله تعالى نه او تيار كړي ئ دي دوئ لره جنتونه چه بهيږي لاندې دهغې نه نهرونه.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝

هميشه به وي دوئ په هغې كښې هميشه. دا كاميابي لويه ده.

﴿ وَمِنَ الْاَعْرَابِ ﴾ دا د بل قسم دَ اعرابو د منافقينو بيان دې ،چه د كفر او د جهالت نه علاوه په بخل او عداوت هم موصوف دى ، بخل دا چه په جهاد كښې كومه چنده يا زكوة وركړي نو تاوان ئې شماري ،او عداوت دا چه دوى انتظار كوي د دې چه كله به په تاسو څه حادثه راځي .(دوائر) جمع د دائرة ده په اصل كښې هغه حالت ته وائي چه نعمت په مصيبت بدل شي.اودلته ترينه عامي حادثې مراد دي. ﴿عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ﴾ دابدعاده دوئ ته نو انشاء ده معنٰى يا اخبار دې د حوادثو واقع كيدونه په دوئ باندې، چه فتوحات به اوشي او كفار به ذليل اومغلوب شي . نو منافقان به په حسرت كښې پاتې شي، ﴿ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ ﴾د منافقينو اعرابو په مقابله كښې د مومنانو اعرابو ذكر دې .چه دوئ په اخلاص سره ايمان راوړي په الله او په رسول باندې او چه څه خرچ كړي په جهاد كښې هغه سبب د قرب الهى گنړي او ذريعه د دعاگانو د رسول الله ئ گرځوي،څكه چه د نبى كريم ﷺ عادت دا وو چه صدقه وركونكي ته به ئې دعا كوله (اللهم صل علي آل فلان) به ئې ويل ، ﴿اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ﴾ يعني د دوئ صدقه ذريعه د دعاگانو د رسول ﷺ ده او حصول د قرب الهى دې ، دلته صرف د قربت ذكر څكه اوشو چه د صلوات الرسول مقصد قرب الهى دې ، نو د دې وجې نه د قربت ذكر په ډيرو تاكيداتو سره اوشو ،او بشارت ورته ذكر شو ﴿سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِىْ رَحْمَتِهٖ﴾، د رحمت نه مراد جنتونه دي. ﴿وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ ﴾ داد صحابوٗ مهاجرينو او انصارو شان بيانيگي اوهغوئ ته بشارت ذكر كيږي .الله دوئ ته د خپلې رضا اود جنتونو اعلان كوي

روایت دې د حمید بن زیاد نه هغه وائی چه ما یو ورځ د محمد بن کعب القرظی نه تپوس اوکړو چه آیا ته ما ته خبر نه راکوې د اصحابو د رسول صلی الله علیه وسلم نه . د هغه فتنو او جنګونو نه چه د دوئ په مینځ کښې شوی وو؟ نو هغوئ ماته وویل چه الله بخنه کړې ده ټولو ته او واجب کړې ئ دې په خپل کتاب کښې جنت د دوئ د پاره مُحسن ته (احسان اونیکی کونکی ته) او مسئ ته (یعنی هغه څوك چه ګناه ترینه شوې وی)، نو ماورته ووېل چه په کتاب الله کښې په کوم ځائ کښې دوئ د پاره جنت واجب کړې شوې دې؟ نو هغوئ وفرمائل چه سبحان الله آیا ته نه لولې دا قول د الله ﴿وَالسَّٰبِقُونَ الْأَوَّلُونَ﴾ .چه د دې نه معلومه شوه چه الله د ټولو صحابؤد پاره جنت او خپله رضا واجب کړې ده ، او د نورو خلقو د پاره ئی شرط لګولې دې، نو ما ورته اوئیل چه هغه څه شرط دې ؟ نوهغوئ اوفرمائیل چه اتباع باحسان .یعنی دوئ به اتباع کوی د صحابؤ په اعمال حسنؤ کښې نه په غیر کښې ، او دا چه دوئ به د صحابؤپه باره کښې بدې خبرې نه کوی ،او طعن به نه کوی په هغوئ باندې . په هغې کښې چه د هغوئ په مابین کښې شوی دی ، (یعنی په دې شرط به ورته جنت ملاویږی).

فائده دمفسرینوسلفو اقوال په باره دَ تعین د سابقینو اولینو کښې مختلف دی .(اګر که تعارض پکښې نشته) (۱) بعض وائی چه دا هغه دی چه د هجرت نه مخکښې په اسلام مشرف شوی وُؤ. (۲) بعض وائي چه هغه دی چه قبلتینو کعبه شریفه او بیت المقدس ته ئی مونځ کړې وی (۳) بعض وائی چه هغه دی چه د جنګ بدر پورې په اسلام کښې داخل شوی وی . (۴) بعض وائی دا هغه دی چه د حدیبیی پورې په اسلام کښې داخل شوی وی . او بیعت الرضوان ته حاضر شوی وی . (۵) امام رازی وائی چه سبقیت د امورو اضافیو نه دې دلته الله سبقیت ذکر کړې دې خو دا ئی نه دی ذکر کړی چه د کوم وخت پورې. البته د هجرت او د نصرت ذکر ئی کړې دې . نو معلومه شوه . چه سبقیت په هجرت او نصرت کښې مراد دې ، نو څوك چه د بل چا نه په هجرت او دنصرت کښې مخکښې وی نو هغه د سابقین اولین نه دې اګر که د بعضو نه روستو هم وی . او هم دارنګه هجرت او نصرت چونکې په نفس باندې ګران دې نو دا اطاعت عظیمه دې نو څوك چه سبقیت اوکړی په کښې نو هغه د دغه غیردپاره نمونه اوګرځی او داخل شی په (من سن سنة حسنة فله اجرها واجرمن عمل بها) کښې.

وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْأَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ

اوبعضې دهغه چانه چه ګيرچاپيره دی ستاسو نه د باندہ چيانونه منافقان دی، او بعضې د دمديني والو نه

مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۗ لَا تَعْلَمُهُمْ ۭ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۭ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ

كلك دی په منافقت باندې، نه پيژنې ته دوئ لره، مونږ پيژنو دوئ . زرده چه مونږ به عذاب ورکړو دوئ لره دوه ځله

ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ۝ وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا

بيا به وګرځولې شی عذاب لوئ ته . اونور کسان دی چه اقرار ئ کړې دې په ګناهونو خپلو، ګډ کړيدې دوئ ځه نيك عمل

وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ۭ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

او نور بد عمل، قريبه ده چه الله تعالى توبه قبوله کړی د دوئ، بيشکه الله تعالى بښونکې مهربانه دې

﴿ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ ﴾ داد هغه منافقينوذکر دې چه د مدينې ګرد ونواح کښې اوسيدل ،چه دا بعض منافقين دومره کمال درجې ته رسيدلی دی چه ته ئی هم د ډير فطانت او ذهانت نه په قطعی طور سره نه پيژنې ، صرف په علاماتو سره به ئی پيژنې ، يعنې په علم ظنی سره لکه په سورة محمد کښې دی ﴿وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِىْ لَحْنِ الْقَوْلِ﴾ ، ﴿سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ﴾ . يو ځل عذاب د قبر دې او بل ځل عذاب د دنيا او د دې هم ډير صورتونه دی ، رسوا کيدل د دوئ په اظهار د نفاق سره لکه د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم يو ځل په ممبر ولاړ وو، او د شپږ ديرش منافقانو نومونه ئی واخستل او دا به ئی ويل چه (اخرج يا فلان فانك منافق) او حضرت عمر په دغه وخت په مسجد کښې حاضر نه وو، نو چه دوئ بهر ته اووتل نو حضرت عمر مسجد ته راروان وو، نو عمر ګمان اوکړو چه د جمع مونځ رانه اوشو نو د شرم نه پټيدلو او دوئ چه عمر اوليدلو نو ګمان ئی اوکړو چه عمر په مونځ کښې حاضر وو، او زمونږ په حال خبر شو نو د يرې نه پټيدل ، بيا چه حضرت عمر مسجد نبوی ته راغې نو جمع نه شوې وه ، نويو کس ورته اوويل (ابشر ياعمر فقد فضح الله المنافقين اليوم) يعنې تاته زيرې دې چه الله منافقين رسوا کړل ، (٢) د دوئ مالونه اولاد ونه الله د دوئ په حق کښې عذاب ګرزولی دی ، لکه مخکښې آيتونو کښې تير شول ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ

﴿أَوۡلَٰدُهُمۡ﴾ (۳)عذاب د لوګې او د تندې لکه په بعض روایاتو د بخاری کښې د بعض منافقینو په باره کښې دی چه دوئ که اوبه څکی نو هم ئې تنده نه ماتیږی . (۴) بیماریٔ اوتکلیفونه چه د مؤمن دپاره کفاره د ګناهونو ده نو د منافقینو د پاره عذاب دې . (۵) د اسلام او د مسلمانانو ترقی ته چه منافقان ګوری دا د دوی د پاره عذاب دې. ﴿ثُمَّ يُرَدُّونَ﴾ د دې نه مراد عذاب د قیامت دې .

﴿وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ﴾ په دې کښې د مخلصینو صحابؤ کرامو ذکر دې . چه د غزوه تبوك نه پاتې شوی وو ،اوبیا ورته د خپلې غلطۍ احساس اوشو نو د ډیر ندامت په وجه ئې خپل ځانونه د مسجد نبوی په ستنو پورې ترلی وو .او عهد ئې کړې وو چه تر څوپورې زمونږ توبه نه وی قبوله شوې اونبی کریم ﷺ مونږ په خپل لاس نه یو پرانستی نو مونږ به هم دغسې قیدیان ترلی یو ، نبی کریم ﷺ چه د دوئ دا حال ولیدلو نو دا ئې وفرمائل چه والله چه څو پورې الله د دوئ د آزادولوحکم نه وی کړې ، نو زه به ئې آزاد نه کړم نو دا آیت نازل شو ، نو نبی کریم ﷺ بیا پرانستل او د توبې قبلیدو بشارت ئې ورته ورکړو ، او د دوئ په عدد کښې مختلف روایات دی ، ۳، ۵، ۸، ۱۳، یو په دوئ کښې حضرت ابو لبابه بن عبد المنذر وو . ﴿وَءَاخَرُونَ﴾ مبتداء ده او خبر ورله مقدم مقدر دې (ای منهم آخرون)،او د ذنوب نه مراد د جهاد نه پاتې کیدل دی ،اود عمل صالح نه مراد نورو جهادونو کښې شرکت او نور اعمال صالحه دی .

﴿عَسَى ٱللَّهُ﴾ ،عسی په کلام الهی کښې د وعدې د پاره راځی ، یعنی کومو خلقو چه د خپلې ګناه اعتراف اوکړو او ندامت ئې ښکاره کړو ،او دا اصل حقیقت د توبې دې ، نو دوئ سره د الله وعده ده چه په خپل رحمت سره د دوئ توبه قبلوی ، مفسرین وائی چه دا آیت اګر چه په باره د خاص واقعې کښې نازل شوې دې ، لیکن حکم ئې د قیامت پورې د مسلمانانو د پاره دې ، ابو عثمان وائ چه دا آیت د دې امت د پاره ډیر د امید پیدا کونکې دې ،په صحیح بخاری کښې د معراج نبوی په باره کښې د یو طویل حدیث یوه قطعه کښې داسې دی چه په اوم (۷) اسمان کښې چه کله د ابراهیم ﷺ سره ملاقات اوشو نو د څه خلقو سره ئې ملاقات اوشو چه مخونه ئې سپین وو ، او د بعض خلقو په مخونو باندې داغونه وو ، دوئ ته حکم اوشو چه په دغه نهر باندې داخل شئ ، او غسل اوکړی او واپس راشی نو چه دوئ غسل اوکړو نو د دوئ مخونه هُم بالکل سپین شو ، جبرائیل ﷺ نبی ﷺ ته اؤیل چه دا سپین مخونو والا هغه خلق دی

چه ايمان ئې راوړو او د ګناهونو نه پاك پاتې شو . او دا دويم هغه خلق دي چه دوئ نيك او بد
اعمال خلط كړي دي . او الله ﷻ د دوئ ګناهونه معاف كړل او توبه ئې ورله قبوله كړه .

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا
واخله د مالونو د دوئ نه صدقه چه ته پاك وګرځوې دوئ لره او چه زيات او بركتي كړې د دوئ مال په سبب د هغې.
وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوا
او دعا كوه دوئ ته بيشكه دُعا ستا آرام دې د زړونو د دوئ، او الله تعالى اوريدونكې عليم دې آيا دوئ نه پوهيږي
أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَأْخُذُ الصَّدَقَاتِ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾
چه بيشكه الله تعالى قبلوى توبه د بندګانو ، او قبلوى زكاتونه او بيشكه الله تعالى ډير توبه قبلونكې دې. مهربان دې
وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ ۖ
او وه وايه عمل كوئ پس خامخا به وه وينى الله تعالى عمل ستاسو او رسول دهغه اومؤمنان.
وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم
او زرده چه تاسو به وګرځولې شئ الله تعالى ته چه عالم دې په پټ او په ښكاره ، پس خبر به كړى تاسو لره
بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾ وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ
په هغه عملونو چه تاسو ئې كوئ اونور كسان دي چه روستو كړې شوى دي فيصلې د الله تعالى ته يا به عذاب وركړى دوئ لره
وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾
او يا به توفيق د توبې وركړى دوئ لره، او الله تعالى عليم.حكيم دې.

﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ د كومو خلقو چه توبه قبوله شوه او الله ﷻ د هغوئ د آزادولو حكم
اوكړو او نبى ﷺ دوئ په خپل لاس مبارك سره پرانستل، نو دوئ د شكرئې د پاره خپل ټول
مال د صدقې د پاره پيش كړو، نو نبى ﷺ دوئ ته اوفرمائل چه ماته د مال د اخستو حكم نه دې
شوې نو دا آيت نازل شو او نبى ﷺ د دوئ د مال ثلث يعني دريمه حصه قبوله كړه لكه په دې
آيت كښې په لفظ د (من) كښې دې ته اشاره شوې ده . ﴿تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا﴾ .د دې دواړو په

مینځ کښې فرق دا دې چه د (تطهرهم) نه مراد پاکول دی د ګناهونه یا د محبت د مال نه . او د (تزکیهم) نه مراد نماء او زیادت د حسناتو او وصول دې د مراتبو د مخلصینو ته. یاترینه مراد مبالغه په پاکوالی کښې ده او ،(تطهر)،یا صیغه د مخاطب ده او خطاب نبی ﷺ ته دې یا صیغه د واحد مؤنث غائب ده او (تطهر) صفت دې د (صدقة) د پاره او (تزکیهم) صیغه د مخاطب ده قطعا. **سوال** واردیږی چه ګناه خو په توبې سره معاف کیږی نو توبه ذریعه د تطهیرده نو بیا صدقه اخستل د تطهیر د پاره څه مطلب لری ، **جواب** دادې چه په توبې سره اګر که ګناه معاف شی خو څه ظلمت او نحوست ئې پاتې وی ، لکه د یوې کپړې نه چه صرف په وینځلو سره پلیتی زائله شی لیکن د پلیتئ رنګ او اثر پاتې وی، نو په صدقې سره دغه ظلمت او نحوست زائله شی ﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ﴾ .د صلوة نه مراد دعا د رحمت ده، نبی ﷺ ته چه به چا صدقه راوړه نو عادت کریمه ئې دا وُو چه دعا به ئې ورته کوله او په لفظ د صلوة سره به ئې دعا کوله لکه په روایت د صحیحینو وغیره کښې مذکور دی ، (اللهم صل علی آل ابی اوفی). لیکن دعا په لفظ د صلوة سره د انبیاؤ د پاره مخصوص علامه او حق دې نو د دې وجې نه که نبی ﷺ د چا په حق کښې دعا کوی نو کولې شی . لیکن دعامو خلقو لپاره دُعاء په لفظ د صلوة سره صرف د نبی کریم صلی الله علیه په حق کښې ده او د بل چا لپاره نشته دې . ﴿أَلَمْ يَعْلَمُوٓا﴾ .دا ترغیب دې د توبه کولو او صدقه ورکولو ته او په حدیث کښې راغلی دی (رواه احمد . مالك .دارمی) چه نشته دې یو بنده چه صدقه اؤکړی د کسب حلال نه او نه قبلوی الله مګر پاك حلال او نه خیژی آسمان ته مګر پاك حلال مال مګر رحمن ئې په خپل لاس کښې کیدی . او بیا ئې تربیت کوی لکه تاسو یو کس چه د آس د بچی تربیت کوئ، نو حتی چه یوه وړه لقمه به د قیامت په ورځ د لوئ غر په شان حاضره شی ، او بیا ئې دا آیت تلاوت کړو ، ﴿وَقُلِ ٱعْمَلُوا۟﴾ . مخکښې آیت کښې ترغیب وُو،او دا ترهیب دې چه تاسو څه عمل اؤکړئ نو اول به هغه په دنیا کښې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ او مومنان اؤوینی نو د بد عمل نتیجه په دنیا کښې رسوائی ده او بیا په آخرت کښې تاسو د عالم الغیب وشهادة په حضورکښې پیش کیږئ . نو هغه به د بدو عملونو بدله تاسو له درکړی، په دې آیت کښې د مؤمنین نه مراد صحابه کرام دی او دلته هم ﴿وَرَسُولُهُۥ وَٱلْمُؤْمِنُونَ﴾ عطف دې په لفظ دَ الله باندې نو (عملکم) چه مفعول دې دا مقدم شو نو په دیکښې اشاره ده تفاوت ته په مابین د رؤیت د الله ﷻ اوپه رؤیت د رسول ﷺ او په رؤیت د

مومنانو کښې، او رؤيت د الله ﷻ مافوق الاسباب دې ، او رؤيت د رسول په واسطه د وحې سره دې ، او رؤيت د مؤمنانو په واسطه داطلاع د نبي ﷺ سره دې مومنانو ته. او بعض ملحدين او روافض وائي چه د ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ﴾ نه دولس امامان معصومين مراد دی او بعض اهل بدعت وائي چه د دې نه اولياء كرام مراد دی ، دا ټول خرافات او زنديقيت دې.

﴿ وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ ﴾ ،د غزوه تبوك نه چه کوم لس کسان مخلصين مسلمانان پاتې شوی وو ، د نبي ﷺ په راتلو سره اووه کسانو خپل ځانونه په ستنو پورې تړلي وو ، بيا د هغوئ توبه قبوله شوه لکه مخکښې ئې ذکر تير شو ، او درې کسانو خپل ځانونه نه ؤو تړلي او د دروغو عزرونه ئې هم نه ؤو پيش کړی په دې آيت کښې د هغوئ ذکر دې ، (مرجون) په معنی د (مؤخرون) او موقوفٌ أمرهُمْ سره دې، يعنې د دوئ توبه مؤخره شوې ده او دوئ معامله موقوفه ده ،﴿ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ﴾،دا ترديد په دې اعتبار سره دې چه كه دوئ توبه په اخلاص اؤنه کړی نو عذاب به ورته ورکړې شی ، او که توبه په اخلاص سره اوکړی نو توبه به ئې قبوله شی ، نو دا ترديد په نسبت سره بندګانو ته دې ، نه په نسبت سره الله ﷻ ته .

وَالَّذِينَ	اتَّخَذُوا	مَسْجِدًا	ضِرَارًا	وَّ	كُفْرًا

اوبعضې د منافقينو نه هغه کسان دی چه جوړ کړې ئې دې مسجد د ضرر ورکولو لپاره او د وجه د کفر نه

وَّتَفْرِيقًا	بَيْنَ	الْمُؤْمِنِينَ	وَإِرْصَادًا	لِّمَنْ	حَارَبَ اللهَ

او لپاره د تفريق پيدا کولو په مينځ د مؤمنانو کښې او مورچه لپاره د هغه چا چه جنګ او خلاف ئې کړې دې د الله تعالی

وَرَسُولَهُ	مِنْ	قَبْلُ ؕ	وَلَيَحْلِفُنَّ	إِنْ أَرَدْنَا	إِلَّا الْحُسْنَىٰ ؕ

اود هغه د رسول نه، مخکښې د دينه، اوخامخا به دوئ قسمونه کوی چه مونږ اراده نه وه کړې پدې سره مګر نيکی کول

وَاللهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١٠٧﴾

او الله تعالی ګواه دې چه بيشکه دوئ خامخا دروغژن دی .

﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ﴾ ،دا عطف دې په ما سبق باندې ، (اى ومنهم الذين اتخذو).او دا آيتونه سفری دی په سفر د تبوك کښې نازل شوی دی ، په باره د مسجد ضرار کښې چه د هغې

متصل مفسرینو داسې لیکلې دي چه په مدینه منوره کښې یو کس چه ابو عامر نوم ئې وو په زمانه د جاهلیت کښې نصرانی راهب شوې وو. او دې د مشهور صحابی حضرت حنظله ﷺ غسیل الملائکه پلار وو. هر کله چه نبی ﷺ مدینې ته تشریف راوړونو ابو عامر حاضر شو. او په اسلام ئې اعتراض اوکړو، نبی ﷺ ورته جوابونه ورکړل. لیکن دا بد بخته مطمئن نه شو. بلکه دا بد دعاء ئې اؤکړه (مات الکاذب منا وحیدا طریدا غریبا) یعنی دروغژن دې د اقاربو نه په لرې وطن کښې یواځې مړ شی، نو نبی ﷺ آمین اونیل او ده ته ئې د ابو عامر الفاسق نوم اووئیلو، نوده دا اوئیل چه تاسوکوم دشمن سره مقابله کښې راشئ نوزه به دهغه سره مدد کوم، نو دې په ټولوغزاګانوکښې د مسلمانانو خلاف د دشمنانو سره په جنګ کښې شریك وو. لیکن چه هر کله د فتح مکې نه بعد هوازن او ثقیف هم شکست وخوړلو نو دې مایوس شو، او ملك شام ته لاړو ځکه چه شام د نصرانیانو مرکز ؤو، او هلته کښې بې وطنه د اقاربو نه لرې مردار شو چه څوك ئې د پرسان حال نه وو. بدبخت په خپله ټوله زندګئ کښې د اسلام خلاف سازشونه کول، یو سازش ئې دا هم جوړ کړې وو چه منافقینو د مدینې ته ئې خط اولیږلو چه زه قیصر روم ته ځم چه په مدینه باندې حمله ؤکړی نو تاسو په مدینه کښې یو مکان د مسجد په نوم جوړ کړئ د دې دپاره چه د مسلمانانو شك او شبه رانشی او په دې کښې ډیره اسلحه جمع کړئ. او د مسلمانانو خلاف ترتیب په مشوره سره شروع کړئ، نو منافقینو په قباء کښې د مسجد په نوم مکان جوړ کړو، او مسلمانانو ته د دهوکې ورکولو دپاره او د مطمئن کیدلو د پاره ئ دا کار اوکړو چه یو وفد مدینې ته د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او درخواست ئې اوکړو، چه چونکې ضعیفانو او بیمارانو د پاره هر وقت مسجد قباء ته په تلو کښې تکلیف وی او بل دا چه مسجد قباء ډیر وسیع هم نه دې چه ټول خلق پکښې ځائې شی نو د دې وجې نه مونږیو بل مسجد جوړکړې دې چه ضعیفانو ته سهولت وی، نو تاسو تشریف راوړئ او د برکت د پاره هلته مونځ اوکړئ، رسول ﷺ د غزوه تبوك په تیارئ کښې مشغول وو نو دوئ ته ئې اویل چه فی الحال زه په سفر روان یم او چه را واپس شم نو بیا به هلته مونځ اوکړم، نو د غزوه تبوك نه په واپسئ کښې چه نبی ﷺ مدینې ته قریب یو ځائ ته راورسیدلو نو دا آیتونه نازل شول او د منافقینو سازش ښکاره شو، نو نبی ﷺ یو څو کسان صحابه اولیږل او دغه مکان ئې اونړولو، او اور ئې ورته واچولو.

فائده (۱): قادیانانو خپل عبادت ګاه ته مسجد اوئیل نو مسلمانانو په دې حکومت ته

اپيل اوكړو ، چه دي ته مسجد ويل ناجائز او د مسجدونو توهين دې ، او په هائى كورټ كښې ئى كيس شروع كړو نو قاديانانو په استدلال كښې دا آيت راوړو چه د منافقينو هغې ته مسجد ويلې شوې دې نو زمونږ دې ته هم مسجد ويل صحيح دى، يو عالم د دې جواب اوكړو چه د منافقينو هغې ته مسجد ضرار ويلې شوې دې نو كه تاسو خپل ته مسجد ضرار وايئ نو زمونږ څه اعتراض نشته . قاديانانو جواب اوكړو چه ضرار په آيت كښې مفعول له دې او مفعول له قيد نه وى حتى چه صفت جوړشى ، نو په آيت كښې اطلاق د مسجد اوشو بغير د قيد د ضرار نه نو يو عالم دا جواب اوكړو چه په آيت كښې اګر كه ضرارا مفعول له دې خو په دې كښې صفت ته اشاره ده نو ضرار صفت د مسجد جوړيږي نو ويلې شى چه دا مسجد ضرار دې ، يو بل عالم جواب اوكړو چه دلته اطلاق د مسجد نه دې شوې بلكه (اتخذو) ويلې شوى دى ،او اتخاذ په هغه ځائ كښې استعماليږي چه څوك اخبار كوى د هغه شى نه چه خلاف حقيقت وى لكه (وقالو اتخذالله ولدا)، نو دلته معنى د (اتخذو مسجدا) ،دا شوه په حقيقت كښې مسجد نه وو، او دوئ ورته مسجد وائى دا خلاف حقيقت دې. والله اعلم .

فائده (٢) : په دې آيت كښې د دې مسجد څلور غرضونه ذكر شوى دى ،اول ، ضرارا يعنې مسلمانانو ته د نقصان رسولو په غرض،ضراراو ضرر يوه معنى ده او بعض وائى چه ضرر هغه نقصان ته وائى چه د كونكى په كښې فائده وى خو بل چاته نقصان رسى ، او ضرار هغه نقصان ته وائى چه د كونكى په كښې فائده نه وى او بل چا ته نقصان وى او دويم ﴿وَكُفْرًا﴾ يعنى جوړونكو دا مسجد د كفر د وجې نه جوړ كړې وو ، او دريم ، ﴿وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾، يعنى په مسلمانانو كښې د تفريق پيدا كولو دپاره ئى جوړ كړې دې ،او څلورم ، ﴿وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ ، يعنى د الله او رسول ﷺ دشمنانوته د پناه وركولو د پاره ئى جوړ كړې وو ، دَ دينه مراد ابو عامر راهب دې. نو د دې نه دا معلومه شوه چه دا په اصل كښې مسجد نه وو ، او نه د مونځ دپاره جوړ شوې وو ، نو كه چا ديو مسجد په څنګ كښې بل مسجد جوړ كړو د مونځ د ادا كولو د پاره او په دې سره دې اول مسجد ته نقصان رسيدلو يا تفريق پيدا كيدلو يا بل څه اغراض فاسده په كښې وو ، لكه ريا ، ضد ، عناد ، نوداسې كول ګناه ده او جوړونكى ته ثواب نه ملاويږي ، بلكه ګناه ده ، البته حكم به پرې د مسجد جارى كيږي ، او آداب د مسجد ساتل ئې ضرورى دى ، او مونځ په كښې جائز دې او د مسجد ضرار حكم پرې نه جارى كيږى نو نړول او اور ورته اچول جائز نه دى ، او مسجد ضرار ورته ويل هم جائز نه دى ، البته

د مسجد ضرار مشابه دي . او علامه شربيني دا قول په قيل سره ذكر كړي دي . او ملحق
بمسجد ضرار ئ ورته ويلي دي او ده نړولو او اور اچولو حكم جمهورو علماؤ نه دي كړي .
﴿إِلَّا ٱلْحُسْنَىٰ﴾ يعني دوئ د دروغو قسمونه خوري چه زمونږ نيك نيتى اراده وه يعني سهولت
معذورو او بوډاګانو ته .

لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ۚ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ

مه اودرېګه ته په دې جماعت كښ د مونځ لپاره هميشه، خامخا هغه جماعت چه بنياد ئ اېښودلې شويدې په تقوى باندې

مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا ۚ

د اولې ورځې نه لائق دې د دې چه ته ودرېږې د مونځ لپاره په هغه كښ. پدې جماعت كښ داسې سړى دى چه خوښوى پاكوالې خپل

وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾ أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ

او الله تعالى محبت كوى د داسې پاكانو سره . آيا پس هغه څوك چه اېښودلې ئ دې بنياد د آبادئ په ېره د الله تعالى

وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ

او په رضا د الله تعالى نو دا غوره دې اوكه هغه څوك چه اېښې ئ وى بنياد د آبادئ او د عمارت خپل

عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ ۗ وَاللَّهُ

په غاړه د يوكندې (ډډكمر) باندې چه غورزېدونكې وى پس وغورزېږى سره د ده نه په اور دجهنم كښ، او الله تعالى

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٩﴾ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا

توفيق د نيكى نه وركوى قوم ظالمانو ته . هميشه به وى نړول د آبادى د دوئ هغه چه دوئ جوړه كړې ود

رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَن تَقَطَّعَ

سبب د لوئ شك او تردد او خوف په زړونو د دوئ كښ، تر هغه وخته پورې چه ټكړې ټكړې شى

قُلُوبُهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾

زړونه د دوئ يعني مړه شى، او الله تعالى عليم، حكيم دي

﴿ لَا تَقُمْ فِيهِ ﴾ د دينه مرادنهي دقيام د مونځ ده يعني مونځ په كښې مه كوه، ﴿ لَمَسْجِدٌ ﴾ لام ابتدائيه تاكيديه دي يا لام د قسم دې ، او مراد ترينه مسجد قباء دې ، لكه دا ظاهر دی سياق او د سباق نه او د دې مسجد په فضيلت كښې دير روايات وارد دی، لكه په روايت د ترمذی وغيره كښې دی چه نبی ﷺ فرمائلی دی چه صلوة په مسجد قباء كښې پشان د عمرې دی. او په بعض صحيح رواياتو كښې دی چه د دې نه مراد مسجد نبوی دې ، لكه د ابو سعيد خدری ﷺ نه روايت دې چه ما تپوس اوكړو چه هغه كوم مسجد دې چه بنياد ئې په تقوی ايخودې شوې دې ،نو نبی ﷺ اوفرمائل چه هغه دا مسجد دې ، يعني مسجد د مدينې (مسجد نبوی) علماؤ تطبيق كړې دې چه د آيت مدلول صريحی (عبارت النص) مسجد قباء دې ، او مسجد نبوی پكښې داخل دې ، په طريقې د دلالت النص سره نو په حديث كښې اشاره ده عموم د حكم ته او دفع د توهم د اختصاص ده په مسجد قباء پورې ، ﴿ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ ﴾ دا د اساس نه ماخوذ دې چه د (اُس) جمع ده (اُسس) په معنی د وضع الاساس ده يعنی بنياد كيخودل او د دې دوه ترجمې دې : (١)﴿ أَفَمَنْ ﴾ (مَنْ) نه مراد شخص دې او د ﴿ بُنْيَانَهُ ﴾ نه مراد دين او عقيده ده معنې دا چه آيا هغه څوك چه ايخودلې ئې دې بنياد د دين او عقيدې په تقوی او اخلاص اوپه حق باندې (٢) د (مَنْ) نه مراد شخص دې او د بنيان نه مراد مسجد دې معنی دا ده چه هغه كس چه ايخودلې ئې وی بنياد د مسجد په تقوی سره، تقوی ته بنياد ويل مبالغه ده په مدح كښې، ﴿ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ ﴾ د دې دوه ترجمې دی : د ﴿ أَوَّلِ يَوْمٍ ﴾ (١) نه مراد اوله ورځه د هجرت ده نبی ﷺ ده نبی ﷺ چه كله مدينې منورې ته هجرت اوكړو او راغې نو اول ئې د مسجد قباء بنياد كيخودو ، (٢)د (اول يوم) نه مراد اوله ورځ د وجود ده يعنی د دې مسجد بنياد د ابتدا او اول سر نه په تقوی دې ، داسې نه چه اولابناء ئې په غير تقوی لكه رياء وغيرا شوې وؤ او بيا په تقوی شو . ﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا ﴾ ،دا په باره د اهل قباء كښې نازل شوې دې او تطهر نه مراد باطنی تطهر يعنی د شرك او ګناهونو نه بچ كيدل هم دې او ظاهر پاكوالې هم مراد دې ، يعنی استنجاء كول ،اودس كول ،روايت كړې دې ابن خزيمه ﷺ عويمر بن ساعده نه چه نبی ﷺ تشريف راوړو اهل قباء ته ئې اوفرمائل چه بيشكه الله ﷻ ستاسو تعريف او صفت كړې دې په باره د پاك والی كښې نو هغه كوم پاكوالې دې چه تاسو ئې كوئ نو دوئ عرض اوكړو چه مونږ ته نور څه نه دی معلوم مګر دا چه زمونږ ګاونډيان وو، د

يهودو نه نو هغوئ به استنجاء كوله په اوبو سره نو مونږ هم دغه شان كوو . او په بل روايت كښې دي چه اهل قباؤ اويل چه استنجاء په كانړو سره اوكړو نو بيا استنجاء كوو په اوبو سره . نونبي ﷺ اوفرمائل چه دا كار په ځان لازم كړئ ، هم دا خبره ده چه الله ﷻ ستاسو صفت كوى

﴿ أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَٰنَهُ ﴾ دا تقابل بيانول دى په مابين د بنائينو كښى او دا رنګه په مابين د بانيانو كښى او تمثيل بيانول دى د دواړو دپاره . او تاسيس وضع الاساس ته وائى (بنياد ايخودل) او بنيان مصدر مبنى للمفعول دې په معنى د مبنى سره يعني عمارت .حاصل دا چه يو داسې عمارت وى چه بنياد ئي ډير مظبوط وى ، يعني تقوى او حق . بل دا سې عمارت وى چه بنياد ئى ډير كچه او ضعيف وى ، او چه بانى (جوړونكى) پرې اودريږى نو دواړه را غورزيږي په اور كښى نو دا دواړه څرنګه برابر كيدې شى .﴿ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ ﴾ . شفا كنارې طرف (غاړې) ته وائى او ماخوذ دې د (اشفى علي الهلاك) نه . يعنى د هلاكت په كناره دې او دارنګه (شفى المريض) مريض په غاړه د برائت او سلامت باندې اوګرزيده ، او (جرف) هغې كندې ته وائى چه د هغې نه سيلابونو د ويخ نه خاوره اوړې وى او د پاسه نه پاتې وى نو دغه ډير كچه او ضعيف وى ، چه څوك پرې د پاسه اودريږى نو نړيږى ، او﴿ هَارٍ ﴾ په اصل كښى هَاوِرٌ، يا هَايِرٌ وو، بيا قلب اوشو نو هارِوٌ،يا هَارِيٌ شو، اخر ترې نه حذف شو نوهار پاتې شو ، په معنى د(مشرف على السقوط)،سره يعنى نړيدونكې ﴿ فَٱنْهَارَ ﴾ ،(ضمير مستتر) راجع دې بنيان ته ، او﴿ بِهِۦ ﴾ ،ضمير راجع دې بانى ته يعنى دا عمارت چه اوغورزيږى نو بانى او عمارت به دواړه ارتاؤشى په اور د جهنم كښى .﴿ بَنَوْا۟ رِيبَةً فِى قُلُوبِهِمْ ﴾ ، هر كله چه نبى ﷺ د مسجد ضرار د نړولو حكم اوكړو او صحابه كرامو هغه اونړو ،نو منافقين ډير غصه وو. ليكن هيڅ مقابله ئى نه شوه كولې ، او دا رنګه دوئ په ډير خوف او شك كښى راغلل چه زمونږ مسجد ئى خو اونړولو ، نو آيا اوس به زمونږ كورونه هم نړوى او زمونږ مالونه به لُټ كوى؟ . نو په دې آيت كښى دې ته اشاره ده ﴿ بُنْيَٰنُهُمُ ﴾ دلته مضاف مقدر دي (اى هدم بنيانهم). ﴿رِيبَةً ﴾ ،د دې نه مراد غصه يا خوف او شك دې ، يا په (بنيانهم)كښى مضاف مقدرنه دې .او مراد ترينه آبادول د مسجدضرار دى .او د(ريبة) نه زيات شك او نفاق مراد دې يعنى مسجد ضرار سبب شو د زيادت د منافقت ﴿ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ ﴾دا استثناء ده د عموم الاوقات والاحوال

نه او د ‹تقطع›. نه مراد موت دې يعنى نفاق يا خوف به د دوئ نفسونو كښې د مرګ پورې وى . نجات ترې نه نشي موندلې .

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ
بيشكه الله تعالى اغيستى دى [1] د مؤمنانونه نفسونه د دوئ اومالونه د دوئ په بدله د دې كښې چه بيشكه
لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ
ددوئ لپاره جنت دې،جنګ به كوى په لاره د الله تعالى كښې نو قتل كوى كافران او دوئ به هم وژلې كيدې شى.
وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ
وعده كړيده دوئ سره الله تعالى وعده ريشتنې چه ذكر شويده په تورات او په انجيل كښې او په قرآن كښې.
وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ
او څوك زيات ښه پوره كونكې دې وعدې خپلې لره د الله تعالى نه نو خوشحاله شئ پدې خرڅولو خپلو
الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١١﴾
هغه خرڅول چه سودا كړيده تاسو په هغې د الله تعالى سره، او دا كاميابى لويه ده .

﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ ،په دې آيت كښې ترغيب دې جهاد ته په ډيره بليغه طريقې سره ، يو دا چه الله ﷻ (چه په حقيقت كښې هغه زمونږ مالك دې) خپل ځان مشترى اوګرزولو ،او مؤمنان ئې بائعين اوګرزول بل دا چه جان او مال د مؤمنينو ئې مبيعه اوګرزوله چه په عقد بيع كښې هغه مقصود بالذات وى ، او بل دا چه د جنت دائمى نعمتونه ، داسى نعمتونه چه (لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر)، ئې ورله ثمن اوګرزولو ، او ثمن په عقد بيع كښې دا وسيله او ذريعه وى دپاره د حصول د مبيعې ، او بل دا چه ‹بالجنة› ئې ورته اونه فرمائل . بلكه ﴿بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾ . ئې ورته اوفرمائل نو په دې كښې اشاره ده دې ته چه جنت د دوئ دپاره خاص دې ، او د دوئ ملكيت دې ، ﴿يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ په

---

۱ - ترغيب جهاد ته او بشارت

بيع کښې د محل استيفاء بيان پکار وی چه دا مبيعه به مشتری ته په کوم ځائ کښې حواله کولې شی ، نو دا د هغې بيان دې او دا ظاهر ده چه محل استيفاء په هغه ځائ کښې بيانيږی چه مبيعه ډير خطير او عظيم څيز وی ، د معمولي او حقير څيز د پاره محل استيفاء نه ذکر کيږی ، نو دا يوه بله وجه مخې ته راغله د پاره د بلاغت ، او هم دا رنګه په دې آيت کښې اشاره اوشوه دې ته چه هر کله سودا د جان او مال اوشوه نو فورا ئې د قبضې نه ويستل ضروری ندی ، بلکه چه کله موقع راشی نو بيا بخل مه کوئ، ﴿فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَ﴾ دا د يقاتلون فی سبيل الله بيان دې ، او په دې کښې اشاره ده چه دا ضروری نه ده چه مومن به هله مشتری ګرزی چه مقتول شی ، بلکه چه جهاد ته لاړشی او قاتل د کفارو اوګرزی او سالم غانم راشی نو بيا هم مشتری دې .او د دې وجې نه صيغه د معلوم مخکښې ذکر شوه اود مجهول روستو ذکر شوه . ﴿حَقًّا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِ﴾ ، سودا چه دَ ډير قيمتی څيز اوشی نو په سرکاری دستاويزاتو ،شاهي رجسترو ، او ستامپ کښې ليکلې شی ، نو دا ددې بيان دې چه دا په ټولو اسمانی کتابونو کښې ليکلې شوې وعده او فيصله ده .﴿وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ﴾، دا دفع د توهم ده چه ثمن يعنی جنت په دنيا کښې فی الحال خو نشته نو آيا جنت به ملاؤ شی که نا؟ نو جواب اوشو چه د الله نه زيات څوك وعده پوره کونکې نشته نو دهغه ادهار يعنې قرض د نقد نه ډير خه دې ﴿فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي﴾ ،استبشار هغه سرور او خوشحالی ظاهرولو ته وائي ، چه ښکاره شی اثر د خوشخالئ په بشره او چهره باندې ، عبدالله بن رواحه ﷺ اوفرمائل چه دا داسې بيع ده چه (لانقيل ولانستقيل)،چه د دې اقالي هيڅ صورت نشته دې ،او حسن بصري ﷫ ويلی دی ،چه والله نشته دې په مخ د زمکه مګرهغه داخل دې په دې بيعه کښې (قرطبي) .

ٱلتَّٰٓئِبُونَ	ٱلۡعَٰبِدُونَ	ٱلۡحَٰمِدُونَ
دا مؤمنان توبه کونکی دی ،	عبادت کونکی دی،	د الله تعالی حمد ويونکی دی.
ٱلسَّٰٓئِحُونَ	ٱلرَّٰكِعُونَ	ٱلسَّٰجِدُونَ
سفر کونکی په لاره د الله تعالی کښې (د جهاد او د طلب علم لپاره)	رکوع کونکی دی	سجده کونکی دی الله تعالی ته .

ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝

حکم کونکی په نيکئ سره اومنع کونکی دی د بدئ نه، اوساتنه کونکی دی د پولو د الله تعالی او زيري ورکړه داسې مؤمنانو ته .

﴿التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ﴾ ،د كومو مومنانو سره چه دالله ﷻ بيع او سودا اوشوه نو د هغوئ صفات بيانيږي ، (۱) (تائبون).د توبې نه مراد د كفر. شرك او د ټولو معاصی ؤنه كه صغيره دی او كه كبيره دی كه حقوق الله دی او كه حقوق العباد ټولو نه توبه مراد ده، او د (۲) (عابدون) نه مراد ټول عبادات دی كه مالی وی كه بدنی، ظاهری وی كه باطنی وی (۳) ﴿الْحَامِدُونَ﴾ دالله ﷻ حمدويونكی په هر حال كښ . (۳) ﴿السَّائِحُونَ﴾ . د ابن مسعود ﷺ او ابن عباس ﷺ نه روايت دې . چه ددې نه روژه دار مراد دی ځكه چه روژه دار سرې خپل خوراك سكاك او شهوات پريږدی ، او په روايت د ابوهريره ﷺ كښ مرفوعا ذكر دی چه (سياحة امتى الصيام) ، او دغه شان روايت د حضرت عائشه ﷺ او په روايت د عطاء كښ دی چه (سائحون مجاهدين في سبيل الله) دی ، روايت كړې دې ابو امامه ﷺ چه يو كس د نبی ﷺ نه اجازت طلب كړو ، د سياحت دپاره نو نبی ﷺ ورته اوفرمائل چه (سياحة امتى الجهاد فى سبيل الله)، (رواه ابوداؤد) او چا ويلی دی چه سائحين مهاجرين دی ، او چا ويلی دی چه سائحين نه مراد طالبان د علم دی ، لكه دا قول د عكرمه ﷺ او د عطاء ﷺ دې، علامه شربينی ﷺ ويلی ئې دی چه د علم د پاره سياحت كول امر عظيم دې ، په تكميل د نفس كښ ځكه چه په دې كښ ملاقات اوشی د مختلفو علماؤ سره او استفاده اوكړی د يو بل نه او كله د خپل ځان نه لوئ عالم سره ملاقات اوشی نو د استفادې نه علاوه خپل ځان ورته حقير ښكاره شی ،او تواضع پكښ پيدا شی ، اوكله مشاهده اوكړی داختلاف د احوالو د اهل دنيا نو قوی شی معرفت د ده ، وغير ذالك

﴿الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ﴾ دا پنځم ، شپږم صفت دې، د دې نه مونځ كونكی مراد دی او تخصيص اوشو د ركوع او سجدې ځكه چه دا امتيازی علامه دَ مصلی ده په خلاف دقيام او قعود نه ځكه چه هغه حالت د مصلی او غير مصلی دواړو دې ، او بل د دې وجې نه چه قيام اولی مرتبه د تواضع ده، ركوع اوسط مرتبه د تواضع ده او سجده انتهائی مرتبه د تواضع ده نو تخصيص د ركوع او سجدې اوشو د پاره د دلالت په نهايت تواضع باندې ، او په دې كښ تنبيه ده چه مقصود په مونځ كښ نهايت خضوع ده ، ﴿الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ﴾،دا اووم ، اتم صفت دې، امر بالمعروف او نهي عن المنكر د مؤمن مخصوص علامه او امتيازی وصف دې ، دلته په (والناهون) باندې واو د عطف داخل شوې دې ، په

خلاف د ما قبل نه یو د دې وجې نه چه اشاره شی دې ته چه دا دواړه په منزله د خصلتِ واحده سره دی نو یواځې یو نه کافی کیږی، او بل د دې وجه نه چه عرب عطف کوی په واؤ سره په سبعه باندې لکه پدې قول د الله تعالی کښې ((وثامنهم کلبهم)) ،یا په دې قول د الله ﷻ کښې ((وفتحت ابوابها)) او په دې عطف کښې اشاره وې دې ته چه عدد پوره شوې دې ، او اتم تعداد آخر دې معطوف دې په دې باندې او د دې وجې نه دې واو ته واو ثمانیه ویلې شی ، ﴿وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ﴾ په دې کښې دمخکښې صفاتو نه علاوه د نورو تمامو صفاتوذکر دې . چه په هر کار کښې برابره خبره ده چه که اعتقادیات وی یا عبادات وی یا اخلاقیات وی یا معاملات وی لکه بیع، شراء نو په دې ټولو کښې د الله ﷻ د حدودو رعایت کوی ، دغه مخکښې اته (۸) صفات ئې په تفصیل سره ذکر کړل ځکه چه مکلف د هغې نه، نۀ خالی کیږ په اغلب اوقاتو کښې ، او د هغې نه علاوه د نورو نه مکلف خالی کیدې شی لکه احکام د بیع او شراء او احکام د جنایاتو ﴿وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ په دې کښې د مومنانو تخصیص وُشو دپاره د تنبیه په دې خبره چه بشارت په دې قول د الله ﷻ کښې ، (فاستبشروا)، دا ندې شامل مګر هغه مؤمنانو ته چه موصوف دی په دغه مخکښو صفتونو باندې .

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ

ندی جائز د نبی لپاره اونه دهغه کسانو لپاره چه ایمان ئې راوړې دې دا خبره چه دوئ بښنه غواړی-مشرکانو لره

وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿١١٣﴾

اګر که وی دا خپلوان د دوئ روستو دهغې نه چه ښکاره شویده دوئ ته چه بیشکه دوئ جهنمیان دی.

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ

اونه وه بښنه غوښتل د ابراهیم لپاره د خپل پلار، مګر دوجه د وعدی نه چه دغه وعده ئې کړې وه دهغه سره،

فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ

پس هرکله چه ښکاره شوه ده ته داخبره چه بیشکه دې دښمن د الله تعالی دې نو بیزاره شو ترینه، بیشکه ابراهیم

لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ

نرم زړې اوصبرناک وۀ. اوندې الله تعالی چه ګمراه شمار کړی یوقوم روستو د دینه چه هدایت ئې کړې وی دوئ ته

حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝

ترهغې چه واضح بیان کړي دوئ ته هغه څه چه ځان بچ کوي دوئ د هغې نه، بیشکه الله تعالی په هرڅه علیم دې

﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ﴾ ، مخکښې مسئله د جهاد ذکر شوه او روستو هم ذکر کیږي ،نو په درمیان کښې د دې خبرې ذکر دې چه چه د مشرکینو سره جهاد کوه او که چرې څوك به شرك باندې مړ شي یا د مهر جباریت د لاندې راشی نو د هغوئ دپاره استغفار هم مه کوه لیکن د مهر جباریت علم صرف پیغمبر ته کیدې شی په ذریعه د وحی سره - د مفسرینو د دې آیت شان نزول په باره کښې درې قوله دی : یو دا چه دا نازل شوې دې په باره د استغفار د نبی ﷺ کښې د پاره د ابوطالب ، دویم قول دادې چه نازل شوې دې په باره د استغفار د نبی ﷺ کښې د پاره د خپل ابوینُ (مور،پلار) ، او دریم قول دادې چه نازل شوې دې په باره د استغفار د بعض صحابؤ کښې د پاره د بعض اقاربو خپلو ،﴿ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ ﴾، د دې نه مراد دا دې چه مرگ ئې په کفرکښې اوشی ،یا دا چې مهر جباریت پرې لگیدلې وی ، باقی په حدیث کښې چه راغلی دی، چه نبی ﷺ په غزوه احدکښې دا دعا وکړه چه (اللهم اغفر لقومی فانهم لايعلمون). نو د دینه مراد دادې چه یا الله څما قوم ته هدایت ورکړه چه مغفرت ئې اوشی ، نودا په حقیقت کښې دعا د هدایت اود توفیق د ایمان ده ، قرطبي وائی چه په دې نیت سره کافر ته د مغفرت دعا کول چه توفیق د ایمان او د هدایت ورته اوشی او د مغفرت مستحق شی ، نو دا جائز دی ، ﴿ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ ﴾ ، دا جواب د یو سوال دې هغه دا چه ابراهیم ﷺ خو د خپل مشرك پلار د پاره د مغفرت سوال کړې دې لکه په سورة شعراء کښې (واغفر لابی انه کان من الضالين) دی او په سورة ابراهیم آیت نمبر ۴۱ کښې (ربنا اغفرلی ولوالدي) راغلی دی نو د دې جواب راغې چه ابراهیم ﷺ د هغه سره وعده کړې وه لکه په سورة ممتحنه کښې دی ، (الا قول ابراهيم لابيه لاستغفرن لك)، او په سورة مریم آیت نمبر ۴۷کښې هم دی نو هغه وعده ئې پوره کړه لیکن هر کله چه ورته دا معلومه شوه چه دې د الله ﷻ دشمن دې یعنی موت ئې په کفر راغلې دې یا دا چه مهر جباریت پرې لگیدلې دې نو﴿ تَبَرَّأَ مِنْهُ ﴾ ، بیا ترې نه بیزاره شو او استغفار ئې پریخودو ، حاصل دا چه ابراهیم ﷺ لره قبل د استغفار د خپل پلار دپاره علم نه وو په دې خبره چه هغه قطعا جهنمی دې ځکه چه هغه په کفر مړ دې ، او بعد د علم نه ئې ورله

استغفار ندي غوختی .

﴿إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ﴾ . يعنی ابراهيم ﷺ د خپل پلار دپاره ځکه استغفار غوختلو چه ابراهيم ﷺ ډير نرم مزاج وو ، پلار ورته ډيرې سختې خبرې کولې ليکن ابراهيم ﷺ به ورسره ډيره نرمي کوله ،او ډير په تضرع اوپه عاجزی به ئی ورله د هدايت سوال کولو ، د (اواه) ډيرې معنی کړې شوی دی ، منجمله دهغې نه دا دی (کثير التضرع ،کثير الدعاء). ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا﴾ ، په دې آيت کښ تسلی ده هغه بعض مؤمنانو ته چه د خپلو اقاربو مشرکانو د پاره ئی استغفار کړې وو ، او د تير شوی آيت په نزول سره هغوئ ته هم فکر لاحق شو او خيال ئی راغی چه مونږ به په دې سره گمراه شوی يو ، حاصل د جواب دادې چه قانون الهی دادې چه څو پورې يو حکم ئی صراحة يا دلالة نه وی بيان کړې نو د هغې پورې مخالفت کونکی ته گمراه نه وائی ، ځکه چه معصيت خو خلاف د مامور به ته، يا ارتکاب د منهی عنه ته وائی نو تر څو چه امر . نهی نه وی راغلې نو مخالفت د مامور به يا ارتکاب د منهی عنه نه دې متصور او د ﴿لِيُضِلَّ﴾ نه مراد حکم کول د گمراهئ دی ، او موصوف گرځول دی په گمراهئ سره ، يا ترينه مراد سزا ورکول د گمراهئ دی او د ما ﴿يَتَّقُونَ﴾ نه مراد (مايجب اتقاه)دې چه ځان بچ کول ورنه واجب او ضروری دی .

إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ
بيشکه الله تعالی خاص هغه لره بادشاهی د آسمانونو او د ځمکې ده، ژوندی کوی مړه کوی اونيشته تاسو لره سوی د الله تعالی نه
مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿۱۱۶﴾ لَقَد تَّابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَٰجِرِينَ
هيڅ دوست او نه مددګار. خامخا په تحقيق سره الله تعالی خصوصی رحمت اومهربانی کړيده په نبی او په مهاجرينو
وَالْأَنصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِن بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ
او په انصارو، هغه کسان چه تابعداری ئې کړې ده دَده په وخت د تنګسيا کښ روستو د هغې نه چه قريب وؤ چه کاږه شوی وې زړونه
فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۱۷﴾
د يوې ډلې د دوئ نه، بيا الله تعالی خپل رحمت وکړو په دوئ. بيشکه الله تعالی شفقت کونکې مهربان دې.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾دا علت دما قبل دې يعني قانون بيانول د الله ﷻ اختيار دي خکه چه بادشاهي د الله ﷻ د پاره ده ، ﴿ لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ﴾دا بشارت دې نبي ﷺ ته او صحابه مهاجرينو او انصارو ته ،او د توبې نه مراد توبه د خواصو ده ، چه رفع د درجاتو د پاره وی ، حضرت الشيخ ﷫ به د دې ترجمه داسې کوله ، (بیشک اللہ نے خصوصی مہربانی کی نبی ﷺ پر ۔ الخ) ، ﴿وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ﴾ ، دا د صحابؤ دپاره ډير عظيم منقبت دې ، چه الله ﷻ په خپل ازلی کتاب کښې د دوئ د معافی اعلان اوکړو ، (اللهم ارزقنا اتباعهم وحبهم) او لعنت دې وی په هغه چا چه تنقيص کوی د شان د دوئ يا حسد لری د دوئ سره ، ﴿فِى سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ ﴾ ، د سختئ په حال کښې اتباع کول او خپل مال او جان قربانول د ريشتينی محبت لوئ دليل دې ، او د ساعة العسر نه مراد د غزوه تبوك زمانه وه ، چه په هغې کښې مختلف قسم مشکلات جمع شوی وو ، سخته ګرمی ، طويل مسافت ، د کجورو موسم ، او د دغه زمانې د عظيم الشان سلطنت مقابله کښې ميدان ته راتلل، او بيا داسې بې سر او سامانی چه يوه کهجوره به د دوو کسانو خوراك وو ، بلکه دې ته هم نوبت رسيدلې وو چه يوه کهجوره به ډيرو کسانو چوپله ، او اوبه به ئې وريسې اوڅکلې ، او بيا دا چه اوبه نه ملاويدې ، حتی چه بعض صحابؤ به اوښان ذبح کړل او د خيټې نه به ئ لوندوالې نچوړکړو او په هغې به د هلاکت نه بچ شو . او بيا د سورلئ کموالې چه په يو يو اوښ به لس لس کسانو په نمبر سورلی کوله ، دا هغه جذبه او خلوص للّهيت، ايثاراو قربانی وه ، چه لګ کسان به په ټولو اقوامو د عالم غالب شول . او لوئ لوئ بادشاهان ترينه سره د اسلحې او د لښکرو به ريږدل، ﴿مِنۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ﴾ مخکښې تير شو چه نبی ﷺ کله غزوه تبوك ته د ټلو حکم اوکړو نو بعض مؤمنان فورا تيار شو ، د مشکلاتو د سفر ، او د نورو رکاوټونو د هيڅ څيزخيال ئې اونه ساته او بعض مؤمنانو ته ابتداءً د مشکلاتو او د اسبابو د فقدان خيال په زړه کښې راغې ، او قريبه وه چه د نبی ﷺ د رفاقت نه پاتې شی ، ليکن الله ﷻ بيا مهربانی وکړه او د دغه قسم خيالاتو او په وساوسو باندې دَ عمل کولو نه ئې محفوظ اوساتل ، او د دوئ همتونه ئې مضبوط کړل ﴿ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ﴾،نه هم دغه خيالات او وساوس مراد دې .

وَّعَلَى	الثَّلٰثَةِ	الَّذِيْنَ	خُلِّفُوْا ؕ	حَتّٰٓى	اِذَا	ضَاقَتْ

اوتوبه ئې قبوله کړه د هغه درې کسانو چه روستو کړې شوې وه معامله د هغوئ تر دې پورې کله چه تنګه شوه

عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْٓا اَنْ لَّا مَلْجَاَ

پدوئ باندې ځمکه سره د اُرت والی نه اوتنګ شو په دوئ باندې زړونه ددوئ اویقین وکړو دوئ چه نشته دې ځائ د پناهئ

مِنَ	اللّٰهِ	اِلَّآ	اِلَيْهِ ؕ	ثُمَّ	تَابَ	عَلَيْهِمْ

دعذاب د الله تعالی نه مګرپه توبه او رجوع سره هغه ته ، بیا الله تعالی توفیق د توبې ورکړو دوئ ته

لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١١٨﴾

لپاره د دې چه دوئ توبه وباسی ، بیشکه الله تعالی توبه قبلونکې رحم کونکې دې

﴿وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ﴾ ، دا د درې کسان کعب ابن مالك، هلال ابن امیه او مراره ابن الربیع دی ، دوئ کامل مخلص مؤمنان وو او بغیر د عذر شرعی نه دغزوه تبوك نه پاتې شوی وو، او نبی ﷺ ته ئې د دروغو عذر هم نه وو پیش کړې ، او د هغه نورو اووه(۷) صحابؤ پشان ئې ذان ستنې پورې هم نه وو تړلې ، د دوئ د توبه تادیب دپاره پنځوس (۵۰) ورځې مؤخر کړې شوه ، د پنځوست ورځو نه بعد د دوئ توبه قبوله کړې شوه ، د ﴿خُلِّفُوْا﴾ معنی هم داده چې د دوئ توبه روستو کړې شوې ده ، او دا معنی ئې نه ده چه دوئ روستو کړې شوی وو د جهاد نه ، او دا معنی په بخاری کښ د کعب بن مالك نه نقل ده،حضرت کعب بن مالك ﷛ په خپله دا قصه بیانوی ، چه په بخاری کښ په تفصیل سره مذکور ده او اختصار ئې دادې چه : کعب ابن مالك ﷛ وائی چه غزوه تبوك چونکه په سخته ګرمئ کښ وه، مسافت هم بعید وو ، او ډیر لوئ دشمن سره مقابله وه ،نو د دې وجې نه نبی ﷺ مومنانو ته د تیاری حکم ورکړو ، صحابه کرام د سفر دسامان په تیاریٔ کښ مشغول شول ، مګر زه بې فکره وّم ، چه کله تلل غواړی نو فورا به تیار شم ، ځکه چه ماسره سامان د سفر هم موجود وو ، او سورلئ هم راسره دوه وې ، څه بې فکرئ کښ وّم چه نبی ﷺ دیرش زره مجاهدینو ته د روانیدو حکم اوکړو او روان شو نو مادا خیال اوکړو ،چه نبی ﷺ چه اول منزل ته رسی نو زه تیار به شم او لاړبه شم ، خو داسی اونه شو بیا مې داخیال اوکړو چه سبا به لاړشم ، خو د هغې هم توفیق ملاؤ نه شو ،

دغسي مانن سبا كول .چه خبر شوم چه نبى ﷺ تبوك ته اورسيدو ، نو نبى ﷺ خما تپوس اوكړو ، چه كعب ﷺ څه اوكړل ، چا عرض اوكړو چه هغه دعيش پسندئ په وجه نه دې راغلې . معاذ ابن جبل ﷺ اويل چه دا ډيره بده خبره ده په خدائ قسم چه په هغه كښ مونږ سوا د نيكئ او اخلاص نه بل څه نه دى ليدلى ، نبى ﷺ دا گفتگو واريدله او خاموش شو ،كعب ﷺ وائي چه د نبى ﷺ تبوك ته تلو نه بعد ماته ډير وحشت د دې خبرې وؤ ،چه په مدينه كښ به يا معذورين خلق وو. يا منافقين، د دې نه علاوه څوك نارينه په نظر نه راتلل ،كعب ﷺ وائى چه بيا خبر شوم چه نبى ﷺ د تبوك نه واپس كيدونكې دې ، نو ماسره غم اوفكر پيدا شو .او سوچ مې كولو چه په څه خبره به زه د نبى ﷺ د غصې نه بچ شم .او د دروغو بهانې مې جوړولې .او د خپلو نه مې رائى اخستلې ، او څه په خپله د دروغو بهانو جوړولو كښ او غلط او بې حقيقته څيز خائسته شكل او صورت ښكاره كولو كښ ډير ماهر وَم ، پس كله چه ماته اويلې شو چه نبى ﷺ تشريف راؤړواو مدينې ته په خير او عافيت سره را ورسيدلو ، نو خما د زړه نه هغه ټول د دروغو بهانې زائله شوې ، او يقين مې راغې چه په دروغو سره زه د نبى ﷺ د غصې نه نشم بچ كيدې او عزم مې اوكړو د صدق د نبى ﷺ په مخكښ، بيا هر كله چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم مسجد نبوى ته تشريف راؤړواو تحية المسجد ئى اوكړل او د اصحابو په مجمع كښ رونق افروز شو ، نو منافقان به راتلل او د دروغو عذرونه به ئى كول ، نو نبى ﷺ به د هغوئ ظاهر قبلولو او باطن به ئى ورله الله ته پريخودو .او كله چه زه حاضر شوم نو د تبسم په صورت كښ ئى راته د غصې اظهار اوكړو .او د نه تلو وجه ئې تپوس كړه چه ته ولې د جهاد نه پاتې شوې آيا تا سورلئ نه وه اخستې، نوما عرض اوكړو چه يارسول الله ﷺ كه زه نن د يو دنيا دار مخكښ ناست وې نو تاسو به ليدلى وؤ چه زه څرنگه دهغه د غصې او ناراضگئ نه ځان بچ كوم ځكه چه زه په چالاكئ او بهانه جوړولو كښ ډير ماهر يم ليكن په الله تعالى مې دې قسم وى چه خما علم دې چه كه زه نن تاسوته دروغ وه وايم او په ظاهر كښ تاسو راضى كړم نو قريبه ده چه الله تعالى تاسو په ريشتياؤ باندې مُطلِع كړى نو تاسو به خما نه ناراض شئ او كه زه في الحال ريشتيا اوايم ،نو لگ وخت دپاره به تاسو ناراضه شئ خو اميد دالله نه د بخښې لرم ، او ما ته به عفو اوكړى نو د دې انجام به ښه وى ، يارسول الله ﷺ واقعه داده چه ماسره د غير خاضرئ هيڅ وجه نشته ، بلكه ماسره په دې موقع دومره فراخى وه چه په بله موقع دجهاد كښ ماسره نه وه ، واقعې زه مجرم يم ستاسو اختيار دې ، چه خما په حق كښ څه فيصله كوئ نو هغه اوكړئ ، نو نبى ﷺ اوفرمائل چه دې سرى رشتيا اوئيل .او راته ئى

اوفرمائیل چه ته اوس لاړشه او د الله ﷺ د فیصلې انتظار کوه نو زه لاړم ، او د تحقیق نه دا معلومه شوه چه هلال ابن امیه ،او مراره ابن الربیع دا دواړه هم څما پشان د جهاد نه پاتې شوی دی ، او نبی ﷺ ته ئی رشتیا ویلی دی ، او هغوئ ته هم دغه جواب ورکړې شوې دې کوم چه ماته راکړې شوې دې ، زمونږ د دریواړو مطابق نبی ﷺ دا حکم اوکړو چه هیڅ څوك دَ دوئ سره خبرې مه کوئ، او ټول ورسره قطع کلامی وکړئ، نو هیڅا به زمونږ سره خبرې نه کولې، څما دواړه ملګری خو په خپلو کورونو کښې کیناستل اوپه ژړا ژړا به ئی وخت تیرؤو او زه څو چُست، چالاك او قوی ؤم ، نو جماعت ته به د مونځ د ادا کولو دپاره راتلم او په جمع کښې به مې شرکت کولو، او نبی ﷺ ته به مې سلام کولو، اوکتل به مې چه آیا نبی ﷺ خپلو شونډو مبارکو ته حرکت ورکوی اوکه نه؟ کله به چه ما نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته کتل نو هغوئ به مخ مبارك بل طرف ته اړولو ، اوچه زه به مونځ کښې مشغول وم نو ما ته به ئی نظر کولو ټول خپلوان یاران دوستان زمونږ نه بیګانه وو، په دې کښې د «غسانی» بادشاه یو خط ماته چا راؤړو چه په هغې کښې ئی څما د همدردئ نه بعد ماته دعوت راکړې وو،چه څما خواته راشه مونږ به ستا ډیر قدر او اکرام کوو، دا خط چه ما اوکتلو نو ما وه وئیل چه دا یوه بله فتنه او امتحان دې ، کورته لاړم او هغه خط مې په تنور کښې اوسیزلو ،څلویښت ورځو پورې دا حال وو بیا نوې حکم د نبی ﷺ د طرفه راغې چه د خپلو خزو نه جدا شئ ، نو ما خپله بی بی د پلار کره اولیږله چه زه هلته اوسیږه تر څو پورې چه الله بل حکم نه وی نازل کړې ، کعب ؓ وائی چه ماته ډیر غم او پریشانی د دې خبرې وه چه که دې وخت کښې ماته مرګ راشی نو هسی نه چه نبی ﷺ څما جنازه اونه کړی ، او که بالفرض نبی ﷺ وفات شی نو دا مسلمانان به ټول عمر ما سره دا سلوك کوی ، پنځوست ورځې په دې حالت کښې تیرې شوې، او په ما باندې دا څمکه تنګه شوه سره د فراخئ نه، او زندګی راته د مرګ نه زیاته سخته وه په پنځوستمه ورځ سحر چه ما مونځ اوکړو او حالت دغه وؤ چه الله په خپل کلام کښې بیان کړې دې ، چه ﴿ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ﴾ ، نو ناساپه د جبل سلع د طرف نه اواز راغې چه «یا کعب ابن مالك ابشر»، اې کعب ؓ تاته زیرې دې ، نو زه فوراً په سجده شوم ،د شکر د پاره، اود خپل بدن کپړې مې په زیری کښې ورکړې او بیا چه مسجد نبوی ته راغلم ، نو ټول خلق مبارکئ د پاره راتلل ،او په مهاجرینو کښې حضرت طلحه ؓ راپورته شو مصافحه ئی راسره اوکړه دا به زه هیچري هیر نه کړم ، او د نبی ﷺ حضور ته چه حاضر شوم ، نو دَحضور ﷺ چهره مبارکه دَ خوشحالئ نه دَ

سپوږمۍ پشان ږرق كوؤ ، وې فرمائل «ابشر بخير يوم »، الله ستاسو توبه قبوله كړه . ما عرض اوكړو چه د دې توبې قبليدلو تتمه او شكريه داده چه زه خپل ټول مال او جايداد د الله ﷻ په نوم صدقه كوم ، نو نبی ﷺ اوفرمايل چه داسې مه كوه څه حصه پريږده ، نو ما د خيبر د حصې نه علاوه ټول مال صدقه كړو ، حضرت كعب رضی الله عنه فرمائی چه ماته نجات په صدق باندې ملاؤ شو نو ما دا عهد اوكړو چه څومره امتحانات هم راشی نو زه به د رشتيا نه علاوه بل هيڅ نه وايم.

﴿ حَتّٰى ﴾ دا غايه د ﴿ خُلِّفُوْا ﴾ ده ،او ﴿ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ﴾ ، عطف دې په ضاقت باندې. يعنی توبه د دوئ مؤخره شوه تر دې پورې چه په دوئ زمكه تنګه شوه ، او تنګ شو زړونه د دوئ نو الله ﷻ د دوئ توبه قبوله كړه ، زمكه په دوئ د دې وجې تنګه شوې وه چه د خلقو ناسته پاسته او خبرې پرې بندې وې ، او زړونه ئی د غم او حزن د وجې نه تنګ وو . ﴿ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ ﴾ ،كښې ترقی ده دماقبل نه او زياته مبالغه ده يعنی غم او حزن په دوئ دومره غالب شو چه په بدن كښې ئی ساه نه ځائی كيده﴿ لَا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ ﴾(اى من سخط الله).﴿ اِلَّاۤ اِلَيْهِ ﴾ (اى الا باالتوبة اليه).

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ

اې ايمان والؤ ! يره كوئ د الله تعالى نه او شئ د ريشتنى خلقو سره . مناسب نده مدينې والؤ لپاره اوهغه چا لره

حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ

چه د دوئ چاپيره دى د باندې چيانو نه چه روستو پاتې شى د رسول الله نه اونه دې غوره كوى خپل ځانونه

عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

د نفس د رسول الله نه، دا په سبب د دې چه نه رسى دوئ ته تنده اونه ستړې والې اونه لوږه په لاره د الله تعالى كښې

وَلَا يَطَـُٔوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ

اونه ګرځى دوئ په يو لارې چه غصه كوى كافرانو لره اونه حاصلوى د دشمن نه څه شئ مګر ليكلى كيږى دوئ لره

بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

په سبب د دې سره ثواب د نيك عمل ، بيشكه الله تعالى نه ضائع كوى عمل د ښائسته عمل كونكو

وَلَا يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَّلَا كَبِيرَةً وَّلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ

اونه خرچ کوي دوئ څه خرچ لږ اونه ډير اونه سفر کوي دوئ په يو ميدان مګر ليکلې کيږي دوئ لره

لِيَجْزِيَهُمُ اللهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝

د دې لپاره چه بدله به ورکړي دوئ لره الله تعالى ډيره ښائسته دهغې عملونو چه دوئ به ني کوي

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ ،هغه درې کسانو صحابه ﷺ د صدق د وجې نه نجات اوموندلو او د هلاکت نه بچ شو ، نو دلته حکم کيږي د تقوىٰ چه په دې سره اصلاح انفرادي رازي ،اوحکم کيږي په صحبت د صادقينو نو په صحبت د صادقينو سره په سړي کښې د صادقينو صفات او اخلاق پيدا کيږي ،ځکه چه صحبت لره ډير اثر دې ، حتیٰ چه د حيواناتو په صحبت کښې هم اثر وي . د ګډو چيلو سره تواضع راځي ، د اوښانو ساتلو او صحبت سره سخت مزاجي او تکبر راځي . لکه دا په حديث کښې مذکور دی، د نوح ﷺ خوي د بدو خلقو د صحبت په وجه د ايمان نه محرومه شو ، او د اصحاب کهف سپې د نيکانو د صحبت په وجه قابل مدح شو ، **شعر** :

پسر نوح با بدان بنشست — خاندان نبوتش گم شد
سگ اصحاب کهف روز چند — پی نيکان گرفت مردم شد

ويلې شوي دي چه د اصحاب کهف سپې به د قيامت په ورځ د انسان په شکل شي او جنت ته به ځي ، (ع)

په مجلس د عالمانو به سره زر شي — که وي ګټه او يا لوټه د صحرا

او په صادقينو کښې ټول اصحاب که مهاجرين دي او که انصار داخل دي ،لکه د سورة صف د آيت نمبر ۸ نه معلوميږي . چه هجرت او نصرت دليل د صدق د ايمان دې . نو دا آيت دليل دې په دې چه صحابه معيار حق دی ،﴿ مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ ﴾ ،په دې آيت کښې ترغيب دې د جهاد او زجر دې په پاتې کيدو د جهاد نه ، په دې طريقې سره چه جهاد خو دومره افضل عمل دې چه نبی ﷺ په نفس نفيس سره جهاد کوی ، او په ځان تکليفونه تيروی ، نو تاسو ولې جهاد له نه ځئ ، او ولې ځان د جهاد د مشقتونو او تکليفونو نه بچ کوئ ، او بل دا چه په

جهاد كښې هر يو تكليف تيرول سبب دَ ثواب دى، ﴿ وَلَا يَرۡغَبُواْ بِأَنفُسِهِمۡ ﴾دا عطف دې په (ماكان) باندې او (لايرغبوا) صيغه د نهى ده، يا عطف دې په (يتخلفوا) باندې چه منصوب دې په (أن) سره او (لا) د تاكيد نفى لپاره معاد شوې دې، او مراد د نفى نه نهى ده او (يرغبوا) په معنې د غوره كولو او مينه كولو سره دې ، نو معنى په اول تقدير دا شوه چه نه دې غوره كوى خپل نفس د نبى ﷺ د نفس نه ، يا دا چه محبت دې نه كوى د خپل نفس سره زيات د محبت د نبى ﷺ د نفس نه ، او په دويم تقدير معنى دا چه مناسب نه ده چه غوره كړى خپل ځان يا محبت اوكړى د خپل ځان سره - الخ، د غوره كولو او د مينې كولو مطلب دادې چه خپل ځان د تكليفونو نه اوساتى حالانكه نبى ﷺ ئې برداشت كوى نو دا اوله وجه د ترغيب الى الجهاد او د زجر په پاتې كيدلو د جهاد نه شوه او دويمه وجه داده چه﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ﴾ (باء) سببيه ده او معنى داده چه په جهاد كښې هر تكليف موجب د ثواب دې ،﴿وَلَا يَطَـُٔونَ مَوۡطِئًا ﴾ (موطئا) ظرف مكان دې ، او (وطئا) په خپو باندې پيمال كولو ته وائي او مراد دا دې چه مجاهدين په ځمكه ګرځى او كافران ورته ګورى او غصه كيږى نو دا هم ثواب دې، اوپه ﴿يَغِيظُ ٱلۡكُفَّارَ ﴾ كښې مضاف مقدر دې ، (اى يغيظ وطئاه الكفار) ،﴿وَلَا يَنَالُونَ ﴾ نيل موندلواو حاصلولو ته وائى ، او مراد دادې چه كافران قتلوئ يا شكست وركوئ ، يا ترينه مال غنيمت اخلئ نو دا ټول ثواب دې . ﴿إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ﴾ ، مضاف مقدر دې (اي ثوابُ عمل صالح)، يا عمل صالح كنايه ده د ثواب نه او تنوين په كښې دپاره د تعظيم دې ، او په (كتب) كښې اشاره ده ، دې ته چه دوئ لازمامستحق دى د ثواب ، په مقتضٰى د وعدې د الله ﷻ سره ، او په الله ﷻ هيڅ وجوب نشته ، ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ ﴾ ، يعنى دالله ﷻ وعده مضبوطه وعده ده ، ﴿نَفَقَةً صَغِيرَةً ﴾ لكه يوه كوره چه چاته وركړى ، ﴿وَلَا كَبِيرَةً ﴾ ،لكه عثمان ﷺ چه ډيره زيانه چنده وركړې وه ،﴿وَادِيًا ﴾ ، مراد د دې نه سفر كول دى په نيت د جهاد سره، وادى په اصل كښې ((مسيل الماء بين الجبلين)) ته وئيلې شى، يعنى د دوو غرونو مينځ كښې چه كوم فراخ ځائ وى ، او چه سيلاب راشى په هغې كښې اُوبه بهيږى . نو هغه ميدان هم وى او كنده هم وى ، نو د وادى ترجمه په ميدان او كنده دواړه سره كيږي .

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ
اوندی مناسب مؤمنانو لره چه اُوځی ټول (په يو ځل جهاد يا د علم لپاره) پس ولې نه اُوځی دهرې ډلې د دوئ نه
طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ
څه کسان چه کامله پوهه حاصله کړی په دین کښ اوچه وه یروی دوئ قوم خپل کله چه هغوئ واپس شی دوئ ته
لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾
د دې لپاره چه هغوئ ځان بچ کړی د ګناه نه

﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً﴾ هر کله چه په ماقبل آياتونو کښ ترغيب ذکر شو جهاد ته او زجر ذکر شو په پاتې کيدو د جهاد نه ، نو دا توهم پيدا شو چه جهادبه هميشه فرض عين وی ، نو په دې آيت کښ د دې توهم دفع ده ، يعنی جهاد هميشه فرض عين نه دې . بلکه فرض کفائی دې، نو ټول دې جهاد له نه ځی ځکه چې په دې کښ د نورو مهماتو او ضروریاتو دينيو تعطل راځی ، او دارنګه دې ټول خلق د دين علم حاصلولو پسې نه ځی ځکه چې په دې کښ هم د نورو مهماتو د دين او دنيا تعطل راځی ، بلکه دوئ دې تقسيم د کارونو اوکړی ، او په دې آيت کښ دوه توجيه دی : اوله توجيه داده چه مراد د (لينفروا) نه وتل دی د پاره د جهاد لکه چه دا موافقه ده دما قبل سره ، نو په دې تقدير په ضمير د ﴿لِّيَتَفَقَّهُوْا﴾ . کښ دوه احتماله دی ، يو دا چه دا ضمير راجع شی دغه طائفې ته ، چه جهاد له تللې ده ، او دا په دې صورت کښ چه نبی ﷺ ورسره په خپله جهاد له تللې وو، نو دا طائفه به د نبی ﷺ نه د دين علم زده کړی ،او چه کوم خلق پاتې شوی دی نو هغوئ ته دې تعليم ورکړی . او بل احتمال دادې چه ضمير د (ليتفقهوا) راجع دې هغه ډلې ته چه پاتې شوې وی، نو په آيت کښ تقدير دې او هغه دادې ، (فلولا نفر من كل فرقة طائفة وبقيت طائفة) يعنی د لوئې فرقې نه دې ورو کې ډله جهاد ته لاړه شی او بله ډله دې پاتې شی چه علم حاصل کړی ، او بيا چه مجاهدين واپس راشی نو هغوئ ته دې تعليم اوکړی ، او دويمه توجيه داده چه د (لينفروا) نه مراد وتل دی دپاره د علم يا د بل دينی کار ، يعنی ټول خلق دې نه ځی تحصيل د علم پسې ، بلکه څه خلق دې لاړشی او څه دې بل دينی کار اوکړی يا دې څه معاش اوکړی چه معاش ته

ئې نقصان اونه رسی ﴿فَلَوْلَا نَفَرَ﴾ (لولا) د تحضيض دپاره راځی ، او چه په ماضی داخل شی نو فائده کوی د توبيخ د ترك د فعل . نو دلته هم زجر او توبيخ دې په ترك د وتلو ، او (فرقة) نه مراد لويه قبيله ده ، او د طائفې نه مراد وړوکې جماعت دې ﴿لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾ ، فقه هغه عميق او جور علم ته وائی چه احاطه ئی کړې وې ، په دقائقو او دلائلو د مسائلو باندې. او د دې وجې نه اصوليان وائی ، چه اطلاق د فقه په مجتهد کيږی ، او مقلد ته فقيه نه ويلې کيږی . اګر که اطلاق د فقيه په عرف کښې شائع دې ، په هغه چا چه علم د هغه حاوی وی په فروعو باندې مطلقا برابره خبره ده که په دليل سره وی او که بغيرد دليل نه وی ، نو معلومه شوه چه مطلوب په شرع کښې جور او عميق علم دې ، او د دې وجه نه دلته (ليتعلموا الدين) نه دې راغلې ، بلکه (ليتفقهوا) ذکر دې او بيا صيغه د باب تفعل ذکر ده ، د هغې يو خاصيت تکلف دې . په دې کښې اشاره ده چه دعلم دحصول دپاره صعوبتونه او مشقتونه برداشت کول دی . ځکه چه : شعر

بقدر الكد تكتسب المعالي ومن طلب العلى سهراليالي

﴿وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ﴾ د دينه مراد مطلق تبليغ د احکامو دې ، ليکن د انذار تخصيص ځکه اوشو چه دا اهم دې د دې نه معلومه شوه چه الله ﷻ ته مقبول هغه علم دې چه مقصود ترينه تبليغ او اشاعت د دين وی ، اوکه د بل څه مقصد دپاره چا علم حاصل کړلو نو هغه مردود دې . ﴿لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ يعنی هغه قوم چه عالم ورته تبليغ د احکامو اوکړی ، نو هغوئ دې پرې عمل اوکړی او خپل ځان دې د ګناه او نافرمانئ نه بچ کړی او نافرمانی دې نه کوی . ددې آيت نه دا معلومه شوه چه د متفقه عالم خبره منل د عوامو دپاره ضروری ده او نافرمانی کول ترې ناجائز دی ، او دې ته تقليد ويلې شی ، او د تقليد معنی دا نه ده چه دچا قول بې دليله منل ، بلکه معنی ئی داده چه د فقيه مجتهد قول منل بې د مطالبې د دليل نه، د دليل پيش کولو طاقت هرڅوك نه لری بلکه دا خاصه د مجتهد ده چه استنباط د حکم کوی د نصوصو نه او غيرمجتهد د دې قدرت نه لری نو د غير مجتهد دپاره د مجتهد اتباع پکار ده . په غير مقلدينو کښې چه کوم عوام دی، نو هغوئ د قرآن ، حديث په صحيح تلفظ او ترجمه باندې قدرت نه لرې، نو استنباط او اجتهاد خو ډيره لويه خبره ده ،او د غير مقلدينو ملايانو قول منی ، نو دا هم تقليد دې ، نو که کچرې تقليد ناجائز وی نو پکار ده چه دا غير مقلدين ملايان

دي دا خپل عوام د تقليد نه منع کړي . (الله الهادي الي سبيل الصراط) .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَٰتِلُوا۟ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا۟ فِيكُمْ
اې ايمان والو جنګ کوئ د هغې کسانو سره چه نزدې دی تاسو ته د کافرانو نه او ودې مومی هغوئ په تاسو کښ
غِلْظَةً ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ
سختی (کلکوالې) او پوهه شئ چه بیشکه الله تعالی ملګرې د متقیانو دې اوکله چه نازل شی یو سورت
فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنًا ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ
پس بعضې د دې خلقو هغه څوك دی چه وائی چه چا لره زیات کړو دې سورت ایمان . پس هرچه هغه کسان دی
ءَامَنُوا۟ فَزَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾
چه ایمان ئ راوړې دې پس زیات ئ کړو هغوئ لره ایمان اوهغوئ خوشحالیږی (په نزول د سورت)
وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا
اوهرچه هغه کسان دی چه په زړونو کښ ئ مرض د نفاق دې پس زیاتوی دا سورت هغوئ لره پلیتی
إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾
د هغوئ د پلیتئ سره او مره کیږی دوئ په داسې حال کښ چه کافر دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَٰتِلُوا۟ ٱلَّذِينَ﴾ د علم د تحصیل نه بعد د هغې انذار او تبلیغ دې . او بیا قتال دې، په دې آیت کښ د قتال طریقه او تعلیم ذکر کیږی . چه د قریب کفارو سره اول جهاد اوکړئ .او دا ترتیب طبعی دې ، او بیا دغه شان درجه په درجه د جهاد دائره وسیع کولې شی . دا په اقدامی جهاد کښ ، او په دفاعی جهاد کښ به اول دَ هغه کفارو سره جهاد کولې شی

چه په مسلمانانو حمله کوی.﴿وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ﴾ دا زجردې منافقینو ته چه کله یو.سورت یا حکم د جهاد نازل شی، نو دوئ په طور د مسخرې سره وائی چه په دې کښ څه فائده ده او د چا

ایمان زیات شو نو الله ﷻ فرمائي چه په دې سره د مسلمانانو ایمان زیاتیږی .﴿فَزَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا﴾ ایمان تصدیق دې ،او هغه بسیط دې ، زیادت او نقصان نه قبلوي، نو دلته د زیادت ایمان نه

مراد شدت قوت د ايمان دې ،او ايمان زيادت قبلوي په اعتبار د كيفيت سره ،او ديته شدن او قوت ويلې شي ،او په اعتبار د كميت سره زيادت نه قبلوي ځكه هغه په اعتبار د اجزاء سره وي. اوايمان تصديق بسيطه دې ،اجزاء ورله نشته دې يا مراد زيادت دې په اعتبار د مؤمن به سره ، ﴿يَسْتَبْشِرُونَ﴾ ،ايمان عظيم الشان دولت دې ،او د قرآني آياتونو نزول او دا رنگه تلاوت ئې د زيادت او د قوت او د ترقي سبب دې ، نو ددې وجې نه مؤمنان پرې خوشحاليږي . ﴿فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا﴾ ، د سورت د نزول نه مخكښې چه كومه حصه د قرآن نازله شوې وه ، نو منافقانو په هغې كفر اوكړو نو دا يوه گندگي شوه ،او چه دا سورت نازل شو نو بيا ئې كفر اوكړونو دا بله گندگي شوه ،﴿ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴾ يعني ځوك چه په نفاق اصرار كوي نو خاتمه به ئې په كفر شي، حاصل دا چه بيشكه قرآن د ايمان د ترقئ ذريعه ده ، ليكن چه په محل كښې قابليت وي نو هغه ترقي كوي او چه په محل كښې خباثت او گندگي وي نو هغه خباثت زياتيږي .

اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ
آيا دوئ دا فكر نكوي چه بيشكه په دوئ باندې امتحان راځي په هر كال كښې يو ځل يا دوه ځله، بيا هم دوئ توبه نكوي
وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ وَ اِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ ؕ
او نه دوئ نصيحت قبلوي . اوكله چه نازل كړې شي يو سورت نو گوري بعضې د دوئ نه بعضو ته (اشاره كوي يو بل ته په سترگو)
هَلْ يَرٰىكُمْ مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ
آياويني تاسو لره ځوك، بيا وگرځي دوئ ستاسو د مجلس نه، گرځوي الله تعالى زړونه د دوئ
بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿١٢٧﴾
په وجه د دې چه دوئ داسې قوم دې چه نه پوهيږي .

﴿ اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ ﴾ ،دا زجر دې منافقينو ته چه په دوئ باندې دنفاق په وجه هر كال ځو ځو وارې امتحان راځي ، د دوئ نفاق ظاهريږي او نور مصيبتونه پرې راځې خو بيا هم دوئ د خپل جرم نه توبه نه كوي ،او نصيحت نه حاصلوي ،﴿ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ ﴾ ،داهم

زجر دي منافقینو ته او د هغوئ د قبائحو بیان دې . چه دوئ کله د نبی ﷺ په مجلس کښې ناست وی نو دوئ ته د کلام الهی اوریدل ډیر ګران وی . خصوصا د هغه آیاتونو اوریدل چه په هغې کښې د منافقانو د غیوبو ذکر وی ، نو په دغه وخت کښې دوئ یو بل ته د سترګو په اشارو سره وائی چه ﴿هَلْ يَرٰىكُم مِّنْ اَحَدٍ﴾ نو دلته (یشیرون) مقدر دې ،یعنی دوئ د سترګو په اشارو سره د یوبل نه تپوس کوی چه صحابه کرام ﷺ مونږ ته ګوری او که نه؟ .لیکن صحابه کرام به د نبی ﷺ په مجلس کښې چپ چاپ ناست وو ، او سرونه به ئې داسې ټیټ کړي وو ، چه په یو روایت کښې راځی (کَانَّ علی رؤسهم الطیر) لکه د دوئ په سرونو مارغان ناست دی ، نو سرونه ئې بالکل نه خوزول ، نو دوئ به د سترګو په اشارو سره یوبل ته وه وئیل چه مونږ ته څوک نه ګوری نو دوئ به پاسیدل او د بابرکت مجلس د نبی ﷺ نه به محروم شول ﴿ثُمَّ انْصَرَفُوْا﴾ ددینه مخکښې دغه عبارت مقدر دې چه (لایراکم احد) ، ﴿صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ﴾ دا یا انشاء ده او دعا د شر ده یعنی خیرې دی منافقانو ته یا جمله خبریه ده ،چه الله ﷻ د دوئ زړونه اړولی دی د قبول د ایمان نه او د معرفت نه د دوئ د ډیر ضد او جهالت په وجه .

لَقَدْ	جَآءَكُمْ	رَسُوْلٌ	مِّنْ	اَنْفُسِكُمْ	عَزِيْزٌ	عَلَيْهِ	مَا	عَنِتُّمْ

په تحقیق سره راغلې دې تاسوته رسول [1] چه ستاسو د جنس نه دې، ګران دې په هغه باندې تکلیف ستاسو ،

حَرِيْصٌ	عَلَيْكُمْ	بِالْمُؤْمِنِيْنَ	رَءُوْفٌ	رَّحِيْمٌ	۝

حرص کونکې دې ستاسو په ایمان راوړلو، خاص په مؤمنانو باندې ډیر مینه کونکې رحم کونکې دې.

فَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَقُلْ	حَسْبِيَ	اللّٰهُ	ۗ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	ط

پس که دوئ مخ واړولو [2] ، پس وه وایه کافی دې ما لره الله تعالی، نیشته هیڅوک لائق د عبادت سوی د هغه نه

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ۝

په هغه ما ځان سپارلې دې اوهغه مالك د عرش لوئ دې .

۱ - ترغیب اتباع د رسول صلی الله علیه وسلم ته .
۲ - په آخر کښې مسئله دتوحید .

﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ﴾ .دا په آخر ده سورت كښ بيان د صداقت د نبى ﷺ دې او ترغيب دې اتباع ته . دلته د نبى ﷺ په صفاتو كښ اول صفت د رسول دې ،دې كښ اشاره ده دې ته چه دې د خپل ځان نه خبرې نه جوړوى ، بلكه دَ ده ﷺ هر كلام وحى وى ،وحى د الله ﷻ د طرفه ده (وماينطق عن الهوى) نو ځكه ئ اتباع پكار ده،او دويم صفت ئى ﴿مِّنْ أَنفُسِكُمْ﴾ دې يعنى ستاسو د جنس نه بشر دې او عربو د هرې قبيلې سره ئې د قرابت تعلق شته دې ،او د دوئ ﷺ د حسب او نسب نه پوره پوره واقف يئ نو په (من انفسكم) كښ اشاره ده شرافت د نسب ته او علم حاصلول په اسانتيا سره د دوئ ﷺ نه . ځكه چه د خلاف الجنس نه استفاده ګرانه وى ،او د همجنس نه آسانه وى . ﴿عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ﴾ ،ګران دې په ده ستاسو تكليف. په احكاماتو او اعمالو كښ ستاسو دَپاره اسانتيا خوخوي ﴿حَرِيصٌ عَلَيْكُم﴾ حريص دې ستاسو په نفع او ستاسو په ايمان او هدايت . ﴿بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ﴾ په مومنانو دير شفقت كونكې دې .﴿رَّحِيمٌ﴾ رحمت كونكې دې ،د رافت او رحمت په مينځ كښ دا فرق دې چه په رؤف كښ مبالغه زياته ده د رحيم نه ،او (ابلغ) مخكښ ذكر شو د پاره د رعايت د فواصلو . ﴿فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ﴾ .دا په آخر كښ مسئله د توحيد بيانوى په څو وجوهاتو سره (١) ﴿حَسْبِيَ اللَّهُ﴾ (٢) ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ (٣) ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ (٤) ﴿وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾

فائده : په ابوداؤد كښ د حضرت ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دې چه څوك ، صبا ، ماښام اوه اوه (٧) كرته دا ولى (حسبى الله) د آخر پورې . نو الله ﷻ به د ده دتمامو همونو او غمونو دپاره كافى شى

(تم سورة التوبة بفضل الله وكرمه)

٢٣ ذى الحجه ، سنه ١٤٢٩ هـ ، ٢٢ دسمبر ٢٠٠٨ ع

ركوعاتها (۱۱)	سورة يونس مكية	آياتها (۱۰۹)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډېر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۱۰) وحسب النزول (۵۱)

دترتيب قرآني په لحاظ سره لسم سورت دې اود ترتيب نزولي په لحاظ سره يو پنځوستم دې ، زمانه د نزول يې د مکې معظمې دور اخير دې ، (نزلت بعد بني اسرائيل وقبل الهود) .

ربط : د سورة بقرې د مضامينو اعاده ده، نفي د شفاعت قهري، په ما قبل سورة کښې د سورت بقرې دمضامينو نه د مضمون جهاد تفصيل اوشو ،او د توحيد تمام پهلوګانې. په ما قبل سورتونو کښې لکه آل عمران ،مائده ،انعام ، کښې ذکر شوې وې ليکن يوه پهلو چه نفي د شرك فى الشفاعت ده پاتې وه چه د دې تفصيل نه ووشوې نو دلته د دې مسئلې تفصيل کيږي ، او د سورة يونس نه تر سورة کهف دا مضمون بيانيږي .

خلاصه د مضامينو ده سورة : په ابتدا کښې يو آيت تمهيد دې او بيا زجر دې ،اوبيا دعوى د سورة درې ځلې بيانيږي اول اجمالا ،﴿ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ﴾ ،آيت (۳) ، دويم واري ضمنا، ﴿ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ﴾ ،آيت نمبر ۱۸ ،دريم واري تفصيلا ، ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى شَكٍّ مِّن دِينِى ﴾ ،آيت نمبر ۱۰۴ ، د دې دعوې دپاره يوولس دليلونه ذکر شوى دى ، يو دليل د وحى او لس عقلى، په دې لسو کښې يو دليل د نفى د شرك فى العلم د پاره دې ،آيت ۴۱ ، اويو دليل د نفى د شرك فعلى دپاره دې ،آيت نمبر(۶۰).او باقى اته دلائل د نفى د تصرف دپاره دى ،اول دليل عقلى ،﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى - الايه : ۳ ﴾، دويم دليل عقلى ﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ - الايه : ۵ ﴾ ،دريم دليل عقلى عقلى ﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ - الايه : ۱۸ ﴾ ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ الايه : ۱۲ ﴾ ، پنځم دليل عقلى (علي سبيل الاعتراف من الخصم) ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم الايه : ۳۱ ﴾ شپږم دليل عقلى ﴿ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ - الايه : ۵۵ ﴾ ،اووم دليل عقلى ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ - الايه : ۵۹ ﴾، اتم دليل

عقلى ﴿ وَمَا تَكُونُ فِي شَأۡنٍ - الايه : ٦١ ﴾ نهم دليل عقلى ﴿ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ - الايه : ٦٦ ﴾ لسم دليل عقلى ﴿ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ - الايه : ٦١ ﴾ .د دلائلو په درميان كښې دلائلو ثمره، زجرونه تخويفونه،هم مذكور دى ، ددلايلو عقليونه بعد قصه د نوح ﷺ او دموسى او هرون ﷺ د تخويف دنيوي د نموني د پاره ذكر كيږي او په آخر كښې يولسم دليل وحى ذكر كيږي .

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ① أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ
(الر) دا آياتونه [1] دى د داسې كتاب چه حكمتونو والا دې . آيا دې خلقو لره [2] تعجب دې په دې خبره چه
أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنۡهُمۡ أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ
وحى كړيده موږ يو سړى ته د دوئ نه چه ته وه ويره وه [3] خلق (نه منونكى)، او زيرې وركړه [4] ايمان والو ته
أَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ عِندَ رَبِّهِمۡۗ قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ مُّبِينٌ ②
چه بيشكه ده دوئ لپاره مرتبه أوچته ده په نيز د رب د دوئ ، وائى كافران چه بيشكه دا خوجادوگر ښكاره دې

﴿ الٓرۚ تِلۡكَ ﴾ تلك اشاره ده آياتونو د قرآن ته يا دې سورت ته ،او ﴿ ٱلۡحَكِيمِ ﴾ په معنى د ذى حكمت (حكمتونو والا) سره دې ،او دېته اسم فاعل نسبتى يا اسم فاعل ذى كذا ويلې شى ، لكه لابن، لبن والا ، يا (حكيم) په معنى د مفعول يعنى محكم سره دې چه منسوخ نه دې په بل كتاب سره ، يا دا صفت بحال متعلقه دې ،(اي حكيم منـــزله) يعنى دا كتاب د حكيم ذات د طرفه دې ،حضرت شيخ به فرمائل چه كله توصيف د كتاب په حكيم سره اوشى نو هلته زيات زور ددلائل عقليو وى ، دلائل نقليه نه وى يا ډير كم وى او چرته چه توصيف د كتاب په (مبين) سره وشى نو هلته زيات زور د دلائل نقليو وى او دلائل عقليه يا نوى يا ډير كم وى لكه په

---
١ - تمهيد مع ترغيب الى القرآن.
٢ - زجر
٣ - تخويف
٤ - بشارت

سورة شعراء کښې توصیف د کتاب په (مبین) سره شوې دې، نو صرف یو عقلی دلیل په کښې دې نور تمام دلائل نقلیه دی دغه شان په سورت حم زخرف کښې او په صورت لقمان کښې توصیف د کتاب په (حکیم) سره راغلې دې نو هلته دلیل نقلی صرف یودې باقی دلائل عقلیه دی نو دلته هم په ذکر د حکیم کښې دلائل عقلیو ته اشاره ده ، نقلی دلائل نشته دې او قصه د نوح ﷺ او د موسی ﷺ لپاره د بیان د نمونې د تخویف دنیوی ده .

﴿ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا ﴾ ،همزه د استفهام تعجبی دپاره راغی په معنی د نفی سره یعنی دا خبره څه د تعجب خبره نه ده چه مونږ وحی اوکړه یو رجل ته د دوئ دَ جنس نه لکه مشرکان چه دا تعجب کوی ، ﴿عَجَبًا﴾ خبر دَ (کان) دې ،او ﴿لِلنَّاسِ﴾ ئی د متعلقاتو نه دې او اسم د کان ﴿أَنْ أَوْحَيْنَا﴾ دې په تاویل ده مفرد سره (ای ايحائنا الي رجل) ،او خبر د کان یا د دې وجې نه مقدم شوې دې چه تنبیه راشی په دې چه مقصود په استفهام تعجبی سره نفی د تعجب ده د نفی دَ ایحاء نه او بل د دې وجې نه چه اسم د کان د متعلقاتو او معطوفاتو په وجه سره طویل شو ،نو د دې وجه نه مؤخرشو ، ﴿أَنْ أَنْذِرِ النَّاسَ﴾ دا بیان د (ما یوحٰی) دې او انذار اخبار ته وائی ، سره د یرولو نه په شفقت سره ، د دې وجه نه پیغمبر ﷺ په صفاتو کښې منذر او نذیر راغی او مخوف نه راغی ، ﴿قَدَمَ صِدْقٍ﴾ دا اضافت د موصوف دې صفت ته، په اصل کښې (قدمٌ صدقٌ) په تنوین سره وو په معنی د صادق ، حضرت مجاهد رحمه الله د(قدم صدق) ترجمه کوی په اعمال صالحه ،حسنه سره یعنی ثواب د اعمالو حسنؤ سره ، قدم چونکه آله او ذریعه ده دپاره د اعمالو نو په طریقه د مجاز مرسل سره ترینه اعمال اراده کړې شو،او صدق په معنی دحسن سره راغی، اوحضرت عطاء رحمه الله ئی ترجمه کوی په (المــنــزلة الرفیعه) سره ، یعنی لویه مرتبه، قدم سبب دې دپاره دَسبقیت د مراتبو عالیو ته ، نو دا مجاز مرسل شو او صدق په معنی دَ الرفیعة، سره دې .

﴿قَالَ الْكَافِرُونَ﴾ دا شکوه ده ، ﴿هَذَا﴾ اشاره ده رسول ﷺ ته، مشرکین مکه ؤ چه کله د نبی ﷺ نه امر خارق للعادة (معجزه) اولیدله او د نبی ﷺ نه به ئی قرآن واوریدلو نو ویل به ئی چه دا جادوګر دې ، حال دا چه دوئ پوهیدل چه جادوګر نه دې ، دا ددروغو الزام د دوئ د عجز ښکاره دلیل وؤ ، چه کله څوك د خپل مد مقابل د کلام معقول جواب نه شی ورکولې نو بیا د دروغو الزامات لګول شروع کړی ، نو مشرکینو به هم داسې ویل ،چه مونږ د دوئ ﷺ

مقابله څکه نشو کولې چه دا ساحر دې .

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ

بیشکه رب ستاسو الله تعالی دې [۱] هغه ذات چه پیدا کړی ئ دی آسمانونه او زمکه په مقدار د شپږو ورځو کښ

ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۖ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِن بَعْدِ إِذْنِهِ ۚ

بیا ئی استوی کړیده په عرش، تدبیر کوی د ټولو کارونو، نشته دې هیڅ شفاعت کونکې [۲] مگر پس د اجازت دهغه نه.

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ۝٣

دا صفتونو والا الله رب ستاسې دې نو صرف دهغه عبادت کوئ، آیا پس تاسې نصحیت نه قبلوئ

إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ إِنَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ

خاص هغه ته ګرځیدل ستاسې د ټولو دی، وعده کړیده الله تعالی وعده حقه، بیشکه هغه اول پیدا کوی مخلوق

ثُمَّ يُعِيدُهُ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

بیا به ئی دوباره پیدا کوی. د دې لپاره چه بدله ورکړی هغه کسانو ته چه ایمان ئ راوړې دې او عملونه ئ کړیدی نیک

بِالْقِسْطِ ۚ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ

په انصاف سره اوهغه کسان چه کفر ئ کړیدې دوئ لره سکل دی د یشیدلو اُوبو نه او عذاب دردناك دې

بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ۝٤

په سبب د دې چه دوئ کفر کولو.

﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ ﴾ ، دا اول دلیل عقلي دې ، د توحید دپاره او د مشرکینو د تعجب ازاله ده چه تعجب مه کوئ ،چه دا رسول هم بشر او هم رسول څرنګه کیدې شی ، بلکه په غور سره دا خبره واورئ ، دوئ ﷺ چه څه وائی دا دعقل او فطرت سره عین برابر دی ، رب په معنی د مَالِكُ

---

۱ - دلیل عقلی په توحید.

۲ - دعوی د سورت

أُمُوْرِكُمْ . سره دې يعنی ستاسو کار ساز او حاجت روا صرف يو الله دې چه هغه زمکه اسمان پيدا کړی دی ، او د دې نظام په خپله چلوی . چاته ئی هيڅ حاجت نشته .د ﴿سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ نه مراد مقدار دشپږ ورځو دې ، ځکه خود شپه او ورځ د اسمان او زمکې د پيدا کيدو نه مخکښې نه وو موجود ، ﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ﴾ ، دا کنايه ده دَ حکومت او سلطنت نه (يقال استوي فلان علي سرير الملك ويراد منه ملك وان لم يقعد علي السرير اصلا)، (روح المعاني) او (ثُمَّ) د پاره د تراخی ذکر دې . مطلب دادې چه الله ﷻ د زمکې او اسمانونو خالق هم دې خو متصرف هم دې ، او د زمکې آسمان تصرف ئی هيچا ته نه دې حواله کړې .

فائده : لکه څرنګه چه مخکښې ذکر شوی دی چه ﴿اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ﴾ د متشابهاتو نه دې او په دې کښې دوه قوله دی . يو د متقدمينو او بل د متاخرينو اهل سنت والجماعت . د متقدمينو اهل سنت مذهب دادې چه د دې صفاتو (استواء على العرش، ساق، يَد وغيره) نه ظاهری معنی نده مراد يعنی اعضاء، اجزا، نه دی مراد بلکه مراد ترينه يو صفت د الله ﷻ دې ، چه مونږته په قطعی طريقې سره نه دې معلوم او د دې وجه نه به تفويض د علم د دې کيدې شی الله ﷻ ته لکه حافظ ابن حجر په فتح الباري کښې په صـــــ۳۰۶،۳۰۷، جـ۱۳ .کښې د امام مالك مشهوره مقوله نقل کوی ، او وائی چه (اخرج البيهقي بسند جيد عن عبدالله بن وهب قال كنا عند مالك فدخل رجل فقال يا اباعبدالله (الرحمن على العرش استوي) كيف استوى فاطرق مالك فاخذته الرحضاء ثم رفع رأسه فقال : (الرحمن على العرش استوى)، كما وصف به نفسه ولايقال كيف وكيف عنه مرفوع وما اراك الا صاحب بدعة) يعنی د امام مالك نه چا تپوس اوکړود .(الرحمن على العرش استوي) په باره کښې نو دوئ سکوت اوکړو د تفسير اوتفصيل نه . او صرف کما وصف به نفسه ئی اووئيل او کيفيت چه د اجسامو صفت دې هغه ئی نفي کړو او دغه شان د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه روايت دې چه کله د دوئ نه په دې باره کښې تپوس وُکړې شو نو دوئ اوفرمائل : (نؤمن بها ونصدق بها بلا كيف ولامعنى) ، (كتاب الاسماء والصفات ص ۴۰۸) دا واضح دليل دې چه دا امام احمد په نزد دَ دينه ظاهری معنی نه ده مراد . او حافظ ابن حجر . په صفاتو کښې يو مذهب داسې نقل کوی ،(الثالث امرارها على ما جاءت مفوضا معناها الى الله ،فتح الباري ، ج۱۳، ص۳۹۰) امام ترمذی رحمه الله په حديث دَ نزول الرب تبارك وتعالى کښې وائی .

(نومن بها ولايقال كيف وهذا الذي اختاره اهل الحديث ان ترى هذه الاشياكما جاءت ويؤمن بها ولاتفسر ولاتتوهم ولايقال كيف) امام ترمذی رحمه الله تصريح اوکړه ،چه ظاهری معنی نه ده مراد او دې ته ئي مذهب د سفيان ثوری او د سفيان بن عيينه ، مالك بن انس ، ابن مبارك، وکيع ، وغيره ويلې دې.

او متاخرين (چه د هغوئ دور بنا په راجح قول ده سـ ٣٠٠ هجری نه بعد شروع کيږي) د داسې احاديثو تاويل کوي ، دپاره د دفع د هغه فتنو چه په زمانه د متقدمينو سلف کښې نه وې ، لکه مشبهة ، مجسمه ، او دا تاويل کول بدعت يا خروج نه دي د مذهب دَ اهل سنت او دَ مذهب د سلفُ نه ،ځکه چه تاويل په خير القرون کښې ثابت دې ،او د صحابؤ نه ثابت دې لکه ابن عباس ﷺ د ساق تاويل کوی په شدت سره ، (کما في البخاري ،صـــ٧٣٨جـــ٢)او دغه شان حضرت قتاده ﷺ نه مروی ده ، اودغه شان د ابن عباس ﷺ نه تفسير د (والسماء بنيناها بايد) په قوت سره مروی دې ،دغه شان په بيهقی په الاسماء والصفات صـ٤٧ کښې، د امام بخاري رحمه الله نه په روايت د فربری رحمه الله سره نقل کړی دی ، چه په حديث کښې د (ضحك) نه مراد رحمت دې ، د دې نه علاوه د سلفو اقوال پدې باره کښې ډير شته دې ، ﴿يُدَبِّرُ الْأَمْرَ﴾ يعنی د ټولو کارونو انتظام په خپله کوی ، هيچا ته ئی هيڅ کار نه دې حواله کړې ، نو دا جمله تفسير دې د ،(استوي علي العرش) دپاره، ﴿مَا مِن شَفِيعٍ﴾، دا ذکر د دعوې دې او دمشرکينو د عقيدې رد دې چه دوئ ويل : مونږ د خپلو معبودانو ، او بزرگانو عبادت ددې دپاره کوؤ، چه مونږ الله ﷻ ته قريب کړی ، او د هغه د عذاب نه به مو بچ کړی ، ﴿ذَٰلِكُمُ اللَّهُ﴾ ، دا ددليل مذکور ثمره ده ﴿إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ﴾ دا تمهيد دې مابعد ته او تخويف دې ، چه د الله ﷻ درگاه ته د ټولو حاضری ده ، ﴿لِيَجْزِيَ الَّذِينَ﴾ دا بشارت دې او لام للعاقبت دې او دا متعلق دې د (مرجعکم) سره يا دا (يُعيده) سره، ﴿بِالْقِسْطِ﴾ ،متعلق دې د (يجزی) سره ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دا تخويف دې.

هُوَ	الَّذِي	جَعَلَ	الشَّمْسَ	ضِيَاءً	وَالْقَمَرَ نُورًا	وَقَدَّرَهُ

الله تعالی هغه ذات دې چه گرځولې ئ دې نمر پرقيدونکې او سپوږمۍ روښانه او مقرر کړی ئ دی

مَنَازِلَ	لِتَعۡلَمُوۡا	عَدَدَ	السِّنِيۡنَ	وَالۡحِسَابَ ؕ

لپاره د رفتار د هر يو منزلونه، لپاره د دې چه معلوكړئ تاسو شمار د كلونو او حساب د مياشتو. او ورځو.

مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالۡحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الۡاٰيٰتِ لِقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ ۝۵

ندی پيدا كړی الله تعالى دا څيزونه مګر دحق د ظاهرولو لپاره، په تفصيل سره بيانوی دليلونه هغې قوم ته چه پوهيږی

اِنَّ فِي اخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

بيشكه په تلوار تلو تلو د شپې او ورځې كښې او په هغه څيزونو كښې چه پيدا كړيدی الله تعالى په آسمانونو او زمكه كښې

لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّتَّقُوۡنَ ۝۶

خامخا ډير دليلونه دی هغې قوم لره چه يريږی د الله تعالى نه.

﴿ هُوَ الَّذِىۡ جَعَلَ الشَّمۡسَ ضِيَآءً ﴾ ،دا دويم دليل عقلی دې ، ضياء بمعنى ذاتُ ضياء ،او (نُورًا) په معنى دَ (ذَا نُورٍ) سره دې، بعض وائی چه ضياء او نور كښې فرق نشته دې ،او بعض مفسرين د فرق قائل دی چه ضياء هغه رنړا ته وائی چه كامله وی، چمك او پړق په كښې وی او نو رنفس رنړا ته وائی ،او بعض وائی چه ضياء هغه رنړا وی چه اصلی وی او د بل څه نه نوی حاصله شوې او نور هغه رنړا ده چه د بل څيز نه حاصله وی. او د شمس رنړا په عالم اسباب كښې د بل څيز نه نده حاصله او د قمر رنړا د شمس نه حاصله ده ، لكه . منطقيان وائی چه (نور القمر مستفاد من نورالشمس) مثال د حدسياتو دې چه عبارت دې د تصديق نه په ثبوت د محمول د پاره دموضوع په مشاهدې د حال د موضوع سره څكه مونږ كله چه مشاهده اوكړو چه نور د قمر (دَ سپوږمئ رنړا) كله زياتيږي او كله كميږي نو معلومه شوه چه رنړا دقمر خپله نه ده بلكه مستفاد ده د شمس نه ، په محاذات او مخامخ كيدلو سره چه محاذات ئې ورسره لږ راشی نو نوركم وی اوچه ډير راشی نو نور ډير وی ، ليكن دا فرق د ضياء او نور په مينځ كښې ثابت نه دې ، د لغت نه ، او اختلاف د نور القمر كيدې شی چه د بل څه وجه نه وی ، لكه مثلاً قمر دې كروی شكل وی او نيمه حصه دې ئ مضئ وی ،اوبله نيمه حصه ئې مضی نه وی نو دا چه ګول حركت كوی، نو كله دې هلال وی او كله دې بدر ، او كله دې نه ښكاريږي ، والله اعلم

﴿وَقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ﴾ دلته مضاف مقدر دې (ای قدرمسيره) يعنی اندازه كړيدې الله ﷻ رفتار

د قمرپه منزلونو کښې او منازل دَ منزل جمع ده، د شمس اودقمر دطلوع او د غروب ځایونه ته
ویلې شي (لکه د ریل ګاډی سټیشن) او دا منزلونه اته ویشت دی ، نومونه ئې دادي
(سرطان ، بطین ، الثریا ،الدبران ، الهقعه، العنهة ، الذراع .النثره، الطرف ، الجبهة ،الزبره
الصرفه ، العوّا ، السمّاك ،الغفر ،الزبانی ،الاکلیل، القلب ،الشولة ،النعائم،البلدة،سعد
الذابح ، سعد بلع ،سعد السعود ،سعد الاخبیه ، فرع الدلول المقدم ، فرع الدلول المؤخر .
بطن الحوت) او دا منازل تقسیم دی ، په دولس بروجو ، برج دَ (حمل ، ثور ، جوزا ، سرطان .
اسد ، سنبله ، میزان ، عقرب ،قوس ، جدی ، دلو ،حوت) نو د هر برج دپاره دوه نیم منزله دی
نو سپوږمئ په هر منزل کښې یوه شپه کوی ، او بیا دوه شپې پټه وی که چرې میاشت د پوره
دیرش ورځو وی ، یا یوه شپه پټه وي کچر ي میاشت دیو کم دیرش ورځو وي ،نو قمر خپله
دوره په میاشت کښې پوره کوی ،شمس په هر منزل کښې دیارلس ورځې وی ﴿عَدَدَ ٱلسِّنِينَ﴾ .
یعنی وخت د شروع کیدو او ختمیدو د کالونو ﴿وَٱلۡحِسَابَ﴾ دا عطف دې په (عَدَدَ) باندې.
(ای لتعلموا الحساب) مراد حساب د میاشتو اودَ ورځو دې ،﴿إِلَّا بِٱلۡحَقِّ﴾ ، یعنی داد کائناتو
نظام عبث نه دې ، بلکه دپاره د اظهار د قدرت د الله ﷻ او د دلائلو د وحدانیت د الله ﷻ دې
﴿إِنَّ فِي ٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ﴾ ، دا دریم دلیل عقلی دې په توحید باندې ، او مراد :
اختلاف د لیل او نهار نه دادې چه کمیږی او زیاتیږی او دا رنګه تیاره او رڼا ، او په یوبل
پسې راتلل چه په مینځ کښې هیڅ وقفه نشته دې، مراد ددې ﴿لَأٓيَٰتٖ﴾ مراد دَ دینه دلایل:
توحید دی او د ﴿لِّقَوۡمٖ يَتَّقُونَ﴾ نه مراد اهل ایمان دی ځکه چه خوك په کفر او شرك باندې
کلك وی نو هغه په دلائلو د توحید د باری تعالی او په قدرت دالله ﷻ کښې فکر نه کوی .

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا
بیشکه هغه خلق چه عقیده نه لری د ملاقات زمونږ، او رضا شویدی په ژوند د دنیا او په دُنیا مطمئن شوی دی
وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ۝ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ۝
اوهغه کسان چه دوئ زمونږ د آیاتونونه بی پرواه دی. دغه کسان ځائ د دوئ اُور دې په وجه د هغه عملونو چه دوئ ئې کوی

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَانِهِمْ
بېشکه هغه کسان چه ایمان ئې راوړې دې او عملونه کوي نېك، ؤبه رسوي دوئ لره جنت ته رب د دوئ په سبب د ایمان د دوئ
تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٩﴾ دَعْوَاهُمْ فِيهَا
چه بهیږي به لاندې د بنګلو د دوئ نه ولې، اوسی به دوئ په جنتونو د نعمتونو کښې بلنه د دوئ به په دې جنتونو کښې
سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ
«داوي» چه پاکي ده تا لره یا الله، او ملاقات دَ دوئ به په جنت کښې سلام وي او آخري بلنه به د دوئ دا وي چه
الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠﴾
ټول صفتونه د اُلوهیة د یو الله لپاره دي چه رب د عالمینو دي.

﴿إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ﴾ دا تخویف اخروی دې (لايرجون) په معنی د (لايخافون) هم راځی او په معنی د طمع او اعتقاد سره هم راځی ، دلته دواړه اراده کیدې شی ، یعنی کوم خلق چه د قیامت او بعث بعد الموت عقیده نه لری او راضی شوی وی په ژوند د دنیا باندې په مقابله د آخرت کښې نو هغوئ عمل فقط د دنیا دپاره کوی ، نو په ﴿وَرَضُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ ، کښې اشاره ده چه د قیامت عقیده او امید نه لری ، او په ، ﴿وَاطْمَأَنُّوا﴾ کښې اشاره ده چه خوف نه لری د ﴿وَاطْمَأَنُّوا﴾ معنی داده چه په دنیاکښې داسې منهمك شوی وی چه د الله ﷻ حضور ته د تللو نه هیڅ خبرنه وی ، غم اوفکر ئې صرف د دنیا وی ، او د آیاتونو نه غافل وی یعنی بالکل بې پروا وی ، اعراض کوی، نو د دغه شان خلقو ځائ د استوګنی اور د جهنم دې ، (اعاذنا الله منها) او دا د دوئ د هغه عملونو سزا ده چه دوئ په خپل دل او دماغ ، لاسونو خپو ، سره کول ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ دا بشارت دې ﴿يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم﴾ دلته **سوال** واریدیږی چه هر کله دوئ ایمان راوړو او اعمال صالحه ئې اوکړل ، نو دوئ ته هدایت وشو نو بیا د (یهدیهم ربهم) څه مطلب دې ، **جواب** (۱) : مراد په ایمان باندې استقامت دې ، لکه مدارك لیکلی دي (یسددهم بسبب ایمانهم للاستقامةعلي سلوك الطريق السديد) ، (۲) یا دا مراد دې چه دوئ ته به د ایمان په وجه په آخرت کښې د جنت لارې اوخایی ، او جنت ته به ئې داخل کړی (قال المجاهد يهديهم علي الصراط الى لجنة) ، (خازن) ﴿دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ﴾.

(۱) بعض حضراتو د دې تشريح داسې کړې ده ، چه جنتيان هرکله جنت ته لاړشي او عجائبات اووينې نو داسې به اوائي چه (سبحانك اللهم)لکه په دنيا کښې چه څوك عجائبات اووينې نو سبحان الله وائي ، او بيا چه د يو بل سره ئې ملاقات اوشي نو يو بل ته به تحفه دَ سلام پيش کړي ، بلکه الله ﷻ به ورته سلام وائي ، (سلام قولا من رب الرحيم) ،او فرشتې به ورته سلام کوي (والملئكة يدخلون عليهم من كل باب سلم عليكم بما صبرتم) او بيا چه کله په خپل مينځ کښې مجلس شروع کړي او د دنيا د مصيبتونو او تکليفونو موازنه اوکړي د جنت دَ دائمي خوشحالئ او انعاماتو سره نو وبه وائي (الحمد لله رب العالمين) . دَ ﴿وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ﴾ مطلب دا نه دې چه د دې نه روستو به نورې خبرې نه کوي بلکه مراد داچه په دغه وقت کښې به د مجلس په آخر کښې الحمدلله وائي، (۲) او بعض حضراتو داسې تشريح کړيده چه د جنتيانو په زړه کښې چه کله د څه څيز دخوړلو ، سکلو خواهش او شوق پيداشي ، نو دوئ به (سبحانك اللهم) اووائي، نو هغه به ورته حاضر شي ، او اهل مجلس به يو بل ته تحفه دَ سلام اوکړي او دالله ﷻ او ملائکو د طرف نه به هم دوئ ته سلام راشي ، نو په هر قسم جسماني او روحاني غذا باندې ئ چه خواهش پوره شي نو (الحمدلله رب العالمين) به اوائي نو مجلس به برخاست شي ،(۳) او بعض حضرات وائي چه هر وخت کلام د دوئ به شروع کيږي په ﴿سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ﴾ سره او ختميږي به په ﴿أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ سره.

وَلَوۡ	يُعَجِّلُ	ٱللَّهُ	لِلنَّاسِ	ٱلشَّرَّ	ٱسۡتِعۡجَالَهُم	بِٱلۡخَيۡرِ
اوکه زر رسولې الله تعالى خلقو ته تکليف (د دوئ د غوښتلو په وجه) په شان د زر غوښتلو د دوئ خير لره (چه هغه زر قبلوي)						
لَقُضِيَ	إِلَيۡهِمۡ	أَجَلُهُمۡ	فَنَذَرُ	ٱلَّذِينَ	لَا يَرۡجُونَ	لِقَآءَنَا
خامخا پوره شوې به وې د دوئ سره نيته د دوئ، پس پريږدو مونږ هغه کسان چه عقيده نه لري دملاقات زمونږ						
فِي	طُغۡيَٰنِهِمۡ	يَعۡمَهُونَ ۝	وَإِذَا	مَسَّ	ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ	دَعَانَا
په سرکشئ د دوئ کښې سرگردان او کله چه ورسي [1] يو انسان ته تکليف ، نو سوال کوي زمونږ نه						

۱ - شکوه.

لِجَنْۢبِهٖٓ	اَوْ	قَاعِدًا	اَوْ	قَآىِٕمًا ۚ	فَلَمَّا	كَشَفْنَا	عَنْهُ	ضُرَّهٗ

په داسې حال کښې چه پروت وی په ډډه یا ناست وی یا ولاړ وی. پس هر کله چه لرې کړو مونږ د ده نه تکلیف د ده.

مَرَّ	كَاَنْ	لَّمْ	يَدْعُنَآ	اِلٰى	ضُرٍّ	مَّسَّهٗ ؕ

نو روان وی دې په نافرمانئ، گویا کښې چه سوال ئې نه وؤ کړې زمونږ نه د هغه تکلیف د دفع کولو چه رسیدلې وؤ ده ته.

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

دغسې ښائسته کړې شوې دې مشرکینو ته هغه عمل چه دوئ ئې کوی

﴿وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ﴾ دا زجر دې، مشرکینو اووئیل چه که دین محمد ﷺ او دا قران حق وې نو په مونږ دې کانړی د اسمان نه نازل شی، دا دعا دوئ په خانه کعبه کښې غوختې وه. ﴿اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾ نو الله ﷻ فرمائی چه کله انسان د ځان دپاره خیر غواړی نو الله ئې زر ورکوی، او چه کله شر غواړی نو الله ﷻ دادعا زرنه قبلوی ،اوکه الله ﷻ زر قبلولې نو دوئ به ئې اوس ټول هلاك كړی وو. د حضرت قتاده او ابن عباس ؓ نه روایت دې چه پدې کښې دَ غصې په وخت کښې خپل مال. اولاد ته خیرې کول هم داخل دی (لابارك الله، لعنكم الله) په عامو حالاتو کښې چه لکه څنګه انسان روزی، صحت، رحمت غواړی، نو الله ﷻ ئې زر قبلوی نو که خیرې ئې هم داسې زر قبلولې نو دوئ به هلاك شوی وې، او په حدیث کښې ترینه منع راغلې ده. چه تاسو بد دعا مه کوئ خپل مال ته او اولاد ته هسې نه چه برابرې اوخوری د داسې وخت سره چه په هغې کښې دعاګانې قبلیږی بیا به تاسو نادم (پښیمانه) شئ. **سوال** واردیږی چه په دې آیت کښې تقابل د تعجیل . د استعجال سره شویدې . حالانکه تقابل دَ تعجیل د تعجیل سره او د استعجال د استعجال سره پکار دې، **جواب**: صاحب د کشاف ویلیدی چه (استعجالهم) په معنی د تعجیل سره دې لیکن د تعجیل په ځائ کښې استعجال ذکر شو په دې کښې اشاره ده سرعت د اجابت ته

﴿فَنَذَرُ الَّذِيْنَ﴾ ددې عطف په ماقبل شرط ﴿وَلَوْ يُعَجِّلُ﴾ او جزا باندې نه دې صحیح ځکه چه لو د انتفاء د پاره راځی، نو که دا په هغې عطف شی نو په نفی به دلالت کوی او حال دا چه دلته مقصود اثبات دې، نو د دې وجه نه د دې دپاره معطوف علیه مقدر دې . چه (بل نمهلهم)

يا (لكن نمهلهم) دي ﴿ وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ﴾ دا شكوه ده ، او ددې بيان دې چه انسان احسان فراموش دې ، چه كله تكليف پرې راشي نو بيا الله ﷻ يادوي او توبې اوباسي او چه كله مصيبت ترينه لرې شي نو بيا په گناهونو كښې شروع شي ﴿مَرَّ﴾ په معنى د (استمر ومضى علي كفره ومعصيته) ، سره دې ، ﴿كَأَن لَّمْ يَدْعُنَا﴾ په اصل كښې (كأنه) دې ، يعني يا دغه حال وو ، چه مضطجعًا او قايمًا ،قاعدًا، يعنى په ټولو احوالو كښې ئې دعا غوختله ، يا دا حال ئې دې چه الله ﷻ ئې داسې هير كړو لكه چه ټول عمر ئې ورته چرته سوال نه دې كړې . اود ﴿لِلْمُسْرِفِينَ﴾ نه مراد مشركين دى ، او معلومه شوه چه د ﴿الْإِنسَانَ﴾ نه مراد انسان مشرك دى

وَلَقَدْ	أَهْلَكْنَا	الْقُرُونَ	مِن	قَبْلِكُمْ	لَمَّا	ظَلَمُوا ۙ
او په تحقيق سره هلاك كړي دي مونږ [1] . پيړئ (قومونه) مخكښې ستاسونه، هركله چه دوئ ظلم (شرك) كړې وو						
وَجَاءَتْهُمْ	رُسُلُهُم	بِالْبَيِّنَاتِ	وَمَا	كَانُوا	لِيُؤْمِنُوا ۚ	
او راغلي وو دوئ ته رسولان د دوئ په واضحو بياناتو او معجزاتو سره اونه وو دوئ چه ايمان ئ راوړي وي،						
كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ۞ ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِن بَعْدِهِمْ						
دغسې سزا وركوؤ مونږ قوم مجرمانوته. بيا وگرزولئ مونږ تاسو اوسيدونكي په زمكه كښې روستو د هغوئ نه						
لِنَنظُرَ	كَيْفَ	تَعْمَلُونَ ۞	وَإِذَا	تُتْلَىٰ	عَلَيْهِمْ	آيَاتُنَا
د دې لپاره چه وگورو مونږ چه څرنگه عمل كوئ تاسو. او كله چه لوستلې شي په دوئ باندې آيتونه زمونږ [2]						
بَيِّنَاتٍ ۙ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ						
صاف صاف نو وائ هغه خلق چه عقيده نه لرى د ملاقات زمونږ، راوړه يو قرآن غير د دې نه ، يا تبديل ، ترميم وكړه په دې كښې						

---

۱ - تخويف دنيوى

۲ - شكوه.

قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآئِ نَفْسِيٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا

وه وایه ته (۱) ندی جائز ما لره چه تبدیل وکړم پدې کښې د خپل طرف نه، زه تابعداری نکوم مګر د هغې

يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ۝

چه وحی کیدې شی ماته ، بیشکه زه یریږم که نافرمانی وکړم د رب خپل. د عذاب دَ ورځې لوئ نه

﴿ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ ﴾ ، دا تحویف دنیوي دې ، یعني چه کوم حلق د توحید رسالت نه انکار کوي او د دنیا په زندګئ باندي مطمئن شوي دي ، نو دوئ دې سوچ اوکړی چه د دوئ نه مخکښې قومونو څه حشر شوې دې ، ﴿ لَمَّا ظَلَمُوا ﴾ یعني هرکله چه دوئ کفر، شرك اوکړو نو د دوئ هلاکت او عذاب د شرك او د انکار د رسولانو په وجه راغې ، ﴿ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم ﴾ دا جمله حالیه ده ، او (لکذبوهم) مقدر دې ﴿ كَذَٰلِكَ نَجْزِي ﴾ یعنی د مجرمانو هلاکول زمونږ سنت جاریه دې ، نو که اهل مکه د عادیانو ثمودیانو وغیرهم پشان په انکار باندې مصر شی نو په دوئ باندې به هم عذاب راشی، ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ ﴾ دا خطاب ټول اُمت ته دې ، یعنی د مخکنی قومونو نه روستو اوس ستاسو دهر چا خپل خپل وخت او نمبر دې ، الله ﷻ ګوری چه تاسو څرنګه عملونه کوئ ، ﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ﴾، دا شکوې ده یعنی کله چه مشرکینو ته څما پیغمبر څما آیاتونه بیانوی چه په هغې کښې د دوئ دشرك او د دوئ دباطلو معبودانو ذم اوعجز په کښې بیانیګی ، او د توحید رسالت اثبات په کښې په واضحه طریقه کیږی نو دوئ وائی . ﴿ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ ﴾ دا دَ ضمیر په ځائ اسم موصول ذکر شوې دې دپاره داشارې علة ته چه د انکار وجه د آخرت نه غفلت او د قیامت عقیده نه لرل دی ، یعنی مشرکین چه د قرآن نه انکار کوی نو وجه ئ دا وائی چه دا قرآن زمونږ د مزاج سره موافق نه دې ، بل کتاب راؤړه یا په دې کښې ترمیم اوکړه نو مونږ به ئې اومنو ، ﴿ ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَآ ﴾ یعنی بل یو داسې کلام راؤړه چه په هغې کښې زمونږ د معبودانو ذم او عجز نه وی بیان ، او بعث بعد الموت مسئله په کښې هم نه وی ﴿ أَوْ بَدِّلْهُ ﴾ یعنی یا په دې قرآن کښې تبدیل اوکړه او د توحید مسئله ترینه اوباسه

﴿ قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ ﴾ او دا اول جواب دَ شکوې دې یعنی قطع نظر د دینه چه تبدیلی په قرآن کښې

۱- جواب شکوه.

بدكار دي څما دا طاقت نشته دي چه تبديل پکښې اوکړم او چه تبديل کولې نشم نو دا قرآن بدلول او
بل راوړل په طريق اولى سره نشم کولې ﴿اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰۤى اِلَيَّ ﴾ زه خو صرف د وحى اتباع کوم . د
امت د پاره هم دا حکم دي چه صرف د وحى اتباع به کوى ، ليکن د دينه استدلال کول دپاره د ابطال د
قياس صحيح ندې ځکه اِتباع د قياس په حقيقت کښې اتباع د وحى ده ځکه چه علت په قياس کښ
مستنبط وى د وحى نه ، اوقياس په حقيقت مثبت د حکم دپاره ندې بلکه مظهر د حکم دې ﴿اِنِّيْۤ
اَخَافُ ﴾ ، يعنى که چرې زه نافرمانى اوکړم او تبديل ترميم اوکړم په دې قرآن کښې نو ماته خوف او
خطره ده چه کوم عذاب ستاسو دپاره مقدر دې هغه به په ما راشى .

قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ وَ لَاۤ اَدْرٰىكُمْ
ته وه وايه که غوښتلې الله تعالى نو نه به لوستلې ما دا قرآن په تاسې او نه به خبر درکړې وې الله تعالى تاسو ته
بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۞
پدې سره، پس په تحقيق سره ما تير کړې دې په تاسو کښې ډير عمر د دينه مخکښې، آيا پس عقل نه لرئ تاسو.
فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ
پس څوک لوئ ظالم دې [1] دهغه چا نه چه جوړوى په الله تعالى باندې دروغ ، يا دروغ ګڼړى آياتونه د هغه،
اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ۞ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا
بيشکه نه شى بچ کيدې مجرمان د الله تعالى د ګرفت نه . او عبادت کوى دا خلق [2] سوى د الله تعالى نه، د هغه چا
لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ هٰۤؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا
چه نه ضرر رسولې شى دوئ ته او نه نفع رسولې شى دوئ ته او وائى دوئ چه دا (معبودان زمونږ) سفارشان زمونږ دى
عِنْدَ اللّٰهِ ؕ قُلْ اَتُنَبِّـُٔوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ
په دربار د الله تعالى کښې، وه وايه ته آيا تاسو خبر ورکوئ الله تعالى ته د هغه څه چه ندې معلوم الله تعالى ته

۱ - زجر
۲ - زجر او دريم دليل عقلى په توحيد.

فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۞

به آسمانونو کښې اونه په زمکه کښې، پاك دې الله تعالى او لوئ دې دهغې نه چه دوئ ئې شريکوی د الله سره

﴿ قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ ﴾ دادويم جواب دې . او د ﴿لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ ﴾ مفعول مقدر دې . (اى عدم تلاوتى له عليكم) ، مطلب دادې چه د قرآن بيانول ماد خپل ځان د طرفه نه دې شروع کړې . بلکه د دې کتاب بيان او تعليم درکول په مشيت او ارادې دالله ﷻ سره دی . ﴿فَقَدْ لَبِثْتُ ﴾ دا د ماقبل دپاره استشهاد دې ، مطلب ئې دادې ، چه ما څلويښت کاله ستاسو سره يو ځائې تير کړی دی (ځکه چه نبی ته نبوت د څلويښت کالو په عمر کښې ورکولې شي) نو تاسو څما د صداقت او د ديانت او اخلاقو نه ږير خه واقف يئ ، او دا هم درته معلومه ده چه څه ليکل او لوستل نه شم کولې ،نو زه څنګه داسې کتاب د ځان نه جوړولې شم ، يا ترميم تبديل کولې شم ، او دڅلويښت کالو نه قبل انسان سره د قيادت او د قائد جوړيدلو څه جذبه وی ، (زنده باد مرده باد نعری لګوی) ليکن د څلويښت کالو نه بعد دغه جذبات هم نه وی، نو څوك چه په داسې عمر کښې ديو عظيم انقلاب کار شروع کوی . نو هغه خامخا مجبور يا مامور وی ، او دارنګه تاسو ته داهم معلومه ده چه ما په دې څلويښت کاله کښې دالله ﷻ هيڅ نافرمانی نه ده کړې نو اوس به څنګه زه دا ګناه او نافرمانی اوکړم ، ﴿ فَمَنْ أَظْلَمُ ﴾ دا زجر دې يعنی د داسې شخص نه زيات ظالم به څوك وی ، چه يو طرف ته شرك او کفر هم کوی ، او بيا دا وائی چه په دې باندې الله ﷻ راضي کيږی ، دا لويه افتراء په الله ﷻ باندې ده ، ﴿ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾ دا زجر دې او ذکر د دعوې دې ثانيًا ضمنًا ، مشرکينو د ارتکاب د شرك دپاره معذرت پيش کولو چه مونږ د دې خپلو معبودانو (لکه لات منات وغيرهما شو) عبادت کوو، نو مونږ دوئ ته مستقل نفع رسونکی ياضرررسونکی نه وايو بلکه مونږ چه د دوئ عبادت کوو او د دوئ نه خپل حاجتونه نه غواړو يا د دوئ دنوم نذرانې شکرانې ورکوو نو دا دَ دې وجې نه چه دا دالله ﷻ نازولی او محبوبان دی ، نو الله ﷻ د دوئ درخواست خامخا قبلوی ، نو دوئ زمونږ سفارش کونکی دی ، مونږ به دوئ ته سجدې لګوو او نذر او شکرانې به ورله ورو او خپل حاجات به دوئ ته پيش کوو او دوئ به ئې الله ته پيش کوی ، نومقصدونه او حاجتونه به پوره کيږي په دنيا کښې . ځکه د آخرت نه عام مشرکان منکروو ، او بعض لږ ئې قائل وو ، او څوك چه د قيامت قائل نه وؤ ، نو هغوئ به ويل چه دا معبودان به زمونږ حاجتونه په دنيا کښې پوره کوی او که بالفرض قيامت راشی نو زمونږ شفاعت قهری (يعنی شفاعت بلا اذنه) به کوی ، اومونږ به جنت ته داخل کړی، دمشرکينو ددې عقيدې پشان عقيده د ډيرو عيسايانو هم ده ، او په امت محمدی ﷺ کښې داهل بدعة هم دغسې عقيده ده ، قبر

پرستی او د قبرونو نه طواف کول اوقبرونو ته سجدې کول ، او دهغوئ په نوم نذرانې کول په دې نيت چه دا د الله نازولی دی ، نو زمونږ کار به په الله اوکړی . نو دا هم د مشرکينو د عقيدې نظير دې . مشرکينو چه دبتانو عبادت کولو نو مقصود ئ صرف د بې روحه مجسمې عبادت نه وو بلکه د دوئ مقصد دَ ارواحو دَ انبياؤ او اولياؤ د ارواحو نه خپل حاجتونه غوختل ، او تصويرونه او مجسمې ئې خپلې قبلهٔ التوجه گرزول ، لکه علامه ابوسعود ليکی .(انهم وضعوا هذه الاصنام علي صور انبياءهم واکابرهم وزعمو انهم متى اشتغلوا بعبادة هذه التماثيل فَاِنَّ اولئك الاکابر يشفعون لهم عندالله ،ابوسعود ج ۴ص۸۰۷) د قبر پرستئ دا بلا د ډير مخکښ نه په دې امت باندې مسلطه ده . چنانچه امام رازي رحمه الله چه په ۶۰۶هجری کښ وفات شو دې ،دخپلې زمانې او د عربو د مشرکينو موازنه کوی. او وائی ، (انهم وضعوا هذه الاصنام والاوثان على صور انبيائهم واکابرهم وزعمو انهم متى اشتغلوا بعبادة هذه التماثيل فان اولئك الاکابر تکون شفعاء لهم ونظيره في هذه ا لزمان اشتغال کثير من الخلق بتعظيم قبور الاکابر على اعتقاد انهم اذا عظموا قبورهم فانهم يکونون شفعاءلهم عندالله) د شفاعت يعنی د سفارش درې صورتونه دی : **اول** دا چه شفيع يعنی سفارش کونکې به مشفوع اليه ،يعنی چاته چه سفارش کولې شي، ته ډير محبوب وی،نو چه دې سفارش اوکړی نو مالك ،مشفوع اليه، مجبوره شي او خپله اراده پريږدی، او خپل قانون باندې عمل هم پريږدی ،**دويم** دا چه شفيع عزت مند او صاحب د وجاهت وی ،نو چه شفاعت اوکړی، نو مشفوع اليه مجبور شي او خپله اراده پريږدې اوقانون باندې عمل ترك کړی ، مشرکان چه د کوم شفاعت قائل وو نو هغه دا دواړه قسمونه ؤو ،چه دوئ به ويل چه دا زمونږ بُتان او مفروضه خدايان د الله تعالى محبوبان او نازولی دی، او ډير عزت او وجاهت والا دی نو مونږ هر قسم جرم کفر فسق چه کوو، خو دوئ به مونږ د الله ﷻ د عذاب نه بچ کوی ،او جنت ته به مو داخلوی، د الله ﷻ قانون چه هر څه وی ،اودا دواړه قسمونو ته شفاعت قهری او شفاعت بلا اذن وائی . **دريم** قسم شفاعت دې پس داذن نه يعنی چه مشفوع اليه ،مالك، اجازت د شفاعت اوکړی ، نوشفاعت کونکې ترې نه سوال د خير اوکړی د غير دپاره ،نومالك په خپله مقتضې د رحم او فضل سره سوال قبول کړی، داقسم شفاعت په شرع کښ جائز دې ، په دې آيت کښ دمشرکانو د عقيدې رد دې په دريوطريقو سره : اول داچه ،﴿مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ﴾ يعنی داستاسو مفروضه خدايان مالك د نفع اونقصان نه دی، نه چاته نفع رسولې شی اونه ضرر دفع کولې شی او دا دريم دليل عقلی هم دې په توحيد او په رد د شرك باندې، دويم داچه ﴿قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ﴾ يعنی الله ﷻ ته خو داسې څوك نه دی معلوم چه هغه شفيع قهری وی ، ﴿لَا يَعْلَمُ﴾ کنايه ده

،دعدم وجود نه خکه چه کوم شئ موجود وی، نولازمه ورسره داده چه دالله ﷻ علم به پرې وی ، او

دریمه وجه داده ﴿سُبْحٰنَهٗ﴾ یعنی داعقیده خو شرك دې اوالله ﷻ ددې قسم شریك نه منزه دې

وَمَا	كَانَ	النَّاسُ	إِلَّآ	أُمَّةً	وَّاحِدَةً	فَاخْتَلَفُوْا	وَلَوْلَا	كَلِمَةٌ
اونه وو خلق د دینه مخکښې مګر یوه ډله وه په توحید، پس اختلاف وکړو روستنو خلقو اوکه نه وې یو فیصله (د تاخیر د عذاب)								
سَبَقَتْ	مِنْ	رَّبِّكَ	لَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ	فِيْمَا			
چه مخکښې شویده د طرف د رب ستا نه، نو خامخا به فیصله په دُنیا کښې شوې وې په مابین د دوئ کښې په هغه څه کښې								
فِيْهِ	يَخْتَلِفُوْنَ ۞	وَيَقُوْلُوْنَ	لَوْلَآ	أُنْزِلَ	عَلَيْهِ	اٰيَةٌ		
چه دوئ پکښې اختلاف کوی . او دوئ وائ ولې نه شی نازلیدلې پدې پیغمبر یوه معجزه (چه مونږ ئ غواړو)								
مِّنْ	رَّبِّهٖ ۚ	فَقُلْ	إِنَّمَا	الْغَيْبُ	لِلّٰهِ	فَانْتَظِرُوْا ۚ		
د طرف د رب د ده نه ، پس ته ووایه چه بیشکه علم غیب خاص الله تعالی لره دې پس انتظار کوئ								
إِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۞								
بیشکه زه ستاسې سره د انتظار کونکو نه یم								

﴿وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَّاحِدَةً﴾ یعني عقیده د توحید او دنفی د شرك فی الشفاعت ډیره قدیمی او زړه مسئله ده ،اومخکنی انبیاؤ بیان کړې ده ،دا نه نوې مسئله ده او نه نوی ملایانو راویستې ده . د آدم ﷺ او د نوح ﷺ د زمانې پورې ټول خلق په توحید وو، اوپه زما نه د آدم ﷺ کښې قابیل، هابیل لره قتل کړو نو دا معصیت وو،اوکفر نه وو او د ابن عباس ؓ نه روایت دې، چه خلق د اول نه په حق او توحید وو،تر دې چه قابیل هابیل قتل کړو ،اوچا ویلی دی چه د زمانې د آدم ﷺ نه تر زمانې د ادریس ﷺ پورې خلق په توحیدوو،او چاویلی دی چه خلق روستو د طوفان نوح نه په توحید وُو،او بیا روستو شرك او کفر شروع شو، غرض دا چه توحید فطری او متفقه خبره ده،نو دا جواب شو د یوسوال نه هغه دا چه ممکنه ده ،چه مشرکین اووائی چه ستاسو په ملت کښې دې شرك منع وی،او زمونږ په ملت کښې دې منع نوی، حاصل د جواب دادې چه دالله ﷻ دین د همیشه نه یودې په اعتقادیاتو کښې هیڅ فرق نشته ، اختلاف روستنو خلقو جوړ کړې دې ،او دلته ﴿وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَّاحِدَةً﴾ نه روستو ،(فبعث الله النبین) مقدر دې په قرینې دسورة بقرې آیت : ۲۱۳ سره،

يعنى هر كله چه خلقو اختلاف وكړو نو د اختلاف رفع كولو دپاره الله ﷻ انبياء مبعوث كړل او په سورت بقره آيت ۲۱۳ كښې ﴿فَاخْتَلَفُوا﴾ نشته دې نو هلته ﴿فَاخْتَلَفُوا﴾ مقدر شى ،ديته صنعت احتياك ويلې شى ،او دا مسئله چې اول تول خلق په توحيدوو ،اوبيا ئې اختلاف اوكړو .دا په ډيرو مقاماتو كښې په قرآن كښې مذكوره ده او په دې كښې درې خبرې ذكر كيږي : (۱) اختلاف چا اوكړو (۲) كله ئې اوكړو ، (۳)او ولې ئې اوكړو، **جواب** : اختلاف علماء سوء او ضديانو معتصبانو خلقو اوكړو. (۲) بعد د علم نه ئې اوكړو (۳) د ضد او تعصب دوجې نه ئې اوكړو، ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ﴾ دا جواب د **سوال** دې ، هغه دا چه هر كله دا عقيده د كفر، شرك ده نو د دې په وجه عذاب ولې نه راځى ، **جواب** د الله ﷻ فيصله ده چه دا امت به په دنيا كښې قيامت پورې نه هلاكوى،او كچرې دغه فيصله نه وې نو في الحال به ئې دوئ هلاك كړى وې د فيصلې او د عذاب ځائى قيامت دې ،﴿ وَيَقُولُونَ ﴾ دا زجر دې ، مشركانو ويل چه كه ته په حق يې نو مونږ ته زمونږ مطلوبه فرمائشى معجزه ولې نه ښكاره كوې ، نو جواب اوشو چه د اثبات نبوت دپاره مطلق معجزه ضرورى ده ،مخصوصه معجزه او فرمائشى معجزه ظاهريدل ضرورى نه ده ، د معجزې ښكاره كيدل او نه ښكاره كيدل ، د غيب خبره ده ،او ماته د غيب علم نشته ، دغيب علم صرف الله ﷻ لره دې ، نو بس تاسو انتظار كوئ ،چه معجزه كله راځى. او څه هم تاسو سره د انتظار كونكو نه يم.

وَإِذَآ أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُم
اوكله چه وڅكوو مونږ خلقو ته رحمت پس د تكليف نه چه رسيدلې وى دوئ ته نو په دغه وخت كښې دوئ لره
مَّكْرٌ فِىٓ ءَايَاتِنَا ۚ قُلِ اللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ
چل ول او تدبير كول وى په مقابله د آيتونو زمونږ كښې، وه وايه چه الله تعالى ډير زر تدبير كونكې دې ،
إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿۲۱﴾
بيشكه فرشتى زمونږ ليكى هغه چه تاسو چل ول كوئ

﴿وَإِذَآ أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً﴾ دا زجر دې ،او د ناس نه مراد مشركين دى ،په اهل مكه باندې الله ﷻ اوه كاله قحط مسلط كړو ،نو چه كله هلاكت ته قريب شو نو دعا او درخواست ئې اوكړو ،او وعده ئې اوكړه چه دا عذاب لرې شى مونږبه ايمان راوړو (ربنا اكشف عنا العذاب انا مؤمنون) ، نو كله چه د نبى ﷺ په دعا عذاب لرې شو او قحط او بلاګانې ختمې شوې نو دوئ بيا تكذيب او شرارت شروع

کړو، او چل ول ئی شروع کړو د آیاتونو د تکذیب دپاره .الله ﷻ فرمائی چه تاسو خو په خپل مکر تدبیر مغرور یئ ،خو الله ﷻ مکر (خفیه تدبیر) ستاسو د تدبیر نه ډیر سریع الاثر او زیات دې. او ستاسو ټولې حیلې اومکرونه الله تعالی ته معلوم دی او فرشتو لیکلی دی په خپل وخت به ستاسو گرفت کیږی او عذاب به درکوی .

هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ
خاص الله تعالی هغه ذات دې [۱] چه گرځوی تاسو په وچه او دریابونو کښ، تر دې پورې چه کوم وخت چه یئ تاسې په کشتو کښ
وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ
او روان کړی دا کشتئ دوئ لره په هوا نرمی خوشگوارې سره او خوشحاله شی دوئ په هغې نو راشی هغې ته هوا تیزه او راشی دوئ ته
الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللَّهَ
موجونه (چپې) د هر طرفه او گمان وکړی دوئ چه بیشکه دوئ راگیر کړې شو پدې چپو سره نو دوئ سوال کوی د الله تعالی نه
مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ
خالص کونکی وی هغه لره خپل عبادت، دا وائ کچرې خلاصې راکړو تا مونږ ته د دې مصیبت نه خامخا شو به مونږ
مِنَ الشَّاكِرِينَ ۝ فَلَمَّا أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ
د شکرکونکو نه. پس هرکله چه بچ کړی الله تعالی دوئ لره نو دغه وخت دوئ سرکشی کوی په زمکه کښ
بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ
په ناحقه سره ، اې خلقو ! بیشکه ظلم ستاسو وبال دې په نفسونو ستاسو، فائدې واخلئ فائدې د ژوند د دنیا
ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝
بیا مونږ ته را گرځیدل ستاسو دی پس مونږ به خبر کړو تاسو لره په هغه عملونو چه تاسو ئ کوئ

﴿هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ﴾ د ا څلورم دلیل عقلی دې په توحید باندې ، حاصل ئی دادې چه په اوچه او په دریاب کښ تاسوته د تللو قدرت صرف الله ﷻ درکړې دې ، لیکن تاسو ددې شکریه نه ادا کوئ ،او

۱ - څلورم دلیل عقلی په توحید باندې .

د غير الله نذرونه وركوئ .او د هغوئ نه حاجتونه غواړئ . ليکن چه کله په تاسو باندې سختي راشي په درياب کښ نو بيا صرف الله ﷻ ته ندا کوئ .او د خپلو معبودانو نوم نه اخلئ .او د الله ﷻ سره وعدې کوئ چه که مونږ الله ﷻ د دې مصيبت نه نجات کړو نو مونږ به د الله ﷻ شکريه ادا کړو په منلو د توحيد سره . ليکن چه کله الله ﷻ تاسو ته نجات درکړي،نو تاسو بيا په خپله وعده قائم نه پاتيږئ .
لکه روايت دې چه په فتح مکه کښ عکرمه بن ابی جهل مسلمان شوې نه وو،او د مکې نه اوتختيدلو په درياب کښ کشتئ کښ ناست وو، نو طوفان راغې ، عکرمه چه خپلو بتانو ته سوالونه شروع کړل نو کشتئ والا اوئيل چه صرف د يو الله ﷻ نه سوال وکړئ او دا نور معبودان دلته څه مدد نشی کولې . نو حضرت عکرمه اوئيل چه د محمد ﷺ سره خو زمونږ اختلاف په دې خبره دې چه هغوئ ﷺ فرمائي چه ستاسو معبودان مدد نشي درکولې ، او وعده ئې اوکړه چه کچرې الله ﷻ ماته نجات راکړو نو زه به په محمد ﷺ باندې ايمان راوړم ،او د هغه په لاس کښ به خپل لاس ورکوم امید دې چه هغه به د خپلو اخلاقو کريمو په وجه زما تقصيرات معاف کړي ، نو چه کله ورته نجات ملاؤشو ،نو د نبی ﷺ په خدمت کښ حاضر شو ،او په اسلام باندې مشرف شو.

﴿فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ ، يعنی په اوچه دتللو طاقت صرف الله ﷻ درکړې دې ،او دارنګې د وچې تولې سورلئ الله ﷻ تاسو ته مسخر کړی دی ،او دارنګې د درياب هرقسم سورلئ صرف الله ﷻ مسخر کړی دی. ﴿حَتَّىٰ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ﴾ ،دلته **سوال** راځي چه (حتی) د غايه دپاره راځی ،او غايه مؤخره وی او دلته ﴿كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ﴾ مقدم دې ، د تسيير في البحر نه (راوانول په درياب کښ) نو دا به څرنګه غايه صحيح شی .نو **جواب** دادې چه مراد د ((يسيركم)) نه قدرت ((على التسيير)) دې ،او((كنتم في الفلك)) مؤخر دې ،د اقتدار (قدرت) على التسيير نه .نو دا غايه صحيح شوه ،او حضرت تهانوي رحمه الله فرمائي چه حتی د غايه دپاره ندې ،بلکه د ترتب دپاره دې ،يعنی په تسيير باندې ، دا مجموعه مرتبه ده چه ((كنتم في الفلك وجرين بهم)) او با په ﴿وَجَرَيْنَ بِهِم﴾ کښ د تعديت لپاره ده . او په ﴿بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ﴾ کښ د سببيت دپاره ده ،او دوه حروف جر چه متحد المعنی وی نو تعلق ئې په يو متعلق پورې نه وی صحيح .او که متحد المعنی نه وی (لکه دلته) نو بيا صحيح کيږی ،اوپه ﴿وَجَرَيْنَ بِهِم﴾ کښ التفات (نقل) دې د خطاب نه غيبوبت ته ،او په دې کښ ډيرې فائدې دی ، يوه فائده داده چه د دوئ حال نورو خلقو ته بيان شی ،او هغوئ ترينه عبرت واخلی ،او ريح طيبة (خوشګواره هوا) هغه ده چه درميانه هوا وی نه ډيره تيزه وی چه موجونه ترينه پيدا شی اونه ډيره کمزورې وی او په موافق سمت باندې وی ،او د ﴿وَفَرِحُوا﴾ نه مراد فرح د تکبر دې ،﴿جَاءَتْهَا﴾ دا جواب د (اذا) دې او ضمير يا راجع دې

فلك ته او يا راجع دي ريح طيبة ته ،﴿ رِيحٌ عَاصِفٌ ﴾ هغه تيزې هوا ته وايي چه كشتۍ غرقوى .او ﴿ عَاصِفٌ ﴾ اسم فاعل نسبتى دي ،لكه لابن او تامر .اوپه دې كښې مذكر او مونث يوشان وى . نو ريح اګر كه مؤنث لفظ دې خو عاصف ئې صفت راتلې شى .﴿ أُحِيطَ بِهِمْ ﴾ دا كنايه ده .د هلاكت نه اوهر كله چه دوئ قريب ؤۇ هلاكت ته او هلاك شوى نه ؤۇ نو د دې وجې نه ئې ﴿ وَظَنُّوٓا ﴾ اونيلو .

﴿ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ يعنې د الله ﷻ سره بل څوك نه شريكوى .او دا اخلاص جبرى او فطرى اخلاص دې .او اختيارى اخلاص او ايمانى اخلاص نه دې.

فائده :افسوس دې د زمانې په بعض جاهلانو چه داسې حالاتو كښې صرف داولياء الله نه مدد غواړى او د الله ﷻ نوم نه اخلى او وائى چه دالله ﷻ نوم ثقيل دې نو كشتۍ په دې سره غرقيږي .صرف د اولياءالله نه مدد غواړى ،دا حال د قديم مشركانو نه هم ډيربد دې .صاحب د روح المعانى د سورة نحل د آيت نمبر ۵۵ په تشريح كښې هم دغسې ليكلى دى . ﴿ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ ﴾ دا جزا د شرط مقدر ده ((اي لما ظلنوا انهم احيط بهم دعوالله)) يا جمله مستانفه ده .دپاره دبيان دحال ددوئ .په دغه وقت كښې .او بعض وائى چه جائز ده چه جواب د (اذا) شى .او (جاءها) جمله حاليه شى .﴿ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴾ دا متعلق دې د (يبغون) سره .او يا دا حال مؤكده دې، د (غير الحق) نه مراد شرك دې .نو معنى داشوه چه دوئ فساد كوى په زمكه باندې .په سبب دشرك كولو سره .يا دا معنى ده چه دوئ بغى كوى په ناحقه سره نو دلته احتراز راغې د بغى بحق نه چه هغه استيلاء دمؤمن ده په مال د كافرانو په غزا كښې ﴿ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم ﴾ يعنى ستاسو د ظلم وبال په تاسو دې .﴿ مَّتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ مفعول مطلق دې د فعل محذوف دپاره (اي تمتعوا متاع الحيوٰة الدنيا) يا منصوب بنزع الخافض دې ، (اي في متاع الحيوة الدنيا) يعنې ستاسو بغى او فساد لګه زمانه ده ، فانى به شى .

إِنَّمَا مَثَلُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ
بيشكه مثال د ژوند د دنيا[1] په شان د اوبو دې چه راوه ورؤ مونږ هغې لره د آسمان نه، پس ګډ راوخيژى
نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلْأَنْعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ
په هغې سره ګياه د زمكې دهغه قسمونونه چه خورى ئې بنى ادم او څاروى، تر دې پورې چه كله واخلى زمكه

۱- د دنيا د حقارت مثال.

زُخۡرُفَهَا وَازَّيَّنَتۡ وَظَنَّ اَهۡلُهَاۤ اَنَّهُمۡ قٰدِرُوۡنَ عَلَيۡهَاۤ ۙ

خپل رونق، تازگی، او ښائسته شی، او گمان وکړی مالکان د هغې چه بیشکه دوئ قادر دی په نفع اخستلو د دې نه.

اَتٰٮهَاۤ اَمۡرُنَا لَيۡلًا اَوۡ نَهَارًا فَجَعَلۡنٰهَا حَصِيۡدًا

نو راشی په هغې امر (عذاب) زمونږ د شپې یا د ورځې پس وگرځوو مونږ هغه لوکړې شوی (دل دول)

كَاَنۡ لَّمۡ تَغۡنَ بِالۡاَمۡسِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الۡاٰيٰتِ لِقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿٢٤﴾

گویا نه وؤ دغه فصل پرون، دغسې مونږ په تفصیل سره آیاتونه، مثالونه بیانوؤ لپاره د هغه قوم چه فکر کوی

وَاللّٰهُ يَدۡعُوۡۤا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿٢٥﴾

او الله تعالی رابلی خپل بندگان کور د سلامتیا ته ، او روانوی هغه چا لره چه خوښه ئ شی په نیغه لار باندې

لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوا الۡحُسۡنٰى وَزِيَادَةٌ ؕ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوۡهَهُمۡ

لپاره د هغه کسانو[1] چه نیك عمل ئ کړې دې ښائسته بدله ده او زیاتی نعمتونه دی، اونه به پټوی مخونه دَ دوئ لره

قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ اُولٰٓٮِٕكَ اَصۡحٰبُ الۡجَـنَّةِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٢٦﴾

تور والې اونه ذلت، دغه کسان جنت والا دی دوئ به په هغې کښ همیشه وی.

﴿إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا﴾ دا د دنیا حقارت او بې ثبوتئ دپاره تمثیل دې ،حاصل ئی دادې چه کله الله ﷻ باران راؤروی او زمکه زرغونه شی او خائسته شی په مختلف قسم گیاه او گلونو سره،او مالك ئی امید اولری چه فصل تیار شوې دې ،او زه قادر یم په نفع اخستلو د دې نه ،نو په هغې د الله ﷻ د طرف نه عذاب او بلا راشی او بلکل تباه ش نو دغه شان انسان په خپل دنیوی ژوند باندې مغرور وی او مختلف امیدونه لری لیکن ناساپه پرې مرگ راشی نو امیدونه ئی ختم شی او دې لاړ شی (خلق وائ . هائ نیمگړې دنیا) ﴿فَٱخۡتَلَطَ﴾ په معنی د (اشتبك) سره دې یعنی گنړ راوزی . گیاه چه گنړه وی نو اجزاء د گیاه په یوبل کښ ورننوځی او د بل سرهٔ خلط شی او ﴿بِهِۦ﴾ باء د سببیت دپاره

---

[1] . بشارت اخروی

د ﴿زُخْرُفَهَا﴾ (زخرف) حسن او تازګی ته وائی، په اصل کښې زخرف سرو زروته وائی او هغه شال ته وائی چه په ناوې باندې ئې اچوی او مختلف قسم ګلونه پرې جوړوی نو دلته تشبيه د زمکې اوشوه د ناوې سره ، وجه د شبه میلان د قلوبو دې او مشبه به حذف شو .او مشبه د هغه په ځائ قائمقام شو او ذکر ده (زخرف) تخیلیه ده او دا روستو ورله ترشیح ده .﴿كَأَن لَّمْ تَغْنَ﴾ په معنى د لم تکن سره دې او د ﴿بِالْأَمْسِ﴾ نه مراد زمانه ماضی قریب ده ﴿وَاللَّهُ يَدْعُوٓا﴾ دا ترغيب دې جنت ته او بشارت دې . دعوت دالله ﷻ دادې چه رسولان ئې راليږلی دی اوکتابونه ئې نازل کړی دی .او دليلونه ئې قائم کړی دی .اوپه دې کښې اشاره ده اهمیت د عمل د دعوت ته .چه دا کار دالله ﷻ دې .او دعوت ذريعه دهدايت ده .نو د دې وجې نه ئې اوفرمائل : ﴿وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ﴾ .

﴿لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا﴾ دا هم بشارة دې او د الحسنى نه مراد جنت حسنى دې او د ﴿وَزِيَادَةٌ﴾ نه مراد ديدار الهي دې (النظر الى وجه تعالى) ، (مسلم) .

وفي رواية لمسلم والترمذي،وغيرهما عن صهيب ﷺ أَنَّ رسول الله ﷺ تلا هٰذِهِ الأية : (للذين احسنوا ....) فقال إِذَا دَخَلَ اَهلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ واهل النَّارِ النَّارَ ، نادٰى منادي : يا اهل الجنة اِنَّ لَكُمْ عندالله موعدًا يريد ان ينجزكموه فيقولون وَمَا هُو ؟ اَلَمْ يثقل موازيننا وَيُبَيِّضْ وُجُوْهَنَا ويدخلنا الجنة وَيُزَحْزِحْنَا من النار ،قال فيكشف لهم الحجاب فينظرون اليه سبحانه فوالله ما اعطاه شيئًا احبَّ اليهم مِنَ النّظر اليه ولا اقر لِاَعْيُنِهِمْ)

ترجمه : يعنى د حضرت صهيب ﷺ نه روايت دې چه نبى ﷺ دا آيت تلاوت كړو او وې فرمائل چه كله الله ﷻ جنتيان جنت ته بوځی او جهنميان جهنم ته داخل كړی نو يو اعلان كونكې به اعلان وكړی چه اې جنتيانو ستاسو يوه وعده الله ﷻ سره باقى ده .هغه پوره كول غواړې نو دوئ به دا وائى چه هغه څه وعده ده؟ آيا الله ﷻ په خپل فضل سره زمونږ د حساناتو طرف نه دې دروند كړې؟ آيا زمونږ مخونه ئې سپين او نورانی كړی نه دی .او د جهنم نه ئې نه يو خلاص كړی .او جنت ته ئې نه يو داخل كړی ، يعنى دا ټول انعامات ملاؤشويدی نو څه پاتې دی، نو حجاب به لرې كړې شی او جنتيان به دالله ﷻ ديدار اوكړی ، نوپه الله قسم چه هيڅ يو نعمت چه دوئ ته وركړې شوې وو، دديدار نه به زيات محبوب نه وی .اونه به د دينه زيات سترګې يخونكې خوشحاله كونكې بل څه شې وی، رزقناالله بمنه وفضله . ﴿قَتَرٌ﴾ توروالې لكه د كافرانو مخونه به چه تور وی ﴿وَلَا ذِلَّةٌ﴾ رسوائی او ذلت .

وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ

اوهغه كسان چه كوي بد كارونه [1] ، بدله د بدئ پشان د بدئ وي، او پټوي به دوئ لره ذلت ، رسوائي، نه به وي دوئ لره

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَاۤ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ مُظْلِمًا ؕ

د عذاب د الله تعالى نه هيڅوك بچ كونكې، ګويا چه اغوستلې شوي به وي مخونو د دوئ ته ټكړې د توري شپې.

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا

دغه كسان اور (جهنم) والا دي دوئ به په هغې كښې هميشه وي . او په هغه ورځ چه راجمع به كړو [2] دوئ ټول

ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا

بيا به وه وايو هغه كسانو ته چه شرك ئې كړيدې ودريږئ په خپل ځائ، تاسو او شريكان ستاسو ، پس جدا ئې به راولو

بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ۝ فَكَفٰى بِاللّٰهِ

په مينځ د دوئ كښې او اوبه وائې شركاء د دوئ نوئ تاسو چه زمونږ بندګي مو كوله . پس كافي دې الله تعالى

شَهِيْدًۢا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ۝ هُنَالِكَ تَبْلُوْا

ګواه په مينځ زمونږ او ستاسو كښې، بيشكه وو مونږ ستاسو د بندګئ نه خامخا ناخبره . دغه وخت به معلوم كړي

كُلُّ نَفْسٍ مَّاۤ اَسْلَفَتْ وَرُدُّوْۤا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ

هر نفس حقيقت د هغه عمل چه مخكښې ئې ليګلې دې ، او وبه ګرځولې شي د دوئ الله تعالى ته چه مالك د دوئ دې

الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝

په ريشتيا سره او ورك به شي د دوئ نه هغه چه دوئ څه دروغ جوړول .

﴿ وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ ﴾ دا تخويف دې ، د دې په تركيب كښې يو څو احتماله دي : (١) (والذين)

---

١ - تخويف اخروي .

٢ - تخويف اخروي .

مبتدا ده او ﴿جَزَآءُ سَيِّئَةٍۭ﴾ په حذف د مضاف سره ئ خبر دي (٢) (اى جزائهم جزاء سيئة) . يا مضاف په جانب د مبتداء كښې مقدر دې (اى جزاء الذين كسبوا السيئات جزاء سيئة بمثلها) (٣) يا (والذين) په حذف د لام سره خبر مقدم دې او (جزاء سيئة) ئ مبتداء مؤخره ده (اي جزاء سيئة بمثلها، للذين كسبوا السيئات) ﴿بِمِثْلِهَا﴾ مماثلت په سخت والى .او غلاظت كښې مراد دې يعنى چه څومره جرم سخت وى او ناكاره وى لكه شرك، كفر نو عذاب به ئ دغه شان سخت او ناكاره وى .﴿مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ﴾ . په دې كښې اشاره ده نفى دشفيع قهرى ته .﴿كَأَنَّمَآ أُغْشِيَتْ﴾ يعنى مخونه د كافرانو به د قيامت په ورځ داسې تك تور وى لكه دتورې شپې ډيرې ټكړې چه ورته اغوستلې شوې وى. دا مبالغه ده په تور والى كښې﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ﴾ دا تخويف اخروى دې او ثمره د مخكنى دلائلو ده ، د مخكنو دلائلو نه دا خبره واضحه شوه چه مشركان چه دكومو خپلو معبودانو عبادت كوى او شفعاء ئې گڼړى نو هغه معبودان عاجزه دى ،او د دوئ په اختيار كښې نفع نقصان نشته ، نو دلته په طور د نتيجې او ثمرې د آخرت منظر پيش كولې شى چه وگورئ چه چا ته چه تاسو خپل شفيعان وايئ نو هغوئ خو ستاسو سفارش خود نشى كولې ،بلكه هغوئ به ستاسو د عبادت او بلنې نه هم انكار اوكړى او په ميدان محشر كښې به على رؤس الاشهاد اعلان اوكړى چه مونږ ستاسو د عبادت او بلنې نه بالكل خبر نه ؤو چه څوك زمونږ قبر له راغلې دې او سوالونه ئ كړى دى .او سجدې ئ كړى دى .او نذرانې ئ پيش كړى دى .او ضمير د ﴿نَحْشُرُهُمْ﴾ هم راجع دې فريقينو ته يعنى هالكين او ناجيينو ته .او عابدينو او معبودينو ته ﴿مَكَانَكُمْ﴾ اي الزمومكانكم ، په خپل خپل مكان كښې ودريږئ انتظار كوئ د فيصلې د الله ﷻ ﴿فَزَيَّلْنَا﴾ اي فرقنا يعنى جدائى به راؤلو مونږ په مابين د عابدينو او معبودينو كښې ﴿فَزَيَّلْنَا﴾ د زال يزيل (يائ) زيلاً نه مضاعف دې او مراد د جدائى نه يا قطع دَ تعلقاتو ده لكه دا ظاهر ده ، يا ترينه مراد دا دې چه په جدا جدا ځايونو كښې به ؤدرولې شى د نيكانو او مجرمانو صفونه به جداجدا شى ،(وامتازواليوم ايها المجرمون) .

﴿وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم﴾ ، د شركاؤنه څوك مراد دى؟ په دې كښې اختلاف دې ، بعض وائى چه فرشتې او عيسىٰ عليه السلام مراد دي لقوله تعالى : ﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ﴾ ،وقوله تعالى ﴿قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِى وَأُمِّىَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ په دې قول باندې دا سوال

واردیږی چه ﴿مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ﴾ تهدید دې او دا مناسب نه دی د انبیاء او فرشتو سره. او بعض وائی چه بتان مراد دی نو په دې دا سوال واردیږی چه د هغوئ حشر نه کیږی او سوال جواب نشی کولې نو دا د (یوم نحشرهم) سره منافی دې نوجواب دادې چه الله ﷻ قادر دې په حشر د دوئ یا په دې طریقې سره چه الله ﷻ په کښې عقل ، حیات، نطق پیدا کړی یا په غیر د حیوۃ نه پکښې طاقت د ګویایئ پیدا کړی او په دې تقدیرچه حیوۃ پکښې پیدا کړی نو احتمال دې چه دَ سوال ، جواب نه وروستو باقی شی یا فانی شی، امام رازی اوصاحب د روح المعانی وائی چه زیاتنه ظاهره ده چه مراد ترینه تمام (ماعبد من دون الله) دی ﴿فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا﴾ دا په معنی د قسم سره دې چه دا معبودان به قسم اوخوری چه مونږ ستاسو د عبادت او بلنې نه بالکل نه ؤؤ خبر ، صاحب د روح المعانی په تفسیر د سورۃ احقاف کښې لیکی چه بتان خوبهر حال بې خبره دی او هر چه ملائك دی نو هغه خو لرې دی ځکه چه مشرکینُ د آسمانی ملائکو عبادت کولو او هر چه انبیاء او اولیاء دی نو بعض خو لرې دی د عابدینو نه او علم غیب ئ نشته او چه څوك قریب وو نو هغه مړه دی،او مړی په هر وقت کښې خبرې نه اوری ، یا د الله ﷻ دمشرکانو د شرکی اقوالو او افعالو نه دوئ بې خبره ساتی ، چه په حزن او غمونو کښې پریشان نه شی ﴿هُنَالِكَ﴾ یعنی په موقف الحساب کښې ﴿تَبْلُوا﴾ بلاء امتحان ته وائی او په امتحان سره پوره حقیقت معلومیږي نو (تبلوا) په معنی د تعلم سره دې، ﴿مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ﴾ مولی په معنی د مالك حقیقی سره راځی نو په دې معنی سره الله ﷻ مولی د مؤمنانو او کفارو ټولو دې او بل په معنی د ناصر او مددګار سره راځی نو په سورۃ محمد آیت نمبر ۱۱ (ان الکافرین لامولی لهم) کښې دا دویمه معنی مراد ده .

قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ
وه وایه ! څوك روزی درکوی تاسو ته [1] د آسمان او د زمکې نه ، یا څوك مالك دې د غوږونو او د سترګو.
وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الْأَمْرَ
او څوك راؤباسی ژوندې، د مړ نه، او راؤباسی مړ د ژوندی نه، اوڅوك تدبیر کوی د ټولو کارونو.

۱ ـ پنځم دلیل عقلی په توحید ، علی سبیل الاعتراف من الخصم.

فَسَيَقُولُونَ اللّٰهُ ۚ فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۱﴾ فَذٰلِكُمُ
نو زرده جه دوئ به وه وائي چه الله تعالى ، پس وه وايه ته ! آيا تاسو خان نه بچ كوئ د شرك نه. پس دغه دي ' تاسو ته وايم.
اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۚ
الله تعالى رب ستاسو دي په ريشتيا سره پس څه شي دي پس د ريشتياؤ نه يعني نشته مگر گمراهي.
فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿۳۲﴾
پس د كوم خائ نه اړولي شئ تاسو

﴿ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ ﴾ دا په توحيد باندې پنځم دليل عقلي دي (علي سبيل الاعتراف من الخصم ، كما قيل اصح الشهادات ما يشهد به الاعداء) – ع : (الفضل ما شهدت به الاعداء) مشركينو د دې مذكوره صفاتو مالك صرف الله ﷻ منلو او دا صفات د الوهيت (خدائ توب) دى نو الله ﷻ فرمائى چه دا هم تاسو د تعجب خبره كوئ چه د الوهيت صفات صرف الله ﷻ لره ثابتوئ او بيا غيرالله ته معبود اواله وائى په چا كښ چه دالوهيت صفات نه وى نو څرنګه اله كيدې شى اومخكښ تير شو چه دوئ شفعاء هم نشى كيدې ، رزق د اسمان نه په باران ورولو سره دې او د زمكې نه په پيداكولو د فصلونو او بوټو سره دې ، د سمع او ابصار نه مراد طاقت د اوريدلو او ليدلو دې او د حى او ميت نه مراد (۱) حيوان او نطفه ده (۲) چرګ اګئ .(۳) تازه فصلونه ،زمكه (۴) مؤمن او مشرك (۵) عالم او جاهل مراد دى ﴿وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ﴾ لام د استغراق دپاره دې يعنى د ټولو كارونو ،حالاتو انتظام بغير د اسبابو نه كوى او انسانان چه تدبير انتظام كوى نو په اسبابو سره كوى ،او دا تعميم بعد التخصيص دې ،او په حديث كښ چه د ابدالو ذكر راغليدې لكه په ابو داؤد كښ اتاه ابدال الشام يا نورو ډيرومحدثينو لكه ابن عساكر ذكر كړى دى نو د هغې مقصد هغوئ دا نه دې ذكر كړې چه دوئ د عالم تدبير انتظام كوى، بلكه معنى داده چه د اعمالو صالحؤاو دعاګانو په وجه په عالم كښ انقلابات راځى اوخوك چه دا عقيده لرى چه دالله ﷻ نه علاوه د بل چا په اختيار كښ خير او شر او تصرفات دى نو دا صريح شرك دې لكه داهل بدعت مقتدا د حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله په باره كښ وائى چه :

ذی تصرف بھی ہیں
ماذون بھی ہیں مختار بھی ہے
کار عالم کا مدبر بھی ہیں
(حدائق بخشش)

اوپه بل ځای کښ وائی احد سے احمد و احمد سے تجھ کو - ملا یه کن، مکن یاغوث اعظم
((نعوذ باالله))

﴿فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ﴾ سين د استقبال قريبه د پاره دې، يعنى د سوال كولو نه بعد متصلا په غير دتوقف او تردد نه به دوئ وائى چه دا كارونه صرف الله ﷻ كوى ﴿أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾ همزه دپاره داستفهام انكارى ده په معنى د لاينبغى سره دې، او فاء د پاره د عطف ده معطوف عليه ورله مقدر دي اتعلمون ذالك فلا تتقون ﴿فَذَٰلِكُمُ اللَّهُ﴾ (ذا) اسم اشاره ده او مبتدا ده . او (كم) دپاره د دلالت دې په حال دمخاطب اولفظ د الله ﷻ ئى خبر دې نو ترجمه دا شوه (پس دغه تاسوته واثم الله دې) ،اسم اشاره وى محسوس ته ،او ذات دالله ﷻ اگر كه مخاطبينو ته محسوس نه دې ليكن د تميز بالاوصاف په وجه په منزله د محسوس گرزولې شوې دې . نو خكه ويلې شوو چه دغه دې (الله) ﴿رَبُّكُمُ﴾ بدل دې يا عطف بيان دې ، د لفظ د الله ﷻ دپاره يا (ذالكم) مبتدا ده او لفظ د الله ترينه بدل دې . يا عطف بيان دې ،او (ربكم) خبر دې ﴿الْحَقُّ﴾ خبر بعد الخبر دې يا صفت د (ربكم) دې ،ترجمه دا شوه چه دغه الله ﷻ رب ستاسو دې په رشتيا او دا توجيه راجحه ده ،﴿فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ﴾ ما استفهاميه په معنى د نفى سره ده او (ذا) موصوله ده ،او دا مبتدا ده ، ﴿بَعْدَ الْحَقِّ﴾ ورله خبر دې ،او بعد په معنى د غير سره دې او د حق نه مراد توحيد او د ضلال نه مراد شرك او عبادة د غيرالله دې ، يعنى دحق نه علاوه خو صرف گمراهى ده نو څوك چه حق (توحيد) پريږدى نو په گمراهئ كښ به واقع شى ﴿فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ﴾ (صرف) گرزيدلو، اوريدلو ته وائى د توحيد نه ﴿فَأَنَّىٰ﴾ (انى) په معنى دكيف سره دې د تعجب دپاره .په دې آيت كښ د حق نه مراد هغه دې چه قطعا ثابت وى لكه مفسرين ئ مثال په توحيد سره ذكركوى او په كوم ځاى كښ چه دَ يو مسئلې يوجانب قطعًا نوى ثابت اگر كه تعلق ئى د عقيدې سره وى نو هلته يو جانب ته باطل نشى ويلې لكه مسئله د سماع الموتى وغيره، نورمسائل شو په دې كښ مقابل ته گمراه او ناحق ويل جهالت او تعصب دې

البته د یو جانب ترجیح په دلیل سره د علمي تدقیق علامه ده.

كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۳﴾ قُلْ
دغسي پوره شويده فيصله د رب ستا، په هغه چا چه نافرمان دی، چه دوئ ايمان نه راوړی ته ووايه[۱]
هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ
آيا شته دي د شركاؤ ستاسونه داسي څوك چه اول پيدا كول وكړی، بيا دوباره پيدايش وكړی (نشته). ته ووايه[۲] چه
اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ قُلْ
الله تعالى اول پيدا كوی مخلوق اوبيا به ئ دوباره پيدا كوی پس په څه اړولي شئ تاسو د توحيد نه ته ووايه
هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ؕ
آيا شته ستاسو په شريكانو كښ هغه څوك چه لار وښائ د حق، ته ووايه چه الله تعالى لار ښائ طرف د حق ته
اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ
آيا پس هغه څوك چه لار ښائ طرف د حق ته هغه ډير حقدار دي د دي چه تابعداری ئ وكړي شي، يا هغه څوك
لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۣ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۵﴾
چه پخپله لار نه مومی مگر په هغه وخت كښ چه لار ورته وښودلي شي، پس څه دي تاسو لره څرنگه حكم كوئ تاسو،
وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ؕ
او تابعداری نكوی زيات د دوئ نه مگر د وهم، بيشكه وهم پرستی فائده نه وركوی د حق په باره كښ هيڅ،
اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾
بيشكه الله تعالى پوهيږی په هغي چه دوئ څه كوی

۱ - زجر.

۲ - زجر.

﴿كَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ﴾ يعنى ځوك چه سره د ظهور د حق نه په باطل باندې مصر وى نو دا علامه ده ددې خبرې چه په ده دَ مهر جباريت لګيدلې دې ﴿أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ تفسير د ﴿كَلِمَتُ رَبِّكَ﴾ دې . ﴿قُلْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم﴾ داهم داخل دې په دليل عقلى على سبيل الاعتراف من الخصم كښې. يعنى ته د دوئ نه تپوس وكړه چه آيا ستاسو په مفروضه معبودانو كښې صفات د الوهية شته دى؟ هغه دا چه اول ځوك پيدا كړى يا دوباره پيدا كړى، ظاهره ده چه دا كارونه خو هغوئ نشى كولې بلكه صرف الله تعالى ئ كوى نو معلومه شوه چه معبود بر حق صرف الله تعالى دې ﴿فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ﴾ يعنى ځرنګه تاسو اړولې شئ د حق نه باطل ته .﴿قُلْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَهْدِي﴾ دا هم داخل دې په دليل كښې او مراد (يهدى الى الحق) نه هدايت كول دى په ارسال د رسل او انزال د كتابونو سره، يعنى آيا ستاسو مفروضه الهه داكولې شى؟ چه رسولان راوليږى يا كتابونه نازل كړى يا چا ته د فهم د حق دپاره عقل وركړى او توفيق د غور اوتدبر وركړى .او ظاهره ده چه داكارونه خو صرف الله ﷻ كوى ﴿اللَّهُ يَهْدِي لِلْحَقِّ﴾ دلته حصر مراد دې يعنى صرف الله جل جلاله داسى كوى ﴿أَفَمَن يَهْدِي﴾ نو اوس تاسو سوچ فكر اوكړئ چه آيا د هغه ذات د احكاماتو اتباع پكار ده چه د فهم اوحق دپاره ئ عقل، فكر وركړې دې اورسولان ئ راليګلى دى ،او كتابونه ئ نازل كړى اوكه د هغه چاچه هغه ته په خپله حقه لار نوى معلومه ترځو چه بل چا ورته لار نه وى خودلې ﴿أَمَّن لَّا يَهِدِّي﴾ دا په اصل كښې (لايهتدي) وو، تاء په دال سره بدله شوه او ادغام په كښې اوشو .

﴿وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا﴾ دلته د ظن نه مراد وهم دې يعنى شرك پرستى بل هيڅ شې ندې سوى د وهم پرستى نه .نو د ظن نه مراد وهم دې ،او كوم ظن چه معتبر دې په شرع كښې هغه نه دې مراد . نو استدلال د منكرينو د خبر واحد په دې آيت سره باطل دې ، تفسير قرطبى كښې دى چه دا آيت دليل دې په دې چه ظن نه دې كافى په باب د عقائدو كښې ، دغه شان په شرح العقائد كښې دى ،(ولاعبرة با الظن في باب الاعتقاديات) ، داهله چه د ظن په مقابله كښې دليل قطعى يقينى موجود وى لكه د دې آيت نه معلوميږي ،او چه په مقابله كښې ئ دليل قطعى يقينى نه وى موجود نو هلته دليل ظنى معتبر دې په باب دَ اعمالو كښې ،او هر چه دې په باب د اعتقادياتو كښې دې نو مشهوره داده چه په دليل ظنى سره د عقيدې اثبات نشى كيدې

مطلقًا لیکن صاحب د نبراس په دې خبره رد کړې دې او ویلی ئ دی چه مشائخو ذکر کړی دی چه ظنیات په باب د عقائدو کښې لکه تفاضل د مَلَك او دبشر شو ،او دا رنګه سلف تابعینو ، تبع تابعینو ، محدثینو ذکر کړی دی اخبار احاد په باره د احوالو دمعراج کښې.او دارنګه په باره د حشر ،قبر ،او دا رنګه په باره د جنت او د نار ، کښې او ظاهره ده چه د دې تعلق د عمل سره نشته دې بلکه صرف د اعتقادسره ئ تعلق دې . نو که په دغه اخبار آحادو سره عقیده نه ثابتیږی نو د دوئ روایت به عبث شی ، بلکه مردود به شی بلکه حق دادې ،چه مذموم ظن فاسد دې یاهغه ظن دې چه په مقابله کښې ئ دلیل قطعی یقینی وی .فاحفظه فكثيرًا ما يقع فيه الخطاء عن النحارير .

او علماؤ ددې آیت نه ډیرې مسئلې مستنبط کړی دی مثلا (۱) یقین نه زائل کیږې په شك سره ،(۲) د نص په مقابله کښې قیاس نه دې معتبر، (۳) د مطلق د کتاب الله تقید په خبر واحد سره صحیح نه دې ،وغیر ذلك .

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ
اونه دې دا قرآن [1] چه جوړ کړې شی د طرف د ماسوی د الله نه لیکن نازل شوې دې لپاره د تصدیق دهغې کتابونو
بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۟
چه دده نه مخکښې دی او لپاره د تفصیل د فرض شوی حکمونو ، نیشته هیڅ شك پدې کښې، د طرف د رب العالمین نه دې
اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ
آیا وائ دوئ چه دا قرآن ئ د ځان نه جوړ کړې دې ، او وایه پس راوړئ یو سورة د ده پشان او راوبلئ هر هغه څوك
اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۟ بَلْ كَذَّبُوْا
چه تاسو طاقت لرئ د بلنې دهغوئ ماسوی د الله تعالی نه که یئ تاسو ریشتنی بلکه دوئ دروغ ګڼړی
بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ ؕ
هغه (قرآن) چه دوئ ندې حاصل کړې علم د هغې او تر اوسه پورې ندې راغلې دوئ ته انجام د نه منلو د قرآن.

۱- تمهید شکوی نه .

كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ۞

دغه سي نسبت د دروغو كولو هغه كسانو چه د دوئ نه مخكښې وو پس وګوره څرنګه شو انجام د ظالمانو

وَمِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ ط

او بعضي د دوئ نه هغه څوك دي چه ايمان راوړي پدې قرآن او بعضي د دوئ نه هغه څوك دي چه ايمان نه لري پدې قرآن

وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِيْنَ ۞

او رب ستا ښه پوهه دې په حال د فساد كونكو .

﴿ وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ ﴾ دا تمهيد دې شكوې ته ، يعنى دا قرآن چه لفظًا او معنًى بى نظيره او معجز دې ، څوك انسان پرې هم قادر نه دې چه د داسې كتاب جوړ كړى نو دا مفترى (دَ ځان نه جوړ كړې شوې) نه دې بلكه په دې كښې دا كمالات او خصوصيات او صفات دى (١) چه د مخكنو كتابونو تصديق كوى (٢) او دَ كتاب يعنى د فرض كړې شوى احكامو ضرورى تفصيل كوى (٣) په دې كښې هيڅ شك اوشبه نشته دې ، هره هره خبره ئې قطعى اويقينى ده ،او د تمامو مخلوقاتو د رب د طرف نه راغلې دې .﴿ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ﴾ (ام) منقطعه دې په معنى دَ (بل أ) سره. حضرت شيخ به د (ام) منقطعه ترجمه داسى كوله : (اچھا یہ لوگ یہ کہتی ہیں - الخ) يعني خا ، دوئ دا خبره كوى چه د خپل ځان نه ئې جوړ كړې دې (افترٰى) ضمير راجع دې محمد ﷺ ته ﴿ قُلْ فَأْتُوْا ﴾ دا جواب د شكوه دې يعنى كه دا كتاب حضرت محمد ﷺ د ځان نه جوړ كړې وې نو تاسو هم فصحا او بلغاء يئ نو تاسو د دې په شان كتاب جوړ كړئ ،او ﴿ مِّثْلِهٖ ﴾ ضمير قرآن ته راجع دې او مراد د مثليت نه په الفاظو او معنى ، فصاحت ، بلاغت او په صداقت كښې مثليت دې.﴿ بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ ﴾ يعنى دوئ د قرآن په اعجاز، فصاحت او بلاغت كښې سوچ او تحقيق نه دې كړې بلكه په غير د سوچ او غور نه ئې تكذيب شروع كړې دې . پكار خو داسې ده چه سړې سوچ اوكړي نو بيا روستو دهغې په باره كښې فيصله اوكړي (بما لم يحيطوا بعلمه) ، په اصل كښې (لم يحيطوا به علما) وو نو دغه عبارت نه عدول اوشو دې مذكور كلام ته ،ځكه دا ابلغ دې .﴿ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ ﴾ ، ضمير راجع دې قرآن ته

او د تاویل نه مراد تفسیر او بیان د معانیو دي .او دا اتیان مجاز دي دعلم او وقوف نه. یعنی د دوئ دل او دماغ ته د قرآن معانی، حقائق نه دی راغلی. یا ضمیر راجع دي تکذیب نه چه په ضمن د (کذّبو) کښې دي او د تاویل نه مراد وقوع د مدلول دي یعنی عاقبت او انجام د تکذیب دي یعنی دوئ ته لا تر اوسه پورې د دوئ د تکذیب انجام .او د وعدې سزا عملی ظهور نه دې راغلې . ﴿كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ﴾ یعنی دغسې بې سوچه تکذیب مخکښو اقوامو هم کړې وو د خپلو انبیاؤنه ﴿فَٱنظُرْ﴾ سوچ اوکړه چه دهغې انجام څه وو .﴿وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِۦ﴾ یعنی په موجوده کفارو کښې بعض خلق ایمان راوړی او بعض نه راوړی نو ځوك چه ایمان نه راوړی په قرآن باندې نو دغه مفسد دی او ستا رب په دې ډیر خه خبردار دې . سزا به ورته ورکوی

وَ	اِنۡ	كَذَّبُوۡكَ	فَقُلۡ	لِّىۡ	عَمَلِىۡ	وَلَكُمۡ عَمَلُكُمۡ ۚ
اوکه دوئ تا دروغژن گڼړی پس وه وایه : خما د پاره بدله د عمل خما ده او تاسو لره بدله د عمل ستاسو ده						
اَنۡتُمۡ	بَرِيۡٓـُٔوۡنَ	مِمَّاۤ	اَعۡمَلُ	وَاَنَا	بَرِىۡٓءٌ	مِّمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ۞
تاسو بیزاره او بی تعلقه یئ د هغه عمل نه چه زه ئ کوم او زه بی تعلقه یم دهغې عملونو نه چه تاسو ئ کوئ						

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّسۡتَمِعُوۡنَ اِلَيۡكَ‌ؕ اَفَاَنۡتَ تُسۡمِعُ الصُّمَّ وَلَوۡ كَانُوۡا لَا يَعۡقِلُوۡنَ ۞

او بعضې د دوئ هغه ځوك دی چه غوږ ایږدی تاته، آیا پس ته اوروَل کولې شې کڼړو ته، اګر که دوئ عقل نه لری

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّنۡظُرُ اِلَيۡكَ‌ؕ اَفَاَنۡتَ تَهۡدِى الۡعُمۡىَ وَلَوۡ كَانُوۡا لَا يُبۡصِرُوۡنَ ۞

او بعضې د دوئ نه هغه ځوك دی چه ګوری تا ته آیا پس ته لار ښودلې شې ړندو ته ؟ اګر که دوئ بصیرت . پوهه نه لری

﴿وَإِن كَذَّبُوكَ﴾ دا زجر دې منکرینو ته یعنی د دومره دلیلونو نه بعد بیاهم تکذیب کوی نو ته ورته اووایه چه ما ته خو ستاسو د کفر نه هیڅ ضرر نشته، زه ستاسو د بدواعمالو نه بریٔ یم .﴿وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ﴾ داهم زجر دې ﴿أَفَأَنتَ﴾ دا تمثیل دَ مهر جباریت دې .﴿ٱلصُّمَّ﴾ جمع د اصم ده .﴿وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَعْقِلُونَ﴾ کوڼړ چه عاقل وی نو په اشارو سره یا په حرکت د شونډو یا فراست سره څه لګ ډیر پوهیدې شی لیکن ځوك چه کوڼړ هم وی او لایعقل هم وی . نو هغه بالکل نشی پوهیدې نو دلته د کفارو تشبیه ئ دهغه کنړو سره ورکړه چه لایعقل وی نو

دلته مشهور **سوال** واريدېږي ،چه (لو) وصليه كښې قانون دادې چه نقيض د مدخول د ده اولى بالحكم وي لكه په دې مشهوره مقوله كښې ،(نعم العبد صهيب لولم يخف الله لم يعصه) او دلته خو امر بالعكس دې ځكه استفهام انكارى دې په معنى دنفى سره .نو معنى دا شوه چه ته نشې اورولې كڼړو ته ،اګر كه لايعقل وى ، نو د دې نه فهميږي چه كونړ چه يعقل وى نو په طريق اولى ورته اورول نشى كيدې ، حالانكه داسې خو نه ده ، نو **جواب** دادې چه دلته د استفهام انكارى لحاظ روستو دې او د (لو) وصليه لحاظ مخكښې دې (اَىْ تسمع الصم ولو كانوا لايعقلون) او ظاهره ده چه اسماع سره د عقل نه بالطريق الاولى ده (روح) ،او واو په (ولو)كښې دپاره د عطف دې ، معطوف عليه ورله مقدر دې ،(اي لوكانوا يعقلون ولو كانو لايعقلون) او مقصود دنفى نه قدرت د اسماع ده په هر حال كښې ،﴿وَمِنْهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَ﴾ يعنى تاته ګورى او ستا كمالات ، او معجزات وينى په ظاهرى سترګو سره، ليكن د ضد او تعصب اومهر جباريت لګيدو په وجه د زړه سترګى ئې ړندې دى، نو دوئ په شان د هغه ړندو دى چه بصارت (سترګې) ئې هم نه وى ،او بصيرت (عقل او فراست) ئې هم نه وى ، نو داسې ړوند ته به څوك لار اوښايى ﴿لَا يُبْصِرُونَ﴾ د بصيرت نه ماخوذ دې ، د ړوند چه بصيرت ئې وى نو څه لګ ډير لارخودل ورته كيږي ،او چه بصيرت ئې هم نه وى نو بيا خو ورته بالكل لار خودل ممكن نه وى ،دلته هم داستفهام لحاظ وروستو دې اودَ(لو)اودَ مدخول دَ ده لحاظ مخكښې دې،او دلته هم مقصود نفي د عموم ده ،يعنى نفى د قدرت په هدايت باندې په عامو احوالو كښې كما مر.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا وَلَٰكِنَّ النَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ۝
بيشكه الله تعالى ظلم نه كوى په خلقو هيڅ ظلم ليكن خلق په خپلو ځانونو په خپله ظلم كوى
وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوا
او به كومه ورځ چه راجمع به كړى دوئ لره دوئ به ګمان وكړى ګويا كښې دوئ درنګ نه وؤ تير كړې
إِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ ۚ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا
مګر يو ساعت د ورځې ، پيژندګلى به كوى په مينځ خپل كښې، په تحقيق سره تاوانيان دى هغه خلق چه تكذيب كوى

بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ۝ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ
په پیش کیدلو الله تعالی ته اُونه دی دوئ هدایت موندونکی. اوکه وښایو مونږ تا ته بعضی هغه عذاب
نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ
چه وعده ئ کوؤ د دوئ سره یا وفات کړو تا لره (مخکښې د عذاب د دوئ نه) پس زمونږ طرف ته راګرځیدل د دوئ دی
ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ ۝
بیا الله تعالی خبر دې په هغه کارونو چه دوئ ئ کوی

﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ ﴾ دا جواب د یو **سوال** دې چه الله جل جلاله دوئ نه صلاحیت د اوریدلو او د لیدلو واخستلو نو آیا دا ظلم ندې، **جواب** : دا ظلم ندې بلکه دا د دوئ د ظلم نتیجه ده ځکه چه دوئ په خپل ضد او عناد باندې کلك وواو په باطل باندې مصر ووسره د علم نه ، نو الله ﷻ ترې نه صلاحیتونه سلب کړل ﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ ﴾ دا تخویف اُخروی دې ،او عامل د یوم دپاره ، یا مقدر (اذكرهم) دې یا دا متعلق دې د روستو (يتعارفون) سره ﴿كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْٓا ﴾، دا جمله حال دې د ضمیر د هم نه په (يَحْشُرُهُمْ) کښې او اسم د (كَاَنْ) مقدر دې (اي كانهم لم يلبثوا ، اي يحشر هم مشبهين لم يلبث الا ساعة) یعنی الله ﷻ چه دوئ لره راجمع کړی د قیامت په ورځ اوحال به داوی چه دوئ ګمان کوی چه مونږپه دنیا کښې یا په عالم برزخ کښې د ورځې یو ساعت تیر کړې دې ، ځکه قانون دا دې چه کله په چا باندې ډیره سختی راشی نو د خوشحالئ وخت یا د لګې سختئ وخت ورته ډیر کم ښکاری ﴿يَتَعَارَفُوْنَ ﴾ مشرکان به یوبل پیژنی او سره د تعارف نه د یوبل مدد به نه شی کولې نوپه دې سره به غم او صدمه نوره هم زیاتیږی ځکه چه د آشنا سړی نه د نفع توقع وی ﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا ﴾ د دائمی خسارې سبب تکذیب د قیامت او د هدایت په لار باندې نه تلل دی ،﴿ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ ﴾ دا تسلی ده پیغمبر ﷺ ته اوتخویف دې منکرینو ته، مقصد دادې چه که ستا په زندګی کښې مونږ دوئ ته سزا ورکړو اوته ئ وه وینې اویا تالره مونږ وفات کړو برابره خبره ده چه بیا ورته سزا ورکړو په دنیا کښې یا ورنه کړو ، نو په هر حال کښې د دوئ راتلل مونږ ته دی ،او الله ﷻ د دوئ په اعمالو خبر دې نوپه قیامت کښې به ورته

سزاور کړی یعنې اصل ځای د سزا قیامت دی ، هلته به ورته کافی سزا ورکړې کیږي برابره خبره ده چه په دنیا کښې ورته سزا ورکړې شي یا نه .

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۚ فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ

او لپاره د هر امت رسول دی ، پس هرکله چه راشی دوئ ته رسول د دوئ نو فیصله وکړې شي په مینځ د دوئ کښې

بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۞ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۞

په انصاف سره او به دوئ به هیڅ ظلم نشی کولې واثی دوئ چه کله به وی دا وعده که یئ تاسې ریشتنی

قُل لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا

وه وایه ته چه زه اختیار نه لرم د خپل ځان لپاره د هیڅ ضرر دفع کولو اونه د نفعې حاصلولو لیکن هغه

شَاءَ اللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ

چه وغواړی الله تعالی (نو هغه کیږی) د هرې یوې ډلې لپاره میعاد دی پس هرکله چه راشی میعاد د دوئ

فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ۞ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَتَاكُمْ

پس نه روستو کیږی یو ساعت اونه دوئ مخکښې کیږی د خپل میعاد نه . وه وایه ، خبر راکړئ ما ته، که راشی تاسو ته

عَذَابُهُ بَيَاتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُونَ ۞ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ

عذاب د الله تعالی د شپې یا د ورځې نو څه څیز دی د عذاب نه چه زر ئ غواړی مجرمان، آیا بیا هرکله چه راشی عذاب

آمَنتُم بِهِ ۚ آلْآنَ وَقَدْ كُنتُم

نو تاسو به ایمان راوړئ پدی ، وه به ویلې شی چه آیا اوس ایمان راوړئ تاسو ، او به تحقیق سره وئ تاسو (مخکښې د دینه

بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ ۞ ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ

به تلوار سره مو طلب کولو (دا عذاب) بیا به وه ویلې شی ظالمانو ته. وخکئ عذاب د همیشوالی،

هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ۞ وَيَسْتَنبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ

نه شی درکیدلې تاسو ته بدله مګر د هغه عملونو چه تاسو به کول . او تپوس کوی دوئ ستا نه چه آیا حق دی دا عذاب؟

قُلْ	اِيْ	وَرَبِّيْٓ	اِنَّهٗ	لَحَقٌّ ؕ	وَمَآ	اَنْتُمْ	بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۳﴾
ووايه	هاؤ	قسم دې په رب ځما چه	بيشکه دا	خامخا حق دې	او نه يئ	تاسې	بچ کونکي خپل ځان لره

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ﴾ دا تحويف دنيوى دې يعنى دهرامت د پاره رسول مقرر شوي دالله ﷻ د طرف نه ، نو چه کله به نبى دغه قوم ته راغې او دوئ به انکار اوکړو نو په دوئ به دالله ﷻ د طرف نه عذاب راغي ، ﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ﴾ دا شکوه ده، مشرکينو دمکې به د ډير ضد د وجې نه نبى ﷺ نه د عذاب دجلدئ مطالبه کوله اوويل به ئ چه د کوم عذاب نه ته مونږ يروې نو هغه به کله راځي؟ ﴿قُل لَّا أَمْلِكُ﴾، دا جواب د شکوې دې . يعنى زه خپل ځان لره اختيار د نفع حاصلولو يا د ضرر دفع کولو نه لرم ، نو د عذاب د متعين تاريخ ماته څه پته ده ؟. البته دا خبره يقينى ده چه دمجرمانو د عذاب دپاره معينه نيټه مقرره ده چه د هغې نه مخکښ کيدې يا روستو کيدې نه شى ﴿إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ﴾ دا استثناء منقطع ده، يعنى الله ﷻ چه څه غواړى هغه کيږي ،﴿وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ دا عطف دې ، په معطوف عليه کښې ئ يوڅو اقوال دى . (۱) عطف دې په شرط باندې نو د ﴿إِذَا جَاءَ﴾ ماتحت نه دې بلکه د (لكل امة اجل) ماتحت دې يعنى د هرې ډلې د مجرمانو دپاره نيټه وى د عذاب چه دغه نيټې نه، نۀ مخکښ کيږي. او چه کله دغه نيټه راشى نو بيا نه روستو کيږى (۲) بعض وائى چه که دا عطف شى په جزاء باندې نو ذکر د (لايستقدمون) دپاره د مبالغې دې په تحديد اوپه تعين د وقت د عذاب کښې اوپه نفى د تاخرکښې لکه مثلا څوك چه دوكان دار نه دڅه څيز د قيمت تپوس كوى اوهغه ورته اوښائى نو اخستونكې ترې نه طلب دكمولو اوكړى نو دوكان دار وائى چه په دې كښې كمې بيشې نه كيږى نو ظاهره ده چه اخستونكې خو د كمى طلب كړې وو،او د زياتولو طلب ئې نه ووكړې نو د زياتى نفى د مبالغې دپاره ده، (۳) علامه زمخشرى وائى چه (لايستقدمون ساعة ولايستاخرون) كنايه ده د دې نه چه عذاب په خپل وقت راتلل يقينى دى ،او په كنايه كښې د لفظ حقيقى معنى نه وى مقصود، نو دلته هم د تقدم او تاخر نفى ،اثبات لره اعتبار نشته ،او (۴) حضرت شيخ ﷫ فرمائى چه جزا د شرط محذوفه ده (اي اذا جاء اجلهم يعذبون) يعنى چه نيټه دعذاب راشى نو دوئ ته به عذاب وركولې شى او بيا نه يو سيكنډ روستو كيږى او

نه مخکښ کيږي ﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ﴾ دا زجر او تخويف دې ، يعنی که د الله تعالی عذاب د شپې په وخت کښ راشي چه تاسو اوده يئ ، يا د ورځې راشي چه تاسو خپلو دنياوی دهندو کښ مشغوله يئ نو دا مجرمان چه د الله تعالی عذاب په جلدئ سره غواړی ، نو د دوئ به څه بچاؤ اوکړي ، هر کله چه بچاؤ نه شی کولې نو د عذاب په جلدې سره د راتلو مطالبه څه فائده نه لری ، په ﴿مَّاذَا يَسۡتَعۡجِلُ﴾ کښ مختلف توجيهات دی : (١) (ماذا) په معنی د (ای شئ) سره دې. ضمير د (منه) راجع دې (ماذا) ته، معنی داده چه څه تدبير دې د دفع د عذاب دپاره ،چه د هغې د وجې نه دامجرمان عذاب زرغواړی (٢) (ماذا) په معنی د (اي شئ) سره دې او استفهام دپاره د تعظيم دې او ضمير د (منه) راجع دې لفظ د الله ﷻ ته اومعنی دا شوه چه څومره عظيم شې دې چه دوئ ئ د الله ﷻ نه زر غواړي ، (٣) (ماذا) په معنی د (ای شئ) سره او (منه) ضمير راجع دې عذاب ته ، يعنی (ای شئ من العذاب) يعنی کوم يو قسم د عذاب دې چه د زر غوختلو دې ، دغذاب هيڅ قسم د غوختلو څيز نه دې بلکه د پناه غوختلو څيزدې ﴿أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓ﴾ دلته تقديم او تاخير دې (ای اذا وقع ثم امنتم) يعنی که دوئ دا تدبير اختيار کړی چه عذاب کله راشي نو دوئ به ايمان راوړی ﴿ءَآلۡـَٰٔنَ﴾ دلته (يقال لهم) مقدر دې يعنی ملائك به ورته اووايي چه آيا تاسو اوس ايمان راوړئ؟ او تر اوسه پورې خو تاسو عذاب زر غوختلو ، ﴿ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ﴾ دا تخويف اخروی دې ﴿وَيَسۡتَنۢبِـُٔونَكَ﴾ دا شکوه ده يعنی که دوئ ستا نه تپوس اوکړی چه آيا دا عذاب حق دې ،او ريشتيا دې ﴿قُلۡ إِي﴾ دا جواب دې د شکوی ، (ای) حرف ايجاب دې يعنی (هاؤ) حق دې او د تاکيد دپاره ورسره قسم ذکر کيږی ﴿وَرَبِّيٓ﴾ څما دې په خپل رب قسم وی چه حق دې ﴿بِمُعۡجِزِينَ﴾ بچ کونکي د عذاب نه خپل ځان لره.

وَلَوۡ أَنَّ لِكُلِّ نَفۡسٖ ظَلَمَتۡ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ لَٱفۡتَدَتۡ
اوکه شی لپاره دهغه نفس [1] چه ظلم (شرك) ئ کړيدې هر هغه څه چه په زمکه کښ دی خامخا به دې په خپله فديه کښ ورکړی

---

[1] . تخويف اخروی

بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ
هغه ، او پټ په زړه کښې به ولرې دوئ پښیمانی کله چه دوئ وه وینی عذاب، او فیصله به وکړې شی په مینځ د دوئ کښې
بِالْقِسْطِ وَ هُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝
په انصاف سره او په دوئ به هیڅ ظلم نشی کیدې

﴿وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ﴾ دا تخویف اخروی دې او د ظلم نه مراد کفر او شرك دې .مشرك به د قیامت په ورځ دا تمنی کوی چه که د دنیا دا ټول دولتونه .مال جواهر . څما سره شی نو دا ټول به څه په فدیه کښې ورکړم خو چه د عذاب نه خلاص شم ، لیکن داسې نشی کیدې ﴿وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ﴾ مشرك چه د قیامت عذاب اووینی نو په خپل شرك او بدواعمالو به ډیر نادم شی (اسروا) په معنی د اخفاء سره هم راځی اوپه معنی د اظهار سره هم راځی دلته دواړه اراده کولې شی ، مشرك به اول خپل ندامت پټ ساتی د پیغورنه د بچ کیدو دپاره لیکن بیا به بې اختیاره شی نو د ندامت اظهار به اوکړی ، چغې به کړی ، (یحسرتٰی علی ما فرطت من جنب الله) او (یاویلنا قد کنا في غفلة من هذا)، او مراد د پټولو او ظاهرولو د ندامت نه پټول او ظاهرول د آثارو د ندامت دی لکه ژړا ، فریاد ، خپل لاسونه چیچل وغیره ، ځکه چه ندامت په خپله د باطنی امورو نه دې نو هغه خو همیشه پټ دی، او دَ ﴿وَاَسَرُّوا﴾ دریمه معنی هم کړې شوې ده ، یعنی اخلاص یعنی دوئ به په اخلاص سره ندامت اوکړی په کفر او معصیت باندې .لیکن په دې وخت کښې ندامت نفع نه ورکوی .

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِنَّ
خبردار ! [1] بیشکه خاص الله تعالی لره دې اختیار دهغه څه چه په اسمانونو کښې دی او په زمکه کښې دی ، خبردار ! بیشکه
وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ
وعده د الله تعالی ریښتیا ده لیکن اکثر دخلقو نه، نه پوهیږی . خاص الله تعالی ژوندی کول کوی اومړه کول کوی

۱ . شپږم دلیل عقلی په توحید .

وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٥٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ

او خاص هغه ته به ورگرځولې شئ تاسو اې خلقو ! په تحقیق سره راغلې دې تاسوته نصیحت[1] دطرف درب ستاسو نه

وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾ قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ

اوشفاء دهغه مرضونوچه په سینوکښ دی، اوهدایت او رحمت لپاره د مؤمنانو. وه وایه په فضل د الله تعالی

وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا۟ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾

او په رحمت د هغه سره پس پدې دې خوشحاله شي خلق، دا ډیر غوره دې د هغه مال نه چه جمع کوی ئ دوئ

﴿أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ﴾ داشپږم عقلی دلیل دې په توحید باندې ،یعنی د زمکې او د اسمان دهرڅیز تصرف او اختیار د الله ﷻ په قدرت کښ دې ﴿هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ﴾ او داسې قادر، متصرف دې چه مرګ او ژوندد ده په قبضه کښ دې ﴿أَلَآ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ﴾ هر کله چه مالك او مختار دې ،نو په خپله وعده پوره کولو هم قادر دې، ﴿هُوَ يُحْىِۦ﴾ حيوة هغه درکړې دې او بيا به موت راولې او خپل ځان ته به تاسو راؤبلی ، اومومنانو ته به نیکه بدله ورکړی ،او منکرینو ته به سزا ورکړی .﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ﴾ دا ترغیب دې اتباع د قرآن ته ځکه اتباع د قرآن ذریعه د نجات ده د عذاب دائمی نه ، دلته د قرآن څلور صفات ذکرشوی دی : (۱) موعظة من ربکم ، (۲) شفاء الما فی الصدور ،(۳) وهدي ،(۴) ورحمة ، صاحب د روح المعانی د بعض محققینو نه نقل کړې دی چه په دې آیت کښ مراتبو د کمال د نفس انسانی ته اشاره ده ، نو ځوك چه تمسك بالقرآن اوکړی نو په دغه تمامو مراتبو به فائز شی : **اول** خپل ظاهر د نالائقه افعالو نه پاکول، دې ته اشاره ده په لفظ د ﴿مَّوْعِظَةٌ﴾ سره ،ځکه چه وعظ زجر عن المعاصی ته وائی ، **دویم** باطن د عقائدو فاسدؤ او ملکاتو ردی نه پاکول ، دې ته اشاره ده په ﴿وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ﴾ سره ، اودې دواړو مرتبو ته تخلی ویلې شي ، **دریم** نفس ښائسته کول په عقایدو حقو سره ،او په اخلاقو فاضلو سره ،او دې ته اشاره ده په ﴿وَهُدًى﴾ سره ، ځکه بغیر د ﴿وَهُدًى﴾ نه نفس نه

۱ - ترغیب الی القرآن.

خائسته كيږي ، خلورم د ظاهر او د باطن د درست كولو نه بعد په انوارو الهيو باندې فائز كيدل او د انواراتو او تجلياتو الهيو مستحق كرزيدل او دي ته اشاره ده په لفظ د ﴿وَرَحْمَةٌ﴾ سره ،او دې دواړو مراتبو ته تحلي ويلې شي ،او امام رازي رحمه الله وائي چه په دې كښې اشاره ده شريعت ،طريقت ،حقيقت ،نبوت ،خلافت ته ،څكه ﴿مَّوْعِظَةٌ﴾ اشاره ده تطهير د ظاهر ته او دا شريعت دې او ﴿وَشِفَآءٌ﴾ اشاره ده تطهير د ارواحو ته .د عقائدو فاسدو اخلاقو ذميمو نه او دا طريقت دې او ﴿وَهُدًى﴾ اشاره ده ظهور دحق ته په قلوبو د صديقينو كښې ،او دا حقيقت دې او ﴿وَرَحْمَةٌ﴾ اشاره ده رسيدلو د كمال اواشراق ته، حتى چه غير لره كامل كړي .او دا نبوت او خلافت دې

﴿بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ﴾ مجاهد او قتاده وائي (١) چه د فضل نه مراد قرآن دې او د «رَحْمَةٌ» نه مراد دادې چه مونږئې اهل د قرآن اوګرځولو (٢) او د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چه فضل د الله ﷻ اسلام دې او رحمة دالله ﷻ قرآن دې (٣) او بعض وائي چه فضل قرآن دې او رحمت سنت دې (٤) او چاويلى دى چه فضل اسلام دې او رحمة جنت دې ،او نشته دې منافات په دې اقوالو كښې، اودا جارمجرور متعلق دى د محذوف سره (اي ليفرحوا بفضل الله وبرحمته) ،او بيا جار مجرور مقدم شو دپاره دَ دلالت په حصر او اختصاص باندې ،او په ﴿فَلْيَفْرَحُوا﴾ باندې فاء جزائيه داخله شوه دپاره د دې چه په معنى د سببيت باندې دلالت اوكړى ، نو (بفضل الله وبرحمته فليفرحوا) ترې نه جوړ شو ، بيا په درميان كښې ﴿فَبِذَٰلِكَ﴾ راوړې شو ،د تاكيد دپاره او فاء په (فليفرحوا) كښې په قول د بعضو باندې زائده ده ،او بعض وائي چه ﴿فَبِذَٰلِكَ﴾ كښې فاء زائده ده ليكن راجحه داده چه يوه فاء هم زائده نه ده .بلكه فاء جزائيه ده او په كلام كښې تكرار دې د پاره د تاكيد، نو اصل طويل عبارت داسې شو (ان فرحوا بشئ فبذالك ليفرحوا ،فليفرحوا بذالك) نو د (فبذلك) دپاره جارمجرور عامل محذوف دې ،او د (ليفرحوا) دپاره معمول يعنى جار مجرور محذوف دې او (ذالك) اشاره ده مجموعې دَ فضل او رحمة ته. يعنى د خوشحاله كيدلو شئ صرف او صرف قران، سنت او جنت دې ،اللهم اجعلنا فرحين بفضلك ورحمتك يا ارحم الراحمين. ﴿مِّمَّا يَجْمَعُونَ﴾ نه مراد د دنيا هر رنګه مالونه ،عزتونه او ډګرئ دى

قُلْ اَرَءَیْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ
وه وايه ته آيا فكر كړيدې تاسو[1] چه هغه څه چه پيداكړيدی الله تعالى ستاسو دپاره څه رزق پس تاسوګرزوئ
مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ۝
بعضى دهغې نه حرام او بعضى حلال وه وايه ته : آيا الله تعالى اجازت كړيدې تاسوته يا په الله دروغ جوړوئ تاسو.
وَمَا ظَنُّ الَّذِیْنَ یَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ؕ
اوڅه ګمان دې[2] دهغه كسانو چه جوړوی په الله تعالى باندې دروغ، (چه څه به وكړې شی د دوئ سره) په ورځ د قيامت
اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَشْكُرُوْنَ ۝
، بيشكه الله تعالى خاوند د فضل دې په خلقو، ليكن ډير خلق شكر نه كوی.

﴿ قُلْ اَرَءَیْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ﴾ دا په توحيد باندې اووم دليل عقلى دې ، يعنى هر كله چه ثابته شوه چه د زمكې او د آسمان د هرڅه مالك صرف الله دې نو اوايئ چه تاسو په خپلې مرضئ سره د هر څه تحريم او تحليل ولې كوئ ، آيا الله ﷻ تاسو ته اجازت دركړې دې ، يا دا خپل فعل الله ﷻ ته منسوب كوئ ،او په الله ﷻ باندې افتراء كوئ ، مشركانو به په بعض اوقاتو كښې خپل مشركانه كارونه الله ﷻ ته منسوب كول ،اوويل به ئې (ان الله امرنا به)،﴿مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ نه مراد پيدا كول دى او تعبير په (انزل) سره څكه اوشو چه د بركاتو نزول اسمان ته منسوب كولې شى، او د رزق نه مراد فصلونه ،څاروی ،غله وغيره دى ، مشركانو به كله د خپلو معبودانو خوشحاله كولو دپاره فصلونه غلې مقرر كولې ، او كله به ئې حيوانات ، بحيره سائبه مقرر كول ،او د دې خوراك به ئې حرام ګڼړلو ، دا تحريمات د غيرالله دى ﴿ وَمَا ظَنُّ الَّذِیْنَ ﴾ دا تخويف دې ﴿یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ﴾ د ظَنُّ دپاره مفعول فيه دې يعنى د قيامت په باره كښې د افتراء كونكو څه خيال دې ، آيا د دوئ مواخذه به نه كيږی؟ .

۱ - اووم دليل عقلى په توحيد.

۲ - تخويف.

وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ
اونه ئې ته په یو حال کښې [۱] او نه لولې ته د الله تعالی د طرف نه څه قرآن. اونه کوئ تاسو څه کارونه
إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ ۚ وَمَا يَعْزُبُ
مګر یو مونږ په تاسو باندې حاضر ناظر، کله چه تاسو ورننوځی (شروع کوئ) په هغې کښې اونه شی پټیدې
عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرَ
د رب ستا نه په مقدار د زرې، په زمکه کښې اونه په آسمان کښې، اونه ډیر وړوکې دې دینه او نه لوئ
إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٦١﴾
مګر په کتاب ښکاره کښې دی.

﴿ وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ ﴾ او دا اتم دلیل عقلی دې په توحید باندې دپاره د نفی د شرک فی العلم او (شان) هغه کار او عمل ته ویلې شی چه معتنٰی بهِ او مهتم وی ﴿وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ﴾ شان عام وو ،او تلاوت د قران خاص او امتیازی علم دې ، نو دا تخصیص بعد التعمیم دې . او ضمیر د ﴿مِنْهُ﴾ ضمیر مبهم دې او ﴿مِنْ قُرْآنٍ﴾ ورله بیان دې ، یاضمیر د منه راجع دې لفظ دَ الله ﷻ ته او من ابتدائیه دې ،او ﴿مِنْ قُرْآنٍ﴾ کښې من تبعیضیه دې ،معنی داشوه چه نه لولې د الله ﷻ د طرف نه بعض قران ﴿وَلَا تَعْمَلُونَ﴾ دا تعمیم بعد التخصیص دې، یعنی ستا او ستا د تلاوت څه خصوصیت نشته ، بلکه تمام مخلوق چه هر قسم عمل کوی ﴿إِذْ تُفِيضُونَ﴾ کله چه تاسو په هغې کښې همه تن مصروف یئ نو الله ﷻ ستاسو دهر فعل نه او په هر وقت او هر مکان کښې باخبر او حاضر اوناظر دې ﴿وَمَا يَعْزُبُ﴾ دا بیا تعمیم بعد التخصیص دې ، یعنی صرف د بندګانو اعمال نه ، بلکه په زمکه او اسمان کښې هره هره ذره او د دې نه کم مقدارهم د الله ﷻ نه پټ نه دې ، بلکه دهغه په علم محیط او کتاب مبین کښې دی (ذره) هغه وړوکی جزء ته ویلې شی چه په نظر نه راځی مګر داچه په ضوء دشمس کښې په محاذات د سوری کښې

۱- اتم دلیل عقلی.

راشی نو هله ليدې شی ﴿أَصۡغَرَ﴾ صيغه د اسم تفضيل ده يعنی د ذرې نه ډير زيات وړوکې.
جزء چه تقسيم نه قبلوی ، (جز لايتجزي).

أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ۝ ٱلَّذِينَ
خبردار بيشکه دوستان د الله تعالى نه به وى هيڅ يره په دوئ باندې اونه به دوئ غمژن کيږی دا هغه کسان دی
ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ۝ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ
چه ايمان ئ راوړې دې اوخان ساتی د گناه نه د دوئ لپاره زيرې دې په ژوند دنيوی کښ او په آخرت کښ
لَا تَبۡدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ۝ وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ
نشته بدليدل کليمو (وعدو) د الله تعالى لره، هم دا کاميابى لويه ده اوغمژن دې نه کړی تا لره وينا د دوئ
إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝
بيشکه عزت د الله تعالى په اختيار کښ دې ټول، هغه هرڅه اوری او په هرڅه پوهه دې.

﴿أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ﴾ دا بشارت دې دالله ﷻ دوستانو ته، ابن کثير او نورو محققينو ليکلی دی چه د دې نه مراد نفی د خوف او د حزن اخروی ده ،او ډيرو مفسرينو په کښ تعميم کړې دې يعنی مراد نفی د خوف او حزن دنيوی او اخروی دواړه دی ، د اخروی خوف حزن نفی د اولياء نه خو ظاهره ده، او هرچه نفی دَ دنيوی خوف ، حزن ده نو د دې مطلب يا دا دې چه په دوئ باندې الله ﷻ داسې سخت تکليف او امتحانات نه راولی چه دوئ ته خوف، حزن لاحق شی. يا دا مطلب دې چه د دوئ زړونه د خپل الله ﷻ محبوب سره لگيدلی دی،نو که امتحانات تکاليف راشی نو د دوئ توجه ټوله خپل محبوب حقيقی ته وی ،او د هغه په انواراتو او تجلياتو کښ مستغرق او مست وی. نو د دنيا د هيڅ قسم حالاتو نه متاثرنه وی ،**شعر** :

نه شادي داد ساماني نه غم آورد نقصاني به پيش همت ماهر چه آمد بود مهماني

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ دا د اولياءالله نشانی او تعريف بيانول دی، يعنی ولی هغه دې چه دا دوه صفتونه او علامې پکښ موجودې وی : اول ايمان او دويم تقوىٰ يعنی ځان بچ کول دَ معاصيو او بدعاتو نه نو که د چا په عقيده کښ شبهه د شرک وی يا په معاصيو او بدعاتو

کښ مبتلا وی نو هغه ولی نه دې، روح المعانی د دوئ په حق ليکی چه (ليس له منها سوي الدعوي) اوعلامه شربينی ليکی : (فکل من کان باالشرع عليه اعتراض فهو مغرور مخادع ، وفی المظهری لَيْسَتْ علامة الولاية ما زعمت العوام من خرق العادة ولاعلم المغيبات فانها لاتوجب في کثير من اولياءالله تعالي وقد يوجد في غيرهم علي سبيل الاستدراج وقد قال الصوفية الکرامة حيضة الرجال يجب استارها) او ولی ته ولی ځکه ويلې شی چه ولی قرب ته وائی او په ايمان او تقوٰی سره الله ﷻ ته قرب بلا کيف راځی او په شرکياتو او معاصيو سره بُعد رازی نه قرب حضرت مولانا شبير احمد عثمانی ﷫ وائی چه د ايمان او د تقوی ډير مدارج او مراتب دی. نو چه کومه درجه ايمان اوتقوی په چا کښ موجوده وی نو په دغه درجه کښ به ولايت ورته هم حاصل وی ، نو هر مؤمن متقی د الله ﷻ ولی دې، ليکن په عرف کښ چه څه رنګه د لګ مال مالك (لکه لس شل روپئ) ته مالدار نشی ويلې ، اګر که د لغوی معنی په اعتبار سره مالدار دې ،نو دغه شان دلګ ايمان او تقوی خاوند ته په عرف کښ ولی نشی ويلې تر څو پورې چه يوه خاصه ممتازه درجه د تقوی ئ نه وی موندلې ، او په احاديثوکښ د هغوئ څه آثار اوعلامات ذکر شوی دی ، لکه په يو روايت کښ راغلی دی چه اولياء هغه خلق دی چه د دوئ په ليدلو سره الله ﷻ په ياد راځی او په يو روايت کښ د حضرت عمر ﷺ نه مذکور دی ، (هم قوم تحابوا في الله علي غير ارحام بينهم ولا اموال يتعاطون) يعنی اولياء هغه خلق دي چه د يو بل سره محبت صرف دالله ﷻ د وجې نه کوی، بغير د څه لالچ نه ، امام نووي ﷫ د امام ابوحنيفه ﷫ او امام شافعي ﷫ نه نقل کړی دی (اذا لم تکن العلماء اولياء لله فليس لله ولي) يعنی که علماء اولياء نه وی نو بيا به په مخ د زمکه هيڅ څوك ولی هم نه وی ، جاهلان اولياء نشی کيدې ﴿لَهُمُ الْبُشْرَىٰ﴾ اولياءالله ته د بشارت په دنيا کښ مختلف صورتونه دی : (١) په قرآن او حديث کښ په ايمان او اعمال صالحو د بشارت ذکر راغليدې ،(٢) په زنکدن کښ ورته فرشتې بشارت ورکوی ، (وابشرو بالجنة التي کنتم توعدون)، (٣) روياى صالحه، نيك او خائسته رشتينی خوبونه، لکه په حديث کښ دی (هي الرؤيا صالحه يراها المؤمن او تُرأى له) او په بل روايت کښ دی (ذهبتِ النبوة وبقيت المبشرات) په حديث د مسلم کښ دی چه يو سړې نيك عملونه کوی او نور خلق ئ تعريفونه په هغې سره کوی (تلك عاجل بشرٰی من الله) اوهرچه بشارت دې په آخرت کښ نو هغه دادې چه په قبر او حشر کښ به ورته فرشتې بشارت

وركوى د جنت ﴿لَا تَبْدِيلَ﴾ د الله ﷻ په خبرو كښ تبديل نشته ،كومه وعده ئ چه كړې ده نو هغه به خامخه پوره كيږي . ﴿وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ﴾ ، داتسلى ده نبى ﷺ ته يعنى د مشركانو د تكليف رسولونه او د توهين آميز اقوالو نه غمژن كيږه مه ځكه چه ﴿إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ﴾ يعنى عزت او ذلت د الله ﷻ په اختيار كښ دې او هغه ستا د عزت د دنيا او آخرت فيصله كړې ده ، اوهغه هرڅه اوورى او په هر څه پوهه دې.

أَلَآ	إِنَّ	لِلَّهِ	مَنْ	فِي	السَّمٰوٰتِ	وَمَنْ	فِي الْأَرْضِ ط

خبردار ! د الله تعالى په اختيار كښ دى هغه څوك چه په آسمانونو كښ دى او هر هغه څوك چه په زمكه كښ دى

وَمَا	يَتَّبِعُ	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ	مِنْ	دُوْنِ	اللهِ	شُرَكَآءَ ط

او تابعدارى نه كوى هغه كسان چه رابلى او عبادت كوى د ماسوى د الله تعالى نه د شركاؤ (حقيقة)

إِنْ يَّتَّبِعُوْنَ إِلَّا الظَّنَّ وَ إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُوْنَ ⑯

تابعدارى نه كوى دوئ مگر د گمان، اونه دى دوئ مگر اټكل كارونه كوى (دروغ وائى).

﴿أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي السَّمَٰوَٰتِ﴾ دا نهم دليل عقلى دې يعنى دا ټول انسانان، فرشتې او تمام مخلوق دالله ﷻ مملوك او محكوم دې ، او عاجز بندګان دى او په دوئ كښ هيڅوك هر څه اوريدونكې نشته نو د دې وجې نه د بلنې مستحق نه دى ﴿وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ﴾ دا زجر دې (الذين) موصول سره د صلى نه فاعل د (يَتَّبِعُ) دې او (شركاء) مفعول د (يتبع) دې او د (يدعون) مفعول محذوف دې چه (شُرَكَاء) دې مطلب دا شو چه كوم خلق ماسوا د الله ﷻ نه شركاء بلى او د هغوئ نه مرادونه مقصدونه غواړى نو دوئ په حقيقت كښ د شركاؤ اتباع نه كوى ، ځكه چه په حقيقت كښ خو شركاء نشته دى بلكه دوئ په حقيقت كښ د خپل ظن او وهم اتباع كوى په خپل ظن ، تخمين سره ، دالله ﷻ مخلوق د الله شريك ګرځوى .او د هغوئ عبادت كوى. او حاجتونه، مرادونه ترينه غواړى ، حالانكه په حقيقت كښ د الله ﷻ دپاره هيڅ څوك شريك نشته ، مشركان صرف په خپل ځانى اټكل پسې روان دى .

لِتَسْكُنُوا	الَّيْلَ	لَكُمُ	جَعَلَ	الَّذِيْ	هُوَ

خاص الله تعالی هغه ذات دي [1] چه گرځولې ئ دے ستاسو لپاره شپه (تیاره) د دې لپاره چه تاسو آرام وکړئ

فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ۞ قَالُوا

پدې کښې او گرځولې ئ دے ورځ رڼا ، بیشکه پدې کښې دلائل د توحید دی دپاره دهغه قوم چه خه آوری وائ دوئ

لَهٗ	ؕ	الْغَنِيُّ	هُوَ	ؕ	سُبْحٰنَهٗ	وَلَدًا	اللّٰهُ	اتَّخَذَ

چه نیولې دي [2] الله تعالی ځان لره خوې ، پاك دي الله تعالی د ولد نه هغه بې حاجته دي خاص هغه لره دی

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ؕ

هر هغه څه چه په آسمانونو کښې دی او هغه څه چه په زمکه کښې دی، نشته دې تاسو سره هیڅ دلیل پدې خبره باندې.

اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۞ قُلْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

آیا وایئ تاسو په الله تعالی هغه خبره چه نه پوهیږئ په هغې. ووایه ! بیشکه هغه کسان چه جوړوی په الله تعالی باندې

الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ۞ مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

دروغ، نه شی خلاصیدې د عذاب د الله تعالی نه. دوئ لره لږې مزې دی په دنیا کښې ، بیا مونږ ته را گرځیدل د دوئ دی

ثُمَّ نُذِيْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيْدَ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۞

بیا به وڅکوو دوئ ته عذاب سخت په سبب د هغې چه دوئ کفر کولو

﴿ هُوَ الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ ﴾ دا لسم دلیل عقلی دې په توحید باندې ، د (جعل لکم اليل) دپاره مفعول ثانی محذوف دې چه مظلمًا دې ،او د ﴿ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ﴾ دپاره علت حذف شوې دې چه (لتبتغوا من فضله) دې دمعطوف علیه په جانب کښې د علت ذکر قرینه ده د پاره د علت معطوف، او په جانب د معطوف کښې دمفعول ثانی ذکر قرینه ده دپاره دَ مفعول ثانی په

۱ - لسم دلیل عقلی.

۲ - شکوه، اوجواب ئ په پنځه وجوهاتو سره .

معطوف عليه کښ او دا ايجاز ، بلاعت دقران اعجاز دي ﴿ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ﴾ دا شکوه ده او تعبير په ﴿ اتَّخَذَ ﴾ سره دلالت کوی په دې چه دوئ خپل معبودانو لره حقيقی ولد نه دي ويلې بلکه پشان د ولد ئ ورته ويلی دی يعنی محبوبان ،او نازولی دی پشان د ولد. نو څکه ئ دوئ ته شفعاء ويلی دی .او همدارنګه لکه څنګه چه د پلار آثار او صفات په ځوئ کښ وی نو دغسې دالله ﷻ صفات د الوهيت زمونګ په دې معبودانو کښ شته. نو الله ﷻ د دوئ د دې قول رد په پنځه وجوهاتو سره کوی: (١) ﴿سُبۡحٰنَهٗ﴾ يعنی الله ﷻ پاك دې د عيب. او دَ اولاد نه ،(٢) ﴿هُوَ الۡغَنِيُّ﴾ ،الله ﷻ غنی دې اولاد ته ئ هيڅ ضرورت نشته دې

(٣) ﴿لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾ د ټولو اسمانو اختيار هم هغه سره دې دَ هيڅ کار اختيار ئ چاته نه دې حواله کړې، (۴) ﴿اِنۡ عِنۡدَكُمۡ﴾ ،تاسو سره په دې خپله خبره هيڅ دليل نشته بلکه دا باطله او بې دليله دعوٰی ده، (۵) ﴿اَتَقُوۡلُوۡنَ﴾ يعنی تاسو الله ﷻ ته داسې خبره منسوب کوئ چه هغه ستاسو په جهالت باندې مبنی ده ، ﴿ قُلۡ اِنَّ الَّذِيۡنَ ﴾ دا زجر او تخويف دې يعنی څوك چه داسې بی سنده خبرې الله ﷻ ته منسوب کوی نو هغه به هيڅ کله فلاح نه مومی ، اونه به د عذاب نه بچ شی ﴿ مَتَاعٌ فِي الدُّنۡيَا ﴾ يعنی د دنيا کاميابی متاع قليل دې اوپه حقيقت کښ او دالله ﷻ په نزد داکاميابی نه ده ، نو څکه ئ کفارو ته ورکړې ده : (لوكانت الدنيا عندالله تزن جناح بعوضة ماسقي الكافر منها شربة ماء) .

وَاتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَاَ نُوۡحٍ ۘ اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖ يٰقَوۡمِ اِنۡ كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُمۡ
او واوروه دوئ ته [١] حال د نوح کله چه ئ وه وئيل خپل قوم ته اې قومه څما ! که ګران وی په تاسو باندې
مَّقَامِيۡ وَتَذۡكِيۡرِيۡ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلۡتُ
ودريدل څما، او نصيحت کول څما تاسو ته په آياتونو د الله تعالی سره پس په الله تعالی باندې څما توکل دې
فَاَجۡمِعُوۡۤا اَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ اَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةً
نو پس تاسو ټول کلك کړئ تدبير خپل او راؤبلئ خپل شرکاء ، بيا دې نه وی تدبير ستاسو په تاسو باندې پټ،

١ - د تخويف دنيوی اوله تفصيلی نمونه.

ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۷۱﴾ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ
بيا تكليف راؤرسوئ ما ته او مهلت مه راكوئ ماته. پس كه تاسو مخ واړولو، نو ما ندې غوښتلې ستاسونه څه اُجرت
اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ وَ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَكَذَّبُوْهُ
ندې اجر ځما مگر په الله تعالى دې او ماته حكم شوې دې چه يم زه د منونكو نه پس دوئ تكذيب كولو د هغه
فَنَجَّيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ
نو بچ كړو مونږ هغه لره اوهغه چا لره چه د ده ملگرى وو په كشتئ كښ او وگرځول مونږ دوئ لره جانشين
وَ اَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۷۳﴾
په زمكه كښ او غرق كړه مونږ هغه كسان چه دروغ ئ گڼړل زمونږ آيتونه، پس وگوره چه څرنگه شو انجام د يرولو شوؤ

﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ﴾ دا دتخويف دنيوى اوله تفصيلى نمونه ده،يعنى حال د قوم د نوح ﷺ ته اوگورئ ،كله چه ئ زما دپيغمبر نافرمانى اوكړه او توحيد ئ قبول نه كړو نو مونږ هلاك كړل ، نو كه تاسو ئ هم نه منئ نو تاسوبه هم هلاك شئ ﴿كَبُرَ﴾ (اى شق وعظم) ﴿مَّقَامِيْ﴾ مقام په اصل كښ اسم مكان دې او دا كنايه ده د نفس نه ،يا مصدر ميمى دې په معنى د اقامت او لبث سره ، يعنى وخت تيرول ، ياترينه مراد قيام دپاره د دعوت او وعظ دې ،او ﴿وَتَذْكِيْرِيْ﴾ ورله عطف تفسير دې اوپه دې كښ اشاره ده چه هغه به دعوت او وعظ په ولاړې سره كولو،او دغه شان روايت دې چه عيسىٰ ﷺ به حوارينو ته وعظ په ولاړه باندې كولو،او دغه شان به نبى ﷺ اكثر وعظ په ولاړه باندې كولو،﴿فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ﴾ داجواب د شرط دې ، او دا عبارت دې د عدم مبالات او التفات نه (اي لا ابالي بكم) يعنى زه ستاسو هيڅ پروا نه كومه ، او نه ستاسونه خوف او يره كوم ،يا جواب د شرط محذوف دې ،او دا مذكور په هغې دال دې (اى ففعلو ماشئتم فلا ابالى بكم) يعنى كه په تاسو وعظ بد لگى نو چه تاسو څه كوئ نو هغه كوئ ، ځما پروانشته ،ځكه چې ځما توكل په الله ﷻ دې ﴿فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ﴾ داعطف دې په جواب د شرط يا دا جواب د شرط دې ،او مخكښ ﴿فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ﴾ داجمله معترضه ده ، په درميان كښ او اجماع اتفاق دآراء ته وائى يعنى تاسو ټول خپلې راى راجمع كړئ ،

يعنى كلك عزم اوكړئ په هغه امر او كار باندې چه تاسو ئ كوئ ماته د تكليف رارسولو په
باره كښ ، ﴿وَشُرَكَآءَكُمۡ﴾ واو په معنى د مع سره دې ، نودا مفعول معه دې يافعل محذوف دې
(اي وادعو شركائكم) يعنى راوغواړئ خپل شركاء ماته د تكليف رارسولو دپاره ﴿غُمَّةً﴾
يعنى تاسو چه ځما د هلاك او ايذاء څه تدبير كوئ نوڅرنګند ئى اوكړئ ځكه چه زه خو
ستاسو نه څه تيخته نه كوم نو پټ تدبير ته ضرورت نشته ، او دارنګه ښكاره تدبير د پټ
تدبير نه زر كاميابيږي ﴿ثُمَّ اقۡضُوٓا اِلَيَّ﴾ يعنى بيا ماته تكليف راؤرسوئ قضا په اصل كښ
دَين (قرض) وركولوته وائى ، نو څه رنګه چه قرض وركول ضرورى وى نو دغه رنګ په تاسو
دې ضرورى وى چه ماته ضرر راؤرسوئ، نودلته استعاره مكنيه او تخييليه ده ﴿فَاِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ﴾
يعنى كه تاسو ځما د نصيحت قبلولو نه مخ اړوئ نو ځما هم څه پرواه نشته ،ځكه چه زه
ستاسو نه څه اجرت او تنخوا نه غواړم، د حق د بيانولو دپاره مانع او ركاوټ دوه خبرې دى
يو يره او دويمه طمع ، نو حضرت نوح ﷺ د دواړو نفى اوكړه. ﴿فَكَذَّبُوۡهُ﴾ ماضى د استمرار د
پاره ده ، يعنى دوئ په تكذيب باندې مستمر وو ، نو دالله ﷻ د طرف نه پرې طوفان راغې ، او
ټول نافرمان خلق ئى هلاك شول،او نوح ﷺ ته الله ﷻ نجات وركړو﴿خَلٰٓئِفَ﴾ يعنى صرف د
نوح ﷺ اولاد په زمكه كښ آباد شو ،او د دې وجې نه نوح ﷺ ته آدم ثانى ويلې شى .

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوۡهُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ
بيا ليګلى وو مونږ [1] روستو دهغه نه ډير رسولان قومونو دهغوئ ته پس راوړل هغوئ دوئ ته ښكاره دليلونه،
فَمَا كَانُوۡا لِيُؤۡمِنُوۡا بِمَا كَذَّبُوۡا بِهٖ مِنۡ قَبۡلُ ؕ كَذٰلِكَ نَطۡبَعُ
پس نه وو هغوئ چه ايمان ئ راوړې وې په هغه خبره چه اول ئ ورته د دروغو نسبت كړې وو ، دغه شان مونږ مهر لګوو
عَلٰى قُلُوۡبِ الۡمُعۡتَدِيۡنَ ۝ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ مُّوۡسٰى وَ هٰرُوۡنَ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ
په زړونو د تجاوز كونكو باندې بيا وليګل مونږ روستو د دوئ نه [2] موسى اوهارون ، فرعون ته

۱ - د تخويف دنيوى اجمالى نمونه .
۲ - د تخويف دنيوى دويمه تفصيلى نمونه

وَمَلَاۡئِهٖ بِاٰیٰتِنَا فَاسۡتَکۡبَرُوۡا وَکَانُوۡا قَوۡمًا مُّجۡرِمِیۡنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ

او غټانو د قوم د هغه ته په معجزاتو زمونږ سره پس لوئی وکړه هغوئ او وو دوئ قوم مجرمان. پس هرکله چه راغی دوئ ته

الۡحَقُّ مِنۡ عِنۡدِنَا قَالُوۡۤا اِنَّ هٰذَا لَسِحۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۷۶﴾ قَالَ مُوۡسٰۤی اَتَقُوۡلُوۡنَ لِلۡحَقِّ

حق د طرف زمونږ نه وه وئیل دوئ یقینًا دا جادو ښکاره دی. وه ویل موسی ایا وایئ تاسو په باره د حق کښې

لَمَّا جَآءَکُمۡ ؕ اَسِحۡرٌ هٰذَا ؕ وَلَا یُفۡلِحُ السّٰحِرُوۡنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوۡۤا اَجِئۡتَنَا

هرکله چه راغې تاسو ته، آیا جادو دی دا، اونه شی کامیبدلې ساحران وه ویل دوئ آیا ته راغلې ئې مونږ ته

لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَیۡهِ اٰبَآءَنَا وَتَکُوۡنَ لَکُمَا

د دې لپاره چه ته واړوې مونږ د هغه طریقې نه چه موندلی دی مونږ په هغې باندې مشران خپل او شی دې تاسو دواړو لره

الۡکِبۡرِیَآءُ فِی الۡاَرۡضِ ؕ وَمَا نَحۡنُ لَکُمَا بِمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۷۸﴾ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ائۡتُوۡنِیۡ بِکُلِّ سٰحِرٍ عَلِیۡمٍ ﴿۷۹﴾

بادشاهی پدې زمکه کښې ، اونه یومونږ تاسو لره منونکی. او وه ویل فرعون چه را ولئ ما ته هر جادوګر ماهر

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَۃُ قَالَ لَهُمۡ مُّوۡسٰۤی اَلۡقُوۡا مَاۤ اَنۡتُمۡ مُّلۡقُوۡنَ ﴿۸۰﴾

پس هرکله چه راغلل ساحران نو وه ویل دوئ ته موسی وغورزوئ هغه شې چه تاسو غورزونکی یئ

فَلَمَّاۤ اَلۡقَوۡا قَالَ مُوۡسٰی مَا جِئۡتُمۡ بِهِ ۙ السِّحۡرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

پس هرکله چه دوئ وغورزول وه ویل موسی هغه چه راوړې دې تاسو هغه خو جادو دې، بیشکه الله تعالی به

سَیُبۡطِلُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُصۡلِحُ عَمَلَ الۡمُفۡسِدِیۡنَ ﴿۸۱﴾

زر ختم کړی اثر د دې، بیشکه الله تعالی نه کامیابوی عمل د مفسدانو.

﴿ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ رُسُلًا﴾ دا د تخویف دنیوی اجمالی نمونه ده ،یعنی د نوح ﷺ نه بعد الله ﷻ نور انبیاء کرام راولیګل خپلو قومونوته او هغوئ هم ضد شروع کړو، اوتکذیب ئې اوکړو

﴿بِمَا کَذَّبُوۡا بِهٖ مِنۡ قَبۡلُ﴾ د دینه مراد د شریعت تمام اصول، فروع دی چه پیغمبر خپل قوم ته راوړی وو، نودوئ د دغه احکاماتونه اول انکار اوکړو ، نو بیا چه به پیغمبر باربار پوره کول

نو دوئ به په انکار باندې کلك وو (بما) کښې باء سببيه ده يعنې په سبب د دې چه اول ئې انکار
کړې وو. نو بيا په انکار باندې کلك شو ، يا باء صله د (يؤمنو) ده ، او ضمير د (كذبوا) راجع
دې قوم د نوح ﷺ ته يعنې د کوم پيغام چه انکار قوم د نوح ﷺ کړې وونو دغه پيغام د منلو
دپاره روستني خلق هم تيار نه وو ، بلکه تکذيب ئې اوکړو ﴿كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ﴾ يعنې د ضد د وجې نه
الله ﷻ مهر جباريت لګوي .

﴿ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ ﴾ دادويمه تفصيلي نمونه د تخويف ده ﴿بِـَٔايَٰتِنَا﴾ نه نهه معجزې
مراد دی . ﴿قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا﴾ په دې کښې حذف دې (اي اتقولون
للحق لما جآءكم هو سحر ،اسحرهذا) يعنې تاسو حق ته وايئ چه دا سحر دې .آيا دا سحر دې
﴿وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ﴾ يعنې ساحران د نبي په مقابله کښې نه کاميابيږي ، لکه چه د حضرت
موسى ﷺ په مقابله کښې ساحران کامياب نشول بلکه سحر ئې ختم شو ، يا دا چه که ساحر د
نبوت دعوى اوکړي نو نه کاميابيږي ،ا و امر حارق للعادة موافق د دعوى سره د ده په لاس نه
ظاهريږي ،ځکه چه که ظاهر شي نو بيا خو اشتباه او التباس راځي د خلقو په مابين د نبي
صادق او ساحر کښې ، نو ددې وجې نه د الله ﷻ عادت کريمه دادې چه د کاذب په لاس امر
خارق للعادت چه موافق وي دهغه د دعوې سره نه ښکاره کوي .نو د ريشتيني نبي علامه
داده چه د ده په لاس ظهور د معجزاتو رازي ، نو د حضرت موسى ﷺ معجزات د ده د
صداقت دليل دې، ﴿ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا ﴾ داد فرعون او د هغه دقوم د غټانو دويم الزام دې ، اول
الزام د دوئ دا ووچه ته ساحر ئې ، نوچه موسى ﷺ ورته جواب ورکړو نو دوئ الزام ولګولو
چه ته زمونږ د آباؤ. اجدادو نه مخالف ئې او په حکومت باندې قبضه کول غواړې ، ستا د دې
تحريك مقصد صرف دادې چه د مصر په بادشاهئ باندې قبضه اوکړې ، يعنې نوم د اسلام او
د مذهب اخلې او مطلب دې اقتدار دې ، لکه په دې زمانه کښې خلق د علماؤ په شان کښې هم
دغه شان خبرې کوي ﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ﴾ فرعون په موسى ﷺ باندې دا الزام اولګولو چه موسى
ﷺ په حکومت باندې قبضه کول غواړي ،او معجزو ته ئې سحر اوويلو ،او د ده په مقابله کښې
ئې لوئ لوئ جادوګران جمع کړل اواو حکم ئې اوکړو چه د ټول مملکت خلق دې حاضر شي چه
اووينې چه (معاذالله) موسى ﷺ جادوګر دې ، ﴿أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ﴾ سوال واريديږي چه القاء

: سحر خو حرامه ده او بیا خصوصاً د پیغمبر په مقابله کښې، نو موسی ﷺ د دې امر څنګه اوکړو ، دا خوامر بالباطل دې ، جواب دادې چه دا تخییر د احد الشقین دې .ځکه چه دوئ ویلی وو ،(اما ان تلقي واما ان نکون نحن الملقین) نو داَلقو معنی داده چه القو اولاً، ﴿مَا جِئْتُم بِهِ السِّحْرُ﴾ ماموصوله ده (جئتم به) ئ صله ده ،او موصول سره د صلې نه مبتدا ده او ﴿السِّحْرُ﴾ ورله خبر دې یا (ما) په معنی د (ای شئ) سره مبتدا ده ،او ﴿مَا جِئْتُم بِهِ﴾ ورله خبر دې او ﴿السِّحْرُ﴾ په حذف دهمزه استفهامی سره دې ،(ای ءَالسحر) اودا بدل د (ما) نه دې ﴿سَيُبْطِلُهُ﴾ یعنی اثر به ئ ختم کړی ﴿لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ﴾ یعنی عمل د مفسدانو په مقابله د پیغمبر کښې نه کامیابیږی (وفی القرطبی عن ابن عباس ﷺ من اخذ مضجعه ثم تلا هذه الأیه لم یضره کید الساحر ولاتکتب علی مسحور الارفع عنه السحر) . یعنی څوك چه دَ اُوده کیدلو په وخت کښې دا آیت تلاوت کړی نو ده ته به هیڅ سحر ضرر نه ورکوی، اوچه په چا سحر شوې وی ، هغه ته اولیکلې شی نو دَ سحر اثر به ترینه لرې شی .

وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۞ فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى
او ښکاره کوی الله تعالی حق لره په خپل حکم سره اګر که بد ګڼړی مجرمان پس ایمان را نه وړو په موسی
اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ
مګر یو څو ځوانانو د قوم د ده نه، سره د یرې نه د فرعون نه او د غټانو د قوم د هغوئ نه. چه سزا به ورکړی دوئ ته
وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ۞ وَقَالَ مُوْسٰى
او بیشکه فرعون سرکش وؤ په زمکه کښې او بیشکه دې خامخا د حد نه د تجاوز کونکو نه وؤ . او وه ویل موسی
يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ۞
چه اې خما قومه ! که یئ تاسو ایمان مو راوړې وی په الله تعالی باندې نو خاص په هغه توکل کوئ که یئ تاسو حکم منونکی
فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۞
پس وه ویل دوئ خاص په الله تعالی باندې زمونږ توکل دې ، اې ربه زمونږ مه ګرځوه مونږ ځائ د عذاب د قوم ظالمانو لپاره

وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ

اوبچ کړې مونږ په رحمت او فضل خپل سره د قوم کافرانو نه. او وحی وکړه مونږ موسی ته او رور د هغه ته

اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً

چه اُسوئ تاسو دواړه قوم خپل لره په مصر کښې په کورونو کښې، او جوړ کړئ کورونه خپل قبلې ته مخ،

وَّ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٧﴾

او پابندی کړئ د مونځ، او زیرې ورکړه مؤمنانو ته (د کامیابئ).

﴿وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ﴾ یعنی الله ﷻ حق لره غلبه ورکوی په خپلو وعدو سره ﴿اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ﴾ د ابن عباس ؓ نه روایت دې چه (ذرية) په معنی د (قَلِيْلٌ) سره دې چه کمزورې وی، برابره خبره ده چه ماشومان وی یا ځوانان یا بُداګان وی ، نارینه وی یا زنانه او ضمیر راجع دې فرعون ته یعنی لګ کسانو ایمان راوړې وو، د قوم د فرعون نه ، لکه آسیه ؓ ماشطه او مؤمن د آل فرعون یا (ذرية) په معنی د نوجوانانو سره دې ،او ضمیر کښې دوه احتماله دی : یو دا چه راجع شی فرعون ته او بل دا چه راجع شی موسی ؑ ته ، یعنی لګ نوجوانانو د بنی اسرائیلو نه ایمان راوړې وو په اول کښې بیا روستو زیات شو، هرکله چه موسی ؑ بنی اسرائلو ته دعوت ورکړو نو مشرانو د خوف د وجې نه ایمان نه راوړو ،او ځو ځوانانو ایمان راوړو ، ﴿عَلٰى خَوْفٍ﴾ ای مع خوف من فرعون وملائهم ، ضمیر د جمع (۱) یا راجع دې فرعون ته ،او د عظماؤ او کبراؤ دپاره ضمیر د جمع ذکر کیدې شی ،اګر که تعظیم ئې نه وی قصد کړې شوې ، (۲) یا دا ضمیر راجع دې ،آل د فرعون ته ،او آل یا مقدر دې یا د فرعون نه آل فرعون مراد دې ، لکه ویلې شی ربیعه ،مضر (۳) یا دا ضمیر راجع دې (ذرية) ته یا قومِهٖ ته معنی دا شوه چه دې لګ کسانو چه ایمان راوړې وو، نو سره د خوف د فرعون نه ،او د غټانو د بنی اسرائلو نه ځکه چه غټانو دوئ لره منع کول د ایمان نه د وجې د خوف د فرعون نه یا سره د خوف نه د غټانو د قبطیانو نه ،ځکه چې دې غټانو د فرعون حمایت کولو ﴿اَنْ يَّفْتِنَهُمْ﴾ دا بدل الاشتمال دې ، د ﴿عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ﴾ نه او د فتنې نه مراد عذاب او بلا ده، یعنی دې لګ کسانو یا نوجوانانو ایمان په داسې حالت کښې راوړې وو چه د فرعون او د غټانو نه یریدل چه مونږ ته به

سزا راکړی ، ځکه چه فرعون ﴿لَعَالٍ﴾ زورور وو، په زمکه د مصر کښې ﴿ٱلْمُسْرِفِينَ﴾ او په ظلم کښې ئ د حد نه تجاوز کړې وو، یعنی بې حده زیات ظالم وو﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ ﴾ موسی ؑ چه هر کله د دوئ خوف اولیدلو نو د تسلی دپاره ئ ورته اووئیل چه غم، فکر مه کوئ او په الله ﷻ باندې توکل کوئ ﴿إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ﴾ د دې شرط د پاره جزا مقدره ده (اي فاصبروا واتبعوا) یا د دې شرط دپاره جزا (فتوکلو) دې، نو پدې آیت کښې ئ ایمان او اسلام دواړه جمع کړل ، ایمان صفت د زړه دې او اسلام ظاهری اعمال او تابعداری ده ، نو د دې آیت نه معلومه شوه ،چه د ایمان او د اسلام کمال په توکل کولو سره راځی نو بنی اسرائیلو د خپل توکل علی الله اظهار اوکړو او دعاء ئ اوکړه ،﴿رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً﴾ اي موضع فتنة و عذاب ، یعنی د کافرانو د عذاب ځائ مونږ مه ګرځوه ،ځکه چه دوئ مونږ له عذاب راکوی ، بیا نور خلق په فتنه کښې واقع کیږي ، او وائی به چه دوئ کچرته په حق وې ، نو دا عذابونه به پری نه راتلل،﴿أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا﴾ جمهور مفسرین د دې مطلب دا بیانوی ، چه الله ﷻ وحی رالیږله موسی ؑ ته او هٰرون ؑ ته چه ستاسو قوم دې په مصر کښې په خپلو کورونو کښې برقرار اوسیږی ،او د فرعون د خوف د وجې نه دې خپل کورونه، نه پریږدی اوهجرت دې نه کوي (تبوء) اتخاذ د مباءت یعنی منزل ته وائی نو ﴿تَبَوَّءَا﴾ په معنی د لزوم او برقرار پاتې کیدلو سره په منزل کښې دې ،او حضرت شاه عبدالقادر ؒ د دې دا معنی کوی ، چه خپل کورونه د آبادئ د فرعونیانو نه جدا کړئ ، ددې دپاره چه کوم وخت په هغوئ عذاب راشی نو تاسو به بچ یئ ﴿وَٱجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً﴾ قبله په معنی د مصلی (جائ نماز) سره ده ، دبنی اسرائیلو دپاره مونځ په مسجد کښې کول ضروری وو، لیکن فرعون دوئ ډیرتنګ کړل ،او مونځ کولوته ئ نه پریخودل ،او جماتونه ئ ورله وران ویجاړ کړل ، نو دوئ ته رخصت ورکړې شو چه مونځونه په کورونو کښې کوئ ، لیکن په کورونو کښې خاص مکان دمونځونو دپاره مقررکړئ ، د امت محمدی خصوصیت دادې چه په مسجد کښې او د کورونو په هره حصه کښې او په هر پاک مکان کښې ئ مونځ جائز او صحیح دې او د مخکنو امتونو دپاره مونځ په مسجد کښې کول لازمی وو، لیکن بنی اسرائیلوته د عذر په وجه اجازت ورکړې شو چه په کورونو کښې مونځ کوئ ﴿وَأَقِيمُوا ٱلصَّلَوٰةَ﴾ یعنی په مساجدو کښې حاضری ضروری نه ده لیکن پابندی د مونځ

ضروری ده ،او هر کله چه په مونځ سره مصیبتونه دفع کیږی نو خکه ئ اوفرمائل چه ﴿وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ يعني زيرې ورکړه مومنانو ته چه عنقريب به مصيبتونه ختم شی . نو په ﴿وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ﴾ کښ ئ تدبير د نجات اوخودو ،او په (بشر)کښ ئ وعده د نجات اوکړه

وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً وَّاَمْوَالًا

او وه ويل موسى اې ربه زمونږ ! بيشکه تا ورکړيدي دي فرعون ته او غټانو د قوم دهغه ته ښائست او مالونه

فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ۚ رَبَّنَا اطْمِسْ

په ژوند د دنيا کښ ، اې ربه زمونږ ! انجام ئ دا شو چه واړوی خلق ستا د لارې نه . اې ربه زمونږ هلاکت راولې

عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۞

په مالونو د دوئ او سختي راولې په زړونو د دوئ چه پس دوئ ايمان رانه وړى تر دې پورې چه وه وينى عذاب دردناك

قَالَ قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيْمَا

وفرمايل الله تعالى چه په تحقيق سره قبوله شوه دعا ستاسو دواړو پس کلك شئ په خپله طريقه (تبليغ)

وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞

او تابعداری مه کوئ د لارې دهغه کسانو چه نه پوهيږی .

﴿وَقَالَ مُوْسٰى﴾ موسى ﷺ فرعونيانو ته بددعا کول شروع کړل ،چه يا الله تاخو دوئ ته موجب د زينت لباس، سورلئ، عمده مکانات او مالونه ورکړی دی ، ليکن دوئ د دې څه شکريه ادا نه کړه بلکه دوئ په خپله هم گمراه دی ، او نور خلق هم د حق نه اړوی په ﴿لِيُضِلُّوْا﴾ کښ لام د عاقبت دې ﴿رَبَّنَا اطْمِسْ﴾ يا ربه ! د دوئ مالونه، روپئ اشرفئ او فصلونه هلاك او بيکاره کړې . نو په بعضو روایاتو کښ دی چه د دوئ څيزونه کاڼړی گتې شول ،﴿وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾ او يا ربه ! د دوئ زړونه سخت کړې چه ايمان رانه وړی ﴿فَلَا يُؤْمِنُوْا﴾ داعطف يا په (ليضلوا) دې او مقصود اظهار د حسرت دې ، يعنی يا الله دوئ خو ايمان نه راوړی ترڅو چه عذاب اونه وينی ، يا دا جواب امر دې چه (واشدد) دې ، يعنی يا ربه ! د دوئ زړونه داسې سخت کړې چه ايمان رانه وړی ، **سوال** واردیږي چه موسى ﷺ مبعوث وود هدايت دپاره نو

بیا څه رنګه سوال کوی چه یا الله د دوئ زړونه سخت کړې چه ایمان رانه وړی . **جواب** (۱)
حضرت موسی علیه السلام ته د تجربې نه او دا رنګه په وحی سره معلومه شوې وه .چه دوئ ازلی
بدبختان دی .او هدایت ئ په قسمت کښې نشته . نوځکه ئ دغه بد دعا اوکړه . لکه د ابلیس
په باره کښې (لعنة الله) او د ابوجهل په باره کښې (لعنة الله علیه) ویلې شی. جواب (۲) . حضرت
شاه عبدالقادر رحمه الله وائی چه د دوئ نه د ریشتینی ایمان راوړلو توقوع نه وه لیکن چه کله به
آفت راغې ، نو دوئ به وې چه مونږ ایمان راوړو ، نو چه عذاب اوآفت به دفع شو نو بیا به ئ
سرکشی کوله ، نو دا دعا دې دپاره وه چه دوئ دا لساني ایمان هم را نه وړی . او فیصله کن
عذاب پرې راشی ﴿دَّعْوَتُكُمَا﴾ تثنیه ځکه راغله چه موسی علیه السلام دعا کوله او هرون علیه السلام امین
ویل نو دې هم داعی شو ، ﴿فَٱسْتَقِيمَا﴾ یعنی په عمل دعوت او تبلیغ باندې قائم شئ او دا
خیال مه کوئ چه د فرعونیانو فیصله خو شوې ده نو دعوت ورته څه فائده نه رسوی ، لهذا
دعوت او تبلیغ نه چُهتی شوه ﴿وَلَا تَتَّبِعَآنِّ﴾ دا عطف دې په (فاستقیما) باندې او دا صیغه د
نهی ده یعنی دهغه خلقو په لاره مه ځئ چه هغوئ نه پوهیږی .او استعجال جلتی کوی په
قبولیت د دعا کښې ځکه چه کله دعا قبوله شوې وی لیکن اثر ئ روستو ظاهرېږي . ابن جریج
ویلی دی چه فرعون د دې نه روستو ځلویښت کاله تیر کړی وو.یعنی د ځلویښت کالونه
روستو د دعا اثر ښکاره شو.

وَجَٰوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُۥ بَغْيًا وَعَدْوًا ۖ
او پورې ویستل مونږ بنی اسرائیل د دریاب نه پس ورپسې روان شو فرعون او لښکر د هغه په ظلم او زیاتی سره
حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدْرَكَهُ ٱلْغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ
ترهغې پورې چه کله را ګیر کړو ده لره غرقیدلو نو وې ویل چه ما ایمان راوړو پدې خبره چه نشته دې حقدار د عبادت
إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ۝
مګر هغه ذات ئې چه ایمان راوړې دې په هغه باندې بنی اسرائیلو. او زه یم د فرمان بردارو نه.
ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ۝
«وه ویلې شو چه» آیا اوس ایمان راوړې او حال دا چه نافرمان وې ته مخکښې د دینه او وې ته د فساد کونکو نه

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ وَ اِنَّ
پس نن پورته راغورزوم بدن ستا، د دې لپاره چه شې ته د روستو خلقو لپاره نښه د عبرت، او بیشکه
كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ۟
ډیر د خلقو نه زمونږ د آیتونو نه غافل دی.

﴿ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ ﴾ دا د بنی اسرائیلو د نجات او د فرعون د هلاکت ذکر دې، موسی ﷺ چه دبنی اسرائیلو سره د مصر نه روان شو نوفرعون خبر شو، نودې هم د خپلو لښکرو سره هلته اورسیدو، نو بنی اسرائیل ډیر پریشان شول، موسی ﷺ دوئ ته تسلی ورکوله او د الله ﷻ په حکم باندې ئ دریاب په عصا باندې اووهلو ،نو دولس خشکې لارې په کښې جوړې شوې ،او بنی اسرائیل پورې وتل چه فرعونیانو دا وچې لارې اولیدلې ، نودوئ هم د خپلو سورلو سره داخل شول، نو چه د دریاب مینځ ته اورسیدل نو الله ﷻ اوبو ته حکم اوکړو چه جاری شئ ، پس فرعون د خپل لښکر سره غرق شو﴿ بَغْيًا وَّعَدْوًا ﴾ بغی ظلم ته وائ، او عدوًا زیاتی ته وائ او دا دواړه منصوب بنا بر حالیت دی په تاویل د اسم فاعل سره ،اې باغین وعادین .

﴿ حَتّٰٓى اِذَآ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ ﴾ أدرَكَ په معنې د لحِقَ یا أحاطَ سره دې، د فرعون غرقیدل چه شروع شول نو دې ګبراؤشو ،او دایمان اقرار او اظهار ئ اوکړو، په درې قسمه عبارتونو سره اول ﴿ اٰمَنْتُ ﴾ ، دوېم ﴿ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ ﴾ او درېم ﴿ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴾ لیکن د ده توبه او ایمان قبول نشول او غرق شو، تاریخ د غرقیدوئ لسم د محرم وو، ‹او ددې آیتونو تفسیر په یولسم محرم (۱۴۳۰) لیکلې شوې دې›، (وفقنا الله لاتمامه وتقبله الله بفضله العظیم).

سوال : واریدیږی چه فرعون درې ځله اظهار د ایمان اوکړو نو په څه سبب سره د ده ایمان قبول نه شو ،**جواب** : علماؤ ډیر وجوهات ذکر کړی دی ، په هغې کښې زیاته قوی وجه داده چه په وقت د قبض کیدلو د روح کښې او په وخت د معائنې د عذاب کښې او د لیدلو دعالم غیب کښې ایمان راوړل نه قبلیږی او توبه نه قبلیږی ، دیته ایمان د غرغرې یا ایمان د یاس، یا ایمان د باس ویلې شی، لکه په سورة حٰم مؤمن،(ع۹) کښې دی ،(فلم یك ینفعهم لما راءوا باسنا) ،
دویم جواب دادې چه د فرعون غرض ایمان راوړل او اقرار د وحدانیت دالله ﷻ نه وو ، بلکه

مقصود ئ د موجوده عقوبت لرې کول وو ، لکه دا طریقه د ده مخکښې معمول وو. **دریم جواب** دادې چه دلته اګر که د الله ﷻ د وحدانیت د اقرار ذکر راغلیدې لیکن د موسی ﷺ د رسالت اقرار نه دې راغلې ، او دلته د توحید اقرار یواځې کافی نه دې د پاره دایمان ، نو که یو کافر (لااله الاالله) اقرار د زړه نه کوی لیکن چه (محمد الرسول الله) اقرار نه کوی نوهغه مسلمان نه شی کیدې ﴿ ءَآلْـَٔـٰنَ ﴾ استفهام دپاره د توبیخ دې ،او دا ظرف متعلق دې د محذوف مؤخر سره (اي الأن تؤمن) اوقیل دلته مقدردې (ای قیل له) او قائل د دې یا الله دې په واسطه د ملك سره یا میکائیل ﷺ دې یا جبرائیل ﷺ دې ، لکه د حدیث د ترمذی نه معلومیږي چه قائل جبرائیل ﷺ دې ، فرعون چه کله اویل ﴿ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا ٱلَّذِىٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓا۟ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ نو جبرائیل ﷺ خټه راواخسته او د فرعون په خُله کښې ئ او ویشتله او وې وئیل چه ﴿ ءَآلْـَٔـٰنَ ﴾ داد دې دپاره چه دالله ﷻ رحمت ورته راؤنه رسیږی، نو **سوال** واردیږی چه په دغه حال کښې به یا د ده توبه قبلیږي یانه، نوکه نه قبلیږي نو فائده نشته دې په خُله کښې په خټه ویشتلو سره ،اوکه قبلیږي نو ولې ئ منع کوی د توبې نه ، **جواب** دادې چه جبرائیل ﷺ د خپل طرف نه څه کارنه کوی بلکه هرڅه په امر او مشیت دَ الله سره کوی ، د دې آیت او د حدیث واضحه نه معلومه شوه ،چه د فرعون ایمان نه دې قبول ، شیخ عبدالوهاب شعرانی مشهور صوفی او صاحب د کشف دې ، لیکن د ده د بدنام کولو دپاره بعض ملحدینو د ده په کتابونو کښې عبارتونه د خپل طرف نه لګولی دی ،چنانچه د ده په کتاب ، فتوحات ، کښې بعض ملحدینو داسې عبارات درج کړې دې چه ماته په کشف سره معلومه شوې ده چه د فرعون توبه قبوله شوې ده ،اونجات ورته حاصل شوې دې، او حضرت مولانا شبیر احمد عثمانې ﷫ وائ چه د فتوحات صحیحه او معتمده نسخه ماسره شته په هغې کښې د دې عبارت نوم نشان نشته دې .

﴿ فَٱلْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ ﴾ په روایت کښې راغلی دی چه د بنی اسرائلو شك وو په غرقیدلو د فرعون کښې نو الله ﷻ دریاب ته حکم اوکړو نو دریاب دې په یوې چپې سره باهر راؤغرزولو، نو ددوئ شك ختم شو(ننجی) د نجات یا د نجونه ماخوذ دې نو معنی داشوه چه دده بدن ته بغیر د روح نه مونږ نجات ورکړو ، لکه څرنګه چې د ده ایمان بې فائدې شو نو دغه رنګ د ده بغیر د روح نه د بدن نجات هم بې فائدې شو (نجوه) بلند مکان ته وائ نو بیا معنی داشوه چه

ستا بدن مونږ اُوچت مکان ته راوغرزوُ چه بنی اسرائیل دې او وینی، او بله معنی ئ داهم کړې شوې ده چه (نخرجك من البحر عريانا من غير لباس) یعنی ستا بدن د دریاب نه بربنډ راوباسو

وَلَقَدۡ بَوَّاۡنَا بَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ مُبَوَّاَ صِدۡقٍ وَّرَزَقۡنٰهُمۡ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ‌ۚ
او په تحقیق سره ځائ ورکړې وو مونږ بنی اسرائیلو ته ځائ مزیدار او رزق ورکړې وو مونږ دوئ ته د پاکو څیزونو نه
فَمَا اخۡتَلَفُوۡا حَتّٰى جَآءَهُمُ الۡعِلۡمُ‌ؕ اِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِىۡ
پس اختلاف نه وو کړې دوئ په توحید کښې تر هغې چه راغې دوئ ته علم، بیشکه رب ستا به عملی فیصله وکړی
بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا كَانُوۡا فِيۡهِ يَخۡتَلِفُوۡنَ‏ ۞ فَاِنۡ كُنۡتَ فِىۡ شَكٍّ
په مینځ د دوئ کښې په ورځ د قیامت په هغه څیز کښې چه دوئ په هغې کښې اختلاف کوی. پس که ئ ته په شك کښې
مِّمَّاۤ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكَ فَسۡـئَلِ الَّذِيۡنَ يَقۡرَءُوۡنَ الۡكِتٰبَ مِنۡ قَبۡلِكَ‌ۚ
د هغه نه چه رالیږلې دې مونږ تا ته پس تپوس وکړه د هغه کسانو نه چه لوستې ئ وی کتاب مخکښې ستا نه (حق پرست علماء)
لَقَدۡ جَآءَكَ الۡحَـقُّ مِنۡ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُمۡتَرِيۡنَ ۙ‏ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الَّذِيۡنَ
په تحقیق سره راغلیدې تا ته حق د طرف د رب ستا نه، پس مه کیږه ته د شك کونکو نه او مه کیږه د هغه کسانونه
كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوۡنَ مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ‏ ۞
چه دروغ گڼړی آیاتونه د الله تعالی، کنې پس شې به ته د تاوانیانونه

﴿ وَلَقَدۡ بَوَّاۡنَا بَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ ﴾ په دې آیت کښې د بنی اسرائیلو حال بیانیږی ، روستو د هلاکت د فرعون نه او په دوئ باندې د انعاماتو ذکر او د دوئ د ناشکرئ بیان دې. الله ﷻ په دوئ باندې دا انعام اوکړو چه خه خائسته مکان ئ ورته ورکړو ﴿ مُبَوَّاَ صِدۡقٍ ﴾ زمکه د مصر او دشام مراد ده . فرعون چه هلاك شو نو په مصر باندې بنی اسرائیل قابض شو او بیا ورته الله جل جلاله په عمالقو باندې فتح او غلبه ورکړه ،او په زمکه د شام قابض شو(مبوا) په معنی د مکان سره دې او صدق په معنی د حسن سره دې ،او دویم انعام پرې الله ﷻ دا اوکړو چه ډیر عمده او مزیدار رزق الله ﷻ ورکړو، په مصر کښې باغونه چینې او په شام کښې عمده میوه

جات وو ، ﴿فَمَا ٱخۡتَلَفُوا۟ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ﴾ يعني بنی اسرائیلوته الله ﷻ د مادی انعام سره روحانی انعام هم ورکړو چه تورات ئ ورته ورکړو ، په هغې کښې د عقائدو او د اصولو فروعو مکمل بیان وو ، او د نبی آخرالزمان ﷺ دنبوت واضح بیان په کښې وو ، د دې واضح حقائقو د علم نه بعد مناسب داوه چه دوئ اختلاف نه وې کړې ، لیکن دوئ باوجود د علم نه اختلاف اوکړو ، بعضوپه حیلو کولو سره داحکاماتو د تورات نه خلاف اوکړو ،او بعضې د فانی دنیا د حصول دپاره پکښې تحریف اوکړو او بعضو د نبی ﷺ تکذیب اوکړو ،حالانکه د نبی آخرالزمان ﷺ د راتلو دمخکښې نه دوئ منتظر وو چه کله به نبی آخر الزمان رازی ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي﴾ دا تخویف اخروی دې او د (يقضى) نه مراد عملی فیصله ده ﴿فَإِن كُنتَ فِي شَكّٖ﴾ دا زجردې او په دې آیت کښې متعدد توجیهات دی (۱) دا خطاب نبی ﷺ ته دې لیکن کلمه دا (انّ) دلالت نه کوی په وقوع باندې بلکه په محالاتو باندې هم داخلیږي لکه (ان كان للرحمٰن ولد) او د دې وجې نه د دې آیت د نزول نه بعد نبی ﷺ اوفرمائل چه (لا اشك ولااسئل) نو د دې قسم خطاب مقصد دادې چه مخاطب تصریح اوکړی په جواب حق باندې لکه عیسٰی ﷺ ته به الله ﷻ اوفرمائی (اءنت قلت للناس اتخذوني وامي الٰهين من دون الله) او مقصود ددې نه داوو چه عیسٰی ﷺ تصریح اوکړی په براءت باندې ،او دا رنګه الله ﷻ به ملائکونه تپوس اوکړي په ورځ د قیامت چه (اهٰؤلاء اياكم كانو يعبدون) ،(۲) داخطاب نبی ﷺ ته دې ، لیکن مقصد نورو خلقو ته اورول دی ،یعنی الله ﷻ عامو خلقوته وائی چه که ستاسو شك وی نو د شك د ازالې علاج دا دې چه د اهل حق علماؤنه تپوس اوکړئ ،(۳) شك په معنی د (ضيق) یعني زړه تنګیدو سره دې، یعنی که ستاسو زړه تنګ شی په مخالفت د خلقو سره نو صبر کوه او تپوس اوکړه د مخکنو علماء حق نه چه خبردرکړی تاته په صبر کولو د مخکنو انبیاء کرامو ﴿فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ﴾ دا خطاب دې نبی ﷺ ته او مراد ترینه امت دې ﴿وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟﴾ شك سبب د تکذیب دې ، او تکذیب سبب د خسارې دې .

إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ۝٩٦ وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ
بیشکه هغه کسان چه ثابته شویده پدوئ باندې فیصله د رب ستا ایمان نه راوړی دوئ اگر که راشی دوئ ته

كُلُّ ايَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۝ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ

هر قسم معجزه تر دي چه دوئ وه وينى عذاب دردناك. پس ولى نه وؤ يو اهل د كلى چه ايمان ئ راوړې وي

فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ؕ لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا

پس نفع به ورکړې وي هغوئ ته ايمان دهغوئ مګر قوم د يونس، هرکله چه دوئ ايمان راوړو نو لرې کړو مونږ

عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ۝ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

د دوئ نه عذاب د رسوايئ په ژوند د دنيا کښې او نفع ورکړه مونږ دوئ ته تر يو وخت پورې. او که غوښتې رب ستا

لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ

نو خامخا به ايمان راوړې وې هر هغه چا چه په زمکه کښې دی ټولو په جمع سره، آيا پس ته مجبوره کولې شی خلق

حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝

د دې لپاره چه شی دوئ مؤمنان.

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ ﴾ دا هم زجر دې اود ﴿ كَلِمَتُ رَبِّكَ ﴾ نه مراد فيصله د الله ﷻ ده چه په بل مقام کښې الله ﷻ فرمائلی دی (لاملئن جهنم من الجنة والناس) ، يعنی د انسانانو د بدو اعمالو په وجه دا خبره په علم الهی کښې ثابته شوې ده چه جهنم به په دوئ سره ډکولې شی ،او دا د دوئ په تقدير کښې ليکلې شوې ده ، نو داسې خلق ايمان نه راوړی اګر که دوئ ته هرقسم معجزه راشی، خو په دوئ باندې مهر جباريت لګولې شوې دې ﴿ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ﴾ لولا د تحضيض دپاره دې او په دې کښې معنی د توبيخ ده، يعنی داسې ولې نه ده چه اهل د قرئی په وخت ايمان راوړې وې ،او ايمان ورته نفع ورکړې وې ،او د عذاب د دنيا او آخرت نه بچ شوی وې ، فرعون او نورو تباه شوی کافرانو داسې ولې اونه کړل ﴿ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ﴾ دا استثناء منقطع ده (الا) په معنی د لکن سره دې او (قوم يونس) ورله اسم دې ،او (لما أمنو كشفنا ــ الآيه) جمله ورله خبر دې ، د فرعون د قصې سره د قوم د يونس ﷺ قصه ذکر کولو کښې دې ته اشاره ده ، چه فرعون بر وقت ايمان نه وو راوړې او قوم د يونس ﷺ بر وقت ايمان راوړې وو. په قوم د يونس ﷺ چه کله عذاب راغې نو توبه ئ اوکړه ، نو توبه ئ قبوله شوه او عذاب دفع شو ،

دلته دا **سوال** دې چه آیا پـه قوم د یونس ﷺ باندې عذاب راغلې وو.او شروع شوي وو؟ یا دوئ صرف علامات د عذاب لیدلې وو او عذاب پرې راغلې نه وو، طبري او ډیرو مفسرینو ویلی دی چه په دوئ باندې عذاب واقع شوې اوشروع شوې وو، لکه دلالت کوی په دې باندې لفظ د ﴿كَشَفْنَا﴾ او کله چه دوئ توبه اوکړه نو قبوله شوه، او دا قبولیت د توبې د دوئ خصوصیت دې ،ځکه چه ایمان د کافرانو روستو د مشاهدې د عذاب نه ایمان د باس دې .او دا نافع نه دې ،لقوله تعالی (فلم یك ینفعهم ایمانهم لما راؤباسنا) او زجاج ویلی دی چه په دوئ باندې عذاب نه وؤ واقع شوې ځکه چه په دې وقت کښې بیا توبه نفع نه ورکوی لکه دلالت کوی په دې باندې قصه د فرعون بلکه دوئ صرف علامات د عذاب لیدلی وو.او داسې روایات د ابن مسعود ؓ نه منقول دی ، نو بناء په دې باندې د دوئ قبولیت د توبې د دوئ خصوصیت نه دې بلکه د عام قانون سره موافق دې ، او دا قول زیات قوی او راجح دې (کما حققه القرطبی) او د (کشفنا) معنی داده چه د کوم عذاب علامات ښکاره شوي وو، هغه واپس شو، مودودی په خپل تفسیر تفهیم القرآن سورة صٓفّٰت جلد ۲ صـ۳۱۲ اوپه رسائل مسائل جـ۳صـ۸۳ کښې لیکلی دی چه د هغې خلاصه داده : (۱) چه د قوم یونس نجات او د دوئ د توبې قبولیت د عام قانون الهی نه خلاف دې (۲) او د دې وجه دا معلومیږي چه د قرآن د اشاراتو او د صحیفه یونس د تفصیلاتو نه معلومیږي چه یونس ﷺ په فریضه د رسالت کښې کوتاهی کړې ده (نعوذ بالله) او د خدائ د دستور یوه دفع داده چه یو قوم ته د هغه وخت پورې عذاب نشی ورکړې کیدې چه په هغوئ حجت نه وی تام شوې ، د اتمام حجت نه قبل د الله ﷻ انصاف د دې خبرې گواره نه کوی چه دوئ له عذاب ورکړی (انتهی) ، اهل حق د دې قول رد په ډیر شدت سره کړې دې ،اول دا چې د قوم د یونس ﷺ د توبې قبولیت او ددوئ نه د عذاب دفع کیدل د عام قانون الهی نه خلاف نه وو، لکه په قول د زجاج کښې چې تیر شو، دویم دا چه کومو مفسرینو چه دا خبره کړې وه چه د دوئ نجات د عام قانون نه حلاف وو، نو هغوئ ویلی دی چه دا د قوم یونس خصوصیت وواوهیچا دا نه دی ویلی چه دا د یونس ﷺ د کوتاهی په وجه وو، دریم دا چه کوتاهی په فریضه د رسالت کښې د نبی دپاره گناه کبیره ده ،او انبیا ء ﷺ د دې نه منزه دی الله ﷻ فرمائی : (الذین یبلغون رسالات الله ویخشونه ولایخشون احدا الا الله) ،الاحزاب آیت ۳۹ – (رسالات) صیغه د جمع ده ،او اضافت د جمع د استغراق دپاره وی ، یعنی انبیاء هغه دی چه د الله ﷻ ټول رسالات پیغامات رسوی خلقوته ،انبیاء ﷺ د هرقسم

ګناه نه منزه دی ،لکه په دې باند اجماع د امت ده ،او په فريضه د رسالت کښ کوتاهی کول داخو په فرض منصبی کښ خيانت دې ، نه دی مناسب د شان د انبياؤ سره.

د حضرت يونس عليه السلام قصه مفسرينو داسې ليکلې ده چه يونس عليه السلام د عراق په مشهوره علاقه موصل کښ د نينوا په کلی کښ آباد وو،او دغه علاقې والا په شرک کښ مبتلا وو. يونس عليه السلام ورته د ايمان دعوت ورکړو ،ليکن دوي انکار کوو، الله ﷻ يونس عليه السلام ته حکم اوکړو چه دې قوم ته خبر ورکړه چه په درې ورځو کښ په دوئ عذاب راتلونکې دې، يونس عليه السلام چه دا اعلان اوکړو، نو قوم مشوره اوکړه چه يونس عليه السلام دروغ نه دی ويلی ، نو د ده خبره نظر انداز کول نه دی پکار او د دوئ د قوم عادت داووچه په چا به ثابته شوه چه دروغ ئې ويلی دی نو هغه به دوئ قتل کولو، نو قوم دا مشوره اوکړه چه اوګورئ چه که يونس عليه السلام خپل کلی علاقې نه بل خوا ته لاړنشی نو بيا به عذاب نه راځی او که بل خوا ته لاړشی نو بيا کيدې شی چه عذاب راشی ، حضرت يونس عليه السلام د الله ﷻ په اذن سره د خپلې علاقې نه هجرت اوکړو نو په دريمه ورځ د صبا وخت د عذاب اثر ښکاره شو، او تور لوګې د وريځې پشان د اسمان د طرف نه زمکې ته راروران شو نو قوم پوهه شو چه عذاب الهی راغې نو د يونس عليه السلام تلاش ئې شروع کړو چه ايمان پرې راوړی ليکن يونس عليه السلام نه وو، نو دوئ په خپله ډير اخلاص سره توبه استغفار شروع کړل او د آبادئ نه يو لرې ميدان ته لاړل، نارينه، زنانه، ماشومان حتی چه څاروی ئې هم د ځان سره بوتلل، او په ژړا اوزارئ باندې شروع شول نو الله ﷻ د دوئ توبه قبوله کړه او عذاب ئې ترينه لرې کړو ،او دا ورځ د محرم لسمه وه، يونس عليه السلام ته دومره معلومه شوه چه په قوم باندې عذاب نه دې راغلې ليکن د دوئ د ايمان راوړلو علم ورته نه وو، نو دا خطره ورته راغله چه که زه قوم ته واپس لاړشم نو ماته به دروغژن او وائی، او د دوئ د عادت او قانون مطابق به مې قتل کړی او که قتل مې نه کړی نو بيا به هم دوئ نه ملامت يم ،او کوز سترګې به يم ، نو د دې وجې نه ئې د دغه ځائ نه هجرت شروع کړو او چه د بحيره روم کنارې ته اورسيدلو او کشتئ کښ سور شو ، کله چه کشتئ د درياب مينځ نه اورسيده نو غرقيدلو ته قريبه شوه کشتئ والا اعلان اوکړو چه په دې کشتئ کښ څوک داسې غلام دې چه د آقا د اجازت نه بغير راغلې دې هغه دې خپل ځان ظاهر کړی چه هغه مونږ درياب ته اوغرزوو چه دا نور خلق بچ شی،ګنې نو ټول به غرق شو، حضرت يونس عليه السلام اويل چه هغه زه يم ، ما درياب ته اوغرزوئ چه تاسو نور خلق به بچ شئ، نو کشتئ والاخلقو يونس عليه السلام پيژندلو نو هغوئ ډير په تعجب کښ شو او دې ته نه وو تيار چه يونس عليه السلام درياب ته

اوغرزوی نو دوئ قرعه اندازی اوکړه او ډیر وار ئی اوکړه نو په هر وار : یونس ﷺ نوم راغې نو ډریاب ته ئی اوغرزولو ،او یو لوئ ماهی لقمه کړو . لکه په سورة صفت کښې مذکور دی د دې تفصیل نه معلومه شوه .چه د حضرت یونس ﷺ اول هجرت باذن الله وواو دویم هجرت ئې په خپل اجتهاد سره کړې وو. نو هجرت اګر که معصیت نه دې بلکه سنت د انبیاؤ دې لیکن هر کله چه په خپل اجتهاد سره وواو دالله ﷻ د طرفه صریحی اذن نه وو نو ځکه ترینه تعبیر په آیت کښې اباق سره شوې دې (اذ ابق الی الفلك) اباق دې ته وائی چه غلام بغیر د اذن د مولی نه لاړ شی او دا معنی ئی نه ده چه په فرض منصبی کښې کوتاهی اوکړی . او د انبیاؤ په معمولی لغزش باندې تنبیه راځی ، قانون د (حسنات الابرار سیئات المقربین) سره ، ددې وجې نه په یونس ﷺ باندې امتحان راغې،او دوئ معافی اوغوختله .او (لااله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین) ، ئی اووئیل ﴿وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ﴾ دا تسلی ده نبی ﷺ ته . یعنی که الله ﷻ .غوختلې چه خلق جبراً مسلمانان کړی نو ټولو خلقو به ایمان راوړې وو. لیکن جبری ایمان د الله ﷻ په بارګاه کښې منظور نه دې نو ځکه جبر نه کوی په چا باندې د ایمان راوړلو ، بلکه خلق ئې خپل اختیارته پریخی دی ﴿أَفَأَنتَ تُكْرِهُ ٱلنَّاسَ﴾ یعنی چه الله ﷻ ثوك نه دی مجبور کړی په ایمان راوړلو نو ته ئې هم نشې مجبور کولې په ایمان .

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ
اونشی کیدې د هیڅ چا لپاره چه ایمان راوړی مګر په توفیق د الله تعالی سره او اچوی الله تعالی پلیتی
عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ۞ قُلِ ٱنظُرُوا۟ مَاذَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ
په هغه کسانو باندې چه عقل نه لری. وه وایه اوګورئ چه څنګه دلیلونه دی د توحید په اسمانونو کښې او په زمکه کښې
وَمَا تُغْنِى ٱلْءَايَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ۞ فَهَلْ يَنتَظِرُونَ
او فائده نه ورکوی دلیلونه او یره ورکونکی هغه قوم ته چه ایمان نه راوړی. پس انتظار نکوی دوئ
إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِهِمْ ۚ قُلْ فَٱنتَظِرُوٓا۟
مګر په شان د واقعاتو، مصیبتونو د هغه کسانو چه تیر شوی دی مخکښې د دوئ نه، ته وه وایه پس انتظار کوئ تاسو

إِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۝ ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

بيشكه زه ستاسو سره د انتظار كونكو نه يم بيا واورئ بچ كړى دى مونږ رسولان خپل او هغه كسان چه ايمان ئ راوړى دى

كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

دغه شان، وعده مي كړېده وعده حقه په ذمه زمونږ، نجات وركوؤ مؤمنانو لره

﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ﴾ يعنى كه څوك خپل اختيار سره ايمان راوړى نو هغه هم دالله ﷻ په فضل او توفيق سره وى ﴿وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ﴾ يعنى د كفر او دشرك گندگى ده دهغه چا په غاړه كښ الله ﷻ غورزوى چه عقل نه لرى، يعنى غور، فكر نه كوى په آياتونو د الله ﷻ كښ او انابت الى الله نه كوى ، نو داسې خلق اگر كه وائى چه مونږ ډير عاقلان يو خو دوئ لايعقل دى ﴿قُلِ انْظُرُوْا﴾ دا دعوت دې منكرينو ته يعنى څوك چه غور نه كوى په آياتونو د الله ﷻ كښ نو داسې نه ده چه آيت نشته يا كم دې يا مخفى دى ، بلكه په اسمانونو او زمكو كښ د الله ﷻ د توحيد او د كمال قدرت ډېر زيات او واضحه دلائل موجود دى : شعر :

ففي كل شئ له آيت تدل علي انه واحد

﴿وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ﴾ ليكن كوم خلق چه انابت الى الله نه كوى او په ضد عناد كښ منهمك دى نو هغوئ ته د ډير واضحه دلائلو او د رسولانو د ډير فصيح بليغ موثر دلسوز بياناتو نه هيڅ فائده نه رسى ، د آياتونو او د رسولانو د كلام نه فائده هغه چا ته رسى چه هغه د خپل اصلاح نيت اوكړى ،او ضد او تعصب پريږدى ﴿وَمَا تُغْنِي﴾ كښ يا(ما) نافيه ده ،يا استفهاميه ده ، او استفهام انكارى دې .په معني د نفى سره ﴿فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ﴾ دا تخويف دې ،او (هل) په معنى د نفى سره دى ،او د (ايام) نه مراد هغه واقعات د عذاب دى چه په مخكنو قومونو راغلى وو، يعنې تاسو ترهغه وخته پورې ايمان نه راوړئ ترڅو چه په تاسو باندې د مخكنو قومونو په شانتې عذاب نه وى راغلې، نو پس تاسو د دغه وقت انتظار كوئ ، او مونږ به هم انتظار كوو، ليكن چه عذاب راشى نو الله ﷻ رسولانو او د هغوئ تابعدارانو ته نجات وركوى ﴿حَقًّا عَلَيْنَا﴾ دا د الله ﷻ د طرفه ډيره مؤكده وعده ده ،چه مؤمنانو ته د ايمان او اعمال صالحؤپه وجه په دنيا او آخرت كښ د عذاب نه نجات وركوى

، معتزله د وجوب على الله قائل دى ،او اهل سنت وائى چه په الله ﷻ باندې هيڅ وجوب نشته دې ،او د دې آيت نه دا جواب كوى چه حق دوه قسمه دې. يو حق تفضلي دې . يعنى د وعدې په وجې سره الله ﷻ په خپل ځان مقرر كړې دې،او دويم حق وجوبي استحقاقي دې . دلته د حق نه اول قسم مراد دې.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَآ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ
ووايه چه اې خلقو ! [1] كه يئ تاسو په شك كښې د دين خما نه پس زه عبادت نه كوم د هغه معبودانو
تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ ۚۖ
چه تاسو ئې عبادت كوئ سوى د الله تعالى نه ليكن زه عبادت كوم د الله تعالى هغه الله چه مرګ به راولى په تاسو
وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ
او حكم شويدې ما ته چه يم دې زه د مؤمنانو نه. (او ويلى شوى دى ما ته) چه برابر كړه ځان خپل په دين باندې.
حَنِيْفًا ۚ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
مستقيم په حق ، پريښودونكې هر باطل لره او مه كيږه د مشركانونه . اوبلنه مه كوه په غير د الله تعالى نه
مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ
دهغه چا چه نفع نشى رسولې تاته اونه ضرر رسولې شى تاته پس كه وكړو تا دا كار پس بيشكه ته به
اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ
په دغه وخت كښې د ظالمانو نه ئې. اوكه ورسوى تا ته الله تعالى څه تكليف پس نشته هيڅ څوك لرې كونكې دهغې
اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ۭ يُصِيْبُ
سوى د هغه نه، اوكه وغواړى تا ته خير رسول نو نشته هيڅوك واپس كونكې د هغه د فضل، رسوى الله تعالى

۱- ذكر د دعوى د سورت په تفصيل سره.

بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝

دا ضرر او خير هغه چاته چه وه غواړي د بندګانو خپلو نه. او الله تعالى بښونكى دې مهربانه دې

﴿ قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ ﴾ دا ذكر د دعوې د سورة دې . دريم ځلې بالتفصيل (اِنْ كُنْتُمْ) شرط دې او ﴿ فَلَاۤ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ ﴾ په اعتبار دمضمون سره ورله جزا ده، يا جزامقدره ده (چه اخبركم به بالتفصيل) ده او ﴿ فَلَاۤ اَعْبُدُ ﴾ د مقدرجزا تفصيل دې ،مطلب ئ دادې چه كه زما دين او طريقه ستاسو په سمجه او عقل كښ نه راځى او د دغې وجې نه تاسوپه شك او شبه كښ پراته يئ نو زه تاسو د خپل دين په اصل الاصول توحيد باندې خبروم او صاف صاف وايم چه زه ستاسو د مفروضه معبودانو عبادت نه كوم نه مالى عبادت ، نه قولى عبادت. نه بدنى عبادت. يعنى د غيرالله په نوم نذر او نياز نه وركوم د غيرالله نه مددنه غواړم . دالله ﷻ نه ماسوا بل چاته رامدد شه نه وايم دالله ﷻ نه ماسوا بل چاته سجده نه كوم بلكه دا ټول كارونه صرف دالله ﷻ دپاره كوم ﴿ فَلَاۤ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ ﴾ د (لا اله) بيان دې ،﴿وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ ﴾ ، د (الا الله) بيان دې ﴿وَلَا تَكُوْنَنَّ ﴾ دلته قيل مقدر دې يعنى ماته داويلې شوى دى چه د مشركينو سره هيڅ تعلق مه ساته ﴿ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ﴾ په دې كښ نفى د شرك فى الدعا ده ،او هر كله چه د عبادت اهم فرد دعا وه بلكه په حديثو كښ (الدعاء هو العبادة) راغلى دى او دا قسم شرك ډير عام دې او په هر وقت كښ ئ مشركان كوى، د دې وجې نه ئ تخصيص اوشو ، بله دا چه مخكښ ﴿وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴾ ذكر شو ، او مشرك د اشتراك قائل وى، چه كله دالله ﷻ نه مدد غواړى او كله د ماسوا الله نه مدد غواړى نو توهم پيداكيدو چه څوك دائمًا او هميشه د غيرالله عبادت كوى نو هغه خو مشرك نه شو ، نو په دې آيت كښ عمومى نفى اوشوه چه د غيرالله بلنه په طريقه د اشتراك او استقلال دواړو سره مه كوه ﴿مَا لَا يَنْفَعُكَ ﴾ يعنى كه ترينه مدد غواړې نو تاته نفع نشى دركولې او كه مدد ترينه نه غواړې او عبادت ورله نه كوې نو تاته ضررنه نشى دركولې، او دا جمله عطف ده (فلا تكونن) باندې ،﴿فَاِنْ فَعَلْتَ ﴾ يعنى كه بفرض محال تا داسې اوكړل يعنى د ماسوا الله نه دې خپل مرادونه، مقصدونه طلب كړل، يا دا خطاب نبى ﷺ ته دې ،او مراد ترينه نور خلق دى ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ ﴾ ، داعلت د ماقبل دې

یعنی دالله ﷻ نه ماسوا بل څوك لائق د عبادت نشته. ځکه چه ضررلري کول اوخیر ورکول صرف دالله ﷻ کار دي که الله ﷻ چاته څه لگ شان تکلیف اورسوی نو د هغې لري کونکې هیڅ څوك نشته بغیر دالله ﷻ نه او که چاته د خیر اراده اوکړی نو هیڅوك ئ منع کولې نشی .
دضرر سره ئ «مس» ذکر کړې دې او خیر سره ئ اراده ذکر کړې ده. په دې کښې اشاره ده دینه چه ضرر په سبب د گناهونو سره رسیږی نونه منسوب کیږی ارادې ته .اگر که په ارادې سره واقع کیږی ،اوخیر محض په فضل سره رسیږي، نومنسوب کیږي ارادې ته ﴿يُصِيبُ بِهِ مَن يَشَآءُ﴾ په دې کښې اشاره ده ،چه خیر رسیدل په مشیت د الله ﷻ سره دی . نوکه چاته خیر اونه رسی نوهغه به په دې وجه وی چه مشیت او اراده د الله ﷻ به نه وی شوې. داسې نه چه د ماسوا الله قدرت دې په بندولو د خیر باندې .

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ
ووایه چه اې خلقو [۱] په تحقیق سره راغلیدې تاسو ته حق د طرف د رب ستاسې نه ، پس څوك چه په حق روان شو
فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِۦ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ
نو بیشکه دې په حق روان دې د نفع د خپل ځان لپاره، اوڅوك چه واوریدو د حق نه، پس بیشکه اوړی د حق نه
عَلَيْهَا وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾ وَٱتَّبِعْ مَا
چه وبال اوتاوان ئ په خپل ځان دې ، اونه یم زه په تاسو نگران «ذمه دار». او تابع أوسه [۲] د هغه څه
يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَٱصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾
چه وحی کیدې شی تا ته او صبر کوه ترهغې چه فیصله وکړی الله تعالی اوهغه غوره فیصله کونکې دې

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ﴾ دا ترغیب دې ،اتباع د قرآن ته، دحق نه مراد قرآن او دین دې ﴿وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ﴾ ، دا دلیل وحی دې په توحید باندې ﴿وَٱصْبِرْ﴾ تسلی ده نبی ﷺ ته .
«اختتام ،۱۴ محرم ،۱۴۳۰ هجری ۱۲ جنوری ۲۰۰۹ عیسوی» .

۱ - ترغیب توحید ته .
۲ - دلیل وحی په توحید .

آیاتها (۱۲۳)	سورة هود مکیة	رکوعاتها (۱۰)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	

خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم

داسورة مکی دې، او د ترتیب قرانی په لحاظ سره یوولسم سورة دې، او د نزول په لحاظ سره ۵۲ سورة دې

ربط السورة: یوربط اسمی دې، بل مضمونی دې، ربط اسمی دادې، لکه څرنګه چه حضرت یونس ﷺ خپل قوم ته مسئله دتوحید بیان کړې وه، او خلقو پرې طعنونه لګولی وو. نو دغه شان حضرت هود ﷺ خپل قوم ته مسئله دتوحید بیان کړې وه، او خلقوپر طعنونه کړی وو.

ربط مضمونی: (۱) د سورة یونس په آخر کښ ئ ﴿وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ﴾ اوئیل او د دې سورة په اول کښ د مایوحی مقصد ذکر کیږی چه ﴿أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ﴾، (۲) مخکښ سورة کښ دلائل عقلیه وو په توحید باندې، او دلته دلائل نقلیه ذکر کیږی، (۳) مخکښ سورة کښ دا ثابته شوه چه شفیع قهری او شفیع بلا اذن څوك نشته، نو په دې سورة کښ پرې تفریع ذکر کیږي چه ﴿أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ﴾.

خلاصه د سورة: په دې کښ څلور دعوې دی: اوله دعوٰی أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ، آیت ۲. دویمه دعوٰی داچه عالم الغیب صرف الله دې دا دویمه دعوه د اولې دپاره علت دې، أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ ...... تا ..... عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ، آیت: ۵ دریمه دعوی دا چه د ټول مایوحٰی تبلیغ کوه، په جرأت سره او د مشرکینو د اعتراضاتو د وجې نه په زړه کښ تنګی مه راوله چه د بعض مایوحی تبلیغ ترك کړې، فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ ..... تر أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ آیت: ۱۲ پورې، څلورمه دعوٰی دا چه مسئله بالکل واضحه ده، لیکن مشرکین ئ د ضد د وجې نه، نه منی أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ ..... تا ... وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ، د دینه بعد مشرکینو ته زجرونه تخویفونه ذکر کیږی، او بیا اوو (۷) قصې د انبیاء سابقو ذکر کیږی چه اول درې دعوو سره متعلق دی په طریقه د لف نشر مرتب سره، اوله قصه، د حضرت نوح ﷺ ده چه

متعلق ده د دعوې اولی سره ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا﴾ .. تا .... ﴿أَن لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ﴾ يعنی نوح ﷺ هم دغه شان خبر کړيده کوم چه قرآن وائ ،ان لاتعبدو الاالله ، دويمه قصه د هود ﷺ ده داهم متعلق ده د دعوی اولی سره ، ﴿وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾ . دريمه قصه د حضرت صالح ﷺ ده داهم متعلق ده د دعوی اولی سره ﴿وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾ ، خلورمه قصه د حضرت ابراهيم ﷺ د دعوی ثاني سره متعلق ده ، ﴿وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ﴾ ، حضرت ابراهيم ﷺ جليل القدر پيغمبر او دالله ﷻ خليل دي . دوئ ته فرشتې راغلې وې د بشارت دپاره او دوي ترينه خوف اوکړو ،او دوي ته علم نه ووچه دا فرشتې دي ،نو طعام ئې ورله تيار کړو ،او دا علم ورته هم نه وؤ چه دا زما د بشارت دپاره راغلی دی، يا د نقصان دپاره ، نو هر کله چه پيغمبر ته علم الغيب نشته نو نورو خلقوته خو په طريقه اولی سره نشته دې ، پنځمه قصه د حضرت لوط ﷺ داهم د دعوی ثانی سره متعلق ده ،﴿وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا﴾ فرشتې چه کله لوط ﷺ ته راغلې په شکل د خائسته انسانانو باندې نو لوط ﷺ اونه پيژندلې او د دوئ په راتلو پريشان شو ، نو معلومه شوه چه دي عالم الغيب نه وو، شپږمه قصه د حضرت شعيب ﷺ متعلق د دعوی اولی سره چه دوئ هم خپل قوم ته ﴿يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾ ويليدی ،اوومه قصه د حضرت موسی ﷺ ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا﴾ دا متعلق ده د دريمې دعوې سره چه موسی ﷺ څومره تکليفونو او مصيبتونه برداشت کړيدې او د چا داعتراض په وجه ئ زړه نه دي تنګ کړې ، نوته هم زړه مه تنګوه اوپه فريضه د تبليغ کښې کوتاهی مه کوه د دينه بعد زجرونه تخويفات ذکر کيږی او بيا په آخرت کښې د ټولو دعوو اعاده کولې شی.

الٓرٰ	كِتٰبٌ	اُحْكِمَتْ	اٰيٰتُهٗ	ثُمَّ	فُصِّلَتْ	مِنْ	لَّدُنْ
الر دا داسې کتاب دې [1] چه محکم کړې شوی دی آيتونه د ده، بيا ئ تفصيل کړې شوی دې نازل دې د طرف							

[1] - تمهيد اصل مضمون ته .

حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿۱﴾ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنْهُ

د حکمت والا خبردار ذات نه چه بندګي مکوئ[1] د هیچا سوی د الله تعالی نه. بیشکه زه ستاسو لپاره دهغه د طرفه

نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ ﴿۲﴾ وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم

ډرونکي او زیری ورکونکي یم او دا چه ښښنه وغواړئ د رب خپل نه او بیا توبه وباسئ هغه ته . نفع به درکړي تاسو ته

مَّتَاعًا حَسَنًا إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ ۖ وَإِن تَوَلَّوْا

نفع ښائسته تر نیټي مقرري پوري او وربه کړي هر خاوند د غوره عمل ته، غوره جزاء د هغه. او که تاسو روګردانه شوئ

فَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ ﴿۳﴾

نو پس بیشکه زه یریږم په تاسو د عذاب راتللو د لوئ ورځي

﴿الٓر كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ﴾ داتمهید دي مضامینو دَ سورة ته (کتٰب) خبر د مبتداء محذوف دپاره دي (اي هذا کتاب) او تنوین پکښ د تعظیم دپاره دي یعني دا عظیم الشان، جلیل القدر کتاب دي ﴿أُحْكِمَتْ﴾ د کتاب دپاره اول صفت دي او د (اُحْکِمَتْ) یوه معنی داده چه نه منسوخ کیږی په بل کتاب سره ، او بله معنی ئ داده چه حکمت نه ډک دی آیاتونه د ده ، بله معنی ئ داده چه محفوظ دي د تناقض او د نفس الامرد مخالفت نه، او په اعلی درجه د فصاحت او د بلاغت او په لفظی او معنوی خو بیانو سره مزین او ښائسته کړي شوي دي ﴿ثُمَّ فُصِّلَتْ﴾ داد کتاب دپاره دویم صفت دي .او (ثم) د تراخی ذکری دپاره راخی او د (فصلت) یوه معنی داده چه په دي کتاب کښ دلائل د توحید نصیحتونه او واقعات جدا جدا ذکر کړي شوی دی .لکه څرنګه چه په قیمتی هار کښ قیمتی ملغلري جواهر جدا جدا پیلي شی، یا دا چه سورتونه آیتونه ئ جدا جدا کړي شویدی په نزول کښ او جمله نه دی نازل شوی اوبله معنی ئ داده چه توحید او د مسائلو د اصولو تفصیل په کښ شوي دي ﴿مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ﴾ دا دریم صفت دي یعني دا کتاب انسانانو ندي جوړ کړي بلکه د حکیم خبیر ذات د طرفه راغلي دي . نو څکه معجز

---

[1] اوله دعوی

اوپه بي انتها كمالاتو مشتمل دي ،﴿أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ﴾ دا اوله دعوىٰ دسورت ده .او د (أن) نه مخكښې حرف جر باء مقدره ده او جار مجرور د فُصِّلَتْ سره متعلق دى . نو تقدير دارنگه شو .(فصلت بان لا تعبدوا الا الله) يعنى داكتاب د دې خبرو تفصيل كوى چه (لاتعبدو ا الاالله) يعنى دا كتاب د مسئله توحيد او د نفى د شرك تفصيل دې يا حرف جر په دې كښې لام مقدر دې نو دا مفعول له دې د (اى فصلت لاجل ان لاتعبدوا الا الله) امام رازى وائى : (واقول هذا التاويل يدل علي انه لامقصود من هذاالكتاب الشريف الاهذا الحرف الواحد فكل من صرف عمره الى سائر المطالب فقد خاب وخسر) ﴿إِنَّنِى لَكُم مِّنْهُ﴾ دا بيان د رسالت دې ﴿وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ﴾ استغفار د تيرې شوې گناه د معافئ طلب ته وائ ، او توبه په آينده كښې د ترك د معصيت عزم ته وائى ﴿يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا﴾ متاع حسن داطمينان اودسكون ژوند دې ﴿إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ يعنى د وقت د وفات كيدلو پورې ﴿وَيُؤْتِ كُلَّ ذِى فَضْلٍ فَضْلَهُۥ﴾ يعنى د استغفار او توبې يوه فائده داده چه سكون او اطمينان والا ژوند به نصيب شى په دنيا كښې او بله فائده ئ په آخرت كښې ده هغه دا چه چا زيات خائسته عمل كړې وى ، نوهغه ته به زيات خائسته جنت وركړې شى، د ﴿كُلَّ ذِى فَضْلٍ﴾ نه خائسته عقيده او عمل مراد دې او د (فضله) نه مراد د خائسته عمل جزا ده چه جنت دې ﴿وَإِن تَوَلَّوْا۟﴾ دا په اصل كښې «تتولو» دې،او يوه تاء حذف شوې ده نو داصيغه د مخاطب مضارع ده يا تاء په كښې محذوفه نه ده نو داصيغه د ماضى غائب ده او دا التفات دې دخطاب نه غيبوبت ته .

إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝ أَلَآ إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ
خاص الله تعالى ته گرځيدل ستاسو دى او دې په هرڅيز قادر دې . خبردار ! بيشكه دوئ تاوه وى سينې خپلې،
لِيَسْتَخْفُوا۟ مِنْهُ ۚ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ ۙ يَعْلَمُ
د دې لپاره چه ځان پټ كړى د هغه نه، خبردار[1] اكوم وخت چه دوئ ځان پټوى په جامو خپلو كښې نو پوهيږى الله تعالى

۱- دويمه دعوىٰ.

مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝

په هغې چه پټوي دوئ او په هغې چه ښکاره کوي دوئ بيشکه هغه عالم دې په رازونو د سينو باندې

﴿ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ ﴾ يعنى مجرمان او غير مجرمان ټول به د الله ﷻ حضورته حاضريږى .او الله ﷻ قادر دې په سزا او جزا وركولو باندې ﴿ اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ ﴾ دادويمه دعوى ده چه عالم الغيب صرف الله دې ﴿ يَثْنُوْنَ ﴾ په اصل كښ (يثنيون) وو، لكه يرمون په اصل كښ يرميون وو. نو بيا په كښ هغه مشهور اعلال اوشو نو (يثنون) پاتې شو، او ثنى يثنى په معنى د اړولو او رانغښتلو سره راځى (من ثنيت الثوب اذا طويته) ددې آيت په شان نزول كښ دوه قوله دى (۱) په بخاري شريف كښ د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې چه په بعض مسلمانانو باندې حياء دومره غالبه وه چه د استنجاء او جماع وغيره ضروريات بشريو په وقت به ئ د بدن بربنډولونه شرميدل چه اسمان والا مونږ ته ګورى، نو د عورت پټولو دپاره به ئ كوشش كولو.او په تكليف سره به ئ دخپل عورت پټولو دپاره سينه تاؤ راتاؤكړه ،دې قسم خلقو ته په اصطلاح د صوفياؤكښ مغلوب الحال ويلې كيږى ،او هر كله چه داسې غلو د امت دپاره مشقت ذريعه وه نود دې وجې نه قران د دوئ اصلاح اوكړه او وې فرمائل ﴿ اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ ﴾ يعنى كه په وخت د ضرورت كښ تاسو ته عورت ښكاره كول شرم لګى نوتاسو فكر اوكړئ چه آيا تاسو چه كپړې اغوندئ په دغه حالت كښ الله ﷻ ته نه ښكارئ څه؟ (۲) او خازن د ابن عباس نه نقل كړى دى چه دا آيت نازل شوې دې په باره اخنس بن شريق او نورو منافقينو كښ اخنس ابن شريق به په ظاهر كښ د نبى ﷺ سره خوږې خبرې كولې او د محبت اظهار به ئ كولو ،او په زړه كښ به ئ بغض او عداوت وو. نو دا آيت نازل شو ﴿ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ ﴾ رانغاړى سينې خپلې يعني پټوى په سينو كښ بغض او عداوت او حضرت شاه صاحب رحمه الله وائى چه (يثنون) نه مراد معنوى اثناء ده يعنى انحراف د حق نه ﴿ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ ﴾ دامتعلق دې د مقدر سره (اي يريدون ليستخفوا منه) ،(كشاف) يا همزه استفهاميه په كښ محذوف ده .يا دا صيغه د امر غائب ده .او امر دپاره دَ تعجيز دې ﴿ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ ﴾ يعنى د الله ﷻ په علم كښ تفاوت په مابين د پټ او د ظاهر كښ نشته دې ، اوپه هر ځائ ئى علم يوشان دې

يوولسمه پاره ختمه شوه ولله الحمد اولاً واخراً

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ
او نشته دي هيڅ زنده سر په زمکه کښې مګر په الله تعالى باندې ده روزي دهغوئ. اومعلوم دي الله تعالى ته
مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ۝ وَهُوَ الَّذِي
ځائ د آرام دهغوئ او ځائ د امانت كولو دهغوئ ، دا ټول په كتاب روښانه كښې دي. او الله تعالى هغه ذات دي
خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ
چه پيدا كړي ئې دي اسمانونه اوزمكه په اندازه د شپږو ورځو كښې او وو عرش دهغه په اوبو باندې.
لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِنْ قُلْتَ إِنَّكُمْ
دې لپاره چه ازمينښت وكړي ستاسو چه كوم يو په تاسو كښې ښائسته عمل والا دې،اوكه ته ووائې چه بيشكه تاسو به
مَّبْعُوثُونَ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۝
پورته كيدې شئ پس د مرګ نه نو خامخا به وائې كافران چه نده دا خبره مګر جادو «دروغ» ښكاره دى
وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَىٰ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُ ۗ
اوكه روستو كړو مونږ د دوئ نه عذاب د دنيا د يو مُدې لږې پورې نو خامخا به دوئ وائي چه څه شيز بند كړو عذاب لره
أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِمْ
خبردار! په كومه ورځ چه راشي دا عذاب دوئ ته نو وابه نه ړولي شي دوئ نه او نازل به شي په دوئ
مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۝
هغه عذاب چه دوئ به هغې پورې توقې كولې

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾ (دآبة) په لغت كښې كل حيوان ذى روح ته وائى . يعنى (هر زنده سرې) ماخوذ دې د (دَبِيب) نه مشى خفيفه ته وائې – او په عرف كښې : ذات د قوائم اربعو ته وائى، دلته لغوى معنى مراد ده، اودا آيت دَ دې قريب يعنى دريمې دعوې سره متعلق دې يعنى الله ﷻ په خپل فضل سره د مخلوق دپاره څه رزق مقرركړيدې ،او وعده ئې

کړي ده چه په منزله د واجب دي ، نو دغه رزق به خامخا مرزوق ته ملاويږي او د الله ﷻ علم په هغه باندې محيط دې . برابره خبره ده چه د اسبابو په ذريعه ئ رسوي يا بغير د اسبابو نه ځکه چه د الله ﷻ قدرت په دائره د اسبابوپورې مقيد نه دې ، د اسبابو په ذريعې سره هم کله رزق رسوي او بغير د اسبابونه هم کله رزق ورکوي ،او (على) يا په معنى د مِنْ سره دې (اى من الله رزقها) يا په خپله معنى سره دې ليکن ايجاب تفضلى مراد دې ،او د دې آيت مطلب دانه دې چه اسباب دې ترک کړې شي، يا توکل ترک اسبابو ته ويلې شي ځکه چه په حديث کښ (أعقلْ وتوكّل راغلى دى ،اوبل روايت کښ (ان نفسا لن تموت حتى تستكمل رزقها ،فاتقو الله واجملو فى الطلب وتوكلو عليه) راغلى دى ، نو دې نه معلومه شوه ،چه طلب او تدبير کول د توکل سره منافى ندى ، البته طلب په خائسته طريقې سره يعنى په حلال ذرائعو سره ضرورى دې، او په بعض آثارو کښ راغلى دى (کمافى روح المعانى) چه موسى ﷺ ته حکم اوشو، په کوه طور کښ چه لاړ شه فرعون ته ، نو چه روان شو نو په زړه کښ ئ د خپل اهل سوچ راغې ، ځکه چه هغوئ سره د خپلو ضرورياتو پوره کولو څه بندوبست نه وو، نو الله ﷻ ورته حکم اوکړو چه په دې عصا سره دغه سخت کاڼې اووهه ، نو چه وې وهلو ، نو دهغې د مينځ نه بل کاڼې را اووتلو نو بيا ورته حکم اوشو چه بيا ئ اووهه ، نو دغه شان بل کاڼې ترې نه را اوتلو ، او چه دريم کاڼې ئ اووهلو، نو د هغې د مينځ نه يو چينجې راؤوتلو، او په خُله کښ ئ شنه پاڼړه وه ،او دا ئى ويل : (سبحان من يرانى ، ويعلم مكانى ، ويذكرنى ولاينسانى) ،﴿وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا﴾ يعنى د الله ﷻ علم په ټولو باندې محيط دې ځکه که علم ئ په هر څه نه وي ، نو رزق به ئ ورته څنګه رسولې وې،د مستقر او مستودع ډيرې معنى ذکر شوى دى،يو دا چه مستقر جنت يا دوزخ دې ،او مستودع قبر يعنى عالم برزخ دې، اود دنياوى زندګئ بيان په ﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ﴾ کښ شوې دې، نومطلب دادې چه د ابتدا نه لانهايته پورې د ټولو مراحلو علم الله ﷻ ته دې، د ابن عباس ﷛ نه روايت دې ، چه مستقر د دنيا زندګى ده او مستودع قبر دې .او د مجاهد ﷫ نه روايت دې چه مستقر رحم د مور دې اومستودع صلب د پلار دې ، او د عطاء ﷫ نه د دې بر عکس روايت دې ﴿كُلٌّ فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ د دې نه مراد لوح محفوظ دې چه هغې ته صحيفه د علم الهى ويلې شي ، يعنى د تمامو کائناتو د روزئ او د عمر، عمل وغيره په لوح محفوظ کښ ليکلى شوى دى ، فرشتو ته ترينه حسب ضرورت حواله کولې شي، د مسلم په روايت

کښې د حضرت عبد الله بن عمر نه مروی دی چه نبی ﷺ فرمائلی دی، چه د ټمامو مخلوقاتو تقدیر د اسمان زمکې د پیدائش نه پنځوس زره کاله مخکښې لیکلې شوې دې، او د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه مرفوع روایت دې چه کله د انسان جوسه او اعضاء د مور په رحم کښې مکمل شی نو الله ﷻ فرشتې ته حکم اوکړی چه: «اولیکه د ده عمر او عمل، او چه کله مړ کیږی او دفن کیږی، او د ده رزق».

﴿ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ ﴾ دې آیت کښې هم د الله ﷻ د کمال قدرت او د علم محیط ذکر دې چه الله ﷻ زمکه اسمان په مقدار د شپږو ورځو کښې پیدا کړی دی، او د دې نه مخکښې د الله ﷻ عرش په اوبو باندې وو، یعنی اوبه مخکښې پیدا وې، او د نورو اشیاء دپاره ماده د حیات ګرزیدلی دی لکه (وجعلنا من الماء كل شئ حي) یعنی هر جاندار څیز الله ﷻ د اوبو نه پیدا کړې دې، او په ﴿ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ ﴾ کښې دوه احتماله دی: یو دا چه عرش د اوبو دپاسه متصل بلا فصل وو، نو په دې کښې د الله ﷻ د عظیم قدرت بیان دې، چه دومره عظیم جسم ئې په داسې نرم څیز اوبو باندې برقرار کړې دې، بل دا چه د دواړو په مینځ کښې فصل وو، یعنی د اوبو او د عرش په درمیان کښې دا نور کائنات اسمانونه نمر سپوږمئ وغیره نه وو، داسې نه چه عرش متصل وو، په اوبو باندې، دا قول اکثرو مفسرینو غوره کړیدې، او د دینه ئې استدلال کړې دې په امکان د خلا باندې ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ ﴾ یعنی د دې ټول نظام تخلیق نه مقصود ستاسو امتحان کول دی چه څوك د خپل خالق، مالك صحیح معرفت حاصلوی او صحیح عمل کوی ﴿ وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا ﴾ احسن عمل هغه دې چه په هغې کښې اتباع سنت وی، او خلوص او للاهیت وی په کښې ﴿ وَلَئِن قُلْتَ ﴾ یعنی مشرکین د توحید نه هم انکار کوی، او د بعث بعد الموت نه هم انکار کوی ﴿ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ هذا اشاره ده قول د بعث بعد الموت ته، سحر نه مراد دروغ دی، یا دا معنی ده چه دا قول پشان د سحر دې، په بطلان کښې، یعنی لکه سحر چه باطل او بې حقیقته وی نو دغه شان دا عقیده د بعث بعد الموت ده، نو په دې کلام کښې تشبیه بلیغه ده ﴿ وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ ﴾ دا زجر دې منکرینو ته، یعنی هر کله چه دوئ ته، د کفر او معصیت په وجه تخویف ورکړې شی، چه عذاب الهی راځی، او دیو حکمت په وجه د یوې معینې مودې پورې عذاب رانشی نو دوئ په طریقه د استهزاء سره وائی، چه هغه عذاب

چرته دي . ولې نه راځي ﴿أَمَّةٍ﴾ په معنی د مودې سره دي .او﴿مَّعۡدُودَةٖ﴾ په معنی د مُعين سره دي ﴿مَا يَحۡبِسُهُۥٓ﴾ (ما) په معنی د (ایّ شیئ) سره دي . يعنی دوئ استهزاءً وائی چه څه څيز منع کړي دي عذاب ﴿أَلَا يَوۡمَ يَأۡتِيهِمۡ﴾ يعنی عذاب دنيوی او اخروی چه راشی . نو هغه هيڅ څوك نه شی دفع کولی

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ
اوکه وڅکوؤ [1] مونږ يو انسان ته د خپل طرف نه څه نعمت بيا ئی را کاږو (واپس ئی واخلو) د هغه نه،
إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ۝ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ
نو بيشکه دي نا اُميده ناشکره وی اوکه وڅکوؤ مونږ ده ته نعمت پس د تکليف نه چه رسيدلې وی ده ته،
لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ۝ إِلَّا ٱلَّذِينَ
خامخا وائی دي چه لاړل تول تکليفونه زما نه، بيشکه دي خامخا تکبر کونکې وی فخر کونکې وی مگر هغه کسان
صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ۝ فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ
چه صبر کوی [2] اونيك عملونه کوی، دغه کسان د دوئ لپاره بښنه ده او اجر لوئ دي. پس آيا ته به پريښودونکې ئ [3]
بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ
بعضې د هغې لره چه وحی ئ کولې شی تا ته، او ايا تنگيږې به دي سره سينه ستا، د دې وجه نه چه دوئ وائی ولې نشی نازليدلې
عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ۝
په ده خزانه يا ولې نه رازی (نه گرځی) د ده سره فرشته، بيشکه ته خو يره ورکونکې ئ او الله تعالی په هر څيز نگهبان دي

﴿وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ﴾ دا هم زجر دي ،يعنی اوس خو وائی چه عذاب چرته دي او ولې نه

۱ - زجر.
۲ - بشارت.
۳ - د سورت د ربيمه دعوی.

رازی ، لیکن که الله ﷻ په خپلې مهربانۍ سره ده ته رحمت ورکړی ،او بیا ئ ترینه واخلی ،او په تکلیف کښې ئ مبتلا کړی ، نو بیا ده نه د الله ﷻ مهربانی هیره شی ، او د آینده دپاره نا امیده شی ، نو د تیر شوې مهربانۍ ، ناشکری او د آینده رحمت نه نا اُمیدی د دوئ د زندګۍ حاصل دې ﴿ وَلَـئِنۡ أَذَقۡنَـٰهُ ﴾ یعنی که د مصیبت نه روستو ورته الله ﷻ خوشحالی ورکړی ، نو بیا غافل او مغرور شی تکبر کوی ،حالانکه پکار خو داده چه په راحت آرام باندې شکریه ادا کړی ﴿ لَفَرِحٞ ﴾ د دې نه مراد فرح په طریقه د تکبر سره دې او فخور هغه چا ته وائی چه خپل صفتونه بیانوی (په پښتو کښې ورته ډزمار وائی) ،دارنګه د﴿ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓ ﴾ نه مراد تکبر دې ، یا دا چه زما په تدبیر سره تکلیفونه لاړل ، یا دا چه زما د معبودانو په زور او برکت سره تکلیفونه لاړل ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ﴾ دا بشارت دې .

﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ ﴾ داد سورة دریمه دعوی ده ،علامه الوسی رحمه الله وائی چه مقصود ددینه تحریض او تیزول دنبی ﷺ دی په اداء د رسالت باندې نو استفهام انکاری دې په معنی د نفی سره ، یعنی ته نه ئ داسې کونکې ، یا استفهام د شفقت دپاره دې . یعنی شاید چه ته څرته پریدې یعنی نه پریدې ،او د ﴿ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ ﴾ نه مراد مسئله د توحید ده ، او هغه چه د مشرکینو د مزاج نه مخالف دی ﴿ أَن يَقُولُواْ ﴾ (ای لاجل ان یقولوا) یعنی د مشرکینو د بیهوده او معاندانه اعراضونو د وجې نه په منصب د رسالت کښې کمې یا نرمی مه کوئ ،چه دوئ داسې بیهوده اعتراض کوی چه تاسره خزانې ولې نشته، لکه د بادشاهانو سره چه وی ، یا تا سره داسې فرښتې ولې نه راځی چه هغه دا اعلان کوی چه دا رسول دې ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ ﴾ ، یعنی ستا منصب او ذمه داری خو صرف داده چه خلق شفقت سره اویروې خزانې ورکول یا نورې معجزې ورکول خو د الله ﷻ کار دې ،او هغه د هرڅه ذمه وار او متصرف دې .

أَمۡ	يَقُولُونَ	ٱفۡتَرَىٰهُۖ	قُلۡ	فَأۡتُواْ	بِعَشۡرِ	سُوَرٖ	مِّثۡلِهِۦ
آیا دوئ وائی "[۱]" چه خان نه ئ جوړ کړیدې دا قرآن، ته ووایه پس راوړئ تاسو لس سورتونه په مثل د ده							

۱- شکوه او جواب شکوه .

مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝

د خان نه جوړکړي شوې او راوبلئ هغه څوك چه طاقت لرئ تاسو ، سوی د الله تعالی نه كچرې يئ تاسو ريښتني

فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْا اَنَّمَا اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ

پس كه دوئ قبوله نكړى خبره (چلينج) ستاسو پس پوهه شئ چه بيشكه نازل كړي شويدي دا قرآن په علم د الله تعالى سره

وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝

اوپدې خبره چه نشته دې حقدار دبندګی سوا د الله تعالی نه، پس آيا تاسومسلمانان يئ؟(يعنی مضبوط شئ په اسلام)

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ

هغه څوك چه غواړی په عمل خپل سره ژوند د دنيا او ښائست د هغې نو پوره به ورکړو مونږ دوئ ته بدله د عملونو دوئ

فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

په دنيا كښې او د دوئ نه به دې كښې كمې نشی كولې. دا هغه كسان دى چه نشته دې دوئ لره په آخرت كښې

اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

مګر اور، او برباد به شی هغه عملونه چه دوئ كړی وۀ په دنيا كښې، او باطل دی هغه عملونه چه دوئ ئ كوی.

﴿اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ﴾ دا شكوه ده ،يعنی تاسو معجزات غواړئ نو د ټولو نه لويه معجزه خو قرآن دې چه تاسوته پيش كړې شوې دې ، نو كه دوئ بيا د عناد د وجې نه سوال اوكړی چه دا خو د ځانه نه جوړ شوې دې ، نو جواب دادې چه تاسو خو هم عرب يئ او د فصاحت او بلاغت لوئ لوئ دعوې كوئ،نو تاسو ددې پشان لس سورتونه راوړئ، تحدی بالقرآن (چيلنج) يو ځل په ټول قرآن باندې شوې ده ،(قل لئن اجتمعت الانس والجن على ان ياتو بمثل هذا القران لا ياتون بمثله ولو كان بعضهم لبعض ظهيرا ،آيت ۸۸) بيا په لس سورتونو سره شوې ده لكه په دې سورة كښې، بيا په يو سورة سره شوې ده لكه په سورة بقره او يونس كښې ، نو سوال واريدېږی چه سورة يونس د دې سورة نه مخكښې نازل شوې دې، نو ترتيب دا تقاضه كوی چه اكثر مخكښې ذكر شی او بيا علی السبيل التنزل اقل ذكر شی ، حالانكه دلته امر بالعكس دې امام رازی وائ چه داسې نه ده بلكه سورة هود مخكښې نازل شوې دې او سورة يونس روستو نازل

شوي . نو دا د ترتیب طبعی سره موافق دي ،او دا هم کیدی شي چه د سورة هود دا آیاتونه د تحدی دې مخکښې وی اگر که باقی مکمل سورة روستو نازل شوي وی د یونس نه. او مبرد جواب کړي دي چه په سورة یونس کښې مقابله په احکامو او وعد ، وعید او اخبار بالغیب سره ذکر وه، نو دوئ عاجز شو او په دې سورة کښې مقابله په صرف فصاحت بلاغت سره مراد ده . نو د دې دپاره ډير او متعدد سورتونه پکار دی چه تقابل او فرق معلوم شي، او هر چه ده مقابله په احکامو او وعد وعید کښې نو د هغې دپاره یو سورة هم کافی دې ،او بعض اکابرو او شیوخو ویلی دی چه تحدی (چیلنج) په یوې جملې آیت سره هم شوې دې لکه ﴿ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَادِقِينَ ﴿٣٤﴾ ﴾ او بیا تحدی په یو حرف سره هم شوې ده، لکه ﴿ قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ﴿١﴾ ﴾ ، ﴿ نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ﴿١﴾ ﴾ .

﴿ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ ﴾ یعنی که دوئ دا چیلنج قبول نه کړی نو بیا تاسو پوه شئ چه دا قران ﴿ أُنزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ ﴾ دې ، ای متلبسا بعلم الله د بعلم الله مطلب دادې چه د داسې حقایقو معارفو سره نازل شوي دې چه د هغې علم صرف الله ﷻ ته دې، مخلوق ته نشته لکه نظم معجز او اخبار د غیب نه ،﴿ وَأَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ داعطف دې په (انما) باندې نو د (فاعلموا) تحت دې او د دې نه معلومه شوه چه توحید د قرآن اهمه موضوع ده ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ﴾ دا زجر دې یعنی څوك چه نیك اعمال، مونځ، صدقه وغیره د دې دپاره کوی چه په دنیا کښې ورته صحت، عافیت سیادت حاصل شي او د الله ﷻ رضا ئې مقصودنه وی ، بلکه د نیوی فوائد ئې مقصود وی لکه منافقین او ریا کار مسلمانان ، نصارئ نو ددوئ دا اعمال بالکلیه نه ضائع کیږی بلکه د دې په بدله کښې به ورته په دنیا کښې صحت، عزت، مال، دولت، حکومت وغیره ملاویږی ، لیکن چونکی دا اعمال د روح ایمانی نه خالی دی نو په آخرت کښې په هیڅ فائده نه راځی او د کومو کافرانو، منافقانو دپاره چه د جهنم کومه سزا مقرره نوهغه پرې نه دفع کیږی اونه په کښې کمې راځی ﴿ نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ ﴾ ای جزاء اعمالهم ، د حضرت مجاهد رحمه الله نه روایت دې چه دا آیت نازل شوي دې په باره د ریا کارو کښې چه د قیامت په ورځ به ریاکار عالم، قاری ته او مجاهد ته او سخی ته اووئیلې شي (لقد قیل لك کما فی الحدیث) ، او انس رضی الله عنه نه روایت دې چه دا په باره د یهودو نصارو کښې نازل شوې دې نو که دوئ سائل ته څه ورکړی یا صله

رحمي اوکړی نو په دنیا کښې ورته د هغې بدله ورکولې شي ، صحت، دولت وغیره ورکولې شي او چا ویلي دي چه دا په باره د منافقینو کښې نازل شوې دي چه جهاد ته به تلل او نبي ﷺ به ورله په مال غنیمت کښې حصه ورکوله ﴿وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا﴾ یعنی په آخرت کښې به برباد شي عملونه د دوئ چه ثواب به ورته نشي ورکولې ﴿وَبَاطِلٌ﴾ یعنی د دوئ عملونه په خپله باطل عملونه دي ځکه چه صحیح بنیاد ئې نشته دې ،یعنی اخلاص او للهیت

أَفَمَنْ كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهِ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ
آیا پس هغه څوک چه وي[1] په ښکاره دلیل باندې د طرف د رب خپل نه او ملګرې وي د ده سره ګواه د طرف د هغه نه
وَمِنْ قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ ۚ وَمَنْ يَكْفُرْ
او د ده نه مخکښې ګواه وؤ کتاب د موسی چه پیشوا او رحمت وؤ ، دغه کسان ایمان لري په دې کتاب، او چا چه کفر وکړو
بِهِ مِنَ الْأَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ ۚ فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ إِنَّهُ الْحَقُّ
پدې کتاب د مختلفو ډلو نه پس اُور ځائ د وعدې د ده دې، پس مه کیږه ته په شك کښې د دې قرآن نه بیشکه دا حق دې
مِنْ رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾
د طرفه د رب ستا نه لیکن اکثر خلق (د ضد دوجه نه) ایمان نه راوړي.

﴿أَفَمَنْ كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ﴾ دا د سورة څلورمه دعوه ده ،خلاصه ئې داده چه مسئله ظاهره او واضحه ده ،څوك چه ترینه انکار کوی نو محض د ضد اوتعصب د وجې نه ئې کوی ﴿عَلَىٰ بَيِّنَةٍ﴾ مدارك وائي چه ددې نه دلیل العقل مراد دې ، یعنی مراد د (بَيِّنَة) نه عقل سلیم دې ﴿وَيَتْلُوهُ﴾ اى يلحقه ويتبعه ، یعنی د ده سره وی ﴿شَاهِدٌ﴾ ددې نه مراد قران دې ،ځکه چه دې ګواه دې په توحید اوپه رد دشرك باندې ﴿مِّنْهُ﴾ ضمیر راجع دې لفظ د الله ﷻ ته ﴿وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ﴾ یعنی د قران نه مخکښې کتاب د موسیٰ ؑ (توراة) هم ورسره وی او حجت وی ورله ﴿إِمَامًا﴾

---

۱ - څلورمه دعوی.

﴿وَرَحْمَةً﴾، آسمانی کتاب د الله ﷻ د طرف نه امام وی څکه چه د هغه اقتدا او تابعداری کولې شی او رحمت وی د خلقو دپاره، او د (افمن کان) دپاره جواب مقدر دې، چه (ایبقٰی له شبهة) او مذکور جواب ﴿أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ﴾ دا قائمقام د دغه محذوف دې. او د کلام حاصل دا دې چه توحید په عقل سره ثابت دې، او د عقل سلیم مقتضا دې، او قران هم په دې گواه دی او تورات هم په دې گواه دې، نو کومه خبره چه په عقل سره هم ثابته وی، او په اسمانی وحی قران، تورات او ټولو اسمانی کتابونو صحیفوسره ثابته وی. نو په هغې کښې د شك شبهې هیڅ گنجائش نه وی، نو مسئله د توحید ظاهره ده، که څوك ترینه انکار کوی نو هغه د ضد او تعصب په وجه کوی، لیکن د دې ضد او تعصب انجام دا دې چه ﴿فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ﴾

﴿فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ﴾ دا خطاب دې هر مخاطب ته، مراد دا دې چه هرکله مسئله ډیره واضحه ده او د شك گنجائش په کښې نشته نو ته هم شك مه کوه څکه چه دا حق دې، او اکثر خلق د ضد د وجې نه ایمان نه راوړی.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۚ أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ
او څوك لوئ ظالم دې د هغه چا نه چه جوړوی په الله تعالی باندې دروغ دغه کسان به پیش کولې شی رب خپل ته
وَيَقُولُ الْأَشْهَادُ هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ
اوبه وائی گواهی ورکونکی چه دا هغه خلق دی چه دروغ ئ ویلی وو په رب خپل باندې، خبردار! لعنت د الله تعالی دې
عَلَى الظَّالِمِينَ ۝ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۖ وَهُمْ
په ظالمانو. دا هغه کسان دی چه خلق منع کوی د لارې د الله تعالی نه او لټوی په هغې کښې کږلیچ، او دوئ
بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ۝ أُولَٰئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ
د آخرت نه هم انکار کونکی دی. دغه کسان نشی بچ کیدې د الله تعالی د عذاب نه په ټوله زمکه کښې، اونه به وی دوئ لره
مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ۘ يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ
ما سوی د الله تعالی نه څوك دوستان، دوچند کولې به شی دوئ لره عذاب (څکه) چه نه وو دوئ چه طاقت ئ لرلو

الشَّمْعَ وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ۝ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

د اوریدلو د حق (بد پرې لګیدلو) اونه دوئ لیدلو حق لره، دا هغه کسان دي چه په تاوان کښې ئ اچولي دي خپل ځانونه

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝

او ورك به شي د دوئ نه هغه چه دوئ خه دروغ جوړول. خامخا بیشکه دوئ به په آخرت کښې هم دوئ لوئ تاوانیان وي

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ

بیشکه هغه کسان[۱] چه ایمان ئ راوړي دي او عملونه کوي نیك او عاجزي کوي خپل رب ته دغه کسان جنت والا دي

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ وَالسَّمِيْعِ ۭ

دوئ به پدې کښې همیشه وي. مثال د دې دواړو ډلو په شان د ړوند او کوڼ دې او پشان د لیدونکي اوریدونکي دې

هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ۭ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝

آیا برابر دي دا دواړه په مثال کښې، آیا پس نصیحت نه اخلئ تاسو.

﴿ وَمَنْ اَظْلَمُ ﴾ دا زجر اوتخویف دې ،یعنی دغه شان سړې ډیر غټ ظالم دې چه په الله ﷻ باندې دروغ اوائی ، یعنی الله ﷻ لره شریك جوړ کړی ، یا انکار د قران نه یا د رسول نه اوکړی ﴿يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ﴾ پیښی دالله ﷻ په حضور کښې د ټولو خلقوده ، لیکن د دوئ تخصیص ځکه اوشو ، چه د دوئ پیښی د رسوا کولو دپاره ده ، نو د (یعرضون) معنی دا ده،چه د دوئ د جرمونو، شرارتونو دفتر به د دوئ سره ،علی رؤس الاشهاد ، ښکاره پیش کړې شی، ﴿ وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ ﴾ او د اشهادو نه مراد ملائك او پیغمبران او مؤمنانو دی ،او چاویلی دی چه د دوئ جوارح مراد دی ، یعنی دا ټول ګواهان به ګواهی اوکړی په دې چه دوئ په الله ﷻ دروغ تړلی دی ، او نسبت د شریك ئی الله ﷻ ته کړې وو﴿ اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴾ دا کلام د اشهادو دې ،یا کلام دالله دې﴿ وَيَبْغُوْنَهَا ﴾ دا په اصل کښې (یبغون لها) وو، او ضمیر راجع دې

---

۱ - بشارت.

«سبیل» ته او سبیل ته ضمیر د مذکر او مونث دواړو راجع کیدې شی .او مراد دینه شکوک او شبهات اچول دی په زړونود خلقو کښ،په باره د توحید او اسلام کښ .او په (یبغونها) کښ اشاره ده ،چه په سبیل الله کښ کوږوالی نشته دې خو ظالمان ئی په ضد سره په هغی کښ جوړوی ،دې دپاره چه خلق ترینه واوړی .اوپه دې آیت کښ اشاره ده . دیته چه دوئ ضال هم وواو مضل هم وو﴿مُعۡجِزِينَ﴾ دا لازمی هم راځی په معنی د (مفلتین) یعنی بچ کیدونکی او متعدی هم راځی یعنی عاجزه کونکی دی الله ﷻ لره د عذاب ورکولونه﴿مِنۡ أَوۡلِيَآءَ﴾ هیڅ څوك مددګاران، شفعاء ﴿يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ﴾ دوچند عذاب په دې وجه دې چه دوئ ضال هم وواومضل هم وو، یا دا مطلب دې چه دجهنم عذاب به هره هره لمحه کښ زیاتیږی .او (ضِعف) ، په لغت کښ زیادت غیر محصوره ته ویلې شی .

﴿مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ ٱلسَّمۡعَ﴾ دا په ظاهر کښ نفی د استطاعت ده ، نو **سوال** واریدیږی چه بیا ولې دوئ مکلف کړی شو ، **جواب** دا ظاهر نه دې مراد ، بلکه دا کنایه ده د ډیر عناد او تعصب نه یعنی د حق سره ئی دومره تعصب وو، او حق په دوی دومره بد لګیده ،او دومره ثقیل وو پرې چه د ډیر عناد دوجې نه ئی طاقت د اوریدلو نه لرلو ،او دا نظیر د دې قول د قائل دې ، (العاشق لا یستطیع ان یسمع کلام العاذل)، او شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه ممکنه ده چه حرف استفهام مقدر وی، یعنی آیا دوئ طاقت نه لرلو د اوریدلو او د لیدلو ﴿وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا﴾ (ضل په معنی د غاب سره دې ، د ﴿مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ﴾ نه مراد د دوئ مزعومه شفعاء دی ،او هغه به څکه غائب شی چه هغه په حقیقت کښ معبودان او شفعاء نه وؤ او کوم نیکان خلق چه دوئ خپل ځان له معبودان او شفعاء ګرزولی وونوهغه به جنت ته لاړشی او مشرکین به جهنم ته لاړشی، نو غائب به شی ترینه﴿لَا جَرَمَ﴾ یعنی دا خبره حقه او یقینی ده او داصل معنی په اعتبار سره په دې کښ مختلف اقوال دی : (١) فراء او زجاج وائی چه لا لنفی الجنس دې او (جرم) په معنی د (بُدّ) او (محالة) سره ورله اسم دې ، مابعد ئی خبر دې نو د لاجَرَم معنی شوه (لابد لا محالة) (٢) او بعض وائی چه (لا) زائد دې او جرم په معنی د حق سره دې، (٣) او بعض وائی چه مجموعه د (لاجرم) په معنی د (حَقّ) سره دې ، (۴) او سیبویه وائی چه (لا) د پاره د نفی د ګمان د خلقو دې، او جرم په معنی د کسب سره دې ، نو معنی داشوه چه داسې نه ده لکه چه

دوئ گمان کوی. بلکه کسب کړو ددوئ عملونوخسران په آخرت کښې ﴿ إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ دا بشارت دي﴿ مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ ﴾ دامثال د مؤمن او د مشرك دي (اعمیٰ) مقابل د بصير دي او (اصم) مقابل د (سميع) دي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾
اوبه تحقيق سره ليکلې وو[1] مونږ نوح قوم دهغه ته (وې ويل) بيشکه زه ستاسو لپاره يره درکونکې يم ښکاره
أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾
چه عبادت مکوئ د هيچا سوئ د الله تعالى نه. بيشکه زه يريږم په تاسو د عذاب د ورځې دردناکې.
فَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ
پس وه ويل غټانوهغوچه کفر ئ کړې وو دقوم دهغه نه، نه وينومونږ تا مګرينده زمونږ په شان اونه وينو مونږ تا
ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِىَ ٱلرَّأْىِ ۚ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ
چه تابعداری کړيده ستا مگر هغه کسانو چه هغوئ ذليل دی په مونږ کښې په بې فکرئ سره او نه وينو مونږ تاسو لره
عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾
په مونږ باندې هيڅ غوره والې بلکه گمان کوو په تاسو ددروغژن.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا ﴾ دا اوله قصه ده،متعلق ده اولې دعوې سره، لکه څرنګه چه حضورﷺ وائی ﴿أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ﴾ نو دغه شان خبره نوح ؑهم کړې ده ، چه ﴿أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ﴾ د نوح ؑ نسب په مشهور قول کښې دادې : (نوح بن لَمَكْ بن مُتَوَشلِخْ بن ادريس) او دې اول نبی د تشريعاتو دې چه راليګلې شوې دې زمکې ته د شرك د رد دپاره ، د ده نه مخکښې انبياء به د تشريعياتو دپاره هم وو او د تکوينياتو دپاره به هم وو، لکه دا مشهوره ده چه کپړې جوړول او خط ليکل د ادريس ؑ د زمانې نه شروع شوی دی ،ابن عباس ؓ فرمائی چه نوح ؑ ته په څلويښتم کال نبوت ورکړې شوې دې او نه نيم سوه (۹۵۰)کاله ئې تبليغ کړې دې،او د

۱ - اوله قصه د اولې دعوې سره متعلق.

طوفان نه روستو شپیته کاله ژوندې وو، نو ټول عمر ئې یوزر پنځوس کاله وو. او مقاتل وائي، چه نوح علیه السلام سل کالو په عمر کښې مبعوث شوې دې. او چا ویلي دي چه دوه نیم سوه کالو په عمر کښې مبعوث شوې دې او نه نیم سوه کاله ئې تبلیغ کړې دې .او د طوفان نه روستو دوه نیم سوه کاله ژوندې وو نو ټول عمر ئې څوارلس نیم سوه کاله وو. «روح المعاني»

اوپه دې وجه ورته اطول الانبياء عمرًا ویلې شي، ﴿إِنِّي لَكُمْ﴾ دلته قائلا یاقال مقدر دې «ای قال انی لکم نذیر»او ﴿مُبِينٌ﴾ ویلو کښې اشاره ده چه نبي نه کتمان د حق کوي .او نه د چا لحاظ کوي په بیان د حق کښې ﴿أَن لَّا تَعْبُدُوا﴾ دا مفعول د مبینٌ دې یا بدل دې د «انی لکم نذیر» نه ﴿إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ﴾ دلته «ان عبدتم غیره تعالی» یا «ان اعرضتم» مقدر دې ﴿عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ﴾ د «یوم» نه مراد یوم قیامت دې، یا یوم طوفان دې ،او «الیم» صفت د یوم دپاره دې. په طریقه د اسناد مجازی سره،ځکه دا مولم عذاب دې، لیکن عذاب واقع دې په ورځ کښې ځکه ورځې ته دردناك ویلې شوی دی، یا «الیم» صفت د عذاب دې او جر ئې جر د جوار دې.

﴿فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ﴾ ملاء اشرافو او غټانو د قوم ته ویلې شي، شرافت ئې دنیاوی وی او که اخروی وی،غټانو ته ملاء ځکه وائي چه «ملوء» په معنی د ډکوالی سره دې .او دوئ هم ډك دی په مال او جاه سره ،او هر کله چه په مال او جاه سره په انسان کښې تکبر پیدا کیږی نو د دې وجې نه د غټانو په طریقه د تکبر سره څلور اعتراضونه اوکړل : اول دا چه ﴿مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا﴾ یعنی ته خو زمونږ په شان بشر ئې او بشر خو رسول نه شي کیدې،لهٰذا ته رسول نه ئې ، مشرکان د رسالت او بشریت په مینځ کښې د تضاد قائل وو، یعنی څوك چه رسول وی نو هغه به بشر نه وی او څوك چه بشر وی نو هغه به رسول نه وی ،حالانکه په انسانانو کښې چه لکه څرنګه د رسول رسالت قطعي وی نو دغه شان ئې بشریت هم قطعي وی .او دویم اعتراض ئې دادې ﴿وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ﴾ یعنی ستا تابعداران د مال په لحاظ سره او د نسب په لحاظ سره ډیر ذلیل او خوار خلق دی ، نو که ته رسول وې ، نو اکابرو او اشرافو به ستا اتباع کړې وې ،اتباع د رسولانو لکه په حدیث د هرقل کښې دی چه اکثر غریبان خلق دی .

﴿أَرَاذِلُنَا﴾ جمع د ارزل ده ،لکه اکابر جمع د اکبر ده ،او «أحاسن» جمع د احسن ده

﴿بَادِيَ الرَّأْيِ﴾ یعنی دوئ چه اتباع کړې ده نو بې سوچه ئې کړې ده ، نو که دوئ سوچ.

فکر کړي وي. نو ستا تابعداري به ئې نه وي کړې .او (بادي) يا د بدو نه مشتق دې په معنی د ظاهر سره. يا د بداء نه مشتق دي. په معنى د اول سره . او دريم اعتراض دادې چه ﴿وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ﴾ دلته صيغه د جمع ذکر کړې شوې ده خکه چه دا اعتراض په نوح ﷺ هم وو په دعوه د رسالت کښې او په آتباعو باندې په تصديق د نوح کښې. مطلب دادې چه نه داسې مفلسانو (لکه حجام موچی جولا) له مونږ باندې فضيلت شته دې او نه د داسې خلقو اتباع کول موجب د شرافت دی، او خلورم اعتراض دادې چه ﴿بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ﴾ يعنى تاسو دروغژن يئ او په دروغه دا خو بې وقوفان جمع شوی يئ، او يوتحريك مو شروع کړې دې.او خپل تفوق په مونږ حاصلوئ

قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي
وه ويل نوح اې قومه خما ما ته خبر راکړئ که يم زه په ښکاره دليل د طرف د رب خپل نه او راکړې ئې وی ما ته
رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا
رحمت (نبوت) د خپل طرف نه پس پټ پاتې شوې وی ستاسونه، آيا مونږ مجبوره کولې شو تاسو په قبلولو د هغې
وَأَنتُمْ لَهَا كَٰرِهُونَ ۝ وَيَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا إِنْ أَجْرِيَ
اوحال دا چه تاسو دې له بد ګنړئ او اې قومه خما ! نه غواړم ستاسونه پدې بيان کولو هيڅ مال، نه دې اجر خما
إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِنَّهُم مُّلَٰقُوا
مګر په الله تعالى دې، او نه يم زه شړونکې هغه کسانو لره چه ايمان ئې راوړې دې بيشکه دوئ ملاقات کونکې دی
رَبِّهِمْ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ۝ وَيَٰقَوْمِ مَن يَنصُرُنِي
د رب خپل سره، ليکن زه وينم تاسو لره داسې قوم چه جهالت کوئ او اې قومه خما ! خوك به بچ کړی ما لره
مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ۝
د عذاب د الله تعالى نه که زه وشړم دوئ آيا پس نصيحت نه قبلوئ تاسې.

﴿قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ﴾ دا جواب دې د هغوئ د سوالاتو نه ،د اول سوال جواب داد ې چه

بیشکه زه بشر یم خو الله ﷻ رحمت یعني نبوت را کړې دې .اول د نبي امتیاز د نورو خلقونه په تقوی، حق پرستئ، صداقت، امانت وغیره صفاتو سره وی. نو که دا صفات په ما کښ څرګند موجود وی اویقیني موجود دی لیکن چه لکه څرنګه ړوند ته د شمس رنړا په نظر نه راځی نو دغسې ستاسو سترګی هم حق نه وینی ، نو آیا زه تاسو مجبور کولې شم په قبلولو د حق باندې . یعني زما حقانیت او صفات نبوت چه تاسو نه وینئ او وایئ چه ته زمونږ پشان بشر ئی نو دا په حقیقت کښ ستاسو د زړه سترګې ړندې دی، که نه وی نو زه ستاسو په شان نه یم . بلکه زه ممتاز یم په اعلی اخلاقو او تمامو صفاتو د نبوت سره ، او د دریم سوال جواب دادې چه فضیلت د یو بشر په بل بشر باندې د صفاتو په اعتبار سره وی .او دغه صفات په مونږ کښ واضح موجود دی ﴿وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ﴾ دا د دویم او څلورم سوال جواب دې یعني زما تابعداران که غریبان او خوار خلق دی نو زه خو په تبلیغ باندې څه مالی معاوضه نه غواړم (چه زما مقتدیان دې مال دار وی چه ماسره مد د کوی) بلکه اتباع د رسولانو غریبان خلق وی ، او دارنګه زه به دروغ ولې وایم که بالفرض ما په دروغه د نبوت دعوی کړی وی نو په دې کښ ماته څه فائده ده؟ د دروغو د دعوې فائده خو دا وی چه د هغې په ذریعه مال حاصل کړې شی، لکه دا مشاهده ده چه د دروغو د نبوت دعوی کونکو او دغسې د دروغو د پیرئ دعوه کونکی مقصد حصول د مال وی ﴿أَنُلۡزِمُكُمُوهَا﴾ دلته مضاف مقدردې (ای انلزمکم قبولها) ﴿وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ﴾ کفارو ویل چه ستا متبعین ډیر ذلیل او خوار خلق دی، نودوئ د خپل مجلس نه اوباسه نو مونږ به ستا اتباع اوکړونو د دې جواب راغې چه څه دا حق نه لرم ځکه چه دوئ دالله ﷻ سره ملاقات کونکی دی نوپه مابه شکایت اوکړی دالله ﷻ په حضور کښ چه یا الله! نبی ﷺ مونږ د مجلس نه شړلی یو ﴿إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ﴾ یعني د قیامت په ورځ به د خپل رب سره ملاقات کوی، یامعنی داده چه دوئ مقربین د للهﷻ دی نو د اللهﷻ مقربین چرته شړلې شم ﴿وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي﴾ دادویم جواب دې دهغوئ د قول، یعني که زه دوئ اوشړم نو ما به دالله ﷻ د عذاب نه څوك بچ کړی .

•

وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٞ
اونه وایم زه تاسو ته چه ځما سره دی خزانې د الله تعالی، اونه پوهیږم څه په غیب باندې اونه وایم چه زه فرښته یم

وَلَآ اَقُوۡلُ لِلَّذِیۡنَ تَزۡدَرِیۡۤ اَعۡیُنُكُمۡ لَنۡ یُّؤۡتِیَهُمُ اللّٰهُ خَیۡرًا ؕ

او نه وایم په باره دهغه کسانو کښې چه سپک ئې ګڼړي سترګې ستاسې چه هیچرې به ورنکړي الله تعالی دوئ ته څه خیر

اَللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا فِیۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ ۚۖ اِنِّیۡۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۳۱﴾

الله تعالی ښه پوهیږي په هغه څه چه په زړونو د دوئ کښې دي، بیشکه زه به په دغه وقت کښې خامخا د ظالمانو نه یم

قَالُوۡا یٰنُوۡحُ قَدۡ جٰدَلۡتَنَا فَاَکۡثَرۡتَ جِدَالَنَا

وه ویل دوئ اې نوح په تحقیق سره تا جګړې وکړې زمونږ سره پس زیاتې دې کړې جګړې زمونږ سره

فَاۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنۡ کُنۡتَ مِنَ الصّٰدِقِیۡنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ اِنَّمَا یَاۡتِیۡکُمۡ

پس راوړه مونږ ته هغه څه چه ته یروې مونږ لره په هغې، که ئې ته د ریشتینو نه وه ویل نوح بیشکه راولی به تاسو ته

بِهِ اللّٰهُ اِنۡ شَآءَ وَمَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُعۡجِزِیۡنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا یَنۡفَعُکُمۡ نُصۡحِیۡۤ

دا عذاب الله تعالی که ئې وغواړي. او نه به یئ تاسو بچ کیدونکی دهغه نه او فائده نه درکوی تاسو ته نصیحت زما

اِنۡ اَرَدۡتُّ اَنۡ اَنۡصَحَ لَکُمۡ اِنۡ کَانَ اللّٰهُ یُرِیۡدُ اَنۡ یُّغۡوِیَکُمۡ ؕ هُوَ رَبُّکُمۡ ۟

که زه وغواړم چه نصیحت کوم تاسو ته، لیکن چه الله تعالی غواړي چه بې لارې کړي تاسو . الله تعالی ستاسو رب دې

وَاِلَیۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۳۴﴾ اَمۡ یَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰىهُ ؕ قُلۡ

او خاص هغه ته به بوتلې شئ تاسو آیا دوئ وائې چه ده خپل خان د طرف نه جوړ کریدې دا کتاب ، وه وایه

اِنِ افۡتَرَیۡتُهٗ فَعَلَیَّ اِجۡرَامِیۡ وَاَنَا بَرِیۡٓءٌ مِّمَّا تُجۡرِمُوۡنَ ﴿۳۵﴾

که ما د خان نه جوړ کړې وې دا نو پس په ما باندې دې ګناه زما او زه خلاص یم د هغه ګناه نه چه تاسو ئې کوئ

﴿وَلَآ اَقُوۡلُ لَکُمۡ عِنۡدِیۡ خَزَآئِنُ اللّٰهِ﴾ داد مشرکینو د سوالاتو جوابونه دی او سوالات د نوح ﷺ متعلق دی یا د نبی ﷺ سره متعلق دی نو په دې تقدیر دا جمله معترضه ده. اول **سوال** دادې چه که ته نبی یې نو تاسره خزانې ولې نشته چه مخلوق ته ئې ورکړې **جواب** نبی ﷺ خلقو ته د دین او هدایت دپاره رازی د خزانو ورکولو دپاره نه رازی ، دویم **سوال** چه که ته نبی ئې نو مونږ ته

دغیب دکارونو خبر ولې نه راکوې. **جواب** نبی ﷺ دغیب دعوه نه کوی بلکه مخلوق نه احکامات الهیه بیانوی ﴿وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ﴾ دا یا عطف دې په (عندی خزائن الله) باندی (ای لا اقول اعلم الغیب) یعنی د علم غیب دعوه نه کوم. یا داعطف دې په ﴿وَلَآ أَقُولُ﴾ باندې نو دا نفی د اصل فعل ده، او دلته نفی د اصل فعل اوشوه. اګر که په ماقبل او ما بعد کښې نفی د قول شوی ده دپاره د مبالغی په نفی د دې صفت کښې چه علم غیب دې ((مبالغة فی نفی هذه الصفة التی لیس لاحد سوالله منها نصیب اصلا)) .(روح المعانی) دریم **سوال** دا چه ته بشر ئی او بشر خو رسول نه وی، **جواب** بیشکه زه بشر یم لیکن الله ﷻ ماته د انسانیت بلند مقام نبوت راکړې دې ﴿وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِيٓ﴾ ای تحتقر،یعنی کوم خلق چه ستاسو په نظر کښې حقیر وی نو د هغوئ په باره کښې زه دانه وائم چه الله ﷻ به دوئ ته هیڅ خیرنه ورکوی. نه په دنیا کښې او نه په آخرت کښې، د خیر تعلق د مال دولت سره نه دې بلکه د باطنی صفاتو سره دې .او الله ﷻ خه عالم دې د دوئ په اخلاص او للهیت باندې.

﴿قَالُواْ يَٰنُوحُ﴾ حضرت نوح ؑ نه نیم سوه ۹۵۰ کاله تبلیغ اوکړو د کفارو د سوالاتو معقول جوابات ئی ورکړل .او په دې کښې په سوونو کاله تیر شول چه کفار لاجواب شو نو دوئ اووئیل چه نوره د سوالونو جوابونو سلسله ختمه شوه ،که ته ریشتنې نبی ئی نو د کوم عذاب چه ته مونږ ته دهمکی راکوې نو هغه راوړه ﴿قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُم﴾ نوح ؑ اوویل چه عذاب څما په اختیار کښې نه دې بلکه دالله ﷻ په اختیارکښې دې . په خپل وخت به ضرور رازی اوچه کله راشی نو بیا به هیڅ څوک بچ نه شی ﴿وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِيٓ﴾ یعنی لکه چه څرنګه عذاب راوستل د الله ﷻ په اختیار کښې دی ، نو دغه شان هدایت ورکول او هدایت نه محروم کول هم د الله ﷻ په اختیار کښې دی، نو که زه تاسو ته نصیحت کوم لیکن چه الله ﷻ ستاسو د هدایت فیصله نه ده کړی نو زما نصیحت تاسوته څه نفع نه درکوی ﴿أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ﴾ دا شکوه او جواب د شکوه دې .او د دې تعلق یا د نوح ؑ او د هغه قوم سره دې. یا زمونږ د نبی ﷺ خپل قوم سره دې او په دې تقدیر دا جمله معترضه ده ﴿فَعَلَيَّ إِجْرَامِي﴾ دا په حذف د مضاف سره دې یعنی په ما باندې وبال او عذاب د جرم زما دې، (اجرام) کسب کولو د جرم ته وائی .

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ
او وحی وکړې شوه نوح ته چه بیشکه هیڅرې ایمان نه راوړی د قوم ستا نه مګرهغه څوك چه ایمان ئې راوړې دی .
فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا
پس ته مه غمژن کیږه په هغه کارونو چه دوئ ئې کوی . اوجوړه کړه کشتئ زمونږ په نګرانئ کښې او زمونږ د هدایاتو مطابق
وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾ وَيَصْنَعُ ٱلْفُلْكَ
او خبرې مکوه ما سره (سفارش مه کوه) په باره د ظالمانو کښې. بیشکه دوئ به غرقولې شی. اونوح جوړوله کشتئ
وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِۦ سَخِرُوا۟ مِنْهُ ۚ قَالَ
اوکله به چه ورتیریدل په ده یوه ډله د غټانو د قوم د ده نه نو توقې به ئې کولې په ده پورې، نو وه به ویل نوح
إِن تَسْخَرُوا۟ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾
که تاسو توقې کوئ په مونږ پورې پس مونږ به هم توقې وکړو په تاسو پورې لکه چه تاسو په مونږ پورې توقې کوئ
فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ
نو زر ده چه پوهه به شئ، تاسو به معلوم کړئ هغه څوك چه راځی په هغه عذاب چه رسوا به ئې کړی
وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾
او نازل به شی په هغه باندې عذاب همیشه .

﴿وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ﴾ دا تمهید دې قصې د هلاکت دقوم دنوح عليه السلام ته ،یعنی الله ﷻ نوح عليه السلام
په ذریعه د وحی سره خبر کړو ،چه د چا په قسمت کښې چه ایمان وونو هغوئ ایمان راوړو ،او د
دې نه علاوه نور قوم ایمان نه راوړی نو پس ته مه غمژن کیږه د دوئ په استهزاء او تکلیف
رسولو څکه چه د دوئ د هلاکت وخت قریب دې ،او د دې نه روستو بیا نوح عليه السلام خیرې اوکړې
﴿رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا﴾ نوبیا ورته حکم اوشوچه ﴿وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ﴾ او د دې آیت نه
معلومه شوه ، چه نوح عليه السلام دا وئیلی وو ،﴿إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا﴾
نو دا د علم غیب په وجه نه وه لکه داخبره اهل بدعت کوی چه انبیاء لره علم غیب ثابت دې

ځکه چه نوح ﷺ ویلی وو (انك ان تذرهم – الخ) ځکه چه د دې د آیت نه دا صراحةً معلومه شوه چه نوح ﷺ الله پاك خبر کړې ووپه ذریعه د وحی سره چه نور خلق سنا د قوم نه نه مسلمانیږی ، نو ځکه بیا نوح ﷺ خیری اوکړې چه (رب لاتذرعلی الارض الخ) ﴿ وَٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ ﴾ دا تدبیر خودل دی نوح ﷺ ته دپاره د نجات دغرق نه ﴿ بِأَعۡيُنِنَا ﴾ زمونږ په نګرانئ کښې ﴿ وَوَحۡيِنَا ﴾ زمونږ د حکم او د هدایت مطابق . په تفسیر قرطبی کښې د انس بن ربیع نه روایت دې چه ﴿ بِأَعۡيُنِنَا ﴾ معنی (بحفظنا ایاك) دې . او ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه د دې معنی (بحِرَاسَتِنَا) دی نو دې تفسیر ته مخالف د سلفونه ویل صحیح نه دی. بلکه محققینو مفسرینو لکه روح المعانی، قرطبی، شربینی حضراتو هم دا معنی کړې ده . د دې څه بعض تفصیل هم مخکښې هم (په بحث دَ متشابهاتو کښې) تیر شوې دې ﴿ وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ ﴾ دا خبر د کان دې په دې کښې داستمرار معنی ده (ای کان ویصنع الفلك) ویلی شوی دی چه کشتئ په ډیرو کلونو کښې تیاره شوه او په دې کښې جدا جدا درجې وې ، یوه حصه دَ انسانانو دپاره وه او بله حصه د حیواناتو دپاره وه ، او بله حصه دَ خوراکونو او راشن دپاره وه. مفسرینو د دې په تفصیل کښې عجیب او غریب اسرائیلیات ذکر کړی دی، لکه یو دا چه کشتئ د کوم قسم لرګی نه جوړه شوې وه ،طول عرض ئی څومره وو،چه په څو کلونو کښې تیاره شوې وه . وغیر ذالك ، امام رازی او آلوسی وغیره حضراتو ویلی دی چه دا ټولې خبرې بی کاره او بی ضرورته دی . دمؤمن د پاره صرف دومره ضروری ده چه په دی کښې دومره ګنجائش وو چه انسانان او حیوانات په کښې جوړه جوړه راغلی وو، باقی تفصیلاتو ته نه په کتاب الله کښې اشاره شویده او نه په سنت کښې ئی بیان شته نو په دغه تفصیل ذکر کولو کښې ئ هیڅ فائده نشته ﴿ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ ﴾ مسخره دا وه چه تراوسه پورې پیغمبر وو او اوس نجار (ترکاڼ) شو ، یا دا چه په وچه کشتئ جوړلو ته څه ضرورت دې ، دلته خو دریاب نشته دې دا خو دمجنونانو کار دې. یا دا چه دوئ تر اوسه پورې کشتئ نه وه لیدلی لکه د ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه هر کله الله ﷻ ورته حکم اوکړو (واصنع الفلك) نو نوح ﷺ اووئیل (یارب وماالفلك) ای زما ربه ، کشتئ څه شئ دې نو الله ﷻاوفرمائیل چه :(بیتٌ من خشب یجری علی الماء قال یا رب واین الماء قال انی علی ما اَشاء قدیر) نو د ینه معلومه شوه چه دوئ کشتئ نه پیژندله نو د دې وجې نه ئی

مسخري کولې ﴿قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ﴾ فانا نسخر . د استقبال دپاره دي . يعنى مونږ به مسخري کووپه تاسو پوري په آخرت کښې لکه په سورة مطففين کښې دی (فاليوم الذين آمنو من الکفار يضحکون) ياپه دنيا کښې په وخت د نزول د عذاب کښې او که څوک سوال اوکړی چه مسخري کول مناسب نه دی د شان د انبياؤ سره، نو جواب دادې چه دلته ذکر دمسخرې مشاکلهٔ شوې دې.او مقصود دادې که تاسو مسخري کوئ نو عنقريب به اوينئ انجام د مسخرو خپلو. او حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله د (فانا نسخر منکم) ترجمه په حال سره کوی معنی دا ده چه کفارو مسخرې کولې په نوح عليه السلام پورې چه اوبه نشته او دې کشتئ جوړوی اونوح عليه السلام او د ده تابعدارانو په دې پورې خندا کوله چه اې بې وقوفانو : هلاکت ستاسو په سر قريب ولاړ دې. او تاسو مسخرې او خنداګانې کوئ ﴿فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن﴾ من موصوله دې اومفعول د تعلمون دې او د دې نه مراد کفاردی ﴿عَذَابٌ يُخْزِيهِ﴾ د دې نه مراد عذاب د دنيا دې ﴿وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ﴾ د دينه مراد عذاب د آخرت دې.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلْنَا ٱحْمِلْ فِيهَا
تر دې پورې چه کله راغې حکم زمونږ په عذاب سره اوجوش وکړو تنور مونږ ووئيل سواره کړه پدې کشتئ کښې
مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ
د هر څيز نه جوړې (يعنى دوه څيزونه) اوکورنئ خپله ، سوی د هغه چا نه چه مخکښې شوې ده په هغه فيصله د عذاب،
وَمَنْ ءَامَنَ ۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٌ ۝
اوهغه څوک چه ايمان ئې راوړې دې (هغه هم سواره کړه) اوايمان نه وو راوړې په ده باندې مګر لږ کسانو

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ﴾ حتى د غائی دپاره دې او دا غايه ده د دې قول دپاره (ويصنع الفلك) او ﴿أَمْرُنَا﴾ که مفرد د أوامر شی په معنی د حکم سره نو مراد ترينه حکم دې د رکوب په کشتئ کښې يا حکم د جوش وهلو دې زمکې ته يا حکم دې سحاب ته چه باران اووروی يا حکم دې ملائکوته يا ﴿أَمْرُنَا﴾ مفرد د امورو دې ، نومراد ترينه نزول د عذاب دې ﴿وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ﴾ د جوش وهلونه مراد اوبه راختکيدل دی ،او د تنور نه مراد يا عام تنوردې يا خاص تنو ر دې

لکه په روایت د حسن او مجاهد ﷺ کښې دی چه دا تنور د حوا ﷺ و و چه دوډۍ به ئې په کښې پخولې. بیا به نوح ﷺ سره وو او په دې کښې اوبه ختکیدل علامه د طوفان شروع کیدلو وه. او د ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه تنور وجه الارض ته وائی. او چاویلی دی چه دا کنایه ده د غضب الهی نه.

لفظ د تنور په اصل کښې د فارسئ لفظ دې . بیا عربی گرزولې شوې دې . دې ته معرب ویلې شی ، دا قول د اکثرو علماؤ دې ، بعض وائی چه دا اشتراک د لغاتو دې ﴿مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ﴾ تنوین په (كُلٍّ) کښې عوض دې د مضاف الیه نه (ای من كل نوع) او مراد د دې نه هرهغه نوع ده چه نفع اخلی انسانان د هغې نه ،او په اوبو کښې ژوندي نه پاتیږی .او «زوجین» تثنیه د زوج ده او د زوج اطلاق په دوو معنو سره کیږی : یو هغه څیز چه د بل یو هم جنس سره جوړه وی او یوبل ته محتاج وی، نو مذکر زوج دې د مونث دپاره ،او مونث زوج دې د مذکر دپاره ، او په دې معنی سره د زوج مصداق شئ واحد وی ، اود زوجین مصداق شیئین وی . او دویم اطلاق د زوج په مجموعه د هغه دووڅیزونو کیږی چه هم جنس وی ،او په دې تقدیر دزوج مصداق شیئین وی ،او د زوجین مصداق امور اربعه وی، نو دلته چه کله د زوجین نه روستو (اثنین) ذکر شونو معلومه شوه چه زوجین په معنی اوله سره دی ،او (اثنین) بدل یا صفت دې د زوجین دپاره.

دلته هم مفسرینو عجیب اوغریب روایات ذکر کړی دی، لیکن په صحیح سند سره نه دی ثابت ﴿وَأَهْلَكَ﴾ یعنی په کشتئ کښې سواره کړه خپل اهل او مؤمنان، او د اهل نه مراد د نوح ﷺ بی بی مؤمنه ده، او د نوح ﷺ ځامن دی چه مؤمنان وؤ چه د مؤمنې بی بی نه پیدا وو. هغه درې دی : یو سام چه د عربو جد اعلی وو، بل حام چه د حبشو، سوډانیانو جد اعلی وو. او روایت کړې دې ابن المنذر او ابی حاتم په واسطه د ابن جریج سره د ابی صالح نه چه حام د خپلې بی بی سره په کشتئ کښې صحبت اوکړو .نو نوح ﷺ په غصه شو او بد دعا ئې اوکړه . نو نطفه متغیره شوۀ نو اولاد ئې ځکه تور دې،او بل یافث دې .او دې د ترک او یاجوج ماجوج جد اعلی دې نو د اهل نه دا درې واړه ځامن او د دوئ بیبیانی مراد دی ﴿إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ﴾ ددینه مراد د نوح ﷺ هغه بله بی بی ده چه کافره ده ، نوم ئې (واعله) وؤ ، او د نوح هغه ځوئ چه کافر وو، او د دې کافرې بی بی نه پیدا وو، نوم ئې کنعان وو﴿إِلَّا قَلِيلٌ﴾ په دې کښې متعدد

اقوال دی علامه آلوسی وائی چه صحیح روایت په دې کښې دادې چه دوه اوویا ۷۲ کسان وو. او نوح ؑ درې ځامن وؤ او د هغوئ بیبیانی او دنوح ؑ بی بی وه نومجموعه کسان سره د نوح ؑ نه یو کم اتیا دی

وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا

او وې ویل چه سواره شئ په دې کشتئ کښې په امداد د نوم د الله تعالی سره دی روانیدل د هغې او اودریدل دهغې

اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٤١﴾ وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ

بیشکه رب زما بښنه کونکې رحم کونکې دې او دا کشتئ روانه وه په دوئ سره په داسې چپو کښې

كَالْجِبَالِ وَنَادٰى نُوْحُ ابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ

چه د غرونو په شان وې، او آواز وکړو نوح خپل ځوئ ته، اوهغه وؤ د کشتئ نه په ډډه کښې، چه اې ځويه زما

ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٤٢﴾ قَالَ سَاٰوِيْ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ

سور شه زمونږ سره اومه کیږه د کافرانو ملګرې. وه ویل هغه پناه به وړنیسم غر ته چه بچ به کړی ما لره د دې اوبونه

قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ

وه ویل نوح نشته بچ کونکې نن ورځ د عذاب د الله تعالی نه مګر هغه ذات چه رحم کوی یعنی الله تعالی

وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ﴿٤٣﴾

او حائله شوه په مینځ د دوئ دواړو کښې چپه نو شو دې د غرق شوؤ نه.

﴿وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا﴾ د (وقال) ضمیر راجع دی نوح ؑ ته ، (بسم الله) متعلق د ((اِرکَبوا)) سره دې ، حال دې ترینه او مجرٰی او مرسٰی، ظرف زمان دې یا مصدرین دی او وقت په کښې مقدردې، نو تقدیر دا رنګه شو: (ارکبوا فیها مسمین الله ،یا قالین بسم الله وقت اجرائها وَاِرْسائها) یعنی سواره شئ په کشتئ کښې په داسې حال کښې چه د الله ﷻ نوم اخلئ او بسم الله ؤایئ په وقت د چلیدلو او ودریدلو کښې، لکه ویلی دی ضحاك رحمه الله چه نوح ؑ به کله اراده اوکړه د روانولو د کشتئ نو ویل به ئی (بسم الله) نو روانه به شوه ،او چه کله به

ئی اراده اوکړه د ادرولو ، نو ویل به ئی (بسم الله) نو کشتئ به اودریده .او به دې تقریر باندې مجری او مرسٰی منصوب دی بناء بر ظرفیت او دا هم احتمال دې چه مجری. مرسٰی مصدر میمی شی ، او مبتدا شی نو مرفوع بناء بر ابتدائیت دی . او بسم الله ئی خبر دې ﴿إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ نوح ﷺ خپلو ملګرو ته اوئیل چه سواره شئ او فکر ، غم مه کوئ زما رب د مومنانو کوتاهی معاف کونکې دې ،او ډیر مهربان دې ، نو په خپل فضل سره به مونږ صحیح سلامت اوساتی ﴿وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ﴾ دا د محذوف سره متعلق دې (فرکبوا مسمین الله تعالی او یا یقولون بسم الله) او (باء) د تلبس دپاره ده ، او دا جار مجرور متعلق دی د (تَجْرِي) سره. یعنی کشتئ روانه ده، متلبس د دوئ سره او موجونه دومره لوئ وولکه د غرونو پشان. ویلی شوی دی چه څلويښت ورځې، شپې باران اوشو او د زمکې نه چینې اوبهیدلې . نو اوبه دومره زیاتې شوې چه د غرونو د سرونونه پنځلس ګزه یاڅلويښت ګزه اوچتې شوې ،او تشبیه د موجونو ورکړې شوې ده دغرونوسره په ارتفاع کښې او که څوك سوال اوکړی چه اوبه د اسمان او د زمکې خو (مُطبق) او ملاوشوې وې او کشتئ په اوبو کښې دننه چلیده . په شان دمهی نو بیا د دې څه معنی شوه چه کشتئ چلیده په موجونو کښې په دوئ باندې، نو **جواب** دادې چه چلیدل د کشتئ په موجونوکښې مخکښې د اطباق نه وۆ یعنی چه اوبه د اسمان او د زمکی چه نه وی ملاوٌشوې نو موجونه نه وو ، او کشتئ په هغی کښې چلیده او بیا چه اوبه د اسمان، زمکې یو خائی شوې نو بیا کشتئ په اوبو کښې دننه چلیده په شان د مهی ﴿وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ﴾ نوح ﷺ دعوت ورکړو خپل خوی ته د سوریدلو په کشتئ کښې، په دې کښې یو دا احتمال دې چه نوح ﷺ پرې د مؤمن ګمان اوکړو نو ځکه ئی دعوت ورکړو چه سور شه په کشتئ کښې. بل دا احتمال دې چه اګر که ده ته علم وو د کفر د هغه لیکن د توقع امید ئ ووچه دا هولناك او خطرناك نشانی لیدو سره به ایمان راوړی ، نو معنی داشوه : ای بچیه مسلمان شه او په کشتی کښې سور شه؛ لکه چاته اوئیلې شی چه مونځ اوکړه، نو مطلب ئی دادې چه اودس اوکړه نو بیا مونځ اوکړه، بل احتمال دادې چه نوح ﷺ د ﴿وَأَهْلَكَ﴾ په عموم کښې ئی داخل کړې وی ځکه چه ((ومن آمن)) عطف دی په ((اهلك)) باندې نود دې نه دا فهمیږی چه د اهل د رکوب دپاره ایمان نه وی شرط او ﴿إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ﴾ استثناء مجمله وه نو د شفقت پدری د وجې نه ئی دې ته خیال نه دې کړې ﴿وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ﴾ یعنی په جدا ځائ کښې او په ډډه،

ډډه وو د بېلار نه او د كشتۍ نه، يا معنى داده چه په ډډه وو دخپل دين نه . يا دا معنى ده چه په ډډه يعنى په جدا ځاى كښې وود كفارو نه نو ګمان اوكړو نوح ﷺ چه دا د دې وجې نه به وي چه دې جدائى خوخوى د كفارونه نو ځكه ئ ورته دعوت وركړو چه ايمان راوړه او راسور شه ﴿قَالَ سَـَٔاوِىٓ﴾ نو خوى د جهل او غباوت په وجه دا خيا ل اوكړو چه لكه څرنګه په معمولي سېلاب كښې غر ته ختلو سره سړې بچ كيږى نو دغسې به زه هم بچ شم ﴿قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلۡيَوۡمَ﴾ نوح ﷺ اوېل چه دا معمولى سيلاب نه دې چه غر ته يا اوچت ځاى ته په ختلو سره څوك بچ شي دا خو عذاب الهى دې، د دى نه څوك نشى بچ كيدې، مګر هغه څوك چه الله ﷻ پرى رحم اوكړى. او دا ګفتګو لا نه وه ختمه شو ى چه موج په مينځ كښې حائل شو او د نوح ﷺ خوى هلاك شو .او د هميشه دپاره د يو بل نه جدا شول ﴿إِلَّا مَن رَّحِمَۚ﴾ د دې (١) يوه معنى داده چه نشته دې بچ كوونكې هيڅ څوك مګر راحم يعنى الله ﷻ (٢) يا دلته مضاف مقدر دې ،(اى إِلاَّ مكانُ من رحم الله من المؤمنين) چه هغه سفينه ده، يعنى غر يا بل ځاى د بچ كيدلو نشته، صرف يو ځاى دې . يعنى سفينه مكان د هغه كسانو دې چه الله پرى رحم كړې دې چه مؤمنان دى (٣) يا عاصم اسم فاعل نسبتى دې او اسم فاعل ذى كذا دې لكه دافق په معنى د ذى دفق سره .اوعيشة راضية په معنى د (ذى رضاءٍ وسرورٍ) سره دې نو معنى دا ده چه نشته دې . ذى عصمة يعنى بچ كيدونكى مګر هغه څوك چه الله ﷻ پرې رحم اوكړى ،لا ذا عصمة الا من رحمه الله (۴) يا دا استثنا ء منقطع ده، نومعنى داده چه نشته دې بچ كونكې د عذاب نه . لكن من رحمه الله فهو المعصوم، ليكن په چا چې الله ﷻ رحم اوكړى هغه بچ شى د عذاب نه .

وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ
او وه ويلې شو اې زمكې ! واپس تيرې كړه خپلې اوبه، او اې آسمانه ! بندې كړه اوبه. او وچې شوې (كمې شوې) اوبه
وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝
او پوره شو كار د هلاكت د قوم دنوح اوبرابر ودريدله كشتۍ په جودى غر باندې، او وه ويلې شو هلاكت دې قوم ظالمانولره

﴿وَقِيلَ﴾ يعنى اوئيلې شو د طر ف دالله ﷻ نه بالذات يا په واسطه د ملك سره ﴿يَٰٓأَرۡضُ﴾ نداء زمكې او اسمان ته صحيح ده ،ځكه هرڅيز ته الله ﷻ دومره شعور وركړې دې چه په هغې

سره فهم د امر د الله ﷻ کولې شی نو زمکې ته الله ﷻ حکم اوکړو چه خپلې اوبه اوڅکه او اوچې نی کړه او اسمان ته ئې حکم اوکړو چه بند شه . نو د زمکې اوبه وچې شوې او د اسمان اوبه پاتې شوې. او پوره شو امر د هلاکت دقوم د نوح ﷺ او کومه وعده چه الله ﷻ دنوح ﷺ سره کړې وه هغه پوره شوه .او کشتئ په جودی غر باندې اودریدله ﴿وَقِيلَ بُعْدًا﴾ بُعداً په معنی د هلاکت سره دې، ځکه بُعد د رحمت الهی نه هلاکت دې او صیغه د مجهول ذکر شوه دا دپاره د دلالت په کبریاء او جلال دالله ﷻ باندې او دپاره د دلالت په دې باندې چه دغه شان کارونه یو قادر مطلق ذات کولې شی، او بل هیڅ څوك ئې نشی کولې، او بل دپاره د دې چه دلالت وکړی په عموم باندې یعنی د هر طرف نه دا اواز اوشو .او د ملائکو د طرف نه اوشو چه ﴿بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ .

جودی یو غردې چه محل وقوع ئې د نوح ﷺ وطن اصلی ملك عراق او دموصل ښار سره نزدې په شمال جزیره کښې ابن عمر ته قریب او د ارمینیا په سرحد باندې دې ، د دې یوې حصې ته جودی او بلې حصې ته ارارا ط وائی او د قتاده نه روایت دې چه الله ﷻ دنوح ﷺ سفینه په جودی غرباقی پریخودله دپاره د عبرت حتی چه اولیدله دې لره اوائلو د دې امت او نورې ډیرې کشتئ چه د دې نه روستو جوړې کړې شوې وې هغه ختمې شوی دی او خاورې شوې دی، او روایت کړیدې امام بغوی ﷫ چه نوح ﷺ په لسم د رجب باندې کشتئ کښې سور شوې وو،او شپږ میاشتې دا کشتئ په طوفان کښې چلیدله ،اوکله چه به د بیت الله شریف مقام ته راورسیدله نو اوه گردشه طواف به ئې اوکړو، او الله ﷻ خپل کور اسمان ته اوچت کړې وو، او د غرق نه ئې بچ کړې وو،او بیا په لسم د محرم په ورځ د عاشوری طوفان ختم شو. کشتئ په جودی غر باندی اودریده ،او حضرت نوح ﷺ د شکریې په طور روژه اونیوله .او څوك چه ورسره ووهغوئ ته یې هم حکم اوکړو د روژې

دلته یو څو سوالات او جوابات دی : (۱) تمام قسمونه د حیواناتو په یو کشتئ کښې څه رنگه ځائ شول ، **جواب** : چه کوم حیوانات دریابی دی ، نو دهغې په کشتئ کښې سورولو ته ضرورت نه وو، او کوم چه د اوچې حیوانات دی، نو په هغې کښې چه کومو ته د انسان ضرورت دې مثلا خوړلې شی، سورلئ پرې کولې شی او کار پرې کولې شی، نو دا قسم حیوانات لگ دی ، یو ه یوه جوړه ترینه په کشتئ کښې ځائ کیدل مشکل نه وو .اوکومو ته چه ضرورت نه وو، نو هغه نه دی سواره کړې شوی بلکه غرق شوی دې وی، او بیا دې دوباره

سدا شوی وی. یا دې د غرق نه بچ شوی وی بغیر د کشتئ نه.

۲ **سوال** نا بالغ بچی ولی هلاك شو، **جواب** علامه آلوسی او شربینی وغیره مفسرینو د روایت ذکر کړی دې چه د غرق نه څلویښت کاله قبل په دوئ کښې د توالد او تناسل سلسله بنده شوی وه نو په چا چه عذاب راغلې دې هغه ټول بالغان وو.

(۳) **سوال** د انسانانو نه علاوه نور حیوانات ولې هلاك شو، هغوئ خو څه گناه نه وه کړې. **جواب** دا د هغوئ دپاره موت طبعی وو، عذاب نه وو.

(۴) **سوال** طوفان عام وو په ټوله دنیا او که په بعضو علاقو وو، لکه عراق موصل او دینه قریب ممالك. **جواب** بعضو د خصوص قول کړې دې لیکن صحیح قول دادې چه دا عام وو په ټوله دنیا وو. او دا د جمهور علماؤ قول دې، الله ﷻ فرمائی، ﴿وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ﴾ ﴿وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ۝٢٦﴾ د دې نه په واضحه طور سره عموم معلومیږی. نو **سوال** واردیږی چه د دې نه خو عموم بعثت معلومیږی، او حال دا چه عموم بعثت د خصوصیاتو د نبی اکرم ﷺ نه دې، کما قال وبعثت الی الناس کآفة، **جواب**: د عموم بعثت معنی داده چه د قیامت پورې تمامو انسانانو ته مبعوث شی، بلکه تمام جناتو ته هم مبعوث شی، او دا معنی ئ نه ده چه صرف د موجوده وخت ټولو انساناتو ته مبعوث شی. نو د عموم د طوفان نه عموم د بعثت نه معلومیږی.

وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبْنِى مِنْ أَهْلِى
او په عاجزئ سره آواز وکړو نوح خپل رب ته وې ویل اې ربه خما ! بیشکه څوئ خما د اهل خما نه دې
وَإِنَّ وَعْدَكَ ٱلْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ ٱلْحَٰكِمِينَ ۝ قَالَ يَٰنُوحُ
او بیشکه وعده ستا حقه ده اوته د ټولو فیصله کونکو نه لوئ فیصله کونکې یې. اوفرمایل الله تعالی چه اې نوح!
إِنَّهُۥ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَٰلِحٍ ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا
بیشکه دې ستا د اهل نه ندې بیشکه دې خاوند د خراب عمل وؤ پس تپوس مه کوه خما نه د هغه خبرې
لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۖ إِنِّىٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ۝
چه تاته ئ علم نشته دې بیشکه زه نصیحت کوم تا ته چه نه شې د نا پوهانو د ډلې نه.

﴿ وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ ﴾ ندا د نوح ﷺ سوال دي او د دې وجې نه وروستو ﴿ فَلَا تَسْأَلْنِ ﴾ ذکر شو ، نو **سوال** واردیږی چه هر کله ندا د نوح ﷺ سوال دې نو عطف د (فقال) پرې نه صحیح کیږی په فاء سره، **جواب** دادې چه فاء په (فقال) کښې دپاره د عطف تفسیر ده. نو ﴿ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي ﴾ تفسیر د سوال دې ، یا دا جواب دې ، چه (نادیٰ) په معنی د (اراد الندیٰ) سره دې نو عطف د (فقال رب) پرې صحیح شو ،او په قول د زکریا ﷺ کښې (اذ نادیٰ ربه نداء خفیا) ، په معنی د (اراد الندی) سره نه دې نو د دې وجې نه هلته عطف نه دې شوې بلکه (قال رب انی وهن العظم) ویلې شوی دی،او دا ندا د نوح ﷺ احتمال لری چه د غرق د کنعان نه بعد وی یا قبل وی ،او احتمال لری چه نوح ﷺ په هغه باندې د مومن ګمان کړی وی، یا ئ پرې د کافر ګمان کړې وی، نو که د مومن ګمان ئ پرې کړې وی او د غرق نه قبل وی. نو د دې ندا نه مقصود د هغه د بچ کولو انتظام کول دی، او که د غرق نه بعد وی نو د سوال مقصود د اصل معاملې حقیت معلومول دی، او اعتراض په الله ﷻ د وعده خلافئ یا شکایت دالله ﷻ نه مقصود نه دې، نو حاصل د سوال دادې چه کنعان ځما د اهل نه دې ځکه چه نوح ﷺ پرې د مومن ګمان کولو ، یا دا چه زما د اولاد نه دې، نو نسبی اهل دې، او تا خو زما د اهل د نجات وعده کړې ده نو په دې کښې څه راز دې چه دې هلاك شو ،او ستا وعده حقه ده او ته احکم الحاکمین ئ، نو نه ته خلاف د وعدې کوې او نه په تا څه اعتراض شته، ځکه چه ته احکم الحاکمین ئ،په دې کښې نوح ﷺ دا خبره ظاهره کړه چه نه ځما مقصود اعتراض دې په الله ﷻ او نه په هغه باندې په حقیقت کښې څه اعتراض شته، بلکه د اصلی معاملې حقیقت معلومول او د کنعان د هلاکت راز معلومول دی ﴿ قَالَ يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ﴾ یعنی کنعان د هغه اهل ستا نه ندې چه وعده د نجات ئ شوې وه بلکه دې په ﴿ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ ﴾ کښې داخل دې او دمُغرقینو په زمره کښې داخل دې اود ((ولا تخاطبنی فی الذین ظلموا)) په زمره کښې داخل دې ، اګر که د نوح ﷺ په علم کښې دې نه وو داخل په دې کښې بلکه د (قلنا احمل فیها .... واهلك) په زمره کښې داخل دې، د ابن عباس ؓ او مجاهد ؒ نه روایت دې،چه کنعان دنوح ﷺ حقیقی او صلبی ځوی وو، په دلیل د دې سره چه (فنادیٰ نوح ابنه) او دا رنګه د (یا بنی) سره او ﴿ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ﴾ معنی داده چه د هغه اهل نه ندې چه د نجات وعده ئ شوی وه ،او د حسن بصری

رحمه الله نه مروي دی چه کنعان د نوح علیه السلام ربیب (پرکتی) وو. او دریم قول دادې چه دې ولد زنا وو. او نوح علیه السلام پرې خبرنه وو. امام رازي رحمه الله وائی (هذا قول واه عبث يجب صون منصب الانبياء عن هذه الفضيحة لاسيما وهو خلاف نص القران) ددې قول سند هم نشته. او په دې کښې د انبياؤ توهين دې نودا قول صحيح نه دې ﴿إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾ دادليل دې د (لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ) دپاره. او دلته مضاف محذوف دې (اى ذو عمل غير صالح) او په يو قرائت کښې په صيغه د ماضي سره (إِنَّه عَمِلَ غَيْرَ صَالِحٍ) راغلې دې او بعضو ضمير راجع کړې دې سوال د نوح علیه السلام ته چه دا عمل غير صالح دې ليکن دا قول صحيح نه دې ﴿فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾ مراد د ينه دا دې چه د چا په ايمان کښې ستا شك وى نو د هغه د نجات سوال مه کوه. نو په دې کښې ادب د دعاء ذکر شو. او د دې نه دا معلومه شوه چه د چا دپاره د ناجائز مقصد د حصول دعا او دا رنګه د تمامو مقاصدو دعا نه ده پکار. بلکه د جائزو او شرعى مقاصدو د حصول دعا پکار ده نو د ﴿مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾ معنى داده چه تاله د کوم شى د جواز او د دې چې دا مرضى د الله جل جلاله دې، علم نه وى نو د هغې سوال مه کوه ، نو دا اعتراض وارد نه شو چه سوال خو سړې د هغه شى کوى چه علم ئې پرې نه وى. او په کوم شى چه علم وى نو دهغې سوال ته څه ضرورت نه وى ﴿إِنِّيٓ أَعِظُكَ﴾ د وعظ نه مراد منع کول او بچ کول دى، يعنى زه تاته وعظ کوم او تا منع کوم د دې نه چه د بې خبرو خلقو په شان نشې او بعضو خلقو چه ليکلى دى چه نوح علیه السلام د جاهليت کار کړې وو، يا د جاهليت په جذبه کښې راغې نو سوال ئې اوکړو (کما فى تفهيم القران) نو دا دانبياؤ ګستاخى ده.

قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ

وه ويل ده اې ربه خما بيشکه زه پناه نيسم په تا سره چه زه تپوس وکړم لتا نه د هغې خبرې چه ما ته ئې علم نه وى

وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِيٓ أَكُن مِّنَ الْخَٰسِرِينَ ۝ قِيلَ يَٰنُوحُ اهْبِطْ

اوکه نه ما ته بښنه ونه کړې او په ما رحم ونه کړې نو زه به شم د تاوانيانونه. وه ويل شو : اې نوح ! کوز شه

بِسَلَٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٍ

سره د سلامتيا نه په تا باندې زمونږ د طرفه او د برکتونونه په تا باندې او په هغه ډيرو اُمتونو باندې

مِّمَّنْ	مَّعَكَ	ط	وَأُمَمٌ	سَنُمَتِّعُهُمْ	ثُمَّ	يَمَسُّهُمْ

چه پيدا کيږي به دهغه چا نه چه ستا سره دي. او نور ډير امتونه به وي چه مونږ به ورته نفع د دنيا ورکړو بيا به رسيږي دوئ ته

مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝ تِلْكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ

زمونږ د طرفه عذاب دردناک دا (چه بيان شو)[1] بعضې د خبرونو د غيب نه دی چه وحی کوو مونږ دهغې تا ته

مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا ۖ فَاصْبِرْ ۖ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ۝

نه وې ته پوهه په هغې باندې، اونه ستا قوم د دې نه مخکښ پس صبر کوه، بيشکه ښه انجام لپاره د متقيانو دې.

﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ﴾ د نوح ؑ نه چه لغزش اوشو نو الله ﷻ ورته زورنه ورکړه، نوح ؑ معافي اوغوښته او دا قول ﴿وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي﴾ په طريقه د اظهار د عبديت او عجز سره دې او دا دلالت نه کوی په وقوع د معصيت باندې ، علامه شربينی وائ چه قوم د نوح په درې قسمه وو، يو قسم مومنان ووچه ايمان به ئ ظاهرولو،او بل قسم کافران وو چه کفر به ئ ظاهرولو، او دريم قسم منافقان ووچه د هغوئ پوره حقيقت نه وو معلوم ،او د نوح ؑ ځوی په دغه خلقو کښ وو، نو د ده پوره حقيقت خفی وو، دا هم احتمال وو چه کافر دې او داهم احتمال وو چه مومن دې ، دپلار شفقت ځوئ باندی ډير وی نو د ډير شفقت په وجه ئ په هغه د مومن گمان اوکړو او د ده د عملونو تاويل به ئ کولو نو دا اجتهادی غلطی وه. لکه د آدم ؑ نه چه په اکل د شجره کښ اجتهادی غلطی اوشوه او دا گناه او معصيت نه وی ،ليکن دا د حسنات الابرار سيئات المقربين په قانون باندې مغفرت غواړی ﴿قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ﴾ يعنی او وئيلې شو د الله ﷻ د طرف نه نوح ؑ ته چه راکوز شه کشتئ نه يا د غر نه، نوح ؑ چه هرکله د کشتئ نه بهر شو نو چونکه طوفان په ټوله زمکه راغلې وو، نو د نوح ؑ سره دا فکر شو چه په مخ د زمکې خو حيوانات نشته دې، نو د زندگئ گزران به څنگه کيږی نو الله ﷻ اوفرمائل ﴿اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِّنَّا﴾ او سلامتيا په وسعت د رزق سره راځی نو معلومه شوه چه واسع رزق به ملاؤ شی او چه ﴿وَبَرَكَاتٍ﴾ ئ اوئيل نو په دې کښ دوام ثبات ته اشاره شوه.

[1] . جمله معترضه لپاره د بيان د صداقت د نبی کريم صلی الله عليه وسلم

﴿وَعَلَىٰٓ أُمَمٍ﴾ يعني سلامتيا او بركات به په نورو ډيرو ډلو وى او په دې كښې بشارت دې نوح ﷺ ته چه ستا په اولاد كښې به نيكان خلق وى ﴿مِّمَّن مَّعَكَ﴾ (من) د ابتداء دپاره دې يعنى (ينشاء ممن معك) پيدا كيږى د هغه چا نه چه ستا سره وى او مراد ﴿مِّمَّن مَّعَكَ﴾ نه اولاد د ده دې . ځكه چه نسل انسانى اولاد د نوح ﷺ يعني سام حام او يافث نه په دنيا كښې خواره شوى دى ، لكه په بل آيت كښې دى (وجعلنا ذريته هم الباقين) او د دې وجې نه نوح ﷺ ته آدم ثانى يا آدم صغير ويلې شى ﴿وَأُمَمٌ﴾ د ا مبتداء او ﴿سَنُمَتِّعُهُمْ﴾ ورله صفت دې او خبر محذوف دې، تقدير د عبارت دارنګه دې چه (وَ ممن معك امم سنمتعهم) يا امم مبتدا ده . اوصفت ورله محذوف دې چه (منهم) دې او (سنمتعهم) ورله خبر دې او دا هم كيدې شى چه (امم) فاعل د فعل محذوف شى (اى يخلق امم) او په دې كښې اشاره ده چه دوه قسمه ډلې به په بنى آدمو كښې چليږى او دنيوى منفعت او نعمت به هم هر چاته وركولې شى، ليكن كفارو ته به بيا عذاب وركولې شى او اخروى منفعت او نعمت نه به محروم وى ﴿تِلْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ﴾ دا جمله معترضه ده دپاره د بيان د صداقت د نبى ﷺ ، الله ﷻ خپل نبى ﷺ ته فرمائى چه ته د نوح ﷺ په واقعه كښې حاضر نه وې او د دې باوجود د هغه صحيح صحيح حالت بيا نوې، نو دا ستا د صداقت دپاره زبردست دليل دې، ته د الله ﷻ حق نبى ئى په ذريعه د وحى د مخكنو انبياؤ احوال ، واقعات بيانوې ﴿مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ﴾ معنى داده چه هغه خبرو نه چه غائب وو د علم د نبى او دده مخاطبينو نه ﴿مَا كُنتَ تَعْلَمُهَآ﴾ دا تفسير د غيب دې ، ﴿وَلَا قَوْمُكَ﴾ پدې كښې اشاره ده چه يهودو نصرىٰ ته دا قصه معلومه وه ليكن عربو اميينو ته نه وه معلومه ﴿فَٱصْبِرْ﴾ دا تسلى ده ﴿إِنَّ ٱلْعَٰقِبَةَ﴾ نوح ﷺ او مومنان د تقوى په وجه د عذاب نه بچ شو او كامياب شو نو دغه شان سنت د الله ﷻ دې د تمامو مخلوقاتو دپاره .

وَإِلَىٰ	عَادٍ	أَخَاهُمْ	هُودًا ۚ	قَالَ	يَٰقَوْمِ	ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ
او ليګلې وؤ مونږ عاديانو ته [1] رور د دوئ هود ، وه ويل ده اې قومه ځما ؛ عبادت كوئ صرف د يو الله						

[1] - دريمه قصه متعلق د دعوىٰ اولى سره .

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۚ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ۝ يٰقَوْمِ لَآ اَسْــَٔلُكُمْ

نشته دي تاسو لره هيڅ معبود غير دهغه نه. نه يئ تاسي مگر دروغ جوړوئ . او اې خما قومه څه نه غواړم ستاسو نه

عَلَيْهِ اَجْرًا ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ۚ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝

پدې باندې هيڅ بدله، ندې اجر خما مگر په هغه ذات دې چه زه ئ پيدا کړې يم. آيا پس عقل نه لرئ تاسې.

وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا

او اې خما قومه بښنه غواړئ د خپل رب نه بيا توبه وباسئ هغه ته، راليږی به تاسو باندې وريخ ډيره ورونکی.

وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰهُوْدُ

او زيات به کړی تاسو لره طاقت د طاقت ستاسې سره اومخ مه گرځوئ جرم کونکی. وه ويل دوئ اې هود '

مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ

تا نه دي راوړي مونږ ته څه ښکاره دليل، اونه يومونږ پريښودونکی د خپلو معبودانو ستا د وينا د وجه نه

وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝ اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا

اونه يو مونږ ستا په خبره يقين کونکی. مونږ نه وايو مگر دا خبره چه رسولې دي تا ته بعض معبودانو زمونږ

بِسُوْٓءٍ ۚ قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا

تکليف (جنون) وه ويل ده : بيشکه زه گواه کوم الله تعالى لره اوتاسو هم گواه شئ چه بيشکه زه بيزاره يم دهغه چا نه

تُشْرِكُوْنَ ۝ مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ۝

چه تاسو ئ شريك کوئ . سوی د الله تعالى نه پس تدبير جوړ کړئ ما ته ټول بيا ما ته مهلت مه راکوئ

اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ۚ مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ

بيشکه ما خپل ځان سپارلې دې په الله تعالى باندې چه رب خما او رب ستاسو دي، نشته دي هيڅ ژوندي سر مگر الله تعالى نيوونکی دي

بِنَاصِيَتِهَا ۚ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

هغه لره د وېښتو د تندی نه (د الله په قبضه کښې دې) بيشکه رب خما رب (د عدل او انصاف په برابر لاره دې

﴿وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا﴾ دادویمه قصه ده متعلق ده د دعوی اولی سره یعنی لکه څرنګه چه نبی ﷺ (الا تعبدوا الا الله) فرمائیلی دی نو دغه شان هود ﷺ ﴿يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ﴾ فرمائلی وو ، مراد د (اخاهم) نه نسبی اخوت دې ځکه چه اسلامی اخوت ئ د خپل قوم سره نه وو ځکه قوم ئ کافر وو. د حضرت نوح ﷺ د قوم د تباهئ نه بعد عروج ترقی عادیانو نه حاصله شوه، دوئ په جنوبی عربو کښ په یمن او د هغې په اطرافو کښ حضرموت ، عمان ، خلیج فارس په لویه حصه کښ آباد وو ﴿أَخَاهُمْ﴾ منصوب دې په (ارسلنا) سره او (هودا) ورله عطف بیان دې ﴿مِّنْ إِلَٰهٍ﴾ اسم د (ما) دې، من زائده دې دپاره د مبالغې په نفی کښ یعنی نشته دې هیڅ اله لکه د (ما رجل) معنی ده، نشته دې سړې او د (مامن رجل) معنی ده، چه نشته دې هیڅ څوك سړی. نو اله مجرور دې لفظًا او مرفوع دی محلاً او (غیر) صفت د اله دې مرفوع دې تابع د محل دې ﴿إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ﴾ یعنی تاسو چه عبادت د غیرالله کوئ نو دا نه ده مګر افترٰی ده په الله ﷻ باندې، مشرك په الله ﷻ باندی افتری کوی او د اثبات د شرك دپاره دَ دروغو قصې جوړوی ، او دا معنی نه ده چه تاسو په هر څه کښ افتراء کونکی یئ. ځکه چه کیدې شی چه د دوئ بعض خبری افترٰی نه وی ﴿لَآ أَسْـَٔلُكُمْ﴾ یعنی نه د چانه خوف یره کوم او نه طمع کوم چه د حق خبرې تبلیغ پریږدم ﴿ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ﴾ یعنی د خپل رب نه معافی اوغواړئ په تیر شو ی ګناهونو ندامت اوکړئ او شرك پریږدئ او په آینده کښ الله ﷻ ته رجوع اوکړئ ، یعنی ایمان او اعمال صالحه اختیار کړئ ﴿يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ﴾ د سماء نه مراد باران دې مجازا او ((مدرار)) د مفعال وزن دې د پاره د مبالغې یعنی ډیر وریدونکې بې دریی بغیر د ضرر نه یا د سماء نه مرا د وریځ ده او دمدرار معنی ده ډیره ورونکې ﴿قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ﴾ د قوت نه مراد جسمانی قوت دې یا مالی قوت دې یا ترې نه مرا د د اولاد قوت او کثرت دې . او په بعض روایتونو کښ راغلی دی چه درې کاله د دوئ زنانه شنډی شو ې وې ﴿مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ﴾ قوم د ډیر ضد اوعناد په وجه د توحید نه انکار اوکړو او طعن ئی اوکړو ﴿عَن قَوْلِكَ﴾ بسبب قولك ، ستا د قول په وجه مونږ خپل اله نه پریږدو او تا په خپله د دعوی باندې څه دلیل او معجزه نه ده پیش کړې ، یعنی هغه معجزه چه زمونږ د مرضئ مطابق وی

﴿إِن نَّقُولُ إِلَّا اعْتَرَىٰكَ﴾ يعنی معاذالله ستا دماغ خراب شوی دی . تا به زمونږ د معبودانو توهين كولو نو د هغوئ ازار در پسې شوې دې، هره زمانه کښې مشرکين داسې قسم خبرې کوې . او د انکار د توحيد دپاره تاويلات کوی او وجوهات بيانوی ﴿قَالَ إِنِّيٓ أُشۡهِدُ ٱللَّهَ﴾ حضرت هود ﷺ د مذکور طعن په جواب کښې اوويل چه زه ستاسومعبودانو نه د متصرف او مختاروبلونه بيزار يم ، اوپه دې خبره تاسو ګواه شئ او الله ﷻ هم ګواه دې چه زه ستاسو د معبودانو نه بيزار يم . د دې نه معلومه شوه چه په حق باندې تصديق او د اقرار سره تبری «بيزاری» د تمامو اديانو باطلو نه هم ضروری ده نو که څوک د الله ﷻ د وحدانيت او د رسول الله ﷺ د رسالت اقرار کوی ليکن چه د يهوديت او نصرنيت وغيره اديانو باطلو نه تبری نه کوی نو هغه مومن نشی کيدې ﴿فَكِيدُونِي جَمِيعٗا﴾ داد هود ﷺ د شجاعت بيان دې. يعنی تاسو ټولو سره د خپلو معبودانو نه ماته د ضرر رسولو دپاره تدبير جوړ کړئ او ماته مهلت مه راکوئ ليکن زه دا وايم چه تاسو ماته هيڅ نقصان نشئ رسولې او نه زه تاسو نه يره خوف کوم خکه چه ﴿إِنِّي تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ﴾ زما توکل په الله ﷻ دې ﴿مَّا مِن دَآبَّةٍ﴾ هر څيز د الله ﷻ په قبضه تصرف کښې دې (ناصية) د سرمخکنی ويختونه وائ «موئ پيشانی» او د هغې نه چه څوک اونيسلې شی نو بيا سر نه شی خوزولې نو د دې وجه نه دا د عربو په محاوره کښې کنايه ده د قبضې او تصرف نه ﴿إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ﴾ د دې يو مطلب دادې چه زما رب د عدل په نيغه لار دې ،په عدل انصاف سره فيصله کوی ، مجرمانو ته به سزا ورکوی اومومنانو ته به اجر ورکوی يا ﴿عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ﴾ د بَدَلْ مقدرسره متعلق دې يا د يَهْدِیْ مقدر سره متعلق دې او علی په معنی د اِلی سره دې .

فَإِن	تَوَلَّوۡاْ	فَقَدۡ	أَبۡلَغۡتُكُم	مَّآ
پس که تاسو اعراض وکړئ «نو په ما څه ملامتی نشته» څکه چه رسولی دی ما تاسوته هغه پيغامونه				
أُرۡسِلۡتُ	بِهِۦٓ	إِلَيۡكُمۡۚ	وَيَسۡتَخۡلِفُ	رَبِّي	قَوۡمًا	غَيۡرَكُمۡ
چه زه راليږلې شوې وم په هغې باندې، تاسوته او را به ولی رب څما روستو د هلاکت ستاسونه بل قوم غير ستاسو نه				

وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَـيْـًٔا ۭ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ۝ وَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا

اوضرر نشئ ورکولې هغه ته هيڅ، بيشکه رب خما په هر څيز نګران دې اوهرکله چه راغې حکم د عذاب زمونږ بچ کړو مونږ

هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝

هود اوهغه کسان چه ايمان ئې راوړې وؤ دهغه سره په رحمت زمونږ، او بچ کړل مونږ دوئ لره د عذاب سخت نه

وَتِلْكَ عَادٌ ڒ جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهٗ

اودغه عاديان وؤ چه انکار ئې کړې وؤ د آياتونو د رب خپل نه او نافرمانی ئې کړې وه د رسولانو دهغه نه

وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ۝ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً

او تابعداری ئې کړې وه د طريقې د هرسرکش عنادی. او په دوئ پسې روستو راليږلې شوې وؤ په دې دنيا کښې لعنت

وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۭ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ۝

او په ورځ د قيامت هم، خبردار ! بيشکه عاديانو کفر کړې وؤ په رب خپل ، خبردار ! تباهی ده عاديانو لره چه دهود قوم وؤ

﴿فَاِنْ تَوَلَّوْا﴾ دا په اصل کښې (تَتَوَلَّوْا) دې او جزا ئې محذوفه ده (اى لم أُعاتب) يعنی که تاسو اعراض کوئ نو په ما څه عتاب، ملامتيا نشته دې ځکه چه په ﴿فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ﴾ اى جميع ما ارسلت به ﴿وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ﴾ دا جمله مستانفه ده او که عاطفه شي نو معطوف عليه ورله مقدر دې چه يهلککم بستأصلکم دې، دعوت او ابلاغ نه بعد په دوو کارونو کښې يو خامخا واقع کيږی يا هدايت او يا هلاکت نو هر کله چه د ابلاغ او دعوت سطح خپل معيار ته اورسيده نو که تاسو هدايت نه قبلوئ او اعراض کوئ نوبيا به په تاسو هلاکت راشی، تاسو به الله ﷻ هلاك کړی او نور خلق به ستاسو په ځائې پيدا کړی ﴿وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ﴾ يعنی که تاسو د الله ﷻ حکمونه قبول نه کړئ نو په دې کښې الله ﷻ ته هيڅ ضرر، نقصان نشته دې ، الله ﷻ خو صمد او بی حاجته ذات دې بلکه نقصان او ضرر صرف تاسو ته دې په دنيا او آخرت کښې ﴿اِنَّ رَبِّيْ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ﴾ زما رب د هر څيز نګهبان دې او نګران دی، نو ستاسو معصيت او نيکی ترينه پټ نه دی ﴿وَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا﴾ د امر نه مراد عذاب دې چه سخته سيلئ ده چه د مغرب د طرف نه مشرق نه

چليدله اودې ته (دبور) وائ . لکه په حديث کښې دی چه (نصرت بالصبا و اهلکت عاد با الدبور)
باد الصبا هغه خوشگواره هوا ده چه د مشرق نه مغرب طرف ته چليږی د يمن په علاقه احقاف
کښې چه په دغه ځائ کښې د عاديانو سکونت وو. حضرت هود ﷺ دوئ ته مبعوث وو .او
مفسرين وائی چه د هود ﷺ ټول عمر ۴۶۴ کلونه وو. په ځلوېښتم کال ورته نبوت ورکړې شو
او ۴۲۴ کالونه ئ تبليغ اوکړو ، په ده باندې څلور زره کسانو ايمان راوړې وو. باقی ټول قوم
کافر وو ، نو الله ﷻ په دوئ باندې قحط مسلط کړو او اوبه اوچی شوې. نو دوئ يو وفد
مکې ته اوليږه ،خانه کعبه اګر که په دغه زمانه کښې د طوفان په وجه نړيدلی وه ليکن د خانه
کعبه په ځائ باندې د شګو غُنډئ وه ، خلقو به هلته دعاګانې کولې . نو دا وفد مکی ته لاړو
چه دباران دپاره دعا اوکړی، د مکې د بعض سردارانو سره دوئ ديره شول او د عربو مهمان
نوازی خو مشهوره ده ، نو هغوئ د دوئ ډير احترام کولو، د خوراك څښاك مکمل بندوبست
ئ ورله کولو، او تفريح دپاره ئ ورله د غزلخوانو وينزو بندوبست هم اوکړو، نو دوئ چه دا
مزې اوليدلې نو د خپلو راتلو غرض ترينه هير شو ، آخر ميزبانان (کور والا) هم د دوئ نه تنګ
شول ، او يوې وينزی دوئ ته په خپل غزل کښې ياد دهانی اوکړه نو دوئ پوهه شول او د بيت
الله مقام ته لاړل دعاء ئ اوکړه ، نو درې قسمه وريز راغله سپينه ، توره ، سره ، نو دوئ
توره وريځ خوښه کړه چه د دې نه باران ډير وريږی، هر کله چه د دوئ په علاقه باندې وريځ
ښکاره شو ه، نو دوئ اويل (هذا عارض ممطرنا) نو د الله ﷻ د طرف نه ورته اوويئلې شول چه
(بل هو ما ستعجلتم به) نو د دينه داسې سخته سيلئ اوچليده چه اونې، عمارتونه او هر څه ئ
درهم برهم کړل ، عاديان ئ اوچت کړل او يو بل سره ئ ټکراؤ کړ ل ،او تيزه ګرمه هوا د دغه
خلقو په پوزه کښې داخله شوه ،او اعضاء ئ ورله مات کړل (په سورة اعراف کښې دا تفصيل تير
شوې دې) ، ﴿وَالَّذِينَ ءَامَنُوا مَعَهُ﴾ چه دا څلور زره کسان وو، او دلته ﴿نَجَّيْنَا﴾ دوه کرته ذکر
شو، د او ل نه مراد نجات دې د عذاب دنيوی نه ، او د دويم نه مراد يعنی ﴿وَنَجَّيْنَاهُم مِّنْ عَذَابٍ
غَلِيظٍ﴾ نه نجات د آخرت دې ، يا د اول نه مرا د نجات دې د قوم د ظلمونو نه او د دويم نه مراد
نجات د عذاب الهی نه دې ﴿وَتِلْكَ عَادٌ﴾ نو هرکله چه دا واقعه مشهوره وه نو دلته اشاره ما
حضر فی الذهن ته اوشوه، ده اسم اشاره د مونث په تاويل د (قبيلةٌ) سره ده ، او ﴿رُسُلَهُ﴾
صيغه د جمع ذکر شوه ځکه چه انکارد يو رسول نه انکار دې د ټولونه ، ځکه چه ټول انبياء

شريك دى په دعوت د توحيد كښې . اومفسرينو ويلى دى چه دا هم كيدې شى چه په دغه وخت كښې نو رانبياء هم دوئ ته مبعوث شوى وى ﴿لَعْنَةً﴾ لرې والې دَ رحمت الهى نه او د خير نه محرومى. په دنيا كښې لعنت دادې چه مومنان هميشه د دوئ ذكر د ملامت او بيزارئ په انداز كښې كوى ، او په قيامت كښې لعنت دادې چه د كل خلايقو په حضور كښې به ملامت او رسوا شى ﴿أَلَا بُعْدًا لِعَادٍ﴾ (بُعد) په معنى د لرې والى د رحمت الهى نه هم راځى او دا مفهوم بعينه د لعنت هم دې او په معنى د تباهى او هلاكت سره هم راځى. دلته دا دويمه معنى زياته مناسبه ده

وَ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ

او ليږلې وو مونږ ثموديانو ته[1] (نسبى) رور د هغوئ صالح ، ده وه ويل : اې قومه خما ! صرف د يو الله بندګى كوئ

مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا

نشته دې تاسو لره هيڅ اِله سوى د هغه نه. هغه پيدا كړى يئ تاسو د زمكې نه او آباد كړى يئ تاسو پدې زمكه كښې

فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ قَالُوا يَٰصَٰلِحُ

پس ښننه غواړئ دهغه نه بيا توبه وباسئ هغه ته، بيشكه رب خما نزدې دې قبلونكې دې . وه ويل دوئ اې صالحه!

قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَا ۖ أَتَنْهَىٰنَا أَن نَّعْبُدَ مَا

په تحقيق سره ته وې په مونږ كښې اميدلرلې شوې پخوادې نه. آيا ته مونږ منع كوې ددينه چه مونږ عبادت وكړو دهغه چا

يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾

چه د هغوئ عبادت كولو مشرانو زمونږ او په تحقيق سره مونږ په شك كښې يو دهغه خبرې نه چه ته بلې مونږ لره هغې ته كلك شك

﴿وَإِلَىٰ ثَمُودَ﴾ دا دريمه قصه ده دعوه اولى سره متعلق ده. اودا عطف دې په ما قبل (اى وارسلنا الى ثمود) او ثمود ته عاد اخرىٰ او عاد ثانى هم ويلې شى ،ثموديان هم د عاديانو په شان د سام بن نوح په اولاد كښې دى او د عاد اولى نه دوه سوه كاله بعد په اقتدار كښې راغلى

---

۱ . دريمه قصه هم متعلق ده دعوىٰ اولى سره .

دی ﴿هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ﴾ په دې کښې د حصر او قصر معنی ده او دا قصر افراد یا قصر قلب دې او د زمکې نه دَ پیدا کولو یا دا معنی ده چه آدم ﷺ د زمکې نه پیدا دې نو ټول انسانان د زمکې نه بالواسطه پیدا دی یا دا معنی ده چه انسان د نطفې نه پیدادې او نطفه د هغه خوراکونو او غذاګانو نه جوړیږی چه هغه د زمکې نه پیدا کیږی ﴿وَٱسْتَعْمَرَكُمْ﴾ استعمار (۱) د عمر نه ماخوذ دې او د استعمار معنی ده مدت العمر پورې آبادول دی. یعنی الله ﷻ ستاسو خالق هم دې او ستاسو آبادونکې هم دې . یعنی ستا سو تمام ضروریات پوره کیدل چه د زمکې نه ستاسو په نظر راځی دا په حقیقت کښې الله ﷻ پوره کوی . خوراك څښاك مکانات وغیره ټول ضروریات پوره کونکې صرف الله ﷻ دې ، په دې تقدیر دا باب استفعال په معنی د افعال سره دې (استعمرتُ الارض) په معنی د (اعمرتُ) سره دې (۲) او ضحاك ویلی دی چه ﴿وَٱسْتَعْمَرَكُمْ﴾ په معنی د (اطال اعمارکم) سره دې یعنی تاسو له ئې ډیر طویل عمرونه درکړی دی . حتی چه د دوئ عمرونه به درې سوو کلونو نه تر زرو کلونو پورې وو(۳) او د زید بن اسلم نه روایت دې چه د (استعمرکم) معنی (اَمَرَکُمْ بعمارة ما تحتاجون الیه) سره دې نو استفعال د طلب دپاره دې ، اوکشاف ویلی دی چه بعضې عمارات واجب وی لکه جامع مسجد جوړول، او بعض مستحب وی لکه د جامع مسجد نه علاوه مسجد جوړول ، او بعض مباح وی لکه کورونه جوړول ، او بعض حرام وی لکه د فخر اومباهات دپاره یا دیو معصیت دپاره جوړول یا د مال حرام نه جوړول او فقهاؤ ویلی دی چه څوك د زمکې مالك وی لیکن آبادوی ئې نه ، نو حکومت ته دا حق شته دې چه د زمکې د آبادولو دپاره ورته څه موده معینه کړی نو که بیا ئې هم نه آبادوی نو دا زمکه دې ترینه واخلی او هغه چاته دې حواله کړی چه آبادوی ئې ، او روایت دې چه ملوکو د فارس ډیر نهرونه جوړکړی وو ، او ډیرې ونې ئې لګولې وې ، نود دوئ عمرونه ډیر وو ، نو د دغه زمانې یو نبی د الله ﷻ نه دې باره کښې تپوس اوکړو چه ددې خلقو عمرونه ولې زیات دی ، نو الله ﷻ وحی راولیږله چه دوئ زما بلاد او زمکه آباده کړه ، نو ما دوئ ته ډیر عمرونه ورکړل، او حضرت معاویه ﷛ په خپل آخری عمر کښې د شړو زمکو آبادولو کوشش شروع کړو ، نو تپوس ترینه اوشو نو دوئ اوئیل چه په ما باندې باعث دا قول د قائل دې چه :

شعر لیس الفتی بفتی لایستضاء به ولا یکون له فی الارض آثارُ

(۴) او د مجاهد رحمه الله نه مروی دی چه (استعمرکم) د عمری نه مشتق دی یعنی دا زمکه ئ تاسو له درکړې ده . تر څو چه تاسو ژوندی یئ او چه کله وفات شئ نو بیا بل چاته منتقل کړې شی (روح المعانی اوشربینی) ﴿إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ﴾ د مشرکینو دا عقیده وه چه الله ﷻ د خپلې لویی سره زمونږ نه بعید دې . نوددې وجې نه هغوئ په درمیان کښې واړه واړه خدایان اومنل . چه مونږ به خپل حاجتونه دوئ ته پیش کوو، اودوئ به ئې الله ﷻ ته پیش کوی(ہمارے تمہارے آگے اور تمہارے خدا کی آگے) لکه دنیاوی بادشاهانو ته د رسیدلو هم دغه ترتیب دې، نو صالح ؑ اوفرمائل چه زما رب د دنیاوی بادشاهانو په شان نه دې ، هغه (اقرب من حبل الورید) دې هغه بلا واسطه ایجابت کوی ، نو په درمیان کښې نور معبودان راوُباسل ستاسو جهالت دې .

﴿قَالُوا يَا صَالِحُ﴾ داد قوم الزام اوملامت کول دی، یعنی زمونږ ستانه دا امید وو، چه ته چونکه ډیر قابل او لائق شخصیت ئ نو ته به د پلار نیکه اوقوم نوم روخانه کړې لیکن ته دهغوئ د نوم ختمولو او د هغوئ طریقو په ختمولو پسې شوې ئ، او مونږ منع کوې د هغه چا د عبادت نه چه زمونږ آباؤ او اجدادو ئ عبادت کولو ﴿وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ﴾ مونږ په شك کښې یو او په ډیر زیات شك کښې یو چه دا څه رنګه کیدې شی چه زمونږ مشران په غلطه وو، او ته په حقه ئ .

قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي
وه ویل ده : ای قومه څما ! خبر راکړئ ما ته که چرې یم زه په ښکاره دلیل باندې د طرف د رب څما نه، او راکړې ئ وی ما ته
مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ اللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُ
د طرف خپل نه رحمت (نبوت) پس څوك به بچ کړی ما د عذاب د الله تعالی نه کچرې زه دهغه نافرمانئ وکړم،
فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ ۝ وَيَا قَوْمِ هَٰذِهِ نَاقَةُ اللَّهِ لَكُمْ آيَةً فَذَرُوهَا
پس تاسو نه زیاتوئ ما لره سوئ د تاوان نه . اوای څما قومه ! دا اوښه د الله تعالی ده تاسو لره معجزه ده، پس پریږدئ دا
تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ۝
چه خوراك کوی په زمکه د الله تعالی کښې او مه رسوئ دې ته هیڅ تکلیف کنې وبه نیسی تاسو لره عذاب نزدې .

﴿قَالَ يَـٰقَوْمِ﴾ دا جواب دې هغوئ ته يعنی زما نبوت واضح دې . او په واضح دليل ثابت دې نو په دې کښ د شك هيڅ گنجائش نشته ، او هرکله چه الله ﷻ ماته منصب د نبوت راکړې دې ، او زه په دې کښ کوتاهی اوکړم نو بيا به د الله ﷻ عذاب راشی او هيڅ څوك به مې نه شی بچ کولې ﴿فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ﴾ نو تاسو چه ما منع کوئ د دعوت د کارنه نو ما په لوئ نقصان اوهلاکت کښ اچوئ نوتاسو لره نه ده پکار چه شك اوکړئ ، اوپه ما الزامونه اولگوئ بلکه تاسو له مناسب منل او تسليم دې ﴿وَيَـٰقَوْمِ هَـٰذِهِ﴾ قوم د صالح ﷺ نه طلب د معجزې اوکړو چه مونږ ته، ته معجزه ښکاره کړه، چه د دې غرنه حامله اوښه پيداشی، دا قوم صنعت کار، کارخانه دار وو او د هرشی ده جوړولو او د پيداوار کارخانې ورسره موجودې وې ليکن د حيواناتو د پيدائش دپاره خو څه کارخانه نه وی ، نو ددې وجی نه دوئ مطالبه اوکړه چه د دې اوچ کاڼری نه دې زمونږ په حضور کښ اوښه پيدا شی ، نو صالح ﷺ الله ﷻ ته درخواست اوکړو ، نو الله ﷻ منظور کړو، د قوم د ميلې ورځ وه ، او پراخه ميدان وو، په زرگاؤ خلق مسلم اوغير مسلم هلته موجود وو، د ټولو په حضور کښ الله ﷻ د کاڼری نه اوښه پيداکړه ، او بيا ئ په هغې باندې د وضع حمل «درد زه»کيفيت طاری کړو او بچې ترينه پيدا شو ، او هرکله چه دا اوښه د متعارف توالد تناسل نه بغير په معجزانه طور پيداشوه ، نو د دې وجې نه اضافت ئ الله ﷻ ته اوشو ، او د (ناقة الله) لقب ورته ورکړې شو ، دپاره د تشريف ﴿تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللَّهِ﴾ د ارض الله نه مراد عام مرعی «ورشو» ده ، مطلب دادې چه د دې ناقې څه بوج په تاسو نشته دې ، او ستاسو نفع په کښ شته دې څکه چه هغې ډير زيات پئ کول ، هر څومره پئ چه به د چا پکار وو ، نو لښل به ئی ،اوپه هغې کښ به څه کمې نه راتلو ، ليکن مخالفينو دا برداشت نه کړه چه د صالح ﷺ دا سې واضحه معجزه دې موجوده وی ، نو اراده د قتل د ناقې ئ اوکړه ، او هر کله چه صالح ﷺ ته دا خطره شوه ، نو اوی ويل ﴿وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ﴾ ناقې ته ضررمه رسوئ د قتل يا د زخمی کولو ، گنی په تاسو به عنقريب عذاب راشی د شعائرالله بې حرمتی سبب د عذاب وی .

فَعَقَرُوهَا	فَقَالَ	تَمَتَّعُوا	فِي	دَارِكُمْ
پس دوئ د هغې خپې کټ کړې «بيا ئ وه وژله» نو وه ويل صالح چه نفع واخلئ د ژوند نه په خپلو کورونو کښ				

ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ

دری ورځي . دا وعده ده بې دروغه پس هرکله چه راغې حکم د عذاب زمونږ بچ کړو مونږ صالح لره اوهغه جا ...

اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

چه ایمان ئ راوړې وو دهغه سره. په خاص رحمت زمونږ سره. او د رسوائی د دغه ورځې نه . بیشکه رب ستا

هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾

دی ډیر طاقت والا او زور آور دې . او ونیول ظالمانو لره تیزی چغې پس وګرځیدل دوئ په خپلو کورونو کښې پرمخې پراته

كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ

لکه چه دوئ نه وو وسیدلی په هغې کښې . خبردار ! بیشکه ثمودیانو کفر کړې وو په خپل رب باندې .

اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿٦٨﴾

خبردار ! هلاکت دې ثمودیانو لره .

﴿ فَعَقَرُوْهَا ﴾ (عقر) ذبح د بعیر (اوښ) ته هم وائی او زخمی کولو ته هم وائی ، او د داسې عضو قطع کولو ته هم وائی چه د هغې د وجې نه حیوان هلاك شی، کفارو د دې دپاره یو کس مقرر کړې وو ، قدّاربن سالف او د هغه سره نور بدمعاشان هم وو ، نو دوئ د ناقې نه اول خپې کټ کړې ، او بیا ئ ذبح کړه ، او غوښه ئ ورله تقسیم کړه ، ناقه چه کله په زمکه راپریوته نو بچې ئ درې چغې اووهلې او بیا ئ منډه کړه په غر کښې چه د کوم کاڼړی نه اوښه پیدا شوې وه هلته غائب شوه ، صالح ﷺ ډیر تالاش اوکړو خو ملاؤنه شوه، بیا صالح ﷺ دوئ ته اعلان اوکړو چه ﴿تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ﴾ تاسو نفع او مزې حاصلې کړئ درې ورځې یعنی تاسو به صرف درې ورځې ژوندی یئ خکه چې نفع خو ژوندی حاصلولې شی ، او د دار نه مراد یا د دوئ بلد (ښار) دې (لانه يدار فيها) یاترینه مراد دار دَ دنیا دې ،ابن عباس ؓ فرمائی چه دوئ ته درې ورځې مهلت ورکول د دې دپاره وو چه دوئ ته د ایمان راوړلو موقع ملاؤشی ، بیا دوئ صالح ﷺ ته اویل چه د دې څه علامه ده ، نو هغه اوفرمائل چه اوله ورځ به مو مخونه زیړ شی ، او دویمه ورځ به سره شی ، اوپه دریمه ورځ به تور شی ، او په څلورمه ورځ به په

تاسو عذاب راشی د بدھ (چارشنبې) په ورځ د دوئ مخونه زیړ شو . د جمعرات په ورځ سرہ شو . او د جمعې په ورځ تور شو . نو د هفتې په ورځ په دوئ عذاب راغی . په حدیث کښې دی . چه په دوئ دوه عذابونه راغلی وو یو د آسمان د طرفه صیحه (دفرشتی چغه) او بل د لاندې طرف نه زلزله راغلې وه . او په بل روایت کښې دی چه د کفارو د ثمودیانو نه یو کس هم بچ نه وو . د عذاب د نزول په وقت کښې ابو رغال نومې یو کس وو چه بیت الله ته تلی وو . نو ترڅو پورې چه په حرم کښې وو . نو د عذاب نه بچ وو . او کله چه د حرم نه بهر راغې نو عذاب په دہ هم واقع شو . د غزوه حنین نه بعد چه کله نبی کریم ﷺ طائف طرف ته روان شو . نو اصحاب کراموته ئ اوفرمائل چه په دې ځائ کښې ابو رغال هلاك شوې وو . او د هغه نشانی دادہ چه د ده سره د سرو زرو لخته (کوړه) وه چه هغه هم ورسره دفن ده . نو صحابو دغه ځائ اوکنستو نو د زرو کوړه ئ راواویستله . عرب خلق چه به حج ته لاړل نو د ابو رغال قبر به ئ په کوړو او لختو وهلو ﴿وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍ﴾ یعنی د رسوائ او ذلت نه چه د دغې ورځ د عذاب دنیوی په وجه راغلی وه . د ﴿يَوۡمِئِذٍ﴾ نه مراد دنیوی عذاب دې . او دا هم کیدې شی چه رسوائ او عذاب د ورځې د قیامت مراد شی ﴿ٱلصَّيۡحَةُ﴾ د آسمان د طرف نه په دوئ صیحة راغلې وه . او د زمکې نه زلزله راغلې وه ﴿جَٰثِمِينَ﴾ د ډیر هیبت د وجه نه پړمخې پریوتل او د پاسیدلو طاقت ئ نه لرلو . او په دغه حال بیا مړه شو ﴿كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ﴾ یعنی د دوئ ټول کلی دامې تباه او روان شو لکه چه هیڅ څوك په دغه علاقه کښې نه وو اوسیدلی . حلانکه دلته اووه لس سوه کلی او شهرونه وو ﴿كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ﴾ دا بیان د سبب د عذاب دې . یعنی د کفر . شرك او سرکشئ نتیجه تباهی ده .

وَلَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمٗاۖ

اوخامخا په تحقیق سره[1] راغلی وو ملائك زمونږ ابراهیم ته په زیرې سره دوئ وه ویل سلام وایو مونږ په تا باندې سلام ویل

قَالَ سَلَٰمٞۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ ۝

هغه وه ویل سلام دې وی په تاسو باندې پس درنګ ئ تیر نه کړو پدې کښې چه راوړو سخې وریت کړې شوې

۱ - خلورمه قصه د دویمې دعوې سره متعلق ده .

فَلَمَّا رَآ اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَ اَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً

پس هرکله چه وه ئ ليدل لاسونه د دوئ چه نه رسيدل خوراك ته نو نا آشنا ئ وګڼل دوئ اوپه زړه کښې ئ راغله د دوئ نه يره

قَالُوْا لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ ۝ وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ

هغوئ وه ويل مه يريږه بيشکه مونږ ليګلې شوي يو قوم د لوط ته او ښځه د ده ولاړه وه، نو د خوشحالئ نه په خندا شوه

فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ ۙ وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ۝

پس زيرې ورکړو مونږ هغې ته په اسحاق سره او روستو د اسحاق نه په يعقوب سره

﴿ وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ ﴾ دا ځلورمه قصه ده متعلق د دويمې دعوې سره ، چه علم غيب صرف الله ﷻ لره دې ، ابراهيم ؑ دالله ﷻ خليل دې ، او جليل القدر رسول او ابو الانبياء دې ،او ددې باوجود د ميلمنو د حال نه خبر نه وو، نو معلومه شوه، چه د الله ﷻ نه ماسوا بل څوك په کل مغيبات عالم نه دې ، او دلته ئ فرشتو ته (رُسُلنا) ويلې دی ، نو په دې کښې د دوئ د راتلو مقصد ته اشاره ده، او په سورة حجر کښې ئ (ونبئهم عن ضيف ابراهيم) ويلې دی ، او په سورة ذاريات آيت ۲۴ کښې ئ (هل اتك حديث ابراهيم المكرمين) ، ويلې دی څکه چه په خيا ل د ابراهيم ؑ کښې ميلمانه وو او د ﴿ بِالْبُشْرٰى ﴾ نه مراد بشارت دَ هلاکت دَ قوم دَ لوط ؑ دې ، يا دَ اسحاق ؑ بشارت دې ﴿ قَالُوْا سَلٰمًا ﴾ اى سلمنا عليك سلامًا، نو دا جمله فعليه ده او ابراهيم ؑ د دې جواب په احسن سره ورکړو ، چه ﴿ قَالَ سَلٰمٌ ﴾ ،اى سلام عليكم ، نو دا جمله اسميه ده، ﴿ فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ ﴾ ان جآء : په تاويل د مصدر سره دې ، او فى مقدره ده ، اى فما لبث فى مجيئته بعجل ، يا مِنْ مقدر دې ، او د ﴿ حَنِيْذٍ ﴾ دوه ترجمې دی ، يو (المشوى على حجارة محماة فى حفرة من الارض) يعنى ريت کړې شوې په ګرمو کاڼړو ، په اور کښې ، او بله معنى ئ (ثمينا يقطر منه ودكه) داسې څورب چه په اور کيخودې شى نو چربى ترينه څاڅى، حضرت قتاده وائى چه د ابراهيم ؑ عام مال بقر (غوايان) وو، او پنځلس ورځې شوې وې چه ابراهيم ته ؑ ميلمه نه وو راغلى ، نودې په دې غمژن وو څکه ميلمه ته به ډير خوشحاليدلو ، او طعام به ئ هم د ميلمه سره خوړله نو چه کله فرشتې راغلې نو دې خوشحاله شو او سخى ئ ذبح کړو

. او پوخ یٔ کړو، او دوئ ته یٔ حاضرکړو ﴿ فَلَمَّا رَءَآ أَيْدِيَهُمْ ﴾ هر کله چه ابراهیم ﷺ د دوئ لاسونه اولیدل چه دَ خوراك طرف ته نه رسی یعنی دوئ نه خوری ﴿نَكِرَهُمْ﴾ نو ابراهیم ﷺ داخبره بده اوګنړله چه میلمانه ولې نه خوری . او یره یٔ ترې نه محسوسه کړه. ځکه چه د دغه زماني دستور داوو چه میلمه به د چا طعام نه خوړلو دا به د دې علامه وه چه د ضرر رسولو په نیت راغلې دې . د چا د طعام خوړلو نه روستو هغه ته ضرر رسول نمك حرامی وه . نو ابراهیم ﷺ ته خطره لاحقه شوه چه دا میلمانه ماته څه نقصان رسوی. کشاف وغیره وائی چه ظاهره دا وه چه ابراهیم ﷺ پوه شو چه دا فرشتې دی او آثار د غضب او غصې یٔ ترې معلوم کړو نو خوف ورته لاحق شو، چه دوئ د چا د عذاب دپاره راغلی دی . فرشتو ورته اویل ﴿لَا تَخَفْ﴾ مه یریږه مونږ تاته یا ستا قوم ته د ضرر دپاره نه یو راغلی. فرشتو اثر د خوف او تغیر په چهره د ابراهیم ﷺکښې اولیدلو نو ځکه یٔ دا خبره اوکړه . او بله دا چه په سورة حجر آیت ۵۲ کښې (انا منکم وجلون) راغلی دی ، فرشتو ته دابراهیم ﷺ د زړه د حال علم غیب نه وو، بلکه د ابراهیم ﷺ په ویلو سره ورته معلومه شوه ﴿إِنَّآ أُرْسِلْنَآ﴾ یعنی د قوم لوط د هلاکت دپاره راغلی یو ﴿وَٱمْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ﴾ او حضرت ساره بنت هاران دابراهیم ﷺ د تره لور د پردې نه شاته ولاړه وه ، د خدمت دپاره او د دوئ خبرې یٔ اوریدلې لکه په سورة ذٰریٰت کښې (فاقبلت امراته) دی، یعنی چه دا پوهه شوه چه دوئ ملائك دی نو د پردې نه مخامخ راغله په ﴿فَضَحِكَتْ﴾ د ضحك نه مراد خندانه ده، ځکه چې د حیاناکې زنانه دپاره په مجلس کښې خندا مناسب نه ده، بلکه د دې نه مراد خوشحاله کیدل دی په خبر د هلاکت د قوم د لوط ﷺ باندې ﴿فَبَشَّرْنَٰهَا﴾ یعنی دویمه خوشحالی ورته په بشارت د ولد سره حاصله شوه . نو په دې تقدیر سره په آیت کښې تقدیم او تاخیر نشته دې او فراء وائ چه دلته تقدیم اوتاخیر دې (فبشرناها فضحکت) نوسبب د ضحك او د سرور دپاره بشارت د ولد دې او مجاهد او عکرمه ویلی دی چه دلته تقدیم او تاخیر نشته دې ، لیکن ﴿فَضَحِكَتْ﴾ په معنی د (حاضت) سره دې ، یعنی ساره اګر که بوډۍ وه، عمر یٔ یوکم سل کاله وو، لیکن حیض یٔ شروع شو . نو دا دلیل وو د ولادت ، او په سورة ذٰریٰت کښې (وبشروه بغلم) دې نو دهغې نه معلومیږی چه بشارت د ولد ابراهیم ﷺ ته ورکړې شوې دې ، اوساری ﷺ من وراء الحجاب اوریدلی دی . نو

خوشحاله شوه. او د دې آيت نه معلوميږي چه حضرت ساره رضي الله عنها نه بشارت ورکړې شو نو خوشحاله شوه. ليکن په دې دواړوکښې څه منافات نشته دې ، بلکه مطلب دادې چه ملائکو اول بشارت ابراهيم عليه السلام نه ورکړونو ساره بشارت د پردې نه روستو واؤريدلو نو خوشحاله سوه . او بيا دا احتمال وو چه ولد به د بلې ښځې نه پيدا کيږي. او د حضرت سارې رضي الله عنها هم دا تمنا وه چه زما هم اولاد وى . لکه اسماعيل عليه السلام د هاجرى رضي الله عنها د بطن نه پيدا دې نو د دې وجې نه ورته ملائکو بشارت دوباره ذکر کړو، چه دا بچى اسحٰق عليه السلام به ستا د بطن نه پيدا کيږى

سوال واردیږی چه د ﴿لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ﴾ نه صراحةً معلومه شوه چه فرشتو خبر ورکړو د هلاکولو د قوم د لوط عليه السلام بيا په سورة حجر ، او ذاريات کښې د (قال فما خطبکم ايها المرسلون) څه مطلب شو او ابراهيم عليه السلام ولې دا تپوس کوى چه (فما خطبکم) ، **جواب** دادې چه دلته په کلام کښې اختصار دې ، او مطلب دادې چه اول ئې ازاله د خوف په بشارت د ولد سره اوکړه . نو بيا ابراهيم عليه السلام تپوس اوکړو چه (فما خطبکم) يعنى د زيرى نه علاوه بل د څه مقصد دپاره راغلى يئ . نوفرشتو اويل چه ﴿إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ﴾ نو داجواب د (قال فما - الخ) دې . چه دلته نه دې مذکور ﴿وَمِن وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ﴾ داپه يو بشارت کښې بل بشارت دې، چه اسحق عليه السلام به ژوندې پاتې شى ، او لوئ به شى او بچې به ئې هم پيدا شى (يعقوب) يا مرفوع مبتدا مؤخره ده (ومن وراء اسحق) ورله خبرمقدم دې، يا منصوب دې په فعل مقدرسره ، اى وهبنا لها يعقوب .

قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا
وه ويل هغې هائ تعجب دې ، آيا زه به بچې زيږوم اوزه خو بوډۍ يم او دا خاوند څما بوډا دې، پيشکه دا
لَشَىْءٌ عَجِيبٌ ۝ قَالُوٓا۟ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۖ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ
خامخا کار عجيبه دې . وه ويل دوئ آيا تعجب کوې ته د کار دالله تعالى نه، رحمت د الله تعالى او برکتونه دهغه دې وى
عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ۝ فَلَمَّا ذَهَبَ
په تاسې باندې اې کورنۍ د ابراهيم ! بيشکه الله تعالى ستايلې شوې لوئى والا دې . پس هرکله چه لاړه

عَنْ إِبْرٰهِيمَ الرَّوْعُ وَجَاءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا فِي قَوْمِ لُوطٍ ۞ إِنَّ إِبْرٰهِيمَ

د ابراهيم نه يره او راغي ورته زيري، نو بحث ئ شروع كړو زمونږ سره په باره د قوم د لوط كښې بيشك ابراهيم

لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُّنِيبٌ ۞ يٰإِبْرٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ

صبرناك ، ديرې عاجزى كونكې ، رجوع كونكې وو الله تعالى ته دوئ وه ويل اې ابراهيمه مخ واړوه د دوئ نه

إِنَّهُ قَدْ جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۚ وَإِنَّهُمْ آتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ۞

بيشكه په تحقيق سره راغليدې حكم د رب ستا، او بيشكه په دوئ راتلونكې دې داسې عذاب چه نشى واپس كولې

﴿قَالَتْ يٰوَيْلَتٰى ءَأَلِدُ﴾ ساره ﷺ چه د بچى پيدا كيدو خوشخبرى واؤريدله . نو سخته حيرانه شوه (وَيْل) په اصل كښې په معنى د هلاك او رسوائ سره دې او استعمال ئ كيږى شائعًا په معنى د تعجب كښې او الف په (ويلتا) كښې عوض دې د ياء د متكلم نه . يعنى ساره ﷺ اويل چه ډير تعجب دې مالره، آيا ځما به ولد پيدا شى ، اوحال دا چه زه بوډئ يم ، د ۹۹ كالو ، او زما خاوند هم بوډا دې د ۱۲۰ كالو ، ﴿وَهٰذَا بَعْلِي﴾ مبتدا خبر دى . او ﴿شَيْخًا﴾ حال دې د بعلى نه، اوعامل په كښې معنى د فعل ده چه د هذا نه فهميږى . معنى (أُشِيرُ الَيْه) اومقصود ددې حال ذكر كولونه بيان د شيخوخة د بعل دې ، ځكه چه (شيخا) حال دې، قيد زائد دې ، او قيد زائد مراد د كلام وى ، او مقصود ترينه قيد د بعلى نه دې په شيخوخة سره ، ځكه چه دامعنى فاسده ده ، لكه (هذا زيد قائما) چه د دې نه هم مقصود بيان د قيام د زيد دې او تقيد د زيد نه دې په قايمًا سره ، ګنى نو لازم به شى دا چه په وقت د عدم د قيام كښې دې دغه مشار اليه زيد نه وى . حالانكه هغه زيد دې كه قايم وى او نه ، نودلته هم كه شيخوخة وى او كه نه وى خو بعلية ثابت دې ، نو معلومه شوه چه مقصود تقيدنه دې په شيوخة سره ، بلكه مقصود بيان د شيخوخة دې ﴿إِنَّ هٰذَا﴾ دا اشاره ده بشارت يا د ولادت ته په تاويل د مذكور سره يا په تاويل د هذا الفعل سره ﴿عَجِيبٌ﴾ دا عجيبه په اعتبا رد عادت سره دې ، نه په اعبار د قدرت دَ الله سره ﴿قَالُوٓا أَتَعْجَبِينَ﴾ ملائك انكار او اعتراض كوى په په تعجب د ساره باندې ، چه تعجب تالره نه دى كول پكار ځكه چه ته په كور د نبوت كښې ئ چه هغه

مهبط د وحی دي . او محل د خوارقو د عادت دي نو تالره د خوارق العادت نه تعجب نه دي پکار بلکه تسبيح، تمجيد ويل پکار دی په ليدلو د خارق العادة کار سره .

﴿رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ﴾ دا جمله خبريه ده ا وعلت دي دَ پاره دَ انکار د ساره ﷞ . او بعض وائ چه دا جمله دعائيه ده ﴿أَهْلَ ٱلْبَيْتِ﴾ دا منصوب دي بنا بر مدح يا بنا بر اختصاص . او دا آيت دليل دي په دې چه خزه په اهل بيت کيدو کښ اصل ده او اطلاق د اهل بيت په خزه باندې کيدې شی ، نو د اهل بيت مصداق اول ازواج مطهرات دی ، او شيعه ګان وائی چه په خزه د اهل بيت کيدو اطلاق هله کيږی چه دا دَ خاوند د آقاربو اودَ نسب نه وی ، لکه ساره ﷞ چه د ابراهيم ؑ د تره لور وه ، او غرض ددوئ دادې چه عائشه ﷞ د اهل بيت نه خارجه شی ، ليکن په سورة احزاب کښ ئ ټولو ازواجو ته اهل بيت ويلی دی ، نو حضرت عائشه ﷞ په کښ داخله ده ، اود (يريدالله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت ويطهركم تطهيرا) مصداق اولی ده ، ﷞ واجزها عنا الجزا ، او دا رنګه د دې آيت نه داهم معلومه شوه چه د اهل بيت دپاره صيغه د جمع مذکرهم استعماليږی لکه په دې آيت کښ د زوجې نه تعبير په اهل بيت سره شوې دې او صيغه د جمع مذکر ورله مستعمل شوې ده نو د دې آيت نه دواړه مسئلې ثابتې شوې (۱) يو دا چه زوجه په اهل بيت کښ داخله ده مطلقا ، دويم دا چه اهل بيت دپاره صيغه د جمع مذکرصحيح ده ﴿فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ﴾ يعنی هر کله چه د ابراهيم ؑ خوف ختم شو او مطمئن شو ، چه دا ميلمانه انسانان نه دی بلکه ملائك دی او ماته د ضرر رسولو دپاره نه دی راغلی ، او د بچی په بشارت سره ورته مزيد خوشحالی حاصله شوه، نو د قوم د لوط ؑ دپاره ئ په بليغ انداز کښ سفارش شروع کړو ﴿يُجَٰدِلُنَا﴾ نه مراد سفارش کول دی او وجه داده چه ﴿إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ﴾ ابراهيم ؑ ډير تحمل والا وو ﴿أَوَّٰهٌ﴾ ډير آه کونکې تضرع کونکی نرم دل وو، چه خوك به ئ تکليف کښ ؤليده نو پريشان به شو ﴿مُّنِيبٌ﴾ انابت کونکې وو، الله ﷻ ته او دعا کونکې وو لکه روايت دې چه ابراهيم ؑ فرشتو ته اوئيل چه آيا تاسو هغه کلې هلاکوئ چه په هغې کښ درې سوه مومنان وی؟ نوهغوئ اوئيل چه نه ؟ بيا ئ اوئيل چه آيا تاسو هغه کلې هلاکوئ چه په هغې کښ دوه سوه مومنان وی؟ نو هغوئ اوئيل نه؟ بيا دغه شان د سلو او پنځوسو او د ديرشو په باره کښ ئ تپوس اوکړو ، حتی چه داسې تپوس ئ اوکړوچه که يو مومن په کښ وی نو فرشتو اوئيل چه داسې کلې هم مونږنه هلاکوو، نو

ابراهیم ﷺ اونیل چه هلته خولوط ﷺ دی او د هغه مسلمانانې لونړه دی . نو فرشتو اویل چه هغوئ فکرمه کوه هغه به مونږ سالم راؤباسو . او مقصود دابراهیم ﷺ داوو . چه مزید نور مهلت ورکړې شی . شاید دوئ به ایمان راوړی . وجه دا وه چه ابراهیم ﷺ ډیر تحمل والا او ډیر نرم دل وو . لیکن د الله ﷻ د طرف نه ملائکو اوونیل ﴿ يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَآ ﴾ داقول د فرشتو دې چه ستا په مجادله او سفارش کښې فائده نشته دې داپریګده. وجه داده چه ﴿ قَدۡ جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَ ﴾ دالله ﷻ فیصله راغلې ده ﴿ وَإِنَّهُمۡ ءَاتِيهِمۡ ﴾ او دوئ ته داسې عذاب راتلونکې دې چه نه واپس کیږی

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالَ

او هرکله چه راغلل ملائك زمونږ لوط ته[1] ، خفه شو د هغوئ په وجه او تنګ ئ شو په دوئ باندې زړه او وې ویل

هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ ۝ وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ إِلَيۡهِ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْ

چه دا ورځ سخته ده . او راغلل ده ته قوم د ده بې اختیاره زغلولې شو طرف د ده ته او د دینه مخکښې دوئ وو

يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡۖ

چه کول ئ ناکاره کارونه، ده وه ویل اې قومه خما ! دا زنانه ستاسو لونړه خما دی دوئ حلالې دی تاسو لره (نو دا په نکاح کړئ)

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ فِي ضَيۡفِيٓۖ أَلَيۡسَ مِنكُمۡ رَجُلٞ رَّشِيدٞ ۝

پس وه یریږئ د الله تعالی نه او مه شرموئ ما لره په باره د میلمونو خما کښې ، ایا نشته دې په تاسو کښې یو سړې هوښیار

قَالُواْ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ حَقّٖ وَإِنَّكَ لَتَعۡلَمُ مَا

دوئ وه ویل یقیناً ته ښه پوهیږې چه نشته دې مونږ لره په لونړو ستا کښې څه غرض او بیشکه ته پوهیږې په هغې

نُرِيدُ ۝ قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ۝

چه مونږ ئ غواړو . وه ویل لوط ارمان دې چه وې ما لره په تاسو باندې طاقت یا مې پناهی نیولې وې یو قبیلې مضبوطې ته

---

1 - پنځمه قصه د دویمې دعوې سره متعلق .

﴿ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا ﴾ داپنځمه قصه ده ، او د دويمې دعوې سره متعلق ده . لوط ﷺ ته فرښتې راغلې په شکل د انسانانو کښې نو ده اونه پیژندلې او د دوئ په راتلو ډیر پریشان شو . نو معلومه شوه چه دې عالم الغیب نه وو ، او هر کله چه پیغمبر ته علم غیب نشته دې نو بل چاته په طریقه اولی سره نشته دې ﴿ سِیٓءَ بِهِمْ ﴾ خفه شوپه راتلو د فرښتو ځکه چه قوم د دوئ بې حرمتی کوی ځکه چې فرښتی د ښکلی او بې ګیرې هلکانو په صورت کښې راغلې وې ﴿ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا ﴾ (ذرعا) تمیز دې د فاعل نه نو په معنی کښې دې فاعل دې (ای ضاق صدره بهم) او ذرع په اصل کښې متې (بازو) ته وائی او دا کنایه وی دجهد نه او د طاقت نه ، لکه (یَدْ) چه کنایه وی د قوة نه اومراد دَ طاقت نه د سینی طاقت دې نو د دې وجې نه د (ذرعًا) معنی (صدرًا) شوه (ای ضاق صدره بمجیئهم) (قرطبی)، یعنی زړه ئ تنګ شو په راتللو د دوئ باندې ﴿ عَصِيبٌ ﴾ ای شدید، ځکه چه د میلمنو بې حرمتی دغیور میزبان دپاره ډیره سخته او ګرانه خبره وی ﴿ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ ﴾ په معنی دَ يَسْرَعُونَ معلومې صیغې سره دې او د مجهول صیغه ذکر کول دپاره دَ مبالغې دی په سرعت کښې چه ګویا بې اختیاره ګرندی اوتیز روان کړې شو ، او په بعض روایاتو کښې دی چه د لوط ﷺبی بی کافره وه هغې قوم ته اطلاع ورکړه په راتلو دَ میلمنو باندې نو هغوئ بې اختیاره رامنډې وهلې ﴿ وَمِن قَبْلُ كَانُوا ﴾ یعنی د دینه مخکښې دوئ په خراب عادت باندې مبتلا وو ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى ﴾ بعض مفسرین وائی چه د ﴿ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ نه مراد زنانه د قوم دی چه هغه د نبی دپاره په منزله د لونړو وی او بعض وائی چه خپلې لونړه ینه مراد دی او مقصود دادې چه ځما لونړه په نکاح واخلئ خو ځما د میلمنو بې حرمتی مه کوئ او نکاح دمومنې خزې سره دَ کافر سړی په دغه زمانه کښې جائز وه، اوبعض مفسرین وائی چه د لوط ﷺ مقصود نکاح نه وه ، بلکه د خپل آبرو د بچ کولو دپاره ئ داخبره په عجز سره اوکړه چه که چرې په دې قوم کښې لږ حیا اوغیرت او سړی توب وی نوپه دې سره به نرمی اختیار کړی ، او د میلمنو بیحرمتی به نه کوی ، لیکن په هغوئ کښې هیڅ انسانیت او غیرت نشته وو ﴿ رَّشِيدٌ ﴾ صالح مصلح او هوښیار ﴿ قَالُوا لَقَدْ ﴾ دوئ وه وئیل چه دومره تکرار، منت زاری بې فائدی دی ، مونږ خامخا مقصد پوره کوو ﴿ مِنْ حَقٍّ ﴾ په معنی د حاجت او غرض سره دې یعنی غرض ئ شهوت پوره کول دی ، یعنی مونږ ستا د لونړو نه شهوت نه پوره کوؤ

﴿مَا نُرِيدُ﴾ يعنى طلب د دې ميلمنو نه د فاحشه كولو ﴿قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً﴾ بدنى طاقت او د افرادو طاقت مراد دې ﴿أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ﴾ د دينه مراد مضبوطه آسره او سهارا د (خاندان قبيلې) ده . (لو) تمنائيه دې يعنى كاش چې زما سره څه قوت وې يا څما مضبوطه قبيله وې . يا (لو) شرطيه دې ،او جزاء ئې محذوف ده ، چه (لدفعتكم) ده، د دينه معلومه شوه چه نبى لكه چه غيبدان نوى نو دغه شان مختاركل هم نه وى كچرته وى نو دومره افسوس اوتمنا به ئ نه كوله . په حديث كښ راغلى دى ، يرحم الله لوطا لقد كان يأوى الى ركن شديد ، د ظاهر حديث نه تنقيد معلوميږى په حضرت لوط ﷺ باندې چه توكل على الله ئ ونه كړو بلكه قوم او قبيله ئ اسرا اوګرځوله . حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى چه د حديث مقصد بيان دلوط ﷺ كمال دې چه د منكر د مدافعت دپاره ئ كوشش اوكړو. او تمنا ئ اوكړه چه نور طاقت مې وې، د منكر مكمل مدافعت به مې كړې وې، او دا تمنا د توكل سره منافى نه ده بلكه دا د ظاهرى اسبابو مطابق ده ، صوفيه وائى چه توكل لرې كول د اسبابو دى د قلب نه نه د قالب نه، يعنى ظاهرى اسباب به نشى ترك كولې بلكه يقين به پرې ترك كولې شى . او په خالق الاسباب به نظر ساتلې شى ، او بعض حضرات د حديث مفهوم داسې بيانوى چه لوط ﷺ پناه مضبوط ركن ته نيوله ، يعنى توكل ئى په الله ﷻ وو، او تمنا دقوت او د قبيلې د ظاهرى اسبابو مطابق وو، چه د توكل سره ئ مخالفت نشته دې ، په سورة قمر كښ دى (فطمسنا اعينهم) يعنى داقوم چه كله راغلو او د لوط په كور كښ په ميلمنو پسې ئى د داخليدو اراده اوكړه ، نو لوط ﷺ منع كول جبرائيل ﷺ د لوط ﷺ لاس اونيولو ،او شاته ئ كړو نو چه دوئ داخل شول ، نو جبرائيل ﷺ په دوئ باندې خپل پر راخكلو نو سترګې ئى بى نوره او خاره شوې، خو بيا ئ هم د ميلمنو تلاش كولو .

قَالُوا	يٰلُوطُ	إِنَّا	رُسُلُ	رَبِّكَ	لَنْ	يَّصِلُوٓا	إِلَيْكَ

وه ويل ملائكو : اې لوطه ! پيشكه مونږ راليږلې فرشتې د رب ستا يو ، هرګز نشى رسيدلې دوئ تا ته په ضرر سره

فَأَسْرِ	بِأَهْلِكَ	بِقِطْعٍ	مِّنَ	الَّيْلِ	وَلَا	يَلْتَفِتْ	مِنْكُمْ أَحَدٌ	إِلَّا	امْرَأَتَكَ ط

پس بوځه اهل خپل په يوه حصه د شپې كښ او شا ته دې نه ګورى ستاسونه هيڅوك مګر ښځه ستا،

اِنَّهٗ مُصِيْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ ؕ اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ؕ اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ ﴿۸۱﴾

بیشکه دی به ورسی هغه عذاب چه رسیږی قوم د هغې ته . بیشکه نیټه د عذاب د دوی وخت د صبا دی. آیا ندی صبا نزدی

فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهَا

بس هرکله چه راغی عذاب زمونږ وګرځوو مونږ بره طرف د کلو لاندې دهغې او را وه ورولو مونږ په دوی باندې

حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۙ مَّنْضُوْدٍ ﴿۸۲﴾ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ ؕ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ ﴿۸۳﴾

کاڼی د پخو شوو خاورو نه پرله پسې نشان لګیدلی په نیز د رب ستا . او نه وو هغه د ظالمانو نه لرې

﴿قَالُوْا يٰلُوْطُ﴾ هرکله چه فرشتو د حضرت لوط ﷺ بې چینی او پریشانی اولیدله نو خپل خان ئې هم ښکاره کړو چه مونږ فرشتې یو ، دوئ تاته هیڅ قسم ضررنه شی رسولې ، یعنی مونږ خو ملائك یو مونږ ته هیڅ ضرر نه شی رسولې، نو زمونږ فکر مه کوه. لیکن تاته هم څه تکلیف نشی درکولې. په دوئ باندې عذاب الهی راتلونکې دې نو ته اهل خپل د شپې شپې روان کړه . او واپس مه ګوره . مګر ستا بی بی د څان سره مه بوزه ځکه چه دا کافره وه، جاسوسی به ئې کوله. چه کله به د لوط ﷺ کور ته میلمانه راغلل نو دوي به کافرو ته اطلاع ورکوله . نو په دې به هم هغه عذاب راځی کوم چه په قوم راځی . لوط ﷺ روان شو . او بی بی ئې پاتې شوه، او بعض وائی چه بی بی ورسره تلې وه خو په روستو به ئې کتل او (واه قوما) یعنی هائ څما قومه ' ئی ویل نو په دې هم عذاب راغې چه د اسمان نه کاڼې راغې او دا پرې اولګیده او هلاکه شوه ﴿اِلَّا امْرَاَتَكَ﴾ استثناء ده د (باهلك) نه یعنی دامه بوځه . لوط ﷺ تپوس اوکړو چه په دوئ به عذاب کله راځی نو جواب راغی ﴿اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ﴾ نو لوط ﷺ اویل چه زه غواړم چه زر هلاك شی. نو فرشتو او وئیل ﴿اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ﴾ چه صبا خو نزدې دې . نه خپل څان او اهل او مومنان اوباسه ﴿فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا﴾ د امرنه مراد عذاب یا فیصله او حکم دې . یا ترینه مراد وخت د عذاب دې ﴿جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا﴾ د قوم لوط ښارونو ته په بل ځائ کښې قران (موتفکات) ویلی دی . او دا څلور ښارونه وو.(۱) سدوم دا مرکزی ښار وو، (۲) او بل آموریا عموره (۳) او دریم دوامه (۴) او څلورم سوابه . د دینه علاوه نور دیهات کلی هم وو. تمامه علاقه تقریبا په شپږ لاکه خلقو باندې مشتمله وه . لیکن په دوئ کښې د لوط

ﷺ د دوو لوڼو نه علاوه بل هیچا ایمان نه وو راوړې . حتی چه د لوط بی بی هم د ایمان نه محرومه وه . او د نورو کافرانو سره په عذاب کښې مبتلاشوې وو . نو لوط ﷺ چه دوئ ته ډیره زمانه تبلیغ اوکړو . اودوئ ایمان نه راوړلو . نو عذاب پرې راغې الله ﷻ جبرائیل راؤلیګلو . او د هغه شپږسوه وزرې وې . د یو وزر په سر باندې ئ دا ټوله علاقه د وېخ نه راوچته کړه . او اسمان ته ئ ورسوله حتی چه اهل د اسمان د سپو اوازونه او دچرګانو اوازونه اوریدل . بیا ئ پړ مخې د اسمان نه زمکې ته ارتاؤکړل . ﴿وَأَمۡطَرۡنَا﴾ او کانړی ئ پرې راوورول ﴿وَأَمۡطَرۡنَا﴾ عطف په واو سره شوې دې . او واو ترتیب نه فائده کوی نوکیدې شی چه کانړی ئ پرې اول ورولی وی او بیا ئ پړ مخې غورزولی وی او داهم کیدې شی چه د کلو اړول مخکښې وی او دَ کانړی ورول روستووی، الله قادر دې په دې هم چه زمکه ئ په فضاء کښې حصاره کړې وی او په دوئ باند ئ کانړی ورولی وی . او بیا ئ لاندې ارتاو کړی وی . او بعض وائ چه کوم خلق په علاقه کښې موجود وؤ په هغوئ باندی زمکه اُلټه شوه . او کوم خلق چه د علاقې نه بهر وو نو په هغوئ باران د کانړو اوشو ﴿سِجِّيلٖ﴾ خټه چه پخه کړې شی . په اور باندې هغې ته وائی، نو په دې کښې دَ اور ماده وه ﴿مَّنضُودٖ﴾ لاندې باندې ، من النضد وهو وضع الشئ بعض علی بعض، (۲) یا په معنی د پی درپی سره ای متتابعة یرسل بعضه اثر بعض، کشاف ﴿مُّسَوَّمَةً﴾ خاص نشان پرې لګیدلې وو، سپین رنګ وو، یاسور رنګ وو . او چا ویلیدی چه داسې نشانه پرې لګیدلی وه چه په هغې سره دا معلومیده چه د ا د زمکې کانړی نه دی ، او چاویلیدی چه په هر کانړی د هغه چا نوم وو چې د چادپاره مقرر شوې وو ﴿وَمَا هِيَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٖ﴾ ضمیر د (هی) راجع دې کانړو ته او دظالمینو نه مراد قوم لوط وو، یعنی دا کانړی د دوئ نه بعید نه وو، بلکه په صحیح نشان به لګیدل، یا دا چه اګر که دا کانړی د اسمان نه راغلی وو خو د کافرانو سره به ډیر زرملحق شول ، نو بعید نه وو . یامراد د ظالمانو نه کفار د مکې دی یعنی کوم عذاب چه په قوم د لوط علیه السلام باندې راغلې وو . نو هغه ظالمان د دې اُمت نه لرې نه دی ، بلکه راتلې شی ، یعنی هغه ظالمان چه په مثل د قوم لوط وی په کفر او په بدعملئ کښې یا ضمیر د (هی) راجع دې قرئ دَ قوم لوط ته . اود ظالمانو نه مراد اهل مکه دی، یعنی دغه قرئ ده اهل مکې نه لرې نه دی ،بلکه دوئ په خپلو سفرونو کښې په دې تیریږی او د تباه شوو خلقو د علاقی مشاهده کوی نو ولې ترینه عبرت نه حاصلوی

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ

او لېګلي وو مونږ مدين والو ته رور دهغوی شعيب [1]. وه ويل ده اې قومه خما د يو الله بندګی کوئ نشته دې تاسو لره

مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۗ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ

هيڅوك حقدار د عبادت سوی د هغه نه. او کمې مکوئ په پيمانه او وزن کښې بيشکه زه وينم تاسو لره په مالدارئ کښې

وَّاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ ۝ وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا الْمِكْيَالَ

او بيشکه زه يريږم په تاسې د عذاب د ورځې راګيرونکې نه . او اې خما قومه ! پوره کړئ جوك (پيمانه)

وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝

او تول په انصاف سره، اومه کموئ د خلقونه مالونه دهغوئ اومه ګرځئ په زمکه کښې ورانی کونکی

بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ۝

هغه نفع چه الله حلاله کړيده ډيره غوره ده تاسو لره که چرې يئ تاسې يقين کونکی او نه يم زه په تاسې نګهبان (ساتونکی)

﴿وَاِلٰى مَدْيَنَ﴾ داشپږمه قصه ده متعلقه ده دَ دعوی اولی سره ، ځکه چې هغه ډيره اهمه وه ،يعنی شعيب عليه السلام هم ﴿يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ﴾ ويلی وو ، او مسئله د توحيد ئې بيان کړې وه ، او قوم ئې دشرك نه او د خيانت نه په مالونو کښې منع کړې وو (مدين) په اصل کښې نوم د سړی وو ، چه هغه دابراهيم عليه السلام ځوئ وو ، دابراهيم عليه السلام دوه بيبيانې خومشهورې وې ، ساره او هاجره ، خو دوه بيبيانې ئې نورې هم وې ، د مدين د مور نوم قنطوراء وه ، بيا په دې نوم د مدين سره شهر او قوم هم مشهور شو ، نو مدين شهر ته هم ويلې شی ، او قبيلی ته هم ويلې شی ، نو که په آيت کښې دمدين نه مراد مخصوص سړې شی نو بيا مضاف مقدر دې (ای الی بنی مدين) او که شهر ترينه مراد شی نو بيا مضاف مقدر دې (ای الی سکان مدين) اوکه د مدين نه مراد قوم شی نو تقدير د مضاف نه ضرورت نشته دې ، شعيب عليه السلام د قوم مدين يو فرد وو نو د دې وجې نه دلته اخاهم ذکر شوې دې ، د شعيب عليه السلام د قوم نه چه تعبير په مدين سره وشی نو هلته د شعيب عليه السلام لپاره ((اَخَاهُمْ ، اَخُوْهُمْ)) ذکرکيږی، او چه تعبير ترينه په (اصحب

۱ - شپږمه قصه د اولې دعوې سره متعلق .

الایکه) سره اوشی نو هلته د شعیب ﷺ لپاره اخاهم، اخوهم نه ذکر کیږی . نوبعض مفسرین وائی چه د دې وجه داده چه شعیب ﷺ دوو قومونوته مبعوث شوې وو. د یو سره ئ نسب شریك وو، نو ځکه هلته اخاهم ذکر کیږی ، او د بل سره په نسب کښ نه وو شریك نو ځکه اخاهم نه ذکر کیږی او بعض وائ چه مدین او اصحب الایکه د یو قوم نومونه وو، لیکن مدین ئ نسبی نوم دې ، او نسب کښ ورسره شعیب ﷺشریك وو، نو اخاهم ذکر کیږی او اصحب الایکه ئ مذهبی نوم دې، نو په هغې کښ ورسره شعیب ﷺ نه ووشریك نو ځکه اخاهم نه ذکر کیږی ﴿إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٍ﴾ یعنی مالداری او فراخی د رزق نو په ناپ تول کښ کمې کول او دهوکه کو ل خو د هرچا دپاره قبیحه او بده خبره ده لیکن دمالدار دپاره ډیره قبیحه ده او دارنګه مالداری او فراخی دَ رزق یو نعمت دې ، نو د دې ناشکری مه کوئ . او د دې نعمت د زوال اسباب مه اختیاروئ﴿عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ﴾ محیط صفت د یوم هم کیدې شی اوصفت د عذاب هم کیدې شی، او جر د جوار دې (کشاف وائی چه اوله توجیه ابلغه ده﴿وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ﴾ دا امر دې په پوره کولو دِ ناپ تول باندې ، او که څوك **سوال** اوکړی چه مخکښ په سورة اعراف کښ (ولاتنقصوالمكيال والميزان) راغلی دی ، او نهی د یو شی نه امر وی په ضد د هغې نو نهی د نقصان نه بعینه امر دې په ایفا د کیل ، وزن باندې نو ذکر د (اوفوالمكيال والميزان) روستو دَ (ولا تنقصوا المكيال والميزان) نه مستدرك دې.

جواب : اول خو دا خبره مختلف فیه ده چه نهی د شئ نه امر دې په ضد دهغې ، دویم داچه مخکښ د ظلم د قانون نه منع راغلې ده ، نو دلته د اصلاح صورت بیانیګی چه ایفاء ده، او دنهی دکموالی د کیل وزن دپاره یو صورت دادې چه پوره ورکړې شی . اودا واجب او مامور به دې او بل صورت ئ دادې چه زیات ورکړې شی ،او دا خو ضروری اومامور به نه دې، نو دلته د هغه صورت بیان دې چه واجب اومامور به دې ، او بل جواب دادې چه دا د تاکید او مبالغې دپاره دې په منع کښ﴿وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ﴾ په دې کښ هر قسم نقصان کول داخل دی ، لکه غلا ، او غصب کول، دهوکه کول، په ناجائز حیلو سره او په دروغو سره د چا مال اخستل ، داټول په کښ داخل دی﴿وَلَا تَبۡخَسُواْ﴾ دانهی ده د فسادنه ، او مراد دَ فساد نه معاصی کول دی او خلق منع کول دی د اتباع د شعیب ﷺ نه﴿بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ﴾ د دینه مراد هغه جائزه ګټه ده چه الله جل جلاله دَ هغې اجازت کړیدې، اګر که لګه وی خو په دې کښ خیر او نفع وی ، او ناجائزه ګټه د خیر ذریعه نشی کیدې﴿وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ﴾ یعنی ما خو

تاسو نه نصيحت اوکړو نو زه ذمه وار نه يم چه په تاسو زبردستي اوکړم
د دې ځاۓ پورې د شعيب ﷺ بيان وو چه خلاصه ئ دوه خبرې دی يو د حقوق الله حفاظت او دويم د حقوق العباد حفاظت.

قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ

وه ويل دوئ اې شعيبه! آيا مونځ ستا حکم کوی تا ته، چه پرېږدو مونږ هغه معبودان چه دهغوئ عبادت کولو

اٰبَآؤُنَآ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ۭ اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ

زمونږ مشرانو، يا پرېږدو مونږ هغه څه چه کوؤ مونږ په خپلو مالونو کښې هغه چه مونږ غواړو، بېشکه ته خو صبرناک

الرَّشِيْدُ ﴿٨٧﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ

هوښيار يې (په خپل گمان کښې) وه ويل ده: اې قومه خما! تاسو فکروکړئ که يم زه په ښکاره دليل د طرف د رب خما نه

وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۭ وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَآ

او راکړې ئ وی ما ته د خپل طرف نه رزق ښائسته، اوڅه نه غواړم چه لاړ شم په خلاف ستاسو هغه کار کولو ته

اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ۭ اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۭ وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ۭ

چه تاسو منع کوم دهغې نه څه نه غواړم مگر اصلاح ترڅو چه طاقت لرم، او ندې توفيق خما مگر په مدد د الله سره دې

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ﴿٨٨﴾ وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ

خاص په هغه خما توکل دې اوهغه ته خما رجوع ده. او اې قوم خما! باعث او سبب دې جوړ نه شی تاسو لره

شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ

دشمنی خما سره د دې خبرې چه ورسيږی تاسوته عذاب په شان دهغه عذاب چه رسيدلې وؤ قوم د نوح يا قوم د هود

اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ۭ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ﴿٨٩﴾ وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ۭ

يا قوم د صالح ته او ندې قوم د لوط ستاسې نه څه لرې. اوبښنه غواړئ د رب خپل نه بيا توبه وباسئ هغه ته

﴿قَالُوا يَٰشُعَيْبُ أَصَلَوٰتُكَ﴾ دا د قوم د طرف نه تنقید او اعتراض دی په طور د استهزاء و مسخری سره ،او صلوة په معنی د مونځ سره دی ځکه چه شعیب علیه السلام به ډیر مونځونه کول . یا په معنی د دین سره دی ، حاصل دا دی چه آیا په ټول قوم کښی صرف ته لوئ عقلمند او با وقار ئی او مونږ او زمونږ مشران احمقان او بی وقوف دی ، شاید ستا مونځ او دین به تاته دا حکم کوی چه مونږ د آباؤ اجدادو دین پریږدو ، یا په خپل مال کښی مالکانه تصرف ونه کړو . ته خپل مونځ کوه .او څمونږ په مذهبی او دنیوی معاملاتو کښی دخل مه لره ﴿أَوْ أَن نَّفْعَلَ﴾ یا دلته لفظ د (تَنْهانا) او یا لفظ د (لا) مقدر دی یا دا عطف دی ، په ما بعد باندی، نو د (تنهنا) تحت دی ﴿إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ﴾ دا په طریقه د استهزاء سره دی . یا په دی کښی لفظ د (بزعمك) مقدر دی ، ﴿عَلَىٰ بَيِّنَةٍ﴾ نه مراد واضح دلیل د نبوت دی ﴿رِزْقًا حَسَنًا﴾ د دینه مراد وحی او نبوت دی ، یا تری نه مراد رزق حلال دی ، او جواب د (ارءیتم) مقدر دی چه د تیرو شوو قصونه معلومیږی، ای لا يصلح لى ان لآ مركم بترك عبادة الاوثان ، يا فهل يسوغ لى مع هذا الانعام الجامع للسعادات الروحانية والجسمانية ان اخون فى وحيه ، یعنی الله ﷻ ماته نبوت او فهم راکړو ، او حلاله روزی ئ راکړی ده ، بغیر د دهوکی نه او بغیر د کمی کولو نه په ناپ تول کښی نو آیا د دی انعام شکریه داده چه زه د الله ﷻ په وحی کښی خیانت اوکړم . او ستا سو د مسخرو نه متاثر شم ، او نصیحت او د دعوت کار پریږدم ، داسی هرګز نشی کیدی ﴿أَنْ أُخَالِفَكُمْ﴾ اخالف د اخلاف نه مشتق دی ، اخلاف دیته وائی چه چالره د یو عمل نه واپس کړی او پخپله ئ شروع کړی نو شعیب علیه السلام وائی چه زه تاسو د بخس (دهوکی) نه منع کوم او په ناپ تول کښی د کمی کولو نه منع کوم نو څما دا مقصد او خود غرضی نه ده چه تاسو ته د کومی خبری نصیحت کوم نو پخپله ئ شروع کړم ، او ډیر مال به اوګټم ، په ناجائزه طریقه . بلکه څه چه تاسو ته د کومی خبری نصیحت کوم نو په هغی د مخکښی نه په خپله عامل یم . او څما په دعوت او تبلیغ کښی هیڅ خود غرضی نشته دی بلکه د الله ﷻ د امر امتثال او د هغه رضا مطلوب ده ﴿إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ﴾ زما مقصود ستاسو اصلاح ده . حتی الوسع ﴿وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا

﴿بِاللَّهِ﴾ یعنی زما خواهش خو ستاسو اصلاح ده لیکن ځما د دې خواهش پوره کیدو توفیق د الله ﷻ په اختیار کښې دې، او زما مقصود اوخواهش به محض د الله ﷻ په تائید او توفیق سره پوره کیږی ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ د جار مجرور تقدیم د حصر دپاره دې ﴿وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾ یعنی: مقاصدو د حصول دپاره او د مشکلاتو د حل دپاره څه صرف الله ﷻ ته رجوع کوم .یا دا چه الله تعالى ته رجوع کوم په آخرت کښې نودا ذکر د منتهٰی دې ، او په ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ کښې ذکر د خالص توحید دې . نوهغه مبدء ده ، نودلته مبدء اومنتهی دواړه ذکر شو. شربینی او ابن جریر طبری حدیث نقل کړې دې چه نبیﷺ د حضرت شعیب عليه السلام ذکر اوکړو نو وې فرمائیل چه دې خطیب الانبیاء وو ، څکه چه د قوم سره ئ خائسته مراجعه کړی ده .

﴿وَيَٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيٓ﴾ شقاق په معنی د ضد او تعصب سره دې، او (لايجرمنكم) په معنی د (لايكسبنكم) سره دې ، یعنی زما سره ضد دې د دې خبرې باعث نه شی چه په تاسو باندې داسی قسم عذاب راشی چه کوم قوم د نوح عليه السلام او قوم د هود عليه السلام او قوم لوط عليه السلام باندې راغلی وؤ ، نو دا تخویف دې یعنی که زما مخالفت کوئ نو دغه شان عذابونه به په تاسو راشی. ﴿بِبَعِيدٍ﴾ یعنی قوم لوط بعید نه دېستاسونه د زمانېپه اعتبار سره څکه چه د دوئ واړو قومونو زمانه قریبه وه ، او د مکان په اعتبار سره دواړه علاقېقریب او متصل دی

﴿وَٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ﴾ دا رغیب دې، یعنی بنده چه توبه او استغفار کوی نو رب ډیر مهربان دې د بنده ګناهونو معاف کوی .اومحبت کونکې دې نود بنده سره محبت کوی په توبه استغفار سره ګناهونه معاف کیږی، او الله ﷻ ورسره محبت کوی .

قَالُوا۟ يَٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ
وه ویل دوئ اې شعیب ! نه پوهیږو مونږ په ډیرو هغه خبرو چه ته ئ وایی او بیشکه مونږ خامخا وینو تا لره
فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَٰكَ ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ۝ قَالَ
په مونږ کښې کمزورې، اوکه نوې خاندان ستا نو مونږ به ته سنګسار کړې وې اونه ئې ته مونږ ته قدرمند. وه ویل ده:
يَٰقَوْمِ أَرَهْطِىٓ أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَٱتَّخَذْتُمُوهُ وَرَآءَكُمْ
اې قومه ځما ! آیا خاندان ځما ډیر عزتمند دې په تاسو د الله تعالى نه، اوګرځولې دې تاسوهغه لره روستو دخپل خان نه شاته

ظِهْرِيًّا ۭ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ۝ وَيٰقَوْمِ

غورزولي شوي، بيشکه رب خما په هغه کارونو چه تاسو ئ کوئ احاطه کونکې دې او اې قومه خما

اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ ۭ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ

عمل کوئ په طريقه خپله بيشکه زه هم کارکونکې يم، پس زرده چه تاسو به معلوم کړئ هغه څوك چه راخى هغه ته

عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ۭ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّىْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ۝

عذاب چه رسوى به ئ کړى اوهغه څوك چه دروغژن وى. او انتظار کوئ تاسو بيشکه زه هم ستاسو سره انتظار کونکې يم

وَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

اوهرکله چه راغې حکم د عذاب زمونږ بچ کړو مونږ شعيب لره اوهغه کسانو لره چه ايمان ئ راوړې وؤ د ده سره

بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ

په وجه د رحمت زمونږ او وه نيولو ظالمانو لره سختې هيبتناکې چغې پس شو دوئ په خپلو کرونو کښې

جٰثِمِيْنَ ۝ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۭ اَلَا بُعْدًا

پرمخې غورزيدلى مړه. لکه نه وؤ اوسيدلى په دغه ځائ کښې . خبردار : لرې والې دې د رحمت الهى نه

لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ۝

لپاره د مدين والؤ لکه لرې وؤ ثموديان د رحمت الهى نه.

﴿ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ ﴾ دشعيب ؑ د دعوت په مقابله کښې دوئ اووئيل چه مونږ خو ستا په دې خبرو نه پوهيږو چه ته څه وائى ، دا ئ د توهين دپاره ويلى دى ، يا دا چه دوئ د ډير نفرت د وجې نه د شعيب ؑ خبرو ته غوږ نه ايخودلو نو نه پوهيدل ﴿ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ ﴾ دا دويم طعن دې ، چه ته کمزورې ئى ملګرى دې نشته او طاقت درسره نشته دې ، يا د ا معنى ده چه ضعيف ئى دَ عقل او د رائى په اعتبار سره چه د دنيا مصلحت اوسياست باندې نه پوهيګې او د ابن عباس ؓ اونورو سلفو نه مروى دى چه مراد د ضعيف نه اعمى دې، حضرت شعيب ؑ د ډيرې ژړا په وجه باندې د څه وخت دپاره نابينا شوې وو، او بيا ورته الله ﷻ نظر واپس کړو،

په يو بل روايت كښې دي چه شعيب ﷺ نه الله ﷻ تپوس اوكړو چه ته ولې دومره ژاړې . آيا دجنت د شوق د وجې نه او كه د دوزخ د خوف د وجې نه ، نو دوئ اووئيل چه يا الله ﷻ چه ستا د ملاقات خيال اوكړم نو ژړيږم چه ماسره به څه كيږي، الله ﷻ اوفرمايل چه زما ديدار او ملاقات دې تاته مبارك وي ، او ستا د ضعف او كمزورئ په وجه ماخپل كليم موسى ابن عمران ستا په خدمت مامور كړې دې ، نو ويلې شوي دي چه د دينه بعد الله ﷻ دوی ته بينائي واپس وركړه ﴿وَلَوْلَا رَهْطُكَ﴾ دا دريم طعن دې چه كه ستا د قوم او خاندان لحاظه نه وې نو مونږ به ته به بد ترين قتل سره قتل كړې وې ، يعنى سنګ سار كړې به مو وې . ليكن چونكه ستا خاندان زمونږ سره موافق دې په شرك كښې نو د هغوئ په وجه پاتې ئې ﴿وَمَآ أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ﴾ دا څلورم طعن دی ، يعنى ته مونږ ته معزز او محترم نه ئې ﴿قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَهْطِيٓ أَعَزُّ﴾ دا د دريم طعن جواب دې ، يعنى تاسو د الله ﷻ لحاظ نه كوئ ، او د قوم لحاظ كوئ ، او دالله ﷻ نه، نه يريږئ او دمخلوق نه يريږئ ﴿وَٱتَّخَذْتُمُوهُ﴾ يعنى الله ﷻ مو شاته غورزولې دې . يعنى هغه ته التفات نه كوئ ، او د هغه لحاظ نه كوئ ﴿ظِهْرِيًّا﴾ د ظهر (بفتح ظاء) نه ماخوذ دې او كسره د وجې د نسبت نه راغلى ده ﴿إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ يعنى تاسو چه څه عملونه كوئ نو هغه د الله ﷻ په احاطه علمى كښې دي نوسزا به دركوی ﴿عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ﴾ مكان او مكانت مصدر ميمى دې په معنى د حالت سره يعنى تاسو په خپله طريقه او حالت باندې عمل كړې دې او زه په خپله طريقه عمل كوم ﴿سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾ تاسو ته به د خپلو بدو اعمالو انجام معلوم شي ﴿سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾ جمله استينافيه ده ، جواب د سوال دې ، ګويا كښې دوئ اووئيل (فماذا يكون بعد ذٰلك) يعنى څه به اوشي، جواب راغې چه په خپله به پوهه شى ، يعنى تاسو ماته كاذب او حقير وايئ نو عنقريب به معلومه شي چه كاذب او ذليل څوك دى ﴿مَن يَأْتِيهِ﴾ (مَن) موصوله هم كيدې شى او استفهاميه هم كيدې شى ، او په دې تقدير باندې ئ تعليق كړې دې، يعنى فعل ئ د عمل نه منع كړى دې په لفظ كښې نو په اول احتمال معنى دا شوه چه زر ده چه تاسوبه عالمان شئ په هغه چا چه رازى په هغه عذاب، او په دويم احتمال معنى دا شوه چه زر ده چه تاسو به پوهه شئ چه په چا عذاب رازى ﴿وَمَنْ هُوَ كَٰذِبٌ﴾

دا عطف دې په ﴿مَن يَأۡتِيهِ﴾ باندې يعني تاسو ما ته كاذب او حقير وايئ نو عنقريب معلومه به شي چه كاذب او ذليل څوك وو﴿وَٱرۡتَقِبُوٓاْ﴾ ارتقاب لارې كتلو ته وائي . مراد ترينه انتظار دې، يعني تاسو انتظار كوئ . او زه هم په انتظاركښې يم .

فائده په قصه د عاديانو او قصه د شعيب ﷺكښې ﴿وَلَمَّا جَآءَ﴾ دې په واو سره او په قصه د صالح ﷺاو د لوط ﷺكښې (فلما) دې په فاء سره، وجه داده چه په دې دواړو قصو كښې وعده د عذاب ذكر شوې ده ، ﴿ذَٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ﴾ او ﴿مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ﴾ نو هغه په منزله د سبب دې ، نو فاء پكښې ذكر شوه ځكه چې دا هم د سببيت دپاره وى .او په قصه د عاديانو او د اهل مدين كښې وعده د عذاب نه وه ذكر شوې ، نو (فاء) ذكر نشوه .

﴿ٱلصَّيۡحَةُ﴾ چغه د جبرائيل ﷺ او په سورة اعراف آيت ۹۱ كښې رجفه ذكر شوې ده . او په سورة شعراء آيت ۱۸۹كښې (عذاب يوم الظلة) ذكر دې نو د دريواړو اجتماع كيدلې شي نو (صيحة) او (رجفة) او (عذاب يوم الظلة) دريواړه دې پرې راغلي وى ، صيحة د بره نه او رجفة د لاندې نه او ظله درمياني فضاء نه او چا ويلي دى چه د رجفة نه مراد حركة القلب دې يعني داسې سخت آواز و چه د دوئ زړونه په هغې سره اوچودل ﴿كَمَا بَعِدَتۡ ثَمُودُ﴾ تشبيه ئ د ثموديانو سره ځكه وركړه چه رجفة او صيحة په دواړو راغلې وه، يا د دې وجې نه چه دواړه په عربو كښې داخل وو.

وَلَقَدۡ	أَرۡسَلۡنَا	مُوسَىٰ	بِـَٔايَٰتِنَا	وَسُلۡطَٰنٖ	مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾	إِلَىٰ	فِرۡعَوۡنَ
او خامخا په تحقيق (۱) سره ليږلې وو مونږ موسى په خپلو معجزاتو سره				او په دليل ښكاره سره .			فرعون ته
وَمَلَإِيْهِۦ	فَٱتَّبَعُوٓاْ	أَمۡرَ فِرۡعَوۡنَۖ	وَمَآ أَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ	بِرَشِيدٖ ﴿٩٧﴾	يَقۡدُمُ قَوۡمَهُۥ		
او مشرانو د قوم د هغه ته پس دوئ روان وو پطريقه د فرعون، او نه وه طريقه د فرعون سمه . وړاندې به ځي د خپل قوم نه							
يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ	فَأَوۡرَدَهُمُ ٱلنَّارَۖ	وَبِئۡسَ ٱلۡوِرۡدُ ٱلۡمَوۡرُودُ ﴿٩٨﴾	وَأُتۡبِعُواْ				
په ورځ د قيامت، پس داخل به كړي دوئ لره اور ته، او ډير بد ګودر دې چه دوئ ورته راوستلې شي . او په دوئ پسې راوستلې شو							

۱ - اوومه ۷ قصه د دريمې دعوې سره متعلق .

فِي هٰذِهٖ لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ ۝

پدې دنیا کښې لعنت او په ورځ د قیامت کښې هم، ډیر بد انعام دې چه دوئ ته ورکړې شوې دې دا لعنت.

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ﴾ دا اوومه قصه ده . او د دریمې دعوې سره متعلق ده . یعنی لکه څه خرنګه چې موسیٰ ﷺ فرعون ته حق په شجاعت سره رسولې وو او زړه ئې نه وو تنګ کړې . نو دغه شان تاسو هم کوئ ﴿بِآيَاتِنَا﴾ عام معجزات او ﴿وَسُلْطَانٍ﴾ خاص معجزات چه عصا ده . یا ترینه مراد هغه جلالیت او رعب دې چه الله ﷻ موسیٰ ﷺ ته ورکړې وو . حتی چه فرعون اونور جبابره به ترینه یریدل ﴿وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ﴾ فرعون ویلی وو (وما اهدیکم الا سبیل الرشاد) نو ددې دعوې رد اوشو چه د فرعون طریقه اوکار د کامیابئ والا نه وو ﴿يَقْدُمُ قَوْمَهُ﴾ دا تخویف اخروی دې ، په دنیا کښې لکه څه رنګه چه فرعون د خپل قوم قائد او مقتدا وو نو په قیامت کښې به هم وی او خپل قوم به جهنم ته داخل کړی ﴿الْوِرْدُ﴾ (وِرد) ګودر د اُوبو ته وائ او جهنم ته ئ وِرد تهکمًا ویلی دی ، ﴿الْمَوْرُودُ﴾ داصفت د وِرد بحال متعلقه دې ، او دلته مخصوص بالذم مقدر دې چه (هی) دې، تقدیر د عبارت دا رنګې دې(المورود هم فیها، هی) وِرد ګودرته وائی او وارد هغه چاته وائ چه ګودر ته د اوبو دپاره لاړشی ، (مورود) هغه څوك دې ، چه ګودر ته بوتلې شی ، ﴿الرِّفْدُ﴾ عطیه او انعام ته وایی او جهنم ته ئ عطیه او انعام تهکمًا ویلی دی ﴿الْمَرْفُودُ﴾ (الْمُعطی لهم) او مخصوص بالذم مقدر دې چه (هی) دې ، یعنی ډیر بد انعام او عطیه ده چه دوئ ته ورکړې شوه ، چه جهنم دې.

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰی نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا قَآئِمٌ

دا چه ذکر شو بعضې د حالاتو د کلو نه دی، بیانوؤ مونږ دا تا ته بعضې د هغه کلونه ولاړ دی یعنی شته دې

وَّحَصِيْدٌ ۝ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

او بعضې د ویخ نه ریبلې شوی دی . او ظلم ندې کړې مونږ په دوئ باندې لیکن ظلم کوؤ دوئ په خپلو ځانونو ،

فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ

پس دفع نه کړو د دوئ نه د دوئ هغه آلهو چه دوئ به ئ بلنه کوله ماسوی د الله تعالی نه هیڅ مصیبت هرکله چه راغې

أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿١٠١﴾

عذاب د رب ستا. او زیات نه کړو بلنې د هغوئ دوئ (مشرکانو) لره بغیر د هلاکت نه

﴿ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْقُرَىٰ﴾ دا اشاره ده مخکنو ټولو قصوته ﴿نَقُصُّهُ عَلَيْكَ﴾ مونږ ئې تانه بیانوو، اومقصد ترینه دادې چه مومن د دنیا نه آخرت ته ځي نو دده به صفتونه کیږی په دنیا کښ، او اجر او ثواب به ورله ورکولې شی په آخرت کښ او کافر چه د دنیا نه ځي نو لعنت به برې ویلې کیږی په دنیا کښ او عذاب به ورله ورکولې شی په آخرت کښ ﴿مِنْهَا قَائِمٌ﴾ بعض د دغه کلو نه موجود دی او روغ دی، لکه مصر د فرعون او د عادیانو ثمودیانو کنډرات.

﴿وَحَصِيدٌ﴾ اوبعض ریبلې شوی، فانی شوی دی، لکه د قوم لوط علیه السلام علاقه ﴿وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ﴾ یعنی د دې قومونو هلاکول ظلم نه وو، بلکه د دوئ د جرم سزا ده او ظلم خو دوئ کړی وو، چه شرک ئې کړې وؤ ﴿فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ﴾ مشرکینو چه د خپلو معبودانو عبادت کولو او دهغوئ په نوم ئې نذرونه ورکول اود هغوئ نه ئې حاجتونه غوختل نو داځکه چه د دوئ دا توقع وه چه دا زمونږ معبودان به زمونږ نه عذاب الهی دفع کړی، نو الله ﷻ فرمائې چه د دوئ د توقع خلاف د دوئ معبودانو دوئ ته نه څه قسم نفع ورکوله او نه ئې ترینه عذاب دفع کړو، بلکه اولټه د دوئ د هلاکت او خسران سبب شو ﴿يَدْعُونَ﴾ دا صله ده او عائد د موصول حذف دې (ای یدعوهم) یعنی چه مشرکانو د هغوئ عبادت کولو، او د هغوئ بلنه ئې کوله. او حاجتونه مرادونه ئې ترینه غوختل اودهغوئ نذرونه ئې ورکول (یدعون) ذکر د خاص دې او مراد ترینه عام دې یعنی عبادت بدنی، قولی، مالی، اوهر کله چه دا قسم شرک، (شرک فی الدعاء) ډیر وو، نو ځکه خاص کړې شو په ذکر سره ﴿مِن دُونِ اللَّهِ﴾ بیان د الذین دې ﴿مِن شَيْءٍ﴾ من زائد دې دپاره د تاکید د نفی ﴿وَمَا زَادُوهُمْ﴾ او زیات نه کړو دغه معبودانو یعنی عبادت او محبت د هغوئ، ﴿هُمْ﴾ دې مشرکانو لره ﴿غَيْرَ تَتْبِيبٍ﴾ په غیر د هلاکت اوخسران نه.

وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ

او دغسې نیول د رب ستا دی هرکله چه ونیسی اهل د کلو لره اوهغه ظلم کونکی وی، بیشکه نیول د هغه دردناك،

شَدِيْدٌ ﴿١٠٢﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ؕ ذٰلِكَ يَوْمٌ

سخت دی بیشکه په دې کښې خامخا عبرت دې هغه چا لره چه یریږی د عذاب د آخرت نه. دا داسې ورځ ده

مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴿١٠٣﴾

چه جمع کولې به شی دیته ټول خلق او دا داسې ورځ ده چه ټول خلق به حاضرولې شی د الله تعالی حضور ته

وَمَا نُؤَخِّرُهٗۤ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ﴿١٠٤﴾ يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا

اونه روستو کوو دا مګر د یو نیټې مقررې پورې. هغه ورځ چه راشی خبرې به نشې کولې هیڅ نفس مګر

بِاِذْنِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ ﴿١٠٥﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا

دهغه په اجازت سره. پس بعضې به د دوئ نه بدبخت وی او بعضې به نیك بخت وی. پس هغه کسان چه بدبخت وی

فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ﴿١٠٦﴾ خٰلِدِيْنَ

نو دوئ به په اور کښې وی . دوئ لره به په هغې کښې د خرېشان سخت آوازونه اوآهسته آوازونه وی همیشه به وی

فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

په هغې کښې ترڅو پورې چه وی آسمانونه او زمکه مګر په هغه وخت کښې چه وغواړی رب ستا ، بیشکه رب ستا

فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿١٠٧﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ

کونکې د هغه کار دې چه وغواړی اوهغه کسان چه نیك بخت کړې شوی دی نو دوئ به په جنت کښې وی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴿١٠٨﴾

همیشه به وی په هغې کښې ترڅو پورې چه وی آسمانونه ، اوزمکه ، مګر هغه وخت چه وغواړی رب ستا ، بخشش دې بې انتها

﴿وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ﴾ یعنی د الله ﷻ ګرفت په تیر شوی قومونو پورې خاص نه وو ، بلکه دا د الله ﷻ عام قانون دې چه هر سرکش ته سزاورکوی، مهلت ورته هم دیر ورکوی، په حدیث د بخاری کښې دی (ان الله لیملی لظالم حتی اذا اخذه لم یفلته اَحدٌ) یعنی الله ﷻ مهلت ورکوی ظالم ته ، خو چه کله ئ اونیسی نو بیا ئ هیڅ څوك نشی خلاصولې ﴿اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ﴾ دا اشاره ده قصو

د مخکنو امتونو ته ﴿لَآيَةً﴾ عبرت دې د هغه چا دپاره چه ېرېږي د عذاب د آخرت نه . ځکه د دنيا عذاب نمونه ده د عذاب د آخرت دپاره ، نو د دنيا عذاب چه څوك اووينى يا ورته معلوم شي نود آخرت لوئ عذاب ورته ياد شي او عبرت واخلي. چه د دنيا عذاب دومره سخت دې او حال دا چه دا خو دار الجزاء نه ده ، نو د آخرت عذاب چه دارالجزا ده څومره به سخت وى

﴿ذَٰلِكَ﴾ دا اشاره ده يوم القيامة ته چه عذاب الاخرت پرې دلالت کړې دې ﴿يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ﴾ الناس نائب فاعل د مجموعٌ دپاره دې او (مجموع له الناس) زيات ابلغ دې د (يجمع له الناس) نه، ځکه فعل په تجدد او حدوث باندې دلالت کوى ، اواسم په دوام او لزوم دلالت کوى ، يعنى ورځ د قيامت ته جمع کيدل لازمى او ثابت دى ، هيڅ څوك ترې نه. نه شي پاتې کيدې ﴿يَوْمٌ مَّشْهُودٌ﴾ ټول خلق به حاضرولې شي، هيڅ څوك به غير حاضر نه وى . ﴿لِأَجَلٍ﴾ دَ اجل نه مراد انتها د مودى ده ، او ﴿مَّعْدُودٍ﴾ نه مراد قليل او متناهى دې ، يعنى قيامت مونږ مؤخر کړې او ملتوى کړې دې د لږ نيتې دپاره ﴿يَوْمَ يَأْتِ﴾ ضمير په يأت کښې يا لفظ دَ الله ته راجع دې ، كما فى قوله تعالى : (وجآء ربك) يا ورځې ته راجع دې ، په تاويل د قيامت يا دَ (أجل) سره ، يعنى هغه ورځ چې راشى قيامت او نيته او په ﴿يَأْتِ﴾ کښې درې قرائته دى، په قرآت د نافع کښې يأتى دې، په اثبات د ياء سره دې ، په حالت د وصل کښې او يأت په حذف د ياء سره دې په حالت د وقف کښې ، او په قرائت د ابن کثير کښې يأتى دې په اثبات د ياء سره په حالت د وصل او وقف دواړو کښې ، او په قرات د باقى قراؤ سبعو کښې په حذف د يا ء سره دې ، وصلا و وقفا ، وجه د حذف ئ مجرد تخفيف دې ، او زمخشرى ويلى دى چه حذف د ياء اواکتفاء په کسره باندې ، شايع دى په لغت د هذيل، کښې ﴿لَا تَكَلَّمُ﴾ په اصل کښې لاتتكلم دې ، يعنى هيڅ نفس به خبرې نه شى کولې مگر هغه څوك چه الله اذن ورته اوکړى ، ﴿فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ﴾ شقى وه قسمه دى : يو كافر مشرك چه اعلى شقى دې، يو مومن عاصى دې چه دا ادنى شقى دې ﴿زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ﴾ زفير د خر هغه آواز ته وائى چه په ابتدا کښې وى او سخت وى ، او شهيق دَ خر هغه آواز ته وائى چه آخر کښې نرم شى ﴿مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ﴾ اسمانونه اوزمکه دَ آخرت مراد دى لکه په سورة ابراهيم آيت ۴۷ کښې دى (يوم تبدل الارض والسموات) اوپه سورة زمر

کښې (اورثنا الارض نتبوءمن الجنة حيث نشاء) ، يا اسمانونه اوزمکې د دنيامراد دی . ﴿إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ دا استثنا د دوارو فريقينو سره لګيدلې ده ، نو په ظاهر کښې داسې معلوميږی چه جنتيان به په جنت کښې د هميشه دپاره نه وی ، جهنميان به په جهنم کښې د هميشه دپاره نه وی . حالانکه د اهل سنت والجماعة متفقه فيصله داده چه مومنان به په جنت کښې هميشه وی اوکافران به په جهنم کښې هميشه وی ، نو د دې آيت يوڅو توجيهات دی (۱) يو دا چه مستثنی په دواړوځايونو کښې فساق مومنين دی چه مغفرت ورته نه وی شوې . نو دوئ به د جنتيانو نه جدا وی په مقدار د عذاب د دوئ په اول کښې، او دَ کافرانو اشقياؤ نه به جدا وی په آخر کښې نو (الا ماشاء ربك) چه د ((شقوا)) سره لګيدلې دې نو معنی ئ داده چه فساق مؤمنين به په جنهم کښې انتهاءً نه وی او د (سعدوا) سره چه لګيدلې دې نو معنی داده چه فساق مومنين به په جنت کښې ابتداءً نه وی ، او تقسيم چه قسمينو ته شوې دې ، نو دا په اعتبار د منع الخلو سره دې ، نوجمع د قسمينُ (سعدوا او شقوا) راتلې شی (۲) اهل نار به د نار نه کله راويستی شی حميم (ګرمو اوبو) ته د اوبو سکلو دپاره چه کله دوئ دَ تندې نه ډير فرياد اوکړی او کله به بوتلی شی ((زمهرير) ته ،نو استثنا د اهل نار نه په دې اعتبار سره ده ، او جنتيانو ته چه نعمت د ديدار الهی ورکړې شی ، نودوئ به دَ جنت د نعمتونو نه مشغوله شی . او نورنعمتونه به ئی هير شی ، نو دلته د استثنا دغه معنی ده .

(۳) د کافرانو دپاره چه (الاماشاء الله) ويلی شوی دی نود دې معنی دا ده چه ، (الاماشاءالله بزيادة العذاب للاشقيا وهو سخط الله عليهم اخسئو لهم واهانته اياهم) او د جنتيانو دپاره ئ الا ماشاء الله ويلی دی نو معنی داشوه (بزيادة الانعام للمؤمنين والسعداء وهو رضوان الله عليهم) (۴) حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله ويلی دی چه که اسمان او زمکه د دنيا مراد شی نو مطلب به داشی ،چه مومنان به په جنت کښې وی او کافران به په جهنم کښې وی په مقدار د زمانې دَ بقاء د زمکې اسمان د دنيا ، مګر څومره چه ستا رب اوغواړی زيادت نو هغه هغهٔ ته معلوم دی، دَ انسان په عقل کښې نه راځی څکه چه هغه غير متناهی دی د مخلوقاتو په علم کښې نشی راتلې ، او که زمکه اسمان د آخرت مراد شی نو بيا مطلب دادې چه مؤمنان به په جنت کښې هميشه وی او جهنميان به په جهنم کښې هميشه وی ليکن که ستا رب اوغواړی نو مومنان به د جنت نه اوباسلې شی او کافران به د جهنم نه اويستې شی . دَ جنتيانو ويستل

او د کافرانو ويستل د قدرت د الله ﷻ نه بهر نه دی ، ليکن الله ﷻ داسې نه کوی . بلکه فيصله د دوام ئ کړې ده ، نو د دې مطلب داشو چه د مومنانو په جنت کښې پاتې کيدل او د کافرانو په جهنم کښې پاتې کيدل په مشيت الهی سره دی . الله ﷻ عاجزنه دې د دوئ د ويستلو نه (۵)، قرطبی وائی چه (ما دامت السموات والارض) په محاوره کښې د دوام او خلود دپاره رازی او د (الا ماشاءالله) دغه تير شوی توجيهات دی

او په (سعدوا) کښې صيغه د مجهول ذکر شوه نو اشاره ده دينه چه سعادت صرف د الله ﷻ په فضل او توفيق سره حاصليږی .فمن وجد ذالك فليحمدالله .

﴿شَقُوا﴾ په صيغه د مجهول سره ذکرشو نو اشاره شوه چه دا دنفس اوشيطان په اغواء سره کيږی فمن وجد ذالك فلا يلومن الا نفسه ﴿غَيْرَ مَجْذُوذٍ﴾ غير مقطوع ، بې انتها .

فَلَا تَكُ	فِي	مِرْيَةٍ	مِّمَّا	يَعْبُدُ	هٰٓؤُلَآءِ ۚ	مَا	يَعْبُدُونَ	إِلَّا	كَمَا
پس مه کيږه ته په شك کښې د هغې نه چه عبادت ئ کوی دا کسان، دوئ عبادت نه کوی مګر پشان دهغې									
يَعْبُدُ	اٰبَآؤُهُمْ	مِّنْ	قَبْلُ ۚ	وَإِنَّا	لَمُوَفُّوهُمْ	نَصِيبَهُمْ			
چه عبادت ئ کولو مشرانو د دوئ مخکښې د دينه، او بيشکه مونږ به پوره ورکوؤ دوئ ته حصه د عذاب د دوئ									
غَيْرَ	مَنْقُوصٍ ﴿١٠٩﴾	وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوسَى	الْكِتٰبَ	فَاخْتُلِفَ	فِيهِ ۚ		
چه هيڅ نيمګړې به نوی. او په تحقيق سره [1] مونږ ورکړې وؤ موسی ته کتاب نو اختلاف وکړې شو په هغې کښې									
وَلَوْلَا	كَلِمَةٌ	سَبَقَتْ	مِنْ	رَّبِّكَ	لَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ			
اوکچرې نوې يو خبره چه مخکښې فيصله شويده د طرف د رب ستا نه نو خامخا به فيصله شوې وه په مينځ د دوئ کښې									
وَإِنَّهُمْ	لَفِي	شَكٍّ	مِّنْهُ	مُرِيبٍ ﴿١١٠﴾	وَ	إِنَّ	كُلًّا		
او بيشکه دوئ په شك کښې دی د دينه چه کلك شك دې . او بيشکه هر يو د دوئ نه هرکله چه را پورته کړې شی									

۱ - جواب د سوال مقدر .

لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝

نو پوره به ورکړی دوئ ته رب ستا بدله د عملونو د دوئ بیشکه الله تعالی د دوئ په عملونو باندې خبر دار دی

﴿فَلَا تَكُ فِىْ مِرْيَةٍ﴾ دا متفرع دې په ماقبل باندې د خلورمې دعوې سره متعلق دې . یعنی مسئله د توحید واضحه شوه په دلائل عقلیو نقلیو سره ، نو د توحید په حقیقت او د شرك په ابطال کښې شك مه کوه ﴿مَايَعْبُدُوْنَ﴾ او که مشرکان د غیر الله عبادت کوی نو بې دلیله ئ کوی لکه د دوئ مشران چه بې دلیله د غیر الله عبادت کوی نو نه هغوئ سره څه دلیل وو اونه د دوئ سره څه دلیل شته دې ﴿وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ﴾ یعنی دوئ ته به د شرك پوره پوره بدله ملاویږی ، یادا مطلب دې چه دوئ ته به په دنیا کښې د رزق او مال او صحت اولاد حصه مکمل ملاویږی.

﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ﴾ داتسلی ده نبی ﷺ ته او جواب د سوال مقدر دې ، هغه دا چه که دا کلام واقعی د الله ﷻ کلام دې نو اختلاف په کښې ولې اوشو چه څوك ئ منی اوڅوك ترینه انکار کوی ، نوجواب اوشو چه د موسیٰ ؑ کتاب خوهم حق کتاب وو ، او اختلاف په کښې شوې وو ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ﴾ دا هم جواب د سوال مقدر دې ، مشرکانو به ویلې چه که دا کتاب حق دې اومونږ ئ نه منو نوپه مونږ عذاب ولې نه رازی ،جواب اوشو چه د عذاب او مواخذې دپاره وقت مقرردې ، په خپل وقت به رازی او که وقت مقررنه وې نو فی الحال به فیصله شوې وې ﴿وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ﴾ دا تخویف اخروی دې،په دی آیت کښې متعدد ترکیبونه دی : **اول** (کلاً) اسم د (انّ) دې او تنوین عوض دې، د مضاف الیه نه ای کلا من المؤمنین والکافرین ، (لمّا) حرف شرط او فعل شرط محذوف دې چه یبعثهم الله دې او﴿لَيُوَفِّيَنَّهُمْ﴾ ئ جزاء ده او شرط جزاء خبر دَ (انّ) دې، او معنی ئ داده چه داټول یعنی مؤمنین اوکافران چه کله الله ﷻ ئ ژوندی کړی نو پوره به ورکړی دوئ ته بدله د عملونو د دوئ ، **دویم** ، (لمّا) حرف شرط دې او (لیوفینهم) فعل شرط دې ، او لام زائددې ﴿اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ﴾ ورله جزا ده ، معنی ئ داده چه دا ټول مؤمنان او کافران ، کله چه الله ﷻ دوئ ته بدله د عملونو د دوئ پوره پوره ورکوی نو بیشك الله ﷻ په عملونو د دوئ خبر دې ، **دریم** ، کلاً اسم د (انّ) دې ، او (لمّا) قرائت د تشدید په تنوین سره دې، په معنی د جمیعًا سره تاکید دکلاً دې ، او﴿لَيُوَفِّيَنَّهُمْ﴾ ئ

جزاءه ، **خلورم** ، صاحب د کشاف او نور مفسرين وائی چه (کلاً) اسم دَ (انَّ) دي او ما په لَمّا
کښې زائد دي او لام موطئه للقسم دي ، نو تقدير دارنګه شو (وان جميعهم والله ليوفينهم ربك
اعمالهم ، من حسن وقبيحٍ وايمان وجحوده) ، يعنی قسم په الله ﷻ چه دي ټولو ته به الله ﷻ د
دوئ دعملونو بدله پوره پوره ورکوی .

فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ
پس کلك اُوسه په دين لکه څنګه چه تا ته حکم کړې شوېدي اوهغه څوك هم چه توبه ئ کړېده ستاسره او د حده مه تيرېږئ
إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿۱۱۲﴾ وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا
بيشکه الله تعالى ستاسو عملونو لره ښه ليدونکي دي . او ميلان مه کوئ هغه کسانو ته چه ظلم ئ کړي دي
فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾
کنې وبه رسي تاسې ته اور ، اونه به وی تاسو لره سوی د الله تعالى نه هيڅوك مددګاران بيا به ستاسو مدد نشي کيدې .
وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ۚ إِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ
او پابندی کوه د مونځونو په دواړو طرفونو د ورځې او په څو ټکرو د شپې کښې. بيشکه نيك عملونه لرې کوی
السَّيِّاٰتِ ۚ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۱۵﴾
ګناهونه دا نصيحت دې د نصيحت قبلونکو لپاره . او صبر کوه پس بيشکه الله تعالى نه بربادوی ثواب د ښائسته عمل کونکو.

﴿ فَاسْتَقِمْ ﴾ د سورة په آخر کښې پنځه امور متفرعه ذکر کيږی : (۱)فاستقم (۲)ولاتطغوا
(۳)ولاترکنو الذين الخ (۴)واقم الصلوة (۵)واصبر .

داستقامت معنى ده مضبوطی په تمامو شعبو د شريعت باندې چه اعلى په هغې کښې
عقيده د توحيد او رسالت ده ، او بيا تمام اعتقا ديات دی ، او تمام فرائض واجبات سنن او
مستحبات دی او احتراز د کل منهياتونه اوتمام اعمال او معاملات په صحيح نهج د شريعت
پوره کول دی ، صوفياء وائی اطلبو الاستقامة ولاتطلبو الکرامة ، ځکه چه د کرامت نه بلند
ترين مقام د استقامت دې ، شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه استقامت په دنيا کښې بعينه پل
صراط دې په آخرت کښې نو چاته چه استقامت په دنيا کښې نصيب شی ، نو ګوياهغه به په پل

صراط مرور اوکړي . يو صحابي حضرت سفيان بن عبدالله ﷜ نبي ﷺ ته عرض اوکړو چه قل لي في الاسلام قولاً لا اسئل احدا بعدك ، يعنی د اسلام په باره کښې ماته داسې خبره اوکړه چه د بل چانه د تپوس ضرورت پاتې نشي ، نو نبي ﷺ اوفرمايل : قُل آمنت با الله ثم استقم، يعنی دا او وايه چه زما ايمان دې په الله ﷻ باندې اوبيا په دی ايمان او په ټولو شعبو د ايمان باندې مضبوط شه . په حديث کښې راغلی دی ، (كما في الترمذی وغيره) چه حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه او بعض نورو صحابو د نبي ﷺ نه تپوس اوکړو چه يارسول الله! ستا سو ويخته سپين شو، اود بوډاوالی اثر په تاسو ظاهر شو، حالانکه ستاسوعمردومره ډير نه دې . نونبي ﷺ اوفرمايل شيبتنی هود ، و في روايتِ آخرسورة هود ، يعنی زه سورة هود بوډا کړم ، نو په دې حديث کښې دې آيت مذکورته اشاره ده ، ﴿ كَمَآ أُمِرْتَ ﴾ ای استقامة مثل الاستقامة التی امرت .

﴿ وَمَن تَابَ مَعَكَ ﴾ دا عطف دې په ضمير مرفوع مستتر باندې ، په (فاستقم) کښې او تاکيد ئ په منفصل سره ځکه نه دې شوې چه دلته فصل راغلې دې نو تاکيد ضروری ندې، او هرکله چه صحابه ﷡ او نور امتيان نبي کريم ﷺ ته نشی رسيدې په استقامت کښې نو د دې وجه نه دوئ ئ جدا په طريقې دَعطف سره ذکر کړل ﴿ وَلَا تَطْغَوْا ﴾ يعنی د الله ﷻ د حدودو نه هيڅ انحراف مه کوئ . طغيان د حدنه وتلوته وائی ، او دا ضد د استقامت دې ، نودلته د امر د استقامت نه بعد نهی اوشوه د طغيان نه په مثبت او منفی دواړو طرفونو باندې تصريح اوشوه د پاره دمبالغې ﴿ وَلَا تَرْكَنُوٓا ﴾ دا د رکون نه مشتق دې ، او رکون لږ اومعمولی ميلان ته ويلې شی او د ظالمانو نه مرا د يا مشرکان دی او يا عام دی چه مشرك وی يا فاسق بدعتی وی او د ميلان او رکون دپاره ډير صورتونه دی ، قلبی محبت دهغوئ سره، د هغوئ تعظيم او د هغوئ تعريف او صفتونه کول او د هغوئ سره ملګرتيا اومجالست کول د هغوئ ملاقات بغير دشرعی ضرورت نه کول او د هغوئ په اعمالوباندې راضی کيدل ، او د هغوئ سره مشابهت اختيارول ، او د هغوئ پشان لباس اچول حليه جوړول ، دا ټول په دې کښې داخل دی ، صاحب د کشاف وغيره ويليدی چه فکر اوکړه په دې قول کښې (ولاترکنو) ځکه رکون معمولی ميلان ته وائی چه دا سبب دې دپاره د مس د نار ، نو چه پوره مايل شی ظالمانو ته يا په خپله ظالم وی نو د هغه به څه حال وی ، او حکايت دې چه موفق رحمه الله ابو طلحة العباسی په يو امام پسې مونځ کولو ، نو هغه دا آيت اولوستلو نو دې بې هوشه شو ، او کله چه په هوش شو نو تپوس

ترینه اوکړې شو . نو دوئ اوویل چه داخو حال د هغه چادې چه میلان کوی ظالمانو ته نو د ظالم به څه حال وی . د سفیان نه یو سړی تپوس اوکړو چه زه ظالمانو لره کپړې ګندم . نو آیا زه به د هغوئ په اعوانو (مدد کونکو) کښې شماریږم . نو هغوئ اوفرمائل چه ته په ظالمانو کښې ئی او اعوان خو ئ هغه څوك دی چه په تا ستن او تار خرڅوی . او د حسن بصری رحمه الله نه مروی دی چه الله ﷻ دین د دوو لائینُ (قطار) په منځ کښې راوستې دې . یو (الا تطغوا) دې اودویم (ولاتر کنوا) دې .اوپه دې آیت کښې د استقامت علی الدین دپاره طریقه ذکرشوه چه د ظالمانو اوفاسقانو د صحبت او مجلس نه اجتناب اوکړې شی . المرء علی دین خلیله فلینظر من یخالل . یعنی سړې د خپلو دوست په دین او طریقه باندې روان وی . نو دې دې ګوری چه د چا سره دوستی کوی ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ بعض مفسرین وائی چه دا آیت د فرضیت دصلوات خمسو نه قبل نازل شوې دې . نو په دې کښې د پنځو مونځونو د فرضیت حکم نه دې بلکه د درې مونځونو بیان دې . فجر . عصر . او تهجد . او اکثر مفسرینو ویلی دی چه په دې آیت کښې د پنځومونځونو د فرضیت بیان دې . ځکه چه د (طرفی النهار) نه مرا د دا دوه حصې د ورځې دی . یو قبل الزوال او بل بعد الزوال دی . نو قبل الزوا ل د صبا مونځ دې . او بعد الزوال د ظهر او عصر مونځونه دی . او ﴿وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ﴾ د ماښام او ماسخوتن مونځونه دی . زُلف، زلفی ازدلاف قرب ته ویلې شی، او مراد ترینه ساعت دشپې دې . او زلف ورته د دې وجې نه ویلې شوی دی چه ماښام قریب دې ورځی ته او ماسخوتن قریب دې غروب د شفق ته . چه د آثارو د ورځې نه دې ﴿إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ﴾ په نیکو سره ګناهونه زائله کیږی معنی داده چه د یو مونځ نه تر بل مونځ پورې چه څومره صغیره ګناهونه وی نو په مونځ سره دغه صغیره ګناهونه معاف کیږی . کما فی الترمذی وغیره : الصلوة الی الصلوة کفارة وما بینهما ما اجتنبتِ الکبائر . یا دا معنی چه مونځ لرې کو ی ګناهونه یعنی د مونځ په پابندئ سره سړې د ګناه نه منع کیږی . لکه (ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر) . (کشاف) حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه د سیئات نه سختی اومصیبتونه مراد دی . یعنی په مونځ سره سختی او مصیبتونه لرې کیږ ی. لکه (واستعینوا بالصبر والصلوة) اود آیت پشان نزول کښې روایت په متعددو طریقوسره راغلې دې . په هغې کښې یو دا دې چه یو صحابی ابو الیسر رضی الله عنه وائی چه ماته یو زنانه راغله چه کجورې ئی اخستلې نو ما ورته اوې چه په دې بل بیت (کمرې) کښې

بهترینی کجورې دی ، نو هغه زما سره هغه بلې کمرې ته داخله شوه نو ما د هغې قبله او لمس اوکړو د جماع نه علاوه مې نو رهر څه اوکړل ، نو بیا راغلم نبی ﷺ ته مې قصه بیان کړه ، دامې اوونیل چه په ما حد جاری کړه، نو دا آیت نازل شو ، نبی ﷺ په ما باندې اولوستو. اوپه بل روایت کښې دی چه د مازیګر مونځ اوشو نو جبرائیل ﷺ دا آیت راوړو نونبی ﷺ دا صحابی راوغتونو اووې وئیل ورته چه آیا ته زمونږ سره د مازیګر مونځ کښې حاضر شوې وې . نو هغه اوئیل چه هو ، نو نبی ﷺ اوفرمائل چه دا ستاسو د ګناه کفاره ده، نو بیا نورو صحابو عرض اوکړو چه دا فقط د ده دپاره ده اوکه دعامو خلقو دپاره هم دغه حکم دې؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا حکم د عامو خلقو دپاره دې ، ﴿ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ ﴾ ذالك یا اشاره د ه اقامت د مونځونو ته ، او د ذکری نه مراد دالله ﷻ یاد دې ، لکه واقم الصلوة لذکری ، یا اشاره ده قانون د (ان الحسنٰت یذهبن السیئات) ته چه دا نصیحت دې او ترغیب دې ، نیکو ته او دَ یادولو شئ دې غفلت ترینه نه دې پکار ﴿ وَاصْبِرْ ﴾ یعنی صبر کوه په امورو دین کښې او په امورو دَ تبلیغ دَ دین کښې ﴿ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ ﴾ یعنی دا مخکنی پنځه واړه خبرې چه په چا کښې راشی نو هغه محسن شی ، او الله ﷻ اجر د محسنینو نه ضائع کوی.

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُولُوا بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ
پس ولې نه وو دهغه پیړو نه چه ستاسونه پخوا وې عقل والا خلق چه منع ئې کولې د ګناهونونه په زمکه کښې
إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ ۗ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَا
مګر لږ کسان دهغه کسانونه چه بچ کړل مونږ هغوئ د دوئ نه، او تابعداری کړې وه ظالمانو دهغه څه
أُتْرِفُوا فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ
چه دوئ ته پکښې راحت او مزې ورکړې شوې وې او دوئ وو جُرمونه کونکی. او نه دې رب ستا چه هلاك کړی کلو والا
بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿١١٧﴾ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ
په ظلم سره او حال دا چه اهل د دې نیکان وی. اوکه غوښتلې ستا رب (جبراً مسلمانول د دوئ) نو خامخا به ئې ګرځولې وې خلق

أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿١١٨﴾ إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ

یو ډله (په اسلام) او همیشه به وی دوئ (اختلاف کونکی) مګر هغه خوك چه رحم وکړی په هغه باندې رب ستا

وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١١٩﴾

او دې لپاره ئ دوئ پیدا کړیدی ، او پوره شویده فیصله د رب ستا چه خامخا به ډکوم جهنم د پیریانو او انسانانو نه په یوځائ.

﴿ فَلَوْلَا كَانَ ﴾ (لولا) په معنی د (هلا) سره دې د تندیم دپاره، او په دې آیت کښې د نهی عن المنکر او د دعوت د پریخودو د بد انجام ذکر دې ، په تیر شوو قومونو چه عذابونه راغلی وو، نو دا په دې وجه چه خاوندانو د عقل اودعلم نهی عن المنکرپریخي وو، اوکومو لږو کسانو چه نهی عن المنکر کولو نو هغوئ ته الله ﷻ نجات ورکړو ﴿ أُولُوا بَقِيَّةٍ ﴾ یعنی خاوندان د عقل او د علم او د بصیرت ﴿ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ یعنی لږو خلقو نهی عن الفساد کړی وه، او مِن په ﴿ مِمَّنْ أَنجَيْنَا ﴾ کښې مِن بیانیه دې ، یعنی لږو کسانو نهی عن المنکر کړې وه نو هغوئ ته نجات حاصل شوې وو، باقی ټول تباه شو ی وو،او که چرې نیك خلق ډیر وې اونهی عن الفساد ئی کړې وې ، نو ټول به بچ شوی وو ، په روایت د ابوداؤد کښې دی چه (مامن رجل یکون فی قوم یعمل فیهم بالمعاصی یقدرون علی ان یغیرو علیه ولا یغیرون الا اصابهم الله بعقاب قبل ان یموتوا) ، یعنی یو کس چه په قوم کښې وی او د معاصی او ګناهونو ارتکاب کوی او دغه قو م باوجود د قدرت نه ئی نه منع کوی نو په دوئ باندې د مرګ نه مخکې عذاب راځی او په بل روایت کښې دی : ان الناس اذا راؤالمنکر فلم یغیروه اوشك ان یعمهم الله بعقاب ، یعنی خلق چه منکر (خلاف الشرع)کار اوینی او نه ئ منع کوی ، نو الله ﷻ به په دوئ باندې عام عذاب راولیګی ، د دې نه علاوه په ډیرو روایتونه په دې مفهوم سره راغلی دی ﴿ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ یعنی دغه قومونه په دې وجه باندې تباه شوی وو چه خلق د عیش او عشرت په نشه کښې د جرائمو ارتکاب کولو ، او د علم او د عقل خاوندانو نهی عن المنکر نه کوله ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ ﴾ یعنی الله ﷻ اهل قراء په ظلم سره نه هلاکوی ، او حال داچه اهل ئ یعنی بعض اهل ئ نهی عن المنکر کوی. او دشریعت په لار روان وی ﴿ بِظُلْمٍ ﴾ حال دې دفاعل نه چه (ربك) دې ، ای ماکان ان یهلك الله القراء ظالمًا لها ، او بعض مفسرین وایی چه باء سببیه ده او د ظلم نه مراد کفر او شرك دې ،

يعنى الله ﷻ اهل قرى صرف په کفر او شرك سره نه هلاکوی ، چه اهل ئی په معاملاتو وغیره کښ اصلاح کونکی وی ، یعنی چه معاملات ىې نه وی خراب او ظلم او دهوکه او دروغ نی نه وی شروع کړی ، نو الله ﷻ ئی په دنیاوی عذاب سره نه هلاکوی ﴿ وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ ﴾ علامه زمخشری د دې آیت تشریح داسې کوی ، چه که د الله ﷻ مشیت او اراده وې نو ټول به ئې مجبوره کړی وې په دې چه دوئ په ملت واحده د اسلام شی ، لیکن الله ﷻ څوك مجبوره کړی نه دی بلکه دوئ ته ئی اختیار ورکړې دې چه هغه بنیاد د مکلف کیدلو دې . نو بعضو په خپل اختیار سره حق اختیار کړو ، او بعض باطل اختیار کړو نو مختلف شو . لیکن بعض مفسرینو په دې قول دَ کشاف باندې رد کړې دې چه دا تشریح بناء ده په مذهب د معتزلو باندې چه دوئ دا آیت محمولوی په مشیت د الجاء او اجبار باندې ، تفصیل په شرح عقائد کښ دې. حضرت مولانا شبیر احمد عثمانی او نور علماء د آیت تشریح داسې کوی چه که د الله ﷻ اراده وې نو ټول به په ایمان باندې وې ، لیکن د الله ﷻ اراده نه ده د ایمان د ټولو ، او دهغه تکوینی حکمت دا نه غواړی چه ټول په یو ه لار د ایمان باندې شی ، نو د دې وجې نه دوئ په اختلاف کښ دی . او همیشه دپاره به وی مګر په حقیقت کښ اختلاف کونکی هغه خلق دی چه د فطرت بر خلاف ئی د حق تکذیب کړې دې او که د فطرت سلیمه موافق روان وې نو هیڅ اختلاف به نه وې ﴿ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ﴾ کښ تنبیه ده پدې چه کومو خلقو باندې الله تعالی د دوئ د حق پرستی په وجه ئ رحم اوکړو نو هغوئ د اختلاف کونکو نه مستثنی دی ، اود حضرت شیخ رحمه الله د کلام خلاصه په دې آیت او د دې په مثل نورو آیتونو کښ داده چه که الله ﷻ اوغواړی ، جبراً مسلمانول د خلقو نو قدرت او اختیار کښ ئ شته دی چه ټول په یوه لار د ایمان راولی جبرا مګر داسی کول د هغه د قانو نه خلاف دی ، چه هغه قانون (لا اكراه فى الدين) دې، یعنی په دین کښ جبر نشته دې او الله ﷻ هیڅ څوك نه مجبوره وی په قبول د ایمان باندې ، او جبری ایمان مقبول عند الله نه دې بلکه هغه ایمان مقبول او معتبر عندالله دې چه په خپلې مرضئ سره وی ، ځکه چه هغه د هدایت او ګمراهئ لار واضحه کړې ده ، او انبیا ءئی مبعوث کړی دی ، او کتابونه ئی نازل کړی دی او بیا ئی فرمایلی دی چه (فمن شاء فليومن ومن شاء فليكفر) یعنی د حق د واضحه کیدلو نه روستو هر چاته اختیار دې د تللو په لارې د هدایت او د ضلالت ، او هیڅ څوك مجبور نه دی په ایمان او نه په کفر ، بلکه ایمان او کفر په خپلې مرضئ سره دې ، او په حدیث شریف کښ راغلی دی ، چه الله ﷻ عقل پیدا کړو ،ا و فرمایل ئی چه ستا په وجه به زه مواخذه کوم او عطا

، به کوم ، چاته چه الله ﷻ عقل نه دي ورکړي، نود هغه مواخذه هم نه کوی . نابالغه او مجنون مکلف نه دی ، ځکه چه د عقل نه خالي دی . الله ﷻ انسان ته عقل، حواس ورکړل . او انبیاء ئې راولیږل او کتابونه يې نازل کړل ، او بیا ئې اختیار ورکړو چه کومه لار تاسو اختیار کړه نو د هغې مطابق به ثمره او نتیجه وی ﴿وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ﴾ په (لذالك) کښې اشاره یا اختلاف ته ده یعنی د اختلاف دپاره ئې دوئ پیدا کړی دی چه بعض د خپل مالك د اطاعت او وفادارئ په وجه د صفت جمال او د رحم او د غفران مظهر اوګرزی چه دا د ﴿إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ﴾ مصداق دي . او بعض د نافرمانئ او بغاوت په وجه د صفت عدل انتقام مظهر اوګرزی ، او دوئ د ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ﴾ مصداق ي او که څوك سوال اوکړی چه هر کله ئې دوئ د اختلاف دپاره پیدا کړل . نو بیا ورله سزا ولي ورکوی ،بله خبره دا چه دا د (ماخلقت الجن ولانس الا لیعبدون) نه مخالف ده . نو جواب دادي چه دغه غایه تشریعی ده ، او په دې آیت کښې د غائی تکوینی بیان دې، یعنی د جناتو او انسانانو د پیدا کولو تشریعی مقصد عبادت دې ، نو د هغې په ترك سره سزا ملاویږی ، او تکوینی مقصد دادي چه د تشریعی مقصد پوره کولو یا نه پوره کولو سره د صفاتو جلالیو او جمالیو ، د لطف او د قهر مظهر اوګرزی، یا (لذالك) اشاره ده اختلاف او رحمت دواړو ته ، چه په ضمن د مختلفین (مختلفین الا من رحم ربك) کښې دی . یعنی بعض ئې د اختلاف دپاره پیدا کړی دی ، او بعض ئې د رحمت دپاره پیدا کړی دی او په دې کښې اشاره ده تقدیر ته ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ﴾ دا تفسیر د ﴿كَلِمَةُ رَبِّكَ﴾ دې .

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ

او ټولو لره مونږ بیانوو په تا باندې د احوالو د رسولانو نه هغه چه ټکلوو مونږ په هغې سره زړه ستا، او راغلیده تا ته

فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

په دې قصو کښې حقه خبره او نصیحت او یاد ګیرنه، لپاره د مؤمنانو. او وه وایه هغه کسانو ته چه ایمان نه راوړی

اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَامِلُونَ ۝ وَانتَظِرُوا إِنَّا مُنتَظِرُونَ ۝

عمل کوئ تاسو په خپله طریقه، بیشکه مونږ هم عمل کوؤ په خپله طریقه، او انتظار کوئ تاسو ، بیشکه مونږ هم انتظار کونکی يو

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ

او خاص الله تعالى لره دي علم غيب [۱] د آسمانونو او د زمكې اوخاص هغه ته به واپس كولې شي كارونه ټول

فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

پس خاص د هغه عبادت كوه [۲] او په هغه توكل كوه [۳] او ندې رب ستا [۴] غافل دهغه عملونو نه چه تاسو ئې كوئ

﴿ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ ﴾ دا دَ سورة د تمامو قصو سره متعلق دې ، او تنوين په كلاً كښې عوض دې د مضاف اليه نه ، اى كل نباء او دا منصوب دې ، مفعول د نَقُصُّ دپاره دې ، او ﴿مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ﴾ بيان مقدم دې د (مَانُثَبِّتُ) دپاره ، او (مَانُثَبِّتُ) عطف بيان يا بدل دې د كلاً نه ، يعنى د رسولانو د قصو بيانولويو مقصد تثبت د زړه دې په ذكر د مصائبو د پيغمبرانو سره ﴿وَجَآءَكَ فِىْ هٰذِهِ الْحَقُّ﴾ دا دويم مقصد دې د بيان د قصو د انبياؤ چه په دې سره حق واضحه شو ، يعنى توحيد رسالت او صحيح عقيدې او صحيح اعمال ﴿ وَمَوْعِظَةٌ ﴾ دادريم مقصد دې ،يعنى تخويف او زجر د معاصيئو نه ، او د تير شوو امتونو د بد انجام نه عبرت اخستل ، ﴿وَذِكْرٰى﴾ داخلورم مقصد دې ، يعنى د اعمالو صالحو ترغيب﴿وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ﴾ دا زجر دې اواعلان د برات دې. يعنى كه تاسو دَ دومره بياناتو او قصو نه عبرت نه اخلئ او په ضد او تعصب باندې مضبوط ولاړ يئ نو زه هم په خپله حقه لار مستقيم ولاړ يم تاسو د خپل انجام انتظار كوئ ، او مونږ د خپل انجام په انتظار كښې يو ﴿ وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ ﴾ د سورة په آخر كښې د سورة د تمامو دعوو اعاده كيږي، او دا د دويمې دعوې اعاده ده ﴿ فَاعْبُدْهُ ﴾ دا د اولې دعوې اعاده ده ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ﴾ دا ددريمې دعوې اعاده ده، يعنى په مصائبو او بلياتو كښې په الله ﷻ بروسه كوه، او صبر استقامت برداشت كره ﴿وَمَارَبُّكَ بِغٰفِلٍ﴾ دا د خلورمې دعوې اعاده ده .

انوار ۱۲ صفر ۱۴۳۰ هجرى ۸ فروورى ســــ۲۰۰۹م

نن شب الوار ۲/ ربيع الثانى ، سنه ۱۴۳۳ ، دَ دې نظر ثانى مكمل شو.

---

۱ - د دويمې دعوې اعاده .

۲ - د اولې دعوې اعاده .

۳ - د دريمې دعوې اعاده .

۴ - د خلورمې دعوې اعاده .

رکوعاتها (۱۲)	سورة یوسف مکیة	آیاتها (۱۱۱)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله سره چه بې حده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۱۲) حسب النزول (۵۳)

سورة یوسف مکی دې، په ترتیب قرآنی کښې ۱۲ دې او په ترتیب نزولی سره . ۵۳ دې زمانه د نزول ئ دور آخر د مکې دې .

ربط اسمی : په سورت هود کښې چه د کومې مسئلې ذکردې ، او هود ﷺ بیان کړې دې چه ﴿يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾ ، د دې تبلیغ او اشاعت دومره ضروری دې چه یوسف ﷺ په قید خانه کښې قیدیانو ته د تعبیر نه قبل بیان کړو .

ربط مضمونی : دادې چه په سورة هود کښې ئ ویلی وو چه عبادت د الله ﷻ کوئ ځکه بل څوك غیب دان، کارساز نشته ، په دی سورة کښې د دې اثبات دې چه که بل څوك غیب دان، کارسازوې، نودومره لوئ پیغمبر یعقوب ﷺ به ولې دومره په خپل ځوئ پسې پریشان کیدهلو .

د سورة د مضامینو خلاصه : د سورة څلور دعوې دی ، دوه ضمنی دی په ضمن د بیان د قصې کښې ثابتیږی ، اوله دعوی داده چه د الله ﷻ نه ماسوا هیڅ څوك عالم الغیب نشته دې ، بلکه عالم الغیب صرف یو الله دې ، دویمه دعوی داده چه مالك او متصرف فی الامور مافوق الاسباب صرف الله ﷻ دې ، دا دواړه دعوې د بیان د قصې سره ثابتیږی، ځکه چه د یوسف ﷺ هره هره کړئ په دې دلالت کوی چه عالم الغیب او متصرف فی الامور بل څوك نشته دې ، دریمه دعوی داده چه بیشکه ته د الله ﷻ ریشتې رسول ئی ﴿ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ﴾ څلورمه دعوی ﴿حَتَّىٰ إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ﴾ په مخکنو انبیاؤ باندې په تبلیغ د توحید کښې امتحانات راغلی وو لیکن د الله ﷻ نه نصرت او مدد د دوئ سره شامل حال وو، او مخالفین نامراده اوهلاك شو نو دغه شان په تا باندې امتحانات راځی لیکن د کامیابئ انجام به ستا وی .

الٓرٰ ۟ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ۝١ اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰهُ قُرۡءٰنًا
(الر) دا آیتونه [1] د داسې کتاب دی چه صفا صفا بیان کوی بیشکه مونږ نازل کړیدي دا کتاب قرآن
عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ۝٢
په عربي ژبه لپاره د دې چه تاسو پوهه شئ

﴿الٓرٰ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ﴾ دا تمهيد دې د ﴿لَمِنَ الۡغٰفِلِيۡنَ﴾ پورې او (تلك) اشاره ده قرآن ته او مقصود ترينه الحاق د جزء دې په كل پورې يعنى لكه څه رنگه چه كل قرآن ته اعلى معيار دَ فصاحت، بلاغت كښې دې او معجز دې نو دا يو سورة هم دغه شان دې او (مبين) لازمى هم راځى او متعدى هم راځى ، نو كه لازمى شى نو معنى ئ دا ده چه ظاهر دې حال د دې كتاب په اعجاز كښې او تبكيت دَ عربو كښې يا دا معنى ده چه واضح او ظاهر دې په عربو باندې د دې معنى مشتبه نه دې په دوئ باندې ځكه چې د دوئ په لغت باندې نا زل شوې دې ، او چه متعدى شى نو معنى ئ داده چه ظاهره ونكې او واضحه كونكې دې حق لره د باطل نه يا واضحه كونكې دې هغه خبرې لره چه سوال ئ كړى وو يهوديانو. لكه روايت دې چه يهوديانو نه تپوس اوكړې شو چه يعقوب ﷺ خو په شام كښې وو، نو بنى اسرائيل مصر ته څنگه راغلل ﴿اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰهُ قُرۡءٰنًا﴾ نو بيشكه مونږ نازل كړې دې دا كتاب په حال د كون دده كښې چه قرآن دې عربى. (قرآنا) حا ل موطئه دې ،يعنى مقصودى دَ (قرآنا) ذكر كولو نه توطيه او تمهيد دې ﴿عَرَبِيًّا﴾ ته او بعض وائى چه قرآنا مصدر دې په معنى د مقروءً سره نو دا حال دې او عربيًا ورله صفت مادحه دې ، ځكه چې عربى لغت په ټولو لغاتو كښې افضل او اشرف دې . دليل لمّى په دې دا دې چه د بلاغت فصاحت د دقائقو او لطائفُ او دَ نكتو اعتبار څومره چه په عربى ژبه كښې كيدې شى نو دومره په بل لغت كښې نشى كيدې. لكه دا مشاهده ده، او دليل اِنّى ئ دادې چه دا ځكه افضل او اشرف دې چه دا لغت او لسان د سيد الكونين ﷺ دې ، بل دا چه دا قرآن په عربى ژبه كښې دې ، بل دا چه لسان د اهل جنت هم عربى دې ، آلوسى رحمه الله روايت د طبرانى او حاكم او بيهقى وغيره رحمهم الله د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل كړې دې چه نبى ﷺ

۱- تمهيد.

فرمایلی دی (احب العرب لِثلث لانی عربیٌ والقران عربیٌ وکلام اهل الجنة عربی) ، ابن کثیر رحمه الله وائی چه (اُنزل اشرف الکتُبِ باشرف اللغات ، علی اشرف الرسل بسفارة اشرف الملائکة وکان ذالك فی اشرف بقاع الارض وابتداء اِنزاله فی اشرف شهور السنة وهو رمضان فکمل من کل الوجوه) ،امام راغب اونور اهل لغت وائی چه عربی فصیح او واضح کلام ته وائی او عربو ته عرب ځکه وائی چه دوئ په فصیح کلام باندې تکلم کوی ، نوعربی لغت په تمامو لغاتو کښې افضل او اشرف دې ، ځکه چې دا د اشرف الرسل ﷺ او د اشرف الکتب لغت دې ، او دعربی لغت نه بعد آیا ټول لغات یو شان دی ، او که افضل غیر افضل په کښې شته دې ، نو که چرې وجه د افضلیت اشتمال وی په لطائفو او دقائقو اونکتو د بلاغت باندې نو بیا خو افضل او غیر افضل په کښې شته دې ، او که دا وجه نه وی نو بیا ظاهره داده چه افضل فقط لغت عربی دې چه قرآن په دې نازل دې، اودَ لغت عربی نه علاوه ټول یو شان دی ، او چه د لغت عربی نه علاوه نورو لغاتو کښې افضل او غیر افضل وی نو آیا بیا کوم لغت افضل دې ، نو په دې باره کښې څه صریح نص نه دې راغلی لیکن اکثر عالمان وائی چه فارسی افضل دې ، او ددې افضلیت کښې نزاع نده پکار ځکه چې فارسی قریبه ده عربی ته په اشتمال کښې په نکتو د فصاحت بلاغت باندې ، او امام ابو حنیفه رحمه الله په فارسئ سره قرائت لوستل په مونځ کښې جائز کړی دی ، نو معلومه شوه چه د عربی لغت نه بعد فارسی لغت افضل دې او بعض وائی چه سریانی لغت افضل دې ځکه چه دَ آدم علیه السلام لغت په جنت کښې عربی وه نو چه اکل د شجرې ئې اوکړو نوعربی ترینه سلب شوه ، او تکلم ئې په لغت سریانی سره کولو، او بیا چه توبه ئې قبوله شوه نو بیا ئې په عربی لغت خبرې کولې، او بعض اسمانی کتابونه صحیفې هم په سریانی لغت سره نازل شوی دی ، و الله اعلم بالصواب ، او اهل تاریخ د عربو د درې دوره وائی : (۱) عرب عاربه یا عرباء یعنی خاص عرب او دوئ اولاد او اِرم ابن سام بن نوح علیه السلام دی ، دوی نه (۹) قبیلې دی او بعض وائ چه اووه قبیلې دی ، چه هغه عاد ، ثمود ، امیم ، عبیل ، طسم ، جدیس ،عملیق ، جرهم ، وبار، دی او د جرهم قبیلې نه حضرت اسماعیل علیه السلام عربی زده کړه ، نو اولاد د اسماعیل علیه السلام خلاصة العرب العرباء دې ، او دې لغت ته الله ﷻ ترقی ورکړه نو دَ نبی ﷺ په زمانه کښې انتهائی عروج ته اورسیده ، او دا لغت د نورو لغاتو په نسبت سره مختصر او ډیر جامع دې ، نو الله ﷻ دې لغت ته فوقیت ورکړو ، او نزول د قرآن په دې سره اوشو، او دویم عرب متعربه دی، دوئ خالص عرب نه دی ، دا د یمن ،حمیر قبیله اولاد د

(قحطان) دی ، دریم عرب مستعرب به دی، دوئ هم خالص عرب نه دی . دوئ په اولاد د اسماعیل علیه السلام کښې اولاد د معد بن عدنان بن اذر دی .

او په دې آیت کښې توصیف د قرآن شوې دې په عربیًا سره نو استدلال کړې دې بعض امامانو لکه امام شافعی رحمه الله، ابو عبیده، قاضی ابوبکر وغیره حضرات شو ، په دې چه په قرآن کښې عجمی لفظ نشته دې ، او ابن جریر رحمه الله توجیه کړې ده د دې قول د ابن عباس رضی الله عنه چه قسطاس سجل وغیره الفاظ عجمی دی ، او هغه توجیه داده چه دا الفاظ په اصل کښې عربی وو، او د عربو نه عجمو زده کړی دی ،او عربو د دې استعمال ترك کړو او په عجمو کښې مشهور شو ، او چاویلی دی چه دا د توارد دلغاتو نه دی ، لیکن ډیرو اهل علمُ ویلی دی چه عجمی لفظ په قرآن کښې شته دې ، کماقال ابن عباس رضی الله عنه او جواب ئ کړې دې د دې آیت نه چه په یو لفظ سره قرآن د عربیت نه، نه خارجیږی لکه یوه قصیده یا شعر د فارسئ په یو لفظ عربی سره دَ فارسی والی نه نه خارجیږی ، او بعضو ویلی دی چه د عجمی لفظ په اعتبار د اسلوب سره عربی دې ، لکه اجرا د اعراب وغیره شو نو توصیف ئ په عربی سره په دې لحاظ سره شوې دې ، او استدلال کړې دې دوئ چه اتفاق د نحویانو دې په دې چه ابراهیم وغیره اسماء غیر منصرف دی د وجې د عجمې او علمیت نه ، او سیوطی رحمه الله نقل کړیدی دابومیسرة تابعی نه چه ده ویلی دی ، فی القران من کلِّ لسان او دغه شان روایت د سعید بن جبیر او وهب بن منبه نه دې ، او حکمت په دې کښې داکیدې شی چه قرآن خو حاوی دې په علومو د اولینو آخرینو او په احوالود هر څه باندې نو مناسب وه چه مشتمل شی په لغت د عجمو باندې چه احاطه تامه د قرآن راشی ، او هم دا رنګه هرکله چه نبی ﷺ مبعوث دې هرامت ته نو مناسب ده چه په دې کتاب کښې د لغت د هر قوم نه څه لفظ وی ، قاسم بن سلام رحمه الله محاکمه کړې ده په مابین د قولینو کښې او ویلی ئ دی چه چا چه دا ویلی دی چه بعض الفاظ په قرآن کښې عجمی دی دهغه مطلب دادې چه اصول ئ عجمی دی لیکن بیا عربود عجمی نه عربی ته اړولی دی ، نو دا الفاظ عجمی دی په اعتبار د اصولو او مادې سره ، او عربی دی په اعتبار د تصرف د سوق او د اجرا دَ اِعراب سره، دواړه قولین صحیح دی ، او تخالف اومنافات نه لری ، او د ﴿قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا﴾ نه فقهاؤ دا مسئله هم مستنبط کړی ده چه که د قرآن ترجمه په بل لغت سره اوکړې شی نو هغې ته به قرآن نشی ویلې بلکه ترجمه دقرآن به ورته ویلې شی ، ځکه قرآن نوم د دې منزل نظم عربی دې نو ترجمه د قرآن ،قرآن نه دې ، او دا

رنگه د عربی متن نه بغیر ئ شائع کول هم حرام دی . پرویزیانو او نورو گمراه فرقو دا منصوبه جوړه کړې ده چه په عربی باندې عام خلق نه پوهیږی نو د دې وجې نه صرف لوستل کافی دی او ظاهره د چې هر کله عربی متن نظر انداز کړې شی او محض ترجمه باندې اکتفاء اوکړې شی . نود قرآن پاك وحدت به ختم شی او مختلف قرائتونه به شی لکه انجیل چه شپږشلې ۱۲۰ انجیلونه دې . نو دا د تحریف د قرآن ذریعه ده . او د دې وجې نه هر کله چې چراغ کمپنی لاهور د قرآن ترجمه بغیر د عربی متن نه شائع کړه نو حضرت مفتی کفایت الله اونورو اکابرو علماؤ د هغې دحرمت فتوی ورکړه ځکه چې په دې کښې د صحیح ترجمې او غلطې ترجمې پته نه لګی . او چه د عربی عبارت سره ترجمه اوکړې شی نو دا جائزه ده ځکه چې بیا صحیح او غلطه ترجمه معلومیږی .

﴿لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ په دې کښې د فائدې د انزال د قرآن بیان دې او (لعل) د تعلیل دپاره دې، یعنی قرآن د دې دپاره نازل شوې دې چه تاسو ځان پوهه کړئ په معانیو اوحکمتونو اوحقانیت د قرآن باندې .

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْآنَ ۖ وَإِنْ كُنْتَ
مونږ بیانوو په تا باندې ډیره ښائسته په قیصو کښې، په سبب دَ وحی لیګلو زمونږ تا ته د دې قرآن. او بیشکه ته وې
مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ ③
مخکښې د دینه د بې خبرونه .

﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ﴾ قصص په دوومعانیو سره رازی . یو په معنی مصدری سره یعنی بیان کول نو د اَحْسَنَ الْقَصَص معنی ده په عمده طریقې سره بیانول ، دویم په معنی د تیرې شوې واقعی بیان نو د اَحْسَنَ الْقَصَص معنی داده چه د یوسف ﷺ د تیر شوی حالاتو واقعی اوحقیقی بیان چه په هغې سره د عقیدې اواخلاقو اواعمالواصلاح راځی .

د یوسف ﷺ قصې ته ئی اَحْسَنَ الْقَصَص ویلی دی نوبعض حضرات لکه ابن القیم رحمه الله وغیره وائی چه اسم تفضیل دَ زیادة مطلقه دپاره دې ، (بیانه فی کافیة ابن الحاجب) نو معنی ئی داده چه په ډیرو خایسته قصو کښې یوه قصه ،اودا مطلب نه دې چه داقصه دنورو قصونه زیاته خایسته ده او نورې قصې د قران ډیرې خائسته نه دی ، مولانا شبیر احمد عثمانی وائی

حه د يوسف ﷺ قصه په كتابونو د تاريخ او بائبل كښې هم ذكر وه مگر هغه محض يو افسانه وه . او قرآن د هغې ضروري او مفيد اجزا په داسې عجيب ترتيب او بليغ مؤثر انداز كښې بيان كړه چه د مخكنو تاريخ ليكونكو كوتاهي ترينه هم معلومه شوه . او اعلى نتائجو طرف ته رهنمائي هم اوشوه .او د علومو او د هدايانو بابونه ترينه هم مفتوح شول (چه بيان ئې كيږي)
او عام مفسرين وائي چه دې قصې ته احسن القصص د جامع مضمون په وجه ويلې شوې دې ، ځكه چې په دې قصه كښې داسې جامعيت دې چه په نوروقصو د انبياؤ كښې نشته دې ، ځكه په دې كښې (۱) د عقائدو بيان دې (۲) او د عمل صالح بيان دې (۳) او د بد عمل د نتائجو بيان دې (۴) او د نيكو اخلاقو بيان دې (۵) او دارنګه په دې كښې د متقابلاتو بيان او ذكر دې.

د عقائدو بيان دا دې چه : (۱) دقضاء او قدر داقع نشته دې (۲) انبياء غيب دان نه دى (۳) د خپل اولاد نه او د بل چانه تكليف نشى دفع كولې (۴) او د شرك رد.

او د اعمال صالحو بيان دادې چه (۱) دالله ﷻ نه مدد غوختل (۲) په معصيت باندې مصيبت لره ترجيح وركول (۳) د مصيبت نه په الله ﷻ سره پناه غوښتل (۴) او دمعصيت نه تختيدل (۵) د خپل ځان نه بد نامى دفع كول (۶) د الله ﷻ په خودلې شوو تدبيرونو اوحيلو باندې عمل كول.

او د بدو اعمالو د نتائجو ذكر دادې (۱) د حسد عاقبت او انجام ناكامى (۲) د پلار سره كيد او مكر كول (۳) پلارته د دروغو بهانې (۴) ورور ته چل ول جوړول (۵) او هغه ته تكليف وركول او ظلم كول (۶) د ښځو مكرونه كول (۷) د پردى سړى سره عشق كول او د هغه نه د بدكارئ طلب كول.

او دَنيكو اخلاقو بيان دا دې چه (۱) د مولى سره خه اخلاق چلول (۲) او د هغه په كور كښې دخيانت نه ځان ساتل (۳) عفت كول (۴) د خپلو ملګرو سره احسانات كول (۵) هغوئ ته د حق دعوت په نرمئ او همدردئ سره وركول (۶) خطا كونكو اومجرمانوته معافى كول (۷) د معافى نه بعد هغه نه ملامت كول (۸) بلكه د هغوئ دپاره استغفار غوختل.

او هر چه دې د متقابلاتو بيان نو هغه دادې : حاسد محسود ، مالك مملوك ، شاهد مشهود ، حبس (قيد) اطلاق (خلاصيدل) قحط سالى خوشحالى ، ذنب اوعفو ، فراق وصال ، سفر حضر ، عزت ذلت .

﴿بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ﴾ باء سببيه ده ، او ما مصدريه ده، يعنى تا دا واقعات د تاريخى كتاب

نه یا چانه نه دی نقل کړی ، بلکه په سبب د وحی سره دی نو دا ستا د رسالت دلیل دې ﴿وَإِن كُنتَ﴾ (ان) مخفف من المثقل دې . اسم ئ ضمیر شان مقدر دې او خبر ورله ﴿لَمِنَ الْغَافِلِينَ﴾ دې. د غافل نه مراد بې خبره د قصې دَ یوسف ﷺ نه دې لکه (ووجدك ضآلا) یعنی بې خبره د تفاصیلو د دین نه (ماکنت تدری مالکتٰب) ، یعنی تاته نه وه معلوم تفاصیل د کتاب او د ایمان.

إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ
هرکله چه وه ویل یوسف[1] خپل پلار ته : اې پلاره څما ! بیشکه ما ولیدل په خوب کښې یوولس ستوری او نمر
وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ ④
او سپوږمئ، ولیدل ما دوئ، ماته سجده کونکی.

﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ﴾ د دې نه د قصې ابتدا کیږی ، او دا په پنځلس احوالو کښې اول حال دې (اذ) بعض حضرات په معنی د (قد) سره وائی ،اوبعض وائی چه دا ظرف دې . عامل ئې مقدر دې چه (اذکر القصة اذقال – الخ) دې ، نو په دې اشکال راځی چه دا قصه خوحضور ﷺ ته معلومه نه وه نو څه رنګه ورته د بیانولوحکم کیږی؟ نو جواب دا دې چه په ذریعه د وحی سره معلومه شوه نو د دې وجه نه ورته د بیانولو حکم اوشو. او بل داچه شیخ رضی رحمه الله ویلی دی چه (اذکر) په معنی د غو راو فکر سره دې یعنی په دې قصه کښې غور او فکر اوکړه او عبرت ترینه حاصل کړه ، حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه ظرف د روستو (قال یٰبنی) سره متعلق دې ، او تقدیم د ظرف په عامل جائز دې ، لکه دا قاعده مسلمه ده ﴿إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا﴾ مراد لیدل دی په خوب کښې ، یوولس ستوری یوولس رونړه دی اونمر سپوږمئ مور اوپلار دی ، قرطبی وائی چه مور د یوسف ﷺ د دې واقعې نه اګر که مخکی وفات شوې وه لیکن د ده خاله (ترور) دَ یعقوب ﷺ په نکاح کښې راغلی ده ، خاله خو هسې هم په منزله د مور وی.لیکن چه په نکاح د پلار کښې راشی نو بیا ورته په عرف کښې مور ویلې شی. اکثر

1 - د قصې آغاز او په پنځلس احوالو کښې اول حال.

مفسرين وائي چه د شمس تعبير پلار دې لکه چه رڼا د شمس کامله وي، نو دغه نور د نبوت کامل وي او د قمر تعبير مور ده . لکه چه رڼا د قمر درميانه ا و مستفاده وي د شمس نه نو دغه شان نور د ولايت د مور د يوسف ﷺ درميانه دې او مستفاد دې له نور د نبوت نه . او بعض مفسرين د شمس تعبير په مورسره کوي ، ځکه چه شمس مونث دې ، او د قمر تعبير په پلار سره کوي ځکه چې قمر مذکر لفظ دې ، ليکن اول قول غوره دې ، ځکه چه په تعبير کښ اعتبار د وصف چه نور دې اولى دې د وصف د لفظ نه، اودا خوب يوسف ﷺ په حالت د صغر کښ ليدلې دې . چه عمر ئې شپږکاله وو يا اته کاله وو، او د يعقوب ﷺ دولس ځامن وو. د څلورو بيبيانو نه. او ديوې بى بى نه چه نوم ئې (ليّه) دې شپږ ځامن وو، اود (راحيل) نه ئې دوه ځامن وو. يوسف ﷺ بنيامين، اود (بلها) نه ئې هم دوه ځامن وو، او د (زلفا) نه ئ هم دوه ځامن وو. يوسف بن يامين دواړه کشران وو، دحضرت يوسف ﷺ سره د يعقوب ﷺ محبت د نورو ځامنو نه زيات وو .ځکه چې په ده کښ د نبوت آثار او انوارات د وړوکوالى نه موجود وو. او ظاهرى حسن ورته هم الله ﷻ بې مثاله ورکړې وو، لکه د واقعې د معراج په باره کښ چه کوم طويل حديث دې په هغې کښ داهم دى چه کله حضورﷺ د حضرت يوسف ﷺ سره په دريم اسمان کښ ملاقات اوشو ، نو اوئ فرمائل : واذا هو قد اعطى شطر الحسن ، يعنى يوسف ﷺ ته د ټولو مخلوق نيم حسن ورکړې شوې وو .

﴿رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ﴾ دا د (رائيتُ) تفسير دې ياجمله مستانفه ده واقع ده په جواب د سوال کښ چه ((کيف رائيتهم)) او جمع په يا اونون سره د عقلاؤ دپاره راځى اودارنګه ضمير د (هم) دعقلاو دپاره راځى . او دلته د جماداتو دپاره چې کواکب دى ،مستعمل شوې دې ، نود دې وجه داده چه هر کله دا موصوف شو ، په وصف د عقلاؤ سره چه سجود دى نو په دې وجه جمع د عقلاؤ د دوئ دپاره مستعمل شوه اومراد دسجدې نه حقيقى معنى ده چه تعبير دې د انقياد او تابعدارئ نه او بعض ويلى دى چه دې نه مراد مجازى معنى ده چه تواضع او انقياد دې ﴿رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا﴾، او ((رئيتهم)) د رؤيا نه مشتق دې يعنى خوب ليدل ، او د رؤيت نه مشتق نه دې ، او د خوب حقيقت عالم الغيب ليدل دى ، او د دې وجې نه په حديث کښ راغلى دى (لم يبق من النبوت الى المبشرات) يعنى نبوت ختم شوې دې اوهيڅ جزء ترينه نه دې پاتى مګر مبشرات ، يعنى د عالم الغيب اطلاع به په ذريعه د وحى سره راتله نو هغه بنده شوه او صرف مبشرات پاتې دى، چه په دې سره د عالم غيب بعض احوال معلوميږى . صحابۆ

نپوس اوکړو چه مبشرات څه دی؟ ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائل چه (الرؤیا الصادقة یراه المؤمن ، اوترٰی له) یعنی مبشرات رشتینی خوبونه دی چه مومن ئی په خپله اووینی یا د ده دپاره ئی څوك او وینی لیکن د دې نه، نه لازمیږی بقاء د نبوت ځکه که د جز د بقاء سره د کل بقاء نه ده لازمه لکه د مشین یوه پُرزه چه موجوده وی نو داسې نشی ویلې چه مشین موجود دې. دَ قادیانی دجال لعنت الله علیه مغالطه په دې سره ختمه شوه . شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه د قلب دپاره دوه دروازې دی ، یوه دروازه عالم مشاهد ته ده او بله عالم الغیب ته ده . نوکله چه سړې اوده شی نو د عالم مشاهد دروازه بنده شی او عالم الغیب ته دروازه مفتوح شی . او صوفیاء وائی چه څومره اشیاء پیداکیدونکی دی ، نود وجود نه مخکښې د هر څیز یو خاص شکل په عالم امثال کښې وی، او د عالم مشاهد د شکل نه اکثر بدل وی ، ځکه چه په عالم مشاهد کښې به یو شئ عرض وی او په عالم مثا ل کښې به جوهر وی ،لکه مثلا علم په عالم مشاهدکښې عرض دې لیکن په عالم امثال کښې دده شکل لبن (شوده) دی ، نو په خوب کښې د عالم امثال هغه شکلونه په نظر راشی ، نو دا رویا (خوب) دی ، لیکن د دې سره کله تخیلات باطله هم شامل شی ، نو تعبیر ئی مشکل شی ، او د خوب درې قسمونه دی : دوه باطل اوبې حقیقته دی او یو قسم په خپله صحیح او ریشتنې دې ، لیکن د عوارضو د وجې نه کله هغه هم قابل اعتبار نشی ، یو قسم حُلم حدیث النفس دی ، او دا هغه دی چه انسان د څه څیز تصور کړې وی نو هغه تصورات ئی په دماغو کښې په قوت خیالیه کښې پراته وی ،نوچه اوده شی نو دغه تصورات په خوب کښې وینی ، او دویم قسم تسویل الشیطن دی ، دا هغه دی چه شیطان د انسان په دماغو کښې څه صورتونه او شکلونه اوواقعات واچوی ،دَ ترهیب دپاره د یا د دهوکه کولو دپاره لکه احتلام دپاره وغیره شو ، دریم قسم رویا صالحه دی، چه هغه د الله ﷻ د طرف نه د بنده ته د غیب نه اطلاع ورکول دی ،او یو قسم الهام دې لکه په حدیث دطبرانی کښې دی چه د مومن یوکلام دې چه د خپل رب سره ئی کوی ، د انبیاء علیهم السلام خوب رؤیای صادقه دی ، او د نورو خلقو خوب کله رویائی صادقه وی او کله حدیث النفس وی ، اوکله تسویل الشیطن وی ، په حدیث کښې خوب ته جزء د نبوت ویلې شوې دې ، اوپه دې کښې روایات مختلف دی ، په یو روایت کښې ورته څلویښتم جزء ویلې شوې دې او په بل روایت کښې ورته شپږڅلویښتم ویلې شوې دې ، او په بل روایت کښې ورته یوکم پنځوستم جزء ویلې شوې دې . اوبل روایت کښې ورته پنځوستم جزء ویلې شوې دې، او په بل روایت کښې

ورته اوبايم جزء ويلې شوې دې لکه دا روايات ټول په تفسير قرطبی کښې دی . نو دلته د **دوو خبرو وضاحت** پکار دې يو دا چه د دې څه مطلب دې وچه خوب د نبوت جزء دې . بل دا چه د دې رواياتو په مينځ کښې تعارض دې . قرطبی ويلی دی چه په خوب کښې کله سړې هغه څه وينی چه په هغې باندې انسان په ويخه عادةً قدرت نه لری لکه په هوا کښې الوتل نو دا رؤيا صادقه د طرف الله ﷻ نه دی . لکه په حديث د بخاری کښې (الرؤيا من الله والحلم من الشيطن) . دی . او دا د نبوت نه دی او تصديق کول پرې حق دی او هر چه دې اختلاف دَ رواياتونو دا مبنی دې . په اختلاف د حال دخوب ليدونکی باندې چه په چا کښې چه امانت او ديانت کامل وی نو د هغه خوب د نبوت څلوېښتم جزء دې . او چه د چاکم وی نو د هغه خوب شپږ څلوېښتم جزء دې . يا پنځوستم يا اويايم جزء دې . او د ډيرو سلفو نه د دې احاديثو توجيه داسې مروی ده چه د نبوت کل زمانه ۲۳ ساله وه . او په دې کښې اول شپږمياشتې روياۍ صالحه وو او شپږمياشتی د درويشتو کالو دپاره شپږ څلوېښتمه حصه ده ، نو رويا شپږ څلوېښتم جزء شو د نبوت دپاره، يعنی د شروع د وحې نه د زمانې د وفات پورې چه زمانه د انقطاع د وحې ده ، او هر چه باقی روايات دی نوپه هغې کښې يا کسر حذف شوې دې لکه روايت د څلويښت يا په کښې کسر پوره کړې شوې دې . لکه روايت د پنځوستو او نور روايات قوی نه دی په شان دَ قوت دَ دې روايت . قرطبی وائی چه بنا ء په دې توجيه په بعض رواياتو کښې تاويل کول رازی . او د بعض رواياتو ترک رازی نو اول جواب بهتر دې ، اوکه څوك **سوال** اوکړی چه هر کله روياۍ صادقه جزء د نبوت دی نوکافر او کاذب په څه رنګه اهل د دې شی ، حال دادې چه دکافر اوکاذب خوب هم کله کله صادق وی لکه د عزيز مصر او دَ هغه دَ قيديانو خوب .

جواب دادې چه د کافر او د کاذب خوب جزء د نبوت نه، نه دې اګر که صادق وی . ځکه چې دا نده ضروری چه څوك صادق وی په خبر کښې د غيب نه نو دغه خبر به نبوت وی . لکه کاهن چه کله خبر ورکړی د حق خبرې . ليکن دا ډير نادر اوقليل دې نو دغه شان خوب د کافر او د کاذب يا تسويل الشيطن يا حديث النفس وی ، او د صالح مسلمان خوب اکثر صادق وی ، نو دا ځکه جزء د نبوت دې .

قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ

وه ويل هغه اې بچيه مه بيانوه دا خوب دې رونړو ته . پس څه چل به جوړ کړی ستا دضرر لپاره چل. بيشکه شيطان

لِلْإِنْسَانِ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝ وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيْلِ الْأَحَادِيْثِ

د انسان لپاره دښمن ښکاره دي او دغه شان به غوره کړي تا لره رب ستا . او وبه ښائي تا ته د علم د تعبير د خوبونو نه

وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ

او پوره به کړی خپل احسان په تا باندې. او په اولاد د يعقوب باندې. لکه چه پوره کړې ئې دې ستا په نيکونو

مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ لَقَدْ كَانَ

د دينه مخکښې چه ابراهيم او اسحاق دی. بيشکه رب ستا په هرڅه پوهه او حکمت والا دې په تحقيق سره شته دي

فِيْ يُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝

په قصه د يوسف او د رونړو د ده کښې عبرتونه د تپوس کونکو لپاره

﴿قَالَ يٰبُنَيَّ﴾ دا تصغير د شفقت دپاره دې، هر کله چه يوسف ﷺ دا خوب خپل پلار يعقوب ﷺ ته بيان کړو نو هغه ورته اووئيل چه دا خوب دې رونړو ته مه وايه ځکه چې دوئ هم د خاندان نبوت نه دی نو د دې خوب په تعبير پوهيږی چه يوولس ستوری يوولس رونړه دی . او نمر سپوږمئ مورپلار دی ، او د سجدې کولو نه مراد اطاعت او تابعداری ده ﴿فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا﴾ يعنی دوئ به د حسد په وجه ستا د ضرر دپاره تدبير جوړ کړی. عظيم تدبير چه ته به ئې په دفع کولو قادر نه ئې ددې نه معلومه شوه چه رونړه د يوسف ﷺ انبياء نه وو. ځکه چې حسد کول اومکرونه کول ګناه کبيره ده او انبياء د ګناه نه پاک دی ،او دا قول د جمهورو دې بعض وائی چه دوئ انبياء وو ځکه چه دوئ ته کواکب ويلې شوی دی او دارنګې ﴿وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ﴾ نه معلوميږی، جواب دادې چه د کواکبو سره د تشبيه نه صحابيت معلوميږ ی او رونړه د يوسف ﷺ پس د توبې نه صحابه وو، او هر چه دې ويتم نعمته او (آل يعقوب) نو نعمت يوازې په نبوت کښې منحصر هم نه دې ،او آل يعقوب په صلبی اولاد پورې مختص ندې نو کيدې شی چه د نعمت نه نبوت نه وی مراد يا د آل يعقوب نه صلبی اولاد ندې مراد، د دې آيت نه دا هم معلومه شوه چه خوب هرچاته بيانول ندی پکار. لکه په حديث کښې دی (الأحبيا او لبيًا)۱ ، يعنی خوب دوه قسمه خلقو ته بيانول پکار دی ، يو دوست چه هغه به

نى په صحيح محمل حمل كوى . او بل دانا او هوښيار . او د دې آيت نه داهم معلومه شوه چه د چا عيب ظاهرول بل چاته ددې دپاره چه هغه ته ضرر ونه رسى دا په عيبت كښې نه راځى خكه چې د دينه مقصود دفع د ضرر وى ، او توهين نه وى مقصد . او خطره دَ ضرر دَ هغه د لس علاتى رونړو نه وه ، او د اعيانى يعنى خپل رور بنيامين نه خطره د ضررنه وه ليكن دا احتمال وو چه كه د هغه مخكښې دا خوب بيانكړى نو هغه به ئ د دَ رونړو په مخكښې يا دَ بل چا په مخكښې بيان كړى . او رونړه به ترينه خبر شى او ضرر به ورته اورسى ﴿ وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ ﴾ (كاف) لبيان الكمال دې يا دَ تشبيه دَپاره دې يعنى څه رنګه چه ستا دا خوب مبارك دې نو دغه رنګې به الله ﷻ تا منتخب كړى د لوئ كار دپاره . چه كارد نبوت دې . اوخير او سهولت رَسولَ دى قوم ته په زمانه د قحط كښې ﴿ وَيُعَلِّمُكَ ﴾ يعنى تاته به علم دركړى په تاويل الاحاديث سره. د دې ډيرې معنى شو يدى : (۱) تعبير د خوبونو (۲) دلائل د توحيد ، (۳) واقعات د مخكنو امتونو (۴) څائ ته رسولَ د خبرو ، يعنى د هرى خبرې په موقعه محل باندې پوهيدل لكه د خوب خبره وى يا د سلطنت او د معاملاتو انجام وى ،دا معنى ټولو ته شامله ده نو دابهتره ده.

﴿ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ ﴾ يعنى دا أُخروى نعمتونو سره به دنيوى نعمتونه هم دركړى، د نبوت سره به بادشاهى هم دركړى ، او دتكليفونو ، مصيبتونو نه به نجات دركړى ، خوشحالى به دركړى ﴿ وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ ﴾ يعنى د يعقوب په نسل كښې به هم پيغمبران او بادشاهان پيداكړى، په بنى اسرائيلو كښې دواړه سلسلې موجودې وې ، انبياء پكښې د څلورو زرو نه زيات تير شوى دى . او دغسې بادشاهان هم ډير تيرشوى دى ﴿ عَلَىٰ أَبَوَيْكَ ﴾ اومراد دينه نيكه اوورنيكه دې ﴿ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ ﴾ يعقوب ﷺ خپل نوم ندې ذكركړې د تواضع دوجې نه ، ابراهيم ﷺ ته الله ﷻ مقام د خُلة وركړې وو، او د اور د نمرود نه ئ ورته نجات وركړو ، او نمرود ئ هلاك كړو، او اسحق ته الله ﷻ نبوت وركړو، او يعقوب عليه السلام ئ ورته څوئ وركړو، او د هغه په نسل كښې ئ دولس قبيلې جوړې كړې د بنى اسرائيلو، اوډيرانبياء، سلاطين ئ پيدا كړل ﴿ آيَاتٌ لِّلسَّائِلِينَ ﴾ د آيات نه مراد عبرتونه دى ،د سائلينونه مراد يا هغه خلق دى چه د قصې د يوسف ﷺ تحقيق كوى . او دهغې عبرتونه حكمتونه معلوموى يا ترينه مراد صحابه دى . لكه په درمنثور كښې په روايت دابن عباس ﷺ سره مروى دى چه صحابو عرض اوكړو چه

يارسول الله ﷺ · مونږ ته يو قصه بيان کړئ (دکفارو مخالفت د حد نه زيات شوي وو. اومومنان په نهايت پريشانئ کښې وو، چه زمونږ مستقبل به څنګه وي .نو الله ﷻ داسوره نازل کړو . چه په مستقبل کښې به ستاسو فلاح او ترقي وي لکه يوسف ﷺ ته ئ چه ترقي او فلاح ورکړه .
او خازن په روايت د ضحاك سره د ابن عباس ﷺ نه نقل کړي دي چه مشرکينو دمکې په مشوره د يهودو سره داسوال کړي وو (امتحانًا) چه د بنی اسرائيلو اصلي وطن خو شام وو. نو دوئ مصر ته څنګه راغلل. او د موسى ﷺ په زمانه کښې مصر کښې اوسيدل . نودا سورت نازل شو او د سوال جواب وشو چه د بني اسرائيلو مصرته د راتلو وجه دَ يوسف ﷺ راتلل وو مصرته ، يوسف ﷺ چه مصر ته راغې . نوبنی اسرائيل هلته آباد شو. اود موسى عليه السلام په زمانه کښې الله ﷻ فرعون غرق کړو، او بني اسرائيلوته ئ نجات ورکړو. اوپه دې کښې عبرتونه دادی چه يوسف ﷺ ته د هغه رونړو تدبير جوړ کړو او حسد ئې ورسره اوکړو. او ملك نه ئې اوويستلو. په کوهي کښې ئ درې ورځې تيرې کړې او بيا د هغې نه د مصر بادشاهي ته اورسيدلو ، او بيا ترينه رونړو معافي اوغوختله ، نو ده اوفرمائل ﴿لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ﴾ اودوئ د هغه تابع شو. نودارنګه مکې والا دنبی ﷺ سره حسد اوکړو او دشمنئ ئ شروع کړه ، اونبی ﷺ په هجرت مجبور شو، درې شپې ئ په غار ثور کښې اوکړې او مدينې ته ئ هجرت اوکړو ، الله ﷻ غلبه ورکړه ، اومکه ئې فتح کړه ، اومکې والو معافی اوغوختله نوپه جواب کښې ئ ﴿لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ﴾ اوفرمائل نودينه د حسد بد انجام او د تقوى اوتوکل اود صبر او د تعلق مع الله خائسته انجام معلوم شو .

إِذْ	قَالُوا	لَيُوسُفُ	وَأَخُوهُ	أَحَبُّ	إِلَىٰ	أَبِينَا	مِنَّا

هرکله چه دوئ وه ويل [1] چه خامخا يوسف او دهغه خپل رور زيات محبوب دې زمونږ پلار ته زمونږ نه

وَنَحْنُ	عُصْبَةٌ	إِنَّ	أَبَانَا	لَفِي	ضَلَٰلٍ	مُّبِينٍ	۞ ٨	اقْتُلُوا يُوسُفَ

او حال دا چه مونږ پوره ډله يو، بيشکه پلار زمونږ خامخا په غلطئ څرګنده کښې دې قتل کړئ يوسف لره

١ - دويم حال .

أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهِ

يا ئې وغورزوئ په نامعلومه زمکه کښې، نو خالي به شي تاسو ته مخه د پلار ستاسو، او شئ به تاسې د دینه روستو

قَوْمًا صَالِحِينَ ۞ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ

قوم نېکان په توبې سره، وه ویل یو ویونکي د دوئ نه، مه قتلوئ یوسف لره او واچوئ ده لره په یو تیاره گمنام کوهي کښې

يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِنْ كُنتُمْ فَاعِلِينَ ۞

وبه مومی ده لره بعض مسافران، که تاسو کونکي يئ (نو داسې وکړئ).

﴿ إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ ﴾ دا دويم حال دي چه رونړو دیوسف ﷺ غائبانه مشوره اوکړه ليکن يعقوب ﷺ ته ئ علم نه وو، نومعلومه شوه چه عالم الغيب صرف الله دي ، اوبيا ئ دا مشوره په عمل کښ راوستله . اویوسف ﷺ ته ئ تکليف ورسولو، اويعقوب ﷺ ئ ډير غمژن کړو ليکن نه ئ د خپل ځان نه تکليف دفع کولی شو او نه ئ د يوسف ﷺ نه تکليف دفع کولې شو ، نومعلومه شوه چه چه کار ساز اومتصرف فى الامور صرف الله ﷻ دي ، ﴿وَأَخُوهُ﴾ ددينه مراد اعياني رور دي، يعني بنيامين ﴿وَنَحْنُ عُصْبَةٌ﴾ (عصبه) هغه قوی اوطاقت ور جماعت ته وائ چه لسونه د پنځلسو پورې وی ، مطلب دادې چه مونږ ډير يو او قوی يو ، او د کور کاروبار او دوالدينو خدمت مونږ کوو، نوپکار داوه چه زمونږ سره ئ زيات محبت وی ، ليکن يعقوب ﷺ محبت د يوسف ﷺ سره کوی ﴿إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾ ضلل په معنی د گمراهی سره نه دی ځکه چه نبي ته د گمراهي نسبت کفر دې ، او دوئ خو کافر ان نه وو بلکه مومنان او اصحاب قطعًا وو، او په نبوت کښ ئ اختلاف دې ، بلکه د دې نه مراد يا اجتهادی غلطی ده ، يا د تدبير غلطی ده، يعنی زمونږ دا پلار ساده دې په تدبير اوسياست نه پوهيږی ، د يعقوب ﷺ محبت د يوسف ﷺ سره د هغه دَ خوب د وجې نه وو چه هغه ليدلې وو، او بل دا چه انوارات د نبوت او د کمال د ده د مخ نه ئ محسوسول ، ليکن حسد انسان لره په بې بنياد الزاماتو او په طعن کولو باندې اماده کوی ﴿ اقْتُلُوا يُوسُفَ ﴾ رونړو د يوسف ﷺ اويل چه د يعقوب ﷺ اصل محبت د يوسف ﷺ سره دې اود هغه د رور سره ئ محبت د ده په وجه دې ، نو تر څو پورې يوسف ﷺ موجوده وی نومونږ پلار ته نشومحبوب کيدې، نو پکار ده چه دې

د مخې نه لرې کړو . او د هغې صورت دادې چه قتل ئې کړو يا ئې چرته په يو نامعلومه لرې
زمکه کښې اوغرزوؤ يعني نامعلومه ملك ته ئې اوشړو . نو د پلار د نظر نه به غائب شي . نو
فائده به داشي چه ﴿يَخْلُ لَكُمْ﴾ يعني د پلار توجه اوشفقت به تاسو ته يواځې شي. نو دوئ دا
تجويزونه پيش کړل ﴿وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهِ﴾ يعني داکار اګر که ګناه ده . ليکن مونږ به توبه اوکړو .
اوصالحان . نيکان به شو. ليکن ګناه کول په دې ارادې سره چه روستو به توبه اوباسم .
ناجائز او د شيطان دهوکه ده

﴿قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ﴾ هر کله چه دوئ دغه دوه تجويزونه پيش کړل نويو قائل (يهودا) اووئيل
چه قتل خو ډير لوئ ظلم دې . دامه کوئ .اونامعلومه وطن ته بوتلل هم ډير ګران کار دې . خو
د دې لارې په ځاړه ئې په کوهي کښې اوغرزوئ چه مړ نه شي او د کوهي نه راوتلې هم نشي . او
څوك قافلې والا مسافر به راشي او راوبه ئې باسي او د ځان سره به ئې بوزي ﴿غَيَٰبَتِ ٱلْجُبِّ﴾
(جُبّ) کچه کوهي ته وائي او (غَيَابه) هر هغه ځيزته وائي چه بل ځيزپټ کړي . او غائب ئې
کړي. او د دې وجې نه قبر ته غيابه ويلې شي ، دلته د غيابه ترجمه عامومفسرينو په ګمنام
کوهي سره کړې ده ،اوبعض په تياره کوهي سره کړې ده ، ابو حيان د بعض لغاتو نه نقل کړې
دی چه غيابه هغه طاقچه ده چې په کوهي کښې د اوبو نه لګ شان اوچته جوړه کړې شوې وي
﴿يَلْتَقِطْهُ﴾ لقيط هغه ډير وړوکی ماشوم ته وائي چه څوك ئې نه وي . نود ضايع کيدلو د خوف
دوجې نه ئې بل څوك واخلي دحفاظت دپاره ، دتاريخ نه معلومه ده چه په دغه علاقه کښې
تجارتی قافلې فلسطين اومصر ته تلې راتلې ، او په لاره به کوهي وو نوچه په هغې به تيريده
نو اوبه به ئې ترينه اخستلې ﴿إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ﴾ يعني که تاسو څه کارکوئ ديوسف ﷺ د
جداکولودپاره نو دا کار اختيار کړئ، نو د دې شرط دپاره جزا مقدره ده . چه فافعلوا دې .

قَالُوا	يَٰٓأَبَانَا	مَا لَكَ	لَا	تَأْمَ۫نَّا	عَلَىٰ	يُوسُفَ	وَإِنَّا
دوئ وه ويل اې پلاره زمونږ څه وجه ده چه ته په مونږ باندې اعتماد نه کوې په باره د يوسف کښې او حال دا چه مونږ							
لَهُۥ	لَنَٰصِحُونَ	⑪	أَرْسِلْهُ	مَعَنَا	غَدًا	يَرْتَعْ	وَيَلْعَبْ	وَإِنَّا
د ده خامخا خيرخواه يو . دې وليږه زمونږ سره صبا (صحرا ته) ، چه ډيرې ميوې وخوري او لوبې وکړي او بيشکه مونږ							

لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝ قَالَ اِنِّیْ لَیَحْزُنُنِیْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ
د ده خامخا حفاظت کونکی یو وه ویل یعقوب بیشکه غمژن کوی ما لره دا خبره چه تاسو بوځئ دې خما نه.
وَاَخَافُ اَنْ یَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ۝ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ
او یریږم چه وبه خوری ده لره شرمخ او تاسو به د ده نه بی خبره یئ وه ویل دوئ که وخوړلو ده لره شرمخ
وَ نَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۝
او حال دا چه مونږ قوی ډله یو، بیشکه مونږ به په دغه وخت کښی خامخا تاوانیان یو.

﴿ قَالُوْا یٰٓاَبَانَا ﴾ رونړو د یوسف ﷺ د خپلې منصوبې عملی کولو دپاره پلارته درخواست اوکړو چه د یوسف ﷺ په باره کښې ته په مونږ باندې اعتماد ولې نه کوی؟ او حال دا چه مونږ د ده خیر خواه یو او ددې نه معلومیږی چه دوئ مخکښې هم د پلارنه د یوسف ﷺ د بوتلو مطالبه کړې وه ، خو هغه په دوئ اعتماد نه وو کړې ﴿ اَرْسِلْهُ ﴾ یعنی یوسف ﷺ زمونږ سره صحرا ته اولیږه چه ورزش اوکړی اومیوی په کثرت سره اوخوری ، اولوبې اوکړی ، یعنی مباح لوبې ﴿ یَرْتَعْ ﴾ رتع څریدلو دځارو ته وائی په ډیره ګیاه کښې، دلته مراد میوې خوړل دی په کثرت سره ، اودلوبو نه مراد مباح لوبې دی ﴿ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴾ دا دومره تاکیدات ئې ذکر کړل ، ددې دپاره چه ددوئ دروغ اومنلې شی، حسد انسان لره په ډیرو ګناهونو اماده کوی، د یوسف ﷺ د رونړو دا عمل په ډیرو ګناهونو مشتمل وو، لکه صله رحمی قطع کول ، نافرمانی د مور پلار کول، په کشر رور شفقت نه کول ، د وعدې خلاف کول او دروغ ویل ، دا ټول د حسد نتیجه وه .

﴿ قَالَ اِنِّیْ لَیَحْزُنُنِیْٓ ﴾ یعقوب ﷺ دوئ ته اووئیل چه زه د یوسف ﷺ جدائی د لږوخت دپاره هم نشم برداشت کولې،اوچه دې تاسوسره صحرا ته صبا لاړشی ، اوماښام راخی نو دا طویل وخت دې ، او زه د ده په جدائی غمژن کیږم ، بل دا چه زما خطره ده چه تاسو به په صحرا کښې به خپل کار کولو کښې مشغول شئ اودې به شرمخ اوخری، اوپه دغه صحرا کښې شرمخان په کثرت سره وو﴿ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ ﴾ خامن د یعقوب ﷺ دده د قول جواب کوی خو د اولې خبری جواب ئې اونه کړو ځکه چې هغه د وجې د حسد او غصې دَ دوئ وو، او د دویمې خبرې

جواب داکوی چه مونږ یوقوی جماعت یو اوپه صحرا کښې مال څروو . نو که مونږ شرمخان نه شو دفع کولې نومونږ به ډیر په خساره اوتاوان کښې یو ، او هر کله چې مونږ د مال (گډو بیزونه) شرمخان دفع کولې شو نو دخپل کشر رور حفاظت به ولې نشو کولې . غرض دا چه دوئ یعقوب ؑ مطمئن ه کړو او راضی ئی کړو دیوسف ؑ په بوتلوصحرا ته . او یعقوب ؑ داسې اونه ووئیل چه زماستاسو نه خطره ده ، ځکه چې د دینه د حسد او دشمنی زیاتیدلو ته خطره وه ، نوهر کله چه دوئ یوسف ؑ صحرا ته روان کړو نو یعقوب ؑ د دوئ نه وعده واخستله چه ده ته تکلیف اونه رسوئ ، اومشر ځوی ته ئ خصوصاً وصیت اوکړوچه دیوسف ؑ دخوراك څښاك اونورو ضرورتونو خیال کوه، او واپس ئی زر راوله . یعقوب ؑ دوئ سره بهر د یو ځائ پورې لاړو، دیعقوب ؑپه مخکښې دوئ یوسف ؑ په اوږه اغستې وو اوپه نمبر نمبر به ئ اخستلو، لیکن کله چه د یعقوب ؑ د نظر نه غائب شو . د کوم رور په اوږه باندې چه وو نوهغه په زمکه باندې را اویشتلو، یوسف ؑ پیدل روان شو. مګر د کم عمرئ په وجه نشو تلې ، نوبل رور ته به ئ فریاد اوکړو نوهغه هیڅ همدردی اونه کړه ، بیا ئ نورو رونړو ته فریاد اوکړو نو هغوئ ورته اووئیل چه هغه یوولس ستوری . اونمر او سپوږمئ چه تاته ئی سجده کوله هغوئ ته خپل فریاد اوکړه چه ستا مدد اوکړی . دَ دوئ د یوسف ؑ د قتل کولو اراده وه خو د یهودا په زړه کښې الله ﷻ رحم واچولو نو د یوسف ؑ د بچ کولو .عزم او همت ئی اوکړو ، او وې وئیل چه زه تر څو پورې ژوندی یم نو دوئ تاته تکلیف نشی رسولې اورونړو ته ئ اووئیل چه یوسف ؑ پلار ته واپس کړئ. لیکن هغوئ په ډیر ضد کښې وو، او خبره ئی نه منله او د یوسف ؑ د قتل اراده ئ وه ، یهودا یواځې د ټولو مقابله نشوه کولې نو آخر ئی دوئ په دې راضی کړل چه په کوهی کښې ئ واچوی . او د دې بیان په دې آیت کښې دې.

فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ

پس هرکله چه بوتلو دوئ هغه لره او پخه اراده ئ وکړه چه واچوی ده لره په ګمنام کوهی کښې نو وه ئ کړل هغه چه ئ کول

وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا

او وحی وکړه مونږ ده ته چه خامخا به ته خبردار کړې دوئ لره (یوه ورځ) د دوئ په دې کار

وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۞ وَجَآءُوْٓا اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ۞ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ

او دوئ به نه پيژني تا او راغلل دوئ پلار ته ما ښام په تياره کښ ژړا ئ کوله دوئ وه ويل اې پلاره زمونږ

اِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ ۚ

بيشکه مونږ تلى وو صحرا ته منډې مو وهلې او پرېښودلې مو وو يوسف خپل سامان سره پس وخوړلو ده لره شرمخ

وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ ۞ وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ

او نه ئ ته يقين کونکې زمونږ په خبره اګر که مونږ رېښتني يو او راوړو دوئ لګولې په قميص د ده وينه د دروغو

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۚ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۚ

وه ويل يعقوب (داسې هرګز نده) بلکه ښائسته کړيدې تاسو ته ستاسو نفسونو يو تدبير پس ښما کار صبر ښائسته دې

وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ۞

او خاص د الله تعالى نه مدد غوښتلې شي په برداشت کولو د هغې خبرې چه تاسو ئ بيانوئ

﴿فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا﴾ جزا دشرط مقدرده (اى فعلوا به مافعلوا) بعض وائى چه ﴿وَاَوْحَيْنَآ﴾ جزا د شرط ده . او واو زائد دې او ضمير دَ (اِلَيْهِ) راجع دې يوسف ﷺ ته . او مراد دَ دې وحى نه په نزد د بعضو . لکه حسن بصرى ، وغيره شو ، وحى دنبوت ده ، او عام عادت الهى دا دې ، چه نبوت په څلويښتم کال باندې ورکوى ، ليکن بعض انبياؤ ته وحى د نبوت قبل دبلوغ نه شوې ده ، لکه يحيى ﷺ اوعيسىٰ ﷺ ته نو يوسف ﷺ ته وحى د دې قبيلى نه ده . او اکثر مفسرين وائى چه دا وحى د نبوت نه ده ځکه چې وحې د نبوت ورته په مصر کښ د بلوغ نه روستو شويده، لکه روستو آيت کښ دى (ولما بلغ اشده اتينه حکما وعلمًا) ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمائى چه مصر ته درسيدلو نه بعد الله ﷻ يوسف ﷺ په ذريعه د وحى سره ددې نه منع کړې وو چه خپل حال کور ته اوليږى ، نو د دې وجې نه ئ يعقوب ﷺ ته خپل حال احوال نه ليږلو ﴿لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا﴾ يعنى يو وقت به داسې راشى چه ته به دوئ خبر دار کړې ددوئ په دې غلط کار باندې نو دوئ به شرمنده شى ﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ﴾ تابه دوئ نه پيژنى ځکه چه ته به شاهى لباس کښ نى ، دا يوسف ﷺ ته الله ﷻ تسلى ورکړه . او مفسرينو ويلى دى چه

دوئ یوسف ﷺ په دی طریقی سره کوهی ته غورزولې وو چه یوسف ﷺ د کوهی د بوقی والا رسئ اونیوله نوچه د کوهی ویخ طرف ته روان شو.او چه نیمی ته اورسیدو نو دوئ رسئ کټ کړه لیکن الله ﷻ دیوسف ﷺ حفاظت اوکړو په کوهی کښ د غورزیدلونه پری زخم رانغې ، ددې نه علاوه مفسرینو زړه سیزلو والا واقعات ذکر کړی دی لیکن د صحت دپاره قوی روایت نشته ، او قرآن پاك صرف هغه خبره ذکر کوی چه دهغې سره اهم مقصد عبرت متعلق وی ، صرف د رقت قلبی دپاره قصه نه ذکر کیږی ، نو د دې وجې نه دغه واقعاتو ته قرآن تعارض نه دې کړی اومختصر مقصد ئی ذکر کړې دې چه دوئ یوسف ﷺ په کوهی کښ واچولو، او الله ﷻ ورته تسلی ورکړه چه غم مه کوه ، زه به تا د کوهی نه راؤباسم او منصب د بادشاهی ته به دې رسوم. **شعر**:

یوسف گم گشته باز آید بکنعان غم مخور کلبهٔ احزان شود روزې گلستان غم مخور

مفسرینو داهم ویلی دی چې یوسف ﷺ په کوهی کښ درې ورځې تیرې کړې او نبی ﷺ په غار ثور کښ هم درې ورځې تیرې کړې وې ﴿وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ عِشَآءً يَبۡكُونَ﴾ یوسف ئی چه په کومه ورځ په کوهی کښ اچولې وو، نو دوئ په هغه ورځ د صحراء نه ماښام ناوخته کور ته راغلل د نورو ورځوپه نسبت ډیر لیټ شول یو د دې وجې نه چه د دروغو او د مکر د ژړا پته اونلږ ی بل د دې دپاره چه پلار ته معلومه شی چه دوئ د حادثی د وجې نه ناوخته کړې ده ، علماء وائی چه ژړا دلیل د صداقت نه دې لکه روایت دې چه شریح رحمه الله قاضی ته یوه ښځه راغله او ژړل ئی نو امام شعبی رحمه الله ورته اووئیل چه اې ابو امیه (شریح) ! ته نه گورې چه دا زنانه ژاړی ، نوشریح اووئیل چه رونړو د یوسف ﷺ خو هم ژړل حالانکه ظالمان وو، ژړا کله د مکر د وجې نه وی اوکله د بزدلئ د وجې نه وی او کله د تکلیف او درد د وجې نه وی ،اوکله د غم او حزن د وجې نه وی ، اوکله د ډیرې خوشئ د وجې نه وی ، او کله د خشیت اوخوف الهی د وجې نه وی اوکله د رحمت اوشوق د وجې نه وی ، حضرت شیخ رحمه الله به فرمائل چه کومو خلقو ماتم اوژړا کوله په حقیقت کښ هم دغه ظالمان او مجرمان وو چه په دې امت کښ د هغې واضحه نمونه شیعه گان دی (لعنهم الله) .

﴿ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ ﴾ په بعضو روایاتو کښ دی (کما فی الروح والکشاف) چه یعقوب ﷺ هر کله د دوئ د ژړا آواز واریدو نو پریشانه شو ، تپوس ئی اوکړو چه آیا ستاسو گډې بیزې شرمخانو اوخوړې ، نو دوئ اووئیل چه نه، نواوئی وئیل چه تاسو ولې ژړا کوئ،

او یوسف ﷺ څه شو ، نو د دروغو عذر ئ بیان کړو چه مونږ په صحراء کښ د یو بل نه په منډو وهلو کښ مخکښ کیدلو او یوسف ﷺ مو سامان سره پریخې وو. او چه زمونږ نظر لګ شان بل طرف ته شو نو شرمخ راغی او یوسف ﷺ ئی اوخوړلو ، ﴿نَسْتَبِقُ﴾ دلالت کوی په جواز د استباق باندې اوپه حدیث کښ استباق په اسونو او اوښانو او پیاده او په غشو ویشتلو کښ راغلې دې. دلته د استباق نه مراد دیو بل نه مخکښ کیدل دی، په تیزه منډه وهلو کښ ﴿عِندَ مَتَـٰعِنَا﴾ په وخت د لوبو کولو او استباق کښ زیاتی کېږې اویستلې شی او په یو ځائ کښ کیخودې شی نودغه متاع دې ﴿وَمَآ أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا﴾ یعنی ستاسو د یوسف ﷺ سره محبت دومره ډېر زیات دې چه ته د فرط محبت د وجې نه په مونږ یقین نه کوې اګر که مونږ ستا په نزد ریشتنی او معتمد یو ، نوپه داسې حال کښ به زمونږ تصدیق څنګه اوکړې چه په مونږ بدګمانه ئی او اعتماد راباندې نه کوې ﴿وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٍ كَذِبٍ﴾ دوئ د خپل جرم د پټولو دپاره دا طریقه اختیار کړه چه یو حیوان سخله یا ظبی (هوسئ) ئی ذبح کړو. او د یوسف ﷺ په قمیص باندې ئی هغه وینه اولګوله ، دوئ چې کله یوسف ﷺ کوهی ته غرزولو نو قمیص ئی ترینه ویستلې وو، نود وینې رنګین قمیص ئی یعقوب ﷺ ته راوړو نو یعقوب ﷺ دغه قمیص په مخ باندې واچولو او ویژړل اووې فرمایل چه ما تراوسه پورې داسې هوښیار شرمخ نه دې لیدلې چه یوسف ﷺ ئی اوخوړلو او قمیص ئی ورله ندې څیرې کړې ، ضرب المثل دی ، چه (دروغ گو را حافظه نه باشد) ویلې شوی دی چه په قمیص د یوسف ﷺ کښ درې نشانې او فائدې وې، یوه دا چه دا دلیل وو دپاره د یعقوب ﷺ په کذب د څامنو ، دویم دا چه کله یعقوب ﷺ په مخ باندې واچولو نو (فارتد بصیرا)، دریم داچه دا دلیل دې په براءت د یوسف ﷺ چه د شا طرف نه څیرې وو ﴿بِدَمٍ كَذِبٍ﴾ كَذِبٍ په معنی د ذی کذب سره دې یا په معنی د مکذوب فیه سره دې یاتوصیف مبالغه ده ﴿قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ﴾ یعنی یعقوب ﷺ اوفرمائل چه خبره دغه شان نده چه تاسو وائی ، بلکه ستاسو نفسونو تاسو ته ئی یو منکر امر او بده خبره خائسته کړې ده او اسانه کړی ده ، نوتاسو هغه اوکړو، یعقوب ﷺ ته دڅامنو دروغ خو یو د قمیص نه معلوم شو اوبل د دې نه چه یعقوب ﷺ ته د هغوئ حسد معلوم وو. او بل د دې نه چه دیوسف خوب صحیح خوب وؤ او یعقوب ﷺ ئی تعبیر د وحی په ذریعې سره کړې دې . نو معلومه شوه چه یوسف ﷺ ژوندې دې او خپل عالی رتبه او مقام ته به رسی.

﴿فَصَبْرٌ جَمِيلٌ﴾ دلته یا مبتدا مقدره ده (ای فصبری صبر جمیل) یا خبر مقدر دي (ای فصبر جمیل عندی) او صبر جمیل هغه دي چه په هغې کښې شکوه نه وی مخلوق ته . اوکه څوك داسوال اوکړی چه صبر په قضا او تقدیر باندې خو واجب دې لیکن صبر په ظلم د ظالمانو باندې خو واجب نه دي بلکه واجب ازاله د ظلم ده . خصوصاً په هغه ضرر کښې چه عائدوی غیر ته ، نو ولې یعقوب ﷺ صبر اختیار کړوپه دې کښې . او دیوسف ﷺ تفتیش او تحقیق ئې اونه کړو . **جواب** دادې چه کیدې شی چه یعقوب ﷺ منع کړې شوې وی . د طلب او تفتیش د یوسف ﷺ نه په وحی سره ، د دې دپاره چه زیات تکلیف او مصیبت پرې راشی او اجر او درجه ئې زیاته شی ، او فی الحال په تفتیش کښې څه فائده نشته . او په انتقامی تدبیر کښې دا احتمال وو چه رونړه د یوسف ﷺ زیات په ضد کښې راشی او د زیات جرم ارتکاب اوکړی . او اخروی نقصان ورته زیات اورسی ، نو په انتقامی تدبیر کښې هم فایده نه وه . د دې وجې نه ئې سکوت اوکړو ، او تفویض د امر ئې الله ﷻ ته اوکړو ﴿وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ﴾ یعنی تاسو چه ماته کوم خبر راکړو نو دا قابل د برداشت نه دې ، خو د الله ﷻ نه به مدد غواړم په برداشت کولو د هغه خبرې چه تاسو ئې بیانوئ ، په دې کښې د شرك فی الاستعانت نفی ده . او ددې خبرې تعلیم دې چه د مصیبت او د پریشانئ په وخت کښې توجه الله ﷻ ته پکار ده .هغه دهر څه مالك او د هر مصیبت دفع کونکې دې .

وَجَآءَتْ	سَيَّارَةٌ	فَأَرْسَلُوا	وَارِدَهُمْ	فَأَدْلَىٰ	دَلْوَهُ ۖ

او راغله یوه قافله [۱] د مسافرو نو هغوئ ولیږلو خپل مشکی (اوبو راوړونکې) پس زوړنده کړه هغه خپله بوقه په کوهی کښې

قَالَ	يَٰبُشْرَىٰ	هَٰذَا	غُلَٰمٌ ۚ	وَأَسَرُّوهُ	بِضَٰعَةً ۚ	

وې ویل : اې څما خوشحالئ ! دا خو دیر ښائسته هلك دې او پټ ئې وساتلو ده لره د سامان تجارت په خیال

وَاللَّهُ	عَلِيمٌۢ	بِمَا	يَعْمَلُونَ ۝	وَشَرَوْهُ	بِثَمَنٍۭ	بَخْسٍ	دَرَٰهِمَ	مَعْدُودَةٍ

او الله تعالی ښه پوهه وو د دوئ په عملونو . اوخرڅ کړو دوئ هغه لره په قیمت ناکاره باندې . روپئ لږې د شمارولو

۱ - دریم حال .

وَ كَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزَّاهِدِيْنَ ﴿۲۰﴾

او دوئ وؤ به هغه كښې بې رغبته

﴿وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ﴾ دا د قصې دويم حال دې . هر كله چه الله ﷻ ديوسف ﷺ د نجات اراده اوكړه .نو يوه قافله چه مدين نه مصر ته تله . او لار ئې غلطه كړې وه نو په دې كوهي باندې راغلل چه په كښې يوسف ﷺ وو. نو يو كس چه دهغه نوم مالك ابن ذعر يا دُعر وو. د أوبو د اوړلو دپاره ئې اوليږلو ﴿فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ﴾ وارد هغه چاته وائى چه د ملګرو دپاره د ابو راؤړلو بندوبست كوى . ‹مشكى › ﴿فَأَدْلَىٰ﴾ هغه خپله بوقه كوهى ته زوړنده كړه. يوسف ﷺ خووړوكې وو. نوپه بوقه كښې كيناسته او رسئ ئې كلكه اونيوله اوچه كله هغه بوقه راوچته كړه نوپه ځائ د اوبو په كښې يوسف ﷺ د خپل محيرالعقول جمال سره ظاهر شو. اوى وئيل ﴿يَٰبُشْرَىٰ﴾ داندا په نزد دبعض باندې ملګرو ته ده يعنى يوسف ﷺ ئې د ځان سره روان كړو اوملګرو ته ئې ندا اوكړه .چه يا اصحابى؛ اې ملګرو زيرى دركوم تاسو ته چه دا غلام دې .او بعض وائى چه ‹بشرىٰ› د قافلې مشروو. هغه ته نداده .او اكثر مفسرين وائى چه بشرى په معنى د بشارت ‹خوشحالئ› سره دې . او ندا مجازاً ده . په طريقې د استعاره مكنيه او تخيليه سره . يعنى اې خوشخالئ راشه . دادې وخت دې ،كه د يوسف ﷺپه موندلو رانشې . نو بيا به كله راځې . او بعض وائى چه دا كلمه مستعمليږى د اظهار د خوشئ دپاره . او ندا مقصود نه ده . لكه په نويلتى كښې محض اظهار د تحسر دې او ندانه ده مقصود ﴿وَأَسَرُّوهُ﴾ ضمير د (هُ) راجع دې يوسف ﷺ ته او ضمير د (اسرو) يا راجع دې رونړو د يوسف ﷺ ته لكه د ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه ‹أسَرَّه اِخوَةَ يوسف› . ‹قرطبى› هركله چه قافلې والؤ يوسف ﷺ د كوهى نه را وه ويستلو او روان ئ كړو نو رونړه د يوسف ﷺ راغلل . دوئ ته ئ وه وئيل چه دا خو زمونږ غلام دې او تختيدلې دې. او يهودا يوسف ﷺ ته په عبرانئ كښې وه وئيل چه ته انكار مكوه. خما خطره ده چه كه ته انكار وكړې نو دا رونړه به تا قتل كرى . نو يوسف ﷺ خپل حال پټ وساتلو. نو د قافلې مشر ‹مالك› وه وئيل چه د ده آثار اوعلامات خو د غلام نه دى . نو رونړو د يوسف ﷺ وه وئيل چه دا غلام دې خو زمونږ سره ئ تربيت شوې دې او زمونږ اخلاق او عادات ئ زده كرى دى. بيا مالك د دوئ نه په بيع د اخستلو مطالبه وكړه نو

دوئ راضی شول اوخرڅ ئ کړو . یا ضمیر د (اَسَرُّوا) راجع دې وارد او دهغه ملګرو ته یعنی دوئ پټ کړو یوسف ﷺ لره د نورې قافلې نه د دې دپاره چه هغوئ د شرکت طلب اونه کړی. یا دامعنی چه دوئ پټ کړو امر دیوسف ﷺ یعنی موندل د یوسف ﷺ په کوهی کښ بلکه وې وئیل چه دا غلام دې . مونږ ته کوهی والو راکړې دې . چه مونږ ئی د هغوئ دپاره خرڅ کړو په مصر کښ ﴿بِضَٰعَةً﴾ منصوب دې بنا بر حالیت یعنی دوئ پټ کړو یوسف ﷺ لره په داسې حال کښ چه دې سامان د تجارت (غلام) وو. او بعض وایی چه (اسروه) متضمن دې معنی د (جعلوه) لره. نو بضاعةً مفعول د (جعلوه) دپاره دې (ای اسروه جعلوه بضاعة یا بجعله بضاعة) او ابن حاجب رحمه الله وائی چه دا مفعول له دې . یعنی پټ ئ کړو یوسف ﷺ دپاره د حاصلولو د مال د تجارت. اوبضاعة مشتق دې د بضع نه . په معنی د قطع سره . او مال تجارت ته بضع خکه وائی چه دا قطع شوې وی د مال نه . او ګرزولې شوې وی دپاره د تجارت ﴿ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ﴾ شراء یا په معنی د اشترا یعنی اخستلو سره ده . او ضمیر د جمع راجع دې وارد او د هغه ملګرو ته .یعنی دوئ واخسته یوسف ﷺ د رونړو نه . په ناقص او لګ قیمت سره . چه شل روپئ وې . نو (بخس) په معنی د (ناقص) یا د (حرام) سره دې . ځکه په حُر باندې قیمت اخستل حرام دی . یا (شری) په معنی د بیع سره خرڅولو سره دې او ضمیر راجع دې رونړو د یوسف ﷺ ته یعنی خرڅ کړو یوسف ﷺ لره رونړو په لګ قیمت سره، یا په حرامو پیسو سره چه دشمار روپئ وې. په دغه زمانه کښ عادت دا وو چه ډیر قیمت به ئی په وزن سره ورکولو . اولګ قیمت به ئی په شمار سره ورکولو ﴿ وَكَانُوا۟ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴾ یعنی دوئ په باره د یوسف ﷺ کښ بی رغبته وو. ځکه چه دَ هغه قدر اومنزلة ورته معلوم نه وو. یا دوئ په ثمن کښ بی رغبته وو، ځکه مقصود ئی ثمن حاصلول نه وو بلکه مقصود د دوئ لرې کول دیوسف ﷺ وو. یاضمیر د (شروه) راجع دې قافلې والو ته . یعنی قافلې والو یوسف ﷺ په لګ قیمت سره خرڅ کړو په مصر کښ. اوکه څوک سوال اوکړی چه یوسف ﷺ خو په مصر کښ په ډیر زیات قیمت سره خرڅ شوې وو. نوجواب دادې چه قیمت اګر که فی نفسه زیات وو. لیکن د یوسف ﷺ په مقابله کښ کم وو.

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ

او وه ویل هغه سړي [1] چه وای غستلو یوسف د مصر والؤ نه، خپلې ښځې ته ښائسته ساته ځای د اوسیدلو د ده

عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ

امید دي چه مونږ ته نفع راکړي . یا ئې د خوئ په شان ونیسو . او دغسې مونږ ځای ورکړو یوسف ته په زمکه د مصر کښې

وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾

او چه وښایو مونږ ده ته علم د تعبیر د خوبونو . او الله تعالی غالب دي په خپلو کارونو لیکن اکثر خلق نه پوهیږي

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ

اوهرکله چه دي ورسیدلو [2] خوانئ ته او ورکړو مونږ ده ته قوت د فیصلو او علم د دین، او دغه شان

نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٢﴾

بدله ورکوؤ مونږ ښائسته عمل کونکو ته

﴿ وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ ﴾ داخلورم حال دي، یوسف ﷺ چه مصر ته اورسیدلو نو قافلې والؤ خرڅ کړو . د قیمت په باره کښې مختلف روایتونه ذکر شوي دي، لیکن دغه ټول تاریخي روایات دي . یقیني قول په کښې نشته دي . یو روایت په کښې دادي چه قافلې والو په ډیر کم قیمت باندې خرڅ کړو چه شل دیناره وو، یوه جوړه پیزار او دوه جوړې سپینې کپړې وې . او بل روایت دادي چه د سرو زرو او سپینو زرو او مشك اوعنبر او ریښمو هم وزن قیمت باندې خرڅ شوې وو . او کوم سړي چه اخستې وو، دهغه نوم قطفیر دي . په عزیز مصر سره مشهور وو . وزیر خزانه وو . د ملك د ټولو خزانو او مالیاتو انچارج وو . او بعض وائي چه فوج هم د ده په تصرف کښې وو . او بادشاه د مصر په دغه وخت کښې ریان بن ولید وو . چه د عمالقو د نسل نه وو . او په یوسف ﷺ باندې ئې ایمان راوړې وو . او یوسف ﷺ ئې وزیرجوړ کړې وو . او د یوسف ﷺ په ژوند کښې وفات شوې وؤ، اود ده د وفات نه بعدقابوس نومې سړې بادشاه

۱ - خلورم حال .
۲ - پنځم حال

شوې وو. او يوسف ﷺ ورته دعوت د ايمان ورکړې وو. خو هغه ايمان نه وو راوړې ﴿مِن مِّصْرَ﴾ دا متعلق دې ده (اشتراه) سره ، او مِن په معنى د في يا د باء سره دې يا جار مجرور حال دې اى كائن من اهل مصر ﴿لِامْرَأَتِهِ﴾ دا متعلق دې د قال سره او د دې نوم راعيل وو. او لقب ئې زليخا وو ﴿أَكْرِمِي مَثْوَاهُ﴾ خائسته ساته ځائ د اوسيدو د ده ، مکان، فراش ، وغيره او دا کنايه ده د اکرام د يوسف ﷺ نه په ابلغ طريقې سره ځکه چې خوك د چامکان او فراش وغيره خائسته ساتي نو په ټولو وجوهاتو سره ئې اکرام کوی . غرض دا چه يوسف ﷺ د غلامانو په شان مه ساته بلکه ډير په اکرام او اعزاز سره ئې ساته . او بعض وائی چه لفظ د (مثوىٰ) زائد دې. مطلب دادې چه د ده اکرام او اعزاز کوه اوخيال ئې ساته ﴿عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا﴾ يعنى زمونږ د ضرورياتو په پوره کولو کښې به زمونږ مدد کوی . کله چه تجربه ئې اوشى . او الله ﷻ ده ته لويه نفع په ذريعه د يوسف ﷺ سره دا ورکړه چه ايمان ئې راوړو ﴿أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا﴾ د دوئ اولاد نه وو نو وې ويل چه دې به مونږ خپل ځوئ اوګرځوو. امام حاکم رحمه الله په واسطه د سعيد ابن منصور سره د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت کړې دې . چه افرس الناس ثلثة، يعنى درې کسان ډير لوئ فراست والا وو. يو عزيز مصر ، چه د يوسف ﷺ په باره کښې ئې اويل ﴿عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا﴾ دويم : د شعيب ﷺ لور چه پلار ته ئې ﴿يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ﴾ ويلی وو، دريم ، حضرت ابو بکر رضی الله عنه کله چه ئ حضرت عمر رضی الله عنه خليفه جوړ کړو ﴿وَكَذَٰلِكَ﴾ هم دغه شان يعنى لکه څه رنګه چې مونږ يوسف ﷺ د کوهی نه اوويستلو نو دغه شان ﴿مَكَّنَّا لِيُوسُفَ﴾ ځائ او قوت اومرتبه ورکړه مونږ يوسف ﷺ ته په زمکه د مصر کښې (مکنا) په معنى د (جعلنا له مکانا) سره دې . او د مکان نه مراد مکانة يعنى منزله او مرتبه ده ، او متعارف مکان نه دې مراد ، مقصود دادې چه د يوسف ﷺ تمام مصائب او تکاليف په حقيقت کښې منزل مقصود او دَ عزت مقام ته د رسيدلو دپاره ذريعه او بوړئ وې ، رونړه اګر که د ده د ذليل کيدو کوشش کولو ، ليکن الله ﷻ ورته عزت ورکړو ﴿وَلِنُعَلِّمَهُ﴾ واو زائددې يامعطوف عليه مقدر دې . اى لنکرمه ولنعلمه ﴿وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ﴾ ضمير د «امره» راجع دې الله ﷻ ته او د امر نه مراد ټول امور دی، چه الله ﷻ ئې اراده کوی .

يعنى الله ﷻ چه د کوم کار اراده کړي وی . څوك ئې نشی منع کولې. نو د يوسف ﷺ د عزت اراده الله ﷻ کړې وه . نو چا منع نه کړو . او قرطبی وائی چه ضمير راجع دې يوسف ﷺ ته او د امرنه مراد تمکين دې په زمکه کښې اگر که رونړو ذليل کولو .ليکن الله ﷻ ورله عزت ورکړو

﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ﴾ دا پنځم حال دې . متعلق دې د امراءة العزيز سره او په دې کښې د يوسف ﷺ د طهارت او تقوی ذکر دې . «اشد» انتها د زمانې ده قوت جسمانی ته وائی چه د ديرشو کلونو نه د څلوېښتو کلونو پورې ده . او د ابن عباس ؓ نه مروی دی چه دلته ترينه مراد دريـ ديرش کلونه دی . او دا قول قوی دې ﴿ حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ د حکم نه مراد نبوت دې . او د علم نه مراد شريعت دې . دا قول د ابن عباس رضی الله عنه دې . اومجاهد ؒ ويلی دی چه د حکم نه مراد عقل او فهم دې او د علم نه مراد نبوت دې ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ که د حکم نه مرا د يا د علم نه مراد نبوت شی نو د محسنين نه مراد انبياء دی ، او د جزا نه مراد د هلاکت نه بچ کول او اعلی مقام د عزت او فلاح ته رسول دی . يعنی څه رنگه چه مونږ يوسف ﷺ د هلاکت نه بچ کړو او اعلی مقام د عزت ته مو ورسولو .نو دغه شان معامله د ټولو انبياؤ سره ده . او دا مطلب نه دې چه محسنينو ته د احسان په بدله کښې نبوت ورکولې شی. ځکه چه نبوت کسبی شې نه دې چه د احسان په بدله کښې ملاو شی ، او که د حکم او علم نه مراد نبوت نه وی نو بيا مطلب دادې چه څوك احسان کونکې وی او تقوی کونکی وې نو الله ﷻ به ورته حکم او علم ورکړی. يعنی فهم د دين او علم د دين . لکه د حسن بصری نه روايت دې ، من احسن عبادة ربه فی شبيبته اعطاه الله الحکمة فی اکتهاله .يعنی څوك چې په ځوانئ کښې د الله ﷻ عبادت په ښه طريقه سره کوی نو الله ﷻ به ورته په زمانه د کهولت کښې حکمت «د دين صحيح پوهه» ورکوی

وَرَٰوَدَتْهُ	ٱلَّتِى	هُوَ	فِى	بَيْتِهَا	عَن	نَّفْسِهِۦ	وَغَلَّقَتِ	ٱلْأَبْوَٰبَ

او مطالبه وکړه د ده نه هغې ښځې چه دې د هغې په کور کښې وؤ د ده د نفس په باره کښې او بند ئې کړې ټولې دروازې

وَقَالَتْ	هَيْتَ	لَكَ	قَالَ	مَعَاذَ	ٱللَّهِ	إِنَّهُۥ	رَبِّىٓ

او وې ويل دلته راشه تا ته وايم. وه ويل يوسف پناه نيسم په الله تعالی سره . بيشکه هغه ځما پالنه کوی

أَحْسَنَ مَثْوَايَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَلَقَدْ هَمَّتْ

ښائسته كړي ئې دي ځاى د اوسيدلو ځما . بېشكه نشي كاميابېدي ظالمان او خامخا په تحقيق سره هغې ښځه اراده كړې وه

بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ؕ كَذٰلِكَ

د يوسف. او اراده به كړي وې هغه د دې كچرې نه ئې وې ليدلې دليل د رب د طرف نه. دغسې مونږ اوسانه دده لره

لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ۝

د دې لپاره چه واړوو د ده نه بد كار او بې حيائي. بېشكه دې زمونږ د بندګانو مخلصينو نه وو

﴿وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ﴾ (راود) باب مفاعله دې په اصل كښې په معنى د جآء وذهب لطلب شئ . سره دې . اومراد ترينه ، التحمل لمواقعته اياها، په چل ول او ټګئ سره ځان ته مائل كول دى. او مفاعله كله د طرف واحد نه وى. كله چه د يو طرف نه فعل وى اود بل طرف نه سبب د فعل وى لكه مداواة الطبيب، مطالبة الدائن ، مماطلة المديون نو سبب د فعل قايم دې په مقام دفعل باندې نو دلته د يو طرف نه طلب وو، او د بل طرف نه سبب د هغې وو. چه حسن او جمال د يوسف ﷺ دى . مطلب دادې چه دې خزې په چل ول او ټګئ سره دَ يوسف ﷺ ځان ته . د مائل كولو كوشش اوكړو لكه بعض مفسرينو ويلى دى چه هغې خزى ديوسف ﷺ دويختو صفت شروع كړو چه دا ډير ښكلى دى، نو يوسف ﷺ اويل چه په مرګ سره به دا دانسان نه اول اودوړيږى . بيا ئى ورله د سترګو صفت كول شروع كړل . نو يوسف ﷺ اووئيل چه د مرګ نه پس په قبر كښې به دا اول په مخ رابهيږى . بيا ئى ورله دمخ صفت شروع كړو چه دا ډير خايسته دې نو يوسف ﷺ اووئيل چه داهم د خاوړو دپاره دې . غرض دا چه په دې چل ول سره ئى يوسف ﷺ خپل ځان ته دَ مائل كولو كوشش كولو ﴿وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ﴾ تشديد په (غَلَّقَتْ) كښې د تكثير دپاره هم كيدې شى ، ځكه چې دروازى ډيرې وې . لكه روايت دې چه اووه دروازې وې. او د مبالغې دپاره هم كيدې شى. يعنى ټولې دروابې ئى مضبوطى بندې كړې وې هركله چه يوسف ﷺ په دې اشاراتواو كناياتو سره دَ هغې طرف ته مايل نه شو . نو صريحى حكم ئى اوكړو چه ﴿وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ﴾ (هيت) اسم فعل دې په معنى د اسرع يا تعال سره . يعنى زما ځنګ ته زر په جلدئ راشه ﴿لَكَ﴾ تاته وايم صراحةً ځكه چې ته په كناياتو

پوه نشوي . لام د بيان دپاره دې . اودا زور دار الفاظ د تاكيد دپاره دى . په امتثال د امر كښ ﴿قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ﴾ دامفعول مطلق دې . په اصل كښ اعوذبالله معاذًا دې .يعنى پناه نيسم په الله سره ، پناه نيسل . يعنى د كوم كار چه ته خواهش لرې دا ډير قبيح دې ، څه په الله ﷻ سره د دې نه پناه غوارم . نو په دې كښ يو سبب د اجتناب ته اشاره ده ﴿إِنَّهُۥ رَبِّىٓ﴾ پدې كښ بل سبب ته اشاره ده چه د محسن په كور كښ خيانت كول ډير قبيح كار دې . ضمير د (انه) ضمير شان دې اسم د انّ دې . او ﴿رَبِّىٓ أَحْسَنَ مَثْوَاىَ﴾ جمله خبر د انّ دې .او د رب نه مراد الله ﷻ دى . يعنى د الله ﷻ نافرمانى نه شم كولې . ياترينه مراد سيد يعنى عزيز مصر دې. يا ضمير د (انه) راجع دې زوج ته . او رب په معنى د مربى اوسيّد سره دې . يعنى دا ستا خاوند زما مربى دې . چه زما د اوسيدلو ځائ ئى ښائسته كړې دې ، دهغه داحسان بدله په خيانت سره وركول ډير قبيح عمل دې . اوبعض وائى چه ضمير راجع دې الله ﷻ ته او (ربّى) ورله خبر دې او (احسن مثواى) دويم خبردې

په دې آيت كښ اطلاق د رب په غير دالله ﷻ باندې شويدې ، او په حديث د مسلم كښ دى چه غلام دې خپل مولى ته رب نه وائى اومولى دې خپل غلام ته بنده نه وائى . او بعض علماء وائى چه دا ممانعت په شريعت محمدى ﷺ كښ دې ځكه چې په شريعت محمدى ﷺ كښ د شرك نه هم ممانعت دې . او د هغه اشياؤنه هم ممانعت راغلې دې . چه ذرايع د شرك ياموهم د شرك وى . او په مخكنى شرائعو كښ خو د شرك نه په سختى سره منع راغلې ده ، ليكن په اسبابو او ذرائعو باندې پابندى نه وه ،او بعض علماء وائى چه اطلاق د رب په غيرالله باندې ناجائز دې په هغه وخت كښ چه مطلق وى ، يا ئى اضافت عامه شوې وى ، لكه رب العالمين او رب الناس . چه اضافت خاصه ئى شوې وى ، لكه رب الدار ، رب الثوب ،وغيره ، نو بيا ئى اطلاق په غيرالله باندې جائز دې .

﴿وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِۦ﴾ لام موطئه للقسم دې او (قد) د تحقيق دپاره دې ﴿وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَـٰنَ رَبِّهِۦ﴾ په دې كښ دوه توجيهات دى : اول په (وَهَمَّ بِهَا) كښ تعليقى حكم دې ، يعنى (اَوْ هَمَّ بِهَا) جزاء مقدمه ده او ﴿لَوْلَآ أَن رَّءَا﴾ شرط موخر دې ، يعنى يوسف عليه السلام به قصد او هَمْ كړې وى كه چرې برهان د رب ئى نه وې ليدلې، ليكن په دې دا اعتراض واردېږى چه تقديم دجزا په شرط باندې جائزنه دې . ليكن دا خبره متفق عليه نده ، نحاة بصرينو اوبعض

کوفینو د جواز قول کړی دی، او بعض د عدم جواز قول کړی دی . لیکن بهتره داده چه جزاء د شرط دپاره محذوفه شی ،اوماقبل مذکور په هغه محذوف دلیل دی، او تقدیر د عبارت دادی چه (لولاء ان رءا برهان ربه لهم بها) که چرې یوسف ﷺ برهان د خپل رب نه وی لیدلی نو م او اراده به ئی کړی وی، لیکن برهان د رب ئی اولیدلو . نوهم ئی ندی اودا توجیه په نزد د محققینولکه امام رازی وغیره شو غوره ده څکه په دی کښ د یوسف ﷺ کمال براءت اوکمال مدح ده ، نو اراده اوخیال دگناه ئی په زړه کښ ندی راغلی . او د دی تائید د مابعد نه معلومیږی ﴿كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاءَ﴾ څکه دَ دینه نه معلومیږی چه سوء او فحشاء دیوسف ﷺ نه اړولی شوی دی اوده ته نزدی ندی راغلی، دویم ﴿وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ ۖ وَهَمَّ بِهَا﴾ جدا جمله ده ، او ﴿لَوْلَا أَن رَّأَىٰ﴾ جداجمله ده ، چه جزاورله مقدره ده چه (لَفَعَلَ مَاهَمَّ بِهَا) دی .او په (هم بها) کښ حکم تعلیقی نه دی او معنی ئی داده چه زلیخی قصد کړی وو . د یوسف ﷺ او یوسف ﷺ هم قصد کړی وو د زلیخی چه چرته برهان درب ئی نه وی لیدلی نو هغه کار به ئی کړی وی . چه د هغی قصد ئی کړی وو، نوپه دی توجیه باندی دا **سوال** واردیږی چه دامنافی دی د عصمت د انبیاؤ سره چه قصد اوکړی د ناجایز فعل ، **جواب** دادی چه (هم) دوه قسمه دی یو قسم هم ثابت دی هغه په معنی د عزم او قصد اختیاری سره دی ، نو دا قسم (هم) د زلیخا وو، په دلیل د ماقبل سره چه ذکر د (راودته) دی.او د ((غلقت الابواب)) او د ((قالت هیت لك)) او په دلیل د دی سره چه لام موطئه للقسم دی او (قد) ذکر شوی دی . او دویم قسم هم عارض، هغه دادی چه په زړه کښ بی اختیاره د گناه وسوسه راشی یا طبعی غیر اختیاری میلان یوڅیز ته راشی لکه د تگی سړی میلان اوبوته او دا دویم قسم هله معصیت اومنافی دعصمت سره دی چه عمل پرې اوکړی، اوچه عمل پرې اونه کړی نو دا گناه نه ده . څکه دا غیر اختیاری شی دی . بلکه دا موجب دمزید اجر دی ، د روژه دار چه په گرمی کښ اوبو ته شوق کیږ ی اونه ئی څکی نو دا موجب د اجر دی او دارنگه نوجوانان چه په وقت دَ کمال دَ قوت شهوانیه کښ د حرام فعل نه اجتناب کوی نو دا موجب د مزید اجر دی، او دیوسف ﷺ هم داقسم (هم) وو، چه په درجه دوسوسه او طبعی میلان کښ دی او بعض وائی چه ﴿وَهَمَّ بِهَا﴾ کښ مفعول د (هم) مقدر دی او بها په معنی د منها سره دی تقدیر د عبارت دارنگی دی چه : وهم الفرار، الخلاص . منها ﴿لَوْلَا أَن رَّأَىٰ بُرْهَانَ رَبِّهِ﴾ د برهان په باره کښ مختلف اقوال دی

. لېکن په هغې کښې د يو قول د متعين کولو دپاره قطعي دليل نشته چه هم دغه مراد شي نفينا . د ابن عباس ﷺ او مجاهد رحمه الله او سعيد ابن جبير ﷺ محمد بن سيرين اوحسن بصري رحمه الله نه مروي دی چه الله ﷻ په طور د معجزې سره په دغه ځائ کښې د حضرت يعقوب ﷺ صورت په داسې طريقې سره حاضر کړو چه د لاسونو ګوتې ئې په غاښونو کښې نيولې وې. اوبعض وائي . چه يوسف ﷺ چت ته اوکتل نو دا آيت ئې پکښې ليکلې اوليدلو ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴾ او بعض مفسرينو ويلي دی چه د زليخا په مکان کښې بت وو . هغې سرې پرده اچولې وه . نو يوسف ﷺ ترې په دې باره کښې تپوس اوکړو نوهغې او وئيل حه دا زما معبود دې . دده په حضور کښې ماته د ګناه نه حيا راځي، نويوسف ﷺ اوفرمايل چه زما معبود د دې نه زيات د حيا مستحق دې .او بعض مفسرينو ويلي دی . چه د يوسف ﷺ نبوت اوعلم د شريعت او معرفت الهی او داستحضار د الله ﷻ دابرهان دې . او دا قول زيات غوره دې﴿ كَذَٰلِكَ ﴾دا اشاره د تثبت او استقامت ده . يوسف ﷺ ته چه دما قبل نه فهميږی . اود دې نه روستو (ثبتناه) مقدر دې يعنی په مثل د دغه تثبت مونږ اوساته ده لره ﴿ لِنَصْرِفَ عَنْهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلْفَحْشَآءَ ﴾ ددې دپاره چه واړه وو مونږ د ده نه سوء اوفحشاء . د سوء نه مراد خيانت دې يا مقدمات د زنا دی لکه قبله. لمس . نظر بشهوة او فحشاء نه مراد زنا ده . دلته (لنصرف عنه) ذکر شوې دې . او (لنصرفه) ندی ويلې شوی .په دې کښې مبالغه ده په براءت د يوسف ﷺ کښې يوسف ﷺ خو د نبوت په وجه د ګناه نه محفوظ اړولې شوې وو. ليکن ګناه دې راګير کړو نو مونږ ترې نه د ګناه جال واړولو ﴿ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ﴾ يعنی يوسف ﷺ دهغه بندګانو د زُمرې نه دې چه خالص کړې شوې وو. لکه ﴿ إِنَّآ أَخْلَصْنَٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى ٱلدَّارِ ﴾ سورة ص آيت ۴۶. د مخلصينو حفاظت د شيطان د اغواء نه الله ﷻ کوی . لکه ددې اقرار شيطان په خپله کړې دی . ﴿ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾ ﴾

وَٱسْتَبَقَا ٱلْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا

او دواړو منډه کړه دروازې ته او وشلوله دې ښځې قميص د هغه د شا طرف نه او بيا موند دواړو خاوند د دې ښځې

لَدَا ٱلْبَابِ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسْجَنَ

دروازې سره . وه ويل دې ښځې چه نده سزا د هغه چا چه غواړی ستا د کور والا سره بد کاری مګر دا چه قيد کړې شی

أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي

یا عذاب دردناك وه ويل يوسف چه دي ښځې ما نه خواهش کړيدې چه ما غافل کړي د حفاظت د نفس ځما نه

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا ۚ إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ

او گواهي وکړه يو گواهي کونکي د اهل د دې ښځې. کچرې وی قميص د ده شليدلي د مخې طرف نه نو دا ښځه به رښتني وی

وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٢٦﴾ وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٧﴾

او يوسف به دروغژن وی. او که وی قميص د ده شليدلي د شا طرف نه نو دا ښځه به دروغ وانې او يوسف به رښتني وی

﴿وَاسْتَبَقَا الْبَابَ﴾ يوسف عليه السلام دخپل ځان د بچ کولو دپاره دروازې طرف ته منډه کړه نو زليخې ورپسې منډه کړه دنيولو دپاره، نو يوسف عليه السلام ئې لاس ته رانغي او قميص ئې اونيولو. يوسف عليه السلام په قوت سره بهر ته منډه کړه نو د شاه طرف نه ئې ورله قميص اوشلولو. او اتفاقاً دغه ځائ کښې خاوند ددې يعنې عزيز مصر ولاړ وو. نو چه دا واقعه ئې اوليدله نو زليخې د خپل ځان نه دتهمت دفع کولو دپاره اولته په يوسف عليه السلام باندې الزام اولگولو. چه ما په خپله کمره کښې ارام کولو او يوسف عليه السلام په ما پسې د غلط خيال په نيت راغې نوده ته سزاورکول پکار دی. اوهغه سزا داچه قيد کړې شی. زليخې يو دا جرم اوکړو چه په يوسف پسې ئې منډه کړه اوبل دا چه يوسف عليه السلام ئې د قميص نه اونيوه. او يوسف عليه السلام بهر طرف ته زور کولو د بچ کيدو دپاره زليخې روستو راخکلو نو قميص ئې اوشليدلو. او بل داچه په ده ئې بدنامي اولگوله ﴿سَيِّدَهَا﴾ يعنې خاوند د دې ﴿لَدَا الْبَابِ﴾ باب ئې دلته مفرد ذکر کړو او مخکښې په (وغلّقت الابواب) کښې جمع ذکر شوې دې ځکه چې د خروج دپاره يوه دروازه هم کافي دۀ. او د راگيرولو دپاره ټولې دروازې بندول ضروري دی. او په بعض تاريخي رواياتو کښې دی چه دروازې ټولې تاله کړې شوې وې، او يوسف خپل مقدور کوشش اوکړو نو الله جل جلاله ورته لار کولاؤ کړه. د بنده په ذمه باندې حتى المقدور کوشش ضروري دې. او نتيجه دالله جل جلاله په اختيار کښې ده. زمونږ شيخ الهند رحمه الله چه د انگريز په جيل کښې وو نو د جمعې په ورځ به ئې اودس اوکړو ځان به ئې تيار کړه د جمعې مونځ ته اود جيل دروازې پورې به راغې. او بيا به ئې دالله په دربار کښې دا سوال اوکړو چه ياالله د ازما وس او قدرت وو. نو اختيار ستا په لاس کښې دې. دالله جل جلاله د رحمت نه څه بعيده نه وه چه د جيل دروازه ئې ورته کرامة

كولاؤكړې وې . ليكن الله دوئ ته د استقامت عالى مقام وركړې وو. چه خپل عمل ئې نه پرېخودو . اودا دكرامت نه ډير اوچت مقام دې . نو د دې وجې نه به دوئ هره جمعه دغه عمل مسلسل كولو . او نتيجه به ئې په نظر نه راتله

﴿قَالَ هِيَ رَٰوَدَتْنِي عَن نَّفْسِي﴾ په ديكښ يوسف ﷺ خپله صفائى پيش كوى . او ددينه دامعلوميږى چه په چا باندې د دروغو تهمت اولګى نو د خان صفائى بيانول د انبياؤ سنت دى. نويوسف ﷺ خپله صفائى پيش كړې وه، ويل ئې چه ددې خزې دعوه غلطه ده. بلكه حقيقت دادې چه هغې خما نه د غلط فعل مطالبه كړې وه .اوزه ترينه تختيدلې يم ﴿وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَآ﴾ دلته د شهادت نه مراد فيصله او حكم دې او مصطلحه معنى نده مراد او د شاهد په باره كښې دمفسرينو دوه قوله دى. يوقول دادې چه دا وړوكې بچى وو. د زليخې ابن الخال وو. يعنى د ماما خوئ ئې وو، او عمرئې درې مياشتې وو، الله ﷻ ګويا كړو، په براءت ديوسف ﷺ نواول خو د ماشوم بچى خبرې كول په حق د يوسف كښې يوه معجزه شوه ديوسف ﷺ دپاره .او دا مناسبه ده دپاره د اظهار د براءت دنبى ، او بل دا چه داګواهى نهايت حكيمانه اوعاقلانه انداز كښې وه ، ابن الجرير اوابن الكثير وغيره ډيرومفسرينودا قول غوره كړې دې . او په مسند احمد ، صحيح ابن الحبان ، اوامام حاكم په مستدرك كښې دَ دې روايت دَ ابن عباس ؓ نه كړې دې او امام حاكم په روايت دَ ابوهريره ؓ هم نه نقل كړې دې . او صحيح على الشرط الشيخين ئې ورته ويليدې ، اودويم قول دادې چه داشاهد د زليخې ابن العم . يعنى د تره خوئ وو. او حكيم، دانا، ذى رائى سړې وو، چه دعزيز مصر سره به وو. اود هغه مشيروو. نو ده د دواړو فريقينوپه مينځ كښې حكيمانه اندازكښې دفيصله كولوطريقه اوخودله چه په علامې سره فيصله دې اوشى، داحنافو په نزد په يو مقدمه كښې صرف په دې علامې سره قطعى فيصله خونشى كيدې، البته مؤيد كيدې شى، اوچه شهادت نه وى نوحاكم په علامې اوقرينې سره فيصله كولې شى لكه په هدايه كښې د دې ډيرنظائر موجود دى ﴿إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ﴾ يعنى كه قميص دمخكښې طرف نه شيرې وى، نوبيابه داخزه ريشتينې وى خكه چې دې به خپله دفاع كوله اوكه شا طرف نه شيرې وى ، نويوسف ﷺ به ريشتينې وى خكه چې دې به تختيدلو او خزى به د شا طرف نه نيولې وى

فَلَمَّا رَاٰ قَمِيصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ ؕ اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ﴿۲۸﴾

پس هركله چه ده (عزيز مصر) وليد قميص د ده شليدلې د شا طرف نه وې ويل چه دا د مكر ستاسو نه دې بيشكه د زنانو مكر لوئ وى

يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ٚ وَاسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۖۚ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ ﴿۲۹﴾

اې يوسفه! مخ واړوه د خورولو د دې خبرې نه، او اې ښځې معافي وغواړه خما نه د دې جرم خپل بيشكه ته ئ د خطا كارو نه

﴿ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ ﴾ هر كله چه قميص ئې وليدلو چه د شاطرف نه څيرې دې. نو عزيز فيصله اوكړه چه ﴿إِنَّهُۥ﴾ ضمير دې مذكور ما جرئ ته راجع دې يعنى د ما جرئ عمل او دا قول چه ﴿مَا جَزَآءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ داستاسو مكر دې چه غلط كار دې په خپله كړې دې او منسوب كوې ئې يوسف ﷺ ته ﴿إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ﴾ دبنى ﷺ ارشاد دې د خزو په حق كښې چه (مارايت ناقصات عقل ودين اذهب للب الرجل الحازم من احدٰكن) يعنى تاسو په عقل اودين كښې د ناقص كيدونه علاوه دهوښيار سړى عقل خرابونكې يئ اوعقل مند سړې په چكر كښې اچوئ اګر كه په خپله ناقص العقل يئ . او بعض علماؤ ويلى دى چه زه د خزو مكر نه زيات خوف كوم دشيطان د مكر نه . ځكه چې الله ﷻ فرمائى چه (ان كيد الشيطٰن كان ضعيفا) او د خزو په باره كښې الله فرمائى چه ﴿إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ﴾ مقصود دادې چه سړى ته د مكر د خزو نه خطره زياته ده ځكه په خزوٰ كښې د ناز انداز يوه خاصه ماده پرته ده ، او د نارينه په زړه كښې ورته طبعى ميلان اوكشش دې نود خزو سره داعظيمه حربه ده چه سړې پرې دهوكه كيږى ، اوددې نه علاوه شيطان دوئ خپل وسائل حبائل ګرځولى دى اوپه حديث كښې دى چه (ما ايس الشيطٰن من احد الاّ اتاه من جهة النساء) يعنى شيطان چه د چا د ګمراه كولو نه نا اُميده شى نو د خزو په ذريعه سره ئې ګمراه كولو دپاره راشى ، او د آيت مطلب دا نه دې چه د خزو مكر دَ شيطان د مكر نه هم زيات دې . ځكه شيطان لعين د ټولو قبايحو مركز دې اوپه سورت نساء كښې چه ئې ((ان كيد الشيطن كان ضعيفا)) ويليدى ، نو د هغې مطلب دادې چه د شيطنٰ مكر په مقابله د تدبيرد الله ﷻ كښې ضعيف دې او دا مطلب نه دې چه دَ شيطان مكر ضعيف دې دخزو دَ مكر نه، او د خزو مكر ته ئې چه عظيم ويليدى نوپه نسبت سره مكر د رجالوته ئې ويليدى ﴿ يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ﴾ هركله چه عزيز مصر ته واضح شو براءت د يوسف

ﷺ اوغلطی د خزي نو یوسف ﷺ نه ئ اوویل چه دا واقعه پټه اوساته چه زما ډیره رسوائی او بدنامی ونه شی . اوخزی ته ئی اوونیل ته معافی وغواړه ځمانه. یا د یوسف ﷺ نه . یا د الله ﷻ نه ځکه چې دوئ خو الله منلو سره د شرك نه ﴿مِنَ ٱلْخَاطِئِينَ﴾ خطاء په ډیرو قسمونو سره ده . یو داده چه د گناه کار په اراده سره اوکړی نودا خطاء کامله ده . او بل قسم دادې چه اراده ئی د نیك کار وی اوپه خطاء سره ترینه غلط کار صادرشی لکه په حدیث کښ دی من اجتهد فاخطا فله اجر . اوبل قسم دادې چه اراده ئی د بدکاروی اوصادرشی ترینه نیك کار. دلته مراد اول قسم خطا ده . او عزیز مصر چه باوجود دَ دې نه چه غلطی د خزې ورته ښکاره شوه بیا ئ هم صرف دومره ئ ورته اوونیل چه ته ځمانه معافی اوغواړه اوهیڅ سزا یی ورته ورنه کړه نو په دی کښ دا احتمال شته چه الله د ده نه پدې خبره کښ غیرت اوغصه سلب کړې وی. دپاره د لطف په یوسف ﷺ او دا احتمال پکښ هم دې چه دې بې غیرته وو. لکه په ښهرونو کښ او په غټو خلقو کښ داسې خصلت په کثرت سره مشاهده کیږی. اوداهم احتمال دې . چې دې حلیم او نرم مزاج وو. اودَ دغه زمکې او وطن خصوصیت نرم مزاجی ده، لکه داهم مشاهده ده چه دبعض ملك خلق ډیر نرم مزاج وی او د بعض ملك خلق ډیر سخت مزاجه وی . لکه علامه آلوسی لیکلی دی چه بعض ملوك دمغرب خپلو مجلسیانو سره ناست وو اوپه کور کښ ئی یوې ماشومې بچئ دپردې نه روستو یوغزل ویله نو بعض مجلسیانو وزیرانو اوونیل چه دا خو ډیر خائسته اواز دې غزل دې دوباره وه وائی، و بادشاه غصه شو او کورته لاړو او د ماشومې بچئ سر ئ پریکړو اوپه پلیټ کښ ئی راوړو اوهغه کس یعنی وزیرته ئی وه وئیل چه دې سرته وه وایه چه تاته غزل وه وائی. نو وزیر ډیر زیات خفه شو اوبیمارشو ډیره زمانه بیمار وو. او بیا مړشو .

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ

او وه ویل ښځو[1] په ښار کښ چه ښځه د وزیر مطالبه کوی د خپل غلام نه د هغه دنفس. په تحقیق سره

شَغَفَهَا حُبًّا ۖ إِنَّا لَنَرٰىهَا فِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ ۝ فَلَمَّا

د دې د زړه په پردو کښ ننوتې دې محبت د هغه . بیشکه مونږ وینو دې لره په خطائ ښکاره کښ پس هرکله

۱ . شپږم حال

سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ

چه دې واورېدلو طعن د هغوئ نو ورې لېږلو قاصد دوئ ته او تيارې کړو د دوئ لپاره مجلس، او ورئ کړه هرې يوې ته

مِنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ

د هغوئ نه، چاړه او وې ويل يوسف ته . راوزه دوئ ته . پس هرکله چه دوئ هغه وليدلو نو ډير لوئ ئې وګڼړلو په ښائست کښې

وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ۝

او پرې ئې کړل لاسونه خپل. او وه ويل دوئ پاکی ده الله تعالی لره دا خو ندې بشر، ندې دا مګر فرښته عزتمند دې

﴿وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ﴾ دا شپږم حال دې او په دې کښې بيان د طعن د ښځو دې . په زليخې باندې دعزيز مصر دا کوشش وو چه دا معامله پټه پاتې شي اوخما بدنامي ونه شي . ليکن زنانه په نشر اشاعت کښې ډيرې تيزې دی . يوه ښځه بلې ته دَ څه راز خبره اوائې او بيا ورته اوائی چه دا تاسره امانت دې او بل چاته ئې مه وايه . نوهغه ئې بلې ته په دې طريقه اوائی . اوبله ئې بلې ته په دې طريقه اوائی ، نو رازفاش شی، نو د زنانو په طريقې سره خبره مشهوره شوه . نو دوئ په زليخې باندې طعن ويل شروع کړو چه دَ دې خاوند شته دې اومعزز شخصيت يعنی عزيز مصر دې اودا بيا هم د بل چاسره بلکه د خپل غلام سره محبت او يارانه کوی ، او بيا ئې په داسې طريقې سره کوی چه هغه ورته توجه نه کوی اودا ورته چل ول جوړوی او د هغه محبت د دې په زړه کښې ننوتلې دې ﴿نِسْوَةٌ﴾ کښې تانيث عرضی دی حقيقی نه دې. نودې وجې نه فعل ورته ندې مونث شوې ﴿قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا﴾ (شغف) په معنی د (دخل شغاف قلبها) سره دې او شغاف د زړه دپاسه نرئ پردې ته وائی او ضمير په (شغف) کښې راجع دې يوسف ﷺ ته او (حبّا) ترې تميزدې ، او تميز د فاعل نه په اصل کښې فاعل وی. نو د﴿قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا﴾ معنی داشوه چه (دخل حبه شغاف قلبها) يا (شق حبه شغاف قلبها) ، (روح) يعنی ننوتې دې محبت د يوسف ﷺ دننه په پردو د زړه د دې کښې، او څيرې کړی دی محبت يوسف ﷺ پردې د زړه ددې حتی چه رسيدلې دې دامحبت دننه زړه ته ﴿فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾ يعنی داداسې غلط اوکمينه حرکت دې چه واضح دې هر چاته .

﴿فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ﴾ د مکر نه مراد طعن او غیبت دي . او مکر ئې ورته ځکه اویلو چه دوی دا خبرې ذریعه ګرزوله دپاره د لیدلو د یوسف ﷺ او د ملاقات د هغه یا د دې وجې نه چه دا غیبت وو. او غیبت هم پټ وی په شان د مکر . هرکله چه زلیخا خبر شوه چه ښځې زما غیبت کوی او په ما باند طعن کوی . نود خپلې دفاع دپاره ئې دا منصوبه جوړه کړه چه هغوئ نه ئې دعوت ورکړو. چه د عزیز مصر په کور کښ د هغه بیګم ستاسو په اعزاز کښ دطعام انتظام کړې دی ﴿مُتَّكَأً﴾ له ابن عباس ؓ نه ددې (۱) یوه معنی دا نقل کړې شوې ده چه مراد د دینه تکیا ګانې او بالختونه دی (۲) او بله معنی ئې دانقل شوې ده چه مجلس د طعام دې . لکه داعادت د متکبرینو دې ،اوپه حدیث کښ ترینه منع راغلې ده . روایت.کړیدې ابن ابی شیبه د جابر ؓ چه نبی ﷺ منع فرمائلې ده له خوړلو نه په ګس لاس باندې او دخوړلو نه په تکیه سره (نهی ان یاکل الرجل بشماله وان یاکل متکئا) (۳) او بعض وائی چه ددینه مراد خوراك دې (۴) او د مجاهد ﷫ نه مروی دی چه متکئا هغه طعام دې چه په چاړه باندې پرې کولې شی، ﴿سِكِّينًا﴾ چاړه ئې د میووپریکولو دپاره ورکړه ، یا د دغه زمانې تهذیب داووچه دوئ به په چاړه سره خوراك کولو. نوظاهری مقصد ئې داوو، اوپه حقیقت کښ مقصود هغه دې چه روستو ذکر کیږی او هغه دا چه د یوسف ﷺ په لیدوسره به بدحواسه شی ، نولاسونه به زخمی کړی. او دا خبره دوئ ته واضحه شی چه زه د چاسره محبت کوم نو هغه معمولی شخصیت نه دې ﴿وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ﴾ یوسف ﷺ په جدا کمره کښ وو، اونوې کیږې ئې په امر د زلیخې باندې اچولې وې، زلیخې ورته اووئیل چه رابهر شه ، یوسف ﷺ ته په دې کښ څه غرض فاسد نه وومعلوم نوبهر شو، او اجنبی ښځوته ئې نظر نه دې کړې ﴿فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ﴾ یعنی هرکله چه دغه ښځو یوسف اولیدلو نودیر لوئ شخصیت ئې اوګڼلو ، اوهیبت زده شوې د هغه نه . ځکه چه یوسف ﷺ ته الله عزت اووقار هم ورکړې وو، اوظاهری حسن اوجمال ئې ورته هم ورکړې وو. لکه په صحیح بخاری کښ دی چه یوسف ﷺ ته شطرالحسن یعنی د ټولې دنیا نیم حسن ورکړې شوې وو، اوحکایت دې چه یوسف ﷺ به کله د مصر په کوڅو کښ تللو نو د مخ رڼرا به ئې په دیوالونو ځلیدله په شان د نمر د رڼرا ﴿وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ﴾ یعنی د یوسف ﷺ په لیدلو سره ئې هوش حواس داسې خراب شول چه خپل لاسونه ئې په چاړه باندې زخمی کړل

اوپته ورته اونه لیګیده. چه مونږ میوه پریکړو یا خپل خپل لاسونه ﴿وَقُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ﴾ دا کلمه استعمالیږی په عرف کښ د تعجب دپاره. لکه سبحان الله د تعجب دپاره استعمالیږی. لفظ د حاش په نزد د بعضو حرف دې او وضع شوي دي دپاره د استثنا او تنزیه. بیا اسم ګرځولي شو ي دي. په معنی د تنزیه سره. اوابن حاجب وائی چه دا اسم فعل دې په معنی د برئ سره. او ابو علی او ابن عطیه اونورو ویلی دی چه حاش صیغه د ماضی ده په معنی د جانب سره. حاشیه طرف او جانب ته وائی. نو د حاش دپاره فاعل ضمیر دې چه راجع دې یوسف ﷺ ته. او لام په لله کښ د تعلیل دپاره دی ای جانب یوسف عن السوء والتهمة لاجل خوف الله (یا) منقادلله ﴿إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ﴾ داتشبیه ده د ملانکو سره په پاکدامنئ کښ چه یوسف ﷺ د ملانکو شانتې پاك دې. ځکه چې ده دومره حسن او جمال او دومره ځوانئ او بې خطرې خلوت باوجود بیا هم د ګناه نه بچ شو نو دا د فرشتو صفت دې. یا تشبیه ده په حسن کښ او ملانك اګر که دوئ نه دی لیدلی خوفرشتې مشهورې دی په خائست کښ .لکه شیطان مشهور دې په قباحت او بد شکلئ کښ.

قَالَتْ	فَذَٰلِكُنَّ	الَّذِي	لُمْتُنَّنِي	فِيهِ ۖ	وَلَقَدْ	رَاوَدتُّهُ
وه ویل دې ښځې پس دا هغه دې چه تاسو زه ملامته کولم په محبت د ده کښ. او خامخا په تحقیق سره ما مطالبه کړې وه د ده نه						
عَن نَّفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ						
د ده د نفس پس ده خپل ځان وساته ځما نه. اوکه ونه کړل ده هغه چه ځه ورته حکم کوم نو ضرور به جیل کړې شی						
وَلَيَكُونًا مِّنَ الصَّاغِرِينَ ۝ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۖ						
او خامخا به شی د بی عزتو نه وه ویل یوسف اې ربه ځما ! جیل زیات خوښ دې ما ته د هغه کار نه چه دا ښځې ما هغې ته رابلی						
وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ۝ فَاسْتَجَابَ لَهُ						
اوکه ته وانهړوې ځما نه مکر د دوئ ځه به مائل شم دوئ ته او شم به د ناپوهه خلقونه پس قبوله کړه د ده دعا						
رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝ ثُمَّ بَدَا لَهُم						
رب د ده نو واړوئ ئ د ده نه مکر د هغوئ بیشکه الله تعالی هرڅه اوری او په هرڅه عالم دې بیا هغوئ ته دا مصلحت ښکاره شو						

مِّنۡۢ بَعۡدِ مَا رَاَوُا الۡاٰيٰتِ لَيَسۡجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيۡنٍ ۝

روستو د ليدلو د نښاناتو نه. چه دې جيل کړي د څه وخته پورې

﴿قَالَتۡ فَذٰلِكُنَّ الَّذِیۡ﴾ زليخې خپله معذورتيا ظاهره کړه دَ خزو په مخکښې په محبت د يوسف کښې ﴿وَلَقَدۡ رَاوَدتُّهٗ﴾ دا تصريح او اقرار دې په پاکوالی د يوسف ﷺ باندې .او په خپل جرم باندې په حضور د خزوکښې ﴿وَلَئِنۡ لَّمۡ يَفۡعَلۡ﴾ دا دباؤ اچول دَ زليخې دی په يوسف باندې دقيد کولو او ذليله کولو سره . اومقصود ئې د دينه خپل مقصد حاصلول وو ، يعنى وصال د يوسف . يعنى تراوسه پورې خو ده څما خبره نده منلې خوکه آينده وخت کښې ئې هم اونه منله نو زه به دې قيد کړم د مصر د خزو په مخکښې ﴿وَلَقَدۡ رَاوَدتُّهٗ﴾ دا اقرار او د ﴿فَاسۡتَعۡصَمَ﴾ اقرار په طريقه د مبالغې سره وشو ځکه چه باب افعال دلته کښې د زيادت اومبالغې دپاره راغليدې . نو دا د يوسف ﷺ د کمال عصمت اوعفت واضح ثبوت دې ﴿لَيُسۡجَنَنَّ وَلَيَكُوۡنًا﴾ په اول کښې نون تاکيد ثقيله راغليدې، ځکه چه قيد کول واقع شويدی ، او په دويم کښې يعنی ﴿وَلَيَكُوۡنًا﴾ کښې نون تاکيد خفيفه راغلې دې ځکه چه هغه متوهم وو، نه دې واقع شوې ، يادا چه دا دويم داول د توابعو نه دې نون تاکيد خفيفه په صورت دنون سره هم ليکلې شی او په صورت د تنوين سره هم ليکلې شی، لکه دلته کښې دا رنګه په (لنسفعًا) کښې، هر کله چه زليخې دا بيان وکړو . نو نورو خزو د ښهر يوسف ﷺ ته ترغيب او ترهيب شروع کړو ، اووې ويل چه د خپلې سيدې، محسنې سره احسان پکا ردې ، او ظلم پرې نه دې پکار نو ته ولې د هغې زړه سيزې اورحم پرې نه کوې ، او دا هم سوچ اوکړه چه د نافرمانئ به څه انجام وی، قدر ،عزت به دې ختم شی د جيل د پريشانو سره به مخامخ شې ، مفسرين وائی چه دوئ خو په ظاهر کښې د زليخې دپاره سفارش کولو ، ليکن په حقيقت کښې دَ هرې خزې مقصود يوسف ﷺ ځان ته مايل کول وو ، نو ددې وجې نه يوسف وويل چه ﴿قَالَ رَبِّ السِّجۡنُ اَحَبُّ اِلَیَّ مِمَّا يَدۡعُوۡنَنِیۡۤ﴾ اې ربه زما! جيل ماته زيات خوښ دې د هغې نه چه دا خزې ما رابلی هغې ته ﴿وَاِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّیۡ﴾ يعنى ياالله! زه تاته محتاج يم په بچ کيدو کښې د ګناه نه ، په ﴿يَدۡعُوۡنَنِیۡۤ﴾ او ﴿كَيۡدَهُنَّ﴾ کښې اشاره ده ديته چه دغه ټولو خزو دَ يوسف دپاره سفارش کولو ، يوسف جيل غوره کړو ځکه چې دا د ګناه نه

د بچ کیدو ظاهری طریقه او سبب وو . او هر کله چه دا ظاهر سبب کافی نه وؤ دا الله ﷻ د مدد نه بغیر نو ځکه ده اووئیل چه ﴿وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ﴾ ، او د دینه دا معلومه شوه چه انبیاء په خپل عصمت کښې محتاج دی الله ﷻ ته . او دا رنګه انبیاء ﷺ په خپل عصمت مغرور ندی بلکه نظر ئې په حفاظت او صیانت د الله ﷻ باندې وی . او ددې نه دا هم معلومه شوه . چه بنده له ظاهری اسباب اختیارول ضروری دی ، لیکن اعتماد پرې ورله نه دې پکار . اومقصود ﴿وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ﴾ نه دعا ده چه یاالله مابچ کړې د ګناه نه او د دې وجې نه ئې ورته ﴿فَاسْتَجَابَ﴾ ذکر کړو . یعنی الله ﷻ د ده دعا قبوله کړه . اود زنانو مکر ئې د ده نه واړولو ﴿ثُمَّ بَدَا لَهُم﴾ یعنی دوئ ته دا مصلحت ښکاره شو ، چه یوسف ﷺ جیل ته کړی . اودا بیان دې د ﴿فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ﴾ دپاره ﴿مِّن بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ﴾ د دې آیت نه مراد دیوسف ﷺ د براءت شواهد او دلائل دی چه یو په هغې کښې څیرې والې د قمیص وود شا د طرف نه او د دینه علاوه نور شواهد دوئ ته ظاهر شو ، یا مراد د آیات نه ملکی او شهری حالات دی. یعنی هر کله چه دوئ د ملك حالاتو ته وکتل چه د عزیز مصر بدنامی زیاتیږی ، او زنانه د یوسف ﷺ د ملاقات درخواستونه کوی ، نو دوئ ته دا مصلحت ښکاره شو ، چه یوسف ﷺ جیل ته شی او د مینځ نه لرې شی ، نو خلق به په دې باره کښې خبرې بس کړی، اود ملاقات درخواست به څوك نه کوی، او هم دارنګې په قید کولو دیوسف سره به عام خلق دا خیال اوکړی چه خزه د عزیز مصر بې ګناه ده او یوسف ﷺ قصوروار دې ، او زلیخاهم په دې راضی شوه، ځکه چې یوخو به د دې نه بدنامی لرې شی، او بل دا چه یوسف ﷺ به د جیل سختی اووینی نو نرم به شی ، نوځما مقصد به هم حاصل شی، نو ددې وجې نه ئې بې قصوره قید کښې واچولو . اوقصور وار ئې آزاد پریخودلو، لیکن الله ﷻ یوسف ﷺ په جیل کښې د ذلت او رسوائی نه محفوظ اوساتلو ، د خائسته اخلاقو سیرت ،او صورت په وجه او د باطنی کمالاتو په وجه به ټولو د ده ډیر عزت او احترام کولو، حتی چه د جیل افسر ورته هم ویل ستا د خلاصولو اختیار ماسره نشته دې، نورچه څومره احترام ځما نه کیدې شی نو زه به ئې کوم ، او په جیل کښې دننه په تا هیڅ پابندی نشته دې ، او یوځل ئې ورته اووئیل چه ځما تاسره ډیر محبت دې ، نو یوسف ﷺ ورته اووئیل چه ماسره محبت مه کوه ماسره چه چا محبت کړې دې ، نو بیا په ما یوتکلیف راغلې دې ، په وړوکوالی کښې ماسره ترور ځما محبت اوکړو نو د غلا تهمت ئې

راباندې اولګولو (لکه دغه قصه مشهوره ده) ، بیا راسره پلار محبت کولو . نو رونړو کوهي ته اوغورزولم. او بیا راسره زلیخې محبت کولو نو جیل ته ئې راورسولم (ابن کثیر) ﴿ ثُمَّ بَدَا لَهُم ﴾ فاعل د بدأ دپاره محذوف دې چه (ان یُسجن) دې . او ﴿ لَيَسْجُنُنَّهُ ﴾ قایم دې په مقام د فاعل باندې . ﴿ حَتَّىٰ حِينٍ ﴾ الى حين ينقطع فيه كلام الناس، وذالك ان المراءة قالت لزوجها ان هذا العبد العبراني قد فضحني في الناس يقول لهم اني راودته عن نفسه وانا لا اقدر على اظهار عذري فاما ان تاذن لي فاخرج فاعتذر واما ان تحبسه كما حبستني فعند ذالك وقع في قلب العزيز ان الاصلح حبسه حتى يسقط عن ألسنة الناس ذكر هذا الحديث وتقل الفضيحة (شربينى)

او (حين) وخت ته ویلې شي چه متعین نه وي او بهتره داده چه ابهام باندې پریخودې شي. او بعض ئې تعین کړې دې .چه پنځه کاله وو . او بعض وائي چه اوه کاله وو . او بعض وائي چه دولس کاله وو . لیکن بهتره داده چه جزم اونه کړې شي. په متعین مقدار کښې

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ۖ قَالَ اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ
او داخل شو د ده سره جیل ته [1] دوه خلمي خدمتګاران. وه ویل یو د دوئ نه ما خان لیدلې دې په خوب کښې
اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا
چه د انګورونه شراب نچوړوم. او وه ویل هغه بل چه بیشکه ما خان لیدلې دې په خوب کښې چه اوچتوم په سر باندې دوډئ
تَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ۖ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۞
خوري مارغان د هغې نه. خبرکړه مونږ په تعبیر د دې خوب بیشکه مونږ وینو تا لره د نیکی کونکو نه

﴿ وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ ﴾ او دا اووم حال دې په معیت د قیدیانو سره . چه یوسف ﷺ په جیل کښې د خوب تعبیر نه مخکښې هغوئ ته دعوت د توحید ورکړې وو

او دا دوه خادمان وود بادشاه چه نوم ئې ریان بن ولید وو. اودې د عربو عاربو د نسل عاد او ثمود نه د قبطي خاندان نه وو. او مفسرین وائي چه په یوسف ﷺ باندې ئې ایمان راوړې وو. اود ده په زمانه کښې یوسف ته د مصر مکمل اقتدار ملاؤشوې وو. او د یوسف

---
[1] اووم ۷ حال

ﷺ د وفات نه روستو بیا بل بادشاه راغې خوهغه ایمان نه و راوړی . او دا دوه خادمان چه وو نویو خباز «نانبائی »او بل ساقی وو ، پ دواړو الزام اولګیدلو چه دوئ بادشاه نه په خوراك کښې زهر اچولی دی لکه ویلې شی چه څو مشرانو د مصر اراده کړې وه چه بادشاه قتل کړی . نو دې دواړو ته ئی رشوت ورکړو چه په روټئ او شرابو کښې ورته زهر ورکړی. بیا ساقی پښیمانه شو ، او په شرابو کښې ئی زهر وانه چول او نانبائ واچول . نوهر کله چه روټئ بادشاه ته حاضره شوه ، نو ساقی اووئیل چه دا روټئ مه خوره په دې کښې زهر اچولې شوی دی . او نانبائی ورته اووئیل چه په دې شرابو کښې ئی درته زهر اچولی دی . بادشاه ساقی ته اووئیل چه دا شراب ته اوسکه نوهغه اوسکل اونقصان ئی ورته اونه رسیده اونانبائی ته ئی اووئیل چه دا روټئ اوخوره نوهغه انکاراوکړو نوبادشاه دوئ دواړه جیل ته لیګلی وو د تحقیق د حال دپاره، نانبائی خو مجرم وو اوپه ساقی باندې تهمت و اومجرم نه وو . اوپه یوسف باندې نه تهمت وواو نه مجرم وو﴿إِنِّىٓ أَرَىٰنِىٓ﴾ ابن عباس ﷺ او د جمهور مفسرینو په نزد خوب ئ په حقیقت کښې لیدلې وو ، او د عبدالله بن مسعود ﷺ نه روایت دې چه په حقیقت کښې ئی خوب نه وولیدلې خو محض دا د یوسف ﷺ د صداقت معلومولو دپاره ئی امتحان کولو . بنا په قول د جمهورو مفسرینو هرکله چه دوئ داخوب اولیدلو نو د یونیك صالح انسان په طلب کښې شول چه دوئ ته د دوئ د خوب تعبیر ورکړی. نوپه ټولو قیدیانو کښې ئی نظر واچولو نو د یوسف ﷺ د عبادت، تقوی، اخلاق، صداقت نه ډیر متاثره شو . نوهغه ته ئی اووئیل چه مونږ ته زمونږ د خوب تعبیر بیان کړه ﴿أَعْصِرُ خَمْرًا﴾ د خمر نه مراد انګور دی چه دهغې نه شراب جوړیږی ﴿إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ یعنی تعبیر د خوب ډیر په ښه طریقه سره کوې . قیدیانو به چه څه خوب لیدلو نویوسف ﷺ به ئی تعبیر کولو ،اوهغه به بالکل صحیح وو . یادا معنی چه ته ډیر نیك ئی د صوم صلوة او عبادت په اعتبار سره . ډیر نیك سلوك ساتې د ملګرو سره . یوسف ﷺ به د ملګرو خدمت کولو او قیدیانو ته به ئی تسلی ورکوله

قَالَ	لَا	يَأْتِيكُمَا	طَعَامٌ	تُرْزَقَانِهِۦٓ	إِلَّا	نَبَّأْتُكُمَا	بِتَأْوِيلِهِۦ
وه ویل یوسف چه	لا به نوی راغلې تاسو ته	طعام چه	تاسو ته درکولې شی	مګر زه به	خبر کړم تاسو	دواړه په تعبیر	د دې خوب

قَبْلَ	أَن	يَأْتِيَكُمَا	ۚ	ذَٰلِكُمَا	مِمَّا	عَلَّمَنِى	رَبِّىٓ	ۚ
مخکښې د دینه	چه	تاسو ته راشی.		دا تعبیر	چه تاسو ته ئ کوم	د هغې نه دې	چه ښودلې دې خما رب ما ته	په ذریعه د وحی سره.

اِنِّيْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝

بيشكه ما د اول نه پرېښې دي ملت د هغه قوم چه ايمان نه لري په الله تعالى باندې او دوئ د آخرت نه منكر دي

وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ

او زه تابع يم د دين د مشرانو خپلو چه ابراهيم او اسحاق او يعقوب دى ندى جائز مونږ لره چه شريك كړو د الله سره

مِنْ شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ۝

څه شي . دا (توحيد) فضل د الله تعالى دي په مونږ باندې او په خلقو باندې ليكن ډير خلق شكر نكوى

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝ؕ مَا تَعْبُدُوْنَ

اې دوو ملګرو دجيل څما آيا ډير معبودان جدا جدا غوره دى يا يو الله چه غالب دې ؟ عبادت نه كوئ تاسې

مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ

سوى د الله تعالى نه مګر صرف د بى حقيقت نمونو چه دغه نومونه اينبى دى تاسو او مشرانو ستاسو

مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ

ندى رالېږلى الله تعالى د هغې د معبودوالى لپاره هيڅ دليل، ندې حكم ، واك اختيار مګر صرف الله تعالى لره دې

اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

حكم ئې كړېدې چه بندګى به نه كوئ مګر صرف دهغه به كوئ. دا (توحيد) لار سيده ده ليكن ډير خلق نه پوهيږى

﴿ قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا طَعَامٌ ﴾ يوسف ﷺ دوئ ته د تعبير نه مخكښې توحيد بيانوى ليكن اول ورته تسلي وركوى چه بيشكه د خوب تعبير به تاسو ته ډير زرمعلوم شي ، روزانه چه تاسو ته په كوم وخت خوراك ملاويږى نو د هغې نه مخكښې به زه تاسو په تعبير خبر كړم ، ليكن د تعبير نه قبل زياته او ضرورى خبره تاسو ته كوم، هغه دا چه دَ تعبير علم ماته د چرته نه حاصل شويدې؟ زه څه كاهن او نجومى نه يم ، بلكه ماته داعلم د وحى په ذريعه سره راكړې شوې دې ، او زه د هغو خلقو په لار نه يم روان چه په الله ﷻ ايمان نه لرى ، بلكه زه د خپلو مقدسو هستو خپلو آباؤ اجدادو په لار روان يم چه دهغې لارې وضاحت دادې چه مونږ د الله ﷻ سره

هیڅ څوك نه شریکوو ، او دا توحید دالله ﷻ فضل او احسان دي . لیکن ډیر خلق د دي شکر به نه ادا کوی . بعض مفسرینو دَ ﴿لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ﴾ دا معنی کړیده چه تاسو ته کوم طعام رازی نو زه به تاسو په هغې خبر کړم چه څه قسم طعام دې نو چه دا درته خودلی شم نو تعبیر څه داسې مشکل نه دي ﴿إِنِّي تَرَكْتُ﴾ د ترك نه مراد براءت او امتناع ده ، او دا معنی نه ده چه مخکښ په دغه دین کښ وم او بیا مې پریخودو ، ځکه چې انبیاء علیهم السلام معصوم دی د شرك ا ومعصیت نه ، نو د ترك نه متعارفه معنی نده مراد لیکن تعبیر په ترك سره شویدې لپاره د ترغیب هغوئ ته چه تاسو باطل دین پریګدئ ﴿يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ﴾ تعبیر په صاحبینُ سره د شفقت لپاره دې او اشاره ده دې ته چه زه ستاسو دَ ملګرتیا حق ادا کوم او اضافت د صاحبی. سجن ته اضافت دې ظرف مکان ته ، لکه په یاسارق اللیلة اهل الدار کښ اضافت دې ظرف زمان ته ، او په دې کښ اشاره ده چه دوئ صرف د جیل ملګری دی او د دین او عقیدې ملګری نه دی ، اوحضرت ابوبکر ﷺ ته نبی ﷺ لصاحبه ویلی دی او ظرف مکان یعنی غار ته ئ اضافة ندې کړې، بلکه (فی الغار) ئی مقدم ذکرکړې دې ، نو په دې کښ اشاره ده دیته چه دا ملګرتیا په دین او عقیدې کښ وه ، نو په دې سره باطل شو قول د شیعګانو چه قیاس کوی لصاحبه، په صاحبی السجن باندې او دا وائی چه د لصَاحِبِه نه فضیلت ، د ابوبکر ﷺ نه ثابیږی

﴿ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ﴾ «مُتَفَرقون» په معنی د متکثرون، مُتعددُون سره دې ، یعنی د ډیرو آلهو راضی کول او د هغوئ عبادت کول آسان دی ، او که یو الله ﷻ راضی کول او د هغه عبادت کول؟ نو دلته مضاف مقدر دې ای عبادة ارباب یا د متفرقون معنی داده چه د زندګی د هرې شعبې دپاره جداجدا معبودان مقرر وؤ، لکه د باران لپاره جدا معبود، د صحت لپاره جدا معبود، په دُشمن باندې د غلبې لپاره جدا معبود، وهکذا ﴿ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ﴾ غالب او زور دار دې په هر چا باندې ، هر څه د هغه مملوك محکوم دی، هر حاجت پوره کولې شی ﴿إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ﴾ د اسم نه مراد اسم د اِله ، مشکل کشا ، وغیره دی، لکه په موجوده دور کښ خلق بعض اهل قبور ته : بادو بابا ، مَال ډهیر بابا وائی ، نواهل قبورو ته مشکل کشا نوم ویل صرف نوم دې اسم بلا مسمی دې مصداق ئی نشته ، ځکه هغوئ مشکل کشا ندی ، دا نومونه ستاسو مشرانو ایخودی دی ، الله ﷻ ورته د معبود، مشکل کشا نوم نه دې ایخې

﴿مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا﴾ اى بمعبوديتها ﴿مِن سُلْطَٰنٍ﴾ حجت او دليل ﴿إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ حكم په دوه قسمه دي يو حكم تكويني دي لكه اعزازا . ذلال . يعني چاته ذلت وركول يا موت او حيات وركول او حكم تشريعي دي . لكه امر د اطاعت او نهى د معصيت نه او حل اوحرمت نود دي دواړو قسمونو اختيار الله ﷻ سره دي ﴿أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟﴾ دا حكم تشريعي دي ﴿ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ﴾ (ذالك) توحيد نه اشاره ده . او اسم اشاره د بعيد ذكر شوه دپاره د اشارې عظمت د شان د توحيد نه . (القيم) په معنى د محكم ا وثابت بالبراهين سره دي . يا په معنى د المتقيم الذى لاعوج فيه . سره دي . يعنى توحيد ثابت دي په براهينو سره اوسيدها لارده.

يَٰصَٰحِبَىِ ٱلسِّجْنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسْقِى رَبَّهُۥ خَمْرًا ۖ
اې خما دوؤ ملګرو د جيل. هرچه دا يوتن ستاسو نه دې پس سكوى به دې په مولا خپل باندي شراب
وَأَمَّا ٱلْءَاخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ ٱلطَّيْرُ مِن رَّأْسِهِۦ ۚ قُضِىَ ٱلْأَمْرُ ٱلَّذِى
او هرچه بل دې پس دې به پانسي كړې شي پس خوري به مرغان د سر د ده نه، فيصله كړې شويده مخكښې نه د هغه كار
فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ ﴿٤١﴾ وَقَالَ لِلَّذِى ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٍ
چه تاسو د هغې په باره كښې تپوسونه كول او وه ويل يوسف هغه سړي ته (چه پوهه وؤ يوسف) چه دې بچ كيدونكې دي
مِّنْهُمَا ٱذْكُرْنِى عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيْطَٰنُ ذِكْرَ رَبِّهِۦ
د دې دواړو نه ياد كړه ما د بادشاه په مخكښې پس هير كړو د هغه نه شيطان يادول د يوسف بادشاه ته
فَلَبِثَ فِى ٱلسِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾
نو پاتې شو يوسف په جيل كښې څوكلونه.

﴿يَٰصَٰحِبَىِ ٱلسِّجْنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا﴾ يوسف دوئ ته د توحيد بيانولو نه بعد د خوب تعبير ذكر كوى . ليكن د شفقت پيغمبرى د وجې نه د يو كس متعين نوم نه اخلى، مثلا فلانيه ته به پهانسى كيږي . د دې دپاره چه هغه زيات غمژن نشى ﴿فَيَسْقِى رَبَّهُۥ خَمْرًا﴾ يعنى ساقى به د جيل نه آزاد شى . او خپل مخكنى ملازمت ته به لاړشى . او بادشاه له به شراب وركوى .

﴿وَأَمَّا الْآخَرُ﴾ یعنی نانبائ به پهانسی کیږی او په سولئ به شی نو مرغان به ئې د سرنه او مازغونه خوری . لکه د هغه زمانی دا عادت وو چه څوك به ئې په سولئ کړل نو دوی ورځی به په سولئ باندې پرېخودې سو . نو مرغانو به ختې ختې کړو . ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی (کما رواه الحاکم) چه هر کله دوی دا تعبیر واورېدلونو وې وېل چه مونږ خوب نه دی لیدلی . مونږ خو مزاح کولو او ستا امتحان مو کولو . یوسف ﷺ اوفرمائل ﴿قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي﴾ یعنی ما دا خبره په وحی سره کړې ده چه غلطی پکښې نه راځی . اودا فیصله شوې ده . بخه خبره ده او لفظ د (امر) او دا رنګی ضمیر د (فیه) مفرد ذکر شول اګرکه خوبونه دوه وو . ځکه چه د امر نه مراد خوبونه ندی . بلکه الزام د هلاکولو د بادشاه دې په زهر اچولو سره . یا دلته عاقبة مقدر دې یعنی عاقبة د هغې امر چه تاسو د هغې په باره کښې تپوس کولو . یا د امر نه مراد حادثه ده او هغه واحده ده ﴿وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ﴾ ضمیر په (ظن) کښې یا راجع دې یوسف ﷺ ته نو ظن په معنی د یقین سره دې . یا راجع دې ساقی ته نو ظن خپله معنی سره دې ﴿اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ﴾ یعنی زما حال، کردار او دا چه زه بې قصوره یم . ذکر کړه بادشاه ته دپاره ددې چه د جیل نه خلاص شم ﴿فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ﴾ په ضمیر د (أنسه) کښې دوه قوله دی . اکثر مفسرین وائی چه دا راجع دې ساقی ته یعنی شیطان د ساقی نه هیر کړو . یادول د یوسف ﷺ بادشاه ته . نو د دې وجې نه یوسف ﷺ په جیل کښې څوکلونه تیر کړل . او د انساء نسبت شیطن ته تسبیبًا دې یعنی شیطن سبب د انساء دپاره اوګرزیدو ځکه چه شیطان د ده په زړه کښې مختلف خیالات اووسوسې واچولې، نود هغې د وجې نه هغه نه هیر شو . او شیطان ته د سبب په درجه کښې نسبت کیدې شی، لکه دموسی ﷺ ملګری اووئیل چه (انسنیه الا الشیطن ان اذکره) . یا لکه (اما ینسنك الشیطن فلاتقعد بعد الذکری – الخ)

او ابن جریر ،بغوی ، رازی رحمهم الله وائی چه ضمیر راجع دې یوسف ﷺ ته او د رب نه مراد الله ﷻ دې، یعنی شیطان د یوسف ﷺ نه هیر کړل ذکر د الله ﷻ یعنی دا چه د جیل نه د خلاصیدو دپاره الله ته سوال اوکړی . بلکه توجه ئ ظاهری اسبابو ته اوکړه چه ساقی ته ئې اووئیل چه بادشاه ته زما سفارش اوکړه چه د جیل نه خلاص شم . لکه روایت دې د انس ﷺ نه چه وحی اوکړه الله یوسف ﷺ ته چه ته چا خلاص کړې وې د قتل نه . کله چه ستا رونړو ستا د قتل اراده اوکړه نو ده عرض اوکړو چه تا ای ربه ځما ! نو بیا ئې ورته اوفرمائل چه نه

چاخلاص کړې وې د کوهی نه ، نو ده عرض اوکړو چه تا ای ربه څما ! بیا ئې ورته اوفرمائیل چه نه چا خلاص کړې وې دغه خزې نه کله چې هغې هَمْ وکړو په تا ، نوده عرض اوکړو چه تا ای ربه څما ! بیا ئې ورته اوفرمائل ولې تا څه هیر کړم ، او یاد دې کړو یو انسان؟ ، نوده عرض اوکړو چه بس دایوه خبره وه چه زما د خولې نه وتلې ده ، نو الله ﷻ ورته اوفرمائل چه زما دې په خپل عزت قسم وی چه زه بهٔ تا په جیل کښې کلونه اوساتم.

اوکه څوك **سوال** اوکړی چه په ظاهری اسبابو سره خو استعانت مذموم نه دې . ځکه چه عیسٰی ﷺ من انصاری الی الله ویلی دی ، او په حدیث کښې دی والله فی عون العبد ما دام العبد فی عون اخیه ، اوپه بل حدیث کښې دی من فرج عن مومن کربة فرج الله عنه کربة من کربات الأخرة ، اوپه بل روایت کښې دی چه نبی ﷺ فرمایلی دی لیت رجلا صالحا یحرسنی نوحضرت سعد ﷺ راغی او چوکیداری ئې شروع کړه ، نبی ﷺ بې فکره اوده شو ، **جواب** دادې چه ظاهری اسبابو ته توجه اګر که حرام یا مذموم ندې ، لیکن دانبیاؤ شان ډیر اعلی او ارفع دې ، نود دوئ دپاره احسن کار مناسب دې ، او چه د احسن په ځائ حسن کار اوکړی نود دوئ دپاره سیئه ګنړلې شی ((حسنات الابرار سیئات المقربین)) نوظاهری اسبابو ته توجه بغیر د خصوصی اذن نه اګر که حسن دې لیکن دانبیاؤ دَ عالی منصب په اعتبار سره دا د دوئ لپاره یو قسم تقصیر ګرځی د ابتلاء او امتحان په موقعهٔ باندې د انبیاء لپاره ظاهری اسبابو ته توجه نده مناسب ، بلکه مسبب الاسباب ته توجه پکار ده ، البته که د ابتلاء او امتحان موقعه نه وی یا خصوصی اذن وی یا بل څه حکمت وی نو بیا ظاهری اسبابو ته توجه احسن ده ﴿بِضْعَ سِنِيْنَ﴾ د بضع اطلاق د دریو نه تر نهوپورې کیږی ، او په نزد د ابو عبید باندې ترلسو پورې کیږی ، دلته اکثر روایات په دې دی چه اوه کاله وو.

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّيْٓ أَرٰى سَبْعَ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ
او وه ویل بادشاه[1] ما لیدلې دی په خوب کښې اوه ۷ غواګانې څربې، چه خوری هغې لره اوه ۷ غواګانې خوارې (تیې)
وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّأُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۭ يٰٓأَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُوْنِيْ فِيْ رُءْيَايَ إِنْ كُنْتُمْ
او اوه ۷ وږی شنه او نور (اوه ۷) وچ شوی، اې درباریانو تعبیر راکړئ ما ته څما د دې خوب کچرې یئ تاسې

[1] - اتم حال.

لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ۝ قَالُوٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۚ وَمَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِيْنَ ۝
د خوب تعبیر ویستونکی   هغوئ وه ویل چه دا گډوډ خوبونه دی او مونږ د داسې خوبونو په تعبیر نه پوهیږو
وَقَالَ الَّذِيْ نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا اُنَبِّئُكُمْ
او وه ویل هغه سړی چه د جیل نه خلاص شوې وو د هغه دوؤ نه، او یاد ئ شو روستو د څه مدې نه څه به خبر کړم تاسو
بِتَاْوِيْلِهٖ فَاَرْسِلُوْنِ ۝
په تعبیر د دې خوب پس ما ولیږئ

﴿ وَقَالَ الْمَلِكُ ﴾ دا اتم حال دې ، متعلق د خوب د مَلِك سره په دې کښې د بادشاه د خوب ذکر دې ، اودهغه د تعبیر او بیا د تدبیر تبشیر ذکر دې ، او یوسف ﷺ نه دَ پاکدامنی اظهار او د هغه د استقلال او د تحمل ذکر دې ، د بادشاه د خوب دوه حصې دی ، اوله حصه دا چه اووه غواگانې څربې دی ، او اووه غواگانې تېپې، خوارې دی ، نو دوئ هغه څر بې غواگانې اخوړلې لیکن دا تېپې غواگانې تکړه نشوې ، دویمه حصه ئی داده چه اوه وگی شنه دی ، او اوه وگی وچ دی ، او دا وچ وگی د شنو وگونه چاپیره شوی دی او د هغوئ رونق او خایست ئی ختم کړو ، درباریانو ته ئ اووئیل چه ددې خوب تعبیر ماته راکړئ ﴿ قَالُوٓا اَضْغٰثُ اَحْلَامٍ ﴾ نودوئ اووئیل چه دا پراگنده خوبونه خیالات تصورات دی ، صحیح خوب ندې ، نو د دې تعبیر نشته دې ، بادشاه به سیل چکر له تلې وی نو چرته به ئ غواگانې لیدلی وی او چرته به ئی گیاه لیدلی وی نو بیا ئی په خوب کښې دغه لیدلی دی، (اضغاث) جمع د ضغث ده ، د گیاه هغه مجموعې ته ویلې شی چه پکښې مختلفې گیاه وی اوچه شنه او هر قسم بوټی اود موټی نه زیات او گیدی نه کوم وی،او (احلام) هغه خیالی خوبونه دی چه سړې پریشانه کوی ﴿ وَمَا نَحْنُ ﴾ یعنی د داسې خیالی خوبونو تعبیر نه وی ، یا دامطلب دې چه مونږ په تعبیر د خوبونو کښې ماهر نه یو ، نو د دې خوب د صحیح تعبیر نه عاجزیو ، او د بادشاه دتسلی دپاره ئی اووئیل چه داسې معلومیږی چه تابه په ویخه چرته داسې تصور کړې وی ، یابه دې دغه شان څیزونه لیدلی وی، الله ﷻ دوئ د تعبیر د خوب نه عاجز کړل ، د دې دپاره چه دوئ یوسف ﷺ ته رجوع اوکړی ﴿وَقَالَ الَّذِیْ نَجَا ﴾ ددې نه مراد هغه ساقی دې . چه یوسف ﷺ او د ده پیغام ترینه هیر شوې وو او اوس ورته یاد شو، نو اراده ئی اوکړه چه دَ هغه ملاقات په خپله اوکړی

او تعبیر ترینه طلب کړی ﴿وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ﴾ یعنی یادئ شو روستو د ډیرې زمانې نه او دا جمله
معترضه ده او مقوله د (قال) دپاره داده چه ﴿أَنَا أُنَبِّئُكُم﴾ یعنی زه به تاسو ته د خوب تعبیر
راوړم خو تاسو ما اولیږئ د دې دپاره چه د جیل افسر ماته د ملاقات اجازت راکړی نو
هغه دی اولیږلو او د جیل افسر د ملاقات اجازت ورکړو، او ملاقات ئې اوشو، نو یوسف
ﷺ ته ئې ندا وکړه چه

يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ

ای یوسف ای ډیره رښتینیه تعبیر راکړه مونږ ته د دې خوب چه اوه ٧ غواګانې دی څربې خوری هغې لره

سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَّعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ

اوه ٧ غواګانې خوارې (ډنګرې) او اوه ٧ وږی شنه او نور وچ. لپاره د دې چه څه واپس لاړشم خلقو ته

لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا ٤

د دې لپاره چه هغوئ پوهه شی (په تعبیر د خوب) وه ویل یوسف چه کرونده به کوئ اوه ٧ کاله پرله پسې.

فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِي سُنبُلِهِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾

پس هغه چه لو کړئ تاسو پس پریږدئ به هغه په وږو کښې مګر لګ شان د هغې نه چه تاسو ئې خورئ

ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ

بیا به راشی روستو د دې نه اوه ٧ کلونه سخت. وبه خوری هغه ذخیره چه تاسو مخکښې جمع کړی دی د دغه کلونو لپاره

إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ

مګر لږ د هغې نه چه تاسو ئې د تخم لپاره ساتئ. بیا به راشی د دینه روستو داسې کال چه په هغې کښې به

يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾

باران ونه وشی په خلقو او په هغې کښې به میوې نچوړوی

﴿ يُوسُفُ ﴾ ای یا یوسف ،﴿أَيُّهَا الصِّدِّيقُ ﴾ د دینه معلومیږی چه د انبیاؤ صدق او دیانت د
خلقو په زړونو کښې مستحکم وی ﴿أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ ﴾ یعنی مونږ ته د دې خوب تعبیر بیان کړه

﴿لَعَلَّ﴾ لعلّ تعلیل دپاره دي یا دَ اُمید دپاره دي او لعل ئی خکه اوونیلو چه کیدي شی چه واپس نشی . یا خلق پوهه نشی ﴿يَعْلَمُونَ﴾ په تعبیر د خوب پوهه شی یا ستا صداقت اومرتبه اوپیژنی ﴿قَالَ تَزْرَعُونَ﴾ دوئ د دي تعبیر طلب کړی وو . لیکن یوسف ﷺ ورته تعبیر هم بنائی او بیا ورته تدبیر بنائی او بیا ورته تبشیر ورکوی . تعبیر دادي چه اوه څربې غواګانی اوود آباد کلونه دی اواوه شنه وګی د هغې پیداوار دي . او اوه خوارې غواګانې او وچ وګی د قحط کلونه دی چه په دې کښ به دَ آبادوکلونو پیداوار اوخوری . اوتدبیر ئ ورته دا اوخودلو چه ﴿تَزْرَعُونَ﴾ دا اخبار په معنی دَ امرسره دې. یعنی اوه کاله مسلسل زمیدارډ اوکړئ او غله محفوظ اوساتئ . او کومه غله چې ستاسود خوړلونه زیاته وی . نوهغه په وګو کښ پریږدئ . ددې دپاره چه سپګئی وغیره ئی خرابه نه کړی ﴿يَأْكُلْنَ﴾ دا اسناد مجازی دې خکه چه کلونه اکل نه کوی بلکه انسانان په کلونو کښ اکل کوی. په ﴿سَبْعَ سِنِينَ﴾ کښ د ﴿سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ﴾ او د ﴿وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ﴾ تعبیر ته اشاره ده ،سره د تدبیر نه ، او په ﴿سَبْعٌ شِدَادٌ﴾ کښ تعبیر د ﴿سَبْعٌ عِجَافٌ﴾ او د ﴿وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ﴾ تعبیر ته اشاره ده ، ﴿مِمَّا تُحْصِنُونَ﴾ یعنی هغه چه تاسو ئې محفوظ ساتئ ، د تخم دپاره ، او تبشیر دادې ﴿ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ﴾ او دا د بادشاه په خوب کښ نه وو. او دا تبشیر یا په ذریعه د وحی سره دې ،یا دا چه هر کله د قحط کلونه اووه دی . نو دې نه معلومه شوه چه ددینه بعد آباد کلونه رازی ، ﴿يُغَاثُ النَّاسُ﴾ دا یا د غوث نه مشتق دې یعنی د خلقوفریاد رسی به اوکړې شی، یا د غیث نه مشتق دې یعنی په خلقو باندې بارانِ رحمت اوشی . ﴿يَعْصِرُونَ﴾ عصر نچوړولواوجوس ویستلوته وائی معنی داشوه چه د انګورو نه به شیره او شراب او دا رنګه د زیتون او شرشم اوکونزلو به نه تیل اوباسی.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ
او وه ویل بادشاه [1] راولئ ماته دغه سړې. پس هرکله چه راغې ده ته أستاذې نو ده ورته وه ویل واپس لاړشه
إِلَىٰ رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ إِنَّ رَبِّي
مولی خپل ته پس تپوس وکړه د هغه نه څه دې حال د هغه ښځو چه پرې کړی ئ وؤ لاسونه خپل. بیشکه خما رب

[1] . نهم حال متعلق د ملاقات د بادشاه سره .

بِكَيْدِهِنَّ عَلِيْمٌ ۞ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ

دهغوئ په مکر باندې عالم دې وه ويل بادشاه ښځو ته څه واقعه وه ستاسو کله چه تاسو مطالبه کوله د يوسف نه

عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ

د نفس دهغه . وه ويل دوئ پاکي ده الله تعالى لره نه يو خبر شوى مونږ په ده باندې د هيڅ گناه، وه ويل ښځې د وزير

الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ؗ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۞

اوس ښکاره شو حق، ما مطالبه کړې وه د ده نه د نفس د ده او بيشکه دې خامخا د ريشتينو نه دې

ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّيْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ

(يوسف وائى چه) دا اهتمام مې څکه وکړو چه پوهه شى عزيز مصر چه ما خيانت ندې کړې د ده په غيبه

وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ ۞

او بيشکه الله تعالى نه کاميابوى مکر د خيانت کونکو

﴿وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖ﴾ دانهم حال دې، په دې کښې ديوسف ﷺ د صبر او تحمل بيان دې . بادشاه چه کله دا تعبير واورېده اوساقى ورته د يوسف ﷺ کمالات او محاسن هم بيان کړل نو د يوسف ﷺ ډېر معتقد شو ، او حکم ئې اوکړو چه يوسف دَ جيل نه آزاد کړئ ، اوماته ئې راولئ نوقاصد د بادشاه چه يوسف ته لاړو او د بادشاه پيغام ئې ورته واورولو ، نو يوسف ﷺ اوفر مائل چه څه دجيل نه فوراً نه اوځم ، د بادشاه او د نورو خلقو شك شبه دخيانت به په ما باندې وى ، اگر که په خوله نه وائى ، نو تر څو پورې چه د تمامو خلقو په مخکښې ځما براءت نه وى شوې نو تر هغې پورې زه د جيل نه بهر ته نه اوځم، نو بادشاه دې د دغه خزو نه ځما په باره کښې تپوس وکړى چه زما براءت ښکاره شى﴿مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ﴾ تهمت اگر که ټولو خزو نه وولگولې صرف امراءت العزيز لگولې وو، خو دلته يوسف دهغې ذکر اونه کړو ، حالانکه هغه اصل سبب دتهمت وه، بلکه د ﴿النِّسْوَةِ الّٰتِيْ﴾ ذکر ئې اوکړو دا د پاره درعايت دعزيز څکه چه يوسف ﷺ د هغه په کور کښې پرورش موندلې وو، د شرافت او مروت تقاضا داوه چه د هغه لحاظ اوساتلې شى ، او رسوا نه کړې شى، په بخارى او نورو کتابونو کښې

داحدیث مذکور دې : لولبثت فی السجن طولا مالبث لا جبتُ الداعی ، که چرې ما دومره طویل وقت په جیل کښ تیر کړې وې ،څومره چه یوسف ﷺ تیر کړې دې ، نو ما به فوراً اجابت د داعی کړې وې ، یعنی د یوسف ﷺ صبر او حلم ډیر زیات وو. نو **سوال** واردیږی چه د دې نه خو فضیلت ثابتیږی د یوسف ﷺ په رسول ﷺ باندی ، اکثر محدثینو دا **جواب** کړی دې . چه دا جزوی فضیلت دې ، او دنبی ﷺ فضیلت کلی دې ، او دجزوی فضیلت نه کلی فضیلت نه ثابتیږی . لکه دحضرت عمر ﷺ په باره کښ نبی ﷺ فرمایلی دی چه ای عمر! ته چه په کومه لاره او کوڅه باندې روان ئې نو شیطان په هغه کوڅه نشی تلې ، په بله لاره او کوڅه باندې ځی ، نودا یوجزوی فضیلت دې د عمر ﷺ، لیکن د دې نه دعمر ﷺ فضیلت کلی په ابوبکر ﷺ نه راځی ، او زمونږ شیوخ اساتذه د دې حدیث دا مطلب بیانوی چه ما به فورا اجابت د داعی کړې وې دپاره د دعوت د دین ، اود فائدی رسولو خپل امت ته ، او انتظار به مې نه وې کړی ځکه چه دتهمت احتمال نه وو﴿ قَالَ ﴾ بادشاه ښځې راجمع کړې او وې ویل ورته ﴿مَا خَطْبُكُنَّ ﴾ چه دا څه قصه وه، چه کله تاسو د یوسف ﷺ نه مطالبه اوکړه د هغه د نفس ﴿ قُلْنَ حَشَ ﴾ نوهغوئ اووئیل چه یوسف ﷺ پاك دې ، مونږ ته دهغه هیڅ قسم خیانت نه دې معلوم . ﴿قَالَتِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ ﴾ او امراءة العزیز زلیخا چه مدعیه وه ، او تهمت لګونکې وه هغې هم اقرار اوکړو د پاکئ د یوسف ﷺ په ډیرو وجوهو سره : اول په دې سره چه ﴿أَنَا رَاوَدتُّهُ عَن نَّفْسِهِ ﴾ دویم ﴿وَإِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴾ ، دریم ﴿ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ ﴾ ، بعض وائی چه دا مقوله د زلیخې ده . اومقصود ترینه دا دې چه په وخت د غائب والی دیوسف کښ ما د هغه په باره کښ هیڅ خیانت نه دې کړی ، په بهتان ویلو سره په هغه باندې، لیکن اکثرمفسرین وائی چه داکلام د یوسف ﷺ دې چه دتفتیش او تحقیق کولو نه زما مقصد د چا رسوا کول نه دی ، بلکه دامقصد مې دې چه عزیز مصر اوبادشاه په دې پوهه شی چه ماد عزیز مصرپه کور کښ خیانت نه دې کړې ، او الله ﷻ دخیانت کولو تدبیر نه کامیابوی ، او انجام ئې خراب وی ، د ماقبل او ما بعد کلام نه د دې تول تائید معلومیږی.

دولسمه پاره ختمه شوه ولله الحمد اولاً واخراً

وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِيۡ ۚ اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيۡ ؕ

او زه ـ کی نه وایم د خپل ځان بیشکه نفس ډیر فرمان کونکي دي د بدئ . مګر هغه نفس چه رحم وکړی به هغه باندی رب خما

اِنَّ رَبِّيۡ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۞ وَقَالَ الۡمَلِكُ ائۡتُوۡنِيۡ بِهٖۤ اَسۡتَخۡلِصۡهُ

ـــسکه خما رب ښنه کونکي . رحم کونکي دي او وه ویل بادشاه چه دي راولئ ما ته چه زه ئ مقرر کړم

لِنَفۡسِيۡ ۚ فَلَمَّا كَلَّمَهٗ قَالَ اِنَّكَ الۡيَوۡمَ

خاص د کار د خپل ځان لپاره . پس هرکله چه خبري ئ ورسره وکړي نو وه ویل بادشاه بیشکه ته د نن ورځي نه

لَدَيۡنَا مَكِيۡنٌ اَمِيۡنٌ ۞ قَالَ اجۡعَلۡنِيۡ عَلٰى خَزَآئِنِ الۡاَرۡضِ ۚ اِنِّيۡ

زموږ په نزد مرتبي والا امانت ګر ئي وه ویل یوسف مقررکړه ما لره په خزانو د زمکي د مصر بیشکه زه

حَفِيۡظٌ عَلِيۡمٌ ۞ وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوۡسُفَ فِي الۡاَرۡضِ ۚ

حفاظت کونکي او پوهه یم په تدبیر باندي او دغسي موږ قدرت او اختیار ورکړو یوسف ته په زمکي د مصر کښ

يَتَبَوَّاُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُ ؕ نُصِيۡبُ بِرَحۡمَتِنَا مَنۡ نَّشَآءُ

اسوګنه به ئ کوله په دي کښ چرته چه به ئ زړه غوښتله، رسوؤ موږ خپل رحمت هغه چا ته چه وغواړو

وَلَا نُضِيۡعُ اَجۡرَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۞ وَلَاَجۡرُ الۡاٰخِرَةِ خَيۡرٌ لِّلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَكَانُوۡا يَتَّقُوۡنَ ۞

او موږ نه ضائع کوؤ اجر د نیکی کونکو اوخامخا اجر د آخرت غوره دي هغه چا لره چه ایمان ئ راوړي وی او تقوی کوی

﴿وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِيۡ﴾ حضرت یوسف ﷺ د خپل برآءت دپاره ډیر اهتمام اوکړو . چه د جیل نه تر هغه وخته پوري نه راوته تر څوچه خزو دمصر دده دبراءت اقرار نه ووکړې . ددې نه عُجب خود پسندی معلومیده . اودا هم مذموم صفت دې . نو ددې وجې نه ئ دا کلام ذکر کړو، او خپله تواضع ئ ظاهره کړه. ځکه چې انبیاء ﷺ خپل عالی مقام او صفات د فخر په وجه نه ذکرکوی . بلکه تبلیغًا ئ ذکرکوی لکه نبی ﷺ فرمایلی دی ((انا سیدولد آدم ولا فخر)) یعنی دا خبره څه د فخر په وجه نه کوم بلکه د تبلیغ دپاره ئ کوم ﴿اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ﴾ دا تعلیل

د ماقبل دي يعنى د خپل نفس ، تبريه او تزكيه ځكه نه كوم چه نفس خو په خپله اماره بالسوء دي . اوكوم چه اماره بالسوء نه دي بلكه اصلاح ئ شوي ده. نوهغه په فضل او رحم د الله ﷻ شويده ، نو دنفس خپل څه كمال نشته چه تبريه او تزكيه ئ اوشى. او په دي آيت كښ اشاره ده چه نفس دصفاتوپه اعتبار سره درې قسمه دي : يو اماره بالسوء دي .دا نفس د عوامو دي . چه امر كوى انسان ته د ناجائز خواهشاتو اودويم لوامه دي چه په ګناه باندي خپل ځان ملامت كوى ، دي ته اشاره ده په ﴿غَفُورٌ﴾ سره او دريم هغه دي چه كمال اصلاح ئ شوې وى . او په فانى دنيا باندې مطمئن نه وى، بلكه په دائمى نعمتونو دآخرت او دالله په وعدو باندې ئ اطمينان وى ، لكه نفوس د انبياؤ صلحاؤ شو ، نودا نفس مطمئنه دي ﴿إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ﴾ (ما) عبارت دي د نفس نه او (ما) موصوله دې ، اوعائد د موصول محذوف دې ، نومعنى داشوه چه مګر هغه نفس چه په هغه باندي رحم كړې وى رب ځما په عصمت سره، لكه دنفس دانبياء يا (ما) مصدريه دي ، او وقت مقدر دې ، اى الا وقت رحمة ربى ، ﴿وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ﴾ ، بادشاه ته چي كله د واقعي حقيقت واضح شو، نوحكم ئ اوكړو ، چه يوسف ؑ ماته راولئ ، چه زه ئ خپل مشير خاص جوړ كړم ، يوسف ؑ چه كله راغې ، او بالمشافه خبرې اترې اوشوې نو بادشاه ته د ده د صلاحيتونو اندازه اوشوه ، نواوې ونيل چه ته مونږ سره لوئ معزز اومعتمد ئې ، مفسرينو ويلى دى چه يوسف ؑ غسل اوكړو اونوې كپړې ئې واغوستې او د جيل والو دپاره ئى دعا اوكړه ، او تسلى ئى ورله وركړه چه زه به بادشاه ته ستاسو د آزادئ سفارش اوكړم ، او دَ هغوئ نه رخصت شو ، نوچه د بادشاه مخې ته راغې نوسلام ئ ورته په عربئ ژبه كښ اوكړو، اودعا ئ ورته په عبرانى كښ اوكړه نو بادشاه په دې دواړو ژبو نه پوهيدلو ، نوتپوس ئ اوكړو، نويوسف ؑ اويل چه دا يوه ژبه يعنى عربى زما د نيكه (دپلار تره) اسماعيل ؑ ژبه ده ، اودابله يعنى عبرانى زما د آباؤ ژبه ده ، او بادشاه په اوياؤ ۷۰ ژبو يعنى لغاتو باندې پوهيدلو نوپه كومه ژبه چې به ئى د يوسف ؑ سره خبرې كولې نو دوئ به جواب وركولو . بيا بادشاه يوسف ؑ ته عرض اوكړو چه زه تاته خپل خوب بالمشافه بيانول غواړم ، نويوسف ؑ هغه ته اووئيل چه ستا خوب به زه تاته په تفصيل باندې اوايم ، او داسې تفصيل ئ بيان كړو چه تر اوسه پورې بادشاه چاته نه وؤ ويلې. بادشاه حيران شو ، اوديوسف ؑ نه ئ مشوره طلب كړه ، نويوسف ؑ اووئيل چه اووه كاله دې

کرونده اوکړې شی، اوغله دې محفوظه کړې شی، بادشاه اووئيل چه د دې لوئ کار انتظام به څه رنګه اوکړې شی، نويوسف ﷺ اووئيل ﴿ قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ ﴾ زه دا کار کولې شم، ځکه چه زه حفيظ يم . سرکاری مال نه ضائع کوم ، اوبې ضرورته ئ نه لګوم اوعليم يم په مصارفو، په تدبيرونو، د وزيرخزانه دپاره دوه څيزونه ضروری وی يوامانت، ديانت اوبل واقفيت په مصارفو او پوهه په تدبيرونو، نويوسف ﷺوائی چه دا دواړه صفتونه په ما کښې موجود دی ، بادشاه اګر که ديوسف ﷺمعتقد شوې وو، ليکن بياهم د تجربې دپاره ئ يو کال خپل ځان سره د معززميلمه په حيثيت اوساتلو ، او يوکال بعد ئ ورته وزارت خزانه بلکه د ټول مملکت امورحواله کړل ، مفسرينو ليکلی دی (کمافي شربيني وغيره) چه بادشاه د يو کال نه بعد يوسف ﷺ ته خپل تاج اوګوتئ (شاهی مهر) ورکړل، او خپله توره ئی ورته حواله کړه . او تخت ئ ورته حواله کړو چه هيرو اوزرونه جوړوو، اوملغلرې، ياقوت پرې لګولې شوی وو. چه طول ئ ديرش ګزه وو، او عرض ئ لس ګزه وو، نويوسف ﷺ اويل چه دتخت په ذريعې سره به زه د ملك استحکام راولم اوپه مهر سره به زه تدبير داموروکوم ،اوهر چه تاج دې ، نودا ندې لباس زما ، اونه د آباؤ زما ، بادشاه يوسف ﷺ ته اووئيل چه بهر شه ، چه بهر شو نو مخ ئ د سپوږمئ پشان پرقيده او په شاهی تخت جلوه افروز شو، او بادشاهان وزيران ئ تابع شول ، محمد بن اسحاق په روايت د ابن زيد سره نقل کړی دی چه د مصر دبادشاه ډيرې خزانې وې نوټولې خزانې او ټول امور دمملکت يی يوسف ﷺ ته حواله کړل، او عزيز مصر (قطفير) مړشو، او د هغه د بی بی زليخې نيکاح ئ د يوسف ﷺ سره اوکړه ، او يوسف ﷺ دې لره باکره اوموندله، ځکه چه عزيز مصر نامرد وو، اود يوسف ﷺ د دې نه ، دوه نارينه بچی پيداشول، ديونوم افرائيم ، اود بل نوم ميشا وو، داتاريخی روايت دې چه شربينی ،کشاف ،بغوی، وغيره هم په تفصيل سره ذکر کړې دې ، اودا هم روايت دې . چه يوسف ﷺ به ځان په روټئ باندې نه مړولو، نوچاورته اووئيل چه ته ولې په مړه خيټه روټئ نه خورې، اوحال داچه تاسره د ملك خزانې دی ، نو دوئ اووئيل چه که زه خپل ځان موړ کړم نود غريبانو د لوږې احساس به راته نه کيږي او باورچی ته ئ حکم اوکړو چه ماته صرف د غرمې په وخت د نيمې خيټې روټئ راکوئ ، د دې دپاره چه ماته احساس وی د غرباؤ

فائده (۱) : اوس يوسف ﷺ چه ﴿إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ﴾ وائ نومقصود ترينه تزکيه د خپل نفس نده ، او د (فلاتزکوا انفسهم) ماتحت ندی داخل بلکه مقصود د ينه خبرول د بادشاه دی

د خپل فضل اوکمال نه ، د پاره د نفع رسولو مخلوق نه . او د دې نه معلومه شوه چه نبی په ملکی سیاست باندې د ټولو خلقونه زیات پوهیږی

فایده (۲): ﴿اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ﴾ طلب دعهدې دې . او حال دا چه په حدیث کښې د دې نه منع راغلې ده، نبی ﷺ عبدالرحمٰن ابن سمره ته اوفرمائل چه د امارت او عهدې طلب مه کوه، اوکه تا داسې اوکړل ، نو د الله د طرف نه به ستا تائید نه وی . او که بغیر د طلب نه تاته امارت او عهده ملاوشی، نو دالله د طرف نه به تائید او اعانت وی. دغه شان په بل روایت کښې دی (انا لن نستعمل علی عملنا من اراده) یعنی څوك چه په خپله طلب اوکړی . نو هغه ته مونږ عهده نه ورکوو.

جواب: چرته چه دامعلومه شی سری ته چه دا عهده د نا اهل او خود غرض په لاس ورځی او د الله ﷻ د مخلوق سره بې انصافی کوی او دَ خلقو حقوق ضائع کیږي او د خپل ځان په باره کښې ئې دا امید وی چه څه دا عهده په صحیح طریقې سره سمبالولې شم ، نوپه دې صورت کښې طلب د عهدې جائز بلکه واجب دې ، لیکن د جاه او مال د طلب دپاره جائز نه دې . بلکه د اللهﷻ دمخلوق د خدمت په جذبه او اراده سره جائز بلکه واجب دې ، د صحابو کرامو چې کوم اختلافات راغلی دی، لکه د علی ﷺ اومعاویه ﷺ یا دحضرت حسین ﷺ یا د عبدالله بن زبیر نو دا ټول په دې باندې مبنی وو چه هر یو به دا خیال کولو چه د دې وقت فرائض د خلافت زه د خپل مقابل نه زیات په ښې طریقې سره پوره کولې شم ، د جاه او مال طلب د دوئ مقصود نه وو

فایده (۳): یوسف ﷺ دکافر بادشاه ملازمت او وزارت قبول کړو حال دا چه د (فلن اکون ظهیرا للمجرمین) نه معلومیږی چه د کافر ملازمت ناجائز دې .

مجاهد ﷺ وایی بادشاه د مصر په دغه وقت کښې مسلمان شوې وو. او عام مفسرین وائی چه د کافر بادشاه ملازمت په دې شرط سره جائزدې چه په خلاف شرع کار اوقانون جاری کولو باندې مجبوره کول نه کوی ځکه چې په دې صورة کښې د مجر م تعاون په جرم او ګناه کښې نه رازی او یوسف ﷺ ته څه مکمل اختیار حاصل وو.

﴿وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا﴾ یعنی لکه چې څرنګه مونږ یوسف ﷺ د کوهی نه راویستلو اوبیا مو دجیل نه آزاد کړو ، نو د دې نعمت پشان مونږ ده ته بل نعمت هم ورکړو چه قوت او اقتدار دې په زمکه د مصر کښې ﴿يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ﴾ استوګنه ئې کوله چرته چې به ئې زړه غوختل .

خکه چه ټول مملکت د ده په تصرف کښ وو ﴿بِرَحْمَتِنَا﴾ بادشاهي او مالداري چه ددين دپاره استعماليږي نو دا هم رحمت دي ﴿وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾ مومن ته الله دتقوى اوايمان په وجه دنيا کښ خوشحالي، حيات طيبه ورکوي، ليکن دَ دنيوي نعمت ورکولوپه وجه ئ دآخرت درجانو کښ کموالي نه راځي ، لکه د حديث مفهوم دي ، چه الله ﷻ په دې وجه د مومن نيکي نه کموي چه په دنياکښ ئې ورله نعمتونه ورکړي دي ، اوکافر چه څه نيکي کړې وي . لکه صله رحمي وغيره. نو دهغې بدله ورله په دنياکښ پوره پوره ورکوي ، او په آخرت کښ ورله هيڅ نه وي ، نو ددې وجې نه ﴿وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ﴾ ذکر شو، روى مسلم ان الله لايظلم المؤمن حسنة يعطى بها فى الدنيا ويثاب عليها فى الأخرة واما الكافر فيطعم بحسنته فى الدنيا حتى اذا افضى الى الآخرة لم تكن له حسنة يعطى بها خيرًا.

﴿آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾ يعني داخرت اجر صرف په ايمان او تقوى سره حاصليږي .

وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ ۝ وَلَمَّا
او راغلل رونړه د يوسف پس داخل شو په هغه پس هغه وپيژندل دوئ لره او دوئ هغه نه پيژندلو. اوهركله
جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَكُمْ مِنْ أَبِيكُمْ
چه تيار کړو هغه دوئ لره سامان د سفر د دوئ نو وې ويل چه راولئ ما ته رور ستاسو چه ستاسو د پلار نه دې ،
أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ ۝ فَإِنْ لَمْ تَأْتُونِي بِهِ
آيا تاسو نه ګورئ چه څه پوره درکوم راشن او زه بهترين مهمان نواز يم. پس كه تاسو رانه وستلو هغه
فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِي وَلَا تَقْرَبُونِ ۝ قَالُوا سَنُرَاوِدُ
نونه به وى طعام راشن تاسو لره ما سره اونه به ما ته نزدې كيږئ. وه ويل دوئ زر دې چه مونږ به طلب وكړو
عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ ۝
دهغه ، د پلار دَهغه نه او بيشكه مونږ دا كار كونكي يو

﴿وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ﴾ دالسم حال دې ، په دې کښ بيان دراتلو د رونړو د يوسف دې. . ه

كله چې يوسف ﷺ په مصر باندې خودمختار شو، نو اوه كاله ئې ملك خه آباد كړو، او د غلې زخيره ئې جمع كړه ، بيا اوه كاله قحط شروع شو،او دَ قحط اثر د مصر نه علاوه كنعان اوفلسطين ته اورسيدلو ، يوسف ﷺ تقسيم د غلې شروع كړو ، او فی كس چه حاضر به ووبو بار د اوښ غله به ئې په ډير مناسب قيمت سره وركوله ، نو دا خبر يعقوب ﷺ ته اورسيده، نوهغه خپل لس (۱۰) ځامن راوليږل اوهر كله چه يوسف ﷺ ته راغلل نو يوسف اوپيژندل، ځكه چه د دوئ په هيئت، وضع، قطع كښې ډير تغير نه وو راغلې. او يوسف د دوئ نه د نوم نسب اومقام تپوسونه هم اوكړل. او دخپل پلار او ټولې كورنئ حالات ئې ترينه معلوم كړل، اودوئ يوسف نه پيژندلو، ځكه چه يوسف ددوئ نه د جداكيدو په وخت كښې وړوكې وو، نوپه هيئت كښې ئې تغير ډير راغلې وو، او ددوئ داگمان هم نه وَو چه يوسف ﷺ به ژوندې وی، او دوئ دا جرأت هم نشو كولې چه د نوم نسب تپوس ئې ترينه كړې وې ، نو د دې وجې نه دوئ يوسف ﷺ اونه پيژندلو، ﴿وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ﴾ جهاز سامان دسفرته وائی، هر كله چې يوسف ﷺ دوئ له غله اونور ضروريات د سفر برابر كړل نو دوئ طلب اوكړو چه زمونږ د غائب رور حصه هم مونږ ته راكړه، نويوسف ﷺ اوفرمائل چه غائب ته حصه نه ملاويږي ، هغه حاضر كړئ نو حصه به ورته ملاؤ شی، او مفسرينوپه روايت دِ سدی ﷺ سره داهم ليكلی دی چه رونړه د يوسف ﷺ هر كله راغلل، نويوسف خو اوپيژندل ، ليكن د مزيد اطمينان دپاره ئې ترينه تفتيش شروع كړو، ورته ئې اووئيل چه تاسو خو د مصر خلق نه يئ اوستاسو ژبه عبرانی ده ، نوتاسو څرنگه دلته راغلی يئ ، نو دوئ اووئيل چه زمونږ په ملك كښې قحط دې، او مونږ ستا صفت اوريدلې وو، نو د غلې وړلو دپاره راغلی يو، يوسف دوئ ته اووئيل چه تاسو چرته زمونږ د دشمن دپاره جاسوسان نه يئ ، دوئ اووئيل معاذالله مونږ د پيغمبر اولاد يو، يعني يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم ﷺ، نو يوسف ﷺ ترينه بيا تپوس اوكړوچه تاسو څو رونړه يئ نو دوئ تفصيل بيان كړو چه زمونږ يو رور په وړوكوالی كښې په ځنگل كښې لاپته شوې دې ، او زمونږ دپلار هغه سره ډير محبت وو. او د تسلی دپاره ئې دهغه بل حقيقی رور دځان سره حصار كړې دې ، اوباقی لس رونړه مونږ د غلې دپاره راغلی يو، يوسف دوئ په شاهی مهمان خانه كښې ديره كړل او ډير اعزاز او اكرام ئې ورله اوكړو، او د يوسف ﷺ خواهش وو چه دوئ دوباره راشی ، او بل رور د ځان سره راولی نو دوئ دپاره ئې دوه كارونه اوكړل ، يو ترغيب اوترهيب اوبل دا چه د دوئ رقم ئې په

خفیه طورسره واپس کړو، ترغیب دا چه ﴿اَلَا تَرَوْنَ اَنِّیٓ اُوْفِی الْكَیْلَ﴾ یعنی غله دانه هم پوره ورکوم اومهمان نوازی هم کوم ، او ترهیب دا دي چه ﴿فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِیْ بِهٖ﴾ که تاسو هغه بل رانه وستلو نو بیا به تاسو ته غله نشی درکولې ، او نه به ستاسو اعزاز او اکرام وی. ښکه چې ماته به معلومه شی چه تاسو دروغ ویلیدی، نو دوئ اووئیل ﴿سَنُرَاوِدُ عَنْهُ اَبَاهُ﴾ یعنی د پلار نه هغه جدا کول اګر که مشکل دی لیکن مونږ به کوشش کوو چه په څه طریقې سره ئ پلار راضی کړواو رور د ځان سره راولوو

وَقَالَ لِفِتْیٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ فِیْ رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ یَعْرِفُوْنَهَآ

او وه ویل یوسف خپلو نوکرانو ته کیږدئ د دوئ قیمت ادا کړې شوې په سامان د دوئ کښ د دې لپاره چه دوئ ئ وپیژني

اِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓی اَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ۝ فَلَمَّا رَجَعُوْٓا اِلٰٓی اَبِیْهِمْ

کله چه دوئ واپس لاړشی خپلوانوته شاید چه دوئ واپس راشی. پس هرکله چه دوئ واپس ورسیدل پلار ته

قَالُوْا یٰٓاَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَیْلُ فَاَرْسِلْ مَعَنَآ اَخَانَا

نو وه ویل دوئ اې پلاره زمونږ ! منع کړې شویدې زمونږ نه راشن (په آینده کښ) پس ولیږه زمونږ سره زمونږ دا رور

نَكْتَلْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝ قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَیْهِ

چه راشن راوړو او بیشکه مونږ به د ده خامخا حفاظت کوؤ. وه ویل ده چه اعتمادیان نه ګرځوم تاسو پده باندې

اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓی اَخِیْهِ مِنْ قَبْلُ ؕ فَاللّٰهُ خَیْرٌ حٰفِظًا ۪

مګر په شان دهغې چه اعتمادیان مې ګرځولی وئ تاسو په رور د ده ، مخکښې لدې نه، پس الله تعالی ډیر ښه حفاظت کونکې دې

وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ۝ وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا

او هغه زیات مهربانی کونکې دې د نورو مهربانی کونکو نه اوهرکله چه دوئ پرانستل سامانونه خپل نو وه ئ موندلو

بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَیْهِمْ ؕ قَالُوْا یٰٓاَبَانَا مَا نَبْغِیْ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا

قیمت خپل چه واپس کړې شوې وؤ دوئ ته، وه ویل دوئ : اې پلاره زمونږ ! مونږ لانور څه غواړو ، دا زمونږ قیمت دې

رُدَّتْ	اِلَيْنَا	ۚ	وَنَمِيْرُ	اَهْلَنَا	وَنَحْفَظُ	اَخَانَا	وَنَزْدَادُ
چه واپس کړې شوې دې مونږ ته، او غله به راوړو مونږ خپل اهل ته او حفاظت به کوو د خپل رور او زيات به راوړو							
كَيْلَ بَعِيْرٍ ۭ ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ۝							
يو بار د اوښ، دا (چه مونږ راوړي دي) طعام لږ دي							

﴿ وَقَالَ لِفِتْيٰنِهِ اجْعَلُوْا ﴾ دادويم تدبير دې چه يوسف ﷺ نوکرانو ته اووئيل د دوئ هغه رقم د دوئ په بارونو کښې په خفيه طور باندې کيدئ، د دې دپاره چه دوئ بيا واپس راشي مفسرينو په دې کښې يوڅو احتمالات ويلې دی. يودا چه يوسف ﷺ د دوئ نه قيمت اخستل نامناسب اوګڼړل اودا خيال ئ اوکړو چه دا قيمت به څه سرکاری خزانې ته د خپل طرف نه ورکړم، دويم دا چه کيدې شی چه کور کښې د دوئ قيمت نه وی نوځکه ئ واپس کړو، دريم دا چه دا قيمت د حکومت مصر د خزانې امانت دې نو دوئ چه دا اوينی نو خامخا به ئ واپس کوی، باقی دا سوال چه يوسف ﷺ بادشاه شو او د خبر ليږلو ذرايع ورسره موجود وؤ نو ولې ئ خپل پلار ته خبر نه کولو، حالانکه هغه په دومره ډير تکليف او غم کښې وو چه د سترګو نظر ئ په ژړاسره ضايع شوې وو، د دې جواب کښې تفسير قرطبي اونورو حضراتو داروايت ذکر کړې دې چه الله په ذريعې د وحی سره يوسف منع کړې وو، دخبرليږلونه، او د الله په هر کار کښې بيشماره حکمتونه وی نو يو داهم کيدې شی چه دَ امتحان او ازمائش تکميل اوشی، والله اعلم.

﴿ فَلَمَّا رَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْهِمْ ﴾ څامن د يعقوب ﷺ چه کله کور ته واپس شو نو هغه ترينه کارګزاری طلب کړه، نو دوئ اووئيل چه عزيز مصر (يوسف) زمونږ ډير اعزاز او اکرام اوکړو او غله ئی هم راکړه مګر د بنيامين ئی نه ده راکړې، بلکه دهغه حصه ئ د آينده دپاره منع کړې ده. ترڅو چه دې په خپله نوی حاضر شوې، نو د ددې وجې نه د دوباره غلې راوړلو دپاره ته دې مونږ سره اوليږه.

چه مونږ غله راوړو اومونږ به د ده حفاظت خامخا کوو ﴿ مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ ﴾ دامنع مشروطه ده په نه راوستلو د رور پورې ﴿ نَكْتَلْ ﴾ صيغه د جمع متکلم ئ ځکه ذکر کړه چه کيل د ټولو رونړو مشروط وو په حاضرولو د رور پورې، ﴿ قَالَ ﴾ يعقوب ﷺ، اووئيل ﴿ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ ﴾ (هل) د استفهام انکاری دپاره دې، يعنی څه تاسو اعتماديان نه ګرزوم ﴿ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ ﴾ ای الا اِءتمانا

مثل اعتماد ایاکم ﴿ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبۡلُ ﴾ یعنی تاسو د یوسف ﷺ په باره کښې هم ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ ویلی وو. او بیا خو مو وعده خلافی کړې وه. نو په تاسو زما اعتماد نشته چه ستاسو په حفاظت کښې بې تاسو سره اولیږم بلکه د الله حفاظت کښې بې لیږم، ځکه چه هغه بهترین حفاظت کونکې دې، د دې آیت مقصد دادې چه یعقوب ﷺ ته د دوئ مطالبه منل نه وه خوخه، لیکن د ضروت دوجې نه ئې اومنله. هغه دا چه که دې اونه لیږم، نو ټول خاندان به د لوږې نه هلاك شي. او که اوېې لیږم نو رونړه به دده سره دومره ډیر حسد نه کوی، ځومره چه ئې د یوسف سره حسد وو. نوغالب ګمان دې. چه صحیح سالم واپس شي، او که بالفرض دابوهلاك شي نو باقي خاندان خو به بچ شي ﴿ فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗا ﴾ (حافظًا) تمیز دې لکه لله دره فارسًا، یعنی الله ډیر خه دې په جهت د حفاظت کونکی سره، یعنی ډیر خه حفاظت کونکې دې.

﴿ وَلَمَّا فَتَحُواْ مَتَٰعَهُمۡ ﴾ دامخکښې ګفتګو دسامان د کلاولو نه قبل وه، او هر کله چه سامان ئې کلاو کړو، نودوئ اوویل ﴿ مَا نَبۡغِيۖ ﴾ د متاع نه مراد غله ده یاظروف دی او د بضاعة نه مراد قیمت د غلې دې ﴿ مَا نَبۡغِيۖ ﴾ نوروخه غوارو مونږ، مونږ ته قیمت د غلې واپس کړې شویدې، دوئ ته دا معلومه شوه چه قیمت ئې مونږ ته د احسان په طریقه واپس کړې دې، نوقیمت یعنی ثمن مونږسره موجود دې اوغلې ته خو ضرورت دې، نو چه دا رور زمونږ سره لاړشي، نومونږ به خپل اهل ته طعام راوړو اودرورحفاظت به کوو اویو باربه دغلې زیات راوړو ﴿ ذَٰلِكَ كَيۡلٞ يَسِيرٞ ﴾ د دې دوه ترجمې دی، یو دا چه غله په کم قیمت ملاویږی نو راوړل ئې پکار دی، دویمه، دا غله چه مونږ راوړې ده دا لګه ده زر به ختمه شي، نوځکه بیا تلل پکار دی.

فائده لفظ د کیل په څلورو معنو سره راځی، یو په معنی د اوګی سره، دویم په معنی دغلې سره، لکه په دې آیت کښې، دریم: بار، کیل بَعِیْر، څلورم ،جوك، اوفی الکیل.

قَالَ لَنۡ أُرۡسِلَهُۥ مَعَكُمۡ حَتَّىٰ تُؤۡتُونِ مَوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأۡتُنَّنِي بِهِۦٓ
وه ویل یعقوب هرګز نه لیږم دې تاسو سره تر دې چه راکړئ ما ته کلکه وعده د الله تعالی چه ضرور به دې راولئ ما ته
إِلَّآ أَن يُحَاطَ بِكُمۡۖ فَلَمَّآ ءَاتَوۡهُ مَوۡثِقَهُمۡ قَالَ ٱللَّهُ
مګر که راګیر کړې شوئ تاسو، پس هرکله چه دوئ ورکړه هغه ته پخه وعده، وه ویل هغه چه الله تعالی

عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿۶۶﴾ وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا

په هغې وینا چه مونږ یې وایو نګهبان دې وه ویل ده اې بچو خما ! مه داخلیږئ د یوې دروازې نه او داخلیږئ

مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَمَاۤ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ

د جدا جدا دروازو نه، او زه نشم دفع کولې ستاسې نه د تقدیر د الله تعالی نه هیڅ شې ، ندې حکم (واك ، اختیار)

اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۶۷﴾

مګر خاص الله تعالی لره دې ، په هغه خما توکل دې او خاص په هغه باندې دې توکل وکړی توکل کونکی

وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ

او هرکله چه دوئ داخل شو [1] دهغه ځائ نه چه امر کړې وۀ دوئ ته پلار د دوئ، نه وۀ هغه چه دفع کړې ئې وې د دوئ نه

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً فِيْ نَفْسِ يَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ؕ وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ

دتقدیر دالله تعالی نه څه شې، مګر یو ارمان وۀ په زړه د یعقوب کښې چه پوره ئې کړو، بیشکه دې خامخا خاوند دعلم وۀ

لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾

د دې وجه نه چه علم ورکړې وۀ مونږ هغه ته لیکن اکثر خلق نه پوهیږی.

﴿ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ ﴾ یعقوب عليه السلام د خپلو ځامنو نه مضبوطه وعده واغستله چه دې به خامخا واپس راولئ دا ظاهری اسباب وو، او بیا ئی اظهار د اعتماد وکړو ، په الله ﷻ باندې او دا حقیقت د توکل دې ، او د دې حکم دې هر چاته ﴿ اِلَّاۤ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ﴾ یعنی که تاسو ټول په تکلیف او بلاء کښې راګیر شئ نو پروا نشته که بنیامین تاسو سره ګیر شی ، لیکن که تاسو سالم یئ او صرف بنیامین راګیر شی نودا څه نه منم ﴿ وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ ﴾ هر کله چه دوئ مصر ته دتلو اراده اوکړه ، نویعقوب عليه السلام ورته اووئیل چه تاسو مصر ته قریب شئ نو متفرق داخلیږئ او په یوه دروازه مه داخلیږئ، په دې کښې دوه حکمتونه دی : یو دا چه مصر

۱ - یرولسم ۱۱ حال

والا حسد اونكړی چه دوئ زمونږ توله غله خلاصه كړه، اودويمه دا چه نظربد په دوئ اونه لږی. يعقوب ﷺ اول ځل دوئ ته دا تدبير نه وو خودلې، ځكه چه په وړومبی ځل خو دوئ د عامو خلقوپه شان په غيرد څه امتيازی شان نه داخل شوی وو، اودا دويم واري خلقو پيژندلی وو. او د يوسف ﷺ په دعوت سره مصر ته په امتيازی شان سره داخليدل، او بل دا چه اول وار ورسره بنيامين نه وو، او دويم وار ورسره وو، اويعقوب ﷺ د يوسف ﷺ نه بعد د ده سره محبت زيات وو. نود دې وجه نه ئی اهتمام وكړو چه جداجدا داخل شئ.

فائده د بد نظری په باره كښ احاديث په كثرت سره راغليدی، په يو روايت كښ دی، (العين حق) يعنی نظرِ بد حقيقت دې وهم پرستی نده، او په بل روايت كښ دی (العين حق ولوكان شيئٌ سابق القدر لسبقته العين) يعنی نظر حق دې، اوكه څه شې د تقدير نه مخكښ كيدې شوې نو نظر به ترينه مخكښ شوې وو، ليكن د تقدير نه څه شې نشی مخكښ كيدې، او په بل روايت كښ دی (ان العين لتدخل الجمل القدر والرجل القبر) يعنی بدنظر اوښ ديګچی ته داخلوې او انسان قبر ته رسوی، او د چاچې نظر لګی نوهغوئ دې څه څيز ته دعجب په نظر نه ګوری، يا دې دالله ذكر كوی، ماشآء الله لاقوة الابالله، لاحول ولا قوة الابالله دې وائی، او په چاچه نظر لګيدلې وی، نو د هغه دپاره شرعی دمونه او طريقې دی، معوذتين (يعنی آخری دوه قُل) او اعيذك بكلمات الله التامة من كل شيطان وهامة ومن كل عين لامة، دحسن بصری رحمه الله نه منقول دی چه ﴿فَاجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ﴾ تر آخره پورې دنظر بد علاج دې، او يوه طريقه په حديث د مسلم كښ (رواه مسلم) (واذا استُغسلتُم فاغسلو) راغليده چه د هغې طريقه علماؤ دا خودلې ده چه لاسونه څنګلې او خپې، زنګونونه داخل الازار يعنی د لنګ يا د پرتوګ هغه اندرونی حصه چه د بدن سره لګيدلې وی دا اوينځلې شی. او اوبه ئ په معيون يعنی په هغه چاچه نظر لګيدلې وی په هغه واچولې شی. مفسرينو ويلی دی چه د نظر حقيقت دادې چه د عائن په نفس كښ خبيث مضر جراثيم وی، او ستركو د شعاع په ذريعه سره هغه معيون ته ولګی، نوبيمار شی، امام رازی او نور محققين وائی چه تاثير څلور قسمه دې: **اول**: تاثير د جسمانی په جسمانی كښ لكه د زهرويا د دوائی تاثير په بدن كښ، **دويم**: تاثير د روحانی په روحانی كښ لكه دَ صحيح مرشد توجه په نفس د مريد كښ اثر كوی، **دريم**: تاثير د روحانی په جسمانی كښ لكه نظر بد

یا سحر اثر په جسم کښې کوی ، خلورم : تاثیر د جسمانی په روحانی کښې لکه تاثیر د صور حسنو په نفس دَ انسان کښې چه سړي یو ښائسته صورت ته اوګوری نو د هغه محبت ئې په زړه کښې پیدا شی، یا په لیدلو د قبیح څیز سره د هغې نفرت د هغه په زړه کښې راشی . او تاثیر د رقص او د ګانو په بعض نفوسو کښې ، داهم د دې قبیلې نه دي . او دا رنګه تاثیر د بیان لکه په حدیث کښې دی چه ان من البیان لسحرًا .

﴿وَمَآ أُغۡنِي عَنكُم﴾ یعني ځما په دې تدبیر سره تقدیر نه دفع کیږی، البته تدبیر کول د الله ﷻ حکم دې ، نو تدبیر پکار دې ، لیکن اعتماد به صرف د الله ﷻ په ذات وی . ګویا که یعقوب ﷺ خپلو ځامنو ته اووئیل چه زما په شان تاسو هم اعتماد د الله په حفاظت کوئ ﴿إِنِ ٱلۡحُكۡمُ﴾ حکم تکوینی او تشریعی دواړه خاص الله ﷻ لره دی ﴿عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ﴾ د اسبابو اختیارولو نه بعد توکل ذکر شو، نو معلومه شوه چه توکل ترک د اسبابو ته نه وائی .

﴿وَلَمَّا دَخَلُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَمَرَهُمۡ أَبُوهُم﴾ دا یوولسم حال دې او جواب د (لما) محذوف دې (ای وقع ما قضی الله الا حاجةً) ، الاَّ په معنی د لکن سره دې او د حاجةً نه قبل فعل محذوف دې چه اظهر دې او (قضاها) په معنی د اظهر سره تفسیر د دغه محذوف فعل دې او دحاجت نه مراد شفقت دې په اولاد باندې، ﴿مَّا كَانَ يُغۡنِي﴾ یعقوب ﷺ ویلی وو ﴿وَمَآ أُغۡنِي عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍ﴾ نو الله د ده تصدیق اوکړو چه ﴿مَّا كَانَ يُغۡنِي﴾ اشاره ده د یته چه دغه کلام ئې تواضعًا نه وو ویلې ، بلکه حقیقت وو، چه یعقوب ﷺ د دوئ نه تقدیر دفع نه کړو دوئ اګر که د نظر بد نه بچ شو، لیکن تقدیر دفع نه شو، او بنیامین د غلا په الزام کښې اونیولې شو﴿وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلۡمٍ﴾ یعقوب ﷺ تدبیر هم اوکړو او اعتماد ئې په تقدیر اوکړو نو الله د ده صفت بیان کړو چه دې د لوئ علم خاوند وو. څوك چه په تقدیر یقین لری او اسباب هم په استعمال کښې راولی نو دا د علم خاوند دې ، او څوك چه صرف په اسبابو تکیه اوکړی او د تقدیر نه انکار اوکړی یا فقط تقدیر منی او اسباب معطل کړی نو دا بې علمه وی، عالم عارف تقدیر او تدبیر دواړه جمع کوی .

وَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَخَاهُۖ قَالَ إِنِّيٓ أَنَا۠ أَخُوكَ
اوهرکله چه دوئ داخل شو په یوسف باندې د خپل ځان سره ئې یوځائ کړو خپل رور ، وې ویل هغه ته بیشکه زه ستا رور یم

فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۞ فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ
بس مه خفه كيږه په هغه كارونو چه دوئ كول پس هركله چه تيار ئ كړو دوئ لره سامان د سفر د دوئ نو كيښودلو ئ

السِّقَايَةَ فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ۞
جام د اوبو څكلو په بار د رور خپل كښ، بيا اعلان وكړو يو اعلان كونكي : اې قافلې والو بيشكه تاسو غلاګر يئ

﴿ وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ ﴾ هر كله چه دَ يوسف ﷺ رونړه دوباره مصر ته راغلل نو دوئ عزيز مصر (يوسف) ته اويل چه مونږ ستا د حكم موافق كشر رور د ځان سره راوستې دې . يوسف د دوئ اكرام اواعزاز د مخكښ نه هم زيات اوكړو ، اوپه يو روايت كښ دى چه دوئ د يعقوب ﷺ سلام اوپيغام يوسف ﷺ ته اورسولونوهغه ډير خوشحاله شو ، او د دوئ دپاره ئ د يو لوئ دعوت بندوبست اوكړو ، او دوه دوه كسان به ئ يوځائ كينول نو بنيامين يواځې پاتې شو . نويوسف ﷺ ده لره د خپل ځان سره كينولو ، نو د بنيامين عزت زيات شو ، چه د بادشاه سره ورته د طعام خوړلو موقع ملاؤشوه ، بيا دغه شان دوه دوه رونړه ئ په يوه كمره كښ سملاستو دپاره مقرر كړل ، نو بنيامين يواځې پاتې شو ، يوسف ﷺ د ځان سره په كمره كښ پاتې كړو ، نوپه دې كښ هم د ده اعزاز زيات شو ، او دا معنى د دې قول د ﴿ اٰوٰى اِلَيْهِ اَخَاهُ ﴾ اوبيا تخليه كښ يوسف د ده نه تپوسونه شروع كړل ، او ورته ئ اووئيل چه ستا د نوم (بنيامين) څه معنى ده، نو بنيامين اووئيل چه د دې معنى ده ولد المثكل، يعنى بچې د مثكل يعنى وروك كړې شوى ، وجه داده چه كله زه پيدا شوم، نو زما مور وفات شوه ، نووروكه شوه . نو دې وجې نه زما دپاره دانوم كيخودې شو، بيا ئ ورته اووئيل چه ستا اولاد څومره دى ، نو هغه اووئيل چه لس ځامن دى ليكن افسوس كوم په خپل رور پسې چه په وړوكوالى كښ په ځنګل كښ هلاك شوې دې، نو يوسف عليه السلام ورته اووئيل چه داسې دې نه ده خوخه چه زه ستا رور شم؟ نو ده اووئيل چه ستا په شان رور خو د ډير خوش قسمته سړى وى، ليكن ته د يعقوب او راحيل نه پيدا نه ئى نو څرنګه به زما ورور شې؟ نو يوسف ﷺ په ژړا شو او بنيامين ئى د خپلې سينې سره اولګولو ، او ورته ئى اووئيل ﴿ اِنِّيْ اَنَا اَخُوْكَ ﴾ يعنى زه ستا رور يم ، خو دا روونړه مه خبره وه ، ﴿ فَلَا تَبْتَئِسْ ﴾ مه خفه كيږه په هغې چه دوئ ماسره يا تاسره بد سلوكى كړې ده، يعنى دا د زړه نه اوباسه ، رونړو د يوسف لكه څرنګه چه ئ يوسف

ﷺ ته سخت تکالیف رسولی وو ، نو دغه شان د بنیامین ئ هم تحقیر کړې وؤ او د هغه سره ئ بدسلوکی کړې وه ، نو یوسف ده ته اوونیل چه اوس دغه خبرې د زړه نه اوباسه. ځکه چه الله ﷻ مونږ ته خیر راکړیدې اوزمونږ سره ئ احسان کړې دې ، رونړه د یو بل دپاره قوت او بازو دې ، لکه د فارسئ متل دې «**هرکه برادر نه دارد قوت بازو ندارد هر که مادرنه دارد شفقت نه دارد**» اوپه یوروایت کښ دی چه (المرء کثیر باخیه) سړې د رونړو په وجه ډیر وی. لیکن د دې باوجود شیطان کله د رونړو په مینځ کښ تفرقه راولی، اوحسد پیداکړی . حتی چه د آدم ﷺ یو خوی خپل رور قتل کړو ﴿فَلَمَّا جَهَّزَهُم﴾ رونړه دیوسف ﷺ ځو ورزې د میلمستیا په حیثیت پاتې شول ، او بیا ورله هغه د غلې باورنه برابر کړل ، بنیامین یوسف ﷺ ته عرض کړې وو چه زما پاتې کولوځه تدبیر جوړکړه ، او ما د رونړو سره مه لیږه ، نویوسف ﷺ داتدبیر اوکړو چه ﴿جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ أَخِيهِ﴾ سقایه او صُواع د یو لوخی نوم دې دا د سپینو زرو پیاله اوجام وو ، چه یوسف ﷺ نه مخکښ بادشاه په دې کښ اوبه او شراب څکل یوسف علیه السلام چه بادشاه شو نو دا ئ پیمانه مقرر کړه ، او غله به ئ په دې سره ورکوله او «رَحل» کجاوې ته وائی، او مراد ترینه هغه سامان دې چه په کجاوه کښ ایخودې شی یعنی دا سقایه ئ د رور په بار کښ کیخوده ﴿ثُمَّ أَذَّنَ﴾ بیا یو اعلان کونکی اعلان اوکړو چه اې قافلې والو! تاسو خو غله یئ سقایه مو غلا کړې ده؟ دلته دا **سوال** راځی چه سقایه خو یوسف په خپله دَ رور په سامان کښ ایخودلې وه، نو بیا په هغوئ باندې د غلا الزام اولګولو داخو تهمت او ګناه کبیره ده ، **جواب** (۱) : دادې چه اعلان کونکی اعلان د خپل طرف نه کړې دې ، په امر د یوسف سره ئ ندې کړې،او تهمت د غلا ئ په خپل غالب ګمان سره لګولې دې ، ځکه چه د دې تدبیر نه خو بل څوك نه وو خبر بغیر د یوسف ﷺ او د رور د ده نه ، نو یوسف ﷺ تهمت نه دې لګولې بلکه په بار د رور کښ ئ صرف سقایه ایخې ده ، **دویم جواب** دادې چه دا اعلان د یوسف په امر سره شوې دې لیکن ﴿إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ﴾ په طریقه د توریه سره دې چه همزه د استفهام په کښ محذوف ده (اَی ءَاِنّکم لسٰرقون) یا دامعنی ده چه انکم لسارقون لیوسف ﷺ عن ابیه، تاسوخو دومره لوئ غلا ګران یئ چه یوسف مودخپل پلارنه راپټ کړې وو

قَالُوْا وَ اَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّا ذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿٧١﴾ قَالُوْا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ

دوئ وه ويل او مخامخ شو هغوئ ته چه څه ورك كړيدي تاسو وه ويل هغوئ ورك كړې دې مونږ پيمانه (اوګې) د بادشاه

وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ

او خا چه راوړو هغه نو هغه لره بار د اوښ دې په انعام كښې اوزه د دې ذمه دار يم وه ويل دوئ چه قسم په الله تعالى باندې

لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿٧٣﴾

په تحقيق سره تاسو ښه پوهه يئ چه مونږ دې له نه يو راغلى چه فساد وكړو په دې ملك كښې اونه مونږ غلاګر يو

قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿٧٤﴾ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ

وه ويل دوئ پس څه سزا د غل ده كچرې تاسو دروغ وايئ دوئ وه ويل سزا د غلا هغه سړې دې چه ومونده شى

فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِى الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَاَ

په سامان دهغه كښې پس هغه ئ سزا ده، دغه شان سزا وركوو مونږ ظالمانو ته (غلاګروته). پس شروع وكړه يوسف

بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ

په تفتيش د سامانونو د دوئ مخكښې د تفتيش د سامان د ورور خپل نه بيا ئ راوښكلو هغه لوښې د سامان د رور خپل نه

كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّاۤ

دغه شان تدبير وخودلو مونږ يوسف ته ، نه وو دې چه را ګير كړې ئ وې رور خپل په قانون د بادشاه كښې، مګر دا چه

اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ ﴿٧٦﴾

الله تعالى ئ وغواړى (هغه كيږى) اوچتوو مونږ درجې د هغه چا چه وغواړو مونږ او پورته د هر خاوند د علم نه عالم شته دې

﴿ قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ ﴾ رونړو د يوسف عليه السلام په حقيقت كښې غلا نه وه كړې ، نو دا په دوئ ډيره نا آشنا اولګيده او د دې وجې نه ئ هغوئ ته مخ كړو او وې وئيل چه ستاسو نه څه وروك شوى دى، نو هغوئ اووئيل چه د بادشاه پيمانه، (اوګى) ﴿ وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ ﴾ دا انعام مقرركول دى ، په راوړلو د سقايى باندې او كه څوك **سوال** اوكړي چه سارق خو مستحق د

انعام نه وی بلکه مستحق د سزاوی ، نو جواب دادې چه دوئ خو په حقیقت کښې سارقان نه وو، نو ددې وجې نه ئی ((ولمن جآء به)) ویلی وو، سرق ئی ندی ویلی او بل جواب دادې چه د (جآء به) معنی داده چه خبر ورکړی چه صاع چاسره دې او ددې آیت نه معلومیږي جواز د انعام په جائز کار باندې او دا رنګه د دې نه معلومیږی جواز د کفالت ﴿زَعِيمٌ﴾ ذمه دار اوضامن ته وائی ﴿قَالُوا تَاللَّهِ﴾ رونړه د یوسف حیران شول او جواب ئی ورکړو، په تا قسمیه کښې د مبالغې او تعجب معنی ده، نو دوئ تعجب اوکړو په دې الزام لګولو کښې اوپه طریقې د مبالغې سره ئ نفي د غلا دَ الزام اوکړه ، په تا قسمیه کښې هم د مبالغې معنی ده اوبیا دوئ استشهاد اوکړو په علم د دوئ سره ، چه ﴿لَقَدْ عَلِمْتُم﴾ یعني تاسوته علم دې . چه مونږ د چا فساد او سرقه نه کوو، دوئ چه مصر ته راتلل نود خپلو اوښانو خولې ئی تړلې وې، د دې دپاره چه د چا فصل اونه خوری نوعامو خلقو اووئیل چه دا ډیر شریف او تقوی والا خلق دی ﴿قَالُوا فَمَا جَزَاؤُهُ﴾ یعنی هغوئ ورته اووئیل چه که تاسو دروغژن ثابت شوئ او صاع ستاسو د سامان نه برآمد شو نو بیا به د هغه څه سزاوی ، نودا تپوس په امر او تعلیم د یوسف ﷺ سره وو، د دې دپاره چه خپل رورخپل ځان سره پاتې کړی ، بل د دې دپاره چه دوئ دا ګمان اونه کړی چه زمونږ سره ظلم کیږی ، اوپه خپل قانون راته سزارا کوي ﴿قَالُوا جَزَاؤُهُ مَن وُجِدَ فِي رَحْلِهِ﴾ دوئ اووئیل چه زمونږ په دین کښې دغلا سزا داده چه غل به د مالك د مال غلام وی ، دیوکال پورې او د مصر قانون داوو چه د غل نه به دوه چنده تاوان اخستې کیږي ، رونړو د یوسف د خپل قانون شرعی ذکر بې تأمله اوکړو ځکه چه د دوئ یقین وو چه مونږ غلا نده کړې ، اونه مال مسروقه زمونږ د سامان نه برآمد کیدې شی نودوئ په خپل اقرار کښې ګیر شو، (جزآء) مبتدا ده او ﴿مَن وُجِدَ فِي رَحْلِهِ﴾ ورله خبر دې ، او ﴿فَهُوَ جَزَاؤُهُ﴾ مبتدا خبر دی اودا جمله تاکید دې داولې جملې ﴿كَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ﴾ یعنی دا سزا دغل ده زمونږ په ملت کښې ﴿فَبَدَأَ﴾ د نورو رونړو په سامان لټولو ئ مخکښې شروع اوکړه ، دې دپاره چه دوئ شك اونه کړی چه دا لوخې ئی په خپله ایخې دې نو ضمیر په (فبداء) کښې یوسف ﷺ ته راجع دې ، اوپه دې کښې دا احتمال دې چه یوسف ﷺ په خپله تالاشی اغستې وی ، اودا هم احتمال دې چه نوکرانو ته ئی په دې مخصوص طریقې سره د تالاشی حکم کړې وی .

﴿كَذَٰلِكَ كِدْنَا﴾ د (كيد) حقيقي معنى داده چه څوك چاته په خوله باند يوه خبره اوكړي او په زړه كښې ئې اراده د بل څه وي ، نو دلته دا معنى نده مراد بلكه مراد ترينه خفيه تدبير دې او دې ته حيله ويلې شي ، حيله شرعى هغه خفيه تدبير دې چه توسل كولې شي په هغې سره مصالحو دينيو ته .لكه ايوب ﷺ ته چه الله فرمائلى وو (وخذ بيدك ضغثا) يا حضرت ابراهيم ﷺ سارى ته هٰذه اختى ويلى وؤ ، دا ټول د منافعو دينيو دپاره وو (كشاف). باقي تفصيل په سورة اعراف كښې تير شوې دې، د ﴿لِيُوسُفَ﴾ دامعنى نده.چه دا تدبيراوشرعى حيله مختصه وه په يوسف پورې، ځكه چې نبى ﷺ د زانى ضعيف دحد دپاره حيله كړې وه (كمافي السنن) او بلال ﷺ ته ئى هم داحيله خودلې وه چه بِعِ الجمع بالدرهم ثم ابتع بالدراهم الجنيب) ، (رواه البخارى) ، ﴿مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ﴾ يعنى دا تدبير مونږ يوسف ته ځكه اوخودلوچه ده خپل رور د مصر په قانون كښې نشو نيولې، دمصر دقانون جرمانه وه دوه چنده د مال مسروقه يا تاديب ووپه كوړو وهلو سره ﴿إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ﴾ د استثناء منقطع ده (الاّ) په معنى د (لكن) سره دې اي لكن بمشيته تعالى اخذه فى دين يعقوب، د يعقوب ﷺ په ملت كښې دسارق د يوكال دپاره غلام گرزول كيدل وؤ ، د هغه چا چه غلا به ئى ترينه كړې وه ، نويوسف ﷺ خپل رور د دې قانون مطابق حصار كړو اودا سوال نه رازى چه حُر خو غلام نشى گرزيدلې، ځكه چه يوسف ﷺ خپل روربنيامين په حقيقت كښې غلام كړې نه وو، بلكه بنيامين په خپلې خوخې سره صورت د غلامئ اخيتيا ركړې وو﴿نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ﴾ يعنى الله چه چاته اوغواړى نوعلم اوحكمت او تدبير ورته اوښايى او درجې ورله اوچتې كړى، لكه يوسف ﷺ ته ئ چه علم اوحكمت وركړو يا دا معنى چه الله په خپل تدبير سره د چا درجات اوچتوى ، لكه رونړو د يوسف ﷺ ده لره دَ پلاره نه سرقه كړو اوپه (ثمن بخس) ئى خرڅ كړو نواوس هغوئ د سارقانو په حيثيت سره د يوسف ﷺ په حضور.كښې ولاړ دى ، ﴿وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ﴾ يعنى په مخلوق كښې د هرعلم والا ذات دپاسه لوئ علم والا ذات شته دې چه الله دې چه عالم الغيب والشهادت دې، نو د هغه علم كامل دې او صفتِ ذاتى دې او د مخلوقاتو علم عطائى دې ، محتاج دې خالق ته .

قَالُوٓا إِن يَسۡرِقۡ فَقَدۡ سَرَقَ أَخٞ لَّهُۥ مِن قَبۡلُۚ

وه ويل دوئ كه ده غلا كړي وى (نوعجيبه نده) څكه چه غلا كړي وه رور د ده (يوسف) پخوا د دي نه.

فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفۡسِهِۦ وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡۚ قَالَ أَنتُمۡ

پس پټ وساتلو يوسف د دې جواب په خپل زړه كښې او ښكاره ئ نكړو دوئ ته په زړه كښې ئ وه ويل چه تاسو

شَرّٞ مَّكَانٗاۖ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ۝ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ

د دينه زيات بد حال والا يئ او الله تعالى ښه پوهه دې په هغې باندې چه تاسو ئ بيانوئ. دوئ وه ويل اې عزيزه

إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا فَخُذۡ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝

بيشكه د ده پلار دې ډير بوډا دې پس ونيسه بل تن زمونږ نه د ده په ځاى بيشكه مونږ تا وينو د احسان كونكونه

قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأۡخُذَ إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ

وه ويل يوسف پناه غواړم په الله تعالى سره د دينه چه ونيسم سوا د هغه چا نه چه موندلې دې مونږ سامان خپل هغه سره

إِنَّآ إِذٗا لَّظَٰلِمُونَ ۝

بيشكه مونږ به په دغه وخت كښې خامخا د ظالمانو نه يو

﴿قَالُوٓا إِن يَسۡرِقۡ﴾ هر كله چه په دوئ باندې غلا ثابته شوه ، نو دوئ د خپل ځان د براءت دپاره اووئيل چه دا بنيامين زمونږ خپل رور نه دې، د ده خپل رور بل وو. او هغه هم غلا كړې وه نوكه ده غلا كړى وى نو بعيده نه ده د ﴿سَرَقَ أَخٞ لَّهُۥ﴾ نه د دوئ مراد يوسف ﷺ وو. او دوئ چه يوسف ته د سرقې نسبت كړې دې نوپه دې كښې مختلف واقعات دى يو دا چه ده دَ نيكه (دَ مور دَ پلار) نه بُت پټ كړې وو، او مات كړې ئى وو. او د مجاهد رحمه الله نه روايت دې چه ديوسف ﷺ د پيدايش نه بعد چه كله بنيامين پيدا شو نو والده د ده دَ پيدايش په وجه وفات شوه نويعقوب ﷺ يوسف ﷺ خپلې خور ته (د يوسف ترورته) د تربيت دپاره وركړو نود دې ور سره بې حده زيات محبت پيدا شو نو كله چه يوسف د ګرزيدو شو، نو يعقوب د ده دَ واپس كولو طلب اوكړو ، ليكن ترور په واپس كولو راضى نه وه، بيا د يعقوب د زيات

اصرار په وجه ئ مجبوراً واپس کړو ليکن يو تدبير ئي د واپس کولودپاره داسې اوکړو چه هغې سره يوقيمتی کمر بند وو، او هغه ئي د يوسف ﷺ د قميص د لاندې په ملا پورې اونړلو اوکله چه يوسف ﷺ پلار واپس کړو نودې دا مشهوره کړه چه زما کمر بند چا سرقه کړې دې د تالاش کولو نه بعد معلومه شوه چه يوسف ﷺ سره دې ، نو دَ يعقوب ﷺ د شريعت د حکم مطابق يوسف دې خپل غلام جوړکړو ، اوتر مرګه پورې ورسره وو. په دې واقعه کښې هم فی الحقيقة سرقه يا استرقاق نشته دې ليکن ظاهراً سرقه ده ﴿فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ﴾ ضمير د (اسرها) مبهم دې او دا قول (بل انتم ـــ الآيه) يې تفسير دې او ضمير د مونث راوړې شو ځکه ﴿أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا﴾ جمله او کلمه ده يا دا ضمير راجع دې اجابت (جواب ورکولو) ته يعنی يوسف ﷺ له غصه ورغله ليکن جواب ئي ورته ورنه کړو ، د (أَسَرَّ) نه مراد جواب نه ورکول دی يا ضمير مقاله ته راجع دې ، اود (أَسَرَّ) نه مراد دادې چه دَ سرقې اصل حقيقت ئي ظاهر نه کړو ، ﴿قَالَ﴾ اويل يوسف ﷺ په زړه کښې ﴿أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا﴾ تاسو ډير بد يئ د جهته د مرتبې نه ، ځکه تاسو په حقيقت کښې سرقه کړې دې يوسف دَ پلار نه، نو تاسولوئ ډاکوان يئ ، ستاسو په غلط بيان باندې الله خه پوهيږي .

﴿ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ ﴾ دوئ دپلار سره وعده کړې وه چه مونږ به بنيامين خامخا واپس راولو نو د دې وجې نه ئي دعزيز مصر (يوسف ﷺ) منت زاری شروع کړل او درې خبرې ئي ورته پيش کړې : اول دا چه زمونږ د پلار د ده سره محبت زمونږ نه زيات دې ،او د يوسف ﷺ نه بعد هغه تسلې په ده باندې کوی ، او زمونږپلار د عمر په لحاظ سره مشر دې او بوډا دې . او د قدر اومنزلت په لحاظ سره هم ډير لوئ شان والا پيغمبر دې نو په هغه رحم اوکړه او دا رور زمونږ واپس کړه، اودويم دا چه د ده په بدل کښې يوکس واخله، دريم ئي صفت د عزيز اوکړو چه ته ډير نيک سړې ئي او احسان کونکې ئي او زمونږ سره دې مخکښې احسان کړې دې نو اوس راسره هم احسان اوکړه ﴿قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ﴾ يوسف ﷺ اوويل چه داسې نشی کيدې چه مونږ دمجرم په ځائ غير مجرم اونيسو، دا خو ظلم دې او مونږ د ظلم نه پناه غواړو په الله ﷻ سره ﴿إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَاعَنَا﴾ ئي اويل او (الامن سرق) ئي اونه ويل ځکه چه په حقيقت کښې هغه سرقه نه وه کړې .

فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ؕ قَالَ كَبِيْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْٓا

پس هركله چه دوئ ښه نا اُميده شو [1] دهغه نه جدا شو جرګه كونكي. وه ويل مشر د دوئ. آيا تاسو ته معلومه نده

اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ

چه ستاسي پلار په تحقيق سره اغستي وه ستاسونه كلكه وعده د الله تعالى . او پخوا هم تاسو قصور كړي وؤ

فِيْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْٓ

په باره د يوسف كښ. پس هيچري به څه نه پريږدم دا ملك، ترهغې پورې چه اجازت راكړي ما ته خما پلار

اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ

يا فيصله وكړي الله تعالى ما لره (د ازادولو د رور خما) ، او هغه ډير ښه فيصله كونكي دي. واپس لاړشئ پلار خپل ته

فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ۚ وَمَا شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا

پس ووايئ اې زمونږ پلاره ! بيشكه ستا ځوئ غلا كړيده او مونږ ګواهي نه دركوؤ مګر په هغه څه چه مونږ پرې خبر يو

وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ﴿٨١﴾ وَسْـَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا فِيْهَا وَالْعِيْرَ الَّتِيْٓ

اونه يو مونږ د غيب خبرلرونكي. او تپوس وكړه د (اهل) د هغه كلي نه چه مونږ په هغې كښ وؤ او د هغه قافلې نه

اَقْبَلْنَا فِيْهَا ؕ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ

چه مونږ په هغې كښ راغلي وؤ او مونږ خامخا ريشتيا وايو. وه ويل يعقوب بلكه ښائسته كړيدي تاسو ته

اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ؕ

ستاسو نفسونو څه خبره، پس خما كار صبر جميل دي، اميد دې چه الله تعالى به راولي ما ته دا ټول په يوځاى

اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿٨٣﴾

بيشكه هغه په هرڅه پوهه، حكمتونو والا دي

---

١ - دولسم حال.

﴿فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوا مِنْهُ﴾ دا دولسم حال دي . په دې كښ د رونړو د مشورې ذكر او د مشر رور د پاتې كيدلو عزم دې. باب استفعال د مبالغې دپاره دې او ضمير د (منه) راجع دې يوسف ته ﴿خَلَصُوا﴾ يوازې شول ﴿نَجِيًّا﴾ مشوره كونكى دا حال دې دضمير د (خلصوا) نه او (نجيا) په اصل كښ مصدر دې. په معنى دَ متناجى او ناجى سره اوهر كله چه مصدر نه جمع كيږى نو د دې وجې نه دا جمع نشو . اگر چه ذوالحال ئ ضمير د جمع دې ﴿قَالَ كَبِيرُهُمْ﴾ دكبير نه چه د عمر په لحاظ سره مشر مراد شى نوهغه (روبيل) دې . اوكه مرادترينه رئيس د دوئ شى نو هغه (شمعون) دې. او كه د عقل په لحاظ سره مراد شى نو هغه (يهوذا) دې . مشر عزم اوكړو د پاتې كيدلو او سبب ورله يو دا بيانوى چه مونږ د پلار سره عهد كړې وو د واپس كولو د بنيامين نواوس به پلار ته په كومو ستر گو سره اوگورو؟ بل دا چه مونږ ديوسف ﷺ په باره كښ تقصير كړې ووچه د هغې اثر تراوسه پورې موجود دې. نو اوس بنيامين پريخودل اوزمونږ تلل ډير نامناسب دى ﴿مَا فَرَّطتُمْ﴾ د (تعلموا) ماتحت دې او (ما) مصدريه دې ، اى الم تعلموا تفريطكم فى يوسف، يا الذى فرطتم فى يوسف. نو ددې په وجه زه په هيڅ حال نه ځم دلته به يم مگر دا چه پلارماته دراتلوحكم اوكړى يا الله دحكم فيصله اوكړى مثلا دا چه د تقدير په وجه زه يا بنيامين مړه شو ، يا د څه تدبير په وجه بنيامين آزاد شى ﴿خَيْرُ الْحَاكِمِينَ﴾ الله ﷻ د عدل فيصله كونكې دې . ﴿ارْجِعُوا إِلَىٰ أَبِيكُمْ﴾ يعنى ماپريگدئ اوتاسو لاړشئ . پلار ته اوايئ چه داسې واقعه راغلې ده ﴿وَمَا شَهِدْنَا إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا﴾ يعنى مونږ چه په ده باندې دغلا گواهى وركوو . نودا دخپلې مشاهدې اوظاهر حال په وجه سره وركوو ، چه لوخې دده دسامان نه برآمد شوې دې او دَ غيب نه خبر نه يو چه په واقع كښ ده غلا كړې ده يانه؟ . يا دا مطلب دې چه مونږ تا سره عهدكړې وو ، د واپس راتلو د بنيامين نو دا د خپل علم مطابق عهدوو. او مونږ د غيب نه. نه وو خبر چه دې به غلا كوى، يا دامعنى ده چه مونږ چه شهادت يعنى دَ غل حكم بيان كړې وو ، نودا دخپل علم او دَ شريعت مطابق مونږ بيان كړې وو ، اوددې نه مونږ څه خبر وو چه زمونږ رور غلا كړې ده ،﴿وَسْـَٔلِ الْقَرْيَةَ﴾ يعنى زمونږ د صدق معلومولودپاره يواهل مصر نه تپوس اوكړه يعنى څوك معتمد سړې راوليگه چه د مصر د خلقونه تپوس اوكړي مونږ چه كومه خبره كوو نو داڅه پټه خبره نده بلكه په مصر كښ مشهوره خبره ده .اوبل

د هغه قافلې والو نه تپوس اوکړه چه مونږ د هغې سره مصر نه راغلی وو. او دا یو قوم وو د کنعان چه د یعقوب ﷺ ګاونډیان وو﴿ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ ﴾ رونړه دیوسف چه واپس شول او د مشر رور د هدایاتو مطابق ئې ټوله قصه یعقوب ﷺ ته بیان کړه . نویعقوب ﷺ اوفرمائیل چه حقیقت خو داسې نه دې چه بنیامین غلاکړې ده . دا تاسو ځان له په خپل ذهن کښې یوه خبره جوړه کړې ده چه بنیامین تاسو بوتللو او په تهمت د غلا کښې مو حصار کړو. یا دا مطلب دې چه شهادت د غلا په هغه باندې په خیال د نفسونو ستاسو دې . دوئ اول وار دیوسف په باره کښې اعتماده شوی وو. نویعقوب ﷺ په دوئ اعتماد اونه کړو. د یوسف ﷺ په باره کښې ئې هم داسې ویلی وو چه ﴿بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ﴾ ، او د بنیامین په باره کښې ئې ورته هم دغه خبره اوکړه اودا کلام اګر که د واقعې سره موافق نه وو. لیکن یعقوب ﷺ د دې معاملې قیاس کړې وو په اول وار باندې، نو دا یوظن او اجتهاد وو چه مطابق نه وو د واقعې سره . وحی نه وه .اواجتهادی غلطی ګناه نه ده، اوبعض علماؤ د دې کلام دا توجیه کړې ده چه د ﴿بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ ﴾ خطاب جنس اولاد ته دې یوسف ﷺ په کښې داخل دې او مطلب دادې چه بنیامین غلا نه ده کړې بلکه د ده په رونړوکښې چایوه خبره په خپل ذهن کښې جوړه کړې ده اودې ئې د ځان سره حصار کړې دې . اودا خبره ورته په ذریعه د کشف یا دوحی سره معلومه شوې وه . لیکن مزید تفصیل ورته نه وو معلوم شوې . او بعض مفسرینو داسې توجیه کړې ده چه تاسو خود بنیامین د بوتلو په وخت کښې څومره کلکه وعده کړې وه ، بیا مو دهغه دفاع اونه کړه چه ویلې مو وې چه لوخې د ده د سامان نه برآمد شو ، نود دې نه دا څرنګه ثابته شوه چه ده غلا کړې ده، کیدی شی چه دا لوخې بل چا ایخې وی ، نوتاسو دفاع اونه کړه بلکه دا مو اووئیل چه دده رور هم مخکښې غلاکړې وه، په دې سره تاسود ده جرم مستحکم کړو او بیامو فتوی هم ورکړه چه دسارق سزا غلام ګرزول دی نوکه ستاسو په زړونوکښې څه خیرې نه وې نو داسې طرز عمل خوبه مو نه وو اختیارکړې، بهر حال زه به صبر جمیل کوم ﴿عَسَى اللَّهُ ﴾ یعنی دالله ﷻ نه امید دې چه ماته یوسف ﷺ اوبنیامین اوټول ځامن راولی اودا خبره یعقوب ﷺ د یوسف ﷺ د خوب په وجه کړې ده اویا په دې وجه چه هر کله د ده تکلیف اوغم ډیر زیات شو او انتها ته اورسیدلو نودې پوهه شو چه اوس به الله ﷻ آسانی اوراحت راولی .

وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰٓاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ
اومخ يې واړوو د هغوئ نه او وې ويل هائ افسوس دې په يوسف پسې او سپينې شوې دواړه سترګې د ده
مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ۞ قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى
د وجه د غم نه او دې ډك وو د خفګان نه وه ويل دوئ قسم په الله تعالى هميشه به ته يادوې يوسف تر دې چه
تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ۞ قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ
ته شې بيكاره (رنځور) يا به شې ته د هلاك شوونه (مړ). وه ويل يعقوب بيشكه څه خو بيانوم خپل سخت غم
وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۞ يٰبَنِيَّ
اوخفګان الله تعالى ته او پوهه يم د الله تعالى د طرف نه په هغه څه چه تاسو پرې نه پوهيږئ اې ځامنو ځما
اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْئَسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِنَّهٗ لَا يَايْئَسُ
لاړشئ پس تلاش وكړئ د يوسف او د رور دهغه اومه نا اُميده كيږئ د رحمت د الله تعالى نه، بيشكه نه نا اُميده كيږي
مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ۞
د رحمت د الله تعالى نه مګر قوم كافران.

﴿ وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ ﴾ يعقوب ﷺ د خپلو ځامنونه مخ بل طرف ته واړولو ، ځكه چې داخبره پرې ډيره ترخه اولګيده او د نوى غم په وجه ئې مخكښ غم تازه شو ، نو ده اووئيل ﴿ يٰٓاَسَفٰى ﴾ الف عوض دې د (يا) نه نو دا په اصل كښ (اَسَفِىْ) دې يعنى اې افسوسه اوغمه زما په يوسف ﷺ راشه دا ستا د راتلو وخت دې ﴿ وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ ﴾ د ډيرې ژړا په وجه د سترګو تورئ ختم شوى وو . او د ړوند والى په باره كښ دوه قوله دى : يوداچه نظر ئې ختم شوې وو ، اوبل داچه دا ختم شوې نه وو بلكه كم شوې وو ﴿ مِنَ الْحُزْنِ ﴾ د سترګو سپين والې د ژړا په وجه وو ، او د ژړا دپاره سبب حزن وو ، نود دې وجې نه (مِنَ الْحُزْنِ) اووئيلې شو . ويلې شوى دى چه سترګې د يعقوب ﷺ نه وې اوچې شوې د اوښكو نه ، د وخت د فراق د يوسف ﷺ نه تر وخت د ملاقات پورې او نه وو په مخ دزمكې زيات عزت مندپه نزد دالله ﷻ ديعقوب ﷺ نه . او د

حسن بصري رحمه الله نه روايت دې، چه نبی ﷺ دجبرئيل نه تپوس اوکړو چه د يعقوب غم په يوسف عليه السلام پسې څومره وو، جبرائيل اوفرمائل چه داسې دَ اويا (۷۰) ميندو غم راجمع کړې شي چه بچی ئی مړه وی نو د يعقوب عليه السلام د دې برابر غم وو ، نوبيا ئی ترينه تپوس اوکړو چه دوئ لره څومره اجر وو، نوجبرئيل عليه السلام اوفرمايل چه دسلوشهيدانو اجر دې ورله ، په حديث کښ دی اشد الناس بلاء الأنبياء ثم الامثل فالا مثل ، يعنی په انبياؤ امتحان د تمامو خلقو نه زيات دې ، او دغه شان چه څومره څوك غوره وی، دهر چا د استعداد موافق امتحان وی. ديعقوب عليه السلام په زړه کښ الله ﷻ ديوسف عليه السلام محبت، د عام عادت نه زيات پيدا کړې وو، او بيا ئ ترينه په داسې دردناکې طريقې سره جدا کړو چه د يعقوب عليه السلام زړه او روح ته سخته صدمه اورسيده اومخلوق ته ئی هيڅ شکايت ښکاره نه کړو، او نه ئی د چانه انتقام واخستلو نو دا صبر جميل وو، او اوښکې ئی بهيدلی او (يَا أَسَفٰی) دَ الله جل جلاله په حضور کښ ويل د بې صبرئ علامه هم نه ده ،او د کمالاتو د نبوت سره منافی هم نه ده ، روايت کړې دې بخاری اومسلم چه کله ابراهيم رضی الله عنه د نبی ﷺ بچې وفات شو نونبی ﷺ اوژړل (چه دا درقت قلب علامه ده) اوبيا ئی اوفرمايل (ان العين تدمع والقلب يخشع ولانقول الا مايرضی ربنا وانا لفراقك يا ابراهيم لمحزونون) نو د مصيبت په وقت کښ زړه متاثر کيدل اوژړل د رقت قلب علامه ده .

اوبې صبری جزع، فزع نده ﴿فَهُوَ كَظِيمٌ﴾ يعنی دې ډك وو د غم نه، مطلب دادې چه په زړه او سترګو باندې ئ څه اختيار نه وو، زړه متاثر کيدل خو طبعی اوبشری تقاضا ده ، ليکن په ژبه ئی د بې صبرئ يا د جزع فزع کلمه نه ده راغلې ﴿قَالُوا تَاللَّهِ تَفْتَؤُا﴾ دا تسلی ورکول دی دَ خامنو د طرف نه يعقوب عليه السلام ته، د وجې د شفقت نه دپاره د دې، چه ډير مريض نشی. يا مړنشی ﴿تَفْتَؤُا﴾ په اصل کښ (لا تفتؤ) دې ، ای لاتزال اوپه معنی د اثبات سره دې ، يعنی هميشه به ئی ته چه يوسف به يادوې ﴿حَرَضًا﴾ هغه څوك چه مرض يا د غم د وجې نه ئی جسم ويلی شی او قريب الهلاك يا رنزور شی هغه ته حرض ويلې شی ﴿قَالَ إِنَّمَا أَشْكُوا﴾ يعقوب عليه السلام خپلوخامنو ته اووئيل چه آيا تاسوماته تسلی راکوئ ،او صبر راته ښايئ ، بې صبره هغه وی چه دَ مخلوق په مخکښ شکايت اوکړې شی ، اوزه خود خپل تکليف شکايت الله ﷻ ته کوم (بثی) هغه ډير غم ته ويلې شی چه بې اختياره خور شی، نو (بث) په معنی د مبثوث سره دې . او په دې کښ اشاره ده غم ديوسف عليه السلام ته ، اوحزن مطلق غم ته ويلې شی، او په دې کښ

اشاره ده غم د جدائی د بنیامین ته. ﴿وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ﴾ او زه په دې هم پوهیږم چه یوسف ﷺ ژوندي دي. مانه به ملاویږي ، او دهغه د خوب تعبیر به پوره کیږي او دا په ما باندې ازمائش دي . عنقریب چه پوره شي﴿يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا﴾ یعنی تاسو دوباره لاړشئ او دیوسف او دبنیامین دواړو تفتیش اوکړئ ﴿مِن رَّوْحِ اللّٰهِ﴾ دابن عباس ﷺ نه د دې ترجمه په رحمت سره مروی ده . او د قتاده نه په فضل سره مروی ده . او د ابن زید نه په فرج یعنی راحت اوخوشحالئ سره مروی ده ﴿اِنَّهٗ لَا يَاْيْـَٔسُ مِن رَّوْحِ اللّٰهِ﴾ د دې نه معلومه شوه چه نا اُمیده کیدل دالله د رحمت نه کفر دي . اوپه دې کښې یعقوب د توکل نه بعد ظاهری تدبیر اوکړو ، او (تَحَسُّسْ) تفتیش ته وائی په ذریعه دَ حواسو سره . او استعمالیږي په خیر کښې ، او تجسس په جیم سره په پټه سره تفتیش ته وائی او مستعملیږي په شر کښې .

فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ مَسَّنَا وَاَهْلَنَا الضُّرُّ
پس هرکله چه دوئ داخل شو [1] هغه ته وه ویل دوئ اې عزیزه ! رسیدلې دې مونږ ته او کورنئ زمونږ ته سختی (لوږه)
وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ؕ
او راوړي دې مونږ قیمت ناقص (لږ) پس پوره کړه مونږ ته راشن، او صدقه وکړه په مونږ (لحاظ وکړه په نرخ کښې)
اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِى الْمُتَصَدِّقِيْنَ ۞ قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ
بیشکه الله تعالی بنه بدله ورکوی صدقه کونکو ته . وه ویل یوسف : آیا تاسو ته یاد دی هغه چه تاسو کړی وو
بِيُوْسُفَ وَاَخِيْهِ اِذْ اَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ ۞ قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ قَالَ
د یوسف سره او د رور دهغه سره کوم وخت چه تاسو ناپوهه وئ. وه ویل دوئ : آیا ته یوسف نه يې ؟ وه ویل ده
اَنَا يُوْسُفُ وَهٰذَآ اَخِيْ قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا ؕ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ
چه ځه یوسف یم او دا رور ځما دي یقینًا احسان کړي دي الله تعالی په مونږ باندې، بیشکه چا چه تقوی وکړه

[1] ۱ . دیارلسم حال .

وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝ قَالُواْ تَٱللَّهِ

او صبر ئې وکړو نو بیشکه الله تعالی نه بربادوی اجر د نیکی کونکو وه ویل دوئ قسم دې په الله تعالی

لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ۝

چه خامخا په تحقیق سره غوره کړې ئې ته الله تعالی په مونږ او بیشکه مونږ خطا کار یو

﴿فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ﴾ دا دیارلسم حال دې، دپلار دحکم په وجه دوئ مصر ته روان شو. د بنیامین د آزادولو په اراده ، ځکه چه د یوسف ﷺ هیڅ پته نه وه . نو دوئ دا خیال اوکړو چه کوم رور معلوم دې یعني بنیامین اول به د ده د خلاصولو کوشش اوکړو. نوچه دې آزادشي. نوبیا به دیوسف ﷺ معلومات کوو، نودوئ چه د یوسف ﷺ څنګ ته لاړل نو اول ئې د خپلې ناداری او قحط د وجې نه دغلې د ضرورت شکایت اوفریاد اوکړو (مخلوق ته دخپلې واقعی ضرورت تذکره کول چه په کښې شکایت کول دالله ﷻ نه نوی نو جائز دی) دوئ دا خیال اوکړو چه که بادشاه څمونږ سره نرمی اوکړه نومونږ به ترینه د خپل رور د آزادولو مطالبه اوکړو نو دوئ اول دا خبره اوکړه چه اې عزیزه ! د قحط اوناداری دوجې نه په مونږ او زمونږ په اهل ډیر تکلیف دې، مونږه څه لږ شان قیمت راوړې دې نوته مونږ ته پوره غله راکړه ، او تصدق (صدقه) اوکړه په مونږ باندې یعنی رعایت راسره اوکړه، په نرخ کښې چه داپه منزله دتصدق دې، حقیقی تصدق نه دې مراد ځکه چه انبیا ء او اولاد د دوئ صدقه نه اخلی او نه ئې غواړی نوهرکله چه یوسف ﷺ داخبره واوریدله نوپه زړه کښې ئې د رحم جوش راغې ، او دالله ﷻ په حکم او اجازت سره ئې خپل ځان ښکاره کړو ، وې ویل ﴿هَلْ عَلِمْتُمْ مَا فَعَلْتُمْ بِيُوسُفَ﴾ آیا تاسو ته یاد دی هغه چه تاسو د یوسف ﷺ سره کړی دی ، اوبیاد هغه د جدائی نه بعدد هغه د رور سره مو څه کړی دی ، کله چه تاسوجاهلان وئ ، او دخپل عمل او دانجام او نتیجې نه بې خبره وئ ، دلته مقصود دوئ نه تپوس هم نه دې ، او د هغوئ ملامت کول یا د هغوئ نه شکایت کول هم ندی مقصود بلکه مقصود دادې چه دوئ د خلوینښت کالونه قبل حالات کر دار مستحضر کړی دپاره د دې چه دماضی او د حال موازنه دوئ اوکړی ، نو دالله ﷻ دهغه احساناتو حقیقت دوئ ته واضح شی کوم چه یوسف باندې شوې دې، د مصیبتونو او تکلیفونو برداشت کولو نه بعد لګه دې ته اشاره ده په دې قول سره ﴿قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا﴾ اوپه ﴿إِذْ أَنْتُمْ جَاهِلُونَ﴾

کښې اشاره ده معذرت ته . يعنى تاسو چه څه غلطى کړې ده ، نود ناپوهئ په وجه شوې ده ﴿أَإِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ﴾ استفهام دلته د تقرير دپاره دې ، نوداجمع کيدې شى دَ تحقيق سره چه ‹ان› دې او لام تاکيدى دې ، رونړو د يوسف ﷺ ده لره اوپيژندلو چه دا يوسف ﷺ دې . اوسبب د پيژندلو يا دا دې چه تر اوسه پورې ئ يوسف ﷺ ته په غور نه وو کتلى اواوس ئې چه هرکله دا واوريدل چه ﴿هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ﴾ نوپه غور ئې ورته اوکتل خکه چه مَاجرى تير شوى حالات، بل چاته نه وه معلومه ، يا دا دى چه يوسف ﷺ دسر نه تاج لرې کړو يادا چه دوئ يوسف ﷺ دخولې د ثنايا غاښونو نه اوپيژندلو چه هغه پشان د ملغلرو وو ﴿وَهَٰذَا أَخِي﴾ : دې ذکر دمزيد تعارف او تثبت دپاره دې ﴿قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا﴾ د ضرر د حاسدينو نه بچ کول او بيا جمع کول روستو د فراق نه او دارنګه توفيق د صبر په تکاليفو اوتمام خيرونه ددنيا او آخرت مراد دى ﴿إِنَّهُ مَن يَتَّقِ﴾ ګوياکښې داجواب د سوال دې، هغه دا چه ته څه رنګه بادشاه شوې ، نوجواب اوشو ، چه په صبر کولو سره په تکليفونو ، اوتقوى سره ﴿لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا﴾ دا اقرار د رونړو دې په غوره والى ديوسف ﷺ باندې او ددې نه معلوميږي چه دوئ انبياء نه وو ﴿وَإِن كُنَّا﴾ ‹ان› مخفف من المثقل دې، اسم ئې ضمير شان دې ، ﴿لَخَاطِئِينَ﴾ په معنى د ‹متعمدين الاثم› سره دى يعنى مونږ تقوى اوصبر اونه کړواوتا اوکړو نوځکه الله ﷻ تاته بادشاهي اوعزت درکړو،اومونږ ستا په مخ کښې ذليل شو ‹خطئا خاطئ› هغه ته وائى چه عمداً ګناه اوکړى، او ‹خطاء مخطئ› هغه ته وائى چه قصد اوکړى د صواب ليکن توفيق دَ رسيدلو حق ته ورته ملاو نشى .

قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ۝
وه ويل يوسف نشته هيڅ ملامتيا په تاسو باندې نن ورځ ، بښنه دې وکړى الله تعالى تاسوته اوهغه زيات رحم کونکې دې د رحم کونکو نه
اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ۝
بوسئ خما دا قميص نو واچوئ ئ په مخ د پلار خما چه شى بينا ‹روغو سترګو والا›، راولئ ما ته خاندان ستاسو ټول

﴿قَالَ لَا تَثْرِيبَ﴾ يوسف ﷺ داخلاقِ کريمانه اظهار کوى اوفرمائى چه د خپلو غلطيانو

تذکره هم مه کوئ او زه په تاسو څه الزام نه لګوم . ستاسو ټولې غلطئ مې معاف کړې دی. نو دهغې نوم اغستل ندی پکار ، نوتاسو د خپلو غلطیانو تذکره مه کوئ . او زه ئ هم نه کوم .

بلکه ستاسو دپاره د الله تعالی نه مغفرت غواړم ، او د ﴿ٱلۡيَوۡمَ﴾ مقصد دانه دې چه نن تاسو ته ملامتی یا سزا نه درکوم او روستو به بیاګورو. بلکه مقصد دادې که تاسوته مې ملامتی درکولې نونن به مې درکړې وې ځکه چې په اول ملاقات کښې غضه زیاته وی او چه نن مې درنه کړه ، نوروستوبه ئ په طریقه اولی سره نه درکوم، دا خائسته اخلاق د نبوت دی. چه ظلم کونکو ته معافی اوکړی اوملامت ئی هم نه کړو اوڅه ګیله او شکایت ئ هم ترینه اونه کړو.

بلکه د هغوئ دپاره ئی دعا د مغفرت اوکړه ، اوهم دغه شان سلوك نبی ﷺ د قریشو سره کړې وو په فتح مکه کښې چه ویلی ئ وو، څه هغه خبره کوم تاسوته چه کومه یوسف ﷺ کړې وه

خپلو رونړو ته ﴿ٱذۡهَبُواْ بِقَمِيصِي هَٰذَا﴾ یوسف ﷺ ته معلومه شوې وه چه دیعقوب ﷺ په نظر کښې فرق راغلې دې، نوخپل قمیص ئی ورته اولیږلو چه دا په سترګوواچوی نو جوړبه شی .

اودا ورته په ذریعه د وحې سره معلومه شوې وه چه دا سبب د شفاء دې په طور د معجزې سره

اودا قمیص ذیوسف ﷺ خپل قمیص وو، لکه دا معلومیږي د ﴿بِقَمِيصِي هَٰذَا﴾ نه. اودارنګې

د ﴿إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ﴾ نه اواکثر مفسرینو د ضحاك او مجاهد رحمهما الله نه روایت کړې دې چه دا د ابراهیم ﷺ هغه قمیص وو چه کله نمرود دې اورکښې واچولو، نو جبرائیل ﷺ د جنت نه راوړې وو بیا په میراث کښې یوسف ﷺ ته رارسیدلې وو، یعقوب ﷺ ده ته دتعویذ په شان په غاړه کړې وو، کله چه رونړو دې کوهی ته واچولو، نوجبرائیل ﷺ راغې اودغه قمیص ئی ده ته واغوستلو، په دې جنتی قمیص کښې دا اثر وو چه د پریشان حاله سړی پریشانی به

پرې ختمیده ، والله اعلم ﴿يَأۡتِ بَصِيرٗا﴾ اي یصیر بصیرا ، ﴿وَأۡتُونِي بِأَهۡلِكُمۡ﴾ یعني ټول اهل خاندان دې دلته راشی ، مقصود د ده دپلار راتلل وو، خو دهغه ذکر ئی د ادب د وجې نه ندې کړې، دیعقوب ﷺ خاندان په دغه وخت کښې مجموعه نارینه زنانه ټول اویا(۷۰) کسان وو.

مفسرینونقل کړی دی چه یهودا اووئیل چه دا قمیص به زه پلار ته اوړم . ځکه چه د ده هغه قمیص چه مونږ د دروغوپه وینه رنګ کړې وو نوهغه ما د پلار مخې ته اوړې وو، چه په هغې سره پلار ته ډیره صدمه رسیدلې وه، نود خوشحالئ خبر به هم زه اوړم.

وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ اَبُوْهُمْ اِنِّیْ لَاَجِدُ رِیْحَ
اوهركله چه جدا شوه قافله [1] (د آبادئ د مصر نه) وه ويل پلار د دوئ بيشكه زه خامخا مومعه خوشبوئ
يُوْسُفَ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿۹۴﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ
د يوسف لره كه تاسو ما ته د نقصان د عقل نسبت نه كوئ وه ويل دوئ قسم په الله تعالى بيشكه ته
لَفِیْ ضَلٰلِكَ الْقَدِیْمِ ﴿۹۵﴾ فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِیْرُ اَلْقٰهُ
خامخا په خپل پخوانى غلط خيال او تصور كښ مبتلا ئې. پس هركله چه راغې زيرې وركونكې واچوؤ ئې قميص
عَلٰی وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ بَصِیْرًا ۚ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ۚ اِنِّیْۤ اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ
په مخ د هغه نو بيا واپس بينا شو. وه ويل پلار آيا ما تاسو ته نه وؤ ويلى چه بيشكه څه پوهه يم د الله تعالى د طرف نه
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوْا یٰۤاَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَاۤ
په هغه څه چه تاسو نه پوهيږئ په هغې. وه ويل دوئ اې پلاره زمونږ بښنه وغواړه مونږ لره د ګناهونو زمونږ
اِنَّا كُنَّا خٰطِئِیْنَ ﴿۹۷﴾ قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّیْ ؕ اِنَّهٗ
بيشكه مونږ خطا كار وؤ. وه ويل يعقوب زردې چه بښنه به وغواړم تاسو لره د رب خپل نه بيشكه هغه
هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴿۹۸﴾
بښنه كونكې رحم كونكې دې.

﴿ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ ﴾ داخوارلسم حال دې، هر كله چه قافله دمصر نه په طرف د كنعان روانه شوه، او د شهر دحدودو نه بهر شوه ، نوپه يعقوب ﷺ باندې په كنعان كښ ديوسف ﷺ خوشبوئ اولګيده، اوحال دا چه د مصر او دكنعان په مينځ كښ په دغه زمانه كښ د اتو ورځو سفر وو، نويعقوب ﷺ حاضرينو د مجلس ته اووئيل چه په ماباندې د يوسف ﷺ خوشبوئ اولګيده ،كه چرې تاسو ماته بې وقوف او كم عقل نه وايئ نو څما تصديق به اوكړئ

١ . څوارلسم حال.

، یوسف ﷺ چه په خپل وطن کنعان کښ په یوکوهی کښ درې ورځې وو ، نو یعقوب ﷺ نه
ئې نه علم وو او نه پرې خوشبوئ لګیده ، او دلته پرې د دومره لرې نه خوشبوئ اولګیدله . نو
ددې نه معلومه شوه چه معجزه د پیغمبر په اختیار کښ نه وی. بلکه دا د الله ﷻ خپل فعل دې
چه کله ئې اراده وی نو ظاهره ئې کړی، او دغه شان کرامت د ولی دې. شیخ سعدی فرمائیی .
شعر

کسي پرسید ازان گم کرده فرزند	که اي روشن گهر پیر خردمند
زمصرش بوئي پیراهن شنیدي	چرا در چاه کنعانش نه دیدي
بگفت احوال ما برق جهان است	دمی پیدا ودیگر دم نهان است
گهي برطارم اعلي نشینم	گهي بر پشت پائي خود نه بینم

﴿لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ﴾ جواب د (لولا) مقدردې چه (لصدقتموني) دې ، ﴿تُفَنِّدُونِ﴾ ای تنبئوني الی
الفند والفند بفتحتین فساد العقل والرأی من کبر، یعنی فند دې ته وائی چه په عقل کښ فساد
او نقصان راشی، دبوډاتوب دوجې نه شیخٌ مفندٌ ویلې شې، او عجوزٌ مفندةٌ نشی ویلې ، ځکه
چه د خزو عقل په ځوانئ کښ هم ناقص وی،﴿قَالُواْ﴾ قائلین د یعقوب ﷺ رشته داران اونمسی
دی، ځکه چه ځامن ئې حاضر نه وو ، او دضلال نه مراد غلط خیال دې یا محبت دې . او د
ګمراهئ په معنی سره ندې ، نسبت د ګمراهئ پیغمبر ته کفر دې ، یعنی ستا په زړه کښ د
یوسف ﷺ ډیر محبت پروت دې او همیشه دې تصور اوخیال دیوسف ﷺ وی ، نو هغه درته
دیوسف ﷺ خوشبوئ ښکاری ، دومره ډیره زمانه تیره شوه او د یوسف ﷺ هیڅ پته نوم نشان
نشته دې نو دا چرته ممکنه ده چه هغه به ژوندې وی ﴿فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلْبَشِيرُ﴾ زیرې ورکونکې
یهوذی وو ، ده قمیص د یوسف ﷺ راوړو ، اودیعقوب ﷺ په سترګو ئ راخکلوو ،او سترګې
ئې تیک شوې، د سفیان ثوري رحمه الله نه روایت دې چه یعقوب ﷺ د زیری ورکونکی نه اول
تپوس دا اوکړو (کیف ترکت یوسف) یعنی یوسف ﷺ په څه حال وو ، نوهغه اویل چه (ترکته
ملك مصر) یعنی هغه د مصر بادشاه دې، یعقوب ﷺ اووئیل ما اصنع بالملك، علی اي دین
ترکته) یعنی زه د بادشاهی سره څه کوم چه بادشاه دې یا فقیر بلکه داتپوس کوم چه په څه
دین دې؟ نوهغه جواب ورکړو (علی دین الاسلام) یعنی د دین په اعلی معیار باندې دې.
نویعقوب ﷺ اویل الأن تمت النعمة ، یعنی اوس دالله ﷻ نعمت پوره شو. حسن رحمه الله نه

روایت دي چه د یعقوب ﷺ اراده وه چه بشارت ورکونکی ته څه ورکړی . ځکه دا سنت دی . لیکن حال نی داوو چه د اوو(۷) ورځونه نی په کور کښ روټئ نه وه پخه شوې . نوعذر نی اوکړو چه څه مالی انعام خو نشته لیکن تاته به په زیري کښ دا دعاء اوکړم چه الله تا باندې سکرات الموت آسان کړی . قرطبی وائی چه دا ډیر بهترین انعام د زیری وو. ﴿قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ﴾ یعنی ما تاسو ته نه وؤ ویلی چه د یوسف خوشبوئ راځی نوهغه خبره رشتیا شوه . یا دا چه ما تاسو ته نه وو ویلی چه لاړشئ اود یوسف تحقیق اوکړئ ﴿قَالُوا يَا أَبَانَا﴾ خامنو درخواست اوکړو چه خمونګ دپاره مغفرت اوغواړه ﴿قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيٓ﴾ یعقوب ﷺ اوونیل چه لګ وخت روستو به ستاسو دپاره د مغفرت سوال د خپل رب نه وکړم . دا تاخیر یا د تهجدو وخت پوري دي یا د جمعي د شپي پوري دې، کما فی روایة الترمذی وَحَسَّنَه . دا دواړه اوقات د قبولیت دی، یا دا تاخیر وقت دَملاقات د یوسف ﷺ پوري دي چه هغه معافی کوی یا نه. ځکه چه د حقوق العباد د معافی دپاره د مالك د حق معافی کول ضروری دی، بعض مفسرینو لیکلی دی چه رونړو د یوسف ﷺ کله چه یوسف ته تعریض دَ معافئ اوکړو په ﴿وَإِن كُنَّا لَخَاطِئِينَ﴾ سره نو یوسف ﷺ فوراً ﴿لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ﴾ اوونیل . اوچه یعقوب ﷺ نه نی طلب د معافی اوکړونوهغه ﴿سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيٓ﴾ اوونیل نوعطاء خراسانی وائی چه معلومه شوه چه طلب د عفو د ځوانانو نه آسان وی په نسبت د بوډاګانو . (قرطبی وغیره) .

فَلَمَّا	دَخَلُوا	عَلَىٰ	يُوسُفَ	آوَىٰ	إِلَيْهِ	أَبَوَيْهِ
پس هرکله چه دوئ داخل شو په [1] يوسف باندې نوهغه ځائ ورکړو خپل ځان سره مور پلار خپل ته						
وَقَالَ	ادْخُلُوا	مِصْرَ	إِن	شَاءَ	اللَّهُ	آمِنِينَ ۝ وَرَفَعَ
(او یوسف د استقبال لپاره باهر راغلې وؤ) او وې ویل داخل شئ مصرته انشاء الله په امن سره به یئ. او اُوچت ئ کړل						

۱ - پنخلسم حال .

أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ يَا أَبَتِ هَٰذَا
مور اوپلار خپل په تخت باندې او پرې وتل دوئ طرف د ده ته سجده کونکی ، او وه ویل یوسف اې پلاره ! دا
تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا ۖ
تعبیر د خوب ځما دې چه د دې نه مخکښې ما لیدلې وو ، بیشکه وګرځوو دې خوب ځما لره رب ځما ریښتیا
وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ
او یقینًا احسان ئې کړې دې ځما سره کله چه څه ئې راویستلې یم د جیل نه، او تاسو ئې را وستلئ د باندو نه.
مِن بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي ۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ
بعد دهغې نه چه فساد اچولې وو شیطان په مینځ ځما او د رونړو ځما کښې، بیشکه رب ځما ښائسته تدبیر کونکې دې
لِّمَا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ۝
دهغه کار چه وې غواړی، بیشکه هغه په هر څه پوهه او حکمتونو والا دې.

﴿ فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ داپنځلسم حال دې په دې کښې ذکر د ملاقات دیعقوب علیه السلام دې او ټولو اهل بیتو دې، هرکله چه یعقوب ﷺ سره داهل عیال نه ، چه اویا (۷۰) کسان وو. یا دوه اویا (۷۲) کسان وواویا درې نوی (۹۳) کسان وو، مصر ته راروان شو، نوچه کله نزدې شو نویوسف ﷺ د دوئ د استقبال دپاره دمصر نه بهر ولاړوو. اوهلته ئې د هغوئ د آرام دپاره یومجلس جوړکړو او چه راورسیدل نومعانقه ئې ورسره اوکړه او د غم اوښکې ئې د خوشحالئ په اوښکو باندې بدلې شوې ، نوجبرائیل علیه السلام راغې اووې وئیل چه ملائك هم تاسو سره په دې خوشخالئ کښې شریك دی، او بیا یوسف ﷺ مور پلار له خپل ځان سره په خاص مجلس کښې کینول اودا معنی د ﴿ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ﴾ ده .او د آرام کولو نه بعد ئې ورته اووئیل ﴿ادْخُلُوا مِصْرَ﴾ اوبعض وائی چه ﴿ادْخُلُوا مِصْرَ﴾ ئې ورته د مصر ته د رسیدو نه بعد ویلی دی، اودخول په معنی د قیام سره دې، یعنی اوسیګئ په مصر کښې. او مفسرینو ویلی دی چه یوسف ﷺ د خپل پلار نه تپوس اوکړو چه تا ولې خلوینبت کاله وجړل چه د سترګو نظر دې خراب شو؟ آیا تاته دا یقین نه وو چه که زمونږ ملاقات په دنیا کښې نه

شي نو په آخرت کښې به ضرور کيږي ، يعقوب ﷺ ورته اوفرمائيل چه ته په وړوکوالی کښې خما نه جدا شوې وې نو له ما سره دا تشويش وؤ چه آيا ستا دين به سلامت پاتې شی او که نه خکه چه آخرت کښې به مؤمن او غير مؤمن جدا وی .

او مراد د ﴿أَبَوَيْهِ﴾ نه په قول د جمهورو کښې پلار او خاله دی خکه چه مور خوئ په ولادت د بنيامين کښې وفات شوې وه، اوبعض مفسرين وائی چه مراد ترينه مور پلار دی اومور د يوسف ﷺ حياة وه، قرطبي د حسن نه روايت کړې دې چه مور د يوسف ﷺ وفات شوې وه، ليکن بيا الله ژوندئ کړه د پاره د رشتياکيدو د رؤيا (خوب) د يوسف ﷺ حتّی چه دې سجده اوکړه. ﴿إِن شَآءَ ٱللَّهُ﴾ دا د (آمنين) سره متعلق دې، يعنی انشاء الله چه تاسو به په امن کښې يئ د قحط نه او د نورو پريشانونه ﴿وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى ٱلْعَرْشِ﴾ دعرش نه مراد تخت د بادشاه دې. چه بادشاه يوسف ته حواله کړې وؤ، يعنی والدين ئ د اعزاز او اکرام دپاره په تخت باندې کينول، ليکن الله تعالی چه يوسف ﷺ ته کوم عزت مقرر کړې وو نو هغه خامخا واقع کيدونکې وؤ ، نو ددې وجې نه هغوئ ټولو يعني مور پلار اويوولس رونړو يوسف ﷺ ته د تعظيم دپاره سجده اوکړه، او د خوب تعبير ئی پوره شو، او دا سجده تعظيمی وه يعنی د تعظيم لپاره وه او عبادتی سجده نه وه، تعظيم د غير الله مطلقًا ممنوع ندې، او عبادت د غير الله مطلقًا ممنوع دې او په هر ملت کښې اوهر دَور کښې ممنوع وؤ او هرچه سجده د تعظيم او احترام لپاره ده نو دا د حضرت آدم ﷺ د زمانې نه د عيسی ﷺ د زمانی پورې جائزه وه، او زمونږ په شريعت کښې ممنوع او حرام کړې شويده، او په کثرت سره احاديث په دې باندې دال دی، او بعض مفسرين وائ چه دلته سجده اصطلاحی نده مراد بلکه دا سجده لپاره د سلام وه او په طريقه د سربنکته کولو او لاسونه جوړې کولو سره وه او دا په مخکنو امتونو کښې د اکرام لپاره جائزه وه او زمونږ په ملت کښې منسوخ شويده لکه په روايت د ترمذی کښې دی چه عن انس رضی الله عنه قال : قلنا يا رسول الله ! اينحنی بعضنا الی بعضٍ اذا التقينا؟ قال لا — الخ، او بعض مفسرين وائی چه دا سجده يوسف ﷺ ته نه وه بلکه الله تعالی ته وه، هرکله چه دوئ د يوسف ﷺ عزت او عظمت وليدلو نو د الله تعالی په مخکښې ئی سجده د شکر اداء کړه. نو بنا پدې لام په ﴿وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدًا﴾ کښې لام اجليه ، سببيه دې، يعنی د يوسف ﷺ د وجه نه ټولو الله تعالی ته سجده وکړه او بعض وائی چه يوسف ﷺ مسجود اليه وؤ لکه قبله، او

مسجود له نه وؤ

﴿وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأۡوِيلُ رُءۡيَٰيَ﴾ يوسف ﷺ ته مور پلار اورونړو سجده اوکړه نو د دې نه توهم پيدا کيږي دتکبر ا و د تهمت، نو په دې سره ئې دفع اوکړه چه په دې کښې زما څه دخل نه وو، د خوب تعبير الله پوره کړو، ﴿وَقَدۡ أَحۡسَنَ بِيٓ﴾ يوسف ﷺ د خپل عجزد اظهار دپاره دالله داحساناتو بيان کوی، ﴿إِذۡ أَخۡرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجۡنِ﴾ دسجن نه د راوتو ذکر ئې اوکړو او دَ کوهی ذکر ئې اونه کړو نودا څکه چه رونړو سره ئې وعده کړې وه چه (لاتثريب عليکم اليوم) يعنی په تاسو هيڅ ملامتيا نشته دې، اوکه دکوهی ذکر اوکړی نوبيا په هغوئ باندې طعن او ملامتيا ته اشاره راځی او بل داچه يوسف دکوهی نه راوتلو نو بادشاه شوې نه وؤ بلکه غلام جوړ کړې شوې وؤ، او چه د جيل نه راوه وتلو نو بادشاه شو، نودا کامل انعام دې. اوبله دا چه دکوهی نه چه راوتلو اومصر ته ورسيدلو نو د امراءة العزيز اونورو خزو نه په پريشانئ کښې واقع شو، اوچه د جيل نه راوه وتلو نو دخپل پلار او رونړو سره ملاو شو. نودا لوئ انعام دې او بعض وائی چه ﴿إِذۡ أَخۡرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجۡنِ﴾ شامل دې کوهی ته هم څکه چه کوهی هم جيل دې ﴿وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ﴾ کنعان اگر که باديه نه وه خو د مصر په نسبت باديه وه، او عام مفسرين وائی چه (بدو) نه مراد د کنعان قريبی صحرا گانې دی چه هلته لگ شان آبادی وه، يعقوب ﷺ به اکثر هلته تللو او د خلقو سره به ئې مجلس کولو ﴿مِنۢ بَعۡدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيۡطَٰنُ﴾ دلته يوسف نسبت د فساد او د چگړې شيطان ته اوکړو د دې دپاره چه په رونړو ملامتی رانشی، او هغوئ ته تسلی اوشی چه څومره چه زمونږ په مينځ کښې حسد او فساد پيدا شوې وؤ نودا د شيطان ملعون حرکت دې، څما درونړو شرارت نه وو، ﴿إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ لِّمَا يَشَآءُ﴾ لطيف يوپه معنی د د مهربانئ سره راځی، بل په معنی د باريک بين سره راځی اوعالم بخفيات الامور سره راځي، دلته دا دويمه معنی مراد ده. يعنی الله تعالی په داسې مخفی طريقې سره تدبير کونکې دې چه هيڅ چاته يې علم نشته دې، د يوسف ﷺ په واقعه کښې د چاوهم او گمان نه شو کيدې چه دداسې حالاتو باوجود به هم دوئ ته عزت او سلطنت ملاوشی.

رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ

ای ربه په تحقیق سره تا راکړی ده ما ته بادشاهي او علم دي راکړیدی ماته د تعبیر د خوبونو . ای پیدا کوونکه د آسمانونو

وَالْاَرْضِ اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِيْ

او د زمکي ته کار ساز خما ئي په دنیا او آخرت کښې. وفات کړي ما لره په حالت د اسلام او یوځای کړي ما

بِالصّٰلِحِيْنَ ۝ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ

د نیکانو سره. پس د مرګ نه. دا چه ذکر سو[1] بعضي د خبرونو د غیب نه دي. وحي کوو مونږ د دي تا ته ای پیغمبره او نه وې ته

لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ۝

د دوئ سره حاضر. کله چه دوئ کلك عزم وکړو د خپل کار (یعني یوسف کوهي ته غورزول) او دوئ تدبیرونه کول

وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَمَا تَسْئَلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ

او نه دي اکثر خلق. اګر که ته حرص کوې. ایمان راوړونکي اونه غواړي ته د دوئ نه په تبلیغ د دي قرآن څه اُجرت

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ندي دا مګر نصیحت دي ټولو خلقو لره او ډیري نښاني (دلائل د توحید) دي په اسمانونو اوزمکه کښې

يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ۝ وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ

چه دوئ په هغې باندي تیریږي. او بیا هم دوئ د غور کولو نه په هغې کښې مخ اړوي. او ایمان نه لري اکثر خلق

بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ۝ اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ

په الله تعالی باندي مګر دا چه دوئ شرك هم کوي آیا دوئ بې خوفه دي د دینه چه راشي دوئ ته یو راګیرونکي عذاب

مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝

د عذاب د الله تعالی نه یا به راشي دوئ ته قیامت ناڅاپه او دوئ به نه پوهیږي

۱ . دریمه دعوی

﴿رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ﴾ داپه آخر د واقعه کښې ذکر د دعا دیوسف ﷺ دې. یوسف ﷺ د الله ﷻ د مادی انعام ذکر اوکړو، اوبیا ئې د روحانی انعام ذکر اوکړو چه ﴿وَعَلَّمۡتَنِي﴾ اوبیائې دالله تعالی د اسماؤ په وسیله سره سوال اوکړو. تفسیر قرطبی وغیره ۳ اهل تاریخ په حواله لیکلی دی چه یعقوب علیه السلام په مصر کښې درویشت (۲۳) کاله تیر کړل. اوپه څلویرشتم (۲۴) کال وفات شو. د وفات نه مخکښې ئې خپلو ځامنوته وصیت اوکړو چه په دین اسلام باندې محکم اوسیږئ لکه په سوره بقره کښې د دې ذکر دې. اوبل دا چه ما د خپل والد اسحاق ﷺ په څنګ کښې دفن کړئ، د وفات نه بعد د هغه د وصیت مطابق یوسف علیه السلام دوئ په تابوت کښې کیخودلو او د مصر نه ئې فلسطین (بیت المقدس) ته ورسولو. او د اسحاق او ابراهیم علیهما السلام د قبرونو په څنګ کښې ئې دفن کړو او د سعید بن جبیر رحمه الله په روایت کښې دی چه په کومه ورز د یعقوب علیه السلام جنازه کنعان ته اورسیده نو په دغه ورځ د ده رور عیص بن اسحاق هم وفات شوې وو، یوسف دواړه رونړه قریب قریب دفن کړل، اوبیا مصر ته واپس شو، یعقوب او عیص دواړه توآمین وو دبطن واحدنه پیدا وو. عیص اول پیدا شوې وو، اویعقوب ﷺ روستو، نو ددې وجې نه دده نوم یعقوب شو (یعنی د روستونه راتلونکې)، د دواړو عمر ۱۴۷ کاله وو،

یوسف علیه السلام د پلار د وفات نه روستو مزید په مصر باندې دیرش (۳۰) کاله بادشاهی وکړه، د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې چه خاندان د یوسف علیه السلام چه مصرته داخل شو نو ټول درې نوی (۹۳) کسان وو، نارینه، زنانه، مشران او ماشومان. او د مصر نه ئې چه د فرعون په دور کښې هجرت کولو او د مصر نه وتل نو شپږ لاکه اویا زره (۶۷۰۰۰) کسان وو. اوهرکله چه د یوسف علیه السلام د دنیا نه زړه ډک شو او د الله تعالی ملاقات ته ئې ډیر شوق اوشو نو دعاء ئې اوکړه ﴿قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ﴾ دا مادی انعام دې ﴿وَعَلَّمۡتَنِي﴾ دا روحانی انعام دې ﴿تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِ﴾ اصل حقیقت او ځائ ته رسول د هرې خبرې که تعبیر د خوب وی یا بله مشکله خبره او معامله وی دهغې حل، ځکه چه د معاملې صحیح حل راؤباسل د هرچا کار ندې، بلکه دې له ډیر صلاحیت پکار دې، ﴿فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ دلته حرف نداء مقدره ده او دا دُعاء د په وسیله د اسماؤ د الله تعالی سره (فاطر) په معنی دَ خالق سره دې ﴿تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا﴾ پدې کښې دوه وجیه دی (۱) د وفات سوال مقصود ندې

بلكه مقصود دا دې چه كله د وفات وقت راشي نو څما وفات په اسلام وشي. (۲) سوال د وفات مقصود دې. نو سوال واردېږي چه دَ موت سوال كول جائز ندي لكه په حديث كښې دي ((لأيتمنَّيَنَّ احدُكم الموت لِضُرٍّ نزل به)) نو جواب دا دې چه د موت سوال كول د بيمارئ او تكليف د وجه نه جائز ندي ليكن د شوق د لقاء الله د وجه نه يا دَ بل څه صحيح غرض د وجه نه جائز دي لكه ساحرانو د فرعون چه دعاء وكړه: ﴿رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَتَوَفَّنَا مُسۡلِمِينَ﴾ حضرت مريم عليها السلام ويلى وو ﴿يَٰلَيۡتَنِي مِتُّ قَبۡلَ هَٰذَا﴾ او د معاذ ﷺ په حديث كښې دا دعاء مذكور ده چه (وَاِذا اَرَدْتَ بِقَوْمٍ فِتْنَةً فَاقبِضنى اِلَيْكَ غَير مَفْتُوْن) او د مسند احمد په روايت كښې دي چه (وَالْمَوْتُ خيرٌ لِلْمُؤْمِنِ مِنَ الْفِتَنِ) دارنگه حضرت على ﷺ په وخت د هجوم د فتنو كښې دا دُعاء اوكړه چه (اللهمّ خُذنى اليك) . او دا سوال د يوسف ﷺ دَ وجه د شوق نه دې لپاره د ملاقات د الله تعالى

﴿وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ﴾ د صالحينونه مراد پلار او نيكونه دى، او دا دعاء داسې ده لكه چه نبى ﷺ په وقت د موت كښې ويلى وو (اللهمّ بالرفيق الاعلى) او مقصود د دې دعاء نه اظهار دَ بى رغبتئ دې د دنيانه . يا مقصود حصول د درجاتو عاليؤ د پلار نيكه دې، مفسرينو د اهلِ تاريخ په حواله ليكلى دى چه يعقوب ﷺ په مصر كښې ځلويښت (۴۰) كلونه تير كړل اوبيا وفات شو او په شام كښې دَ حضرت ابراهيم ﷺ او اسحاق ﷺ په جوار كښې دفن شو، او يوسف ﷺ د دينه روستو درويشت (۲۳) كاله نور په مصر حكومت اوكړو او بيا ئې د دنيانه زړه اوچت شو او د الله تعالى د ملاقات او د خپلو آباؤ او اجدادو دصحبت شوق ئې پيدا شو، نو دا مذكوره دعاء ئې وكړه او وفات شو، (طيبًا ، طاهرًا) ، او اهل مصر د ده په دفن كښې اختلاف وكړو. هرې محلې والا دا غوښتل چه زمونږ سره قريب دې دفن شي. حتى چه نزدې وو چه له يوبل سره قتال وكړى . نو بالاخره پدې متفق شو چه د ده جسم د سنگ مرمر په صندوق كښې او د درياى نيل په غاړه ئې په داسې مقام كښې دفن كړى چه اوبه په هغې راځى او مصرته خورېږى او ټولو ته يوشان رسيږى، او د حضرت عكرمه ﷺ نه روايت دې چه يوسف ﷺ د درياى نيل په ښى طرف كښې دفن شو . نو په بل جانب كښې قحط شو نو بيا نقل كړې شو چپ جانب د نيل ته نو په ښى طرف قحط راغې نو بيا ئې نقل كړو او په وسط د نيل كښې ئې دفن كړو. اهلِ سير وائى چه يوسف ﷺ د شپږ شلې (۱۲۰) كالو په عمر كښې وفات شوې دې.

او د عزیز مصر د وفات نه نی وروستو دهغه د بی بی زلیخې سره نکاح شوې وه او دوه خامن نې ترینه پیدا شوی وو. د یو نوم افرائیم وو او د بل نوم منشا وو. اویوه نې لور وه چه دهغې نوم (رحمت) وو، هغه د ایوب ﷺ په نکاح کښې رغلې وه. او د افرائیم خوی (نون) وو او د هغه خوی یوشع ﷺ وو چه د موسی ﷺ رفیق وو، او په یو روایت کښې دی چه یوسف ﷺ وصیت وکړو چه داسې وقت به راشی چه بنی اسرائیل به د مصر نه هجرت کوی نو خما جسد دې ځان سره شام ته یوسی، او دَ آباؤ او اجدادو سره دې ما دفن کړی. نو دیوسف ﷺ د وفات نه بعد عمالقه په مصر باندې مسلط شو او بنی اسرائیل د هغوئ ماتحت وو، تر دې چه د موسی ﷺ زمانه راغله، اوکله چه بنی اسرائیلو هجرت کولو نو د یوسف ﷺ د وصیت مطابق موسی ﷺ دهغه د قبر تفتیش وکړو چه د سنګِ مرمر په تابوت کښې وو، هغه ئې د ځان سره فلسطین ته یوړو او د حضرت اسحاق اوحضرت یعقوب علیهما السلام په څنګ کښې ئې دفن کړو. فسبحان من لا انقضاء لملکه وسلطانه.

فائده سلطان محمود غزنوی رحمه الله په خپل دور کښې جهاد شروع کړو نو د غزنی نه تر هندوستان پورې ملك ئې فتح کړو او چه د وفات وخت ئې قریب شو نو یوڅو اشعار ئې وه ونیل چه بعض دهغې نه دادی:

هزار قلعه گرفتن به یک اشارت دست — بسې مصاف شکستم به یک اشارتِ پائ

چون مرگ تاختن آورد هیچ سودنکرد — بقا بقائ خدائیست ملک ملک خدا

یعنی چه ما به په لاس اشاره وکړه چه دا فلانئ قلعه فتح کوؤ، نو فوج به هغې ته ورسیدلو اوهغه به ئې فتحه کړه اوچه ما به په خپو سره اشاره وکړه چه فلانې میدانِ جنګ به فتح کوؤ، نو فوجیان به ورته رسیدلی وؤ اوهغه میدان جنګ به ئې فتح کړې وؤ، اوهیڅ مقابل خما دفاع نشوه کولې، لیکن چه مرګ حمله وکړه نو دهغې دفاع نشوه کیدلې. نو حقیقی بقاء د الله تعالی بقاء ده او حقیقی بادشاهی د الله تعالی بادشاهی ده

﴿ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ ﴾ دا دریمه دعوی ده، یعنی ته ریښتنې رسول ئې ځکه چه الله تعالی ته د وحی په ذریعه سره د امورو د غیب نه خبر کړې لکه د یوسف علیه السلام او د هغه د رونړو قصه هم یو امر غیبی دې چه الله تعالی تاته د دې اطلاع په ذریعه د وحی سره درکړه.

﴿وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ﴾ یعنی ته د رونړو د یوسف ﷺ سره حاضر نه وې، ﴿إِذْ أَجْمَعُوٓا۟ أَمْرَهُمْ﴾ کله چه دوئ بخه کړه اراده خپله چه یوسف ﷺ په کوهی کښې واچوی ﴿وَهُمْ يَمْكُرُونَ﴾ یعنی دوئ د ده

متعلق ندبیرونه شروع کړل چه پلارته اوایو چه دې مونږ سره صحراء ته پریږده ﴿ وَمَآ أَكْثَرُ النَّاسِ ﴾ یعنی باوجود ددې نه چه ستا په صداقت دومره واضح دلیلونه موجود دی بیا هم اکثر خلق ایمان نه راوړی . دا زجر دې کفاروته . ﴿وَمَا تَسْأَلُهُمْ عَلَيْهِ ﴾ داتسلی ده یعنی که څوك ایمان نه راوړی نوتاته هیڅ نقصان نشته ، ځکه چه ته خو د دوئ نه څه اجرت (تنخواه) نه غواړې چه هغه به بنده کړې شی . دا خو: دَ ټولې دنیا دپاره نصیحت دې. ﴿وَكَأَيِّن مِّنْ آيَةٍ ﴾ دا زجر دې مشرکینو ته چه دوئ اعراض کوی ﴿يَمُرُّونَ ﴾ مراد د .دې نه نظر تیرول دی یعنی مشاهده کول دی دالله تعالی دَ دلائلو دتوحید ، لیکن دوئ ترینه اعراض کوی ﴿ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم ﴾ دا زجر دې، اومراد د ایمان نه ایمان لغوی دې . یعنی تصدیق په وجود دالله او په ربوبیت دالله او په خالقیت دالله .ایمان شرعي نه دې مراد ځکه چه ایمان شرعی دکفر سره نه شی یوځائ کیدې، او مقصود دآیت دادې چه مشرکان د الله تعالی دَ خالقیت تصدیق کوی یعنی دا عقیده لری چه صرف الله تعالی خالق دې، رازق دې لیکن بیا هم شرك په عبادت او استعانت کښ کوی، د غیر الله عبادت کوی ، هغوئ ته (بُتانو ، قبرونوته) سجدې لګوی او د هغوئ په نوم نذرونه ورکوی او د هغوئ نه مدد غواړی لکه دا حالت مشاهده دې په دې زمانه کښ . فالی الله المشتکی، ﴿ أَفَأَمِنُوا ﴾ دا تخویف دې، یعنی مشرکین چه د الله تعالی د توحید نه غافل دی نو آیا دوئ د دینه بی خوف دی، او د دینه نه یریږی چه راشی دوئ ته د الله د طرف نه سخت عذاب. ﴿غَٰشِيَةٌ ﴾ ای عقوبة غاشیة مُجللة (ابن عباس) ، یعنی عام عذاب په دوئ راشی .

قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُوا إِلَى اللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي ۖ
ته ووایه چه دا څما لاره ده چه بلنه کوم د الله د توحید طرفته ، په پوره بصیرت او دلیل سره څه او څما تابعداران
وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۞ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا
او پاکی ده الله تعالی لره او نه یم څه د مشرکانو د ډلې نه . اوندی لیږلی مونږ ستانه مخکښ مګر نارینه

نُوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡقُرٰی ؕ اَفَلَمۡ یَسِیۡرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ فَیَنۡظُرُوۡا

ه وحی کوله مونږ هغوئ ته د اهل د لويو کلونه. آيا پس دوئ ندی گرځيدلی په زمکه کښ پس چه وگوری په نظر د عبرت سره

کَیۡفَ کَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ وَلَدَارُ الۡاٰخِرَةِ خَیۡرٌ

چه څرنگه وو آخری انجام د هغه خلقو چه مخکښ وو د دوئ نه او خامخا کور د آخرت ډير غوره دې هغه چا لره

لِّلَّذِیۡنَ اتَّقَوۡا ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۰۹﴾

چه تقوی کوی، آيا پس بيا هم تاسونه پوهيږئ

﴿ قُلۡ هٰذِهٖ سَبِیۡلِیۡۤ ﴾ دا ترغيب دې دعوت ورکولو ته، دا (هذه سبيلی) جمله مفسَره ده، ﴿اَدۡعُوۡۤا اِلَی اللّٰهِ﴾ مفسِّره ده ﴿عَلٰی بَصِیۡرَةٍ﴾ متعلق د (ادعوا) سره دې، ياداجمله حاليه ده . ای حال كونی علی بصيرة، (بصيرت) دزړه بينائی ته وائی اوبصارت د سترگو بينائی ته ويلې شی او مراد د بصيرت نه واضح حجت دې . يعنی څما دعوت په دليل واضح سره دې يا دا چه څما دعوت په نور د باطن او په پوره شرح صدر سره دې او الله تعالی ماته يو داسې نور راکړې دې چه په هغې سره څما د ټوول ملگرو متبعينو دماغ روښانه دی او وهم پرستی او او ړوند تقليد ندې، ﴿اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِیۡ﴾ انا تاكيد دې دضمير مرفوعه متصله نه په (ادعوا) كښ او (من اتبعنی) عطف دې په دغه ضمير مرفوعه متصله باندې چه فاعل دې، او معطوف په فاعل باندې خو فاعل وی او دلته اگر كه (من اتبعنی) فاعل د (ادعو) دپاره نشي كيدې ليكن په دې كښ تغليب دې دمتكلم په غير متكلم باندې او اشاره ده اتحاد ته ، يعنی دعوت دمتبع بعينه دعوت دمتكلم يعنی څما دې ، يا (انا) مبتدا ده او (من اتبعنی) پرې عطف دې . او (علی بصيرة) خبرمقدم دې، ﴿وَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ﴾ دلته (اَقُول) مقدرذې ، يعنی څما ددعوت خلاصه داده چه الله تعالی پاک دې د شريك او د نظير نه او د ولد نه ، اوزه نه يم د مشركانو د ډلې نه . مقصود براءت دې دمشركانونه .

﴿ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِکَ اِلَّا رِجَالًا ﴾ داجواب دې د جواب دَ شبهې د كفارو نه، چه دوئ ويل چه ته خو بشر يې اوبشر رسول نه وی، نوجواب اوشو چه ټول انبياء بشر وو، يونبی هم فرشته نه وو ، اوپه بشر كښ نارينه وو ، هيڅ نبی زنانه نه وو ﴿نُوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ﴾ يعني دنبی فرق اوامتياز

ده نورو خلقو نه داوو چه نبی ته به وحی کیدله، اهل سنت والجماعت په دې متفق دی چه زنانه نبیه نشی کیدې، البته ولیه او صدیقه کیدې شي او په نصوصو کښې چه راغلیدی چه د حضرت مريم او حضرت ساره او حضرت آسیه سره ملائکو خبرې کړی دی . نو دا دلیل د نبوت ندې بلکه کرامت دې ﴿مِّنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ﴾ قری نه مصر او ډیرې آبادی والا ښار ورنه مراد دې . د حسن بصری رحمه الله نه روایت دې چه الله تعالی نبی ندې رالیږلې د بادیه (باندې) والا نه ځکه چه په هغوئ کښې سخت مزاجی وی او په شهر والا کښې حلم او علم وی او کامل عقل والا وی ﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا﴾ دا تخویف دنیوی دې .

حَتَّىٰ	إِذَا	اسْتَيْأَسَ	الرُّسُلُ	وَظَنُّوا

(مخکښو کافرانو ته مهلت ورکړې شوې وو) تر دې پورې چه [1] نا اُمیده شو رسولان او ګمان وکړو قوم د دوئ

أَنَّهُمْ	قَدْ	كُذِبُوا	جَاءَهُمْ	نَصْرُنَا	فَنُجِّيَ	مَن	نَّشَاءُ	

چه د دوئ سره د دروغو وعده کړې شوې وه. نو را به غې دوئ ته مدد زمونږ پس بچ به کړې شو هغه څوک چه مونږ غوښتل

وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١١٠﴾ لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ

اونه شی واپس کیدې عذاب زمونږ د قوم مجرمانو نه یقینًا شته دې په قصو د پیغمبرانو کښې عبرت

لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ۗ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي

د خاوندانو د عقل لپاره . ندې دا قرآن خبره د ځان نه جوړه کړې شوې . لیکن دې تصدیق دې دهغه کتابونو

بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١١١﴾

چه د ده نه مخکښې دی او تفصیل دې د هرې ضروری خبرې او هدایت او رحمت دې هغه قوم لره چه ایمان راوړی

﴿حَتَّىٰ إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ﴾ دا د سورت څلورمه دعوی ده . یعنې امتحانات او مصائب به راځي لیکن په آخر کښې به الله فتح تاته درکوي ، لکه په نورو انبیاؤ باندې دومره امتحانات

١ . څلورمه دعوی

راغلل چه دوئ مایوس کیدو ته نزدې شو ، نوپه دغه وقت کښې به د الله مدد راغي (حتّى) غايه ده د محذوف لپاره، تقدير د كلام دارنگه دې لايغررهم تماديهم فيما هم فيه من الدعة والرخاء فان من قبلهم قد امهلوا حتى – الخ ، يعنى د اكفار دې دتاخير دعذاب نه داگمان نه كوى چه عذاب نشته ځکه مخکښې قومونو ته مهلت ورکړې شوې وؤ، اوتاخير د عذاب شوې وو، حتى چه نا اُميده شو رسولان دمغلوب كيدو دكفارو نه په دنيا كښې اوگمان نې اوكړو چه - الخ ، علامه زمخشري وائى چه دا متعلق دې د ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا ﴾ سره اى وما ارسلنا قبلك الا رجالا فتراخى النصر حتى اذا – الخ . **سوال**: نا اُميدى د الله تعالى د رحمت او د امداد الهى نه كفر دې نو رسولان به څرنگه نا اُميده شى ، **جواب** (١) مراد يأس طبعى غير اختيارى دې او دا معصيت ندې او د عصمت سره منافى هم ندې بلكه د غير اختيارى وساوسو په باره كښې حضور ﷺ فرمايلى دى (ذاك صريح الايمان)، **جواب** (٢) مراد يأس دې په اعتبار د ظاهرى حالاتو سره ، يعنى ظاهراً اسباب او آثار د نصرت د مؤمنانو او د شكست د كفارو په نظر نه راتلل او نا اُميدى په اعتبار د محض ظاهرى حالاتو سره منافى نده د عصمت سره ، **جواب** (٣): مراد نا اُميده كيدل دى د ايمان د قوم خپل نه او د نصرت او رحمت الهى نه نا اُميدى نده مراد.

﴿وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ﴾ دلته دوه قرآءته دى. يوپه تشديد د ذال سره (كذّبوا) چه د تكذيب نه مشتق دې ، او دويم په تخفيف د ذال سره دې (كذبوا) چه د كذب نه مشتق دې ، په اول قرامت كښې دوه توجيه دى : (١) (ظنوا) په معنى د (ايقينو) سره دې ، د ظن استعمال په يقين كښې شايع دې ، لكه (وظنوا ان لا ملجاء من الله الا اليه) ، يا (يظنون انهم ملاقوربهم) ، او ضمائر د (ظنوا . انهم كذبو) راجع دى انبياؤ ته ، نومعنى داشوه چه يقين اوكړو رسولانو چه په تحقيق سره زمونږ تكذيب كړې شوې دې دطرف دامت نه . (وكذا فى حواشى البخارى اى جلد اول) ، (٢) دويم داچه ضمير په (ظنوا) كښې انبياؤ ته راجع دې، او د (انهم) ضمير اتباع الرسل ته راجع دې. او (قدكذبوا) په معنى د (سيكذبوننا) سره دې ، نومعنى داشوه چه رسولان . نا اُميده شو دايمان د قوم نه اونصرت الهى دومره موخر شو چه رسولانو داگمان اوكړو چه اوس به دا زمونږ اتباع هم زمونږ تكذيب اوكړى، نو په دغه وخت كښې ﴿ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا ﴾ دا توجيه مروي ده د ام المومنين عايشه ﵂ نه په جواب د سوال د عروه ابن زبير كښې .او په دويم قراء

ب کښې به ظاهر کښې سخت اشکال دي . ځکه چه ظاهره دا ده چه ضمائر ټول راجع دي رسولانو
ته . نو معنی دا شوه چه گمان اوکړو رسولانو چه دوئ ته دروغ ویلي شوي وو . یعنی وعده
خلافي ورسره کړي شوي وه اودا گمان خو د يو ادنى مومن د شان سره ندي مناسب نونبي ﷺ
به حرنگه داسي گمان وکړي . نو مفسرینو د دي یوځو جوابونه کړي دي (١) ضمایر ټول راجع
دي مرسل اليهم ته به قرينه د مقام سره چه ذکر ئی په ((وما ارسلنا — الخ)) کښې ضمناً
راغلیدي . یعنی گمان اوکړو دغه قوم چه مونږ ته دروغ ویلی شویدی . د طرف د رسولانو نه
یعنی پیغمبرانو چه مونږ ته د عذاب دهمکئ راکولي نو هغه دروغ وو . صرف زمونږ د یرولو
دپاره وو . نور څه نه وو . نو پدغه وقت کښې ﴿جَاءَهُمْ نَصْرُنَا﴾ (روح، شاه ولی الله)، (٢) کذب په
معنی د دروغو سره ندي بلکه په معنی د نه پوره کولو د وعدې د عذاب دي فی الحال. ځکه
چه کذب مقابل د صدق دي . او صدق په معنی د وعدې پوره کولو سره هم راغلیدي لکه ((من
المومنين رجال صدقوا ما عٰهدوالله)) . دلته صدقوا په معنی د وعدې پوره کولو سره دي نو کذب
په معنی د وعدې نه پوره کولو سره دي . معنی داشوه چه کفارو ته طویل مهلت ورکړې شو .
او آثار د نصرت نه وو . نورسولانو گمان اوکړو ، چه فی الحال یعنی زمونږ په زندگئ کښې به
وعده د مغلوب کیدلو د کفارو پوره نه کړې شي. یا به زمونږ د څه لغزش په وجه داوعده پوره
نه کړې شي. (٣) د ﴿وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا﴾ معنی داده چه پیغمبران د ډیرې پریشانئ د وجې
نه قریب وو چه داسې گمان وکړی . دقریب د شی نه کله تعبیر په عین شی سره کولې شی.
لکه بلغت المنـــزل ای قربت الیه ، (قرطبي) (٤) داظن اختیاری نه دي بلکه غیر اختیاری
وسوسه ده. (مدارك ، عثماني)(٥) ضمائر ټول راجع دی انبیاؤته اود کذب نه مراد کذب من
جانب الله نه دي . بلکه مراد ترینه غلطی اجتهادی ده د جانب د نفسونو د دوئ نه په تعین د
وعدې دنصرت کښې . یعنی الله به رسولانو سره د نصرت وعده اوکړه لیکن مطلقه به وه او
انبیاؤ به خپل اجتهاد سره هغې د وقت متعین کړو او په دغه وقت متعین کښې به نصرت
رانغې. نو دوئ به ویل چه مونږ غلطی کړې وه چه په اجتهاد سره مو وقت متعین کړې
وو(تهانوی . روح) . (٦) دا د باب د الزام المخاطب بمالا یلتزم د قبیلې نه دي او دا يو مستقل
باب دي په قرآن کښې چه مبنی ئی کمال تعلق او محبت دي . لکه الله ﷻ ابراهیم ﷺ ته فرمائي
(اولم تومن) او د یونس ﷺ په شان کښې فرمائی چه (فظن ان لن نقدر علیه) . (فیض الباری لشاه

انورشاه کشمیری) ﴿وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا﴾ مجرم ته الله مهلت ورکوی لیکن چه وې نیسی په عذاب سره نوځوك ئې نه شی خلاصولې ﴿لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ﴾ ضمیر راجع دې انبیاء ته .یا یوسف ﷺاو پلار او رونړو د ده ته چه په دې کښې عبرت دې . چه رونړوحسد اوکړونو نتیجه ئې ندامت اورسوائی شوه اوچه یوسف ﷺ صبر اوکړو نونتیجه ئې سر بلندی اوعزت او بادشاهی شوه، نوپه صبرکښې سلامتیا اوعزتونه دی . اوپه حسدکښې ذلت اورسوائی ده او دا رنګه په دې کښې دا عبرت دې چه الله ﷻ لکه چه یوسف دکوهی نه راوباسلو اوبادشاهی او عزت ئې ورته ورکړو اوحسد کونکی نادم اوذلیل شول نودغه شان به د حضور ﷺ حاسدین ذلیله کیږی . اوحضور ﷺ ته به الله ﷻ مزیده ترقی اوعزت ورکوی ·

﴿مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ﴾ دا بیان د صداقت دقران دې اوضمیر په کان کښې یا راجع دې قرآن ته یعنی دا قرآن افتراء نده لکه چه مشرکین وائی (ام یقولون افتراه) بلکه داتصدیق دې د مخکنو کتابونو یا دا ضمیر راجع دې قصصو د انبیاؤته یا قصې د یوسف ﷺ ته چه دا قصه افسانه نه ده بلکه حقیقت دې ، اوددینه هدایت ملاویګی اوعقل مند خلق ترینه عبرت حاصلوی ﴿وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ﴾ نه مراد دادې چه کوم شئ ته ضرورت وی په دین کښې نو دا د هغې تفصیل دې دټولودلائلو شرعیو بنیاد اومنبع قرآن دې ، نوځکه دې تفصیل د هرڅه شو ، معاملات وی اوکه عبادات یا اعتقادیات وی ﴿وَهُدًى وَرَحْمَةً﴾ دتفصیل داحکامو نه بعد هدایت ملاویږی . او د هدایت نه بعد نزول درحمت کیږی ·

اللهم انفعنا بعلوم القران وارزقنا تلاوته آناء الیل وآناء النهار واجعله حجة لنا لا علینا بفضلك ورحمتك یا ارحم الراحمین .

(تم سورة یوسف بحسن توفیقه وکرمه ۱۳ ربیع الاول ۱۴۳۰)

ركوع	سورة الرعد مدنية	آيتونه
۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۴۳

خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم كوونكي دې شروع كوم

رقما حسب التسلسل (۱۳) وحسب النزول (۹۶)

دترتيب قرانى په لحاظ سره ۱۳نمر سورة دې ، او د نزول په اعتبار سره ۹۶ دې . قبل الرحمن وبعد محمد ، اوپه دې كښې اختلاف دې ، چه آيا دا سورة مكى دې يا مدنى دې. د ابن عباس ﷺاوعلى بن ابى طالحه ﷺ او د سعيد بن جبير رﷺ او د سعيد بن منصور رحمه الله نه روايت دې چه دا مكى دې ، او دابن عباس ﷺ نه په بل روايت كښې او عطاء اوقتاده رحمهما الله نه روايت دې چه داسورة مدنى دې ، ليكن دا آيت ((ولايزال الذين كفرو – الخ)) مكى دې او راجح قول دا دې چه دا سورت مكى دې، مگر بعض آيتونه ئې مدنى دى.

ربط : ربط اسمى ئې دادې،چه مسئله د توحيد لكه څه رنگه چه يوسف ﷺ په جيل كښې د تعبير د خوب نه قبل بيان كړې ده نو دغه شان رعد فرښته او نورې فرښتې د الله تعالى پاكى وائې د شرك نه،او **ربط مضمونى** ئې دا دې،چه د ماقبل سورت نه ډير په وضاحت سره معلومه شوه چه كارساز متصرف فى الامور او عالم الغيب صرف د الله تعالى ذات دې،نو مسئله بديهى شوه ليكن كه چا ته په كښې خفاء ښكاريږى نو د خفاء لرې كولو د پاره په دې سورت كښې مزيد عقلى تنبيهات ذكر كيږى،يا دا چه په مخكښې سورت كښې نقلى دليل وو په دې چه متصرف فى الامور او عالم الغيب صرف د الله تعالى ذات دې او په دې سورت كښې عقلى دلائيل بيانيږى د دغه مسئلې د پاره،او بل دا چه د تير شوى سورت په آخر كښې د قرآن حقانيت ذكرشواودې سورت په ابتداء كښې هم دغه مضمون بيانيږى،اوبل دا چه په تير شوى سورت كښې ذكر شو ﴿وَكَأَيِّن مِّنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ نو په دې سورت كښې د هغې ذكر كيږى

خلاصه : په اول كښې تمهيد مع الترغيب دې،اته (۸) تنبيهات عقليه په توحيد باندې او يونقلى دليل او دوه وحى دلائيل دى،په درميان كښې تقابل د منونكو او د نهٔ منونكو دې.او په آخر كښې د مشركينونه د سوالونو جوابونه دى، **تفصيل دا دې** چه آيت نمبر ۱ تمهيد دې.آيت نمبر ۲ نه تر آيت نمبر۴ پورې اوله تنبيه او دليل عقلى دې بيا شكوه زجر تخويف

دي.دويم عقلي دليل اوتنبيه عقلي د پاره دنفي دعلم غيب ده دغير الله نه. ﴿ اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ ﴾ آيت نمبر۸ نه تر آيت نمبر ۱۱ پورې . دريم دليل او تنبيه عقلي ﴿ هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ ﴾ ۱۲ تا ۱۳، څلورم دليل او تنبيه عقلي ﴿ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ ﴾ آيت نمبر ۱۵ .پنځمه تنبيه او دليل عقلي على سبيل الاعتراف من الخصم. ﴿ قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ آيت نمبر ۱۶ .شپږمه تنبيه او دليل عقلي بطور مثال ﴿ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ﴾ تا آيت نمبر ۱۷. بيا تقابل د اوصافو د مؤمنانو او د كافرانو او امور متفرعه از آيت نمبر ۱۸ تا آيت نمبر ۲۵ .اوومه تنبيه او دليل عقلي ﴿ اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ ﴾ تا آيت نمبر ۲۶ .اتمه تنبيه اودليل عقلي ﴿ أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ ﴾ آيت نمبر۳۳ او دليل وحی ﴿ كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ ﴾ آيت نمبر ۳۰ دويم دليل وحی ﴿ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ ﴾ آيت نمبر ۳۶ دليل نقلي ﴿ وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ ﴾ آيت نمبر ۳۶ ، ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا ﴾ ، تا آيت نمبر ۳۸ د څلورو سوالونو جوابونه دی، د دې نه پس تخويف او شكوه ده.

الْكِتٰبِؕ	اٰيٰتُ	تِلْكَ	الٓمّٓرٰ
د كتاب دی	آيتونه	دا	الله به پوهيږی [1] په مراد خپل سره د دې نه

النَّاسِ	اَكْثَرَ	وَلٰكِنَّ	الْحَقُّ	رَّبِّكَ	مِنْ	اِلَيْكَ	اُنْزِلَ	وَالَّذِيْٓ
خلق	اكثر	ليكن	حق دي .	رب ستا نه	د	طرف	تا ته د	اوهغه چه نازل كړې شوې دې

تَرَوْنَهَا	عَمَدٍ	بِغَيْرِ	السَّمٰوٰتِ	رَفَعَ	الَّذِيْ	اَللّٰهُ	①	يُؤْمِنُوْنَ	لَا
چه تاسو ئی وينئ	ستنو نه	بغير د	آسمانونه	چه اوچت كړی ئ دی	ذات دې [2]	الله تعالى هغه		راوړی	ايمان نه

مُّسَمًّىؕ	لِاَجَلٍ	يَّجْرِيْ	كُلٌّ	وَالْقَمَرَؕ	الشَّمْسَ	وَسَخَّرَ	عَلَى الْعَرْشِ	ثُمَّ اسْتَوٰى
مقررې پورې.	د نيتې	چليږی	هر يو	او سپوږمۍ ،	لمر	او په كار ئ لګولی دی	په عرش بندې	بيا برابر شوې دې

---

۱ - تمهيد مع ترغيب

۲ - اول دليل عقلي

يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْآيٰتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ②

تدبير كوي د هر كار. په تفصيل سره بيانوي آياتونه، د دې لپاره چه تاسو په ملاقات د رب خپل يقين وكړئ

﴿تِلْكَ آيٰتُ الْكِتٰبِ﴾ دا تمهيد دې او ترغيب دې اتباع د قرآن ته (تلك) اشاره ده آيتونو ددې سورت ته او د كتاب نه مراد دا سورت دې، يعنى دا آيتونه د دې سورت كامله عجيبه آيتونه دى چه حق دې او د رب العلمين د طرفه راغلې دې، يا (تلك) اشاره ده دې سورت ته او د كتاب نه مراد قرآن دې، يعنى دا سورت د قرآن آيتونه دى، او مقصود الحاق د جز دې كل سره يعنى كل كتاب چه څه رنګه په كامله اكمل او حق دې او په اعلى معيار د فصاحت او بلاغت كښې دې، او معجز دې، او د رب العلمين د طرفه دې، نو دغسې دا جز هم دې ليكن تعجب دې چه دا داسې واضح او حق منلو نه ډير خلق انكار كوي ايمان نۀ راوړى ﴿اللّٰهُ الَّذِىْ رَفَعَ﴾ دا اول دليل عقلى دې، د ﴿رَفَعَ السَّمٰوٰتِ﴾ معنى دا نۀ ده چه اول ښكته وو او بيا ئې اوچت كړل بلكه معنى ئې دا ده، (خلقهنّ مرتفعات) يعنى اوچت او مرتفع ئې پيدا كړې دى، ﴿بِغَيْرِ عَمَدٍ﴾ عمد جمع د عمود ده او ﴿تَرَوْنَهَا﴾ ضمير راجع دې (سَمٰوٰت) ته يعنى تاسو وينئ اسمانونو چه ستنې ورته نشته دې، او ددې نه معلوميږى چه اسمان ليدلې شى، او دا شين رنګ د اسمان دې، او په بل آيت كښې دى، ﴿وَاِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ﴾ فلاسفه وائى چه دا رنګ د اسمان نۀ دې، بلكه د رڼا او د تيرې د خلط نه شين رنګ محسوسيږى، څكه د لاندې نه د ستورو رڼا ده او د پاسه نه تياره ده نو د دې دَ خلط نه شين رنګ پيدا شو ليكن د فلاسفو دا تحقيق د دې نه مخالف نه دې، بلكه كيدې شى چه د اسمان رنګ دې هم شين وى، لكه د ابو ذر غفارى ﷺ په تعريف كښې رسول الله ﷺ فرمائيلي دى، (ما اظلت الخضراء ولا اقلت الغبراء على ذى لهجة اصدق من ابى ذر)، يعنى د آسمان د لاندې او د زمكى د پاسه د ابوذر ﷺ نه څوك زيات رينښتينې نشته دې، په دې حديث مبارك كښې ئې اسمان ته خضراء وئيلې دى، يا ضمير په (تَرَوْنَهَا) كښې راجع دې عمد ته يعنى عمد وله شته دې، خو مرئى نۀ دې يعنى ښكاره نه دې، لكه دا روايت دې د ابن عباس ﷺ نه او دا رنګې د حسن ﷺ او د قتاده ﷺ وغيره نه چه (لها عمد ولكن لا نرى)، د امام رازى ﷺ تحقيق دا دې، چه د عمد غير مرئيه نه مراد د الله تعالى قدرت دې. يعنى دا اسمانونه د الله تعالى په قدرت سره قائم دى، چه هغه په سترګو نۀ

ليدلې كيږي.﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ﴾ (ثُمَّ) د تراخي في الذكر د پاره راغې.يعنې بيا دا هم واوره.چه الله تعالى استوى على العرش كړې ده.ددې تفصيل مخكښې تير شوې دې.چه دا كنايه ده د تصرف نه يعنې اسمانونه الله تعالى پيدا كړي دي او ددې تصرف او چلول الله تعالى په خپله كوي بل چا ته ئې نۀ دي حواله كړي.﴿وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ﴾ دا د تصرف بيان دې چه نمر سپوږمۍ ئې په ډيوټۍ او كار باندې لګولي دي.د بل چا اختيار په كښې نشته دې.نه د نبي.نۀ د ولي.نۀ د بل چا لكه بعض جاهلان اواهل شرك اوبدعت وائي چه نمريا سپوږمۍ په حكم دشيخ عبدالقادرجيلاني رحمه الله سره چليږي.﴿لِأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ مراد د دې نه فنا د عالم ده.﴿يُدَبِّرُ الْأَمْرَ﴾ يعنې د هر كار تدبير په خپله كوي.بل چا ته ئې نۀ دي حواله كړې ﴿يُفَصِّلُ الْآيَاتِ﴾ دلائل د توحيد په تفصيل سره بيانوي.

وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا ۖ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ
او الله تعالى هغه ذات دې چه غوړولې ئې ده ځمكه، او پيدا كړي ئې دي په دې كښې غرونه او سيندونه، او د هر قسم ميوونه ئې
جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ ۖ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ۳
پيدا كړيدي په دې كښې جوړې دوه، پټوي په شپې سره ورځې لره بيشكه په دې كښې ډير دليلونه دي هغه قوم لره چه فكر كوي
وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ
او په ځمكه كښې مختلفې ټكړې دي د يوبل سره پيوست، او باغونه دي د انګورو نه او فصلونه او كجورې
صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَىٰ بِمَاءٍ وَاحِدٍ
چه ځينې د يو بيخ نه ډيرو خاخو والا دي اوځينې يو بيخ نه يو خاخ والا وي. اُوبه كولې شي په يو قسم اوبو سره.
وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۴
او غوره والې وركوو مونږ بعضو لره په بعضو باندې په خوند كښې. بيشكه په دې كښې دليلونه دي هغه قوم لره چه عقل لري

﴿وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ﴾ دا د اول دليل عقلي حصه ده.او په دې كښې د سفلياتو ذكر دې او مخكښې د علوياتو ذكر وو يعنې علويات سفليات ټول د الله تعالى په وحدانيت دال دي.﴿مَدَّ الْأَرْضَ﴾ زمكه ئې غوړولې ده.او خوره كړې ئې ده.اهل هيئت په دې قائل دي چه زمكه كره ده

ليکن دغه نظريه ددې آيت سره مخالف نۀ ده، ځکه چه کره کله ډيره لويه وی،نو د هغې هره هره حصه په نظر باندې خوره سطح راځی ﴿وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ﴾ دا جمع د راسیٌ ده او موصوف ورله (جبَالٌ) دې او صفت د مذکر لا يعقل جمع کيږی په فواعل سره لکه (جمل بازل و بوازل)،حائط او حوائط وغيرذلك.او بعض وائی چه دا جمع د (راسيةٌ) ده،او دا موافق ده د قياس سره. رواسی د رسو نه مشتق دې،په معنی ده ثبات د اجسامو ثقيلو سره،نو د رواسی معنی دا ده چه کلك او پاخۀ غرونه چه په خپله نۀ خوزيږی د خپل ځائې نه او زمکه ئې هم د خوزيدو نه منع کړې ده کما فی الحديث ﴿زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ﴾ اثنين تاکيد د زوجين دې او په دې کښې اشاره ده دې ته چه زوجين تثنيه د هغه زوج ده چه مصداق ئې امر واحد وی او مراد د زوجينو نه يا مذکر مونث دې ځکه چه په بوټو کښې هم مذکر مونث وی يا ترې نه مراد دوه دوه قسمه دی لکه خوږې تروې،لوندې وچه،تورې سپينې،ګرم يخ مزاج والا ﴿يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ﴾ يعنی د شپې دا تور ځادر (ظلمت)ورځې ته وراغوندوی،نو هغۀ پټه شی﴿ وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ ﴾ دا هم په اول دليل کښې داخل دې يعنی د زمکې ټکړې د يوې بلې سره متصلې دی، نو ټوله زمکه يو قسمه زمکه ده او په کومو اوبو سره چه اوبۀ کولې شی هغه هم يو قسم اوبه دی ليکن ميوې فصلونه ئې مختلف دی په خوند ،رنګ،مزاج کښې نو دا هر څه د الله تعالی د لوئې قدرت دلائل دی. ﴿صِنْوَانٌ﴾ جمع د (صنو) ده لکه قينوانٌ جمع د قنوٌ ده د کجورې هغه اونه چه اصل او ويخ ئې يو وی او ښانګې ترې نه ډيرې راوتلې وی (ښاښونو والا)او (غيرصنوان) هغه دې چه د بيخ نه يو تنه وی ښانګې ئې نۀ وی،﴿فِي الْأُكُلِ﴾ (أُکل) ما يوکل ته وائی،ميوې،دانې،او بعض ئې تفسير په ثمر سره کړې دې ليکن مقصود حصر نۀ دې تمثيل دې،يعنی بعضې ميوې او دانې غوره وی د نورو نه په خوند کښې،د بعضې علاقو ميوې،غلې زياتې مزيدارې وی د نورو نه ﴿لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ اول عقل وی بيا فکر وی بيا يقين وی نو کله ترقی د ادنی نه کيږی اعلی ته يعنی اول يَعْقِلُوْنَ ذکر شی بيا يَتَفَکَّرُوْنَ ذکر شی او بيا يُوْقِنُوْنَ ذکر شی،او کله بالعکس اوشی لکه دلته اول يُوقِنُوْن ذکر دې ځکه چه يقين مقصود اصلی دې او بيا ﴿يَتَفَکَّرُونَ﴾ ذکر شو چه د يقين د پاره ذريعه ده او بيا ﴿يَعْقِلُونَ﴾ ذکرشو ځکه فکر د عقل په ذريعه سره کيږی.

وَإِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ءَإِذَا كُنَّا تُرٰبًا

اوکه ته تعجب کوې[1] حیرانیږې د انکار د توحید نه نو د تعجب خبره ده دا قول د دوئ آیا کله چه مونږ خاورې شو

ءَإِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۗ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ۖ وَأُولٰٓئِكَ الْأَغْلٰلُ

آیا مونږ به په پیدایش نوی کښې یو . دا هغه خلق دی[2] چه کفر ئ کړې دې په رب خپل باندې او دغه خلق طوقونه به وی

فِيٓ أَعْنَاقِهِمْ ۖ وَأُولٰٓئِكَ أَصْحٰبُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ٥ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ

په ستونو د دوئ کښې او دغه خلق اور والا دی ، دوئ به په هغې کښې همیشه وی او دوئ په تادی سره غواړی ستا نه

بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ

عذاب مخکښې د راحت. عافیت نه. او په تحقیق سره تیر شویدی مخکښې د دوئ نه عذابونه رسوا کونکی . او بیشکه رب ستا

لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ٦ وَيَقُولُ الَّذِينَ

ښنه کونکې دې خلقو ته سره د ظلم د هغوئ نه او بیشکه رب ستا خامخا سخت عذاب ورکونکې دې او وائی هغه کسان

كَفَرُوا لَوْلَآ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۗ إِنَّمَآ أَنْتَ مُنْذِرٌ ۖ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ٧

چه کفر ئ کړې دې، ولې نشی نازلولې په ده باندې معجزه د طرف د رب د ده نه. بیشکه ته یرونکې ئ او د هر قوم لپاره لاربنودونکی وو

﴿وَإِن تَعْجَبْ﴾ دا شکوه ده او تخویف دې ﴿فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ﴾ ای ذوعجب قولهم یعنی که ته حیرانتیا کوې نو د حیرانتیا خبره دا قول د دوئ دی چه دوئ استبعاد کوی د بعث بعد الموت نه نو دا ډیره د حیرانتیا خبره ده ځکه چه د الله تعالی قدرتونه دومره واضح دی چه بدیهی دی نو د داسې واضح امر نه انکار د حیرانتیا خبره ده ﴿وَأُولٰٓئِكَ الْأَغْلٰلُ فِيٓ أَعْنَاقِهِمْ﴾ دا یا د دوی د دنیا د حال بیان دې په طور د تمثیل سره یعنی د دوئ په غاړه کښې د ګمراهئ او د ضلال طوق دې او استعداد او صلاحیت ئې سلب شوې دې نو حق طرف ته نۀ شی راتلې لکه د قیدې غاړې ته چه طوق واچولې شی،نو هغۀ لار نه وینی،یا د دوی د آخرت د حال بیان دې چه

---

١ - شکوه.

٢ - تخویف.

به جهنم کښې به د دوی په غاړو کښې طوقونه وی ﴿وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ﴾ دا زجر دې ﴿قَبْلَ الْحَسَنَةِ﴾ د حسنة نه مراد عافيت دې او دلته تقدير دې په کلام کښې (اى قبل انقضاء زمان العافية) .د عافيت د پاره يو زمانه مقرروی او چه د عافيت زمانه ختمه شی نو بيا عذاب راځی ليکن دوی د هغې نه قبل عذاب غواړی،حضرت الشيخ ﷫ فرمائی چه دا حال دې (اى حال کونهم جاعليها قبل الحسنة سيئة) يعنی عذاب د حسنه نه مخکښې غواړی يعنی حسنه او عافيت نهٔ غواړی بلکه عذاب غواړی حالانکه د عذاب نه امن غوختل پکار دی مطالبه ئې نهٔ ده پکار. ﴿الْمَثُلَٰتُ﴾ دا جمع د مَثُلَةٌ ده داسې عذابونه چه رسوا کول کوی،او مثله دَ ميت ته هم مثله په دې وجه وائی چه په هغې سره رسوائې راځی يعنی د دوی نه مخکښې عقوبات،نمونې تيرې شوې دی ليکن دوی عبرت نهٔ حاصلوی ﴿لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ﴾ د ظلم نه مراد کفر او شرك دې او د مغفرت نه مراد تاخير د عذاب دې يعنی الله تعالی تاخير د عذاب کوی سره د ظلم او د شرك د دوی نه او فورا عذاب نه ورکوی ليکن کله چه دوی توبه نه کوی او په کفر شرك باندې مصر شی نو بيا عذاب راځی،يا مغفرت په خپله معنی سره دې او مطلب دا دې چه الله تعالی مغفرت د کفر او شرك کوی په شرط د توبه سره يا د ظلم نه مراد د کفر نه علاوه گناهونه دی يعنی الله تعالی مومنانو ته د گناهونو مغفرت کوی کله چه اوغواړی،او که اوغواړی نو سخت عقاب ورکوی ﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دا شکوه ده او مراد د ﴿آيَةٌ﴾ نه د دوی غوښتلی شوی معجزه ده.لکه عصا د موسی ﷺ او ناقه د صالح ﷺ ﴿إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرٌ﴾ يعنی دوی چه ستا نه معجزه غواړی نو د دوی دا گمان دې چه معجزه ستا په اختيار کښې ده ليکن دا گمان غلط دې ځکه چه د نبی منصب انذار او تبليغ وی او معجزه ښکاره کول د الله تعالی فعل دې ﴿وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ﴾ او دپاره د هر قوم د اقوامو سابقو نه هادی يعنی نبی تير شوې دې په هغوی کښې هيچا داسې دعوی نهٔ وه کړې چه زمونږ په اختيار کښې معجزه ده يا يو داسې خاصه معجزه ده چه کفار معاندين ئې طلب کړی نو هغهٔ به مونږ ظاهروو د اثبات د خپل رسالت د پاره بلکه چه الله تعالی به ورته چه کومه معجزه ورکړه نو هغه به ئې د اثبات د رسالت د پاره پيش کوله.په دې تقدير دا مستقله جمله ده او (لِكُلِّ قَوْمٍ) خبر مقدم دې او (هاد) مبتدا مؤخره ده يا (هاد) عطف دې په (مُنْذِر) باندې او (لِكُلِّ قَوْمٍ) خبر دې د دواړو د پاره يعنی

(اِنَّمَا انت مُنذر و هادِ لِکُلِّ قَوْمٍ) یعنی تهٔ د هر قوم د پاره منذر او هادی نې نو دا دلیل دی په عموم بعثت د نبی ﷺ باندې.

اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ

الله پوهیږی[1] په هغه څه چه په ګیډه ئ حمل کوی هره ښځه او په هغه څه چه کموی ئ رحمونه او په هغه چه زیاتوی ئ

وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ۝ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ ۝

اوهرشي الله تعالی سره په خاص مقدار سره دي عالم دي په پټ او ښکاره باندې ډېر لوئ دي اوچت دي شان اومرتبه د ده

سَوَآءٌ مِّنْكُمْ مَّنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ

یو شان دی الله تعالی ته ستاسونه هغه څوك چه پټه خبره کوی او هغه څوك چه په زوره خبره کوی . او هغه څوك چه پټ وی

بِالَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ۝ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ

د شپې (په تیاره کښ) اوهغه چه څرګند روان وی په لارې په ورځ کښ. د هر سړی د حفاظت لپاره فرښتې دی[2] په یو بل پسې راتلونکی

مِّنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ

د وړاندې نه او د روستونه. چه حفاظت کوی دهغه په سبب د حکم د الله تعالی سره. بیشکه الله تعالی نه بدلوی

مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ

هغه نعمت چه یوقوم باندې ئ کړې وی تر څو پورې چه دوئ بدل نکړی هغه حالت (شکر. اصلاح) چه په دوئ باندې دې

وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ

او کله چه اراده وکړی الله تعالی په یو قوم باندې د څه تکلیف پس نوی واپس کونکې هغې لره او نشته دې دوئ لره

مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ۝

ما سوی د الله تعالی نه څوك ساتونکې

[1] - دویم دلیل عقلی
[2] - تخویف دنیوی

﴿ اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ ﴾ دا دويم دليل عقلي دې او په دې كښې د سورت يوسف د دويمې دعوې اثبات دې يعنې د الله تعالى نه ماسوى هيڅوك عالم الغيب نشته دې،يعنې د حمل پوره علم او يقيني علم صرف الله تعالى ته دې.نر ښځه،ښائسته بدشكله،نيك بخت بدبخت،لږعمر والا، ډير عمر والا وغير ذلك.د دې پوره علم او قطعي علم صرف الله تعالى ته دې او د مخلوق علم مكمل هم نهٔ وى او قطعي هم نهٔ وى﴿تَغِيضُ﴾ په معنې د كم والى سره دې. ﴿تَغِيضُ﴾ او ﴿ تَزْدَادُ ﴾ كله لازمي راځي نوبيا (ما) مصدريه دې نو معنى دا شوه په كمولو د رحمونو او په زياتولو د رحمونو.او كله متعدي راځي نو بيا ما مصدريه هم كيدې شي او موصوله هم كيدې شي او عايد د موصول مخذوف دې،(اى ما تغيضه الارحام و تزداده الارحام)، يعنې الله تعالى عالم دې په هغې چه كموى ئې رحمونه او زياتوى ئې رحمونه او د كم والى زيات والى نه مراد يا د شمار په اعتبار سره دې چه يو بچى دې په رحم كښې يا زيات دى.يا په اعتبار د مودې سره چه بعض بچى د معتاد وقت نه قبل پيدا شي او بعض د معتاد وقت نه وروستو پيدا شي.يا كم والې زيات والې په اعتبار د اعضاؤ سره دې ځكه د بعض بچو اندامونه كله ناقص الخلقت وى او كله زيات وى لكه د بعض شپږ شپږ ګوتې د هرې يوې ښپې وى. ﴿ عَـٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ﴾ يعنې كوم څيزونه چه ستاسو نه پټ دى،او كم چه تاسو ته حاضر دى په ټولو باندې الله تعالى عالم دې.غيب په نسبت سره مخلوق ته وى د الله تعالى په نسبت سره غيب نشته دې نو د عالم الغيب معنى دا ده چه كوم اشياء د مخلوق نه غيب دى په هغې عالم ﴿ ٱلْكَبِيرُ ٱلْمُتَعَالِ ﴾ ډير لوئې د ذات او صافتو په اعتبار سره ﴿ سَوَآءٌ مِّنكُم ﴾ يعنې د الله تعالى په علم كښې يو شان دى چه څوك پټه خبره كوى يا په جهر سره كوى په دواړو باندې الله تعالى يو شان عالم دې ﴿ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ ﴾ دا رنګه هغه څوك چه په توره شپه كښې ئې خپل ځان ډير په مبالغې سره پټ كړې وى(باب استفعال د مبالغې د پاره دې (كذا فى الروح) ﴿وَسَارِبٌۢ ﴾ اى ظاهر فى سر به اى طريقه يعنې څوك چه په رڼړا ورځې په لاره ځرګند روان وى.نو دا دواړه الله تعالى ته يو شان دى ﴿ لَهُۥ مُعَقِّبَـٰتٌ ﴾ دا تخويف دنيوى دې ﴿مُعَقِّبَـٰتٌ ﴾ يعنې نمبر په نمبر راتلونكې او ضمير د (لهٔ) راجع دې (مَنْ) ته يعنې د انسان د حفاظت د پاره فرښتې مقرر دى،چه وار په وار د انسان دحفاظت دپاره راځى،د انسان د

حفاظت د پاره الله تعالی فرشتې مقرر کړې دی چه د جناتو او هوامو او شیاطینو نه ئې حفاظت کوی او که دا نۀ وې نو دوئ به انسان د لږ ساعت د پاره هم روغ نۀ وې پریخې.او دې ته حفظه فرښتې وئیلې شی.او د دوی په عدد کښې مختلف روایتونه دی.په یو روایت کښې دی چه لس دی او په بل روایت کښې دی چه دوه دی او په بل روایت کښې دی چه درې سوه شپیتۀ ۳۶۰ دی او دا حفظه فرشتې د کرام الکاتبین نه علاوه دی کرام الکاتبین د اعمالو د محفوظ کولو دپاره دی او دا دوه فرشتې دی.یو یمین (ښی طرف) ته ده نیکی لیکی.او هغه امیر ده او بله یسار (چپ طرف) ته ده او هغه مامورہ ده او د انسان جرم او ګناهونه لیکی.نو چه انسان څه نیکی اوکړی،نو یمین جانب والا فرښته ئې فورا به غیر د څه تپوس نه اولیکی لس چنده یا زیات، او چه صرف د نیکئ اراده ئې کړې وی نو بیا وله یو مثل اولیکی.او چه د انسان نه څه ګناه اوشی نو چپ طرف والا فرشته د امیر نه اجازت د لیکلو اوغواړی نو هغه ورته اووائی لږ صبر اوکړه کیدې شی چه دا انسان توبه اوکړی او الله تعالی ئ توبه قبوله کړی نو ګناه به معاف شی لیکلو ته به ئې ضرورت نۀ وی،او د څه وخت تیریدلو نه بعد چې انسان توبه اونۀ کړی نو بیا چپ طرف والا فرشته د امیر نه د لیکلو اجازت اوغواړی نو هغه اجازت اوکړی او ورته اووائی چه صرف یو ګناه اولیکه ﴿يَحْفَظُونَهُ﴾ د شر د جناتو او هوامو نه ئې حفاظت کوی. ﴿مِنْ أَمْرِ اللَّهِ﴾ من سببیه دې یعنی دوئ په حفاظت کولو کښې خود مختار نۀ دی ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ﴾ دا جواب د سوال دې چه هر کله فرشتیې د انسان د حفاظت دپاره مقرر وی نو بیا په دۀ باندې عذاب او مصیبت ولې راځی نو جواب اوشو چه الله تعالی ابتداً چا ته عذاب نۀ ورکوی او د چا د عافیت والا حالت نۀ بدلوی،تر څو چه دوی خپل حال نۀ وی بدل کړې یعنی د اعمال صالحوپه ځائې ئې بد اعمال نوی شروع کړې او کله چه دوی داسې اوکړی نو بیا په دوی عذاب نازل شی او بیا ئې څوک نۀ شی واپس کولې او د الله تعالی نه ما سوا بل هیڅوک مددګار د دوئ د پاره نۀ وی.

هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿۱۲﴾
الله تعالی هغه ذات دې[۱] چه ښائ تاسو ته بریښنا لپاره د یرې د تندر او د طمع د باران او پیدا کوی وریځې درنې په باران سره

---

۱ - دریم دلیل عقلي

وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَ يُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ

او د الله پاکی بیانوی رعد فرشته سره د حمد دهغه نه. او نور ملائك د وجه د يرې دهغه نه. او را ليږی تندرونه

فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ؕ

بس رسوی دې لره هغه چا ته چه وغواړی او دوئ جګړه کوی په باره د توحید د الله تعالی کښ اوهغه سخت قوت والا دې

﴿ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ ﴾ دا دريم دليل عقلی دې،مخکښ د علياتو او سفلياتو ذکر وو.او دلته د جوياتو ذکر دې ﴿ خَوْفًا وَّطَمَعًا ﴾ دا منصوب دې. يا بنا په مفعول له باندې دَ .يُريكم. دپاره ليکن جمهور نحات د مفعول له د منصوب والی د پاره دا شرط وائی چه فاعل د فعل او د مفعول له دې يو وی او دلته فاعل د فعل (وَ يُرِيْكُمْ) د پاره الله تعالی دې.او فاعل د خوف اود طمعې بندګان دی،نو اتحاد د فاعل نشته دې،ليکن سيبوئ او بعض نحويان دا شرط ضروری نهٔ وائی نود هغوی په مذهب څه سوال نهٔ راځی.او جمهور وائی چه دلته مضاف مقدر دې ای ارادة خوف و طمع (کشاف) او فاعل د اراده هم الله تعالی دې يا دا دواړه مفعول مطلق دی د فعل مقدر د پاره ای تخافون خوفا و تطمعون طمعا او مراد د خوف نه د تندر او د طمعې نه مراد طمع دباران ده،يا د باران نه بعض خلق ويريږی لکه مسافر.او اهل البحر،وغيره چه چا ته د باران نه ضرر رسيږی،او د بعضې خلقو باران ته طمع وی،چه چا ته په کښ فائده وی لکه مقيم او اهل البر، ﴿ الثِّقَالَ ﴾ هغهٔ وريځې چه درنې وی.په باران سره ﴿ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ ﴾ رعد آواز دوريځو ته وائی په وخت د باران وريدلو کښ يعنی (ګرړيدل) او په حديث کښ دی (الرعد ملك مؤكل)، يعنی رعد يو فرشته ده چه په وريځو مقرر ده،چه د دوی په لاس کښ چابك (کوړه) وی چه په هغې سره وريځې د يو طرف نه بل طرف ته شړی.په چابك سره چه وريځې.اووهی نو د هغې نه پړق پيدا کيږی.او وريځې چه په خپل مينځ تکراو شی نو د دې نه آواز پيدا کيږی نو دغه رعد دې،دلته د رعد نه مراد که فرشته شی نو د تسبيح نه تسبيحې قولی مراد ده.او که مراد ترې نه آواز د وريځو شی(ګرړيدل)نو د تسبيح نه مراد تسبيح حالی ده.يعنی رعد په زبان قال يا حال سره د الله تعالی پاکی بيانوی،عبدالله بن زبير ﷺ به چه د رعد آواز واوريدلو نو خبرې کول به ئې پريخودلې.او دا دعا به ئې ويله : سبحان

الذى يسبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته (ابن كثير) او په بل روايت كښ دا دعا راغلې ده، سبحان من يسبح الرعد بحمده والملئكة من خيفته اللهم لا تقتلنا بغضبك و لا تهلكنا بعذابك و عافنا من بلاءك قبل ذلك او په بل روايت كښ دى چه څوك په وخت د رعد كښ سبحان الله و بحمده اووائى.نو دهٔ ته به صاعقه (تندر) نهٔ رسى﴿ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ ﴾ الله تعالى صاعقه نازلوى چا ته چه نقصان وركول اوغواړى كله انسان او حيوان مړ كړى.او كله غرونه.ونې خرابې كړى،اسمانى بجلى (تندر)سخت طاقتور څيز دې ليكن د دې نه نقصان رسيدل د الله تعالى په مشيت او ارادې سره دى.مفسرين وائى چه كله په انسان باندې صاعقه اولګى.او كپړې ترې نه لرې كړى،په اونه ئې واچوى.او انسان ته څه نقصان اونهٔ رسى. ﴿ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ ﴾ واو حاليه دې يا استنافيه دې.يعنى دوى د الله تعالى په شان كښ جګړې كوى﴿وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ﴾ الله تعالى سخت قوت طاقت والا دې.محال په كسرې د ميم سره قوت . طاقت ته وائى او په فتحې د ميم سره ناممكن ته وائى او په ضمې د ميم سره دروغ او خلاف واقع ته وائى.ابن كثير په حواله د ابويعلى سره د انس ﷺ نه روايت كړې دې چه نبى ﷺ يو ځل د عربو يو لوئې متكبر رئيس ته يو كس اوليږلو چه هغه ماته راوبله قاصد لاړلو.او هغه ته ئې او وئيل چه د الله تعالى رسول ﷺ دې غواړى نو دهٔ اووئيل(معاذ الله)چه رسول څوك دې او الله څوك دې آيا د سرو زرو دې او كه د سپينو زرو دې، او كه د تانبې دې؟ هغه قاصد واپس شو،عرض ئې اوكړو چه هغه خو ډير سركش دې،ما ته ئې داسې داسې خبرې اوكړې،نو نبى ﷺ ورته اوفرمائيل چه بيا لاړ شه،نوهغه لاړلو او بيا هم دغه شان ګفتګو اوشوه.او په دريم ځل بيا لاړو او په دريم ځل هم دغه شان ګفتګو ئې كوله چه ناڅاپه پرې لړ شان وريځ راوچته شوه او اوګرځيده او صاعقه ترې نه نازله شوه او د دې متكبر په سر اولګيدله او د سر كوپړئ ئې ورله د سره نه جدا كړه.او قرطبى او ابن كثير وغيرهما وئيلې دى چه عامر بن طفيل او أربَد ابن ربيعه چه د عامرى قبيلې د مشرانو نه وو د نبى ﷺ حضور ته په مدينه منوره كښ په غلطې ارادې سره يعنى د قتل په ارادې سره راغلو.عامر أربد ته اووئيل چه زهٔ به نبى ﷺ په خبرو كښ مشغول كړم او ته پرې د تورې حمله اوكړه هر كله چه دواړه راغلل نو عامر بن طفيل نبى ﷺ ته اووئيل چه اې محمد(ﷺ)كه زهٔ ستا اتباع اوكړم نو تهٔ به ماله څه حصه راكړې؟نبى ﷺ ورته اوفرمائيل چه كه ته ايمان راوړې نو تا ته به هغه حقوق حاصل وى كوم چه نورو

مسلمانانو نه حاصل دی.او په تا باندې به هغه ذمه وارئ وی،کومې چه په نورو مسلمانانو دی.عامر اوونیل چه ما ته د دیهاتو حکومت راکړه او په شهرونو دې ستا حکومت وی.یا به زۀ ستا نه بعد خلیفه یم.نبی ﷺ اوفرمائیل چه حکومت ورکول زما اختیار نۀ دې.بلکه د الله تعالی کار دې.نو بیا عامر اوونیل چه زۀ ستا سره ضروری خبره کوم.زما سره علیحده شه.نبی ﷺ پورته شو،عامر ورسره خبرې شروع کړې او اربد د حملې په نیت توره د غلاف نه راوباسل شروع کړو نو لاس ئې شل شو.توره ئې راونۀ باسله.او د اسمان تندر راغې،حالانکه وریخ نۀ وه،بلکه د شین اسمان نه تندر راغې او په اربد اولګیدلو.دې هلاك شو.او عامر په تیښته روان شو.ویل ئې چه ائې محمد(ﷺ)تا زما ملګری ته بدعا اوکړه قتل دې کړو.نو زۀ به ستا په مقابله کښې دا وادی د پیاده او د سورو نه ډکه کړم.نبی ﷺ فرمائیل چه منع به کړی دې لره الله تعالی او انصار د مدینې،په عامر باندې په لاره کښې د طاعون یوه دانه راوختله په لاره کښې د قبیلې د سلول د یوې ښځې خیمه وه هلته ئې پناه حاصله کړه او د تکبر او د جهالت په وجه ئې اوونیل (غدّة كغدة البعير)،دا د اوښ د طاعون د دانې په شان دانه ده.او اوئې وئیل چه په کور د سلولیه کښې په بستره مرګ مې خوښ نۀ دې ماله زما اس راولئ نو په اس باندې سور شو،او توره ئې په لاس واخستله او اس زغلول ئې شروع کړل،او نبی ﷺ او ملك الموت ته ئې کنځلې شروع کړې (نعوذ بالله) او وئیل ئې که ملك الموت ما ته راغې نه په دې توره به ئې قتل کړم،غرض دا چه خپل اس ئې زغلولو او په دې حالت کښې هلاك شو.

لَهٗ	دَعْوَةُ	الْحَقِّ ط	وَالَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِهٖ

خاص د الله تعالی بلنه حق بلنه ده[1]، او هغه معبودان باطله چه دوئ ترینه سوالونه کوی چه سوی د الله تعالی نه دی

لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ

نشی قبلولې دعا د دوئ په هیڅ وجه، مګر پشان دهغه چا چه اُوږده کړی دواړه لاسونه خپل اوبو ته چه ورسیږی خولې د ده ته

وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ط وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝

اودغه اوبه هرګز پخپله رسیدونکې نوی خُلې د ده ته، اونه ده بلنه د مشرکانو آلهوْ باطلوْ لره مګر په خساره او بطلان کښې ده

١ - ثمره د دلائلو .

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا

او خاص الله لره سجده کوی[1] هر هغه څوك چه په آسمانونو کښې دی او خمکه کښې دی په خوشئ سره او زور سره

وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿۱۵﴾

او سوري د دوئ صباح او بیګائی

﴿لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ﴾ دا ثمره د وړاندینو دلائیلو ده (له) خبر مقدم دې او (دعوة الحق) مبتدا مؤخره ده او لام د تخصیص د پاره دې او د دې دوه مطلبه کیدې شی (۱) (عن ابن عباس ﷺ). دعوة الحق دعوت د توحید دې او معنې دا ده چه دعوت د توحید خاص د الله تعالی دعوت دې (۲) (عن الحسن ﷫) اضافت د دعوت حق ته اضافت د موصوف دې صفت ته معنی دا ده چه حقه بلنه خاص د الله تعالی بلنه ده، او د غیر الله بلنه په خپلو حاجتونو مرادونو کښې باطله ده، ځکه چه د هغهٔ نه ماسوا نهٔ بل څوك حاجتونه پوره کوونکې شته او نهٔ مشکلات لرې کوونکې شته، موت، حیات، ترقی، تنزل، صحت، بیماری هر څه د هغه په قبضه کښې دی او دې توجیه سره دا روستو آیت پوره مناسب دې، ﴿وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ﴾ د (الذین) نه مراد معبودان باطله دی او (يَدْعُوْنَ) کښې عاید د موصول مقدر دې اي (يدعونهم) یعنی هغه معبودان باطله چه مشرکان د هغوی بلنه کوی په خپلو حاجتونو مرادونو کښې ﴿مِنْ دُوْنِهٖ﴾ دا بیان د (الذین) دې یعنی هغه معبودان چه غیر د الله تعالی نه دی ﴿لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ﴾ د دوئ درخواست نهٔ شی قبلولې ﴿اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ﴾ ای الا استجابةً کا ستجابة کفیه الخ د دې مثال حاصل دا دې چه یو کس تږې وی لیکن سوال اوبو ته کوی، لاسونه ئې اوبو ته اوږده کړې وی اواز کوی چه اې اوبو راشئ، اې اوبو راشئ، لیکن هغه اوبه دهٔ ته نهٔ شی رسیدلې، نو دغه مثال د هغه حاجت مند دې چه ما فوق الاسباب، جنات، اولیاء، ملائکو ته سوالونه کوی، هغوی د دهٔ مدد ته نهٔ شی رارسیدلې، ﴿وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ﴾ یعنی کافران چه ما سوا د الله تعالی نه د بل چا نه حاجتونه غواړی نو دا دعا نهٔ ده مګر شرك او ګمراهی ده، ﴿وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ﴾ دا څلورم دلیل عقلی دې. د دې

1 - څلورم دلیل عقلی

ډیرې ترجمې کړې شوې دی زیات قوی او تحقیقی قول په کښې دا دې چه د سجدې نه مراد معنی لغوی ده چه انقیاد دې یعنی د الله تعالی د تکوینی حکم ماتحت او منقاد دی تمام مخلوق،خواه که اسمان والا دی او که زمکې والا دی په ټولو باندې د الله تعالی تکوینی حکم نافذ دې.د ﴿ طَوۡعًا وَّكَرۡهًا ﴾ معنې دا ده چه که دوئ غواړی یا نهٔ بهر حال د الله تعالی حکم په دوئ نافذ دې. او بعض علماء د دې دا معنې کوی،چه د سجدې نه مراد عبادت دې او (طوعًا) د (مَن فی السموات) سره متعلق دې او د (طوعًا) معنی دا ده چه په سجده او عبادت کولو کښې ورته تکلیف نهٔ وی،فرشتو ته په عبادت کښې تکلیف نشته دې بلکه عبادت هغوئ ته داسې دې لکه مونږ چه ساه اخلو. او ﴿وَّكَرۡهًا﴾ د (من فی الارض) سره متعلق دې،ځکه چه زمکې والو ته په عبادت کښې تکلیف وی،د دې نه علاوه نور توجیهات هم دی خو راجح اوله توجیه ده ﴿وَظِلَٰلُهُم﴾ یعنی مخلوق د خپل سور ی اختیار هم نه لری بلکه د الله تعالی په حکم او ارادې سره کمیږی زیاتیږی،او الله تعالی په دې قادر دې چه که اوغواړی نو دا سورې به په یو ځائې ولاړ وی.کم والې زیات والې به په کښې نهٔ راځی،کما قال تعالی ﴿وَلَوۡ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا﴾ . ﴿بِٱلۡغُدُوِّ﴾ جمع د غداة ده لکه قِنِیٌّ جمع د قَنَاةٌ ده،او (آصال) جمع داصل ده اوهغه جمع داصیل ده

قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ قُلِ ٱللَّهُ قُلۡ أَفَٱتَّخَذۡتُم
ته ووایه څوك دې رب[1] د آسمانونو او د ځمکې . ته ووایه (د دوئ د طرفه) الله دې ، ووایه آیا . تاسو نیولی دی
مِّن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ نَفۡعًا وَلَا ضَرًّا قُلۡ
ما سوی د الله تعالی نه داسې مددګاران چه اختیار نه لری خپل ځان لپاره د هیڅ نفعې اونه د ضرر . ووایه
هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ أَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ
آیا برابر دي ړوند اولیدونکي اوآیا بربردی تیرې او رڼا آیادوئ ګرځولی دی الله تعالی لره

١ . ښخم دلیل عقلی علی سبیل الاعتراف من الخصم

شُرَكَآءَ	خَلَقُوْا	كَخَلْقِهٖ	فَتَشَابَهَ	الْخَلْقُ	عَلَيْهِمْ ؕ

شريكان چه هغوئ څوك پيداكړي وي لكه الله چه پيداكړي دي پس مشتبه شوې دې پيدايښ په دوئ .

قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ⑯

وه وايه الله تعالى پيدا كونكې د هرڅه دې هغه يو دې زورآور غالب دې

﴿ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ ﴾ دا پنځم دليل عقلى على سبيل الاعتراف من الخصم دې يعنى د مشركانو نه تپوس اوكړه چه د اسمانونو او زمكې رب څوك دې يعنى د دې پيدا كونكې حفاظت كونكې څوك دې نو د دې سوال خو بل څه جواب د مشركينو په نيز هم نشته دې سوا د دې نه، چه الله تعالى دې،ليكن كه دوئ د خپل ملزم كيدلو په وجه دا جواب نه وركوى.نو ته د دوئ د طرفه اووايه﴿ قُلِ اللّٰهُ ﴾ چه الله تعالى دې،يا دلته همزه استفهاميه مقدر دې او استفهام د تقرير د پاره دې (قُلْ ءَاَ اللّٰه) الله دې كنه؟﴿ قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ ﴾ دا دويمه ثمره د دلائيلو ده.يعنى تاسو د الله تعالى نه ماسوى ځان له داسې مددګاران جوړ كړي دې چه هغه د خپل ځان د پاره هم د نفعې او د ضرر اختيار نۀ شى لرلې .نو دا څرګند حماقت دې﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ﴾ يعنى لكه څه رنګه چه ړوند او ليدونكې برابر نۀ دى نو دغه شان شرك او توحيد برابر نۀ دى. ﴿ اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ﴾ دا زجر دې.ام منقطعه دې په معنې د (بل أ) سره دې. حضرت الشيخ رحمه الله به ددې ترجمه داسې كوله (الٹا انھوں نے ٹھرائے ہیں) خا، دوئ ګرځولى دى الله لره شركاء﴿ خَلَقُوْا ﴾ يعنى آيا ستاسو شركاؤ څوك پيدا كړى دى لكه الله تعالى چه دا كائنات پيدا كړي دى چه تاسو په هغوى باندې ګمان د الوهيت كوئ﴿ قُلِ اللّٰهُ ﴾ ته اووايه چه خالق تن تنها صرف يو الله دې.

اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ؕ

نازلوى د آسمان نه اوبه پس وبهيږى كندې په خپل خپل مقدار سره پس را اوچت كړى سيلاب زګ . چه د اوبو دپاسه وى

وَمِمَّا	يُوْقِدُوْنَ	عَلَيْهِ	فِي	النَّارِ	ابْتِغَآءَ	حِلْيَةٍ	اَوْ مَتَاعٍ

او بعضى د هغې نه چه ګرموى دوئ ،وېلې كوى ئې هغې لره په اور كښې لپاره د طلب د كالو يا د نور سامان الوخى وغيره

زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ؕ فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ

زګونه دي په شان د زګونو د اوبو. دغسې بيانوي الله تعالى مثال د حق او د باطل پس هرچه زګ دې پس لاړشي بې کاره

وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ﴿۱۷﴾

او هرچه هغه شې دې چه نفع ورکوي خلقو ته نو باقي پاتې شي په ځمکه کښې. دغه شان بيانوي الله تعالى مثالونه

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى ؕ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ

د هغه خلقو لپاره چه خبره ئ ومنله [1] د رب خپل ښائسته حال دې، اوهغه څوك چه خبرې نه منی [2] د رب خپل

لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ ؕ

کچرې شی د دوئ لپاره هغه څه چه په ځمکه کښې دی ټول او دومره قدر ورسره نور شی خامخا په جرمانه کښې به ورکړی هغې لره

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۸﴾

دغه کسان دوئ لره بد حساب دې ، او ځائ د استوګنې د دوئ جهنم دې او ډير بد ځائ دې تيار کړې شوې

﴿اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً﴾ دا شپږم دليل عقلي دې په ضمن د دوو مثالونو کښې د پاره د حق او د باطل يا د پاره د معبود برحق او معبود باطل. د اول مثال تفصيل دا دې چه کله باران اوشي نو په کندو کښې اوبۀ اوبهيږي،د هرې کندې د وسعت موافق چه په وړه کنده کښې لږې او په لويه کنده کښې ډير اوبه وی نو اوبۀ چه کله روانې شی نو په دې د پاسه ځګونه او ګند بلا وی؛او دا اګر که د اوبو د پاسه وی،ليکن بې کاره او بې فائدې وی،او د مردارو حيواناتو لکه تپوسان وغيره شو خوراك وی نو دغه شان شرك بدعت ګند بلا دی،او اوبه اګر که لاندې وی ليکن په دې کښې نفع وی، په دې سره فصلونه ميوې ګلونه وغيره پيدا کيږي بلکه د هر جاندار حيات په اوبو سره دې نو دغه شان ايمان او توحيد سبب د حياتِ ابدي دې،او توحيد چه د انسان زړۀ ته ننوځي نو عبادات نيك اعمال او اخلاق پيدا شی،نو د څه مودې د پاره ځګونه اګر که غالب وی،ليکن څه وخت وروستو اوچ او ختم شی،او نفع والا شې باقي پاتې

۱ - بشارت
۲ - تخويف

وی نو دغه شان حق اګر که په اول کښې مغلوب وی او باطل غالب وی لیکن څه وخت وروستو باطل ختم شی او حق باقی پاتې شی نو مؤمن ته په دې ظاهری نمائش باندې دهوکه کیدل نه دی پکار

او د دویم مثال تفصیل دا دې.چه زرګران سره زر.سپین زر او تانبه قلعی په اور سره ویلې کوی د دې د پاره چه کالی ترې نه جوړ کړی او نور سامان لکه لوخی وغیره ترې نه جوړ کړی.لیکن د دغه ویلی کړی شوو زرو د پاسه هم ځګ او خیرې وی.او څه وخت وروستو هغه ختم شی او سرۀ زر وغیره باقی پاتې شی چه د هغې نه زیورات.د غاړې هار.وغیره نور سامان جوړ شی، نو توحید او سنت د سرو زرو هار دې چه په فائده راځی او شرک او بدعت هغۀ ځګ او خیرې دې چه هیڅ په فائده نۀ راځی.﴿فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ﴾ ای سالت الماء فی الاودیة ﴿رَّابِيًا﴾ ای عالیا منتفخا فوق الماء ﴿وَمِمَّا يُوقِدُونَ﴾ ضمیر راجع دې ناس ته او د ا خبر مقدم دې او ﴿زَبَدٌ مِّثْلُهُ﴾ ئې مبتدا مؤخره ده﴿ٱبْتِغَآءَ حِلْيَةٍ﴾ مفعول له دې﴿جُفَآءً﴾ حال دې. جفا الماء بالزبد اذ اقذفه ﴿لِلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِرَبِّهِمُ﴾ دا بشارت دې﴿وَٱلَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُۥ﴾ دا تخویف دې.

أَفَمَن	يَعْلَمُ	أَنَّمَآ	أُنزِلَ	إِلَيْكَ	مِن	رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ
آیا پس هغه څوک چه یقین لری[1] پدې باندې چه بیشکه هغه څه چه نازل کړې شویدی تا ته د طرف د رب ستا نه دا حق دې						
كَمَنْ	هُوَ	أَعْمَىٰٓ ۚ	إِنَّمَا	يَتَذَكَّرُ	أُو۟لُوا۟	ٱلْأَلْبَٰبِ ۝ ٱلَّذِينَ يُوفُونَ
پشان د هغه چا کیدې شی چه هغه ړوند وی . بیشکه نصیحت قبلوی خاوندان د عقل داهغه کسان دی چه پوره کوی						
بِعَهْدِ ٱللَّهِ	وَلَا	يَنقُضُونَ	ٱلْمِيثَٰقَ ۝	وَٱلَّذِينَ	يَصِلُونَ	مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ
وعده د الله تعالی سره اونه ماتوی دوئ وعده . اوهغه کسان دی چه وصل کوی هغه څه چه الله تعالی امر کړې وی						
بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ	وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ	وَيَخَافُونَ	سُوٓءَ ٱلْحِسَابِ ۝	وَٱلَّذِينَ	صَبَرُوا۟	ٱبْتِغَآءَ
په هغې د وصل کولو، او یریږی د خپل رب نه، او یریږی د بد حساب نه . اوهغه کسان چه صبر ئې کړیدې لپاره د طلب						

۱ - دا مرتب دې په مذکور بشارت او تخویف باندې.

وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً
د رضا د رب خپل او پابندي ئ کړیده د مونځونو او خرچ ئ کړیدې دهغې نه چه ورکړیدی مونږ دوئ ته. په پټه او په ښکاره
وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ۙ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا
او دفع کوی په نېکئ سره بدی. دغه کسان دوئ لره ښه کور د آخرت دې. چه جنتونه د همیشه والی دی داخلیږی به دوئ هغې ته
وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ
اوهغه څوك چه صالح وی د پلارونو د دوئ نه او د بیبیانو نه او د اولادونونه او ملائك به داخلیږی دوئ ته
مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۚ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ۙ
د هرې دروازې نه وانی به سلام دې وی په تاسو په سبب د صبر کولو ستاسو. پس ډیر ښه دې ستاسو انجام په دې کور د آخرت کښ

﴿اَفَمَنْ يَّعْلَمُ﴾ دا مرتب دې په مذکور بشارت او تخویف باندې یعنی آیا هغه څوك چه دا یقین لری چه هغه څه چه نازل کړی شوې دی تا ته د طرفه د رب ستا نه دا حق دې نو دا مرتب دې په بشارت باندې په شان د هغه چا کیدې شی چه باطنی ړوند وی یعنی مشرك وی دا مرتب دې په تخویف باندې ﴿اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ﴾ عقلمند خلق او بصیرت والا ښهٔ پوهیږی چه دا یو شان نهٔ دی. ﴿اَلَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ﴾ د عهد الله نه مراد عهد ازلی دې چه هغه عهد د توحید او رسالت او ټول اوامر نواهی دی او دا بعینه میثاق دې نو یو صفت ثبوتی دې او بل سلبی دې چه (لا ینقضون المیثاق) یا د ﴿بِعَهْدِ اللّٰهِ﴾ نه مراد حقوق الله دی او د (و لا ینقضون المیثاق) نه حقوق العباد مراد دی یا دا عام دې او اول خاص دې په حقوق الله پورې نو دا تعمیم بعد التخصیص دې ﴿وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ﴾ یعنی الله تعالی چه د کومو تعلقاتو د قائم ساتلو حکم کړې دې نو هغه قائم ساتی خواه که هغه د ایمان او د توحید تعلق دې یا د صله رحمئ تعلق دې یا د عباداتو اخلاقیاتو تعلق دې یا ټول رسولان ټول کتابونه بلا تفریقه منل دی ﴿وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾ د خشیت او خوف په مینځ کښ فرق دا دې چه د خشیت اکثر استعمال کیږی په مقام د تعظیم کښ او خوف عام دې چه سره د تعظیم نه وی یا بغیر د تعظیم نه وی ﴿وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا﴾ یعنی هغه کسان چه د دنیا په مصیبتونو باندې صبر کوی او د حرامو او ګناهونو نه صبر کوی او په

طاعاتو باندې صبر کوي ﴿ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ﴾ يعني مقصد ئې د دې هر څه نه رضا د رب وی ﴿سِرًّا وَعَلَانِيَةً﴾ سراً ئې ځکه مقدم کړو چه سری صدقه د علانيه نه زياته افضله ده ﴿وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ﴾ يعني د بدئ بدله په نيکئ سره ورکوی حسن بصری وائی چه څوك ئې د خپل عطاء نه محروم کړی نو دوی هغوی ته ورکوی او چه څوك پرې ظلم اوکړی نو دوی عفو کوی او چه څوك ورسره صله رحمی قطع کړی نو دوی ورسره صله رحمی کوی ﴿عُقْبَى ٱلدَّارِ﴾ د دار نه مراد دار دنيا دې او د عقبى نه مراد د خير او د سعادت انجام او مآل دې د دار دنيا ښه انجام او د سعادت انجام جنت دې نو ځکه وروستو (جَنّٰتُ عَدْنٍ) ذکر شو او بعض وائی چه د دار نه مراد دار د آخرت دې او د عقبى نه مراد عاقبت حسنه دې نو د (عقبى الدار) معنى دا ده چه (العاقبة الحسنة فى الدار الاخرة) ښهٔ انجام په دار د آخرت کښې چه جنت دې ﴿وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ﴾ آباء تغليبا وئيلې شوې دی په دې کښې امهات هم داخلی دی او د صلح نه مراد ايمان دې او مراد دا دې چه د کامل مؤمن مور پلار ښځه بچې چه مؤمن وی او د جنت مستحق وی ليکن په مرتبه کښې ادنی وی نو الله تعالى به په خپلې مهربانئ سره د دوی درجه اوچته کړی او د کامل مؤمنانو سره به ئې يو ځائې کړی، لکه په سورة طور کښې دی ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾.

﴿وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ﴾ په صحيح حديث کښې دی چه د جنت اتۀ دروازې دی مطلب دا دې چه د دې کاملينو د اعزاز د پاره به فرښتې د هر طرفه تحفې تحائف راوړی حاضری به شی روايت کړې دې احمد او بزاز او حاکم وغيره چه په خلقو کښې به اول هغۀ فقراء مهاجرين جنت ته داخليږی، چه د سختئ او جنگ په وخت کښې بۀ په دوی سره حفاظت کيدلې شو، او په دوی سره د سرحداتو سوراخونه بندولې شو، او چه کوم حکم بۀ دوی ته کولې شو نو د هغې د تعميل د پاره هميشه تيار وو او د دنيا نه په داسې حال کښې تللې وو چه ارمانونه او حاجتونه ئې نه وو پوره شوی، د قيامت په ورځ به الله تعالى اوفرمائی چه زما هغه بندگان چرته دی (يعنی حاضر دې شی) چه زما په لاره کښې جنگيدلې وو او زما د رضا د پاره ئې تکليفونه برداشت کړې وو او جهاد ئې کړې وو لاړ شئ، جنت ته داخل شئ، بيا به الله تعالى ملائکو ته حکم اوکړی چه زما دې بندگانو ته سلام اوکړئ، فرشتې به عرض اوکړی. چه يا الله

مونږ خو ستا بهترین بندګان یو او د اسمان اوسیدونکی یونو یا الله ته مونږ ته حکم کوي؟ چه سکان الارض د زمکې اوسیدونکو ته سلام اوکړئ؟ الله تعالی به اوفرمائی چه دا زما هغه بندګان دي چه زما عبادت ئې کولو او زما سره ئې هیڅ څوک نهٔ وو شریک کړي او په دوی سره د سرحداتو سوراخونه بندولي شو، او د سختئ او د جنګ په وخت کښې په دوی سره حفاظت کولې شو، او د دنیا نه په داسې حالت کښې تلې وو چه هیڅ ارمان او حاجت ئې نه وو پوره شوې نو فرشتې به د دوی په خدمت کښې حاضرې شی او اوبه وائی چه ﴿سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ﴾ او په بل روایت کښې دی چه نبی ﷺ به د هر کال په شروع کښې قبرونو د شهداو ته تشریف اوړلو او دا به ئې فرمائیل ﴿سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ﴾

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ

اوهغه خلق چه ماتوی وعده د الله تعالی روستو د مضبوط کولو نه، او قطعه کوی هغه چه الله تعالی امر کړې دې په هغې

أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ۝ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ

د وصل کولو او فساد کوی په خمکه کښې دغه خلق دوئ لره لعنت دې او دوئ لره بد کور دې الله تعالی فراخ کوی [1] رزق

لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ۝

چاته چه وغواړی او تنګوی. او خوشحالی کوی دوئ په ژوند د دنیا باندې، او نه دې ژوند د دنیا په مقابله د آخرت کښې مګر معمولی نفع ده

﴿وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ﴾ د صفاتو د مؤمنینو په مقابله کښې د منکرینو د صفاتو ذکر او تخویف دې ﴿يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ﴾ په مقابله د ﴿وَلَا يَنقُضُونَ ٱلۡمِيثَٰقَ﴾ کښې دې ﴿وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ﴾ دا په مقابله د ﴿يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ﴾ کښې دې ﴿وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ په مقابله د ﴿وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ﴾ کښې دې ﴿وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ﴾ په مقابله د ﴿عُقۡبَى ٱلدَّارِ﴾ کښې دې.

﴿ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ﴾ دا اووم دلیل عقلی دې یعنی د ټولو کائناتو روزی رسان صرف الله تعالی دې، د روزئ کمې بیشی د الله تعالی په اختیار کښې دې که د چا سره دولت وافر راشی نو هغه دې دا خپل کمال نهٔ ګڼړی او مغرور کیږی دې نهٔ ﴿وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا﴾ یعنی دوئ د دنیا

---

۱ - اووم دلیل.

په ژوند باندې فخر او خوشحالي کوي.او حال دا چه د دنيا حيوة او مال دولت معمولي د نفعي شي دي لکه په حديث د ترمذی وغيره کښې دی لو کانت الدنيا عند الله تعدل جناح بعوضة ما سقى كافرا منها شربة.

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۗ قُلْ إِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ

او وائي کافران [1] ولې نشي نازلولې پده باندې معجزه د طرف د رب د ده نه. ته ووایه چه بیشکه الله تعالی بې لارې کوی

مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ الَّذِينَ آمَنُوا

هغه چا لره چه وغواړي او رسوی خپل خان ته هغه خوك چه رجوع او توجه کوی هغه ته دا هغه کسان دی چه ایمان ئې راوړی دی

وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

او آرام مومی زړونه د دوئ په ذکر د الله تعالی سره ، خبردار ! صرف په ذکر د الله تعالی سره آرام مومی زړونه

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴿٢٩﴾

هغه خلق چه ایمان ئې راوړي دي او عملونه کوی نیك خوشحالی ده دوئ لره او خائسته انجام دي

﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دا د مخکښې شکوې آيت نمبر ۷ اعاده ده،چه دوی مخصوصه معجزه چه آباؤ اجداد دې ژوندی شی،د مکی غرونه دې د سرو زرو شی وغیر ذالك نو الله تعالی فرمائی چه هدایت د الله په قبضه قدرت کښې دې هغه چا ته ملاویږی چه په هغه کښې انابت،حق طلبی وی او څوك چه ضدی،متعصب وی نو هغه ته هر څومره معجزات چه ظاهر کړې شی، نو هغه ته هدایت نۀ ملاویږی او په چا کښې چه انابت او حق طلبی وی نو هر قسم معجزه چه دې وینې د هغه د پاره د هدایت ذریعه ګرځی. ﴿الَّذِينَ آمَنُوا﴾ دا د ﴿مَنْ أَنَابَ﴾ بیان دې او بدل دې ترې نه او مراد د ذکر نه دلائل د توحید دی،یعنی انابت والا هغه دې چه دلائل د توحید واوری نو زړه ئې مطمئن شی او د اطمینان نه مراد یقین دې په حقیقت د توحید رسالت څکه چه ضد او عناد په کښې نۀ وی یا د ذکر نه مراد قرآن دې لکه ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ﴾ او قرآن لویه معجزه ده نو د دې په اوریدلو سره ئې زړه مطمئن شی په توحید رسالت او تمامو

[1] اعاده د شکوی

احکاماتو شرعیو باندي یا د ذکر نه مراد ذکر د رحمت او مغفرت دي او دا سبب دي دپاره د تسلئ د زړه او د پریشانئ زائله کیدلو نو د اطمینان نه مراد تسلی د زړه ده یا ترې نه مراد مصطلح ذکر لسانی او قلبی دي په طریقه د دوام سره او دا موجب دې د سرور قلبی او اطمینان قلبی د پاره ځکه چه په ذکر سره د الله تعالی د ذات او صفاتو نور او تجلیات او د الله تعالی معیت راځی (وَ انا معه اذا ذکرنی) نو بیا ظاهره ده چه قلق او پریشانی نه شی پاتې کیدي او د دنیا تذکرې خومره چه کیږی نو په دې سره پریشانی راځی او د دې وجه نهٔ په موجوده دور کښې انسانانان باوجود د مادی اسبابونو نه په پریشانئ کښې دی ځکه اکثر د ذکر اهتمام نهٔ کوی او بعض خلق که ذکر کوی خو په بدعاتو کښې مبتلا وی چه د هغې د وجې نه د ذکر د برکاتو انواراتو نه محروم وی (وفقنا الله لما یحب و یرضی) ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ﴾ په مخکښې جمله کښې تخصیص نهٔ وو او په دې کښې تخصیص او تاکید دي او د دې وجې نه أَلاَ (خبردار) ذکر شو او جار مجرور یعنی (بذکر الله) مقدم شو معنې دا شوه چه خبردار صرف او صرف د الله تعالی په ذکر سره اطمینان حاصلیږی زړونو ته.

سوال په سورت انفال آیت نمبر ۲ کښې دی ﴿إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ﴾ یعنی په ذکر د الله تعالی سره خوف راځی او خوف ضد د اطمینان دې نو دا دواړه ایتونه خو په ظاهر کښې متعارض شو. **جواب** د (اِذَا ذُكِرَ الله وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ) معنی دا ده چه کله وعید او تخویف ذکر شی نو په زړه کښې خوف پیدا شی او د ﴿بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ معنی دا ده چه د الله تعالی د رحمت او مغفرت په ذکر سره زړونو ته اطمینان او تسلی ملاویږی.نویو په باره د وعد کښې دي او بل په باره د وعید کښې دې او تفسیر مظهری والا وائی چه ذکر الهی په وجه په زړه کښې کیفیت د خوف او رجاء دواړه پیدا کیږی او د دی مثال هغه دې چه نبی ﷺ د یو ځوان د بیمار پرسئ د پاره تشریف یوړلو اوهغهٔ قریب الموت وو.نبی ﷺ ترې نه تپوس اوکړو چه څه حال دې دې.نو هغه اووئیل اخاف ذنوبی وارجو الله زهٔ د خپلو ګناهونو په وجه ویریږم او د الله تعالی د رحمت نه امید لرم.نو نبی ﷺ اوفرمائیل چه د یو بنده په زړه کښې چه دا دواړه څیزونه په دې حالت کښې جمع شی نو خامخا ورته الله تعالی امن ورکوی د هغې نه چه دې ترې نه ویریږی او د کوم شی چه امید لری نو هغه ورله ورکوی.غرض دا چه په زړه کښې دواړه کیفیتونه جمع کیدي شی.**الایمان بین الخوف والرجاء** لکه د پرنده د پاره چه دوه وزرې وی.نو دغه شان د ایمان د پاره خوف او رجاء دی﴿الَّذِينَ آمَنُوا﴾ دا مبتداء ده او ﴿طُوبَىٰ

لَهُمْ ﴾ ورله خبر دي او طوبى په اصل كښ مصدر دې په معنى د فرح او خوشحالۍ سره ا دلته نرې نه مراد يا فرح او خوشحالى ده يا ترې نه مراد جنت دې يا د جنت نعمتونه دى.خكه چه طوبى په معنى د حالت طيبه سره دې نو دا ټولو ته شامل دې يا ترې نه مراد اونه ده په جنت كښ او په حديث د ابوهريرة ﷺ كښ دى چه په جنت كښ اونه ده چه هغې ته طوبى وئيلې شى نو الله تعالى به ورته اوفرمائى.(تَفَتَّقِي لعبدى عما شاء) ته كولاو شه د پاره د بنده زما هر هغه څيز نه چه دې ئې غواړى (يعنى راوباسه ئې) نو دا اونه به ورله اس د زين سره او د جنتى لباس سره راوباسى او وئيلې شوې دى چه د شجر طوبى اصل د نبى ﷺ په دار كښ په جنت كښ دې اوبيا تقسيم شوى دى څناګى د دى د مؤمنانو په منزلو كښ لكه چه منتشر شوې دې علم او ايمان په ټولو اهل دنيا باندې (قرطبى)او ظاهره ده چه د كومې اونې اصل د نبى ﷺ د دار نه وى نو د هغې ميوه بۀ خومره خوږه او مزيداره وى،او نور نعمتونه چه د هغې نه راوزى نو هغه به خومره عمده وى (اللهم ارزقناها بفضلك و كرمك).

كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا
او دغه شان ليګلې ئې مونږ ته په داسې امت كښ چه يقيناً تير شويدى مخكښ د دينه ډير اُمتونه. لپاره د دې چه ته ولولې
عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ۭ قُلْ هُوَ رَبِّيْ
په دوئ باندې هغه كتاب چه وحى كړيده مونږ تا ته او دوئ انكار كوى د رحمن نه. ته ووايه هغه رب خما دې
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَ اِلَيْهِ مَتَابِ ۝
نشته دې لائق د بندګى سوى دهغه نه. خاص په هغه باندې خما توكل دې اوهغه ته خما واپس ورتلل دى

﴿ كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ ﴾ دا كاف اكثر مفسرين د تشبيه دپاره وائى او مشبه به ورله يا ﴿ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴾ دې يعنى لكه څه رنګه چه الله تعالى انابت كونكو ته هدايت كوى نو دغه شان ئې د دې امت د هدايت د پاره تۀ مبعوث كړې ئې يا مشبه بۀ ارسال د رسلو سابقينو دې. او مطلب دا دې چه مشركان چه ستا په رسالت باندې شبهات كوى نو دا غلطه خبره ده څكه چه رسالت څه نوې خبره نۀ ده بلكه لكه چه ستا نه مخكښ مونږ انبياء ليګلې وو نو دغه شان مو تۀ ليږلې ئې.او بعضې علماء وائى چه كاف په معنى د لام تعليليه سره دې يعنى هر كله چه

ذريعه د اطمينان د زړونو ذکر الله او وحی وه نو مونږ ته د دې د پاره راوليږلي او حضرت الشيخ رحمه الله فرمائی چه کاف لبيان الکمال دې .دا کمال او احسان دې چه ته ئې رسول کړې ئې.او کشاف او آلوسی د کاف لبيان الکمال دا معنی کوی ای ارسلناك ارسالاً له شانٌ و فضلٌ.يعنی په داسې کامل ارسال سره چه دې لره لوئې شان او فضليت دې او بيان ئې دا دې چه ﴿فِيٓ اُمَّةٍ قَدۡ خَلَتۡ﴾ او دا دلالت کوی په دې چه دا امت آخرالامم دې لکه نبی ﷺ چه آخر الانبياء دې ﴿وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِالرَّحۡمٰنِ﴾ يعنی رحمن په خپل رحمت کامله سره قرآن نازل کړو کما قال تعالیٰ ﴿اَلرَّحۡمٰنُ ۝ عَلَّمَ الۡقُرۡاٰنَ ۝﴾ او ته ئې رحمة للعلمين راوليږلې.ليکن دوی د الله تعالی ډيره لويه ناشکری اوکړه چه په رحمن ئې کفر اوکړو او د هغه د توحيد نه ئې انکار اوکړو بلکه د رحمن د نوم نه ئې هم نفرت او انکار او کړ کما قال تعالیٰ ﴿ وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمُ اسۡجُدُوۡا لِلرَّحۡمٰنِ قَالُوۡا وَمَا الرَّحۡمٰنُ﴾ او د حديبيې د صلحې په وخت کښې ئې د بسم الله الرحمن الرحيم په ليکلو کښې جګړه اوکړه ﴿قُلۡ هُوَ رَبِّيۡ﴾ يعنی د رحمن نه چه تاسو انکار کوئ نو هغه زما مهربان رب دې په هغه زما توکل دې او هغه ته زما رجوع ده زما ابتداء انتهاء د هغهٔ نه ده .نو ستاسو د انکار نه ما ته څه انديښنه او ضرر نشته دې.

وَلَوۡ اَنَّ قُرۡاٰنًا سُيِّرَتۡ بِهِ الۡجِبَالُ اَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ الۡاَرۡضُ اَوۡ كُلِّمَ
او کچرې وې يو قرآن چه روانولې شوې په هغه سره غرونه يا ټکړې کولې شوې په هغې سره ځمکه يا خبرې کيدې شوې
بِهِ الۡمَوۡتٰى ؕ بَلۡ لِّلّٰهِ الۡاَمۡرُ جَمِيۡعًا ؕ اَفَلَمۡ يَايۡـَٔسِ
په سبب د هغې د مړو سره نو بيا هم دوئ ايمان نه راوړی بلکه خاص الله تعالی لره ټول اختيار دې. پس آيا نه پوهيږی
الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَنۡ لَّوۡ يَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيۡعًا ؕ وَلَا يَزَالُ الَّذِيۡنَ
هغه کسان چه ايمان ئې راوړې دې کچرې غوښتلې الله تعالی نو خامخا به ئې هدايت کړې وې ټولو خلقو ته. اوهميشه به وی
كَفَرُوۡا تُصِيۡبُهُمۡ بِمَا صَنَعُوۡا قَارِعَةٌ اَوۡ تَحُلُّ
کافران خلق چه رسی به دوئ ته په وجه د هغه کارونو چه دوئ ئې کوی. سخت عذاب يا به نازليږی دا عذاب

قَرِيبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَأْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٣١﴾

نږدې کور (کلو) د دوی نه تر دې پورې چه راشي وعده د الله تعالی. بیشکه الله تعالی خلاف نکوی د وعدې خپلې نه

﴿وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ﴾ دا زجر دې منکرينو ته. روايت کړې دې ابو يعلی په خپل مسند کښې او واحدی په اسباب النزول کښې دحضرت زبيرﷺ نه چه اهل مکه اوابوجهل نبی ﷺ ته اووئيل چه که ته نبی ئې نو ته په دې خپل کتاب (قرآن)سره غرونه د مکې هموار کړه لکه د داود ﷺ د پاره مسخر شوې وو. ځکه که ته نبی ئې نو ستا مرتبه به د داود ﷺ نه ادنی وی، او مسخر کړه زمونږ د پاره هوا چه مونږ په هغې سره شام ته تجارت له ځو. مونږ ته دومره بعيد مسافت قطع کول ګران دی لکه د سليمان ﷺ د پاره هوا مسخره شوې وه نو ته خو د هغهٔ نه ادنی نهٔ ئې په مرتبه کښې، يا زمونږ د پاره دوه درې کسان زمونږ د اجدادو نه ژوندی کړه چه په هغې کښې قصی بن کلاب هم ئې نو دا آيت نازل شو. مراد د ﴿قُرْآنًا﴾ نه يا په طريقې د عموم سره مطلق لوستلې شوې کتاب دې لکه په صحيح حديث کښې اطلاق د قرآن په زبور باندې راغلې دې، او جواب د (لو) محذوف دې چه (لكان هذا القرآن) يعنی که په آسمانی کتاب سره دا کارونه کيدې شوې نو خامخا به هغه دا کتاب وې ليکن دا کارونه په کتاب سره نهٔ کيږی بلکه د الله تعالی په اختيار کښې دی يا مراد د (قرآنا) نه دا قرآن دې يعنی نکره په معنې د معرفې سره ده. او جزاء د لو محذوفه ده چه (لما آمنوا) يعنی که په دې قرآن سره دا کارونه اوشی نو بيا هم دوی ايمان نهٔ راوړی ﴿سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ﴾ دا اشاره ده معجزې د داود ﷺ ته ﴿أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْأَرْضُ﴾ د دې نه مراد قطع کول د مسافت دی په لږ وخت کښې او په دې کښې اشاره ده معجزې د سليمان ﷺ ته يا د دې نه مراد دا دې چه زمکه اوچولې شی او نهرونه چشمې ترې نه راوخی. حاصل دا دې چه د قرآن په ذريعه سره خو دا کارونه روحانی طور سره اوشو چه هغه خلق چه په کفر باندې د غرونو په شان کلك وو هغوی ايمان او هدايت طرف ته روان شو او د بنی آدمو سخت زړونه ئې اوچول او د معرف الهی چينې ترې نه جاری شوې، اود وصول الی الله طويله لاره ئې په لږ وخت کښې طې کړه، او په مړو زړونو او قومونو کښې ئې د حيات ابدی روح واچوو، او هر کله چه په داسې قرآن سره تاسو. ته شفاء او هدايت نصيب نهٔ شو نو که بالفرض ستاسو د مطالبې موافق په دې قرآن سره دا کارونه مادی او حسی طور سره

اوشی نو بیا به څه توقع وی چه تاسو به ایمان راوړئ بلکه اصل خبره دا ده چه هدایت د الله په اختیار کښې دې نو چه په چا کښې ضد تعصب نهٔ وی او د هدایت طلب ګار وی نو هغهٔ ته ئې ورکوی. ﴿أَفَلَمْ يَايْـَٔسِ الَّذِينَ﴾ یا یَیْئَسُ په معنې د یَعْلَمُ سره، دې. یاس په لغت د نخع قبیلې کښې په معنې د علم سره راځی او بعض وائی چه یاس په معنی د علم سره نهٔ راځی بلکه په معنی د نا امیدئ سره راځی لیکن د ناامیدئ سره لازم دې علم په دې چه دا کار نهٔ کیږی.نو دلته لازمی معنی مراد ده او بعض وائی چه یاس په خپل معنې سره دې او په کلام کښې تقدیر دې ای افلم یایئس الذین آمنواعن ایمانهم علما منهم بان لو یشاء الله الخ، یعنی که الله تعالی اوغواړی جبرا مسلمانول د دوی نو ټولو خلقو ته به ئې هدایت کړې وې لیکن جبری ایمان مقبول عندالله نهٔ دې ﴿وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دا تخویف دې کفارو ته او تسلی ده مؤمنانو ته ﴿قَارِعَةٌ﴾ ای عقوبة تقرع القلوب یعنی داسې سخت عذاب چه زړونه او ټکوی په اهوالو سره ﴿أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا﴾ یعنی یا بهٔ قارعه په دوی نازلیږی یا به دوی ته قریب نازلیږی نو دوی ته به امن نهٔ وی بلکه په خوف کښې به وی (تَحُلُّ) صیغه ده واحد مونث ده او ضمیر په کښې راجع دې قارعه ته او د ﴿وَعْدُ اللَّهِ﴾ نه مراد موت دې یا قیامت دې یا (تَحُلُّ) صیغه دمخاطب ده او خطاب نبی ﷺ ته دې او د وعدالله نه مراد فتح د مکی ده،معنې دا ده چه همیشه به وی کافران چه په دوئ به د دوئ د بدو عملونو په وجه قارعه نازلیږی،ابن عباس ؓ فرمائی چه مراد د قارعه نه هغه سرایا دی چه نبی ﷺ به په کفارو پسې لیږلې،یا به تهٔ په خپله نزول اوکړې قریب دار د دوئ ته یعنی په حدیبیه کښې تر دې پورې چه فتح د مکی اوشی او د کفر بیناد ختم شی بیشکه الله تعالی د خپلې وعدې نه خلاف نهٔ کوی.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا
او په تحقیق سره [1] مسخرې کړې شویدی په ډیرو رسولانو پورې مخکښې ستا نه. پس مهلت مې ورکړې وو کافرانو ته
ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾
بیا مې نیولی وو دوئ لره، نو پس څرنګه وو عذاب ځما دوئ لره

---

١ . تسلی

﴿ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ ﴾ دا تسلی ده، یعنی که په سزا ورکولو کښې څه تاخیر اوشی نو دا ګمان مهٔ کوئ چه مجرمان به بچ شی مخکښو مجرمانو ته هم مهلت ورکړې شوې وو او بیا ئې په عذاب سره اونیول، نو د هغوی څه حشر شو ﴿ فَكَيْفَ ﴾ خبر د کان دې مقدم شوې دې ځکه چه استفهام تقاضا د صدارت کوی اود دې نه مقصود بیان د شدت د عذاب دې

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۗ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَآءَ ۖ قُلْ
آیا پس هغه ذات [1] چه خبردار دې په هر نفس سره د عملونو د دهٔ نه، او ګرځولی دی دوئ الله لره شرکاء. وه وایه
سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى الْأَرْضِ
بیان کړئ کمالات د دوئ . آیا خبروئ تاسو الله تعالی لره دهغه څه نه چه الله تعالی ته ندی معلوم یعنی نشته دې په ځمکه کښې
أَم بِظَٰهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ۗ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ
یا تاسو دوئ ته آلهه وایئ په سر سری وینا سره بلکه ښائسته کړې شوی دی کافرانوته بد سوچونه د دوئ ا
وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾
او بند کړې شوی دی د سمی لارې نه. اوهغه څوک چه الله تعالی ئې بې لارې کړی پس نه وی هغه لره څوک هدایت کونکې
لَّهُمْ عَذَابٌ فِى الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ الْءَاخِرَةِ أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٣٤﴾
دوئ لره عذاب دې [2] په ژوند د دنیا کښې او خامخا عذاب د آخرت ډیر سخت دې او نشته دې دوئ لره څوک بچ کونکې

﴿ أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍ ﴾ دا اتم دلیل عقلی دې او د فمن هو قائم علی کل نفس الخ وروستو په آخر کښې کمن لیس کذالك محذوف دې او استفهام د انکار دپاره دې ﴿ قَآئِمٌ ﴾ نه مراد رقیب نګهبان. نګران حاضر او ناظر دې، ﴿ بِمَا كَسَبَتْ ﴾ ای مع ما کسبت یعنی هغه ذات «الله تعالی» چه په هر چا بندې او د هغه په هر عمل د خیر اود شربندې عالم دې نګران دې او په هر څه قادر دې نو داسې ذات په شان دهغه چا کیدې شی چه دا رنګه نهٔ وی؟ بلکه نهٔ شی

۱ - اتم دلیل عقلی
۲ - تخویف دنیوی او اخروی

كيدي.او د داسې ذات د گرفت نۀ څوك نۀ شي بچ كيدې. ﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ﴾ يعنى د دې باوجود دوئ الله تعالى لره شريكان جوړ كړې دى ﴿قُلْ سَمُّوهُمْ﴾ يعنى د دوئ صفات او كمالات بيان كړئ چه آيا دوئ آلهه كيدې شي؟ آيا دوئ په هر څه عالمان او قدرت والا دى؟ يا دا مطلب دې چه تاسو د خپلو آلهو نومونه واخلئ.د هغوى په نومونو كښې علامه د تانيث ده نو د هغوى نوم اخستل عار او شرم دې يا دا مطلب دې چه د دوى نوم واخلئ او حقيقت ئې بيان كړئ نو د دوى حقيقت عجز دې نو څه رنگه آلهه كيدې شي؟ ﴿أَمْ تُنَبِّئُونَهُ بِمَا لَا يَعْلَمُ﴾ ام په دواړو ځايونو كښې منقطعه دې په معنې د (بل ءا) يعنى آيا تاسو الله تعالى ته خبر وركوئ د هغه څه چه هغه ته معلوم نۀ دى يعنى نشته دې ځكه يو ځيز چه موجود وى نو لازمه ده چه علم د الله تعالى به پرې وى آيا تاسو دوى ته آلهه وايئ په سرسرى قول سره يعنى په بې حقيقته او بې دليله قول سره يا ام په معنې د همزه دَ استفهام سره دې او مستفهم عنه مقدر دې اى اتسموهم شركاء حقيقةً ﴿أَم بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ﴾ كښې ام متصله دې او حاصل دادې چه كه تاسو دوى ته معبودان حقيقة وايئ نو بيا خو تاسو الله تعالى ته د داسې خبرې خبر وركړو چه الله تعالى ته نۀ ده معلومه يعنى نشته دې او كه تاسو دوى ته معبودان وايئ په سرسرى قول سره نو سرسرى قول هغه ته وائى چه بې دليله وى او كومه خبره چه بالكل بې دليله وى نو هغه باطل قول وى نو تاسو بيا د خپل قول د بطلان په خپله اقرار اوكړو ﴿بَلْ زُيِّنَ﴾ يعنى حقيقت دا دې چه دوى سره هيڅ دليل نشته دې بلكه دوى ته د دوى باطل اوهام،مغالطې،اعمال مشركانه شيطان ښائسته كړې دى اود شيطان او د نفس دهوكې دوى د حق لارې نه منع كړې دى ﴿وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ﴾ مهر جباريت چه په چا اولږى نو هغۀ ته هدايت نۀ كيږى ﴿لَّهُمْ عَذَابٌ﴾ دا تخويف دنيوى او اخروى دې يعنى د داسې ضديانو معاندينو د پاره په دنيا كښې هم عذاب دې او د آخرت عذاب ډير سخت دې او د دوى دپاره به څوك شفاعت كوونكې او بچ كوونكې د عذاب الهى نه نۀ وى،څنگه چه د دوى گمان دې.

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

صفت د جنت هغه چه وعده ئ كړې شويده د متقيانو سره (دادې) چه بهيږى لاندې دهغې نه ولې (د شودو، شرابو، شهدو، اوبو)

اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ۭ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا ڰ وَّعُقْبَى الْكٰفِرِيْنَ النَّارُ ۝ وَالَّذِيْنَ
ميوې دهغې هميشه دی اوسورې ئ هم هميشه دې، دا انجام د متقيانو دې او انجام د كافرانو اُور دې اوهغه كسان
اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمِنَ الْاَحْزَابِ
چه وركړې دې [۱] مونږ هغوئ ته كتاب خوشحاليږی په هغه څه چه نازل كړې شوی دی تا ته او د دې ډلو نه
مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ۭ قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ
بعضی داسې خلق دی چه انكار كوی د بعضې حصې د قرآن نه، وه وايه ته [۲] چه بيشكه ماته امر كړې شوې دې
اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ ۭ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ۝
چه زه عبادت كوم د الله تعالى او شريك نه گرځوم د هغه سره، دهغه طرف ته خلق رابلم او دهغه طرف ته ځما رجوع ده
وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۭ وَلَىِٕنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَمَا
اودغسې مونږ نازل كړې دې دا قرآن حكم عربي، اوكه (بالفرض) تا تابعداری وكړه د خواهشاتو د دوئ روستو د هغې نه
جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ۝
چه راغليدې تا ته علم، نه به وی تا لره د الله تعالى د عذاب نه مددگار اونه بچ كونكې

﴿مَثَلُ الْجَنَّةِ﴾ دا بشارت دې،مَثَل په درې معانيو سره مستعمليږی،يو د شبيه،مماثل سره دويم په معنې د قول سائر (متل) سره دريم په معنې دصفت غريبه سره دلته دا دريمه معنې مراد ده.او دا مبتدا ده او خبر ئې مخذوف دې چه (فيما يتلى عليكم) او ﴿تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ﴾ د هغې محذوف خبر تفسير دې يا خبر ورله (تجری) دې په تاويل د هذاالبيان سره، ﴿الْأَنْهَٰرُ﴾ جنت كښې څلور نهرونه دی(۱) من ماء غير آسن(۲) من لبن لم يتغير طعمه (۳)خمر لذة (۴) عسل مصفى ﴿أُكُلُهَا دَآئِمٌ﴾ د جنت ميوې به دائمی وی په هر موسم كښې به وی او فنابه پرې نه

---

۱ - دليل نقلی د اهل كتابونه.

۲ - دويم دليل وحی

راخي. ﴿وَظِلُّهَا﴾ د دې خبر مخذوف دې اى و ظلها دائم ﴿وَالَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ الْكِتَـٰبَ﴾ دا دليل نقلي دې او مراد د دې نه هغه علماء د اهل كتابو دى چه ضد او تعصب په كښې نۀ وو او اسلام ئې قبول كړې وو. ﴿يَفْرَحُونَ﴾ د دوى خوشحاله كيدل په قرآن باندې ځكه دى چه د قرآن تمام بيانات د اصلى كتب سابقو سره موافق دى.او د احزابو نه مرادهغه اكثر اهل كتاب دى چه اسلام ئې نۀ وو راوړې يا مراد د ﴿ءَاتَيْنَـٰهُمُ الْكِتَـٰبَ﴾ نه صحابه ﷺ دى او د كتاب نه مراد قرآن دې او د احزابو نه مراد مشركين دى او د ﴿يُنكِرُ بَعْضَهُۥ﴾ نه مراد توحيد دې ځكه چه : مشركينو اصلى خلاف دتوحيد نه، وو ﴿قُلْ إِنَّمَآ أُمِرْتُ﴾ دا دويم دليل وحى دې يعنى ما ته په ذريعه د وحى سره دا حكم شوې دې چه په پخپله په توحيد باندې مضبوط شم او نور خلق هم دې ته راوبلم خواه كه څوك خوشحاله وى يا ناراض وى الله تعالى طرف ته زما تلل دى ماته به زما د محنت اجر راكوى او مخالفينو ته به سزا وركوى ﴿وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَـٰهُ﴾ دا متعلق دې د ما قبل تمامو دلائلو سره ﴿حُكْمًا عَرَبِيًّا﴾ دا حال دې د ضمير د (انزلنه) نه ﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ﴾ دا خطاب هر مخاطب ته دې،او وعيد دې په اتباع د اهل كتابو او نورو كفارو باندې يا خطاب نبى ﷺ ته دې ليكن مقصود ترې نه نورو خلقو ته اورول دى ځكه چه په نبى ﷺ كښې دا احتمال نۀ وو چه اتباع د غير به اوكړى.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ۚ
او په تحقيق سره ليږلى وو مونږ [1] رسولان مخكښې ستانه او وركړې وې مونږ دوئ ته بيبيانې او اولادونه،
وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾
او نشته دې طاقت هيڅ رسول لره [2] چه راوړى معجزه مگر په اذن د الله تعالى سره ، هرې نيتې لره ليكل شته دې [3]

---

١ . جواب د اول سوال

٢ . د دويم سوال مقدر جواب

٣ . د دريم سوال مقدر جواب

يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَ يُثْبِتُ ۖ وَ عِنْدَهٗۤ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿٣٩﴾

ورانوی الله تعالی (۱) څه چه وغواړی او باقی پریږدی (څه چه وغواړی) اوهغه سره اصل کتاب دې

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا ﴾ د دلائلو نه بعد د مشرکينو په رسالت باندې د څلوروسوالونو جوابونه ذکر کيږی **اول سوال** دا وو چه که تهٔ نبی وې نو ستا به بيبيانې اولادونه نهٔ وو، **جواب** راغئ چه د مخکينيو رسولانو هم بيبيانې او اولادونه وو، عربو به په دې فخر کوو چه مونږ اولاد د ابراهيم ﷺ يو، نو دوی ته ضمنا دا اوونيلې شو چه که د رسولانو بيبيانې او اولادونه نهٔ وې نو تاسو څنګه دنبی په اولاد کښې يئ او څنګه پيدا شوئ؟ **دويم سوال** دا وو چه که ته په رښتيا رسول ئې نو مونږ ته زمونږ مطلوبه معجزه ښکاره کړه نو **جواب** راغې چه ﴿وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ﴾ يعنی معجزه د پيغمبر په اختيار کښې نهٔ وی **دريم سوال** هر کله چه مونږ ستا رسالت نه منو نو په مونږ عذاب ولې نه راځی جواب اوشو ﴿لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ﴾ د هر څه د پاره وخت مقرر دې نو که تاسو په کفر او انکار باندې کلك پاتې شوئ نو په خپل وخت به عذاب خامخا راځی **څلورم سوال** چه هر کله عذاب خامخا راځی نو د منلو اود ايمان راوړلو څه فائده شوه نو جواب اوشو ﴿يَمْحُوا اللَّهُ مَا يَشَاءُ﴾ محو اثبات د الله تعالی په لاس کښې دی نو که تاسو ايمان راوړئ نو الله تعالی به ليکلې شوې عذاب محو کړی، او که تاسو په کفر باندې ثابت شوئ نو عذاب به هم ثابت پاتې شی.

فائده (۱) : د دې ايت تشريح په نورو متعددو وجوهاتو سره شوې ده منجمله د هغې نه دا دی (۱) دا جواب دې د اعتراض د کفارو نه چه دوی ويل چه محمد (ﷺ) يوه ورځ خپلو ملګرو ته يو حکم اوکړی او په بل وخت کښې ورته د هغې خلاف حکم کوی نو معلوميږی چه دا د الله تعالی د طرفه نهٔ دې بلکه د دهٔ د طرفه دی نو جواب اوشو چه دهر وخت دپاره مناسب احکام وی نو الله تعالی چه اوغواړی بعض احکام منسوخ کړی او بعض ثابت اولري يعنی محو اثبات د احکامو په اعتبار سر وی (۲) د حضرت عکرمه رضی الله عنه نه روايت دې چه د دې معنې دا ده چه محو کوی الله تعالی ګناهونه د توبه کوونکی او ثابتوی د هغې په ځائې حسنات، کما قال تعالی ﴿فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ﴾ (۳) سعيد بن جبير رضی الله عنه

۱ - د څلورم سوال مقدر جواب.

وانی چه محو کوی الله تعالی هغهٔ څوك چه اجل ئ راغلې وی او ثابت پرېږدی هغه څوك چه اجل ئې نهٔ وی راغلې (۴) محو کوی الله تعالی یعنی هلکوی هغه قومونه چه الله تعالی ئې اوغواړی او ثابت پرېږدی هغه قومونه چه الله ئې اوغواړی.(۵) علی ﷺ وائی چه محو کوی الله تعالی دنیا او ثابت پرېږدی آخرت (۶) محو کوی الله تعالی به لیلة القدر یا لیلة النصف من شعبان کښ د دفتر(رجسټر) د احیاؤ نه هغه څوك چه خوښه ئې شی او ثابتوی ئې په دیوان (رجسټر) د امواتو نه.

فائده (۲) اکثر علماء کرام فرمائی چه تقدیر دوه قسمه دې یو تقدیر معلق دې هغه دا دې چه د چا د عمر یا د بل څه څیز تعلیق راغلې وی په یو عمل کولو پورې مثلا که فلانی سړی صله رحمی اوکړه نو عمر بهٔ ئې سل کاله وی او که او ئې نهٔ کړه نوعمر به ئې اتیا کاله وی ، یا مثلا که فلانی دعا او صدقه اوکړه نو مصیبت به ترې نه لرې شی او که اوئې نه کړه نو لرې به نه شی او دا تقدیر معلق په کتاب المحو والاثبات کښ لیکلې شوې دې نو په دې کښ تغیر راتلې شی،خو دا تغیر په نسبت سره علم د ملائکو ته دې او په نسبت سره علم د الله تعالی ته نهٔ دې ځکه چه د الله تعالی علم چه په یو څیز باندې وی نو د هغې په تغیر سره جهل راځی په الله تعالی کښ (والله تعالی منزه عنه) او دا تقدیر معلق لیکلې شوې دې په صحیفو د ملائکو کښ او دویم قسم تقدیر مبرم دې هغه دا دې چه کوم څیز واقع کیږی،لکه مثلا چه کوم معلق وی په شرط پورې او د وجود د شرط سره واقع کیږی یا د عدم د شرط د وجې نه نهٔ واقع کیږی غرض چه کوم څیز بلا تردد واقع کیږی نو هغه تقدیر مبرم دې او دا په لوح محفوظ کښ لیکلې شوې وی،نو په ﴿يَمْحُوا اللَّهُ مَا يَشَاءُ﴾ کښ تقدیر معلق ته اشاره ده او په ﴿وَعِندَهُ أُمُّ الْكِتَابِ﴾ کښ تقدیر مبرم ته اشاره ده او په دې کښ تغیر او تبدیل نهٔ راځی،او په حدیث کښ چه راغلې دی ان الرجل ليحرم الرزق بالذنب يصيبه ، و لا يرد القدر الا الدعا ولا يزيد في العمر الا البر (رواه احمد) یعنی سړې د گناه په وجه د مقرر شوی رزق نه محرومولې شی او تقدیر صرف په دعا سره بدلیږی او په عمر کښ زیادت په نیکئ سره راځی او په روایت د بخاری کښ دی من احب ان يبسط له في رزقه و ويُنسأ له في اثره فليصل رحمه، د دې نه معلومیږی چه په صله رحمئ سره په عمر او مال کښ زیادت راځی نو اکثر علماء دا حمل کوی په تقدیر معلق باندې او بعض علماء وائی چه د موت او حیات شقاوت او سعادت او د رزق په تقدیر کښ تبدیل نهٔ شی راتلې ا ددې نه علاوه په نورو کښ تغیر او تبدیل راتلې شي.او علامه آلوسی رحمه الله د بعضو علماؤ قول نقل کړې دې چه تغییر تبدیل په هر څه کښ یعنی په

تقدیر معلق تړلو کښې راتلې شی،دلیل ئې (۱) یو دا دې چه د دعاء قنوت په باره کښې په صحیح حدیث کښې راغلی دی و (قنی شر ما قضیت) نو په دې کښې طلب د حفاظت شوې دې د شر د قضاء ازلی نه نو که په دې کښې تغییر ممکن نۀ وی نو دا طلب او سوال به صحیح نۀ وو.
(۲) بل دلیل دا دې چه په باره د تراویح کښې په صحیح حدیث کښې راغلې دی چه نبی ﷺ درې شپې په جمعې سره اوکړې نو بیا بهر ته رانغې او خلق ډیر جمع شوې وو .نو نبی ﷺعذر اوکړو او ئې فرمائیل (خشیت ان تفرض علیکم فتعجزوا عنها) یعنی زۀ د دې وجې نه د تراویح د پاره رانغلم چه خطره وه چه په تاسو فرض شی.نو که په قضاء ازلی کښې تغییر نۀ شوې راتلې نو بیا د دې خطرې هیڅ معنی نۀ وه او بل دا چه په لیلة المعراج کښې وئیلې شوې وو چه صرف پنځه مونځونه فرض دی زیات نۀ دی فرض. (۳) او بل دلیل دا دې چه نبی ﷺ به چه کله سخته هوا راغله نو پریشان به وو او فرمائیل به ئې (اخشی ان تقوم الساعة) حالانکه د قیامت نه مخکښې د ظهور د مهدی او دنزول د عیسی ﷺ او د خروج د یاجوج ماجوج او دابة الارض اخبار الله تعالی ورکړې وو نو که په قضاء ازلی کښې تغییر تبدیل نۀ شوې راتلې نو بیا ددې خشیت او پریشانئ هیڅ معنی نۀ وه، (۴) او روایت دې د حضرت عمر ﷺ نه چه دۀ به طواف د بیت الله کوو او ژړل به ئې او دا به ئې وئیل : (اللهم ان کنت کتبتنی فی اهل السعادة فاثبتنی فیها وان کنت کتبت عَلَیَّ الشقاوة فامحنی واثبتنی فی اهل السعادةوالمغفرة فانك تمحو ماتشاء و تثبت و عندك ام الکتاب)، او دغسې روایت د ابن مسعود ﷺ نه هم مروی دې او بل دا چه که په قضاء ازلی کښې تغییر نۀ شی راتلې نو بیا به دعا کول بې فائدې وی ځکه چه د کوم څیز سوال چه کولې شی که دهغې وجود مقدر وی نو سوال ته ضرورت نشته دې هغۀ به بغیر د سوال او دعا نه واقع کیږی،او که د هغې وجود نۀ وی مقدر نو د هغې په طلب کښې څه فائده نشته دې یعنی استجب لکم والا فائده په کښې نشته دې،او صاحب د نبراس په شرح د شرح العقائد کښې وائی چه تقدیر دوه قسمه نۀ دې صرف یو تقدیر دې او په هغې کښې تغییر تبدیل نۀ شی راتلې ګنی نو علم د الله تعالی به منقلب شی په جهل سره لیکن قوی د اکثرو علماؤ قول دې او د ابن عباس او عکرمه ﷺ نه مروی دې او دې آیت نه ئې تائید کیږی والله اعلم.

وَإِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ
او کچرې وښایو [۱] مونږ تا ته بعضې هغه عذاب چه د دوئ سره ئې وعده کوؤ یا وفات کړو تا . پس بیشکه په تا باندې

۱ - تخویف دنیویٔ.

الۡبَلٰغُ وَعَلَيۡنَا الۡحِسَابُ ۝ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّا نَاۡتِى الۡاَرۡضَ نَنۡقُصُهَا
رسول دى او په مونږ باندې حساب دې آيا دوئ فكر نكوى چه مونږ قصد كوو دې ځمكې (دكفر) ته چه كموو ئې
مِنۡ اَطۡرَافِهَا ؕ وَاللّٰهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهٖ ؕ وَهُوَ سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ ۝
د ټولو طرفونو نه. او الله تعالى فيصله كوى ، نيشته روستو كونكې د فيصلې د هغه. اوهغه زر حساب كونكې دې

﴿وَاِنۡ مَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ الَّذِىۡ﴾ دا تسلى ده نبى ﷺ ته اوتخويف دنيوى دې يعنى تا خپله فريضه د تبليغ ادا كړه نو اوس كه دوى نه منى نو سخت عذاب بهٔ ورته وركولې شى.خواه ستا په ژوند كښې يا ستا د وفات نه وروستوپه جنګ بدر او بعضو نورو غزواتو كښې مشركينو ته.د مؤمنانو په لاس سره سخته سزا وركړه او دغسې د نبى ﷺ د وفات نه بعد كفار په عذاب سره مبتلا شو.او د كفر خاتمه اوشوه د (اِمَّا نُرِيَنَّكَ) معنى دا ده چه دوى ته ستا په زندګئ كښې عذاب وركړې شى اوجزاء د (اِمَّا) محذوفه ده چه فذالك المتمنّى،يافذالك شافيك ﴿اَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ﴾ د دې جزاء هم محذوفه ده چه فلا لوم عليك ده ﴿فَاِنَّمَا عَلَيۡكَ الۡبَلٰغُ﴾ دا د محذوفې جزا د پاره علت دې، ﴿اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّا نَاۡتِى الۡاَرۡضَ﴾ دا تخويف دنيوى دې يعنى دا كفار دې ته سوچ او فكر نه كوى چه توحيد په اطرافو كښې خوريږى او زمكه د كفر كميږى، بعض خلق په خپل اختيار سره مسلمانيږى او بعض د جهاد په ذريعه سره مغلوب كيږى او دا ايت مدنى دې اګر كه اكثره حصه د سورت مكى ده،او د ابن عباس ﷺ او بعضې نورو سلفو نه دا هم مروى ده چه مراد د زمكې بركات ميوې دى او د عذابونو او طوفانونو راتلل دى په سبب د كفر او شرك او د ګناهونو سره او دعطاء وغيره نه مروى ده چه مراد د دې نه د زمكى خرابيدل دى په موت د علماؤ صلحاؤ سره لكه په حديث كښې دى ان الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من العباد و لكن يقبض العلماء حتى اذا لم يبق عالما اتخذ الناس راوسا جهالا الخ او عبد الله بن مسعود ﷺ وائى عليكم بالعلم قبل ان يقبض و قبضه ذهاب اهله انما مثل العلماء كمثل الانف اذا قطعت لم تعد و قال سليمان لا يزال الناس بخير ما بقى الاول حتى يتعلم الاخر و اذا هلك الاول قبل ان يتعلم الاخر هلك الناس. ﴿لَا مُعَقِّبَ﴾ نشته دې روستو كونكې او رد كوونكې دا په موضع د حال كښې دې اى نافذاً حكمه.

وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِيْعًا ط
او په تحقیق سره مکرونه کړي وو هغه کسانو چه د دوئ نه مخکښې وو . پس د الله تعالی په اختیار کښې دی مکرونه ټول
يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ط وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ۝
عالم دې الله تعالی په هغه کارونو چه کوی ئې هر نفس. او زر به پوهه شي کافرن چه چا لره دې ښه انجام د آخرت
وَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَسْتَ مُرْسَلًا ط قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ
او وائي هغه کسان [1] چه کفر ئې کړې دې، نه ئې ته رسول. وه وايه کافی دې الله تعالی گواه. په مینځ خما
وَبَيْنَكُمْ لا وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ ۝
او ستاسو کښې اوهغه څوك چه هغه سره علم د کتاب دې

﴿وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ یعنی مخکښنو کفارو مکرونه او تدبیرونه کړي وو لیکن د هغوی په تدبیرونو، منصوبو سره عذاب الهی نه وو دفع شوې ځکه مکر او تدبیر دخیر وی او که د شر وی د هغې کامیابیدل د الله تعالی په اختیار کښې دی نو که اوغواړی نو هر مکر او تدبیر ناکام کولې شی ﴿يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ﴾ د هر چا په خفیه تدبیر باندې خبر دې ﴿وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ﴾ او لکه مخکښنو کفارو چه د خپل مکر انجام لیدلې وو نو دا موجوده کفار به هم اووینی ﴿وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ دا شکوی ده،یعنی کافران ستا د رسالت نه انکار کوی،نو ته ورته اووایه چه زما په رسالت او صداقت باندې دلائیل اومعجزاتِ واضحه موجود دی نو ستاسو انکار محض عناد او تعصب دې اوزما په نبوت الله تعالی گواه دې او هغه پوره گواه دې، ﴿وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ﴾ د دې نه مراد شهادت دعلماؤ د اهل کتابو دې کوم چه ضدیان متعصب نهٔ وویا مراد د دې نه جبرئیل ﷺ دې.

تم تفسیر سورة الرعد بفضله وحسن توفیقه ،

۲۴ ربیع الاول ۱۴۳۰ هجری ۲۲مارچ ۲۰۰۹ عیسوی

۱- شکوی.

ركوع	سورة ابراهيم مكية	آيتونه
۷	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۵۲
	خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم كوونكې دې شروع كوم	

رقمها حسب التسلسل (۱۴) وحسب النزول (۷۲)

دا سورة مكى دې د ترتيب قرآن په لحاظ سره ۱۴ دې او د نزول په اعتبار سره ۷۲ دې.د مكې دور اخير كښې نازل شوې دې،آيتونه ئې ۵۲ دى او ركوعات ئې ۷ دى۔

ربط : اسمى ئې دا دې چه يوسف ﷺ په جيل كښې د توحيد مسئله بيان كړې ده او رعد فرشته هم د الله تعالى پاكى بيانوى د شركاؤ نه او ابراهيم ﷺ د توحيد د پاره خپل اهل او عيال په حكم د الله تعالى سره په شاړ ميدان كښې پريخودل او دعا ئې اوكړه ﴿وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ﴾

ربط مضمونى (۱) د مخكنى سورت په ابتداء كښې د حقيقت د قرآن ذكر وو او د دې سورت په ابتداء كښې د قرآن د نزول مقصد بيانيږى چه (لِتُخْرِجَ الناس مِنَ الظلمٰتِ اِلَى النُّور) (۲) په تير شوى سورت كښې په توحيد باندې تنبيهات عقليه او نقليه ذكر شو او په دې سورت كښې دلائل دتوحيد او وقائع دنيويه اخرويه ذكر كيږى ځكه چه بعض خلق په اوريدلو د وقائع دنيوى (تذكير بايام الله)يا اخروى (تذكير بما بعد الموت) سره په هدايت باندې راځى.

د سورت د مضامينو خلاصه : په دې سورت كښې درې عقلى دلائيل ذكر كيږى دوه مختصر يو مفصل،او دوه نقلى دليلونه ذكر كيږى يو اجمالى يو تفصيلى د ابراهيم ﷺ او شپږ وارې وقائع بيانيږى دوه دنيوى (تذكير بايام الله)او څلور اخروى (تذكير بما بعد الموت)

او تفصيل د، دې : چه اول يو آيت تمهيد دې او بيان د مقصد د نزول د قرآن دې،دلائيل عقليه درې دى دليل اول ﴿اللّٰهِ الَّذِى﴾ آيت : (۲) دويم دليل ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ﴾ آيت نمبر ۱۹ دا دواړه دليلونه مختصر دى، دريم دليل عقلى تفصيلى ﴿ اللّٰهُ الَّذِى خَلَقَ السَّمٰوٰتِ﴾ آيت نمبر ۳۲ تا ۳۴،او دوه نقلى دليلونه يو اجمالى ﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ﴾ يعنى كلمه طيبه د ټولو انبياؤ مشن دې،دويم نقلى تفصيلى ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ

﴿ءَايٰتِنَا﴾ آیت نمبر ۳۵ تا ۴۱. بیان دوقائعو شپږ واړي کیږی دوه دنیوی او څلور اخروی دی چه شاه صاحب رحمه الله ترې نه تعبیر په تذکیر بایام الله سره کوی او تخویف اخروی دې چه دَ دینه تعبیر په تذکیر بما بعد الموت سره کوی اول وار بیان د وقائعو تذکیر بایام الله دې ﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ﴾ آیت نمبر ۹ تا ۱۵ یعنی د امم سابقو د تباهئ نه عبرت واخلئ. دویم وار تذکیر بما بعدالموت ﴿مِّن وَرَآئِهِ جَهَنَّمُ﴾ ایت نمبر ۱۶ او ۱۷ یعنی د دنیوی عذاب نه به علاوه په آخرت کښې دردناك عذاب وی دریم واړي تخویف دنیوی تذکیر بایام الله ﴿إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ﴾ آیت نمبر ۱۹ یعنی الله تعالی ته څه مشکله نهٔ ده چه تاسو هلاك کړی او نور خلق پیدا کړی څلورم وار ﴿وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ دا تخویف اخروی او تذکیر بما بعد الموت دې پنځم واري دا هم اخروی دې ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا﴾ آیت نمبر ۲۸ یعنی د مشرکینو سزا د جهنم اور دې شپږم وار دنیوی اخروی د دواړو ذکر دې ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا﴾ آیت نمبر ۴۲ تا ۴۷ او ۵۱ او په آخر کښې بیان د دعوی دې په طور د ثمره سره.

الٓرٰ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ

(الر) دا کتاب دې [۱] چه مونږ نازل کړیدې تا ته، لپاره د دې چه ته را وُباسې خلق د تیَرونه رڼړا ته په توفیق د رب د دوئ سره

اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا

لارې د هغه ذات ته چه زورآور، ستایلې شوې دې. د هغه الله طرف ته [۲] چه د هغه په اختیار کښې دی هغه څه

فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَوَيْلٌ لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيْدِ ۙ الَّذِيْنَ

چه په آسمانونو کښې دی او هغه څه چه په ځمکه کښې دی او هلاکت دې کافرانو لره [۳] د عذاب سخت نه. دا هغه خلق دی

۱ - تمهید مع ترغیب.
۲ - اول دلیل عقلی مختصر
۳ - تخویف

يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ

چه غوره کوی ژوند د دنیا په آخرت باندې او منع کوی نور خلق د لارې د الله تعالی نه او لټوی په هغې کښې کږلیچ

اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ

دغه خلق په ګمراهی لرې کښې دی او نه دې لیږلې مونږ هیڅ رسول مګر په ژبه (لغت) د قوم د ده

لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ؕ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ

لپاره د دې چه بیان کړی دوئ ته (احکام د الله تعالی) ، پس ګمراه کوی الله تعالی هغه څوک چه وغواړی

وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

او هدایت ورکوی هغه چا ته چه وغواړی او الله تعالی زورآور او حکمتونو والا دی

﴿كِتٰبٌ﴾ دا خبر د مبتدا محذوفې دی (ای هذا کتاب) دا تمهیدی دی او بیان د مقصد د نزول د قرآن دی چه هغه دا دی ﴿لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ﴾ ای ببیانِ الوقائع او هر کله چه د ګمراهئ لار ې ډیرې دی او د حق لار یوه ده نو ددې وجې نه ظلمات جمع او نور مفرد ذکر شو ﴿بِاِذْنِ رَبِّهِمْ﴾ ای بتوفیق ربهم دامتعلق دې د (لتخرج الناس) سره، یعنی پیغمبر چه خلق د ګمراهئ نه هدایت ته راوباسی نو دالله تعالی په توفیق سره کیږی ﴿اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ﴾ دا بدل دې د ﴿اِلَى النُّوْرِ﴾ نه په تکرار د عامل سره ﴿اللّٰهِ الَّذِيْ﴾ عطف بیان دې د (العزیز الحمید) نه او دا اول دلیل مختصر دلیل عقلی دې یعنی د الله په قبضه او تصرف کښې ټول کائنات دې که اسمانونو والا دی یعنی فرشتې او که زمکې والا دی یعنی انبیاء اولیاء ﴿وَوَيْلٌ﴾ دا تخویف دې او په دې کښې اشاره ده چه خاوندان د ظلماتو کافران دی ﴿الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ﴾ یعنی کافران د دنیا زندګئ ته ترجیح ورکوی په آخرت باندې او دنیا دنفعې د پاره د آخرت نقصان کوی، او دا لویه بیماری ده په انسان کښې﴿وَيَصُدُّوْنَ﴾ یعنی په خپله د کفر او ضلالت په تیرو کښې دی او د ایمان د نور نه محروم دی او نور خلق هم د الله تعالی د دین نه منع کوی ﴿وَيَبْغُوْنَهَا﴾ دا په اصل کښې (يَبْغُوْنَ لَهَا) دې یعنی په دین حق او توحید کښې شکوک شبهات اچوی او د دې په ذریعه خلق د توحید نه منع کوی ﴿ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ ﴾ دا متعلق دې د ابتداء د سورت سره چه (لیخرج الناس من الظلمت) دې او دا تخصیص بعد التعمیم دې. یعنی مخکنی قومونو ته الله تعالی رسولان رالیږلې وود هغوی په قومی ژبه سره

د دې د پاره چه هغوی ته د الله تعالی احکامات بیان کړی او د ظلمت نه ئې نور ته راولی په قومی لسان سره تعلیم تعلم آسان وی.نو ددې وجې نه الله تعالی په قومی ژبه سره انبیاء علیهم السلام رالیګل.اودا طبعی ترتیب دې او د دی طبعی ترتیب مطابق الله تعالی وحی په عربی لغت سره راولیګله ځکه چه د عربو دخپل قومی لسان سره بیحده شوق او محبت وو.نو دوی د قرآن په حقائقو معارفو باندې مکمله احاطه اوکړه او بیا ئې دا نور مشرق.مغرب.روم. فارس. بلکه ټولې دنیا ته منتشرکړه او په دې آیت کښې (بلسان قومه) وئیلې دی او (بلسان امته) ئې نهٔ دې وئیلې ځکه چه د نبی ﷺ قوم عرب وو.لیکن امت ئې د ټول دنیا تمام اقوام.جنس اوانس دی ﴿فَيُضِلُّ اللّٰهُ﴾ په دې کښې اشاره ده چه د انبیاؤ کار دعوت ورکول دی او هدایت ورکول یا نهٔ ورکول د الله تعالی په اختیار کښې دی ﴿الْعَزِيزُ﴾ تعلق د یهدی سره دې او د (الحکیم) تعلق د ﴿فَيُضِلُّ﴾ سره دې

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اَنْ اَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ وَذَكِّرْهُمْ
او یقیناً مونږ لیږلې وو موسی (١) په آیاتونو خپلو سره چه را وُباسه خپل قوم، د تیرو نه رڼا ته ، او وریاد کړه دوئ ته
بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى
عبرتناك واقعات د الله . بیشکه په دې کښې ډیر عبرتونه دی، د هر ډیر صبرناك ډیر شکرګذار لپاره او کله چه وه وئیل موسی
لِقَوْمِهِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ اَنْجٰىكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ
خپل قوم ته یاد کړئ احسان د الله تعالی په تاسې، کله چه تاسو ئ خلاص کړئ د فرعونیانو نه . رسولو به ئ تاسو ته
سُوْۗءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُوْنَ اَبْنَاۗءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَاۗءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَاۗءٌ
سخت عذاب، او ذبح کول به ئ ځامن ستاسو او ژوندئ به ئ پریښودلې خزې ستاسو، او په دې کښې امتحان وو
مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۝ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَىِٕنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ
د طرف د رب ستاسو نه لوئ. اوکله چه خبر درکړو رب ستاسو کچرې شکر وکړو تاسو نو خامخا به زیات درکوم تاسو ته

١ . تخصیص بعد التعمیم

وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ ۞ وَقَالَ مُوْسٰى اِنْ تَكْفُرُوْٓا اَنْتُمْ وَمَنْ

او که تاسو کفر وکړو نو بیشکه عذاب ځما ډیر سخت دې. او وه ویل موسی که ناشکری وکړه تاسو او هغه چا

فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۞

چه په ځمکه کښې دی ټولو ، نوپس بیشکه الله تعالی بې حاجته دې ، صفت کړې شوې دې

﴿ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى ﴾ دا هم د ابتداء د سورت سره متعلق دې او تخصیص بعد التعمیم دې یعنی لکه څه رنګه چه موسی ﷺ خپل قوم ته د تیر شوو قومونو واقعات بیان کړل او د الله تعالی انعامات ئې ورته په یاد کړل او او یې وئیل چه که تاسو د الله تعالی د نعمتونو شکر کوئ نو الله تعالی به زیات درکړی اوکه ناشکری کوئ نوعذاب بهٔ درکړی نو دغه شان ته هم خپل قوم په واقعاتو اوانعاماتو بیانولو سره د ظلمت نه نور د هدایت ته راوباسه ﴿وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰمِ اللّٰهِ﴾ ایام جمع د یو م ده ،په عربی محاوره کښې په دې سره تعبیر کیږی د لوئې تاریخ واقعې نه لکه هلاکت د قوم دنوح ﷺ او د عادیانو ثمودیانوشو (ایام العرب) جنګونو دعربو ته وائی یا لکه یوم بدر،یوم احد ،یوم خندق وغیر ذلك،دلته ترې نه هغه واقعات هم اراده کیدې شی چه په مخکنو قومونو باندې د الله تعالی د طرف نه عذاب راغلې وو او دا رنګه هغه نعمتونه ترې نه هم اراده کیدې شی چه مخکنو قومونه ته ورکړې شوی وو.یعنی هغه لوئې لوئې نعمتونه چه د هغې بیان د تاریخ حصه ګرځیدلې ده لکه حکومت اقتدار وغیره د (ایام) اضافت (الله) ته د اهتمام شان د پاره دې،یعنی مهتم بالشان واقعات د مصیبتونو او د نعمتونو ﴿اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ ﴾ یعنی په دې ایام الله کښې یا په تذکیر بایام الله کښې ﴿صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴾ دا دواړه صیغی د مبالغې دی ډیر صبر کوونکې او ډیر شکر کوونکې مؤمن وی،او کله کله صبر کوونکې خو کافر هم وی، د ایام الله په ذکر سره صابر ته صبر کول زده شی او شاکر ته شکر کول زده شی ﴿اِذْ اَنْجٰىكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ ﴾ دا د نعمت د نجات بیان دې ﴿وَيُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ ﴾ دا د واقعاتو بیان دې نو دې وجې نه دا عطف شو په ما قبل او په سورة بقرة کښې بغیر د واو نه ذکر شوې دې،ځکه هلته (یُذَبِّحُوْنَ). تفسر دې د (یَسُوْمُوْنَکُمْ) د پاره نوواو ورسره نهٔ دې مناسب ،او دلته مقصود تفسیر نهٔ وو بلکه بیان د بلې

نوعې د ایام الله وو نو خکه واو ذکر شو﴿لَئِن شَكَرْتُمْ﴾ د شکر تعریف علماء داسې کوی صرفُ العبدِ جمیعَ ما انعمهُ الله تَعالی الی ما خُلِقَ لاجله یعنی د هر نعمت خرچ کول او استعمالول د الله په اطاعت او مرضیٔ کښې،لکه سترګې غوږونه ژبه او تمام اعضاء جوارح د الله تعالی په اطاعت او مرضیاتو کښې استعمالول دا شکر دې،او د زیاتولو نه مراد د نعمتونو زیاتول او د ثوابونو زیاتو دی او دا رنګه دنیوی دینی ترقی ورکول دی او دا کلام داخل دې په تبلیغ د موسی علیه السلام کښې

فائده په شکر ادا کولو باندې وعده د ثواب اود بدلې شوې ده او تاکید ئې په لام او نون سره شوې دې او په ناشکرئ باندې سزا صراحتا نۀ ده ذکر کړې شوې بلکه دومره ئې اوفرمائیل چه ﴿إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ﴾ نو دا د ارحم الراحمین اکرام الاکرمین د رحم او د کرم سبقیت او غلبې ته اشاره ده په غضب باندې ﴿إِن تَكْفُرُوا أَنتُمْ﴾ یعنی ستاسو د ناشکرئ نقصان ۰ تاسو ته رسی الله تعالی د چا د شکر اطاعت محتاج نه دې،د صحیح مسلم په حدیث قدسی کښې دی،ائې زما بندګانو که ستاسو مخکنی وروستونی جن ،انس ټول د یو اعلی متقی شخص په نمونه شی نو زما په حکومت کښې یو ذره زیات والې نه راځی او که ستاسو ټول مخکنی وروستونی،جن او انس ټول بالفرض د یو بد ترین مخلقوق په شان شی ((والعیاذ بالله))نو زما په مملکت کښې یوه ذره کمې نۀ راځی.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ ۛ وَالَّذِينَ
آیا ندې راغلې تاسو ته [1] خبر دهغه کسانو چه مخکښې وو ستاسو نه، قوم د نوح او عادیان او ثمودیان. او هغه خلق
مِن بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ ۚ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم
چه روستو وو د دوئ نه، ندی خبر په هغوئ باندې هیڅوک سوی د الله تعالی نه، راوړی وو دوئ ته رسولانو د دوئ
بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا
ښکاره دلیلونه نو وه ګرځول دوئ لاسونه خپل په خولو د پیغمبرانو کښې او وه ویل دوئ بیشکه مونږ انکار کوؤ د هغې نه

۱ - اوله واقعه مشتمل په تخویف دنیوی سره

أُرْسِلْتُمْ بِهِۦ وَإِنَّا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ٩

چه تاسو ر لیږلی شوی یئ په هغې سره او یقیناً مونږ په شك كښې یو د هغې مسئلې نه چه تاسو مونږ رابلئ هغې ته ډیر شك

قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِى ٱللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ

وه ویل رسولانو د دوئ ایا په توحید د الله تعالی كښې شك دې چه هغه اول پیدا كونكې د آسمانونو او د ځمكې دې

يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ

رابلی تاسولره چه بخنه وكړی تاسوته د گناهونو ستاسو او روستو كړی تاسو لره (بغیر د عذاب نه) نیټې مقررې ته

قَالُوٓا۟ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا

وه ویل دوئ چه نه یئ تاسې مگر بشر یئ زمونږ په شان اراده لرئ تاسو چه مونږ منع كړئ د هغه معبودانو د عبادت نه

كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ١٠ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ

چه د هغوئ عبادت كوؤ زمونږ مشرانو ، نو پس راوړئ مونږ ته معجزه ښكاره . وه ویل دوئ ته رسولانو د دوئ

إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ

نه یو مونږ مگر بشر یو ستاسو پشان، لیكن الله تعالی احسان كوی په چا چه وغواړی د بندگانو خپلو نه،

وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ١١

او نشته دې وَس مونږ لره چه راوړو تاسو ته معجزه مگر په اجازت د الله تعالی سره، او خاص په الله تعالی دې توكل وكړی مؤمنان

وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ

او څه عذر دې مونږ لره چه مونږ به توكل نه كوؤ په الله تعالی باندې او حال دا چه مونږ ته ئې ښودلی دی لارې د خیر زمونږ

وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ١٢

او خامخا به صبر كوؤ مونږ په هغه تكلیفونو چه تاسو ئې مونږ ته رسوئ او خاص په الله تعالی دې توكل وكړی توكل كونكی

﴿ أَلَمْ يَأْتِكُمْ ﴾ دا اول ځل بیان د وقائعو دې او دا مشتمل دې په تخویف دنیوی باندې یعنی قوم د نوح عليه السلام او عاد او ثمود ،او ددوی نه وروستو قومونو ته انبیاء راغلل او د توحید

پيغام ئې ورته وړلو، ليکن هغوی خبره اونۀ منله او اعتراضونه ئې شروع کړل نو الله تعالی هغوی په عذاب سره تباه و برباد کړل نو موجوده کفار دې هم د دې نه عبرت حاصل کړی ﴿لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ﴾ يعنی دومره ډير قومونه تير شوې دی چه د هغوی تفصيلی علم بغير د الله تعالی نه بل چا ته نشته دې،د دې نه معلومه شوه چه علم غيب او علم کلی بندګانو نه او انبياء ته نشته دې ابن عباس ﷺ ﴿لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ﴾ اولوستلو او وې فرمائيل چه (كذب النسابون) يعنی د نسبونو د مکمل معرفت دعوی کوونکی دروغ وائی عروه بن زبير وائی چه مونږ ته څوك داسې نۀ دی معلوم چه د معد بن عدنان نه پورته په تحقيقی طور باندې د نسب حال ښودلې شی ﴿فَرَدُّوٓا أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ﴾ ددې يوه معنی دا ده چه کفار پيغمبرانو ته ډير غصه وو نو د ډير غصې د وجې نه ئې خپل لاسونه په خپلو خولو کښ کيخودل او چکونه ئې پرې لګول﴿عَضُّوا۟ عَلَيْكُمُ ٱلْأَنَامِلَ مِنَ ٱلْغَيْظِ﴾ يا د مسخرې د پاره ئې لاسونه په خولۀ باندې کيخودل يا ئې پيغمبرانو ته اشاره کوله چه چپ شی.او بله معنی ئې دا ده چه د پيغمبرانو په خولو باندې ئې خپل لاسونه کيخودل د چپ کولو دپاره بله معنی ئې دا ده چه د پيغبرانو لاسونه ئې د هغوی په خولو باندې کيخودل چه چپ شئ دا د نهايت توهين طريقه د چپ کولو ده، ﴿لَفِى شَكٍّ﴾ يعنی تاسو داسې داسې خبرې چه په عقل کښ نۀ راځی ﴿مُرِيبٍ﴾ صفت د شك دې د تاکيد اومبالغې د پاره ﴿قَالَتْ رُسُلُهُمْ﴾ استفهام په ﴿أَفِى ٱللَّهِ شَكٌّ﴾ کښ د تعجب د پاره دې يعنی انبياؤ به اووئيل چه تعجب دې چه تاسو په داسې واضحه مسئله کښ شك کوئ. ﴿أَفِى ٱللَّهِ﴾ نه مراد توحيد د الله تعالی دې ځکه چه د وجود د الله تعالی خو دوی قائل وو ﴿فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ يعنی د اسمانونو او د زمکې پيدا کيدل دليل د توحيد دې نو د داسې مشاهَد واضح دليل باوجود انکار کول دتعجب خبره ده ﴿يَدْعُوكُمْ﴾ يعنی د توحيد دعوت په حقيقت کښ د الله تعالی دعوت دې نو که بالفرض واضح او مشاهَد نۀ وې نو بيائې هم منل پکار وو.حاصل دا چه مسئله دتوحيد د نهايت وضوح په وجه منل پکار دی او بل په دې وجه چه دا دعوت د الله تعالی دې نو منل ئې پکار دی﴿وَيُؤَخِّرَكُمْ﴾ يعنی د توحيد منلو يوه فائده دا ده چه الله تعالی به ستاسو تير شوی ګناهونه معاف کړی او بله فائده ئې دا ده چه

تاسو به په عافيت سره بلا عذابه ستاسو اجل ته اورسوی،انبياؤ چه خپلو قومونو ته دعوت
ورکړو نو هغوی نامناسب اعتراضونه شروع کړل : (١) يو دا چه ﴿إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ﴾ تاسو زمونږ
په شان بشر يئ او بشر رسول نۀ وی (٢) بل دا چه ﴿تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا﴾ يعنی تاسو چه وايئ
توحيد د الله دعوت دې نو داسې نۀ ده بلکه دا تاسو د خپلې رائې نه وايئ او ستاسو غرض دا
دې چه مونږ د هغه معبودانو د عبادت نه منع کړئ چه زمونږ مشرانو ئې عبادت کولو.(٣) بل
دا چه که تاسو رسولان يئ نو ﴿فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ﴾ يعنی يو واضحه معجزه مطلوبه پيش
کړئ ﴿قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ﴾ رسولانو د دوی د سوالونو جواب ورکړو د اول سوال جواب دا چه :
بشريت او رسالت څه منافات نشته دې بلکه رسول بشر وی ليکن رسالت ملاويږی په احسان
د الله تعالی سره ځکه نبوت او رسالت وهبی څيز دې نو محض د الله تعالی په احسان او
انتخاب سره ملاويږی نو الله تعالی په مونږ باندې احسان کړې دې اود نبوت د پاره ئې
منتخب کړې يو ،او د دريم سوال جواب ئې دا اوکړو چه ﴿وَمَا كَانَ لَنَآ﴾ يعنی معجزه ښکار
کول زمونږ په اختيار کښې نۀ ده، او د دويم سوال جواب کولو ته ضرورت نۀ وو ځکه چه انبياؤ
دوی په حقيقت کښې د هغه مشرانو د لارې نه منع کول چه ګمراه وو ﴿إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ يعنی که
الله تعالی اوغواړی نو ستاسو مطلوبه معجزه به ښکاره کړی ﴿وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾
يعنی مونږ ستاسو د مخالفت پروا نۀ کوو،بلکه په الله تعالی باندې توکل کوو او ټولو
مؤمنانو لر توکل په الله تعالی باندې پکار دې ﴿وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا﴾ يعنی الله تعالی مونږ ته
د دنيا او د آخر د کاميابئ لارې ښودلې دی په هغې کښې توکل او صبر هم دې نو د دې وجې نه
به مونږ صبر کوو په هغه تکليفونو چه تاسو ئې مونږ ته رارسوئ نو په دې سره به زمونږ
درجات زياتيږی ﴿فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ﴾ مخکښې مؤمن ته امر اوشو د توکل نو چه هغه توکل
اوکړی نو متوکل شی،او دلته ورته امر د بقاء او د ثبات دې په توکل باندې

وَقَالَ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	لِرُسُلِهِمْ	لَنُخْرِجَنَّكُم	مِّنْ	أَرْضِنَآ
او وه ويل هغه کسانو چه کفر ئ کړې وؤ خپلو رسولانو ته خامخا به مونږ اوباسو تاسو د خپل ملک نه						

أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ۚ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ ﴿١٣﴾
يا به خامخا راوګرزئ تاسو زمونږ دين ته، پس وحي وکړه دوئ ته رب د دوئ چه خامخا به هلاك کړو مونږ ظالمانو لره
وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي
او خامخا به مونږ اوسوو تاسو[1] په ځمکه روستو د هغوئ نه دا وعده ده هغه چا سره چه يريږي د پيشئ زما نه
وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ وَاسْتَفْتَحُوا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿١٥﴾ مِنْ وَرَائِهِ جَهَنَّمُ
او يريږي د عذاب زما نه او هغوئ فيصله[2] وغوښتله او نامراده شو هر سرکش طدی چه دهغه مخې ته دوزخ دې
وَيُسْقَىٰ مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ
او څکولې کيږي به هغه ته دهغه اوبونه چه وينې زوې دې ګوټ ګوټ به ئې تيروي[3] او په آسانه به ئې نشي تيرولې
وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِنْ وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴿١٧﴾
او رازي به دوئ ته اسباب د مرګ د هر طرف نه خو نه به وي مرکيدونکې او مخې ته د ده دې عذاب سخت

﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِرُسُلِهِمْ ﴾ دا د کفارو معاندانۀ او نا معقول خبرې دې يعنى دوى انبياؤ ته دهمکى ورکړه چه يا تاسو خپل دعوت پريږدئ او زمونږ په دين کښ داخل شئ يا به مونږ تاسو د خپل وطن نه اوباسو جلاوطن به شئ ﴿ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ ﴾ الله تعالى په دوى وحى راوليګله چه دوى اراده کوى چه تاسو د خپل وطن نه اوباسى نو دوى داسې نه شى کولې بلکه زۀ به دوى د عالم دنيا نه بهر اوباسم هلاك به ئې کړم او تاسو به د دوى په ځائې اباد اولرم ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي ﴾ يعنى دا وعده عامه ده هر موحد او حق پرست لره،مقام مصدر ميمى دې او اضافت فاعل ته دې اى خاف قيامى عليه وحفظى لاعماله (کشاف) يعنى د الله تعالى دنګرانئ په وجه د الله تعالى نه ويريږي يا د مقام نه مراد قيام دې په حضور د الله

١ - بشارت
٢ - تخويف دنيوى
٣ - تخويف اخروى ، تفصيلى بيان د دويمې واقعې

﴿ وَخَافَ وَعِيدِ ﴾ دا جمله عطف ده په ماقبل (خَافَ) باندې او (وعيد) د فعيل په وزن دې اسم مصدر دې وَعَدَ يعِد نه اضافت ئ شوې دې فاعل ته چه يا د متكلم ده چه په حالت د وقف كښې حذف كيږي او اكتفاء په كسرې باندې كيږي او مراد د (وعيد) نه يا عذاب د الله تعالى دې او يا قرآن او د هغې زواجر ترې نه مراد دى

فائده دې نه معلومه شوه چه د مؤمن هغه خوف چه د وجې د عذاب د الله تعالى نه دې هغه به غير وى د هغه خوف چه د وجې د قيام نه په حضور د الله تعالى كښې وى ځكه چه عطف تقاضا د مغايرت كوى نو اول الذكر خوف طبعى دې او دويم خوف عقلى دې.

﴿ وَٱسْتَفْتَحُوا۟ ﴾ دا تخويف ذكر كيږى د منكرينو د پاره عطف دې په ﴿ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ ﴾ باندې يعنى كافرانو رسولانو ته وئيل چه ﴿ لَنُخْرِجَنَّكُم ﴾ نو ﴿ وَٱسْتَفْتَحُوا۟ ﴾ او ضمير د (واستفتحوا) يا راجع دې رسولانو ته او دا په معنې د فتحه سره دې يعنى رسولانو مدد طلب كړو د الله تعالى نه په خپلو دشمنانو باندې چه كله دوى مايوسه شو د اسلام د هغوى نه لكه نوح ﷺ بددعا اوكړه چه (رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا) وغيره او يا دا په معنې د

---

١ - **يو اهم وضاحت**

دا دَ والد محترم (سقى الله مرقده صيبَ الرّضوان) دَ تفسير ليكل شوى آخرى الفاظ دى. او هم دا ئ دَ ژوند آخرى عمل وؤ . چه پدې پسې ئ رُوح مبارك دَ الله جل جلاله په حضور كښې قيام اوكړواو دارِ فانى نه دارِ بقاء ته منتقل شو. دا دومره لويه ښائسته خاتمه دَ الله جل جلاله فضل او دَ والد محترم رحمه الله دَ قرآن او علوم نبوت سره دَ عشق . محبت نتيجه وه. الله جل جلاله دې دَ والد محترم رحمه الله دا خدمت قبول اوگرځوى او دا سعى دې سعيًا مشكورًا اوگرځوى (آمين)

چونكه دَ والد محترم رحمه الله دَ لاسه دا شروع شوې سلسله نيمگړې پريښودل مناسب نه وؤ، نو برادر محترم مولانا ثناء الله صاحب دا سلسله مخكښې روانه كړه او دَ سورة نحل تر آخر پورې دريم جلد مكمل شو

دې ځائ نه په آينده تفسير كښې بنياد دَ والد محترم رحمه الله دَ درسِ قرآن كيسټې گرځولې شوى دى چه دا د هغوئ د زندگى معمول وؤ چه دَ مازديگر نه وروستو به ئ طلباؤ ته تفسير كولو . اگرچه په بعضِ مواضعو كښې دَ تحقيق دپاره دَ مختلفو تفاسيرو نه لكه روح المعانى، تفسير كبير. ابن كثير وغيره نه استفاده هم كړې شوې ده . انسان چونكه دَ نُقص نه خالى ندې نو پدې وجه دَ ټولو لوستونكو رونړو نه درخواست دې چه كچرته دَ دې تفسير په مطالعه كښې څه نقص مخې ته راشى نو په مطلع كولو به ئې تر قيامته شكر گذار يو . او په آينده كښې به ئې تدارك هم اوكړې شى

الفتاحة سره دې چه فیصلې ته وئیلې کیږی یعنی رسولانو طلب د فیصلې اوکړو د الله تعالی نه لکه چه په سورة الاعراف کښې دی چه ﴿رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ﴾ .او یا ضمیر راجع دې کفارو ته او فیصلې طلب کوونکی کفار دی یعنی کافرانو د الله تعالی نه فیصله طلب کړه لکه چه په سورة الانفال کښې دی چې ﴿اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ﴾ . ﴿وَخَابَ﴾ اشاره ده نتیجې د (واستفتحوا) ته ﴿كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ﴾ دا دواړه صیغې د مبالغې دی جَبّار هغهٔ ته وئیلې کیږی چه د هیچا حق په ځان نهٔ منی او یا هغهٔ ته وئیلې کیږی چه د ځان د پاسه څوك نهٔ منی او (عنید) معاند عن الحق ته وئیلې کیږی یعنی د ضد د وجې نه د حق نه ډه ډه کوونکې،قرطبی وائی دا دواړه اگر چه د لفظ په اعتبار سره جدا دی لیکن په دې آیت کښې د دواړو معنی واحده ده،او په دې جملې کښې خذف الایجاز دې فاء فصیحیه او معطوف علیه محذوف دی تقدیر ئې داسې دې چه (استفتحوا ففتح لهم و ظفروا بما سألوا وخاب کل جبار عنید) یعنی انبیاء کرامو علیهم الصلوات والتسلیمات چه کله د الله تعالی نه مددطلب کړو نو د الله تعالی مدد راورسیدو انبیاء کرامو او د هغوی ملگری کامیاب شو او سرکش اومعاندین هلاك او نقصان مند شو ﴿مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ﴾ په دې دوه آیتونو کښې تخویف اخروی تذکیر بما بعد الموت ذکر کیږی تفصیلا د منکرینو د پاره په شپږو طریقو سره (١)من ورائه جهنم (٢)ویسقی من ماء صدید (٣)یتجرعه (٤)لا یکاد یسیغه(٥)و یاتیه الموت (٦)و من ورائه عذاب غلیظ ـــ من په من ورائه کښې بیانی دې،او دا جمله بیان کوی د ﴿وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ﴾ او (وراء) په نیز د بعضو دا د اضدادو نه دې مخ او وروستو دواړو دپاره استعمالیږی دلته ترې نه مراد مخه ده لکه چه په ﴿وَكَانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ﴾ کښې دې او په نیز د بعضو (وراء) د تورای نه دې او اسم دې د هر هغه د پاره چه هغه پټ وی ستا نه برابره خبره ده که هغه وروستو وی یا مخې ته وی نو ددې وجې نه ددې اطلاق په مخې او وروستو دواړو باندې کیږی چه هغه اضداد وی او عذاب د جهنم هم پټ دې د دې وجه لفظ د وراء استعمال شو . او په نیز د بعضو (وراء) په معنې د بَعدُ سره راځی معنی د آیت دا ده چه ان الکافر بعد الخیبة یدخل جهنم لیکن اول قول زیات راجح دې ﴿وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ﴾ واو عاطفه دې او معطوف علیه محذوف دې ای یلقی فیها ما یلقی و یسقی ، (صدید) وئیلی کیږی ما یسیل من اجسام اهل النار ته چه هغه

وینې او زوې دی. په نیز د اکثرو (صدید) بیان دې د (ماء) د پاره یعنی د جهنمیانو د اجسامو نه چه کوم وینې زوې راوځی هغه د دوی اوبه وی او قرطبی فرمائی چه دا کلام مبنی دې په تشبیه او په تمثیل باندې ای من ماء مثل الصدید یعنی داسې اوبه به ورکولې کیږی چه هغه په به بدبوئې او په بد ذائقې کښې به د صدید په مثل وی (اعاذنا الله منها) ﴿ يَتَجَرَّعُهُ ﴾ تجرع وئیلې کیږی ګوټ ګوټ څکلو ته او دا به د ډیر ګرموالی او ډیر بدبوئې د وجې نه به ګوټ ګوټ څکی ﴿ وَلَا يَكَادُ ﴾ ذکر د (لا یکاد) د مبالغې د پاره دې په تکلیف کښې ﴿ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ ﴾ د دې نه مراد اسباب د مرګ دی د هر جهت نه لکه چه په سورة زمر کښې دی ﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾ او یا مکان نه هر هر عضو د جسد مراد ده او یا د دې نه مراد سخت غم او حزن دې ﴿ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ﴾ کله کله مرګ سبب د استراحت وی نو دوی به مړه کیږی هم نه چه آرام ورته ملاو شی بلکه د دوی روحونه به معلق وی په مرئ کښې نۀ به خلې ته راځی چه مړ شی او نۀ به په بنکته ځی چه د ژوند نه څه فائده حاصله کړی په دې کښې دلیل په دې خبرې دې چه اهل جهنم به فنا کیږی نه.لکه څنګه چه توهم کړې دې بعضو خلقو ﴿ وَمِن وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴾ یعنی صدید د څکلو نه علاوه به نور هم سخت سخت عذابونه وی لکه طعام ضریع،زقوم،غسلین وغیره دی په دې کښې اشاره ده عدم انقطاع او شدت عذاب ته

مَثَلُ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	بِرَبِّهِمْ	أَعْمَالُهُمْ	كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ

مثال د عملونو د هغه کسانو چه کفر ئ کړې دې په خپل رب باندې عملونه د هغوئ پشان د ایرې دی چه سخته وچلیږی

بِهِ	الرِّيحُ	فِي	يَوْمٍ	عَاصِفٍ	لَا يَقْدِرُونَ	مِمَّا كَسَبُوا

په هغې باندې سیلئ په داسې ورځ کښې چه تیزې سیلئ والا وی ، نه به وی قادر هغوئ د هغه عملونه چه کړې ئ وی

عَلَىٰ شَيْءٍ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٨﴾

په هیڅ ثواب باندې ، دا خو خالص ګمراهی ده لرې (د حق نه)

﴿ مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ دا مثال بیانیږی د کفارو د اعمالو او دفع د یو توهم کیږی د مثال په ذریعه سره توهم دا کیدلو چه د دې کفارو خو ډیر ښه ښه کارونه او عملونه هم شته دې مثلا میلمستیا ورکول غلامان آزادول،صدقې ورکول ،صله رحمی کول شو وغیر نو دا نیک اعمال

به دوى نه بكار راشى ؟ نو په دې آيت كښ د هغې جواب ذكر كيږى په طريقه د مثال سره حاصل ئې دا دې چه د دوى د دغې عملونو مثال داسې دې لكه چه د ايرو يو ډيرى وى او په هغې باندې يوه سخته طوفانى سيلئ راشى او ټوله ورځ دغه سيلئ اوچليږى او د ايرو دغه ډيرې والوځوى هيڅ شې هم پاتې نهٔ شى نو دغه شان د قيامت په هغه سخته ورځ كښ به د دوى دا ټول عملونه د ايرو د دغه ډيرى په شان هباءًا منثوراً شى او يو عمل به ئې هم پكار رانشى،نود دوى كفر او شرك په شان د سخت طوفانى سيلئ دې،او د هغوئ دَ عملونو مثال په شان د ايرو دې،او د ايرو سره تشبيه وركول كښ اشاره ده دې ته چه څنګه چه ايرې بې وقعته دى دغه شان د دوى عملونه هم بې وقعته دى او څنګه چه د ايرو نه فائده قليله غير معتد بها اخستلې كيږى نو دغه شان دوى هم د خپلو عملونو نه فائده قليله اخلى چه يوه دنيوى فائده ده (و ما متاع الدنيا فى الاخرة الا قليل) او د انجام په اعتبار سره به بالكل بې فائدې وى او څنګه چه ايره پيدا كيږى پس د لرګو سوځولو نه نو دغه شان دوى عملون هم په خاتمه على الشرك سره او سوزى او په شان د ايرې به شى ﴿ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ ﴾ (مثل) مرفوع دې او په رفع كښ ئې مختلف توجيهات شوى دى . سيبويه وائى چه رفع ئې بنا بر ابتدائيت ده چه دې مبتدا دې او خبر ئې محذوف دې او تقدير ئى داسې دې چه فيما سيتلى عليك مثل الذين كفروا – الخ او ﴿أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ﴾ دا جمله مستانفه ده چه واقع شوې ده په سوال د سائل كښ چه هغه د ماقبل نه مستفاد دې ګويا چه سائل سوال كړو چه (كيف مثلهم؟) نو الله رب العزة ورته اوفرمائيل چه ﴿أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ﴾ دويمه توجيه د بعضې نحاتو ده چه مثل په معنې د صفة سره دې او (مثل الذين) په معنې د (صفة الذين) سره دې لكه چه وئيلې كيږى چه صفة زيد عرضه مصون و ماله مبذول،دريمه توجيه د فراء ده هغه فرمائى چه دلته مضاف حذف دې چه هغه (اعمال) دې او اكتفاء شوې ده وروستو په دويم وار ذكر كيدلو سره په جانب د خبر كښ او تقدير د آيت داسې دې چه مثل اعمال الذين كفروا بربهم اعمالهم – الخ لكه چه څنګه چه په دې قول د الله تعالى كښ دى. (و يوم القيمة ترى الذين كذبوا – الخ) نو په اصل كښ داسې دې چه (و ترى يوم القيمة – الخ) .څلورمه توجيه دا ده چه ﴿أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ﴾ دا بدل واقع شوې دې د ﴿ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ ﴾ نه او مبدل منه په حكم د تنحيې او ترك كښ وى او مقصود

﴿يَوْمٍ عَاصِفٍ﴾ ... مثال عملونه کړ ... سو جه مثال ... ضرب ... د ... ي ... بند ... بندي ...
... صفت د ... ي ... صفت د ... ي ... سو ... هنډنو ... سخت ... سختي کړي ... دي ... صفت د ...
... خکه جه ... معلقه دي ... صفت ... د ... ره نو ... د ... سوي ... مع ... صفت ... حو ... حي ... هو
... جه ... نبيح ... د ... (حرز ... يوم ... ره ... يوم) کړي ... ونيلي ... حه ... نکه ... روح دي ... د ... هو ... سمى
... عاصف يوم ... ل ... ي ... دي سوي زاوړلي عوض ... سو ... او دي ... مقدر هغه دي ... نه ... مع
﴿لَا يَقْدِرُونَ﴾ ضمير راجع دي كفارو ته او مراد د عدم قدرت نه په آخرت كښي دي
﴿ذَٰلِكَ﴾ مشار اليه دي ... مدلول د مثال دي او اسم اشاره بعيده ذكر شوه د وجې د بعد
... د ضلال د دوى د حق نه ﴿الضَّلَالُ﴾ يا په خپلې معنى سره دي او يا په معنى د هلاك او
خسران سره دي ﴿الْبَعِيدُ﴾ يا به خپلې معنى سره دي او يا په معنى د الكبير سره دي او تعبير
د الكبير نه په البعيد سره خكه اوشو چه د دوى دا ټول عملونه په مرګ سره ضائع او بې فائدې
شو او د مرګ دوجې نه اوس ئې تلافي هم نشي كيدې

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ

آيا نه ده كتلي[1] چه بيشكه الله تعالى پيدا كړي دي آسمانونه او خمكه لپاره د حق كه چرته وغواړي[2] نو فنا به كړي تاسو

وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ۝ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ۝ وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا

او راننګ به وكړي په مخلوق نوى سره او نه دي دا كار په الله تعالى باندې ګران او ميدان كښې به جمع شي[3] الله تعالى ته ټول

فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ

پس اووائي هغه كسان چه كمزوري دي هغه كسانو ته چه لوئي كړيده بيشكه مونږ وو ستاسو تابع پس آيا تاسو دفع كولې شئ

عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ

مونږ نه د عذاب د الله تعالى نه څه شي. دوئ به او وائي كه چرته هدايت كړي وې مونږ ته الله تعالى

---

١ دليل عقلي دوم

٢ بيان د دريمې واقعې . تخويف دنيوى

٣ بيان د څلورمې واقعې . تخويف اخروى

لَهَدَيْنَٰكُمْ ۖ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ۞

نو مونږ به هدايت كړي وؤ تاسو ته، برابر دي حالت زمونږ كه فرياد وكړو او كه صبر كوو مونږ، نشته دي مونږ د خلاص شو د پاره ځاى

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ﴾ په دې كښ دويم دليل عقلى ذكر كيږى په وحدانيت د الله تعالى باندې حاصل د آيت دا دې چه خالق او معبود صرف الله دې ځكه چه د زمكې او اسمانونو تخليق الله رب العزت په داسې قدرت كامله سره كړې دې چه دې ته د بصيرت په نظر اوكتلې شى نو د الله تعالى دتوحيد او د وحدانيت سرګند دلائل دى په كښ ﴿بِالْحَقِّ﴾ جار مجرور متعلق دى په (خلق) پورې او با په خپله معنې سره دى چه ملابست ده او حق په معنى دحكمت سره دې اومقصد دا دې چه الله تعالى زمكى او اسمانونه پيدا كړې دى چه متلبس دى په حكمت كامله بالغه سره چه دا دليل دې د وحدانيت د الله تعالى او يا (با) په معنى د لام سره ده او الف لام عوض د مضاف محذوفه نه راغلې دې اى لاظهار الحق چه هغه توحيد دې ابن جرير طبرى رحمه الله فرمائى فتعلم ان الله انشاء السموات والارض بالحق منفردا بانشائها بغير ظهير ولا معين او يا مراد دحق نه غرضِ صحيحه دې چه دا زمكې عبث او فضول نهٔ دى بلكه دد ې نه يو صحيح غرض دې چه هغه استدلال دې په دوى سره په قدرت الله تعالى باندې ﴿إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ﴾ دا تذكير بايام الله ذكركيږى په دريم وار،يعنى په دريم وار بيان د وقائعوكيږى اوتخويف دنيوى ذكر كيږى. ﴿وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ دا تخويف اخروى ذكر كيږى په څلورم ځل. دا عطف دې په مضمون د ما قبل باندې اى لما استفتحوا فاهلكوا ثم بعثوا للحساب فبرزوا لله جميعا، او ضمير راجع دې مطلقا خلائقو ته ابراز اګر چه په لغت كښ ظهور بعد الاستتار ته وئيلې كيږى او دا معنې په الله تعالى كښ محاله ده خو دلته (لله) كښ لام تعليليه دې او مضاف مقدر دې چه هغه (حِسابٌ) دې يعنى فبرزو لاجل حساب الله تعالى وحكمه او يا دا كلام واقع شوې دې د د كافرانو د اعتقاد موافق ځكه چه د هغوى اعتقاد دا وو چه زمونږ فواحش په الله باندې مخفى دى نو د قيامت په ورځ به دوى ته علم راشى چې دا خو ټول الله تعالى ته معلوم وو او هيڅ شئ هم په الله تعالى باندې مخفى نهٔ وو.نو د دوى د استتار دعقيدې په وجه لفظ د برزوا راوړې شو.تعبير د دې نه او په مابعد كښ د الفاظو نه په ماضى سره او سو دوجې د تعين نه ﴿فَقَالَ الضُّعَفَٰٓؤُا﴾ ضعفاء نه مراد ضعفاء فى الفهم والعقل والرائى دي چه

هغه اتباع دی ﴿لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا﴾ ددې نه مراد د هغوئ يعنی د کفارو مشران دی چه اعراض او تکبر ئ کړې دې د ايمان او د اطاعت د رسول ﷺ نه د دې نه معلومه شوه چه اتباع نه مراد مطلقا اَتباع او مقلدين نه دی مراد بلکه هغه اَتباع مراد دی چه هغه اتباع د مستکبرين عن الحق وی، چه گمراهی ورنه خوريږی نو د هغوی به يو بل سره دقيامت په ورځ مجادله او منازعه وی،او اتباع د نيکانو خلقو او د ائمه مجتهدينو داسې متابعت مستحسن بلکه نن صبا واجب دې حضرت شيخ القرآن رحمه الله به فرمائيل چه : (اس سے مراد حکام سوء، رہبان سوء او رعلماء سوء ہیں اور آجکل لیڈران سوء بھی اس میں شامل ہیں)

﴿إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا﴾ جمع د تابع ده لکه چه خادم جمع کيږی په خدم سره او مقصد دا دې چه دوی به وائی مونږ تابع ووستاسو په تکذيب د رسولانو کښ ﴿فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا﴾ استفهام يا په خپله معنی دې ځکه چه د جهنم ځنی امورَ د کفارو نه مخفی وی لکه د دوی دا قول چه (يخفف عنا يوم من العذاب) او يا استفهام توبيخی دې او د (غنا) صله کښ چه عن راشی نو په معنی د دفعيه سره وی ﴿مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِن شَيْءٍ﴾ اول من د بيان دپاره دې او دويم من تبعيض د پاره دې (ای هل انتم دافعون عنا بعض الشئ الذی هو عذاب الله تعالی) او تقديم د من بيانيه په خپل مبيّن باندې په نيز د بعضو جائز دې او يا من په دواړو ځايونو کښ د تبعيض د پاره دې (ای هل انتم مغنون عنا بعض الشئ هو بعض عذاب الله تعالی) او دا د تاکيد دپاره دې يعنی کم نه کم عذاب دفعيه کولې شئ؟ ﴿قَالُوا﴾ دا اعتذاراً جواب دې د مشرانو له طرفه ﴿لَوْ هَدَانَا اللَّهُ﴾ که مونږ ته نجات او د خلاصی لاره ملاو شی نو تاسو به هم خلاص کړو .او په سورة مؤمن کښ جواب د مشرانو د طرفه داسې ذکر دې چه ﴿إِنَّا كُلٌّ فِيهَا إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ﴾ وجه دا ده چه دلته دا مخاصمه به په ميدان حشر کښ وی او هلته چه کومه مذکور ده هغه په جهنم دته تللو نه وروستو وی، ﴿سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا﴾ دنيا کښ کله کله د سړی په جزعه او فزعه باندې خلاصې اوشی او په صبر ورته څه کشادگی راشی (الصبر مفتاح الفرج) ليکن په آخرت کښ به په جزعه فزعه باندې خلاصيدلې نه شی او نه به په صبر ورته څه فائده ملاو شی

وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ

او وبه وايئ شيطان هركله چه فيصله شي دا ټوله خبره چه بيشكه الله تعالى يوه وعده كړې وه تاسو سره وعده حقه

وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّآ اَنْ

او ما وعده كړې وه تاسو سره پس مادروغ وئيلى وؤ تاسوته. اونه وؤ زما لپاره په تاسو باندې څه قسم زور بغير د دې نه

دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

چه ما تاسو ته بلنه دركړه پس قبوله كړه تاسو بلنه زما پس مه ملامت كوئ تاسو ما لره او ملامت كړئ خانونه خپل

مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَآ اَشْرَكْتُمُوْنِ

نه يم څه فرياد رسان ستاسو اونه تاسو فرياد رسان يئ زما بيشكه ما انكار وكړو دهغې نه چه تاسو شريك جوړ كړې وؤ ما لره

مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ وَاُدْخِلَ الَّذِيْنَ

مخكښې د دې نه (په دنيا كښې) ، بيشكه د ظالمانو لپاره عذاب دې دردناك او داخل به كړې شي[1] هغه كسان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

چه ايمان ئې راوړې دې اوعملونه ئې كړيدى نيك داسې جنتونو ته چه بهيږي به لاندې د بنگلو دهغو نه نهرونه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ؕ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۝

هميشه به وى په هغې كښې په توفيق درب خپل سره ، آداب د ملاقات د دوئ به په جنت كښې سلام وى

﴿ وَقَالَ الشَّيْطٰنُ ﴾ په ما قبل آيت كښې مخاصمه د انسى رؤساو او د هغوى د اتباعو ذكر وه په دې آيت كښې مخاصمه په ما بين د انسانانو ا و د ابليس لعين ذكر كيږى چه هغه د ټولو كفارو رئيس دې او دغه شان تخويف اخروى هم ذكر كيږى په براءت د شيطان سره د خپلو اتباعو نه ،كله چه كافر په جهنم كښې واچولې شى نو دا جهنميان به په خپلو رؤساو باندې لعن طعن شروع كړى چه مونږ ستاسو خبرې منلې وې څكه مونږ ته سزا راكولې شى،نو لهذا اصل

---

[1] - بشارت اخروى.

مجرمان تاسو يئ نو هغه رؤسا به شيطان ملامت کوی چه مونږ او زمونږ اتباعو ستاسو خبره منلې وه ځکه مونږ ته سزا راکولې شی او اصل مجرم خو تهٔ يئ لهذا ټوله سزا تا له ردکول پکار دی،اودا درخواست به کفار الله تعالى ته هم اوکړی،نو په جهنم کښې به شيطان له يو منبر د اور کيخودلې شی چه هغې سره به شيطان ته ټول جهنميان ښکاری او دې به ټولو ته ښکاری او بيا په يو تقرير شروع کړی چه هغه په دې آيت کښې ذکر دې ﴿لَمَّا قُضِيَ ٱلْأَمْرُ﴾ الامر نه مراد يا عذاب دې يعنی چه کله عذاب په دوی باندې واقع او متحقق شی او يا ترې نه مراد حساب او کتاب نه فراغت دې چه اهل جنت جنت ته لاړ شی او اهل جهنم جهنم ته ﴿وَعَدَكُمْ﴾ (فَصَدَقكم) ورسره مقدر دې ﴿فَأَخْلَفْتُكُمْ﴾ په معنې د (كذبتُكم) سره دې او يا پخپلې معنې سره دې او مفعول ثانی ورله مقدر دې ای الوعد ﴿وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ﴾ دَ سلطان معنی ده زور زبردستی، يعنی څه په زور زبردستئ مې تاسو نه وئ مجبوره کړې او نهٔ مې درباندې څه زور وو او دا حصر د نفی په نسبت سره اضلال ته دې يعنی د شيطان د انسان په گمراه کولو کښې څه قسمه زرو نيشته دې،باقی پاتې شول نور قسم مضرتونه نو هغه شيطان انسان ته رسولې شی لکه حديث کښې راغلې دی : (ما من مولود يولد الا وقد مسه الشيطن — الخ) يا دغه شان څنې بيماريو ته شيطانی اثر وئيلې شوې دې،يا د انسان بيهوشه کول،کانړی ويشتل وغيره شو خو دا واقعات اکثر مخی ته ځکه نهٔ راځی چه د انسان حفاظت دپاره الله تعالى فرشتې مقرر کړې دی چه هغه د انسان حفاظت کوی ﴿إِلَّآ أَن دَعَوْتُكُمْ﴾ په نيز د اکثرو مفسرينو استثناء منقطع ده په معنې د (غيرُ) سره ځکه چه دعوت د شيطان د جنس د سلطان نه نهٔ دې او د دې نه معلومه شوه چه شيطان صرف وسوسې اچوی نور هيڅ کار هم په اضلال د انسان کښې نهٔ شی کولې، ﴿فَلَا تَلُومُونِى﴾ يعنی تاسو ما مهٔ ملامته کئ ځانونه ملامت کړئ، ځکه چه الله رب العزت حق او باطل دواړه پيدا کړې وو ،خو الله تعالى حق په دليل او په حجت سره مبرهن کړو او ما باطل په دروغو سره ښائسته کړو نو تاسو د الله تعالى خبره چه په دلائلو او په حجت سره محکمه وه هغه خو پريخوده او زما خبره مو بلا حجته اومنله او کسب مو د باطل او کفر اوکړو ﴿مَّآ أَنَا۠ بِمُصْرِخِكُمْ﴾ صيغه د اسم فاعل ده چغې ويستونکې ته وئيلې کيږی په لغت کښې بيا استعمال شو د پاره د مدد يعنی زهٔ ستاسو مدد گار نهٔ شم جوړيدلې،او

(من العذاب) ورسره مقدر دي.اول زجر وو د شيطان له طرفه اوس تبرئيه ذكر كيږي د شيطان د طرفه ﴿وَمَآ أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ﴾ اى فيما يخلص من العذاب يعني چه په كومه نوعه د عذاب سره چه زه خاص يم په هغې كښې تاسو زما څه امداد نۀ شئ كولې ﴿إِنِّي كَفَرْتُ بِمَآ أَشْرَكْتُمُونِ﴾ كفر يا په معنې د انكار سره دې او ما په (بما اشركتمونى) كښې مصدريه ده چه مدخول خپل ئ په تاويل د مصدر سره ګرځولې دې او ﴿مِن قَبْلُ﴾ جار مجرور متعلق دې په اشركتمونى پورې اى كفرت باشراككم اياى لله تعالى فى الطاعة يعني نۀ منم چه تاسو زۀ شريك ګرځولې ووم د الله تعالى سره په اطاعت كښې او يا ما موصوله ده په معنې د من سره او كفر په خپله مصطلحه معنې سره دې او ﴿مِن قَبْلُ﴾ جار مجرور متعلق دې په كفرت پورې او عائد چه ضمير دې هغه په كښې محذوف (اى انى كفرت من قبل من اشركتمونيه) يعني مخكښې هم ما كفر كړې وو چه هغه د حضرت آدم ﷺ ته د سجدې نه انكار كول وو بيا هم تاسو ما لره شريك او ګرځولو د الله تعالى سره ،ليكن احتمال اول زيات راجح دې ﴿إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ په ظاهر كښې دا قول د ابليس لعين د تقرير د تتمې نه دې او د هغه قول دې او بعض فرمائى چه د ابليس خطبه په (من قبل) باندې پوره شوه او دا قول د الله تعالى دې او بعض فرمائى چه دا قول د خزنة جهنم دې (والله اعلم و علمه اتم و احكم) ﴿وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ دا بشارت اخروى ذكر كيږي ﴿جَنَّاتٍ تَجْرِي﴾ فى پكښې مقدر دې ځكه چه دخول په غير د فى نه نشى متعدى كيدلې ﴿بِإِذْنِ رَبِّهِمْ﴾ اى بتوفيق ربهم اشاره ده تعظيم د اهل جنت ته او دغه شان په دې كښې اشاره ده دې خبرې ته چه جنت ته داخليدل محض په فضل د الله سره دى لكه چه په حديث كښې ذكر دى ﴿تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ﴾ سلام د سلامتئ نه دې، په دنيا كښې سلام دعا ده د سلامتئ غوښتلو دپاره او په اخرت كې سلام مباركباد دې د په سلامتى ملاويدلو باندې

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ
آيا نه ګورې[1] ته چه څنګه بيان كړيدې الله تعالى يو مثال: كلمه پاكه (كلمه توحيد) پشان د ونې پاكې ده چه زيلې دهغې كلكې دى

١ - دليل نقلى اجمالى ، تمثيل د توحيد دپاره

وَفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ اللَّهُ

او څانګې د هغې په بلندئ کښې دي. ورکوي ميوې خپلې په هر وخت کښې په حکم د رب خپل سره او بيانوي الله تعالى

الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ

مثالونه لپاره د خلکو د دې لپاره چه دوئ نصيحت قبول کړي. او مثال د کلمې (١) پليتې په شان د بوټي پليت دې

اجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ

چه ويستلې شوې وي د پاسه د ځمکې نه. نشته د هغې د پاره څه مضبوطوالې مضبوطوي الله تعالى هغه کسان

آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ اللَّهُ

چه ايمان ئې راوړي دې په هغه قول مضبوط سره په ژوند د دنيا کښې او په ژوند د آخرت کښې او خطا کوي الله تعالى

الظَّالِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴿٢٧﴾

ظالمانو لره او کوي الله تعالى هغه څه چه خوښه ئې شي.

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ﴾ دا مسئله د توحيد بيانيږي په ضمن د مثال کښې حضرت شيخ القرآن په نيز دا اول دليل نقلي اجمالي ذکر کيږي د انبياؤ سابقينو نه، او په نيز دعامو مفسرينو دا يو مثال ذکر کيږي. تعبير په (الم تر) سره د پاره د ايقاظ او د تنبيه د مخاطب دې، د حضرت شيخ القرآن په نيز خلاصه دا ده چه توحيد د شجره طيبه چه هغه کهجوره ده دهغې په شانتې پائيدار او مضبوط دې زيلئ ئې کلکې دي په ټوله دنيا کښې خورې دي او په هر دور کښې انبياء کرامو عليهم السلام د هغې دعوت او تبليغ کړې دې او په هر دور کښې موحدينو ترې نه فائده اخستې ده او شرک په منزله د شجرۀ خبيثه دې چه هغه مرغوني (حنظل) دې چه ناپائيدار دې او څانګې ئې هم په زمکه باندې پرتې دي، انبياء کرامو په خپلو دلائلو سره په هر دور کښې رد کړې دې، او په نيز د عامو مفسرينو د مثال خلاصه دا ده چه الله تعالى د کلمه توحيد چه هغه لا اله الا الله ده د دې مثال د کهجورې د ونې سره ورکوي چه د هغې زيلې په

زمکه کښې لاندې پورې کلکې ننوتې وی دغه شان کلمه هم د هر مؤمن په قلب کښې مضبوطه ده چه تعبير ترې نه په تصديق قلبی سره کيږی او څنګه چه د ونې د پاره تنه او ښاخونه وی دغه شان د کلمې د پاره اقرار لسانی او اعمال دی څنګه چه د کهجورې ونې د پاره ميوه وی چه فائده ورنه اخستلې کيږی دغه شان د کلمې دپاره هم ميوه ده چه مؤمن ترې نه په هر وخت او په هر حالت کښې خواه دنيا ده که قبر دې او که اخرت فائده ترې نه اخلی. وتصديق قلبی عين ايمان دې او دا نور ورله اجزاء تزئيينه او وجه د شبهې په کښې هغه منافعه کثيره دی باقی د کهجور د انسان سره په ديرو اوصافو کښې مشارکت دې (١) په حديث کښې ورته د انسان عمه (ترور) وئيلې شوې دی لکه اکرموا عمتکم النخلة وجه دا بيانيږی چه نخله الله تعالی دما بقی من طين آدم نه پيدا کړې ده، خو دا حديث علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائی چه هذا حديث لا يصح عن رسول الله يعنی دا موضوعی دې (٢) څنګه چه انسان په سر قلم کولو سره مړ کيږی دغه شانتې کهجوره هم په سر کټ کولو سره اوچيږی (٣) څنګه چه د انسان سر په اوبو کښې ډوبولو سره مړکيږی دغه شان د کهجورې سر په اوبو کښې ډوبولو سره اوچيږی. (٤) څنګه چه انسان په توالد او تناسل کښې وظيفې د زوجيت ته محتاج دې دغه شانتې کهجوره کښې له ميوې د پاره تابير کيږی، (٥) څنګه چه د انسان د منی يو مخصوص بوېې وی دغه شانتې د کهجور په ګنګانو (خوشه) کښې هم د هغې په شان بوئې وی. خو دا ټول په مطلق انسان کښې وی او کهجوره په دې ټولو اوصافو کښې د مطلق انسان سره شريکه ده خو د مؤمن سره خصوصی شراکت په منافع کثيره او په ارتفاع کښې ده او په کلکوالی کښې ده ﴿مَثَلًا كَلِمَةً﴾ (مثلا) مبدل منه دې او (كلمة) ورله بدل واقع شوې دې او د نحاتو دا قانون چه مبدل منه په حکم د تنحيې او د ترک کښې وی نو دا قانون اکثری دې کلی نهٔ دې. ﴿كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ﴾ مراد ترې نه د کهجورې ونه ده لکه په حديث د ابن عمر رضی الله عنه کښې دی ﴿أَصْلُهَا ثَابِتٌ﴾ نو دا تصديق قلبی مراد شو او تنه ورله په مثال د اقرار لسانی ده ﴿وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ﴾ نو دا اعمال صالحه شو ﴿تُؤْتِي أُكُلَهَا﴾ مراد ورنه د هغې ثمر دی او دا اعمال صالحه شو، ﴿كُلَّ حِينٍ﴾ استغراق ياعرفی دې او مراد ترې نه هر حين د ميوې دې يعنی چه کله هم حين د ميوې وی نو دا ميوه ورکوی او يا استغراق حقيقی دې او د کهجورې نه ټول کال فائده اخستلې کيږی او په هر وخت او په هر موسم کښې خوړلې کيږی ﴿وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ﴾ دا د شرک مثال ذکر کيږی کلمه خبيثه نه مراد

شرکیه کلمه ده ﴿ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ﴾ مراد ترې نه حنظل یعنی مرغونې دي لکه چه په حدیث د حضرت انس ﷛ کښې دی اگر چه هغه اونه نهٔ ده لیکن اطلاق پرې د ونې مجازا شوې دې یعنی چه څنګه بوټی د مره غونی بدمزه او بیکاره وی دغه شان کلمه شرکیه هم بدمزه ده او مره غونې چه څنګه د هغه دپاره زیلی کلکی نهٔ وی او د زمکې د پاسه راخیژی او په معمولی غوندې جهټکې سره خیژی او په پورته نه اوچتیږی څه فائده ترې نه د میوې نه شی اخستلې نو دغه شان شرک هم دې څه مضبوطی ورله نشته دې اعما ل صالحه د شرک د وجې نه په پورته الله تعالی ته نهٔ ځی یعنی اجابت ئې نهٔ کیږی او مشرک ته څه فائده هم نهٔ ملاویږی.

﴿ يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ ﴾ دا بشارت ذکر کیږی مؤمنین د پاره ﴿ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ﴾ مراد د دې نه لا اله الا الله دې چه دا قول ثابت کړې شوې دې په قلب د مؤمن کښې په حجت سره ﴿ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾ یعنی د دنیا په زندګئ کښې که څه تکلیفات ازمائشونه مصائب راشی نو الله تعالی مؤمن په ایمان باندې مضبط ساتی او مدد ئې کوی ﴿ وَفِي الْآخِرَةِ ﴾ مراد د دې نه قبر او د نکیر منکر سوال او جواب دې چه په هغې کښې به هم الله رب العزة د مؤمن امداد کوی لکه په صحیح روایت کښې د حضرت براء بن عازب ﷛ نه منقول دی چه فرمائی چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه اذا اقعد المؤمن فی قبره اتاه اتٍ ثم یشهد ان لا اله الا الله و ان محمدالرسول الله فذلك قوله یثبت الله الذین امنوا بالقول الثابت فی الحیوة الدنیا و فی الاخرة (رواه البخاری) ﴿ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ ﴾ دا تخویف ذکر کیږی چه د چا په زړه کښې تصدیق نهٔ وی او صرف اقرار لسانی وی چه هغه منافق دې نو په دنیا کښې به هم ګمراه وی او په قبر کښې به هم سوال اوجواب کښې به خطاء کیږی کما ورد فی حدیث انس ﷛ اما المنافق او الکافر فیقال له ما کنت تقول فی هذا الرجل فیقول لا ادری کنت اقول ما یقول الناس فیه،فیقال ما دریت و لا تلیت ثم یضرب بمطرقة من حدید ضربة بین اذنیه فیصیح صیحةیسمعها من یلیه غیر الثقلین (رواه مسلم) د دې نه معلومه شوه چه مراد د ظالمینو نه په دې ځائې کښې هغه منافقین دي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾
آیا نه ګورې ته [1] هغه کسانو ته چه بدل کړې ئې دې نعمت د الله تعالی په کفر سره او نازل ئې کړو قوم خپل په کور د هلاکت کښې.

---

۱ - د پنځمې واقعې بیان ، تخویف اخروی

جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ الْقَرَارُ ۝ وَجَعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا

چه هغه جهنم دي ، داخل به شي په هغې كښې او ډير بد ځائ د اوسيدو دي گرځولي وو دوئ [1] د الله تعالى سره شريكان

لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ ۗ قُلْ تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ۝

لپاره د دې چه بې لارې كړي خلق د دين د الله تعالى نه. ووايه ته ورته چه فائده واخلئ تاسو پس بيشكه ورتلل ستاسو اور ته دى

قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا

او ووايه ته زما هغه بندگانو ته [2] چه ايمان ئ راوړې دې پابندى دې كوي د مونځونو او خرچ كوي دې : هغه څيزونو نه

رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ ۝

چه مونږ دوئ ته وركړيدي په پټه او په ښكاره مخكښې د دينه چه راشي هغه ورځ چه نه به وي خرڅول په هغې كښې نه به دوستان وي

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ﴾ دا زجر ذكر كيږي او بيان د پنځمې واقعې كيږي او تعبير ترې په ﴿أَلَمْ تَرَ﴾ اوشو د پاره د استعجاب او مراد په ﴿الَّذِينَ بَدَّلُوا﴾ سره مشركين مكه دى. ﴿نِعْمَتَ اللَّهِ﴾ (كفر) يا مضاف دې مقدر دې (اى شكر نعمت الله و وضعوا موضعه كفرا) او يا نفس نعمت تبديلي په نفس كفر سره مراد ده او مراد د نعمت الله نه بعثت د حضور ﷺ دې په ټولو نعمتونو كښې لوئې نعمت د حضور ﷺ بعثت دې او دا نعمت د ټول كائنات دپاره عمومى او د قريش او د مشركينو د مكې دپاره خصوصى دې چه رحمة اللعلمين ﷺ د دوى د قوم او د خاندان نه مبعوث شو، څه رنګه چه يو ليډر يو مشر د قوم دپاره باعث د فخر وى دغه شان د دوى د پاره په خصوصى توګه او د ټولو مسلمانانو د پاره په عمومى توګه حضور ﷺ باعث د فخر وو او دې،حضرت ابوهريرة ؓ فرمائى چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيل چه : والذى نفس محمد بيده ليأتينّ على احدكم يوم و لا يرانى ثم لان يرانى احب اليه من اهله و ماله و معهم (رواه مسلم) نو د دومره لوئې نعمت كفار مكه ؤ قدر اونه كړو بلكه په كفر سره ئې بدل كړو ﴿قَوْمَهُمْ﴾ مراد ترې اتباع دى ﴿دَارَ الْبَوَارِ﴾ بوار هلاكت ته وئيلې كيږى دلته ترې نه مراد جهنم دې ﴿جَهَنَّمَ﴾

---

[1] - زجر

[2] - امر مصلح . د درې امورو بيان لپاره د دفع دعذاب

يَصْلَوْنَهَا ﴾ دا بيان د بوار دې. ﴿ وَجَعَلُوا ﴾ داعطف دې په (أحلوا) باندې او تفسير دې دپاره د (كفرا) يعنى الم تر الى الذين بدلوا نعمت الله كفرا جعلوا لله انداد – الخ ﴿ قُلْ تَمَتَّعُوا ﴾ امر دپاره د تهديد دې او صاحب د مدارك فرمائى چه تمتع وئيلې كيږى ان يقضى العبد ما استطاع من شهوته يعنى انسان د خپل وس مطابق خپل ټول شهوات پوره كړى په دې كښې اشاره ده دې خبرې ته چه دوى دپاره صرف د دنيا زندگى ده او د هغې عيش او عشرت دې فقط ﴿ قُلْ لِعِبَادِيَ ﴾ په دې آيت كښې دوه امور دفعيه د عذاب ذكر كيږى چه په هغې كښې يو امر مصلح دې چه اقامت د صلوة او انفاق دې او نسبت د عباد. الله رب العزت خپل ځان ته اوكړو دپاره تكريم او تشريف. ﴿ يُقِيمُوا الصَّلَوٰةَ ﴾ په اصل كښې (ليقيموا) يعنى امر غائب بالام وو په قرينه د قل امر سره ځكه چه د يو امر دوجې نه د بل امر نه لام حذف كيدې شى ﴿ وَيُنْفِقُوا ﴾ انفاق نه هر قسمه انفاق مراد دې كه انفاق وجوبى وى لكه زكوة شو يا انفاق نفلى وى لكه نفلى صدقة شوه ﴿ سِرًّا وَعَلَانِيَةً ﴾ په صدقه كښې پټ والې بهتر دې خو كله كله ترغيب للغير د وجې نه علانية هم افضله وى او يا دَ (سراً) نه صدقه نفليه مراد ده او دَ (علانيةً) نه صدقات واجبه ﴿ يَوْمٌ لَا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ ﴾ نفى د خلت په حق د كافر كښې ده لكه چه تفصيل په سوة بقرة كښې ﴿ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ ﴾ كښې تير شوې دې.

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ
الله تعالى هغه ذات دې [1] چه پيدا كړى ئې دى آسمانونه او ځمكه او را ورى دَ آسمان دَ طرف نه اوبه پس راوباسى
بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ
پدې سره د ميوو نه چه رزق دې ستاسو دپاره او پكار ئې لگولى دى ستاسو دپاره كشتئ چه چليږى په درياب كښې
بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ۞ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ
په حكم د الله تعالى سره او په كار ئې لگولى دى ستاسو لپاره نهرونه . او په كار ئې لگولى دى ستاسو دپاره نمر او سپوږمئ

١ - دريم عقلى دليل د توحيد دپاره

دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۞ وَاٰتٰـكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا
چه برابر روان دي، او په كار ئ لګولي دي ستاسو لپاره شپه او ورځ او دركړي ي دي تاسونه بعضې د هر هغه څيزونو نه
سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ
چه تاسو ئ سوال كړې وؤ ، اوكه چرته شمارئ تاسو نعمتونه د الله تعالى نو نشئ شمارپوره كولې
اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ۞
بيشكه انسان خامخا ډير ظلم كونكې ناشكرى كونكې دې

﴿ اَللّٰهُ الَّذِیْ ﴾ دا دريم دليل عقلى تفصيلى ذكر كيږى چه مشتمل دې په علوى، جوى، سفلي په ټولو باندې ﴿وَسَخَّـرَ لَكُمُ الْفُلْكَ ﴾ ، (وسخرلكم البحر) ئى اونه وئيل ځكه چه په عامه توګه دَ سيندونونه په كشتو كښ تلل راتلل، او دَ سامانونو اوړلو او راوړلو فائدې ډيرې حاصليږى، نو ځكه ئى د (فلك) ذكر اوكړو، او په نهرونو كښ د څكلو اوبو او د زراعت فائده ډيراخستې كيږى ددې وجې نه د ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ﴾ ذكر اوكړې شو. ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ ﴾ د تسخير معنى ده په كار باندې لګول او لام په دې ټولو مواضعو كښ د پاره د انتفاع دې او مقصد دا دې چه دا ټول څيزونه ستا سو پكار كښ لګولې شوې دى شيخ سعدى رحمه الله فرمائى چه :

ابر وباد ومه وخورشيد وفلک درکانده تا تو انى بکف آرى وبه غفلت نه خورى

همه از بهر تو سرگشته وفرمانبردار شرط انصاف نه باشد که تو فرمان نبرى

بعض اهل بدعو دا آيت به دې ځائې كښ د غلط مقصد د پاره بيان كړې دې،هغوى وائى چه لام په دې ټولو ځايونوكښ دپاره د اختصاص دې، او د تسخير معنى ده تابع كول، او ضمير د خطاب عبارة دې د حضرت قطب الاقطاب شيخ عبدالقادر جيلانى رحمه الله نه اومقصد دا دې چه دا ټول څيزونه د حضرت شيخ عبدالقادر جيلانى رحمه الله تابع دى او هغه ته قوة تصرفه د خدائې والا حاصل دې،لكه په قصيده حدائق بخشش كښ په قافيه ياء كښ او دغه شان په قافيه را كښ موجود دى ليكن د دوى استدلال په يو څو وجوهو سره باطل دې اولاً ټولو

مفسرينو تصريح کړي ده چه لام په دې ټولو مواضعو کښ د پاره د انتفاع دې **ثانياً** (لکم) ضمير جمع ده تخصيص ئې په شيخ عبدالقادر جيلانی رحمه الله پورې بلا دليل دې **ثالثاً** د قرآنی نصوص نه معلومه ده چه دا قوة الله رب العزت بل چا ته نۀ دې ورکړې بلکه دا ټول څيزونه د الله تعالی د حکم تابع دی لکه په سورة النحل کښ دی ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتٌۢ بِأَمْرِهِۦٓ ﴾ نو دا ټول د الله تعالی د حکم تابع دی ﴿ دَآئِبَيْنِ ﴾ متواتر په خپل حرکت باندې جاری دی بغير څه د اسبابو نه ﴿وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ﴾ من تبعيضيه دې او مراد د سوال نه عام دې که په لسان القال سره وی او که په لسان الحال سره وی چه هغه احتياج دې ﴿ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ﴾ ځکه چه زمانه د نفس هغه متناهی ده او نعمتونه د الله تعالی غير متناهی دی نو د غير متناهی څيزونو شمار په زمانه متناهی کښ نۀ شی کيدلې، **اشکال** وارديږی چه نعمتونه د الله تعالی په خارج کښ موجود دی او کم شئ چه په خارج کښ موجود وی نو هغه معروض للعدد وی نونعمتونه د الله تعالی هم معروض للعدد شو نو څنگه پرې حکم دعدم متناهی اولگيدلو؟ نويو **جواب** د دې د اپاره دا دې چه غير متناهی په معنی د لا تقف عند حد سره دې او مطلب د (لا تحصوها) دا دې چه تاسو ئې طاقت د شمار نۀ لرئ ځکه چه ددې انعاماتو د پاره علل، اسباب او مقدمات دومره ډير دی چه د هغې شمار د انسان د پاره مشکل دې او که په نفس الامر کښ معروض للعدد او متناهی وی نو څه نقصان په کښ نشته دې، دويم جواب دا دې چه مراد د عدم متناهی نه بالفعل عدم تناهی مراد دې خو انعامات په دوه قسمه دی يو وجودی او بل عدمی، وجودی خو هغه دی چه هغه په خارج کښ موجود وی عدمی مقصد داې چه دَ وجودی انعاماتو دَ موانعوا او نعمتونو عدم والې او نيشتوالې او داهم په حقيقت کښ انعام دې او هغه موانع خو ډير زيات دی نو د هر نعمت د وجود سره بې شماره نعمتونه سلبيه دی او هر نعمت وجودی مستلزم دې بې شماره نعمتونو لره او بيا نعمتونه سلبيه چه هغه غير متناهی وی اولی دی په نسبت سره وجودی نه ځکه چه په وجود کښ جلب منفعت دې او په سلبی کښ دفع دمضرت وی او دفع د مضرت اولی ده په نسبت سره جلب منفعت ته نو د دې وجې نه اوفرمائيل چه ﴿لَا تُحْصُوهَآ ﴾.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾

اوکله چه وه ويل ابراهيم [١] اې ربه حما ! وګرزوې دا ښار د امن والا اوساتې ما او اولاد حما د عبادت کولو د بتانو نه

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ

اې ربه حما ! بيشکه عبادت د بتانو ګمراه کړيدي ډېرو خلقو لره . پس چا چه تابعداري وکړه حما پس بيشکه هغه حما نه دي

وَمَنْ عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَآ إِنِّىٓ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِى

او چا چه نافرماني وکړه حما پس بيشه ته ښونکې رحم کونکې يې . اې ربه زمونږ بيشکه ما اوسولي دي بعضې د اولاد خپل نه

بِوَادٍ غَيْرِ ذِى زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا۟

په هغه کنده بې فصله کښې پخوا دهغه کورستا کښې چه عزت والا دې ، اې ربه زمونږ ! لپاره د دې چه پابندي وکړي

ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجْعَلْ أَفْـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ

د مونځ پس وګرزوه ته زړونه د بعضې خلقو چه مائل شي په طرف د دوئ او رزق ورکړې دوئ ته د مختلف قسم ميوو نه

لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِى وَمَا نُعْلِنُ ۗ

لپاره د دې چه دوئ شکر وکړي ستا . اې ربه زمونږ بيشکه ته خبردار يې په هغه چه مونږ يې پټوو او په هغه چه مونږ يې ښکاره کوو

وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٣٨﴾

او نه پټيږي په الله تعالى باندې هيڅ شي په زمکه کښې اونه په آسمان کښې

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ ﴾ دا دويم دليل نقلى تفصيلې دې، د حضرت ابراهيم عليه السلام نه. الله تعالى فرمائي چه ګورئ حضرت ابراهيم عليه السلام تاسو ټولو ته مسلم شخصيت دې، د عربو نيکهٔ دې او د اهل کتابو هم جد امجد دې هغه هم د خپل اولاد دپاره د توحيد دعا کړې وه او اوله خبره ئې د توحيد کړې وه چه واجنبنى و بنى ان نعبد الاصنام ﴿ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ﴾ په سورة البقرة کښې بغير معرف باللام ذکر دې (هذا بلداً) نو هغه دعا په هغه وخت کښې وه چه کله مکه معظمه ښار نهٔ

١ - دليل نقلى تفصيلى ، دويم دليل د ابراهيم عليه السلام نه

وو جوړ شوې.او دا دعا په هغه وخت کښ ده چه کله مکه مکرمه ښار جوړ شوې وو. صاحب د روح المعانی یو قانون ذکر کړې دې چه د (جعل) دپاره یو مفعول معرف اوبل منکر راشی نو ضروری نۀ ده چه دا معرف دې اول مجعول شوې وی بلکه په دې کښ اشاره وی د مفعول منکر (مفعول ثانی) مقصودیت اهتمام بالشان ته او که دواړه منکر وی نو بیا د دواړو مقصودیت ته په کښ اشاره وی لکه عرب وائی اجعل هذا الخاتم حسنا په دې کښ مقصود بالذات حسن دې او د خاتم مجعولیت بالفعل ضروری نۀ دې او په اجعل خاتما حسنا کښ دواړه مقصود دی

﴿وَٱجْنُبْنِي وَبَنِيَّ﴾ اګر چه د حضرت ابراهیم ﷺ نه د اصنامو عبادتت متصور نۀ وو خو بیا هم سوال د ځان دپاره یا تواضعا کوی او یا دَ تثبیت او د دوام دپاره کوی ای ثبتنا و ادمنا علی اجتناب عبادتها او د بَنِیَّ نه مراد ابناء صلبی دی چه هغه په هغه وخت کې موجود وو تر قیامته پورې اولاد ترې نه مراد نۀ دی ﴿رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ﴾ اصنام ته نسبت د اضلال تسبیبا دې ﴿فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُۥ مِنِّي﴾ یعنی هغوی به زما یوه حصه وی د ډیر زیات اختصاص دپاره ئې هغوی د خپل وجود یوه حصه شمار کړه ﴿وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ﴾ مراد د عصیان نه یا ما دون الشرك دې او یا ترې نه مراد شرك دې خو دَ مغفرت او رحمت سوال بعد التوبة دې او یا د حضرت ابراهیم ﷺ د شرك د پاره رحمت او مغفرت غوختل قبل العلم وو ﴿رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسْكَنتُ﴾ حضرت ابراهیم ﷺ حضرت هاجره ؓ نهه سوه (۹۰۰) میله لرې د الله تعالی په حکم سره بوتله او هلته ئې کینوله او ورسره یو ماشوم بچې حضرت اسمعیل ﷺ وو او د خوراك دپاره ئې لګ غوندې سامان ورله ورکړو.او په خوشې صحرا کښ ئې یواځې پریخودله او څه قسمه تسلی ورکول اجازت هم نه وو حضرت هاجرة ؓ خو ځله تپوس اوکړو چه په دې خوشې بیابان کښ مونږ چا ته پریږدې خو حضرت ابراهیم ﷺ ته د جواب ورکولو اجازت هم نۀ وو.آخر حضرت هاجرة ؓ تپوس اوکړو چه د الله تعالی حکم دې نو صرف دومره ئې اوفرمائیل چه آو د الله تعالی حکم دې،حضرت هاجرة ؓ اوفرمائیل چه اذا لا یضیعنا الله حضرت ابراهیم ﷺ چه کله پناه ځائې ته راورسیدلو چه چا نه لیدو نو دا دعا ئې اوکړه چه ﴿رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسْكَنتُ﴾ - الخ ﴿عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ﴾ په دې کښ اشاره ده چه خانه کعبه د ډیر قدیم وخت نه موجوده ده ﴿لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ په د په دې کښ اشاره ده چه خانه کعبه بلکه هر دینی مرکز قیام دپاره د اقامت د صلوة او د

توحيد وى ﴿فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ﴾ من د پاره د تبعيض دي او كه چرته «من» ... ميضيه ئ نه وي راوړي نو خانه كعبه اومكه معظمه كښې به د خلقو ازدحام د وجې نه څه ځائي هم نه ووو ﴿وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ﴾ يعنى هرقسمه ميوه دوى ته وركړه او دا ټولې دعاګانې د اهل مكه په حق كښې قبولې شوې دى

فائده مكه معظمه د ټول انسانيت د پاره عموما او د مسلمانانو د پاره خصوصا مركزيت حيثيت لرى.او د مركزيت د حصول دپاره د هغه ځائې اقتصاديات بنيادى حيثيت لرى او كوم قوم چه اقتصادى لحاظ سره كمزورې وى نوهغه ته مركزيت نۀ ملاويدلې نو د اقتصادياتو د پاره ضرورى ده چه په هغه ځائې كښې تجارت وغيره وى.او افراد هم وى.او دا دواړه موقوف دى په امن باندې چه امن وى نو هلته خلق هم ځى او كاروبار او اقتصاديات هم صحيح وى،د دې وجې نه حضرت ابراهيم ﷺ ددې ښار په باره كښې دغه درې دعاګانې اوغوښتلې، او باقى دعاګانې د اهل بلد دپاره اوغوختلې ﴿رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ﴾ په دې كښې اثبات دې دَ توسل په دعا كښې په صفاتو د الله تعالى سره ﴿وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ﴾ داقول هم يادحضرت ابراهيم ﷺ او يا دا قول د الله تعالى دې دپاره د تتمې د حضرت ابراهيم ﷺ د دعا.

الْحَمْدُ	لِلَّهِ	الَّذِي	وَهَبَ	لِي	عَلَى	الْكِبَرِ

ټول صفتونه «د الوهيت» خاص دى په الله تعالى پورې چه هغه ذات چه رابښلې ئ دې ما ته سره د بوډا والى څما نه

إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ ۞ رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ

اسماعيل او اسحاق ، بيشكه رب څما خامخا قبلونكې د دعا دې . اې ربه څما وګرځوې ما پابندې كونكې د مانځه

وَمِن ذُرِّيَّتِي ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ ۞ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ

او د اولاد څما نه . اې ربه زمونږ او قبوله كړې دعا زما . اې ربه زمونږ اوبخې ته ما لره او مور پلار څما لره او ټولو مؤمنانو لره

يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ۞ وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ ۚ

په كومه ورځ چه اودريږى خلك حساب ته .اوهرګز ګمان مه كوه ته [1] په الله تعالى باندې غافل د هغه عملونو نه چه ظالمان ئ كوى.

---

١ - بيان د شپږمې واقعې سره له دنيوى او اخروى تخويف نه

إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ۝ مُهْطِعِينَ
بشکه مهلت ورکوی دوئ ته هغه ورځې ته چه خلاصې به پاتې وی په هغې کښې سترګې . منډې وهونکې به وی
مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ۝
اوچت نیوونکی به وی سرونو خپلو لره نه به واپس کیږی دوئ ته سترګې د دوئ او زړونه د دوئ به خالی وی (د عقل نه)

﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ وَهَبَ لِىْ عَلَى الْكِبَرِ ﴾ (علی) په معنې د (مع) سر دې ای مع کبر سنی حضرت اسماعیل ﷺ مشر وو چه کله حضرت ابراهیم ﷺ عمر یو کم سل کاله وو نو دې پیدا شو او حضرت اسحاق ﷺ کشر وو په هغه وخت پیدا شوې وو چه کله د حضرت ابراهیم ﷺ عمر ۱۱۲ کاله وو ﴿ رَبَّنَا اغْفِرْ لِىْ وَلِوَالِدَىَّ ﴾ پلار د پاره دعا مغفرت نو دا یا په معنې د هدایت سره دې او یا سوال د مغفرت دوالدینو د پاره بشرط الایمان دې یا د وجې د طمع الایمان دې چه حضرت ابراهیم ﷺ د خپل پلار د ایمان په طمع وو او علم ورته نهٔ وو او چه کله علم ورته اوشو نو بیا ئې پریخو لکه الله تعالی فرمائی ﴿ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ﴾ او بعض فرمائی چه والدینو نه مراد حضرت آدم ﷺ او حوا علیها السلام دی. ﴿ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴾ دَ قیام نسبت حساب ته کول یا مجاز مرسل او استعاره ده لکه (قامت الحرب) شو یا حذف د فاعل سره دې ای یو م یقوم الناس للحساب، تخصیص د یوم الحساب د دې وجې نه دې چه فائده د مغفرت هغه ظاهریږی د حساب په ورځ، خطیب شربینی ﷫ فرمائی والله تعالی لا یرد دعاء خلیله علیه السلام و فیه بشارة عظیمة للمؤمنین بالمغفرة فنسال الله تعالی ان یغفرلنا ولوالدینا ولمشائخنا ولاحبابنا (امین ثم امین) .

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ ﴾ دا بیان دې د واقعې شپږ مې او تخویف اخروی او دنیوی ذکر کیږی ﴿ غَافِلًا ﴾ یعنی پریخودونکې ای یترك عقابهم للطفه و کرمه او خطاب نبی ﷺ د پاره دتشبیت او د دوام دې ﴿ تَشْخَصُ فِيْهِ الْاَبْصَارُ ﴾ تشخص د شخوص نه دې او شخوص وئیلې کیږی د هیبت د وجې نه سترګې وازې پاتې کیدل، کله چه سرې ډیر اوویریږی نو سترګې وازې پاتې شی او هغه خوف والا ځائې ته ګوری ﴿ لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ﴾ یعنی د دوئ سترګې به دوئ ته نهٔ

راګرځي، یعنی بانړهٔ به نهٔ شی ښکته کولې. دا کنایه ده د سخت هیبت او خوف نه ځکه چه په وخت دَ خوف کښې ځان ته څوك نه ګوری بلکه دَ یرې والا څیز ته ګوری. ﴿وَأَفْـِٔدَتُهُمْ هَوَآءٌ﴾ هوا معنی ده خالی، نو خالی به وی یا د عقل نه او یا د خیر نه

وَأَنذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا
او وه ویروه خلق دَ هغې ورځې نه چه را بشی دوئ ته عذاب پس وائی به هغه کسان چه ظلم ئ کړې دې اې ربه زمونږ
أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ
مهلت راکړه مونږ ته یوې نیتې قریبې پورې ، قبول به کړو مونږ دعوت ستا او اتباع به وکړو مونږ د رسولانو
أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ (٤٤) وَسَكَنتُمْ
آیا نه وئ تاسو چه قسمونه به مو کول مخکې «د نن نه» چه نیشته ستاسو دپاره څه فناء. او اوسیدلی وئ تاسو
فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ
په ځایونو د اوسیدلو د هغه کسانو کښې چه ظلم ئ کړې وؤ په خپلو نفسونو باندې او ښکاره شوې وه دا خبره تاسو ته
كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ (٤٥) وَقَدْ مَكَرُوا
چه څنګه کار کړې وؤ مونږ دهغوئ سره او بیان کړی وؤ مونږ ستاسو لپاره مثالونه . او بیشکه مکر کړې وؤ هغوئ
مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ (٤٦) فَلَا تَحْسَبَنَّ
پوره مکر خپل او الله تعالی سره ده سزا د مکر د دوئ اونه وؤ مکر د دوئ چه زائل شی د وجه دهغې نه غرونه . پس هرګز ګمان مه کوه نه
اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ (٤٧)
په الله تعالی باندې خلاف کوونکې د وعدې خپلې د رسولانو خپلو سره، بیشکه الله تعالی زورآور دې ، خاوند د بدلې اغستو دې

﴿وَأَنذِرِ النَّاسَ﴾ دا تخویف دنیوی ذکر کیږی ﴿يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ﴾ د دې ورځې نه مراد دنیا کښې دعذاب ورځ ده، چه په دې دنیا کښې به ورله عذاب الله تعالې ورکړی، او یا د مرګ په هغه وخت کښې عذاب مراد دې چه کله فرښتې اوګوری او هغو ترې نه ډیر په سختئ او عذاب سره روح اخلی نو دوی به اووائی چه ﴿أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ﴾ نو په دې اعتبار سره

معنی د (اخرنا) اَمْهِلْنَا ده یعنی مونږ ته مهلت راکړه، او یا تړې نه مراد د قیامت د ورځې عذاب دې نو (اَخرنا) بیا په معنې د (اِرْجِعنا) سره دې یعنی مونږه واپس کړه ﴿نُّجِبْ دَعْوَتَكَ﴾ ستادعوت به قبول کړو مقصد دا دې چه ستا دین طرفته چه کوم دعوت راکړې شوې وؤ هغه به قبول کړو.ای دعوة الیك و الی توحیدك ﴿أَوَلَمْ تَكُونُوٓا۟ أَقْسَمْتُم﴾ دا به توبیخا ورته اووئیلې شی یعنی تاسو مهلت غواړئ تاسو خو قسمونه کول چه فناء کیدل نشته دې.او دا قسمونه یا په لسان القال سره وو چه په ژبه باندې به قسمونه خوړل او عقیده ئې داده چه مونږ به په اجتماعی توګه نۀ ختمیږو، اویا په لسان الحال سره وو چه غټ غټ اُمیدونه به ئې ساتل په دنیا کښې مستغرق وو او آخرت ته ئ څه قسمه دهیان نۀ وو ﴿وَسَكَنتُمْ فِى﴾ دا زجر دې د مشرکینو دپاره چه د ایمان نه راوړلو د پاره ستاسو هیڅ عذر هم باقی نۀ دې ځکه چه د تصدیق یقینی د حصول دپاره څومره اسباب د علم پکار دی هغه ټول تاسو ته حاصل وو ﴿فِى مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟﴾ یعنی تاسو هم په هغه علاقو کښې آباد وئ چه ستاسو نه مخکښې نور معاندین پکښې اوسیدلی وؤ او دَ هغوئ دَ هلاکت او بربادئ احوال تاسوته معلوم شوی وؤ لیکن بیا هم تاسو عبرت ترینه نه وؤ اخستې، ﴿وَقَدْ مَكَرُوا۟ مَكْرَهُمْ﴾ (مکرهم) مفعول مطلق دې د (مکروا) دپاره، راوړې شی د پاره د بیان الکمال او د مبالغې یعنی دوئ دَ اسلام خلاف پوره مکر استعمال کړو ﴿وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ ٱلْجِبَالُ﴾ اِن (۱) یا نافیه دې [۱] او د ﴿ٱلْجِبَالُ﴾ نه مراد شرائع دی چه هغه د غرونو په شانتې مضبوط دی او یا جبال په خپل معنې سره دې مقصد دادې چه د دوی مکر کمزورې دې شرائع چه د جبال په شانتې مضبوط دی هغه د خپل ځائې نه نشی زائله کولې یا غرونه د خپل ځائې نه نۀ شی زائله کولې، (۲) او یا ان مخفف عن المثقله دې او ددې اسم ضمیر شان هغه مقدر دې او ﴿لِتَزُولَ﴾ کښې لام مفتوح دې او د دوی د مکر قوت ته په کښې اشاره ده او د الجبال نه مراد غرونه دی او مقصد

---

۱ - ان نافیه په قرآن کښې په پنځو مواضعو کښې ذکر شوې دې یو دا دې دویم په سورة یونس کښې فان کنتا ل شك الخ دریم په سورة الانبیاء کښې لو اردنا ان نتخذ لهوا لاتخذنه من لدنا ان کنا فاعلین څلورم په سورة زخرف کښې (قال ان کان للرحمن ولدا) او پنځم په سورة الاحقاف کښې (ولقد مکنهم فیما ان مکنکم فیه) (قرطبی).

دا دي چه د دوی مکر بیشکه ډیر لوئي دي چه غرونه ورسره هم زائله کیږی خو ددین او شرائع ورسره نۀ شی زائله کیدي، (۳) او یا دا ان وصلیه دي او مراد د جبال نه غرونه دی نو به دي کښ به هم ددوی د مکر قوت اشاره شی مقصد دا دي چه دوئ مکر اګر چه ډیر لوئي دي چه غرونه ورسره هم زائله کیږی خو شرائع ورسره نۀ شی زائله کیدي یعنی دنیوی نقصان خو کوی خو دین ته څه نقصان نۀ شی رسولي ﴿ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ ﴾ تسلی ورکولي کیږی پیغمبر ﷺ ته ﴿مُخْلِفَ وَعْدِهِ﴾ چه هغه وعده دنصرت ده.

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا
په داسې ورځ چه بدله به کړي شی دا ځمکه د دینه په بلې ځمکې سره او آسمانونه هم او میدان کښ به جمع شی ټول
لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ۝ وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْأَصْفَادِ ۝
الله تعالی ته چه یو دي ، ډیر زور آور دي .او وینې به ته مجرمان په دغه ورځ چه یو ځائ به تړلي شوی وی په زنځیرونو کښ
سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ۝ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ
قمیصونه د دوئ به دَ رانژروبه وی او پټوی به مخونه د دوئ اور لپاره د دي چه بدله ورکړی الله تعالی هر نفس ته
مَّا كَسَبَتْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝ هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ
بدله دهغه عملونه چه هغه کسب کړي دي ، بیشکه الله تعالی زر حساب کونکي دي دا قرآن رَسوَل دی [۱] خلقو ته
وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ
اولپاره د دي چه وه یرولي شی پدي سره خلق او لپاره د دي چه پوهه شی خلق چه بیشکه صرف الله تعالی معبود دي
وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝
چه تن تنها دي ، او لپاره د دي چه نصیحت واخلي خاوندان د عقل

﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ ﴾ تبدیل د ځمکي یا ذاتی دي چه دا ځمکه به بلې ځمکې سره بدله شی لکه په حدیث د مسلم شریف کښ دی عن عائشة رضی الله عنها قالت سئل رسول الله عن قوله یوم تبدل

۱ - بیان د دعوی په طور د ثمری او خلاصي د سورت.

الارض غير الارض والسموات فاين يكون الناس يومئذ؟قال على الصراط او يا د تبديلى نه مراد تبديلى وصفى ده.او تبديلى وصفى مقصد دا دې چه زمكه به هم دغه وى خو په كښې به دغه غرونه،نهرونه،سمندرونه لوړې ژورې به په كښې نه وى لكه الله رب العزت فرمائى چه (قاعًا صفصفاً لا ترى فيها عوجا ولا امتا) ، ﴿ مُّقَرَّنِينَ ﴾ يعنى دوى به يو بل سره تړلې شوې وى،او يا به د شيطان سره تړلې شوې وى لكه په بل ځائې كښې الله تعالى فرمائى چه ﴿ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴾ نو مؤمنين به د حورالعين سره جوړه كړې شى او دوى به دَ شيطانانو سره. او يا مقصد دا دې چه لاسونه بهٔ ئې د خپو سره اوتړلې شى ﴿ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ ﴾ قطران رانزړو ته وئيلې كيږى د رانزړو اور ډير سخت گرم وى او ډير زر اور اخلى او دغه شانتې بدبودار هم ډير زيات وى او لوګى ئې هم ډير سخت تور وى نو ددې وجې نه رانزړهٔ به ددوى په بدن باندې اومخلې شى او جهنم ته به اوغورځولې شى (اعاذنا الله منها) [1] ﴿ لِيَجْزِيَ ٱللَّهُ ﴾ دا متعلق دې په (برزوا) پورې ﴿ هَٰذَا بَلَٰغٌ ﴾ دا په اخر كښې دعوى د سورة بطور د خلاصې او ثمرې ذكر كيږى،او تعلق د دې د ابتداء د سورت سره دې او په (هذا) سره اشاره ده قرآن مجيد ته چه په ابتداء د سورة كښې ذكر شوې دې چه﴿ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ ٱلنَّاسَ ﴾ دې او په دې كښې اشاره ده څلورو فوائدو او مقاصدو د قرآن ته **اول** دا چه دا قرآن تبليغ دې د انسانانو دپاره د الله تعالى د احكاماتو يعنى د الله تعالى احكامات انسانانو ته رسوونكې دې **دويم** دا چه په دې سره انذار كولې شى دعذاب د الله تعالى نه **دريم** دا چه په دې سره علم د توحيد حاصليږى **څلورم** دا چه اولوالالباب او عقل والو دپاره نصيحت دې.

سورة ابراهيم ختم شو

قد فرغت من تكملة سورة ابراهيم اللتى شرعتها من (مَنْ خَافَ وَعِيد) والحمد لله رب العلمين، قد فرغت من هذا التفسير بحمد الله و بمنه ۷ جمادى الاولى بعد الالف و مائة اربع و احدى ثلاثين من هجرة النبوى ﷺ،اللهم اجعل لوالدنا المحترم الشفيق المشفق ولنا خطا والرا من دعوة ابراهيم عليه الصلوة والسلام المستجاب وارفع درجاته فى عليين واجعل رفاقته مع النبيين والصدقين والشهداء والصلحين،وافض علينا فيوضاته واسلك بنا مسلك كراماته ولا تحرمنا من بركاته واجعله لنا شفيعا و فرطا فى الاخرة كما جعلته شفيقا لنا فى الدنيا و ابرد صدورنا بلقائنا معه فى جنة الفردوس،ربنا امنا بك و بما انزلت واتبعنا الرسول فاكتبنا مع الشهدين ربنا نؤمن بك و برسولك و بكتبك و بلقائك،اللهم اجرنا من النار وادخلنا الجنة مع الابرار امين ثم امين يا رب العلمين.

---

۱ - دَ قطران ترجمه . ګُګر هم كړې شويده چه دَ هغې اور ډير تيز وى او زر لګى.

ركوع	سورة الحجر مكية	آيتونه
۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۹۹
	خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم كوونكي دې شروع كوم	

رقمها حسب التسلسل (۱۵) وحسب النزول (۵۴)

سورة الحجر مكى سورة دې په ترتيب قرآن كښې پنځلسم (۱۵) او په ترتيب نزولى كښې څلور پنځوستم (۵۴) نمبر سورة دې ، د سورة الانعام نه مخكښې او په سورة يوسف پسې نازل شوې دې او زمانه د نزول ئې دور اخير د مكې معظمې دې .

ربط : ربط اسمى د سورة ابراهيم سره دا دې چه په سورة ابراهيم كښې په دلائلو او په بيان د وقائعو سره مسئله د توحيد بيان شوه نو په سورة الحجر كښې حكم وركولې كيږى چه دا مسئله اومنئ كنې ستاسو انجام به هم د اصحاب الحجر په شانتې وى، او بيا به پښيمانه يئ خو وخت به درنه تير شوې وى .

ربط مضمونى : د سورة ابراهيم سره دا دې چه (۱) په سورة ابراهيم كښې د وقائعو په بيان سره يره ول اوشو او په سورة الحجر كښې دهغې نمونې ذكر كيږى، (۲) دغه شان د سورة ابراهيم په آخر كښې تخويف ذكر شوې وؤ نو د سورة الحجر په ابتداء كښې هم تخويف ذكر كيږى، (۳) همدغه شان په سورة ابراهيم كښې بيان د وقائعو اوشو نو اوس په سورة الحجر كښې ورته اعلان كيږى چه د ايمان راوړلو وخت اوس دې ، (۴) او دغه شانتې په سورة ابراهيم كښې حكمت او فوائد د قرآن ذكر شو او په سورة الحجر كښې صداقت د قرآن ذكر كيږى .

مضامين : مختصره خلاصه د مضامينو داده چه پدې سورة كښې اولاً تمهيد مع الدعوى ذكر كيږى، بيا په توحيد باندې دوه دليلونه عقليه ذكر كيږى چه يو تفصيلى اوبل اجمالى دې ، پنځه نمونې د تخويف دنيوى ذكر كيږى ، درې د أمم سابقونه ، او دوه د مشركين مكه نه، اونه پكښې حضور ﷺ ته تسليانې ذكر كيږى او په مينځ كښې پكښې څه زجرونه ، تخويفونه، شكوې او جواب شكوې ذكر كيږى.

او تفصيل ئی دادي چه په آیت نمبر اول ﴿الٓرٰ﴾ کښې تمهید مع الترغیب دې. په ایت نمبر (۲) ﴿رُّبَمَا﴾ کښې دعوی د سورت، تخویف ذکر کیږی ، په آیت نمبر (۳)﴿ذَرْهُمْ﴾ کښې زجر ذکر کیږی . په آیت نمبر (۴ - ۵) ﴿وَمَآ أَهْلَكْنَا﴾ الی ﴿وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ﴾ پورې بیا تخویف ذکر کیږی. په ایت نمبر (۶ - ۷) ﴿وَقَالُوا يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِى﴾ تر ﴿إِن كُنتَ مِنَ الصَّـٰدِقِينَ﴾ پورې شکوه ذکر کیږی. په ایت نمبر (۸)﴿مَا نُنَزِّلُ الْمَلَـٰٓئِكَةَ﴾ کښې جواب شکوه مع الزجر ذکر کیږی، په آیت نمبر (۹)﴿إِنَّا نَحْنُ﴾ کښې ترغیب الی القرآن او تمهید لپاره د تخویف دنیوی ذکر کیږی، په آیت نمبر (۱۰ - ۱۳) پورې ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا﴾ تر ﴿سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ﴾ پورې تخویف دنیوی د استهزاء کوونکو لپاره ذکر کیږی. په آیت نمبر (۱۴- ۱۵) ﴿وَلَوْ فَتَحْنَا﴾ کښې زجر ذکر کیږی چه متعلق دې په شکوی پورې ، بیا په آیت نمبر (۱۶)﴿وَلَقَدْ جَعَلْنَا﴾ تر آیت نمبر (۲۷) ﴿مِن نَّارِ السَّمُومِ﴾ پورې اول دلیل عقلی تفصیلی ذکر کیږی ، په آیت نمبر (۲۸ –تا - ۴۲) ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ﴾ تر ﴿إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ﴾ پورې قصه د حضرت آدم ﷺ او ابلیس لعین ذکر کیږی لپاره د تخویف اومتعلقه ده په دعوی د سورة پورې، په آیت نمبر (۴۳ - ۴۴) ﴿وَإِنَّ جَهَنَّمَ﴾ الی ﴿جُزْءٌ مَّقْسُومٌ﴾ کښې تخویف اخروی ذکر کیږی ، په آیت نمبر (۴۵ -تر - ۴۸)﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ﴾ تر ﴿أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ پورې بشارت ذکر کیږی.

په آیت نمبر (۵۰)﴿وَأَنَّ عَذَابِى﴾ تخویف ذکر کیږی ، په آیت نمبر (۵۱- ۵۶) ﴿وَنَبِّئْهُمْ﴾ الی ﴿إِلَّا الضَّآلُّونَ﴾ کښې تمهید ذکر کیږی د نمونې اولې لپار ، او بیا پنځه نمونې ذکر کیږی د تخویف دنیوی لپاره، اوله نمونه د امم سابقه نه ﴿قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ﴾ آیت نمبر (۵۷ –تا - ۷۴) پورې ذکر کیږی چه د قوم لوط واقعه ده ، دویمه نمونه ﴿وَإِن كَانَ أَصْحَـٰبُ الْأَيْكَةِ﴾ آیت نمبر (۷۸) نه تر (۷۹) پورې ذکر کیږی چه دقوم شعیب واقعه ده، دریمه نمونه د ﴿وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَـٰبُ الْحِجْرِ﴾ آیت نمبر (۸۰) تر (۸۴) پورې ذکر کیږی ، بیا په مینځ کښې ایت نمبر (۸۵ - ۸۶) ﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمَـٰوَٰتِ﴾ کښې دویم دلیل عقلی ذکر کیږی ، په آیت نمبر (۸۷ - ۸۸) کښې حضور صلی الله علیه وسلم ته درې تسلیانې ذکر کیږی، په آیت نمبر (۸۹) کښې تخویف دنیوی ذکر دې، بیا په آیت نمبر (۹۰)

﴿كَمَآ أَنزَلْنَا﴾ نه تر (۹۳) کښې بیان د نمونې څلورمې کیږی چه د مشرکین مکه واقعه ده چه هغه

دولس کسان چه په موسم د حج کښې به په مختلفو لارو کښې کیناستل او رتلونکی خلك به ئې د حضور صلی الله علیه وسلم د تعلیم او وعظ نه منع کول نو څه په جنګ بدر کښې الله هلاك کړل او څه د جنګ نه مخکښې ، په ایت نمبر (۹۴) ﴿ فَٱصۡدَعۡ ﴾ کښې بیا څلورمه تسلی حضور صلی الله علیه وسلم ته ذکر کیږی، په آیت نمبر (۹۵ - ۹۶) ﴿ إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ ﴾ کښې د پنځمې واقعې بیان دې چه د مشرکین مکه هغه پنځه کسان وو چه په قرآن پورې به ئې توقې کولې نو الله هلاك کړل. او پنځمه تسلی هم حضور صلی الله علیه وسلم ته ذکر کیږی، په آیت نمبر (۹۷) کښې شپږمه تسلی ده، او په آخری دوه آیتونو (۹۸ - ۹۹) کښې مزیدې درې تسلیانې حضور صلی الله علیه وسلم ته ذکر کیږی، او اصل مقصد بیانیږی چه هغه توحید دې.

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ ①
(الر) دا آیاتونه دی[1] د کتاب او د قرآن واضح بیان کونکی.

﴿ الٓرۚ ﴾ دا تمهید مع الترغیب دې ﴿ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ په معنی د جنس کتاب سره دې او مراد ترینه کتب سابقه دی او اشاره ده دیته چه پدې قرآن مجید کښې د امم سابقه ؤ حالات هم ذکر کیږی، او د ﴿ وَقُرۡءَانٖ ﴾ نه مراد قرآن مجید دې او اشاره ده دیته چه د دې امت واقعات هم پکښې ذکر کیږی دواړو لره جامع دې لکه چه دا تقاضا د عطف ده او دا قول د امام مجاهد او قتاده نه مروی دې (الكتاب : الكتب اللتى كانت قبل القرآن) او یا عطف، عطف تفسیری دې او د «الكتاب» نه مراد قرآن دې او دې کښې اشاره ده عظمت او کمال د قرآن ته ، قرآن او مبین دا دواړه صفتونه واقع شوی دی د (الكتاب) لپاره .

---

۱ - تمهید مع الترغیب.

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ۝ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا
ډير واري ارمان به کوي[1] هغه کسان چه کفر ئ کړي دي چه کاش دوئ مسلمانان وي . پريږده ته دوئ چه خوراك کوي
وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ
او مزې اخلي او غافل کړي دي دوئ لره اميدونو پس زر ده چه پوهه به شي دوئ . اونه دي هلاك کړي مونږ دَ يو کلي خلك
اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ۝ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ۝
مگر وُ دهغو لپاره ليکل مقرر . نه مخکښ کيږي هيڅ يو اُمت دَ نيتې خپلې نه او نه وروستو کيږي

﴿ رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾ دا ذکر د اصل مقصود دې چه ضد او عناد پريږدئ او ايمان راوړئ بيا به افسوس کوئ خو هغه وخت به د ايمان راوړلو نه وي ﴿ رُبَمَا ﴾ په تخفيف او په تشديد دواړو قرائتونو سره مروى دې ، او (ما) پکښ يا زائده ده ځکه چه (رب) په فعل باندې بالذات نه داخليږي او يا په معنى د شئ منکر سره ده عند البعض (طبري) ، او د شئ منکر نه مراد (ودّ) دې ((اى رب ود يوده الذين كفروا – الخ)) او ((رُبّ)) کله دتقليل لپاره رازى او کله د تکثير لپاره ، دلته يا د تکثير لپاره دې چه دا کافران به بار بار تمنا کوى او يا د تقليل لپاره دې ځکه چه احوال د قيامت به ډير سخت وى نو اکثر حالاتو کښ به دوئ بيهوشه او حواس باخته به وى خو چه کله هم هوش ئى رازى نو دوئ به تمنا کوى چه کاش مونږ مسلمان شوى وې ، ((ربّ)) اگرچه د اکثرو نحاتو د تصريح مطابق په فعل مضارع باندې نشى راتلې بلکه په ماضى باندې داخليږى خو چونکه ترقب په اخبارو د الله تعالى کښ دا په تقين کښ په شانته د ماضى وئ نو ((يَوَدُّ)) په معنى د (ودّ) سره شو گويا که چه دوئ دا تمنا کړيده نو ځکه پرې ((رُبّ)) داخل شو ، او په نيزد د بعضو لکه ابن هشام دخول د رب په مضارع باندې جائز دې لکه څنگه چه په ماضى باندې ئى دخول جائز دې په دليل د دې قول د شاعر

فان اهلك فرُب فتى سيبكى على مهب رخص البنان

((مغنى اللبيب ، حرف الراء ، صفحه نمبر (۳۷۵))

---

۱ - ذکر د اصل مقصود

نو لهذا (يود) په خپله معنی سره دي او په معنی د ((ود)) سره ونیل دا تکلف نه خالی ندی

﴿لَوْ كَانُوا﴾ دا تمنا به دوئ کله کوی؟ نو پدې کښې متعدد اقوال دی (۱) بعضی وائی چه دا تمنا به وخت د فتح د مسلمانانو کښې کوی، دا مروی دې د ابن مسعود رضی الله عنه. (۲) بعضې وائی چه په وخت د حلول اونزول د مرګ کښې به کوی چه کله دوئ ته مرګ حاضر شی او عالم غیب پرې منکشف شی نو دوئ به تمنا اوکړی. (۳) او بعضې وائی چه دا تمنا به د قیامت په ورځ دوئ په هغه وخت کښې وکړی چه کله خدائ پاك د مؤمناو اکرام وکړی د حساب، کتاب نه وروستو مؤمنان جنت ته لاړشی نو دوئ به او وائی چه ﴿لَوْ كَانُوا﴾ ، (۵) او بعضې فرمائی چه کله الله آخری مسلمان د جهنم نه او باسی نو دوئ به هم تمنا وکړی چه کاش مونږ هم مسلمانان وې ، لکه ابن جریر طبری رحمه الله په سند صحیحه سره د حضرت ابو موسی رضی الله عنه نه او طبرانی د حضرت جابر رضی الله عنه نه نقل کړیدی چه کفار به په جهنم کښې ځینې هغه مسلمانانو ته چه د خپلو بدو اعمالو د وجه نه جهنم ته تللی وی پیغور ورکړی نو الله ﷻ به په خپل رحمت سره هغوئ د جهنم نه را اوباسی ، جنت ته به ئی داخل کړی ، نو کافر به تمنا اوکړی چه ﴿لَوْ كَانُوا﴾ لیکن په ټولو توجیهاتو کښې غوره توجیه د ابن الانباری ده، هغه فرمائی چه کله هم الله ﷻ کافرانو ته عذاب ورکوی که دنیا کښې وی د مرګ په وخت کښې وی قبر کښې وی ، میدان حشر کښې وی ، جهنم کښې وی ، او مسلمانانو ته الله جل جلاله اکرام او عزت ورکوی نو دوئ به دهغه تمنا بابار کوی ﴿ذَرْهُمْ﴾ دا زجر ذکر کیږی چه دوئ پریږده په نصیحت او وعظ سره . ﴿يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا﴾ په دې کښې اشاره ده چه د کافرانو خوراك د بهائمو په شانتې دې چه صرف د خواهشاتو پوره کولو لپاره خوراك کوی او دنیوی عیش عشرت ئی مقصود اصلی ګرځولې دې ﴿وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ﴾ لویو لویو امیدونو دوئ د آخرت نه غافله کړیدی ځکه ایمان نه راوړی نو د طول امل مقصد دا دې چه انسان د آخرت نه غافله شی ، حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه کوم سړې اوږده اوږده اُمیدونه ساتی نو دهغه عمل به ضرور خراب وی، اوحدیث شریف کښې د حضرت انس رضی الله عنه نه مروی دی فرمائی چه : ((قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اربعة من الشقاء، جمود العین وقساوة القلب وطول الامل والحرص علی الدنیا)) یعنی خلور ځیزونه دا د انسان دبدبختئ علامتونه دی د سترګو اوچوالې د زړه سختوالې اوږد امید ، په دنیا باندې حرص ﴿فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾ یعنی آخرت کښې به الله رب العزت ورته بدله ورکړی او یا ترینه پدې دنیا کښې سزا مراد ده، چه هغوئ قتل کیدل شو او قید کیدل شو ، دا حکم مخکښې د جهاد نه وو او په آیت د

جهاد سره بيا منسوخ شو ﴿ وَمَآ أَهۡلَكۡنَا ﴾ دا تخويف دنيوی دي چه په کافرو باندي به عذاب راځی خو د هرچالپاره يوه خپله نيټه ده او د دې مهلت مقصد دا نه دي چه دوئ ته الله عذاب نه ورکوی.

﴿مِن قَرۡيَةٍ ﴾ ای من اهل قرية ﴿ مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ ﴾ په دې کښې مِنۡ زائد دې دپاره د تاکيد او (امة) فاعل دې د (تسبق) لپاره ای ما تسبق امةٌ ، باقی د دې آيت مکمله تشريح په سورة اعراف آيت نمبر (۶۴) کښې تيره شويده (من شاء فليطالع ثمه فانه بحث انيق) .

وَقَالُوا يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ۞
او وائ هغه کافران [1] اې داسې سړيه چه نازل شويدې په هغه باندې قرآن بيشکه ته خامخا ليونې يې
لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۞ مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ
ولې نه راولې ته مونږ ته فرشتې کچرته ئ ته د ريشتونو نه . نه نازله وؤ مونږ [2] فرشتې مګر په عذاب سره
وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ ۞
اونه به وی دوئ لپاره په دغه وخت کښې مهلت ورکول.

﴿ وَقَالُوا ﴾ دا شکوی ذکر کيږی، قائلين د دې قول يا عام کفار مکه دی او يا خصوصی طور يو څو کسان دی چه هغه عبدالله ابن اميه، نضر بن حارث، نوفل بن خويلد ، او وليد بن مغيره دی چه دوئ به حضور صلی الله عليه وسلم ته دا خبرې کولې . ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي ﴾ نداء به ئی استهزاءً کوله ﴿ٱلذِّكۡرُ ﴾ مراد ترينه قرآن دې ﴿إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ﴾ نسبت د جنون به ئی (نعوذ بالله) حضور ﷺ ته يا به ئی د دې وجه نه کولو چه دوئ د حضور ﷺ نه نبوت مستبعد ګڼړلو او يا ئی د دې وجه نه کولو چه د حضور ﷺ حالت نزول الوحی به مشابه وؤ د حالت دغَشْيِ سره نو ځکه ورته دوئ د جنون نسبت کولو . ﴿ لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا ﴾ يعنی يو خو دوئ ايمان نه راوړی او بل حضور ﷺ ته د جنون نسبت هم کوی او بيا د حضور ﷺ نه دا مطالبه هم کوی چه فرشتې دې نازلې شی

۱ - شکوی
۲ - جواب شکوی .

او ستا د نبوت على الاعلان تصديق دې وكړى ﴿لَّوْ مَا﴾ كښې ميم يا بدل راغلې دې د «لا» نه او يا «لوما» په معنى د «لولا» سره دې څكه چه عرب كله په ځائ د لولا «لوما» هم استعمالوى .
او لولا د دوه معنو لپاره رازى كله لپاره د انتفاء الثانى لوجود الاول رازى او كله د تحضيض لپاره رازى. چه په كوم ځائ كښې لپاره د انتفاء الشئ وى نو هلته د «لولا» سره اسم نزدې وى. لكه «لولا على لهلك عمر» اوچه په كوم ځائ كښې لپاره د تحضيض وى نو هلته ورسره فعل يلې وى ظاهراً يا مضمراً ، نو دلته «لوما» د تحضيض لپاره دې په معنى د «هلا» سره دې . ﴿مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ﴾ دا جواب شكوى ذكر كيږى چه د فرشتو نزول د يو حكمت ماتحت وى او فرشتې تاسو ته عيانًا راتلل لپاره د تصديق د نبوت د حضور ﷺ نو پدې كښې هيڅ حكمت نشته دې څكه چه د تصديق د حضور ﷺ لپاره نورې هم ډيرې نشانئ دى، او د فرشتو نزول په ټولو مراحلو كښې وروستنئ مرحله ده اوكچرته ستاسو فرمائش پوره شى او فرشتې نازلې كړې شى او بيا هم تاسو ايمان نه راوړئ لكه دا چه زيات متوقع ده نو د فرشتو د نزول او د اقوامو د فرمائش پوره كولو نه وروسته چه كله ايمان را نه وړې شى نو سنة د الله رب العزت پدې جارى دې چه بيا په هغه قوم باندې عذاب راولى، اوهغو ته هيڅ قسم مهلت نه وركولې كيږى . ﴿إِلَّا بِالْحَقِّ﴾ مراد د حق نه يا عذاب دې يا ترينه مراد حكمت او مصلحت دې او يا ترينه وحى مراد ده ، ﴿وَمَا كَانُوٓا إِذًا﴾ داجواب شرط دې اوشرط ورله محذوف دې ((اى لونزلنا الملائكة بالعذاب اذا ماكانو منظرين)) .

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحٰفِظُونَ ۝ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا
بيشكه مونږ[1] نازل كړيدې دا قرآن او بيشكه مونږ دهغه خامخا حفاظت كونكى يو . او په تحقيق سره مونږ ليږلى وو[2]
مِن قَبْلِكَ فِي شِيَعِ الْأَوَّلِينَ ۝ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا
مخكښې ستا نه رسولان په امتونو مخكښنيو كښې . او نه به راتلو هغو ته د يو رسول نه مگر وو به هغوئ

١ - ترغيب الى القرآن .
٢ - تخويف دنيوى براى مستهزئين .

يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ
چه به هغه پورې به ئې توقې كولې. دغه شانته ورننه باسو مونږ دا استهزاء په زړونو د مجرمانو كښې. ايمان نه راوړى دوئ
وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ وَلَوْ فَتَحْنَا بِهٖ
په دې قرآن باندې او بيشكه تيره شويده طريقه دَالله د مخكنيو خلكو په باره كښې. او كچرته پرانزو مونږ[1]
عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ۝ لَقَالُوْٓا اِنَّمَا
په دوئ باندې دروازه د آسمان نه او په رڼا ورځ په هغې كښې دوئ وخيژى نوخامخا به بيا هم وائى دوئ چه بيشكه
سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ۝
بند كړې شويدى نظرونه زمونږ. بلكه مونږ داسې قوم يو چه سحر را باندې شوې دې.

﴿ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ﴾ ترغيب الى القرآن ذكر كيږى او تمهيد دې لپاره د تخويف دنيوى او دليل ذكر كيږى په صدق د نبوت د حضور صلى الله عليه وسلم چه الله رب العزة فرمائى چه دا وحى زما له طرفه ده او حضور صلى الله عليه وسلم مجنون ندې ځكه چه دا قرآن كه چرته د يو بشر يا د الله نه علاوه د بل چا كلام وې اومنزل من عند الله نه وې نو پدې كښې به دير لوئ اختلافات وو هم لفظًا او هم معنًا ، لكه چه الله تعالى فرمائى : ﴿وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴾.

﴿ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴾ دا آيت صريح دې په حفاظت د قرآن باندې الله رب العزة د قرآن مجيد د حفاظت ذمه دارى اغستې ده لفظًا هم او معنًا هم، د لفظًا حفاظت لپاره د الله ﷻ بې شماره قرآء او حفاظ پيدا كړيدى چه هغوئ د قرآن مجيد په حفاظت باندې مامور دى د دوئ په سينو كښې الله رب العزة قرآن مجيد محفوظ كړيدې، يو يو آيت ، يو يو حرف حتى چه اعراب پورې الله جل جلاله دوئ ته آسان كړيدى ، اوځه قسم ردو بدل پكښې ممكن نه دې ، اودغه شانتې د قرآن دمعنًا حفاظت لپاره الله ﷻ په مختلفو ادوارو كښې ائمه پيدا كړيدى چه هغوئ مختلف علوم مدون كړيدى، صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين ته په بركت د صحبت د حضور ﷺ د نورو علومو چه فهم د قرآن لپاره ضرورى دى د هغې ضرورت نه وؤ خو په مرور د زمانې سره چه كله دغه ضرورت محسوس شو

---
١ - زجر متعلق بشكوى.

نو الله رب العزة په خپل قدرت بالغه کامله سره مختلف ائمه پيدا کړل او هغو ته ئې د مختلفو فنونو، علومو القاء او الهام اوفرمايلو ، چا ته ئې د اصول تفسير ، چاته ئې د اصول حديث، چا نه ئې اشتقاق ، چاته ئې نحوی، چاته ئې د صرف وغيره القاء اوکړه ، او دغه وجه ده چه په سوونو کاله تيريدو با وجود قرآن مجيد کښې نه څه لفظًا تحريف ، نقص يا زياتې راغليدې او نه معنًا . پدې مقام کښې هغه واقعه چه قرطبي ذکر کړيده د مامون الرشيد او يهودی والا يا دغه شانتې په نورو مقاماتو کښې لکه واقعه د حجاج او دهغه قبيلې چه انکار ئې کړې وو د ميلمستيا د موسی ﷺ نه . قابل ديد دی ، او کچرته بد طينت کوشش هم کړې دې نو الله ﷻ ورل رجال پيدا کړی دی اوهرکله چه احاديث د رسول الله صلی الله عليه وسلم معنی او تشريح د قرآن ده او قرآن په مذهب د اهل سنت والجماعت اسم دې د لفظ او معنی دواړو لپاره او وعده د حفاظت د قرآن بجميع اجزائه ده نو دا وعده د حفاظت احاديثو د رسول الله صلی الله عليه وسلم ته هم شامله ده، او دغه وجه ده چه ذ احاديثو د حفاظت لپاره الله ﷻ محدثين پيدا کړل ، هغو په لاکهونو احاديث راجمع کړل او په هغې کښې ئې موضوعی د غير موضوعی نه جدا کړل، صحيح او ضعيف ئې واضح کړل او اصحاب جرح والتعديل احوال د رواتو او دهغو اقسام وغيره مکمل طريقې سره ذکر کړل.

که څوک اشکال اوکړی چه هرکله د قرآن دحفاظت وعده الله کړې وه نو څه ضرورت وو جمع د قرآن ته په دور د ابوبکر صديق رضی الله عنه کښې، او ولې اوفرمائيل حضرت عمر رضی الله عنه «وَاِنِّی اَخْشٰی اَنْ يَّسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ فِی الْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبُ كَثِيْرٌ مِّنَ الْقُرْآنِ اِلاَّ اَنْ تَجْتَمِعُوْهُ» نو جواب دا دې چه جمع د قرآن په دور د حضراتو شيخينو کښې دا هم يو سبب وو د اسبابو د حفاظت د قرآن نه چه القاء او الهام کړې وو الله رب العزت اولاً په زړه د حضرت عمر ﷺ کښې بيا په زړه د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه کښې او بيا په زړه د حضرت زيد بن ثابت ﷺ کښې لکه چه پدې دلالت کوی الفاظ د حضرت ابوبکر ﷺ او د حضرت زيد ﷺ، حضرت ابوبکر رضی الله عنه فرمائی چه «فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِیْ فِيْهِ حَتّٰی شَرَحَ اللهُ لِذٰلِكَ صَدْرِیْ» او حضرت زيد ﷺ فرمائی چه «فلم ازل اراجعه حتی شرح الله صدری للذی شرح الله له صدر ابی بکر وعمر» ، «رواه البخاری».

دغه شان دا آيت صريح رد دې په مذهب د شيعه گانو باندې چه بعضې فرقې د هغو نه بلکه نن صبا تولې فرقې د هغو په تحريف د قرآن قائله دی، او دا وائی چه په اصل قرآن کښې تحريف شوې دې او لس (۱۰) هغه سپارې چه مشتملې وې په فضائلو د اهل بيت نو حضرات شيخين (نعوذ بالله) هغه ترينه ويستلی دی ، او دلې د رد په مذهب د دوئ باندې دا دې که په قرآن کښې تحريف اوشی نو

لازم به شی یا عجز په الله تعالی کښ او یا مخالفت د وعدې خپلې او تالی په دواړو شقوقو سره باطل دي بداهةً مقدم ئې مثل دې، دلیل د ملازمې دا دې چه کله الله رب العزت وعده د حفاظت اوکړه نو اوس به ئې یا د قدرت با وجود نه پوره کوی نو مخالفت د وعدی خپلې راغې، اوکه په پوره کولو ئې قدرت نه وی او حضرات شیخین مانع گرځیدلی وی لپاره د صدور د فعل نو لازم شوې عجز په باری تعالی کښ، اوکه شیعه گان اعتراض وکړی چه استدلال دې تام ندې ، نه مخالفت د وعدې شته دې اونه عجز شته دې ځکه چه وعده دحفاظت دهغه قرآن په حق کښ ده چه کوم په لوح محفوظ کښ دې، او مقصد دا دې چه قرآن مجید په لوح محفوظ کښ محفوظ دې او تحریف پدې موجوده قرآن کښ دې ، **اول جواب** ترینه دا دې چه الله ﷻ الفاظ استعمال کړیدی د «نزلنا» او منزل دغه قرآن دې چه کوم موجود دې، **دویم جواب** دا دې چه حفاظت ضرورة په هغه ځائ کښ وی چه په کوم ځائ کښ د نقصان او د تحریف امکان وی نو لوح محفوظ خو د هر قسم خطراتو نه محفوظ دې ، نو بیا اعتراض کوی چه استدلال دې بیا هم تام ندې ځکه چه موعود په حفاظت سره هغه قرآن دې چه په غارسرمن کښ دې او تحریف په دې موجوده قرآن کښ شوې دې .
جواب ترینه اولاً دا دې چه قول په وجود د غار سرمَن دا قول بلا دلیل دې او د واهیاتو نه دې او په وجود باندې ئې نه دلیل عقلی شته دې اونه نقلی شته دې او ثانیًا په تقدیر د تسلیم سره په غار سرمن کښ د حفاظت ضرورة نشته دې ، د چوکیدار ضرورت په هغه ځائ کښ وی چه په کوم ځائ کښ د دشمن نه خطره موجوده وی او چه په کوم ځائ کښ خطره نه وی نو په هغې ځائ کښ چوکیدار اودرول لغو او عبث وی او که څوك او وائی چه ممکنه ده چه دا آیت دې حضراتو شیخینو د خپل ځان نه زیات کړې وی نو جواب دا دې چه متواترات او د یقینیاتو په مقابله کښ توهمات باطل او قابل اعتبار نه وی.

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا﴾ دا تخویف دنیوی ذکر کیږی د استهزاء کوونکو لپاره او «رسلاً» پکښ مقدر دې د وجه د دلالت نه په دې باندې د «ارسلنا» ، ﴿فِي شِيَعِ﴾ دا جمع د شیعة ده، هغه جماعت او فرقې ته وئیلې کیږی چه په یوه خبره باندې متفق وی او دغه شانتې متبعینو ته هم وئیلې کیږی، دلته ترینه مراد امتونه دی. ﴿كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُ﴾ (نسلك) بالفتح وئیلې کیږی (ادخال الشئ فی الشئ) ته لکه څرنگه چه تار اچولې کیږی په ستنه کښ او مقصد دا دې چه کله د دوئ سرکښی اوعناد زیات شو نو الله د دې په وجه سره د دوئ په زړونو باندې مهر جباریت ثبت کړو لکه چه په ((ختم الله على قلوبهم)) کښ تیر شویدی، او پدې ځائ کښ مشبه به محذوفه ده ((ای کما سلکنا الکفر فی

قلوب شیع الاولین بالاستهزاء کذلك نسلکه فی قلوب المجرمین)) او مراد په مجرمین سره کفار مکه دی ، او ضمیر په (نسلکه) کښې راجع دې یا استهزاء ته اویا تکذیب ته چه هغه مذکور دی حکمًا په ضمن د «یستهزئون» کښې او ضمیر راجع کول «الذکر» ته دا ضعیف دی او پدې آیت کښې رد دې په مذهب د معتزلو باندې چه هغوئ انسان خالق متصور کوی د خپلو افعال اختیاریو لپاره ﴿وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ﴾ مراد د سنت نه، سنت او عادة د الله تعالی دې . لفظ د الله یا مقدر دې چه هغه مضاف الیه دې اویا اضافت اولین ته د وجه د ادنی ملابست نه دې ځکه چه هغه سبب گرځیدلې وؤ او هغه سنیت د دوئ په باره کښې جاری شوې وؤ نو د دې وجه نه اضافت ئې اولین ته اوشو. او مقصد دا دې چه د الله سنت او عادت د مخکښې خلکو په باره کښې دا چه کله دهغوئ سرکښی زیاته شوه نو الله به هلاك کړل په خپل عذاب سره نو دغه شانتې مشرکین مکه به هم هلاك کړی، او یا دسنت اضافت هم ضمیر ته دې چه هغه مقدر دې او اضافت په خپل ظاهر باندې محمول دې ((ای سنتهم الاولین فی تکذیبهم)) . ﴿وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم﴾ دا زجر ذکر کیږی چه متعلق دې په شکوی پورې، یعنی د دوئ مطالبه داده چه فرشتې دې نازلې شی، نو الله ﷻ فرمائی چه که دوئ آسمان ته هم اوخیژولې شی او هلته د ورځې په وخت کښې فرشتې په خپلو سترگو اوگورې د قدرت ټول مناظر مشاهده کړی نو بیا هم دوئ په خپل کفر باندې کلك دی او ایمان نه راوړی لکه څنگه چه انشقاق قمر وغیره مناظر د قدرت دوئ مشاهده کړی دی ﴿فَظَلُّوا﴾ ضمیر په (ظلوا) او(یعرجون) کښې یا راجع دې فرشتو ته او یا راجع دې کفاروته او (ظل) امام راغب فرمائی چه ((یعبر به عما یفعل به النهار)) او امام رازی فرمائی چه ((لاتقول العرب ظل یظل الا لکل عمل عمل بالنهار)) په دې کښې اشاره ده چه د دوئ دا ټول مناظر کتل دا به بالکل صاف سترا اوپه رڼړا ورځې کښې وی ﴿لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ﴾ تسکیر په سترگو باندې وی ((ای سدت ابصارنا)) یعنی نظر بندی کریده ، او «انما» پدې مقام کښې د حصر لپاره نه دې بلکه مجرد تاکید لپاره دې ځکه چه د تسکین ابصار په مقابله کښې نور افراد محتمله نشته دې نو حصر بلا فائده دې . ﴿بَلْ نَحْنُ﴾ (بل) یا لپاره د ترقی دې ځکه چه تسکیر په سترگو وی او سحر په عقل باندې وی لکه صاحب د بحر فرمائی ((انتقالاً الی درجة عظمی من سحر العقل)) او یا (بل) د اعراض لپاره دې ځکه چه تسکیر او په سکر کښې هغه شې چه په کوم باندی جادو کړې شوې وی هغه هرچاته ښه بل شې په حقیقت کښې په نظر رازی، او په سحر کښې هغه

شي مسحوره صرف مسحورينو ته په بل حقيقت کښې ښکاري، نو اولاً به دوئ اووائی چه دا خو نظر بندی ده او په حقيقت کښې هيڅ شي هم نشته دي او د ټولو خلکو نظر بندی شوې ده خو بيا به او وائی چه نه صرف په مونږ باندې سحر شوې دې ، او يا ئی مقصد دا دې چه اولاً به دوئ او وائی چه مونږ آسمان ته نه يو خيژولې شوی ، صرف نظربندی شوې ده ، بيا به او وائی چه نه آسمان ته خيژولې شوی يو خو په سحر سره خيژولې شوی يو .

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٦﴾
او بيشکه پيدا کړيدی مونږ [1] په آسمان کښې غټ ستوری او خائسته کړي دي مونږ دا آسمان دپاره د کتونکو
وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿١٧﴾ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ
اوحفاظت کړي دي مونږ د دې آسمان د هر شيطان رټلی شوی نه . مګر هغه شيطان چه په غلا سره يوسی
السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٨﴾
هغه خبره اوريدلې شوې ، پس روانه شی په هغه پسې شغله ښکاره .

﴿وَلَقَدْ جَعَلْنَا﴾ اول دليل عقلی تفصيلی ذکر کيږی چه مشتمل دي دَ آفاقی په درې اقسامو باندې چه هغه علوی ، جوی او سفلی دی او دغه شان مشتمل دې په دليل عقلی انفسی باندې

﴿بُرُوجًا﴾ دليل عقلی علوی دې ، دا د برج نه دې چه ماخوذ دې د (برجت المرأة نه ای اذا ظهرت)، د بروج نه په نيزد د بعضو هغه منازل د سياراتو مراد دی چه هغه دولس منازل او د اووه (٧) سياراتو لپاره دی ، هغه دولس منازل دادی : ((حمل ، ثور، جوزاء ، سرطان، اسد ، سنبله، ميزان، عقرب، قوس ، جدی ، دلو ، حوت))، نو اسد لپاره د شمس دې ، قمر لپاره د سرطان دې، مريخ لپاره دحمل او عقرب ، زهره لپاره د ثور او ميزان، عطارد لپاره د جوزاء او سنبله ، مشتری لپاره قوس اوحوت، زحل لپاره جدی او دلو ، نو هر برج مشتمل دې په ديرش (٣٠) درجو باندې او يا هر برج مشتمل دې په دوه منزله او يو ثلث منزل باندې، نو نمر په ورځ کښې يوه درجه او يا په ديارلس (١٣) ورځو کښې يو منزل پوره کوی، او قمر په (٢٨) ورځو کښې د هغه منازل پوره کوی، او تفصيل ئی په سورة (يونس) آيت نمبر (٥) کښې تير شوې دې ، او امام مجاهد رحمه الله ترينه تفسير په ((هی النجوم العظام))

---

١ - اول ديل عقلی تفصيلی، نفی د شرك فی التصرف او شرك فی العلم .

يعنې غټ غټ ستورو سره کړې دې ، په دليل د عطف د (زيناها) سره ځکه تزئين د آسمان په ستورو سره دې ، او بعضې فرمائی چه مراد ترينه هغه لوئ لوئ محلونه دی په آسمان کښې چه د فرشتو د پهره داری لپاره جوړ کړې شويدی ﴿وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ﴾ مراد په نظر کوونکو سره په نظر د عبرت سره نظر کوونکی دی ، په دې کښې اشاره ده ديته چه دا ستوری محض زينت لپاره نه دی بلکه په دې سره نور فوائد هم اخستلې کيږی ځکه چه اسباب د عبرت په دو کښې متعدد دی ﴿وَحَفِظْنَٰهَا﴾ يو مقصد د ستورو نه هغه تزئين د آسمان وو او عبرت سره نظر کوونکو ته پکښې اسباب د عبرت دی، دغه شانتې يو بل مقصد هغه حفاظت د آسمان دې په دې سره د شياطينونه، د اسمان حفاظت د شياطينو نه د دې مقصد څه دې ؟ ځکه چه شياطين خو په ورانولو د آسمان نه دی قادر ، د دې مقصد دادې چه حفاظت د قربت او مقاربة نه مراد د دې نو په نيزد د بعضو شياطين دجنت نه د رټلو نه پس آسمان ته ندی ختلی او په نيزد دبعضو د بعثت د حضور صلی الله عليه وسلم نه پس ندی ختلی او د دې وضاحت په اثر د ابن عباس رضی الله عنه کښې راغليدې چه هغه فرمائی چه شياطين به بغير د څه مانع نه آسمانونو ته ختل او هلته به ئی د فرشتو مختلفې خبرې واوريدلې د غيب والا او بيا به ئی کاهنانو ته هغه دغيب خبرې راوړلې ، چه کله ولادت د حضرت عيسی عليه السلام اوشو نو دوئ په درې آسمانونو باندې بند کړې شو خو دې نورو ته به بلا ممانعت ختل، خو چه کله ولادت مبارکه د حضور صلی الله عليه وسلم وشو نو دوئ په ټولو آسمانونو باندې بند کړې شو،نو هرکله چه دوئ هغه خپلو مقاعدو باندې بند کړې شو نو دوئ دغه فرياد ابليس لعين ته وکړو نو هغه ورته او وئيل چه ضرور څه نوې واقعه به شوې وی، نو هغوئ ئی وليږل چه تاسو وګورئ ، نو هغوئ ګرځيدل چه څينې طائفې د دوئ نه د حضور ﷺ قرآن مجيد واوريدلو نو وې وئيل چه بس همدغه واقعه رونما شويده ځکه مونږ په آسمانونو باندې بند کړې شوی يو ، نو هر کله چه دوئ په آسمان باندې بند کړې شو نو بيا دوئ د فرشتو د کلام اوريدو لپاره قريب اسمان ته څی نو الله رب العزة د آسمان حفاظت د دوئ د مقاربت نه په ذريعه د ستورو سره اوکړو .

﴿شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ﴾ دا د رجم نه دې ، رجم د اصل لغت په اعتبار سره رمی بالحجارة ته وئيلې کيږی، بيا ئی توسعاً اطلاق په مختلفو معانيو باندې کيږی، اطلاق ئی په لعن او طرد «رټل» باندې کيږی لکه اعوذبالله – الخ ، کله ئی اطلاق په قول تخمينی غير يقينی باندې کيږی لکه په سورة الکهف کښې دی ((رجماً بالغيب)) ، کله يې په معنی د شتم اوکنځلو سره رازی لکه په سورة مريم کښې په واقعه د حضرت ابراهيم عليه السلام کښې ((لارجمنك واهجرني)) اوکله په معنی د هر ويشتلې شوی شئ سره

رازی لکه په سورة الملك کښ دی ((وجعلناها رجومًا للشياطين)) اوکله په معنیٰ د قتل سره هم رازی لکه عرب وائی چه ((رجمت فلان)) او شیطان ته رجیم د دې وجه نه وئیلې کیږی چه دې رټلې شوې دې، ملعون شوې دې او یا ورته د دې وجه نه وئیلې کیږی چه دې ویشتلې کیږی بار بار فرشتې ئی په شهاب ثاقب سره ولی ﴿إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ﴾ (استرق) د باب افتعال نه دې په معنی د سرقه سره. یعنی اخذ الشئ بخفیة. او (السمع) په معنی د مسموع سره دې او استثناء بناء بر مذهب اکثر منقطع ده ځکه چه دا سرقه په ماقبل کښ د اخله نده ځکه چه کوم شې دوئ اوریدلې دې هغه بهر د آسمان نه دې او غیر دې د وحې نه او چه کوم محفوظ دې نو هغه په آسمان کښ دې او هغه دوئ اوریدلې نشی چه هغه وحې ده او یا استثناء متصله ده او مراد په (حفظناها) سره حفاظت علی الاطلاق دې او سرقه فی الجمله دوئ کوی (روح). ﴿فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُّبِينٌ﴾ (فاء) په جواب د (من) موصوله کښ راغلیده (او اتبع) باب افعال دې، فرق په مابین د اتبع او تبع کښ دا دې چه تبع مطلقًا په جا پسې روستو تللو ته وئیلې کیږی او اتبع هغه تللو ته وئیلې کیږی چه تیز وی اومخکښې را اونیسی. د دې وجه نه الله ﷻ لفظ د اتبع استعمالوی. او شهاب وئیلې کیږی م((شعلة نار ساطع)) یعنې د اور سپینې پړه قیدونکې شغلې ته وئیلې کیږی، او مقصد دا دې چه کله هم دوئ آسمان کښ د فرشتو د خبرو اوریدلو کوشش کوی نو فرشتې ئی په هغه شهاب ثاقب باندې ولی، لکه په حدیث د حضرت ابو هریرة ﷺ کښ چه راغلیدی چه امام بخاری رحمه الله ذکر کړیدې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایلو چه کله الله پاك د یوې خبرې او یا یو کار په آسمان کښ فیصله اوکړی نو فرشتې د اطاعت او احترام له وجه نه خپلې وزرې وه رپوی او دهغې نه داسې آواز پیدا شی لکه د یو غټ کمر په کاڼړی باندې د زنځیر راښکلو سره چه شنګه آواز پیدا کیږی، اوکله چه د زړونو نه خوف ختم شی نو یو بل ته او وائی چه ستاسو رب څه اوفرمائیل نو نورې فرشتې په جواب کښ ورته او وائی چه بالکل حق وئیلی دی الله ، اوهغه بلند او لوئ ذات دې ، نو دغه شیاطین چه هغه مسترقین السمع دی هغوئ دغه کلمه او دغه خبره واوری او دوئ د یو بل د پاسه وی نو هر یو چه دپاسه ولاړوی هغه لاندینی ته هغه خبره اوروی حتی چه هغه د ټولو نه اخیری شیطان هغه کاهن ته دغه خبره راورسوی ، نو کله داسې اوشی چه د دغه خبرې د را رسولو نه مخکښ مخکښ فرشته هغه شیطان په شهاب باندې وه ولی او کله دې را رسولو کښ کامیاب شی او فرشته ئی روستو او ولی – الخ ، او په دویم

حديث کښې دا مضمون داسې راغليدې چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه فرښتې دهغې فيصله شوې خبرې تذکره په وريځو کښې کوی او دغه شياطين هغه خبره په غلا باندې واوری او بيا ئی د کاهن په غوږ کښې واچوی، او کاهن ورسره سل (۱۰۰) دروغ يوځائ کړی - الخ

په دې مقام کښې يو څو مباحث دی : **اول بحث** دا دې چه . شياطين به قبل البعثت ويشتلی کيدل اوکه نه ؟ نو پدې کښې دوه اقوال دی : يو قول دا دې چه قبل البعثت د شياطينو رجم نه وؤ بلکه دا بعد البعثت شروع شويدې، لپاره د تشريف او تعظيم د نبوت د حضور ﷺ لکه دا قول د زجاج وغيره دې، او دليل ئی نيولې دې په روايت د حضرت ابن عباس ؓ سره چه په صحيحينو کښې مذکور دې چه فرمائی : حضور ﷺ د يوې ډلې د اصحابو سره عکاظ بازار ته لاړو او بيشکه د شياطينو او آسمانی خبرو کښې حائل واقع شوی وؤ او په هغوئ باندې شهاب ثاقب ويشتل شروع شوی وؤ -الخ ، او دغه شانتې د حضرت ابن عمر ؓ نه روايت دې فرمائی چه . «لَمَّا كَانَ يَوْمُ الَّذِيْنَ نُبِّئَ رَسُوْلُ اللهِ فَرُمِيَ بِهَا» يعنی چه کله حضور ﷺ ته نبوت ورکړې شو نو د شياطينو ويشتل شروع شو او دغه شانتې د حضت ابی بن کعب ؓ قول دې چه فرمائی : «لَمْ يَرْمِ بِنَجْمٍ مُنْذُ رُفِعَ عِيْسٰى عليه السلام حَتّٰى نُبِّئَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَرُمِيَ بِهَا» يعنی شياطين به په ستورو نه ويشتل کيدل کوم وخت نه چه عيسی ؑ آسمان ته اوچت کړې شوې وؤ تر دې پورې چه حضور صلی الله عليه وسلم ته نبوت ملاؤ شو نو د هغوئ ويشتل شروع شول .

دويم قول چه د اکثرو مفسرينو قول دې هغه دا دې چه شياطين به قبل البعثت هم ويشتلې کيدلې خو دغه ويشتل ئی کم وؤ اوبعد البعثت پکښې کثرت راغلو ، او د دې قول لپاره ډير شواهد دی لکه په سورة الجن کښې الله ﷻ د جناتو او شياطينو قول نقل کړې دې چه ﴿مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا﴾ د دې نه معلوميږی چه اول نه به هم وؤ خو بعد البعثت پکښې شدت او دير والې راغلې، يعنې دا چوکيداری زياته شوه او سخته شوه حتی چه ټول مواضع ئی ډک اوبند کړل .

دويم شاهد د دې قول لپاره هغه دا قول د الله تعالی دې چه په سورة الملک کښې فرمائی : ﴿وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَجَعَلْنَاهَا رُجُومًا لِّلشَّيَاطِينِ﴾ نو پدې آيت کښې الله رب العزة د ستورو يوه فائده دا ذکر کړيده چه دا زينت دې لپاره د آسمان او دويمه فائده ئی دا ذکر کړيده چه دا رجومًا للشياطين دی نو څنګه چه زينت قبل البعثت موجود وؤ نو دغه شانتې رجم للشياطين به هم قبل البعثت وی .

دريم شاهد هغه حديث د ابن عباس ؓ دې چه نقل کړيدې بيهقی په کتاب القسامة ، باب ما

جاء فی النهی عن الکهانة ، فرمائی چه : ((بینا النبی صلی الله علیه وسلم جالسًا فی نفر من اصحابه اذ رُمِیَ بنجم فاستنار فقال علیه الصلوة والسلام : ماکنتم تقولون فی مثل هذا فی الجاهلیة، قالوا کنا نقول یموت عظیم او یولد عظیم، فقال النبی صلی الله علیه وسلم انها لاترمی لموت احد ولا لحیاته ولکن الله سبحانه وتعالی اذا قضی امرًا فی السماء سبح حملة العرش — الخ)) دا حدیث صریح دي پدې خبره چه دا به په جاهلیت کښې هم وؤ او دغه شانتې چه کله د امام زهری رحمه الله نه تپوس اوکړې شو چه ((اَکان فی الجاهلیة؟ قال نعم)) .

څلورم شاهد هغه اشعار د جاهلیت دی، د جاهلیت په اشعارو کښې د دې تذکرې میلاویږی، لکه د جاهلیت د زمانې شاعر اوس بن حجر هغه په خپلو اشعارو کښې تذکره کړیده :

فانقض کالدری یتبعه نقع یثور تخاله طنب

او په شعر د عوف بن خرم کښې دی :

یرد علینا العیر من دونه الفه اوالثور کالدری یتبعه الدم

او په شعر د ذوالرمة کښې دی

کانه کوکب فی اثر عفریة مسوّم فی سواد اللیل منقضب

او پنځم شاهد د دې قول لپاره هغه اتفاق د فلاسفو متقدمینو او متاخرینو دې په دې چه سبب د انقضاض د شهاب څنګه چه بعد البعثت موجود دې نو دغه شانتې قبل البعثت هم موجود وؤ چه هغه ارتفاع د بخاراتو ده او بیا د شدت حرارت دوجه نه لمبه واخلی نو تعبیر ترینه کیږی په شهاب ثاقب سره .

بعضې خلکو تطبیق داسې کړیدې چه قبل البعثت به شهاب ثاقب موجود وؤ خو د نورو فوائدو لپاره او رجم د شیاطینو به ورسره نه کیدلو او بعد البعثت ترینه دا فائده اخستلې کیږی، خو دا قول بلا دلیل دې او مخالف دې د سورة الجن دآیت د مضمون سره او د حدیث د ابن عباس رضی الله عنه سره، نو زیات صحیح مذهب دا دې چه قبل البعثت هم دا رجم موجود وؤ خو بعد البعثت پکښې تشدید او زیاتوالې راغلې دې، تعظیمًا وتشریفًا لنبوة نبینا صلی الله علیه وسلم .

دویم بحث هغه دا دې چه آیا شیاطین په رجم سره مړه کیږی اوکنه ؟ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه یو قول دا منقول دې او دا قول راجح دې چه هغه فرمائی : شهاب سره دوئ قتل کیږی نه بلکه کله ورسره ګډ شی، کله ورسره لیونې شی چه بیا په لارو کښې خلک یروی، ماشومان یروی، او د حضرت حسن بصری رحمه الله نه روایت دې، هغه فرمائی چه په شهاب سره دوئ قتل کیږی. اوبعضې

علماء اودغه شانتې حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته هم دا قول منسوب دې چه فرمائي چه په شهاب سره خینې ګډ اوشل شي، حینې ورسره لیونی شي او خینې ورسره قتل شي. لیکن دا وروستنی دواړه اقوال مرجوح دی.

دویم بحث هغه څه سوالات اوجوابات دی پدې موضوع کښې چه امام رازی رحمه الله وغیره نقل کړیدی: (۱) **اول اشکال**: دا دې چه هرکله شیاطین په شهاب ثاقب سره قتل کیږی او یا ورته نور نقصان رسیږی نو څه وجه ده چه هغوئ بیا بیا عود کوی، څکه چه په کوم شی کښې نقصان متیقن وی نو هغې کارته څوك هم عود نه کوی، نو معلومه شوه چه دوئ ته به څه نقصان نه رسی. نو **جواب** دا دې چه د انسان ګمراه کول دا د دوئ د زندګئ مقصد دې او د مقصد د حصول لپاره هر قسم تکلیف برداشت کول آسان وی، حضرت مولانا شبیر احمد عثمان رحمه الله فرمائی چه څنګه بعضې خلکو د خپلې زندګئ مقصد د قطب جنوبی او دهمالیه اوچتوغرونو تحقیق کول ګرزولیدی او په هغې کښې مختلفو افرادو ته نقصانات ملاؤ شیدی حتی چه اکثر پکښې مړه شی خو بیا هم نور کسان دغه جداوجهد نه پریږدی نو دغه شانته پدې باندې د شیاطینو جدوجهد هم قیاس دې، اوامام رازی رحمه الله فرمائی چه کله قضاء راشی نو سترګې ړندې شی او د نقصان والا کار کښې بیا هغه ته خوند او سرور محسوسیږی اوهغه کار پریخودلو ته تیار نه وی.

دویم اشکال دا دې چه د ثخن د آسمان پنځه سوه کاله د مسافت برابر دې اوس به یا شیاطین آسمان ته داخل شوی وی او یا به نوی داخل شوی، اول یعنی دخول ئې باطل دې څکه چه هغه مستلزم دې فطور لره په آسمان کښې او فطور په آسمان کښې نشی راتلې له وجه د دې قول د الله تعالی نه چه فرمائی: ﴿فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ﴾ اوکه داخل شوې نه وی نو دومره بعید مسافت نه څنګه دوئ د فرشتو کلام اوری؟ نو **جواب** اولاً په تقدیر دمنع سره دې چه نه منم چه ثخن د آسمان د پنځه سوه کاله مسافت برابر دې بلکه د احادیثو د تصریح مطابق دا مسافت دیو آسمان نه بل آسمان پورې دې، او ثانیًا په تقدیر د تسلیم سره دغه کلام د فرشتو چه دوئ ئې آوری دا په عنان او په وریځ کښې وی لکه په حدیث د بخاری شریف کښې ذکر دی چه مخکښې تیر شوې دې، او مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی چه دا اوریدل داسې وی لکه نن صبا وائرلس، موبائل فون وغیره شو، نو ممکنه ده چه دې شیاطینو هم د فرشتو د کلام اوریدلو لپاره دغه شانتې څه طریقې ئ اختیار کړې وی.

دریم اشکال دا دې چه شهاب ثاقب د اُور لمبه ده او د شیاطینو تخلیق هم د اُور نه شوې دې، نو اور خو اور ته تقویت ورکوی ، نقصان نه ورکوی، نو څنګه به ورسره شیطان قتل شی یا به ګډ اوشل شی؟ نو **جواب** دا دې چه د شیطان دمادې تخلیق صرف د اُور نه ندې بلکه اُور پکښې عنصر غالب دې لکه څنګه چه د انسان مادهٔ تخلیق صرف خاوره نده بلکه خاوره پکښې عنصر غالب دې د دې وجه نه خاوره د انسان وجود خوری، نو هرکله چه د شیطان ماده دتخلیق صرف اور نه شو بلکه اور پکښې عنصر غالب شو او شهاب ثاقب خو خالص اور دې نو د دې وجه نه په شهاب ثاقب سره شیطان ته نقصان رسیږی.

څلورم اشکال پدې مقام کښې دا دې چه الله پاك د دوئ نه د آسمان ته قریب ختلو والا طاقت ولې نه سلب کوی چه بیا په شهاب ثاقب سره د ویشتلو ضرورت هم پاتې نشی ؟ نو **جواب** دا دې چه په هر کار کښې د الله پاك یو خپل حکمت او مصلحت وی ، د آسمانونو نظام الله پاك په داسې یو مضبوطې طریقې سره جوړ کړې دې چه شیطان هلته د قدم ایښخودلو بالکل طاقت نه لری او یا د آسمانی فیصلو په باره کښې څه معلومات حاصل کړئ دا بالکل ممکن نده، خو د ډیر لوئ محنت نه وروستو یو لفظ د فرشتو نه په پټه را تښتول که چرته الله رب العزة اراده شوې وې دا به ئې هم منع کړی وؤ خو دا طریقه نه بنده ول پدې کښې د الله پاك ضرور یو حکمت او مصلحت وی لکه د انسان آزمائش وغیره شو.

پنځم مشهور اشکال هغه دا وارديږی چه سرقه د کلام ممکنه ده، خو ورستو له صوت او آواز نه، او صوت حاصليږی په تموج د هوا سره څکه چه د صوت تعریف د علماؤ نه داسې منقول دې چه ((کیفیة قائمة بالهواء یحملها الی الصماخ)) یعنی صوت هغه کیفیت ته وئیلې کیږی چه قائم وی په هوا پورې او هوائی غوږونو ته رسوی، اوعلامه تفتازانی رحمه الله د دې تشریح داسې کړیده : فرمائی چه ((والصوت یحصل من التموج المعلول للفرع الذی هو اساس عنیف، والقلع الذی هو تفریق عنیف بشرط مقاومة المقروع للقارع والمقلوع للقالع)) نو معلومه شوه چه آواز پیدا کیدل دا د هواء د وجه نه دی او په مقعر الفلك کښې هو انشته دې نو څنګه صوت پیدا شو چه شیاطین دهغې سرقه کوی ؟ **جواب** دا دې چه الله پاك قادر مطلق ا و فاعل مختار ذات دې نو ممکنه ده چه الله پاك په هغه ځائ کښې د صوت پیدا کولو لپاره بل سبب پیدا کړې وی ، او یا د فرشتو دا کلام تحت مقعر الفلك وی یعنی په خلاء کښې دې نه وی بلکه په وریځ کښې دې وی لکه چه حدیث کښې ذکر شوی دی چه مخکښې تیر شو او وریځ په خلاء کښې نده بلکه هلته هواء موجوده ده .

تنبيه دفلاسفهؤ او سائنسدانانو تحقيق دا دې چه شهاب ثاقب حقيقت هغه د زمكې بخارات دي چه په هغې كښې څه ماده د اور هم وي او چه كله بره اوخيژي نو دشدت حرارت نه د اُور يو د لمبه ترينه جوړه شي، د دوئ دا قول د قرآن مجيد سره څه منافات نه لري ځكه چه قرآن د اشياؤ د ساخت او اجزاؤ د تركيب نه بحث نه كوي بلكه د هغې مقاصد بيانوي او سائنس هغه د اشياؤ ساخت بيانوي نو ممكنه ده چه د دې اجزاء او حقيقت دې هغه بخارات وي چه مشتمل دي په ماده ناريه باندې، او الله پاك دې د دې تخليق درجم شياطين لپاره كړې وي.

وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَأَنْبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ
او زمكه غوړولې ده مونږ او ايخي دي مونږ په هغې كښې غټ غرونه او زرغون كړي دي مونږ په دې كښې د هر څيز نه
مَّوْزُوْنٍ ۝ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ
په اندازې سره . او گرزولي دي مونږ ستاسو لپاره په هغې كښې اسباب د ژوند تيرولو او داسې مخلوق چه نه يئ تاسو هغوئ له
بِرٰزِقِيْنَ ۝ وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ۝
روزي وركونكي . او نيشته هيڅ شې مگر زمونږ سره دهغې خزانې دي ، او نه نازله وو مونږ هغې لره مگر په اندازې معلومې سره .

﴿ وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا ﴾ دا دليل دې د سفلياتونه، «مددنا» په معنى د «بسطنا» سره دې ، د زمكې د بسط نه تعبير په مختلفو الفاظو سره شوې دې ، كله ترينه تعبير په لفظ د «مد» سره كيږي لكه پدې ځائې كښې او په سورة الرعد آيت نمبر (۳)﴿ وَهُوَ الَّذِيْ مَدَّ الْأَرْضَ ﴾ كښې شو، كله ورله لفظ د «دحو» استعماليږي لكه په سورة النازعات ، آيت نمبر (۳)﴿ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰهَا ۝ ﴾ كښې شو او په څينې مقاماتو كښې په لفظ د فرش سره ذكر شوې دې لكه په سورة البقرة ، آيت نمبر (۲۲) ﴿ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرٰشًا ﴾ كښې ، يا په سورة الذاريات ، آيت نمبر (۴۸)﴿ وَالْأَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴾ كښې شو، د دې ټولو نه مراد بسط او خورول د زمكې په داسې طريقې سره دي چه اوسيدونكي ترينه فائده واخلي ، باقي د اهل هيئت دا خبره چه زمكه كرّه ده او سطح مستوى نده پدې آيت كښې د دوئ د دې قول څه نفي نشته دې ځكه چه زمكه كره عظيمه ده ، او كره عظيمه په شانته دې سطح مستوى ، **اشكال** وارديږي چه په سورة انشقاق آيت نمبر (۳)﴿ وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ ﴾ كښې الله پاك (مد) د زمكې په ورځ د قيامت خودلې دې ، او پدې آيت كښې ئې قبل القيامت ښودلې دې ، **جواب** دا دې

چه هلته ترینه مراد مد کامل اوبسط کامل دې چه نه به پکښې غرونه وی اونه به پکښې څه کندې وی لوړ او جوړ به پکښې نه وی ، خالص یو مستوی میدان به وی لکه الله پاك فرمائی ﴿لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا ﴿١٠٧﴾﴾ او دلته ترینه مراد مطلق بسط او مطلق مد دې په داسې طریقې سره چه فائده ترینه اخیستلې کیږی

﴿وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ﴾ جمع د راسیه ده اوهغه جمع د راس ده گویا که چه دا جمع الجمع ده . غرونو ته وئیلې کیږی ، یعنی الله پاك دا غرونه په زمکه باندې د میخونو په طور اولگول لکه په سورة النباء ، آیت نمبر (۷) کښې فرمائی ﴿وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا﴾ اودغه شانته په سورة النحل آیت نمبر (۱۵) کښې فرمائی چه ﴿وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ﴾ ، د حضرت ابن عباس ﷺ نه منقول دی چه فرمائی : کله چه الله پاك زمکه په اوبو باندې خوره کړه نو دا خوزیدله لکه څنگه چه کښتئ یو طرف او بل طرف ته خوزیږی نو الله پاك دپاسه دهغې غرونه پیدا کړل لپاره د دې چه قابل د انتفاع شی ﴿وَأَنبَتْنَا فِيهَا﴾ ظاهر دا دې چه ضمیر راجع دې زمکې ته، او بعضې فرمائی چه (رواسی) یعنی غرونو ته راجع دې ځکه چه هغه قریب دی ﴿مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ﴾ موزون په معنی د اندازې سره دې ، په دې کښې اشاره ده دیته چه د هرشی لپاره الله رب العزة د مصلحت مطابق یوه اندازه مقرر کړیده چه دغه شئ د هغه اندازې نه بهرته نشی وتلې ، حضرت شاه ولی الله ﷫ فرمائی ((هر نوع را صورتی وصفتی است که از آنجا تجاوز نمیکند)) ، او یا ترینه مراد اشیاء موزونه دی لکه سپین زر، سره زر، پیتل، اوسپنه ، رانجه وغیره شو چه دا ټول معدنیات چه تللې کیږی الله پاك د زمکې نه پیدا کړی دی ، او یا د موزون نه مراد قابل رتبه اشیاء دی او مقصد دا دې چه پدې زمکه کښې څه اشیاء داسې هم دی چه هغوئ ته یوه خصوصی رتبه حاصله ده (مظهری) .

﴿وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ﴾ جمع د معیشة ده ، وئیلې کیږی (ما یعیش به الانسان) ته، یعنی اسباب د ژوند د تیرولو په دنیا کښې لکه خوراك ، څښاك وغیره شو دا ټول د زمکې نه دی . ﴿وَمَن لَّسْتُمْ لَهُ بِرَازِقِينَ﴾ په معطوف علیه د ((من لستم)) کښې دوه احتماله دی ، یو احتمال دا دې چه دا دې عطف شی په (لکم) کښې په (کم) ضمیر مجروره باندې او دا احتمال زیات راجع دې او مقصد د آیت دا دې چه ستاسو لپاره اوستاسواولاد ، خادمانو وغیره لپاره د روزی اسباب مونږ دزمکې نه پیدا کړیدی ، باقی پاتې شو د نحویانو قانون چه ((اذَا عُطِفَ عَلَى الضَّمِيْرِ المجرور

أُعِيدَ الْخَافِضُ» نو دا قانون کلي نه دي ، صرف د بصريانو په مذهب اعاده دخافض واجبه ده .
او دويم احتمال دا دي چه دا دي عطف شي په «معايش» باندي او مقصد د آيت دا دي چه تاسو لپاره مونږ معايش هم پيدا کړيدی په زمکه کښې اوهغه اشياء هم چه تاسو ورله رزق ورکوونکی يئ، او مراد د (من لستم) نه واړه بچی، غلامان، وينزې او څناور وغيره دی . او پدې کښې رد دې د کفارو په هغه فاسدې عقيدې باندې چه غلامان ، وينزې او ماشومان بچوته رزق مونږ ورکوو، نو الله پاك اوفرمائيل : رزق ورکوونکې ټولو ته صرف زه يم، اسباب د روزی د ټولو لپاره ما پيدا کړی دی .

تنبيه : «مَنْ» د ذوی العقولو لپاره مختص دې او په آيت کښې ذوی العقول او غير ذوی العقول دواړه مراد دی خو بيا هم «مَنْ» راوړې شو ، وجه دا ده چه کله په يو کلام کښې ذوی العقول او غير ذوی العقول دواړه جمع شي نو غلبه به ذوی العقول ته ورکولې کيږی د دې وجه نه دلته هم من راوړې شو ، او بعضې فرئی چه په آيت کښې صرف عيال، ممالیك ، خدم او عبيد مراد دی، په دليل د استعمال د لفظ «من» سره ، اوبعضې فرمائی چه «من» په معنی د «ما» سره دې او مراد ترينه غير ذوی العقول دی ، او «من» کله کله په معنی د «ما» سره راځی لکه څنګه چه «ما» کله کله په معنی د«من» سره راځی، او امام رازی رحمه الله فرمايي چه «من» د غير ذوی العقول لپاره هم استعماليږی حقيقةً ، ځکه چه غير ذوی العقول مشابه دی د ذوی العقول سره په طلب د حاجت پوره کولو کښې د الله تعالی نه، او د دې وجه نه خطاب ورته په صيغې د جمع عقلاؤ سره شوې دې په سورة النمل کښې چه ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ﴾ اودغه شان په سورة الانبياء آيت نمبر (۳۳) کښې هم ذکر شوی دی په صيغه د جمع عقلاؤ سره چه ﴿كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ﴾ ، امام رازی رحمه الله واقعه نقل کړيده چه بعضې علاقو کښې ګرمی سخته شوه او اوبه ختمې شوې نو ځينې څناور وکتلې شو چه هغوئ خپل سرونه آسمان ته اوچت کړی وو د سختې تندې د وجهې نه ، نو وريځ راغله او باران اوشو چه ټولې واديانې د اوبونه ډکې شوې . ﴿وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا عِندَنَا﴾ حرف نفی اوحرف استثناء مفيد لپاره د حصر دی، پدې ايت کښې دوه قدرتونو باندې تصريح ده : يو دا چه ټولې خزانې د رزق د الله پاك په قدرت کښې دی ، دويم دا چه تصرف کوونکې ، تقسيم کوونکې هم الله پاك دې، که د چا دا عقيده وی چه د الله پاك نه علاوه يو بزرګ ، ولی حتی چه پيغمبر هغه د خزانو د رزق مالك دې ، يا ورسره تصرف خدائی دې د آيت په رو سره مشرك او کافر دې ﴿خَزَآئِنُهُۥ﴾ مراد د خزائنونه يا باران دې ځکه

چه پدې سره زمکې نه نباتات او رزق را خيژي او هرشې ورسره ژوندې کيږي او باران سبب د رزق د انسانانو .وحوشو ، طيورو دې ، او يا ترينه مراد مفاتيح د خزانو دی ((ای فی السماء مفاتيح الارزاق)) . (قرطبی) ، په دې کښې اشاره ده وسعت د قدرت ته (روح) ﴿وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ﴾ په دې کښې اشاره ده بلوغ دحکمت ته ، يعنی الله سره بې حسابه خزانې دی د رزق دی ، خو مخلوقاتو ته ئی د مصلحت مطابق ورکوی، او مراد د نزول نه ابداع، ايجاد او انشاء ده او تعبير ترينه په نزول سره د دې وجه نه اوشو چه د خزانو ايجاد دا په طريقه د تفضل او امتنان سره دې دعالم علوی نه عالم سفلی ته او ﴿بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ﴾ نه مراد دادې چه په هرې زمکې کښې الله پاك د باران لپاره يو حد او مقدار مقرر کړې دې.

وَأَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنٰكُمُوهُ
او ليګو مونږ هواګانې بارې کونکې (بلاربونکې) دی (وريځو لره) پس را اووړو مونږ د آسمان نه اوبه، پس اوڅکوو تاسو ته هغه
وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخٰزِنِينَ ﴿٢٢﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْىِۦ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾
او نه يئ تاسو هغې لره جمع کونکی . او بيشکه صرف مونږ ژوندی کول او مړه کول کوؤ او مونږ باقی پاتې کيدونکی يو
وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ
او بيشکه پيژنو مونږ مخکنی خلك د ستاسو نه او بيشکه پيژنو مونږ روستنی خلك اوبيشکه رب ستا
هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾
هغه به جمع کړی هغوئ لره، بيشکه هغه دې حکمتونو والا او عالم دې په هرڅه باندې .

﴿وَأَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوٰقِحَ﴾ بل قدرت د الله تعالی ذکر کيږی ، دليل دې د وجوبياتو نه ، (رياح) جمع د ريح ده ، وئيلې کيږی ((جِسْمٌ لَطِيفٌ مُنِيبٌ فِي الْجَوِّ سَرِيعُ الْمَمَرِّ)) د دغه حرکت لپاره به يو سبب وی او دغه سبب ذات د هوا نشی جوړيدلې اوکه تو لازم به شی حرکت د هوا په دوام ذاتی سره او دا باطل دې، نو معلومه شوه چه د دې لپاره سبب هغه ذات د الله تعالی دې چه قادر مطلق او فاعل مختار دې ﴿لَوٰقِحَ﴾ جمع د لاقح ده په معنی د حامل سره او هواته لاقح د دې وجه نه وئيلې شی چه دا حامله د سحاب لپاره ده ، او يا حامله ده د هغه اوبو لپاره چه وريځې ته ئی رسوی، لکه

په قول د ابن مسعود ﷺ کښې دی چه فرمائی الله تعالی هواګانې اوچلوی اوهغوئ اوبه را اوچتې کړی او بیا ئی په وریځ کښې واچوی او هغه وریځې بیا د هوا سره ځی یعنی د هواء د وجې نه هغه وریځ روانه وی ، او اوبه ورکوی په شانته د پئ ورکولو د اوښې . او امام ابو عبیده رحمه الله فرمائی چه (لواقح) په معنی د ملاقح سره دی چه جمع د (ملقحة) ده ، اومعنی ئی ده غیر لره حامله کوونکې، لکه پدې قول د شاعر کښې دی ع- ومختبط مما تحیط الطوائح

(طوائح) په معنی د مطاوح سره دې. مقصد د آیت دا دې چه وریځ اول شنده وی چه هواګانې ورسره اولګی نو باری اوحامله شی او باران اووره وی لکه څنګه چه دغه هوا په ونو اولګی نو میوې پکښې پیدا شی، او امام راغب رحمه الله فرمائی چه دلته لفظ د (ذو) مقدر دې. «ای ذات لقاح وحمل» او عرب ریح لاقح هغې ته وائی چه په هغې کښې خیر اوباران وی ، او د دې ضد ریح عقیم دې او دا هغې ته وئیلې کیږی چه په هغې کښې خیر نه وی .

﴿وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ﴾ یعنی دا باران زمونږ په خزانو کښې دې، تاسو د دې خزانو مالکان نه یئ. او یا خازنین په معنی د حافظین سره دې، او یا په معنی د مانعین سره دې (ای ما انتم له بمانعین لانزاله من السماء) ﴿وَنَحْنُ ٱلْوَٰرِثُونَ﴾ مراد دَ وارث نه ملك تامه او حقیقیه دې، یعنی چه کله مجازی مالکان فناء شی، ملکیت مجازی به ئی ختم شی او صرف تن تنها د الله ﷻ ذات به پاتې شی چه دا ټول څیزونه دهغه په ملك کښې دی حقیقةً او متصرف بالذات اوحقیقةً هغه ذات د الله تعالی دې ، او متصرف صورةً او مجازی اومالك مجازاً هغه الله تعالی انسان جوړ کړې دې نو د انسان په فناء کیدو سره تصرف صوری او ملکیت مجازی به ختم شی، نو د دې حالت نه تعبیر اوشو په وراثت سره چه هغه ارث تامه دې. ﴿وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ﴾ پدې کښې اشاره ده دیته چه عالم په ماکان او په ما یکون باندې صرف الله تعالی دې ، د مستقدمین او مستاخرین ډیرې ترجمې شویدی : (۱) حضرت عکرمه اوقتاده رحمهما الله فرمائی چه مستقدمین نه مراد هغه دی چه تر نن ورځې پورې پیدا دی او د مستاخرین نه مراد هغه دی چه وروستو پیدا کیدونکی دی (۲) حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه (المستقدمین) نه مراد هغه دی چه کوم مړه دی او (المستاخرین) نه مراد هغه دی چه ژوندی دی ، (۳) امام مجاهد د (المستقدمین) مصداق مَن تَقَدَّمَ امة محمد صلی الله علیه وسلم ګرزولی دی او د المستاخرین مصداق ئی امة محمدیه ګرزولې دې (۴) حضرت حسن بصری او د حضرت قتادة دویم قول دا دې چه (المستقدمین) نه مراد هغه دی چه مخکښې کیدونکی وی په خیر او طاعت کښې او

مستاخرين نه مراد معصيت اوشر كوونكي دى، يعنى روستى كيدونكى په خير او طاعت كښ (٥) حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله د (المستقدمين) او د (المستاخرين) نه صفوف الحرب په جهاد كښ مراد كړيدى (٦) قرطبى فرمائى چه مستقدمين هغه دى چه شهداء دى او مستاخرين هغه دى چه لا تر اوسه پورې ندى شهيدان شوى (٧) امام شعبى رحمه الله فرمائى چه (المستقدمين) اول الخلق دى او (المستاخرين) بعد الخلق دى (٨) له حضرت امام اوزاعى رحمه الله نه روايت دې چه المستقدمين نه مراد هغه دى چه مونځ كوونكى وى په اول وقت كامله مستحبه كښ او مستاخرين هغه دى چه په اخر وقت كښ مونځ ادا كوونكى وى (٩) د حضرت ابن عباس رضي الله عنه دويم روايت دا دې چه المستقدمين نه مراد هغه دى چه اول صف ته مخكښ كيدونكى وى او مستاخرين نه مراد هغه دى چه وروستنى صفونو كښ وى ، او دا آخرى معنى زياته مناسبه ده دشان نزول سره چه ذكر كړيدې امام ترمذى رحمه الله په كتاب التفسير كښ او امام نسائى په باب المنفرد خلف الصلوة كښ او ابن ماجه په الخشوع فى الصلوة كښ او ابن كثير اوابن جرير طبرى په خپلو تفاسيرو كښ چه حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه : يوه حسينه زنانه وه چه مونځ به ئى كولو شاته د رسول الله ﷺ نه نو ځيني كسان به دهغې د ليدلو نه د ځان بچ كولو لپاره اول صف ته مخكښ كيدونكى وو او ځيني كسان دهغې د ليدلو لپاره به وروستو صف كښ اودريدل او بيا به ئى په ركوع كښ لاندې د خپلو ترخونو (اباط) نه هغې ته كتل، نو الله تعالى دا آيت نازل كړو .

فائده (١) : دا واقعه قبل نزول الحجاب وه (٢) ابن كثير دا روايت نقل كړيدې او بيا ئى فرمائلى دى چه : ((وهذا الحديث فيه نكارة شديدة — الخ)) وجه داده چه ابو الجوزا چه هغه د صحيحينُ راوى دې او ثقه دې دهغه نه دا روايت عمروبن مالك چه هغه مدار سند دې نقل كړې دې اوعمرو بن مالك د سنن اربعه راوى دې ، حافظ رحمه الله دهغه په باره كښ فرمائى چه ((صدوق حسن)) بيا دعمروبن مالك نه دا روايت جعفر بن سليمان او نوح بن قيس الحدانى دواړو نقل كړيدې، خو جعفر بن سليمان ئى موقوف د ابو الجوزاء وائى او نوح بن قيس هغه ئى رفع كوى ابن عباس ته ، او جعفر بن سليمان او نوح بن قيس دواړه ثقه او د صحيح مسلم راويان دى خو جعفر بن سليمان زيات اوثق دې د نوح بن قيس نه ، وجه داده چه د نوح بن قيس په باره كښ حافظ ابن حجر فرمائى چه ((ثقة الا انه رمى بالتشيع)) او جعفر بن سليمان باندې هم د تشيع الزام دې خو دهغه نه د حضرات شيخينو په باره كښ فضائل او مدح مروى ده او ابن عدى د ده په باره كښ فرمائى چه ((ارجو انه لا باس به يجب ان يقبل حديثه)) نو د دې وجه نه د ابن عباس رضي الله عنه ته مرفوع كول دا منكر

دي، نو زیاته صحیح خبره داده چه دا د مراسیل د ابو الجوزاء چه هغه ثقه راوی دي شمار کړې شی «والله اعلم» (۳) په دې کښې اشاره ده فضیلت د صف اول ته هم او په حدیث د بخاری کښې راغلیدی ((لویعلم الناس مافی النداء والصف الاول – الخ)) یعنی حضور ﷺ فرمائی چه که دا خلك په هغه ثواب خبر شی چه کوم په اذان ورکولو کښې دې او په صف اول کښې په اودریدو کښې دې نو که بیا دوئ ته بغیر د خسنی «قرع، استهام» موقعه نه میلاویږی نو دوئ به دهغې اسان ثواب د حاصلولو لپاره خسنې هم کوی . ﴿وَإِنَّ رَبَّكَ﴾ کاف ضمیر خطاب چه عبارت دې د حضور ﷺ نه هغې ته نسبت د رب کول دا لطفاً دې ﴿هُوَ﴾ ضمیر فصل دې لپاره د تقویت دحکم راوړې شوې دې

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿۲۶﴾
او بیشکه پیدا کړیدې مونږ انسان د خاورې ټنګارکوونکې د ختې زړې شوې بد بوئ کوونکې نه
وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُومِ ﴿۲۷﴾
او پلار د پیریانو پیدا کړیدې مونږ مخکښې د آدم نه د اورګرم نه

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا﴾ دا دلیل دې د انفسیاتو نه چه انسان ته الله فرمائی چه خپل حقیقت باندې سوچ وکړه چه ته څه شې وې او څنګه پیدا شوې یې او چا پیدا کړې یې ، شیطان ستاسو ازلی دشمن دې دهغه په تابعداری کښې چرته شرك اونکړئ ﴿مِن صَلْصَالٍ﴾ زمخشری لیکی چه ((الصلصال الطین الیابس الذی یصلصل وهو غیر مطبوخ واذا طبخ فهو فخار)) یعنی هغه اوچې خاورې ته ونیلې کیږی چه ټرنګارې کوی یعنی کچه کودرې، اوچه کله پخه شی په اورنو باندې نو بیا ورته «فخار» ونیلې کیږی ، او فراء ورسره د یوبل قید اضافه هم کړیده چه ((هو طین خلط برمل)) یعنی هغه خته چه شګه ورسره ګډه کړې شوې وی ، نو خلاصه دا شوه چه صلصال ونیلې کیږی هغه خاورې ته چه شګه ورسره ګډه کړې شوې وی او ټرنګارې کوی.

اوبعضې مفسرین فرمائی لکه مجاهد او کسائی شو چه «صلصال» ماخود دې د «صل اللحم» نه چه کله بدبوداره او متغیره شی غوښه، خو دا قول ضعیف دې ځکه چه بناء پدې قول فرق به پاتې نه شی په مابین د «صلصال» او «حماء» کښې . ﴿حَمَإٍ﴾ جمع د حماءة ده هغه ختې ته ونیلې کیږی چه ډیر وخت لونده پریخودې شی چه خمیره شی او رنګ ئې تور شوې وی ﴿مَّسْنُونٍ﴾ د دې په ماخذ او پ

معنی کښې شپږ اقوال دی، د ټولو نه زیات راجح قول دا دې چه دا ماخوذ دې د ((اسن الماء ای اذا تغیر)) نه . لکه په سورة محمد کښې الله تعالی فرمائی : ﴿أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ﴾ دا صفت وقع شویدې د ﴿حَمَإٍ﴾ لپاره ، مقصد دا دې چه هغه خټه چه متغیره شوې وی او بدبو داره شوې وی .

فائده دحضرت آدم ﷺ دپیدائش اطوار او مراحل اووه ۷ دی او ترتیب ئی دا دې : **اول** خاوره (تراب) وه لکه په سورة الحج آیت نمبر (۵) کښې دی ، **دویم** بیا خټه (طین) شوه لکه په سورة مؤمن آیت نمبر (۱۲) کښې دی ، **دریم** : بیا څه وخت پریخودې شوه نو سلیخناکه (لازب) شوه لکه په سورة الصفت آیت نمبر (۱۱) کښې دی ، **څلورم** : بیا څه وخت (څلوینبت کاله) پریخودې شوه نو خمیره اومتغیره ((حماء مسنون)) شوه ، **پنځم** : بیا چه اوچه شوه او کړنګار ئی کولو نو کچه کودرې (صلصال) شوه لکه چه دا دواړه پدې آیت کښې مذکور دی ، **شپږم** : بیا چه آواز ئی مشابه شو د ټکری سره نو کالفخار شوه لکه په سورة الرحمن آیت نمبر (۱۴) کښې دی ، **اووم** : او بیا اوومه مرحله د روح ده لکه راتلونکی آیت نمبر (۲۹) کښې دی او د روح ترتیب دا وؤ چه روح د سر د طرفه شروع شوې وؤ چه کله سترګوته راغې نو د الله تعالی قدرتونه ئی اولیدل، چه کله پوزې ته را اورسیدلو نو پرنجې (چهینك) ئې اوکړو، اوچه کله خولې ته را اورسیدلو نو (الحمد الله) ئی اوویلو، او بیا چه خیټې ته را ورسیدلو نو لوږه ورته اولګیده او د خوراك خواهش ئی اوشو ، نو د دې وجه نه الله تعالی فرمائی چه ﴿وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ عَجُولًا﴾ اوبیا آخرته را ورسیدلو او حضرت آدم ﷺ مکمل شو، امام راغب رحمه الله فرمائی چه کله خټه سلیخناکه شوه او دهغې نه وروستو بیا حماء مسنون یعنی خمیره شوه او دهغې نه وروستو اوچه کړې شوه نو صلصال شوه نو دغه پوخوالې دا په هوا سره شوې وؤ او د صلصال نه وروستو کالفخار پدې کښې د اور څه نه څه کردار داخل وؤ ، مقصد دا دې چه د انسان ماده هغه صرف خاوره نده بلکه خاوره ، اوبه ، هوا او اور دا څلور واړه دی خو خاوره پکښې عنصر غالب دې .

﴿وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَٰهُ﴾ مراد د جان نه ابوالجن دې چه هغه د جناتو پلار دې لکه څنګه چه آدم ﷺ پلار د انسانانو دې، او ابلیس پلار لپاره د شیطانانو دې، او فرق په مابین دجناتو او د شیاطینو کښې دا دې چه په جناتو کښې کافر او مسلمان وی، خوراك او څکاك کوی ، توالد ، تناسل پکښې وی ، مړه کیږی. ژوندی کیږی لکه دبنی آدم په شان، او په شیاطین هغو کښې مسلمان نه وی بلکه هغوئ مردود دی اګرچه نفس امکان پکښې شته دې او استعداد د ایمان ورته ورکړې شوې دې (ورنه لازم

به شي تکليف بما لايطاق، خو وقوع د ايمان ترينه نده متحققه. او دغه شانته هغوئ مړه کيږي هم نه بلکه هغه وخت کښې به مړه کيږي چه کله ابليس لعين مړ شي . دا راجح قول دې . اوبعضې مفسرين فرمائي چه «جان» او ابليس يو دی، وهب بن منبه فرمائي چه دجناتو دوه قسمونه دی يو قسم هغه دی چه د هغوئ بچي پيدا کيږي خوراك څكاك کوی دا په منزله د انسانانو دی ، دويم قسم هغه دی چه هغه په منزله د هوا دی بچي ئي نه پيدا کيږي ، خوراك اوڅكاك نه کوی، هغه شياطين دی.

اوامام رازی رحمه الله فرمائي چه زياته صحيح خبره داده چه شياطين قسم د جناتو دې خو چه کوم کافر دی هغوئ ته شياطين وئيلې کيږي اوچه کوم کافر ندی هغوئ ته شياطين نه وئيلې کيږي، اوبعضې مفسرين دا فرمائ چه دا دواړه جدا جدا نوعې دی او اطلاق په شياطينو باندې دجنات لکه په ((الا ابليس کان من الجن)) دا په معنی لغوی سره دې څکه چه په دواړو کښې استتار معنی ده ﴿خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ﴾ مخکښې د آدم نه ﴿مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ﴾ سموم وئيلې کيږي ((رِيحٌ حَارَّةٌ تُدخلُ مسام الانسان فَتَقْتُلُهُ مِنْ قُوَّةِ حَرَارَتِهَا)) يعنی هغه ګرمه هوا چه ننوځي په مساماتو د انسان کښې پس دسخت حرارت له وجه نه انسان قتل کوی، او اضافت د «نار» ، سموم ته يا اضافت بيانی دې او يا اضافت د موصوف دې صفت ته.

فائده : د دينه معلومه شوه چه د جناتو وغيره ماده صرف اور نه دې بلکه اور پکښې عنصر غالب دې.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ۝
اوکله چه اوئيل رب ستا [1] فرشتوته بيشکه څه پيدا کونکې يم يو بشر لره د خاورې ټنګارکونکې د ختې زړې شوې بدبوداري نه .
فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ۝
پس هرکله چه زه برابر کړم هغه او پوکړم په هغه کښې د روح خپل نه پس پريوځئ تاسو هغه ته سجده کونکی
فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ۝ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ۝
پس سجده اوکړه ملائکو ټولو په جمع سره. مګر ابليس «سجده اونکړه» انکار اوکړو هغه چه شی هغه د سجده کونکو سره .

۱ - ذکر د تخويف چه متعلق دې له دعوی د سورت سره .

﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ ﴾ قصه د حضرت آدم ﷺ او د ابليس لعين ذكر كيږي په دريم وار لپاره د تخويف چه د ابليس ستاسو سره دشمني ډيره زړه ده داسې نه چه تاسو د شيطان په دهوكې كښې راشئ او شرك اختيار كړئ ﴿بَشَرًا﴾ مراد ترينه انسان دې، تعبير ترينه په بشر سره اوشو له وجه د ظهور د بشرى د ده نه، او بعضې فرمائي چه مراد د بشر نه هغه جسم كثيفه دې چه ملاقى كيږي د نورو اشياؤ سره او مصداق د دې صرف انسان دې ځكه چه ملائك اوجنات دهغوئ اجسام لطيف دى، په دې كښې اشاره ده ديته چه د ټولو انسانانو پلار حضرت آدم ﷺ بشر وؤ، نو اولاد به ئې هم بشر وى اگرچه انبياء كرام وى . ﴿ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ ﴾ مراد د تسويه نه يا تشكل دې په صورة انسانى اوخلقت بشرى سره ((اى عدلت صورته واتممت خلقه)) او يا ترينه مراد برابروالې د اجزاؤ د بدن دې ﴿وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي﴾ نفخ په عرف كښې وئيلې كيږي : ((اجراء الريح من الفم اوغيره فى تجويف جسم)) ته يعنى رسَول د هواء مينځ د خالى جسم ته، خو دلته ئې ذكر تمثيلاً شويدې نه حقيقةً، او مراد ترينه پيدا كول د روح دى په ماده اوصورت كښې، ((اى افاضة مابه الحياة بالفعل على المادة القابلة لها)) . او روح يو مخلوق دې د مخلوقاتو د الله تعالى نه چه د بدن د ژوندون لپاره يو سبب عادى دې، يعنى عادة د الله تعالى پدې جارى شوې دې چه كله د دې روح تعلق د بدن سره راشى نو الله تعالى پدې بدن كښې حياة او ژوندون پيدا اوفرمائى ، او اضافت د روح الله تعالى ته دا تشريفًا اوتكريمًا دې، لكه (ارضى، سمائى، بيت الله) وغيره شو، بعض خلكو د دې اضافت دَ وجه نه د حلول او اتحاد مذهب ثابتولو كوشش كړې دې خو د دې متعلق يو مناسب تفصيل په سورة بنى اسرائيل ((ويسئلونك عن الروح)) كښې به راشى (ان شاء الله تعالى) .

﴿فَقَعُوا لَهُ سَٰجِدِينَ﴾ دا خطاب فرشتو او ابليس ټولو ته دې ، تفصيل د دې سجدې په سورة البقرة او په سورة اعراف كښې تير شوې دې ، د دې آيت په ظاهر كښې د سورة البقرة د ايت سره تعارض معلوميږى ځكه چه په سورة البقره كښې حكم د سجدې د پيدائش او دخليفه جوړيدو د آدم ﷺ نه وؤ، او په دې ځائ كښې حكم قبل د پيدائش د آدم ﷺ نه معلوميږى، دفع د تعارض داده چه امر په دوه قسمه دې : يو امر تعليقى او معلق دې او دويم امر تنجيزى دې نو په سورة البقره كښې امر تنجيزى دې او دلته امر معلق دې .

﴿ فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ سجده د ملائكو د اكرام او تعظيم وه، لكه چه تفصيل ئې تير شويدې، دا جمله نص دې په تعظيم د آدم ﷺ كښې اوهر كله چه احتمال د تخصيص پكښې وؤ چه ممكنه ده چه

بعضې فرښتو دې سجده نوی کړې او دا دې عام مخصوص منه البعض وی نو په لفظ د ﴿كُلُّهُمْ﴾ سره احتمال د تخصيص ختم کړې شو چه دا سجده ټولو فرښتو کړيده . البته احتمال د تاويل پکښې بيا هم وؤ چه سجده د دوئ اجتماعًا وه که متفرقًا؟ نو دغه احتمال په لفظ د ﴿أَجْمَعُونَ﴾ سره ختم کړې شو، نو ايت بجميع اجزائه مفسر اوګرزيدلو ﴿إِلَّآ إِبْلِيسَ﴾ پدې باندې اتفاق دې چه ابليس مامور بالسجده وؤ ، اختلاف ئې په کيفيت کښې دې چه آيا دې دجنس د فرښتونه وؤ او که نه ؟ اوڅنګه مامور بالسجده شو او د استثناء نوعيت څه دې ؟ استثناء د محققينو نحاتو په مسلك متصله ده بالجزم، اود مشهورينو نحاتو په مسلك يا استثناء متصله ده او ابليس جنس د فرښتونه شمار کړې شوې دې حقيقةً لکه چه دا دبعضو مذهب دې او يا استثناء منقعطعه ده څکه چه ابليس جنس د فرښتو نه ندې لکه چه الله تعالى فرمائی ﴿كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ﴾ خو تغليبًا د جنس د فرښتو نه شمار کړې شوې دې او يا ابليس ته حکم د سجدې مستقلاً شوې وؤ لکه چه پدې باندې آيت د سورة اعراف ﴿قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ﴾ دلالت کوی، تفصيل ئې په سورة بقره کښې تير شوې دې . ﴿أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ﴾ دا جمله مستانفه ده واقع شويده په جواب د سوال د سائل کښې چه ګويا سائل سوال اوکړو چه «هل سجد ؟» نو جواب اوشو چه ﴿أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ﴾ په لفظ د ‹ ابى › کښې اشاره ده ديته چه ابليس د الله حکم اونه منلو او په لفظ د ﴿مَعَ السَّٰجِدِينَ﴾ کښې اشاره ده ديته چه جماعت د ملائکو نه ئې مخالفت اوکړو نو دجماعت نه مخالفت کول دا هم يوه لويه ګمراهی ده، حضرت مولانا خير محمد جالندهری رحمه الله په خپل کتاب آثارخير کښې ليکلی دی «جب الله نے فرشتو کو سجده کا حکم ديا تو قرآن ميں هيں کہ ﴿فَسَجَدَ الْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ۝٣٠ إِلَّآ إِبْلِيسَ﴾ ملائک نے بلا طلب دليل محض اعتماد پر سجده کيا تو يه مقلد هوئے اور ابليس لعين نے بغير دليل سجده کرنے سے انکار کيا جو غير مقلد ٹهرا» ، (آثار خير صفحه نمبر ۲۶) يعنی چه کله الله پاك د سجدې حکم اوکړولو ، نو ملائکو بغير د طلب د دليل نه محض په اعتماد باندې سجده اوکړه نو مقلدين شو او ابليس لعين انکار اوکړو د بې دليله سجدې کولو نه نو غير مقلد شو . ۰

قَالَ يٰٓاِبۡلِيۡسُ مَا لَكَ اَلَّا تَكُوۡنَ مَعَ السّٰجِدِيۡنَ ۝ قَالَ لَمۡ اَكُنۡ

اوفرمائيل الله تعالى اې ابليسه ! څه عذر وؤ تا لره چه نشوې ته د سجده کوونکو سره . اوئيل هغه چه نه يم څه

لِّاَسۡجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهٗ مِنۡ صَلۡصَالٍ مِّنۡ حَمَاٍ مَّسۡنُوۡنٍ ۝

چه سجده اوکړم هسې بشر ته چه پيدا کړې دې تا هغه لره د خاورې ټنګار کوونکې د ختې زړې شوې بدبو دارې نه .

قَالَ فَاخۡرُجۡ مِنۡهَا فَاِنَّكَ رَجِيۡمٌ ۝ وَّاِنَّ عَلَيۡكَ اللَّعۡنَةَ اِلٰى يَوۡمِ

اوفرمائيل الله پس اوځه ته د دې ځائ نه پس بيشکه ته رټلې شوې ئې . او بيشکه په تا باندې لعنت دې تر ورځې

الدِّيۡنِ ۝ قَالَ رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِىۡۤ اِلٰى يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ ۝

د بدلې (قيامت) پورې . اوئيل هغه اې ربه څما ! پس مهلت راکړه ما له تر هغه ورځې پورې چه دوباره پورته کولې شى خلك .

قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الۡمُنۡظَرِيۡنَ ۝ اِلٰى يَوۡمِ الۡوَقۡتِ الۡمَعۡلُوۡمِ ۝

اوئيل الله پس بيشکه ته ئې د مهلت درکړې شوونه تر ورځې د هغه وقت مقرر پورې .

﴿قَالَ يٰٓاِبۡلِيۡسُ﴾ زجراً او توبيخاً سوال کوى الله پاك د ابليس نه ، دجمهور مفسرينو په نيزد دا کلام د الله پاك له طرفه ابليس ته بغير د واسطې نه وؤ او براه راست وؤ او د الله له طرفه چا سره بغير د واسطې نه کلام کول اګرچه لوئ منصب او د فخر خبره ده خو په هغه وخت کښې چه کله دا مکالمه او خبرې لپاره د اکرام او اعظام وى او کچرته على سبيل الاهانة والاذلال وى نو منصب عاليه ندې .

﴿مَا لَكَ اَلَّا تَكُوۡنَ﴾ يعنى څه مانع وؤ ستا لپاره په سجدې نه کولو کښې او څه غرض وؤ ستا ؟ ((اى اىُّ غرض لك فى ابائك السجود)) ﴿قَالَ لَمۡ اَكُنۡ﴾ د نص په مقابله کښې شيطان يو خپل عقلى دليل پيش کړو (تفصيل ئې تير شوې دې) او لام په ﴿لِّاَسۡجُدَ﴾ کښې د تاکيد دنفى لپاره دې ، ﴿قَالَ فَاخۡرُجۡ مِنۡهَا﴾ ضمير په (منها) کښې يا راجع دې جنتونو ته، يا آسمان ته او يا تولى اوجماعت د فرشتو ته، او دا جواب د کلام د شيطان او دليل د شيطان لپاره على سبيل التصريح خو ندې ليکن على سبيل التنبيه دې، چه د نص په مقابله کښې قياس پيش کوونکې سزا هغه رجم دې او ملعون کيدل دى ، او مخکښې تير شويدى چه د دې نه هغه قياس ندې مراد چه هغه يو حجت شرعى دې . ﴿وَّاِنَّ عَلَيۡكَ

﴿اللَّعْنَةَ﴾ شيطان ته د سجدې نه کولو د وجه نه دوه سزاګانې ملاؤ شوې يوه دا چه اوړتلې شو دجنت نه ، دويمه دا چه هميشه لپاره لعنتي شو ، او لفظ د (الی) اګرچه د انتها د غايه فائده ورکوی او ظاهر د ايت نه دا معلوميږی چه دا لعنت به صرف تر ﴿يَوْمِ الدِّينِ﴾ يعنی قيامت د ورځې پورې وی اوبيا به نوی . خو حقيقت داسې ندې بلکه مراد د دې نه تابيد دې، ځکه چه دا هغه ابعده غايه ده چه خلك اوعرف عام ئی د تابيد لپاره ذکر کوی لکه چه وئيلې کيږی چه قيامت پورې به ځه دا کار اونکړم، دا مقصد ندې چه قيامته پورې به ئی نه کووم او بيا به ئی کوم بلکه هميشه لپاره نه کول مراد وی، او د دې نظير دا قول د الله تعالی دې چه ﴿خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ﴾ او يا د آيت مقصد دا دې چه (يوم الدين) پورې بغير د عذاب نه به ملعون وی او يوم الدين کښې به بيا سخت ترين عذاب ورکولې شی اګرچه لعنت به هلته هم وی خو هغه لعنت به په منزله د زائل وی، فيصير اللعين حينئذ كالزائل بسبب شدة العذاب تذهل عنه (رازی) ﴿قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِيٓ﴾ ابليس لعين د توبې په ځائې د انسانانو بې لارې کولو لپاره مهلت طلب کړو چه دا هم يو غټ جرم دې (فا) په (فانظرنی) کښې متعلقه ده په محذوف پورې چه په هغې دلالت کوی ماقبل کلام ، تقدير ئی دا دې چه «اذا جعلتني رَجِيمًا فَأَنْظِرني -الخ» مزيد تفصيل د دې آيتونو په سورة اعراف کښې تير شوې دې ﴿إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ﴾ په نيزد اکثرو مفسرينو دعاء د ابليس قبوله کړې شوه خو نا تمامه، ځکه چه هغه مهلت غوختلې وؤ تر (يوم البعث) پورې او الله تعالی مهلت ورکړو تر نفخهٔ اولی پورې، ﴿يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ﴾ نه مراد وخت دنفخهٔ اولی دې چه په هغې کښې به الله تعالی ټول مخلوقات فناء کړی نو ابليس به هم مړ شی، او په نيز د بعضو مفسرينو دُعاء د ابليس مکمله قبوله کړې شوې ده او «وقت المعلوم» نه مراد نفخهٔ ثانيه ده خو دا قول ضعيف دې ، ځکه چه نفخهٔ ثانيه لپاره د بعثت اودوباره ژوندی کيدلو ده، نه د مړکيدولپاره، او دغه شانته د قيامت د قيام نه وروستو بيا مرګ نشته دې، نوکه په نفخهٔ اولی سره ابليس لعين مړ نشی نو دې به هميشه لپاره ژوندې پاتې کيدونکې شی، اودغه شانته مقصد دابليس لعين په مهلت غوختلو سره هغه انسانان بې لارې کول دی ، دغه مقصد په نفخهٔ اولی سره پوره کيږی، نفخهٔ اولی نه وروستو د ابليس ذمه داری وغيره به ختمه شی نو د ژوندی پپاتې کيدلو مقصد ئی نشته دې.

فائده: د دعاء قبليدل کله د دعاء کوونکی د اکرام او دعزت لپاره وی او کله د دعاء کوونکی د

زيادت د شقاوت اوعذاب او د مصيبت لپاره وي، نو دابليس دعاء قبليدل دقسم ثاني نه دی

قَالَ	رَبِّ	بِمَآ	اَغْوَيْتَنِيْ	لَاُزَيِّنَنَّ	لَهُمْ
اوویل هغه چه اې ربه ځما په سبب د هغې سره چه تا خه گمراه کړې یم خامخا به خه خائسته ښکاره کوم لپاره د دوئ ګناهونه					
فِي الْاَرْضِ وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۙ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ۝					
په زمکه کښې اوگمراه کوم به خه دوئ ټولو لره . مګربندګان ستا د دوئ نه هغه چه اخلاص کونکی دی (په عمل کښې					
قَالَ هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيْمٌ ۝					
اوفرمائیل الله ، دا (اخلاص) لاره ده ځما طرف ته نیغه .					

﴿ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ ﴾ (با) يا د سببيت لپاره ده (اى بسبب اغوائك اياى) او يا د قسم لپاره ده او ما مصدريه ده او ﴿ لَاُزَيِّنَنَّ ﴾ ورله جواب قسم دې (اى اقسم باغوائك اياى لأزين لهم) لكه په صورت (ص) آيت نمبر ٨٢ كښې دغه مضمون په قسم سره ذكر دې ﴿ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴾ خو فرق په مابين د دې آيت او په هغې آيت كښې دا دې چه هلته قسم په صفاتو د ذات باندې دې او دلته قسم په صفاتو د افعالو باندې دې، په صفاتو د ذات باندې قسم بالاتفاق جائز دې او په صفاتو د افعالو باندې قسم خوړل پدې كښې د فقهاؤ اختلاف دې خو راجح پكښې قول د جواز دې ، دا آيت دليل دې په دې چه خالق د شر اوكفر هم الله پاك دې او سزا په كسب اختياری باندې ملاويږی ، او مراد په ﴿ اَغْوَيْتَنِيْ ﴾ سره اخراج دهغه وؤ د جنت نه يا د آسمانونو نه، اويا ترينه مراد گمراه كول دهغه دی ﴿ لَاُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْاَرْضِ ﴾ مراد د تزئين نه مشغول كول دی د انسانانو په محبت د دنيا سره په طريقه د وسوسو اچولو سره او مراد د اغواء نه ښائسته ښكاره كول د گناهونو او ترغيب وركول د گناهونو دی انسانانو ته په طريقې د وسوسو سره، پدې آيت كښې رد دې په مذهب د معتزله وؤ باندې چه هغوئ د دې خبرې قائل دی چه اصلح ماهو للعبد واجب دې په الله تعالى باندې ، ﴿ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴾ پدې كښې دوه قرائتونه دی : يو قرائت په كسرې دلام سره دې په صيغه د اسم فاعل سره، معنی داده چه هغه بندگان ستا چه خالص كونكی دی د عبادت او اطاعت تا لره. ((اى المؤمنين الذين اخلصو لك التوحيد والطاعة والعبادة)) ، (خازن) او دويم قرائت په فتح د لام سره

په صیغه د اسم مفعول سره دي چه دا قرائت اکثر دي ، مقصد دا دي چه هغه بندګان چه الله پاك خاص کړیدی د خپل عبادت لپاره، ابلیس لعین اولاً د ټولو انسانانو د اغواء دعوه اوکړه او بیا ئی مخلصین مستثنی کړل ځکه چه د ده پدې باندې علم وو چه زما مکر او کید په مخلصینو باندې نه چلیږی او هغوئ زما کید نه قبلوی

فائده (۱) امام رازی رحمه الله فرمائی چه ابلیس لعین دا استثناء ځکه اوکړه چه ځان ئی د دروغو نه بچ کولو، نو معلومه شوه چه دروغ یو داسې قبیح شې دي چه ابلیس ترینه هم ځان ساتلیدي (۲) دا آیت دلیل دي په عصمت د انبیاؤ علیهم الصلوة والسلام باندې ځکه چه که انبیاء کرام معصوم نشی نو نور هغه خلك چه د دې آیت مصداق دی د هغوئ فضیلت به ثابت شی په انبیاء کرامو باندې او دا د اصولو د شرع نه خلاف خبره ده (۳) حضرت رویم رحمه الله فرمائی چه اخلاص په عمل کښې عبارت دي د دې نه چه د عمل کوونکی اراده د خپل عمل نه عوض نوی په دارینو کښې. صرف د الله تعالی رضاء ئی مقصود وی ، حضرت جنید بغدادی رحمه الله فرمائی چه «الإِخْلَاصُ سِرٌّ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الله تعالى لاَ يَعْلَمُهُ مَلَكٌ فَيَكْتُبُهُ وَلاَ شَيْطَانٌ فَيُفْسِدُهُ وَلاَهَوىً فَيُمِيْلُهُ» یعنی اخلاص د الله او د بنده په مینځ کښې د هغه راز نه عبارت دي چه نه فرشتې ته معلوم وی چه وې لیکی او نه شیطان ته معلوم وی چه عمل ورله فاسد کړی، او نه نفسانی خواهش ته علم وی چه هغې طرفته مائله شی. او په یو حدیث شریف کښې (چه ذکر کړې دې امام زبیدی په اتحاف السادة المتقین کښې) د حضور صلی الله علیه وسلم نه داسې مروی دی چه «سَأَلتُ جبرئيل عن الاخلاص ماهو، قال سألت رب العزة عن الاخلاص ماهو، قال سرٌّ استودعته فى قلب من احب عن عبادى» یعنی حضور صلی الله علیه وسلم فرمائی چه ما تپوس اوکړو د حضرت جبرئیل علیه السلام نه د اخلاص په باره کښې چه دا څه شې دې ؟ نو جبرئیل علیه السلام اوفرمائیل چه ما د الله پاك نه د دې تپوس اوکړو، نو الله پاك اوفرمائیل چه دا هغه راز دې چه زما په بنده ګانو کښې چه څوك ماته محبوب وی نو د هغه په زړه کښې ئی ایږدم (۴) صاحب د خازن فرمائی چه حقیقت د اخلاص دا دې چه یو کار او عمل خالص د الله لپاره اوشی چه شائبې د غیر نه پاك وی پس هرڅوك چه عمل کوی د طاعاتو نه نو دا به خالی نوی یا به پدې سره مقصود صرف رضاء د الله پاك وی او یا به مقصود رضا د غیر الله وی او یا به دواړه وی، اول قسم مقبول عندالله دې، دویم قسم مردود او باطل دې او دریم قسم کچرته په هغې کښې جانب د الله د رضا راجح وی نو امید د قبلیدو دې عند الله. او کچرته جانب د غیر الله پکښې راجح وو نو مردود دې ﴿ قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ ﴾ پدې آیت کښې مختلف توجیهات دی : یوه توجیه داده چه په (هذا) سره اشاره ده

اخلاص ته چه هغه مذكور دې په ضمن د ﴿مخلصين﴾ كښې او ﴿علىّ﴾ په معنى د ﴿الى﴾ سره دې ، مقصد دا دې چه عبادت او په عمل كښې اخلاص او د شرك اوريا نه ځان بچ كول هغه نيغه لار ده چه ماته په هغې سره رسيدل كيږي ((اى ان الاخلاص طريق يؤدى الى كرامتى ورضوانى)) ، ﴿خازن﴾ ، دويمه توجيه داده چه په ﴿هذا﴾ سره اشاره عبديت ته ده چه په هغې باندې ﴿عبادك﴾ دلالت كريدې او ﴿علىّ﴾ په معنى د ﴿الىّ﴾ سره دې نو معنى د ايت دا شوه چه دا بندګى نيغه لاره د رسيدو ده ماته ، دريمه توجيه داده چه په ﴿هذا﴾ سره اشاره شى عبديت ته او ﴿على﴾ سره عبارت مقدر شى ((اى هذا صراط تقريره وبيانه وهو مستقيم حق وصدق)) ، ﴿رازى﴾ ، څلورمه توجيه داده چه ﴿هذا﴾ سره اشاره اخلاص فى العبودية ته شى او ﴿على﴾ په خپلې معنى سره شى.((اى هذا الطريق فى العبودية طريق على مستقيم)) ، پنځمه توجيه داده چه په ﴿هذا﴾ سره اشاره ده مضمون د ماقبل ته چه هغه تفويض دې ځكه چه ابليس په ماقبل كښې اولاً د مطلق انسان ګمراه كول بيان كړل بيائى ترينه مخلصين مستثنى كړل چه هغه د الله پاك منتخب بندګان دى نو دا كلام متضمن شو تفويض او ارادې د الله تعالى ته لكه صاحب د تفسير ابو السعود فرمائى : ((والاشارة الى ما تضمنه الاستثناء وهو تخليص المخلصين من اغوائه)) نو معنى د آيت دا شوه چه ﴿هَٰذَا صِرَٰطٌ﴾ ((اى تفويض الامور الى ارادتى ومشيئتى طريق على مستقيم)) ، ﴿كبير﴾ بناء پدې ټولو توجيهاتو غوره والې د ﴿على﴾ چه رازى لپاره د استعلاء په ځائ د ﴿الى﴾ چه راځى لپاره د انتهاء دا تمثيلاً دې ، اشاره ده پكښې تاكيد صحت او استقامت دعمل ته اودغه شانتې اشاره ده پكښې مقبوليت من عند الله ته . شپږمه توجيه د بعضې مفسرينو نه داسې منقوله ده چه ﴿علىّ﴾ په تنوين سره د علونه دې په معنى د رفع او بلندئ سره او صفت دې د صراط لپاره، نو معنى دا شوه چه دا اخلاص يا عبديت يا تفويض ﴿صراط علىّ﴾ رفيعه او اوچته لاره ده ﴿مستقيم﴾ چه كوږوالې پكښې نشته دې ﴿قرطبى﴾ ، او اوومه ﴿۷﴾ توجيه دامام مجاهد او امام كسائى نه دا منقوله ده چه دا كلام حمل دې په وعيد او تهديد باندې، لكه يو سړې بل ته دهمكى وركوى او ورته وائى چه لاره دې په ما باندې ده، او د دې نظير هغه قول د الله تعالى دې چه په سورة الفجر كښې ذكر دې چه ﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ﴾ والله سبحانه وتعالى اعلم وعلمه اتم واحكم .

إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ ۝ وَإِنَّ جَهَنَّمَ

بیشکه بندګان خما نیشته دې تا لره په هغوئ باندې څه غلبه «دګمراهئ» مګر هغه څوك چه تابعداری کوی ستا د ګمراهانو نه او بیشکه دوزخ[۱]

لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ ۝

خامخا ځائ د وعدې د دوئ د ټولو دې. دهغې لپاره اووه دروازې دی، د هرې دروازې لپاره د دوئ نه حصه ده تقسیم کړې شوی

﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ ﴾ پدې آیت کښې د ابلیس د ماقبل کلام د یوې حصې تصدیق او یوې حصې تکذیب دې چه هغه وئیلی وو چه ﴿وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ ﴾ چه د ټولو انسانانو د ګمراه کولو قدرت ماته حاصل دې ، صرف مخلصین نشم ګمراه کولې چه هغوئ ته الله پاك حفاظت ورکوی، نو د یوې حصې تصدیق اوشو چه مخلصین شیطان نشی ګمراه کولې، خو دا بله حصه چه په نورو انسانانو ماته قدرت حاصل دې نو د دې تکذیب اوشو . چه یو بنده باندې هم تاته قدرت ندې حاصل، البته کچرته یو انسان په خپل کسب اختیاری سره ستا اتباع اوکړه نو هغه به ګمراه شی، نو دا اتباع هم په قدرت دابلیس سره نده بلکه په خپل اختیار سره ده، نو ابلیس لعین مخلص بندګان مستثنی کړی وو د اغواء شوی خلکونه او مقصد ئی دا وو چه په نورو باندې ماته قدرت حاصل دې، او الله پاك غاوین مستثنی کړل دینکو بندګانو نه اشاره ئی دیته اوکړه چه هغه ته په چا باندې هم قدرت ندې حاصل ، اضافت که په (عبادی) کښې د استغراق حقیقی لپار شی نو استثناء به په ((الامن اتبعك — الخ)) کښې متصله وی اوکه اضافت د عباد (یاء) د متکلم ته عهدی وی او مراد ترینه مخصوص عباد وی چه هغه مخلصین دی نو بیا استثناء منقطعه ده اومراد له نفی نه په ﴿لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ ﴾ کښې نفی د مطلق غلبې نده چه تعارض پیدا شی دحضرتٌ آدم او حواء د واقعې سره چه دوئ د الله مخلصین بندګان وو خو بیا هم الله تعالی فرمائی چه ((فازلهما الشیطان)) اودغه شانتې دخینې مخلصینو بندګانو په باره کښې الله تعالی فرمائی چه ﴿إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ﴾ بلکه مراد په نفی د غلبې سره مخصوصه غلبه ده چه هغه غلبه په قلوب او په زړونو باندې وی چه دهغې د وجه نه توفیق د توبې هم نشې میلاویدلې که څوك اشکال وکړی چه د دې

۱- تخویف اخروی .

آیت د نورو آیتونو سره تعارض دي ځکه چه د دې آیت نه نفی دغلبې د عباد مخلصین فقط معلومیږی او (غاوین) چه هغه أتباع د ابلیس او د شیطان دی نو په هغوئ باندې ابلیس ته غلبه حاصله ده او د سور ابراهیم آیت نمبر (۲۲) ﴿وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ﴾ نه معلومیږی چه غلبه او قدرت بالکل حاصل نه دې ، نه په عباد مخلصین اونه په غاوین باندې، نو **جواب** دا دې چه پدې مقام کښې اثبات د غلبې او د سلطان دا تسبیبًا دې یعنی په دوئ باندې غلبه او قدرت دا شیطان ته حاصل دې په سبب د انقیاد د دوئ دهغه لپاره ((ای فان لك علیهم سلطانًا بسبب کونهم منقادین لی الامر والنهی)) ، (رازی) ، لکه چه په سورة النحل آیت نمبر (۱۰۰) کښې الله تعالی فرمائی ﴿إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ﴾ او په سورة ابراهیم کښې ترینه مراد سلطان او غلبه بالذات دې یعنی بالذات غلبه او سلطان شیطان ته نذې حاصل، ﴿وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ﴾ پدې دوه آیتونو کښې تخویف اخروی ذکر کیږی ﴿أَجْمَعِينَ﴾ یا تاکید لپاره د (هم) ضمیر دې او یا ورنه حال دې ، او (موعد) یا مصدر میمی دې اوعامل دې په (اجمعین) کښې اویا اسم مکان دې پدې تقدیر بیا به دې عامل نوی ﴿لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَٰبٍ﴾ مراد ترینه یا حقیقةً دروازې دی چه دجهنم لپاره اوه ۷ دروازې دی لکه څنګه چه د جنت لپاره اته ۸ دروازې دی د جنت یوه دروازه زیاته ده چه هغه باب الفضل ده چه په هغې باندې به هغه کسان داخلیږی چه څه عمل ئې نوی کړې بلکه محض په فضل د الله تعالی سره ځی، نو د جهنم اوه ۷ دروازې دی او هره دروازه د مخصوص ګناهګارانو لپاره به وی لکه مشرك شو ، زانی ، ډاکو وغیره شول ، او یا د ابواب نه مراد طبقات د جهنم دی چه هغې ته درکات وئیلې کیږی لکه څنګه چه د جنت طبقاتو ته درجات وئیلې کیږی، نو دجهنم اوه طبقات دی ، د حضرت علی ﷺ نه مروی دی چه دغه طبقات د یوبل د لاندې دی اوحضرت ابن عباس ﷺ نه دهغې نومونه داسې منقول دی (۱) جهنم (۲) لظی (۳) حطمه (۴) سعیر (۵) سقر (۶) جحیم (۷) هاویه، او حضرت علی ﷺ نه داهم منقول دی چه هره لاندې طبقه دپاسه طبقې ته اویا ۷۰ برخې زیاته ګرمه ده ، مثلاً لظی دجهنم په نسبت ، حطمه د لظی په نسبت وغیره اویا ۷۰ حصې زیاتې ګرمې دی ، جهنم طبقه د عصاة مؤمنینو لپاره ده چه د دې نه دنجات امید کولې شی، لظی د نصاری لپاره ده ، حطمه د یهودو لپاره ده، سعیر د صابئینو لپاره ده ، سقر د مجوسو لپاره ،جحیم د مشرکینو لپاره او هاویه د منافقینو لپاره مختص دی، ځکه الله پاك د منافقینو په باره کښې فرمائی چه : ﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ

مِنَ النَّارِ ﴾

﴿جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴾ یعنی هره دروازه د هغه گناه لپاره متعینه ده چه پدې دروازه باندې به فلانی گناه والا داخلیږی او پدې باندې به فلانی داخلیږی. او یا مصداق دا دې چه د هرې طبقې دجهنم لپاره قومونه مخصوص کړې شوېدي.

تنبیه بعض علماء فرمائی چه د جهنم لپاره دووه دروازو کښې حکمت دا دې چه مصادر د سیئاتو لپاره هغه اعضاء سبعه دی : (۱) سترګې (۲) غوږونه (۳) ژبه (۴) خیټه (۵) عورت (فرج) (۶) لاسونه (۷) خپې ، نو ځکه ابواب د جهنم اووه پیدا کړې شول. او هرکله چه همدغه اعضاء سبعه مصادر دحسناتو لپاره هم وو خو نیت پکښې اضافی شرط وو نو هغه په منزله د اتم شو نو د دې وجه نه دروازې د جنت اته دی ، اوبعض مفسرین فرمائی چه دا اوه دروازې دهغه اوه لویو لویو ډلو مذکوره د اتباع د ابلیس د وجه نه دی ، او د هرې ډلې جرم او گناه د بلې په نسبت زیات سخت دې د دې وجه نه اوه طبقات د یوبل لاندې اویا ۷۰ درجې یات سختې پیدا کړې شو .

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ۝ ادْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ۝
بیشکه متقیان [1] کسان په باغونو او چینو کښې به وی (اوئیلې به شی ورته) ورننوځئ دیته په سلامتیا سره بې غمه به یئ
وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٍ
او اوبه باسو به مونږ هغه چه په زړونو د دوئ کښې پاتې وی څه خفګان رونړه به وی (ناست به وی) په تختونو باندې
مُّتَقَٰبِلِينَ ۝ لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ۝
یوبل ته مخامخ .نه به رسیږی دوئ ته په هغې کښې څه ستومانتیا اونه به د هغوئ دجنت نه ویستلې کیدې شی

﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ ﴾ دا بشارت ذکر کیږی د نیکانو لپاره، مراد د متقین نه څوک دی؟ نو معتزله اودغه شان بعض مفسرین وائی چه متقین نه مراد هغه کسان دی چه د ټولو انواعو د کبائرونه ځان بچ اوساتی ((ای من یتقی ما یجب اتقاؤه مما نهی عنه))، (کشاف) وجه داده چه متقین اسم مدح دې اومدح په هغه وخت کښې متحقق کیږی چه کله د ټولو انواعو د ګناسونو نه ځان بچ کړی ،

---

۱ - بشارت.

او جمهور مفسرين او اهل سنت والجماعت فرمائي چه مراد د متقين نه هغه دي چه ځان ئې د شرك نه بچ كړې وي ((اى اتقوا الشرك بالله تعالى)) دا توجيه راجحه ده نقلاً او عقلاً ، هرچه ده نقلاً نو وجه داده چه د دې لپاره د نصوصو نه مؤيدات كثيره ذي چه دال دي پدې چه مرتكب د ګناه كبيره به جنت ته داخليږي، اوهرچه ده عقلاً نو وجه داده چه متقين صيغه د اسم فاعل ده او اسم فاعل مركب دې د ذات مع الوصف نه او د تحقق د اسم فاعل لپاره كل افراد او انواع د هغې وصف ضروري ندي بلكه په يو فرد سره هم دې موجوديږي ځكه چه دغه وصف يو مطلق ماهيت دې چه موجوديږي په وجود د فرد مّا سره لكه څنګه چه موجوديږي په وجود د كل افرادو سره لكه ضاربٌ شو، دا د تحقق لپاره كل افراد د ضرب ضروري ندي بلكه په يو فرد د ضرب سره هم دې متحقق كيږي، نو دغه شانتې د متقي اطلاق به په هر هغه شخص باندې هم كيږي چه په هغه كښې يو فرد د تقوى موجود وي چه ځان بچ كول دي د شرك نه، كه څوك اشكال اوكړي چه بناء پدې بيا خو يو كافر او مشرك ته هم متقي وئيل پكار دي چه كله ځان بچ كړي د يو ګناه نه، مثلاً يو كافر ځان بچ كړي د زنا نه يا د غلا نه نو يو فرد د تقوى پدې ځائ كښې هم حاصل شو نو پكار ده چه د قاعدې مطابق پده باندې حكم د متقي اولګي اوجنت ته دې داخل شي اوحال دا دې چه ده ته څوك هم متقي نه وائي ، جواب دا دې چه حصول د دې حكم دا مشروط دې په تقوى عن الكفر سره نو فرد تقوى عن الكفر دا شرط دې د نورو افرادو د تقوى لپاره او د دخول دجنت لپاره ترڅو پورې چه تقوى عن الكفر نوى راغلې نو نور افراد او انواع د تقوى غير معتبر دي، اوداخله جنت ته ناممكنه ده، اوكله چه تقوى عن الكفر راشي نو يو فرد معتبره د تقوى حاصل شو نو مطلق تقوى په ضمن د دغې فرد كښې حاصله شوه نو جنت ته د داخليدو امكان راغې، نو د دې دوجه نه نور افراد او انواع هم بيا معتبر كيږي ﴿وَعُيُونٍ﴾ مراد ترينه هغه انهار د لبن ، عسل، خمر او د اُوبو دي چه په سورة محمد آيت نمبر (۱۵) كښې ذكر دي ﴿اُدْخُلُوهَا﴾ دلته (قد قيل) ورسره مقدر دې ((اى وقد قيل لهم ادخلوها بسلام — الخ)) ﴿بِسَلٰمٍ﴾ اى متلبسين بسلام ، يعني پدوئ باندې به سلامونه وي د جانبه د الله تعالى نه او له جانبه د فرشتونه په وخت د داخليدو كښې جنت ته، او د سلام تفصيل په سورة ابراهيم ، آيت نمبر (۲۵) كښې تير شوې دې ﴿اٰمِنِيْنَ﴾ يعني په امن كښې به وي د ويستلو نه يا د مرګ نه ، دائمي په وي.

﴿وَنَزَعْنَا مَا فِیْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ﴾ (غل) وئيلې كيږي هغه بې اختياره خفګان ته چه په دنيا كښې د يوبل سره وي بغير د اغراض دنيوي نه لكه مشاجرات د صحابه كرامو رضي الله تعالى عنهم

اجمعين شو . د دې وجه نه حضرت علی ﷺ اوفرمائیل چه : «إنی لأرجوا أن أكون أنا وطلحة والزبير ممن قال الله ونزعنا ما في – الخ» او له حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی ، فرمائی چه اهل جنت چه کله جنت ته داخلیږی نو د هرځه نه مخکښې به دوئ ته دوه چینې راوړې شی نو د یوې چینې نه چه دوئ اوبه وڅکی نو د دوئ په زړونو کښې د یوبل سره خفگان به الله پاك ختم کړی او یوبل سره به ئې محبت په زړونو کښې پیدا کړې شی بیا به بلې چینې ته بوتلې شی او په هغې کښې به داخل کړې شی او غسل به ورته ورکړې شی ، نو په هغې سره به د دوئ مخونه اوپرقیږی (قرطبی) بعض مفسرین فرمائی چه د (غل) نه مراد هغه بې اختیاره خفگان دې چه پیدا کیږی په زړونو د انسانانو کښې له وجه د تفاوت د مرتبې نه خو اوله معنی زیاته راجحه ده ﴿مُتَقَٰبِلِينَ﴾ پدې کښې اشاره ده دیته چه په جنت کښې به جنتیان یوبل ته ظاهری طور باندې هم شا نه گرځوی ﴿لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ﴾ اشاره ده دیته چه جنت صرف جزاء ده او څه قسم عمل به پکښې نه وی ﴿بِمُخْرَجِينَ﴾ اشاره ده دیته چه دخول فی الجنت به خلود بلا زوال وی، بقاء بلا فناء ، کمال بلا نقصان به وی .

نَبِّئْ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ ۝
خبرکړه بندگان ځما [1] چه بیشکه ځه بخونکې رحم کونکې یم . او بیشکه عذاب ځما هم دغه عذاب دردناك دې .
وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ ۝ إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَقَالُوا۟
اوخبر ورکړه دوئ ته [2] (دقصې) د میلمنو د حضرت ابراهیم نه. کله چه داخل شو په هغه باندې پس اوئیل هغوئ
سَلَٰمًا قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ۝ قَالُوا۟ لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ
سلام وایو مونږ په تا. اوئیل هغه چه بیشکه مونږ ستاسونه [3] یره کونکې یو. اوئیل هغوئ مه یریګه ته بیشکه مونږ زیرې درکوو تاته
بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ۝ قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِيَ ٱلْكِبَرُ
په هلك پوهه سره . اوئیل هغه چه آیا زیرې راکوئ تاسو ماته سره د دې چه رسیدلې دې ما ته بوډا والې

١ - له ابتداء د سورت سره متعلق .
٢ - د اولې نمونې لپاره تمهید .
٣ - نفی د علم غیب له ابراهیم علیه السلام نه .

فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ ۝ قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ

پس په کوم ځیز سره زیرې راکوئ تاسو ماته . اونیل هغوئ چه زیرې درکوؤ مونږ تاته په یقینی ځیز سره پس مه کیږه نه

مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ۝ قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ ۝

د نا اُمیدئ کوونکونه اوونیل ده [1] اوڅوك دې چه نا اُمیده کیږی به د رحمت د رب خپل نه مګر ګمراهان (چه دوئ مایوسه کیږی.

﴿نَبِّئْ عِبَادِيْٓ﴾ پدې کښې تتمه د بشارت ذکر کیږی ، دا متعلق دې د اول د سورت سره چه ((ربما يود الذين)) دې یعنی چه بیا ارمان کوئ او وخت درنه تیر وی نو اوس مغفرت اوغواړئ اوس وخت دې، او په راتلونکی آیت نمبر (٥٠) کښې تتمه د تخویف ذکر کیږی په طریقې د لف نشر غیر مرتب سره، او پدې آیتونو کښې دوه خبروته اشاره ده : یوه دا چه رحمت د الله تعالى ته سبقیت حاصل دې په غضب ذالله تعالى باندې، (د دې وجه نه داسې ونه وئیلې شو چه ((انی معذب)) نو پدې کښې اشاره ده سبقیت او غلبیت د رحمت ته په غضب باندې دویمه دا چه ایمان بین الخوف والرجاء وی، او اضافت د عبادی (یاء) د متکلم ته لپاره د کمال مشرف او کمال لطف دې . ﴿وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ﴾ تمهید ذکر کیږی دنمونې اولې لپاره چه هغه د قوم لوط واقعه ده او بیا واقعه د تخویف لپاره ذکر کیږی، او عطف د دې په ماقبل ((نبئ)) باندې دې پدې کښې اشاره ده دیته چه وعده د رحمت د الله تعالى او وعید دعذاب دالله تعالى د آخرت په شان په دنیا کښې هم ظاهریږی . ﴿ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ﴾ دغه میلمانه فرشتې وې ، تعداد دهغو دولس (١٢) ، یا لس (١٠) او یا درې (٣) وؤ بناء بر اختلاف اقوال، ضیف مفرد راوړې شو ځکه چه دا په اصل کښې مصدر دې د (ضاف يضيف) نه خو بیا اسم اوګرځیدو د میلمه لپاره نو د اعتبار د اصل نه دلته جمع رانه وړې شو .

که څوك اشکال وکړی چه اطلاق د ضیف په ملائکو باندې ندې صحیح، ځکه چه ضیف وئیلې کیږی ((هوالمنضم الى غيره لطلب القرى)) او دا معنی په فرشتو کښې نده موجوده، نو یو جواب د دې لپاره دا دې چه اطلاق په دوئ باندې د ضیف له وجه د ظن او دګمان د ابراهیم ﷺ نه شوې دې . دویم جواب دا دې چه اطلاق په دوئ باندې د ضیف صورتًا شوې دې، یعنی دوئ په

[1] - د اولې نمونې بیان .

صورت د میلمنو کښې راغلی وؤ نو د دې وجه نه میلمانه ورته او وئیلې شو. دریم جواب دا دې چه
هر هغه څوك چه د چا کورته لاړشی نو صحیح وی په هغه باندې اطلاق د میلمه اګرچه خوراك نه
کوی ((ای ان من يدخل دار انسان ويلتجئ اليه يسمى ضيفًا وان لم يأكل)) ، (شربینی)، او فرشتې
اولاً حضرت ابراهیم ﷺ ته په راتللو کښې حکمت داوؤ چه دغه میلمانه ملائك د حضرت ابراهیم
ﷺ لپاره رحمت او زیرې ورکوونکی وؤ نو ﴿أَنِّىٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ﴾ ثابت شو او دغه فرشتې بیا د
قوم لوط لپاره د عذاب او د اهلاك ذریعه جوړ شو. نو ﴿وَأَنَّ عَذَابِى هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ﴾ ثابت شو.
دریم حکمت پکښې دا وؤ چه په اهلاك د قوم لوط سره حضرت ابراهیم ﷺ ته خفګان رسیدلو نو
دهغې د ازالې لپاره فرشتې حضرت ابراهیم ﷺ ته اولاً راغلې او هغه ته ئې په بودا والی حالت
کښې د بچی زیرې او د قوم لوط د نیکانو خلکو دنجات زیرې ورکړو ﴿إِذْ دَخَلُوا۟﴾ د حضرت ابراهیم
ﷺ د کور څلور دروازې وې لپاره د دې چه په کوم طرف هم میلمه داخلیږی چه څه قسم تکلیف
ورته نوی او د دې وجه نه دحضرت ابراهیم علیه السلام کنیت ابو الفیضان وؤ ﴿فَقَالُوا۟ سَلَٰمًا﴾ دا
مفعول مطلق دې ، تقدیر د عبارت داسې دې ((سلمت علیك سلامًا)) یا داسې دې چه ((نسلم علیك
سلامًا)) ﴿قَالَ إِنَّا مِنكُمْ﴾ پدې ځائ کښې اختصار شوې دې ځکه د سلام جواب او د طعام ذکر دلته
ندې شوې چه هغه مذکور دی په صورة هود کښې ، دا یا په لسان الحال سره وؤ چه هغه آثار د
پریشانئ ظاهریدل وؤ په مخ مبارك د حضرت ابراهیم ﷺ کښې او یا په لسان المقال سره وئیل مراد
دی یعنی په ژبه باندې حضرت ابراهیم ﷺ اووئیل چه ﴿إِنَّا مِنكُمْ﴾ پدې اشکال واردیږی چه د دې
آیت دبل ایت سره تعارض دې ځکه چه په سورة الذاریات ، آیت نمبر (۲۸) کښې الله تعالی فرمائی چه
﴿فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً﴾ نو دهغې نه معلومیږی چه خوف ئې صرف په زړه کښې محسوس کړې وؤ او په
ژبه باندې ئې څه نه وؤ وئیلی او د دې آیت نه دا معلومیږی چه په ژبه باندې ئې ورته وئیلی وؤ، نو
جواب دا دې چه په سورة الذاریات کښې ذکر د ابتدائی کیفیت دې چه ابتداءً حضرت ابراهیم ﷺ
دغه خوف صرف محسوس کړو او پټ ئې کړو په زړه کښې خو چه کله پریشانی زیاته شوه نو انتهاءً
بیا ئې اظهار اوکړو، پدې آیت کښې اختصار شویدې ځکه چه د سلام جواب او طعام چه هغه عجل
سمین دې دلته ندې ذکر شوې چه مذکور دې په سورة هود کښې او په سورة ذاریات کښې ﴿وَجِلُونَ﴾
اې خائفون ، (وجل) وئیلې کیږی، ((اضطراب النفس لتوقع ما تکره)) ته، یعنی د ناخوښې شی د

رسیدلو د توقع دوجه نه په نفس کښې چه کوم اضطراب او پریشانی پیدا کیږی هغې ته وجل وئیلې کیږی، او سبب د دې وجل لپاره یا دهغه فرشتو خوراك نه کول وو چه دا دهغې زمانې دستور وو چه میلمه به دا طعام نه خوړلو نو دا به علامه وه چه دا میلمه د ضرر رسولو لپاره راغلې دې ، بناء پدې توجیه حضرت ابراهیم ﷺ ته علم نه وو چه دا فرشتې دی، نو هغوئ ورته خپل تعارف اوکړو او تسلی ئی ورکړه چه ﴿لَا تَوْجَلْ﴾ او صاحب کشاف فرمائی چه حضرت ابراهیم ﷺ ته علم وو چه دا فرشتې دی او په هغوئ باندې ئی آثار د غصې او غضب معلوم کړل نو خوف ئی محسوس کړو چه دوئ د چا د عذاب لپاره راغلیدی، آیا ځما قوم هلاك کوی یا بل قوم ؟ نو هغوئ ورته او وئیل چه ((انا اُرسلنا الی قوم لوط)) او بعض مفسرین اوحضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه د حضرت ابراهیم علیه السلام خوف محسوس کول یو طبعی او فطری امر وو ځکه چه هغه فرشتو سره په دغه وقت کښې د الله تعالی عذب وو چه هغه ئی په قوم لوط باندې نازلولو نو د هغې یو فطری اثر په حضرت ابراهیم ﷺ باندې اوشو او وې فرمائیل چه ﴿إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ﴾ ، دا درې احتمالات زیات راجح دی اگرچه نور احتمالات هم پکښې ذکر شوی دی.

﴿إِنَّا نُبَشِّرُكَ﴾ علت دې د نفی د وجل لپاره په صورت د استئناف کښې ﴿بِغُلَامٍ﴾ مراد ترینه حضرت اسحاق ﷺ دې لکه په سورة هود کښې چه تفصیلی واقعه تیره شوې ده ﴿عَلِيمٍ﴾ مراد ترینه حلیم دې یا ترینه مراد ذی علم کثیر دې اویا ترینه مراد نبوت دې دا احتمال زیات راجح دې ﴿أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰ أَن مَّسَّنِيَ﴾ (علی) یا په معنی د حالْ سره دې او یا په معنی د (مع) سره دې او (ان) مصدریه دې معنی ئی داده چه ((حالة مس الکبر ایای)) یا ئی معنی داده چه ((مع مس الکبر ایای)) ﴿فَبِمَ تُبَشِّرُونَ﴾ (بم) په اصل کښې (بما) وو په معنی د (ای شئ) سره ، دا استفهام یا تعجبی دې او یا حقیقی دې، تعجبی وئیل د سباق د کلام سره زیات اوفق دی ځکه چه ابتداء د کلام ﴿أَبَشَّرْتُمُونِي﴾ محمول دې په تعجب باندې، او حقیقی وئیل د سیاق د کلام سره زیات اوفق دی چه هغه ﴿قَالُوا بَشَّرْنَاكَ﴾ دې که استفهام تعجبی شی نو معنی به ئی دا شی چه ((بایّ اعجوبة بشرونی؟)) اوکه استفهام حقیقی شی نو معنی به ئی دا شی چه (بای شئ تبشرونی؟)) په دواړو تقدیرونو **اشکال** واردیږی ځکه چه استفهام تعجبی شی نو تعجب دلالت کوی په استبعاد باندې او په قدرت د الله تعالی کښې استبعاد کول جائز ندی، نو ولې حضرت ابراهیم ﷺ تعجب اوکړو؟ یو **جواب** دا دې چه

تعجب د حضرت ابراهیم ﷺ دا په اعتبار د عام عادت سره دې نه د وجه د استبعاد نه په قدرت د الله تعالی کښې لکه حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه ((متعجبًا من کبره وکبر زوجته ومتحققًا للوعد)) نو په داسې احوالو کښې تعجب یو عام عادت دې، **دویم جواب** دادې چه د حضرت ابراهیم ﷺ نه صدور د دې لام په حالت غیر اختیاری کښې شوې دې ځکه چه کله کله د انسان نه په شدت فرحت او خوشحالئ کښې د داسې کلام صدور اوشی چه په عام احوالو کښې هغه سخته ګناه شمارلې کیږی لکه په حدیث د فضیلت د توبې کښې ذکر دی چه هغه انسان ته چه کله خپله سواری دخوراك او څښاك د اسبابو سره میلاؤ شی نو د ډیرې خوشحالئ نه دې دا او وائی چه «خدایه ته زما بنده او زه ستا رب یم» نو داسې حالت غیر اختیاری معفو عنها وی «کبیر» ، او که چرته استفهام حقیقی شی نو پدې هم اشکال واردیږی چه استفهام خو د شك او تردد لپاره وی نو په قدرت د الله تعالی کښې شك او تردد جائز ندې؟ نو جواب د دې لپاره دادې چه دا شك او تردد په نفسِ قدرت او په اعطاء خداوندی کښې نه وؤ بلکه دا سوال او تردد دا په کیفیت اعطاء کښې وؤ چه په کوم کیفیت سره ماته بچې راکوی؟ په حالت د بوډا والی کښې به وی او که بیا به ځوانئ حالت ته واپس کیږم، دویم جواب دا دې چه کله کله استفهام د وجې د تردد او شك نه وی په شئ مستفهم عنه کښې او کله کله لپاره د تلذذ وی د مستفهم عنه نه، نو دلته لپاره د تلذذ دې نه لپاره د شك وغیره . ﴿ قَالُوا بَشَّرْنَٰكَ ﴾ هر کله چه فرشتو د حضرت ابراهیم ﷺ د کلام نه ظاهری مطلب فهم کړو چه هغه تعجب یا تردد دې نو د ازالې لپاره ئی او وئیل چه ﴿بَشَّرْنَٰكَ ﴾ ، ﴿بِالْحَقِّ﴾ مراد د حق نه هغه یقینی قضاء او فیصله وه د الله تعالی چه هغه د حضرت ابراهیم ﷺ د صلب نه حضرت اسحاق ﷺ پیدا کول او بیا دهغه د صلب نه نور اولاد پیدا کول وؤ ﴿فَلَا تَكُن مِّنَ﴾ د حضرت ابراهیم ﷺ چه د اُولو العزم انبیاء کرامو نه وؤ نو ظاهری کلام دهغه د شان نه مخالف وؤ نو د دې وجه نه ملائکو ورته اووئیل چه ﴿فَلَا تَكُن﴾ او منع د انسان د یوشی نه دا تقاضا د دې نه کوی چه دې فاعل دمنهی عنه دپاره دې لکه په سورة الاحزاب کښې الله تعالی نبی کریم ﷺ ته فرمائی چه ﴿وَلَا تُطِعِ الْكَٰفِرِينَ وَالْمُنَٰفِقِينَ﴾ ، ﴿ قَالَ وَمَن يَقْنَطُ ﴾ استفهام انکاری دې یعنی نه مایوس کیږی ، هرکله چه ملائکو د حضرت ابراهیم ﷺ د کلام نه ظاهری مطلب فهم کړې وؤ نو حضرتِ ابراهیم ﷺ دهغې رد اوکړو په دلیل سره چه دا تعجب یا استفهام له وجه د قنوط او مایوسئ نه ندې بلکه له وجه د ظاهری اسبابونه دې ﴿إِلَّا

﴿ٱلضَّآلُّونَ﴾ یعنی نا امیده کیدل د جاهل سړي کار دې ځکه چه هغه منکر وی د قدرت د الله تعالی نه او پیغمبر خو جاهل کیدې نشي. نو معلومه شوه چه تعجب یا استفهام د حضرت ابراهیم ﷺ د مایوسئ او قنوط له وجه نه نه وؤ . او مراد د ﴿ٱلضَّآلُّونَ﴾ نه کافر دی لکه په سورة یوسف کښې الله تعالی فرمائی ﴿وَلَا تَاْيْـَٔسُوا مِن رَّوْحِ اللّٰهِ ۖ إِنَّهُ لَا يَاْيْـَٔسُ مِن رَّوْحِ اللّٰهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾ . (یوسف . ایت نمبر ۷۸) . خو هلته صراحتًا کفر ذکر شو او دلته ضلالت ذکر شو. وجه داده چه دلته قنوط ذکر دې نو د دې سره مناسب ضلالت دې ځکه چه قنوط وئیلې کیږی هغه نا اُمیدئ ته چه په هغې کښې اثر د خفگان په مخ باندې ښکاریږی. او د ضلال استعمال هم په ظاهری گمراهی کښې کیږی. او هلته (یاس) ذکر دې چه هغه صرف د زړه نا اُمیدئ ته وئیلې کیږی او کفر هم تعلق د زړه سره ساتی نو د دې وجه نه ورسره د کفر لفظ استعمال شو .

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ۝ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا
اوئیل هغه پس کوم لوئ کار (منصوبه) دې ستاسو اې رالیږلې شوو (ملائکو) ؟ . هغوئ اوئیل چه بیشکه مونږ رالیږلې شوی یو
إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ۝ إِلَّا آلَ لُوطٍ ۖ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ۝
قوم ته چه جرم کوونکی دی مگر صرف کورنئ د لوط چه بیشکه مونږ خامخا بچ کوونکی یو هغوئ ټولو لره
إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا ۙ إِنَّهَا لَمِنَ الْغَابِرِينَ ۝
مگر ښځه دهغه[1] چه مقرر کړیده مونږ چه بیشکه وی به دا خامخا د پاتې کیدونکی خلکونه

﴿قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ﴾ د دې ځائ نه تر آیت نمبر (۷۷)﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾ پورې د تخویف دنیوی اوله نمونه بیانیږی چه هغه د حضرت لوط ﷺ د قوم واقعه ده، د حضرت لوط ﷺ د قوم واقعه په ترتیب سره په سورة هود کښې ذکر شویده او دلته د تخویف لپاره بطور نمونه څه په تقدیم او تاخیر سره ذکر کیږی. (خطب) وئیلې کیږی امر عظیم ته ، امام راغب رحمه الله فرمائی چه (الخطب الامر العظيم الذى يكثر فيه التخاطب) یعنی خطب هغه عظیم امر ته وئیلې کیږی چه په هغې کښې یوبل ته په کثرت سره خطاب وی. نو هرکله چه فرشتو حضرت ابراهیم ﷺ ته بشارت ورکړو نو

---
۱ - د نفی د تصرف او اختیار له لوط ﷺ نه

ابراهيم عليه السلام ته دا پته هم اولګيده چه د فرشتو اصل مقصد هغه ماته صرف بشارت راكول ندى بلكه د دوئ مقصد يوبل لوئ كار دي نوځكه ئى اوفرمائيل چه ﴿فَمَا خَطْبُكُمْ﴾ او حضرت ابراهيم عليه السلام ته دا علم څنګه اوشو چه مقصود اصلى هغه يوبل امر عظيم دې. نو بعض علماء فرمائى چه حضرت ابراهيم عليه السلام د تعدد د فرشتونه معلومه كړه چه د دوئ مقصد صرف ماته بشارت راكول ندى بلكه امر عظيم دې. ځكه چه د بشارت وركولو لپاره يوه فرشته هم كافي وه لكه په واقعو د حضرت زكريا عليه السلام اوحضرت مريم بى بى كښ چه صرف يوه فرشته راغلې وه او دلته كښ چونكه فرشتې په ډير تعداد كښ راغلې وې نو حضرت ابراهيم عليه السلام محسوسه كړه چه د دوئ په ذمه يو لوئ كار دې، ليكن دا توجيه كمزورې ده ځكه چه څنګه د بشارت لپاره يوه فرشته كافى كيدې شى نو دغه شان د عذاب لپاره هم يوه فرشته كافى كيدې شى نو د تعدد نه دا فهم كول چه دا د عذاب لپاره غير مناسب دى دا فكر صحيح ندې، بعض فرمائى چه حضرت ابراهيم عليه السلام ته علم د فرشتو د كلام نه اوشو چه هغوئ حضرت ابراهيم عليه السلام ته اوئيل چه ﴿لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ﴾ نو حضرت ابراهيم عليه السلام محسوسه كړه چه كچرته د دوئ مقصود صرف ماته بشارت راكول وې نو پكار وه چه دوئ په راتلو سره ماته بشارت راكړې وې، خو بشارت دوئ ضمنى راكړو لپاره د خوف د ختميدلو . نو معلومه شوه چه مقصود اصلى هغه بل څه كار دې نو ځكه ئى اوفرمائيل چه ﴿فَمَا خَطْبُكُمْ﴾ اويا حضرت ابراهيم عليه السلام ته علم د فرشتو دهغه غصې نه اوشو لكه څنګه چه ماقبل كښ د زمخشرى رايه ذكر شوې وه چه هغه فرشتې ديرې غصه وې نو حضرت ابراهيم عليه السلام محسوسه كړه چه مقصد د دوئ ماته زيرې او بشارت راكول ندى ځكه چه بشارت راوړونكې غصه نه وى ، نو معلومه شوه چه د دوئ مقصد اصلى بل امر عظيم دې، او دحضر شاه صاحب رحمه الله توجيه پدې ټولو كښ بې غباره ده چه حضرت ابراهيم عليه السلام دهغه فطرى اثر نه معلومه كړه چه دا فرشتې اصالةً ماته د بشارة لپاره ندى راغلى، بلكه دوئ د يو بل مقصد لپاره راغليدى ، ﴿قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا﴾ فرشتې د خپل راتګ اصل مقصد ذكر كوى ﴿إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ﴾ مراد ترينه مشركين او كافر دى چه هغه قوم لوط دې او ((ولنهلكنم)) ورسره مقدر دې ﴿إِلَّا آلَ لُوطٍ﴾ دا استثناء يا متصله ده او يا منفصله ده كه مستثنى منه ورله (قوم) شى چه هغه متصف دې په (مجرمين) سره نو استثناء به منقطع وى ځكه چه (آل لوط) په هغو كښ جزمًا داخل نه وؤ او كه مستثنى منه ورله ضمير شى چه په مجرمين كښ دې چه هغه راجع دې مطلق قوم ته بغير د اتصاف نه په مجرمين سره نو بيا استثناء متصله ده ﴿إِلَّا امْرَأَتَهُ﴾ دا

استثناء د ماقبل استثناء نه ده چه هغه (لمجوهم) دي يعني قوم مجرمان به ټول هلاك كيږي مګر آل لوط به بچ كيږي، او آل لوط به ټول بچ كيږي مګر ښځه به ئې نه بچ كيږي ﴿قَدَّرْنَا﴾ تقدير په لغت كښې ونيلې كيږي چه يو شې د بل شي په اندازې باندې جوړول اودلته ترينه مراد قضاء او فيصله د الله تعالى ده چه هغه عذاب وؤ په قوم د لوط ﷺ باندې، او دا فعل د الله تعالى دې لكه څنګه چه نجات وركول فعل د الله تعالى دې ليكن په دواړو خايونو كښې يعنى (انا لمنجوهم) او (قدرنا) كښې فرشتو نسبت خپل ځان ته اوكړو، وجه داده چه مرسَل د مرسِل سره اختصاص وى نو د فرشتو د دغه خصوصى قربت د اظهار لپاره د دغې افعالو نسبت ځان ته اوكړو (كبير، مظهرى)، يا وجه داده چه كلام د مرسَل هغه كلام د مرسِل دې، مرسَل د خپله طرفه څه كلام نشى كولې، هغه صرف پيغام رسونكې وى نو دلته هم فرشتو ابتداءً دا او وئيل چه ﴿إِنَّآ أُرْسِلْنَآ﴾ يعنى مونږ صرف قاصدان يو، او دا حقيقةً پيغام د الله تعالى دې، دريمه وجه داده چه نسبت د فرشتو خپل ځان طرفته دا تسبباً دې يعنى د اسباب ظاهريه له وجه نه دې ورنه حقيقتًا مافوق الاسباب نجات وركوونكې اوفيصله كوونكې هغه ذات د الله تعالى دې (افضل التراجم)، اوحضرت مولانا شبير احمد عثمانى رحمه الله فرمائى چه ممكنه ده چه دا كلام د الله تعالى وى نو بيا څه قسم اشكال هم نشته دې (از تفسير عثمانى)، ﴿إِنَّهَا لَمِنَ الْغَٰبِرِينَ﴾ يعنى دا به وى د باقى پاتې كيدنكو نه، غابر ونيلې كيږي هغه پيۀ ته چه د غوا د لشلو نه وروستو په تيونو كښې پاتې وى.

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلُونَ ۝ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ۝ قَالُوا۟
پس هركله چه راغلل كوروني د لوط ته هغه ليږلې شوى. اوئيل هغه چه بيشكه يئ تاسو يو قوم نا آشنا . هغوئ ورته اوئيل
بَلْ جِئْنَٰكَ بِمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَمْتَرُونَ ۝ وَأَتَيْنَٰكَ
بلكه راوړې دې مونږ تاته خبر دهغه شي (عذاب) چه وؤ هغوئ چه په هغې كښې به ئې شك كولو . او راغلى يومونږ تاته
بِٱلْحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ۝ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ
په هغه يقينى خبر (د عذاب سره) او بيشكه مونږ خامخا رشتينى يو. پس روان كړه ته كورنئ خپله په يوې حصې كښې د شپې نه
وَٱتَّبِعْ أَدْبَٰرَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَٱمْضُوا۟ حَيْثُ تُؤْمَرُونَ ۝
او څه ته وروستو په دوئ پسې اونه دې ګورى شاته د ستاسو نه هيڅ څوك او ځئ هغه ځائ ته چه تاسو ته ئې حكم كولې شى.

وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾

او وحی اوکړه مونږ ده ته د دې خبرې (فيصله شوې) چه بيشکه جرړې د دې خلکو به پريکړې شی په وخت د صبا کښې

﴿ فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ ﴾ دا د قصې ابتدائی حصه ده. او شروع ده په اهلاک د قوم لوط او په نجات د آل لوط کښې او وضع د اسم ظاهر په ځائ د مضمر اوکړې شوه لپاره د تنبيه پدې چه مقصود اصلی د فرشتو د راتګ هغه دا واقعه ده ﴿ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴾ هرکله چه فرشتې په حضرت لوط عليه السلام باندې اچانک داخلې شوې اوهغه اونه پيژندې نو ورته ئې اوفرمائيل ﴿ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴾ (منکر) يا په معنی د ناګوار او خلاف طبعيت سره دې او مقصد ئې دا دې چه څه تاسونه خطره محسوسه وم او بد ګنړم تاسو ((ای تنکرکم نفسی منك)) . (کشاف) اويا دمنکر معنی ده نا آشنا او غير معروف . او مقصد ئې دا دې چه تاسو نا اشنا يئ او تاسو ته د دې خلکو هغه بد خوئ او بد اخلاقی نده معلومه . او وجه دا وه چه حضرت لوط عليه السلام ته فرشتې په ډير ښائسته صورت کښې د ميلمنو راغلې وې. نو حضرت لوط عليه السلام د خپل قوم د طرفه دا خطره محسوسه کړه چه داسې نه چه دا قوم دې ميلمنو ته څه نقصان اونه رسوی نو ځکه ئې هغوئ ته او وئيل چه ﴿ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴾ او يا د منکر معنی ده عجيب . او دا کلام حضرت لوط عليه السلام په هغه وخت کښې اوکړو چه کله قوم د دغې خائسته ميلمنونه خبر شو او راغلل . نو حضرت لوط عليه السلام مسلسل د ميلمنو مدافعت کولو اوهغه ميلمانه په آرام سره ناست وو هيڅ ئې هم نه وئيل ، حتی چه حضرت لوط عليه السلام مجبور شو نو وې فرمائيل چه ﴿ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ ءَاوِىٓ إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴾ . (هود ، آيت نمبر : ۸۰) ، او چه زيات تنګ شو نو ميلمانوته ئې اووئيل چه ﴿ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴾ چه تاسو هم څه عجيبه قوم يئ چه څه امداد هم څما نه کوئ (روح) ، ﴿ بَلْ جِئْنَٰكَ ﴾ اعراض دې په ماقبل کښې دهر قسم خوف نه، او د دينه مخکښې تقدير دې ((ای ما جئناك لضررك بل جئناك – الخ)) ﴿ بِمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴾ دلته هم تقدير دې (ای بخبر ما) مراد ترينه عذاب دې چه دوئ به دهغې په نزول کښې شك کولو ((ای العذاب کنت تتوعدهم به فيمترون ويشکون)) ، (روح) ، اويا ترينه مراد توحيد دې چه دوئ به په هغې کښې شك کولو ﴿ وَأَتَيْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ ﴾ مراد ترينه يا صدق دې او يا عذاب دې ﴿ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴾ د مزيد تاکيد لپاره دې چه ګپ شپ ندې ﴿ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ ﴾ پدې کښې مبادی د نجات ذکر کيږی چه هغه څلور دی (۱) د شپې

تلل (٢) امير او مشر د ټولو نه په اخير کښ تلل (٣) شاته نه کتل (۴) مقام متعينه ماموربه ته تلل .

﴿ فَأَسْرِ ﴾ په قطع د همزه او په وصل د همزه په دواړو قرائتونو سره مروى دې دا کثر علماؤ په نيزد (اسرى) او (سرى) دواړه وئيلې کيږى د شپلې تللو ته وائى ﴿بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ ﴾ يا د تاکيد لپاره دې او يا په (اسر) کښ تجريد شوې دې چه دهغې نه مراد مطلق ذهاب وؤ نو ځکه ﴿بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ ﴾ ذکر شو. او مراد ترينه يا يوه حصه د شپې ده او يا ترينه مراد (آخر الليل) دې ﴿وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ ﴾ يعنى په خپله د ټولونه وروستو شه لپاره د حفاظت دهغوئ چه څوك پاتې نشى ، اودغه طريقه به دحضور صلى الله عليه وسلم په اکثرو غزواتو کښ وه ﴿وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ ﴾ يعنى څوك دې هم په تاسو کښ شاته نه ګورى له وجه د دينه چه هغه سخت عذاب اونه ګورى چه په زړه کښ ئې د اقاريو سره څه نرمى او همدردى پيدا نشى چه بيا به په دوئ عذاب راشى ، او بعض فرمائى چه عدم التفات کنايه ده د سرعت نه په تللو کښ ځکه چه په شا کتلو سره مقصد ته په رسيدو کښ سستى پيدا کيږى. او بعض فرمائى چه عدم التفات دا علامه ده د نجات ميلاؤوونکو ته د آل لوط لپاره (خازن) ،

﴿وَامْضُوا حَيْثُ تُؤْمَرُونَ ﴾ مراد ترينه يا ملك د شام دې او يا ترينه مصر اويا عدن مراد دې، او (حيث) پدې ځائ کښ د ظرف مکان مبهم لپاره دې د دې وجه نه تعديه د فعل ورته بالذات شوې ده چه هغه په مبهم کښ جائز دې ﴿ وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ﴾ دا ادخال الهى دې او لفظ د (قَضَيْنَا) متضمن دې معنى د (أَوْحَيْنَا) لره نو د دې وجه نه په (الى) سره متعدى شو ﴿ذَٰلِكَ الْأَمْرَ ﴾ مراد ترينه هغه قطعى فيصله ده د قوم لوط په باره کښ ﴿أَنَّ دَابِرَ هَٰؤُلَاءِ ﴾ دا تفسير د دغه امر دې، اولاً ئى ذکر اوشو په ابهام سره او بيا ئى تفسير أوشو لپاره د تفخيم او تعظيم شان د دغې امر. (دابر) وئيلې کيږى آخر د شى ته، زيلى او جرړې ته، پدې کښ اشاره ده چه عذاب به په دوئ باندې احاطه کوونکې وى، څوك به ترينه هم نه بچ کيږى ((يستأصلون من اخرهم حق لايبقى منهم احد)) ، (کښاف)، ﴿مُّصْبِحِينَ ﴾ حال دې د (دابر) نه چه هغه مفعول مالم يسم فاعله دې په اعتبار د ضمير مستتره سره چه په مقطوع کښ دې چه راجع دې دابر ته.

وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ۞ قَالَ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ ۞

او راغلل اوسيدونکى د دغه ښهر خوشحاليدل . اوئيل (لوط) چه بيشکه دا کسان ميلمانه زما دى پس مه شرموئ تا سو ما لره .

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ ۞ قَالُوْٓا اَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۞

او او بېرېږئ د الله نه او مه رسوا کوئ ما لره اوئيل هغوئ چه آيا نوې منع کړې مونږ ته (د تعلق ساتلو) د خلکو نه

قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيْٓ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۞

اوئيل هغه دا زنانه لونړه دی خما کچرته يئ تاسو کوونکی د دې کار

﴿ وَجَآءَ أَهْلُ ﴾ د واقعې او د قصې دويمه حصه بيانيږی او پدې سورت کښ د دې واقعې ترتيب ندې ملحوظ څکه چه د ميلمنو راتلل اول وؤ بيا په هغو پسې د قوم راتلل وؤ . بيا د حضرت لوط ﷺ د طرف نه مسلسل مدافعت وؤ ، بيا په آخر کښ فرشتو هغه ته خپل خبر ورکړو ، او واو د مطلق جمع لپاره دې او وجه د د دې داده چه د دې واقعې دلته ذکر کول اول مقصد هغه مؤمنانو ته بشارت ورکول دی ، او دويم مقصد هغه تخويف دې منکرينوته نو څکه تقديم دهغه حصې اوشو چه په هغې کښ بشارت ذکر دې او بيا وريسې د تخويف والا حصه ذکر شوه ﴿ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴾ استبشار وئيلې کيږی اظهار د سرور ته، نو کله چه دا خبره مشهوره شوه چه د حضرت لوط ﷺ کورته خائسته بې ږيرې ميلمانه راغلی دی نو د قوم لوط هغه ګمراه خلکو ته هم خبر اوشو نو هغوئ د خپل ناجائز خواهش پوره کولو لپاره د حضرت لوط ﷺ کورته په منډه منډه په خوشحالئ سره راغلل، بعض مفسرين فرمائی چه خبر ورکوونکې ښځه د لوط ﷺ وه ، ﴿ قَالَ ﴾ لوط ﷺ هغوئ ته منت او زارئ شروع کړه ﴿ فَلَا تَفْضَحُوْنِ ﴾ معنی ئی ده (لاتخجلون) ، فضح وئيلې کيږی د داسې امر ظاهريدل چه هغه سبب د عار اوګرځی، نو د ميلمه بې عزتی کول دا د کوربه او ميزبان بې عزتی اودهغه شرمول دی او دهغه لپاره سبب د عار وی ﴿ وَلَا تُخْزُوْنِ ﴾ يا مشتق دې د (خزیٌ) نه په معنی د ذلت سره ، اويا مشتق دې د (خزايةٌ) نه په معنی دشرم سره، نو د مشر خبره نه منل د ميلمنو په مخ کښ دا د هغه شرمول او دهغه تذليل وی، ﴿ قَالُوْٓا اَوَلَمْ نَنْهَكَ ﴾ دا دهغوئ انتهائی درجې بی حيايی وه چه مخامخ پيغمبر ته وائی چه ته خپله بې عزتی په خپله کوې مونږ ته دخلکو د ميلمستيا نه منع کړې نوې څه ؟ او يا ته مونږ د خلکو د سفارش نه منع کړې نه يې څه ؟ چه پدې بد کارئ کښ به ته مونږ نه منع کوې او سفارش به نه کوې او دا استفهام انکاری دې په معنی د نهی سره، حضرت شيخ الاسلام مولانا شبير احمد عثمانی ﷫ فرمائی چه د دينه دا معلوميږی چه دې خلکو به هميشه لپاره نا آشنا مسافرو سره د دې افعال شنيعه ارتکاب کولو ، اوحضرت لوط ﷺ به هميشه دوئ د

دینه منع کول ﴿قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ﴾ مراد د بنات نه یا بنات صلبیه دی او یا ترینه زنانه دقوم مراد دي، ځکه چه پیغمبر دهغوئ لپاره په منزله دپلار وی ، او خبر دلته مقدر دې چه (فتزوجوهن) دې . تفصیل په سورة هود کښ تیر شوې دې ، ﴿إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ﴾ یعنی کچرته تاسو څما خبرې منلو ته تیار یئ، او دهغې مقتضی مطابق عمل کولو ته تیار یئ، نو حضرت لوط ﷺ ته یو قدرتی او فطری شك وؤ چه آیا دا بې حیا خلك به څما دا خبره قبوله کړی او که نه؟ نو د دې وجه نه ئی په شك او تردد سره کلام اوکړو، او یا ئی مقصد دا دې چه کچرته تاسو خامخا خپل شهوت پوره کوونکی یئ نو په محل حلال کښ ئی پوره کړئ، څه ضرورت دې ارتکاب د حرامو ته، او د دواړو توجیهاتو کښ جزاء مقدره ده چه هغه (فهو خير لكم) ده.

لَعَمْرُكَ	إِنَّهُمْ	لَفِي سَكْرَتِهِمْ	يَعْمَهُونَ ۝	فَأَخَذَتْهُمُ	الصَّيْحَةُ
قسم مي دې وی ستا په ژوند بیشکه دوئ خامخا په خپلې نشه کښ سرگردانه وؤ. پس اونیوؤ هغوئ لره یو سخت آواز					
مُشْرِقِينَ ۝	فَجَعَلْنَا	عَالِيَهَا	سَافِلَهَا	وَأَمْطَرْنَا	عَلَيْهِمْ
په وخت د نمر خاته کښ . پس اوگرځولو مونږ بره طرف د هغې کلو لاندې طرف دهغې ته او را اووروَل مونږ په هغوئ باندې					
حِجَارَةً	مِّن سِجِّيلٍ ۝	إِنَّ فِي	ذَٰلِكَ	لَآيَاتٍ	لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ۝
کانړی د پخو شوو خاورو نه . بیشکه پدې واقع کښ خامخا ډیرې نشانئ د عبرت دی لپاره د فکر کوونکو					
وَإِنَّهَا	لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ۝	إِنَّ فِي	ذَٰلِكَ	لَآيَةً	لِّلْمُؤْمِنِينَ ۝
او بیشکه هغه کلی پراته دی په لارې نیغې باندې . بیشکه پدې کښ لویه نشانی ده لپاره د مؤمنانو					

﴿لَعَمْرُكَ﴾ دا د ابتداء د سورت سره متعلق دې چه ((ما نتزل الملائكة — الايه)) دې ، یعنی دوئ ایمان نه راوړی او امید قطع شو نو اوس به فرشتې په حق عذاب سره نازلیږی او دوئ ته به څه مهلت هم نه میلاویږی، (لعمرك) کښ لام قسمیه دې او عُمر عَمر (بالضم والفتح) دواړو یوه معنی ده خو چه کله قسم خوړې شی نو بیا بالفتح عَمر استعمالیږی ، امام راغب رحمه الله فرمائی ((العَمر والعُمر واحد لكن خص القسم بالعَمر دون العُمر)) ځکه چه استعمال د قسم کثیر وی نو فتحه چه هغه اخف الحرکات ده ورسره زیاته مناسبه ده، (لعمرك) مبتداء ده او خبر ورله حذف دې وجوبًا چه هغه

قسمي، دې او قسم کوونکې يا الله دې او يا فرشتې دی او مقسم به ي عمر دحضور ﷺ دې او يا د لوط ﷺ، جمهورو مفسرينو اول احتمال غوره کړې دې، دا ادخال الهی دې لپاره د اعزاز او اکرام او د تسلی دحضور ﷺ لپاره، امام بيهقی په دلائل النبوة او ابن جرير په تفسير طبری کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه او ابن مردويه دحضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت نقل کړې دې چه الله تعالی په ټول کائنات او مخلوقات کښې چاته هم دحضور صلی الله عليه وسلم نه زياته مرتبه نده ورکړې او د دې وجه نه الله تعالی د بل پيغمبر يا د يوې فرشتې په ژوند قسم ندې کړې . ((ما خلق الله ما ذرأ وما برأ نفسًا اکرم علی الله من محمد صلی الله عليه وسلم وما سمعت الله اقسم بحياة احد غيره)) . (طبری. ج ۷ ، ص ۵۲۶)

امام قرطبی د ابن العربی او د قاضی عياض نه نقل کړيدی چه ((اجمع اهل التفسير فی هذا انه قسمٌ من الله جل جلاله بمدة حياة محمد صلی الله عليه وسلم)) بعض مفسرين فرمائی چه قسم کوونکی هغه فرشتې دی او مقسم به عمر د حضرت لوط ﷺ دې ځکه چه په ماقبل کښې ټول کلام د فرشتو دې د حضرت لوط ﷺ سره، اوس که په مينځ کښې ادخال کيږی نو سلسله د کلام به منقطعه شي، ليکن دا قول ضعيف دې ، صاحب د روح المعانی فرمائی چه : ((وهو مع مخالفته للماثور محتاج لتقدير القول ای قالت الملائکة للوط — لعمرك — الخ ، وهو خلاف الاصل وان کان سياق القصة شاهدًا له وقرينة عليه) او بعض معاصر مفسرينو يو دريم احتمال هم ذکر کړې دې او هغې ته ئی غوره وئيلې دې چه قسم کوونکې الله تعالی دې ليکن مقسم به عمر د حضرت لوط ﷺ دې لپاره د دې چه سلسله د کلام منقطع نشی ، ليکن د ډير تلاش نه وروستو بيا هم دا احتمال په معتبرو تفاسيرو کښې د نظر لاندې رانغې اوسره د دې چه د آثار مرفوعه نه هم خلاف دې .

تنبيه (۱) : الله تعالی چه دخپل ذات او صفاتو نه علاوه په يو مخلوق قسم اوکړی نو دهغې متعدد فوائد وی ، کله الله تعالی هغه شې په استشهاد کښې پيش کوی لکه (والعصر) يا (والليل) وغيره شو ، کله دهغې شی منافع کثيره ته پکښې اشاره وی لکه (والتين والزيتون) شو ، کله د مقسم به اکرام او تعظيم ته پکښې اشاره وی لکه (لا اقسم بهذا البلد) شو ، اوکله کله دمقسم به لپاره دُعا مقصد وی وی لکه پدې مقام کښې شو ، نو د اکثر مفسرينو په نيزد دا قسم لپاره د اکرام او د تعظيم دې ليکن حضرت والد صاحب رحمه الله واسعة به فرمائيل چه زمونږ استاد حضرت شاه منصور باباجی رحمه الله به فرمائيل چه پدې ځائ کښې دا قسم د دعا لپاره دې او معنی ئی داده چه (ژوندې دې

او سي نه)

تنبیه (۲) الله تعالی په خپلو مخلوقاتو کښ مطلقًا په مختلف شیونو باندې قسم خوری دا د الله سره خاص دې ځکه چه الله تعالی قادر مطلق او مختار کل دې دهغه شان دا دې چه ﴿لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ﴾ لیکن د مخلوق لپاره مطلقًا په غیر الله باندې قسم خوړل جائز ندی بلکه په هغې کښ تفصیل بیان شوې دې چه قسم کله لپاره د تعظیم دمخلوق په وی چه دې ته یمین شرعی او حقیقی وئیلې کیږی. نو داسې قسم صرف په ذات او په صفاتو د الله تعالی باندې خوړې شی او قرآن مجید چه صفت د الله تعالی دې نو په هغې هم خوړې شی، او د دینه علاوه چه غیر الله باندې داسې قسم خوړل جائز ندی نو کچرته دغه شان قسم چا په غیر الله باندې پدې عقیدې سره اوخوړلو چه دا مخلوق به قادر مطلق او متصرف وی نو دا شرك دې او په حدیث کښ چه راغلی دی ((من حلف بغير الله فقد اشرك)) د دې نه مراد داقسم حلف دې او کچرته پدې عقیدې سره نوی نو بیا حرام دې او احادیث دنهی پدې قسم محمول دی، اوکله کله قسم په غیر الله باندې صرف د توکید او توثیق دحکم لپاره وی بغیر د تعظیم دمحلوف به نه ، نو داسې قسم حلف او یمین په غیرالله باندې جائز دې، لکه په حدیث دضمان بن ثعلبه کښ په روایت د مسلم شریف سره چه مذکور دی چه حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : ((افلح الرجل ان صدق وابيه)) امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا قسم هغه ندې چه هغه د تعظیم د محلوف به لپاره وی بلکه دا صرف د توکید لپاره دې، اوعلامه عینی رحمه الله د دې حدیث په تشریح کښ فرمائی چه : ((والنهى انما ورد فى القاصد بحقيقة الحلف لما فيه من تعظيمه المخلوق)) ، (عمدة القاری، ج : ۱ ، ص : ۲۷۰) ، او په دغه شان قسم کښ کله الفاظ د قسم ذکر وی اوکله نوی ذکر، اودغه شان قسم چه پدې سره مقصود توکید دحکم وی کله لپاره د استشهاد وی یعنی توکید دحکم په استشهاد سره اوکړې شی لکه پدې قول د شاعر کښ چه دی ع :

قسم بلب مئ گون تو وزلف شبگون تو — که تو محبوب دلربائی

اوکله دا توکید د حکم په بد دعاء سره وی یعنی دا قسم په بد دعاء سره وی، لکه پدې شعر دحسان بن ثابت رضی الله عنه کښ چه راغلیدی :

ثَكِلتُ بُنَيَّتِي اِنْ لم تَرَوْهَا   تُثِيرُ النقعُ مِن طرفَيْ كداءِ

نو د فتح مکه په ورځ حضور صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمائیل چه تاسو مکې ته دکداء جانب نه

داخل شئ چه دحضرت حسان ﷛ قسم پوره شي نوحضورصلی الله علیه وسلم دحضرت حسان ﷛ الفاظ ((ثكلت بنيق)) ته قسم وئيلې وؤ، اوكله دغه توكيد په دعا سره وى لكه دا قول د يوسړى بل ته شو «الله تعالى دې تاته هدايت اوكړى خه ريښتيا وايم».

﴿لَفِي سَكْرَتِهِمْ﴾ مراد ترينه گمراهى ده او يا غفلت دې ﴿يَعْمَهُونَ﴾ مراد ترينه سرگردانى او پريشانى ده او حضرت قتادة ﷛ ترينه په (يلعبون) سره ترجمه كړيده. يعنى دوئ په خپلې گمراهئ كښ او يا په غفلت كښ سرگردانه پراته دى نو څنگه به ستا خبره قبوله كړى ﴿فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ﴾ الف لام يا جنسى دې او مراد ترينه جنس صيحة دې او يا عهدى دې مراد ترينه صيحه دحضرت جبرئيل ﷺ ده ليكن اول احتمال زيات راجح دې ځكه چه په تعين باندې څه دليل نشته دې او ابن جريج فرمائى چه هر عذاب چه په هغې سره قومونه هلاك كړې شوى دى هغې ته صيحه او صاعقه وئيلې كيږى (عثمانى)، ﴿مُشْرِقِينَ﴾ دا حال دې د ضمير مفعول د ((اخذتهم)) نه يعنى په حال كون د دوئ كښ چه دوئ په وخت د اشراق كښ داخليدونكى وؤ، او په آيت نمبر ۶۶ كښ اودغه شان په سورة هود كښ وخت دعذاب صبح وئيلې شوې دې او دلته وخت د اشراق ذكر شو نو امام قرطبى يوه وجه دتطبيق داسې ذكر كړيده چه مراد د مشرقين نه اشراق الفجر دې، او يا تطبيق داسې دې چه ابتداء دعذاب د سحر په شروع كيدو سره شوې وه اوچه وخت د اشراق كيدلو نو دهغوئ معامله ختمه كړې شوې وه ﴿فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا﴾ تفصيل د دې په سورة هود كښ په طريقې اتم سره ذكر شوې دې ﴿لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ﴾ امام مجاهد ﷬ د دې ترجمه په (متفرسين) سره كوى يعنى متوسم هغه ته وئيلې كيږى چه هغه بعض ظاهرى علامات اوقرائن اوگورى اوپه هغې سره دبل يوپټ حقيقت پته اولگوى، د دې وجه نه حضرت حسن بصرى ﷬ د دې ايت په تفسير كښ داسې فرمائى ((المتوسمون هم الذين يتوسمون الامور فيعلمون ان الذى اهلك قوم لوط قادر على ان يهلك الكفار))، (قرطبى)، او د متفرسين معنى امام ترمذى ﷬ په سند ضعيفه سره د حضرت ابو سعيد خدرى ﷛ نه روايت كړيده چه هغه د حضور صلى الله عليه وسلم نه نقل كړيده چه حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: ((اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله ثم قرأ: إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ)) نو د دې روايت په سند كښ عطية العوفى دې چه هغه بالاتفاق ضعيف راوى دې، او دا حديث په سند صحيحه سره د حضرت ابن عمر، حضرت ثوبان او دحضرت انس رضى الله عنهم نه په مختلفو الفاظو سره مروى دې خو په

هغی کښې ((ثم قرأ ان في ذلك – الخ)) دا الفاظ نیشته دي . د فراست اقسام او دهغې امثله او واقعات صاحب د خازن او امام قرطبی په خپلو تفاسیرو کښې پدې مقام کښې ذکر کړیدی چه قابل د مطالعې دی. او هر کله چه په فکر او غور کولو سره په اهلاك د قوم لوط کښې دیر عبرتونه حاصلیدل نو د دې وجه نه نی آیات جمع ذکر شوه ﴿ وَإِنَّهَا ﴾ ضمیر قریة ته راجع دې ﴿ لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴾ مراد ترینه هغه لار ده چه د مکې نه شام ته وتلې ده او د کفار مکه په هغې باندې آمد ورفت وو لکه په سورة الصافات، کښې الله تعالی فرمائی چه ﴿ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴿١٣٧﴾ وَبِاللَّيْلِ ﴾ او دغه هلاك شوی ښار نی د قرآن مجید د ارشاد موافق دسطح سمندر نه په ډیر لاندې والی سره د یو لوئ صحرا په صورت کښې اوس هم موجود دې ، او دهغې په یوې حصې باندې یو خاص قسم اوبه هم دی چه هغې ته بحر لوط اوبحر میت وئیلې کیږی او دهغې اوبو خاصیت دادې چه څه قسم ثقیل شې په هغې کښې نه ډوبیږی ځکه چه کښې ثقل هغه په بره راغلې دې او څه قسم د اوبو څناور پکښې ژوندی نه پاتې کیږی اگرچه دماهرینو د نظر مطابق پدې کښې اجزاء د اوبو کم او د تیلو اجزاء پکښې زیات دی د دې وجه نه څه حیوان پکښې ژوندې نه پاتې کیږی، خوبعیده نده چه اصل سبب هغه د قهر الهی او غضب الهی اثرات وی اگرچه ظاهری وجوهات څه هم کیدې شی ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾ مشار الیه د (ذلك) لپاره واقعه عظیمه ده، او تنوین په (آيةً) کښې د تعظیم لپاره دې، او (آيةً) مفرد راوړې شو ځکه چه د مؤمن لپاره یوه نشانی هم کافی وی.

وَإِن كَانَ أَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ لَظَٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَإِنَّهُمَا
او بیشکه [1] وو ځنګل والا د ظالمانونه پس بدله واغسته مونږ دهغوئ نه او بیشکه هغه دواړه کلی
لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ ٱلْحِجْرِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾
واقع دی په لاره ښکاره باندې . او بیشکه نسبت [2] د دروغو کړې وو اوسیدونکو د حجر (ثمودیانو) پیغمبرانو ته
وَءَاتَيْنَٰهُمْ ءَايَٰتِنَا فَكَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوا۟ يَنْحِتُونَ
او ورکړې وې مونږ هغوئ ته معجزې خپلې پس وو هغوئ دهغې نه مخ گرځوونکی . او وو هغوئ چه کنستل به ئې

١ - بیان د دویمې نمونې.
٢ - بیان د دریمې نمونې.

مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا اٰمِنِيْنَ ﴿٨٢﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿٨٣﴾ فَمَآ اَغْنٰى

د غرونو نه (خان نه) كورونه چه بيغمه به وو. پس اونيول هغوئ لره يو سخت آواز په وخت د صبا كښې پس دفع نه كړو

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٤﴾

دهغوئ نه (عذاب) هغه عملونو چه هغوئ به كولو

﴿ وَاِنْ كَانَ ﴾ دويمه نمونه د تخويف دنيوى ذكر كيږى دامم سابقه نه . او دا د حضرت شعيب ﷺ د قوم واقعه ده، او (انْ) يدې ځائ كښې بناء بر قول اصح مخفف عن المثقل دې او اسم ورله ضمير شان دې چه هغه محذوف دې ﴿ أَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ ﴾ آيكه وئيلې كيږى ډيرو ونو ته يعنى ځنګل او بڼ ، نو معنى ئى ده د ځنګل والاوته، د دوئ په تعين كښې اختلاف دې لكه چه په سورة هود كښې تير شوى دى ، بعض مفسرين فرمائى چه اصحاب الآيكه او مدين دواړه يو قوم وؤ خو مدين ورته دهغوئ د نيكه ته د نسب د وجه نه وئيلې كيږى او اصحاب الآيكه ورته ځكه وائى چه دهغوئ په علاقه كښې ونې ګڼړې وې ، او بعض فرمائى چه مدين ئى نسبى نوم وؤ او آيكه دهغوئ مذهبى نوم وؤ او دغه وجه د فرق ده چه آيكه سره لفظ د (آخُوهم) نه ذكر كيږى او د مدين سره ذكر كيږى ځكه چه شعيب ﷺ دهغوئ د نسب نه نهٔ وؤ خود مذهب نه ئى وؤ، اوبعض مفسرين فرمائى چه آيكه جدا قوم وؤ او مدين جدا قوم وؤ ، مدين دحضرت شعيب ﷺ خپل قوم وؤ چه اول ورته دې مبعوث شوې وؤ د احكاماتو د نه منلو د وجه نه هغوئ الله تعالى په صيحې او په رجفې سره هلاك كړى وؤ او دهغې نه وروستو بيا شعيب ﷺ اصحاب الايكه ته مبعوث كړې شو چه هغوئ هم د احكاماتو د نه منلو د وجه نه په عذاب يوم الظله سره هلاك كړې شوى وؤ، او دا هم وجه د فرق ده د لفظ د (اخوهم) د يو سره د ذكر كيدلو او دبل سره د نه ذكر كيدلو ﴿ لَظٰلِمِيْنَ ﴾ چه هغه نقص د مكيال او ميزان وؤ او دهوكې وغيره وې چه په سورة هود او اعراف كښې تيرشويدى ﴿ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ ﴾ مراد ترينه هغوئ ته دهغوئ دجرم سزا وركول دى يعنى عذاب، اوهغه عذاب داسې وؤ چه پدوئ باندې څو ورځې سخته ګرمى راغله نو بيا دوئ اوكتل چه يو ځائ كښې وريځ راغله نو دوئ خوشحاله شول او ټول هلته راجمع شول نو په هغې كښې اور وؤ چه په هغې سره دوئ هلاك كړې شو ، ﴿ وَاِنَّهُمَا ﴾

١ - نفى د اختيار د تصرف له معبودان باطله نه .

ضمیر د تثنیه راجع دي اصحاب الأیکه اومدین ته او یا راجعْ دي قوم لوط او قوم شعیب ته ﴿لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ﴾ مراد ترینه هغه لویه لار ده چه د ډیرو خلکو تګ ورباندې وی یعنی شاهراه او لفظ د امام ورته استعمال شو ځکه چه امام وئیلې کیږی مایؤتم به ته یعنی چه دچا اتباع کولې شی، او چونکه د لارې هم اتباع کولې شی او مسافر دهغې اتباع کولو سره خپل منزل مقصود ته رسی نو د دې وجه نه ورته امام وه وئیلې شو، او په کومه لاره کښې چه دحضرت لوط ﷺ د قوم اثار موجود دی نو ورسره بالکل قریب کښې لږ لاندې دحضرت شعیب ﷺ د قوم آثار هم موجود دی چه مکې نه شام ته تلونکې اوراتلونکې ته ښکاریږی. ﴿وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ﴾ د تخویف دنیوی دریمه نمونه ذکر کیږی دا هم د امم سابقه وؤ نه ده چه د حضرت صالح ﷺ دقوم واقعه ده، (كَذَّبَ) کښې اشاره ده سبب عذاب د دوئ ته (حجر) په ډیرو معانیو کښې استعمالیږی خو دلته ترینه مراد دقوم ثمود هغه مرکزی شهر دې چه دوئ به پکښې پاتې کیدل ﴿الْمُرْسَلِينَ﴾ هرکله چه د ټولو رسولانو اصول یو وؤ نو د یو پیغمبر تکذیب مستلزم وؤ دټولو رسولانو تکذیب لره، نو د دې وجه نه مرسلین جمع راوړې شو، او یا د مرسلین نه مراد صالح ﷺ او دهغه والا مؤمنین اتباع دی او په هغوئ باندې د مرسلین اطلاق تغلیباً دې او یا جمع تعظیمی ده (خازن)، ﴿وَآتَيْنَاهُمْ آيَاتِنَا﴾ هرکله چه وؤ په ناقې دحضرت صالح ﷺ کښې آیات کثیره نو ځکه آیات جمع راوړې شو، صاحب د روح المعانی فرمائی چه په هغه ناقه کښې پنځه لوئې نشانې وې: (۱) د ګټ نه راوتل (۲) زر لنګیدل (۳) غټ والې د بدن دهغې (۴) ډیر پئ ورکول (۵) ډیرې اوبه ځکل، او بعض فرمائی چه آیات جمع ذکر کولو وجه داده چه د حضرت صالح ﷺ لپاره د ناقې نه علاوه نور معجزات هم وؤ چه تفصیل ئی مونږ ته ندې بیان شوې، او بعض فرمائی چه مراد ترینه آیتونه د کتاب دی چه حضرت صالح ﷺ ته ورکړې شوی وؤ ﴿وَكَانُوا يَنْحِتُونَ﴾ په دې کښې اشاره ده مهارت د دنیا د دوئ ته او د دوئ دنیا پرستئ ته ﴿آمِنِينَ﴾ یعنی د الله تعالی د عذاب نه څه خوف ورسره وؤ، او یا د آمنین نه مراد دادې چه د انهدام نه او دغلو او د دشمن نه په امن کښې وؤ ﴿فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ﴾ په سورة اعراف آیت نمبر (۷۸) کښې درجفې ذکر دې او دلته په سورةهود آیت نمبر (۶۷) کښې ذکر د صیحې دې، نو غوره قول د تطبیق پکښې دا دې چه په دوئ باندې دوه عذابونه نازل شوی وؤ دپاسه نه صیحه وه او د زمکې د طرف نه رجفه وه، تفصیل ئی په سورة اعراف اوهود کښې تیر شوې دې ﴿مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ د دینه مراد دهغوئ صنعتکاری

دنیوی ترقی او لوئ لوئ محلات او یا خه مکانات وغیره دی چه کله د الله تعالی عذاب راغې نو دا خیزونه دوئ ته پکار رانغلل، او یا ترینه دهغوئ اعمال شرکیه او افعال خبیثه مراد دی (خازن) . لکه دا مضمون په سورة احقاف آیت نمبر (۲۸) ﴿فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا﴾ کښ ذکر دې ، او په سورة هود آیت نمبر (۱۰۱) ﴿فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ﴾ کښ هم ذکر دې

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ
او ندي پیدا کړي مونږ آسمانونه [1] او زمکې اوهغه څیزونه چه په مینځ د دې دواړو کښ دی مگر لپاره د ښکاره کولو د حق
وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ۞ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ
او بیشکه قیامت خامخا راتلونکې دې پس ته اعراض اوکړه اعراض ښائسته . بیشکه رب ستا هغه پیدا کوونکې
الْعَلِيْمُ ۞ وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ۞
عالم دې په هرڅه باندې اوبیشکه درکړی دی مونږ [2] تا ته اووه آیاتونه دهغې نه چه بیا بیا لوستې شی او قرآن چه لوئ شان والا دی

﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ﴾ د درې نمونو د بیان نه پس مختصر دلیل عقلی ذکر کیږی په دویم واري ﴿اِلَّا بِالْحَقِّ﴾ یعنی دا آسمانونه او زمکې مونږ د اظهار حق او د اثبات توحید لپاره پیدا کړی دی نو مراد د حق نه اثبات د توحید دې (جواهر)، او یا (باء) سببیه ده او د حق نه مراد عدل دې، یعنی دا آسمانونه او زمکې ئې لپاره د عدل پیدا کړیدی او عدل دا دې چه مجرمانوته سزا ورکړې شی ﴿وَاِنَّ السَّاعَةَ﴾ دا تخویف اخروی ذکر کیږی ﴿فَاصْفَحِ الصَّفْحَ﴾ یعنی ته اعراض اوکړه په ښه اعراض سره ، (صفح الجمیل) یعنی ښه اعراض دیته وائی چه خالص د الله تعالی لپاره اعراض اوکړې شی بغیر د جزع ، فزع نه لکه په سورة مزمل آیت نمبر (۱۰) ﴿وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا﴾ کښ هم داسې حکم دې، د مفسرینو یو جماعت دې ته ذهاب کړې دې چه پدې آیت کښ د ترک قتال حکم دې او دا آیت منسوخ دې په آیت السیف سره ، دا قول د مجاهد ، قتاده ، ضحاك وغیره دې، لیکن د مفسرینو یو لوئ جماعت دا فرمائی چه د نسخ ضرورت نیشته دې بلکه پدې آیت کښ الله تعالی

---

۱ - دویم نمبر عقلی اجمالی دلیل .

۲ - اوله تسلی .

حضور ﷺ ته د حسن خلق تعليم ورکوی، او د آيت مقصد دا دي چه ته دوئ نه اعراض اوکړه په خپلو حقوقو کښې. او د بدلې اغستلو کښې تيزی مه کوه، امام رازی رحمه الله فرمائی چه: ((لان المقصود من ذلك ان يظهر الخلق الحسن والعفو والصفح، فكيف يصير منسوخًا)) ، (رازی، ص ۱۵۸، ج ۷).

﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ﴾ دواړه د مبالغې صيغې دی او علت دې د ماقبل آيت ﴿وَإِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ﴾ لپاره ﴿وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ﴾ دا يو څو تسلياني ذکر کيږی حضور ﷺ ته، او دا اوله تسلی ده چه الله تعالی فرمائی چه کچرته دا کافر ستا نه انکار کوی او تا ته تکليف درکوی نو ته مه خفه کيږه ځکه چه تا ته ما ډير لوئ نعمت در کړيدې ﴿سَبْعًا﴾ په تعين د مصداق د دې کښې متعدد اقوال راغلی دی خو راجح پکښې دا دې چه د دينه مراد سورة الفاتحه ده لکه په حديث د ابوسيعد بن معلی کښې راغلی دی چه نقل کړيدې امام بخاری رحمه الله په کتاب التفسير کښې چه: ((قال صلى الله عليه وسلم الحمد لله رب العالمين هی السبع المثانى والقرآن العظيم الذى اوتيته)) او ﴿مِنَ الْمَثَانِي﴾ ورله بيان دې، او سورة الفاتحه ته ((سبعًا)) ځکه وائی چه دا مشتمله ده په اوو آياتونو باندې (قسطلانی)، او (مثانی) يا ماخوذ دې د ثناء نه نو سورة الفاتحه ته مثانی ځکه وئيلې کيږی چه دا مشتمله ده په ثناء د الله تعالی باندې، او يا (مثانی) ماخوذ دې د تثنيه نه په معنی د اعادې او تکرار سره، نو سورة الفاتحه ته مثانی (مکرر) وئيل (۱) يا په اعتبار د حروفو سره دی چه په دې کښې ځينې حروف مکرر راغلی دی لکه (الرحمن الرحيم) ، (اياك، اياك) ، (صراط، صراط) ، شو (عيَى))، (۲) او يا ورته مثانی په اعتبار د د نزول سره وئيلې شويدی ځکه چه د دې نزول دوه واره شوې دې ((لانها نزلت مرتين مع كل مرة منها سبعون الف ملك مرةً بمكة من اوائل ما انزل القرآن ومرةً بالمدينة))، (۳) او يا ورته مثانی په اعتبار د مصلين داهل الارض اواهل السماء سره وئيلې شوې دې چه دواړه انواع د مصلينو په خپلو مونځونو کښې قرآئت کوی، (۴) او يا ورته مثانی په اعتبار د قرائت سره وئيلې شوې دې چه د مونځ په هر رکعت کښې د دې د قرائت اعاده کولې شی او دا قول زيات راجح دې.

﴿وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ﴾ دا په نصب سره عطف دې په (سبعًا) باندې کچرته مراد په قرآن عظيم سره مجموعه مابين الدفتين شی نو بيا د عطف، د عطف العام على الخاص د قبيلې نه دې ، او کچرته مراد په القرآن العظيم سره سورة الفاتحه شی لکه چه دا راجحه هم ده د حديث مذکوره د وجه نه نو بيا عطف عطف تفسير دې، او علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دا سې واو د جمع بين الوصفين لپاره

وی نو د سورة الفاتحه لپاره دوه وصفه ذکر شو. (سبعًا من المثاني) او (القرآن العظيم) نو دا دواړه د
واو په ذريعې سره جمع کړې شو. او سورة الفاتحه ته قرآن العظيم د دې وجه نه وئيلې کيږی چه هغه
ګل مضامين چه په ټول قرآن مجيد کښې تفصيلاً ذکر دی نو په سورة الفاتحه کښې اجمالاً ذکر شوی
دی او د دې تفصيل په ابتداء کښې تير شوې دې.

لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ
مه اوږدوه سترګې[1] خپلې هغه څيزونو ته چه مزې ورکړی دی مونږ په هغې سره مختلف فرقوته دهغوئ (کافرو) نه
وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْمُبِينُ ﴿٨٩﴾
او مه خفه کيږه په هغوئ باندې او ښکته کړه وزرې خپلې (نرمي) لپاره د مؤمنانو. او اووايه ته چه بيشکه څه يره وونکې يمه ښکاره
كَمَا أَنزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾ الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ ﴿٩١﴾
لکه څنګه چه نازل کړې وو[2] مونږ عذاب په تقسيم کوونکو باندې. هغه کسان چه ګرځولې ئ وو قرآن حصې. حصې (ټوټې. ټوټې)

﴿ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ ﴾ دا دويمه تسلی ذکر کيږی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته، الله تعالى
فرمائی کچرته ما کافرو ته دنيوی مال، دولت ورکړې دې نو ديته مه پسخيږه، ما تاته لوئ دولت
درکړې دې چه هغه قرآن مجيد او ايمان دې، او پدې کښې اګرچه خطاب حضور ﷺ ته دې ليکن
تعليم ما او تاته دې ځکه چه حضور ﷺ نه کفاروته پسخيدل دا بالکل ممکن هم نه وو او د دې وجه
نه د حضور ﷺ ارشاد دې چه ((ليس منا من لم يتغن بالقرآن))، ﴿ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ ﴾ ازواج په لغت کښې
وئيلې کيږی صنف ته، دلته ترينه مراد هغه مالدار خلك دی چه يوبل سره په مال، دولت کښې مشابه
وی. ای الاغنياء بعضهم امثال بعض في الغنىٰ فهو ازواج. (قرطبی) او دا حکم په سورة طه، آيت
نمبر (۱۳۱) ﴿ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا ﴾ کښې هم دې ﴿ وَلَا تَحْزَنْ ﴾ دريمه تسلی ده، دحضور ﷺ
خواهش دا وو چه دا کفار ايمان راوړی او هغوئ د ايمان نه راوړو دوجې نه به حضور ﷺ ته تکليف
رسيدلو او پريشان کيدلو به نو الله پاك تسلی ورکوی کچرته دوئ ايمان نه راوړی نو ته مه پريشانه

۱ - دويمه تسلی
۲ - د خلورمې نمونې بيان

کيږه او مراد ترينه داسې پريشانی ده چه خلل واقع شی دهغې دوجه نه د دعوت اوتبليغ په فريضه کښ ﴿وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ﴾ مراد ترينه جانبين دی او دا کنايه ده د دوه څيزونو نه (۱) شفقت (۲) مدافعت. لکه څنګه چه مرغۍ وزرې اوغوړوی او خپل بچی د وزرونو لاندې پټ کړی د وجې د شفقت نه او لپاره د مدافعت د دشمن او د نقصان ورکوونکی نه نو دغه شان الله تعالی رسول کريم صلی الله عليه وسلم ته فرمائی چه ته هم د مؤمنانو سره نرمی او شفقت کوه او دهغوئ مدافعت او حوصله افزائی کوه او د کفارو په ايمان نه راوړلو باندې مه خفه کيږه. حضرت والد صاحب ﷫ به فرمائيل چه پدې کښ يو عالم او استاذ ته ادب خودلې کيږی چه د يو عالم علم به هله نافع ګرځيږی چه د ده د خپلو شاګردانو سره شفقت او محبت وی لکه څنګه محبت ئی چه د خپل بچی سره وی او دغه شان دهغوئ مدافعت هم کوی، حوصله افزائی ئی هم کوی. ﴿وَقُلۡ إِنِّيٓ﴾ او کچرته دوئ فرمائشی معجزې غواړی نو الله پاك نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته فرمائی چه ته ورته دا او وايه چه دا خو څما په لاس کښ ندی، زه خو صرف د الله پاك د عذاب نه صاف صاف يرووونکې يم، په ﴿ٱلۡمُبِينُ﴾ کښ اشاره ده چه په انذار او په تبليغ کښ تلبيس کول ندی پکار ﴿كَمَآ أَنزَلۡنَا﴾ د تخويف دنيوی څلورمه نمونه بيانيږی (ك) حرف تشبيه دې ، دغوره قول مطابق دا متعلق دې په ﴿أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلۡمُبِينُ﴾ پرې او مشبه به ورله محذوف وی او تقدير ئی داسې دې ((انذاركم عذابا كعذاب انزلناه بالمقتسمين)) . (خازن) . د ﴿ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ﴾ په تعين کښ اختلاف دې، بعض فرمائی چه د دينه مراد يهود او نصاری دی چه هغوئ دا قرآن مجيد تقسيم کړې وؤ چه کومه حصه به د تورات اوانجيل موافقه وه نو هغه به ئی قبوله کړه او کومه حصه به ئی چه موافقه نه وه نو هغه به ئی پريخوده ، اوبعض فرمائی چه د دينه دحضرت صالح ﷺ د قوم هغه نهه کسان مراد دی چه هغوئ دحضرت صالح ﷺ د قتل قسمونه خوړلی وؤ نو پدې تقدير ﴿ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ﴾ نه مراد قسم خوړونکی دی او د دې دواړو احتمالاتو په بناء بيا دا آيت نمونه د امم سابقه ؤ نه ګرځيږی. او بعض مفسرين فرمائی چه د دينه مراد قريش مکه دی لا علی التعين چه هغوئ قرآن مجيد حصې کړې وؤ ، څينې حصې ته به ئی سحر وئيلې ، څينې حصې ته به ئی کهانت وئيلې وغيره ، خو په تولو کښ راجح قول دا دې چه د دينه مراد د مکې هغه شپاړس کسان دی (د راجح قول مطابق) چه وليدبن مغيره مقرر کړی وؤ چه دوئ به په موسم د حج کښ دمکې لارې تقسيم کړې وې او په هغه لارو کښ به ناست وؤ او بهرنه راتلونکی خلکوته به ئی وئيل چه ګوره مکه کښ چه کوم مدعی دنبوت دې دا

ساحر دي او کله به ئې وئيل چه کاهن دي ، تاسو د ده په دهوکه کښې رانشئ او په خپله به وليد بن مغيره د مسجد حرام په دروازې سره ناست وؤ او وهغه راتلونکو خلکو به چه دهغه نه تپوس اوکړو چه ستا فيصله څه ده ؟ نو هغه به ورته او وئيل چه دوئ صحيح وائي او دهغو شپاړس کسانو نومونه صاحب د روح المعاني دا ذکر کړی دی : (۱) حنظله بن ابی سفيان، (۲) عتبه بن ربيعه، (۳) شيبه بن ربيعه (۴) وليدبن مغيره (۵) ابوجهل ، (۶) عاص بن هشام (۷) ابو قيس بن الوليد (۸) قيس بن الفاکه (۹) زهيربن اميه (۱۰) هلال بن عبد الاسود (۱۱) سائب بن صيفی (۱۲) نضربن حارث، (۱۳) ابوالبختری بن هشام (۱۴) زمعه بن حجاج (۱۵) اميه بن خلف ، (۱۶) او اوس بن مغيره، او د دې ټولو مشر وليد بن مغيره وؤ او دا ټول کسان الله پاك څه دجنګ بدر نه مخکښې او څه په جنګ بدر کښې هلاك کړل . ﴿جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ﴾ دا يا صفت دې د مقتسمين لپاره چه دوئ قرآن ټکړې ټکړې کړې وؤ چه بعضو به وئيل چه سحر دې ، بعضو به وئيل چه شعر دې ، بعضو به وئيل چه کذب دې، بعضو به وئيل چه اساطيرالاولين دې وغيره، بعض مفسرين فرمائي چه د (عضين) مقصد دا دې چه دوئ قرآن نمسخراً او استهزاءً تقسيم کړې وؤ ، يو به پکښې اووئيل چه بقره خما ده . آل عمران ستا دې ، عنکبوت د فلانی دې او يا د ټکړې کولو مقصد دا دې چه کومه حصه ددوئ دخواهش مطابقه وه نو هغې ته به خوشحاله شو او اقرار به ئې کولو اوکومه حصه به چه د دوئ له خوښې سره موافقه نه وه دهغې نه به ئې انکار کولو او يا دا جمله مبتداء ده او خبر ورله مابعد جمله ﴿فَوَرَبِّكَ﴾ ده (رازی).

فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝ فَاصْدَعْ
پس قسم دې په رب ستا چه مونږ به خامخا تپوس اوکړو د هغوئ ټولو نه . دهغه عملونو چه هغوئ کول . پس ته ښکاره تبليغ کوه
بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ۝ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ۝
دهغې چه تاته حکم کړې شوې دې اومخ اوګرځوه د مشرکانو نه . بيشکه مونږ کافی يو [1] تا لره په مقابلې د ټوقو کوونکو کښې

﴿فَوَرَبِّكَ﴾ دا تخويف اخروی ذکر کيږی، ﴿لَنَسْئَلَنَّهُمْ﴾ (هم) ضمير د راجع احتمال مطابق راجع دې مطلق مکلفينو ته چه هغه مذکور دی حکمًا په ضمن د ﴿إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْمُبِينُ﴾ کښې

۱ - د پنځمې نمونې بيان سره د پنځمې تسلی نه .

(رازي) . دقيامت په ورځ به د هرچا نه تپوس كيږي حتى چه د پيغمبر عليه الصلوة والسلام نه به هم تپوس كيږي او د كافرونه به هم كيږي. اوحساب كتاب ضروري ندي چه د هرچا نه وشي . (رازي) . كه څوك اشكال وكړي چه د دې آيت د سورة الرحمن د آيت نمبر (٣٩) سره تعارض دې ځكه چه هلته داسې وئيلې شوى دى چه ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا جَآنٌّ ﴾ نو يو جواب ترينه دا دې چه سوال په دوه قسمه دې يو سوال لپاره د استعلام وى او يو لپاره د توبيخ وى نو نفى چه په سورة الرحمن كښې مذكوره ده هغه د استعلام ده او اثبات د توبيخ دې ، دويم جواب ترينه دادې چه نفى راجع ده يو وخت ته او اثبات راجع دې بل وخت ته ځكه چه د قيامت ورځ ډيره اوږده او طويله ده او په هغې كښې مختلف مواقف دى. نو په ځينې مواقفو كښې به تپوس نه كيږي او په ځينې نورو كښې به كيږي. او د دې نظير هغه دې چه الله تعالى په يو ځائ كښې فرمائى چه ﴿ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴾ (المرسلات. آيت ٣٥) . او په بل ځائ كښې فرمائى چه ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴾ . (الزمر ٣١) . ﴿ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ مراد ترينه د اكثر مفسرينو دقول مطابق تپوس دې د (لا اله الا الله) په باره كښې او دا اگرچه قول دې خو تعبير ترينه په عمل سره ځكه اوشو چه هغه قول چه بغيرد عمل نه وى دهغې څه فائده معتد بها نه وى، او يا ترينه مراد تپوس د اعمالو په باره كښې دې او د قول نه ذكر كول د وجې د عدم فائدې معتد بها نه دى اگرچه د هغې متعلق به هم تپوس كولې كيږي.

﴿ فَٱصْدَعْ ﴾ خلورمه تسلى ذكر كيږي حضور ﷺ ته چه د حق او د توحيد اظهار على الاعلان كوه او دكفارو څه پرواه مه ساته، (صدع) يا ماخوذ دې د د صَدْعُ الامر نه اى فصله (راغب)، يعنى دا توحيد ښه تفصيلاً بيان كړه، اويا ماخوذ دې د صديع نه په معنى د اظهار رفع الحجاب اوجهر سره لكه چه وئيلې كيږي دهغه سرې په باره كښې چه هغه په چغو چغو سره خبرې كوى صدع بالحجة (كشاف، مدارك) ، نو معنى ئى داده چه دا توحيد په چيغو چيغو سره بيان كړه، او يا دا ماخوذ دې د ((صدعُ الزجاجة)) نه چه كله شيشه تكړې تكړې شى ، نو معنى ئى داده چه د كفارو جماعت په توحيد سره زره زره او جدا جدا كړه (قرطبى) ، او يا ئى معنى داده چه دا مسئله د توحيد داسې بيان كړه چه حق او باطل جدا جدا شى چه څه التباس پكښې هم پاتې نشى لكه څنگه چه اجزاء د شيشې دماتيدلو نه وروستو جوړيدل اوميلاويدل ممكن نه وى نو دغه شان حق او باطل هم جدا كړه (زجاج)، او صاحب د زاد المسير د دې ترجمه داسې كوى چه اوچوه ته زړونه د مشركينو په بيان د

قرآن سره ، د دې آیت د نزول نه وړاندې به رسول الله صلی الله علیه وسلم په تبلیغ کښې پټوالې کولو خو چه کله دا آیت نازل شونو بیا هغې نه وروستو ئې علانیه تبلیغ شروع کړو. ﴿وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ مراد ترینه ترك البالات دې دهغوئ نه چه د دوئ د استهزاء او د ټوقو پرواه مه کوه . او مراد ترینه ترك القتال ندې چه بیا قول اوکړې شی په نسخ باندې په ((فاقتلوا المشرکین)) سره لکه څنګه چه قول کړې دې بعضې مفسرینو ﴿إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ﴾ دا دتخویف دنیوی پنځمه نمونه بیانیږی او پنځمه تسلی هم ده حضور صلی الله علیه وسلم ته او مراد د ﴿الْمُسْتَهْزِئِينَ﴾ نه هغه پنځه سرداران دی چه دوئ به په رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې ټوقې او مسخرې کولې او دهغوئ نومونه دادی (١) ولیدبن مغیره مخزومی چه د دې ټولو مشر وو (٢) عاص بن وائل سهمی (٣) اسود بن مطلب بن حارث بن اسد بن عبدالعزی (۴) اسود بن عبد یغوث بن وهب بن مناف چه د حضور صلی الله علیه وسلم د ماما زوئ وو (٥) حارث بن قیس بن الطلاله ، او واقعه د هلاکت د دوئ داسې ده چه حضور صلی الله علیه وسلم طواف کولو ، حضرت جبرئیل ؑ تشریف راوړو او هریو تن د دې پنځونه به تیریدلو نو حضرت جبرئیل ؑ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس کولو چه دا څنګه سړې دې ؟ نو حضور صلی الله علیه وسلم به د دې هریوتن په باره کښې وئیل چه دا ډیر بد سړې دې، حضرت جبرئیل ؑ اوفرمائیل چه ما ته امر کړې شوې دې چه زه تا د دوئ نه فارغ کړم ، نو حضرت جبرئیل ؑ د ولید بن مغیره پنډئ ته اشاره اوکړه نو یوه ورځ ولیدبن مغیره په یو نبّال یعنی غشو جوړونکی باندې تیریدلو نو په اِزار (لنګ) کښې ئې غشې اونختلو نو د تکبر د وجې نه ښکته نشو چه هغه غشې ئې لرې کړې وې بلکه هغه خپل اِزار (لنګ) ئې راښکلو نو پنډئ ئې زخمی شوه او د دغه زخم د وجې نه بیا هلاك شو، او د عاص بن وائل دخپې تلې ته حضرت جبرئیل ؑ اشاره اوکړه نو دې هم یوه ورځ د خپلو خامنو سره مکې نه بهر چکرته وتلې وو نو په یوې وادی کښې د ده په خپه کښې ازغې مات شو او ده چیغې کړې چه څه څه څیز اوچیچلم اوهغه خپه ئې اوپړسیده چه د اوښ دخټ پشانتې شوه (کینسرشو) او په هغه وخت کښې هلته مړ شو ، او د اسود بن مطلب سترګو ته حضرت جبرئیل ؑ اشاره اوکړه نو هغه ړوند شو، او په ځینې روایاتو کښې داسې رازی چه حضرت جبرئیل ؑ دې په یوه شنه پاڼړه باندې اووهلو نو د ده په سترګو کښې سخت درد شو او نظر ئې ختم شو، او د درد د وجې نه ئې خپل سردیوال سره جنګولو او په داسې حالت کښې مړ شو، او په یوبل روایت کښې داسې ذکر دی چه حضرت جبرئیل ؑ دې د سرنه ونیولو او د ده سرئې ونې له را پرینښودلو نو ده د خپل غلام نه مدد اوغوښتلو . هغه ورته او

ونيل چه څه خو څه خيز نه وينم ، داخوته په خپله دا حركت كوي نو پدغې حال كښې هلاك شو . او د اسود بن يغوث خيتې ته حضرت جبرئيل ﷺ اشاره اوكړه نو هغه استطلاق البطن شو اوهلاك شو . او دحارث بن قيس د پوزې طرف ته حضرت جبرئيل ﷺ اشاره اوكړه نو دهغه د پوزې نه پيپ ران شو او هلاك شو او په بعض رواياتو كښې دي چه پده باندې تنده لګيدلې وه او په اوبو څكلو څلكو سره ئې خيټه اوچودله اوهلاك شو

تنبيه (١) د مقتسمين او د مستهزئين د نومونو د تعداد په باره كښې روايات مختلف دي څينو كښې كم او څينو كښې زيات ذكر شوي دي ، دلته مونږ هغه روايت ذكر كړې دې چه په ټولو كښې اصح دې

تنبيه (١) د مستهزئينو د استهزاء طريقې مختلفې وې كله به دوئ حضور صلى الله عليه وسلم پورې ټوقې كولې ، كله به ئې حضور صلى الله عليه وسلم ته په لاره كښې ازغى اچول، كله به ئې حضور صلى الله عليه وسلم ته په مونځ كښې تكليف وركولو ، غرض دا چه دغه مذكوره كسان به په مكې كښې هر وخت موجود وو او په څه ناڅه طريقې سره به ئې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تكليف رسولو اوهغه به ئې تنګولو .

الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ۝ وَلَقَدْ نَعْلَمُ
هغه كسان چه ګرځوي د الله تعالى سره معبود بل، پس زرده چه دوئ به پوهه شي . او بيشكه پوهيږو مونږ (١)
أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ۝ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ
چه بيشكه تنګيږي سينه ستا په هغه خبرو چه كوي ئې دوئ . پس پاكي بيانه وه (٢) سره دحمد درب (٣) خپل نه
وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ۝ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ۝
او هميشه اوسه ته د سجدې كوونكو نه . او عبادت كوه د رب خپل تر دې پورې چه راشي تاته مرګ .

﴿ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ ﴾ دا صفت كاشفه دې د (المستهزئين) لپاره او په دې كښې اشاره ده سبب د

---

١ . تسلى نمبر ۶

٢ . دري نوري تسليانې

٣ . نفي د استحقاق د انواعو د عبادت له غير الله نه .

استهزاء نه هم، او په ځای د ماضی ، مضارع استعمال شوه لپاره د استحضار د حالت ماضیه

﴿وَلَقَدْ نَعْلَمُ﴾ شپږمه تسلی ده حضور صلی الله علیه وسلم ته ، چه الله پاك فرمائی . اې حما محبوبه ! ماته ښه معلومه ده چه ستا زړه اوسینه له دغه استهزاء نه تنګیږی خو ته د دوئ د دغې استهزاء پروا مه ساته ، او دا تنګوالې د زړه دا يو امر طبيعی دې بلکه کچرته د بغض فی الله دوجې نه عقلاً پیدا شوې وی نو عين عبادت دې .

﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ په دې آخری آيتونو کښ درې تسلیانې مزيدې حضور صلی الله علیه وسلم ته کیږی : (۱) فسبح بحمدربك ، (۲) وكن من الساجدين ، (۳) واعبد ربك _ الخ . او اصل مقصد هم بيانيږی چه هغه توحيد دې اودغه شان علاج بيانيږی د زړه د تنګوالی لپاره چه الله پاك فرمائی چه کله هم ستا زړه تنګ شی نو بيا تبليغ او د توحيد بيان له زور ورکړه ﴿فَسَبِّحْ﴾ يعنی سبحان الله اووايه او يا تنزيه اوپاکی بيان کړه دهغه خیزونو نه چه دوئ ئی الله پاك له ثابتوی لکه شريك، ولد ، بنات وغيره شو . ﴿بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ چه متلبس وی په حمد درب ستا سره، او دحمد نه هم يا مراد الحمد لله وئيل دی او يا ترينه مراد دا دې چه هغه صفات د الوهيت ټول الله پاك لره ثابت کړه چه کوم دوئ نفی کوی نو په «سبح» کښ دټولو صفات سلبيه حکم دې او په ﴿بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ کښ د ټولو صفات ثبوتيه حکم دې ﴿وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ﴾ مراد ترينه مونځ دې خوچونکه سجده جزء افضل او اعظم د مونځ دې نوځکه ذکر د سجدې اوشو لکه په حديث شريف کښ رازی چه هغه روايت کړې دې امام مسلم ، ابو داؤد ، نسائی په کتاب الصلوة کښ ((اقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد فاخلصوا الدعاء)) او مراد ترينه سجده دتلاوت نده لکه دا ګمان کړې دې بعضې خلکو . او صاحب د روح المعانی علامه الوسی رحمه الله فرمائی چه په دې کښ اشاره ده اوار ترغيب دې په جمع سره مونځ کولو ته ﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ﴾ په دې کښ اشاره ده دوام ته په عبادت باندې ﴿حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ﴾ د جمهور ائمه لغت او دجمهورو مفسرينو پدې اتفاق دې چه لفظ د «يقين» په معنی حقيقی کښ استعمال شوې دې . د يقين لپاره معنی حقيقی هغه موت دې لکه صاحب د لسان الميزان فرمائی ((حتی يأتيك الموت)) او صحب د تاج العروس فرمائی چه ((اليقين الموت لانه يقن لحاقه لکل مخلوق حی)) يعنی هر ژوندی خيزته د دې رسيدل يقينی دی نو ځکه ورته يقين وئيلې کيږی ، اوبيا فرمائی چه ((مال كثيرون الى انه حقيقی وصوب بعضهم الى انه مجازی)) او دجمهور صحابه کرامو اوتابعينو هم پدې

انفى دي چه يقين نوم دي دمرگ لپاره . لكه صاحب دبحر فرمائى چه ((والجمهور على ان المراد باليقين الموت)). بلكه قرآن مجيد كښې هم دموت لپاره لفظ د يقين استعمال شوې دې لكه الله تعالى فرمائى حكايةً د كفارونه ﴿ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ ۝ حَتَّىٰ أَتَانَا الْيَقِينُ ۝ ﴾ (مدثر، آيت نمبر ٣٧) ، او په حديث شريف كښې هم د مرگ لپاره لفظ د يقين استعمال شوې دې لكه په حديث دبخارى شريف كښې چه په كتاب الجنائز كښې ذكر دې دحضرت عثمان بن مظعون ﷺ نه چه دحضور صلى الله عليه وسلم رضاعى ورور وۀ دهغه په باره كښې حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چه ((اما عثمان فقد جاءه اليقين وانى لارجو له الخير)).

فائده (١) امام قرطبى رحمه الله فرمائى چه د ﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ ﴾ نه وروستو د ﴿ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴾ اضافه ځكه اوشوه چه مقصود پدې آيت سره هغه حكم دې په دوام د عبادت باندې او دا مقصد بغير د دينه نه حاصليدلو اوكچرته ﴿ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴾ نوې ذكر شوې نو بيا كه يو شخص يو ځلې هم عبادت كړې وې نو هغه ته به مطيع وئيلې كيدلو نو د دې وجه نه اضافه د ﴿ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴾ اوشوه، د دينه معلومه شوه چه امر تقاضا د تكرار نه كوى اونه احتمال د تكرار لرى لكه ځنگه چه احناف رحمهم الله فرمائى.

فائده (٢) امام رازى رحمه الله فرمائى چه الله تعالى ځلور څيزونه د زړه د تنگوالى دختميدو لپاره ذكر كړل نو پدې څيزونو سره ازاله ځنگه رازى نو اهل سنت والجماعت فرمائى چه هركله انسان د تكليف په وخت كښې دغه عمل خپل كړى نو د ده په زړه كښې په الله پاك يو نور پيدا كړى او د ده انشراح صدر به اوشى دهغه نور د وجه نه اوده ته به د دنيا حقارت معلوم شى نو بيا دې دهغې تكليفونو ته څه التفات نه كوى لكه ځنگه چه دهغې نعمتونو ته څه التفات نه كوى ، اوبعض فرمائى چه كله انسان ته څه تكليف اورسى او دې طاعاتو طرف ته متوجه شى نو دا عملاً رضا بالقضا ده نو د دې وجه نه الله تعالى ده ته سكون وركړى.

فائده (٣) ابن كثير رحمه الله فرمائى چه بعضى نام نهاد متصوفو د يقين نه معرفت د الله تعالى اراده كړې دې او د آيت مقصد ئې دا بيان كړې دې چه انسان په مسلسل عبادت كولو سره مرتبې د معرفت ته رسيږى، اوچه كله دې مرتبې د معرفت ته اورسيږى نو دهغه نه تكليف شرعى ساقط شى. اوعبادت كول ورته معاف شى اودهغه گناه ته گناه نه وئيلې كيږى ليكن د دوئ دا قول مبنى دې په جهل باندې او دا گمراهى ده ځكه چه د انبياء كرام عليهم الصلوة والتسليمات نه او دصحابه

كرامو رضوان الله عليهم اجمعين نه زيات څوك هم د معرفت او يقين والا نه شي جوړيدې او حال دادې چه هغوئ تر مرګ وخته پورې عبادت ندې پريخودلې بلکه د معرفت او ديقين په زيادت سره عبادت او اطاعت او خشيت نور هم زياتيږي لکه چه پدې دلالت کوی الفاظ د حديث چه نقل کړيدی امام ترمذی په کتاب الايمان کښ په باب قول النبی صلی الله عليه وسلم ((انا اعلمکم بالله)) چه حضور صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو ((ان اتقاکم واعلمکم بالله انا)) نو لهذا د يقين نه مراد هغه دې چه کوم د حديث صحيحه نه ا د اقوالو د سلفو نه ثابت دې چه هغه مرګ دې ، نو مقصد د آيت دادې چه د الله پاک عبادت تر مرګ پورې کوئ او د مرګ نه پس بيا عبادتونه نشته دې چاچه د مرګ نه مخکښ نيک اعمال اونکړل نو بيا به تمنا کوی چه (لوکانو مسلمين) .

د سورة الحجر تفسير ختم شو

قد فرغت من تفسير سورة الحجر بعون الله تعالى ومنته فى سبعة عشر من رجب المرجب بعد الف مائة واحدى وثلثون من هجرة النبوية على صاحبها الف الف تحية وسلام، المطابق ۱۳ جولائى من سنة : ۲۰۰۹ ع .

اللهم وفقنا لما تحب وترضى واجنبنا وذريتنا واقاربنا واحبابنا من سوؤ الاعمال ودرك الشقاء واكتبنا يا الهى بفضلك وبرحمتك فى عبادك الصالحين اللذين سعدوا فى الدارين، ولاتخزنا يوم يبعثون ، ربنا آتنا فى الدنيا حسنة وفى الآخرة حسنة وقنا عذاب النار، آمين يا رب العالمين :

وصلى الله تعالى على محمد النبى وعلى آله وصحبه وسلم اجمعين.

ركوع	سورة النحل مكية	آيتونه
۱۶	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۱۲۸
	خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم کوونکي دې شروع کوم	

رقمها حسب التسلسل (۱۶) وحسب النزول (۷۰)

سورة النحل مکی سورة دې صرف آخری دوه آيتونه په کښې مدنی دی، په ترتيب قرآنی کښې شپاړلسم نمبر او په ترتيب نزولی کښې اوياوم (۷۰) نمبر سورة دې، د سورة نوح نه مخکښې او په سورة الکهف پسې نازل شوی دې، زمانه دنزول ئی دور آخير د مکي معظمې دې.

ربط: ربط اسمی يې د سورة حجر سره دادې، چه په سورة حجر کښې نمونې د هلاك شوی قومونو بيان شوی دی د پاره د عبرت ((ان فی ذلك لاية للمؤمنين)) (حجرايت نمبر ۷۷) په سورة النحل کښې بيان کيږی چه په هغې سره مو عبرت حاصل نه کړو نو د شهد (گبين) مچۍ نه عبرت واخلئ، چه يو وړوکي مخلوق په څه عجيبه طريقې سره کثير المنفعت شې تياره وی، دا دالله ﷻ دقدرت يوه نمونه ده، (ان فی ذالك لاية للمؤمنين). (نحل آيت: ۶۹)

ربط مضمونی: ئی دادې چه په سورة الحجر کښې دهلاك شوی قومونو حال بيان شوې وو. په سبب دنه منلو د احکاماتو د الله ﷻ او حکم شوې وو چه د ايمان راوړو وخت اوس دې، کنی دعذاب راتلو او دهلاکت نه روستو به بيا تمنا کوئ چه (لو کانوا مسلمين) خو هغه تمنا به فائده به پکار نه راځی، او په سورة النحل کښې خبرداري ورکولې کيږی چه هغه عذاب الهی په تاسو هم راغې، نو پدې سورة کښې بيان د عذاب الهی دې، چه دکومې نمونه په ما قبل کښې بيان شوې وه ،او دغه شانتې په سورة حجر کښې تخويف بيان شوې وو د نه منونکو دپاره، او په سورة نحل کښې د ايمان د نه راوړلو دپاره عذر باطل د هغوی رد کيږی.

دعوی د سورت: د سورت دعوی هغه اثبات د توحيد دې، په نفی د شرك اعتقادی او فعلی سره او رد دې په هغه دليل د مشريکينو باندې چه کوم به هغوئ د جواز او اثبات د شرك دپاره پيش کولو، چه هغه تعلق د مشيت او ارادې دې دالله ﷻ په شرك پورې ، لکه چه په آيت نمبر ۳۵ کښې دهغوی قول نقل شوې دې چه (وقال اللذين اشرکوا)، نو جاهلانو به تلازم ثابته وو په مينځ د ارادې د الله ﷻ کښې او په رضا د الله ﷻ کښې او دا به ئی د جواز د شرك د پاره دليل پيش کوو.

مضامین د سورت: د سورت مضامین دوه حصوته او یوې خاتمې ته منقسم دی اوله حصه د آیت (۱) ﴿أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ﴾ نه تر آیت ۱۱۲ ﴿بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ﴾ پورې دې په دې حصه کښې مقصد د سورت ، درې خلې دعوی د سورة په ضمن د نفی د شرك اعتقادی کښې ذکر کیږی، شپږ پکښې دلائل عقلیه، یو دلیل نقلی، یو وحی ذکر کیږي ،لس خلې پکښې تخویف اخروی ذکر کیږی، پنځه خلې پکښې تخویف دنیوی ذکر کیږی، څلور پکښې بشارتونه ، اووه خلې پکښې شکوی سره د جواب شکوی،دوه پکښې دهغوی د اعتراضاتو جوابونه او دوه پکښې تسلیانې ذکر کیږی، حضورﷺ ته

دویمه حصه د آیت نمبر (۱۱۳) ﴿فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ﴾ نه تر آیت (۱۱۹) ﴿لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ پورې ده ، پدې حصه کښې د سورة کښې دعوی دسورت په ضمن د نفی د شرك فعلی کښې ذکر کیږی ، چه رد دې په تحریمات لغیرالله او په نذرلغیرالله باندې، نو په دې کښې یو تخویف اخروی ، یو پکښې بشارت ، او یو پکښې د کفارو د اعتراض جواب ذکر کیږی، او بیا د آیت (۱۲۰) ﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ﴾ نه خاتمه شروع کیږی، چه په هغې کښې یو دلیل نقلی تفصیلی دَ حضرت ابراهیم علیه السلام نه ذکر کیږی، یو پکښې دلیل وحیی دې ، یو بشارت او یو پکښې د کافرو د اعتراض جواب دې، او درې پکښې حضورﷺ ته تسلیانې ذکر کیږی.

تفصیل یې دادې چه په اوله حصه کښې په آ نمبریت (۱) ﴿أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ﴾ کښې مقصد د سورت ذکر کیږی، په آیت نمبر (۲) ﴿يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ﴾ کښې اول خلې دعوی د سورت ذکر کیږی، د آیت (۳) ﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾ نه تر آیت (۹) ﴿وَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ﴾ پورې اول دلیل عقلی ذکر کیږی ، دپاره ددعوې په ضمن د نفی د شرك فی التصرف کښې، او په دې کښې الله تعالی دمختلفو شیونو پیدائش بیانوی ، د آیت نمبر ۱۰ ﴿هُوَ الَّذِي﴾ نه تر آیت ۱۶ ﴿وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ﴾ پورې دویم دلیل عقلی ذکر کیږی، په دې کښې د باران نازلیدل، دهغې په نتیجه کښې مختلفې میوې پیدا کیدل ، شپه او ورځ، سپوږمۍ او ستوری د انسان په خدمت باندې مامور کول، نهرونو او سمندرونونه د انسان فوائد حاصلول ددې ټولو تذکره کوی ، چه دا صرف د الله ﷻ په قدرت باندې کیږی، په آیت (۱۷-۱۸) ﴿أَفَمَن يَخْلُقُ﴾ نه تر ﴿إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ پورې دواړو دلیلونو باندې نتیجه او ثمره مرتبه کیږی ، چه دا کمزورې مخلوق ددومره لوئ قادر ، خالق ، متصرف ذات سره تاسو برابره وئ؟ . دا چرته کیدې شی؟ په آیت نمبر(۱۹)کښې ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ﴾ دریم دلیل عقلی ذکر کیږی، مقصود ترینه نفی دشرك فی العلم ده ، چه عالم الغیب صرف اوصرف ذات دالله تعالی دې . نو لهذا متصرف

به هم هغه وی ، په آیت نمبر (۲۰ - ۲۱) ﴿ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن ﴾ نه تر ﴿أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴾ پورې په درې وارو دليلونو باندې تفريع ذکر کيږي ، په آيت (۲۲) ﴿ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ﴾ کښې په دريم وار دعوى د سورت ذکر کيږي، په آيت (۲۳) ﴿ لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ ﴾ کښې اعاده د نتيجې کيږي ، په دلائلو مذکورو باندې ، په آيت نمبر (۲۴) ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُم ﴾ کښې شکوى ذکر کيږي، چه دا منکرين د هدايت والاکتاب ته ﴿أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴾ وايي ، په آيت نمبر (۲۵) کښې ﴿ لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ ﴾ کښې اول خلې تخويف اخروى ذکر کيږي ، په آيت نمبر (۲۶) ﴿ قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ ﴾ کښې اول خل تخويف دنيوى ذکر کيږي ، د آيت نمبر (۲۷) ﴿ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ نه تر آيت نمبر (۲۹) ﴿ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴾ پورې تخويف اخروى ذکر کيږي ،د آيت نمبر (۳۰) ﴿وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا ﴾ نه تر آيت نمبر (۳۲) ﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ پورې اول خل بشارت ذکر کيږي ، په آيت نمبر (۳۳ - ۳۴) ﴿ هَلْ يَنظُرُونَ ﴾ نه تر آيت ﴿مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴾ پورې تخويف دنيوى ذکر کيږي ، په آيت نمبر (۳۵) ﴿وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ﴾ کښې دمشرکينو نه شکوى او جواب او د هغوى دليل او دهغې اجمالى رد ذکر کيږي، چه هغوى به وئيل که چرته دالله خوښه وې نو زمونږ پلارانو او نيکونو به هم هيڅ قسمه شرك نه وو کړې نو ليکن د الله ﷻ په دې رضا ده چه مونږه شرك اوکړو، نو ځکه مونږ شرك کوو، ﴿كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ ﴾ سره ورته جواب اوشو، چه دا څه نوې خبره نه ده ،مخکينو مشرکينو به هم داسې وئيل ،او مشيت او رضا کښې به نې تلازم ثابته ولو ، په آيت نمبر (۳۶) ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا ﴾ کښې دليل نقلى اجمالى ذکر کيږي ، دټولو انبياء کرام ﷺ نه او ورسره په ﴿فَسِيرُوا ﴾ کښې تخويف دنيوى ته هم اشاره کيږي، په آيت نمبر (۳۷) ﴿ إِن تَحْرِصْ ﴾ کښې زجر او تسلى ذکر کيږي ، په آيت نمبر (۳۸) ﴿وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ ﴾ کښې زجر بطور شکوى ذکر کيږي ، چه دا مشرکين بعث بعد الموت بعيد ګڼړي د عقل نه، په ﴿بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ ﴾ سره جواب شکوى ذکر کيږي ، په آيت نمبر (۳۹) ﴿لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ﴾ کښې حکمت د بعث بعدالموت ذکر کيږي ، په آيت (۴۰) ﴿إِنَّمَا قَوْلُنَا ﴾ کښې دويم جواب دپاره دشکوى ذکر کيږي، چه دا بعث بعد الموت خلاف عقل او مشکل کار لپاره د الله ﷻ نه دې، په آيت نمبر (۴۱ - ۴۲) ﴿ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا ﴾ نه تر ﴿وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ پورې ترغيب الى الهجرة او بشارت ذکر کيږي، په آيت نمبر (۴۳ - ۴۴) ﴿وَمَا

أَرْسَلْنَا ﴾ نه تر ﴿وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ پورې د مشركينو ديو سوال جواب ذكر كيږي، چه هغوى به حضورﷺ ته داسې وئيل چه مونږ به ستا دا پيغام توحيد اومنو خو كچرته فرشتې هم مونږ ته دا پيغام راكړي، نو الله ﷻ د هغې جواب اوكړو ،چه محض د بشريت د وجې نه انكار كول دا بالكل غلطه خبره ده ، ځكه ټومره انبياء كرام عليهم السلام تير شوى دى ،هغوئ ټول انسانان وو ، دا دالله سنت مستمره دى چه نبى به دانسانانو نه وو ، نو په دې سره اثبات درسالت دحضورﷺ هم اوشو، د آيت نمبر (۴۵) ﴿ أَفَأَمِنَ الَّذِينَ ﴾ نه تر آيت نمبر (۴۷) ﴿فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ پورې تخويف دنيوى ذكر كيږي، په آيت نمبر (۴۸ ۴۹- ۵۰) كښې ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا ﴾ نه تر ﴿مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ پورې په ځلورم خل دليل عقلى ذكر كيږي، هر شې كه هغه په زمكه كښې وى كه په آسمان كښې د الله ﷻ د تكوينى حكم مطيع دې ،او الله ﷻ ته سجده كونكې دې ، په په آيت نمبر (۵۱ - ۵۲) ﴿وَقَالَ اللَّهُ ﴾ نه تر ﴿فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴾ پورې په دريم وارې دعوى د سورت ذكر كيږي ، په آيت نمبر (۵۳ - ۵۴ - ۵۵) كښې ﴿ وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ ﴾ نه تر ﴿فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ پورې زجر ذكر كيږي په صورت دامتنان كښې، او په آيت (۵۷) كښې ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِمَا ﴾ كښې بيا زجر ذكر كيږي ، په صورت د شكوى كښې او په دويم ځلې نفى د شرك فعلى ته پكښې اشاره ده، او آيت (۵۷) نه تر آيت نمبر (۶۱) ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ ﴾ نه تر ﴿وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ پورې ، بيا زجر بطور شكوى سره د جواب نه ذكر كيږي، په آيت نمبر (۶۱) ﴿ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ ﴾ كښې تخويف دنيوى ذكر كيږي، په آيت نمبر (۶۲) ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ﴾ كښې زجر سره دتخويف اخروى نه ذكر كيږي، په آيت نمبر (۶۳ - ۶۴) ﴿ تَاللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَا ﴾ نه تر ﴿وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ پورې زجر سره د تخويف اخروى نه ذكر كيږي، او اول خل تسلى ذكر كيږى حضورﷺ ته، د آيت نمبر (۶۵) نه تر آيت نمبر (۷۱) ﴿وَاللَّهُ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ﴾ نه تر آيت ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴾ پورې پنځم دليل عقلي ذكر كيږي په دعوى دسورت باندي ، په آيت نمبر (۷۱) ﴿ وَاللَّهُ فَضَّلَ ﴾ كښې مثال بيانيږى دپاره د معبوديت دالله ﷻ او دپاره د بطلان د معبوديت دغيرالله ، په آيت نمبر (۷۲) ﴿ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم ﴾ كښې ذكر دنعمت د الله كيږى، په آيت نمبر (۷۳ ۷۴- ﴿وَيَعْبُدُونَ ﴾ نه تر ﴿وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ پورې زجر بطور ثمرې دما قبل دپاره ذكر كيږى، په آيت (۷۵ - ۷۶) ﴿ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا ﴾ نه تر ﴿وَهُوَ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ پورې دوه مثالونه بيانيږى ،دپاره د معبود

برحق او د معبود باطل ، په آيت نمبر (۷۷) ﴿ وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ كښې تتمه د مثال او جز د دعوې سره تخويف اخروی ذکر کيږي، د آيت (۷۸) ﴿ وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ ﴾ نه تر آيت (۸۱) ﴿ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴾ پورې شپږم دليل عقلی تفصيلی ذکر کيږي، په دعوې دسورت باندې ، په آيت (۸۲) ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا ﴾ كښې دويمه تسلی ذکر کيږي حضورﷺ ته ، په آيت نمبر (۸۳) ﴿ يَعْرِفُونَ ﴾ کښې زجر ذکر کيږي، د آيت (۸۴) نه تر (۸۸) ﴿ وَيَوْمَ نَبْعَثُ ﴾ نه تر ﴿ بِمَا كَانُوا۟ يُفْسِدُونَ ﴾ پورې تخويف اخروی ذکر کيږي .

په آيت نمبر (۸۹) ﴿ وَيَوْمَ نَبْعَثُ ﴾ کښې اعاده د تخويف اخروی کيږي، او ورسره په ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ﴾ سره ذکر د دليل وحی هم کيږي چه دا مسئله د توحيد حضورﷺ د خپل خان نه نده جوړه کړي بلکه په ذريعه دوحی سره ورته حکم شوې دې ، په آيت نمبر (۹۰ - ۹۱) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ ﴾ نه تر ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ پورې امور دفعيه د عذاب ذکر کيږي، په آيت نمبر (۹۲) ﴿ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّتِى ﴾ کښې د نقض عهد والو مثال بيانيږي ، په آيت نمبر (۹۴-۹۳- ۹۵) ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ نه تر ﴿ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ پورې مزيد تاکيد او اهتمام بيانيږي دپاره د ايفاء عهد .

په آيت نمبر (۹۶- ۹۷) ﴿ مَا عِندَكُمْ ﴾ نه تر ﴿ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ پورې تزهيد فی الدنيا او ترغيب فی الاخرة بيانيږي سره دبشارة اخروی نه ، په آيت نمبر (۹۸ - ۹۹ - ۱۰۰) ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾ نه تر ﴿ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴾ پورې متعلق دي په دليل وحی پورې، په دې کښې ترغيب الی القرآن سره د آدابو بيانيږي، په آيت نمبر (۱۰۱) ﴿ وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً ﴾ کښې دکافرو يو اعتراض او شکوی بيانيږي چه متعلق دي په دليل وحی پورې، چه دوی به ونيل چه (العياذ باالله) دا څنګه قرآن او د الله کلام دې چه کله يو آيت او حکم راشی او کله منسوخ شی او د هغه په ځاې بل آيت او حکم راشی، په آيت (۱۰۲) ﴿ قُلْ نَزَّلَهُ ﴾ کښې جواب ذکر کيږي، په آيت نمبر (۱۰۳) ﴿ وَلَقَدْ نَعْلَمُ ﴾ کښې دويم سوال او شبه ذکر کيږي، په ﴿ لِّسَانُ ٱلَّذِى يُلْحِدُونَ ﴾ سره ددغې شبهې جواب ذکر کيږي، چه تفصيل ئې راروان دې ،د آيت نمبر (۱۰۴) نه تر (۱۰۹) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ نه تر ﴿ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴾ پورې تخويف اخروی ذکر کيږي، په آيت نمبر (۱۱۰) ﴿ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ ﴾ کښې بشارت ذکر کيږي دپاره د مهاجرينو ، په آيت نمبر (۱۱۱) ﴿ يَوْمَ تَأْتِى ﴾ کښې اعاده د تخويف اخروی ذکر کيږي، په آيت نمبر (۱۱۲

- ۱۱۳) ﴿وَضَرَبَ اللّٰهُ﴾ نه تر ﴿وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ﴾ پورې مثال بیانیږی د پاره د تخویف. او متعلق دې په ابتدا د سورت پورې چه جلدی مه کوئ د الله ﷻ عذاب راغې ﴿اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ﴾او ددینه روستو مشرکین مکه ترڅو کالو پورې په سخته قحطی کښې مبتلا وو.

دې پورې دسورت اوله حصه پوره شوه ،د آیت نمبر (۱۱۴) نه د سورت دویم مضمون شروع کیږی چه په دې کښې د شرك فعلی ددوه شقونو نفی ده چه هغه تحریمات لغیرالله او نذر لغیرالله دی ، په آیت نمبر (۱۱۴) ﴿فَكُلُوْا مِمَّا﴾ کښې نفی د تحریمات لغیرالله ده، او په آیت نمبر (۱۱۵) ﴿اِنَّمَا حَرَّمَ﴾ کښې نفی د نذر لغیرالله ده، په آیت نمبر (۱۱۶- ۱۱۷) ﴿وَلَا تَقُوْلُوْا﴾ نه تر ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ پورې تفریع ذکر کیږی په ما قبل باندې په طریقې د لف نشر غیر مرتبه سره، او دتخویف اخروی ذکر هم کیږی سره د زجرنه، په آیت نمبر (۱۱۸) ﴿وَعَلَى الَّذِيْنَ﴾ کښې دیو مقدر جواب دې، چه هر کله دا څیزونه حلال وو نو په یهودو باندې ولې حرام کړې شوی وو؟ نو جواب اوشو چه دا خود ساخته تحریمات دی، په آیت نمبر (۱۱۹) ﴿ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ﴾ کښې بشارت ذکر کیږی. د آیت نمبر (۱۲۰) نه خاتمه د سورت شروع کیږی ، په آیت نمبر (۱۲۰- ۱۲۱- ۱۲۲) ﴿اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ﴾ نه تر ﴿لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ﴾ پورې دلیل نقلی تفصیلی ذکر کیږی، د ابراهیم علیه السلام نه دپاره دنفی د شرك فی الاعتقاد او شرك فعلی، په آیت نمبر (۱۲۳) ﴿ثُمَّ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ﴾ کښې دلیل وحی ذکر کیږی د پاره د نفی د دواړو اقسامو د شرك، په آیت نمبر (۱۲۴) ﴿اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ﴾ کښې دیو اعتراض جواب کیږی چه مشرکینو به دا اعتراض کولو :که چرته حضور ﷺ واقعی په ملت ابراهیمی باندې وی نو پکار دی چه د خالی (شنبې) دورځې تعظیم یې کولې ځکه چه حضرت ابراهیم علیه السلام به د خالی د ورځې تعظیم کولو، نو جواب ترینه او شو چه د خالی د ورځې د تعظیم نسبت حضرت ابراهیم علیه السلام ته کول دا غلط دی، دا د حضرت موسی علیه السلام په قوم باندې ضروری کړې شوی وو ، په آیت نمبر (۱۲۵- ۱۲۶) ﴿اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ﴾ نه تر ﴿لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ﴾ پورې دا په آخر کښې طریقه ددعوت او دتبلیغ او د تعلیم ذکر کیږی ، په آیت نمبر (۱۲۸) ﴿اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا﴾ کښې بشارت سره د شرائطو ذکر کیږی چه د داعی د پاره دوه خبرې ضروری دی : یو تقوی او دویم احسان چه دا دوه خبرې موجودې شی نو د الله ﷻ نصرت به راشی او تاسو به دکافرانو د شر نه محفوظ شئ او کافرانو باندې به د خدائی عذاب راشی او دوئ به هلاك شی چه د کوم عذاب بیان په ابتداء د سورت کښې شوې وو .

أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ①
راغي حكم د الله [1] پس مه كوئ تاسو تلوار هغي ته، پاك دي الله او اوچت دي دهغي نه چه دوئ ورسره شريك جوړوي
يُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ
نازله وي الله فرشتي [2] په وحي سره د وحي د حكم خپل نه په هغه چا باندې چه خوښه ئ شي د بندگانو خپلو نه
أَنْ أَنذِرُوٓا۟ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ②
چه خلق خبرداركړئ پدې چه شان د خبرې دادې چه نشته دې لائق د عبادت سيوا ځمانه پس او يريږئ ځما نه

﴿أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ﴾ ذكر د مقصد دسورت دې بغير د توطيه او تمهيد نه ﴿أَتَىٰٓ﴾ يا حقيقةً (صورةً او معناً) صيغه د ماضى ده او مراد ترينه د مبادياتو او د اسبابو اتيان دې چه الله ﷻ د حضور ﴿أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ﴾ نصرت او فتح او د كافرو دهلاكت هغه اسباب ټول پيدا كړى دى او پوره شوى دى نو معنى ئى دا شوه چه پوره پوره راغليدى اسباب د الله ﷻ له طرفه نه د پاره د هلاكت ددوئ «رازى» او يا «اتى» مجازا ماضى ده ، يعنى صرف صورةً ماضى ده او معنًى مضارع ده خو تعبير ترينه په ماضى باندې لوجه د تيقن نه او يا د قريب الوقوع نه او شو څكه چه كوم شى راتلونكې وى نو هغه قريب وى او په منزله د واقع كښې وى نو څكه ترينه تعبير په ماضى سره اوشو ،او مراد د «امر الله» نه يا عذاب دنيوى دې چه په صورةً د قتل ،غلامئ ، او دَ نهب د اموالو كښې وو ، او يا په صورت د قحط كښې وو چه د حضورﷺ د بد دعا په وجه باندې الله تعالى په دوئ مسلط كړې وو ، چه په آيت نمبر (۱۱۲) كښې د هغې ذكر دې ، او يا د «امرالله» نه مراد قيامت دې چه ددې تائيد په هغه واقعه د شان نزول سره كيږى چه هغه ذكر كړې ده ابن جرير طبرى په خپل تفسير كښې، علامه سيوطى په اسباب النزول كښې په سند ضعيفه سره د حضرت ابن عباس ﷺ نه ،كشاف ،قرطبى ،مظهرى ،خازن ،روح المعانى وغيره هم په دې ځائ كښې ذكر كړې ده .

﴿فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ﴾ بنا بر قول اصح خطاب كفارو ته دې ، استعجال و تيلې كيږى د وخت نه مخكښې شى غوختلو ته، نومقصد ئى دادې چه عذاب بالكل قريب راغلې دې او قيامت بالكل

---

۱ . بيان د مقصود د سورت .

۲ . دعوى د سورت .

قریب راغلې دې خو د هغې دپاره یو وخت الله ﷻ مقرر کړې دې کچرته تاسو جلتی کوئ نو په دیکښ څه فائده نشته دې نو جلتی مه کوئ دغه فیصله خامخا راتلونکی ده. او «فا» په ((فلا تستعجلوه)) کښ جزائیه ده او دا جمله جزاء ده واقع شویده په جواب د شرط مقدره کښ چه تقدیر ئې دادې (ان طلبتم الامر فلاتستعجلوه) ﴿سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ﴾ دا ذکر دتوحید دې د پاره د امن د عذاب د الله نه ، یعنی که دعذاب د الله ﷻ نه بچ کیدل غواړئ نو د توحید لاره اختیار کړئ، د مشرکانو طور طریقې مه اختیاروئ ، او «ما» په «عما» کښ یا موصوله ده ، او د ﴿يُشْرِكُونَ﴾ جمله ورله صله ده او عائد «ه» ضمیر هغه محذوف دې، او یا مصدریه ده ، او «یشرکون» په معنی ده «اشراکهم» سره دې ، او بنا په هر تقدیر ((فلا تشرکوا به احدا)) ورسره په آخر کښ محذوف دې.

﴿ يُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ ﴾ په دې کښ دعوی د سورت ذکر کیږی خو اول تنبیه کیږی په دې خبره چه دا مسئله د توحید د الله ﷻ د طرفنه په واسطه د فرشتو سره رالیګلې شوې ده او دا تول انبیاء کرام ﷺ په دې متفق وو ، «ینزل» صیغه د مضارع استعمال شو د پاره د لالت په عادت مستمره د الله باندې ، او «ملئکة» نه مراد صرف حضرت جبرائیل ﷤ دې ، هر کله چه واحد اعلی او مشر وی په افرادو باندې نو تسمیه ورله په جمع سره جائز وی «رازی بحواله واحدی» یا ترینه مراد جبرائیل ﷤ سره د حفظة الوحی دې (ابو سعود) ﴿ بِٱلرُّوحِ ﴾ جار مجرور متعلق دې په متلبس پورې او دا حال واقع شویدې د ملئکة نه (ای حال کونهم متلبسین بالوحی) او روح په شپږو معانیو کښ استعمالیږی خو د زیات صحیح قول مطابق دلته ترینه مراد وحی او قران دې په طریقه د استعارې سره ، لکه څنګه چه روح سبب ګرځی د پاره د ژوندون د بدن نو دغه شانتې وحی ذریعه د پاره د حیات او ژوند ګرځی دپاره د هغه زړونو چه مړه وی په جهل سره ، او یا د وحی نه مراد توحید دې او دا توحیدپه دین کښ داسې دې لکه څنګه چه روح وی په جسد کښ «ابی سعود» .

قرآن مجید کښ په څینو ځایونو کښ په وحی باندې اطلاق د روح کیږی ،لکه (۱) ﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا﴾ (شوری آیت: ۵۲) . (۲) ﴿يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ﴾ (المؤمن آیت : ۱۵) امام رازی ﷫ فرمائی چه وحی او قرآن ته روح وئیل د ډیر لوئ مناسبت اومشاکلت دوجې نه، دی بلکه روح حقیقی او اصلی هغه قرآن او وحی ده څکه په دې سره انسان د جهالت او د غفلت د خوف نه خلاصې مومی او ددې په ذریعې سره انسان د حیوانیت د پستئ نه بام ملکیة ته انتقال کوی، او وجه داده چه د انسان بدن بغیر د روح نه مظلم او مړ وی، کله چه ورسره د روح اتصال راشی

نو دې ژوندې شي، او نوراني شي، او د نورانيت آثار يې په حواس خمسه كښې ظاهر شي، خو دا روح هم بذاته ظلماني او جاهل وي لكه الله ﷻ فرمائي چه ﴿ وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا ﴾ «النحل ايت ۷۸» خو چه كله اتصال د عقل ورسره راشي نو دې مُشرق او نوراني اوګرځي. بيا دا عقل هم كامل نوراني او مشرق نه دې چه ترځو پورې معرفت د ذات او افعالو د الله ورته نه وي حاصل شوې، نو د عقل استكمال او نورايت په دې معارفو سره راځي، او دغه هيئت په نور د وحی او عقل سره حاصيليږي، نو په وحی او قرآن سره استكمال د عقل راځي او په عقل سره جوهر د روح كامليږي او په روح سره كمال د حال دجسد او دبدن راځي، نو معلومه شوه چه اصل او حقيقة روح هغه وحی او قرآن دې

﴿ مِنْ أَمْرِهِۦ ﴾ من بيانيه دې او دا جمله بيان دې د روح د پاره چه دا روح امر دالله دې، او يا من سببيه دې ((اى ينزل الملئكة بسبب امره اولاجله)) يعنى دا نزول دَ ملائكو چه وى نو صرف او صرف د الله ﷻ په امر سره وى لكه په بل ځائى كښې الله ﷻ فرمائى: ﴿ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ﴾ (مريم ۶۴)، ﴿عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ﴾ په دې كښې د ليل دې په دې خبره چه نبوت عطائى شې دې كسبى نه دې ﴿أَنْ أَنذِرُوٓا۟ ﴾دا دعوى د سورت ده چه دا خلك پدې پوهه كړئ چه بل معبود، بل حاجت روا، بل مشكل كشا نيشته دې، صرف او صرف يو الله دې، ﴿أَنْ أَنذِرُوٓا۟ ﴾ بدل دې د «الروح» نه او مبدل منه په حكم دَ تنحيى او ترك كښې وى نو تقدير ئى داسې دې ((ينزلهم متلبسين بان أنذروا)) او «ان» يا محففه عن المثقله دې، او ضمير شان چه هغه اسم دې دپاره دده هغه ورله محذوف دې ((اى ينزلهم متلبسين بان الشان اقول لكم ان انذروا)) او يا «ان» مفسره دې او دا جمله تفسير دې د پاره د «ينزل الملئكة» او «انذار» ونيلې كيږى اعلام سره د تخويف ته، معنى داده چه ((اعلموا الناس قولى لا اله الا انا فاتقون))، «مدارك، كشاف». ﴿فَٱتَّقُونِ ﴾ بنأ بر قول اصح خطاب مستعجلين ته دې په طريقه د التفات سره او «فا» په كښې فصيحيه ده «ابوسعود» او په دې كښې اشاره دې ته ده چه د وحی تعلق د دوه شيونو سره دې: يو توحيد چه د قوت علمى او نظرى تكميل او انتها ده، او دويم تقوى چه د قوت عملى تكميل او انتها ده، «مظهرى».

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ تَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ٣

پیدا کړي دي الله آسمانونه[1] او زمکې لپاره د ښکاره کولو د حق، اوچت دې د هغې نه چه دوئ ورله شریك جوړوي

خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِیْمٌ مُّبِیْنٌ ٤ وَالْاَنْعَامَ

پیدا کړې ئې دې انسان لره د نطفې (پلیتو اوبو) نه نو ناڅاپه دغه انسان جګړه کوونکې دې ښکاره او حاروي.

خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ فِیْهَا دِفْءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ٥

پیدا کړیدي الله هغوئ ستاسو لپاره په هغوئ کښې اسباب د ګرموالي دي او ډیرې فائدې دي او ځینې د هغې نه تاسو خورئ

وَلَكُمْ فِیْهَا جَمَالٌ حِیْنَ تُرِیْحُوْنَ وَحِیْنَ تَسْرَحُوْنَ ٦

لودې ستاسو لپاره په هغې کښې ښائست چه کوم وخت (ماښام) واپس بې راولئ تاسو او کوم وخت (صبا) چه صحراء ته ئې بوځئ تاسو

﴿خَلَقَ السَّمٰوٰتِ﴾ اول دلیل عقلی تفصیلی ذکر کیږي په نفی د شرك فی التصرف باندې ﴿بِالْحَقِّ﴾ مراد ترینه اظهار دتوحید دې یعنی د ټولو کائناتو دپیدا کولو مقصد دادې چه په دې سره استدلال اوشی په وحدانیت او په کمال قدرت دالله باندې ((ای للدلالة علی قدرته وان له ان یتعبد العباد باالطاعة ان یحیی الخلق بعد الموت)) (قرطبی) ﴿خَلَقَ الْاِنْسَانَ﴾ په مخکښې آیت کښې استدلال په وحدانیت او په قدرت د الله باندې په اجرام فلکیه عالیه سره وو او په دې کښې استدلال په احوالو د انسان سره دې چه دا انسان الله تعالی دخومره حقیرې نطفې نه په مختلفو اطوارو سره دنیا ته راوه ویستلو او یو حسین صورت ئې ورله ورکړو خو بیا هم دې دالله په قدرت او وحدانیت کښې جګړې کوی، دا آیت اګر چه د شان نزول په اعتبار سره خاص دې، او ((الانسا)) نه مراد اُبی ابن خلف الجمحی دې ، خو زیات مناسب د مقام سره دا دې چه اعتبار دعموم د الفاظو اوکړې شی او ((الانسان)) نه مراد جنس انسان شی ﴿خَصِیْمٌ﴾ په وزن دفعیل سره په معنی د مفاعل مخاصم سره دې لکه چه نسیب په معنی د مناسب سره دې ، د راجح قول مطابق، مراد د خصیم نه منکر د توحید دې او منکر د قدرت دالله ﷻ دې ، او بعض فرمائی چه مراد د خصیم نه منطیق یعنی خبرې کونکې (تیز زبان) دې ، مجادل عن نفسه دې ، یعنی دا انسان یوه نطفه بی حسه پلیته وه ، د الله په قدرت سره ئې انتقال

[1] اول دلیل عقلی لپاره د نفی د شرك فی التصرف.

اوکړو يو حالت شريفه ته ،احساس او روح پکښې پيدا شو ((اى فاذا هو منطيق مجادل عن نفسه مكافح للخصوم مبين للحجة بعد ماكان نطفة من منى جمادا لاحس به ولا حركة)) (کشاف،کبير) ﴿وَالْأَنْعَٰمَ﴾ په مخکښې آيت کښې استدلال وو په ذکر د احوالو د انسان سره او په دې کښې استدلال دې په پيدائش د هغه اشياؤ سره چه انسان ورته په ژوند تيرولو کښې محتاج دې ، مراد دانعام نه ازواج ثمانيه ((ضان. معز ، بقر ، ابل)) دې ،او ((الانعام)) منصوب دې او د قبيلې د ما أضمر على شريطة التفسيرنه دې ﴿دِفْءٌ﴾ وئيلې کيږى هغه څيز ته چه په اغوستلو کښې ئې ګرمائش حاصيليږى او يخنى پرې دفعه کيږى او جوړيږى دوړئ او دپشم او ويختو نه . ﴿وَمَنَٰفِعُ﴾ په دې کښې اشاره ده پيو، غوړو. غوښو ، بچو ، او رکوب ته ﴿وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ﴾ اکل دا دمعظمو منافعو نه وو نو ځکه خاص طور پر ذکر شو ، او تقديم د جار مجرور په فعل باندې د پاره د حصر دې خو دا حصر په اعتبار د اغلب او دعموم سره ،ځکه چه ددې نه علاوه د نورو شيونو غوښې هم خوړلې شى لکه چرګ وغيره شو ، خو هغه مشابه دى د غير معتاد سره ، او جارى دى په مجرى د تفکه، نو ددې وجه نه حصر اوکړې شو ،او په دې آيت کښې ذکر د ملبوساتو مقدم کړې شو په مطعوماتو باندې اګر چه مطعومات عظيم المنفعت دى وجه داده چه ملبوسات اکثر دى په اعتبار دبقاء سره نو ځکه مقدم کړې شو ﴿وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ﴾ يعنى ددغې فوائدو سره سره الله دغه حيوانات ستاسو دپاره د زينت او خايست ذريعه هم ګرځولې ده چه کله ئې تاسو صحرا ته بوځئ او بيائې راولئ ، نو ستاسو د عزت او شان او شوکت يوه نخه ده ﴿تُرِيحُونَ﴾ رواح وئيلى کيږى د چارپايانو صحرا نه دماښام وخت کښې واپس راوستلو ته ، او سرح وئيلى کيږى دسحر په وخت کښې دوئ صحرا ته بوتلل ، د ترتيب په اعتبار سره سرح مقدم وى د رواح نه خو دلته تقديم د رواح په سرح باندې ځکه اوشو چه په رواح کښې خايست د سرح نه زيات وى ، ځکه چه د واپس راوستلو په وخت کښې دوئ ماړه شوى وى په خوراك او څکاك سره نو ډير خايسته ښکارى.

وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ

او پورته کوى دوئ بوجونه ستاسو داسې ښهرونو ته چه نه يئ تاسو رسيدونکى هغې ته مګر په مشقت د نفسونو سره

إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۞ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ

بيشکه رب ستاسو خامخا ډير شفقت کوونکې ، رحکم کوونکې دې او (پيدا کړيدى الله) اسونه اوقچرى او خرونه

لِتَرْكَبُوهَا	وَزِينَةً ۚ	وَيَخْلُقُ	مَا	لَا	تَعْلَمُونَ ⑧	

لپاره د دې چه سورلئ او کړئ تاسو په هغې باندې او لپاره د ښائست . او پیدا کوی هغه څیزونه چه تاسو ئې نه پیژنئ

وَعَلَى	اللَّهِ	قَصْدُ	السَّبِيلِ	وَمِنْهَا	جَائِرٌ ۚ	وَلَوْ شَاءَ

او د الله [1] په ذمه باندې دې بیان د سمې لارې او ځینې د دې لارونه کږې دی، او کچرته خوښه شوې وې د الله

لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ⑨

خامخا هدایت به ئې کړې وو تاسو ټولو ته

﴿وَتَحْمِلُ﴾ اثقال جمع د ثقل ده ، درون سامان د مسافر ته وئیلې کیږی (کبیر) بله فائده دچارپایانو او احسان دالله ذکر کیږی ، چه انسان دمشقت نه د بچ کیدو دپاره خپل درون بار په خناورو باندې واچوی او هغوئ ئې بغیر د څه چون وچرا نه هغه ځائی ته رسوی چه هغې ته د انسان رسیدل بغیر د سامان نه د مشقف نه خالی نه وی ((ای قد علتم انکم لاتبلغونه بانفسکم الا بجهد و مشقة فضلا ان تحملو علی ظهورکم اثقالکم)) (کشاف) ﴿بِشِقِّ الْأَنفُسِ﴾ قرات د د عامو او اکثرو هغه بالکسر دې ، او شِق بالکسره ،او شَق بالفتح . بعض فرمائي چه دَ دواړو معنی یوه ده په معنی د مشقت سره ، او هیڅ فرق پکښې نشته دې لکه رِطل او رَطل، او بعضی فرمائی چه دَچه د شَق (بالفتح) حقیقی معنی مشقت دې او شِق (بالکسره) وئیلې کیږی نصف ته لکه په حدیث کښې راغلی دی ((اتقوالنار ولو بشق التمرة)) نو معنی داده چه هغه ته رسیدو کښې ستاسو نصف قوت خرچ کیږی، رجعه ددې قول هم تکلیف او مشقت ته کیږی .

تنبیه : منکرین د کراماتو د اولیاء په دې آیت سره استدلال کوی چه دا آیت په دې دلالت کوی چه انتقال دیو بلد نه بل بلد ته دا بغیر د مشقت نه ممکن ندې، نو لهذا د مثبتینو د کراماتو دا خبره چه ولی هغه بغیر د مشقت نه په لږ وخت کښې دیو شهر نه بل شهر ته انتقال کوی؟ د آیت د ظاهر سره مخالفه ده ، نو **جواب** ترینه دادې چه کرامات د اولیاء الله هغه په نورو دلائلو سره ثابت دی او هغه د لائل ددې آیت دپاره مخصص دی (کبیر) ﴿وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ﴾ دا منصوب دې او عطف دې په «والانعام».

[1] دویمه معنی : او الله ته رسیږی سیدها لار دَ توحید – او بعض لارې دَ شرك دی .

باندې او په دې آیت کښې د درې قسمه حیواناتو دوه لوئې فائدې ذکر کیږي. یو زینت او دویمه سورلی، ﴿وَزِينَةً﴾ دا یا مفعوله له دې او عطف دې په محل د ((لترکبوا)) باندې او یا مفعول به دې د فعل مقدر د پاره ((ای خلقها زینة)) ذکر دَ «رکوب» په فعل سره اوشو ځکه چه رکوب کله کله وی همیشه نه وی، او «زینة» مصدر سره ذکر شوه ځکه چه په زینة کښې دوام او ستمرار وی ، په دې آیت کښې د خیل او بغال او حمیر مقصد الله ﷻ سورلی او زینت بیان کړو او دهغوی د غوښې دخوراك ذکر ئې او نه کړو نو د ظاهر د آیت نه دا معلومیږی چه ددې درې واړو خوراك جائز نه دې کچرته دَ دوئ خوراك جائز وې نو دهغې ذکر به خامخا شوې وؤ ځکه چه سوق ددې آیت دپاره د امتنان دې او په ټولو کښې لوئ نعمت هغه خوراك دې ، نو په معرض د امتنان کښې اعلی شی پریخودل او ادنی ذکر کول دا دحکیم ذات سره لائق او مناسب نه دی، نو معلومه شوه چه ددې د ټولو خوراك جائز نه دې لکه دا مسلك ابتداءً د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله وو لیکن روستو ئې بیا د اس په باره کښې رجوع اوکړه نو د جمهورو فقهاؤ په نیزد د خچر اود کورنئ خرغوښه ناجائزه ده او داس په باره کښې د جمهورو احنافو قول د کراهیت تنزیهی دې د وجې د اختلاف د روایاتو نه او د وجې ددینه چه دا اسباب او آله د حرب او د جهاد ده ﴿وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ زیات راجح قول دادې چه ددې نه مراد مطلقا خلق دې برابره خبره ده که په هغه وخت کښې موجود وو او د انسان علم پرې نه وو یا بالکل موجود نه وو لکه ریل گاډی جهاز وغیره شو یا په راتلونکی وخت کښې نور داسی ایجادات وشو چه نن صبا انسان سره د هغې علم نشته دې.

فائده : (۱) په دې آیاتونو کښې دلیل دې په دې خبره چه چار پایانو باندی بوج بار کول او په هغوئ باندې سورلی کول جائز دی، لیکن د هغوئ د برداشت او استطاعت نه زیات شې په هغوئ بار کول یا د هغوی د خوراك څکاك خیال نه ساتل ، جائز نه دی، (۲) د دې آیت نه د جمال او زینت جوازهم معلومیږی چه دا حسن او خائست د شریعت د حدودو لاندې جائز دې ، دفخر او تکبر دپاره زینت حرام دې .

﴿وَعَلَى اللَّهِ﴾ (علی) یا په معنی د (الی) سره دې ، او ﴿قَصْدُ السَّبِيلِ﴾ وئیلی کیږی، استقامت الطریق ته خو دلته ترینه مراد توحید دې او په ځائې د «الی» باندې «علی» راوړل دپاره د تاکید د استقامت دې (ابو سعود) یعنی دا د توحید والا لار الله ته رسیدونکې لاره ده او یا «علی» په خپله معنی باندې دې ، او لفظ دبیان ورسره مقدر دې ((اي وعلى الله بيا ن قصد السبيل)) (قرطبی) او علی د

وجوب دپاره وی خو دلته ترینه وجوب تفضیلی مراد دې ﴿وَمِنْهَا جَآئِرٌ﴾ جائر ونلي کیږی ((مائل عن الحق ومنحرف عنه لایوصل سالکه الیه)) ته (ابو سعود) او دضمیر په مرجع کښ متعدد اقوال دی بعض فرمائی چه مرجع جنس سبیل دې، او سبیل مذکر اومونث دواړه استعمالیږی. د دې وجې نه ضمیر دمونث ورته راجع شو، او مقصد د آیت هغه تقسیم دې سبیل حق او سبیل باطل ته، دا زیات راجح دې، بعض فرمائی چه ضمیر راجع دې «سُبُل» جمع ته او «من» تبعیضیه دې، اوضمیر اگر چه مفرد دې خو واقع دې په ځائ د جمع باندې، «زاد المسیر» او ابن عطیه فرمائی چه ضمیر راجع دې «السبیل» ته او الف لام دپاره د عهد دې او مراد ترینه سبیل د شرع دې، او مقصد دادې چه په شرع کښ ځینې لارې اوفرقې صحیح دی او ځینې فرقې ناجائز او باطل اومنحرف عن الدین دی نوپه دې کښ اشاره ده فرق باطلو ته. ﴿وَلَوْ شَآءَ﴾ «لو» دپاره د انتفاء الثانی راځی د وجې د انتفاء داول نه، نوپه دې کښ اشاره ده چه هدایت په ارادې او په مشیت د الله سره دې، نو دکافرو نه مشیت د الله منتفی شوې دې نو ځکه ورته هدایت نه دې ملاؤ (خازن).

﴿لَهَدٰىكُمْ أَجْمَعِيْنَ﴾ یعنی اضطراراً او الجاءً، پدې آیت کښې رد دې په مذهب د قدریو باندې.

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ وَّمِنْهُ
الله هغه ذات دې [1] چه راوروی د طرفه د آسمان نه او به ستاسولپاره دهغې نه څکل دی او د دغې نه (پیداکیږی)
شَجَرٌ فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ۝ يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُوْنَ
ونې چه په هغې کښ څروئ تاسو (څاروولره). رازرغونه وی (الله) تاسو لره په هغې سره فصل اوخونه
وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝
او کهجورې او انگور او د هر قسم میوونه بیشکه پدې کښ دلیل د توحید دې لپاره د هغه قوم چه فکر کوی

﴿هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ﴾ دویم دلیل عقلی ذکر کیږی په توحید پدې کښ احوال د نباتاتو د باران وربدل او د نمر، سپوږمۍ او ستورو د انسا ن په کا ریاندې لگولو تذکره ده. ﴿لَكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ﴾ پدې آیت کښ حصر مقصود ندې او په دې کښ نفی ددې نشته دې چه انسان د څکاك لره د اوبو نه

[1] دویم دلیل عقلی دپاره د نفی د شرك فی التصرف علی سبیل الترقی.

بل څه طریقه نشته دې بغیر د باران نه، بلکه په دې کښې صرف دَ باران نه د څکاك د فائدې اغستلو ذکر دې . او په تقدیر د تسلیم د حصر سره خومره اوبه چه دی هغه دباران نتیجه ده، که هغه د چشمو دی یاد کوپانو دی یا د نهرونو اوبه دی. لکه الله فرمانی : ﴿وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ﴾ . (المومنون ١٨) . ﴿وَمِنْهُ شَجَرٌ﴾ (من) یابسببیه دې (اي سببه انبات شجر) (روح) اویا تبعیضیه دې، یعنی څنې د دغه اوبو نه هغه ونې دی، دا نسبت مجازی دې څکه چه دا ونې وجود حاصلیږی په اوبو سره نوګویا چه دا د دې یو جزء دې ((لان شجرة لما كان حاصلا بسقيه جعل كانه منه)) . (روح) او ((شجر)) په لغت کښې وئیلې کیږی هغه بوټی ته چه هغه لره ساق (تنه) وی او کله کله ئې اطلاق په کلاء (واښو) باندې هم کیږی. لکه حدیث کښې چه راغلی دی ((لاتاكلو ثمن شجر فانه سحت)) (رواه عبدالرزاق فی مصنفه) دلته ترې نه مراد هغه ټول څیزونه دی چه زمکه ئې را زرغونه وی ﴿فِيهِ تُسِيمُونَ﴾ معنی ئې ده ((تَرْعُونَ)) څرولو ته وئیلې کیږی ﴿يُنبِتُ لَكُم﴾ د ا جمله یا صفت دې د ﴿مَاءً﴾ دپاره او یا جمله مستانفه ده چه واقع شوې ده په سوال د سائل کښې، ګویا چه سائل سوال اوکړو ، چه ((هل له منافع اخر)) نو جواب ترینه اوشو چه ((ينبت لكم به الزرع – الخ)) د اوبو په ذریعې سره کله غذا د حیواناتو پیدا کیږی اوکله دانسانانو، نوپه ماقبل کښې له ((فيه تسيمون)) سره غذا د حیواناتو ذکر شوه او په دې آیت کښې غذا اوخوراك د انسانانو ذکر کیږی، او تقدیم د خوراك د حیواناتو اوشو دپاره د تنبیه په مکارم اخلاق باندې څکه چه اخلاق حمیده دادی چه انسان د خپل ځان نه د هغه شی خیال زیات اوساتی چه کوم د ده ماتحت دی، یا د تقدیم وجه داده چه د حیواناتو خوراك اقوی بالامتنان دې څکه چه د هغې په زرغونیدو کښې دانسان او د مخلوق هیڅ دخل نشته په خلاف دانسان د خوراك د انسان چه په هغې کښې د انسان د کسب او محنت ضرورت وی، ﴿الزَّرْعَ﴾ خوراك انسانی کله دپاره دغذا وی اوکله تفکه محض وی، او کله پکښې دواړه فائدې وی اوکله په کښې د دې دواړو نه علاوه نور منافع وی، نو ((الزرع)) په دې کښې غذا ده، او هرکله چه دا اصل وو په غذائیت کښې نو ددې وجې نه ئې تقدیم هم اوشو په نورو باندې ﴿وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ﴾ دا دواړه مِن وجهٍ غذا هم دی او فاکهه هم دی ،او تقدیم د زیتون د وجې د شرافت او تبرك نه دې ﴿وَالْأَعْنَابَ﴾ جمع د عنب ده، انګور ته وئیلې کیږی په دې کښې تفکه ده سره د علاج نه، او جانب د غذائیت په کښې ناقص دې، نخیل او اعناب جمع ذکر شول د دوجی د

مختلفة الاصناف نه. چه د دې اصناف مختلف اوکثیر دی. صاحب د روح المعانی فرمائی چه د کهجورو تقریبا درې سوه قسمونه دی. او د انګورو پنځوست قسمونه دی. او تخصیص د دې څلورو انواعو ځکه اوشو چه د دغې مذکورو فوائدو نه علاوه په نورو ډیرو منافعو باندې هم مشتمل دی ﴿وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ﴾ (من) تبعیضیه دې. ځکه چه ټولې میوې به په جنت کښې وی. د دنیا میوې د آخرت او دجنت د میوو دپاره یاد دهانی او تذکره ده. نوپه دنیا کښې صرف څینې میوې الله پیدا کړی دی. ﴿ذَٰلِكَ لَآيَةً﴾ په دې کښې د الله د قدرت او وحدانیت لوئی نشانئ دی. چه د یوې زمکې نه او په یو تاثیر فلکیه او تحریك کوکبیه سره مختلف الطبائع میوې چه د هغو طبائع خوند، رنګ، بوئ جدا جدا وی. پیدا کیږی ، نو مبادی د ټولو متحد او نتیجه یې مختلفه ده، دا صرف د یو قادر مطلق او متصرف ذات کار دې. اود هغه د قدرت نخه ده.

وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ ۗ
اوبه کار نی لګولی دی ستاسو لپاره شپه او ورځ او نمر اوسپوږمئ، او ستوری چه تابع کړی شوی دی په حکم دهغه سره
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۝ وَمَا
بیشکه چه پدې کښې خامخا ډیر دلیلونه د توحید دی هغه قوم لره چه عقل نه کار اخلی او (پیدا کړی نی دی) هغه څه
ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً
چه خواره کړی نی دی ستاسو لپاره په زمکه کښې چه جدا جدا دی رنګونه دهغې بیشکه پدې کښې خامخا دلیل دې
لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ۝ وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا
دهغه قوم لپاره چه نصیحت قبلوی . او الله داسې ذات دې چه تابع کړې نی دې دریاب لپاره د دې چه اوخورئ تاسو
مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى الْفُلْكَ
دهغې نه غوښه تازه او را اوباسئ تاسو دهغې نه کالی (زیورات) چه اغوندئ تاسو هغه، او وینې ته کشتئ
مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝
سیرونکی د ابودی په هغې کښې او لپاره د دې چه طلب کړئ فضل د الله او د دې دپاره چه شکر اوکړئ تاسو .

﴿وَسَخَّرَ﴾ معنى د تسخير تيره شوې ده ﴿الَّيْلَ﴾ دد آرام دپاره او ﴿وَالنَّهَارَ﴾ د معاش دپاره ﴿وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ﴾ چه دا په خپل مدار باندې صحيح روان دی، او په دوی باندې الله د انسانانو خپنی مصالح مرتب کړی دی، نو دوی په کاملې طريقې سره د هغې دپاره سر ته رسونکی دی. او د تسخير معنې په دې مقام کښې هغه نه ده چه کومه معنی په سورة زخرف آيت نمبر (١٣) ﴿سُبْحَٰنَ الَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا﴾ کښې مراده ده ، هلته د تسخير نه مراد تمکين او قدرت ورکول دی انسانانو ته ، چه څنگه تصرف په کښې غواړی نو کولې يې شی، ﴿وَالنُّجُومُ﴾ مرفوع دې بنا بر ابتدائيت، په تغير د اسلوب کښې اشاره ده دې ته چه د دې په فوائدو باندې عام خلق نه پوهيږی ﴿إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ﴾ هر کله چه په شمس، قمر وغيره هر يو کښې جدا جدا فوائد وو، نو څکه آيات جمع راوړې شوه، او هر کله چه آثار د دوی ظاهر وو په دلالت کښې په قدرت د الله باندې او فکر چلولو ته پکښې ضرورت نه وو نو څکه ﴿يَعْقِلُونَ﴾ ذکر شو ﴿وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ﴾ واو عاطفه دې او (ما) موصول مبنی واقع شوې دې په محل د مفعول به کښې او داعطف دې په ما قبل جمله کښې په «الليل» باندې او د (سخر) ماتحت واقع شوې دې او مراد د دې نه هغه حيوانات، اشجار وغيره دی چه مختلفو رنگونو باندې مشتمل دی ﴿إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً﴾ اختلاف د الوانُ امر واحد دې نو څکه آيةً مفرد ذکر شو ﴿وَهُوَ الَّذِى سَخَّرَ الْبَحْرَ﴾ مخکښې آيت کښې منافع د بر (وچې) ذکر شول او په دې آيت کښې دمنافعو د بحر بيان دې، د تسخير مقصد دادې چه الله انسان ته قدرت ورکړې دې چه دې په دې کښې لامبو وهی په کشتو کښې په کښې گرځی او قيمتی څيزونه ترينه راوباسی ، او د «البحر» نه مراد جنس بحر دې که خوږ وی او که مليح (نمکين) وی ﴿لِتَأْكُلُوا﴾ خوراك د لويو منافعونه وو د دې وجې نه مقدم کړې شو ﴿مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا﴾ دلته دحيوان لفظ مقدر دې ((اي لتاكلو ا من حيوانه، لحما طريا))، (بحر) اومرا د ترينه ماهی (سمك) دې او تعبير ترينه په لحما سره اوشو اگر چه دا حيوان دې ، د وجې د انحصار د انتفاع د ده نه په اکل سره (ابی سعود) او يا د دې وجې نه چه په ده کښې هډوکی کم دی «روح» او په «طريًّا» کښې اشاره ده چه دا نرم خوراك او غذا ده او تنبيه ده په دې کښې چه د دې په خوراك کښې جلدی پکار ده څکه چه دې زر خرابيدونکې دې او دغه شانتې تنبيه ده په لوئی قدرت د الله باندې چه د بيکاره او ترخو اوبو نه ئی تازه او خوږ ماهی پيدا کړو

تنبيه په ماهی باندې په دې ځائ کښې د لحم اطلاق شوې دې. خو دا اطلاق مجازاً دې. ځکه چه لحم د التحام نه دې په معنی د شدت سره او شدت بغیر دوينې نه نشی حاصلیدې او په ماهی کښې وينه نه وی او په عرف کښې هم ماهی د غوښې نه مطلقا لحم او غوښه نه وئیلې کیږی د دې وجې نه امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی: که چرته يو انسان د غوښې د خوراك نه قسم اوکړو اوبيا ئې ماهی اوخوړلو نو دا حانث نه دې لکه څنګه چه يو سړې قسم اوکړی د مانځه نه په بساط باندې . او بيا مونځ اوکړی په زمکه باندې نو دا حانث نه ګرزی حالانکه په قرآن مجيد کښې په زمکه باندې اطلاق د بساط شوې دې لکه الله فرمائی ﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا﴾ (نوح آيت : ١٩) يا دغه شانتې يو سړی قسم اوکړو د سورلئ نه په دابه باندې او بيا ئې سورلی اوکړه په يو کافر باندې نو حانث نه ګرځی حالانکه الله په قرآن مجيد کښې کافرو ته دواب وئیلی دی، لکه چه فرمايي : ﴿إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ﴾ ، (سورة الانفال ، آيت : ٥٥ – ٢٢) ځکه چه دارومدار د قسمونو په معنی عرف باندې دې او د دې وجې نه داحنافو په نزد که چرته يو سړې غلام له پیسې دپاره د غوښې ورکړی او هغه ورله ماهی راوړو نو مالك ته د انكار حق حاصل دې، ﴿وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً﴾ مراد ترينه مرغلرې او مرجان وغیره دی، بعضی مفسرين فرمائی چه خوراك د تريخ او خوږ دواړو سمندرونو نه ملاويږی اوحليه او کالی صرف د تريخ سمندر نه ملاويږی او خوږ نه، نهٔ ملاويږی، او بعض فرمائی چه د خوږ سمندر نه هم ملغلرې ملاويږی خو هغه کمې وی او علاج او دوائی کښې پکار راځی «بحر».

﴿تَلْبَسُونَهَا﴾ دا کالې لباس صرف د زنانو دې او نسبت ئې ذکورو (نارينو) ته تسبيبا دې او يائې نسبت نارينو ته اصالةً دې ځکه زنانه د نارينو تابع وی او يا وجه داده چه زنانه ماموري دی په حجاب او اخفا د زينت سره دغير محارمو نه نو خفا د تصريح د نسبت د لبس هم راغله د دوئ نه او نسبت ئې ذکورو ته اوشو ، ((لما ان النساء مامورات با لحجاب واخفاء الزينت عن غير محارم اخفى التصريح بنسبة اليهن ليكون الفظ كا لمعنى)) ، ((روح)) ﴿مَوَاخِرَ فِيهِ﴾ مخر په لغت کښې وئیلې کیږی شق او څيرلو ته، دلته په معنی د جاريةٌ سره دې يعنی چه رواني دی په حکم د الله سره ﴿وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ﴾ عطف دې په ((تستخرجون)) باندې ، او يا ورله معطوف عليه مقدره ده ((اي لتنفعو ا لذالك ولتبتغو من فضله)) مراد ترينه تجارت دې ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ يعنی

تاسو د الله د دغه نعمتونو دوجې نه د الله معرفت حاصل کړئ او په اطاعت او وحدانيت سره د هغه شکر ادا کړئ ((فتقومون بادائها باالطاعة والتوحيد))، (ابی سعود) . اوهر کله چه دا نعمت اقوی وو په باب د نعمتونو کښې ځکه چه د خطرې والا څيز الله ﷻ د ډيرې لوئې فائدې دپاره ذريعه اوګرزوله او لوئې لوئې سفرونه په لږه موده کښې بغير د څه حرکت نه په آرام او په سکون سره قطع کيږی، دې وجې نه د دې نعمتونو په ذکر پسې ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ ذکر شولو.

وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَارًا

او ايخې دی (الله) په زمکه کښې پاخه غرونه چه اونه خوزيږی زمکه په تاسو باندې او نهرونه (ئی پيدا کړی دی)

وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ۝ وَعَلَامَاتٍ ۚ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ۝

او لارې لپاره د دې چه تاسو هدايت اوموموئ. او (پيدا کړی ئی دی) ډيرې نخې او په ستورو سره دوئ لاره مومی

أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ۝

آيا پس هغه ذات چه پيدا کوی هرڅه [1] په شانته دهغه چا دې چه نشی پيدا کولې هيڅ څيز، آيا پس تاسو نصيحت نه اخلئ ؟

﴿وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ﴾ (القی) په معنی دَ (جَعَلَ) او يا (خَلَق) دې (رواسی) وئيلې کيږی په يو ځائې باندې ولاړو غرونو ته ﴿أَن تَمِيدَ بِكُمْ﴾ په نزد بصريانو لفظ د کراهية ورسره مقدر دې او په نزد د کوفيانو د ((ان)) نه وروستو ((لا)) محذوف دې ((اي لان لا تميد بكم)) او (ميد) وئيلې کيږی ((الحركة والاضطراب يمنا وشمالا)) ته يعنی هغه ګډوډ حرکت چه کله يو طرف ته وی او کله بل طرف ته . کله چه اول دا زمکه پيدا شوه نو د کرويت د وجې نه په ادنی سبب سره به يې د کشتئ په شانتې يوطرف ته او بل طرف ته حرکت کولو، الله ﷻ په دې کښې غرونه پيدا کړل ، او د دې بوج مرکز ثقل طرف ته شو نو هغه حرکت ئی ختم شو، او هر کله چه دنيا دار الاسباب ده نو د دې وجې نه الله انسان ته د تعليم دپاره په اسبابو سره دغه حرکت ختم کړو، ګنې الله ﷻ په دې قادر دې چه نه ئې په زمکه کښې څه حرکت پيدا کړې وې او يا ئی بغير د غرونو نه دغه حرکت ختم کړې وې. ﴿وَأَنْهَارًا﴾ عطف دې په رواسی باندې او د اکثرو انهارو منابع هغه په غرونو کښې دی نو ځکه رواسی پسې د

---

[1] نتيجه او ثمره چه مرتبه ده په دوه ذکر شوو دليلونو باندې.

انهارو ذكر اوشو، او ﴿وَسُبُلًا﴾ دا هم عطف دې په رواسي باندې اوپه بل ځائې كښې ﴿وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا﴾، (طه ۵۳). ﴿لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾ دا تعليل يا صرف د سبلاً سره تعلق لري او يا د درې وارو (غرونو، نهرونو، او لارو) سره تعلق لري ځكه چه د غرونو او نهرونو په ذريعې سره هم ملكونه معلوميږي، او علاقې د يو بل نه جدا كوي، او يا دا كلام مبني دې په توريه باندې او مقصد دادې چه دغه آثار اومقامات په بطلان دشرك او په وجود دفاعل حكيم باندې راهنمائي كونكي دي، (روح) ﴿وَعَلَامَاتٍ﴾ داهم عطف دې په رواسي باندې او مراد له علامات نه هغه نخې په لارو كښې دي چه د هغې په ذريعې سره تلونكي خپل مقصود ته رسي، لكه غر او گوذر او هوا وغيره شول، امام رازي رحمه الله په خپل تفسير كښې او شيخ الاسلام مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله په خپل تفسير كښې خپلې مشاهدې ذكر كړي دي، چه څيني خلقو او بانډيچيانو (اعرابيانو) به د خاورې په بوئي سره د لارې پته لگوله ﴿وَبِالنَّجْمِ﴾ (النجم) نه مراد يا هغه څلور ستوري ((ثريا، فرقدان، بنات نعش، جدى)) دي، اويا ترينه مراد جدى او فرقدين دي او يا ترينه صرف جدى مراد دې چه ددې په ذريعې سره قبله معلوميږي او يا «النجم» اسم جنس دې اومراد ترينه جميع نجوم دي چه كله د شپې توره تياره شي نو مختلفو ستورو ته مسافر گوري، او دهغې په ذريعې سره لارې معلوموي، حضرت والد صاحب د شاه منصور باباجي قول نقل كولوچه حضرت باباجي به فرمائل چه د «النجم» نه مراد علماء دي او چه ځنگه غرونه، لارې، نهرونه د ظاهري مقصد ته د رسيدو ذريعه ده دغه شان علماء باطني او حقيقي منزل ته د رسيدو ذريعه ده. ﴿أَفَمَن يَخْلُقُ﴾ يَخلق دپاره مفعول حذف دې چه (كل شئ) دې، دا نتيجه ذكر كيږي چه متفرعه ده په ماقبل دوارو دليلونو باندې چه دماقبل نه معلومه شوه چه دهر څه پيداكونكې الله دې، او بتان چه مشركانو به ورته خپل خدايان وئيل هغوئ د هيڅ څيزپه پيدايش باندې قادر نه دي، نو معلومه شوه چه د دومره لوئ رب او د دې كمزوري مخلوق تسويه په عبادت كښې كول خلاف عقل دي، او دا تسويه نه ده پكار، په ﴿أَفَمَن﴾ كښې استفهام انكاري دې يعنې داسې نشي كيدې، او «فاء» د راجح قول مطابق تفريعيه ده ﴿كَمَن لَّا يَخْلُقُ﴾ دا تشبيه مقلوبه ده په ظاهر كښې وئيل داسې پكار وو چه ((افمن لا يخلق كمن يخلق)) ځكه چه مشركينو غير خالق د خالق سره برابر كړې وو، خو داسې اونه وئيلې شو دپاره د دې چه دا رد او انكار د دوئ د اعتقاد موافق شي، ځكه چه دوئ بتانو ته خدايان وئيلې وو، بلكه د هغوئ په

عبادت کښې به ئې مبالغه کوله او هغوئ به ئې په منزله د اصل گرځولي وو، او خالق حقيقي ئې په منزله د فرع گرځولې وو، نو د دې وجې نه کلا م په صورت دتشبيه مقلوبه کښې ذکر شو. او دغه شانتې په دې سورة کښې تنبيه ده په کما ل قبحه په فعل د هغوئ باندې چه د دوئ د دې عمل د وجې نه بتان د خپلې مرتبې نه اوچت نه شو، بلکه په دې سره د الله ﷻ انحطاط راځی د مرتبې د ربوبيت نه مرتبې د جماديت ته، او دا ډير قبيح دې «روح» او مراد په «من» سره يا ټول معبودان غير الله دی که هغه د ذوی العقولو نه وی او يا د غير ذوی العقولو نه او استعمال د من دوجې د تغليب نه دې، د ذوی العقولو په غير ذوی العقولو باندې، او يا د مشرکينو د اعتقاد موافق د غير ذوی العقولو او اصنامو سره معامله د ذوی العقو لو شوې ده، او «مَنْ» ورله استعمال شوې دې، او يا د «مَنْ» استعمال مشاکلةً دې، چه په اول ځائ کښې استعمال د «من» اوشو نو مشاکلةً ثانيا هم ذکر د «من» اوشو او يامراد په «من» سره صرف ذوی العقول دی، هر کله چه د ذوی العقولو عدم تسويه ثابته شوه نو د غير ذوی العقولو په طريقه اولی سره ثابته شوه.

وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝
اوکچرته شمارئ تاسو نعمتونه د الله ، نشئ پوره راويستلې په شمار کښې هغې لره، بيشکه الله خامخا بخښونکې مهربان دې.
وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ۝ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ
او الله پيژنی [1] هغه څه چه پټوئ تاسو اوهغه چه ښکاره کوئ تاسو. او هغه کسان چه دوئ [2] حاجتونه غواړی
مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ۝ أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ ۖ وَمَا يَشْعُرُونَ
سوا د الله نه نشی پيدا کولې هيڅ شې او دوئ پيدا کړې شويدی . دوئ مړه دی ندی ژوندی اونه پوهيږی دوئ
أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ۝
چه کله به دوباره ژوندی کيږی.

﴿ وَإِن تَعُدُّوا ﴾ په دې کښې اشاره ده چه نعمتونه د الله ﷻ بې حسابه دی، صرف هغه نه دی چه

---

۱ - دريم دليل عقلی لپاره د نفی د شرک فی العلم.

۲ - نتيجه متفرعه په دلائل مذکوره ثلاثه.

کوم ذکر شول، ﴿إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ دغه شانتې ذکر په سورة ابراهیم آیت نمبر (۳۴) کښې هم وو
خو هلته د آیت اختتام ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ سره شوې وو، وجه د فرق ئې داده چه هلته
کښې د ناشکرۍ کونکو او ظلم اوشرك کونکو ذکر وو، نو د آیت د اختتام سره مناسب ظلوم او کفار
وو، او په دې آیت کښې ذکر د تفضلاتو او انعاماتو د الله وو، اوبیا ورپسې بطور نتیجه ((افمن
یخلق)) ذکر شو، دپاره د زجر، په آخر کښې تنبیه هم ذکر شوه چه الله په دې دوه اوصافو باندې
متصف دې که یو انسان د مخلوق عبادت پریږدی او د الله عبادت شروع کړی نو کړی ګناهونه ب
ورته الله معاف کړی، او رحم به ورباندې اوکړی (بحر) او امام رازی فرمائی چه په سورة ابراهیم
کښې د دوه اصافو ذمیمه ؤ ذکر وو چه ظلوم او کفار دی، او په دې آیت کښې تفریعا الله ﷻ دخپلو
اوصافو ذکر فرمائی، تفسیر ئې داسې دې چه دټولو نعمتونو خالق الله دې، نو انسان ته الله ﷻ
نعمتونه ورکړی دی، نو دا انسان اغستونکې د نعمتونو د الله شو، نو هر کله چه اغستونکې
د نعمتونو شو نو د ده دپاره دوه صفتونه جوړ شو: ((ظلوم او کفار)) ځکه چه دې د الله د نعمتونو کما
حقه شکریه نشی ادا کولې او دغه شانتې ګناهونه ترینه هم صادریږی نو تفریعا په هغې باندې الله
ﷻ په دې آیت کښې دخپلو دوو صفتونو ذکر اوکړو، که چرته، ته ظلوم ئې نو زه غفور یم، اوکه ته
کفار ئې نو زه رحیم یم (کبیر) ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ﴾ دا دریم دلیل عقلی ذکر کیږی اومقصود ترینه نفی د
شرك فی العلم ده، ﴿مَا تُسِرُّونَ﴾ مراد ترینه عقائد او د زړه ارادې دی ﴿وَمَا تُعْلِنُونَ﴾ مراد ترینه
افعا ل او اعمال د جوارحو دی، (مظهری) ﴿وَالَّذِينَ يَدْعُونَ﴾ د درې دلیلونو د ذکر نه پس اوس
تفریعات ذکر کیږ ی، نو دا په اول دوو دلیلونو باندې تفریع ده چه د دې دواړو دلیلونو نه معلومه
شوه چه هر څه کونکې او متصرف صرف الله دې، دحاجتونو پوره کونکې هغه دې، ټول کاینات ئې
پیدا کړی دی، او مخلوقات عاجزه دی او په خپل وجود کښې محتاج دی، نو هغوئ نه متصرف دی
او نه حاجتونه پوره کولې شی . ﴿أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ﴾ دا په دریم دلیل باندې تفریع ده چه په هر څه
باندې عالم ذات صرف الله دې، او دمشرکینو معبودان هغه دائما یا مآلاً یا حالا مړه دی، او هغوئ
د دوئ دغه دعا او عبادت نه ناخبره دی، نو لهذا د هغوئ عبادت هم نه دې پکار، اله او معبو
فقط الحی القیوم دې، علامه آلوسی فرمائی چه په اموات کښې عموم مجاز دې او په ((والذین
یدعون من دون الله)) سره مراد کل معبودان غیر الله دی، که هغه ذوی العقول دی یا غیر ذوی
العقول دی، نو په غیر ذوی العقولو یعنی جمادا تو کښې دائما موت دې، حیات په کښې نشته دې.

او د ذوي العقولو دوه قسمه دي: څيني هغه دي، چه له اول نه پکښ حيات وو خو حالاً مړه دي لکه عزير ﷺ (يا لکه نن صبا بزرگان شول) چه د هغوئ د قبرونو عبادت کيږي ، او څيني هغه دي، چه حالاً ژوندي دي خو مآلا مړه دي، لکه عيسى ﷺ او فرښتې شوې ، نو اموات د عموم مجاز د وجې نه دې ټولو ته شامل شو.او استدلال د قادياني عليه اللعنة پدې آيت سره صحيح نشو. ﴿غَيْرُ أَحْيَآءٍ﴾ چه د (من دون الله) نه مراد د مشركينو بتان شي، نو د راجح توجيه مطابق دا بيا تاسيس دي، ځکه چه بعض اموات شيونو کښ داسې وي چه وروستو حيات راتللې شي، لکه نطفه او د مشركينو والا بتان داسې دي چه په دوئ پس روستو هم حيات نشي راتلى ، اوکه د ﴿مِن دُونِ اللَّهِ﴾ نه مراد بطور عموم مجاز ټول معبودان شي، نو د راجح توجيه مطابق دا بيا تاكيد دي ﴿وَمَا يَشْعُرُونَ﴾ د غوره قول مطابق ضمير په (يشعرون) کښ آلهة ته راجع دې ، اوپه (يبعثون کښ عبادت كونكو ته راجع دې، او دا ورته تهكماً وئيلې شوي دي چه تاسو د كومو معبودانو عبادت کوئ نو هغوئ ته د دې علم نيشته دې چه تاسو به كله په دويم ځلې ژوندي كيږئ ، چه د عبادت بدله تاسو ته در کړي، او كله چه هغوى ته د دويم ځلې د ژوندي كيدو علم نيشته دې نو تاسو ته بدله ستاسو د عمل نشي دركولې، او ياضمير په دواړو كښ كفارو ته راجع دي، او مقصد دادې، چه دې كفارو ته دا علم نيشته دې چه دوئ به په دويم ځل كله ژوندي كيږي دپاره د عذاب ، او يا په دواړو كښ آلهة ته راجع دې ، او مراد ترې نفع د عالم الغيب بالكليه ده، يعنى د خپلو احوالو په باره كښ هم عالمان نه دي.

إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ
لائق د عبادت ستاسو [1] يو معبود دې، پس هغه كسان چه يقين نه لري په آخرت باندې زړونه د دوئ بد گڼرى توحيد لره،
وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ۞ لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا
او دوئ لوئى كونكى دي . حقه ده دا خبره [2] چه بيشكه الله پوهيږي په هغه څه چه دوئ يې پټوى اوپه هغه څه

---

۱ - اعاده ذ دعوى د سورت.

۲ - اعاده د نتيجې.

يُعْلِنُونَ ؕ	إِنَّهُ	لَا	يُحِبُّ	الْمُسْتَكْبِرِينَ	﴿٢٣﴾	وَإِذَا	قِيلَ	لَهُمْ	

چه دوئ ئې ښکاره کوی ، بیشکه الله محبت نه کوی د لوئی کوونکو سره او په هغه وخت کښ چه او وئیلې شی [1] دوئ ته

مَّاذَا	أَنزَلَ	رَبُّكُمْ ۙ	قَالُوا	أَسَاطِيرُ	الْأَوَّلِينَ	﴿٢٤﴾	لِيَحْمِلُوا

چه څه شې نازل کړيدې رب ستاسو؟ دوئ وائي د دروغو قصې دی د مخکنو خلکو . لپاره د دې چه اوچته وی به دوئ

أَوْزَارَهُمْ	كَامِلَةً	يَوْمَ	الْقِيَامَةِ ۙ	وَمِنْ	أَوْزَارِ	الَّذِينَ	يُضِلُّونَهُم

پیتی (بوجونه) خپل پوره پوره په ورځې د قیامت او د پیتو (بوجونو) د هغه چا نه چه گمراه کړی وۀ دوئ هغوئ لره

بِغَيْرِ	عِلْمٍ ؕ	أَلَا سَاءَ	مَا يَزِرُونَ	﴿٢٥﴾

بغیر د څه دلیل نه، خبردار شئ! ډیر بد دی هغه څه چه دوئ یې پورته کوی .

﴿ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ﴾ دا په دویم ځلې دعوی د سورة ذکر شوه سره د تفریع نه په ماقبل دلیلونو

باندې ﴿ فَالَّذِينَ ﴾ دا زجر دې نه منونکو ته، او په ذکر کولو د «فا» سره اشاره ده دیته چه د دوئ اصرار په کفر او دوام په استکبار دا واقع شوې دې، په ځائ د نتیجې ددلائلو باندې، او په صله کښ اشاره ده علت د کفر او استکبار ته، چه د دوئ اصرار په کفر او دوام په استکبار د وجې د یقین نه ساتلو دې په ورځی د قیامت باندې ، اوکله چه د انکار دپاره محل زړه وو نو ددې وجې نه نسبت ئې زړه ته اوشو، او د استکبار اسناد زړه ته اونه شو ، ځکه چه دا ښکاره کیږی په قو ل او

عمل سره ﴿ لَا جَرَمَ ﴾ دا هم زجر دې ، په استکبار د توحید نه ، او اعاده د نتیجې کیږی ﴿ أَنَّ اللَّهَ

يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ ﴾ په دې کښ اشاره ده غلطو عقائدو ا و انکار د زړه ته ﴿ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴾ او په دې

کښ اشاره ده استکبار ظاهر ی ته، ﴿ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴾ ذکر د استکبا ر اوشو نه د تکبر ځکه چه استکبار همیشه دپاره مستعملیږی په ناحقه لوئی کښ په خلاف د تکبر نه چه دا کله کله مستعملیږی په لوئی د هغه چا کښ چه هغه لره حق د لوئی وی، د دې وجې نه دالله ﷻ په اسماؤ کښ

متکبر هم دې نو استکبار زیات قبیح وو، د دې وجې نه ذکر شو ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ﴾ په دې کښ شکوه

١ - شکوی.

ذکر کیږي په مشرکینو باندې، قائل د دې قول عند البعض نذربن حارث دې، یا ټو ل کافر دی. یعني چه کله دوئ ته اوئیلی شي چه په دې قرآن کښي توحید وغیره نازل شوی دی. ددې په باره کښ تاسو څه وایئ؟ نو دا کفار جواب کوي چه دا ﴿أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ﴾ دی چه د پخوانو خلقو د دروغو قصې دی، یعني افسانې دی، ﴿لِيَحۡمِلُوٓاْ﴾ دا تخویف اخروی دې، او لام دپاره د عاقبت دې یعنی د دوئ د دې خبرو انجام به په آخرت کښي داوی چه په دوئ باندې به د خپلې گناه پیټې او دهغه خلقو دگناه پیټې چه د دوئ د وجې نه گمراه شوی دی بار شی، او یالام تعلیلیه دې یعنی ددوئ د دې خبرو علت دادې چه په دې سره دوئ خلق گمراه کوی (اي قالو ذلك اضلالا للناس وصدًا عن رسو ل الله ﷺ) (کشاف) او یا لام امر دې، او دا دوئ ته تهدیداً وئیلې شوی دی، ﴿كَامِلَةٗ﴾ یعنی د دوئ په دې گناهونو کښ به څه قسم کمې نه راځی ، او دا د دفع د توهم دپاره اوئیلې شو نو کیدې شی چه دوئ ځینی گناهونه په سبب د هغه تکلیفو نو چه دوئ ته رسیدلی دی په دنیا کښ یا دوئ نیك کارونه کړی دی په دنیا کښ، د هغې دوجې نه دې معاف شوی وی، الله ﷻ اوفرمائل چه ﴿كَامِلَةٗ﴾ چه څه قسم کمې به پکښ نه وی، او په دې کښ اشاره ده چه دمؤمینو د ځینی گناهونو عذاب الله ﷻ هغوئ ته معاف کوی ، ((هذا يدل على انه تعالى يسقط بعد العقاب عن المومنين اذ لوكان هذا المعني حاصلا فی حق الكل لم يكن لتخصيص هولاء الكفار لهذا التكميل معنی)) (کبیر) ﴿وَمِنۡ أَوۡزَارِ﴾ بعضې فرمائی چه ((من)) تبعیضیه دې، لیکن زیاته راجحه داده چه من دپاره د جنس دې ، او مقصد دادې چه هغه ټول گناهونه چه د دوئ د وجې نه ددوئ متبعینو کړي دی هغه به هم په دوئ بار شی (اي يحملون كل اوزار الذين يضلونهم) (فتح القدير) او صاحب د زاد المسير فرمائی : ((من)) زائده دې د تاکید د کلام دپاره راوړې شوې دې، په دواړو صورتو کښ معنی ئی یو شانتې ده، او دغه شانتې مضمون په سورة عنکبوت آیت نمبر (۱۴) کښ هم ذکر دې ﴿بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ﴾ دا حال دې د ((هم)) ضمیر مفعول نه ، او په دې کښ اشاره د ه چه د دوئ متبعین ټول جاهلان دی اوپه ذوی العقولو باندې د دوی مکر نه چلیږی ، او په دې کښ تنبیه ده چه د متبعین والا جهل عذر نه دې، ځکه چه دوئ دپاره تحقیق کول پکاروو چه دحق او باطل فرق ئی کړې وي ((اي لانه كان عليه ان يبحث وينظر بعقله حتى يميز المحق والمبطل)) ، (کشاف).

قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم

په تحقیق سره مکر کړی وو [۱] هغه کسانو چه مخکښې تیر شویدی د دوئ نه پس راغی «حکم، عذاب» د الله بنیادونو د دوئ ته

مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ

د ویخونونه پس را پریوتلو په دوئ باندې چت دپاسه د دوئ نه او راغې دوئ ته عذاب

مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ۝ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ

د داسې خائ نه چه دوئ نه پوهیدل. بیا په ورځې د قیامت [۲] رسوا به کړی دوئ او اوبه وائی «الله» کوم خائ دی

شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تُشَاقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ الَّذِينَ

شریکان خما هغه چه مخالفت به کولو تاسو «دمؤمنانو سره» په بارې د هغوئ کښې اوبه وائی هغه کسان

أُوتُوا الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوءَ عَلَى الْكَافِرِينَ ۝ الَّذِينَ

چه ورکړې شوې دې هغوئ ته علم چه بیشکه رسوائی د نن ورځې او عذاب تول په کافرانو باندې دې. «دا» هغه کسان دی

تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا السَّلَمَ

چه مره کوی دوئ لره فرښتې په داسې حال کښې چه ظلم کوونکی دی په خانونو خپلو باندې پس مخکښې به کړی دوئ روغه «صلحه»

مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوءٍ ۚ بَلَىٰ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝ فَادْخُلُوا

چه ندې کړې مونږ عمل څه قسم بد ، «داسې نده» بلکه بیشکه الله پوهه دې په هغه کارونو چه تاسو کول. پس ورننوځئ تاسو

أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ۝

دروازو د جهنم ته چه همیشه به وین په دې کښې پس خامخا بد خائ د استوګنې دې «داجهنم» د لوئی کوونکو لپاره

﴿قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ﴾ په دې آیت کښې تخویف دنیوی بیانیږی ، سره د مثال نه د امم

---

۱ - تخویف دنیوی.

۲ - تخویف اخروی

سابقينو نه ﴿فَأَتَى اللَّهُ﴾ بعض مفسرينو دا په حقيقت باندې محمول کړې دې، او دا آيت ئې حمل کړې دې په نمرود باندې، چه هغه يو لوئ محل تعمير کړې وو د پار. د ختلو آسمان ته، حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه د هغې اوږدوالې په بره پنځه زره گزه وو، او پلنوالې ئې درې زره گزه وو، نو الله پاك پرې هوا اوچلوله نو هغه ئې منهدم کړو او ځينې مفسرينو د دې مصداق قوم لوط گرځولې دې، چه الله تعالى د هغوئ پوره ملك د هر څه سره تباه کړې وو، ليکن غوره قول دادې چه دا کلام مبنى دې په تمثيل باندې، او مراد ترينه د مخکنو قومونو مکر دی، چه هغه په شانتې د لويو لويو محلونو وو چه بنيادونه او بيخ ئې څه مضبوط وو ليکن ناگهانه دا چت په دوئ راپريوځى، او دغه شانتې د کافرانو تدبيرونه هم الله ناکام کړل، او دوئ ئې هلاك کړل، نو الله ﷻ مشرکين مکه ته هم فرمائى چه د پيغمبر مخالفت پرېږدئ، کنې ستاسو هره منصوبه به د ستاسو دهلاکت ذريعه گرځى، ﴿فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ﴾ په زياتوالى د فوق کښې اشاره ده چه د دوئ تدبيرونه ددوئ د هلاکت ذريعه اوگرزيده، ځکه چې کله داسې وی چې محض هغه تدبير او مکر ناکام کړې شى،او کله داسې وى چې هغه تدبير د تدبير کوونکو دَ هلاکت ذريعه اوگرځى، نو په ﴿مِن فَوْقِهِمْ﴾ کښې دې قسم ثانى ته اشاره ده ﴿وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ﴾ مراد ترينه عذاب عاجل يعنى دنيوى عذاب دې ﴿ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ دا تخويف اخروى دې يعنى په دنيا کښې هم دوئ ته ددوئ د تدبيرونو سزا ملاؤشوه،او په قيامت کښې هم لويه رسوائى به ورله وى، ((ثم)) دپاره د تراخى د زمانې ده، او په دې کښې اشاره ده فرق ته په ما بين دعذاب دنيوى او عذاب اخروى کښې او معطوف عليه ورله مقدر دې ((فعلهم الله فى الدنيا ثم يعلمهم فى العقبى)) (روح) او تقديم دظرف په فعل باندې دپاره دقصر دمخصوصې رسوائى دې په ورځ دقيامت، يعنى دغه مخصوصه رسوائى چې وروستو را روانه ده ﴿وَيَقُولُ أَيْنَ﴾ سره، نودغه مخصوصه رسوائى منحصره ده په ورځ دقيامت پورې، او يا وجه داده چې اصل رسوائى هغه دآخرت ده چې دخول دې نار ته،او هغه فردکامل درسوائى دپاره دې لکه الله تعالى فرمائى ﴿رَبَّنَا إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ﴾ (آل عمران ۱۹۲) نو ددې وجې نه په حصر سره ذکر شو ﴿وَيَقُولُ﴾ توبيخا به ورته اوئيلې شى ﴿أَيْنَ شُرَكَاءِيَ﴾ اضافت دشرکاء خپل ذات ته کول دَ وجې داعتقاد دهغوى نه دی ((اى بزعمكم فى دعواكم اى الهة اللتى عبدتم دونى)) (قرطبى) او مقصد داستفهام نه استحضار د بتانويا دَ معبودانو دې، دپاره

دشفاعت او یا د مدافعت د عذاب په طریقې داستهزاء سره ﴿تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمۡۚ﴾ یعنی تاسو به جګړې کولې دهغوئ په شان کښې یا «فاء» سببیه ده ((ای تعادون انبیائی بسببهم)) (قرطبی) ، ﴿قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ﴾ دغوره قول مطابق مراد انبیاء کرام او مؤمنین دی ((وهم الانبیاء والمؤمنون الذین اوتوا علمًا بدلائل التوحید وکانوا یدعونهم فی الدنیا الی التوحید فیجادلونهم)) ، (روح) .

﴿إِنَّ ٱلۡخِزۡيَ﴾ مراد ترینه کامله رسوائی او ماهیت د رسوائی ده،چې دا خاص دې په کافر پورې، او آیت نه استدلال کول په دې چې عصاة المؤمنینو دپاره عذاب بالکلیه نشته او دنیك اعمالو څه فائده نشته، نۀ دبدو اعمالو څه نقصان شته، لکه څنګه چې مرجئه وائی بطلان ئې ظاهر دې ﴿وَٱلسُّوٓءَ﴾ نور انواع دعذابونو ترینه مراد دی یا تاکیداً ذکر دې «روح» ﴿ٱلَّذِينَ﴾ دا صفت دې د ﴿ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾ دپاره په دې کښې یوه بله وجه دعذاب بیانیږي چې د زنکدن په وخت کښې کله چې دوئ دعذاب معائنه اوکړی نو دوئ به منقاد شي او دشرك کولو نه به انکار اوکړی لیکن په دې وخت کښې به ددوئ توبه نه قبلیږی ﴿ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ﴾ مراد ترینه حضرت ﷺ عزرائیل او دهغه ما تحت اعوان دی ﴿ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ﴾ دا حال دې دضمیر منصوبه د «تتوفهم» نه ﴿فَأَلۡقَوُاْ ٱلسَّلَمَ﴾ مراد ترینه انقیاد او دهغوئ خضوع ده او په کمال خضوع باندې لفظ د «القی» استعمال شو چې اصل استعمال دهغې دپاره داجسامو دې او دا جمله دماقبل جملې ﴿وَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ﴾ په جواب کښې ده ﴿مَا كُنَّا نَعۡمَلُ﴾ منصوب دې بنا په دې چې قول ورله مقدر دې او هغه حال واقع شوې دې د ضمیر د «القو» نه ((ای القوالسلم قایلین ماکنا نعمل)) (روح) اویا تفسیر د «السلم» دپاره دې او مقصد دادې چې دوئ به په دغه وخت کښې غاړه کیږدی داسلام قبلولو ته ،او دشرك نه به انکار او کړی، لکه په سورة انعام کښې نقل شوی دی چې دوئ به وائی ((والله ما کنا مشرکین)) ، (الانعام ۲۳)

﴿بَلَىٰٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ﴾ دا رد دې ددوئ ددغې انکار نه اوقائل ددې یا اولوالعلم دی یا فرښتې دی ، او یا الله ﷻ دې . ﴿فَٱدۡخُلُوٓاْ﴾ دا هم تخویف اخروی دې او ((فیقال لهم)) ورسره مقدر دې، او دا به د مرګ په وخت کښې د دوئ روحونو ته اوئیلې شي، نو د مرګ نه پس به ئې روحونه جهنم ته لاړشي، او بدن ته به ئې سختی په واسطه د روح سره رسی لکه څنګه چه په دنیا کښې روح ته تکلیف په واسطه د بدن سره رسی، او په قیامت کښې به ئې ارواح په بدنونو کښې واچولې شي او جهنم ته به د همیشه

دپاره داخل شی.دا دليل شو په عذاب قبر باندي . ﴿أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ﴾ په دې کښې اشاره ده فرق د مراتبو ته په اعتبار د عذاب سره څکه چه مختلفې دروازې به د مختلفو صنفونو د کفارو دپاره وی او د هرې دروازې عذاب به د بلې نه سخت وی، (اعاذنا الله منها) او دا تفسير په سورة حجر . آيت نمبر (۴۴) کښې تير شوې دې ﴿فَلَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ﴾ مخصوص بالذم ورله مقدر دې ((ای جهنم)) په ذکر د عنوان دمتکبرينو کښې اشاره ده علتيت د انکار او دخول فی النار ته

وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوا

اوچه اوونيلې شی [۱] هغه کسانو ته چه ځان نی ساتلې وی د شرك نه چه څه شې نازل کړيدې رب ستاسو؟ وائی دوئ

خَيْرًا ط لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ط

چه خير (نازل کړيدې) لپاره دهغه کسانو چه نيکی کوی (په توحيد منلو سره) په دې دنيا کښې (هغوئ لره) ښه ژوند دې

وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ ط وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ ۝٣٠ جَنَّاتُ عَدْنٍ

اوخامخا كور د آخرت ډير غوره دې ، اوخامخا ډير ښه دې كور د متقيانو چه هغه جنتونه د هميش والی دی

يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ ط

داخليږی به هغې ته چه بهيږی به دلاندې دهغې ونونه نهرونه، لپاره د دوئ به هغې کښې هغه څه دی چه دوئ نی غواړی

كَذَٰلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ ۝٣١ الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ لا

دغه شان بدله ورکوی الله پاك متقيانو ته . دا هغه کسان دی چه وفات کوی دوئ لره فرښتې په داسې حال کښې چه پاك وی (د شرك نه

يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ لا ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٣٢

وائی به فرښتې سلامونه دې وی په تاسو باندې ، داخل شئ تاسو جنت ته په سبب د عملونو ستاسو

﴿وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟﴾ د کفارو حال او دهغوی دپاره تخويف ذکرکولو نه پس اوس د مؤمنانو حال او د هغوئ دپاره بشارت دنيوی او اخروی ذکر کيږی ﴿ٱتَّقَوْا۟﴾ اشاره ده چه دا جواب د دوئ د وجو

۱ . بشارت.

د تقوى نه دي ﴿مَاذَآ أَنزَلَ﴾ په معنى د «اى شئ» سره دې . يعنى چه كله دمؤمنانو نه دقرآن په باره كښې تپوس وشى ﴿قَالُوا خَيۡرًا﴾ دا په مقابله د قول دمشركانو كښې دې . چه مخكښې تير شوې دې . يعنى مؤمنان وائى چه الله سراسر خير اوهدايت نازل كړې دې او هر كله چه مشركانو ايمان نه لرلو په نزول د قرآن نو قول د هغوئ چه اساطير الاولين دې په رفع سره ذكر شو نو ځكه هغه خبر دې د مبتدا محذوفې دپاره يعنى ((هو اساطير الاولين)) چه دا قرآن نازل شوې نه دې بلكه دا اساطير الاولين دى او مؤمنانو چه ايمان لرلو په نزول د قرآن باندې نو قو ل د دوئ ذكر شو په نصب سره ځكه چه دا مفعول د فعل مقدر دپاره دې نو تقدير ئى دادې . ((انزل الله خيرا)) يعنى د الله دطرف نه خير نازل شوې دې ﴿لِّلَّذِينَ﴾ دا يا بدل دې د خير نه ، او يا دا خبر مقدم دې ، او ﴿حَسَنَةٌ﴾ورله مبتداء موخره ده، اومراد د احسان نه نيك اعمال دى، لكه عقيده د توحيد وغيره شو . ا و مراد د «حسنة» نه اكثر مفسرين فرمائى چه نصرت، فتح او غنيمت دې ((اي اليوم حسنة في الدنيا من النصر والفتح والغنيمة))، (قرطبى) اودا بشارت دنيوى دې ، امام رازى فرمائى چه دا احتمال هم كيدې شى چه ددې نه مراد هغه ترقى شى په سلوك كښې او مقصد د آيت دادې چه كله تاسو احسان اوكړو نو د الله د طرف نه به په تاسو باندې دروازې د مكاشفاتو ، مشاهداتو او الطافاتو خلاصې شى، «كبير» ﴿وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ﴾ دا بشارت اخروى دې ، ﴿وَلَنِعۡمَ دَارُ﴾ مخصوص بالمدح ورله مقدر د ې چه ((دار الاخرة)) دې .

فائده: په تير شوى آيت د تخويف كښې ذكر د «مثوى» وو او په دې آيت كښې ذكر د «دار» دې ، وجه د فرق ئى داده چه مثوى هغه مقام ته وائى چه بغير د رضا او دَ اختيا رنه وى، نو هغه مقام د جهنم دې ځكه چه هغې ته د كافر رضا او اختيار به نه وى،ا و دار هغه مقام ته وائى چه په رضا او اختيا رسره حاصليږى چه هغه جنت دې نو ځكه ذكر د دار اوشولو.

﴿جَنَّٰتُ عَدۡنٍ﴾دا يا بدل دې ، د «دارُالمتقين» نه او يا خبر دې د مبتداءُ محذوف دپاره چه «هى» دې په دې كښې تفصيل د بشارت اخروى بيانيږى ، ﴿لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ﴾ يعني كوم شې چه د دوئ زړونو خواهش وى هغه به ورته ملاويږى ، په يو حديث كښې راغلى دى چه ذكر كړې دې ابن كثير چه په جنت كښې به يو وريځ په مجلس د جنتيانو تيره شى نو ځوك چه د څه ځيز خواهش كوى هغه به په هغه باندې د هغه ځيز باران كوى، حتى چه يو جنتى به ورته اوايى چه په ما باندې د

كواعب اتراب يعنى د ځوانو او همزولو جينكو باران اووروه نو په هغه باندې به د هغې باران اوروى . «اللهم ارزقناه» ﴿يَجْزِى اللَّهُ الْمُتَّقِينَ﴾ مراد ترينه راسخين في التقوى دي ﴿الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ﴾ په دې كښې ذكر د حالت د ځنكدن دې د مومنانو په مقابله د حالت د ځنكدن د مشركانو كښې ﴿طَيِّبِينَ﴾ په دې كښې ډير توجيهات شوى دى خو غوره توجيه داده چه «طيبين» حال دې د ضمير دمفعوله د «توفهم» نه . او ذكر شوې دې په مقابله د ((ظالمى انفسهم)) كښې ﴿يَقُولُونَ﴾ دا به ورته د وفات په وخت كښې دپاره د بشارت وائى چه تاته د هر قسم مصيبت نه سلامتيا ده ((ان الملئكة تقبض ارواح هولاء المتقين وهى تقول لهم سلام عليكم صيروا الى الجنة)) (طبرى) ابن جرير ، طبرى ، او بيهقى په خپلو اسنادو سره ، د محمد ابن كعب القرظى نه روايت نقل كړې دې ، چه كله ملك الموت د مؤمن روح قبض كولو له راشى نو د ټولو نه اول ورته سلام اوائى، ((السلام عليك يا ولى الله)) او بيا ورته اوائى : ((الله يقرء عليك السلام)) چه الله تاته سلام وائى او بيا د هغې نه روستو د ده روح قبض كړى ، «طبرى ج٧، ٥٨١» ﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ﴾ دا خطاب ارواحو ته دې يا د وفات په وخت كښې به وى. لكه څنګه چه د وفات نه روستو د كافر روح جهنم ته ځى او دكافر بدن ته د روح په واسطې سره تكليف رسى نو دغه شان د مؤمن والا روح به جنت ته ځى ، او د هغه بدن ته هم د روح په واسطې سرور او خوشحالى رسيږى ، او د دې وجې نه قبر ته په حديث كښې باغيچه وئيلې شوې ده ((القبر روضة من رياض الجنة)) په دې توجيه باندې دا آيت به د مخكښې آيت پشان شى، اويادا خطاب به په ورځې د قيامت كښې وى ځكه چه متبادر د دخول نه دخول د ارواحو سره د.ابدانو دې.

هَلْ يَنْظُرُوْنَ إِلَّآ أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ ؕ
انتظار نه كوى [1] دوئ مګر دې خبرې ته «انتظاركوى» چه راشى دوئ ته فرشتې «د عذاب» او يا راشى حكم «عذاب» د رب ستا
كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا
دغه شان كار كړې وو هغه چا چه مخكښې تير شويدى د دوئ نه او ظلم نه وو كړې په دوئ باندې الله ليكن وو دوئ

١ - تخويف دنيوى.

أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ۞ فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا وَحَاقَ بِهِم
چه په خپلو ځانونو باندې ئې ظلم كولو. پس اورسيدلې دوئ ته ناكاره سزاګانې د عملونو د دوئ اوګېر كړى دى دوئ لره
مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۞
هغه عذاب چه وۆ دوئ په هغې پورې به ئې توقې كولې

﴿ هَلْ يَنظُرُونَ ﴾ په دې كښ د تخويف دنيوى ذكر كيږى نه منونكو ته چه دومره وضاحت نه وروستو هم دا كافران مسئله دتوحيد نه منى او ايمان نه راوړى پشانتې د متقيانو نو بيا چه كله ملائك راشى دپاره د قبض د ارواحو ددوئ او ياپه دوئ باندې د الله عذاب راشى نو په هغه وخت كښ به ايمان راوړى ، او دغه ايمان به ئى قبول نه وى، او دوئ شمارل د منتظرين نه دا مجازا دى، ځكه چه دوئ د دغه وخت انتظار نه وو كړې ، خو ليكن چه كله هم دغه امور واقع شى نو دوئ به ايما ن داسې قبلوى لكه په شانتې د منتظر نو ځكه تعبير ترينه په منتظر سره اوشو ﴿أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ ﴾ دپاره دقبض د ارواحو او بعضې فرمائى چه اتيان د ملائكو دپاره د تصديق د نبوت د حضور ﷺ مراد دې ﴿أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ ﴾ مراد ترينه عذاب الهى دې ، خينې تشريح د دې آيت په سورة الانعام (١٥٨) كښ تيره شوې ده، ﴿كَذَٰلِكَ ﴾يعن دا څه نوې خبره نه ده، بلكه مخكښ كفارو به هم دغه شانتې خبرې كولې، په دې آيت كښ تقديم او تاخير شوې دې ، اصل كښ داسې دې ((كذالك فعل اللذين – الخ فاصابهم – الخ)) او مراد د سيئات نه سزاګانې دى او هر كله چه دغه سزاګانې سختې او ډير قسمونه ئى وو، نو دې وجې نه ورله لفظ دجمع «سيئات» راوړې شو

وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِ
او وائى هغه كسان [1] چه شرك ئى كړيدې كچرته خوښه شوې وې د الله نو عبادت به نه وۆ كړې مونږ ما سوا د الله نه
مِن شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ
د بل هيڅ څيز، نه مونږ اونه مشرانو زمونږ ، اونه به حرام كړې وۆ مونږ سوا د الله (دحكم نه) څه څيز ، دغه شان

١- شكوى سره دجواب شكوى.

فَعَلَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِينُ ۝

کار کړي وؤ هغه کسانو چه مخکښ تير شوي دي د دوئ نه پس نيشته په رسولانو باندې مګر رسول دي صفا (ښکاره)

﴿وَقَالَ الَّذِينَ﴾ دا شکوی ده او دَ مشرکانو دليل ذکر کول او د هغې نه جواب دې، مشرکانو د خپل شرک د جواز دپاره دليل ويلو چه که چرته زمونږ شرک الله ته خوښ نه وی نو نه به مونږ شرک کړي وو او نه زمونږ پلارانو او نيکونو ، ځکه چه هر کار د الله په اراده او مشيت سره کيږی نو زمونږه شرک هم د الله په مشيت او ارادې سره دې ، او دا خبره چه دوئ کوله يا ئې عقيده همدغه شانتې وه چه هر کار په مشيت او اراده د الله تعالى سره وی او يا ئې الزامًا وئيل مؤمنانو ته چه تاسو خو هرڅه په مشيت او په ارادې دالله تعالى سره وايئ نو زمونږ دا کفر هم په مشيت او په ارادې د الله تعالى سره دې. نو د دوئ دَ دليل خلاصه داده چه دوئ جاهلانو اراده او رضاء دَ الله تعالى يوه ګرځولې وه او په دې کښ دَ تلازم قائل نه وؤ، حالانکه په دې کښ فرق دې، معصيت او کفر دَ بنده په ارادې د الله تعالى سره دې ليکن په رضاء دَ الله تعالى سره ندې ، الله تعالى فرمائى : ﴿وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ﴾ دَ دې آيت ښيني تشريح په سورة الانعام آيت نمبر (۱۴۸) کښ تيره شوې ده .﴿مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِ﴾ په دې کښ اشاره ده شرک فى العبادة ته ﴿وَلَا حَرَّمْنَا﴾ لکه سائبې او بحيرې شولې ، دا اشاره ده شرک فى التحليل والتحريم ته، او تخصيص دَ دې دواړو قسمونو دَ شرک لپاره دَ حصر ندې بلکه وجه دَ تخصيص ئې شهرت اوعظمت دې چه دَ دوئ په شرکونو کښ دا دواړه قسمونه لوئ هم وؤ او مشهور هم وؤ، نو د دې وجه نه خاص کړې شو په ذکر سره ﴿كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ﴾ دا اول جواب دې د دوئ د دغه استدلال نه او دا جواب په شان دَ جواب الزامى دې، «فعل» په معنى د کذيب او استهزاء سره دې او ((فَأَهْلَكُوا)) ورسره مقدر دې ((اى مثل هذا التكذيب والاستهزاء فعل من كان قبلهم بالرسل فاهلكوا)) ، (قرطبى) . نو د دې جواب خلاصه داده چه دا تلازم به مخکنو کفارو هم لازمولو او کچرته دا تلازم ثابت وې او شرک مرضى دَالله تعالى وې نو مخکنى کفار به ئې ولې هلاکول؟ نو دَ هغوئ هلاکت دا په دې دليل دې چه شرک مرضى دَ الله تعالى ندې ﴿فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ﴾ دا دويم جواب دې چه مرضى دَالله تعالى هغه ده چه دَ کومې دَ تبليغ لپاره ئې انبياء کرام مامور کړى وؤ، او دهغې تبليغ ئې په انبياء کرامو او په مسلمانانو واجب کړې دې، نو دَ خپلې مرضى ظاهرولو لپاره ئې انبياء کرام په دعوت او تبليغ باندې مامور کړى وؤ ، باقى ايمان راوړل يا نه راوړل دا موقوف دى په ارادې د الله تعالى باندې، نو اراده د الله تعالى عامه ده چه متعلقه کيږى په افعال شرعيه، کونيه دواړو پورې او مرضى د الله تعالى دا خاصه ده متعلقه کيږى په افعال

شرعيه او امور حسنه پورې، نو مشيت او اراده دالله تعالى په دوه قسمه شوه يوې ته مشيت كونيه وئيلې كيږي او بلې ته مشيت شرعيه وئيلې كيږي، نو استدلال په افعال شرعيو كښې په ارادې او په مشيت كونيه سره كول دا باطل دى بلكه په مشيت او ارادې كونيه سره استدلال په افعال كونيه پورې متعلق كيږي لكه تورو والې او سپين والې د انسان شو يا دغه شانتې نور امور تكوينيه شول. او په افعال شرعيو كښې به استدلال په مشيت شرعيه سره (چه هغه عبارت دې دَ رضاء د الله تعالى نه) كولې شي، اوكچرته اراده او رضا يوه شي نو لازم به شي جبر په انسان. او تالى باطل دې فالمقدم مثله، هرچه دليل د تلازم دې نو هغه دادې چه په كوم شي پورې اراده دَ الله تعالى متعلقه شي نو هغه شي وجود ته رازى نو كچرته اراده او رضا متحد شي نو په هر انسان كښې به مرضيات دَ الله تعالى بالجبر حاصل شي، او هرچه دې بطلان التالى نو ځكه چه جبر منافي دې د غرض د تكليف نه ځكه چه دارومدار دَ ثواب او عقاب او سزا او جزا دا له وجه د اختيار د عبد نه دې نو كچرته عبد مجبور شي نو د ده نه به تكليف ساقط شي .

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا
او په تحقيق سره ليګلې دى مونږ[1] په هر امت كښې رسول پدې خبره چه عبادت كوئ تاسو د دالله او ځان اوساتئ
الطَّاغُوتَ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ
(عبادت) د غير الله نه، پس ځينې د دوئ نه هغه خوك دى چه هدايت ورته كړيدې الله او ځينې د دوئ نه هغه خوك دى
حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ
چه پخه شوې وه په هغه باندې ګمراهي، پس اوګرځئ[2] تاسو په زمكه كښې پس اوګورئ تاسو چه څنګه وو انجام
الْمُكَذِّبِينَ ۝ إِن تَحْرِصْ عَلَىٰ هُدَاهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَن
د تكذيب كوونكو . كه حرص كوې[3] ته په هدايت د هغوئ باندې پس بيشكه الله هدايت نه كوى هغه چا ته

١- دليل نقلى اجمالى له انبياء عليهم السلام نه .
٢- اشاره تخويف دنيوى ته .
٣- ح:ن

يُضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٧﴾

چه گمراه ئی کړی او نیشته لپاره د دوئ هیڅ څوك مددګاران

﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا ﴾ په دې آيت کښ دليل نقلی اجمالی په توحيد باندې ذکر کيږی د ټولو انبياء کرامو عليهم السلام نه چه هر پيغمبر دَ توحيد تعليم او د شرك نه ځان بچ کولو تعليم ورکړيدې، او دغه شانتې دَ سابقه دليل تفصيل ذکر کيږی، کجرته رضا او اراده دَ الله تعالى يوه وې نو بيا به ئ انبياء کرام دَ رد دشرك لپاره نه راليږل، بلکه د الله تعالى مرضى داده چه دَ الله نه بغير دَ بل چا عبادت دې نشی کيدلې، بلکه صرف اوصرف د هغه عبادت دې وکړې شی.

تنبيه: علامه زمخشری رحمه الله پدې مقام کښ دَ دې آيتونو نه مسلك د اعتزال ثابته ولو کوشش کړې دې او په مذهب دَ اهل سنت باندې ئی رد کړې دې ، علامه آلوسی رحمه الله د ده په باره کښ فرمائی چه ((ولعمرى انه فسر الايمان على وفق هواه وهى عليه لا له)) ، (روح) ، امام رازى رحمه الله اودغه شانتې نور محققينو مفسرينو دَ ده د استدلالاتو او جوابونو اودهغې رد ئی په تفصيل سره په خپلو تفاسيرو کښ کړې دې. ﴿أَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ﴾ ذکر د توحيد دې ﴿وَاجْتَنِبُوا﴾ په دې کښ رد د شرك دې ﴿الطَّاغُوتَ﴾ مراد ترينه شيطان او هر گمراهئ ته رابلونکې دې او يا اسم دې د هر معبود ما سوى الله لپاره ﴿فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللّٰهُ﴾ په دې کښ اشاره ده چه خالق دخير او د شر فقط الله تعالى دې او دغه شانتې اشاره ده ديته چه هدايت او ضلالت دواړه په ارادې د الله تعالى سره دی او دغه شانتې دا آيت صريح دې په دې کښ چه ايمان امر عام دې په حق د هرچا کښ او اراده د ايمان خاص ده په حق د بعضو کښ نو پدې آيت کښ دليل دې په دې خبره چه کله کله امر دَ الله تعالى موافق دَ ارادې د الله تعالى سره نوی، يعنى کله کله الله تعالى امر د يو کار وکړی خو مريد ئی نوی، او کله منع دَ يو کار نه وکړی خو هغه ئی مريد وی، لکه دا مسلك د اهل سنت والجماعت دې نو دا آيت صريح ردَ دې په مسلك د معتزلو باندې ﴿فَسِيرُوا﴾ دا تخويف دنيوی دې چه ستاسو نه دمخکنيو کافرانو انجام څه وؤ ؟ لږ غور اوکړئ ﴿إِن تَحْرِصْ﴾ دا زجر دې کفاروته او تسلى ذکر کيږی حضور ﷺ ته چه ستا په ذمه صرف تبليغ کول دی دوئ ته، او هدايت او ضلالت دَ الله تعالى په لاس کښ دې، په هغې باندې ځان مه پريشانه کوه.

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَن يَمُوتُ
او قسمونه کړیدی دوئ (۱) په الله باندې پاخه قسمونه چه ژوندې به نکړی الله هغه څوك چه مړه کړی ئی دی
بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝٣٨ لِيُبَيِّنَ
ولې نه، بلکه وعده (۲) ده په الله باندې یقینی (وعده) لیکن ډیر د خلکونه نه پوهیږی (لپاره د دې به بعثت کوی) چه بیانکړی الله
لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ
دوئ ته هغه خبرې چه اختلاف کوی دوئ په هغې کښې اوچه پوهه شی هغه کسان چه کفر ئی کړې دې چه بیشکه دوئ
كَانُوا كَاذِبِينَ ۝٣٩ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ
دروغژن وو . بیشکه قول (حکم) زمونږ (۳) د یوشی په باره کښې چه کله مونږه اوغواړو (پیدا کیدل دهغه)
أَن نَّقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ۝٤٠
دادې چه اووایو مونږ هغه ته چه شه! نو پس هغه پیدا شی .

﴿وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ﴾ دا زجر بطور شکوی ذکر کیږی چه دا مشرکین د بتانو عبادت هم کوی اوبیا ورسره د حشر اونشر نه انکار هم کوی او دا بعید کنړی د عقل نه ﴿وَأَقْسَمُوا﴾ دا عطف دې په ﴿وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا﴾ باندې یعنی د شرك سره سره دوئ د حشر نه هم انکار کوی ﴿جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ﴾ دا یا حال دې د «اقسموا» دَ ضمیر مرفوعه نه، ((ای حال کونهم جاهدین فی ایمانهم)) ، (روح) او یا مفعول مطلق دې دَ فعل مقدره لپاره، مراد ترینه سخت سخت قسمونه دی ﴿لَا يَبْعَثُ اللَّهُ﴾ اشاره ده دیته چه ایمان په بعث بعد الموت باندې د اصولو نه دې او انکار ئی د کفر د اصولونه دې ﴿بَلَىٰ وَعْدًا﴾ دا ردّ دې د دوئ د دغې قول ﴿وَعْدًا﴾ مفعول مطلق دې، ای وعد الله وَعْداً ﴿حَقًّا﴾ هم

---

۱ - زجر سره له تخویف اخروی او سره له شکوی نه .
۲ - جواب د شکوی .
۳ - دویم جواب لپاره د شکوی .

مفعول مطلق دي اى حَقَّهُ حَقًّا (منير) . ﴿لِيُبَيِّنَ﴾ لام تعليليه دي او متعلق دي په كلام مقدر پوري
چه په هغې باندې تيرشوې آيت دلالت كوى ((اى يبعثهم ليبين لهم)) او پدې كښې د بعثت حكمت او
فائدې ذكر كيږى، اوله فائده په «ليبين» سره ذكر ده چه دقيامت حكمت او فائده داده چه ډير امور
اختلافيه چه د هغې فيصلې په دې دنيا كښې ممكن ندى نو دهغې فيصلې به الله پاك په قيامت كښې
وكړى ﴿وَلِيَعْلَمَ﴾ دا دويمه فائده اوحكمت د قيامت ذكر كيږى چه كله دوئ مشاهده د قيامت وكړى
او هرڅه دوئ ته عيانًا راشى نو دوئ به د خپلو خبرو تكذيب وكړى ﴿إِنَّمَا قَوْلُنَا﴾ په دې كښې دويم ردّ
ذكر كيږى د دوئ د قول چه دَ انسانانو پيدا كول په دويم ځلې الله تعالى ته څه مشكل ندى څكه چه
كله هم الله تعالى د يو كار اراده اوكړى نو هغه فورًا وجود ته راځى نو د «قولنا» او «نقول» مطلب دا
ندې چه الله تعالى د دغې كلمې تلفظ ته محتاج دې بلكه مقصد دا دې چه كه غټ شې وې يا
وړوكې هرڅنگه چه وي نو دهغه په وجود كښې د راتللو لپاره صرف د الله تعالى اراده كافى ده چه
څنگه اراده وشى نو فورًا دغه شانتې ورسره هغه شې هم پيدا شى او لام په «لشئ» او په «له» كښې
لپاره د تبليغ دې ، د دې آيت څينې ضروري تشريح په سورة البقرة آيت نمبر (۱۱۷) كښې تيره شويده.

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا
او هغه كسان [1] چه هجرت ئى كړيدې د الله دَ رضاء دَپاره وروستو د دينه چه پدوئ ظلم كړې شوېدې
لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾
خامخا به مونږ ځائ وركړو هغوئ ته په دنيا كښې ځائسته، او خامخا اجر د آخرت ډير لوئ دې كچرته وې دوئ چه پوهيدلې.
الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا
دوئ هغه كسان دى چه صبر ئى كړيدې په مصائبودهجرت او خالص په رب خپل باندې توكل كوى او ندى ليږلى [2] مونږ رسولان
مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ ۚ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾
مخكښې ستا نه (اې محمده !) مگر نارينه چه وحى كوله مونږ دوئ ته پس تپوس اوكړئ تاسو دعلم والو نه كچرته تاسو نه پوهيږئ.

۱ - ترغيب الى الهجرت او بشارت.
۲ - جواب د سوال مقدر

﴿ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا ﴾ په دې آيت کښې ترغيب الى الهجرة او مهاجرينو ته بشارت دنيوي او اخروي ذکر کيږي ﴿ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ ﴾ ((في)) په معنی د لام سره ده ((اي لله)) او د دې آيت مصداق ټول مهاجرين صحابه کرام دي چه دَ الله ﷻ دَ دين لپاره ئې تکليفونه برداشت کړل او بيا ئې په آخر کښې د الله ﷻ د رضاء لپاره هجرت اوکړو، ((هٰؤلاء اصحاب محمد ظلمهم اهل مکة فاخرجوهم من ديارهم حتى لحق طوآئف منهم بالحبشة ثم بوأهم الله المدينة بعد ذلك فجعلها لهم دار هجرة))، (طبري، ج: ۷، ص ۵۸۵) او بعض فرمائي چه د دې مصداق هغه شپږ صحابه کرام ((حضرت صهيب، حضرت بلال، حضرت عمار، حضرت خباب، حضر عابس او حضرت جبير رضی الله تعالى عنهم)) دي چه د اسلام نه د واپس کيدو لپاره کفارو په دوئ باندې سخت سخت ظلمونه کول، الله تعالى دوئ ته نجات ورکړو او بيا دوئ هجرت وکړو ﴿ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ ﴾ الخ، د ﴿ حَسَنَةً ﴾ په تعيين کښې متعدد اقوال راغليدي (۱) نزول المدينة، دا په شرافت د مديني منورې باندې دليل دې (۲) رزق حسن. يعنی حلال رزق (۳) نصرت على الاعداء يعنی په اهل مکه باندې فتح (۴) لسان صدق، يعنی وروستنو خلکو کښې نيک ذکر (۵) فتوحات د بلادو، يعنی د دنيا مختلف بلاد او ملکونه د هغوئ په قبضې کښې راوستل، ليکن راجح قول دا دې چه دا ټول ترينه مراد دي، ((وکل ذلك اجمع لهم بفضل الله والحمد لله))، (قرطبي) ﴿ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ﴾ بشارت اخروي دې ﴿ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴾ ضمير يا راجع دې کفاروته او زجر دې لپاره د هغوئ او يا ضمير راجع دې مسلمانانو ته، تاکيد مقصود دې په ترغيب الى الهجرة کښې ﴿ الَّذِينَ صَبَرُوا ﴾ د غوره توجيه مطابق دا صفت دې دَ اول ﴿ الَّذِينَ ﴾ لپاره او په دې کښې دَ مؤمن د دوه عملونو ذکر دې چه يو صبر دې په مصائبو اوتکاليفو باندې او دويم دَ الله تعالى په امداد باندې توکل اوبروسه کول دي، امام رازي رحمه الله فرمائي چه په دې آيت کښې د سلوك دمبدا او منتهى ذکر دې، په صبر سره قهر او مغلوبيت د نفس رازي چه دا ابتداء د سلوك ده، لکه رحمان بابا فرمايي چه: شعر:

چه په يو قدم تر عرشه پورې رسي ما ليدلې دې رفتار د درويشانو

او په توکل سره د مخلوق نه انقطاع بالکليه رازي او توجه بالکليه حق او خالق طرفته رازي، چه دا انتهاء د سلوك ده ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ ﴾ په دې آيت کښې د مشرکينو د يو سوال جواب او اثبات د رسالت دحضور ﷺ کيږي، مشرکينو به شبه او اعتراض دا کولو چه نبوت يو

دير لوئ اعزاز دې او دا اعزاز منافي دې د بشريت سره نو بشر رسول نشي کيدلې، کچرته دغه مسئله د يوې فرشتې په ذريعې سره راغلې وې نو مونږ به منلې وه. نو الله تعالى د هغې په جواب کښ فرمائي چه مونږ څومره انبياء کرام ليږلي دي مخکښ نو هغه ټول بشر وو کچرته رسول اوبشر يو بل سره منافي وې نو پکار ده چه هغوئ هم بيا بشر نه وې، نو عادة مستمره د الله تعالى دا دې چه نبي او رسول په بشر کښ ليږي چه هغه د جنس د مبعوث اليهم نه دې او په ﴿إِلَّا رِجَالًا﴾ کښ اشاره ده دې خبرې ته چه ټول رسولان او انبياء کرام هغه بشر وو. او دغه شانتې رجال نارينه وو، اوهرچه نبوت د حضرت عيسى عليه السلام دې نو هغه د دې آيت معارض ندې ځکه چه هلته ذکر په وړوکوالي کښ د نبوت دې.

﴿فَسْئَلُوٓا أَهْلَ الذِّكْرِ﴾ يعنى چه په خپله نه پوهيږئ نو دا اهل علم نه تپوس کوئ، دا آيت دلالت کوی پدې خبره چه په وخت د عدم دَ علم کښ مراجعت او تپوس کول د علماؤ نه واجب دی، دغه شانتې دا آيت صريح دې په تقليد کښ، مشهور مفسر قرآن علامه آلوسى رحمه الله په خپل تفسير روح المعانى کښ فرمائي چه: ((وفى الاكليل للجلال السيوطى انه استدل بها على جواز التقليد العامى فى الفروع)) يعنى علامه جلال الدين سيوطى رحمه الله په اکليل کښ فرمائي چه پدې آيت سره استدلال کولې شی پهٔ جواز دَ تقليد دَ عامى باندې په فروعاتو کښ، او لږ مخکښ بيا وړيسې فرمائي. ((ويؤيد ذلك ما نقل عن الجلال المحلى انه يلزم غير المجتهد عاميًا كان او غيره التقليد للمجتهد لقوله تعالى: فسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون)) يعنى د دې تائيد په هغې سره کيږی کوم چه نقل کړې شويدی د جلال محلى نه چه هغه فرمائي چه لازمه ده په غير مجتهد باندې که دې عالم وی اوکه عامى وی تقليد د مجتهد - الخ ((روح المعانى، ج: ۱۴، ص: ۱۴۸).

تنبيه: د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم په زمانه مبارکه کښ په مسائلو باندې د عمل کولو لپاره درې طريقې وې: (۱) ذات اقدس د حضور صلى الله عليه وسلم (۲) اجتهاد (۳) تقليد، وجه دا وه چه کله به هم صحابه کرام رضى الله عنهم ته يوه مسئله مخې ته راغله نو کچرته د حضور صلى الله عليه وسلم سره به نزدې وو نو فوراً به ئې ترينه تپوس اوکړو او کچرته به لرې وو نو بيا کچرته د خط په ذريعې سره به تپوس ممکن وو نو د خط په ذريعې سره به ئې تپوس اوکړو اوکچرته به دا دواړه صورتونه ممکن نه وو يعنى نه به مشافهةً تپوس ممکن وو اونه به کتابتًا نو بيا به ئې اجتهاد کولو، کچرته قوت اجتهاديه ورته حاصل وو او کچرته به ورته قوت اجتهاديه حاصل نه وو نو بيا به ئې تقليد کولو او دا صورت د صحابه کرامو رضى الله عنهم په دور کښ زيات وو.

تقلید په لغت کښې هار اچولو ته وئیلی کیږی په غاړه کښې، او په اصطلاح کښې مختلف تعریفونه دهغې شویدی، زیات غوره پکښې درې تعریفونه دی : (۱) اتباع الغیر علی ظن انه محق بلا نظر فی الدلیل (شامی)، یعنی تقلید ویلې کیږی اتباع کولو دغیر ته پدې حسن ظن سره چه دې حق دې بغیر د فکر نه په دلیل کښې (۲) دویم تعریف د بعضې علماؤ نه داسې منقول دې چه ((هو عبارة عن اتباعه فی قوله او فعله معتقدًا للحقیة من غیر تامل فی الدلیل)) ، (ابن العینی) ، یعنی تقلید عبارت دې د غیر د اتباع نه په قول کښې یا فعل کښې په اعتقاد د حقیقت دهغه سره بغیر د سوچ کولو نه په دلیل کښې . (۳) دریم تعریف مولانا محمدعلی تهانوی رحمه الله په خپل کتاب کشاف فی اصطلاحات الفنون کښې د حینې شروحو د حسامی نه داسې نقل کړې دې : ((اتباع الانسان غیره فیما یقول او یفعل معتقدًا للحقیة من غیر نظر الی الدلیل کان هذا المتبع جعل قول الغیر او فعله قلادة فی عنقه من غیر مطالبة دلیل)) ، یعنی تقلید دیته وئیلې کیږی چه دبل چا اتباع کول په قول او په فعل دهغه کښې پدې اعتقاد سره چه دې حق دې بغیر د نظر کولو نه دهغه دلیل ته.

د دې درې تعریفاتو نه دوه خبرې معلومې شوې : یوه دا چه تقلید او اتباع یو شې دې ، دویمه دا چه مقلد د مجتهد قول معلوم کړی او محض د حسن ظن د وجه نه په هغې باندې عمل کوی. د تسلیم اوعمل په وقت کښې ابتداءً عدم مطالبه د دلیل وی یعنی مقلد دَ دغې خبرې منلو کښې دلیل نه محتاج نوی، اګرچه دلیل په خپل ځائ کښې موجود وی، اوهغه دلیل بعینه کله وروستو مقلد ته معلوم شی او کله کله د دغې مسئلې متعلق مقلد په خپلې جستجو اوکوشش سره نور ډیر دلائل معلوم کړی، نو دلیل معلومیدل دا د تقلید منافی ندی.

او هرکله چه دَ وفات د حضور ﷺ نه وروستو احکام د شریعت په درې قسمه شول ، ځینې هغه دی چه هغه منصوص او واضح الدلالة او قطعی الثبوت دی، لکه تعداد د مونځونو او تعداد د رکعاتو د مونځونو وغیره شول، ځینې هغه دی چه هغه منصوص مبهم دی او ابهام یا د وجې د لفظ نه وی چه دغه لفظ مشترك وی اود اشتراك د وجه نه پکښې خفاء او ابهام پیدا شوې وی، لکه «ثلاثة قروء» چه لفظ د «قرأ» مشترك دې په مینځ د حیض او طهر کښې او کله دا خفاء او ابهام د وجه د تعارض د ادله ؤ نه وی، چه په دغې باب کښې ادله د شرع متعارض راغلی وی، لکه قرائت د فاتحه خلف الامام شو ، چه پدې کښې احادیث متعارض دی ((لَا صَلٰوةَ إِلاَّ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ)) معارض دې د ((مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الإِمَامِ قِرَاءَةٌ له)) سره ، او ځینې هغه قسم دی چه هغه ظاهراً غیر

منصوص دی، لکه ربا (سود) د شپږ هغو نه علاوه شو چه د هغې ذکر په حديث کښې دې. نو په قسم اول کښې نه د اجتهاد ضرورت شته او نه د تقليد ضرورت شته، باقی دوه قسمه چه دی نو په دې کښې یا به اجتهاد کولې کیږی او یا تقلید، بله لار ئې نشته. که څوك په اجتهاد قادر وؤ او شرائط د اجتهاد پکښې پوره وؤ چه کوم ذکر کړیدی علماؤ چه یاد والې دې دهغه پنځه سوه (۵۰۰) آیتونو هم لفظًا اوهم معنًا کوم نه چه استنباط د احکامو کیږی، او قادر به وی په معنی لغوی دهغې باندې او په معنی مراد دهغې باندې، او دغه شانتې چه د کومو احاديثو نه استنباط د احکامو کیږی هغه به هم ورته معلوم وی سندًا او متنًا چه هغه درې زره (۳۰۰۰) احادیث دی، اودغه شانتې احوال د راویانو به ورته معلوم وی جرحًا اوتعديلاً، اودغه شانتې عامل به وی په کل احادیث موضوعی باندې. اودغه شانتې عالم به وی په اجماع باندې اوعالم به وی په اصول فقه باندې او عالم به وی په قیاس باندې هم نو د دغه شان سړی لپاره اجتهاد کول جائز دی، خو که په اجتهاد قادر نه وؤ او شرائط د اجتهاد پکښې پوره نه وؤ لکه څنګه چه نن صبا دور کښې د ناممکناتو نه دی نو بیا به تقلید کوی.

تقلید بیا په دوه قسمه دې: (۱) تقلید غیر شخصی چه هغې ته تقلید عام هم وئیلې کیږی (۲) دویم تقلید شخصی، د تقلید غیر شخصی مقصد دا دې چه مقلد دځان لپاره یو خاص امام اومجتهد معین نکړی، بلکه په ځینی مسائلو کښې د یو امام مسلك اختیار کړی او په ځینې نورو کښې د بل امام، او د تقلید شخصی مقصد دا دې چه مقلد دځان لپاره د معین امام او مجتهد تخصیص وکړی او په هره مسئله کښې د هغه قول یا دهغه د ملګرو قول اختیار کړی. ، او د دینه د تقلید حقیقت هم معلوم شو چه د تقلید حقیقت صرف او صرف دا دې چه څوك هم په شرائطو د اجتهاد او استنباط باندې پوره نه وی او اجتهاد په خپله نشی کولې نو د مجتهد په قول باندې اعتماد وکړی اودهغه د تشریحاتو مطابق په قرآن او په سنت او دهغې په احکاماتو باندې عمل وکړی.

په عهد د صحابه کرامو کښې تقلید غیر شخصی عام وؤ او تقلید شخصی هم رائج وؤ، د حضرت عثمان غنی رضی الله عنه تول خلق په یو قرائت باندې جمع کول د تقلید شخصی مثال دې، په باقی خیر القرون کښې یعنی د تابعینو او تبع تابعینو په دور کښې تقلید شخصی ډیر رائج وؤ او ډیر لوئ لوئ جبال علم به د مجتهد تقلید کولو اګر چه تقلید غیر شخصی هم وؤ چه دهغې تفصیل امام اهل سنت حضرت مولانا سرفرازخان صفدر رحمه الله اودغه شانتې نورو اکابرو په خپلو تصانیفو کښې کړې دې، د دویمې صدئ نه وروستو فقهاؤ د تقلید شخصی په وجوب باندې فتوی ورکړه ځکه چه په دې کښې انتظام دې او په دې کښې اتباع د خواهشات نفسانی هم نه راځی، چه هغه مؤدی ده فساد

ل په دین کښې، او تعارض د اصولو پکښې هم نه راځي

تنبیه (۱): نن صبا چه کوم خلق ځانته غیر مقلدین وايي نو دوئ په حقیقت کښې مقلدین دی د جهلاؤ ځکه چه د قرآن او سنت نه ناخبره سړي به دهغه سړي اتباع کوی چه هغه به د شرائطو د اجتهاد نه خالي وی لکه څنګه چه مخکښې تیر شو چه شرائط د اجتهاد نن صبا په چا کښې ممکن ندی، بلکه د قرآن او د حدیث په تشریح به هم قادر نه وی او داسې تقلید په شریعت کښې انتهائی مذموم دې.

تنبیه: (۲) ځینې معاصر مفسرین د دې آیت په ضمن کښې په تقلید شخصی باندې ردّ کوی او لیکی چه: **(د دې ایت نه استدلال کول په اثبات د تقلید جامد او د تقلید شخصی صحیح او جائز ندی.)** او بیا د خپلې دعوی د اثبات لپاره یو څو دلائل هم ذکر کړیدی چه په اهل علمو باندې دهغې سقم مخفی ندې، اولاً خو دا دعوه صحیح نده ځکه چه په سلف او خلف کښې چا هم دا ندی وئیلی چه پدې آیت سره اثبات د تقلید شخصی کیږی بلکه پدې سره اثبات د مطلق تقلید او د تقلید عام کیږی، اګرچه هغه مستلزم دې د تقلید شخصی ثبوت لره، ځکه چه تقلید شخصی د مطلق تقلید لپاره یو فرد دې او ثبوت دحکم لپاره دعام دا مستلزم وی لپاره د خاص هم، او بیا د دې دعوی لپاره اول دلیل او وجه ذکر کوی: **(چه (الذکر) نه مرد وحی ده، یعنی دهغه چا نه تپوس کوئ چه دلیل د وحی ذکر کوی (قران اوسنت) او د دلیل تابعداری نه تقلید نشی وئیلې کیدې)** (انتهی کلامه).

د بناءُ الفاسد علی الفاسد نه علاوه پدې دلیل کښې نور ډیر وجوهات د ضعف دی: ﴿فَسْئَلُوْٓا أَهْلَ الذِّكْرِ﴾ تشریح دا کول چه تپوس دهغه چا نه کوئ – الخ، جمهورو مفسرینونه خلاف دې، تمام جمهور مفسرین پدې متفق دی چه (اهل الذکر) نه مراد علماء دی او علماء چه څنګه دلیل وحی ذکر کوی نو همدغه شانتې اجماع، قیاس، دلیل عقلی اونقلی هم ذکر کوی، او دغه شانتې خبر متواتر هم په دلیل کښې ذکر کوی، **دویمه وجه** د ضعف دا ده چه لیکی: **(چه د دلیل تابعداری نه تقلید نشی وئیلې کیدې)**، نو د دې ضعف هم په هیڅ چا پټ ندې ځکه چه تقلید د عدم اتباع دَ دلیل نه، عبارت ندې بلکه په تقلید کښې عدم مطالبه د دلیل وی خو هغه هم صرف ابتداءً، دا مقصد ندې چه په تقلید کښې یا دلیل نوی او یا اتباع د دلیل نوی، صاحب هدایه او دغه شانتې نور فقهاء با وجود د دې چه مقلدین دی او څومره دلائل ئې د مسائلو لپاره ذکر کړیدی او بیانئ د قوت او دضعف په اعتبار سره دهغې اتباع هم کړیده.

دریمه وجه داده چه د دې تشریح مطابق په خپل کلام کښې تعارض راغلیدې ځکه چه په دویمه

وجه کښې ئې لیکلی دی چه «عدم د تعلم دوه درجې دی - الخ» نو دهغې نه معلومیږی چه (اهل الذکر) هغه نفس مسئله هم ښائی او دلیل لپاره د مسئلې هم ښائی، دَ دواړو ښودونکی اهل الذکر دی، او بدی ځائ کښې تشریح داسې کوی چه «تپوس دهغه چا نه کوئ چه په جواب کښې دلیل د وحی ذکر کوی» نو د دینه دا معلومیږی چه (اهل الذکر) به صرف دلیل وحی ذکر کوی، او نفس مسئله خودونکی به اهل الذکر نوی، دا واضح تعارض دې په خپل کلام کښې.

دویمه وجه د خپلې دعوې د اثبات لپاره ذکر کوی او لیکی: «چه د عدم دعلم دوه درجې دی اول عدم علم دحکم او دویم عدم علم د دلیل نو د دواړو تپوسونه کول لازم دی نو چه دلیل ورته معلوم شی نو دا خوتقلید ندې - انتهی» د دې دلیل دوه حصې دی اوله حصه داده چه «د عدم علم دوه درجې دی - الخ» دویمه حصه داده چه «د دواړو تپوسونه کول لازم دی» اوبیا ئې په اخیر کښې نتیجه متفرع کړیده چه «دلیل ورته معلوم شی نو دا خو تقلید ندې» نو دلیل اوله حصه مسلمه ده لیکن دویمه حصه غیر مسلمه ده ځکه کچرته تپوس د دواړو ضروری او لازمی شی نو لازم به شی اتحاد په مابین د اقوی او دغیر اقوی کښې، تالی باطل دې بداهةً، مقدم ئې مثل دې، دلیل د ملازمې دا دې چه تپوس کول په وخت د عدم علم د حکم کښې زیات ضروری دې او د هغې علم حاصلول اقوی دی په نسبت سره عدم علم د دلیل ته، ځکه چه د عدم علم دحکم دوجې نه کله کله لزوم د کفر راځی، او په نیشتوالی د علم په دلیل باندې دهغې د وجه کفر نه راځی، مثلاً یو سړی ته د دې پته نشته چه حضور صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین دې، نو دا سړې مسلمان ندې، او د دلیل په نه پیژندلو سره دا سړې کافر نه ګرځی، بلکه کله کله د دلیل نه تپوس کول د نقصان باعث او ذریعه ګرځی، او د دې وجه نه علامه خطیب بغدادی رحمه الله په خپلې فتوی کښې په صفحه نمبر (۶۸) کښې د اُمی سړی د تقلید په باره کښې فرمائی چه: ((لانه لس من اهل الاجتهاد فكان فرضه التقليد كتقليد الاعمى فى القبلة فانه لما لم يكن معه آلة الاجتهاد فى القبلة كان عليه تقليد البصير فيها)) یعنی امی سړې چه اهل د اجتهاد ندې نو په ده باندې تقلید داسې ضروری دې لکه څنګه چه په ړوند سړی باندې د قبلې په باره کښې د بینا (بصیر) تقلید ضروری وی، پس هرکله چه دغه ړوند سړې (لکه څنګه ظاهری آله اجتهاد نه خالی وی د قبلې معلومولو په سلسله کښې نو په ده باندې تقلید د بینا ضروری دې «او د دلیل مطالبه او تپوس نه کوی دغه شانتې چه آله د اجتهاد او استنباط د مسائلو نه چه خالی وی نو هغه به هم تقلید د مجتهد کوی».

اوبیا چه کومه نتیجه د دې نه اخذ کړې شوې ده «چه دلیل ورته معلوم شی نو دا خو تقلید

ندي» نو په اهل علمو باندې دهغې عدم صحت هم مخفى ندې ځکه چه د دې مقصد به يا دا وى چه د هر تپوس نه به وروستو به خامخا علم راځى په مسؤل باندې. دا خو ظاهر البطلان دې ځکه چه ډير ځلې د يو شى په باره کښې تپوس اوکړې شى خو دهغې جواب ميلاؤ نشى. او يا به مقصد دا وى چه علم د هغې حکم معتبر دې چه په هغې کښې تپوس شوې وى د دليل نه. او بيا علم په دليل راغلې وى. اوکه تپوس د دليل په باره کښې اوشى او دهغې جواب ورته ميلاؤ نشى يا بالکل تپوس اونشى نو دَ دغه شانتې حکم اعتبار به نوى. نو پدې صورت کښې به لازم شى عدم اعتبار د مقلد فى الايمان او د مقلد فى الايمان تکفير به لازم شى (العياذ بالله) ځکه چه مقلد فى الايمان نه هغه دَ دليل تپوس نه کوى او نه ورته دليل معلوم وى. بلکه کله کله تپوس هم وکړى خو تفصيلاً د دليل خودلو حاجت نه وى، او مقلد فى الايمان خو مؤمن وى په نيزد د اهل سنت والجماعت باندې.

او بله خبره داده چه عالم کيدل په دليل باندې دا منافى د تقليد ندى، لکه څنګه چه مخکښې تير شويدى، او بيا د دعوې په اثبات کښې دريمه وجه داسې ذکر کوى چه «الله تعالى **اهل الذکر عام ذکر کړيدى او مقلد حنفى خو دَ شافعى عالم نه تپوس نه کوى بلکه مونځ کول وريسې هم جائز نه ګڼړى - انتهى** » دا اعتراض هم انتهائى درجې سطحى او خلاف حقيقت دې، مقلد حنفى لپاره اهل ذکر عالم حنفى دې ځکه چه هغه عالم دې په جزئياتو د فقهې حنفى باندې او که عالم شافعى عالم وى په فقه حنفى باندې نو دهغه نه تپوس کولو کښې څه قسم ممانعت نيشته دې. باقى دا خبره مطلقًا کول چه مونځ وريسې هم جائز نه ګڼړى دا بالکل صراحتًا افتراء ده. ځکه چه هر کله څينې نصوص د يو بل سره متعارض وؤ او هر يو مجتهد دَ اصولو په رڼا کښې دهغې تشريح کړيده نو دَغې نصوصو کښې دتعارض د وجې نه په څينو مسائلو فروعيو کښې د مذاهبو په مينځ کښې هم اختلاف واقع شويدې، مثلاً وينه (دم) ناقض لپاره د اودس دې اوکنه ؟ نو پدې کښې روايات متعارض دى ، احنافو ترجيح ورکړيده نافى رواياتو لره نو د احنافو په مسلک وينې سره اودس ماتيږى او شوافعو ترجيح ورکړيده مثبت رواياتو لره، او د دوئ په مذهب کښې وينې سره اودس نه ماتيږى، نو آيا اوس مقلد حنفى په مقلد شافعى پسې وروستو مونځ کولې شى او که نشى کولې ؟ نو زمونږ فقهاء کرام فرمائى چه که مقلد شافعى د مقتديانو د مذهب رعايت کونکې وؤ نو په ده پسې بلا کراهيت مونځ کول جائز دى، او د دې واضح او عملى مثال مونځونه د حاجيانو او د عمرې کونکو دى په امامانو د حرمينو پسې چه هر کال په لاکهونو مقلدين حنفيان په عالم او مقلد حنبلى پسې مونځونه کوى، بلکه زمونږ فقهاؤ خو په غير مذهبو پسې هم د اقتداء اجازت ورکړې دې چه عقيده ئې صحيح وى

او په امامانو او اسلافو پسې غلطې خبرې نکوئ او د مقتديانو د مذهب رعايت کوی په مانخه کښې

او بيا په اخير کښې يوه څلورمه وجه على طريق التنزل په طور سره ليکي چه ((**صحيح ده چه پدې ايت کښې اثبات د تقليد دې د أمی ليکن هرکله چه وروستو وخت کښې دغه شخص أمی ته چه صحيح حديث دمخکنی قول نه خلاف معلوم شي نو دې به دغه قول پريږدی او په حديث به عمل کوی او داسې شامی د علامه بيری نه نقل کړيدی - الخ**)) که دې عبارت ته د حقيقت په نظر اوکتلې شي نو پدې کښې د جمهور سلف او خلف دقول مخالفت دې او په ائمه مجتهدينو پورې مذاق او ټوقی هم شويدی ، هرچه دې مخالفت د سلفو او دجمهورو نه، نو هغه دادې چه ټول جمهور سلف او خلف پدې متفق دی چه کوم سړی ته قوت د اجتهاد نوی حاصل نو هغه به تقليد کوی، برابره خبره ده که هغه عالم وی او که غير عالم وی. صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې به چه چا ته مرتبه د اجتهاد نوه حاصله نو هغه به د بل صحابی تقليد کولو، او د دې قول نه معلوميږی چه تقليد ضرف د امی سړی کار دې ، نو ((العياذ بالله)) مقلدين صحابه کرام د دې دور د ځينې خواهش پرستو په نسبت اميان وؤ، او هرچه دې مذاق او ټوقې په ائمه مجتهدينو پورې نو هغه داسې شويدی چه د دې عبارت واضح مقصد دا دې چه د دې پنځلسمې صدئ يو اُمی سړې چه هغه په فتنو او فساد کښې گير، د دنيا په مصروفياتو کښې غرق، د علم نه ناخبره، په استنباط او په اجتهاد باندې غير قادر او د اصول حديث نه ناواقفه هغه ته چه نفس يو حديث صحيح مخې ته راشی نو هغه به مخکنې قول (تقليد د مجتهد) پريږدی اودغه سړئ به په دغه حديث باندې دخپلې تشريح مطابق عمل کوی، اوهرچه دې مذهب اوتقليد نو د دې تشريح او قول مطابق هغه د يو امام خپل قول دې چه مخالف دې د صحيح حديث نه اوهغه ائمه مجتهدين چه په خير القرون کښې وؤ او دهغوئ دخير پيشگوئی حضور صلی الله عليه وسلم په احاديث مبارکه کښې کړې ده ديو يو حديث لپاره ئې لرې لرې سفرونه کړی وؤ، د دنيوی مشاغلو نه ئې ځان فارغ کړې وؤ، وظيفه ئې صرف د رسول الله ﷺ د احاديثو جمع کول وؤ، په استنباط او اجتهاد باندې قادر وؤ او هغوئ واضعين د اصول حديث دی نو هغوئ ته دغه حديث ندې رسيدلې، هغوئ جاهل وؤ په حديث باندې اودهغوئ تشريحات دخپل ځان نه دی؟، څومره لوئ جرات دې د ائمه مجتهدينو خلاف او څومره لوئ مذاق دې په هغوئ پورې (اعاذنا الله من سوء الادب) ، حالانکه دهغوئ سره د شاگردئ په نسبت حاصيدلو باندې لوئ لوئ جبال علم فخر کوی . حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمائی چه ((لولا اعانني الله بابی حنيفة وسفيان لکنت

کسائر الناس)) د امام بخاری رحمه الله دهغه ثلاثیات احادیث اکثر راوی چه په هغې باندې امام بخاری رحمه الله فخر کوی مکی بن ابراهیم د امام ابو حنیفه رحمه الله په شاګردئ باندې فخر کوی. او دخپلې زمانې د ټولونه لوئ محدث ئې شماری او فرمائی چه ((کَانَ اَعْلَمُ اَهْلِ زَمَانه)) اودهغه په باره کښې حضرت سفیان ثوری، مقاتل بن حیان، حمادبن سلمه، او حضرت جعفر صادق رحمه الله په شانتې لوئ هستئ فرمائ چه ((انت سید العلماء فاعف عنا)) اودهغه د مذهب په باره کښې امام شعرنی په شانتې محقق فرمائی چه د مسلك حنفی بنیاد یا په ایت قرآنی باندې دې یا په احادیثو د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې، یا د صحابه کرامو په یو اثر باندې. او یا د دینه مستنبط شوی یو مفهوم. اویا په هغه قیاس باندې چه په یو صحیح اصل باندې متفرع وی، او بیا په اخیر کښې فرمائی چه ((فانی بحمد الله تبعت منهبه فوجدته فی غایة الاحتیاط والورع)) . (میزان الکبری) ، اوبیا ئې لوئ ظلم دا کړې دې چه د مشهور مقلد حنفی قول ئې د سیاق او سباق نه بغیر په یو غلط انداز کښې ذکر کړیدې او تقلید شخصی چه هغه واجب دې هغې ته ئې حرام وئیلی دی ، علامه شامی رحمه الله دغه قول په مطلب د ولادت او وفات او حالت حیاة د ائمه کرامو کښې ذکر کړیدې، او په هغې کښې ئې دا خبره ذکر کړیده چه فقه حنفی د څه شی نه عبارت ده ؟ آیا صرف د امام ابو حنیفه رحمه الله د اقوالو نه عبارت ده او که د نورو ملګرو د اقوالونه هم، نو صاحب د در المختار فرمائی چه ((قال لاصحابه ان توجه لکم دلیل فقولو به - الخ)) یعنی امام ابو حنیفه رحمه الله خپلو ملګرو ته اوفرمائیل چه کچرته تاسو ته یو دلیل معلوم وی نو خامخا ئې پیش کوئ، علامه شامی رحمه الله د دې لاندې د فقه حنفی تدوین او دهغې اصول بیانوی په نقل د مسند خوارزمی نه چه : ((ان الامام اجتمع معه الف من اصحابه اجلهم وافضلهم اربعون قد بلغوا حد الاجتهاد فقربهم وادناهم قال لهم انی الجمت هذا الفقه واسرجته لکم فاعینونی .... فکان اذا وقعت واقعةً شاورهم وناظرهم وجاورهم وسألهم فیسمع ما عندهم من الاخبار والآثار ویقول ما عنده ویناظرهم شهرًا او اکثر .... حتی اثبت الاصول علی هذا المنهاج شوری لا انه تفرد بذلك)) .

ترجمه : یعنی امام ابو حنیفه رحمه الله خپل زر شاګردان جمع کړل چه په هغې کښې څلویښت لوئ او اجل علماء وو چه هغوئ درجې د اجتهاد ته رسیدلی وو (مجتهدین فی المذهب وو) او بیا ئې ورته اوفرمائیل چه څه دغه فقه جمع کوم اوستاسو لپاره دغه شمع روښانه کوم ، تاسو څما امداد وکړئ. او بیا فرمائی چه کله به هم یوه مسئله مخې ته راغله نو دهغوئ سره به ئې مشوره کوله او مناظره به ئې کوله او دهغوئ نه به ئې تپوس کولو دهغوئ والا احادیث او آثار به ئې واوریدل اوخپل به ئې

هغوئ نه واورول. يوه يوه مياشت او زيات وخته پورې به دغه بحث جاري وؤ، نو بيا فرمائي چه په دغې طريقې سره په دغه اصولو سره به يوه شوري وه، نو فقه حنفي د دغې شورئ نه عبارت ده

او په اخير كښ وورپسې بيا فرمائي چه : ((ونظير هذا ما نقله العلامة بيرى فى اول شرحه على الاشباه عن شرح الهداية لابن الشحنة ونصه اذا صح الحديث وكان على خلاف المذهب عمل بالحديث ويكون ذلك مذهبه ولايخرج مقلده عن كونه حنفيًا بالعمل به – الخ))

مقصد د دې عبارت دادې چه هركله يو مقلد عالم (چه مجتهد فى المذهب وى) هغه ته يو صحيح حديث معلوم شي چه مخالف وى دمذهب دهغه نو عمل دې كوى په حديث باندې اوپه حديث باندې دعمل كولو په وجه سره دې د تقليد دحنفيت نه نه اوځى (ځكه چه فقه حنفي د صحيح احاديثو د مجموعې نوم دې لكه مخكښ چه تيرشو).

اوبيا فرمائي چه : ((ولايخفى ان ذلك لمن كان اهلاً للنظر فى النصوص معرفة محكمها من منسوخها)) يعني دا د هرچا كار ندې بلكه دا دهغه سړى كار دې چه هغه اهل وى لپاره د سوچ او فكر په نصوصو كښ او محكم،منسوخ وغيره كښ فرق كولې شي((شامي، ج ۱، ص : ۵۰))

د علامه شامي د قول مقصد دادې چه فقه حنفي دهغې معتمدې شورئ د اقوالو نه او دهغوئ د رواياتونه عبارتْ دې چه په هغه شورئ كښ زر (۱۰۰۰) اجل فضلاء اوعلماء ، حفاظ حديث وؤ چه په هغې كښ څلوېښت (۴۰) مجتهدين فى المذهب وؤ، په يوې يوې مسئلې باندې به لوئ تحقيق كيدلو . د ډير تحقيق نه وروستو د آيت قرآنيه، احاديث نبويه، آثار صحابه نه فقه حنفي مرتّبه او مدونه كړې شوه. اودغه شورئ صرف د امام ابو حنيفه رحمه الله په دور كښ نه وه بلكه وروستو هم موجوده وه ، او د پوره تحقيق نه وروستوكچرته به ورته يو قول مرجوح معلوم شو په مقابله د بل قول كښ نو دهغې نه به ئې رجوع اوكړه، نو دغه شانتې كچرته يو عالم ته ((چه ماهر وى د اصول حديثو په علم باندې)) يو صحيح حديث معلوم شي او د تحقيق نه وروستو هغه ته خپل مذهب د دغه حديث مخالف معلوم شي نو عمل دې په حديث كوى او د دې وجه نه دې غير مقلد كيږى نه، او فرمائي چه دا رجوع وغيره د هر چا كار ندې، امي خو ډيره لويه خبره ده بلكه كه يو عالم هم وى خوچه په اصول د حديث باندې ماهر نه وى ، ناسخ ،منسوخ ، راجح ، مرجوح او په هغه ټولو رواياتو چه هغې نه احكام مستنبط كيږى خبر نوى نو دهغه لپاره هم د دې گنجائش نيشته دې چه مذهب پريږدى. نو څومره غلط مقصد ئې ذكر كړيدې د علامه شامي او د بيرى د قول چه شخص امي دې تقليد پريږدى. ((سبحانك هذا بهتان عظيم)) . د دې آيت څينې بحث په سورة النساء آيت

نمبر (۵۹) کښې تیر شوي دي

بِالْبَيِّنٰتِ	وَالزُّبُرِ	وَاَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الذِّكْرَ	لِتُبَيِّنَ

(ليږلي وؤمونږ) په ښکاره معجزو سره اوپه کتابونو سره اونازل کړيدي مونږ[۱] تاته دا قرآن لپاره د دې چه وضاحت اوکړې ته

لِلنَّاسِ	مَا	نُزِّلَ	اِلَيْهِمْ	وَلَعَلَّهُمْ	يَتَفَكَّرُوْنَ ۝	اَفَاَمِنَ

خلکو ته دهغه احکامو چه نازل کړې شويدی دوئ ته او لپاره د دې چه دوئ فکر اوکړی آيا پس په امن کښې شول[۲]

الَّذِيْنَ	مَكَرُوا	السَّيِّاٰتِ	اَنْ	يَّخْسِفَ	اللّٰهُ	بِهِمُ	الْاَرْضَ	اَوْ	يَاْتِيَهُمُ

هغه کسان چه منصوبې جوړه وی د بدو کارونو د دينه چه ژوندی به ښخ کړی الله دوئ په زمکه کښې اويا را به شی دوئ ته

الْعَذَابُ	مِنْ	حَيْثُ	لَا يَشْعُرُوْنَ ۝	اَوْ	يَاْخُذَهُمْ	فِيْ	تَقَلُّبِهِمْ

عذاب د داسې ځائ نه چه دوئ به پرې نه پوهيږی . يا به اونيسی دوئ لره په وخت د ګرځيدلو (سفر کولو کښې)

فَمَا	هُمْ	بِمُعْجِزِيْنَ ۝	اَوْ	يَاْخُذَهُمْ	عَلٰى	تَخَوُّفٍ	فَاِنَّ رَبَّكُمْ

پس ندی دوئ عاجزه کوونکی الله لره . يا به اونيسی دوئ لره په يرې سره پس بيشکه رب ستا سو

لَرَءُوْفٌ	رَّحِيْمٌ ۝	

خامخا ډير شفقت کوونکي رحکم کوونکي دي.

﴿ بِالْبَيِّنٰتِ ﴾ دَ دې په متعلق کښې ئې ډير احتمالات دی، زيات غوره پکښې دا دې چه دا متعلق دې په «لاتعلمون» پورې، او يا په «ارسلناهم» مقدر پورې، او په دې کښې ترغيب الى القرآن او تشجيع ذکر کيږی لپاره د حضور ﷺ ، مراد د «بينات» نه معجزې دی چه لپاره د اثبات د رسالت وی او مراد د ﴿وَالزُّبُرِ﴾ نه کتابونه دی چه لپاره د بيان د شرائعو وؤ. ﴿وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ﴾ مراد ترينه قرآن دې ﴿لِتُبَيِّنَ﴾ اشاره ده احاديثو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ، د دينه معلومه شوه چه حضور صلى الله عليه وسلم صرف حامل د وحی نه وؤ، بلکه شارح د وحی هم وؤ، نو دا صراحتًا رد

۱- ترغيب الى القرآن.

۲- تخويف دنيوی.

شو په منکرینو د حدیث باندې ﴿مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ﴾ مراد ترینه احکام او شرائع دی چه مجمل وی ((فقوله لتبين للناس ما نزل اليهم محمول على المجملات)) ، (رازی) ﴿وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ په دې کښې اشاره ده قیاس ته. نو دا رد دې په منکرینو د قیاس باندې

فائده د دې آیت نه لکه څنګه چه دا معلومه شوه چه ادله دشرع څلور دی . په ((الذکر)) سره مراد کتاب الله دې ((لتبين)) کښې اشاره سنت ته ده، او په ((لعلهم يتفكرون)) سره اشاره ده اجماع او قیاس ته. نو دغه شانتې دا هم معلومه شوه چه تشریح د قرآن موقوفه ده په احادیثو د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې اوهغه تشریح د قرآن معتبره ده کومه چه دحضور صلی الله علیه وسلم د احادیثو نه فهمیږی . او دغه شان دا هم معلومه شوه چه منکر د سنت او د احادیثو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حقیقت کښې منکر د قرآن دی .

﴿أَفَأَمِنَ الَّذِينَ﴾ د مشرکینو د شبهاتو جوابونه او ترغیب الی القرآن نه وروستو اوس دنه منونکو لپاره تخویف دنیوی ذکر کیږی په څلور قسمه عذاب سره : (۱) خسف په زمکه کښې (۲) ناګهانه آفت آسمانی (۳) د سفر په حالت کښې هلاکت (۴) د مال اوفصل په نقصان سره هلاکت.

﴿مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ﴾ په دې کښې حذف دې او ((السيئات)) صفت دې د مصدر محذوف لپاره (((ای مكروا المكرات السيئات)) ، (کشاف) او (یا مکروا) فعل لازمی متضمن دې فعل متعدی لره چه هغه ((عملوا)) دې ، او ((السيئات)) ورلره مفعول به دې ((ای عملوا السيئات ماكرين)) ، (روح) ، او مراد ترینه هغه مخالفتونه او شبهات دی کوم چه مخکښې ذکر شول، او استفهام انکاری دې ، مقصد دا دې چه دوئ د اسلام مخالفت کوی او شبهات پیدا کوی په اسلام کښې نو د الله تعالی د عذاب نه دې نه بې غمه کیږی ﴿أَن يَخْسِفَ﴾ د غوره توجیه مطابق دا مفعول دې د ﴿أَفَأَمِنَ﴾ لپاره. دا اوله طریقه د عذاب ده ﴿أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ﴾ دا دویمه طریقه د عذاب ده چه داسې یو آسمانی آفت به راشی او ناګهانه به ټول هلاك شی لکه څنګه چه قوم لوط هلاك کړې شوې وو ﴿أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ﴾ د غوره توجیه مطابق اشاره ده تعمیم د عذاب ته په اعتبار د امکنه سره، چه د الله تعالی عذاب صرف په کور باندې نه راځی بلکه عین ممکنه ده چه دوئ ته د الله عذاب د سفر په حالت کښې راشی چه کوم سفرونه دوئ د دنیا د حصول لپاره کوی او داسې فرمائیلی دی الله تعالی په سورة آل عمران، آیت نمبر (۱۹۶) کښې هم، او نن صبا د دې یو ښه مثال د ایکسیډنټ صورت دې .

او یا تعمیم د عذاب ته اشاره ده په اعتبار د عموم د ازمنه سره . او مراد د «تقلب» نه په بسرې باندې اوړېدل راوړېدل دی. یعنی د الله عذاب صرف د ورځې وخت سره ندې خاص بلکه د شپې هم راتلې شی ﴿ أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ ﴾ څلورمه طریقه د عذاب ذکر کیږی. «تخوف» یا ماخوذ دې د «تخوفة» نه په معنی د نقصان اوکموالی سره یعنی د دوئ هلاکت به د دوئ د اموالو او مواشی او فصلونو په کموالی اوهلاکت سره وکړې شی ((ای تنقص من اموالهم ومواشیهم وزروعهم)) . (قرطبی) . او یا ماخوذ دې د خوف نه او مقصد دا دې چه اولاً الله تعالی یره ورکوی په عذاب سره چه یوه فرقه او طائفه پکښې هلاکه کړی نو په هغې بلې باندې اولاً خوف مسلط شی او بیا ورپسې هلاکت راشی. نو د دې توجیه مطابق عَلی په معنی د مَعَ سره دې ((والمعنی انه تعالی لایأخذهم بالعذاب اوّلاً بل یخیفهم اولاً ثم یعذبهم بعده)) ، (کبیر) ﴿ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ اشاره ده سبقیت د رفآت او رحمت د الله تعالی ته چه د قدرت باوجود دوئ ته مهلت ورکوی، اوجلتی نه کوی په عذاب سره

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ
آیا نه ګوری دوئ [1] هغه څیزونو ته چه پیدا کړیدی الله د هرڅیز نه چه ګرځی سورې دهغو ښی طرف نه اوچپ (ګس) طرفونو نه
سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ ۝ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ
سجده کوونکی دی الله ته او دوئ عاجزی کوونکی دی اوخاص الله لره سجده کوی هغه څه چه په آسمانونو کښې دی
وَمَا فِي الْأَرْضِ مِن دَابَّةٍ وَالْمَلَائِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۝
اوهغه څه چه په زمکه کښې دی د هرقسم ګرځیدونکو نه اوفرشتې هم (سجده کوی) او (حال دادې چه دوئ لوئی نه کوی
يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۝
یریږی دوئ د رب خپل نه په داسې حال کښې چه الله غالب دې پدوئ او کوی دوئ هغه کار چه دوئ ته حکم کولې شی

﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا ﴾ دا په توحید باندې څلورم دلیل عقلی ذکر کیږی چه هر شې د الله د حکم منقاد

---

۱ - څلورم دلیل عقلی .

او مطيع دي . حتى چه يو سورې ورکونکې شى والا سورې هم الله تعالى سجده لګونکې دي ﴿مِن شَيْءٍ﴾ بيان د ما خلق الله دي او مراد ترينه هغه اشياء دى چه هغه کثيف او د سورى والا وى. لکه غرونه . ونې وغيره شول ﴿يَتَفَيَّؤُا﴾ د اصل په اعتبار سره (فئ) وئيلى کيږى عود کولوته. مقصد دا دي چه دغه سورې د يو جانب نه بل جانب ته بدليږى، په اول النهار کښې په يو حالت کښې وى او په آخر النهار کښې په بل حالت کښې وى، کله کميږى اوکله زياتيږى. نو د دې سورو کموالې . زياتوالې يو طرفته اوبل طرفته بدليدل رابدليدل دا په حقيقت کښې د دوئ سجده ده الله تعالى ته .

﴿ظِلَٰلُهُ﴾ دا فاعل دې لپاره د «يتفيئو» او په دې کښې اشاره ده چه پدې سورى کښې حرکت اراديه نيشته دې اوغوره قول دا دې چه دا تفيئ او حرکت يوميه مراد دې.

﴿عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَآئِلِ﴾ مراد ترينه دوه طرفين د يوشى دى ، او ديمين مفرد او دشمائل جمع راوړلو وجه داده چه په ﴿مَا خَلَقَ اللَّهُ﴾ کښې (ما) لفظًا مفرد وؤ، اومعنًى جمع ده نو په «اليمين» سره د صورت اعتبار شوې دې نو ځکه مفرد راوړې شوې دې، او په (الشمائل) کښې د معنى اعتبار کړې شوې دې نو ځکه جمع راوړې شوې دې، دا توجيه د فراء ده ، بعضى مفسرين فرمائى چه «اليمين» اګرچه په اعتبار د لفظ سره مفرد دې خو په معنى کښې جمع ده، ځکه چه هرکله په يوشى کښې دوه متضاد علامات جمع شى نو عرب يو مفرد او بل جمع ذکر کوى، او مراد د دواړو نه جمع وى، لکه ((يخرجهم من الظلمات الى النور))، (البقرة : ۲۵۷) يا لکه : ((جعل الظلمات والنور)) ، (الانعام ۱) ، (قرطبى) دريمه توجيه د بعض علماؤ نه داسې منقوله ده چه هرکله سورې شروع کيږى د جانب د مشرق نه چه هغه جانب يمين د فلك دې نو د ده لپاره يو حالت وى نو ګويا چه جانب يمين واحد شو او بيا چه جانب شمال ته ګرځى نو په هغې کښې انحرافات کثيره او احوال مختلفه وى نو ځکه «الشمائل» جمع راوړې شو (کبير) .

﴿سُجَّدًا﴾ دا حال دې د (ظلاله) نه او په سجده کښې دوه اقوال دى : يو دا چه سجده په معنى د انقياد سره ده يعنى دا سورې انقياد کونکې دي الله تعالى ته، ځکه چه د ده زياتيدل کميدل په حکم د الله تعالى سره دى، د دې انقياد نه تعبير په سجدې سره اوشو، او دويم قول دا دې چه د سجدې اطلاق په دې سورې باندې مشاکلةً شويدې، ځکه چه دا سورې عين استواء د شمس او نصف النهار په وخت کښې ولاړ وى، بيا چه کله زوال اوشى نو دې لږ لږ زياتيږى نو دزمکې سره الصاق او بيا رو رو زياتدل نو دا داسې دى لکه په مونځ کښې حالت د قيام او بيا د قيام نه رکوع اوبيا د

رکوع نه سجدې ته تلل، نو ځکه ورته سجده وه وئیلې شوه، او دا مشاکلت اګرچه د پوره مونځ سره دې خو سجده چونکه جزء اعظم دې نو د دې وجه نه ئې تخصیص اوشولو. او د دې وجه دحضرت حسن بصری رحمه الله نه منقول ده چه فرمائی چه ((اما ظلك فیسجد لربك واما انت فلا تسجد لربك بئسما صنعت)) یعنی هرچه دې سورې ستا نوهغه الله تعالی ته سجده کوی او هرچه ئې ته نو الله تعالی ته سجده نه لګوې» اودغه شانتې قول مروی دې د حضرت مجاهد رحمه الله نه هم چه فرمائی ((ظل الکافر یصلی وهو لایصلی)) او امام رازی رحمه الله فرمائی چه ((ان الوجه الاول اقرب الی الحقائق العقلیة والثانی الی الشبهات الظاهرة)) ، (کبیر) ، ﴿وَهُمْ دٰخِرُوْنَ﴾ مراد ترینه ذوی العقول اوغیر ذوی العقول ټول دی خو تغلیبًا د ذوی العقولو جمع استعمال شوه، او یا د غیر ذوی العقولو د سجدی د وجه نه مشابه شو د ذوی العقول سره لکه څنګه چه د عبادت نه کولو د وجه نه ذوی العقولو ته غیر ذوی العقول او انعام وئیلې شوی دی ، نو د دې وجه نه صیغه د ذوی العقولو استعمال شوه.

﴿وَلِلّٰهِ یَسْجُدُ﴾ په ماقبل آیت کښې ذکر د سجدې د اشیاء کثیفه وؤ او په دې کښې د مطلق مخلوقاتو د سجدې ذکر کیږی، مراد د سجدې نه د غوره قول مطابق انقیاد دې چه دهغې لپاره دوه افراد دی یو فرد متعارف چه هغه سجده تعبدی ده، اوبل فرد غیر متعارف چه خضوع ده او جار مجرور متعلق دې په «یسجد» پورې ، او تقدیم لپاره د قصر دې ، یا قصر افراد دې او یا قصر قلب په اعتبار د حالاتو د مخاطب سره ﴿مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ﴾ «من» بیانیه دې، دا بیان دې د ماقبل جملې لپاره، او «دابة» ماخوذ ده د ((دَبیب)) نه په معنی د حرکت جسمانی سره که هغه په زمکه کښې وی یا آسمان کښې وی، او مراد د ﴿وَالْمَلٰٓئِكَةُ﴾ نه یا ټول ملائك دی که په زمکه کښې دی یا په آسمان کښې، او یا ترینه صرف د زمکې والا ملائك مراد دی، او دغوره توجیه مطابق ملائك په دابه کښې داخل دی او دا تخصیص بعد التعمیم دې لپاره د رد په مشرکینو باندې چه هغوئ به ملائکوته بنات الله وئیل او د الله تعالی سره به ئې په عبادت کښې شریك کولې ، او بعض مفسرین فرمائی چه ﴿وَالْمَلٰٓئِكَةُ﴾ په جر سره عطف دې په «دابة» باندې او دا بیان دې لپاره د «مافی السماوات» او «من دابة» بیان دې لپاره د «مافی الارض» ، او پدې آیت کښې لف نشر غیر مرتب دې، دا آیت صریح شو پدې کښې چه ټول مخلوقات دی ټول د الله منقاد دی که هغه اشرف دی او که اخس دی، ((بین هذه الآیة ان الحیوانات باسرها منقادة لله تعالی لان اخسها الدواب واشرفها الملائکة)) ، (کبیر)

﴿وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾ ضمير راجع دې ملائکو ته چه د لوئ شان باوجود دوئ د الله د عبادت نه تکبر نکوی ﴿يَخَافُونَ﴾ دا جمله يا حال واقع شوې ده د ضمير د «لايستكبرون» نه ، ((اى لايستكبرون حال كونهم خائفين)) ، (كشاف) ، او بيان دې د نفى د استكبار د ملائکو نه په دوه صفتونوسره چه يو خوف دې دعذاب د الله تعالى نه او بل امتثال د امر د الله تعالى دې. ﴿مِّن فَوْقِهِمْ﴾ جار مجرور يا متعلق دې په «يخافون» پورې او يا متعلق دې په «ربهم» پورې اوحال واقع شوې دې دهغې نه. امام راغب رحمه الله دفوق د استعمال شپږ مواقع بيان کړى دى : (۱) مکان (۲) زمان (۳) جسم (۴) عدد (۵) منزلت (۶) قهر او غلبه. داهل سنت والجماعت په دې اجماع ده چه فوقيت په اعتبار د مکان سره په الله تعالى کښې محال دې او دا کفريه عقيده چه الله لره ثبوت دمکان دې ذا دمجسمو عقيده ده، د دې وجه نه اهل سنت والجماعت مفسرين د دې آيت څو قسمه تشريح کوى چه په هغې کښې زيات غوره دوه توجيهات دى : (۱) يوه توجيه داده چه د فوق نه مراد غلبه ده . علامه الوسى رحمه الله فرمائى : ((ومعنى كونه سبحانه وتعالى فوقهم قهره وغلبته لان الفوقية المكانية مستحيلة بالنسبة اليه تعالى)) ، فخر المفسرين امام رازى رحمه الله فرمائى چه : ((ويجب حمل هذه الفوقية على الفوقية بالقدرة القهر)) او بيا فرمائى چه ((لانها هى موجبة للخوف واما الفوقية بالجهة والمكان فهى لاتوجب الخوف بدليل ان جالس البيت فوق الملك بالمكان والجهة مع انه اخس عبيده)) ، (كبير) ، علامه زمخشرى رحمه الله د دې آيت تفسير داسې کوى : ((يخافون ربهم عاليًا لهم قاهرًا)) ، (كشاف) ، جلالين د دې آيت په ترجمه کښې داسې فرمائى چه : ((اى عاليًا عليهم بالقهر)) ، (۲) دويمه توجيه داده چه دلته کښې عبارت محذوف دې چه هغه لفظ د عذاب دې ((اى عقاب ربهم وعذابه لان العذاب المهلك انما ينزل من السماء)) ، (قرطبى) ، علامه زمخشرى رحمه الله داسې فرمائى ((اى يخافونه ان يرسل عليهم عذابًا من فوقهم)) ، (كشاف) امام رازى رحمه الله فرمائى : ((معناه يخافون من ان ينزل عليهم العذاب من فوقهم)) ، (كبير) ، نو د دې ټولو خلاصه داده چه اهل سنت والجماعت فوقيت په اعتبار دمکان سره لپاره د الله تعالى نه ثابتوى ، هرچه دې قول د ځينې معاصرو مفسرينو چه د فوق تاويل کول کول په غلبې سره غلط دى، نو دا په خپله غلط دې او د خواشهات نفسانى اتباع ده او د دې آيت ځينې تشريح په سورة الانعام آيت نمبر (۶۱) کښې تيره شويده

﴿وَيَفْعَلُونَ﴾ په دې کښې دهغوئ امتثال حکم ته اشاره ده

فائده (١) امام رازی رحمه الله فرمائی چه پدې آیتونو کښې الله تعالی د فرشتو اوصاف بیان کړل چه دهغوئ نه گناه متصور هم نه دې . معصوم دی د هر قسم گناه نه. ((هی دلالة قارة قاطعة علی عصمة الملائکة عن جمیع الذنوب)) نو د دینه دا هم معلومه شوه چه ابلیس د جنس د ملائکو نه نه وو .

فائده (٢) امام رازی رحمه الله فرمائی چه د خوف یو قسم هغه دې چه هغه د مجرم خوف وی نو هغه خوف صرف د سزا وی . دویم قسم خوف هغه دې چه هغې ته خوف اجلال او کبریاء ویلې کیږی، نو خوف د فرشتو هغه له دې وجه نه ندې چه دوئ نه گناه صادریږی، بلکه دا خوف اجلال دې ((ذلك الخوف خوف الاجلال .... وهذا یدل علی انه کلما کانت معرفة الله تعالی کان الخوف عنه اعظم وهذا الخوف لایکون الاخوف الاجلال والکبریاء)) (کبیر)

وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ۝
اوفرمائیلی دی الله [١] چه مه نیسئ تاسو خدایان دوه بیشکه هغه معبود یو دې پس خاص ځما نه اویریږئ تاسو
وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ۭ
اوخاص دهغه په اختیار کښې دی هغه څیزونه چه په آسمانونو اوپه زمکه کښې دی اوخاص هغه لره تابعداری لازمه ده [٢]
اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ۝ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ
آیا پس سیوا د الله (بل چاڼه) یریږئ تاسو؟ اوهغه چه په تاسو باندې څه نعمت دې [٣] پس دطرفه دالله نه دې
ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْــَٔــرُوْنَ ۝ ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ
بیا هرکله چه اورسیږی تاسوته ضرر (تکلیف) پس هم ده ته تاسو فریاد کوئ. بیا هرکله چه لرې کړی (الله) هغه ضرر (تکلیف)
عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ۝ لِيَكْفُرُوْا
د ستاسونه نو ناگاه یوه ډله (جماعت) د ستاسونه د رب خپل سره شریکان جوړوی. (انجام به داشی) چه ناقدری اوکړی دوئ.

١- دریم ځل د سورت د دعوی اعاده.

٢- دویمه ترجمه: او عبادت خاص دَ الله حق دې.

٣- زجر د امتنان په صورت کښې.

بِمَآ	اٰتَيْنٰهُمْ	ط	فَتَمَتَّعُوْا	ـقف	فَسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ	۝
دهغه نعمت چه مونږ ورکړې دې دوئ ته، پس مزې واخلئ تاسو، پس زردې چه پوهه به شئ تاسو							

﴿وَقَالَ اللّٰهُ﴾ دا په دريم ځلې دعوى د سورت ذكر كيږي او دا جمله عطف ده په ماقبل جملې ﴿وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ﴾ باندې معنى داده چه كله هر يوشې تكوينى طور د الله تعالى منقاد دې اوهغه ته سجده كونكې دې نو تاسوهم نور خدايان دځان لپاره مه نيسئ بلكه صرف او صرف دهغه عبادت كوئ ﴿لَا تَتَّخِذُوٓا إِلٰهَيْنِ﴾ جمع د عدد او معدود د واحد او د اثنين نه علاوه په نورو اعدادو كښ راځى او دلته چه كومه جمع راغليده نو د دې مختلف توجيهات بيان كړې شوى دى : (۱) يوه توجيه داده چه پدې كلام كښ تقديم وتاخير دې ، اصل عبارت داسې دې چه ((لاتتخذوا اثنين الهين)) ، (۲) دويمه توجيه داده چه هغې ته امام رازى رحمه الله زياته راجحه وئيلې ده ، هغه داده چه زيادت د اثنين لپاره د تاكيد دې او مقصود پدې سره د شرك قباحت او نفرت د اظهار دې په طريق اتم سره ځكه چه كله هم يو شې ډير قبيح وى نو دهغه د قباحت زياتوالى څرګندولو لپاره ډير عبارات ذكر كولې شى، نو په هر يو عبارت سره به دغه شى والا قباحت مستقلاً ظاهريږى، (۳) دريمه توجيه داده چه نفى د «الهين» كښ د دوه څيزونو دثبوت احتمال دې يو دا چه مقصود په نفى سره دې ثبوت د اله وحد وى چه «الهين» مه نيسئ بلكه يو اله ونيسئ ، دويم دا چه مقصود په نفى سره دې ثبوت د «آلهه» متعدده وى چه «الهين» مه نيسئ بلكه زيات آله ونيسئ، نو چه اثنين نوې ذكر شوې نو دا پته نه لګيده چه پدې نفى سره د كوم احتمال ثبوت مقصود دې نو هركله چه ذكر د اثنين وشولو نو پته اولګيده چه مقصود نفى د تعدد ده او ثبوت د واحد دې ، (۴) څلورمه توجيه داده چه په اسم مفرد او تثنيه كښ دلالت په دوه شيونو وى ، يو دلالت په جنس باندې وى او دويم دلالت په عدد مخصوص باندې وى نو كچرته اثنين نوې زيات كړې شوې نو بيا به دا پته نه لګيده چه مقصود نفى د مطلق اوجنس الهين ده اوكه نفى د عدد ده، نو د اثنين په زياتوالى سره پته اولګيده چه د جنس اله نفى نده مراد بلكه د هغه نه د عدد مخصوص نفى مراد ده، او د دې وجه نه وروستو وريسې صرف الٰهٌ ونه وئيلې شو بلكه «اله واحد» اوئيلې شو ځكه چه مقصود دجنس اله اثبات ندې بلكه د اله واحد اثبات دې ، (۵) يوه پنځمه توجيه امام رازى رحمه الله ذكر كړيده چه مقصود پدې نفى سره تنبيه ده په اجتماع د متنافيينو باندې عقلاً په تقدير د ثبوت د شرك سره يعنى كچرته تعدد د اله راشى نو لازم به شى اجتماع د متضادينو او تالى باطل دې بداهةً نو مقدم ئى مثل دې، هرچه دې دليل

دملازمې نو هغه امام رازی رحمه الله ذکر کړې دي په وجوه اربعه سره ((من شاء فليطالعه ثمه)).

﴿إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ دا په منزله د نتیجې دې د ماقبل لپاره چه هر کله تعدد نفی شو نو معلومه شوه چه معبود برحق یو دي چه هغه تن تنها ذات د الله تعالی دي ﴿فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ﴾ پدې کښې التفات دي د غائب نه متکلم ته څکه چه دا ابلغ دي په ترهیب کښې په نسبت سره غائب ته، داسې ذکر په سورة البقرة کښې هم شوې دي ﴿وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ﴾ دا دلیل عقلی دې او متعلق دې په څلورم دلیل عقلی ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا﴾ پورې او دهغې حصه ده ﴿وَلَهُ الدِّينُ وَاصِبًا﴾ مراد د دین نه عبادت او انقیاد دې او واصب په معنی د دائم سره دې اویا په معنی د خالص سره دې ﴿أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَتَّقُونَ﴾ دا زجر دې چه هر څه د الله تعالی په تصرف کښې دی او هر یو څیز خالص دهغه په اطاعت باندې مامور دې نو تقوی او خوف هم دهغه نه پکار دی ، نو د «تتقون» نه مراد مخصوصه تقوی ده چه هغه توحید ته وئیلې کیږی او استفهام لپاره د انکار دې، یعنی الله تعالی نه علاوه د بل چا خوف خدائی په زړه کښې ندی راوستل پکار، او یا استفهام لپاره د تعجب او توبیخ دې چه د قدرت د دومره دلائلو د ذکر کولو نه پس هم تاسو د بل چا نه یریږئ اوهغه ته مشکل کشا وایئ ؟ دا څنګه کیدې شی؟ (بحر) .

﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ﴾ دا امتنان په طور د زجر کښې دې چه څومره نعمتونه دی دا ټول د الله تعالی د طرفه دی او دهر تکلیف دفعیه هم د الله تعالی په قبضه کښې ده او تاسو د تکلیف په وخت کښې هغه ته فریاد کونکی یئ، نو پکار ده چه صرف او صرف د هغه عبادت دې اوکړې شی، خو بیا هم تاسو دهغه سره شریك جوړوئ «ما» په «مابکم» کښې موصوله ده متضمنه ده معنی د شرط لره او (ب) یا شرطیه ده او فعل شرط ورله مقدر دې اوجار مجرور په هغه پورې متعلق دی ((ای ما یکن بکم)) ، (قرطبی) ، او «من» لپاره د استغراق دې شامل دې هر قسم نعمت ته، ظاهری وی یا باطنی، دینی وی اوکه دنیوی، بدنی وی اوکه مالی وی ﴿مَسَّكُمُ الضُّرُّ﴾ مراد ترینه مرضونه، قحط او تکلیفونه دی ﴿تَجْأَرُونَ﴾ جوار په اصل کښې د څنګل څناور او یا د غوایه آواز ته وئیلې کیږی او مراد ترینه دلته په اوچت آواز سره او په عاجزئ سره دعا او مدد غوختل دی د الله تعالی نه ﴿ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنكُمْ﴾ په دې کښې اشاره ده دیته چه لرې کونکې د تکلیفونو هغه الله تعالی دې ﴿إِذَا فَرِيقٌ مِّنكُم﴾ «اذا» مفاجائیه ده او «من» په «منکم» کښې یا بیانه دې چه د فریق بیان ئې اوکړو

او خطاب کافرو ته دي ((ای هی فریق هی انتم تشرکون)) او یا «من» تبعیضیه دي څکه څیني د مشرکینو به داسې هم وو چه کله به ورته تکلیف اورسیدلو او بتانو به ئی څه اونکړل او الله تعالی ته به ئی سوال اوکړو او الله پاك به د دوئ سوال قبول کړو نوهغوئ به بیا خپل کفر پریخودلو او ایمان به ئی راوړو لکه څنګه چه ذکر دی په دې قول د الله تعالی کښ ﴿فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ﴾ . (لقمان. آیت نمبر ۳۲) صاحب د روح المعانی د دې آیت په ضمن کښ فرمائی چه ((وفی الآیة ما یدل علی ان صنیع اکثر العوام الیوم من الجوار الی غیره تعالی ممن لایملك لهم بل ولا لنفسه نفعًا ولا ضرًا عند اصابة الضر لهم — الخ)) . یعنی پدې آیت کښ دلالت دې پدې چه کوم خلك نن صبا خپل حاجتونه د الله تعالی نه علاوه له نورو داسې مخلوقاتو نه پوره کول غواړی چه هغوئ دوئ ته د څه قسم فائدې یا ضرر ورکولو مالکان ندی بلکه د خپل ځان لپاره مالکان ندی اومحتاجه دی الله تعالی ته «لکه اولیاء الله اویا دهغوئ قبور شول» نو د دوئ دا ګمراهی د مخکنیو مشرکینو د ګمراهئ نه بدتره ده (روح المعانی. ج ۱۴ . ص ۱۶۶) ﴿لِيَكْفُرُوا۟﴾ د غوره قول مطابق لام لپاره د عاقبت دې ﴿فَتَمَتَّعُوا۟﴾ امر لپاره د تهدید دې ﴿فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ﴾ دا تخویف اخروی دې چه کوم وخته پورې به کفر کوئ؟ ستاسو د بدو اعمالو سزا به زر درته ملاؤ شی.

وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَٰهُمْ ۗ
اومقرره وی دوئ لپاره [1] دهغه چا (بتانو) چه نه پوهیږی، برخه بعضې دهغه مال نه چه مونږ ورکړې دې دوئ ته
تَٱللَّهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ۝ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ
قسم دې په الله [2] خامخا تپوس به اوشی ستاسونه دهغه څه چه تاسو دروغ جوړوئ اومقرره وی دوئ لپاره د الله
ٱلْبَنَٰتِ سُبْحَٰنَهُۥ ۙ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ۝ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم
لونړه. پاك دې الله . او دی دوئ لره هغه څه چه دوئ ئی خوښه وی اوکله چه زیرې ورکړې شی یو کس د دوئ ته

---

۱ زجر د شکوی په صورت کښ او اشاره ده نفی د شرك فعلی ته.

۲ . تخویف اخروی

بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ۝

په لور سره نو اوګرځي مخ د ده تك تور او دې ډك وي د غصې نه

﴿ وَيَجْعَلُونَ ﴾ پدې كښې زجر او په دويم ځلې نفې د شرك فعلي ذكر كيږي يعني الله تعالى فرمائي چه نعمتونه ما دركړي دي او تاسو ئې د غير الله په نوم باندې نذر كوئ او دهغوئ لپاره تحريمات كوئ. او «يجعلون» عطف دې په «يشركون» باندې او تفسيردې لپاره دهغې ﴿ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ ﴾ «ما» موصوله عبارت دې د بتانو نه او ضمير په «لايعلمون» كښې يا راجع دې مشركينو ته او مقصد دا دې چه دا مشركين نه پوهيږي په احوالو د خپلو معبودانو باندې ((اى لايعلمون احوالها وانها لاتضر ولاتنفع))، (روح) ، او يا ضمير دجمع راجع دې «ما» ته چه هغه عبارت دې د آلهه نه . او مقصد دا دې چه د دوئ اله د دوئ د نذرونو او د دوئ د عبادت نه بالكل ناخبره دى او په هيڅ هم نه پوهيږي ﴿ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَٰهُمْ ﴾ مراد ترينه مطلق عبادات ماليه دى كه هغه څاروى دى يا فصل دې وغيره. او دا آيت منافى د ايصال ثواب سره ندې ﴿ تَٱللَّهِ لَتُسْـَٔلُنَّ ﴾ دا تخويف دې . او دا سوال به تخويفًا او تقريعًا وى . او مراد ترينه يا سوال په آخرت كښې دې او يا په قبر كښې او يا قريب الموت وخت كښې چه كله معاينه اوكړى دملائكو دعذاب ﴿ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴾ مراد ترينه عقائد شركيه او مسائل شركيه دى . التفات د غائب نه خطاب ته او دغه شانتې كلام په قسم سره ذكر كولو كښې اشاره ده كمال غضب او شدة الوعيد ته ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ ﴾ زجر بطور شكوى دې چه ځينې مشركينو (بنى خزاعه، كنانه) به ملائكو ته د الله تعالى بنات او لونړه وئيل. او دخپل ځان لپاره به ئې نه خوخولې . نو چه كوم شې دوئ دځان لپاره ناخوښ كنړلو نوهغه به ئې الله تعالى ته ثابته ولو . ﴿ سُبْحَٰنَهُۥ ﴾ دا ردّ دې د قول د مشركينو او «سبحانه» يا تقديس اوتنزيه د الله تعالى ده د انتساب د ولد نه هغه ته. او يا تعجيب د مخلوقاتو دې د دغه صريح جهل نه چه دوئ ملائكو ته اناث (زنانه) او وئيل او بيا ئې نسبت د ولديت (دبچو) اوكړو الله تعالى ته نو دا ډير لوئ او صريح جهل وو نو ځكه پدې باندې «سبحانه» اووئيلې شول ((تعجيب الخلق من هذا الجهل القبيح وهو وصف الملائكة بالانوثة ثم نسبتها بالولدية الى الله تعالى)) ، (كبير)، او يا دا په معنى د معاذ الله سره دې ﴿ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴾ مراد ترينه نارينه اولاد دې ﴿ وَإِذَا بُشِّرَ ﴾ دا جواب شكوى او دمشركينو د قول الزامي

جواب دي، ((تبشير)) وئيلي كيږي هغه اول خبر ته چه په هغې سره سړې خوشحاله كيږي. خو دلته ترينه مراد مطلق خبر وركول دي ځكه چه د لور د پيدائش په خبر باندې به دوئ نه خوشحاله كيدل.
او امام رازي رحمه الله فرمائي چه تبشير د اصل په اعتبار سره وئيلي كيږي هغه خبر ته چه په هغې سره تغير او تبديل په رنګ د بشرې اومخ كښې راځي ((عبارة عن الخبر الذي يؤثر في تغير بشرة الوجه)).
(كبير) نو د دې په اعتبار سره لفظ د بشارت مشترك دې په خبر د خير او د شر كښې ځكه چه څنګه په خبر دخير سره په مخ كښې تغير او تبديل راځي نو دغه شانتې په خبر د شر سره هم راځي. اګرچه په اعتبار د عرف سره خاص دې په هغه خبر پورې چه مفيد وي لپاره د خوشحالئ ﴿ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا﴾ په معنى د متغيراً سره دې او دا كنايه ده د سخت غم او پريشانئ نه او مراد د سواد نه خاص هغه ندې چه كوم ضد د بياض راځي اګرچه دا آيت هغې ته هم شامل دې. دلته ترينه مراد دمخ والا رنګ بدليدل دي ((وليس يريد السواد الذي هو ضد البياض وانما هو كناية عن غمه بالبنت)). (قرطبي).
﴿وَهُوَ كَظِيمٌ﴾ ماخود دې د كظامة نه چه هغه د متكى خولې بندولو ته وئيلي كيږي، مراد ترينه دادې چه دې دغصې نه ډك وي او خبرې كولې نشي (قرطبي).

يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ أَيُمْسِكُهُۥ
پټ ګرځي دې د خپل قوم نه له وجه د ناخوښئ دهغې نه چه ده ته زيرې وركړې شويدې په هغې سره، آيا اوساتي دې هغه
عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى التُّرَابِ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ۝
په ذلت سره يا ئې ژوندئ ښخه كړي په خاورو كښې ، خبردار شئ ډيره بده ده هغه فيصله چه دوئ ئې كوي
لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْءَاخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝
لپاره دهغه كسانو چه يقين نه لري په آخرت باندې حال دې ډير بد ، او الله لره خاص دې صفت اُوچت او هغه غالب، حكمتونو والا دې

﴿يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ﴾ يعني د شرم او د پيغور د وجې نه پټ ګرځي او ((من)) ابتدائيه دې ﴿مِن سُوٓءِ﴾ دا ((من)) تعليليه او اجليه دې ﴿أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ﴾ د دې نه مخكښې عبارت مقدر دې چه ((يحدث نفسه وينظر – الخ)) دې او ((ه)) ضمير راجع دې ((مابشر به)) ته او تذكير د ضمير په اعتبار د لفظ موصول سره دې او (هون) ياحال واقع دې د ضمير فاعل نه . او صفت دې دپاره د پلار: هغې مولودې او معنى ئې داده چه دې دا فكر شروع كړي چه آيا اوساتمه دا پلار دغه مولوده به

حال كون سره د رضا نه په ذلت د نفس خپل باندې . او يا حال دې د مفعول نه اوصفت دې دپاره د ﴿مَابُشِّرَ بِهِۦٓ﴾ چه هغه لور ده او چه اوساتي دغه مولوده په حال كون د دې كښې چه دابه ذليله وى. چه هغه ترجيح ده اولاد نارينه ته او حرمان د هغې دې د ميراث نه ﴿أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى ٱلتُّرَابِ﴾ دويمه نوعه د سلوك بيانيږى د لونړو سره. يوه طريقه په ذلت سره د هغې ژوندى پريخودل وؤ او دويمه طريقه د سلوك چه ژوندئ به ئې په خاوړو كښې ښخولې د لونړو د ژوندى ښخولو دپاره به كله سبب پيغور اوشرم وو. او كله به د خرچې يره وه ﴿أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾ چه كوم ذات د بى بى د اولاد نه منزه دې نو د هغه دپاره هغه اولاد ثابتوئ او د ځان دپاره ئې لوئ شرك ګڼړئ ، څومره شرمناكه فيصله ده ﴿لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوْءِ﴾ په دې كښې د مشركينو دقول شناعت ته اشاره ده. او مراد په ((مثل السوء)) سره بيكاره صفات دى . چه هغه احتياج دې اولاد ته. او غوره والې د نارينه اولاد دې په زنانو باندې . او لونړه د شرم ياخوفِ فقر نه ژوندئ ښخول شوى. ((هى الحاجة الى الاولاد الذكور وكراهة الاناث وادهن خشية الاملاق)) (كشاف) ﴿وَلِلَّهِ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ﴾ مراد ترينه اوچت صفات د الوهيت دى كه هغه صفات ثبوتيه دى، او كه سلبيه دى، لكه وجوبى ذاتى، غنى مطلق قدرت وغيره شول.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا
اوكچرته نيولې [1] (فى الحال) الله خلكو لره په سبب د ظلم دهغوئ سره، نه به وې پريښې په مخ د زمكې باندې
مِن دَآبَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ
هيڅ قسم ګرځيدونكې خوليكن روستو كوى دوئ لره تر هغه نيټې مقررې پورې چه كله راشى نيټه د دوئ
لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ
نه به وروستو كيدې شى يو ساعت اونه به مخكښې كيدې شى . او مقرره وى دوئ الله لره هغه څه چه بد ګڼړى دوئ (دخان لپاره)

[1] - تخويف دنبوى سره د زجر نه

وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ الْحُسْنَىٰ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ

اوبيانوي ژبې د دوئ دروغ دا چه بيشكه ښه لپاره د دوئ ښه حالت، حقه ده داخبره چه بيشكه لپاره د دوئ اور دي

وَ أَنَّهُمْ مُّفْرَطُونَ ۞

او بيشكه دوئ به ورته مخکښ اوغورځولي شي.

﴿ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ ﴾ په دې کښې تخويف دنيوي ذکر کيږي ، ا ووجه ذکر کيږي د فوري عذاب نه راتلو دپاره. چه د کفارو والا کفر او افتراء انتهاء ته رسيدلې ده ، خو الله فوري عذاب دوئ باندې نه راولي بلکه مهلت ورکوي، اوکه چرته الله مجرم ته د هغه په جرم باندې فوري سزا ورکولې په مخ د زمکې باندې به هيڅ شې هم ژوندې نه وو پاتې شوې ﴿بِظُلْمِهِمْ﴾ باء سببيه ده ((اي بسبب ظلمهم ماترك عليها من دآبة)) ((عليها)) کښې ضمير راجع دې ((الارض)) ته چه هغه مدلول د ((الناس)) دې ځکه انسانان په زمکه باندې پاتې کيږي، او مراد ((دآبة)) نه د غوره قول مطابق عام مخلوقات دي ، نو هر چه دې ظالم نو هغه به د خپل ظلم د وجې نه هلاك کړې شي ا وهرچه دي باقي مخلوقات نو هغوئ به يا د دوئ دګناه د نحوست دوجې نه هلاك شي چه بارانونه به بند شي، فصلونه به ختم شي لکه په حديث دابو هريره ﷺ کښې ذکر دي چه ((ان الحبارى لتموت في وكرها بظلم ظالم)) (ابن كثير) او يا د وجې د عموم د عذاب نه په دنيا کښې ، لکه په بل ځائې کښې الله تعالى فرمائي ، ﴿ وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ﴾ (سورة الانفال ، آيت ٢٥) او يا د دې وجې نه چه حيوانات. الله تعالى د انسان دمنافعو دپاره پيدا کړي دي، نو چه کله دانسان نيول فوري طور باندې کيږي ،او دې هلاك شي نو د نورو حيواناتو به هم بيا ضرورت نه وي، نو ځکه به هغوئ ختم کړې شي. او هر چه دي انبياء کرام او مبلغين نو د هغوئ دنيا ته د بعثت او تبليغ به ضرورت هم پاتې نشي. په دې صورت کښې ((واذا هلكو جميعا وبطل نسلهم لا يبقى احد من الناس وحينئذ هلك الدوآب لانها مخلوقة لمنافع العباد،وصالحهم)) ، ((روح)) او بعض مفسرين فرمائي چه مراد ((د آبة)) نه صرف مشركين دي ((والمعني المراد من دآبة كافرة)) (قرطبي) او يا دا کنايه ده د ګرفت د الله تعالى نه اوهلاکت مقصود نه دي .، جواهر).

تنبيه په دې آيت سره منکرين د عصمت انبياؤ استدلال کوي چه انبياء کرام معصوم نه دي

ولكه چه الله اضافت د ظلم كړې دې ټولو انسانانو ته. چه فرمائيلي ئې دی. ﴿وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِم﴾ او په «الناس» كښې خو انبياء كرام هم داخل دی نو معلومه شوه چه انبياء كرام معصوم نه دی د ظلم نه؟ امام رازی رحمه الله په جواب كښې فرمائی چه دا آيت عام مخصوص منه البعض دې او تخصيص د انبياء كرامو د سورة فاطر په آيت نمبر (۳۲) ﴿ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ﴾ سره شوې دې. (كبير) او بعض مفسرين فرمائی چه مراد د «الناس» نه صرف كافر دی لكه څنګه چه د «دآبة» نه مراد مشرك دې . او بعض مفسرين په جواب كښې داسې ذكر كړې دې چه مراتب د ظلم مختلف دی د ټولو نه لويه مرتبه هغه شرك دې ، او بيا رو رو كميږی حتی چه د مقربين ظلم هغه حسنات د عام نيكانو خلقو شمارلې كيږی . لكه څنګه چه مشهوره ده ((حسنات الابرار سيئات المقربين)) نو د دې مطابق ظلم ثابت دې انبياء كرامو ته هم . خو دا ظلم مخالف د عصمت د انبياء كرامو نه دې ځكه چه مخالف دعصمت نه هغه ذنب او ګناه ده چه هغه ذنب او ګناه وی په نسبت سره غير د انبياؤ ته ، اوهر چه دې ذنب اوګناه په نسبت سره د دوئ خپل مقام ته نوهغې ته حقيقة ذنب نه وئيلې كيږی او نه هغه د عصمت سره منافی دې ، ((والعصمت الق ترعى للانبياء انما هى اللعصمة ممايعد ذنبا بالنسبة الى غيرهم اماالعصمة ممابعد ذنبا بالنسبة الى مقامهم ومرتبهم فلاترعى لهم)) (روح ج۱۴ص ۱۷۱) او د دې وجې نه حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائلو ((لوان الله يواخذنى وعيسى ابن مريم بذنوبنا لعذبنا مايظلمنا شيئا)) (روح بحواله مردويه) نو كه چرته بالفرض انبياء كرامو ته هم دا آيت شامل شی نو څه نقصان پكښې نشته دې ، دا د هغوئ د عصمت منافی نه دې ، البته انبياء كرامو ته يا دغه شانتې يونبی ته ظالم وئيل بالاستقلال جايز نه دی، او په تبع د خلقو سره چه داسې اوئيلې شی چه خلق ظالمان دی، او ظاهره خبره ده چه په خلقو كښې انبياء كرام هم داخل دی نو دا جائز دی ځكه چه ډير خلې د يو شی نسبت يو ذات ته تبعا جائز وی خو استقلالا جائز نوی ، لكه چه داوئيل چه الله خالق د سپو دې او د خنزيرانو دې جائز نه دی ، او داسې وئيل چه الله خالق د هر شی دې ، نو په هغې كښې سپی او خنزيران هم داخل دې «روح» ، د دې مكمل تفصيل به په سورة الفتح آيت نمبر (۲) كښې راشی، انشاء الله تعالى . ﴿وَلَكِن يُؤَخِّرُهُمْ﴾ تاخير په معنی د مهلت سره دې چه الله په خپل فضل اوكرم سره دوئ ته د ايمان راوړلو دپاره موقعه او مهلت وركوی ﴿فَإِذَا جَاءَ﴾ د دې تشريح په سورة الاعراف او يونس كښې تيره شوې ده . ﴿وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ﴾ په دې آيت كښې هم زجر

دي د مشركينو په شرك باندې او په يوې دروغ دعوې باندې چه د الله سره شريك او هغه لره دبنات تابسولو سره دا دعوى هم كوى چه دوئ لره (حُسنى) ده ﴿مَا يَكۡرَهُونَ﴾ مراد ترينه لونړه او شريكان دى. دا به دوئ خاص طور باندې خان دپاره بد گنړلو ((مايكرهون لانفسهم من البنات من شركاء فى رياستهم)) ، (كشاف) ﴿وَتَصِفُ﴾ واو په معني د مع سره دې او ﴿أَنَّ لَهُمُ ٱلۡحُسۡنَىٰٓ﴾ بيان د كذب د دوئ دې او بدل دې د (الكَذِب) نه او مراد د «حسنى» نه يا جنت دې اومقصد دادې چه كه چرته بعثت حق وې او دويم ځلې ژوندى كيدل وې، لكه ځنگه چه رسول الله ﷺ وائى ، نو مونږه به هلته هم په جنت كښې وو ((اي ان لهم حسنى عندالله وهى الجنت ان كان البعث حقا)) ، (مدارك) اودغه شان په «حم السجده» آيت نمبر ٥٠ كښ ذكر دى ، او ياترينه په دنيا كښ خوشحالى، عيش او عشرت او په آخرت كښ جنت مراد دې ((ان لهم الحسنى فى الدنيا وان كان ثم معاد ففيه ايضا ان لهم الحسنى)) . (ابن كثير) ﴿لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ﴾ دا تخويف اخروى دې ·او د هغوئ د دعوې باطلې رد دې چه دوئى به خامخا جهنم ته ځى ﴿وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ﴾ ماخوذ دې د فرط نه په معنى د مخكښ تلونكى سره يعني دوئ به جهنم ته مخكښ ليږلې شى. يا په معنى د «مُعۡجلون» سره دې ، چه په جلتئ سره به ليږلى كيږى. او يا په معنى د هير كړې شوى سره دې ((متركون منسيو ن فى النار)) ، (قرطبى) .

تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ
قسم دي په الله [1] چه په تحقيق سره ليږلى وو مونږ (رسولان) ډيرو امتونو ته مخكښ ستا نه، پس ښائسته كړل دوئ ته
ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ۝ وَمَآ أَنزَلۡنَا
شيطان (بد) عملونه د دوئ پس هغه ملگرې دې د دوئ نن ورځ او لپاره د دوئ عذاب دردناك دې · اونده نازل كړې مونږ
عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ
په تا باندې دا كتاب (قرآن) مگر لپاره د دې چه واضح بيان اوكړې ته دوئ ته دهغه خبرو (توحيد) چه دوئ اختلاف كړيدى

[1] زجر سره له تخويف اخروى او سره له تسلى نه حضور صلى الله عليه وسلم ته

فِيهِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۞ وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا

په هغې کښې او هدايت او رحمت دی لپاره د هغه قوم چه ايمان لري او الله راورولی ⁽¹⁾ د طرفه د آسمان نه اوبه باران پس ژوندی سه کړی

بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ۞

په هغې سره زمکه وروستو د مرګ (اوچوالی) دهغې نه ، بیشکه یدی (ذرغونتیا) کښې خامخا دلیل دې لپاره دهغه قوم چه آوری

﴿ تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ ﴾ په دې آيت کښې تسلی ذکر کيږی حضور ﷺ ته او زجر سره د تخويف اخروی نه ذکر کيږی منکرينو ته چه څومره انبياء کرام مخکښې تير شوی دی. نو دهغوئ ټولو تکذيب شوي دې. او کفارو ته د هغوئ بد اعمال شيطان خائسته کړی دی ﴿ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ ﴾ د تزيين مقصد مخکښې تير شوي دې ،اومراد داعمالو نه اعمال قبيحه دهغوئ دی ﴿ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ ﴾ «هم» ضمير يا راجع دې امم ماضيو ته او مراد د «اليوم» نه (۱) يا ټول ژوند د دنيا دې (۲) يا دا حکايت حالی دې دماضی نه دپاره د استحضار د سامع هغه صورت لره څکه چه حکايت حال د ماضی نه وی نو په هغې کښې مقصود استعاره وی د حضور خارجی دپاره دذهنی. (۳) اويا حکايت حال دې د زمانې راتلونکي نه ، او مراد ترينه دقيامت ورځ ده اومقصود په دې سره نفی د ناصر اومددګار په طريقې د ابلغ سره ده په ورځ د قيامت کښې چه نن ورځ شيطان چه هغه د ځان نه هم عذاب نشی دفع کولې نو د دوئ نه به ئی په طريقه اولی نشی دفع کولې ، (۴) او ياهم ضمير راجع دې مشرکين مکه ته ، مقصددادې چه دا شيطان څنګه مخکنی قومونو ته د هغوئ بد اعمال خائسته کړي وو نو دغه شانتې دنن زمانې والا د مشرکانو هم ملګری دې ، او دوئ ته د دوئ والا بد اعما ل خائسته کوی ﴿ وَمَآ اَنْزَلْنَا ﴾ دا تشجيع ذکر کيږی، حضور ﷺ ته په تبليغ د قرآن سره چه مونږه تاته قرآن درکړې دې د دې تبليغ اوکړه اوکه څوك ئی نه منی نو دهغې پروا مه کوه ﴿ الَّذِی اخْتَلَفُوْا ﴾ مراد ترينه توحيد ، اثبات المعاد ، نفی د شرك وغيره ده ﴿ وَهُدًى وَّرَحْمَةً ﴾ تخصيص د مؤمنانو دَ وجې د کامل نفعې اخستلو نه دې په قرآن سره، تشويح ئې مخکښې تيره شويده ﴿ وَاللّٰهُ اَنْزَلَ ﴾ په دې آيتونو کښې پنځم دليل عقلی تفصيلی ذکر کيږی، په اثبات ددعوی باندې ﴿ فَاَحْيَا بِهِ

¹ . پنځم دليل عقلی .

﴿ٱلْأَرْضَ﴾ احيا او موت بطور استعاره ذكر دی. دپاره د زرغونيدو او وچ والی ﴿لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ﴾ مراد په سماع سره سماع قبول مراد دي چه په كوم سړی كښې سماع دقبول نه وی نو هغه په منزله د كوڼ دي او په عدول كښې د. ((يبصرون)) نه ((يسمعون)) ته اشاره ده چه د دې دلائلو صرف اوريدل هم كافی دی. كتل ئې ضروری نه دی

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ

او بيشكه ستاسو لپاره په خاورو كښې لوئ عبرت دې. څكو مونږ تاسو ته دهغې نه چه په خيټو دهغې كښې دی د مينځ دغوشانو

وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ ۞ وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ

او وينې نه. پې صفا. چه په مرئ كښې اسان تيريدونكی دی. څوندور دی لپاره د څكونكو او د ميوو د كهجورو او انګورو نه چه جوړه وئ تاسو

مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۞

دهغې نه نشه كوونكی څيزونه او خوراك ښائسته بيشكه پدې كښې شته دې خامخا لوئ دليل لپاره دهغه قوم چه عقل نه كار اخلي

﴿وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ﴾ د ماقبل دليل عقلی تفصيلی جزء دې چه په دې څاروو كښې هم ستاسو دپاره دليل دعبرت موجود دې ﴿لَعِبْرَةً﴾ عبرة وئيلې كيږی د غير مشاهد شی والا تشبيه د مشاهد شی سره وركول، دپاره د دې چه دغير مشاهد حقيقت معلوم شی په طريقه د مشاكلت سره ((والعبرة اصلها تمثيل الشی بالشئ، لتعرف حقيقة من طريق المشاكلة)) (قرطبی) او مراد ترينه دلائل دقدرت دی دالله تعالی او د وحدانيت د الله. ﴿نُسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ﴾ دا استيناف بيانی دې ګويا چه سائل سوال اوكړو چه كيف العبرة فيها؟ نو جواب اوشو چه ((نسقيكم – الخ))، او ضمير په (بطونه) كښې راجع دې (الانعام) ته اوهر كله چه انعام اسم جمع دے، مفرد دې په اعتبار د لفظ سره او جمع ده په اعتبار د معنی سره نو د دې وجه نه ورته كله ضمير د مفرد راجع كيږی لكه دلته چه دې او كله ورته ضمير د مونث راجع كيږی لكه په سورة المؤمنون آيت نمبر (٢٧) كښې دې او يا ارجاع د ضمير مفرد په تاويل دمذكور سره دې، او رعايت دلفظ يا د معنی دا په اعتبار د كثرت فوائدو او عدم كثرت سره دی يعنی چه په كوم ځائ كښې د انعامو كثرت فوائد ته اشاره مقصود وی نو هلته به ضمير د مونث راوړې شی لكه په سورة مومن كښې اوچه په كوم ځائ كښې عدم كثرت ملحوظ وی نو ضمير به د واحد مفرد مذكر راوړلې شی لكه په دې ځائ كښې چه دې ﴿مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ﴾ يعنی د غوشيانو او د

ويني د مینځ نه صفا ستهرا پئ راوباسي او د دې مقصد دادې چه کله يو څاروې خوراك اوكړي نو هغه معدې نه لاړشي نو معده هغه پوخ كړي نو د معدې د دې عمل د وجې نه غوشيان لاندې به لرى كښې كيني دپاسه وربانديې پئ راشي او د پيو دپاسه بيا وينه راشي اوبيا د كبد (جگر) په ذريعه وينه رګونو ته لاړه شي او پئ د څاروی غولانځوته لاړشي او هغه فضله (غوشيان) هلته پاتې شي چه بيا په مخصوصو لارو سره بهر ته راوځي ، نو د الله يو عظيم قدرت دې چه د دې مخې ته د انسان عقل بيا كار نه وركوى او انسان خامخا د دې اعتراف كوى چه دا د لوئ قادر مطلق ذات د قدرت نښانې دى، نو الله انسان ته د دې رنګ او خوند نه پاك پئ وركوى حالانكه د درې وارو دپاره سبب يو خوراك دې، د جوړيدو ځائى يو دې نو د دې احسان په شكريه كښې دالله داسې عبادت كوئ چه هغه د شرك د بد بوئى او نجاست نه او د ريا او د بدعت د خوند او رنګ نه پاك وى، د توحيد خائسته رنګ او داخلاص خوږ خوند وربانديې غالب وى (از حضرت والدصاحب رحمه الله رحمة واسعة) . ﴿لَّبَنًا خَالِصًا﴾ يعني صاف ستهرا ((اي لا يستصحبه لون الدم ولا رائحة الفرث)) ، (روح)

امام رازى فرمائى چه په دې آيت كښې لكه څنګه چه دليل دې په وجود د صانع حكيم او د هغه په قدرت بانديې نو دغه شانتې په دې كښې دليل دې په ثبوت د حشر، نشر او په دويم ځلې پيدا كيدلو بانديې چه عقلاً هم دا ممكنه ده چه په حشر اونشر به كيږى ، ځكه چه الله داوبو په ذريعې سره د زمكې نه ګيا پيدا كړى او هغه ګياه څاروى وه خورى نو دهغې نه پئ پيدا شى، نو په دې كښې الله تبديلى د يو ذات راوسته په بل ذات سره ، او بيا د دغه پئيو نه انسان كُچ او غوړى، ماسته، شوملې جوړه وى، نو په دې كښې تبديلى د اوصافو راغله په نورو اوصافو سره ، اوبيا د انسان د استعمال نه وروستو هغه په وينى او فضلې وغيره بانديې بدل شى، نو دغه شانتې الله په دې قادر دې چه اجزاء د وجود د انسان بدل كړى په خاورو سره اوبيا دې د دې خاورو نه راپيدا كړى اوصفت دحياة دې بدل كړى په صفت د موت سره اوبيا دې صفت د موت په حيات سره بدل كړى ، (كبير ج۲۰ ص۲۳۴) ﴿وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ﴾ جار مجرور متعلق دې په محذوف پورې چه هغه (نسقيكم) دې او په دې صورت كښې د (تتخذون) نه د اسقاء حقيقت وضاحت مقصود دې ، اويا جارمجرور متعلق دى په تتخذون پورې ، او تكرار د من دپاره د تاكيد دې ، اوضمير په «منه» كښې راجع دې مضاف محذوف ته ((اي ومن عصير ثمرات النخيل والاعناب تتخذون منه)) ، (مدارك) ﴿سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا﴾ مراد د (سكرًا) نه خمر (شراب) دى او په رزق حسن سره مراد باقي جميع حلال مشروبات

او ماکولات دي . او دا آیت د تحریم خمر نه مخکښې نازل شوې دې. ځکه چه دا آیت په اتفاق د مفسرینو سره مکی دې.او دا آیت منسوخ دې په سورة بقرې او سورة مائدې سره . اګر چه په دې آیت کښې هم تحریم د خمر ته اشاره ده. ځکه «رزقا حسنا» په دې عطف شوې دې . او عطف تقاضا د مغایرت کوی نو معلومه شوه چه شراب رزق حسن نه دې اویا دا جمع بین العتاب والاحسان ده. اومقصد دادې . چه ما درله میوې درکړې اوتاسو دهغه نه هغه شیونه جوړکړل چه هغه حرام دی. لیکن زیاته غوره اوله توجیه ده. او یا د سکر نه مراد نبیذ دی. اونبیذ دانګورو اوکهجورو وغیره هغه شیرې ته وائی چه هغه په اور باندې پخه کړې شی. دوه حصې ختمه شی او یوه حصه صرف پاتې شی. او بیا په هغې کښې تینګوالې راشی، او په دې باندې د سکر اطلاق ځکه شوې دې. چه کله دا ډیر وخت پریخودې شی نو په دې کښې بیا سکر «نشه» پیدا کیږی نو که چرته دا حد سکر ته رسیدلې وو نو بیا حرام دې اوکه مسکر نه وو، نوبیا ندې حرام اوهر چه دی شراب نو هغه حرام لعینه دی برابره خبره ده چه مسکر وی اوکه نه وی او د دې وجه نه دا الله تعالی په مقام د امتنان کښې ذکر کړو اوکه چرته دا مطلقا حرام وی لکه شراب چه دی نو بیا په مقام د امتنان کښې نه ذکر کیدلو، او دا تو یه احسنه ده او موافق ده دَ مذهب دَ احنافو سره ، اویاسکراً نه مراد سرکه ده ځکه چه په لغت حبشی کښې سرکې ته سکر وئیلې کیږی، او یا ذکر د سکر دې اومراد ترینه مطعومات فاکهه دی

تنبیه :- د احنافو په مسلك خمر د عصیر العنب نه جوړیږی چه هغه حرام لعینه دی د هغې قلیل او کثیر مسکر، غیر مسکرپه حرمت کښې برابر دې ، او نبیذ التمر یا نبیذ الزبیب اونبیذ الشعیر «داوربشو شربت» ته خمر حقیقة نه وئیلې کیږی که مسکر وونو حرام دی اوکه په غیر مسکر درجه کښې نې څوك استعمال کړی نو حلال دی او هرچه دې قول د ځنی معاصر مفسرینو چه خمر په انګورو پورې خاص نه دی بلکه دنورو څیزونو نه لکه اوربشی جوار وغیره نه هم جوړیږی نو دا د وجې د عدم فرق کولونه دې په حرام لعینه او لغیره کښې او د وجې د عدم علم نه دې په اصطلاح د عربو کښې او دغه شانتې حضور ﷺ نه د نبیذ ځکل په احادیثو سره ثابت دی، اوحالانکه د خمر ځکل حضور ﷺ نه قبل التحریم هم ثابت نه دی او دغه شانتې آیت هم اشارة النص دې په فرق باندې د عامو مسکر اشیاؤ د خمر نه . ((والتفصیل فی کتب الفقه والاحادیث)) .

وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ اَنِ اتَّخِذِىْ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ

او په زړه کښې واچوله رب ستا دګبین مچئ ته «داخبره» چه جوړه وه ته د غرونو نه کورونه او د ونو نه هم

وَمِمَّا يَعْرِشُوْنَ ۝ ثُمَّ كُلِيْ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسْلُكِيْ سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ

او دهغې نه چه خلك ئې آبادوي بيا خوره ته د هر قسم ميوو نه بس روانه شه په لاره د رب خپل بدې حال کښې چه آسانوې ده

يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ

را اوزی د گېډې دهغې نه د څکلو څيز (گبين) چه مختلف دی رنګونه دهغې په هغې کښې شفاء ده لپاره د خلکو

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ

بيشکه پدې کښې خامخا لوئ دليل دې لپاره دهغه قوم چه فکر کوی (پدې کښې) او الله پيدا کړی يئ تاسو. بيا به

يَتَوَفّٰىكُمْ ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ

مړه کوی تاسو او څينې د تاسونه هغه دی چه اورسولې شی خوار (ناکاره) عمر ته عاقبت داشی چه نه پوهيږی وروستو د علم نه

شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝

په هيڅ څيز باندې بيشکه الله پوهه دې قدرت والا دې

﴿ وَاَوْحٰى رَبُّكَ ﴾ دا هم د ماقبل سره متعلق دې اوبل قدرت د الله ذکر کيږی چه په مچئ د ګبين سره عبرت واخلئ چه ګلان وخوری او اوبه اوڅکی نو الله د هغې نه په خُله کښې ورلره ګبين کړې او لګئ کښې ورلره زهر جوړکړی . او دوحی نه معنی اصطلاحی نه ده مراد بلکه مراد ترينه الهام او القاء ده اومقصد ئې دادې چه الله په خپل قدرت سره د دوئ په نفسونو کښې د دې اعمالو عجيبه پوهه پيداکړې ده ((والمراد من الالهام انه تعالى قدر فى انفسها هذه الاعمال العجيبة التى يعجزعنها العقلاء من البشر)) (کبير) اوعلامه آلوسی د دې اعمال عجيبه وضاحت کړې دې او د دوئ څينې واقعات ئې ذکر کړی دی چه هغه دکتلو قابل دی ﴿اَنِ اتَّخِذِىْ ﴾ ((ان)) يا تفسريه دې او دا تفسير دې دا ((اوحى)) دپاره او يا ((ان)) مصدريه دې په تقدير دباء سره ﴿مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا ﴾ دا ذکر دې د مکان او کور جوړولو د دوئ په درې مواضعو کښې : (١) په غرونو کښې (٢) په ونو کښې (٣) دخلقو په آبادو کښې . او مراد په بيوت سره د دوئ چت دې او هغه مشابه وی د کورونو سره نو څکه پرې اطلاق د بيت اوشو ﴿ ثُمَّ كُلِىْ مِنْ ﴾ په دې کښې ذکر د طريقې جوړولو دعسل (ګبين) دې او په (ثم) کښې اشاره ده عجيب صنعت ددې ته، او من يا دپاره د تبعيض دې او يا د ابتداء الغايه دې او په دې کښې اشاره

ده چه عطايات د الله عادة دا وروستو دمشقت نه وي ﴿فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ﴾ اضافت د «سبيل» ، «رب» نه دخلق د وجې نه دې چه الله خالق د دې لارو دې او مقصد د «فاسلکی» نه داخليدل دی په دې لارو کښې دپاره د طلب د رزق «اي ادخلي طرق ربك لطلب الرزق في الجبال وخلال الشجر» (قرطبي) ذللا دا حال دې يا د سبلاً نه چه دا ټولې لارې تاته آسانې کړې شوې دی . او ياحال دې د «فاسلکی» د ضمير نه چه عبارت دې دنحل نه چه په حال کون ستا کښې چه منقاد به ئې الله ته ، يا د هغه خپلو اربابو ﴿يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا﴾ «من» دپاره د ابتداء دغايې دې اوپه دې سره ذکر مبداء غايه اولی دې چه دا ګبين د ټولو نه اولاً جمع کيږی په خيټه کښې او مبدا غايه اخيره څه شئ دې ؟ نو دهغې ذکر نه دې شوې البته جمهور علماء فرمائی چه دخولې دمچئ «نحل» نه راوځی اوهغه ورله مبدا اخيره ده اوبعض علماء فرمائی چه دبطون نه بطون د خلو مراد دی ځکه چه هر خالی او داخل د جسم نه بطن ويلې کيږی او بعض فرمائی چه د لارې متعارفې يعني لکئ د طرف نه راووځی او هغه ورله مبدا اخيره ده، اوبعض فرمائی چه د مبدا اخير معلومه نه ده ﴿مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ﴾ چه ځينې سره وی ځنی زيړوی ځينې سپين وی او دا اختلاف په رنګونو يا محض په ارادې او په قدرت د الله دې چه مبدا د ټولو دپاره يوه ده خو د هغې نه الله په خپل قدرت سره مختلف الانواع غذا پيدا کوی او يا د وجې د اختلاف د مرعی نه وی لکه څنګه چه اختلاف د مرعی نه اختلاف په خوند کښې راځی نو دغه شانتې اختلاف په رنګونو کښې هم راځی او يا له وجې د اختلاف دموسم نه وی ﴿فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ﴾ يا بنفسه او انفرادی طور نو حکماء فرمائی چه شهد انفرادی طور باندې د ۹۹ امراضو لپاره مشفی دی او يا سره د ترکيب نه د غير سره اوکله چه مرکب شی د غير سره نو بيا د ډيرو زياتو مرضونو علاج پکښې دې، امام قرطبی فرمائی چه شفاء نکره په سياق داثبات کښې واقع شوې ده، اونکره چه کله په سياق د اثبات کښې واقع شی، نو عموم نه فائده کوی نو معلومه شوه چه په ګبين کښې د ټولو امراضو نه شفاء نيشته دې بلکه بعض امراضو نه پکښې شفاء ده، ليکن بعض اهل صدق او نيکانو د حسن نيت په وجه په عموم باندې حمل کړې دې او دغه شانتې د ځنې احاديثو ا و آثار د صحابو نه هم عمومه شفا معلوميږی او دا آيت دليل په دې هم دې چه علاج کول د توکل نه خلاف نه دی، او بلکه د مرض په وخت کښې علاج کول جائزبلکه پکار دې ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً﴾ تنوين دپاره دتعظيم دې چه سوچ کولو والو دپاره دالله د قدرت يوه لويه نشانی ده چه څنګه

د زهريله ورو کې ځيز نه کثير المنفعت ځيز په څه عجيبه طريقې سره راوخي ﴿ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ﴾ دا هم د دليل عقلي نه جزء دي او په دې کښې انقلابات د انسان ذکر کيږي چه د عدم نه وجود ته راغلې او بيا په وجود کښې مختلف مراحل دي او ددې دنيا دژوند اخيرې انتها په مرګ باندې راځي نو ژوند او مرګ دا هم د الله په قبضه قدرت کښې دي، ﴿وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ ﴾ معطوف عليه ورله مقدر دي (اي فمنكم من تعمل وفاته ومنكم – الخ)) (روح) او مراد په (ارذل العمر) سره هغه حالت د انسان دې چه په هغې کښې د انسان قوت ناقص شي، عقل ئې کار پريږدې علم او پوهه ترينه لاړه.شي او حالت د ده د ماشوم والي شي او تخصيص په مخصوصو کالونو پورې نيشته دې او د داسې حالت نه پناه غوختل دحضور صلى الله عليه وسلم نه په احاديثو مبارکه ؤ کښې او حضرت عکرمه ﷺ نه مروي دي چه فرمائي ((من قراء القران لم يصر بهذه الحالة)) يعني چه کوم سړې په کثرت سره قرآن لولي نو په هغه باندې به دا وخت نه رازي ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴾ په دې کښې اشاره ده چه دا تفاوت د آجالو دقادر مطلق د قدرت او د هغه د حکمت ماتحت دې .

وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا
او الله غوره والي درکړيدې[۱] ځيني ستاسو ته په ځينو باندې په رزق کښې. پس نه دي هغه کسان چه غوره کړې شوي دي
بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ
ورکوونکي رزق خپل هغه چا ته «وينځې غلامان» چه مالکان ئې دي ښي لاسونه د دوئ چه پس شي هغوئ
فِيهِ سَوَاءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ۞ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم
په دې اختيار کښې برابر «د دوئ سره» آيا پس په نعمت د الله باندې انکار کوي دوئ. او الله پيدا کړي دي[۲] لپاره د ستاسو
مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم
د نفسونو ستاسو نه بيبياني او پيدا کړي ئې دي لپاره د ستاسو د بيبيانو ستاسو نه ځامن او نوسي او روزي ئې درکړيده تاسو له

۱- بيان د مثال لپاره د توحيد او شرک، او معبود برحق او معبود باطل.
۲- بيان د ذکر د نعمت.

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۗ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ۝
د پاکو حرزونو نه. آیا پس په باطل (معبودانو) باندي ایمان لري دوئ او د نعمت د الله نه (دین اسلام نه) انکار کوی دوئ
وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ
اوعبادت کوی دوئ [۱] سیوا د الله نه د هغه چا چه اختیار نه لری دوئ لره د رزق ورکولو د آسمانونو نه
وَالْأَرْضِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝
او د زمکي نه هیڅ قسم او نه ئی وس رسی.

﴿ وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ ﴾ په دي آیت کښ رد دشرك دي په یو مثال سره چه د الله په درکړي شوی رزق کښ تاسو متفاوت یئ څوك مالك او څوك مملوك دي، څوك آقا دي او څوك نوکر او څوك غلام دي خو جنس او نوع کښ ئی اتحاد دي خو د دي اتحاد باوجود هیڅ کله هم یو مالك خپل مملوك ته دومره مال او قدرت نه ورکوی چه هغه ځان سره برابر کړی بلکه کچرته غلام په حالت دغلامئ کښ دمال مالك جوړ کړي شی نو هغه مال هم د ده نه دي هغه هم د مالك دي نو هر کله چه متحد الجنس والنوع مخلوقاتو کښ مساوات او برابری نشی راتلي نو څنګه به خالق او مخلوق په معبودیت کښ برابر شی، اوڅنګه به یو کمزوری مخلوق ته صفات او قدرت دخالقیت حاصل شی؟

﴿أَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴾ استفهام انکاری دي اومقصد دادي چه رزق، مال، دولت وغیره صرف الله درکړی دی او تاسو د الله سره په دي کښ بیا شریکان ګرځوئ او د الله نعمت نه انکار اوکفر کوی نو دا کفر مه کوئ صرف د الله عبادت کوئ، ﴿ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ ﴾ داهم دلیل عقلی دي . او متعلق دي د ماقبل سره او په دي کښ ذکر د نعمت دي په بیان د ازواجو سره چه ستاسو د آرام او سکون دپاره ستاسو د جنس نه ئي تاسو لره ازواج پیدا کړی دی ﴿مِّنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا﴾ په دي کښ اشاره ده چه د نکاح دپاره مجانست ضروری دي د انسان نکاح د پیری سره نه کیږی د نور نکاح د بشر سره نه کیږی﴿وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ ﴾ په دي کښ اشاره ده مقصداونتیجي د نکاح ته ﴿وَحَفَدَةً ﴾ جمع د حافد ده په معنی دخدمتګار سره اومراد ترینه دلته نوسی دی او بعض وائی

---

۱ . ثمره د دلائل مذکوره بطور زجر

چه عام خدمتگاران ترې نه مراد دی ﴿وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ﴾ (من) تبعيضيه دي او مراد د طيبات نه لذيذ او خواږه دی. او يا حلال دی ﴿أَفَبِٱلْبَٰطِلِ﴾ مراد ترينه معبودان باطله دی. چه دا ټول انعامات الله تعالى ورکړی خو ناشکره انسان الله هير کړي دي يا بت ته يا پيری ته او يا نبي يو بابا ته منسوب کوی ((اي يسترون نعم الله عليهم ويضيفوها الى غيره)) (ابن کثير) ﴿وَيَعْبُدُونَ﴾ په دې کښې زجر ذکر کړی او تفسير دې د ((افبالباطل)) دپاره چه په باطل باندې دايمان مقصد د هغې عبادت کول دی.
جاني يا مالي هرقسم ﴿مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ﴾ يعنى د دوئ دا معبودان دخپل ځان دپاره هم، آسمان نه باران او د زمکې نه په فصل راويستلو باندې نه دی قادر، تنوين په شيئًا کښې د تقليل دې ﴿وَلَا يَسْتَطِيعُونَ﴾ دا ضمير د جمع د غوره قول مطابق راجع دې معبودانو د دوئ ته چه دهغې نه تعبير په (ما) سره شويدې چه وضع د هغې لپاره د غير ذوى العقول ده نو هلته ترينه تعبير په (ما) سره په اعتبار د نفس الامر سره شويدې او دلته ورته ضمير د مذکر يعقل راجع کول له وجې د اعتقاد ددوئ نه دې او مراد په نفى د استطاعت سره نفى بالقوة ده لکه څنګه چه په ((لايملك)) سره نفى بالفعل مراد وه، يعني دوئ نه في الحال د څه شي مالکان دی او نه په راتلونکې زمانه کښې به دوئ ته دا قدرت ورکړې شي ((اي لا يستطيعون ان يملكوا ذالك ولايمكنهم)) ، (روح) يامحمول ده دا نفى په تاکيد باندې دپاره د ماقبل.

فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ۞ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا
پس مه بيانوئ لپاره د الله مثالونه (شريکان) بيشکه الله پوهيږی او تاسو نه پوهيږئ . بيانوی الله [1] يو مثال
عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَٰهُ
چه بنده مملوك (مريي) وی وس نه لری په هيڅ څيز باندې او (بل هغه څوك چه رزق ورکړيدې مونږ هغه ته
مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ يَسْتَوُۥنَ ۚ
د خپل طرف نه رزق خائسته، پس هغه خرچ کوی دهغې نه پټ او په ښکاره آيا برابر کيدې شي دوئ ؟.

۱. اول مثال لپاره د معبود حق او معبود باطل.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ
ټول صفتونه (دالوهيت) خاص الله لره دي، بلکه زيات د دوئ نه نه پوهيږي او بيانوي الله [1] يو مثال چه دوه سړي وي
اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ
چه يو د هغوئ نه ګونګ (چاړا) وي چه نوي قادر په هيڅ څيز باندې او هغه بوجه وي په مالك خپل باندې کوم خواته چه ليږي ئې
لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۞
نو نشي راوړې هيڅ خير آيا برابر دې هغه او (بل) هغه څوك چه حكم كوي په انصاف سره او هغه وي په لاره نيغه (سمه) باندې

﴿فَلَا تَضْرِبُوْا﴾ دا متعلق دي د ((ويجعلون لله البنات)) سره چه مشركينو به فرښتوته د الله لونړه وئيلي نو الله د دوئ په عقيدې باندې رد اوكړو چه د الله دپاره امثال مه ثابتوی او تشبيه ئې د مخلوق سره مه وركوئ چه تاسو وايئ چه ملائك د الله لونړه دی، نو د والد او مولود په مينځ كښې خو تماثل او كفو وی، نو الله خو د تماثل او كفو نه منزه دې ((اي لا تجعلو لله مثلا لانه واحد لامثل له)) (كبير) او يا مقصد دادې چه د الله دپاره داسې مثالونه مه بيانوئ چه د هغې نه د شرك لارې كولاويږی چه دوئ به وئيل چه الله ډير لوئ دې او لوئ ذات ته ځان رسول بغير د سفارش نه، نه كيږی نو زمونږ دا واړه واړه خدايان سفارشيان دی د پاره د الله او يا مقصد دادې چه تاسو د الله جل جلاله لپاره څوك مثيل او شريك مه جوړوئ ، يقول سحبانه ((لا تجعلوا معي الها غيري فانه لا اله غيري)) (روح)

نو خلاصه : داده چه دا نفی د مماثل ده يا د امثله باطله او يا د شريك او مثيل نفی مراد ده .

﴿إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ دا علت او دليل اجمالی دې د بطلان التالی دپاره چه الله لره ولد مه ثابتوئ او كنه نو لازم به شی تماثل په الله ﷻ كښې، تالی باطل دې مقدم مثل دې، هر چې دې دليل د ملازمې نو هغه خو با الكل واضح دې چې په ولد او په والد كښې تماثل فی النوع يا فی الجنس ضروری وی او هر چې دې دليل دپاره دبطلان الثانی نو هغې ته الله ﷻ اشاره اوكړه او ذكر ئې كړو اجمالا چې د الله ﷻ حقيقت او كنه بغير د الله ﷻ نه بل چاته معلومه نهٔ ده، هغه معلوم بالوجه دې (والتفصيل فى كتب المنطق) . ﴿ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا﴾ په ماقبل كښې نهی او ممانعت وُو د غلطو مثالونو نه

---

[1] . دويم مثال لپاره د مشرك او مؤمن .

اوس الله ﷻ فرمائی چې صحیح مثال دمعبود برحق او دستاسو دمعبودان باطله ؤ څه دي. هغې نه غوره شئ نو اول مثال دادې چې يو مريئ او غلام وی چې په هيڅ څيز باندې وس او طاقت ئې نه وی چې ترڅو پورې دمالك دطرفنه اجازت ورته نوی ملاؤ شوې. اوبل هغه آزاد سړې دې چې هغه ته بنه فراخ مال ورکړې شوې وی اوپه خپل اختیار سره دهغې مال نه هغه خرچ کوی نو آیا دا مالك اومملوك چرته برابر کیدې شی؟ نو چې کله دا ظاهری اومجازی مالك او مملوك نشی برابریدې نو حقیقی مالك او مملوك به څنګه په تصرف او قدرت کښې برابر شی ﴿عَبْدًا مَّمْلُوكًا﴾ د عبد نه وروستو دمملوك اضافه ځکه اوکړې شوه چې مخلوقات په نسبت دالله ﷻ عباد او بندګان دی. نو دحر او آزاد دخارجولو لپاره اضافه اوشوله ﴿لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ﴾ دعبد ماذون او مکاتب داخراج لپاره ددې قید اضافه اوکړې شوه ﴿وَمَن رَّزَقْنَاهُ﴾ مراد د (مَن) نه حر دې او دا (مَن) نکره موصوفه ده او نکره ځکه ده چې موافق شی د ﴿عبدًا﴾ سره ځکه چې هغه هم منکر موصوف واقع شوې دې ﴿رِزْقًا حَسَنًا﴾ مراد ترینه واسع او حلال رزق دې ﴿هَلْ يَسْتَوُونَ﴾ هرکله چې په دې اوصاف مذکوره سره متصف ددغې دواړو والو جنسین ؤوچې دهغې لپاره افرادکثیره دی نوددې وچې نه په صیغې د جمع ذکر شو، اګر چې دظاهر تقاضا تثنیه وه. او جواب د ﴿هَلْ يَسْتَوُونَ﴾ مقدر دې چې ((لا يستوون)) دې ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ دا تفریع ده په وضاحت دمثال باندې او په دې کښې اشاره ده چې ټول صفات دالوهيت الله لره دی هغه منعم حقيقى دې اودهغه هيڅ څوك هم په هيڅ يو صفت کښې نشی شريك کيدې. ((ای هوالمستحق دون مايعبدون من دونه اذلا نعمة للاصنام عليهم فتحمد عليها)) (بحر) .

﴿وَضَرَبَ اللَّهُ﴾ دا دويم مثال بیانیږی لپاره دفرق په مینځ دمعبود برحق اودمعبود باطل کښې اودا مثال اوضح دې په نسبت سره ماقبل ته اوفرق په مینځ ددې مثال کښې اومخکنی مثال کښې دادې چې هغه مثال په اعتبار دنفی دشرك فی التصرف سره ؤو فقط . او دا مثال په اعتبار دنفی دقدرت، کلام، سمع، علم دټولو سره دې، حاصل دمثال دادې چې دوه کسان دی ، يو هغه سړې دې چې (١) چاړا او کونړ وی (٢) په هيڅ څيز باندې قادر نه وی، (٣) دې بوج وی په خپل مالك او ولی باندې. يعنی ټوله سنبالی ئې دمالك او ولی په ذمه وی، (۴) او مالك که هر څه ورنه اوغواړی نو هيڅ قسم خير او فائده ورته نشی رسولې ځکه چې عقل او علم پکښې هم نه وی او بل هغه سړې دې

چي (١) خبري كولي شي (٢) امر كوي په عدل او انصاف باندې (٣) قدرت ورته هم حاصل وي (٤) په خپل اختيار سره په نيغه لار روان وي، چې هغه خير او هدايت والا لار ده. (٥) دعقل سليم دوجې نه دسمې لارې دغلطې لارې نه تميز كولې شي، نودا دواړه كسان چرته هم نشي برابر كيدې باوجود د دې چې اتحاد ئې په جنس او نوعه كښې هم شته دې . فرق ئې صرف په اعتبار د عوارضو سره دې.
نو ستاسو دا معبودان باطله چې دمعبود حقيقي سره ئې مجانست او مماثلت هم نشته دې حتى چې دخان نه دمچ په شړلو قادر نه دي پښې او لاسونه يې كار نه وركوي ديو ځائ نه بل ځائ ته نقل كولو كښې تاسو ته محتاج دي. او كچرته څه حاجت ترينه اوغواړئ نو پوره كولې ئې نشي. نو دا به دهغه معبود حقيقي چې الله دې هغه سره به څنګه برابر شي چې هغه امر كونكې دې په انصاف سره . په هر څه باندې قادر دې او چلونكې دټول نظام دې او پالونكې دټول عالم دې ﴿أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ﴾ (ابكم) پيدائشي چاړا ته وئيلې كيږي ((الابكم الذى ولد اخرس (كشاف) فكل ابكم اخرس وليس كل اخرس ابكم)) (سراج المنير، خازن) نودا اولنې عيب ذكر شو ﴿لَا يَقۡدِرُ﴾ دا دويم عيب دې چې په هيڅ باندې قادر نه وي، په دې كښې اشاره ده عجز تام او نقصان كامل ته ﴿وَهُوَ كَلٌّ﴾ دا دريم عيب دې چې دخپل ځان دسمبالولو هم نه وي، او مولى نه مراد ولى دې ﴿أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ﴾ دا دڅلورم عيب ذكر دې. توجيه وئيلې كيږي ديته چې يو معين ځائ ته څوك ليږل، (كبي) نو مقصد دادې كه چرته د كار دپاره اوليږلې شي نو هغه هم نشي كولې، په دې كښې اشاره ده عقل او علم ته، چه څه عقل او علم په كښې هم نه وي ﴿هَلۡ يَسۡتَوِي هُوَ﴾ (هو) ضمير منفصل دپاره د تاكيد د ضمير مرفوع متصل دې . د وجې د عطف دما بعد نه دا تاكيد راغلې دې، او مراد ترينه (ابكم) دې چه متصف دې په دې څلور صفاتو سره ، او هر كله چه دا مثال په نسبت سره اول ته ډير واضح وو نو د دې وجه نه (هل يستوى) په مينځ كښې ذكرشو ، ﴿وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ﴾ دا د (ابكم) په مقابله كښې دې ، ﴿وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٍ﴾ داد باقي دريو په مقابله كښې دي

وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَآ أَمۡرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمۡحِ ٱلۡبَصَرِ

او خاص الله لره دى [1] علم د پټو څيزونو د آسمانونو او د زمكې، او نده معامله د راتلو د قيامت مگر په شانته د رپ د سترگى ده

[1] تتمه د مثال . د دعوى جز سره د تخويف اخروى نه.

أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٧٧﴾

بلکه هغه (قیامت) ډیر نزدې دي، بیشکه الله په هر څیز باندې قادر دې

﴿ وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ په دې آيت کښې تتمه د مثال سره د تخويف اخروی ذکر کیږی ، او واو تعليليه دې، په دې کښې اشاره ده کمال علم ته . لکه څنګه چه په ماقبل کښې نفی د قدرت او علم وه نو د هغې په مقابله کښې په دې ځائ کښې اثبات دکمال علم دې او د (لله) په تقديم کښې اشاره ده دې ته چه علم غيب خاصه صرف د الله ده چه څوك ورسره هم شريك نه دی او مراد د غيب نه هغه دی چه مخلوق د هغې ادراك په حس او عقل سره نشی کولې ((والغيب لايدرك بالحس ولا يفهم بالعقل)) ، (بحر) ﴿ وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ ﴾ دا تخويف اخروی دې او مراد ترينه راتلل او قائم کيدل دقيامت دی ﴿ كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ﴾ په دې کښې اشاره ده کمال قدرت ته ، چه داسې قادر ذات دې چه کله وخت دقيام دقيامت راشی نو دومره زر به قيامت قائم کړی لکه د سترګی د رپ پشان او مراد د ((كلمح البصر)) نه تمثيل دې په سرعت کښې . او «او» دپاره دشك يا تخيير نه دې بلکه دپاره د ابهام دمخاطب دې لکه په دې قول د الله کښې چه ذکر دې ((وارسلنا الى مائة الف او يزيدون)) او يالکه په دې قول د الله کښې ذکر دی ((اتاها امرنا ليلا او نهارا)) (او) يا په معنی د (بل) سره دې (بيضاوی) او مقصد په دې سره ترقی ده په تمثيل کښې چه دسترګې د رپ نه به هم زر وی څکه چه لمح البصر جزء دې د زمانياتو نه څکه هغه زمانه چه په هغې کښې لمح البصر حاصل شوې دې هغه مرکبه ده د آنات متعاقبه نه . او الله قادر دې په راوستلو د قيامت باندې ، په آن واحده کښې چه هغه بالکل ابتدائی حرکت دې د زمانې چه غير منقسم دې آناتو نه ((والزمان الذي يحصل فيه لمح البصر مركب من انات متعاقبة والله قادر على اقامة القيامة في آن واحد من تلك الاانات)) (کبير).

وَاللَّهُ أَخْرَجَكُمْ مِّنْ بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا ۙ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ

او الله راوېستلی يئ[١] تاسو د ګيډو د ميندو ستاسو نه چه نه پوهيدلئ تاسو په هيڅ څيز او پيدا کړی ئی دی تاسو لره غوږونه

١- شپږم دليل عقلی

وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ

او سترګې او زړونه لپاره د دې چه تاسو شکر اوکړئ آیا نه ګوری دوئ مارغانو ته چه تابع کړې شویدی په فضاء

السَّمَاءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾

د آسمان کښې. ندی ټینګ کړی دوئ سیوا د الله نه (بل هیچا) بیشکه په دې کښې خامخا ډیر دلیلونه دی لپاره دهغه قوم چه ایمان لر

﴿ وَاللّٰهُ أَخْرَجَكُم ﴾ دا شپږم دليل عقلي تفصيلي ذكر كيږي په دعوى د سورة باندې چه الله تاسو د امهاتو د بطون نه په داسې حالت كښې پيدا كړي يئ چه تاسو په هيڅ څيز باندې نه پوهيدئ نو همدغه شان به الله پاك تاسو دَ بطون الارض نه هم دوباره پيدا كړي، ﴿وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ ﴾ دا ذكر دې د اسبابو د علم هر كله چه نفس انساني خالي وو د معارف او علومو نه نو الله دا حواس دپاره د حصول دعلم ورته عطا كړل ، (سمع) ئې عطا كړه دپاره د دې چه په دې سره نصوص دكتاب الله اوسنت واوريدلې شي، او په دې سره د امور دينيه اصلاح اوكړې شي، او (بصر) ئې عطا كړو لپاره د دې چه په دې سره عجائب مصنوعات او غرائب مخلوقات د الله اوكتلې شي اوپه دې سره دليل او نيولې شي په وحدانيت د الله باندې او ﴿ وَالْأَفْئِدَةَ ﴾ يعنى زړونه يې عطا كړې دى دپاره د دې چه د اشياء په مفهوماتو باندې غور او فكر اوكړې او په دې سره حاصل كړې شي عظمت د الله تعالى. هركله چه فائده دسمع، بصر او افئدة ظاهريږي پس د اخراج نه او قبل الاخراج د دې فائده نه ظاهريږي نو د دې وجه نه دا مذكور څيزونه جدا ذكر شول په لفظ د جعل سره ، او په دې آيت كښې دلالت په دې خبره نيشته دې چه دا مذكور څيزونه د اخراج نه روستو دی، ځكه چه واو دپاره د مطلق جمع دې .

فائده (۱) : دَ دينه معلوميږي چه دَ الله په نعمتونو كښې لوئ او اولنې نعمت دَ علم دې ځكه ئې دَ (أخرجكم) نه روستو دَ علم ذكر اوكړو.

فائده (۲) : لفظ د سمع په قرآن مجيد كښې چرته هم جمع نه دې استعمال شوې په خلاف د لفظ دبصر ا و فؤاد چه دوئ جمع استعماليږي ، وجه داده چه لفظ د سمع په اصل كښې مصدر دې او مصدر چه كله هم اسم اوګرځولې شي نو دې مفرد استعماليږي، (انوار البيان) اويا د دې وجې نه چه مدركات د بصر ډير دى چه هغه اجرام ، الوان ، انوار ، ظلمات ، او ټول محسوسات دى، او دغه شانتې مدركات دفؤاد هم ډير دې چه هغه مختلف مفهومات، معقولات معانى وغيره دې ، ا؛

مدرك د بصر صرف يو دې چه هغه صوت دې نو د دې وجه نه ابصار او افئده جمع ذكر كيږي.
اوسمع مفرد ذكر كيږي.

فائده (۳): هميشه دپاره په قرآن كښې تقديم د سمع وي په بصر باندې . او چرته تقديم د بصر په سمع باندې ندې راغلې . وجه ئې داده، چه دا ذريعه د اوريدو د وحی ده، نو د دې وجې نه ابتلا د بعض انبياء كرامو په عمى سره راغلې ده، په صمم سره نه ده راغلى. او يا وجه داده چه ادراك د سمع مقدم وي په ادراك د بصر باندې ، او انفع للدين او انفع للقلب دې او زيات موثر دې دپاره د زړه په نسبت سره بصر ته، (ابن عجيبه ،).

﴿لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ چه تاسو دالله دنعمتونو شكريه ادا كړئ او دغه اسباب مذكوره د الله د معرفت دحصول دپاره استعمال كړئ ﴿أَلَمْ يَرَوْا﴾ داهم جز دې، د دليل عقلى نه چه كوم قوت باصره تاسو ته الله در كړې دې په هغې باندې تاسو مارغانو ته اوګورئ چه دالله په قدرت سره الوزى ((الى الطير)) جمع د طائر ده او دغه شانتې طائر په فعول او په افعال سره هم جمع كيږي ﴿مُسَخَّرَٰتٍ﴾ په دې كښې اشاره ده دې ته چه الوتل د مارغانو دطبيعت تقاضا نه ده بلكه خالص د الله په قدرت سره الوزى ﴿فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ﴾ (جوّ) جوف ته وئيلې كيږي، مراد ترينه فضا ده په مينځ د آسمان او د زمكې كښې ﴿مَا يُمْسِكُهُنَّ﴾ يعنى الله مارغانو ته وزرې وركړى دى، او هغوئ كله وزرې راغوندې كړى او كله يې خورې كړى ، په ټولو حالاتو كښې په فضاء كښې ددوئ ټينګول صرف د الله په قدرت سره دى ، ځكه چه د مارغانو جسم ثقيل دې ، اوجسم ثقيل په هوا كښې معلق كيدل بغير د څه علاقې او دعائم نه ممتنع دې، نو معلومه شوه، چه ددې دپاره يو اودرونكې شته چه هغه الله دې . او په دې كښې دليل دې په دې چه د مخلوقاتو دافعال اختيا ريو خالق صرف الله تعالى دې ﴿إِنَّ فِى ذَٰلِكَ﴾ اګر چه دا نشانى دقدرت او د وحدانيت د الله تعالى لپاره د ټولو ذوى العقولو ده خو تخصيص د مؤمنانو دوجې د انتفاع دې په دې سره.

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلْأَنْعَٰمِ
او الله پيدا كړيدى تاسو دپاره د كورنو ستاسو نه ځائ د اوسيدلو او پيدا كړى ئى دى تاسو دپاره د څرمنو د څاروونه

بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ أَصْوَافِهَا
کوټې (خیمې) چه سپك مومئ تاسو هغې لره په ورځ د سفر ستاسو او په ورځ د اقامت ستاسو کښې، او د وړئ دهغې نه
وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ۝
او د پشم دهغې نه او دويختو دهغې نه، سامان د کور او نُور د فائدې خيزونه تر يو وخته پورې

﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم﴾ داهم ددليل عقلي نه جزء دې ، په تذکيرد نعمتونو د کورونو. خيمو وړيو پشم او ويښتو او د هغې نه جامې اونور سامانونه جوړول ، چه الله ﷻ انسان نه د فلك پشانتې متحرك دائم پيدا کړې دې، او نه يې د غرونو پشان ساکن دائم پيدا کړې دې، بلکه کله متحرك وی او کله ساکن وی نو بيا د ده دپاره د کور د خيمو د ګر مئ او يخنئ نه د بچ کيدو دپاره يې انتظامات هم کړی دی، نو دا د الله ﷻ انعامات دی، که چرته د الله رضا شوې وې نو دا انسان به ئې يا مضطرب پيدا کړې وو او يا هميشه دپاره ساکن ((هذه نعمة فان الله سبحانه لوشاء لخلق العبد مضطربا دائما کالافلاك ولو شاء لخلقه ساکنا ابدا کالارض)) ، (فتح االقدير) ﴿لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ﴾ تقديم د (لکم) دپاره دتشويق دې او مراد د ﴿مِّن بُيُوتِكُمْ﴾ نه هغه کورونه دی چه کوم نه منتقل کيږی لکه د ختو، کانړو خختو نه جوړ شوې وی﴿سَكَنًا﴾ په معنی د مَسکَن سره دې ﴿وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ﴾ د دې نه مرا د هغه بيوت دی چه منتقل کيږی د يو ځائ نه بل ځائ ته اويا مراد داول بيوت نه عام کورونه دی، اود دويم بيوت نه خاص کورونه مراد دی چه جوړيږی د څرمنو دڅاروو نه . چه هغه خيمې دی دپاره د تنبيه په اکثر حالاتو د عربو باندې ، (بحر) او يا د اول بيوت نه مراد د ښارونووالا کورونه دی، او د دويم نه مراد د باندو اوصحرا والا کورونه مراد دی، او (من) په دواړو کښې تبعيضيه دې ، او په دې کښې اشاره ده چه اوسيدل په بعض حصه د کور کښې کيږی ﴿تَسْتَخِفُّونَهَا﴾ سين او تا دپاره د طلب نه دی بلکه دپاره د وجدان دی ((ای تجدونها خفيفة سهلة المأخذ)) (روح) يعنی په حالت د سفر کښې منتقل کول آسان دی، او په حالت د اقامت کښې ئې اودرول آسان دی ﴿وَمِنْ أَصْوَافِهَا﴾ضمير په دې ټولو کښې راجع دې انعام ته . (الاصواف) جمع د صوف ده، د ګډو ويښتو ته وئيلې کيږ ی، ﴿وَأَوْبَارِهَا﴾ (اوبار) جمع د وبر ده د غوا يئ ويښتو ته وئيلې کيږ ی، او﴿وَأَشْعَارِهَا﴾ اشعارجمع د شعر ده، د بيزو (چيلو) ويښتو ته وئيلې کيږ ی

﴿أَثَٰثًا وَمَتَٰعًا﴾ اثاث وئیلې کیږی هغې ته چه هغه اغوستلې شی او یا لاندې غوړولې شی اومتاع وئیلې کیږی سامان دتجارت او د آرائش اسبابو ته . اوامام رازی رحمه الله فرمائی چه اثاثه هغه ده چه هغه د انسان د اغوستلو او په نوروضروریاتو کښې پکار راځی . او متاع هغې ته وئیلې کیږ ی چه هغه د مکان په خائست کښې استعمالیږ ی ((الاثاث ما یکتسی به المرء ویستعمله فی الغطاء والوطاء والمتاع وما یفرش فی المنازل ویزین به)) (کبیر) ﴿إِلَىٰ حِينٍ﴾ مراد ترینه یا وخت دپوره کیدو د حاجاتو دې یا ترینه مراد هغه وخت د زړیدلو د دې اشیاؤ دې او یاترینه وخت د مرګ مراد دې

فائده : د دې آیت نه فقهاؤ استنباط کړې دې چه د مړ څاروی د څرمنې او ویښتو نه نفع اخستل جائز دی ، ((فیه الدلالة علی جواز الانتفاع بما یوخذ منها من ذالك بعد الموت اذ لم یفرق بین اخذها بعد الموت وقبله)) (احکام القران جصاص).

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْجِبَالِ أَكْنَٰنًا
او الله جوړ کړیدی تاسو دپاره دهغې نه چه پیدا کړې ئې دی سورې او پیدا کړې ئې دی تاسولره د غرونو نه خایونه د پټیدلو
وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم
او پیدا کړې ئې دی تاسو لره قمیصونه چه بچ کوی تاسو د ګرمئ نه او قمیصونه (بل قسم) چه ساتی تاسو د ضرر نه
بَأْسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ۝
په وخت د جنګ کښې دغسې پوره کوی الله نعمت خپل په تاسو باندې لپاره د دې چه تاسو د الله حکم اومنئ
فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَٰغُ الْمُبِينُ ۝ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ
پس کچرته دوئ مخ اوګرځولو [1] پس بیشکه ستا په ذمه باندې رسول دی واضح (ښکاره) پیژنی دوئ [2] نعمت د الله
ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ الْكَٰفِرُونَ ۝
بیا انکار کوی دهغې نه او زیات د دوئ نه کفر کوونکی دی.

۱ - متعلق له دلائلو د توحید سره اوتسلی ده حضور ﷺ ته.

۲ - زجر.

﴿ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم ﴾ داهم په دليل عقلى پورې متعلق دې ، او جز دې د هغې نه او په دې كښې ذكر د نعمتونو د سُورو ، غارونو ، اوقميصونو ، اوزغرو دې ، ﴿خَلَقَ ظِلَٰلًا ﴾ غوره توجيه مطابق د دې نه مراد هغه ټول څيزونه دى چه هغه سورې وركونكى دى، لكه اونې ديوالونه غرونه وغيره شول. ﴿وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْجِبَالِ أَكْنَٰنًا ﴾ (اكنان) جمع د (كن) ده، هر هغه څيز ته وئيلي كيږى چه په هغې سره بل شى پټيږى ، مراد ترينه دلته غارونه دى، چه په هغې كښې انسان د ضرورت په وخت كښې باد او باران طوفان وغيره نه خان بچ كوى ﴿تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ څنګه چه لباس سره حفاظت د ګرمئ نه راځى هم دغه شان يخنئ نه هم راځى ، خو دلته اكتفاء صرف په ګرمئ اوشوله او د يخنى ذكر اونه شو ، يا د دې وجې نه چه د قرآن اولاً مخاطبين عرب وو او د عربو دپاره د ګرمئ نه حفاظت اصل وو ، چه د عربو په ملك كښې يخنى ډيره كمه وى، نو د هغوى زيات اهم حاجت داوو چه د هغوئ د ګرمئ نه حفاظت اوشى، نود دې وجې نه ئى اكتفا په ګرمئ اوكړه ،اويا د دې وجې نه چه اكتفاء په ضد واحد شوې ده، څكه چه كومو دوه ضدينو په مينځ كښې تلازم ذهنى وى نو هلته اكتفاء باالذكر په احدهما سره جائز وى لكه يخنى، ګرمى، نور، ظلمت سواد ، بياض وغيره شو ، يا د دې وجې نه چه كوم شې حفاظت د انسان د ګرمى نه كوى نو د يخنى نه ئى هم حفاظت كوى غالباً ﴿تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ﴾ مراد ترينه اسباب د حفاظت دى په وخت د جنګ كښې لكه زغرې وغيره شوې ، او دا دليل دې په دې چه انسان دپاره اسباب د حفاظت استعمالول پكار دى، او دا خلاف دتوكل نه دى، حضور ﷺ نه په متعددو رواياتوكښې د دې څيزونو استعمال اوامت ته د دې اهميت مروى دې ﴿كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ ﴾ مشار اليه د (ذلك) دپاره د انعم سابقه د ى ﴿نِعْمَتَهُۥ ﴾ مراد ترينه جنس نعمت دې، كه نعمت دنياوى وى او كه دينى وى ﴿لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴾ (تسلمون) يا په معنى د (تؤمنون) سره دې چه د دې نعمتونو كښې سوچ اوفكر اوكړئ او ايمان راوړئ څكه چه په انعاماتو سره ، دمنعم حق اوپيژندلى شى، نوپه منعم عليه باندې لازم دې عقلا او نقلا چه د منعم شكريه ادا كړى ، او ايمان راوړ ى ((اى ارادة ان تنظروا فيما اسبغ عليكم من النعم فتعرفوا منعمها فتومنوا به تعالى وحده)) ، ((روح) اوياترينه معنى لغوى مراد ده چه استسلام او انقياد دې ، ((اى لعلكم تسلمون له سبحانه وتنقادون لا مر عزوجل)) اومقصد د دې نه هم ايمان راوړل دى خو ذكر ئې كنايةً دې، او يا دسلامتئ نه دې په معنى د خلاصى ا و نجات سره ((اى تشكر فتسلمون من

العذاب)) (روح) ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا ﴾ په دې کښې دويمه تسلی ذکر کيږی حضور ﷺ ته . د غوره توجيه مطابق اوله فاء دپاره دتفريع ده او يا دپاره دعطف ده، او﴿ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ ﴾ کښې فاء جزائيه ده . او دا جمله جزا اوجواب شرط ده صرف صورتًا اوحقيقةً جواب شرط محذوف دې اوهغه دادې چه ((اي فان تولوا فانت معذور اذ اديتَ ما وجب عليك)) (بحر) نوسبب د عذر چه هغه بلاغ دې قائم کړې شو په مقام د مسبب چه هغه انت معذور دې دَ وجې د دلالت د دې سبب نه په هغه مسبب باندې او يا ورله جزا ((فلا تبعه عليك)) ده يعنی که چرته دوئ انکار اوکړی نوپه تا باندې هيڅ قسم وبال نيشته دې، او يا تقدير د عبارت داسې دې ((فان تولوا فلست بقادر علی حق الايمان فی قلوبهم)) يعنی که چر ته دوئ اعراض اوکړو نو ته د دوئ په زړونو کښې ايمان ثابتولو باندې نه ئې قادر ، په تا باندې صرف بيان د احکاماتو دالله دې او دالله د اوامرو او منهياتو تبليغ دې (بحر) او دا آيت منسوخ دې په آيت السيف سره﴿ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ ﴾ په د ې آيت کښې زجر ذکر کيږ ی، چه د الله نعمتونه پيژنئ او بيا يې انکار هم کوئ ، اومراد د انکار نه يا انکار عملی دې چه په دې باندې بنه پوهيږی چه دا د الله نعمتونه دی او هغه راکړې دی، خو عملاً انکارکوی، چه دالله نه علاوه د نورچا عبادت کوی اوهغه ته دا نعمتونه منسوب کوی، (اي يعرفون الله هو الذی ليهم ذالك وهو المتفضل به عليهم ومع هذا ينكرون ذلك ويعبدون معه غيره ويسندون النصر والرزق الی غيره))، (ابن کثير) او يا د انکار نه مراد انکار لسانی دې چه معرفت ورته حاصل دې د الله دنعمتونو خو عناداً دا په ژبه باندې اقرار نه کوی بلکه انکار کوی، او د ﴿ نِعْمَتَ اللَّهِ ﴾ نه يا دا مذکور نعمتونه مراد دی، او ياترينه د حضور صلی الله عليه وسلم ذات اقدس مراد دې ، ﴿ ثُمَّ ﴾ دپاره داستبعاد دې او د بعد رتبی لپاره دې ځکه چه د معرفت د نعمت نه روستو د هغې انکار کول مستبعد دی، بلکه د هغې اعتراف کولې کيږی ﴿ وَأَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُونَ ﴾ مراد ترينه معاند کافر دې اگر چه کافر دوئ ټول دی ، او يا کافر نه مراد کافر عملاً دې نو دبعض کسانو عملی انکار کفر ته رسيدونکې نه وی نو ددې وجه نه (اکثرهم) اوئيلې شو.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ

اوكومه ورځ [1] چه راپورته به كړو مونږ د هر امت نه يو ګواهي كونكې (پيغمبر) بيا به اجازت نشي وركيدلې (د معذرت)

لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا

هغه كسانو ته چه كفر ئې كړې وؤ اونه به د دوئ نه طلب د توبې اوكړې شي اوپه كوم وخت چه او وينې هغه كسان چه ظلم ئې كړې وؤ

الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ

عذاب لره پس نه به شي سپك كيدې د دوئ نه اونه به دوئ له مهلت وركيدې شي اوپه كوم وخت چه او وينې هغه كسان

أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا

چه شرك ئې كړې وؤ معبودانو خپلو لره نو اوبه وائې اې ربه زمونږ ! دا چه دي معبودان دي زمونږ هغه چه وؤ مونږ

نَدْعُوا مِنْ دُونِكَ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٨٦﴾

مدد به مو غوختلو (د دوئ نه) سيوا ستا نه. پس اوبه غورځوى هغوئ دوئ ته جواب. چه بيشكه تاسو خامخا دروغژن يئ.

وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾

او پيش به كړى دوئ الله ته په دغه ورځ كښ صلحه (انقياد) او ورك (غائب) به شي د دوئ نه هغه چه وؤ دوئ چه دروغ به ئې جوړول.

﴿ وَيَوْمَ نَبْعَثُ ﴾ په دې آيتونو كښ تخويف اخروى ذكر كيږى ، او (يوم) منصوب دې په ما اضمر علي شريطة التفسير سره ﴿مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا﴾ مراد ترينه نبى دې چه هغه د مؤمنانو په ايمان او اطاعت سره .او د كفارو په كفر اومعصيت باندې ګواهى وركوى ، او دغه شانتې ذكر په سورة النساء كښ هم دې ﴿ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ﴾ يعني اذن او اجازت به ورته نشي وركولې دپاره د عذر كولو ، او دغه شانتې ذكر هم په سورة مرسلات كښ دې ، كه څوك اشكال اوكړى چه دا آيت معارض دې ، د نورو آيتونو سره څكه چه په سورة النحل كښ ذكر دى چه دوئ به عذر كوى او وائى به چه ((ماكنا نعمل من سوء)) ، (النحل : ٢٨) او دغه شان سورة مؤمن كښ ذكر دى چه دوئ به

---

١ - تخويف اخروى.

وائي ((بل لم نكن ندعوا من قبل شيئا)) ، (مؤمن ، آيت : ۷۴) يو جواب ترينه دا شوي دي چه مواقف د حشر ډير دي نو په يوځائ کښې به ابتداءً دوئ عذرونه پيش کړي، خو بيا به ورته اونيلې شي چه ((اخسئو فيها ولا تكلمون)) نو د دوئ عذرونه به منقطع شي، خبرې به ئې بندې کړې شي. صرف زفير او شهيق به ورله باقي پاتې شي، دويم جواب ترينه دا کړې شوي دې. چه په دې آيت کښې نفي د هغه اعتذار ده چه په هغې کښې څه فائده وي، نو دفائده مند اعتذار اذن به ورته نشي ورکولې . او کوم عذرونه چه دوئ پيش کوي نو هغه به بلا فائده وي اوكوم شې چه بلا فائدې وي نو هغه په منزله د عدم وي ﴿ثُمَّ﴾ په دې ځائ کښې دپاره د تراخي رتبي دې ، او په دې کښې دلالت دې په دې خبره چه عدم اذن دپاره د اعتذار دا به ډير سخت وي دپاره د شهادت د انبياؤ نه په دوئ باندې ﴿وَلَاهُمْ يُسْتَعْتَبُونَ﴾ دا يا د عتاب نه ماخوذ دې . او استفعال په معنى دافعال سره دې چه د هغې يو خاصيت سلب ماخذ دې يعني ازاله عتاب، نو معنى ئې داده چه د دوئ نه به دا طلب نشي كولې چه ازاله د عتاب د رب خپل اوكړئ يعني هغه راضي كړئ. ((اى لايطلب منهم ان يزيلوا عتب ربهم اى غضبه بالتوبة والعمل الصالح اذالآخرة دار الجزاء لا دار العمل)) ، (روح) او يا د عُتْبى نه ماخوذ دې په معنى د رضاسره ، او استفعال په خپله معنى سره دې لكه مشهور كهاوت دې ((يعاتب من ترجى عنده العتبى)) نو معنى ئې دا ده چه دوئ به مكلف نشي گرزولې چه خپل رب راضي كړي، ((والمعنى انهم لا يسترضون اي لا يتكلمون ان يرضوا ربهم لان الاخرة ليست بدار تكليف ولا يتركوه الى رجوع الدنيا فيتوبون)) (فتح القدير) . ﴿وَإِذَا رَءَا الَّذِينَ﴾ په دې كښې هم تخويف اخروى ذكر كيږى ﴿الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ مراد ترينه كافر دې، تعبير ترينه په هغه وصف سره اوشو چه هغه موجب او علت دپاره د عذاب دې ، ﴿الْعَذَابَ﴾ دا به وروستو د شهادت د شهداؤ نه وى ، او جواب د (اذا) يا محذوف دې چه ((لابسهم)) دې (نظم الدرر) اويا مبتداء مقدره ده چه هغه (فهو) ده ((اي فهولا يخفف)) وجه داده چه كله جواب د اذا دپاره مضارع وى نو دهغې په جواب كښې فاء نه راځي كه منفي وى او كه مثبت وى ، دمثبت مثال لكه داقول د الله تعالى دې ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ تَعْرِفُ﴾ (الحج آيت :۷۳) او د منفي مثال لكه دا قول د عربو شو ((اذا جاء زيد لا يكرمك ، فلا يخفف عنهم — الخ)) يعني د جهنم په عذاب كښې به څه قسم تخفيف نه راځي، هره لمحه به د بلې لمحې نه سخته وى ﴿وَلَا

هُمْ يُنظَرُونَ ﴾ بعض مفسرينو ددې مقصد دا بيان كړې دې چه عذاب د جهنم به مسلسل وى او په مينځ كښې به څه قسم تخفيف او وقفه نه وى، او بعض مفسرين فرمائى چه دا كنايه ده د سرعت دخول نه چه كله دوئ ته جهنم څرګند كړې شى او دوئ جهنم اوګورى نو د كتلو نه پس به دوئ ته څه قسم مهلت نه ميلاويږى او دا جهنم به دوئ ځان ته راكاږى لكه څنګه چه يوه مرغئ او چر ګه دانه اوګورى اوفوراً ئى اوچته كړى، اوتيره ئې كړى، ﴿ وَإِذَا رَءَا الَّذِينَ ﴾ په دې آيت كښې هم تخويف اخروى دې ﴿ شُرَكَآءَهُمْ ﴾ مراد ترينه هر شريك دې چه دوئ جوړ كړې وو داالله سره ، او اضافت د شركاء (هم) ضمير ته چه هغه راجع دې مشركينو ته د وجې د دوئ د اتخاذ نه دې. ﴿ قَالُوا رَبَّنَا ﴾ مقصود به ئې په دې درخواست سره دا وى چه دا عذاب په معبودانو باندې راشى، او دوئ ترينه خلاص شى. او يا كم ازكم چه دا عذاب د دوئ او دمعبودانو په مينځ كښې تقسيم شى او د دوئ نه څه كمې راشى، په دې عذاب كښې ﴿ إِنَّكُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴾ يعنى معبودان به ورته په جواب كښې اوائى چه تاسو دروغ وايئ اوكه څوك اشكال اوكړى چه دوئ خو د دغې معبودانو عبادت كړې وو، نو څنګه به معبودان دوئ ته د كذب نسبت اوكړى، نو يو جواب ترې نه دادې چه د ((هولا ء شركاؤنا الذين)) مقصد دادې چه شركاء مونږه ته حكم كړې وو، چه مونږه داالله سره په عبادت كښې شريكان يو، نو هغه معبودان به د اثبات د دې شركت تكذيب اوكړى ((ان المراد من قولهم هولاء شركائنا اى ان هولاء هم الذين كما يقول انهم شركآء الله فى العبودية فالاصنام كذبوهم فى اثبات هذه الشركة)) (اللباب) دويم جواب دادې چې داالله ﷻ نه غير دمعبودانو عبادت كول دا په حقيقت كښې دخپلو خواهشاتو عبادت دې نو ددې وجې نه به هغوئ ددوى تكذيب كوى ، ((انهم ماعبدوهم حقيقتا وانما عبدوا اهوآئهم)) (بيضاوى) دريم جواب دادې چې ددې نه مراد معبودان صالحين دى خو قيامت كښې به هغوى انكار دعدم علم دوجې نه كوى لكه عيسى ﷺ به عرض اوكړى، چې ((فلما توفيتنى كنت انت الرقيب عليهم. — الخ)) (مائده ١١٧) اودغه رنګې سورة يونس آيت نمبر (٢٩) كښې ذكر دى. ﴿ إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَٰفِلِينَ ﴾

﴿ وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ ﴾ په دې آيت كښې هم تخويف اخروى دې ﴿ السَّلَمَ ﴾ مرادترينه استسلام اوانقياد دې، چې په دنيا كښې دتكبراو انكار نه پس چې كله په آخرت كښې داالله ﷻ دعذاب معاينه

اوکړی نو بیا به غاړه احکامانو منلوته کیږدی ﴿وَضَلَّ عَنْهُم﴾ یو مقصد دادې چې کوم دلائل به دوی ته شیاطینو بیانول دپاره دشرك وغیره نو هغه به ورنه هیر شی ((ذهب عنهم مازین لهم الشیطین من ان لله شریکا وصاحبة وولدا)) (کبیر) دویم مقصد دادې چې زائل به شی ددوی نه ددروغو امیدونه چې دا معبودان به زمونږه سفارش کوی. نو هغوی به ددوی نه برآئت اوکړی،اوددوی تکذیب به اوکړی((بطل ماکانوایاملون من الهتهم تشفع لهم عندالله))،(کبیر، قرطبی)

اَلَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ
هغه کسان چه کفر ئې کړیدې اومنع کوی خلك د لارې د الله نه زیات به کړو مونږ دوئ ته یو عذاب دپاسه د بل عذاب نه
بِمَا کَانُوْا یُفْسِدُوْنَ ﴿٨٨﴾ وَیَوْمَ نَبْعَثُ فِیْ کُلِّ اُمَّةٍ شَهِیْدًا
په سبب د دې چه وو دوئ چه فساد به ئې کولو په کومه ورځ چه راپورته به کړو مونږ په هر امت کښې یو شاهد (گواهی ورکونکې)
عَلَیْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِیْدًا عَلٰی هٰٓؤُلَآءِ ؕ وَنَزَّلْنَا عَلَیْكَ
په دوئ باندې د جنس د دوئ نه اوراب‌ه ولو مونږ گواهی کوونکې پدې خلکو باندې، اونازل کړیدې مونږ په تا باندې
الْکِتٰبَ تِبْیَانًا لِّکُلِّ شَیْءٍ وَّهُدًی وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ ﴿٨٩﴾
دا کتاب چه واضح بیانونکې دې د هر ضروری څیز او هدایت دې او رحمت دې او زیرې دې لپاره د مسلمانانو

﴿اَلَّذِیْنَ کَفَرُوْا﴾ په دې آیت کښې هم تخویف اخروی دې خو ماقبل کښې چې کوم تخویف وو هغه خلقو ته وو چه پخپله گمراه وو، اوپه دې کښې تخویف هغه خلقوته دې چې په خپله هم گمراه وی اونور خلق هم دځان سره گمراه کوی ﴿وَصَدُّوْا عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ﴾ یعنی نوروخلقولره هم منع کونکې وی داسلام نه ﴿زِدْنٰهُمْ عَذَابًا﴾ ځنگه چې دوئ په خپله هم کفر اوکړو اوبیا دکفر دپاسه نور خلق دایمان نه منع کوی نودا په حقیقت کښې کفر علی الکفر دې، نو ددې وجې نه جهنم کښې به ورته عذاب فوق العذاب ملاویږی ((ای عذابا بکفرهم وعذابا بصدهم عن سبیل الله))، (مدارك) یعنی کوم عذاب کښې چې أتباع ددو ی نودهغې په دوچنده عذاب به دوی ته ملاویږی، ((اتباعهم المااقتدوابهم فی الکفرفوجب ان یحصل لهم مثل عذاب اتباعهم))، (کبیر) اوبعض مفسرین فرمائی چې د ((زدناهم)) مقصد دادې چې د بختی اوښانو په شان ماران ،دخچرو په شان لرمان به ورته الله ﷻ

پیدا کړی ((تلك الزيادة اللتی وعدهم الله ان يزيدهموها عقارب وحيات)) (طبری) ﴿ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴾ مراد ترینه خلقوته دګمراهئ دعوت ورکول دی ﴿ وَيَوْمَ نَبْعَثُ ﴾ دا بیا اعاده د تخویف اخروی کیږی ﴿ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ﴾ دغوره توجیه مطابق مراد ترینه انبیاء کرام دی له وجې دمقابلې ﴿ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا ﴾ نه ﴿ عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ یعنی من جنسهم څکه چې هر نبی دخپل قوم دجنس نه وی. او حضرت لوط ﷺ اګر چې حقیقةً دجنس او قوم دمبعوث الیهم نه نه وو. لیکن حکمًا وو. څکه چې په هغو کښې ئی سکونت اختیار کړې وو، نودهغوئ نه شمار کړې شو. ((ولوط لما تاهل فيهم وسكن فيما بينهم كان منهم)) ‹حقی› او په ﴿ عَلَيْهِمْ ﴾ کښې اشاره ده چه ددوئ خلاف ګواهی به ددوئ په حضور کښې وی ﴿ وَجِئْنَا بِكَ ﴾ ماضی له وجې دتحقق او تیقن نه ذکر شوه ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ﴾ واو استنافیه دې اودا استیناف دې اوپه ما قبل کښې داخل نه دې له وجې داختلاف دزمانینو نه .اودا دلیل وحی دې چې دا مسئله دتوحید حضور ﷺ دځان نه نه ده جوړه کړې بلکه په وحی سره ثابته ده.اوپه دې قرآن کښې سوچ اوفکر اوکړئ په دې کښې کل اموردډین الله ﷻ په ښه وضاحت سره بیان کړي دی،چې بیا په قیامت کښې څه حجت اومعذرت باقی نه وی ﴿ تِبْيَانًا ﴾ مصدر دې بکسر التاء ، تفعال کښې تا دپاره دمبالغې وی، معنی یې دَه بیان ، یعنی ښه پوره پوره بیانونکې دې اوقیاس پهٔ تفعال کښې فتح التاء ده،خو دوه بابونه په کښې خلاف القیاس په کسرې د تاء سره راغلیدی، یو تبیان او دویم تلقاء .او ‹کل› په دې مقام کښې دپاره داستغراق اضافی دې، استغراق حقیقی دپاره ندې، مراد ترینه امور د دین دی، تبيانا بيانا بليغا لكل شيء.اوقرآن ته تبیان لپاره دهر شی اوهر امر دین په دې اعتبار سره وئیلې شوی دی چې ځینې امور چې هغه اصول د دین دی هغه په کښې ذکر دی صراحتًا او دځینو امورو تصریح اوبیان ئی سنة ‹حدیث› ته پرېښودې دې،او وې فرمائیل چې ﴿ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ﴾ اودغه شان ئی اوفرمائیل چې ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝٤ ﴾ اوځینی امور ئی اجماع دامت ته حواله کړل.اودهغې په باره کښې ئی اوفرمائیل چې ﴿ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ ﴾ اودځینی امورو تصریح ئی اجتهاد دمجتهد اوقیاس ته حواله کړه.اود هغې باره کښې ئی اوفرمائل چې ﴿ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ ﴾ اوحضور ﷺ ارشاد اوفرمائلو((اصحابي كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم)) نو دصحابه

کرامو نه اجتهاد . قیاس وغیره ټول ثابت دی. نو هر کله چې ثبوت دحجیت دحدیث ،اجماع او قیاس اوشو ،او په دې سره ثبوت داحکامو صحیح شو نو ګویا چې دغه ټول احکامات په قرآن سره ثابت شو . نو قرآن دټولو امورو د دین دپاره تبیان شو ﴿وَهُدًى وَرَحْمَةً﴾ قرآن ذریعه دهدایت او رحمت دهر چا دپاره دې او حرمان دکفارو له وجې دتفریط دهغوئ نه دې ﴿وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ﴾ او بشارت اوزیرې ئې خاص دې په مومنانو پورې. ځکه چې هغوئ ترینه نفع اخستې ده.

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ
بیشکه الله حکم کوی دَ انصاف او دَ احسان او په ورکړې «دحقوقو» سره خپلوانو ته اومنع کوی د بې حیائئ نه
وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ۞
او دبدوکارونو نه او د ظلم کولو نه. نصیحت «پوهه» درکوی تاسوته لپاره د دې چه تاسو نصیحت قبول کړئ
وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا
او پوره کړئ لوظ «وعده» د الله هرکله چه وعده اوکړئ تاسو او مه ماتوئ تاسو قسمونه «وعدې» وروستو د پوخوالی دهغې نه
وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ۚ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ۞
اوبه تحقیق ګرزولې دې تاسو الله لره په خپل ځان باندې ذمه وار . بیشکه الله پوهیږی په هغه څه چه تاسو کوئ

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ﴾ په دې آیت کښې امور دفعیه دعذاب بیانیږی او په دې کښې تفصیل دې دپاره د ﴿تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ﴾ . بعض علماء فرمائی کچرته قرآن پاك کښې نور آیاتونه نه وې. نو د ﴿تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ﴾ دثبوت دپاره صرف دا آیت هم کافی وو ،دا آیت ذریعه د دخول په اسلام کښې جوړه شوه دپار داکثم بن صیفی چې کله ئې دا آیت واوریدو نو خپل قوم ته ئې اوویئل چې ((فکونوا فی هذاالامر روساولا تکونوا فیه اذنابا)) (ابن کثیر) اوددې آیت په باره کښې حضرت عثمان بن مظعون ﷺ فرمائیلی دی چې ما اول اسلام صرف دحیا دوجې نه راوړې وو ، خو ددې آیت د نزول نه وروستو ځما په زړه کښې ایمان مضبوط شو. اوحضورﷺ سره مې محبت شدیده پیدا شو . اوحضرت ابن مسعود ﷺ فرمائلی دی چې دا آیت په قرآن کښې ډیر ښه جمع کونکې دې، لپاره دخیر او شر. اوحضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله خپل دور کښې خطیبانو ته حکم کړې وو ، چې دا آیت دې په خطبو

کښې لولي. ځکه چې په دې آيت کښې دانسان ټول احوال اوټول احکام شرعيه جمع کړې شوی دی، هر چې دې جمع کونکې لپاره داحوالو د انسان نوهغه داسې دی، چې په انسان کښې الله ﷻ دخير اوشر لپاره درې قوتونه پيدا کړی دی ، (۱)قوة علمی (۲)قوة غضبی (۳) قوة شهوانی اوبيا په هر يو کښې درې مرتبې دی (الف): افراط، (ب) تفريط، (ج) : توسط، په قوة علمی کښې افراط درجې ته جربزه؟ وئيلې شی، چې هغه عبارت دې دچلولو دعقل نه په هر ځائ کښې که محل اولاره دعقل وی اويا نه وی، لکه حقيقت د ذات د باری ﷻ چې وراء العقل دې، نودا مرتبه مذموم ده، او تفريط درجې ته بلادت او غباوت وئيلې کيږی دا هم مذمومه ده،او د توسط درجې ته حکمت وئيلې شی چې دا ممدوحه ده، اوپه قوت غضبی کښې د افراط درجې ته تهوّر وئيلې کيږی ، چې په هر ځائ کښې غصه کوی اوپه خپلې غصې باندې يې قدرت نه وی اومرتبې دتفريط ته جبن وئيلې شی، او د توسط مرتبې ته شجاعت وئيلې شی، اوپه قوت شهوانی کښې مرتبې د افراط ته فجور وئيلې شی، چې محل نه ګوری اوخپل خواهشات پوره کوی، اومرتبې دتفريط ته خمود وئلې شی چې با الکل قادر نه وی،اومرتبې دتوسط ته عفت وئيلې شی، نوددې درې واړو قوتونو هغه توسط اوممدوح درجې چې کله جمع شی، يعنی حکمت، شجاعت ،عفت، نوعدالت ترينه جوړشی، چې هغه سراسر خير دې، او دا ټول کارونه په صحيح نيت اوخالص دالله ﷻ دپاره کولوته احسان وئيلې شی، لکه په حديث جبريل کښې ورته اشاره شوې ده، چې ((ان تعبدالله کانك تراه — الخ)) او د اهتمام شان دپاره ذکر د ﴿وَإِيتَآيِٕ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ﴾ اوشو.

اوکه په قوة شهوانی کښې افراط راشی نو فحشاء ورته وئيلې شی، ددې وجې نه دابن عباس ﷺ نه دفحشاء تفسير په زنا سره مروی دې، اوکه په قوت علمی کښې افراط راشی نو منکر ورته وئيلې کيږی، ددې وجې نه دابن عباس ﷺاو مقاتل ﷺ نه دمنکر تفسير په شرك سره مروی دې، ځکه چې مشرك هم داثبات دشرك دپاره صرف عقلی دليل وائی، او په امورو دشرع کښې هر ځائ کښې عقل چلوی،اوکه په قوت غضبی کښې افراط راشی نو بغی ورته وئيلې کيږی،او ددې وجې نه ابن عباس ﷺ نه دبغی تفسير په ظلم سره مروی دې،اوابن جرير طبری فرمائی چې ((واصل البغی التعدی ومجاوزة القدروالحدمن کل شيء)) (طبری) او امام رازی وغيره فرمائی چې منکر وئيلې کيږی مرتبې دافراط ته په قوت غضبی کښې،او بغی د آثارُ دقوت وهميه شيطانی نه دې (کبير) نوپه دې آيت کښې الله ﷻ انسان ته دحکمت، شجاعت، عفت چې احوال ممدوحه دی دهغې حکم ورکړو، اوفحشاء منکر، بغی نه چې احوال او اوصاف ذميمه دی منع ئې کړ و

اوهر چې دې جمع کونکې لپاره د احکام شرعيو نو هغه داسې دې چې احکام دشرع په دوه قسمه دی يو ته مامورات وئيلې کيږي، اوبل ته منهيات وئيلې کيږي، بيا مامورات په دوه قسمه دی: يو حقوق الله دی اوبل حقوق العباد دی، بيا حقوق الله په دوه قسمه دی، يو عقائد اوعبادات دی اودوهم دهغې اوقات، مقدار او کيفيات دی، اومنهيات په دوه قسمه دی حقوق الله او حقوق العباد او بيا حقوق الله په دوه قسمه دی يو هغه چې دهغې قباحت به عقلا او شرعا معلوم وی چې هغه قبيح لعينه دی او دويم هغه دی چې دهغې قباحت به صرف شرعا معلوميږي، نو په ﴿بِالْعَدْلِ﴾ سره اشاره ده قسم اول ته په حقوق الله کښې چې هغه اعتقاديات او عبادات دی، هر چې دی اعتقاديات نو په هغې کښې عدل عبارت دې د ((لااله الاالله)) نه، او د ټولو اصولو ددين نه اوتشريع ئې داده چې نفی د اِله تعطيل محض دې، دا مرتبه دتفريط ده،او اثبات د اِله اکثر د واحد نه تشريك او تشبيه ده، دا مرتبه دافراط ده،دا دواړه مذموم دی، او اثبات داِله واحد عدل دې، چې هغه ((لااله الاالله)) دې، دغه شانته نفی د اِله کول تعطيل محض دې مرتبه د تفريط ده او ثبوت دجسميت، جوهريت، ترکيب اوتخصيص په مکان پورې کول ، تشبيه محض مرتبه د افراط ده، ثبوت دوجود د اِله په شرط ددې چې منزه وی ددې ټولو صفاتومذکوره نه، مرتبه دعدل ده،دغه شان بنده نه نفی داختيار اومطلق قدرت کول مرتبه دجبر محض دې مرتبه دتفريط ده، بنده د لپاره خالقيت ثابتول په افعال کښې قدر محض دې، مرتبه دافراط ده،اوثبوت دکسب ورله کول عدل دې

او هر چې دی عبادات نو ترك دتعبد بطالة دې مرتبه دتفريط ده، دنوروحقوقو نه غافله کيدل اوصرف عبادت کول ترهب دې مرتبه د افراط ده، او تعبد سره د اداء دټولو واجباتو مرتبه دعدل ده، دغه رنګې مال باالکل نه خرچ کول بخل دې مرتبه دتفريط ده، دحد نه زيات بې ځايه خرچ کول اسراف او تبذير دې، مرتبه دافراط ده،اوپه خپل ځائ کښې استعمالول جود دې ، مرتبه دعدل ده،اوپه ﴿وَالْإِحْسَانِ﴾ سره حق دالله ﷻ قسم ثانی ذکر شو، چې هغه طريقه مقدار او وخت دعباداتو دې، ځکه احسان داعمالوعبارت دې ددينه چې دا عبادات په داسې طريقې سره ادا کړی چه هغه لائقه وی ددې سره ((ای الاتيان بها علی الوجه اللائق)) (ابی سعود) امام رازی فرمائی چې احسان عبارت دې د زيادت نه په طاعاتو کښې ((والاحسان عبارة عن الزيادة فی تلك الطاعات)) (کبير) دا به يا په حسب دکيفيت سره وی چې دا عبادت په ځنګه طريقې سره ادا کيږی، دې ته اشاره شوې ده په حديث جبرئيل کښې چې ((الاحسان ان تعبدالله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه يراك))

.او يا په حسب د كمية سره دي، چې هغه زيادت دې په فرضی او واجب عبادت باندې. لکه سنت او نوافل شو .او ﴿وَإِيتَآيِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ﴾ سره ذکر دحقوق العباد دې اومراد دقربی نه عام دې سببی وی يا نسبی وی. او مراد په اتيان سره دهغوئ حقوق پوره پوره اداکول دی، که هغه دنيوی حقوق وی يا دينی،دا درې مامورات شو.

اوپه منهياتو کښې قسم اول دحقوق الله ذکر شو په ﴿وَيَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ﴾ سره په دې کښې دقبيح لعينه ټول اقسام داخل دی، لکه شرك ،كفر،قتل،دروغ، زنا او غلا شو. اوقسم ثانی دحقوق الله ذکر شو په ﴿وَٱلْمُنكَرِ﴾ سره په دې کښې ټول قبيح لغيره منهيات داخل دی، لکه بدعات، په اوقات مکروهه کښې مونځ، او روژه شوه په ايامو دعيدينو اوتشريق کښې. اومنهيات په حقوق العباد کښې ذکر شو په ﴿وَٱلْبَغْىِ﴾ سره،چې تکبر دې اوظلم دې وغيره. نو معلومه شوه چې دا آيت ټولو احکامو ددين اوټولو احوالو دانسان لره جامع دې.

﴿يَعِظُكُمْ﴾ مراد ترينه تنبيه ده ﴿وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ﴾ په دې کښې ترغيب دې له پاره د ايفاء عهد اوعطف دې په مضمون د ماقبل آيت باندې، او مراد دعهد نه عهد د ((الست بربكم)) دې او يا ترينه مطلقا بيعت على الاسلام مراد دې، او يا ترينه مطلقا عهد مراد دې چې واقع شی دجانبه دانسان نه. عهد على البيعة وی اوکه بل عهد وی. ((والظاهر العموم فی كل عهديقع من الانسان من غير فرق بين عهد البيعةوغيره)) (فتح القدير ص ٢٥٨ ج۴) اوهر كله چې په عهدونو کښې دټولونه اولی بالعمل دالله ﷻ دبندگۍاقرار او دالله ﷻ عبادت اودحضورﷺ په تعليماتو باندې عمل کول وو. نوددې وجې نه اضافت دعهد الله ﷻ ته اوشو. ﴿وَلَا تَنقُضُوا۟ ٱلْأَيْمَـٰنَ﴾ دغوره توجيه مطابق دا تخصيص بعد التعميم دې، عهد عام دې ديمين نه ، ((وفيه دليل على ان المراد بالعهد غير اليمين لانه اعم منها)) (خازن). ﴿بَعْدَ تَوْكِيدِهَا﴾ په دې سره يمين لغو خارج شو ،ځکه مراد دتوکيد نه توکيد بالعزم دې، يعنی باالعزم دالله ﷻ په نوم سره قسم مه ماتوئ. ﴿وَقَدْ جَعَلْتُمُ ٱللَّهَ﴾ واو حاليه دې اودا جمله حال واقع شوې ده دفاعل د ﴿وَلَا تَنقُضُوا۟﴾ نه، ﴿كَفِيلًا﴾ کفيل وئيلې کيږی محافظ اونگرانی کونکی ته،اوهر کله چې قسم په الله ﷻ سره اوخوړې شی په يو كار باندې نوگويا چې دې قسم کونکی په دې قسم سره الله ﷻ كفيل اوگرځولو په ايفاء ددې عهد باندې.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ

اومه کیږئ[1] (په نقض د عهد کښې) په شان د هغه (ليونئ) ښځې چه سپيردل ئې سپړسې خپله وروسو د مضبوط والي نه

أَنْكَاثًا ۖ تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ

ټکړې ټکړې. ګرځوئ تاسو قسمونه خپل ذريعه د دهوکې (خيانت) په خپل مينځ کښې د وجې د دينه چه شته يو جماعت (د مشرکانو)

هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ۚ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ ۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ

چه هغه د ډيرې فائدې والا دې د بل جماعت نه. بيشکه ازمائي تاسو الله پدې سره. او خامخا بيان به کړي تاسو ته

يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ۝ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ

په ورځ د قيامت هغه څه چه تاسو په هغې کښې اختلاف کوئ. او کچرته خوښه شوې وې د الله نو خامخا ګرځولی به ئې وئ تاسو

أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِنْ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۚ

دله يوه (ټول مسلمانان) ليکن (الله) بې لارې کوی چا له چه اوغواړی او لاره ښائی (هدايت کوی) چاته چه اوغواړی

وَلَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

او خامخا تپوس به کولې شی ستاسو نه دهغې عملونو چه تاسو ئې کوئ (په دنيا کښې)

﴿ وَلَا تَكُونُوا ﴾ په دې آيت کښې دنقض عهد کوونکو دپاره تمثيل بيانيږي. او يا مثال دې دپاره دنقض عهد. اومنع ده دنقض د عهد نه دمثال په ذريعه ﴿ كَالَّتِي ﴾ مراد دمشبه به نه. يا مخصوص زنانه ده، چې په مکه کښې اوسيدله چه په دماغو کښې ئې نقص وو. ليونئ وه. نوم يې ريطة بنت عمرو وو. اولقب ئې حفراء وو. او يا يې نوم ريطه بنت سعد التيمي وو، چې هغې به دکيږې دجوړولو کار کولو. ټوله ورځ به ئې تارونه اوودل او بيا به ئې اوودلې شوی تارونه اوسپړدل. او يا ترينه غير معينه زنانه اووصف مراد دې . تشبيه دحال ناقض ده دبل حال ناقض سره. اومقصود په تشبيه سره دادې چې نقض عهد دا دعقلاء کار نه دې. بلکه په دې سره ناقض داسې شی لکه چې زنانه وی او کار هم دکيږې جوړولوکوی اوليونئ هم وی. چې اوودلې شوی

[1] د نقض عهد لپاره مثال

تارونه دوباره اوسپړي، نو دالله ﷻ دعهد ماتونکي ددغې زنانه په شان بې عقله، بې شعوره او اخس کار کونکي اوځان ته نقصان رسونکي دي ﴿نَقَضَتْ غَزْلَهَا﴾ مصدر په معنى دمفعول سره دي، ((اى مغزولها)) اوودلې شوې ﴿تَتَّخِذُونَ أَيْمَٰنَكُمْ﴾ دا جمله يا حال واقع شوې ده د ﴿وَلَا تَكُونُوا﴾ دفاعل نه اويا جمله مستانفه استفهاميه ده، اوهمزه داستفهام په کښې مقدره ده، او استفهام انکاري دي. ﴿دَخَلًا بَيْنَكُمْ﴾ دا مفعول ثاني دي لپاره د ((تتخذون)) او دخل په اصل کښې ونيلې کيږي چې يوشې په بل کښې داخل شي اودهغه نه، نه وي،اومراد ترينه يا فساد اوعداوت دي.اويا غدر اوخيانت دي يعنې تاسو خپل قسمونه ذريعه او سبب دَ دهوکې او خيانت مه گرځوئ چه په قسمونو سره خلق په اعتماد کښې واخلئ او بيا ورسره خيانت اوکړئ ﴿أَن تَكُونَ﴾ با سببيه په کښې مقدر ده ((اى بسبب ان تكون امة)) (مدارك) ﴿هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ﴾ (اربى) اسم تفضيل دي (الربوا) نه دي په معنى دزيادت سره . ((ازيد عددا واوفرمالا)) (مدارك) د اول أُمة نه مراد جماعت دمشرکينو دي او د أُمة ثاني نه مراد جماعت دمومنينو دي، مقصد دادې چې کفارو اومشرکينو ته اوگورئ او دهغوئ مال، دولت، آمدني درته ډيره ښکاره شي نو دهغې دوجې نه خپل عهد او ميثاق دعذر اوخيانت ذريعه مه گرځوئ چې هغه مات کړئ بلکه دخپل عهد اوميثاق وفا کوئ ﴿إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ﴾ کفارو ته دکثرت مال عطاء کولو حکمت بيانيږي، چې کفارو اوبې دينه خلقوته مالداري او ډيره آمدني ورکولو کښې دمومنانو امتحان او ابتلاء اخستل مراد دي، چې څوك په خپل عهد باندې برقرار پاتې کيږي، اوڅوك ئې ماتوي . ﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ﴾ په تير شوي آيت کښې دنقض دعهد دوجې نه اختلاف پيدا کولو ته اشاره وه، په دې آيت کښې دا ذکر کيږي چې دا اختلاف هم دالله ﷻ په مشيت او په ارادې سره دې، اهل سنت والجماعت ددې مشيت نه مشيت اختياري مراد کوي،اوهر چې دي معتزله نوهغوئ ددې مشيت نه مشيت الجائي اوقهري مراد کوي ﴿وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَاءُ﴾ دا تصريح ده په دې چې هدايت او ضلالت دواړه دالله دطرف نه دي، نودا رد دې په معتزلو باندې ﴿وَلَتُسْأَلُنَّ﴾ په دې کښې رد په مذهب د جبريه باندې دې،کچرته انسان مجبور محض وې نو بيا ترينه دعمل په باره کښې سوال کول نه وو پکار .

وَلَا تَتَّخِذُوٓا اَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًاۢ بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ
اومه نیسئ تاسو قسمونه خپل ذریعه د دهوکې (فریب ، خیانت) په خپل مینځ کښې پس اوبه خونیږی خپې (ستاسو)
بَعۡدَ ثُبُوۡتِهَا وَتَذُوۡقُوا السُّوۡٓءَ بِمَا صَدَدۡتُّمۡ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ۚ وَلَكُمۡ
وروستو د کلکوالی دهغې نه او اوبه څکئ تاسو عذاب په سبب دهغې چه منع کوئ تاسو (خلک) د لارې د الله نه اولپاره ستاسو
عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۝ وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِعَهۡدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ اِنَّمَا عِنۡدَ اللّٰهِ هُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ
عذاب لوئ دې . اومه اخلئ تاسو په بدلې د عهد دالله قیمت لږ، بیشکه هغه څه (ثواب) چه الله سره دې هغه غوره دې تاسو لره
اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ۝
که يئ تاسو چه پوهیږئ.

﴿وَلَا تَتَّخِذُوٓا﴾ په دې آیت کښې مزید تاکید او اهتمام بیانیږی لپاره د ایفاء عهد سره دترتیب دامر زائد نه، نو داکثرو مفسرینو په نزد دا آیت خاص دې دماقبل آیت نه په دوو وجوهو سره : (۱) تخصیص په اعتبار د ناقضینو سره، چې په دې آیت سره مراد هغه خلق دی چې هغه مقتداء او علماء دی، چې دهغوئ نقض عهد د نورو خلقو دگمراهئ ذریعه ده، (۲) تخصیص په اعتبار دعهد سره چې د دې عهد نه فقط بیعت علی الایمان مراد دې، اوعام عهد ندې مراد، ځکه چې دومره سخت وعید دنورو عهدونو په نقض باندې نشته دې، (وهذالوعیدانما هوفیمن نقض عهد رسول اللهﷺکان من عاهده ثم نقض عهده خرج عن الایمان) (قرطبی صـــ۱۲۶ ج۵)

﴿فَتَزِلَّ قَدَمٌ﴾ زلت دقدم استعاره ده، دهغه مستقیم الحالة نه چې واقع شی په شیء عظیم کښې، ((وهذه استعارة للمستقیم الحال یقع فی شيء عظیم ویسقطیه)) (قرطبی) او دقدم نه یا قدمونه دمتبعینو مراد دی. اومقصد دادې چې په نقض عهد سره به یو نقصان تاسو ته دا اورسیږی چې په تاسو باندې به دعاموخلقو اعتماد ختم شی، بیا به تاسو قسمونه خورئ خو دخلقوبه درباندې اعتماد نه وی، او یا قدمونه دنقض کونکو مراد دی، چې نقض عهددد ایمان کول دایمان نه خارجیدل دی فتزل اقدامکم عن محجة الاسلام،(کشاف)

﴿وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ﴾ دویم نقصان به دا اوشی چې تاسو به دخلقو دایمان نه راوړلو ذریعه اوګرځئ نوګویا چې دا خلق دایمان راوړلو نه تاسو منع کړل، نوددې وجې نه به تاسو دیولوئ عذاب مستحق

اوګرځئ. ﴿ وَلَا تَشْتَرُوا ﴾ په دې آيت کښې منع ده دنقض عهد نه ددنيا دمال اوجاه په حرص سره. چې حق دين د دنيوى اموالو او اقتدار دلالچ اوطمعې دوجه نه مه پريږدئ. او دا داسې دى لکه چې تاسو د ايمان په شان عمده څيزخرچ کړئ او د دنيا والا خسيس شې پرې واخلئ ﴿ ثَمَنًا قَلِيلًا ﴾ اګر چې بنفسه به زياتې وى. خو د آخرت په نسبت دا ټوله دنيا ثمن قليل اومتاع قليل ده ﴿ إِنَّمَا عِندَ اللَّهِ ﴾ دا ترغيب دې جنت اوآخرت ته

مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ اللَّهِ بَاقٍ ۗ وَلَنَجْزِيَنَّ
هغه څه چه تاسو سره دى [1] فنا به شى اوهغه څه چه الله سره دى باقى دى او خامخا به بدله ورکړو مونږ
الَّذِينَ صَبَرُوا أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝
هغه کسانو ته چه صبر ئې کړيدې اجر (ثوابونه) دهغوئ په بدلې دهغه ښه کارونو کښې چه وو دوئ چه کول به ئې (په دنيا کښې

﴿ مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ ﴾ په دې آيت کښې تزهيد فى الدنيا او تحقير د دنيا اوترغيب الى الا خرة ذکر کيږى. چې د ايفاء عهد اوصبر على الدين په بدله کښې چې کوم اجر اوثواب تاسو ته ملاويږى. هغه دائمى دې. اوکومه فائده دنقض عهد چې په دې دنيا کښې تاسو ته ملاويږى. هغه حقيره اوختميدونکې ده. ﴿ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا ﴾ مراد ترينه صبر او استقامت على عهد الاسلام والطاعات دې. ﴿ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ مراد دعمل نه صبر دې ځکه چې صبر داعمال قلبيه نه دې. اوعبارت په حذف دمضاف سره دې.((اى لنجزينهم بجزآء صبرهم)) اولفظ دأحسَنُ يا ددې وجې نه استعمال شو چې ثواب صرف په احسن ملاويږى نه په حسن ځکه چې احسن هغه دې چې دهغې کولو ته ترجيح ملاوشوې وى په نه کولو باندې لکه فرائض واجبات، مستحبات شو. او يا دهغې نه کولو ته ترجيح ملاو شوې وى په کولو باندې، لکه محرمات، مکروهات شو اوحسن هغې ته وئيلې کيږى چې دهغې يو جانب ته ترجيح په بل جانب نه وى حاصله شوې . لکه مباح شو نوځکه احسن اووئيلې شو. اويا ذکر د احسن لپاره د ترغيب دې په عمل کښې اګر چې ثواب په حسن هم ملاويږى

١ - تزهيد فى الدنيا، ترغيب الى الاخرة

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ
هرڅوك چه عمل اوكړو نيك كه نارينه وي يا زنانه وي او حال دا چه دې مؤمن وي پس خامخا به ژوند وركړو هغه ته ژوند د مزې

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝
او خامخا به بدله وركړو مونږ دوئ ته اجر (ثواب) د دوئ په عوض د هغه ښه كارونو د دوئ كښې چه دوئ به كول

فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۝ اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ
پس كله (چه او غواړې ته) چه اولولې قرآن[1] پس اول پناه اونيسه په الله سره د شيطان رټلي شوی نه بيشكه نيشته دده لره

سُلْطٰنٌ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝ اِنَّمَا
قدرت (غلبه) د گمراه كولو په هغه كسانو باندې چه ايمان ئې راوړې دې او په خپل رب باندې توكل كوی بيشكه

سُلْطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ ۝
قدرت (غلبه دگمراه كولو) د ده په هغه كسانو ده چه دوستی كوی د ده سره او په هغه كسانو چه دوئ (الله) سره شريك كونكی دی

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا﴾ په دې آيت كښې بشارت دې د پاره د ايفاء كوونكو دعهد ﴿ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى﴾ دا اگر چې په (من) كښې داخل وو خو بيا صراحة ذكر كول لپاره د دفع د توهم د تخصيص دی، چې څوك دا اونه وائي چې مراد د (من) به صرف مذكر وی، ﴿وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾ چې هغه مصدق وی د ثواب په ايفاء دعهد باندې او د عقاب په نقض دعهد باندې، ((هو مصدق بثواب الله الذی وعد اهل الطاعة وبوعيد اهل معصيته على المعصية)) (طبری صـــ۴۴۱ ج۷) ﴿فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً﴾ مراد د حيات طيبه نه په دنيا كښې رزق حلال د اطمينان او سكون زندگی ده، مومن موحد ته چه د الله ﷻ په عبادت اطاعت. صبر او قناعت كښې كوم سكون او راحت ملاويږی. هغه سكون او راحت يو مشرك. فاسق بادشاه ته په تخت باندې نه وی حاصل ، مال او دولت اسباب د راحت دی خو راحت نه دی. د دې وجې الله ﷻ فرمائی ﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾ (طه آيت ۱۲۴) او يا

۱. متعلق دې سره له دليل دوحی نه «ای نزلنا عليك الكتاب –الخ ».

سرینه حیات برزخی او قبر مراد دي اويا ترینه جنت مراد دي ، ﴿وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم﴾ مراد ترينه جزاء اخرويه ده. ﴿فَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ﴾ په دې آيت كښې ترغيب الى القرآن سره د آدابو ذكر كيږي.اودا آيت متعلق دې په دليل وحی ﴿وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ﴾ پورې چې په تا باندې الله ﷻ كتاب نازل كړې دې. چې په هغې كښې دشرك اوظلم نه دځان بچ كولو اوداحسان كولو حكم دې،اوپه كښې تذكير دعهددې دالله ﷻ نو چې كله هم ددې تلاوت شروع كوې نواستعاذه غواړه په الله سره دشيطان نه ځكه چې دې وسوسې اچونكې دې اوغافله كوونكې دې دعهد د الله ﷻ نه اومراد په ((فاذا قرات)) سره اراده دقراءة ده ﴿فَٱسۡتَعِذۡ﴾ امر دې په طلب دپناه غوښتلو سره دشيطان نه ، صاحب هدايه ((استعيذ باالله – الخ)) وئيلوته افضل وئيلى دى، نورو فقهاو ((اعوذ باالله)) ته افضل وئيلى دى. اوپه ځينو روايتونوكښې دلفظ دالله نه وروستو د ((السميع العليم)) اضافه هم راغلې ده بحث دتعوذ په ابتداء كښې تير شوې دې، ﴿إِنَّهُۥ لَيۡسَ لَهُۥ﴾هركله چې دتير شوى آيت نه توهم دقدرت كيدو لپاره دشيطان په انسانانو باندې، نوپه دې آيت كښې ازاله ددغه توهم ده، او ضمير د (انه) ضمير شان دې ﴿سُلۡطَٰنٌ﴾غوره توجيه داده چې مراد په دې نفى دغلبې سره غلبه خاصه ده چې هغه قدرت اوتصرف په زړونو باندې دې او مراد ترينه داسې ګناه ته لمسول (برانګيخته كول) دى چې هغه نه معاف كيږي لكه شرك شو. اويا دهغه ګناه نه توبه نه اوباسى، لكه بدعات وغيره شو، تفصيل په سورة حجر آيت ۴۲ اوسورة ابراهيم آيت ۲۲كښې تير شوې دې، ﴿إِنَّمَا سُلۡطَٰنُهُۥ﴾ مراد ترينه هغه سلطان خاص دې چې مخكښې آيت كښې ئې نفى شوې وه، ﴿وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ﴾ (با) دپاره دتعدية ده اوضمير راجع دې لفظ د (الله) ته ((اى اشركوه فى عبادة الله)) (ابن كثير).

وَإِذَا	بَدَّلۡنَآ	ءَايَةً	مَّكَانَ	ءَايَةٍ	ۙ وَٱللَّهُ	أَعۡلَمُ	بِمَا	يُنَزِّلُ
اوكله چه بدل راوړو مونږ [1] يو آيت (ناسخ) په ځائ د بل ايت (منسوخ) او الله ښه پوه دې په هغه څه چه نازلوى ئى								

۱ - د مشركينو سوال د دليل وحى سره متعلق.

قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞ قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ
دوئ وائی چه بیشکه ته دروغ ترونکي يې، بلکه زیات د دوئ نه پوهیږي . او وایه ته نازل کریدي [1] دا قرآن روح پاك (جبرئیل
مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى وَّبُشْرٰى
د جانبه د رب ستا نه په حق سره لپاره د دې چه محکم کړی هغه کسان چه ایمان ئې راوړي دي او هدایت دې او زیري دي
لِلْمُسْلِمِيْنَ ۞ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ
لپاره د مسلمانانو . او په تحقیق سره پوهیږو مونږ [2] چه بیشکه دوئ وائی چه بیشکه خودلي دي (قرآن) ده ته یو سړی
لِسَانُ الَّذِيْ يُلْحِدُوْنَ اِلَيْهِ اَعْجَمِيٌّ وَّهٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ۞
ژبه دهغه سړی [3] چه دوئ غلط نسبت کوی هغه ته عجمی ده او دا قرآن ژبه عربی ده واضحه

﴿ وَاِذَا بَدَّلْنَآ ﴾ په دې آیت کښې په مشرکینو باندې شکوی ذکر کیږی چې دشیطانی وسوسو دوجې نه دوئ په قرآن مجید باندې بې ځایه اعتراضونه کوی، او دکفارو اول اعتراض ذکر کیږی په قرآن باندې چې دا دالله ﷻ کلام نه دې، بلکه افتراء ده په الله ﷻ باندې کچرته دا کلام دالله ﷻ وې نو په دې کښې به تبدیلی اونسخ نه راتلۀ. ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ﴾ په دې کښې اشاره ده مصالحو دنسخ ته بطور جمله معترضه، چې په نسخه کښې دالله ﷻ ډیر حکمتونه دی ﴿بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ یعنی دوئ د فائدې اوحکمتونو دنسخې نه جاهل دی، نوځکه اعتراضونه کوی ﴿ قُلْ نَزَّلَهٗ ﴾ دا جواب دې د دغه اعتراض مذکوره نه چې دا قرآن افتراء نه ده، بلکه دا دالله ﷻ دطرفنه دروح القدس په واسطه نازل شوې دې،اود نسخ په ذریعه امتحان دمومنانو اخلی ،اودا ذریعه ګرځی د تثبت اومضبوطوالی په ایمان باندې او ذریعه دهدایت ګرځی اوذریعه دخوشحالئ ګرځی. ځکه چې کله هم یو آیت منسوخ شی نو مومنان خوشحاله شی اوایمان نور هم مضبوط شی چې اعتقاد ئې وی په دې چې دمنسوخ په ځائ ناسخ زمونږ په حق کښې زیات مفید وی ،اوپه دې کښې به دالله ﷻ حکمت

---

۱ . د ذکر شوی سوال جواب .
۲ . سوال او دویمه شکوی .
۳ . د ذکر شوی سوال جواب .

وی. ((ای لیبلوهم بالنسخ حتی اذا قالوافیه هو الحق من ربنا حکم لهم بثبات القدم فی الدین وصحة الیقین با ن الله حکم فلا یفعل الا ما هو حکمة وصواب)) (کبیر) ﴿وَلَقَدْ نَعْلَمُ﴾ په دې آیت کښې د منکرینو ددویم سوال جواب ذکر کیږی، چې دوئ به وئیل چې دې پیغمبر ته یو رومی غلام دا قرآن ښائی اودا دالله ﷻ کلام نه دې. اوپه نوم دهغه کښې ډیر اقوال راغلی دی ﴿لِسَانُ الَّذِی﴾ داجواب ددې اعتراض دې چې دقرآن نسبت تاسو کوم بنده ته کوئ نو هغه خوعجمی دې. اودا قرآن خوپه فصیحه عربی کښې دې چې دهغې دمقابلې نه مشرکین مکه چې اهل لسان وو عاجزه وو. نو بنده عجمی به څنګه په دې معجز کلام باندې قادر شی ﴿يُلْحِدُونَ﴾ د الحاد خپله اصلی معنی میلان ده اودلته ترینه مراد نسبت کول دی ﴿أَعْجَمِيٌّ﴾ په ماده د (ع - ج - م) کښې معنی دابهام اواخفاء وی چې هغه ضد دبیان اوایضاح دې. نو اعجمی هر هغه چاته وئیلې کیږی چې هغه په فصاحت اووضاحت سره خبروکولو باندې قادرنه وی.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ اللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ

بیشکه هغه کسان [1] چه ایمان نه لری په آیتونو د الله ، هدایت نه ورکوی دوئ ته الله او لپاره د دوئ عذاب دردناک دې

إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَاذِبُونَ

بیشکه جوړه وی دروغ (په الله باندې) هغه کسان چه ایمان نه لری په آیتونو دالله. او دغه کسان هم دوئ دروغژن دی

مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ

چا چه کفر اوکړو [2] په الله وروستو د ایمان راوړلو د ده نه سیوا د هغه چا نه چه زور پرې اوکړې شو او زړه دهغه

مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللَّهِ

مطمئن (کلك) وو په ایمان باندې لیکن هغه چا چه پرانستله ئ کفر قبلولو ته سینه پس په دوئ باندې غضب دې دجانبه د الله نه

---

١ - تخویف اخروی.

٢ - متعلق دې په ((فاذا قرأت)) پورې ، تخویف اخروی.

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ

او لپاره د دوئ عذاب لوئ دي دا (عذاب عظیم) د وجې د دینه دي چه بیشك دوئ غوره كړيدي ژوند د دنیا په آخرت باندي

وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

(او په دي وجه) بیشکه الله هدایت نه کوی قوم کافرانو ته. دا هغه کسان دی چه مهر وهلي دي الله په زړونو د دوئ باندي

وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٠٨﴾

او په غوږونو د دوئ باندي او په سترګو د دوئ باندي اودغه کسان هم دوئ غفلت کوونکی دی (دآخرت نه)

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٠٩﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ

حقه ده دا خبره چه بیشکه دوئ به په آخرت کښې هم دوئ تاوان والا وی بیا بیشکه رب ستا [١] هغه کسانو لره

هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا

چه هجرت ئی کړي دي وروستو دهغې نه چه تکلیفونه ورته رسولې شوی وؤ بیا ئی جهاد کړیدي او صبر ئی کړیدي.

إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١١٠﴾

بیشکه رب ستا وروستو د دې (کارونو نه) خامخا بخنه کوونکي، مهربانه دي.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ په دي آیت کښې تخویف اخروی ذکر کیږی چې دغه معاندین چې دالله ﷻ په دې آیتونو باندې ایمان نه راوړی، نو الله ﷻ دوئ ته هایمان توفیق نه ورکوی، او په آخرت کښې ورله سخت دردناك عذاب دي. ﴿ إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ ﴾ داجواب دي ددوئ دقول چې دوئ به ونیل نبی ته چې ته افتراء کونکې ئی په الله ﷻ باندې نو الله تعالی فرمائی چه اِفتراء کونکې هغه خوك وی چه ایمان نه راوړی په الله تعالی باندې، ﴿ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴾ داتصریح بعدالتعریض ده، په دې کښې دې ته اشاره ده چې دروغ ګوئی ددوئ عادت لازمه دې، اود دې وجې نه ذکر شو په جمله اسمیه سره چې هغه دلالت کوی په دوام ثبوت باندې، ﴿ مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ ﴾ په دې

---

١ - ثم لپاره د تعقیب دي، او دا ذکر د بیان د بشارت دي.

آیت کښې تخویف ذکر کیږی لپاره دنقض عهد کونکو په سبب د ارتداد سره، دا آیتونه نازل شوی دي په باره دَ عمار ابن یاسر رضی الله عنه کښې چه دې او دَ ده پلار او مُور حضرت سمیه رضی الله عنها کافرانو اونیول او ورته ئې اووئیل چه کلمه دَ کفر او وایئ ورنه مونږ مو قتلو، حضرت یاسر رضی الله عنه او سمیه رضی الله عنها انکار اوکړو نو کافرانو ظالمانو په ډیرې بې دردئ سره شهیدان کړل. عمار رضی الله عنه دَ مجبورئ نه ظاهرًا په ژبه کلمه دکفر اووئیله، هغوئ پریخودلو، نو ډیر سخت پریشانه شو او دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو ، ژړل ئې. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته په خپل څادر اوښکې پاکې کړې ، تپوس ئې ترینه اوکړو ، نو ده ورته خپله قصه اوکړه ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته او وئیل چه پدغه وخت کښې دې زړه څنګه وؤ. نو ده ورته اوئیل چه زړه م مطمئن وؤ په توحید او ایمان باندې ، نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته تسلی ورکړه چه (إن عادوا فعُد)، او دا آیتونه نازل شول.

ددې آیت په ترکیب کښې دمفسرینو ډیر اقوال مروی دیٰ خوډیر غوره قول په کښې دا دې چې (۱)

﴿ مَن كَفَرَ ﴾دا شرط دې اوجزاء ورله محذوفه ده چې هغه ((فعليهم غضب من الله)) ده، په حذف باندې دلالت د ((من شرح — الخ)) جزا کړې ده چې هغه مذکور ((فعليهم غضب)) ده (۲) اویا ((من كفر)) مبتداء ده، او ((عليهم)) ورله خبر محذوف دې،او د دې دواړو صورتونو په اعتبار سره ﴿إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ ﴾مستثنی متصله ده اومستثنی منه ورله مضمون دجزا اویا خبر مقدر دې. مقصد ئې دادې چې په کافر باندې به غضب دالله ﷻ وی خومګر هغه چا باندې غضب به نه وی چې هغه په زبردستئ سره په کلمه د کفر وئیلو باندې مجبور کړې شی،اواستثناء دمکره دکافر نه ((اګر چې دې کافر نه دې)) څکه اوشوه ، چې دایمان نه وروستو دده نه هغه شې ظاهر شوې دې چې هغه دغیر اکراه په صورت کښې صرف دکافر نه ظاهریږی، ((وانما صح الاستثناء المكره من الكافر مع انه ليس بكافر لأنه ظهر منه بعدالايمان مالا يظهر الا من الكافرلولاالاكراه)) (فتح) او ﴿وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ ﴾دا استدراك دې لپاره د دفع توهم چې د ماقبل استثناء نه پیدا کیږی، چې چا به وهم کولو چې په حالت داکراه کښې په ژبه باندې کلمه دکفر وئیل جائزدی اوکفر ورسره نه لازمیږی نو شاید چې په دې حالت کښې په زړه سره تصدیق علی الکفرباندې هم کفر نه لاومیږی، نوجواب ترینه اوشو چې په تصدیق علی الکفر سره کفر لازمیږی اوداسې خلقو باندې دالله ﷻ غضب وی، اولوئ عذاب ورله دې، (۳) اوداهم ممکنه ده چې ﴿ مَن كَفَرَ ﴾ دا ټوله جمله دې مبتداء شی، او ﴿فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ ﴾

دې ورله خبر شی. او ﴿إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ﴾ دې استثناء شی دمجموعې نه. مستثنی دې په منځ کښې راغلې وی لکه په قول دلبید کښې راغلې دی چې، (الا ما خلاالله باطل) او ﴿وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ﴾ دې استثناء نه پیدا شوی وهم نه استدراك وی، او جزاء د ((من شرح)) به ((فغیرٌ مستثنی من الحکم)) به شی. والله اعلم وعلمه اتم واحکم ﴿إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ﴾ مراد د اکراه نه دا دې چې دقتل کولو دباو پرې اوکړی. اویا دبعض اندام پرې کولو دباو پرې اوکړی. اوهغه دباو کونکې قدرت هم ددغه عمل لری، نوپه دې وخت کښې رخصت دادې چې ظاهراً په ژبه باندې دې کلمه دکفر اووائی لکه څنګه چې حضرت عمارؓ دوالدینو یعنی حضرت یاسرؓ او حضرت سمیهؓ دشهید کولو نه وروستو مجبوراً وئیلی وه. اوحضورﷺ ورله تسلی ورکړه، او وې فرمائیل چې ((ان عادوا فعد))، دا رخصت د رخصت حقیقی دټولو نه اکمله نوعه ده. اوعزیمت دادې چې په کلمه دکفر باندې دې تلفظ هم اونکړی، اوشهید دې شی، او دا په شهادتونو کښې بهترین شهادت دې، لکه څنګه چې انکار کړې وو حضرت یاسر ؓ حضرت سمیه اوحضرت خباب رضوان الله تعالی علیهم اجمعین ﴿وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ﴾ په دې کښې اشاره ده چې تصدیق قلبی جزء کامل دې دایمان لپاره، او په هیڅ حالت کښې هم نشی ساقط کیدې، ﴿شَرَحَ بِالْكُفْرِ﴾ مراد ترینه قبلول دکفردی بغیردشك او شبهې نه، ﴿فَعَلَيْهِمْ﴾ هرکله چې لفظ د (من) مفرد وو په اعتبار دلفظ سره او جمع وو په اعتبار دمعنی سره، نوځکه په کفر کښې ورته ضمیر د مفرد راجع شو، او دلته ورته ضمیر دجمع راجع شو، ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ﴾ په دې آیت کښې سبب دکفر بعد الایمان اویا سبب دوعید مذکور بیانیږی، چې یو ترجیح ورکول دی ژوند د دنیا ته په ژوند دآخرت باندې، اوبل دا چې دعناد دوجې نه هدایت هم ورته دالله ﷻ دطرف نه، نه ملاویږی، ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ﴾ په دې آیت کښې دماقبل اسبابو نتیجه ذکر کیږی، په دنیا کښې چې هغه مهر جباریت لګول دی ددوئ په قوی مدرکه باندې، ﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ﴾ یعنی کامل دی په غفلت کښې ﴿لَا جَرَمَ﴾ دا نتیجه دقبائحوپه آخرت کښې ذکر کیږی، چې په آخرت کښې به هم په کامله خساره کښې وی، ﴿ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ﴾ په دې آیت کښې بشارت ذکر کیږی دپاره دمهاجرینو او مجاهدینو او طریقه ذکر کیږی دپاره دبچ کیدو داکراه نه. (ثم) لپاره دتعقیب ذکر دې ، ﴿مِن بَعْدِ مَا فُتِنُوا﴾ مراد ترینه تعذیب دې په اسلام باندې لپاره

نوحضورﷺ دوئ دپاره بددعا اوکړه،((اللهم اجعلها عليهم سنين كسنى يوسف عليه السلام) (متفق عليه) نو سخت قحط پرې مسلط شو. چې مرداري اوزړې څرمنې اوهډوکي خوراك ئي شروع کړل. او د لوږې دوجې نه به ئې سترګو ته لوګې لوګې راتلل. نو بيا دحضورﷺ د دعا په برکت سره الله ﷻ دغه قحط ترينه اوچت کړو. او يا د ((قريه)) نه قريه د اولينو او سابقينو خلقو مراد ده. لکه قوم سبا وغيره شول. اويا ترينه قريه مفروضه مراد ده،او وجود دمثل په خارج کښ ضروري نه دې.

﴿ءَامِنَةً﴾ صفت اول د قرية دې ﴿مُّطْمَئِنَّةً﴾ صفت ثانى دې. ﴿يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا﴾ داجمله صفت ثالث دې لپاره د قرية . ﴿فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ﴾ (انعم) جمع قلت ده دنعمت، په دې کښ اشاره ده چې کفران دنعم قليله موجب دعذاب ګرځي، نو دکثيره کفران په طريقه اولى سره موجب دعذاب وى.

﴿فَأَذَاقَهَا اللَّهُ﴾ اذاقت اولباس دواړه استعارې مکنيى دى، د جوع اوخوف دهغوى نه، اذاقت استعاره ده داصابت موثره نه، ځکه چې هرکله چاته سخت تکليف اورسيږى نوعرب اثر دضرر مشابه کوى دطعم اوذائقى دتريخ شى سره، لکه چې وائى (ذاق فلان البوس والضرر) نودا د باب داستعارې دمعقول دې دمحسوس سره، اوهر کله چې جوع اوخوف په دوى باندې من كل الجهات احاطه کړې وه په شان دلباس اويا دهغې اثرات په خارج کښ په دوى باندې ظاهر شوى وو لکه څنګه چې لباس ظاهر وى، نوځکه دويمه استعاره دلباس اوشوله دجوع اودخوف نه، اويا دا چې ((اذاقة)) کنايه ده داصابت موثره نه اوپه ﴿لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ﴾ کښ اضافت دمشبه به شوې دې مشبه ته اوتشبيه مقلوب ده، نو په اصل کښ داسې دې چې په ((اصابهم الله الجوع والخوف كاللباس)) وجه دشبه احاطه ده، ﴿بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ﴾ مراد ترينه كفر دې په الله ﷻ او تكذيب دې دحضورﷺ، ﴿وَلَقَدْ جَاءَهُمْ﴾ په دې آيت کښ ذکر دهغه لوئ نعمت دې چې دهغې دکفران دوجې نه عذاب راغلې وو په اهل مکه باندې چې هغه ددوئ دجنس نه رسول راتلل دى . ﴿فَكَذَّبُوهُ﴾ تفسير دې ﴿فَكَفَرَتْ﴾ او ﴿فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ﴾ تفسير دې د ﴿فَأَذَاقَهَا اللَّهُ﴾.

﴿فَكُلُوا مِمَّا﴾ دا دسورة دويمه حصه ذکر کيږى اوپه دې کښ دشرك فعلى د دوو شقونو رد کيږى چې تحريمات لغيرالله اونذر لغيرالله دى، اودا متعلق دې د ((ضرب الله مثلا)) سره .او د هغې په نتيجې باندې مفرع دې، چې هر کله تاسو ته ددغې قريى حال ظاهر شو. چې هغوى دالله

دنعمتونو ناشکری کړي وه چې حلال ئې په ځان حرام کړی وو . او د پیغمبر تکذیب ئې کړې وو .او دهغې دوجې نه په هغوی باندې عذابونه نازل شوی وو، نو تاسو خپل ځانونه دکفران نعمت اودتکذیب درسول الله ﷺ نه بچ اوساتئ. او حلال څیزونه حلال اوګڼړئ. بحیرې اوسائبې مه جوړوئ، او حرام څیزونه حرام اوګڼړئ اوځان ترینه اوساتئ. ﴿حَلٰلًا طَيِّبًا﴾ دواړه حالین واقع شوی دی دمفعول مقدره نه چې ((رزقکم)) دې، ای فکلوا مما رزقکم الله حال کون رزقکم حلالا طیبا.

﴿وَاشْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ﴾ مراد ترینه رسالت دحضورﷺ اوهغه ټول نعمتونه ددنیا دی چې دکومو تذکره په دې سورة کښې شوې ده، او دهغې شکریه داده چې حلال اوګنړلې شی. ﴿إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾ دا بطور تنبیه دې چې کچرته تاسو په حقیقت کښې دالله فرمانبردار یئ او د هغه عبادت کوونکی یئ نودهغه دنعمتونو شکریه ادا کوئ، او ددې نه معلومه شوه چې دالله ﷻ د نعمتونو شکریه هم عبادت دې.

إِنَّمَا	حَرَّمَ	عَلَيْكُمُ	الْمَيْتَةَ	وَالدَّمَ	وَلَحْمَ	الْخِنْزِيرِ	وَمَا أُهِلَّ

بیشکه حرامه کړیده [1] الله په تاسو باندې مرداره او وینه او غوښه د خنزیر او هرهغه څیز چه آواز کړې شوې وی

لِغَيْرِ	اللّٰهِ	بِهِ	ۚ	فَمَنِ	اضْطُرَّ	غَيْرَ	بَاغٍ	وَّلَا عَادٍ

لپاره د نذر لغیر الله په هغې . پس هغه څوك چه مجبوره شی د دې خوراك ته، نه وو طلبګار د مزې اونه تجاوز کوونکې وو د حد نه

فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ

پس الله بخنه کوونکې . رحم کوونکې دې . اومه وایئ تاسو [2] په باره دهغې کښې چه بیانوی ئې ژبې ستاسو دروغ

هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ۗ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

چه دا حلال دې او دا حرام دې (عاقبت دا) چه تړئ تاسو په الله باندې دروغ. بیشکه هغه کسان [3] چه تړی په الله باندې دروغ

1- نفی د نذر لغیر الله .

2- تفریع په ماقبل باندې په طریق د لف نشر غیر مرتب .

3- تخویف اخروی .

لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿١١٦﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۡ وَّلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١١٧﴾

نشي بچ كيدلي (د عذاب نه) (دوئ لره) مزه لږه ده او دوئ لره عذاب دردناك دي

﴿اِنَّمَا حَرَّمَ﴾ په دې كښې رد دي په نذر لغيرالله باندې اوپه تحريم لغيرالله باندې چې سائبې اوبحيرې حرام نه دی بلكه حلال دی ،اوحرام څيزونه ميتة اوخنزير اوهغه شې چې په نوم دغيرالله سره نذر كړې شوی وی، او ددې آيت تفصيل په سورة بقره او په سورة مائده كښې په طريقه اتم سره شوې دې. ﴿وَلَا تَقُوْلُوْا﴾ په دې آيت كښې تفريع ذكر كيږی په ما قبل باندې په طريقې دلف نشر غير مرتبه سره پس د بيان دحكم دتحريم او نذر دغيرالله نه ، ﴿لِمَا تَصِفُ﴾ لام يا لام شانيه دې اوما موصوله ده،اوجمله ورله صله ده،اوعائد چې (فيه) دې له وجې دشهرت نه حذف كړې شوې دې.او ﴿اَلْكَذِبَ﴾ مفعول به دې،د ﴿وَلَا تَقُوْلُوْا﴾ دپاره (اى لا تقولوا فى شان الذى تصفه السنتكم الكذب من البهائم بالحل والحرمة)، (روح) او مراد د ﴿تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ﴾ نه مبالغه ده په كذب كښې چه قول ددوئ عين كذب او محض كذب دې لكه چې وئيلې كيږی وجهها يصف الجمال نومقصد نى دادې چې (هى جميلة) يا وئيلې كيږی عينها تصف السحر اى هى ساحرة ،او ﴿هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ﴾ بدل الكل دې د الكذب نه اويا لام تعليليه او اجليه دې، او ما مصدريه دې او الكذب مفعول به د (تصف) لپاره دې. او﴿هٰذَا حَلٰلٌ﴾ مقوله ده دقول له پاره، ((اى لاتقولوا هذا حلال وهذا حرام لاجل وصف السنتكم الكذب، (قرطبى) ﴿هٰذَا حَلٰلٌ﴾ مشار اليه د هذا دپاره ((ما اهل لغيرالله)) دې چې په (ما اهل لغير الله) باندې دحلال حكم لګول هم دروغ دی. نو دا په نذر لغيرالله باندې متفرع دې،او ﴿وَّهٰذَا حَرَامٌ﴾ مشار اليه د هذا لپاره ﴿مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ﴾ دې چې دې ته حرام وئيل دروغ دی ، دا په تحريمات دغير الله باندې متفرع دې ،﴿لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ﴾ هر كله چې په ماقبل جمله كښې بيان دنفس كذب وو ،اوافتراء اوكذب على الله صراحتا نه وو مذكور ددې وجې نه اعاده دهغې جملې سره ديوې فائدې زائدې اوشوه چې دخپل ځان نه تحليل اوتحريم كذب اوافتراء ده په الله ﷻ باندې، اولام په﴿لِّتَفْتَرُوْا﴾ كښې يا لام العاقبة دې لكه چې په ((ليكون لهم عدوا وحزنا) (القصص ٨) كښې لام العاقبة دې يعنى دخپل ځان نه تحليل اوتحريم انجام په الله ﷻ باندې افتراء ده. او يا لام

تعليليه دي چي معنی دغرض پکښ ملحوظ نه ده. او مقصد دادي چي کوم تحليل اوتحريم يعنی بحيره ،سائبه ، وصيله، حام وغيرذلك . چه تاسو د خپل خان نه جوړ کړی دی دا محض ستاسو کذب بياني ده او افتراء ده په الله باندې ځکه چه د تحليل او تحريم اختيار صرف الله سره دي ، ان التحليل والتحريم انما هو لله عزوجل وليس ان يقول اويصرح هذا في عين الاعيان الا ان يكون تعالى يخبر بذالك (قرطبي) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ﴾ دا تخويف اخروی ذکر کيږی چه کوم خلق د خپل خان نه تحليلات او تحريمات کوی نو په آخرت کښ به فلاح بيا نه مومی بلکه دردناك عذاب به وی ورله او حافظ ابن كثير رحمه الله فرمائی چه په دي تولو وعيدونو کښ هر هغه سړي هم داخل دي چه هغه بدعت کوی او محض د خپلي رائی او ياد نفسانی خواهش د وجي نه د الله حرام کړی څيزونو ته حلال او يا حلال کړی څيزونه ته حرام وائی.((ويدخل في هذا كل من ابتداع بدعة ليس له فيها مستند شرعي)) (ابن كثير ج ٢ ص٥٩٠) نو معلومه شوه چه بدعت کول افتراء ده. په الله باندې ,اعاذناالله› ﴿مَتَٰعٞ قَلِيلٞ﴾ دا هم تخويف اُخروی دي ، چه په افتراء سره کوم منفعت دنيوی تاسو حاصلوئ نو هغه ډير کم دي او د دنيا مزي به زر ختمي شی او عذاب د آخرت ډير درد ناك دي . او «متاع قليل» جمله مستانفه ده چه واقع شويده په سوال د سائل کښ گويا چه سائل به سوال کولو چه څنگه دهغوئ دپاره فلاح نيشته دي . حالانکه دوئ ته ډير لوئ لوئ نعمتونه ورکړي شوی دی . نو جواب ترينه اوشو چه (متاع قليل) چه د دنيا مزي لږي دی ختميږی . او «متاع قليل» موصوف صفت يا خبر دي د مبتدا محذوفي دپاره چه «متاعهم» دي . او يا دا نکره مخصصه مبتدا ده. او خبر ئی محذوف دي چه «لهم» دي

وَعَلَى	ٱلَّذِينَ	هَادُواْ	حَرَّمۡنَا	مَا	قَصَصۡنَا	عَلَيۡكَ
او په هغه کسانو [1] باندې چه يهوديان دی حرام کړی وو مونږ هغه څيزونه چه بيان کړيدی مونږ په تا باندې						
مِن قَبۡلُ	ۖ وَمَا	ظَلَمۡنَٰهُمۡ	وَلَٰكِن	كَانُوٓاْ	أَنفُسَهُمۡ	يَظۡلِمُونَ ١١٨
مخکښ د دينه او ظلم نه وو کړي مونږ پدوئ باندې، ليکن وو دوئ چه په خپلو خانونو باندې ئی ظلم کولو						

[1] جواب د سوال مقدر

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

بيا بيشكه رب ستا [1] هغه كسانو لره چه كړي بد (گناه) كارونه په ناپوهئ سره بيا توبه اوباسي وروستو د دينه (دغه عمل نه)

وَ اَصْلَحُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٩﴾

او سم كړي خپل عملونه بيشكه رب ستا وروستو د هغې (توبې) نه خامخا بخښونكې مهربانه دې

﴿ وَعَلَى الَّذِيْنَ ﴾ په دې آيت كښې جواب دې د سوال مقدره، هر كله چه بحيره سائبه وصيله او حام وغيره حلال دی نو په يهوديانو باندې ولې حرام وو، ځكه چه په يهوديانو باندې داوښ غوښه حرام وه، نو دا مذكور اشياهم اوښان دی نو جواب ترينه اوشو چه دا څيزونه په اصل كښې حلال وو. خو صرف په يهوديانو باندې بطور سزا د هغوئ د سركشئ دوجه نه حرام كړې شوی وو ، او ﴿ وَعَلَى الَّذِيْنَ ﴾ جار مجرور متعلق دې په (حرمنا) پورې نو د معمول تقديم په عامل باندې راغلې دې دپاره د حصر نو په دې كښې اشاره ده ، ديته چه اصل په څيزونو كښې حلت دې او تحريم ئې صرف او صرف دپاره د يهوديانو دې بطور سزا ، ﴿ مَاقَصَصْنَا ﴾ په دې كښې اشاره ده د سورة الانعام آيت نمبر (١٤٦) ﴿ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِىْ ظُفُرٍ ﴾ ته ، ﴿ وَمَاظَلَمْنٰهُمْ ﴾ يعنى په دې تحريم كښې په دوئ باندې مونږ څه قسم ظلم نه دې كړې . بلكه دا د دوئ د گناهونو نتيجه وه، ﴿ ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ ﴾ په دې كښې ترغيب الى التوبه او بشارت ذكر كيږی دپاره دتوبې كوونكو ، او ((ثُمَّ)) دپار ه د تعقيب ذكر دې، او دا متعلق دې په ((ضرب الله مثلاً)) پورې چه مشركينو د الله د نعمتونو نه انكار اوكړو او عذاب راغې خو د الله تعالى احسان وو چه بالكليه ئې هلاك نكړل اوكه بيا هم دوئ توبه اوباسي او دخپلو عملونو اصلاح اوكړی نو الله به ورته مغفرت اوكړی ﴿ عَمِلُوْا السُّوْٓءَ ﴾ الف لام جنسى دې او د ((السوء)) نه مراد هر قسم گناه ده، ﴿ بِجَهَالَةٍ ﴾ (باء) په جهالة كښې يا سببيه ده او مقصد دادې چه د دوئ جهالت سبب وی دپاره د دغې بد عمل كولو ، اوجهالت نه مراد په دې ځائ كښې هغه مشهوره او متعارفه معنى بين العوام نه ده چه هغه ضد د علم دې ، او نه ترې نه مصطلحه بين العلماء معنى مراد ده چه هغه قسم د علم تصديقى دې، چه جهل وئيلې كيږی اعتقاد جازمه ثابته غير مطابق

---

١ . بشارت. (ثم) لپاره د تعقيب ذكرى.

للواقع نه بلکه د جهالت نه مراد په دې خائ کښې (ارتکاب مالا یلیق بالعاقل وان کان مع العلم والعمد) معنی مراد ده ، او هم دا معنی مراد ده په هغه حدیث کښې چه حضور ﷺ پناه غوختلې ده چه ، ((اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوْذُبِكَ مِنَ اَنْ اَجْهَلَ او یُجهلَ عَلَیَّ)) لکه غیرت جاهلیت چه حامل دې د قتل دپاره . اویا جهالت نه مشهوره او متعارفه معنی مراد ده چه هغه ضد د علم دې ، او باء دپاره د ملابست ده، او جار مجرور حال واقع شوي دې په اعتبار د متعلق مقدر سره ((اي حال کونهم متلبسین بجهالة غیر عارفین باالله تعالی وعقابه)) (روح) یعنی د انجام د دې ګناهونو نه خبر نه دی «نا عاقبت اندیش دې» له وجې د غلبې د شهوت نه. اویا د دنیا د حرص او لالچ نه . ﴿ثُمَّ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ﴾ د «ثم» دلالت اګر چه په «بعد ذالك» باندې دې ، خو صراحتا ذکر د «بعد ذالك» دپاره د تاکید او مبالغې دې . او ﴿وَأَصْلَحُوا﴾ یعنی ګناهونه او شرك ئې ترك کړو او په توبې باندې ئې استقامت اوکړو ((اي اقلعو عما کانو فیه من المعاصی واقبلو علی فعل الطاعات (ابن کثیر) الاستقامة علی التوبة)) (روح) ﴿مِنْ بَعْدِهَا﴾ غوره توجیه داده چه «ها» ضمیر په تاویل د خصلة سره توبې او اصلاح ته راجع دې او په دې کښې اشاره ده چه عمل صالح د مکملاتو د توبې نه دې، اوپه دې سره رحمت او مغفرت دواړه حاصلیږی .

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾
بیشکه ابراهیم وو (۱) کامل پیشوا تابعداری کوونکې خاص الله لره یوخ موحد وو اونه وو دې د مشرکانو د جماعت نه
شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ۚ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾
شکر کوونکې وو د نعمتونو د الله لره غوره کړې وو ده لره «الله» او هدایت ئې کړې وو د ده . لارې نیغې ته
وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَا
او ورکړي وو مونږ ده ته په دنیا کښې ژوند خائسته. او بیشکه دې په آخرت کښې خامخا د صالحینو نه دې. بیا وحی اوکړه مونږ (۲)

۱ - خاتمه. دلیل نقلی له ابراهیم علیه السلام نه په دواړو مضمونونو باندې .
۲ - دلیل وحیی لپاره د نفی د شرك اعتقادی او فعلی .

إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۞

تاته د دې خبرې چه ته تابعداری کوه د ملت د ابراهیم چه پوخ موحد وو او نه وؤ دې د مشرکانو

﴿ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً ﴾ د دې ځای نه خاتمه دسورة شروع کیږي، دټولو نه اول په نفی د شرك باندې دلیل نقلی ذکر کیږي د ابراهیم ﷺ نه . او تخصیص د ابراهیم ﷺ د دې وجې نه اوشو چه دې د مشرکین مکه او د یهودو ، نصارئ د ټولو نیکه وو، او هر یو فریق به دعوی د هغه د اتباع کوله او خپل پیشوا به ئې منلو ، نو په ذکر د ابراهیم ﷺ سره ، په دوئ ټولو باندې رد راغې چه د کوم شخص تاسو اتباع کوئ او هغه د خپل ځان دپاره پیشوا ګڼړئ ، نو هغه خو د شرك ، یهودیت او نصرانیت نه بیزاره او دین اسلام طرفته مائله وو. ﴿كَانَ أُمَّةً﴾ دا پنځه اوصاف د ابراهیم ﷺ ذکر کیږي. (امة) د (فُعْلَة) په وزن په معنی دمفعول (ماموما) سره دې . او تا دپاره د مبالغې ده. لکه دخلة او نخبة نو معنی ئې داده چه ټولو نه لوئ پیشوا وؤ. یا اُمة په معنی د جماعت سره دې . او ابراهیم ﷺ ته امة په دې اعتبارسره اوئیلو شو چه د هغه په ذات مبارکه کښې یواځې د پوره امة والا صفات حسنه او خیر موجود وو. معنی دا چه جامع دخیر کثیر وو. اویا د امة مقصد دادې چه په شانتې د امة وو. یا په خپل دور کښې یواځې مؤمن وو. او په ایمان باندې داسې مضبوط وو لکه پوره امة چه څومره مضبوط وی. ﴿قَانِتًا﴾ دا دویم صفت دې چه مطیع او ډیر فرمانبردار وو د الله ﷻ ﴿حَنِيفًا﴾ دا دریم صفت دې چه د هر باطل دین نه حق دین ته مائل وو. چا ئې ترجمه کړې ده چه مورزاده موحد وو . ﴿وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ دا څلورم صفت دې چه هیڅ قسم شرك کونکې نه وو. نه په اصولوکښې او نه په فروعو کښې د شرك فی التصرف او د شرك فعلی دواړو نه بیزاره وو.

﴿ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ﴾ دا پنځم صفت دې د ابراهیم ﷺ چه د الله د نعمتونو قدر کونکې وو. ستاسو پشانتې ناشکری او نافرمانی کونکې نه وو. او (انعم) جمع قلت ده، په دې کښې اشاره ده دې خبرې ته چه د حضرت ابراهیم ﷺ د الله ﷻ د قلیل نعمتونو ناشکری کونکې نه وو. نو د ډیرو نعمتونو په طریق اولی سره نه وو. او ستاسو حال دادې چه د قلیل شکریه هم نه ادا کوئ لکه چه په تیر شوی آیت کښې ذکر وو. (فکفرت بانعم الله) هلته هم جمع قلت ذکر وه. ﴿اجْتَبَاهُ﴾ دا څلور احوال ذکر کیږي د حضرت ابراهیم ﷺ چه غوره کړو الله دپاره د نبوت (اجتبی) باب افتعال دې په اصل کښې اوبو جمع کولو ته وائی . جابیه حوض ته وئیلې کیږي. او اطلاق د دې په تخصیص د الله باندې

کیږی چه خپل یو بنده په فیض سره خاص کړی لکه انبیاء کرام ئی په نبوت سره خاص کړی دی. صحابه کرام ئی په صحابیت سره خاص کړی دی. او مونږه ئی خاص کړی یو په امة محمدیه ﷺ سره. چه په دې کښې د چاد کسب دخل نشته (۲) ﴿وَهَدَىٰهُ﴾ دتوحید لاره مو ورته ښودلې وه. او یا توحیدطرف ته ددعوت طریقه مونږ ورته ښودلې وه. (۳) ﴿وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً﴾ مراد ترینه لویه مرتبه ده، او ذکر خیر دې . چه د ده نه روستو د ده په نسل کښې ټول انبیاء کرام راغلیدی. او ددنیا هر قوم ئی خپل پیشوا منلو باندې فخر کوی (۴) ﴿وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ﴾ په آخرت کښې هم د صالحینُ په اعلی طبقه کښې به شامل وی. چه هغه طبقه د انبیاء کرامو ده. ﴿ثُمَّ أَوْحَيْنَآ﴾ دا د لیل وحیی دې په نفی د دواړو قسمونو د شرك باندې چه ابراهیم ﷺ د شرك نه بیزاره او دین حنیف ته مائله وو. او تاته مونږ ددین حنیف د اتباع وحی کړې ده، (ثم) دپاره د تراخی رتبی دې په دې کښې دحضور ﷺ عظمت شان ته اشاره ده ځکه چه ثم دپاره د تراخی د معطوف رازی په زمانه کښې خو بیا ئی استعمال په تراخی د علو مرتبی د معطوف کښې هم کیږی چه دا معطوف د معطوف علیه نه په مرتبه کښې اعلی دې ، نوګویا چې الله ﷻ دابراهیم ﷺ مناقب ذکر کولو نه وروستودې ته اشاره اوکړه چې ددې نه هم لوئ منقبت اود ارفع درجاتو والاهغه خاتم الرسل سید البشر ﷺ دې، ددې وجې نه ابن کثیر ددې ترجمه په دې الفاظو سره کوی «ای ومن کمله وعظمته وصحة توحیده وطریقه انا اوحینا الیك یا خاتم الرسل وسیدالانبیاء ﷺ» (ابن کثیر) ﴿أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ﴾: (ان) تفسیریه دې چې د «اوحینا» تفسیر کوی اویا مصدریه دې اومراد د اتباع دملت ابراهیمی په اعلان دبرائت کښې دې دمعبودان باطلو نه .اوپه اختیارولو ددین اسلام سره دې، امام رازی رحمه الله فرمائی مراد په متابعت سره په کیفیت ددعوت کښې دې چې دابراهیم ﷺ دعوت په نرمی سره اوپه دلائلو سره وو. لکه څنګه چې وروستو آیت کښې دهغې ذکر دې ﴿وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ﴾ تقریرا اوتاکیدا اوئیلې شو.

إِنَّمَا	جُعِلَ	ٱلسَّبْتُ	عَلَى	ٱلَّذِينَ	ٱخْتَلَفُوا۟	فِيهِ	ط

بیشکه مقرر شوې دې [1] «تعظیم» د ورځې د خالی «هفتې» په هغه کسانو چه اختلاف ئی کړې وو په دې کښې «په ورځې د تعظیم کښې»

[1] جواب د سوا مقدر

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيمَا كَانُوا

او بیشکه رب ستا خامخا به فیصله اوکړي په مینځ د دوئ کښې په ورځ د قیامت په هغه څه کښې چه وو دوئ

فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾ اُدْعُ إِلٰى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ

په هغې کښې به ئې اختلاف کولو دعوت ورکوه ته لارې [1] د رب خپل ته په حکمت (کلکې طریقې) سره او به وعظ ښائسته سره

وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ

او جواب ورکوه د دوئ د خبرو په هغه طریقه سره چه هغه ډیره ښه وی . بیشکه رب ستا هغه ښه پوهه دې

بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

په هغه چا چه ګمراه شوې وی د لارې د هغه نه او هغه ښه پوهه دې په هدایت والو باندې

﴿ إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ ﴾ په دې آیت کښې دیو سوال جواب ذکر کیږی چې مشرکینو به وئیل کچرته نه دملت ابراهیمیه اتباع کونکې وې نو پکار وه چې تا دجمعې د ورځې په ځائ دخالی دورځې تعظیم کولې ځکه چې د ابراهیم ﷺ په دین کښې دخالی ورځې تعظیم ضروری وو نه دجمعې دورځې، نو جواب ترینه اوشوچې دخالی د ورځې تعظیم په ملت ابراهیمی کښې ضروری نه وو لکه څنګه چې په دې ملت کښې ضروری نه دې بلکه په دین ابراهیمی کښې دجمعې دورځې تعظیم ضروری وو لکه څنګه چې په دې دین محمدی کښې دې، او دخالی دورځې تعظیم په یهودیانو باندې ضروری کړې شوې وو له وجې داختلاف نه دحضرت موسی ﷺ سره، ګنې حضرت موسی ﷺ هم دجمعې دورځې تعظیم کولو ﴿ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ ﴾ مراد ترینه یهودیان دی چې اختلاف ئې کړې وو دحضرت موسی ﷺ سره په اختیارولو دجمعې د ورځې دپاره دعبادت، په صحیح حدیث دبخاری او مسلم کښې دحضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چې فرمائی قال رسول الله ﷺ نحن الاخرون السابقون یوم القیمة بید انهم اوتو الکتاب من قبلنا ، ثم هذا یومهم الذي فرض علیهم فاختلفو فیه فهدانا الله له فالناس لنا فیه تبع الیهود غدا والنصاری بعد غد ، (بخاری کتاب الجمعة ص ۱۲۰) او په دې کښې د محدثینو اومفسرینو رایه مختلفې دی . چه دوئ دا اختلاف کله

[1] . د دعوت اوتعلیم د طریقې ذکر

کړي وو. آيا دوئ ته صراحتا د جمعې د ورځې تعظيم حکم ورکړې شوې وو. او دوئ د هغې حکم دمنلو نه انکار اوکړو او د خالی ورځ ئې خوخه کړه او يا دوئ نه رايه غوښتلې شوې وه او دوئ په رائې کښې خطا شوی وو. زيانه غوره خبره داده چه دوئ ته اختيار ورکړې شوې وو خو سره د دې نه چه الله ورته خپله رضا په ورځې د جمعې سره ظاهره کړه خو دوئ خپله مرضى د الله په مرضى باندې غالبه کړه او ځان له ئې د خالی ورځ خوخه کړه. او د موسى ﷺ سره ئې اختلاف اوکړو او بيا همدغه شان اختيار سره د اظهار د خپلې مرضى الله ﷻ نصرٰی ته هم ورکړو. نو هغوی د يهوديانو په ضد ځان دپاره د اتوار ورځ غوره کړه. او خپله مرضى ئې د الله په مرضى غالبه کړه. او د عيسى ﷺ سره ئې اختلاف اوکړو او بيا همدغه شان اختيار مسلمانانو له ورکړې شو او مسلمانو د الله مرضى غوره کړه او د ځان دپاره ئې د جمعې ورځ غوره کړه. او دغه انتخاب مبارك ته په حديث کښې الفاظ استعمال شوی دی چه فهدانا الله له ،﴿لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ يعني الله ﷻ به فيصله اوکړی په بدلې ورکولو سره چه دوئ ته به د دوئ د اختلاف بدله ورکړی

﴿ ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ ﴾ په دې آياتونو کښې طريقه د دعوت او تبليغ او تعليم ذکر کيږی دتوحيد پس د دلايلو نه چه په نفی د شرك باندې وو، او مراد د (سبيل ربك) نه توحيد او عقائد د دين اسلام دي . ﴿بِالْحِكْمَةِ﴾ دا بيان دې د طريقې د دعوت نو په دې آيت کښې درې طريقې د دعوت ذکر کيږی . اول طريقه حکمت ده، مراد د حکمت نه دلائل قطعيه دی، چه هغه قرآن او حديث دې . او دويمه طريقه ﴿وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾ چه مراد ترينه بشارتونه او انعامات دی او تخويفونه اوزجرونه دی. او دريمه طريقه و﴿ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ ده ، خصم او منکر ته جواب ورکول دی. د هغه د اعتراضونو او بعض علماء فرمائی چه دې نه مراد درې صناعات دی، د صناعاتو خمسو نه چه برهان دې ، جدل دې . او خطابت دې . نو مراد په بالحکمت سره برهان دې . برهان هغه دليل ته وائی چه مرکب وی د مقدماتو يقينيو نه ، عقلی وی او که نقلی وی او دې نه تعبير په حکمت سره ځکه اوشو چه حکمت په معنی د اتقان العلم والعمل سره دې او برهان په ټولو صناعاتو کښې مضبوط او اعلی دې، دا شامل دې قران ته هم اوحديثو ته هم . او چاچه داوئيلی دی. چه اقوال د انبياؤ او احاديث د رسول الله ﷺ د قياس خطابی نه دی نو دا قو ل غلط دې. ځکه صاحب د سلم العلوم تصريح کړې ده ((ومن عد الماخوذات من الانبياء ﷺ من الخطابة قد غلط)) او مراد په ﴿وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾ سره خطابة دې ، ځکه چه خطابة هغه قياس ته وئيلې کيږی چه مرکب وی د

مقدماتو مقبوله نه . او يا مركب وي د مقدمات مظنونه. نه چه په سبب د رجحان د عقل سره په هغه حكم اوكړي شي لكه حدثيات . تجربيات . او هغه متواترات چه نه وي رسيدلي حد د جزم ته. او غرض په دې سره تحصيل د حكم نافعه وي . اومراد په ﴿وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي﴾ سره قياس جدلي دې. خكه چه جدل هغه قياس ته وئيلې كيږي چه مركب وي د مقدمات مشهوره نه او يا د مقدمات مسلمه بين المتخاصمين نه اوعرض ترينه الزام الخصم وي. او قياس شعري اوقياس سفسطي چه مفيد د حكم دپاره نه دې او دليل شرعي نشي جوړيدې نو خكه ذكرنه شو. امام رازي رحمه الله فرماني چه كله هم يو داعي دين طرفته دعوت وركوي نو ضروري ده چه د هغه دعوت مبني وي په حجت باندې او مقصود د مستدل په خپل دليل سره يا تقرير د اعتقاد د دغه دين وي د اوريدونكو په زړونو كښې اويا چپ كول د خصم وي كچرته مقصود تقرير د اعتقاد وي نو دا بيا خالي نه وي دا حجت به يا يقيني قطعي وي په دې شان چه احتمال د نقيض به نه لري ، او يا به دظن ظاهر او اقناع كامل فائده كوي. قسم اول چه هغه مفيد دې د عقائديقينيه دپاره، هغې ته حكمت وئيلې كيږي . قسم ثاني چه هغه دلائل اقناعيه وي. هغې ته موعظه حسنه وئيلې كيږي . او هر كله چه جدل په دوه قسمه وو يو هغه وو چه مركب وو د مقدمات مسلمه مشهوره نه ، دويم قسم هغه دې چه مركب وي د مركبات فاسده باطله نه . خو مستدل ئې په حيلو باطلو او په طرق فاسدو سره د اوريدونكو په زړه كښې رائج كړي . او كينوي ئې، قسم اول د جدل نه هغه دې چه هغه په طريقې احسن دې ، او لائق دې د اهل فضل سره . نو د دې وجې نه جدل مقيد شو په قيد د ﴿بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ﴾ سره ، او هر كله چه خلق په اعتبار د مراتبو د ذهن سره په دري قسمه دي خيني هغه خلق دي چه هغه كاملين دي. قوي الاستعداد دي. او علم يقيني حاصلونكي دي چه علماء دي نو دغه شان خلقو ته دعوت په حكمت سره وركولې كيږي دويم قسم هغه خلق دي چه دهغوي اذهان قاصر دي، او تعلق ئې د محسوساتو سره زيات وي. ليكن معاندين نه وي نو دغه شان خلقو ته به دعوت په «الموعظة الحسنة» په قياس خطابي سره وركولې كيږي . او دريم قسم هغه خلق دي چه هغه مجادلين دي دپاره دباطل او عقائد باطله ئې په زړونو كښې راسخ وي. نو هغوي دپاره طريقه د دعوت په ﴿وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي﴾ سره ذكر شوه، امام رازي رحمه الله فرمائي چه اول دوه طريقي حكمت او موعظة الحسنه د اصولو د دعوت نه دي ليكن «وجادلهم» د اصولو ددعوت نه ندې بلكه مقصود په دې سره الزام او افهام د خصم دې . او ذكر ئې د دې دپاره اوشو . كه چرته څوك تاسو سره په دين كښې مناظره كول غواړي نو مناظره ورسره اوكړئ په احسن طريقې سره. او ددې وجې نه چه دا د اصولو د

دعوت نه ندي نو په دې قسم ثالث کښې تغير په اصلوب د کلام کښې هم راغې کچرته دا د اصول د دعوت وې نو بيا به داسې وئيلې شوى وو ((والمجادلة الحسنة)) او دلته خو ﴿وَجَٰدِلۡهُم﴾ وه وئيلې شو نو معلومه شوه چه دا قسم ثالث د اصولو د دعوت نه ندې. اگر چه بعض علماء فرمائی چه دا هم د اصولو د دعوت نه دې په شان د قسمين اولينو او هر کله چه دا صورت مکې دې نو د ځلورمې طريقې ذکر چه هغه جهاد دې نو هغه دلته اونه شو. قرطبي فرمائي ((فهی محكمة في جهة العصاة من الموحدين ومنسوخة بالقتال في حق الكافرين)) (قرطبي) ليکن د جمهور علماؤ رايه داده چه دا آيت محکم دې . (والله اعلم بالصواب) ﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ﴾ په دې کښې اشاره ده عدم مکلف کيدو د انسان ته په نتيجې باندې چه ستاسو کار صرف دعوت ورکول دی . او د نتيجې يعنې د چا په ايمان راوړلو مکلف نه يئ .

وَإِنۡ عَاقَبۡتُمۡ فَعَاقِبُواْ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبۡتُم بِهِۦۖ وَلَئِن صَبَرۡتُمۡ
او کچرته بدله اخلئ تاسو نو پس بدله واخلئ په اندازې دهغې چه تکليف درکړې شوې دې تاسو ته په هغې سره او که صبر اوکړو تاسو
لَهُوَ خَيۡرٞ لِّلصَّٰبِرِينَ ۝ وَٱصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ
نو دا (صبر) ډير ښه دې لپاره د صبر کوونکو او صبرکوه ته [1] او ندې صبر ستا مګر په توفيق د الله سره دې
وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُ فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ۝ إِنَّ ٱللَّهَ
او مه غمژن کيږه [2] په دوئ باندې او مه کيږه په تنګسيا کښې [3] دهغې نه چه دوئ چلونه جوړه وی بيشکه الله
مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ۝
ملګرې دې [4] دهغه کسانو چه تقوى لرى او دهغه کسانو چه (ښائسته کارونه) نيکى کوونکى وى

﴿وَإِنۡ عَاقَبۡتُمۡ﴾ په دې کښې اشاره ده مصائبو د دعوت ته. په نزد د اکثر مفسرينو دا آياتونه

١ - اوله تسلى حضور صلى الله عليه وسلم ته .

٢ - دويمه تسلى

٣ - دريمه تسلى

٤ - بشارت سره له شرائطو نه .

مدنی دی. اگر چه باقی نور ټول سورت مکی دي بلکه قرطبی فرمائی ((اطبق جمهور اهل التفسیر ان هذه الایة مدنیة)) ، او دا نازل شوي وو په هغه وخت کښ چه کله په جنګ احد کښ کفارو د حضرت حمزه ﷺ مثله اوکړه ، او ډیر ظلم ئی ورسره کړي وو ، نو چه کله حضور ﷺ د هغه حالت اوکتلو نو وې فرمایل چه ((رحمة الله علیك فانی ما علمتك الا فعالا للخیرات وصولاً للرحم ولولا حزن من بعدك علیك لسرنی ان ادعك حتی تحشر من افواج شتی اما والله لان ظفرنی الله بهم لامثلن بسبعین منهم مکانك)) (فتح الباری ج ۷) او دغه شان ځینې مسلمانانو چه هم خپل شهیدان اوکتل چه د هغې ټولو مثله کړې شوې وه، سوا د حضرت حنظله بن راهب نه چه د هغه مثله نوه کړې شوې . نو مسلمانانو اوئیل چه که چرته مونږ ته په دوئ باندې غلبه حاصله شی. نو مونږ به هم د دوئ داسې مثله اوکړو چه هغه به چاهم په عربو کښ نه وی کړی ((لنمثلن بهم مثلة لم یفعلها احد من العرب باحد)) ، نو دا آیتونه نازل شو نو حضور ﷺ او صحابه کرام د خپلې هغه ارادې نه منع شول. نو په دې بنا دا آیت مدنی دې . او په نزد د بعضو مفسرینو دا آیت هم مکی دې، او د دې آیت تعلق دمثلې دحضرت حمزه ﷺ سره نشته بلکه په دې آیت کښ مصائبو او تکالیفوته اشاره ده، چه هغه د دعوت په سلسله کښ داعی ته پیش کیږی ، ځکه چه ځینې کسان چه هغوئ په خپلې باطلې عقیدې باندې ، ډیر مضبوط وی، کله د داعی دقتل کولو کوشش اوکړی، کله ئی اووهی او کله ورته سپکې سپورې اوائی ، نو په دې آیت کښ الله ﷻ داعې ته دهغه په باره کښ تعلیم ورکړو چه یا خو کچرته بدله اخلئ نو په مثل سره یې واخلئ او که صبر مو اوکړو نو دا ډیره غوره ده، او دې توجیه ته زیات او غوره وئیلي دی امام رازی رحمه الله.

﴿ وَإِنۡ عَاقَبۡتُمۡ ﴾ په فعل د کفارو باندې د عقاب اطلاع صرف مشاکلة دې. لکه څنګه چه په سبب باندې کله کله د اسم د مسبب اطلاق اوشی لکه چه وئیلې کیږی، ((کما تدین تدان)) په لفظ د «ان» کښ اشاره ده چه انتقام نه اغستل ډیر بهتر دی ځکه استعمال د «ان» په هغه موضع کښ کیږی چه وقوع د فعل بالجزم او یقینی نه وی، لکه طبیب او ډاکټر مریض ته وائی چه ((ان کنت تاکل فاکهة فکل التفاح)) مطلب ئی دا نوی چه خامخا منړه اوخوره بلکه مقصد ئی دادې چه خوراك اولی نه دې او که خامخا خورې نو بیا منړه اوخوره. نو د دې وجې نه ثانیا الله ﷻ تعریض نه انتقال اوکړ و تصریح ته، او وې فرمایل ﴿ وَلَئِن صَبَرۡتُمۡ ﴾ خو مُصَدّر ئی کړو په «ان» سره، په دریم ځل ئی په امر بالجزم سره ذکر کړو چه ﴿ وَٱصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ ﴾ او په ﴿ بِمِثۡلِ ﴾ سره اشاره ده دیته چه

په بدله اغستلو کښې مماثلت ضروری دې، برابره خبره ده چه هر قسم بدله اخستل وی. ددې وجې نه احناف فرمائی . چه قتل په داسې آلې سره چه په هغې کښې مماثلت نشی راتلې لکه قتل به کاڼړی سره وغیره شو چه په دې کښې مماثلت په اعتبار د شدت او ضعف ندې ممکن نو په دې کښې به قصاص بالسیف جاری کیږی، (والتفصیل فی الفقه) ﴿لَهُوَ خَيْرٌ﴾ ضمیر د «هو» راجع دې صبر ته چه هغه مدلو دې د «صبرتم»

﴿وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ﴾ په دې آخری آیتونو کښې درې تسلۍ حضور ﷺ ته ذکر کیږی اوله تسلی دا ذکر کیږی چه ددوئ دطرف نه چه کوم تکالیف تاته رسیږی نو په هغې صبر کوه او هر کله چه صبر په داسې موقع کښې په نفس باندې ډیر شاق وی نو ځکه ورپسې اوئیلې شو ﴿وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ﴾ اې بتوفیق الله تعالی ومعونته، (رازی ،) دویمه تسلی ذکر کیږی په ﴿وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ﴾ سره ،او مراد ترینه اظهار د غم او افسوس دې ، په داسې طریقې سره چه د نورو کارونو نه غافل شې، او دریمه تسلی ذکر کیږی په ﴿وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا﴾ په دې کلام کښې استعاره ده چه ضیق ئې مشابه کړې دې د شئ محیط «به» سره لکه قمیص وغیره شو، مقصد ئې دادې چه د دوئ د مکرونو د وجې نه خپل کار مه پریږده بلکه استقامت اختیار کړه، الله ﷻ به دې نصرت کوی، ﴿إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ﴾ په دې کښې بشارت سره د شرائطو ذکر کیږی دپاره دداعی چه هغه دوه څیزونه دی : یو تقوا او دویم اخلاص او مراد د معیت سره امداد دائمی او رحمت اوفضل دې په دارینو کښې او بیچ کو ل دی د خو ف او حزن نه په دنیا او آخر ت کښې او مراد په تقوی سره عقیده د توحید ده، او د شرك نه ځان بیچ ساتل دی

﴿وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ﴾ د محسنون نه مراد عمل کونکی دی د طاعاتو او حقیقت د احسان وئیلې کیږی عمل کولو ته په وجه لائقې سره ((وحقیقة الاحسان بالاعما ل علی وجه الائق)) (روح) اودې ته په حدیث جبرئیل کښې اشاره شویده، ((ان تعبد الله کانك تراه)) او امام رازی فرمائی چه په دې آیت کښې اشاره ده عمل کولو ته په پوره دین باندې ځکه چه د پوره دین خلاصه دوه جملې دی . (۱) التعظیم لامرالله ، (۲) والشفقة علی خلق الله ، نو په ﴿ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا﴾ سره اشاره د ((التعظیم لامرالله)) ته چه په دې کښې عقائد ، اعمال وغیره ټو ل داخل دی ، د دې وجې نه علامه آلوسی رحمه الله فرمائی چه مراد په تقوی سره اعلی مرتبه د تقوی ده، ((المراد بها هنا اعلی مراتبها اعنی التنزه عن کل

ما يشغل السر عن الحق سبحانه والتبتل اليه تعالى بالكليه)) (روح) او په ﴿وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ﴾ سره اشاره شفقت على خلق الله ته ده نو ګويا چه د سورة په آخر کښې په مکمل دين باندې د عمل کولو حکم اوشو . او هر کله چه انسان په پوره دين باندې عمل اوکړې نو د الله وعده دمعيت او امداد او نصرت ورسره وى. او دغه شان د سورة په ابتدا کښې کفار منع کړې شوى وو د جلدئ ګولو نه عذ اب نه. او د سورة په انتها کښې مسلمانانو ته د صبر. تقوى او احسان تعليم ورکړې شو چه په دې سره به د الله نصرت راشى نو اسلام او مسلمانان به غالب شى او کفر ا و کافر به مغلوب شى او ذليل به شى

فايده حرم بن حبان نه د مرګ په وخت کښې اوئيلې شو چه مونږ ته وصيت اوکړه نو هغه اوفرمايل چه زما دپاره مال نشته چه دهغې وصيت اوکړم تاسو ته، ليکن زه وصيت کوم په آخرى آيتو نو د سورة النحل سره «قرطبى او کبير» .

تم تفسير سورة النحل بحمدالله ومنته وقد فرعت منه يوم الجمعة بعد صلوة المغرب بسبعة عشر من ذى قعدة سنه : ١٤٣٠هجرى عند اوان التدريس باربعة عشر كتبًا : من الصحاح الستة موطأ لامام مالك وكتاب الآثار وجلالين وهداية وشرح العقائد وسلم العلوم ونور الانوار مع قصور فهمى وقلة بضاعتى وعديم وسائلى وكثرة المشاغل الاخر، ولكن هذا من كرامة والدى رحمه الله رحمتا واسعة اللهم نور قبره وبرد مضجعه واغسل خطاياه بالماء والثلج والبرد، اللهم اجعل رفاقته ورفاقتنا مع النبيين والصديقين والصالحين اللهم اجعلنا من الصابرين المتقين المحسنين الذين لاخوف عليهم ولاهم يحزنون، آمين ثم آمين يارب العالمين .

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وآله وصحبه اجمعين

د مضامينو فهرست

عنوان | **صفحه**

تمت بالخیر

تم فهرس الکتاب بعون الملک الوهاب

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین